مظاہر حق جدید

دمشکوٰۃ المصابیح پښتو شرحه

تالیف

علامه نواب محمد قطب الدین خان دهلوی رحمه الله

ترتیب و ترتیب

مولانا عبد الله جاوید غازی پوری (فاضل دار العلوم دیوبند)

دریم جلد ۳

مباحث

کتاب الصلوٰة
کتاب الجنائز
کتاب الزکوٰة
کتاب الصوم

[illegible]

[illegible] اعراب سره
[illegible] ترجمه
[illegible] تخریج
[illegible]

ارگ بازار کندهار

مظاهر حق جديد

د مشكوه المصابيح پښتو شرحه

دريم جلد

(۳)

تاليف

علامه نواب محمدقطب الدين خان دهلوي رحمة الله عليه

تزئين اوترتيب

مولاناعبدالله جاويد غازي پوري (فاضل دارالعلوم ديوبند)

ځانګړتياوي

۱: حديثونه د اعراب سره.
۲: تحت لفظي ترجمه.
۳: د حديثونو تخريج.
٤: د لغاتو حل .

مباحث

كتاب الصلوة
كتاب الجنائز
كتاب الزكوة
كتاب الصوم

صداقت كتب خانه

بسم الله الرحمن الرحيم

(د مشکوة المصابیح پښتو شرحه)

مظاهر حق

تالیف: نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمه الله

ترتیب او تزئین: مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دیوبند)

خپرندوی: صداقت خپرندویه ټولنه

پښتو ژباړه: محمد رسول سعید

تصحیح کوونکي: بسم الله رحیمي، مولوي عبدالکریم کریمي، مولوي عبدالجبار

لومړی چاپ: ۱۳۹۲ش - ۲۰۱٤ ع.

پنځم چاپ :۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.

د خپرونو لړ: ۱۸۳

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځایونه:

صداقت خپرندویه ټولنه-کندهار

اوله ناحیه، نوی سړک- کریم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه- ارګ بازار- قلم او کتاب مارکېټ **۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴** .

کابل: صداقت خپرندویه ټولنه،کوته سنګي مینه یار مارکېټ او **اکسوس کتاب پلورنځی. هلمند** :تاج منور خپرندویه **ټولنه. هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه گدام. **جلال آباد:** مومند خپرندویه ټولنه.ننګرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د دې کتاب ټول حقوق په خپرندوی اړه لري!

د مظاهر حق دریم جلد فهرست

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د سفر د لمانځه بیان	۱۹	په جمعه کي د قبلېدو ساعت	۴۹
د قصر اندازه	۱۹	د قبلېدو ساعت کوم وي	۵۰
د قصر وخت	۲۰	د جمعې فضیلت او د قبلېدو ساعت	۵۲
د قصر لمانځه یو څو مسئلې	۲۰	د جمعې فضیلتونه	۵۶
د رسول الله ﷺ قصر لمونځ	۲۱	د جمعې فضیلت	۵۹
د قصر په اړه آیت	۲۲	د جمعې نوم ولي جمعه ده	۶۰
د اقامت موده	۲۴	د جمعې په ورځ زیات درود ویل	۶۱
په سفر کي نفل کول	۲۶	د جمعې په ورځ مرګ	۶۳
په سفر کي دوه لمنځونه یو ځای کول	۲۷	جمعه د اختر ورځ ده	۶۴
پر سپرلی باندي لمونځ کول	۲۷	د جمعې ورځ او شپه ځلانده وي	۶۵
د رسول الله ﷺ قصر نه کول	۳۰	**د جمعې د واجب کېدو بیان**	۶۵
د پنځلس ورځو څخه زیات قیام	۳۱	د جمعې د لمانځه پرېښودلو سزا	۶۶
قصر یوازي په څلور رکعتیز لمانځه کي	۳۲	د جمعې د لمانځه نه کولو په صورت کي صدقه کول پکار دي.	۶۷
دوه لمونځونه یو ځای کول	۳۳		
پر سپرلی باندي لمونځ	۳۴	د جمعې پر اذان اوربدونکی باندي	۶۷
د عثمان رضي الله عنه په منی کي قصر نه کول	۳۵	د جمعې لمونځ واجب دی	
قصر د رخصت څخه زیات عزیمت دی.	۳۶	هغه کسان چې جمعه پر واجب نه ده	۶۸
قصر د الله ﷻ حکم دی	۳۷	د جمعې لمونځ په جماعت سره	۶۹
قصر د قرآن او سنت څخه ثابت دی	۳۸	پر لاندنیو خلکو باندي جمعه ولي نه ده واجب؟	۶۹
د قصر اندازه	۳۹		
په سفر کي د لمانځه کولو بیان	۴۱	د جمعې پرېښودونکي لپاره سزا	۷۰
د جمعې د لمانځه بیان	۴۲	د جمعې پرېښودونکی	۷۱
د جمعې د فضیلت څخه مخ اړول	۴۴	**پاکي تر لاسه کول او د جمعې لمانځه ته پر وخت تلل**	۷۲
د جمعې فضیلت	۴۷		

مضمون	صفحه
د جمعې اداب	۷۳
د جمعې لمانځه ته په اول وخت کې د حاضرېدو فضیلت	۷۵
د خطبې په وخت کې منعه شیان	۷۶
د خطبې په وخت کې د چپتیا مسئله	۷۷
د خطبې پر وخت اداب	۷۷
بل ځوک ولاړول نه دي پکار	۷۸
د جمعې په ورځ ښه جامه اغوستل	۷۹
مسجد ته پر پښو تلل غوره ده	۸۰
د جمعې لپاره جامې جوړول	۸۱
امام ته نژدې کښېنستل	۸۲
د خلکو تر غاړو د اوښتلو سزا	۸۲
د ناستې منعه طریقه	۸۳
د اړدمۍ په راتلو سره ځای بدلول پکار دي	۸۳
د بل چا پر ځای کښېنستل	۸۴
د جمعې ادب کونکي لپاره زیری	۸۴
د خطبې پر وخت خبرې کول	۸۶
د خطبې پر وخت د رسول الله ﷺ د کلام وضاحت	۸۶
د جمعې ورځ د اختر ورځ ده	۸۷
د جمعې په ورځ غسل کول او	۸۸
د خطبې او د جمعې د لمانځه بیان	۸۹
د جمعې د لمانځه وخت	۸۹
د جمعې لومړنی اذان	۹۰

مضمون	صفحه
دوې خطبې	۹۲
لنډه خطبه وایاست	۹۲
د رسول الله ﷺ خطبه	۹۳
په خطبه کې آیاتونه ویل	۹۴
د لنګوټې په ټرلو سره خطبه ویل	۹۵
د خطبې پر وخت تحیة المسجد کول	۹۶
یو رکعت د امام سره کول	۹۸
د نبي کریم ﷺ د خطبې طریقه	۹۹
د نبي کریم ﷺ د خطبې پر وخت ...	۱۰۰
خطبې ته د ناستې طریقه	۱۰۰
نبي کریم ﷺ به خطبه په ولاړه ویل	۱۰۱
د جمعې او خطبې وختونه :	۱۰۳
په خطبه کې لاسونه غورزول	۱۰۳
د جمعې د لمانځه قضایي	۱۰۵
د بیرې د لمانځه بیان	۱۰۵
د جګړې په وخت کې د لمانځه طریقه	۱۰۶
د بیرې د لمانځه یوه بله طریقه	۱۰۹
د رسول الله ﷺ زغم	۱۱۱
د بیرې د لمانځه یوه بله طریقه	۱۱۳
د بیرې د لمانځه یوه خاصه طریقه	۱۱۵
د بیرې د لمانځه یوه بله طریقه	۱۱۶
د بیرې د لمانځه یوه بله طریقه	۱۱۶
د اختر و د لمانځه بیان	۱۱۷
د اختر و لمونځ	۱۱۸
د اختر د لمانځه وروسته خطبه ویل	۱۲۰

مضمون	صفحه
د اخترو دلمانځه لپاره اذان او ...	۱۲۰
د اختر دلمانځه مخکې یا وروسته نفل	۱۲۱
د اختر په لمانځه کې د ښځو ګډون	۱۲۲
د غزلو او سروز مسئله	۱۲۳
د دریا وهلو مسئله	۱۲۴
د سماع حرمت او کراهت	۱۲۷
د اختر په ورځ خرما خوړل	۱۳۳
عید ګاه د تګ راتګ دوې لارې	۱۳۳
د اختر کولو وخت	۱۳۴
اختری واجب دی که سنت؟	۱۳۵
په عید ګاه کې اختری کول	۱۳۶
د خوشحالۍ دوې ورځې	۱۳۷
په کوچنۍ او لوی اختر کې خوراک	۱۳۹
د اختر و تکبیرونه	۱۴۰
د خطبې پر وخت پر لکړه تکیه	۱۴۲
عید ګاه ته د تللو طریقه	۱۴۴
د عذر له امله د اختر لمونځ په بنار کې	۱۴۴
د اختر دلمانځه مستحب وختونه	۱۴۵
په شاهدې سره روژه ماتول	۱۴۵
د اختر د لمانځه اذان او اقامت نسته	۱۴۶
د اختر و د لمانځه طریقه	۱۵۰
د اختري بیان	۱۵۱
اختری په خپل لاس حلالول	۱۵۱
د اختري د حیوان صفات	۱۵۲
د اختري حیوان	۱۵۲

مضمون	صفحه
د مرغومي یا وري اختری	۱۵۴
په عید ګاه کې اختری کول غوره دی	۱۵۵
د قربانۍ برخې	۱۵۵
د اختري کونکي لپاره لارښوونې	۱۵۵
د ذې الحجې د لسو ورځو فضیلت	۱۵۶
د اختري کولو دعاء	۱۵۷
د مړي له لورې قرباني کول	۱۵۹
د اختري حیوان باید بې عیبه وي	۱۶۰
د حنفیه په نزد د کوم ډول حیوان	۱۶۱
قرباني جائز نه ده:	
د تیارو او چاغ حیوان قرباني غوره ده	۱۶۲
د جذع قرباني	۱۶۳
په قربانۍ کې ګډون	۱۶۴
د قربانۍ کولو فضیلت	۱۶۴
د ذوالحجې فضیلت	۱۶۵
اختری د لمانځه وروسته کول	۱۶۶
د اختري ورځې	۱۶۶
رسول الله ﷺ تل قرباني کول	۱۶۷
قرباني د ابراهیم علیه السلام سنت ده	۱۶۸
د بُتانو پر نامه حلالول کول	۱۶۹
فرع او عتیره	۱۶۹
عتیره څه ته وایي؟	۱۶۹
پر مسکین باندې اختری واجب نه دی	۱۷۰
د لمر او سپوږمۍ تندره نیولو	۱۷۲
دلمانځه بیان	

مضمون	صفحه
د لمر تندري نيولو لمونځ	۱۷۲
د سپوږمۍ تندري نيولو لمونځ	۱۷۳
د لمر تندري نيولو سبب	۱۷۴
د لمر او سپوږمۍ تندري نيولو علت	۱۷۸
په صلوة خسوف او کسوف کې رکوعې	۱۷۹
د لمر تندري نيولو پر وخت د نبي کريم ﷺ طريقه	۱۸۰
د تندري پر وخت د غلام ازادول	۱۸۲
د کسوف په لمانځه کې قرائت	۱۸۲
د عجيبه پېښه پر وخت سجده کول	۱۸۲
د صلوة کسوف رکوع او سجده تلاوت	۱۸۴
د حنفيه مستدل حديث	۱۸۴
د شکر د سجدې بيان	۱۸۶
د خوشحالۍ پر وخت سجده	۱۸۷
سجده شکر	۱۸۸
د رسول الله ﷺ شفقت	۱۸۹
د استسقاء دلمانځه بيان	۱۹۱
د نبي کريم ﷺ د استسقاء لمونځ	۱۹۱
د استسقاء دلمانځه په اړه د حنفيه مذهب	۱۹۲
لاسونه ډير پورته کول	۱۹۳
د دعاء پر وخت د لاسو کيفيت	۱۹۴
د باران دعاء	۱۹۴
د څادر اړولو طريقه	۱۹۵
د استسقاء پر وخت خشوع او عاجزي	۱۹۵
د باران لپاره دعاء	۱۹۸

مضمون	صفحه
په وسيله سره د باران دعاء	۲۰۱
د استسقاء په اړه د يو نبي پېښه	۲۰۲
د بادو بيان	۲۰۳
هواء رحمت هم دی او عذاب هم	۲۰۳
د وريځ او هواء په لېدو سره	۲۰۴
د تيز باد پر وخت د نبي ﷺ دعاء	۲۰۵
د غيبو خزانې	۲۰۶
سخته وچ کالي څه ته وايي ؟	۲۰۷
د تيز باد پر وخت د نبي ﷺ دعاء	۲۰۷
د وريځې ليدلو دعاء	۲۰۹
د برېښنا پر وخت دعاء	۲۱۱
کتاب الجنائز (د جنازې بيان)	۲۱۳
د ناروغ پوښتنه او د ناروغۍ ثواب	۲۱۳
د مسلمان پر مسلمان حق	۲۱۴
د ناروغ د پوښتنې ثواب	۲۱۹
ناروغ ته تسلي ورکول	۲۲۱
د ناروغ لپاره دعاء	۲۲۲
په آياتونو سره دم کول	۲۲۳
د بدن د درد لپاره دعاء	۲۲۵
د جبرائيل عليه السلام دعاء	۲۲۵
د ناوړه پېښې څخه د پناه لپاره :	۲۲۵
تکليف او ستونزه د الله رحمت دی	۲۲۷
د تکليف له کبله ګناه معافيدل	۲۲۸
پر رسول الله ﷺ د ناروغۍ سختي	۲۲۸
د مرګ سختي د درجو لوړې ده	۲۲۹

مضمون	صفحه
د مؤمن او منافق د ژوند مثال	۲۳۰
ناروغی ته بد مه وایاست	۲۳۲
په ناروغی کې نیک عملونه	۲۳۳
په طاعون سره مرګ	۲۳۳
د شهید ثواب	۲۳۴
د طاعون په سیمه کې صبر	۲۳۷
د طاعون د سیمې لپاره هدایت	۲۳۸
پر ړوند والي باندې صبر او ثواب	۲۴۰
د ناروغ د پوښتنې ثواب	۲۴۰
د سترګو د ناروغ د عیادت	۲۴۱
د عیادت لپاره اودس کول سنت دي	۲۴۲
د ناروغ لپاره دعاء	۲۴۲
د تبي او درد دعاء:	۲۴۳
په ناروغی کې کومه دعاء پکار ده؟	۲۴۴
د عیادت پر وخت دعاء:	۲۴۵
ستونزې او تکلیفونه کفاره ده	۲۴۵
د ناروغی په حالت کې د روغتیا نېک اعمال	۲۴۸
د شهادت نور ډولونه	۲۴۹
په سخت تکلیف کې کوم خلک وي؟	۲۵۰
د اخرت خیر	۲۵۱
د نبي کریم ﷺ وفات	۲۵۱
د دنیا سزا د آخرت تر سزا غوره ده	۲۵۲
لویه بدله	۲۵۳
مسلمان ته ستونزې راتلل	۲۵۴

مضمون	صفحه
د ستونزو زغمل مرتبې لوړوي	۲۵۴
دنیا د مؤمن لپاره بندیخانه او د کافر لپاره جنت ده	۲۵۵
د قیامت په ورځ آرزو	۲۵۶
ناروغی د ګناهونو کفاره ده	۲۵۶
ناروغ ته ډاډ ورکول	۲۵۸
د نس په ناروغی کې مړ کېدل	۲۵۸
د کافر پوښتنه	۲۵۹
د ناروغ د پوښتنې لپاره پرپښو تلل	۲۶۰
د ناروغ د خبر ورکولو طریقه	۲۶۰
علاج د توکل خلاف نه دی	۲۶۱
ناروغي د ګناهو کفاره ده	۲۶۲
د صابر ناروغ فضیلت	۲۶۳
ناروغي ګناهونه ختموي	۲۶۴
د ناروغ د پوښتنې ثواب	۲۶۴
د تبي علاج	۲۶۵
تبي ته بد مه وایاست	۲۶۶
تبه د دوزخ د اور بدله ده	۲۶۶
ناروغي د ګناهو د بخښنې ذریعه ده	۲۶۷
د ابن مسعود رضی اللہ عنہ واقعه	۲۶۸
عیادت کله کول پکار دی	۲۶۹
د ناروغ څخه دعاء وغواړئ	۲۷۰
د ناروغ په مخکې شور مه کوئ	۲۷۰
د ناروغ سره ډیر مه کښینئ	۲۷۳
ناروغ ته د هغه د خوښې شی ورکول	۲۷۴

مضمون	صفحه
د مسافري په حالت کي مرګ	۲۷۵
د طاعون مرګ د شهادت مرګ دی.	۲۷۵
د طاعون څخه تښتته	۲۷۸
د مرګ غوښتنه او د هغه یادونه	۲۷۸
د مرګ غوښتنه مه کوئ	۲۷۹
د مرګ د غوښتني منعه	۲۸۰
مرګ او د خپل مولی ملاقات	۲۸۱
د مؤمن او فاجر د مرګ پایله	۲۸۳
په دنیا کي مسافر اوسئ	۲۸۴
د الله ﷻ څخه د رحمت امید ساتئ	۲۸۶
د قیامت په ورځ لومړی پوښتنه	۲۸۷
مرګ په یاد لرئ	۲۸۸
د الله څخه شرم او حیاء کول	۲۸۹
مرګ د مؤمن تحفه ده	۲۹۱
د مؤمن مرګ	۲۹۱
ناڅاپي مرګ	۲۹۱
د الله څخه د رحمت امید	۲۹۲
د عمر د اوږدوالي سعادت	۲۹۳
د حضرت خباب رضي الله عنه واقعه	۲۹۵
د زکندن پر وخت تلقین ورکول	۲۹۷
د کلمې تلقین کول	۲۹۷
د خیر کلمې ویل	۲۹۸
د مصیبت په وخت کي صبر	۲۹۸
د مړي لپاره د نبي کریم ﷺ دعاء :	۳۰۰
د نبي کریم ﷺ وفات	۳۰۱
د مرګ په وخت کي اخري خبره	۳۰۲
د زکندن پر وخت یاسین ویل	۳۰۲
مسلمان مړی مچول جائز دي	۳۰۳
په تجهیز او تکفین کي تلوار	۳۰۴
مړي ته تلقین ورکول	۳۰۵
د مؤمن او فاسق روح	۳۰۵
په عالم برزخ کي د مؤمن روح	۳۲۰
مړي ته غسل او کفن ورکول	۳۲۳
مړي ته غسل ورکول	۳۲۴
د بیري په بلګو او د کافور په اوبو سره مړي ته غسل ورکول	۳۲۵
د بیري د پاڼو او د کافورو ځانګړتیا	۳۲۵
د رسول الله ﷺ کفن	۳۲۶
ښه کفن ورکول	۳۲۷
د احرام د جامو کفن	۳۲۸
د سپینو جامو کفن	۳۲۹
ګران بیه کفن منعه دئ	۳۳۰
په قیامت کي پاڅېدل	۳۳۰
غوره کفن کوم یو دی؟	۳۳۱
د شهیدانو کفن خپل جامې وي	۳۳۲
د حضرت مصعب او حمزه رضي الله عنهما کفن	۳۳۲
د منافقینو د مشر عبدالله ابن ابی سره د رسول الله ﷺ معامله	۳۳۵
د ژوند اخري لمحات او د مړي د غسل د تکفین یو څو احکام	۳۳۷

مضمون	صفحه
د مړي د غسل طريقه	۳۳۷
مسنون کفن	۳۳۸
د کفن ورکولو طريقه	۳۳۹
د جنازې سره تلل او د جنازې دلمانځه بيان	۳۴۰
په جنازه کې تلوار کول	۳۴۱
د نيک او بد جنازه	۳۴۱
جنازې ته دريدل	۳۴۲
د جنازې د ګډون او ښخولو ثواب	۳۴۴
د نجاشي د جنازې لمونځ	۳۴۵
په مسجد کې د جنازې لمونځ	۳۴۵
د حديث څخه د شوافعو استدلال	۳۴۶
د جنازې د لمانځه تکبيرونه	۳۴۶
د جنازې په لمانځه کې سورة فاتحه	۳۴۷
د جنازې په لمانځه کې دعاء:	۳۴۷
په مسجد کې د جنازې لمونځ	۳۴۹
د جنازې په لمانځه کې د دېدو ځای	۳۵۰
د ښخېدو وروسته د جنازې لمونځ	۳۵۱
په جنازه کې (۴۰) کسان	۳۵۳
په جنازه کې سل کسان	۳۵۳
مؤمنان د الله شاهدان دي	۳۵۴
خلک د الله ﷻ شاهدان دي	۳۵۴
د مړي بدمه وايي	۳۵۷
د احد د شهيدانو ښخول	۳۵۷
د جنازې څخه ستنېدل	۳۵۷
د جنازې سره د تللو طريقه	۳۵۷
د جنازې مخکې تلل	۳۵۹
د جنازې ترشا تلل	۳۵۹
جنازې ته اوبه ورکول	۳۶۰
په جنازه کې پرپښو تلل	۳۶۰
په جنازه کې سورة فاتحه	۳۶۱
د مړي لپاره د زړه د اخلاصه دعاء	۳۶۱
د جنازې د لمانځه دعاء	۳۶۱
د مړي لپاره د رسول الله ﷺ دعاء	۳۶۲
د مړي بدمه وايي	۳۶۳
د امام د دريدو ځای	۳۶۴
د جنازې په لېدو سره دريدل	۳۶۵
د رسول الله ﷺ عادت	۳۶۶
په جنازه کې ناسته	۳۶۶
کله چې نبي کريم ﷺ د يوې يهودۍ جنازه ولېدل	۳۶۷
د جنازې په لمانځه کې دريې صفه	۳۷۰
د جنازې دعاء	۳۷۱
د کوچنې مړي دعاء	۳۷۲
په قبر کې د کوچنيانو سوال او جواب وي که نه؟	۳۷۲
د کوچنې د جنازې لمونځ	۳۷۲
د کوچنې لمونځ	۳۷۳
امام او مقتديان دي يو برابر ولاړ وي	۳۷۳
د مړي ښخولو بيان	۳۷۴

مضمون	صفحه
پر لحد او مې خښتي اېښودل	٣٧٥
په قبر کې د څادر اچول	٣٧٥
د قبر شکل	٣٧٦
د قبرو لوړول منعه دي	٣٧٦
پوخ قبر منعه دئ	٣٧٧
د قبرو په هکله یو څو احکام	٣٧٨
پر قبر د کښېنستلو عذاب	٣٧٩
د نبي کریم ﷺ قبر مبارک	٣٧٩
د قبر لحد	٣٨٠
قبر ژور کښل پکار دي	٣٨١
د ډېرو جنازو په یو وار لمونځ	٣٨٢
د مړي د یوه ځای څخه بل ځای وړل	٣٨٢
د ښخولو وروسته د قبر کښل	٣٨٣
مړی قبر ته کښته کول	٣٨٤
د مړي قبر ته کښته کول	٣٨٦
پر قبر درې لپي خاوري اچول	٣٨٦
حکایت	٣٨٧
د قبر پخول او پر قبر لیکل منعه دي	٣٨٧
پر قبر اوبه پاشل	٣٨٨
پر قبر ډبري درول	٣٨٨
د نبي کریم ﷺ او یارانو قبرونه	٣٨٩
د مړي سپکاوی کول منعه دي	٣٩١
د لور پر وفات د رسول الله ﷺ اونبکي	٣٩١
ښځه دي خلک په قبر کې واچوي	٣٩٢
د عمرو بن عاص وصیت	٣٩٢

مضمون	صفحه
په ښخولو کې تلوار کول	٣٩٣
د ثواب لپاره لو فضیلت	٣٩٤
د حضرت امام شافعي رحمة الله عليه قول :	٣٩٥
بي بي عائشه او د ورور قبر	٣٩٦
د امام شافعي مستدل	٣٩٧
د خاورو اچول	٣٩٨
قبر ته څنګ وهل منعه دي	٣٩٨
پر مړي باندي ژړا کول	٣٩٩
د باب اړوند یو څو احکام او مسائل	٣٩٩
د تعزیت پر وخت کوم الفاظ ویل پکار دي ؟	٤٠٠
د نبي ﷺ د خپل زوی پر وفات غم	٤٠٢
د لمسي پر مرګ د رسول الله ﷺ اونبکي	٤٠٤
په چغو ژړل	٤٠٥
د فریاد کولو بدي	٤٠٧
نوحه کول حرام دي	٤١٠
د درو اولادو مرګ	٤١٠
پر مرګ باندي د صبر جزا	٤١٢
پر ویر کونکو لعنت	٤١٣
مؤمن ته په هر حالت کې ثواب	٤١٣
د مؤمن لپاره دوې دروازې	٤١٤
د اولاد په مرګ ثواب	٤١٥
د اولاد پر وفات صبر	٤١٦
ستونزمن ته ډاډ ورکول	٤١٧
د مړي د کورنۍ لپاره مېلمستیا	٤١٨

مضمون	صفحه
د مړي کور ته استونکي ډوډۍ نور خلک خوړلای سي که نه؟	۴۱۹
پر مړي باندي ویر	۴۲۰
پر مړي د ژړا منع	۴۲۶
د ویر کولو څخه منع	۴۲۸
د نوحې او چغو منع	۴۳۱
یوه واقعه	۴۳۳
د ماتم او ویر کولو منعه	۴۳۴
د ویر کونکو ښځو د جنازې څخه منع	۴۳۵
کوچني به مور او پلار جنت ته بوځي	۴۳۵
د اولاد د مړ کېدو اجر	۴۳۶
مړ کوچني مور او پلار جنت ته بیایي	۴۴۰
پر مصیبت باندي د صبر اجر	۴۴۰
انا لله وانا الیه راجعون ویل	۴۴۱
پر نعمت شکر او زحمت باندي صبر	۴۴۲
د قبرو د زیارت بیان	۴۴۳
د قبرو زیارت مستحب دی	۴۴۳
د ښځو لپاره د قبرونو زیارت	۴۴۴
د قبرونو د زیارت ډولونه	۴۴۴
قبرونو ته د تللو اداب او احکام	۴۴۵
رسول الله ﷺ د خپل مور پر قبر	۴۴۷
د رسول الله ﷺ مور او پلار	۴۴۷
قبر ته د ورتلو دعاء	۴۴۸
قبر ته د ورتلو دعاء	۴۵۰
د مور او پلار د قبرو زیارت	۴۵۱

مضمون	صفحه
د قبرو زیارت کول	۴۵۲
د ښځو د قبرو د زیارت څخه منعه	۴۵۳
د مړي لحاظ کول پکار دي	۴۵۳
کتاب الزکوة (د زکات بیان)	۴۵۵
زکوة کله فرض سو	۴۵۵
زکوة پر ټولو امتونو فرض وو	۴۵۵
د زکوة اهمیت او تاکید	۴۵۵
زکوة پر کومو خلکو فرض دی؟	۴۵۶
د ضرورت اصلي مطلب	۴۵۷
کامل ملکیت	۴۵۸
د زکوة د اداکیدو لپاره نیت ...	۴۵۸
د نصاب تعریف	۴۶۰
د نصاب ډولونه	۴۶۰
معاذ بن جبل ته لاربښوونې	۴۶۰
د زکوة نه ادا کولو سزا	۴۶۱
په آسونو کې زکوة سته که نسته	۴۶۸
عاملین خوشحالوئ	۴۷۰
زکوة ادا کونکي ته دعاء	۴۷۱
د زکوة اخیستونکی لپاره هدیه	۴۷۳
عامل دي خیانت نه کوي	۴۷۷
زکوة نه ورکونکي ته تنبیه	۴۷۷
زکوة پوره ادا کوئ	۴۸۰
مال مه پټوئ	۴۸۲
د زکوة کارکونکی اجر	۴۸۲
د زکوة وصولونکي لپاره هدایت	۴۸۳

مضمون	صفحه
د کال تیریدو سره زکوة	۴۸۳
ترکال تېرېدو مخکې زکوة	۴۸۵
د نابالغ د مال زکوة	۴۸۵
د زکوة نه ورکونکي سره جهاد	۴۸۶
بې زکاته مال به مارسي	۴۸۹
په حلال مال کې حرام مال یو ځای کول	۴۹۱
د زکوة د اداینې تعلق په عین مال سره دی یا په ذمه سره دی :	۴۹۲
په کومو شیانو کې زکوة ستة	۴۹۳
د زکوة نصاب	۴۹۴
په غلام او آس کې زکوة نسته	۴۹۷
د نصاب تفصیل	۴۹۷
د کښتو زکات	۵۰۶
د خزانو زکوة	۵۰۷
عاقله څه ته وائي	۵۰۸
پر عاقله باندې تاوان ولې ؟	۵۰۸
په حدیث کې د رکاز څخه مراد	۵۰۹
د کان څخه د وتونکو شیانو ډولونه	۵۰۹
د غوا او غوایې زکوة	۵۱۰
زیات زکات اخیستل	۵۱۳
د غلې او خرماوو زکوة	۵۱۳
د انګورو زکات	۵۱۴
په خرماوو کې زکات	۵۱۶
په شاتو (عسلو) کې زکات	۵۱۶
په زیوراتو کې زکوة	۵۱۷

مضمون	صفحه
په زیوراتو کې زکوة	۵۱۹
د کانو د زکوة مسئله	۵۱۹
زکوة په کومو شیانو کې سته	۵۲۱
زکوة په کومو شیانو کې دئ	۵۲۲
د سرسایې بیان	۵۲۳
سرسایه پر چا واجب ده	۵۲۳
د سرسایې اندازه	۵۲۵
د سرسایې حکمت	۵۲۶
د سرسایې اندازه	۵۲۷
هغه کسان چې زکوة اخیستل ورته حلال نه دي	۵۲۹
د زکوة مستحقین	۵۳۰
نبي ﷺ ته د زکوة مال خوړل ...	۵۳۱
نبوي کورنۍ ته زکات اخیستل	۵۳۲
زکوة د انسان خیري ده	۵۳۳
نبي کریم ﷺ به یوازې تحفه خوړل	۵۳۳
د تملیک مسئله	۵۳۴
د تحفې بدله ورکول	۵۳۶
معمولي شی قبلول	۵۳۶
د مسکین پیژندنه	۵۳۷
د نبوي کورنۍ ازاد کړي غلام ته زکاته ورکول	۵۳۸
زکات د چا لپاره حلال نه دئ	۵۳۹
په ځینو حالاتو کې د غني لپاره زکوة	۵۴۱
د زکات وېش الله کړئ دئ	۵۴۳

مضمون	صفحه
حضرت عمر رضي الله عنه او د زکات شیدې	۵۴۴
چا ته سوال کول روا نه دي او چا ته روا دی	۵۴۵
سوال کول چا ته روا دئ	۵۴۶
ناحقه سوال کول روا نه دئ	۵۴۸
د سوال کولو پای	۵۴۸
په سوال کولو کې تهنګار کول	۵۴۹
خیر غوښتل سپکاوی دئ	۵۴۹
د سوال نه کولو اراده کول	۵۵۰
د سوال نه کولو فضیلت	۵۵۱
کوم شی چې پرته د سوال څخه رائي هغه اخله	۵۵۲
یوه عبرتي پېښه	۵۵۲
سوال کول بې عزتي ده	۵۵۳
د عطاء سلطاني د قبلولو مسئله	۵۵۴
د سوال کولو پای	۵۵۴
سوال کول په انتهايي مجبوري کې یوازې الله تعالی ته حاجت بیانول	۵۵۷
د چا څخه سوال کول پکار دي	۵۶۰
کوم شی چې پرته د سوال څخه وي	۵۶۱
سوال کول کله رواه دی	۵۶۲
فقر او غنا څه ته وایي؟	۵۶۳
د سوال نه کونکي لپاره زیری	۵۶۳
د سوال نه کولو حکم	۵۶۴
د خرڅ کولو فضیلت او د بخل بدوالی	۵۶۵
	۵۶۶

مضمون	صفحه
د الله جل جلاله په لار کې خرڅول	۵۶۶
د ملائکو دعاء د سخي لپاره	۵۶۷
سخاوت کوئ	۵۶۷
د ضرورت څخه زیات مصرف	۵۶۹
د بخیل لپاره ورکړه مشکل وي	۵۷۰
د بخل تاوان	۵۷۱
ټولنیز اړتیا	۵۷۲
د صدقې غوره وخت	۵۷۳
بخل د تاوان سبب دئ	۵۷۴
په ژوند کې خیرات کوئ	۵۷۵
د مرګ په وخت کې خیرات کول	۵۷۶
ایمان او بخل یو د بل ضد دي	۵۷۷
درې کسان به جنت ته ولاړ نه سي	۵۷۷
دوه خراب عادتونه	۵۷۸
د الله په لاره کې د مصرفولو فضیلت	۵۷۸
د بني اسرائیلو واقعه	۵۸۰
د الله په لاره کې مصرف کول	۵۸۱
د بني اسرائیلو د درو کسانو قصه	۵۸۳
سوال کونکي ته یو څه ورکوئ	۵۸۷
د عبرت یوه قصه	۵۸۸
د الله پر نامه نه ورکول	۵۸۹
مال د یو ځای کولو لپاره نه دئ	۵۸۹
د رسول الله صلی الله علیه وسلم زمانه	۵۹۱
نبي مال نه پریږدي	۵۹۲
بلال رضي الله عنه ته مشوره	۵۹۳

مضمون	صفحه
د سخي او بخيل مقام	۵۹۴
صدقه رد بلا ده	۵۹۵
د صدقې فضيلت	۵۹۵
صدقه او حلال مال	۵۹۵
يوه عبرتي قصه	۵۹۶
مال په خيرات سره نه کميږي	۵۹۷
د جنت دروازې	۵۹۸
د ابوبکر صديق رضي الله عنه نيک اعمال	۶۰۰
خيرات کول سپک مه ګڼئ	۶۰۱
هر نيک عمل صدقه ده	۶۰۲
نيکي سپکه مه ګڼئ	۶۰۲
د خيرات ډولونه	۶۰۳
د بدن صدقه ورکول	۶۰۴
د انسان د بدن بندونه	۶۰۵
معنوي صدقې	۶۰۶
غوره صدقه	۶۰۷
د کښتو صدقه	۶۰۸
د هر ساه لرونکي شي مرسته کول	۶۰۹
د پيشي له کبله عذاب	۶۰۹
په معمولي نيکي باندې جنت	۶۱۰
ټولنيزه نيکي	۶۱۱
غريبانو ته خوراک ورکول	۶۱۲
د خيرات ګټه	۶۱۲
هره نيکي صدقه ده	۶۱۳
تر ټولو غوره صدقه	۶۱۴
د نيکۍ ډولونه	۶۱۵
په شتمنۍ کې يوازې زکات نه دئ	۶۱۶
د کومو شيانو نه ورکول منع دي	۶۱۷
وچه مځکه ابادول هم صدقه ده	۶۱۸
د پور ورکولو فضيلت	۶۱۸
يو څو نبوي نصيحتونه	۶۱۹
خيرات ورکول	۶۲۲
لوڅ ته جامه ورکول	۶۲۲
په پټه صدقه ورکول	۶۲۳
درې کسان	۶۲۴
د هر شي څخه دوه دوه شيان خيراتول	۶۲۸
صدقه سايه ده	۶۲۹
د عاشورې ورځ	۶۲۹
د خيرات کولو ثواب	۶۳۰
د غوره صدقې بيان	۶۳۱
د صدقې ورکولو وروسته د نفس غنا يا د مال غنا کيدل ضروري دي	۶۳۱
په کورنۍ د خرڅ کولو ثواب	۶۳۲
غوره صدقه	۶۳۳
په کورنۍ د خرڅ کولو ثواب	۶۳۳
قريبانو ته خيرات ورکول	۶۳۷
د همسايه خيال ساتل	۶۳۷
غوره صدقه	۶۳۸
د صدقې دوه برابر ثواب	۶۳۹
د خيرات درجې	۶۴۰

مضمون	صفحه
غوره او بد انسان	٦٤٠
سوال کونکی مه جوابوئ	٦٤١
يو څو ضروري خبري	٦٤٢
د الله ﷻ په نامه سوال مه کوئ	٦٤٣
د ابو طلحه سخاوت	٦٤٤
وړي ته خوراک ورکول	٦٤٥
د خاوند د شتمنۍ څخه د ښځې خیرات کول	٦٤٦
ښځه د کور د شتمنۍ څخه خیرات..	٦٤٦
خزانچي هم په ثواب کي ګډون لري	٦٤٧
په مړي پسي خیرات کول	٦٤٨
د ښځې خیرات کول	٦٤٩
د بادار د مال څخه د غلام خیرات کول	٦٥٠
د خیرات بیرته اخیستلو بیان	٦٥٢
خیرات بیرته اخیستل جائز نه دئ	٦٥٢
د صدقې بیرته اخیستو یو صورت	٦٥٣
کتاب الصوم (د روژې بیان)	٦٥٦
د صوم معنی	٦٥٦
روژه کله فرض سوه ؟	٦٥٦
د روژې اهمیت او فضیلت	٦٥٦
د روژې فائدې	٦٥٧
د روژې برکتونه	٦٥٨
باب الریان	٦٦٠
د روژې د میاشتي فضیلت	٦٦٠
د روژې ثواب	٦٦١

مضمون	صفحه
د روژې برکتونه	٦٦٤
د روژې او قرآن کریم شفاعت	٦٦٧
د شب قدر فضیلت	٦٦٨
د روژې د میاشتي برکتونه	٦٦٩
په رمضان کي د بندیانو خلاصون	٦٧١
د جنت ښکلا	٦٧٢
د روژه دار مغفرت	٦٧٣
د میاشتي لیدلو بیان	٦٧٤
د رمضان او شعبان د میاشتي لیدل	٦٧٤
د میاشتي لیدنه	٦٧٥
د روژې او ذي الحجې میاشتي	٦٧٦
د شعبان اخري روژې نسته	٦٧٧
د شعبان د نیمایي څخه روژه نسته	٦٧٨
د شعبان ورځي یادوئ	٦٧٨
د شعبان د میاشتي روژې	٦٧٩
شکمنه روژه نسته	٦٧٩
په شاهدي سره د روژې پیل کول	٦٨١
د رسول الله ﷺ عادت	٦٨٢
د میاشتي په لیدو سره روژه	٦٨٣
د روژې د متفرقو مسئلو بیان	٦٨٥
د پښلمي برکت	٦٨٥
د مسلمانانو د روژو فرق	٦٨٦
په روژې ماتولو کي تلوار	٦٨٦
د روژې ماتولو وخت	٦٨٧
صوم وصال	٦٨٨

مضمون	صفحه
د روژې نیت	٦٨٩
د پیشلمي وخت	٦٩٠
د روژه ماتي ټهنګار	٦٩١
په خرما یا اوبو روژه ماتول	٦٩١
د رسول الله ﷺ روژه ماتی	٦٩٢
خلکو ته روژه ماتی ورکول	٦٩٣
د رسول الله ﷺ قول	٦٩٣
د روژه ماتي دعاء	٦٩٤
په روژه ماتولو کي تلوار	٦٩٤
د پیشلمي برکت	٦٩٦
غوره پېشلمی کول	٦٩٦
د روژې پاکولو بیان	٦٩٧
هغه شیان چې روژه نه په ماتیږي:	٦٩٧
هغه شیان چې په هغه روژه فاسدیږي	٧٠٢
اوپه قضاء او کفاره لازمیږي	
په کومو شیانو سره کفاره لازمیږي؟	٧٠٤
د کفارې مسئلې	٧٠٥
هغه شیان چې په هغه سره قضاء	٧٠٧
لازمیږي خو کفاره نه لازمیږي:	
د روژه دا ر لپاره مکروه او غیر	٧١١
مکروه شیان	
هغه عذرونه چې د هغه په وجه د	
روژې نه نیولو اجازت دی	٧١٣
روژه پاکه ساتئ	٧١٨
د ښځې څخه مچه اخیستل	٧١٩

مضمون	صفحه
په جنابت کي د روژې نیت جائز دی	٧٢٠
په روژه کي وینه کښل	٧٢١
یه هیره خوراک او چېښاک کول	٧٢١
د روژې کفاره	٧٢٢
د خپلي بي بي څخه مچه اخیستل	٧٢٤
په روژه کي د ښځي سره یو ځای...	٧٢٥
په روژه کي قی وهل	٧٢٥
په روژه کي مسواک وهل	٧٢٧
په روژه کي په سترګو کي رانجه ...	٧٢٨
پر سر اوبه تویول	٧٢٨
په وینه کښلو سره روژه ماتیږي	٧٢٩
په قصد سره روژه نه نیول	٧٣١
بې ګټې روژه او عبادت	٧٣٢
روژه کله نه ماتیږي.	٧٣٣
د نارو په تیرولو سره	٧٣٥
د مسافر د روژې بیان	٧٣٦
په سفر کي روژه نیول	٧٣٦
روژه نه نیول غوره دي	٧٣٧
په سفر کي روژه ماتول	٧٣٨
په سفر کي د روژې عفوه	٧٣٩
په ارام سفر کي روژه نیسئ	٧٤٠
د رسول الله ﷺ ناراضګي	٧٤١
په سفر کي روژه نیول ګناه ده	٧٤١
په سفر کي روژه نه نیول غوره ده	٧٤٢
د قضائي روژو بیان	٧٤٣

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
قضا روژې	۷۴۳	د نفلي روژو پيل	۷۶۹
د ښځي نفلي روژه	۷۴۴	د هميشه روژو نيولو منعه	۷۷۰
د ښځي د روژو قضاء	۷۴۵	د عرفات په ورځ روژه	۷۷۱
د مړي له لوري روژې	۷۴۶	د شنبې د ورځې روژه	۷۷۱
د ابن عمر رضي الله عنه وينا	۷۴۸	د الله ﷻ په لار کې يوه روژه	۷۷۲
د نفلي روژو بيان	۷۴۸	د يخ روژه	۷۷۳
د رسول الله ﷺ نفل روژې	۷۴۹	د عاشورا د ورځې روژه	۷۷۳
د کوچني اختر وروسته دوې روژې	۷۵۰	د شنبې او يکشنبې روژې	۷۷۴
په محرم کې د روژو فضيلت	۷۵۱	د عاشورا د روځې روژه	۷۷۵
د عاشورا په ورځ روژه	۷۵۲	سنت مؤکده روژې	۷۷۶
د عرفات د ورځې روژه	۷۵۴	د ايام بيض روژې	۷۷۶
د عرفات د ورځې روژه	۷۵۵	په هره مياشت کې درې روژې	۷۷۷
غوره نفلي روژې	۷۵۶	د بدن زکات	۷۷۷
د دوشنبې د ورځې روژه	۷۵۹	د مسلمانانو په منځ کې ناراضګي	۷۷۸
په هره مياشت کې درې روژې	۷۶۰	د الله ﷻ د رضا لپاره روژه	۷۷۹
د ټولې زمانې روژه	۷۶۱	**د نفلي روژو ماتول**	۷۸۰
منع روژې	۷۶۱	د نفلي روژې نيت	۷۸۰
د تشريق ورځې	۷۶۲	د نفلي روژې ماتول	۷۸۱
د جمعې په ورځ روژه	۷۶۳	د روژې دار په مخکې خوراک کول	۷۸۵
د الله په لاره کې روژه	۷۶۵	**د شب قدر بيان**	۷۸۷
په اعمالو کې ميانه روي	۷۶۵	د شب قدر شپې	۷۸۹
د دوشنبې او پنجشنبې روژې	۷۶۷	د شب قدر نښه	۷۹۳
د بندګانو عملونه	۷۶۷	د روژې په آخري لسيزه کې	۷۹۴
د ايام بيض روژې	۷۶۸	د شب قدر دعاء	۷۹۵
د جمعې په ورځ روژه	۷۶۸	شب قدر په هره روژه کې وي	۷۹۶

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د يو صحابي تجربه	۷۹۷		
د رسول ﷺ څخه د شب قدر هيريدل	۷۹۸		
د شب قدر فضيلت	۷۹۹		
د اعتكاف بيان	۸۰۰		
د ښځو اعتكاف	۸۰۱		
په روژه کي سخاوت	۸۰۲		
د وفات د کال حال	۸۰۳		
د عتكاف ادبونه او شرطونه	۸۰۴		
د عمر رضي الله عنه د جاهليت د زماني نذر	۸۰۶		
د واجب اعتكاف لپاره روژه شرط ده	۸۰۶		
د شلو ورځو اعتكاف	۸۰۸		
د اعتكاف ځای ته ننوتل	۸۰۸		
په اعتكاف کي د ناروغ پوښتنه	۸۰۹		
د اعتكاف ادبونه	۸۱۰		
د رسول الله ﷺ اعتكاف	۸۱۲		
د معتكف اعمال	۸۱۲		

بَابُ صَلٰوةِ السَّفَرِ

د سفر د لمانځه بيان

مسافر چې کله د خپل کلي يا ښار د ابادۍ څخه ووځي نو پر هغه باندې قصر واجب دی يعني پوره څلور رکعته فرض لمونځ دوه رکعته کول پر واجب دی، که يو سړی د سفر په حالت کې چې پر هغه قصر واجب دی پوره څلور رکعته وکړي نو ګنهاه کار به وي او د دوو واجبو پرېښودونکی به وي يعني يو واجب خو د قصر ترک سي او دوهم د دوهمې قعدې وروسته سمدستي سلام ګرځول څکه چې د مسافر په حق کې اوله قعده اخيره وي د دې وروسته هغه ته سمدستي سلام ګرځول پکار وو او هغه سلام و نه ګرځوي بلکه ودرېدی همداسي د هغه دوهم واجب ترک سو.

دلته په دې خبره هم پوه سئ چې د مسافر لپاره د قصر په جواز کې د هيڅ عالم او هيڅ امام اختلاف نسته يوازې دومره خبره ده چې د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد خو قصر واجب دی مګر د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد قصر اولی دی که يو مسافر قصر نه وکړي نو هغه د امام صاحب د مذهب سره سم ګناه کار دی که څه هم د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب هغه ګناهکار نه ګرځوي خو د اولی او افضل شي ترک کونکی ورته وايي.

د قصر اندازه

قصر په دومره فاصله سره واجب کيږي چې په درميانه تګ سره تر درو ورځو کم تلل نسي د درمياني تګ څخه مراد د سړي يا د اوښ درمياني رفتار دی د درو ورځو د مسافت څخه دا مراد دی چې د سهاره تر غرمې پوري ولاړ سي نه دا چې د سهار څخه تر مابنامه پوري ځکه فقهاء په موجود زمانه کې د دې مسافت انداه اته څلوېښت ميله لګولې ده ګويا که يو سړی اته څلوېشت ميله تقريبا اته اويا کلومتره فاصلې لپاره د خپل کور څخه په سفر ووځي څرنګه چې پورته ذکر سول د خپل کور يا ابادي څخه په دباندې وتلو سره پر هغه قصر واجب کيږي که يو سړي د قصر فاصله يعني اته څلوېښت ميله يا اته اويا کلومتره د يو تيز سپرلي مثلا آس يا د ريل ګاډی وغيره په ذريعه تر درو ورځو کم ووهي بيا هم هغه به مسافر ګڼل کيږي هغه ته هم قصر لمونځ کول پکار دی.

د قصر وخت

مسافر ته تر هغه وخته پوري قصر کول پکار دی تر څو پوري چې خپل اصلي وطن ته و نه رسيږي يا پر يو ځای باندي کم تر کمه تر پنځلسو ورځو پوري د اوسېدو قصد ونه کړي په شرط د دې چې دی د هغه ځای د اوسېدو وړ وي که يو سړی په درياب کي د اوسېدو قصد وکړي يا په دارالحرب کي يا همداسي په ځنګل کي نو د هغه نيت به د هيڅ اعتبار څخه نه وي هو کوچيان خلک که په ځنګل کي هم د پنځلسو ورځو د اوسېدو نيت وکړي نو دا نيت به صحيح وي ځکه چې هغوی په ځنګلو کي د اوسيدو عادي وي.

که يو سړی دا اندازه مسافت د قطع کولو څخه مخکي چې د هغه په سفر کي اعتبار سوی دی پر يو ځای باندي د اوسېدو يا خپل وطن ته د بيرته تلو نيت وکړي نو هغه به مقيم سي که څه هم تر پنځلسو ورځو کم اوسېدو نيت ېې کړی وي.

د قصر لمانځه يو څو مسئلې:

۱. په لاندينې صورتو کي که يو مسافر د سفر مسافت پرې کولو وروسته تر پنځلسو ورځو هم زيات و درېږي نو هغه به مقيم نه وي او پر هغه به قصر کول واجب وي.

۲. که د پنځلسو ورځو اوسېدو اراده نه وي مګر په يو وجه بلاقصده او ارادې د زيات تم کېدو اتفاق وسي.

۳. کله ېې هم نيت نه وي کړی مګر په نن صبا کي د هغه اراده د هلته څخه تلل وي خو هغه د دې وروسته پنځلس ورځي يا تر دې زيات هم و اوسيږي.

۴. پنځلس ورځي يا تر دې زيات تم کېدو نيت وکړي خو هغه ځای د هستوګنې وړ نه وي.

۵. د پنځلسو ورځو لپاره د اوسېدو نيت وکړي مګر په دوو ځايو کي په شرط د دې که هغه په دواړو ځايو کي دومره فاصله وي چې د يو مقام اواز دوهم ځای ته نسي رسېدلای مثلاً لس ورځي په مکه معظمه کي د اوسېدو اراده وکړي او پنځه ورځي په منی کي کوم چې پر پنځه ميله فاصله باندي واقع ده او که د شپې په يو ځای کي د اوسېدو نيت وکړي او د ورځې په دوهم ځای کي نو په کوم ځای کي چې د شپې تېرېدو نيت ېې کړی وي هغه به د هغه د اقامت وطن سي هلته به هغه ته د قصر اجازه نه وي اوس دوهم ځای چيرې چې هغه ورځ تېروي که د هغه اول ځای څخه د سفر په مسافت وي نو هلته په تلو سره به مسافر سي کنه مقيم به وي او که يو ځای دوهم ځای ته دومره نژدې وي چې د يو ځای اذان دوهم ځای ته رسېدلای سي نو هغه دواړه ځايونه به يو ګڼل سي او په دواړو ځايو کي به د پنځلسو

ورځو د تم کېدو په اراده سره مقیم سي.

د مقیم اقتداء په مسافر پسي صحیح ده که څه هم ادا لمونځ وي یا قضاء، مسافر امام چې کله د دوو رکعتو په کولو سره سلام وګرځوي نو مقیم مقتدي ته پکار ده چې په ولاړېدو سره خپل لمونځ پوره کړي او په هغه کي دي قرائت نه کوي بلکه پته خوله به ولاړ وي ځکه چې هغه لاحق دی او قعده اولی به پر هغه مقتدي باندي هم فرض وي مسافر امام ته مستحب دی چې د سلام ګرځولو څخه وروسته سمدستي د خپل مسافر کېدو په ویلو سره مقتدیانو ته خبر ورکړي چې زه مسافر یم مقتدیان دي خپل لمونځ پوره کړي.

مسافر هم په مقیم پسي اقتداء کولای سي خو په وخت کي دننه د وخت وروسته نه، ځکه کله چې مسافر په مقیم پسي اقتداء وکړي نو د امام سره به د تابعداری په وجه دی هم څلور رکعته وکړي او د امام قعده اولی څخه وروسته نور لمونځ به د مسافر دپاره نفل وي او د مسافر فرض به د امام د تحریمه تکبیر څخه تر قعده اولی پوري وي.

مسافر دي د سهار سنت نه پریږدي او د ماښام سنت پرېښول هم غوره نه دي او د پاته سنتو پرېښودل ورته اختیار دي خو غوره داده که چیري روان وي او اطمینان نه وي نو نه دي پې کوي کنه وه دي پې کړي. (علم الفقه).

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول الله ﷺ قصر لمونځ

﴿۱۲۵۵﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ بِالْمَدِيْنَةِ أَرْبَعًا وَصَلَّى الْعَصْرَ بِذِيْ الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ. متفق عليه

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د ماپښین لمونځ څلور رکعته وکړل او په ذي الحلیفه کي یې د مازدیګر دوه رکعته وکړل. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۶۹، رقم: ۱۰۸۹ ومسلم ۱\ ۴۸۰، رقم: ۱۰- ۶۹۰.

تشریح: په دغه حدیث شریف کي د رسول الله ﷺ د سفر حال بیان سوی دی، رسول الله ﷺ چې د حج لپاره د مکې د سفر اراده وکړه نو په مدینه کي پې د ماپښین څلور رکعته لمونځ وکړ بیا چې د مدیني څخه ووتی او ذوي الحلیفه ته ورسېدی نو هلته پې قصر وکړ او د مازدیګر لمونځ

ېې دوه رکعته وکړي، (ذوالحليفه د يو ځای نوم دی چې مدينې منورې ته په درې کوسه فاصله باندې پروت دی)

د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه هم دا مذهب دی چې کله شرعي مسافر د خپل ښار يا کلي د ځايو څخه دباندې ووځي نو قصر لمونځ دي وکړي.

﴿۱۲۵۶﴾: وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ أَكْثَرُ مَا كُنَّا قَطُّ وَآمَنَهُ بِمِنًا رَكْعَتَيْنِ. متفق عليه

د حضرت حارثة بن وهب رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ ته رسول الله ﷺ په منی کې دوه رکعته لمونځ راکړ حال دا چې موږ د ورځې ډېر زيات وو او د امن په حالت کې وو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۵۶۳، رقم: ۱۰۸۳ ومسلم ۱\ ۴۸۳، رقم: ۲۰-۶۹۶.

تشريح: دا د حجة الوداع يادونه ده په دغه وخت د اسلام حقانيت او صداقت د اکثرو په زړونو کې ځای نيولی وو او د مسلمانانو شمېر ډېر زيات سوی وو د حجة الوداع پر وخت صحابه کرام رضي الله تعالى عنهم چې په ځومره زيات شمېر کې وه تر دې مخکې په هيڅ وخت کې نه وه، د امن په حالت کې وو د دې مطلب دادی چې د کفارو د يو حملې يا د هغوی سره د جنګ کولو څه بېره نه وه مګر ډېر اطمينان او د سکون په حالت کې وه د دې ذکر په خاصه توګه ځکه سوی دی چې دا واضحه سي چې د قصر مشروعيت د کفارو د فتنو پر بيري موقوف نه دی څرنګه چې د قرآن کريم د آيت څخه ښکاره ده مګر په سفر کې بهر صورت قصر کول پکار دی په مخکې حديث کې په تفصيل سره د دې بيان سوی دی.

د قصر په اړه آيت

﴿۱۲۵۷﴾: وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ قُلْتُ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ إِنَّمَا قَالَ اللّٰهُ أَنْ

د حضرت يعلي بن اميه څخه روايت دی چې ما حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه ته وويل: الله تعالى دا حکم کړی دی چې

تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَقَدْ أَمِنَ النَّاسُ

که تاسو د کافرانو د لوري په بېره کې ياست نو لمونځ کم کړئ مګر اوس چې امن قائم دی او بېره نسته نو په لمانځه کې د کمې څه ضرورت دی؟

قَالَ عُمَرُ عَجِبْتُ مِمَّا عَجِبْتَ مِنْهُ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمر رضي الله عنه وويل څرنګه چې تا ته دا شک پيدا سوی دی همدارنګه ما ته هم پيدا سوی وو نو ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ،

عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ صَدَقَةٌ تَصَدَّقَ اللهُ بِهَا عَلَيْكُمْ فَاقْبَلُوا صَدَقَتَهُ. رواه مسلم

هغه وفرمايل : دا يو احسان دی چې الله پر تا کړی دی نو ته دا احسان قبول کړه . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۱\ ۴۷۸، رقم: ۴-٦٨٦.

تشريح : د مسافر لپاره په لمانځه کې د قصر د اجازې په اړه چې کوم آيت نازل سوی وو او د هغه يو جزء دلته په حديث کې نقل سوی دی هغه پوره داسې دی :

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُواْ مِنَ الصَّلاَةِ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُواْ

ژباړه : او کله چې تاسو سفر کوئ نو تاسو ته په دې کې ګناه نسته چې کم لمونځ کوئ که تاسو ته دا بيره وي چې کافران به تاسو ته تکليف درکړي .

د دې آيت څخه په څرګنده دا معلوميږي چې د سفر په حالت کې د قصر اجازه هغه وخت وي کله چې د کافرانو څخه د تنګولو بيره وي حال دا چې داسې نه ده مګر حقيقت دادی چې په آيت کې د بيرې عادت او د اغلب په اعتبار کيږي چې اکثرو مسافرو ته بيره وي خصوصا په هغه زمانه کې کله چې کافر هر وخت او په هره زمانه کې مسلمانانو ته تاوان رسونکی وي دا وجه ده چې رسول الله ﷺ په فاقبلوا صدقة فرمايلو سره دې ته اشاره وفرمايل چې د سفر په حالت کې د قصر لمونځ کولو حکم يوازې د کافرانو د بيرې سره مختص نه دی مګر دا اساني په حقيقت کې د الله تعالى له خوا پر هغو ټولو بندګانو باندې چې د سفر په حالت کې وي يو احسان دی چې د هغه څخه هر مسافر ګټه اخيستلای سي که څه هم بيره وي وي يا نه وي .

په (فاقبلوا) کې حکم د وجوب لپاره دی يعنې د هر شرعي مسافر لپاره قصر کول واجب او ضروري دی د دې څخه د حنفيه مذهب تائيد کيږي چې د سفر په حالت کې قصر واجب دی او قصر نه کول يعنې پوره لمونځ ناخوښه دی .

د اقامت موده

﴿۱۲۵۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره ووتلو

الْمَدِيْنَةِ إِلٰى مَكَّةَ فَكَانَ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتّٰى رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِيْنَةِ

د مدینې څخه مکې ته ، رسول الله ﷺ به په سفر کې دوه رکعته لمونځ کوی تر څو چې موږ مدینې ته راستانه سو ،

قِيْلَ لَهُ أَقَمْتُمْ بِمَكَّةَ شَيْئًا قَالَ أَقَمْنَا بِهَا عَشْرًا . متفق عليه

د انس څخه پوښتنه وسول چې تاسو په مدینه کې څومره وخت واست؟ هغه وویل موږ په مکه کې لس ورځې وو . بخاري او مسلم .

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲/۵۶۱، رقم: ۱۰۸۱ ومسلم ۱/۴۸۱، رقم: ۱۵- ۶۹۳.

تشریح : د حجة الوداع پر وخت د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو قیام په مکه کې لس ورځې دا سې وې چې رسول الله ﷺ مکې ته د ذي الحجې پر څلورم تاریخ رسېدلی وو او د حج د ارکانو وغیره څخه د فراغت وروسته د څورلسم ذي الحجې په سهار د هغه ځای څخه مدینې ته روان سو . په هرحال د دې حدیث څخه معلومه سوه چې د سفر په حالت کې په یو ځای کې لس ورځې تېرولو سره هیڅ سړی نه مقیم کیږي د هغه لپاره قصر لمونځ کول جائز دی دا حدیث په ښکاره د امام شافعي رحمة الله علیه د مذهب خلاف معلومیږي ځکه د هغه په نزد که یو سړی په یو ځای کې تر څلورو ورځو زیات اوسي نو بیا د هغه لپاره قصر لمونځ جائز نه دی بلکه د هغه لپاره پوره لمونځ کول ضروري دی د دې پوره تفصیل په راتلونکي حدیث کې را روان دی .

﴿۱۲۵۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَافَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَفَرًا

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ یو سفر وکړ

فَأَقَامَ تِسْعَةَ عَشَرَ يَوْمًا يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَنَحْنُ

او هلته یې نولس ورځې تیرې کړې او په دغه وخت کې به یې دوه دوه رکعته کول ، ابن عباس رضي الله عنه وایي موږ چې به

نُصَلِّي فِيمَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَكَّةَ تِسْعَةَ عَشَرَ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فَإِذَا أَقَمْنَا أَكْثَرَ

د مکې او مدينې په منځ کي تر نولس ورځو پوري پاته سو نو دوه دوه رکعته به مو کول او که تر دې به زيات پاته سو

مِنْ ذٰلِكَ صَلَّيْنَا أَرْبَعًا . رواه البخاري

نو څلور رکعته به مو کول . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۵۶۱، رقم: ۱۰۸۰.

تشريح : (فاقام تسعة عشر يوما) : ددې مطلب دادی چې رسول الله ﷺ نولس ورځې ښله داقامت د نيت څخه داسي تيري کړې چې په نن سبا کي د هغه ځای څخه د راوښدو اراده به ېې وکړل مګر ښله قصده او ارادې د رسول الله ﷺ قيام نوولس ورځې وسو د دې څخه ابن عباس رضی الله عنه دا نتيجه واخېستل که يو سړی د سفر په حالت کي يو ځای نولس ورځې تيري کړي نو هغه قصر لمونځ کولای سي هو د نولس ورځو وروسته به د هغه لپاره قصر لمونځ جائز نه وي په دې مسئله کي ابن عباس رضی الله عنه يوازي دی د بل هيچا دا مذهب نه دی .

د اقامت د مودې په اړه د باب په شروع کي په تفصيل سره بيان سوی دی په دې خبره هم پوه سئ چې د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دادی که يو سړی د سفر په حالت کي په يو ځای کي د پنځلس ورځو څخه زيات د پاته کېدو اراده وکړي نو د هغه لپاره قصر جائز نه دی بلکه هغه دي پوره لمونځ وکړي او که يو سړی پنځلس يا د پنځلسو ورځو څخه زيات د پاته کېدو اراده ولري نو قصر لمونځ دي وکړي مګر که چيري هغه د اقامت نيت وکړي او په نن سبا کي د هغه ځای څخه د روانېدو اراده لري او همداسي ښله قصده اراده د هغه د قيام په اړه تر کلونو پوري اوږده سي نو بيا هم هغه دي د قصر لمونځ وکړي، امام طحاوي رحمة الله عليه دا مسئله د جليل القدر صحابه کرامو مثلا حضرت ابن عمر رضی الله عنه وغيره څخه نقل کړې ده .

امام محمد رحمة الله عليه په خپل کتاب الاثار کي نقل کړي دي چې ابن عمر رضی الله عنه په اذربائجان کي شپږ مياشتي همداسي اوسېدی چې په نن سبا کي ېې د تلو اراده وه خو ښله قصده د هغه قيام دومره اوږد سو نو هغه به په دغه وخت کي قصر لمونځ کوی او صحابه کرام هم د هغه سره ملګري وه، همداسي حضرت انس رضی الله عنه هم د مروان د زوئ عبدالمالک سره په شام کي تر دوو مياشتو پوري ښله ارادې اوسېدی او هلته به ېې دوه دوه رکعته لمونځ کوی.

په دې مسئله کې د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب دا دی که یو سړی په یو ځای کې پرته د دوو ورځو تلو راتلو څخه د څلورو ورځو تلو راتلو اراده لري نو هغه مقیم کیږي د هغه لپاره قصر جائز نه دی هغه دې پوره لمونځ کوي همداسې د اقامت د نیت څخه پرته په نن سبا کې د تلو راتلو په اراده کولو سره بېله قصده او ارادې تر اتلسو ورځو زیات و اوسېدی نو بیا هم د هغه لپاره قصر جائز نه دی بلکه هغه دې پوره لمونځ کوي، د امام شافعي رحمة الله علیه په فقه کې دا د باور وړ او صحیح قول دی.

په سفر کې نفل کول

﴿۱۲۶۰﴾: وَعَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ قَالَ صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ فِيْ طَرِيْقِ مَكَّةَ فَصَلّٰى

د حفص بن عاصم رضی الله عنه څخه روایت دی چې زه د مکې په سفر کې د ابن عمر رضی الله عنه ملګری وم

لَنَا الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَاءَ رَحْلَهُ وَجَلَسَ فَرَأٰى نَاسًا قِيَامًا فَقَالَ مَا يَصْنَعُ

هغه د ماپښین لمونځ دوه رکعته وکړ، ددې وروسته ابن عمر رضی الله عنه خپل ځای ته راغلی او کښېنستی خلک یې ولاړ ولیدل نو پوښتنه یې وکړل دا خلک څه کوي؟

هٰؤُلَاءِ؟ قُلْتُ يُسَبِّحُوْنَ. قَالَ لَوْ كُنْتُ مُسَبِّحًا أَتْمَمْتُ صَلَاتِيْ صَحِبْتُ رَسُوْلَ

ما ورته وویل نفل کوي، ابن عمر رضی الله عنه وویل که ما نفل کولای نو خپل لمونځ به مې پوره کولای زه د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کې پاته سوی یم

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ لَا يَزِيْدُ فِي السَّفَرِ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ وَأَبَابَكْرٍ

مګر ما رسول الله ﷺ په سفر کې تر دوو رکعتو زیات پر لمانځه کولو نه دی لیدلی او ابوبکر،

وَّعُمَرَ وَعُثْمَانَ كَذٰلِكَ. متفق عليه

عمر رضی الله عنه او عثمان رضی الله عنه به هم په سفر کې همداسې کول. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۷۷، رقم: ۱۱۰۱، ومسلم ۱\ ۴۷۹، رقم: ۸- ۶۸۹.

د لغاتو حل: يسبحون: اى يصلون نفلا.

تشریح: ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي چې دا حدیث د هغه خلکو لپاره دلیل دی کوم چې وایي د سفر په حالت کې نفل نه کیږي، سنت راتبه لمنځونه به انشاء الله تعالی په دوهم فصل

كي ذكر سي .

په سفر كي دوه لمنځونه يو ځاى كول

﴿۱۲۶۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَجْمَعُ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ إِذَا كَانَ عَلٰى ظَهْرِ سَيْرٍ وَّيَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ . رواه البخاري

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به په سفر كي د ماپښين او مازديگر لمونځ يو ځاى كوى اود مابنام او ماخستن لمونځ به يې يو ځاى كوي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۷۹، رقم: ۱۱۰۷.

تشريح : شافعي حضرات د دغه حديث ښكاره مفهوم په خپل مستدل جوړولو سره دامسئله اخيستې ده چي د سفر په حالت كي جمع بين صلوتين يعني د ماپښين او مازديگر لمونځ په يو وخت كي يوځاى كول جائز دى كه د مازديگر لمونځ د ماپښين په وخت كي وكړي او كه د ماپښين لمونځ د مازديگر په وخت كي، همداسي د مابنام او ماپښين لمنځونه هم يو ځاى كول جائز دى كه د مابنام په وخت كي د ماخستن لمونځ وكړي اوكه د ماخستن لمونځ د مابنام په وخت كي وكړي .

د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد جمع بين صلوتين جائز نه دى ځكه د هغه له خوا د دې حديث چي د شوافع د ټولو لوى مستدل دى يعني رسول الله ﷺ به د ماپښين او مازديگر لمونځ يوځاى داسي كوى چي ماپښين به ېې د هغه په اخري وخت كي كوى او مازديگر به ېې د هغه بالكل په لومړني وخت كي اداء كوى، د ښكاره صورت د لحاظ څخه دا جمع بين صلوتين دى چي رسول الله ﷺ دواړه لمنځونه يو ځاى وكړل مګر په حقيقت كي دواړه لمنځونه پر خپل خپل وخت كول كيږي همداسي د مابنام لمونځ به ېې په ځنډ سره بالكل په اخري وخت كي كوى او د ماخستن لمونځ به ېې په لومړنى برخه كي اداء كوى .

پر سپرلى باندي لمونځ كول

﴿۱۲۶۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ فِي السَّفَرِ عَلٰى رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ بِهِ يُوْمِئُ إِيْمَاءً صَلَاةَ اللَّيْلِ إِلاَّ الْفَرَائِضَ وَيُوْتِرُ عَلٰى رَاحِلَتِهِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د شپې پر خپل سپرلی لمونځ کوی د سپرلی مخ چې به هر لوري ته وود اشاري څخه به یې کار اخیستی مګر فرض لمونځ به یې پر سپرلی نه کوی البته وتریې کول. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\۴۸۹، رقم: ۱۰۰۰، ومسلم ۱\۴۸۷، رقم: ۳۷-۳۸\۷۰۰.

تشریح: د (حیث توجهت به) مطلب دادی چې کومي خوا ته به د سپرلی مخ وو هغه خوا به رسول الله ﷺ مخ کړ او لمونځ به یې کوی مګر د تکبیر تحریمې په وخت کي به ده خپل مخ مبارک په هر صورت د قبلې خوا ته کوی څرنګه چې د انس رضي الله عنه د راویت څخه معلومیږي.

په اشاري سره د لمانځه کولو مطلب دادی چې رکوع او سجده به یې په اشاره سره کول او دا چې رسول الله ﷺ به سجده په اشاره سره کول هغه به د رکوع د اشاري څخه کښته وه.

د دې حدیث څخه دوې مسئلې اخیستل کیږي: اول خودا چې پر سپرلی باندي نفل لمونځ کول جائز دی نه فرض لمنځونه، په دې حدیث کي که څه هم د شپې د لمانځه ذکر سوی دی مګر په نورو روایتو کي د عامو نفلو لمنځونو ذکر موجود دی نو په دې حکم کي سنت موکده او د دې څخه پرته نور سنتونه او نفلونه هم ګډ دي. مګر د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه دیو بل روایت څخه معلومیږي چې د سهار د سنتو لپاره د سپرلی څخه کښته کېدل پکار دي مګر د یو بل روایت څخه معلومیږي چې د سهار سنت د سپرلی څخه په کښته کېدو سره کول واجب دی ځکه دا لمونځ بېله یو عذره په ناستي کول جائز نه دی فرض لمونځ پر سپرلی باندي کول جائز نه دی مګر د لاندنیو عذرونو په صورت کي فرض لمونځ پر سپرلی باندي کول هم جائز دی:

۱. کله چې یو سړی په ځنګل کي وي او د خپل مال یا ځان د هلاکت بېره غالبه وي مثلا دا بېره وي که د سپرلی څخه کښته سي او لمونځ پیل کړي نو غل به دده مال او اسباب وتښتوي یا د یو حیوان د تاوان رسېدو بېره وي یا د قافلې څخه د جلاکېدو بېره وي یا د لاري د ورکېدو بیره وي.

۲. سپرلی یو داسي سرکښ حیوان وي یا یو داسي شی وي چې د هغه څخه په راکښته کېدو سره دوهم وار هغه ته ختل نا ممکن وي.

۳. لمونځ کونکی دومره ضعیف او سپین ږیری وي چې خپله نه خو د سپرلی څخه کښته کېدای سي او نه سپرلی ته ختلای سي او داسي څوک نه وي چې د سپرلی څخه پې کښته کړي یا هغه ته پې وخېژوي.

۴. پر مځکه دومره ختي وي چې پر هغه لمونځ کول ممکن نه وي.
۵. د باران عذر وي.

په هر حال په دغه صورتونو کې فرض لمونځ هم پر سپرلۍ کولای سې ځکه چې عذرونه او ضرورتونه د شرعي قواعد او قوانینو څخه مستثنی دي، او کوم چې د رسول الله ﷺ د دغه عمل تعلق دی چې رسول الله ﷺ به وتر لمونځ هم پر سپرلۍ کوی نو د دې په باره کې امام طحاوي رحمة الله علیه فرمایي چې زمونږ په نزد د دې یوه وجه دا کېدای سي چې رسول الله ﷺ به د وتر لمونځ د حکم د تاکید په خاطر او د دې د ارزښت د احساس ورکولو لپاره پر سپرلۍ باندي وتر لمونځ کوی مګر کله چې د خلکو په ذهن کې ددغه لمانځه تاکید او اهمیت کښېنستی او د هغه وروسته رسول الله ﷺ د دې دومره تاکید وفرمایه چې ددې پرېښودل ېې روا ونه ګڼل نو وروسته رسول الله ﷺ وتر لمونځ هم د سپرلۍ څخه په کښته کېدو سره پر مځکه کوی او فرمایل به ېې چې رسول الله ﷺ همداسې کول.

امام محمد رحمة الله علیه په خپل کتاب مؤطا کې د صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم اجمعین او د تابعینو رحمة الله علیهم ډېر اثار نقل کړي دي چې د هغو څخه ثابتیږي چې هغه حضراتو به د وتر لمونځ کولو لپاره د خپلو سپرلیو څخه را کښته کېدل.

علامه شمني رحمة الله علیه فرمایي چې د فرض لمانځه په ډول د جنازې لمونځ، نذر لمونځ او هغه سجده تلاوت چې د هغه د آیت تلاوت پر مځکه سوی وي پر سپرلۍ باندي کول جائز نه دي.

د حدیث څخه دوهمه مسئله دا اخیستل کیږي چې پر سپرلۍ باندي لمونځ کول په سفر سره مشروط دی، د جمهور امامانو دا مذهب دی، د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه او امام ابویوسف رحمة الله علیه څخه هم په یوه روایت کې دا نقل دي مګر د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه محقق او صحیح مذهب دادی چې پر سپرلۍ باندي د لمانځه جواز د لمونځ کونکي لپاره د ښار څخه په دباندي کېدو سره مشروط دی که څه هم مسافر وي یا مسافر نه وي، که یو مسافر په ښار کې دننه وي نو د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد د هغه لپاره پر سپرلۍ باندي نفل لمونځ کول جائز نه دی، مګر د امام محمد رحمة الله علیه په نزد جائز دی که څه هم د هغه په نزد مکروه دی، امام ابویوسف رحمة الله علیه فرمایي که مسافر په ښارکې دننه پر سپرلۍ نفل لمونځ وکړي نو څه پرواه نه لري اوس د دې وروسته په دې کې اختلاف دی چې د ښار څخه د څومره فاصلې په صورت کې پر سپرلۍ باندي لمونځ کول جائز دی د ځینو حضراتو په نزد کم تر کمه شپږ میله د ښار څخه د باندي کېدل ضروري دي د ځینو حضراتو په نزد

دري فرسخه او د ځينو حضراتو په نزد يو قوس تعين کړی دی، صحيح داده چي د بنار او ابادی د ځايونو څخه په وتلو سره نفل لمونځ کول پر سپرلی جائز دي لکه څرنګه چي د قصر د لمانځه په باره کي قاعده ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د رسول الله ﷺ قصر نه کول

﴿۱۲۶۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُلّ ذٰلِكَ قَدْ فَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصَرَ الصَّلَاةَ وَأَتَمَّ. رواه في شرح السنة.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ پوره لمونځ هم کړی دی او قصر (دوه رکعته) يې هم کړی دی. شرح السنة

تخريج: البغوي في شرح السنة ۴\۱۶۶، رقم: ۱۰۲۳.

تشريح: د دې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به د سفر په حالت کي په دواړو طريقو باندي عمل کوی يعني څلور رکعته لمونځ به يې هم کوی او دوه رکعته به يې هم کول، د امام شافعي رحمة الله عليه عمل پر دغه حديث دی هغه فرمايي چي په سفر کي قصر لمونځ کول هم جائز دی او پوره لمونځ کول هم جائز دی، د اما اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد په سفر کي پوره لمونځ کول جائز نه دی که يو سړی قصر لمونځ ونه کړی بلکه پوره لمونځ وکړي نو ګناه کار به سي.

دا حديث که څه هم د امام شافعي رحمة الله عليه دليل دی مګر د اهل نظر وينا ده چي د دې حديث په اړه په يوه روايت کي د ابراهيم بن يحيى نوم هم راځي چي د هغه په وجه دا حديث ضعيف ګرځول کيږي د دې وجه داده چي صاحب سفر السعادة فرمايي چي دا حديث د صحت مرتبې ته نه دی رسېدلی او د سفر په حالت کي د رسول الله ﷺ څخه پوره لمونځ کول ثابت نه دي، دارقطني، بيهقي او داسي نورو چي کوم روايت نقل کړی دی چي د هغه څخه د سفر په حالت کي دا ويل کېدای سي که دا روايت هم صحيح ومنل سي نو د دې تعلق به د اول حکم سره وي يعني په شروع کي خو اتمام او قصر دواړه جائز وه مګر وروسته قصر ضروري وګرځول سو، دلته د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه چي کوم روايت نقل سوی دی د هغه يوه معنی دا هم

کېدای سي چې د حدیث د اولي برخي اړه د هغه لمنځو سره ده چې په هغه کي قصر کیږي مثلا څلور رکعتیز لمونځ، او د دویمي برخي اړه د هغه لمنځو سره ده چې په هغه کي قصر نه کیږي لکه درې رکعتیز یا دوه رکعتیز لمونځ یعني رسول الله ﷺ خو به څلور رکعته او دوه رکعته لمونځ پوره کوی، دا مفهوم په مراد اخیستو سره د ښکاره معنی او مفهوم څخه زیات لیري والی نه رائي ځکه چې قصر او اتمام دواړه پر خپل خپل ځای مفهوم کیږي او دا توجیه ډېره مناسبه او حقیقت ته نژدې ده.

د پنځلس ورځو څخه زیات قیام

﴿۱۲۶۴﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ سره په جهاد کي وم،

وَشَهِدْتُ مَعَهُ الْفَتْحَ فَأَقَامَ بِمَكَّةَ ثَمَانِيَ عَشَرَ لَيْلَةً لاَ يُصَلِّي إِلاَّ رَكْعَتَيْنِ

رسول الله ﷺ په مکه کي اتلس شپې پاته وو او په دغه وخت کي یې فرض لمنځونه دوه دوه رکعته کول

يَقُوْلُ يَا أَهْلَ الْبَلَدِ صَلُّوْا أَرْبَعًا فَإِنَّا سَفَرٌ . رواه أبو داود .

او د ښار خلکو ته یې فرمایل: تاسو څلور رکعته کوئ ځکه چې موږ مسافر یو. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۳- ۲۴، رقم: ۱۲۲۹.

تشریح: مخکي ښودل سوي دي چې په یو ځای کي ببله قصده او ارادې تر پنځلسو ورځو زیات د قیام په صورت کي قصر لمونځ کېدای سي، د مکې د فتح په وخت کي د رسول الله ﷺ قیام اتلس شپې وو، رسول الله ﷺ په نن سبا کي د هغه ځای څخه راونېدونکی وو مګر قیام یې ببله قصده او ارادې دومره اوږد سو، نو رسول الله ﷺ قصر لمونځ کوی د مکې د قیام په وخت کي به رسول الله ﷺ دوه رکعته په پوره کولو سره د سلام ګرځولو وروسته فرمایل چې ښاروالا دي څلور رکعته لمونځ پوره کړي زه مسافر یم ځکه دوه رکعته کوم، نو د مسافر امام لپاره د مقیم مقتدیانو همداسي خبرول مستحب دي.

د دې حدیث څخه معلومه سوه که چیري مقیم د مسافر اقتداء وکړي نو د هغه لپاره څلور رکعته لمونځ پوره کول ضروري دي د امام په متابعت کي دوه رکعته کول جائز نه دی هو که

مسافر د مقیم اقتداء وکړي نو هغه ته د امام د متابعت له کبله څلور رکعته کول پکار دي.

قصر یوازي په څلور رکعتیز لمانځه کي

﴿۱۲۶۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلظُّهْرَ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما په سفر کي د رسول الله ﷺ سره د ماپښین دوه رکعته وکړل

فِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَ بَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وفي رواية قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى

او د هغه وروسته دوه رکعت سنت، او په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي ما د رسول الله ﷺ سره لمونځ کړی دی

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي الْحَضَرِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا

په سفر او حضر کي په حضر کي مي د رسول الله ﷺ سره ماپښین څلور رکعته کول

وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي السَّفَرِ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ

او دوه سنت او په سفر کي دماپښین دوه رکعته وکړل او وروسته دوه سنت

وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ وَلَمْ يُصَلِّ بَعْدَهَا شَيْئًا وَالْمَغْرِبَ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ سَوَاءً

او په مازدیګر کي دوه رکعته او د هغه وروسته مو هیڅ لمونځ نه دی کړی، او د مابنام لمونځ مو په سفر او حضر دواړو کي

ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ لَا يَنْقُصُ فِي حَضَرٍ وَلَا فِي سَفَرٍ وَّ هِيَ وِتْرُ النَّهَارِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ. رواه الترمذي

دري رکعته کړی دی او د مابنام په لمانځه کي مو څه کمي نه ده کړې نه په سفر کي او نه په حضر کي (د حضر څخه مراد ښار دی) لکه د مابنام لمونځ چي د ورځي وتر دي او د مابنام څخه وروسته مو دوه رکعته سنت وکړل. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۱۲/ ۴۳۷، رقم: ۵۵۲.

تشریح : د دې حدیث څخه دا خبره په وضاحت سره معلومه سوه چې د سفر په حالت کې قصر یوازې په څلور رکعتیز لمنځو کې جائز دی لکه د ماپښین، مازدیګر او ماخستن لمونځ، او په درې رکعتیز او دوه رکعتیز لمنځو کې لکه د مابنام او سهار نو په هغو کې قصر جائز نه دی دا لمنځونه چې څرنګه په کور کې کیږي همداسې په سفر کې کول هم پکار دي په هغو کې قصر کول جائز نه دی .

(وهي وتر النهار): ددې مطلب دادی چې څرنګه وتر لمونځ د شپې وتر دی همداسې د مابنام لمونځ د ورځې وتر دی ګویا د دې قول څخه د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه د قول تائید کیږي چې وتر لمونځ په یوه سلام سره درې رکعته دی .

ابن ملک رحمة الله علیه فرمایلي دي چې دا حدیث پر دې خبرې دلالت کوي چې سنت موکده د حضر په ډول په سفر کې هم کول پکار دي مګر د حنفیه په نزد دلته معتمد او صحیح قول دادی چې کله مسافر په یوه ځای کې تم سي نو هلته دي سنت وکړي مګر په لاره کې دي ېې پریږدي نه دي ېې کوي .

دوه لمونځونه یو ځای کول

﴿۱۲۶۶﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د تبوک د غزا په ورځو کې

تَبُوْكَ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَّرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَإِنِ

کله چې به زوال وسو نو د سفر کولو څخه تر مخه به یې د ماپښین او مازدیګر لمونځ یو ځای کوی او که به

ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَزِيْغَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعَصْرِ وَفِي الْمَغْرِبِ

د زوال څخه تر مخه سفر وسو نو په ماپښین کې به یې زنډ کوی او د مازدیګر په وخت کې به راکښته سو او د ماپښین او مازدیګر دواړه لمنځونه به یې یو ځای کول، او په مابنام کې به یې

مِثْلَ ذٰلِكَ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَّرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ

هم داسې کول یعني که د لمر لوېدو څخه وروسته به سفر سو نو د مابنام او ماخستن لمونځ به یې یو ځای کوی

وَإِنِ ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَغِيْبَ الشَّمْسُ آخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعِشَاءِ ثُمَّ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا . رواه أبو داود والترمذي

او که د لمر لوېدو مخکې به سفر سو نو په مابنام کې به يې زنډ کوی او د ماخستن په وخت کې به راکښته سو بيا به يې دواړه لمنځونه يو ځای کول . ابوداؤد، ترمذي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۱۸، رقم: ۱۲۲۰، والترمذي ۲\ ۴۳۷، رقم: ۵۵۳.

تشريح: د دغه حديث څخه د شوافع حضراتو د جمع بين الصلوتين په اړه جمع تقديم او جمع تاخير ثابت کړی دی د دې بيان مخکې جائز دی او هغه دواړه لمنځونه په يو وخت کې هم کېدای سي، د حنفيه په نزد جمع بين الصلوتين جائز نه دی ځکه هغوی په دې اړه د ابوداؤد رحمة الله عليه قول نقل کړی دی چې د وخت څخه مخکې د لمانځه کولو په اړه هيڅ قوي حديث نه دی ثابت . لکه د ابوداؤد دغه قول چې د دې حديث پر ضعيف کېدو باندې دليل دی بيا دا چې د حنفيه دليل د بخاري او مسلم هغه روايت دی چې حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه نقل کړی دی چې ما رسول الله ﷺ پر هيڅ يو لمونځ کولو په ټاکلي وخت کې نه دی ليدلی نو د دې دواړو حديثونو د ټکر په صورت کې د ابن مسعود رضي الله عنه په باره کې دا حديث به راجح وي ځکه چې دا د ابن مسعود رضي الله عنه په باره کې دی د دې څخه هيڅوک انکار نسي کولای چې هغه د خپل تفقه، علم او د حديث د روايت په اړه په احتياط کې تر ټولو زيات ممتاز دی او ښکاره خبره ده چې د هغه روايت سوی حديث تر ټولو زيات صحيح او د باور وړ وي .

پر سپرلی باندې لمونځ

﴿۱۲۶۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا سَافَرَ وَأَرَادَ أَنْ يَّتَطَوَّعَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ بِنَاقَتِهِ فَكَبَّرَ ثُمَّ صَلّٰى حَيْثُ وَجَّهَهُ رِكَابُهُ . رواه أبو داود .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې کله به رسول الله ﷺ په سفر کې د نفل لمونځ کولو اراده کول نو اوښه به يې د قبلې په لور کړه تکبير به يې وايه بيا چې به اوښه پر کوم لور تله نو هغه لوري ته به يې لمونځ کوی. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۱، رقم: ۱۲۲۵.

تشريح: د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په پورتني صورت کې قبلې ته مخ کول شرط دی

مګر د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد په فرض لمانځه کي شرط نه دی يعني کوم عذرونه چي د دغه باب په اتم نمبر حديث کي ذکر سوه د هغه په وجه که پر سپرلی باندي فرض لمونځ وکړل سي نو مخ پر قبله کېدو سره تکبير تحريمه ويل ضروري دي .

﴿۱۲۶۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ بَعَثَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِيْ حَاجَةٍ فَجِئْتُ وَهُوَ يُصَلِّيْ عَلٰى رَاحِلَتِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَيَجْعَلُ السُّجُوْدَ أَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوْعِ . رواه أبو داود

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زه په يو کار پسي وليږلم کله چي زه راغلم نو وه مي ليدل چي رسول الله ﷺ پر سپرلی لمونځ کوی او د سپرلی مخ د ختيځ پر لوروو او رسول الله ﷺ تر رکوع سجده زياته کښته کول . ابو داؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۲، رقم: ۱۲۲۷.

تشريح : د حديث د اخري الفاظو مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به رکوع او سجده دواړه په اشاري سره کول د سجدې لپاره به زيات او د رکوع لپاره به کم کښته کېدی .

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

د حضرت عثمان رضي الله عنه په منی کي قصر نه کول

﴿۱۲۶۹﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په منی کي دوه رکعته لمونځ وکړ

وَأَبُوْ بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ رَكْعَتَيْنِ صَدْرًا مِنْ خِلَافَتِهِ ثُمَّ اِنَّ عُثْمَانَ صَلّٰى

د رسول الله ﷺ وروسته ابو بکر رضي الله عنه، عمر رضي الله عنه او حضرت عثمان رضي الله عنه د خپل خلافت په پيل کي دوه رکعته وکړل بيا حضرت عثمان رضي الله عنه

بَعْدُ اَرْبَعًا فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ اِذَا صَلّٰى مَعَ الْاِمَامِ صَلّٰى اَرْبَعًا وَ اِذَا صَلّٰهَا وَحْدَهُ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ . متفق عليه

څلور رکعته کول پيل کړل او ابن عمر چي به د امام سره لمونځ کوی نو څلور رکعته به يې کول او کله چي به يې يوازي کوی نو دوه رکعته يې کول . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۶۳، رقم: ۱۰۸۲، ومسلم ۱\ ۴۸۲، رقم: ۱۶- ۶۹۴.

تشريح: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ او د خلافت په زمانه کي حضرت ابوبکر او عمر فاروق رضي الله تعالی عنهما د حج کولو په وخت په منی کي قصر لمونځ کړی دی او په دې ترتیب سره حضرت عثمان غني رضي الله عنه د خپل خلافت په شروع کي دوه رکعته لمونځ کړی دی او بیا ېې څلور رکعته.

د حضرت عثمان رضي الله عنه د دې عمل په باره کي خو څو سببه نقل کیږي علماء لیکي چي د دې وجه یا خو داده چي هغه په مکه کي متاهل وو د دې تائید د امام احمد رحمة الله علیه د روایت څخه کیږي چي حضرت عثمان رضي الله عنه په منی کي څلور رکعته وکړل نو خلکود حیرانتیا اظهار وکړ هغه وفرمایل خلکو زه په مکه کي متاهل یعني قبیله داره یم او ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي کوم سړی په یو ښار کي قبیله داره وادە وکړي د کور او بچیانو خاوند سي نو هغه دي د مقیم په ډول لمونځ کوي، د حضرت عثمان رضي الله عنه پر دې عمل د خلکو حیرانېدل د دې خبري دلیل دی چي رسول الله ﷺ به په سفر کي پوره لمونځ نه کوی او دا چي د سفر په حالت کي قصر لازم دی کنه نو خلکو به د حیرت اظهار نه کوی.

د حضرت عثمان رضي الله عنه یوه دوهمه توجیه داهم کېدای سي چي د حج په وخت کي ډېر زیات مسلمانان په منی کي جمع کېدل او په هغوی کي داسي خلک هم وه چي نوي مسلمانان سوي وه او د دین په پوره احکامو سره نه پوهېدل ځکه حضرت عثمان رضي الله عنه هغوی ته د ښودلو لپاره څلور رکعته کول چي ناخبره مسلمانان پوه سي چي د لمانځه څلور رکعته دي که چیري قصر ېې کړی وای نو هغه خلکو به دا ګڼلای چي دوه رکعته لمونځ فرض دي.

بیا دا هم ویل کېدای سي چي په اخر کي د حضرت عثمان رضي الله عنه عمل د بي بي عائشې رضي الله تعالی عنها په نزد په سفر کي قصر او پوره لمونځ دواړه جائز وو.

قصر د رخصت څخه زیات عزیمت دی.

﴿۱۲۷۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فُرِضَتْ الصَّلٰوةُ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ هَاجَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي په پیل کي دوه رکعته لمونځ فرض سوی وو بیا چي رسول الله ﷺ هجرت وکړ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفُرِضَتْ اَرْبَعًا وَتُرِكَتْ صَلٰوةُ السَّفَرِ عَلَى الْفَرِيْضَةِ

نو څلور رکعته لمونځ فرض سو او د سفر لمونځ هم هغه دوه رکعته وو ،

الْأُولٰى قَالَ الزُّهْرِيُّ فَقُلْتُ لِعُرْوَةَ مَا بَالُ عَائِشَةَ تُتِمُّ قَالَ تَأَوَّلَتْ كَمَا تَأَوَّلَ عُثْمَانُ. متفق عليه

زهري وايي ما عروه ته وويل چي د بي بي عائشې څه حال دی چي هغه په سفر کي هم پوره لمونځ کوي ؟ هغه وويل چي هغه هم د عثمان رضي الله عنه په ډول قصر او پوره دواړه جائز ګڼي .بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۱ ۴۶۴، رقم: ۳۵۰، ومسلم ۱۱ ۴۷۸، رقم: ۱- ۶۸۵.

تشريح : مطلب دادی چي په شروع کي لمونځ دوه دوه رکعته فرض سوی وو مګر وروسته د ماپښين ، مازديګر او ماخستن څلور رکعته فرض سول البته د مانښام لمونځ پر اول حکم قائم پاته سو د دې څخه معلومه سوه چي د سفر په حالت کي څلور رکعته د شروع کېدو وروسته رخصت نسته مګر په اصل کي مشروع دی دوه رکعته دي ځکه قصر عزيمت يعني لازم دي نه چي رخصت چي د هغه مطلب دا سو چي د چا زړه غواړي قصر دي وکړي او که دچا زړه غواړي نو پوره لمونځ دي وکړي، د دې څخه د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د مذهب تائيد کيږي که يو څوک د سفر په حالت کي کله چي پر هغه قصر لازم وي پوره څلور رکعته وکړي او په اوله قعده کي کښيني نو هغه به بد وکړي او د هغه زائد دوه رکعته به نفل سي او که يو سړی څلور رکعته داسي وکړي چي په اوله قعده کي کښيني چي حکما هغه اخري قعده ده نو د هغه فرض لمونځ به باطل سي .

د حديث اخري الفاظ (تاولت کما تاول عثمان) مطلب دادی چي څرنګه حضرت عثمان رضي الله عنه د سفر په حالت کي څلور رکعته لمونځ کوی او د خپل دغه عمل تاويل يې کوی اوس سوال دا دی چي د حضرت عثمان رضي الله عنه او د هغوی په ډول د بي بي عائشې رضي الله عنها تاويل څه وو .

علماء ليکي چي د دې تاويل په باره کي صحيح قول دا ښودل سوی دی چي حضرت عثمان رضي الله عنه او بي بي عائشې رضي الله عنها دواړو به د سفر په حالت کي قصر او پوره لمونځ دواړه جائز ګڼل .

قصر د الله ﷻ حکم دی

﴿۱۲۷۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فَرَضَ اللّٰهُ الصَّلَاةَ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّكُمْ ﷺ فِي الْحَضَرِ أَرْبَعًا وَفِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَفِي الْخَوْفِ رَكْعَةً. رواه مسلم

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې الله جل جلاله ستاسو د نبي پر ژبه لمونځ فرض کړی دی په حضر کې څلور رکعته او په سفر کې دوه رکعته او د بیرې په حالت کې یو رکعت. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱\ ۴۷۹، رقم: ٦- ٦٨٧.

تشریح: (وفي السفر رکعتین) دا د حنفیه د مذهب ښکاره دلیل دی چې د سفر په حالت کې دي دوه رکعته وکړي پوره لمونځ دي نه کوي، (وفي الخوف رکعة) یعني د بیرې په حالت کې یو رکعت فرض دی د دې پر ښکاره مفهوم باندې په علماء سلف کې یو ډلي عمل کړی دی چې په هغه کې حسن بصري رحمة الله علیه او اسحاق رحمة الله علیه هم دي، مګر جمهور علماء فرمایي چې د لمانځه د رکعتونو په اعتبار د امن او خوف په لمانځه کې هیڅ فرق نسته، څومره رکعتونه چې د امن په حالت کې کیږي هغومره رکعتونه د خوف په حالت کې هم کول پکار دي د هغه لخوا د دې حدیث تاویل داسې کیږي چې د دې څخه مراد دادی چې د حقیقي یا حکمي امام سره د کولو په اړه دا طریقه دي اختیار کړل سي او یو رکعت دي یوازي وکړل سي څرنګه چې د خوف په حالت کې رسول الله ﷺ او صحابه رضي الله عنهم څخه د دې لمانځه کولو طریقه د حدیثو څخه ثابته ده او په ښار کې مطلقا د خوف په حالت کې څلور رکعته او درې رکعته دي داسې وکړل سي چې د امام سره دي دوه رکعته وکړي او پاته دي یوازي وکړي د دې تفصیل به د صلوة الخوف په باب کې انشاء الله تعالی راسي.

قصر د قرآن او سنت څخه ثابت دی

﴿۱۲۷۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالاَ سَنَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَلاَةَ السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا تَمَامٌ غَيْرُ قَصْرٍ وَالْوِتْرُ فِي السَّفَرِ سُنَّةٌ. رواه ابن ماجه

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ او ابن رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په سفر کې دوه رکعته تاکلي دي او دا دوه رکعته (په ثواب کې) پوره دي ناقص نه دی او وتر کول په سفر کې سنت دی. ابن ماجه.

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ۳۷۷، رقم: ۱۱۹۴.

تشریح: د سفر په حالت کې قصر لمونځ کول خو د قرآن کریم څخه ثابت دی او د حدیث الفاظ د رسول الله ﷺ د خپل قول او فعل څخه ښکاره کړي دي.

(وهما تمام غیر قصر) یعني هغه ناقص نه دی پوره دی، د دې مطلب دادی چې د سفر د لمانځه

لپاره مشروع دوه رکعتونه دي نه دا چي مخکي څلور رکعته مشروع وه بيا وروسته دوه رکعته کم کړل سوي دي او وتر لمونځ په سفر کي سنت دی يعني په سفر کي وتر لمونځ کول د سنت څخه ثابت دي يا دا چي د سفر په حالت کي وتر لمونځ کول د اسلام د سنتو څخه يو سنت دی دا مفهوم به د وجوب وتر خلاف نه وي ځکه چي وتر لمونځ څرنګه چي په حضر کي واجب دی همداسي په سفر کي هم واجب دی .

د قصر اندازه

﴿۱۲۷۳﴾: وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ كَانَ يَقْصُرُ فِي الصَّلَاةِ فِيْ مِثْلِ مَا

د حضرت مالک رحمه الله څخه روايت دی چي هغه ته دا څرګنده سوې ده چي ابن عباس رضي الله عنه په اندازه د هغه مسافت چي

يَكُوْنُ بَيْنَ مَكَّةَ وَالطَّائِفِ وَفِيْ مِثْلِ مَا يَكُوْنُ بَيْنَ مَكَّةَ وَعُسْفَانَ وَفِيْ مِثْلِ مَا

د مکې او طائف په منځ کي دی په سفر کي قصر کولو او همداسي په اندازه د دې مسافت په سفر کي چي مکه او عسفان

بَيْنَ مَكَّةَ وَجَدَّةَ قَالَ مَالِكٌ وَذٰلِكَ أَرْبَعَةُ بُرُدٍ . رواه في الموطأ .

او د مکې او جدې په منځ کي دی . مالک وايي دا مسافت (۳۶) کوس برابر دی . مؤطا .

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۱۴۸، رقم: ۱۵.

تشريح : څلور بريده د شپاړس فرسخو برابر دی يو فرسخ درې ميله دی او يو ميل د محدثينو په نزد د څلور زره لاسه مسافت ته وايي همداسي څلور بريده اته څلوېښت ميله فاصله سوه که يو منزل دوولس ميله مسافت ومنل سي نو څلور بريده څلور منزلونه سوه .

په ښکاره د دې حديث څخه دا معلوميږي چي په حديث کي د کومو درو مسافتو ذکر سوی دی هغه يو ډول دي يعني څومره مسافت چي د مکې او طايف په مينځ کي وي هغومره مسافت د مکې او عسفان په مينځ کي وي همداسي څومره مسافت چي د دې دواړو ښارونو وي هغومره مسافت د مکې او جدې په مينځ کي وي حال دا چي په حقيقت کي دا درې سره مسافت برابر نه دي که دا وويل سي نو زيات مناسب به وي چي د امام مالک رحمة الله عليه د قول اخري مسافت يعني د مکې او جدې په مينځ کي مسافت دی چي د مکې او جدې منځنی فاصله څلور

بریده ده .

د ابن عباس رضی الله عنه د پورتني فعل په باره کي علماء لیکي چي په قرآن او حدیث کي د قصر د مسافت یو حد نه دی بیان سوي مګر مطلقا سفر ذکر سوی دی د قصر لمانځه په اړه پر احادیث باندي په نظر اچولو سره دا خبره ښکاره کیږي چي چیري هم د قصر د لمانځه ذکر سوی دی او د رسول الله ﷺ قصر لمونځ کول بیان سوی دی د هغه ټولو ځایونو په مسافت کي فرق دی د ځینو مسافت کم دی او د ځینو مسافت زیات دی، د رسول الله ﷺ وروسته صحابه رضي الله تعالی عنهم، تابعین رحمة الله علیهم، امامان او د علماؤ امت د اساني لپاره د خپل خپل اجتهاد په ذریعه او د غور او فکر سره د قصر مسافت حد ټاکلی دی چي د دې حد څخه په کم مسافت کي قصر نه کیږي بلکه پوره لمونځ به کوي او د دې مسافت یا تر دې زیات مسافت په صورت کي قصر واجب کیږي .

امام شافعي رحمة الله علیه د یوه روایت مطابق د یوې ورځي مسافت او د دوهم روایت مطابق د دوو ورځو مسافت مقرر کړی دی مګر د هغوی د مذهب کتاب حاوي کي د شپاړسو فرسه تعین سوی دی او دا مذهب د امام مالک رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه دی، امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه د قصر د مسافت په اړه دریې منزله حد ټاکلی دی او یو منزل پر دومره مسافت باندي وي چي په کوچنیو ورځو کي قافله د سهار په روانېدو سره د غرمې وروسته منزل ته ورسیږي، امام ابو یوسف رحمة الله علیه د دوو ورځو او د دریمي ورځي د زیاتي برخي مسافت د قصر مسافت ګرځولی دی .

اصحاب ظوهار هغه جماعت چي یوازي د حدیث پر ښکاره الفاظو باندي عمل کوي د مطلقا سفر اعتبار کړی دی یعني د هغوی په نزد د قصر د مسافت څه حد مقرر نه دی که سفر اوږد وي که کوچنی په هر حالت کي قصر لمونځ ادا کیږي په دې اړه د څلور کوچني امامانو مذهب ته که وکتل سي نو معلومیږي چي د حقیقت او نتیجې په اعتبار د ټولو یو ډول مذهب دی ځکه چي د حنفیه په نزد د مشهور مذهب مطابق قصر اته څلوېښت میله دی ، دحاوي د قول مطابق د شوافعو حضراتو په نزد شپاړلس فرسخه مقرر دي، او د شپاړسو فرسخو اعتبار د اته څلوېښتو میلو برابر دی همداسي د امام مالک رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه هم دا مذهب دی نو د څلورو سره په مذهب کي د قصر مسافت اته څلوېښت میله سو . والله اعلم

په سفر کي د لمانځه بيان

﴿۱۲۷۴﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ صَحِبْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَفَرًا فَمَا رَأَيْتُهُ تَرَكَ رَكْعَتَيْنِ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ . رواه أبو داود والترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه اتلس ورځي د رسول الله ﷺ سره په سفر کي ملګری وم ما نه دي ليدلي چي د زوال کېدو سره د ماپښين مخکي رسول الله ﷺ دوه رکعته ترک (پرې ايښي) کړي وي . ابوداؤد .ترمذي .ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی .

تخريج: سنن ابي داد: ۱\ ۱۹۱، رقم: ۱۲۲۲، والترمذي ۲\ ۴۳۵، رقم: ۵۵۰.

تشريح: په ښکاره خو دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ د لمر لوېدو وروسته او د ماخستن د لمانځه څخه مخکي دوه رکعته د فرض مخکي سنت کول او د سفر په وجه به ېې پر څلورو رکعتو باندي اکتفاء کړې وي يا دا هم کېدای سي چي دا دواړه رکعتونه د تحية الوضوء دي.

﴿۱۲۷۵﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنِ عُمَرَ كَانَ يَرَى ابْنَهُ عُبَيْدَ اللهِ يَتَنَفَّلُ فِي السَّفَرِ فَلَا يُنْكِرُ عَلَيْهِ . رواه مالك .

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي عبدالله بن عمر رضي الله عنه به خپل زوی په سفر کي پر نفلو کولو ليدلی او هغه به يې نه منعه کوی . مالک

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۱۵۰، رقم: ۲۴.

تشريح: کېدای سي چي عبيدالله سنت موکده کول يا دا چي هغه د دې اعتقاد سربېر چي د سفر په حالت کي نفل لمونځ پرېښودل جائز دی که په وخت کي ېې وسعت وليدلی نو نور نوافل به ېې کول نو د دې مفهوم په صورت کي د ابن عمر رضي الله عنه په باره کي هغه روايت چي په هغه کي ذکر دي چي هغه د خپل قافلې خلک د سفر په حالت کي د نفل لمونځ کولو څخه منعه کړې وه، شپېتم نمبر حديث وګوره پر دغه خبره به محمول کړل سي، چي هلته هغه خلک ځکه منعه کړي وه چي هغوی به نور نوافل په تنګ وخت کي کول يا دا چي په وخت کي خو وسعت وو مګر هغوی به دا ګمان کړی وي چي وظائف مثلا نوافل وغيره دومره لازم دي چي هغه د سفر په حالت

کي هم پرې نه ښودل سي حال دا چې داسي څه حکم نسته ځکه ابن عمر رضي الله عنه هغوی نفل لمونځ کولو سره هغوی د دې ګمان او خیال تردید وکړ ځکه چې الله تعالی خو په خپل فضل او کرم سره د مسافر بنده په اعمال نامه کي د هغه عمل ثواب هم لیکي چې هغه به د عبادت په توګه د حضر یعني په خپل کور کي کوی او کوم چې د نفل لمانځه تعلق دی د دې څخه بهتر کوم مصروفیت کېدای سي او ببله څه وجهي ددې د کولو څخه ېې څوک منعه کولای سي کله چې ابن عمر رضي الله عنه خپله پوهېدی چې د لمانځه څخه منعه کول ښه خبره نه ده ، د الله تعالی ارشاد دی :

اَرَاَيْتَ الَّذِيْ يَنْهٰى عَبْدًا اِذَا صَلّٰى

ایا تا هغه (سړی) لیدلی دی چې منعه کوي یو بنده چې کله هغه لمونځ کوی.

========

بَابُ الْجُمُعَةِ

د جمعې د لمانځه بیان

لفظ د (جمعه) چې د اونۍ د یوې ورځې نوم دی د فصیح ژبې او د لغت په اعتبار د جیم او میم دواړو په پېښ سره دی مګر د جیم پېښ او د میم په سکون سره هم مستعمل سوی دی.

دې ورځې ته جمعه ځکه ویل سوې ده چې په دغه ورځ د حضرت ادم علیه السلام تخلیق، جمع سوی او پوره سوی وو، ځینې حضرات وایي دې ورځې ته د جمعې د نامه ورکولو وجه داده چې حضرت ادم علیه السلام د جنت څخه دنیا ته راواستول سو نو په دغه ورځ هغه د بې بې حوا سره یو ځای سو د دې څخه پرته علماؤ نوري وجهي هم بیان کړي دي د ځینو حضراتو قول دی چې په دغه ورځ ټول خلک د الله تعالی د عبادت او لمانځه لپاره را ټولیږي ځکه نو دغه ورځې ته جمعه وایي.

جمعه اسلامي نوم دی د جاهلیت په زمانه کي به دې ورځې ته عروبه ویل کېده مګر د ځینو علماؤ تحقیق دادی چې عروبه ډېر قدیم نوم وو خو د جاهلیت په زمانه کي دا نوم بدل کړل سو او دې ورځې ته جمعه ویل پیل سول.

د جمعې ورځ به د رسول الله ﷺ د پېغمبرۍ څخه مخکې د جاهلیت په زمانه کي هم د یو خاص شرف او فضیلت ورځ منل کېدل مګر اسلام دا ورځ د دې حقیقي عظمت او فضیلت له کبله ډېره باعظمته او بزرګۍ ورځې په حیث وګرځول.

په تېرو صفحو کې دا خبره بیان سوې ده چې الله تعالی ته د لمانځه ځخه زیات بل هیڅ عبادت هم نه دی خوښ دا وجه ده چې پر بندګانو باندې د الله تعالی له خوا چې د کومو نعمتونو باران کیږي او د هغه تعلق د انسان د پیدائش ځخه تر مرګ پورې دی مګر د پیدائش مخکې او د مرګ وروسته هم انسان د الله تعالی د نعمتونو سره نازول کیږي د هغه شکر د اداء کولو لپاره په هره ورځ کې پنځه وخته لمونځ وټاکل سو او د جمعې په ورځ تر ټولو ورځو زیات نعمتونه پر بندګانو نازلیږي ځکه په دې ورځ د یو خاص لمانځه کولو حکم ورکړل سوی دی او دا هم ښکاره کړل سوې ده چې په جماعت کې ځومره زیات کثرت وي او مسلمانان په ځومره زیات شمېر کې د لمانځه لپاره را جمع کیږي هغومره د هغه فائدې زیاتې وي او دا هغه وخت ممکن ده کله چې د سیمو مسلمانان او د هغه ځایو اکثر خلک په یو ځای کې په راجمع کېدو سره لمونځ وکړي هره ورځ پنځه وخته دومره اجتماع د خلکو د پرېشانۍ او تکلیف له کبله ممکن نه وه ځکه شریعت په اونۍ کې یوه ورځ داسې وټاکل چې په هغه کې د ټولو سیمو او کلیو مسلمانان په خپلو کې را یوځای سي او دا عبادت وکړي او د جمعې ورځ په ټولو ورځو کې افضله او اشرفه ده نو دا تخصیص د دې ورځې لپاره وسو.

مخکې امتونو ته هم الله تعالی د دې ورځې د عبادت حکم ورکړی وو خو هغوی د خپل سرکښۍ او بد نصیبۍ په وجه اختلاف وکړ نو د هغوی د سرکښۍ نتیجه دا سوه چې هغوی د دغه عظیم نعمت ځخه محروم پاته سوه او دا فضیلت او سعادت هم د دې امت په محرومه برخه کې راغلی، یهودیانو د شنبې ورځ وټاکل په دې خیال چې په دغه ورځ الله تعالی د ټولو مخلوقاتو د پیدا کولو ځخه فارغ سوی وو، عیسائیانو د یکشنبې ورځ وټاکل په دې خیال چې دا ورځ د پیدا کولو د شروع ورځ ده تر اوسه پورې دا دواړې ډلې په دغه ورځو کې د عبادت ډېره پابندي کوي خپل ټول کاروبار په پرېښودو سره په دغه ورځ کلیسا او عبادت خانو ته خامخا ځي، په عیسایي حکومتونو کې د یکشنبې په ورځ په دې سبب ټول دفترونه او تعلیمي ښوونځي رخصت وي، د ځینو په نامه مسلمانو حکومتونو دا بدنصیبي ده چې هغوی هم د عیسایي حکومتونو دا مذهبي طرز عمل بدل نه کړای سو او په خپلو هیوادونو کې یې د جمعې پر ځای د یکشنبې ورځ اختیار کړه.

د جمعې لمونځ فرض عین دی، د قرآن کریم، حدیثونو او اجماع امت ځخه ثابته ده او د اسلام د سترو شعارو ځخه دی د جمعې د لمانځه انکار کونکی کافر او بېله عذره پرېښودونکی فاسق دی د جمعې د لمانځه په اړه د الله تعالی ارشاد دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ

ژباړه : اې مؤمنانو ! کله چې د جمعې د لمانځه لپاره اذان وسي نو تاسو د الله تعالی ذکر ته راځغلئ او رانیول پلورل پریږدئ دا ستاسو لپاره غوره ده که تاسو پوهیږئ .

په دغه آیت کریمه کې د الله تعالی د ذکر څخه مراد د جمعې لمونځ او خطبه ده، د اوربدلو څخه مراد د دغه لمانځه لپاره په ډېره پابندي سره تلل دي، د جمعې د لمانځه فرضیت رسول الله ﷺ ته په مکه شریفه کې معلوم سو مګر د کفر د غلبې په وجه د هغه د اداء کولو موقع ترلاسه نه سوه د هجرت وروسته په مدینه منوره کې په تشریف راوړلو سره رسول الله ﷺ د جمعې مبارکې لمونځ پیل کړ .

په مدینه منوره کې د رسول الله ﷺ د تشریف راوړلو مخکې حضرت اسعد ابن زراره رضی اللہ عنہ په خپل اجتهاد او کشف صادق سره د جمعې مبارکې لمونځ شروع کړی وو . (علم الفقه)

د جمعې مبارکې د لمانځه په باره کې څو خبرې وړاندې سوې دي په راروانو بابونو کې به په مناسبه موقع د جمعې د لمانځه د احکامو او مسائلو او د هغه د فضایلو بیان وکړل سي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د جمعې د فضیلت څخه مخ اړول

﴿۱۲۷۶﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ

د حضرت ابوهریرة رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : موږ

الْآخِرُوْنَ السَّابِقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بَيْدَ اَنَّهُمْ اُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا وَاُوْتِيْنَاهُ

په دنیا کې آخر راتلونکي یو او موږ به په قیامت کې مخته کیدونکي یو که څه هم اهل کتاب ته زموږ تر مخه کتاب ورکړل سوی دی او موږ ته

مِنْ بَعْدِهِمْ ثُمَّ هٰذَا الْيَوْمُ الَّذِيْ فُرِضَ عَلَيْهِمْ يَعْنِي الْجُمُعَةَ فَاخْتَلَفُوْا فِيْهِ

وروسته راکړل سوی دی بیا دا ورځ (د جمعې ورځ) هغه ورځ وه چې په هغوی (اهل کتابو.) باندې فرض سوې وه هغوی په دې کې اختلاف وکړ

فَهَدَانَا اللّٰهُ لَهُ فَالنَّاسُ لَنَا فِيهِ تَبَعٌ الْيَهُودُ غَدًا وَالنَّصَارٰى بَعْدَ غَدٍ. وَ فِيْ

او موږ ته په دې اړه الله ﷻ لار ښوونه وکړه اوس نور خلک د جمعې په اړه زموږ تابع دي يهود و د جمعې وروسته ورځ (يعني شنبه) غوره کړل او نصارا وو د شنبې وروسته ورځ (يکشنبه) غوره کړل. بخاري او مسلم،

رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ نَحْنُ الْاٰخِرُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَ نَحْنُ اَوَّلُ مَنْ

د مسلم په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: موږ دنيا ته د راتلو په اعتبار آخري يو او په قيامت کې به اول يو

يَّدْخُلُ الْجَنَّةَ بَيْدَ اَنَّهُمْ وَ ذَكَرَهُ نَحْوَهُ اِلٰى آخِرِهِ وَ فِيْ اُخْرٰى لَهُ عَنْهُ وَ عَنْ

او په جنت کې به هم تر ټولو اول موږ داخليږو، بيا اهل کتاب. ددې وروسته مخکني الفاظ دي، په يوه روايت کې ابو هريرة

حُذَيْفَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ اٰخِرِ الْحَدِيْثِ نَحْنُ الْاٰخِرُوْنَ

او حذيفة څخه نقل دي چې هغوی وويل: رسول الله ﷺ وفرمايل: (د ذکر سوي حديث په پای کې) موږ د دينا والا وو په اعتبار اخري يو

مِنْ اَهْلِ الدُّنْيَا وَالْاَوَّلُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمَقْضِيُّ لَهُمْ قَبْلَ الْخَلَائِقِ.

او د قيامت په ورځ به اول يو د ټولو مخلوقاتو څخه لومړی به زموږ لپاره حکم وسي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۳۵۴، رقم: ۸۷۶، ومسلم ۲\ ۵۸۵، رقم: ۱۹- ۸۵۵.

تشريح: د حديث الفاظ (موږ ته وروسته کتاب راکړل سوی دی) د دې مطلب دادی چې که څه هم پر ټېرو امتونو د الله تعالى کتاب مخکې نازل سوی دی او بيا تر ټولو وروسته زموږ امت په قرآن کريم سره نازول سوی دی خو په حقيقت کې دا شيان زموږ د امت لپاره د ټولو امتونو په مقابله کې د شرف او فضيلت دليل دی ځکه چې اصولي خبره ده چې کوم کتاب وروسته راځي هغه مخکې کتاب منسوخ کوي او ښکاره ده چې کوم کتاب مخکې کتاب منسوخ کړي هغه د خپل عظمت او فضيلت په اعتبار پر ټولو کتابونو حاوي وي د دې څخه معلومه سوه چې د رسول الله ﷺ قول (نحن الآخرون) هم د امت محمدي د فضيلت او عظمت د بيان لپاره دی.

د (فاختلفوا فیه) په وضاحت او تشریح کي د حدیث د شارحینو اختلاف دی چي د الله تعالی له خوا پر یهودو او نصاری باندي د جمعې ورځ د فرض کولو څخه څه مراد دی او دا چي اهل کتابو په دې کي څه اختلاف وکړ.

ځینو علماؤ لیکلي دي چي ددې څخه مراد دادی چي الله تعالی څرنګه پر مسلمانانو باندي جمعه فرض کړې ده بعینه همداسي پر اهل کتابو باندي هم د جمعې د ورځي عبادت کول فرض کړي وو او هغوی ته ېې دا حکم ورکړی وو چي هغوی دي د الله تعالی د عبادت لپاره په خپلو کي جمع کیږي څرنګه چي د حدیث د الفاظو څخه مفهوم کیږي خو هغوی د خپل عادت مطابق په دې معامله کي د الله تعالی د حکم څخه مخ واړوی او خپله سرکښي ېې څرګنده کړه ګویا همداسي د الله تعالی له خوا دا د اهل کتاب د اجتهاد او فکر او امتحان چي ایا هغوی ته حق او صحیح خبره د دریافت کولو او په هغه د خبرېدو صلاحیت لري که نه، مګر یهودیانو د شنبې ورځ وټاکل او وه یې ویل چي دا ورځ د اللهﷻ په عبادت کي په اجتماعیت سره د مصروف کېدو ورځ ده او د دې ورځي تر ټولو زیات فضیلت دی ځکه چي په دې ورځ الله تعالی د ټولو مخلوقاتو د پیدا کولو څخه فارغ سوی وو نو موږ ته هم پکار ده چي موږ په دغه ورځ د دنیا د کاروبار څخه د فراغت حاصلولو لپاره په عبادت کي مصروف سو.

نصاری د یکشنبې ورځ وټاکل هغوی دا ورځ په دې توګه تر ټولو ورځو زیاته افضله او بابرکته وګڼل چي په دې ورځ د مخلوقاتو د پیدائش ابتداء سوې ده دوی فکر وکړ چي دا ورځ د کمالاتو او انعاماتو مبداء ده چي په دې کي حق تعالی پر خپل مخلوق باندي خپل فیض او په خپلو نعمتونو سره متوجه سو نو د دې مقصد لپاره چي د الله تعالی عبادت او بندګي ډېره زیاته وکړل سي او بندګانو ته د دنیا د مصروفیاتو څخه په مخ اړولو سره د خپل پیدا کونکی او خپل پالونکي په بندګي کي اخته سي دا ورځ تر ټولو زیاته مناسب او غوره وګڼل مګر یهود او نصاری دواړه په خپل اجتهاد اورایه کي ناکامه سول د دوی په طبیعت او مزاج کي د سرکښۍ ماده زیاته وه د سعادت او خیر د نور څخه د هغوی زړونه په پوره توګه مستفید نه وه ځکه د دوی اصل مقصود او اصل روح چي د الله تعالی په علم کي وو و نه پېژندل سو مګر د خپلو دلیلونو په مرسته اخیستو سره نوري ورځي ېې وټاکلې.

د دې پر خلاف الله تعالی امت محمدیه په هدایت سره ونازوی او په خپل فضل او کرم سره ېې د اصلي ورځي یعني د جمعې د معروفیت توفیق ېې موږ ته راکړ، کله چي الله تعالی د دغه آیت :یا ایها الذین آمنوا اذا نودي للصلواة من یوم الجمعة فاسعوا الی ذکر الله) په ذریعه

مسلمانانو ته حکم ورکړ چې په جمعه کې د الله تعالی عبادت کوئ نو په دې سره هغوی ته ښې د دې حکم پر ځای راوړلو توفیق هم ورکړ او دا امت ښې په دې مرحله هم د سرکښۍ او خود ساخته دلیلونو په ذریعه ګمراه نه کړ نو مسلمانانو د الله تعالی د دغه حکم منلو لپاره غاړه کښېښودل او د ربښتوني او فرمانبردار امت په کېدو سره د جمعې ورځ یې د الله تعالی د عبادت او بندګي لپاره اختیار کړل.

خلک زموږ تابع دي د دې مطلب دادی چې د جمعې ورځ د حضرت ادم علیه السلام د پیدا کېدو په وجه د انساني نسل لپاره مبداء او د انساني ژوند د ټولو اوله ورځ ده ځکه په دې ورځ عبادت کونکی د عبادت په اعتبار متبوع او د دې وروسته دوې ورځې یعني شنبه او یکشنبه د عبادت کونکو تابع سول.

په دې وجه حدیث پر دې دلالت کوي چې شرعا او اصولا د جمعې ورځ د اونۍ اوله ورځ ده مګر تعجب دی چې عرف عام د دې پر خلاف دی.

د جمعې فضیلت

﴿۱۲۷۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ يَوْمٍ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تر ټولو غوره ورځ

طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيْهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيْهِ

د هغه ورځو څخه چې لمر پکښې راخیژي جمعه ده، په دې ورځ حضرت آدم علیه السلام پیدا سوی دی او په دې ورځ جنت ته داخل سوی دی او په دې ورځ

أُخْرِجَ مِنْهَا وَلَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ إِلَّا فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ. رواه مسلم

د جنت څخه را ایستل سوی دی او قیامت به هم د جمعې په ورځ وي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۵۸۵، رقم: ۱۷- ۸۵۴.

تشریح: د حدیث د اولي جملې په ذریعه د مبالغې په توګه د جمعې د ورځې د فضیلت ښکاره کول مقصود دي د دې مطلب دادی چې په ټولو ورځو کې تر ټولو افضله ورځ جمعه ده ځکه چې داسي هیڅ ورځ نسته چې په هغه کې لمر نه راخیژي د حضرت ادم علیه السلام د پیدائښ ورځ د کېدو په وجه د جمعې د ورځې فضیلت ښکاره دی. مګر جنت ته د تلو په وجه د جمعې فضیلت

ځکه دی چې په اصل کې حضرت ادم علیه السلام د جنت څخه په وتلو سره مځکې ته راتلل د انبیاؤ او اولیاؤ د پیدائښ سبب او هغوی د مقدس ژوند څخه د بې حسابه حسنات د ظهور باعث سوه همداسې د حضرت ادم علیه السلام مرګ د الله تعالی په دربار کې د هغوی د حاضرۍ باعث سو همداسې قیامت قائمېدل په جنت کې د داخلېدو سبب دی چې په هغه کې به پرهېزګار او د نیکانو لپاره د الله تعالی کړې وعدې څرګنده کیږي.

د قیامت قائمېدو څخه مراد یا خو اوله شپېلۍ وهل دي چې د هغه په اواز سره به مځکه او اسمان فناء سي او ټوله دنیا به د مرګ غیږ ته ورسیږي یا دوهمه شپېلۍ مراد اخستل کیږي چې د ټول مخلوق دوهم وار ژوندي کېدل او د هغوی د احکم الحاکمین په دربار کې د حساب کتاب لپاره یو ځای کېدل مراد دي.

علامه طیبي رحمة الله علیه فرمایي چې ځینې حضرات وایي په ټولو ورځو کې د عرفات ورځ افضله ده او د ځینو وینا ده چې د جمعې ورځ افضله ده ځرنګه چې د حدیث د مفهوم څخه ښکاره کیږي مګر دا اختلاف او تضاد په هغه صورت کې دی کله چې مطلقا دا وویل سي چې په ورځو کې افضله ورځ د عرفات ورځ ده یا داسې ویل کېدای سي چې د جمعې ورځ تر ټولو افضله ورځ ده او که د دواړو اقوالو مفهوم داسې واخستل سي چې کوم حضرات د عرفات د فضیلت قائل دی د هغوی مراد دا دی چې په کال کې تر ټولو افضله ورځ عرفه ده او کوم حضرات چې وایي جمعه تر ټولو افضله ورځ ده د هغوی مراد دادی چې د اونۍ په ورځو کې تر ټولو افضله ورځ جمعه ده.

همداسې نه یوازې دا چې په دواړو اقوالو کې د تطبیق او تاویل ضرورت نه پاته کیږي بلکه دواړه اقوال پر خپل خپل ځای صحیح او د اعتبار وړ دي هو که چیرې په حسن اتفاق سره عرفه یعني د ذي الحجې نهم تاریخ د جمعې په ورځ سي نو نور علی نور چې دا ورځ به مطلقا په ټولو ورځو کې تر ټولو زیاته افضله وي او په دې ورځ نېک عمل به په ټولو اعمالو کې افضل وي دا وجه ده که په خوشبختۍ سره حج (د عرفات ورځ) د جمعې په ورځ واقع سي نو هغه ته حج اکبر وایي ځکه چې کوم حج د جمعې په ورځ وي هغه د فضیلت او مرتبې په اعتبار علاوه په نورو ورځو کې پرادا کېدونکو او یا پر حجونو باندې دروند وي.

د جمعې د فضیلت او عظمت اندازه د ابن مسیب رحمة الله علیه د دغه قول څخه معلومیږي چې د الله تعالی په نزد جمعه د نفل حج څخه زیاته محبوبه ده.

په جامع صغیر کې ابن عباس رضی الله عنه دا روایت مرفوعا نقل کړی چې جمعه د مسکینانو حج دی.

په جمعه کي د قبلېدو ساعت

﴿۱۲۷۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْجُمُعَةِ لَسَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ فِيْهَا خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ.

د جمعې په ورځ کي يو داسي ساعت دی که په هغه کي يو مسلمان د نيکۍ دعاء وغواړي نو الله جل جلاله به هغه ورکړي. بخاري او مسلم،

وَزَادَ مُسْلِمٌ وَهِيَ سَاعَةٌ خَفِيْفَةٌ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهُمَا قَالَ إِنَّ فِيْ الْجُمُعَةِ لَسَاعَةٌ

د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چي هغه ساعت ډير لږ دی ، او د بخاري او مسلم په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي د جمعې په ورځ کي يو ساعت دی

لَّا يُوَافِقُهَا مُسْلِمٌ قَائِمٌ يُّصَلِّيْ يَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ.

که مسلمان هغه تر لاسه کړي او دلمانځه کولو وروسته په هغه کي د الله څخه د خير دعاء وغواړي نو خير ورکول کيږي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۴۱۵، رقم: ۹۲۵ ومسلم ۲\ ۵۸۴، رقم: ۱۵- ۸۵۲.

تشريح : د جمعې په ورځ يو خاص ساعت دی چي په هغه کي د بنده له خوا پروردګار ته هر پېښېدونکی خواست قبليږي خو هغه ساعت معين او ښکاره نه دی بلکه پټ دی دا نه دي ښودل سوي چي هغه ساعت کله راځي او د هغه د پټ ساتلو حکمت دا دی چي خلک د هغه ساعت په اميد کي پوره ورځ په عبادت او دعا تيره کړي.

علامه جزري رحمة الله عليه فرمايي چي د قبوليت کوم ساعات چي نقل دي په هغه ټولو کي د جمعې د ورځي ساعت په قبوليت کي د دعا قبلېدو اميد ډېر زيات دی.

د (اعطاء اياه) مطلب يا خو دا دی چي بنده په هغه مقبول حالت کي دعاء کوي نو الله تعالی د هغه دعا سمدستي قبلوي په دې توګه چي د هغه مقصد په دنيا کي پوره کوي يا د دعا د قبوليت دا صورت وي چي حق تعالی د يو حکمت او د بنده د بهتري لپاره په دنيا کي خو د هغه د دعا څخه اجر نه ښکاره کوي مګر د هغه لپاره د اخرت ذخيره کوي او هلته به د هغه ثواب

ورکول کیږي .د (قائم یصلی) معنی داده چي لمونځ په پابندي سره کوي یا دا معنی چي پر دعا باندي همېشتوب کوي یا دا معنی ده چي د لمانځه انتظار کوي دا تاویلات ځکه سوي دي چي په ټولو روایتونو کي مطابقت راسي.

د قبلېدو ساعت کوم وي

﴿۱۲۷۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ بُرْدَةَ بْنِ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ سَمِعْتُ أَبِيْ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ

حضرت ابوبردة بن ابوموسی وایي چي ما د خپل پلار ځخه اوریدلي دي چي (هغه وایي) ما د رسول الله ﷺ ځخه اوریدلي دي

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ شَأْنِ سَاعَةِ الْجُمُعَةِ هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَّجْلِسَ

چي د جمعې د ساعت په اړه یې فرمایل چي پر منبر د امام د ناستي ځخه

الْإِمَامُ إِلٰى أَنْ تُقْضَى الصَّلَاةُ . رواه مسلم .

د لمانځه تر پایه پوري چي کوم وخت دی په هغه کي دا ساعت دی. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۱۲ ۵۸۴، رقم: ۱۶- ۸۵۳.

تشریح: د جمعې په ورځ د دعا د قبولیت ساعت نقل دی او د هغه په حقیقت کي هیڅ چا ته شک او شبهه نسته مګر د علماؤ په نزد په دې خبري کي اختلاف دی چي هغه ساعت کوم یو دی یعني هغه ساعت کوم وخت دی چي په هغه کي د قبولیت ساعت راځي د ځینې علماؤ تحقیق خو دادی چي د شب قدر ساعت د قبولیت او د اسم اعظم په ډول د جمعې د ورځي د قبولیت ساعت هم مبهم یعني غیر معلوم دی د ځینې حضراتو رایه داده چي هغه ساعت په هره جمعه کي بدلیږي کله د جمعې د ورځي په لومړنۍ برخه کي راځي، کله د جمعې په درمیاني برخه کي او کله په اخري برخه کي وي، مګر د اکثرو علماؤ وینا داده چي هغه ساعت متعین او معلوم دی مګر په دې کي هم اختلاف دی چي کوم ساعت دی او هغه کوم وخت دی چي په هغه کي دا عظیم او مقدس ساعت پټ دی په دې باره کي پنځه درښ اقوال نقل دی:

۱. د جمعې په ورځ د سهار د لمانځه لپاره د مؤذن د اذان کولو وخت.
۲. د لمر ختلو ځخه تر لمر لوېدو پوري وخت.
۳. د مازدیګر ځخه تر لمر لوېدو پوري وخت.

۴. د خطبې وروسته د امام د منبر څخه د راکښته کېدو سمدستي وروسته ساعت.
۵. د لمر راختلو څخه سمدستي وروسته ساعت.
٦. د لمر ختلو وخت.
۷. یوه لحظه د پاته ورځې آخري ساعت.
۸. د زوال شروع کېدو څخه تر نیم لاس سایې راتلو پوري وخت.
۹. د زوال شروع کېدو څخه تر یوه لاس سایې راتلو پوري وخت.
۱۰. یوه لوښت د لمر زوال کېدو وروسته یو لاس د لمر د زوال کېدو پوري وخت.
۱۱. عین د زوال پر وخت.
۱۲. د جمعې د لمانځه لپاره چې موذن اذان وکړي هغه وخت.
۱۳. د زوال شروع کېدو څخه د جمعې په لمانځه کې د شاملېدو وخت.
۱۴. د زوال په شروع کېدو سره د امام د جمعې د لمانځه څخه تر فارغه کېدو پوري.
۱۵. د لمر د زوال څخه تر لمر لوېدو پوري وخت.
۱٦. د خبطې لپاره د امام پر منبر باندې ختلو څخه د جمعې د لمانځه تر شروع کېدو پوري وخت.
۱۷. د امام د جمعې د لمانځه څخه تر فارغه کېدو پوري وخت.
۱۸. د خطبې لپاره د امام پر منبر باندې ختلو او د لمانځه د اداء کولو په مینځ کې.
۱۹. د اذان څخه تر لمانځه ادا کولو پوري درمیاني وخت.
۲۰. د امام پر منبر باندې په ناسته سره د لمونځ تر پوره کولو پوري وخت.
۲۱. د رانیولو او خرڅولو حرام کېدو او د هغه د حلال کېدو درمیاني وخت یعني د اذان د وخت څخه د جمعې د لمانځه تر ختمېدو پوري وخت.
۲۲. اذان ته نژدې وخت.
۲۳. د امام خطبه شروع کولو او د خطبې تر ختمېدو پوري وخت.
۲۴. د خطبې لپاره د امام پر منبر باندې د ختلو او د خطبې د شروع کېدو درمیاني وخت.
۲۵. د دواړو خطبو په مینځ کې د امام د ناستې وخت.
۲٦. د خطبې څخه د فراغت وروسته د امام د منبر څخه د را کښته کېد وخت.
۲۷. د لمانځه لپاره تکبیر د شروع کېدو څخه د امام پر مصلی باندې تر درېدو پوري وخت.
۲۸. د تکبیر شروع کېدو څخه د لمانځه تر ختمېدو پوري وخت.
۲۹. د جمعې د لمانځه څخه د فراغت سمدستي وروسته وخت.

۳۰. د مازديگر د لمانځه څخه تر لمر لوېدو پورې وخت.
۳۱. د مازديگر د لمانځه درمياني وخت.
۳۲. د مازديگر د لمانځه وروسته يعني د لمر کښته کېدو مخکې د لمانځه د اخري مستحب وخته پورې وخت.
۳۳. مطلقا د مازديگر وروسته وخت.
۳۴. د مازديگر د لمانځه وروسته اخري ساعت.
۳۵. هغه وخت کله چې لمر لويږي.

ويل کيږي چې حضرت علي کرم الله وجهه به بي بي فاطمې رضي الله عنها ته او ټولو اهل بيتو ته خپل خادمان ټاکل چې د هغوی د هري جمعې په ورځ د اخري ګړي خيال وساتي او هغه وخت ټولو ته ياد کړي چې هغوی په هغه ګړي کې د الله تعالی په عبادت او دعا کې مصروف سي دلته چې کوم حديثونه نقل سوي دي د دې متعلق بلقيني رحمة الله عليه څخه پوښتنه وسوه چې د خطبې په وخت دعا څرنګه غوښتل پکار ده ځکه چې دا حکم دی چې کله امام خطبه ووايي هغه وخت پټه خوله کېدل پکار دي.

ددې په جواب کې هغه وفرمايل چې د دعا لپاره تلفظ شرط نه دی مګر د خپل مقصود او مطلوب په زړه کې خيال ساتل کافي دی يعني د دعا لپاره دا ضروري نه ده چې د دعا الفاظ په ژبه سره اداء کړل سي مګر دا هم کافي ده چې په زړه کې دي دعا وغوښتل سي همدا سي مقصود به هم حاصل سي او د خطبې پر وخت د پټه خوله کېدو شرعي حکم به هم خلاف نه وي، حضرت امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ ويلي دي: دا خبره ماته معلومه سوې ده چې د جمعې په شپه هم غوښتل سوې دعاء قبليږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د جمعې فضيلت او د قبلېدو ساعت

﴿۱۲۸۰﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجْتُ إِلَى الطُّوْرِ فَلَقِيْتُ كَعْبَ الْأَحْبَارِ

د حضرت ابو هريرة رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چې زه د طور غره ته ولاړم او د کعب احبار سره مې وليدل

فَجَلَسْتُ مَعَهُ فَحَدَّثَنِيْ عَنِ التَّوْرَاةِ وَحَدَّثْتُهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

زه د هغه سره کښېنستم هغه زما په وړاندې د تورات لږ بیان وکړی او ما د رسول الله ﷺ حدیث هغه ته بیان کړل

وَسَلَّمَ فَكَانَ فِيمَا حَدَّثَتْهُ أَنْ قُلْتُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ

کوم حدیثونه چې ما بیان کړل په هغو کې یو دا هم وو چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي غوره

يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ أُهْبِطَ وَفِيهِ تِيبَ

په هغه ورځو کې چې لمر پکښې راخیژي د جمعې ورځ ده په دې ورځ کې آدم علیه السلام پیدا سوی دی په دې ورځ هغه د جنت څخه را ایستل سوی دی په دې ورځ د هغه توبه قبوله سوه

عَلَيْهِ وَفِيهِ مَاتَ وَفِيهِ تَقُومُ السَّاعَةُ وَمَا مِنْ دَابَّةٍ إِلاَّ وَهِيَ مُصِيخَةٌ يَوْمَ

په دې ورځ هغه وفات سو او په دې ورځ به قیامت وي او هیڅ یو حیوان داسې نسته چې غوږونه یې منتظر کړي نه وي

الْجُمُعَةِ مِنْ حِينَ تُصْبِحُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ شَفَقًا مِنَ السَّاعَةِ إِلاَّ الْجِنُّ

د جمعې د سهار څخه تر لمر ختلو پورې له جهته د بیرې د قیامت څخه مګر پیریانان

وَالإِنْسُ وَفِيهَا سَاعَةٌ لاَ يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللهُ شَيْئًا

او انسان د دې څخه غافل کړل سوي دي او د جمعې په ورځ کې یو ساعت دی که یو مسلمان هغه ترلاسه کړي او په هغه کې د لمانځه وروسته دعاء وغواړي

إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ . قَالَ كَعْبٌ ذٰلِكَ فِي كُلِّ سَنَةٍ يَوْمٌ . فَقُلْتُ بَلْ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ فَقَرَأَ

نو الله تعالی به یې غوښتنه پوره کړي (د دې په اوریدو سره کعب احبار وویل) دا ورځ په کال کې یوه ورځ ده ما وویل بلکه دا ساعت په هره جمعه کې وي د دې په اوریدو سره

كَعْبُ التَّوْرَاةَ فَقَالَ صَدَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ

کعب تورات ووایه او وه یې فرمایل : رسول الله ﷺ رښتیا فرمایلي دي ، ابوهریرة رضی الله عنه وایي

لَقِيتُ عَبْدَاللهِ بْنَ سَلاَمٍ فَحَدَّثْتُهُ بِمَجْلِسِي مَعَ كَعْبٍ وَمَا حَدَّثْتُهُ فِي يَوْمِ

د دې وروسته ما د عبد الله بن سلام سره ليدنه وکړه او کعب احبار سره چې کومې خبرې سوې وې

الْجُمُعَةِ فَقُلْتُ لَهُ قَالَ كَعْبٌ ذٰلِكَ فِيْ كُلِّ سَنَةٍ يَوْمٌ ؟ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنِ سَلاَمٍ

د هغې يادونه کولو سره مې ورته وويل د کعب احبار بيان دی چې دا ورځ په کال کې يوه ورځ راځي عبد الله بن سلام د دې په اوريدو سره وويل

كَذَبَ كَعْبٌ فَقُلْتُ لَهُ ثُمَّ قَرَأَ كَعْبٌ التَّوْرَاةَ . فَقَالَ بَلْ هِيَ فِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ .

کعب درواغ وايي بيا ما وويل کعب د دې وروسته تورات ووايه او وه يې ويل چې هغه ساعت په هره جمعه کې دی

فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنِ سَلاَمٍ صَدَقَ كَعْبٌ ثُمَّ قَالَ عَبْدُاللهِ بْنِ سَلاَمٍ قَدْ عَلِمْتُ

عبد الله بن سلام وويل کعب رښتا وويل ، د دې وروسته عبد الله بن سلام وويل زه د دې ساعت څخه خبر يم ،

أَيَّةَ سَاعَةٍ هِيَ . قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ لَهُ فَأَخْبِرْنِيْ بِهَا وَلاَتَضِنَّ عَلَيَّ فَقَالَ

ابوهريرة وويل ما ته يې راوښيه او بخل مه کوه ، عبدالله بن سلام وويل

عُبْدُاللهِ بْنِ سَلاَمٍ هِيَ آخِرُ سَاعَةٍ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ

هغه د جمعې د ورځې آخري ساعت دی ، ابوهريرة د دې په اوريدو سره وويل د جمعې په ورځ

وَكَيْفَ تَكُوْنُ آخِرُ سَاعَةٍ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَقَدْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

آخري ساعت څنګه کيدلای سي هر کله چې رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي چې

وَسَلَّمَ لاَ يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَقَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ سَلاَمٍ أَلَمْ

کوم مسلمان بنده چې دا ساعت تر لاسه کړي او په هغه کې لمونځ کوي او د هغه وخت چې ته يادونه کوې په هغه کې خو لمونځ نه کيږي ، عبد الله بن سلام وويل : ايا

يَقُلْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا يَنْتَظِرُ الصَّلاَةَ فَهُوَ

رسول الله ﷺ دا نه دي فرمايلي څوک چي د لمانځه په انتظار کي پر خپل ځای ناست وي هغه لکه چي په لمانځه کي دی

فِيْ صَلَاةٍ حَتّٰى يُصَلِّيَ قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ بَلٰى قَالَ فَهُوَ ذَالِكَ . رواه مالك وأبو داود والترمذي والنسائي وروى أحمد إلى قوله صدق كعب .

ترڅو چي هغه لمونځ وکړي، ابوهريرة وايي د دې په جواب کي ما وويل :هو، رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي ، دلمانځه څخه مراد دادی چي هغه د لمانځه انتظار کوي، مالک، ابوداؤد، ترمذي، نسائي، احمد يوازي د کعب تر قوله پوري بيان کړی دی .

تخريج : الامام مالک في موطاه ۱\ ۱۰۸- ۱۱۰، رقم: ۱۶. والامام احمد ۲\ ۴۸۶ وابوداؤد ۱\ ۶۳۴- ۶۳۵، رقم: ۱۰۴۶ والترمذي ۲\ ۳۶۲، رقم: ۴۹۱ والنسائي: ۳\ ۱۱۴- ۱۱۵، رقم: ۱۴۲۹.

د لغاتو حل : (مُصيخة): منتظرة لقيام الساعة. (په انتظار کي).

تشريح : د حديث الفاظ (حين تصبح حتى تطلع الشمس) مطلب دادی چي قيامت به د جمعې په ورځ د لمر ختلو څخه تر لمر لوېدو پوري په درميانې برخه کي قائميږي ځکه حيوانان د هري جمعې په ورځ په دغه وخت کي د قيامت د قائمېدو منتظر وي په دې ټول وخت کي کله چي حيوان د قيامت خيال لري او بيريږي نو انسانانو ته په طريقه اولى دا پکار ده چي هغوی د جمعې ټوله ورځ د الله تعالى په عبادت او د هغه په ذکر کي تېره کړي او هغه شی چي راتلونکی دی (يعني د قيامت څخه) وبيريږي .

دا حديث د رسول الله ﷺ د معجزې څرګندونه کوي چي د امي کېدو سربېره د هغه عظيم الشان شي خبر ېې ورکړ چي په يهودیانو کي د تورات د يو لوی عالم څخه هم پټ وو حال دا چي په تورات کي د دې خبري ذکر موجود دی ګويا د تورات عالم خو په تورات کي د ذکر سوي شي څخه بې خبره وو او رسول الله ﷺ چي امي وو په پوره توګه سره باخبر وو په حقيقت کي دا يو ستره معجزه وه چي رسول الله ﷺ په ښکاره خو امي وو مګر الله تعالى د هغه په سينه مبارکه کي د علوم معرفت بحر موجزن کړی وو .

کعب احبار په يهودو کي يو لوی عالم او دانشمند منل کېدی هغه د رسول الله ﷺ زمانه خو ترلاسه کړې وه مګر د رسول الله ﷺ په خدمت کي نه وو حاضر سوی وروسته د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي د اسلام په نعمت مشرف سو حضرت عبدالله ابن سلام رضي الله عنه هم

د هغو يهوديانو يو ډير لوی عالم وو چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې بې اسلام راوړلو سره د صحابيت په عظيم شرف باندې مشرف سوی وو .

﴿۱۲۸۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْتَمِسُوا السَّاعَةَ الَّتِي تُرْجَى فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَى غَيْبُوبَةِ الشَّمْسِ . رواه الترمذي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه ساعت و لټوئ په کوم کې چې د دعاء قبلېدو اميد دی د جمعې په ورځ د مازديګر څخه وروسته تر لمر لوېدو پورې . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۲\ ۳۶۰، رقم: ۴۸۹.

د جمعې فضيلتونه

﴿۱۲۸۲﴾: وَعَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

د حضرت اوس بن اوس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيْهِ قُبِضَ وَفِيْهِ النَّفْخَةُ

ستاسو په ورځو کې غوره ورځ د جمعې ورځ ده د جمعې په ورځ آدم عليه السلام پيدا سو د جمعې په ورځ د هغه روح قبض کړل سوه او د جمعې په ورځ به شپيلی وهل کيږي

وَفِيْهِ الصَّعْقَةُ فَأَكْثِرُوْا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيْهِ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوْضَةٌ عَلَيَّ

او د جمعې په ورځ به صعقه (د مرګ شپيلی) وي نو په دې ورځ پر ما ډير درود وايا ست ځکه چې ستاسو درود به ما ته وړاندې کيږي ،

فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ أَرِمْتَ ؟ قَالَ يَقُوْلُوْنَ

صحابه کرامو عرض وکړای دالله رسوله ! درود تاسو ته څنګه وړاندې کيږي حال دا چې ستاسو هډوکي به زاړه سوي وي ،

بَلِيْتَ قَالَ إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ . رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه والدارمي والبيهقي في الدعوات الكبير .

رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى پر مځکه د انبياؤ و بدنونه حرام کړي دي . ابوداؤد، نسائي .

تخريج : سنن ابي داؤد ۱\ ۶۳۵، رقم: ۱۰۴۷، والنسائي ۳\ ۹۱- ۹۲، رقم: ۱۳۷۳، وابن ماجه ۱\ ۵۲۴، رقم: ۱۶۳۶، والدارمي ۱\ ۴۴۵، رقم: ۱۵۷۲.

تشريح : دا ارشاد : (ان من افضل ايامكم يوم الجمعة) دې ته اشاره کوي چې يا خو د عرفه ورځ تر ټولو ورځو افضله ورځ ده يا عرفه او جمعه په فضيلت کې سره برابر دي د جمعې په ورځ د ډېر زيات درود ويلو لپاره رسول الله ﷺ ځکه حکم ورکړی وو چې درود شريف د افضلو عبادتو څخه دی او د جمعې په ورځ دي د هري نيکئ او ثواب لپاره اويا درجې زيات حاصليږي ځکه د جمعې په ورځ درود ويل اولی دي په دې خبري پوهېدل پکار دي چې د جمعې په ورځ او د جمعې په شپه کې پر رسول الله ﷺ باندي د درود ويلو وخت ډېر زيات فضائل په نورو حديثونو کې هم ثابت دي ځکه د مسلمانانو لپاره دا د حق تعالى لخوا يو عظيم الشان نعمت دی . نو د جمعې په ورځ او د جمعې په شپه پر رسول الله ﷺ ډېر زيات درود ويل پکار دی او د دې څخه غافل کېدل نه دي پکار.

د حديث د اخري الفاظو مطلب دادی چې څرنګه مځکه د نورو مړو سره معامله کوي چې د څو ورځو وروسته د هغوی بدن د مځکې نذر سي او خراب سي، مګر داسي معامله د انبياء عليهم السلام د بدنونو سره نه کيږي نه خو د هغوی جسمونه فناء کيږي نه خرابيږي مګر هغوی په قبرونو کې د دنيا په ډول ژوندي وي او د الله تعالى له خوا هغوی ته هلته حيات جسماني حقيقي ورکول کيږي دا مسئله بالکل صفا او څرګنده ده او په دې کې د هيڅ ډول اختلاف ځای نسته چې انبياء عليهم السلام په خپلو خپلو قبرونو کې ژوندي دي او د دنيا په ډول حقيقي او جسماني حيات ورته حاصل دی نه چې حيات معنوي نه علاوه نور مړي هم په خپلو قبرونو کې سلام کلام اوري او په ځينو ورځو کې د هغوی د خپلو کورنی اعمال هم د هغوی په مخکې وړاندې کيږي .

﴿۱۲۸۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْيَوْمُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : (يوم

الْمَوْعُوْدُ يَوْمُ الْقِيَامَةِ وَالْيَوْمُ الْمَشْهُوْدُ يَوْمُ عَرَفَةَ وَالشَّاهِدُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ

موعود) د قيامت ورځ ده او (يوم مشهود) د عرفات ورځ ده او شاهد د جمعې ورځ ده ،

وَمَا طَلَعَتْ الشَّمْسُ وَلاَ غَرَبَتْ عَلَى يَوْمٍ أَفْضَلَ مِنْهُ فِيهِ سَاعَةٌ لاَ يُوَافِقُهَا

لمر پر هيڅ يو داسي ورځ نه راخيژي او نه لويږي چې د جمعې تر ورځې دي غوره وي د جمعې په ورځ کې يو ساعت دی چې

عَبْدٌ مُؤْمِنٌ يَدْعُو اللَّهَ بِخَيْرٍ إِلاَّ اسْتَجَابَ اللَّهُ لَهُ وَلاَ يَسْتَعِيذُ مِنْ شَيْءٍ إِلاَّ

مؤمن بنده يې تر لاسه کړي او په هغه کې د الله ﷻ څخه دعاء و غواړي د خير نو الله تعالى هغه دعاء قبلوي او د کوم شي څخه چې پناه و غواړي

أَعَاذَهُ اللَّهُ مِنْهُ. رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث غريب لا يعرف الا من حديث موسى ابن عبيدة وهو يضعف.

الله ﷻ د هغه څخه پناه ورکوي. احمد او ترمذي، ترمذي ويلي دا حديث غريب يو ازي د موسى بن عبيد څخه پيژندل کيږي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۲۹۸- ۲۹۹، والترمذي ۵\ ۴۰۶، رقم: ۳۳۳۹.

تشريح: د سورة بروج آيت دادی:

وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ وَشَاهِدٍ وَّ مَشْهُوْدٍ

ژباړه: او (قسم دی) په هغه ورځ چې د هغه وعده ده او پر حاضر بدونکو او څه چې د هغه سره حاضر کړل سي د هغه.

د دې آيت تفسير دا حديث دلته داسي کوي چې د يوم موعود څخه مراد د قيامت ورځ ده چې الله تعالى د هغه د راتلو خبر ورکړی دی او د مومنانو سره د دې ورځو د راتلو وروسته د جنت پر نعمتونو باندې وعده کړل سوې ده. د شاهد څخه مراد د جمعې ورځ ده چې مخلوق ته حاصليږي او په هره اونۍ کې راځي. د مشهود څخه مراد د عرفات ورځ ده چې د ټول عالم مسلمانانو او د الله تعالى ملائکې په دې ورځ حاضريږي او يو ځای کيږي که څه هم امام ترمذي رحمة الله عليه ويلي دي چې د دې حديث راوي موسى ته د روايت حديث په اړه ضعيف ويل سوي دي مګر دا حديث پر خپل ځای ځکه قابل اسناد او قبول دی چې په دې اړه نور حديثونه چې د نورو روايتونو څخه روايت دي دغه حديث ته تقويت ورکوي.

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

د جمعې فضيلت

﴿۱۲۸۴﴾: عَنْ أَبِيْ لُبَابَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُنْذِرِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابولبابة بن عبدالمنذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سَيِّدُ الْأَيَّامِ وَأَعْظَمُهَا عِنْدَ اللهِ مِنْ يَوْمِ الْأَضْحٰى وَيَوْمِ الْفِطْرِ

د جمعې ورځ د الله ﷻ په نزد د ورځو سرداره او يوه ستره ورځ ده او د الله ﷻ په نزد د دې عظمت تر کوچنۍ اختر او لوی اختر تر ورځو هم زيات دی

فِيْهِ خَمْسُ خِلَالٍ خَلَقَ اللهُ فِيْهِ آدَمَ وَأَهْبَطَ اللهُ فِيْهِ آدَمَ إِلَى الْأَرْضِ وَفِيْهِ

د جمعې په ورځ پنځه (۵) خبرې دي ۱: الله تعالی په دې ورځ آدم عليه السلام پيدا کړی دی ۲: په دغه ورځ يې مځکې ته رالېږلی دی ۳: او په دې ورځ يې

تَوَفَّى اللهُ آدَمَ وَفِيْهِ سَاعَةٌ لَا يَسْأَلُ الْعَبْدُ فِيْهَا شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ مَالَمْ يَسْأَلْ

وفات کړی دی ۴: په دغه ورځ کې يو داسې ساعت دی که بنده د ديو شي د عاء وغواړي الله ﷻ هغه شي ورکوي په شرط د دې چې سوال نه وي

حَرَامًا وَفِيْهِ تَقُوْمُ السَّاعَةُ مَا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ وَلَا سَمَاءٍ وَلَا أَرْضٍ وَلَا رِيَاحٍ

د ديو حرام شي ۵: او په دې ورځ به قيامت قائميږي ځکه مقربي ملائکي، آسمان، مځکه، هواء،

وَلَا جِبَالٍ وَلَا بَحْرٍ إِلَّا وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ . رواه ابن ماجه . وَرَوٰى

غرونه او د رياب ټوله خائف (په بيره کې) وي ، ابن ماجه،

أَحْمَدُ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

احمد د سعد بن معاذ څخه روايت کوي چې يو انصاري د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو

فَقَالَ أَخْبِرْنَا عَنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مَاذَا فِيْهِ مِنَ الْخَيْرِ ؟ قَالَ فِيْهِ خَمْسُ خِلَالٍ

وَساقَ إِلَى آخِرِ الْحَدِيْثِ .

او عرض يې وکړاى دالله رسوله ! موږ د جمعې د ورځې د حال څخه خبر کړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د جمعې په ورځ کې پنځه خبري دي .(تر پايه حديث .)

تخريج : سنن ابن ماجه ۱\ ۳۴۴، رقم: ۱۰۸۴، الامام احمد في مسنده ۵\ ۲۸۴.

تشريح : د حديث الفاظ وهو اعظم عند الله يوم الاضحى و يوم الفطر څخه معلوميږي چې يا خو د عرفات ورځ د جمعې تر ورځې افضله ده يا د فضيلت په اعتبار دا دواړې ورځې برابرې دي مګر د رزين په نقل سوي روايت کې په صراحت سره فرمايل سوي دي چې په ټولو ورځو کې تر ټولو افضله ورځ د عرفات ورځ ده .

وفيه خمس او په دې ورځې کې پنځه خبري دي د جمعې د فضائلو په بيان کې تحديد او د حصر لپاره نه دي فرمايل سوي چې د هغه مطلب داوي چې د جمعې د ورځې څخه يوازې دا پنځه خبري د فضيلت او عظمت په اعتبار جمعې ته پر ټولو ورځو امتياز ورکوي مثلا نقل سوي دي چې په جنت کې به د الله تعالى د زيارت شرف هم د جمعې په ورځ حاصليږي يا همداسې نورې ډيرې خبري نقل سوي دي .

د جمعې نوم ولې جمعه ده

﴿۱۲۸۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قِيْلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَيِّ شَيْءٍ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چې

سُمِّيَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ ؟ قَالَ لِأَنَّ فِيْهَا طُبِعَتْ طِيْنَةُ أَبِيْكَ آدَمَ وَفِيْهَا الصَّعْقَةُ

د جمعې د ورځې نوم ولې جمعه ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: په دې ورځ ستاسو د پلار آدم عليه السلام خاوره يو ځاى کړل سوې او خمير کړل سوې ده او په دې ورځ به صعقه وي (يعني شپيلى به پوه کړل سي د مرګ)

وَالْبَعْثَةُ وَفِيْهَا الْبَطْشَةُ وَفِيْ آخِرِ ثَلَاثِ سَاعَاتٍ مِّنْهَا سَاعَةٌ مَنْ دَعَا اللهَ فِيْهَا اسْتُجِيْبَ لَهُ . رواه أحمد .

او په دې ورځ به ټول مخلوق راژوندي کړل سي او په دې ورځ به قيامت وي او د دې ورځو په

آخري دري ساعتونو کي يو داسي ساعت دی چي په هغه کي کومه دعاء وسي هغه قبليږي. احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۳۱۱.

د لغاتو حل: (طُبِعَت): اي ځُمرت وجُمعت.

تشريح: علامه يحيى رحمة الله عليه فرمايي چي د رسول الله ﷺ د جواب حاصل دادی چي د دې ورځي نوم جمعه مبارکه ځکه ايښودل سوی دی چي پورتني ستر شيان په دې ورځ کي جمع کړل سوي دي مګر دا خبره دي هم ښکاره وي چي قطع نظر د دې خبري څخه چي دا ټولي خبري به هيئت مجموعي ده وجه تسميه ښکاره کوي په دې کي هر يو پر خپل خپل ځای باندي د جماعيت او اجماعيت پر مفهوم باندي حاوي دي.

د جمعې په ورځ زيات درود ويل

﴿۱۲۸۶﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثِرُوا

د حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

الصَّلَاةَ عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهُ مَشْهُوْدٌ تَشْهَدُهُ الْمَلَائِكَةُ وَإِنَّ أَحَدًا لَنْ يُصَلِّ

د جمعې په ورځ پر ما ډير درود وايا ست ځکه چي دا ورځ د حاضرۍ ده او په دې کي ملائکي حاضريږي او په تاسو کي چي څوک پر ما درود وايي

عَلَيَّ إِلَّا عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلَاتُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهَا قَالَ قُلْتُ وَبَعْدَ الْمَوْتِ؟ قَالَ

تر څو پوري چي هغه د درود څخه فارغ سوی نه وي د هغه درود زما مخته ته وړاندي کيږي، ما عرض وکړ ايا ستاسو د وفات وروسته به درود وړاندي کيږي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ فَنَبِيُّ اللهِ حَيٌّ يُرْزَقُ. رواه ابن ماجه.

پر ځمکه دا خبره حرامه سوې ده چي هغه د انبياؤ و بدن وخوري د الله نبيان ژوندي دي او هغوی ته رزق ورکول کيږي. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۵۲۴، رقم: ۱۶۳۷.

تشريح: دا حديث د ابن عباس رضي الله عنه د تفسير تائيد کوي هغه فرمايلي دي چي واليوم الموعود

وشاهد و مشهود په دې کې د مشهود څخه مراد د جمعې ورځ ده لکه څرنګه چې مخکې تير سو په حديث نمبر اتم کې فرمايل سوي دي چې د شاهد څخه مراد د جمعې ورځ ده او دا زيات صحيح هم دی که څه هم دلته د مشهود څخه د جمعې ورځ مراد اخستل کيږي په دې اعتبار سره چې په دغه ورځ ملائکې حاضريږي دا د حضرت علي کرم الله وجهه د تفسير خلاف نه دی او دا احتمال هم قوي دی چې د حديث په الفاظو کې فانه ضمير د جمعې خوا ته نه دی مګر زيات درود شريف ته راجع دی چې د لفظ اکثر څخه مفهوم کيږي همداسې د حديث معنی به دا وي چې د جمعې په ورځ پر ما په کثرت سره درود وايي ځکه چې په کثرت سره درود مشهوده يعني د ملائکو د حاضرېدو سبب دی.

عرضت صلواته: د دې مطلب دادی چې هسې خو همېشه څوک چې پر ما درود شريف وايي نو د هغه درود ماته وړاندې کيږي مګر د جمعې ورځ تر ټولو افضله ورځ ده ځکه د جمعې په ورځ درود ويونکی درود بطريق اولی چې زما مخکې ېې ووايي که څه هم د درود ويلو موده هر څومره اوږده وي حتی يفرغ په فرمايلو سره دې ته اشاره کيږي چې تر څو پورې درود ويونکی په خپله د درود څخه فارغ نسي يا درود ويل پرې نږدې تر هغه وخته پورې درود ماته رارسيږي.

د رسول الله ﷺ د ارشاد په اوږدو سره حضرت ابودرداء رضي الله عنه دا وګڼل چې شايد دا حکم ښکاره حالت يعني د رسول الله ﷺ په دنيا وي ژوند سره متعلق وي نو هغوی د رسول الله ﷺ څخه په دې باره کې پوښتنه وکړه رسول الله ﷺ ورته وفرمايل پر ځکه باندې د انبياؤ بدنونه خوړل حرام دي يعني څرنګه چې د نورو مړو بدنونه په قبرونو کې فناء کيږي همداسې د انبياؤ بدن په قبر کې نه فناء کيږي مګر هغه په خپل اصلي حالت کې موجود وي ځکه انبياؤ عليهم السلام لپاره دواړه حالته يعني د دې ښکاره ژوند او په مرګ کې څه فرق نسته څرنګه چې هغوی دلته دي همداسې هلته دي ځکه ويل سوي دي چې:

اولياء الله لايموتون ولاکن ينتقلون من دار الا دارا: د الله تعالی دوستان او حقيقي بندګان مري نه هغوی يوازې د ديوه ځای څخه بل ځای ته اوړي.

څرنګه چې دلته د دنيا په ژوند کې مخکې درود وايي همداسې به زما په قبر کې هم ماته درود شريف وايي.

د حديث اخري الفاظ حتی يرزق مطلب دادی چې انبياؤ عليهم السلام ته په خپلو خپلو قبرونو کې د الله تعالی د خوا هغوی ته رزق ورکول کيږي او که د رزق څخه رزق حسي مراد

واخستل سي نو دا به د حقيقت خلاف نه وي مګر صحيح به وي هر کله چي د شهداؤ د روحونو په باره کي نقل دي چي هغوی د جنت مېوې خوري نو انبياء عليهم السلام خو د شهداء څخه اشرف او اعلی دي ځکه د هغوی لپاره هم دا خبره بطريق اولی ثابتېدای سي چي هغوی ته په خپلو قبرونو کي حسي رزق ورکول کيږي.

د جمعې په ورځ مرګ

﴿۱۲۸۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ إِلاَّ وَقَاهُ اللهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ.

رواه أحمد والترمذي وقال هذا حديث غريب وليس إسناده بمتصل.

: کوم مسلمان چي د جمعې په ورځ يا د جمعې په شپه وفات سي نو هغه د قبر د فتنو څخه محفوظ وي. احمد، ترمذي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی د دې اسناد متصل نه دي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\۱۶۹، والترمذي ۲\۳۸۶، رقم: ۱۰۷۴.

تشريح: مطلب دادی چي د يو نېکبخته مسلمان د جمعې په ورځ يا د جمعې په شپه وفات کېدل په حقيقت کي د هغه د سعادت دليل دی ځکه چي د جمعې په مقدسو ساعتونو کي وفات کېدونکی سړی د الله تعالی له لوري په بې پناه رحمتونه او نعمتونو سره نازول کيږي د جمعې په ورځ د وفات کېدونکو مسلمانانو په حق کي ډېر زيات زيري نقل دي مثلا په يوه روايت کي نقل دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم مسلمان چي د جمعې په ورځ مړ سي هغه ته د قبر د عذاب څخه خلاصون ورکول کيږي او هغه به د قيامت په ورځ په داسي حال کي راځي چي پر هغه باندي به د شهيدانو ټاپه لګول سوې وي.

په يو بل روايت کي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم سړی چي د جمعې په ورځ مړ سي د هغه لپاره د شهيدانو ثواب ليکل کيږي او هغه د قبر د فتنې څخه ساتل کيږي.

همداسي د يو بل روايت الفاظ دادي چي کوم مسلمان سړی يا ښځه د جمعې په ورځ يا په شپه وفات سي هغه د قبر د فتنې او د عذاب څخه ساتل کيږي او الله تعالی سره به په داسي حال کي د هغه ملاقات کيږي چي د قيامت په ورځ به د هغه سره هيڅ محاسبه نه کيږي، ځکه چي د

هغه سره به شاهدي وي چي د هغه د سعادت او نيکي ګواهي به ورکوي يا پر هغه به د شهداؤ ټاپه لګول کيږي.

جمعه د اختر ورځ ده

﴿١٢٨٨﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَرَأَ (اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ) الآية وَعِنْدَهُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه د يهودي په وړاندي دا آيت تلاوت کړ: (نن ورځ ما ستاسو لپاره دين پوره کړ)

يَهُوْدِيٌّ فَقَالَ لَوْ نَزَلَتْ هٰذِهِ الآيَةُ عَلَيْنَا لَاتَّخَذْنَاهَا عِيْدًا فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ

د دې په اوريدو سره يهودي وويل که دا آيت پر موږ نازل سوی وای نو موږ به دا ورځ د اختر ګرځولې وای، ابن عباس رضي الله عنه وويل:

فَإِنَّهَا نَزَلَتْ فِيْ يَوْمِ عِيْدَيْنِ فِيْ يَوْمِ جُمُعَةٍ وَيَوْمِ عَرَفَةَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

دا آيت د دوو اخترو په ورځ نازل سوی دی يعني د جمعې او عرفات په ورځ. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ٥\ ٢٣٣، رقم: ٣٠٤٤.

تشريح: د يهودي د ويلو مطلب دا وو چي که دا آيت پر موږ نازل سوی وای نو دومره عظيم الشان نعمت خوشحالي او د هغې د شکراني په توګه د لوی اختر ورځ ګرځولې وای خو تعجب دی چي مسلمانانو دا ورځ يادګار او د اختر ورځ ونه ګڼله د دې په جواب کي ورته ابن عباس رضي الله عنه وفرمايل کله چي الله تعالى په خپله دا آيت په يوه داسي ورځ باندي نازل کړ چي پر يوه نه بلکه پر دوو اخترو باندي حاوي وه نو بيا موږ ته دوې ورځې د لمانځنې څه ضرورت وو ځکه چي رسول الله ﷺ اخري حج ادا کړی وو نو هغه د جمعې په ورځ وو ګويا يو خو د جمعې کېدو په وجه خپله هغه ورځ افضله او اشرفه وه او دوهمه د عرفې ورځ يعني د حج ورځ کېدو په وجه د دې افضليت او عظمت زيات وو او په دې ورځ دا آيت نازل سو نو ښکاره ده چي د خپل عظمت او فضيلت په اعتبار د مسلمانانو لپاره د دې څخه بله کومه شپه کېدای سي.

د جمعې ورځ او شپه ځلانده وي

﴿۱۲۸۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ رَجَبٌ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې کله به د رجب میاشت راغلل نو رسول الله ﷺ به

قَالَ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ رَجَبٍ وَّشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ قَالَ وَكَانَ يَقُوْلُ لَيْلَةُ

دا دعاء کول: (اې الله جل جلاله! د رجب او شعبان په میاشتو کې موږ ته برکت راکړې او موږ رمضان ته ورسوې) او انس رضي الله عنه فرمایلي دي چې رسول الله ﷺ دا فرمایلي دي: شپه

الْجُمُعَةِ لَيْلَةٌ أَغَرُّ وَيَوْمُ الْجُمُعَةِ يَوْمٌ أَزْهَرُ. رواه البيهقي في الدعوات الكبير

د جمعې ځلانده شپه ده او د جمعې ورځ ځلانده ورځ ده. بیهقي.

تخریج: رواه البيهقي في الدعوات الكبير.

د لغاتو حل: (ازهر): ای ابیض (نوراني).

تشریح: او موږ هې روژې ته ورسولو: د دې مطلب دادی چې اې الله! زموږ دا سعادت نصیب کړه چې پوره روژه ونیسو او د روژې په تولو ورځو کې موږ ته د روژو نیولو او د تراویح لمونځ کولو توفیق راکړې. د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه نورانیت نبوي یا خو بالذات وي یا دا چې د جمعې ورځ او د جمعې په شپه کې چې کوم عبادت کیږي د هغه برکت او د هغه په سبب سره معنوي نورانیت پیدا کیږي.

بَابُ وُجُوْبِهَا

د جمعې د واجب کېدو بیان

لکه څرنګه چې مخکې ښودل سوې ده چې د جمعې لمونځ فرض عین دی دلته د وجوب څخه مراد فرض دی.

علامه یحیی رحمه الله فرمایي د جمعې لمونځ فریضه محکمه ده چې قرآن کریم احادیث رسول الله ﷺ او اجماع امت څخه ثابته ده د جمعې د لمانځه د فرضیت څخه انکار کونکی کافر کیږي د قرآن کریم د کوم آیت څخه چې د جمعې فرضیت ثابت دی د هغه الفاظ (فاسعوا الي ذكر الله) د ذکر څخه مراد د جمعې لمونځ او د هغه خطبه ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د جمعې د لمانځه پرېښودل او د هغه سزا

﴿١٢٩٠﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَاَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّهُمَا قَالَا سَمِعْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه او ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَلَى أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ

چې فرمايل يې د لرګي پر منبر: خلک دي د جمعې د پرېښودو څخه منعه سي (يعني د جمعې لمونځ دي نه پرېږدي)

أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللّٰهُ عَلَى قُلُوْبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ . رواه مسلم

كنه نو الله به د هغو پر زړو مهر ولګوي او هغوی به په غافلو خلکو کې حساب سي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ١/٥٩١، رقم: ٤٠-٨٦٥.

تشريح: مطلب دادی چې په دغه دوو شيانو کې يو شی مقرر دی يا خو د جمعې لمونځ نه پرېښودل يا پر زړونو باندې تاپه لګېدل خلک د جمعې لمونځ نه پرېږدي نو هغوی په زړونو به مهر نه لګول کيږي او که څوک يې پرېږدي نو د هغوی پر زړونو به تاپه ولګول سي.
پر زړونو تاپه لګول ددې خبرې کنايه ده چې الله تعالى به د داسي بد بختو خلکو زړونه په انتهايي غفلت کې اخته کړي د هغه نتيجه ښکاره ده چې داسي خلک به د الله تعالى په سخت عذاب کې اخته کړه سي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿١٢٩١﴾: عَنْ أَبِي الْجَعْدِ الضُّمَيْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو الجعد الضميري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قَلْبِهِ . رواه أبو داود والترمذي

والنسائي وابن ماجه والدارمي، ورواه مالك عن صفوان بن سليم .

کوم څوک چې د سستۍ له کبله دري جمعې لمونځ پريږدي الله به د هغه پر زړه مهر ولګوي . ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي .

تخريج : سنن ابي داؤد : ۱\ ۶۳۸، رقم: ۱۰۵۲، والترمذي ۲\ ۳۷۳، رقم: ۵۰۰. والنسائي ۳\ ۸۸، رقم: ۱۳۶۸، وابن ماجه ۱\ ۳۵۷، رقم: ۱۱۲۵، والدارمي ۱\ ۴۴۴، رقم: ۱۵۷۱.

د جمعې دلمانځه نه کولو په صورت کې صدقه کول پکار دي.

﴿۱۲۹۲﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَلْيَتَصَدَّقْ بِدِيْنَارٍ فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ فَبِنِصْفِ دِيْنَارٍ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه .

چا چې د يو عذر پرته د جمعې لمونځ پرېښود ی نو هغه ته پکار ده چې يو دينار صدقه کړي که ممکن نه وي نو نيم دينار دي صدقه کړي . احمد ابوداؤد، ابن ماجه

تخريج : الامام احمد في مسنده ۵\ ۱۴، وابوداؤد : ۱\ ۶۳۸، رقم: ۱۰۵۳، وابن ماجه ۱\ ۳۵۸، رقم: ۱۱۲۸.

د جمعې پر اذان اوربدونکی باندي د جمعې لمونځ واجب دی

﴿۱۲۹۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْجُمُعَةُ عَلٰى مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ . رواه أبو داود .

حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ څخه روايت کوي چې : د جمعې لمونځ پر هغه چا فرض او واجب دی چې د جمعې آذان واوري. ابوداؤد .

تخريج : سنن ابي داؤد ۱\ ۶۴۰، رقم: ۵۰۲.

تشريح : شيخ عبد الحق رحمة الله عليه فرمايي د دې مطلب دا دی هر کله چې يو سړی د جمعې اذان واوري نو د هغه لپاره د جمعې تياري کول او د جمعې د لمانځه لپاره تلل واجب دي .

ملا علي قاري رحمة الله عليه فرمايي دا حديث كه على الاطلاق د دى پر ښكاره معنى باندي محمول كړل سي نو د دې څخه ډېرزيات شكلونه پيدا كيږي ځكه مناسبه داده كه د دې حديث مفهوم داسي واخيستل سي چي جمعه پر هغه سړي واجب ده چي په داسي ځاى كي وي چيري چي د هغه سړي او ښار په مينځ كي د ږغ رسيدو فاصله وي يعني كه يو څوك په ښار كي ږغ وكړي نو چيري چي هغه دى هلته آواز ورورسيږي.

په شرح منيه كي ذكر سوى دى چي جمعه پر هغه سړي باندي لازمه ده چي د ښار په شاوخوا كي په داسي ځاى كي وي چي د هغه او د ښار په مينځ كي فاصله نه وي مگر جنگېدلي مقامات وي كه څه هم هغه د اذان اواز وا نه وري او كه د هغه او د ښار په مينځ كي د فصلونو،.كورونو وغيره د حائل كېدو په وجه فاصله وي نو پر هغه جمعه واجب نه ده كه څه هم هغه اذان واوري مگر د امام محمد رحمة الله عليه څخه نقل دي كه هغه اذان واوري نو پر هغه جمعه واجب ده او فتوى د امام محمد رحمة الله عليه پر قول ده.

﴿۱۲۹۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْجُمُعَةُ عَلٰى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلٰى أَهْلِهِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث إسناده ضعيف.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمعې لمونځ پر هغه چا واجب دى چي د جمعې لمونځ وكړي او د شپې خپل اهل وعيال ته ورسيږي. ترمذي ويلي دي ددې حديث اسناد ضعيف دي.

تخريج: سنن الترمذي ۲\۳۷۶، رقم: ۵۰۲.

تشريح: مطلب دادى چي جمعه پر داسي سړي باندي واجب ده چي د هغه د هستوګني د ځاى او هغه مقام په مينځ كي چيري چي د جمعې لمونځ كيږي دومره فاصله وي چي د جمعې وروسته په اساني سره خپل كورته دوهم وار راسي او شپه د خپلو بچيانو سره تېره كړي.

هغه كسان چي جمعه پر واجب نه ده

﴿۱۲۹۵﴾: وَعَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ

د حضرت طار بن شهاب رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جمعه واجب ده

عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ فِيْ جَمَاعَةٍ إِلاَّ عَلٰى أَرْبَعَةٍ عَبْدٍ مَّمْلُوْكٍ أَوِ امْرَأَةٍ أَوْ صَبِيٍّ أَوْ

مَرِيْضٍ . رواه أبو داود وفي شرح السنة بلفظ المصابيح عن رجل من بني وائل

پر هر مسلمان باندي په جماعت سره مګر نه پر ځلورو کسانو ۱: غلام باندي، ۲: ښځه باندي ۳: کوچنی باندي . ۴: ناروغ باندي . ابو داؤد، شرح السنة د مصابيح په ډول د بني وائل د يو سړي څخه روايت کړی دی .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۶۴۴، رقم: ۱۰۶۷، والبغوي في شرح السنة ۴\ ۲۲۵، رقم: ۱۰۵۶ ومصابيح السنة ۱\ ۴۷۰، رقم: ۹۶۸.

د جمعې لمونځ په جماعت سره فرض دی

جمعه حق ده يعني د جمعې فرضيت د کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ په ذريعه ثابت دي همداسي واجب دی د دې مطلب دادی چي پر هر مسلمان باندي پرته د پورتنيو ځلور ډوله خلکو څخه د جمعې لمونځ په جماعت سره فرض دی .

پر لاندنيو خلکو باندي جمعه ولي نه ده واجب ؟

۱. غلام د نورو په ملکيت کي وي ځکه پر هغه د جمعې لمونځ نه دی فرض کړل سوی.

۲. پر ښځي باندي د جمعې لمونځ ځکه فرض نه دی چي نه يوازي دا چي د هغې پر ذمه د خاوند حقوق دومره زيات متعلق دي چي د جمعې په لمانځه کي د ګډون د هغه د حقوقو ادا کولو څخه مانع کيږي مګر د جمعې په لمانځه کي د خلکو رش او کش زيات وي ځکه د جمعې په لمانځه کي د ښځو ګډون د فتنې او فساد سبب ګرځي.

۳. کوچنيان غير مکلف دي ځکه پر هغوی د جمعې لمونځ نه دی فرض .

۴. همداسي پر ناروغ باندي د هغه د ضعف او ناتواني او د ضرر د دفع کولو په سبب جمعه فرض نه ده مګر د ناروغ څخه مراد هغه ناروغ دی چي په يو داسي ناروغۍ کي اخته وي چي د هغه په وجه دی په جمعه کي نه سي حاضرېدای .

د دې څخه پرته پر کومو خلکو چي جمعه فرض کېدل نه دي ثابت په هغوی کي لېونی هم دی چي د کوچني په حکم کي دی همداسي پر مسافر، ړوند، ګوډ او شل باندي هم جمعه فرض نه ده .

ابن همام رحمة الله عليه فرمايي داسي سپين ږيری چي هغه ته ضعف لاحق وي د ناروغ په حکم کي داخل دی ځکه چي هغه او پر هغه معذور هم چي پر خپلو پښو تللو باندي قادر نه وي جمعه فرض نه ده همداسي د مريض پر ساتونکي هم جمعه فرض نه ده چي د هغه جمعې ته تللو په وجه د ناروغ تکليف او وحشت زياتېدو يا د هغه د ضائع کېدو ويره وي .

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

د جمعې پرېښودونکي لپاره سزا

﴿۱۲۹۶﴾: عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِقَوْمٍ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د هغه خلکو په اړه وفرمايل

يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجُمُعَةِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ رَجُلاً يُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ أُحَرِّقَ

چې د جمعې د لمانځه څخه شاته پاته کيږي: ما دا اراده کړې ده چې زه يو سړي ته د لمانځه کولو حکم وکړم او بيا کورونه وسوځم

عَلَى رِجَالٍ يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجُمُعَةِ بُيُوْتَهُمْ . رواه مسلم

د هغه خلکو چې د جمعې لمانځه ته نه راځي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۴۵۲، رقم: ۲۵۴- ۶۵۲.

تشريح: په دغه حديث کې د هغه خلکو لپاره سخت وعيد دی چې بېله عذره او بې مجبوری د جمعې لمونځ نه کوي داسې خلکو ته پکار ده چې د دغه حديث څخه عبرت واخلي او د جمعې لمونځ هيڅکله قضاء نه کړي.

﴿۱۲۹۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَرَكَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم څوک چې پرېږدي

الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ كُتِبَ مُنَافِقًا فِيْ كِتَابٍ لاَ يُمْحٰى وَلاَ يُبَدَّلُ . وفي بعض الروايات ثلاثا . رواه الشافعي .

د جمعې لمونځ بېله عذره نو هغه په هغه کتاب کې منافق ليکل کيږي د کوم چې ليکنه نه خرابېدای سي او نه بدلېدلای سي . او په ځينې رواياتو کې دا الفاظ دي چې درې ځله (يعني درې جمعې) . شافعي

تخريج: ترتيب مسند الامام الشافعي ۱\ ۱۲۹، رقم: ۳۸۱.

تشریح : من غیر ضرورة : مطلب دادی چې د جماعت پرېښودلو کوم عذرونه مثلا د ډېر ظالم او د دښمن څخه ډېره، بارن اورېدل، واوره کېدل، په لار کې خټې وغیره کېدل او داسې نور که په دغو کې د یو عذر په وجه یو څوک د جمعې لمانځه ته ولاړ نسي نو هغه به منافق نه وي هو ببله عذره او مجبوری د جمعې پرېښودونکي منافق دی.

(في کتاب لا یمحي ولا یبدل) : د کتاب څخه مراد اعمال نامه ده، مطلب دا چې د جمعې د لمانځه د پرېښودونکي په اعمال نامه کې چې په هغه کې نه تنسیخ ممکن دی او نه تغیر او تبدیل په هغه کتاب کې دی منافق لیکل کیږي تر دې چې د هغه سره د لفظ نفاق په ډول لعنتي صفت همېشه لپاره لګیږي تر دې چې په اخر کې یا خو به الله تعالی هغه د دې په وجه په عذاب کې اخته کړي یا په خپل فضل او کرم سره په معاف کولو سره به پې وبخښي د غور او فکر مقام دی چې د جمعې د لمانځه پرېښودونکي لپاره څومره سخت وعید دی الله تعالی دي مونږ ټول د خپل عذاب څخه وساتي. آمین.

د جمعې پرېښودونکی خپله تاوانې دی

﴿۱۲۹۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم څوک چې ایمان لري

بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَعَلَيْهِ الْجُمُعَةُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلاَّ مَرِيْضٌ أَوْ مُسَافِرٌ أَوْ صَبِيٌّ

پر الله ﷻ او د قیامت پرورځ نو پر هغه د جمعې لمونځ واجب دی، مګر ناروغ، مسافر، کوچنی

أَوْ مَمْلُوْكٌ فَمَنِ اسْتَغْنٰى بِلَهْوٍ أَوْ تِجَارَةٍ اسْتَغْنَى اللهُ عَنْهُ وَاللهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ .

رواه الدار قطني .

او غلام د دې څخه وتلي دي پر دوی د جمعې لمونځ فرض نه دی کوم څوک چې د جمعې د لمانځه څخه بې پروایي غوره کړي یا په لهو ولعب او تجارت کې بوخت سي نو الله تعالی د هغه څخه بې پروا دی او الله تعالی بې پروا او تعریف کړل سوی دی. دار قطني.

تخریج: سنن الدار قطني ۳\۲، رقم: ۱.

تشریح : د حدیث د اخري الفاظو مطلب دادی چې کوم سړی په بازیو، تجارت او د دنیا په نورو کارونو کې په اخته کېدو سره د جمعې د لمانځه پرواه نه وکړي او د جمعې د لمانځه د

پرېښودو احساس هغه ته نه وي نو هغه خپل تاوان خپله کوي ځکه چې د داسي سړي څخه الله تعالی هم بې پرواهي اختياروي او پر هغه خپل فضل وکرم او مهرباني نه کوي او پر کوم بدنصيبه چې د الله تعالی کرم او مهرباني نه وي نو په دين او دنيا دواړو ځايو کي به د هغه د تباهۍ او بربادي په باره کي کوم بد بخت ته شک کېدای سي .

========

بَابُ التَّنْظِيْفِ وَالتَّكْبِيْرِ

پاکي تر لاسه کول او د جمعې لمانځه ته پر وخت تلل

د پاکۍ تر لاسه کولو څخه مراد د غسل په ذريعه بدن پاکول، د برېتونو وېښتان پرېکول، نوکان پرېکول ،د نامه لاندي وېښتان پاکول ، د بغل وېښتان ليري کوي ، جامې پاکول او د عطرو استعمالول د جمعې د ورځي دا څو شيان سنت دي د دې تفصيل په کتاب الطهارت کي د مسواک په بيان کي تېر سوی دی .

د جمعې لپاره د وختي تللو څخه مراد دادی چې مسجد يا چيري چې لمونځ اداء کېږي او هلته د جمعې د لمانځه لپاره په اول وخت کي رسېدل که يو سړی د جمعې د لمانځه لپاره مسجد ته ورځي په اوله برخه کي ورسېږي نو دا افضل دي، امام غزالي رحمة الله عليه د ځينو علماؤ سلف دا معمول نقل کړی دی چې هغوی د عبادت خواته د پېښ روي په اختيارولو سره په جذبې سره د جمعې د لمانځه لپاره به د سهار څخه مسجد ته رسېدل خو دومهر خبره په ذهن کي کښېنول پکار ده چې په مسجد نبوي کي لمونځ کونکو چې دا معمول جوړ کړی دی چې هغوی د جمعې په ورځ د سهار د وخته څخه په مسجد اقدس کي ځای د نيولو لپاره خپلي خپلي مصلې هواري کړي او هلته نه کښېني بلکه ولاړسي بيا د لمانځه پر وخت راځي نو په دې باره کي علماؤ ليکلي دي که داسي خلک هلته په ناستي سره په ذکر او فکر کي مصروف سي نو بهتره ده کنه يوازي د ځای نيولو لپاره هلته په مصله اوار ولو سره کورته بيرته راتلل مناسب نه دي ځکه چې په دې سره خلکو ته تنګي پېدا کېږي .

د دې څخه معلومه سوه چې په جامع مسجد کي د ځای نيولو لپاره د اول وخت په رسېدو سره خپل خپل پټوان يا مصلی هوارول بيا د هغه ځای څخه د خوراک لپاره کورته تلل مناسبه نه دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د جمعې اداب

﴿۱۲۹۹﴾: عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَغْتَسِلُ

د حضرت سلمان رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم څوک چې غسل وکړي

رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ أَوْ يَمَسُّ

د جمعې په ورځ او څومره چې ممکن وي پاکي ترلاسه کړي او عطر يا خوشبويي چې په کور کي موجود وي ولګوي

مِنْ طِيْبِ بَيْتِهِ ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ ثُمَّ يُصَلِّيْ مَا كُتِبَ لَهُ ثُمَّ

بيا د کور څخه د لمانځه لپاره راسي او د دوو خلکو په منځ کي ورننوتلو سره نه کښينې څومره لمونځ چې الله ﷻ پر فرض کړی دی هغه وکړي

يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى . رواه البخاري

بيا چې امام خطبه وايي پته خوله کښيني نو د هغه تول ګناهونه چې د يوې جمعې څخه تر بلې جمعې پورې يې کړي دي معاف کيږي . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۳۷۰، رقم: ۸۸۳.

تشريح: او څومره چې کېدای سي پاکي اختيار کړي: د دې مطلب دادی چې د برېتو وېښتان پرې کول، نوکان پرې کول، د نامه لاندي وېښتان پاکول، د بغلونو وېښتان ليرې کول او پاکي جامې دي واغوندي.

د دوو خلکو په مينځ کي فرق ونه کړي د دې مطلب دادی چې په مسجد کي پلار او زوی يا داسي دوه خلک چې په خپلو کي ډېره مينه او تعلق لري يو ځای ناست وي نو د هغه په مينځ کي دي نه کښېنې يا د خلکو په مينځ کي ځای نه وي نو هلته دي نه کښېنې که هغوی ته تکليف وي هو که چيرې ځای خالي وي نو څه پرواه نه لري.

يا د فرق کولو څخه مراد دادی چې د خلکو پر سرونو دي جمپونه نه وهي او په ځغاسته سره خلکو ته په ډيکو ورکولو سره دي مخکي صف ته نه ځي بلکه چيرې چې ځای ترلاسه کړي هلته

دي کښېنې او که ېېله ډېکو وهلو او د صفونو خرابولو اول صف ته رسېدای سي نو بيا مخکي په ورتلو کي څه پرواه نسته، دا حکم په هغه صورت کي دی کله چي په مخکي صفونو کي ځای نه وي هو که دا وګڼي که زه مخکي صفونو ته ولاړسم نو خلک به هلته د ناستي لپاره ځای راکړي يا دا چي په مخکي صفونو کي ځای خالي وي نو صفونه په خرابولو سره هم مخکي تلل صحيح نه دي ځکه چي په وروستني صفونو کي ناسته د خلکو قصور دی چي هغوی په مخکي کېدو سره په مخکني صفونو کي ولي کښېنستل او خالي ځای ېې ولي ډک نه کړ.

په حقيقت کي دا حديث دې ته اشاره کوي چي د جمعې د لمانځه لپاره په اول وخت کي مسجد ته رسېدل پکار دي چي هلته د فرق نه کولو او د صفونو خرابولو ضرورت پېښ نسي.

﴿۱۳۰۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اغْتَسَلَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم څوک چي د جمعې په ورځ غسل وکړي

ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلَّى مَا قُدِّرَ لَهُ ثُمَّ أَنْصَتَ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ ثُمَّ يُصَلِّي

بيا د جمعې د لمانځه کولو لپاره مسجد ته راسي او څومره لمونځ چي يې په مقدر کي وو هغه وکړي او بيا پټه خوله کښيني تر څو چي امام د خطبې څخه فارغ سي بيا د امام سره لمونځ وکړي

مَعَهُ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى وَفَضْلُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ. رواه مسلم

نو د هغه تول هغه ګناهونه بخښل کيږي چي د يوې جمعې څخه تر بلي جمعې پوري يې کړي وي بلکه د نورو درو ورځو زيات ګناهونه يې بخښل کيږي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲\۵۸۷، رقم: ۲۶-۸۵۷.

تشريح: د درو ورځو زيادتوب د دې لپاره دی چي د هري نېکي ثواب لس چنده زيات وي نو د يوې جمعې څخه تر بلي جمعې پوري اوه ورځې سوې او او دري ورځې په دې کي نوري اضافه سوې چي لس پوره سوې.

﴿۱۳۰۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم څوک چي په ښه ډول

الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ

اودس وکړي بيا د جمعې لمانځه ته د مسجد په لور ولاړی خطبه يې واوريدل پټه خوله کښېنستی نو د هغه ګناه بخښل کيږي کومه چې يې د يوې جمعې څخه تر بلې جمعې پورې کړې وي

وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا . رواه مسلم

بلکه د نورو درو ورځو زياته ګناه چې هغه کړې وي بخښل کيږي خو چا چې د خطبې پر وخت يا په لمانځه کې په شګو يا بل شي سره ځان بوخت کړو نو هغه عبث کار وکړ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۲\ ۵۸۸، رقم: ۲۷- ۸۵۷.

تشريح: شګو ته لاس ور وړل يعني په لمانځه کې په شګو بوخت سو په دې توګه چې د سجدې ځای برابرولو لپاره هغه پې د يوه وار څخه زيات ليرې کړل ځيني حضرات وايي چې د دې څخه مراد دادی چې د خطبې په وخت په شګو سره بازي کول دي.

د لغو معنی ده باطل او بې فائدې نو د لمونځ کونکي په شګو سره بازی کولو ته ېې په لغو سره مشابهت ځکه ورکړی دی چې دا فعل د خطبې د اوريدو څخه منعه کوي.

د جمعې لمانځه ته په اول وخت کې د حاضريدو فضيلت

﴿۱۳۰۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمعې په ورځ

وَقَفَتِ الْمَلَائِكَةُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ يَكْتُبُونَ الْأَوَّلَ فَالْأَوَّلَ وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ

ملائکې د مسجد په دروازه کې دريږي او مسجد ته د راتلونکو حاضري ليکي يعني کوم چې اول راځي هغوی اول ليکي او کوم چې وروسته راځي هغوی وروسته ليکي، او د اول مثال داسې دی لکه (مهجر)

كَمَثَلِ الَّذِي يُهْدِي بَدَنَةً ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي بَقَرَةً ثُمَّ كَبْشًا ثُمَّ دَجَاجَةً ثُمَّ

چې په سخته ګرمۍ کې د لمانځه لپاره راسي او تر هغه وروسته چې راسي د هغه مثال د هغه چا په ډول دی چې مکې ته د قربانۍ لپاره غوا وليږي او کوم سړی چې وروسته راسي هغه د هغه چا په ډول دی چې پسه وليږي بيا د دې څخه وروسته چې څوک راسي هغه مثال د هغه چا په ډول دی چې چرګه وليږي

بَيْضَةً فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ طَوَوْا صُحُفَهُمْ وَيَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ . متفق عليه

او څوک چې د دې وروسته راسي هغه داسي دی لکه هګۍ چې ولیږي بیا چې امام د خطبې لپاره ولاړ شي نو ملائکې خپل کاغذونه تول کړي او خطبه اوري . بخاري او مسلم .

تخریج : صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۴۹۷، رقم: ۹۲۹ ومسلم ۲\ ۵۸۷، رقم: ۲۴- ۸۵۰.

د لغاتو حل : (المُهجر): المبكر الى الجمعة (د جمعې لمانځه ته وختي راتلونکی).

تشریح : د حدیث د اولي حصې مطلب دادی چې د جمعې په روځ یا خو د سهار کېدو سره یا په لمر ختو سره یا څرنګه چې بهتر او راجح قول دی د زوال د وخت څخه فرښتې د مسجد په دروازه کې دریږي او په کوم ترتیب سره چې لمونځ ګزار راځي په هغه ترتیب سره د هغوی نومونه لیکي داسي چې کوم خلک په اول وخت کې مسجد ته راځي د هغوی نوم تر تولو مخکې لیکل کیږي ګویا هغوی تر تولو افضل وي او کم خلک چې وروسته راځي د هغوی نوم وروسته لیکل کیږي همداسي هغه خلک په اول وخت کې د راتلونکو خلکو په نسبت کم فضیلت والا شمېرل کیږي او دا فرښتې د هغو فرښتو څخه علاوه وي کومې چې د بندګانو پر اعمالو لیکلو باندې ماموري وي .

د خطبې په وخت کې منعه شیان

﴿۱۳۰۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَنْصِتْ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ. متفق عليه

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې امام خطبه وایي نو هغه وخت ملګري ته دومره ویل چې پټه خوله سه هم عبث کار دي وکړ . بخاري او مسلم

تخریج : صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۴۱۴، رقم: ۳۹۴، ومسلم ۲\ ۵۸۳، رقم: ۱۱- ۸۵۱.

تشریح : د خطبې په وخت کې د هیڅ ډول خبرو اجازه نسته ځکه دا وخت چې کوم سړی خبري کوي هغه ته د پټه خوله کېدو لپاره ویل هم د دې حدیث مطابق لغو دي د دې څخه معلومه سوه چې د خطبې وخت مطلقا کلام کول ممنوع دي که څه هم هغه کلام امر بالمعروف او نهي عن المنکر سره متعلق وي او دا وخت دا فریضه د اشارې په ذریعه اداء کوي مګر په ژبې سره د ویلو اجازه نسته .

د خطبې په وخت کې د چوپتیا مسئله

کله چې امام خطبه ووایي هغه وخت چپتیا اختیارول د اکثرو علماؤ په نزد واجب ده امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه هم په هغوی کې گډ دی او د ځینې علماؤ په نزد مستحب دی د امام شافعي رحمة الله علیه هم دا مذهب دی مګر په مذاهب لدینه کې لیکلي دي چې په دې مسئلې کې د امام شافعي رحمة الله علیه دوه قوله دي یو قول د وجوب دی او دوهم د استحباب د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه مذهب دادی چې کوم وخت امام د خطبې لپاره روان سي هغه وخت هم لمونځ شروع کول یا کلام کول دواړه ممنوع دي که یو سړی لمونځ مثلا سنت وغیره کوي او امام خطبه شروع کړي نو هغه ته دوه رکعته په پوره کولو سره لمونځ ماتول پکار دی خو د امام ابویوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه په نزد د امام خطبې ته د ورتللو او د خطبې شروع کولوپه مینځ کې داسي د هغه د خطبې د ختمولو وروسته تکبیر تحریمه تر شروع کولو پوري په کلام کولو کې څه حرج نسته ځکه چې کلام کراهیت په دې وجه دی چې په کلام کې د مصروفېدونکي سړي خطبه نسي اورېدلای او بنکاره ده چې دا مواقع د خطبې اورېدو څخه نه وي ځکه په داسي اوقات کې کلام کول جائز دی.

خو امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه د دې دواړو د ممانعت دا دلیل وړاندي کوي چې حدیث دی اذا خرج الامام فلا صلوة ولا کلام هر کله چې امام خطبې ته روان سي نو د هغه وخت څخه لمونځ جائز دی او نه کلام او د صحابه رضي الله عنهم اقوال هم همداسي دي او د صحابي ﷺ قول حجت او دلیل په ګرځولو کې نه یوازي دا چې څه شک او شبهه نسته مګر د صحابي د قول تقلید او پیروي واجب ده علماؤ لیکلي دي چې د خطبې پر وخت د صاحب ترتیب لپاره قضاء لمونځ کول مکروه نه دی.

د هغه سړي په باره کې چې د امام څخه لیرې وي او د خطبې اواز هغه ته نه ور رسیږي د علماء مختلف اقوال دي مګر صحیح او مختار قول دادی چې هغه سړی دي هم خبري نه کوي بلکه د هغه لپاره چپ کېدل واجب دی.

د خطبې پر وخت اداب

علماؤ صراحت کړی دی چې کوم وخت امام خطبه ووایي هغه وخت خوراک څښاک یا کتابت وغیره په دنیوي کارو کې مصرفېدل حرام دي د سلام او ترچې جواب ورکول هم مکروه دی په دې اړه په درمختار کې یوه کلیه لیکل سوې ده کل شيء حرم في الصلواة حرم في الخطبه

یعني کوم شیان چې په لمانځه کې حرام وي هغه د خطبې په وخت کې هم حرام دي د خطبې پر وخت دي درود هم په ژبې سره نه بلکه په زړه سره دي ېې ووایي. که چیري د خطبې پر وخت یو سړی د شریعت خلاف عمل وکړي نو په ژبه سره یې منعه کول مکروه دي لیکن په لاس یا اشارې سره هغه منعه کول مکروه نه دي.

په هر حال د دې حدیث ددغه باب سره د مناسبت وجه داده چې د دې باب مقتضي دادی چې په جمعه کې مسجد ته وختي تلل د ثواب د زیاتي باعث دي او که یو سړی وختي مسجد ته خو ورسېدی خو هغه هلته د امام د خطبې ویلو پر وخت چاته په ژبې سره نصیحت وکړي نو گویا د هغه څخه یو لغو (عبث) کار وسو د هغه نتیجه داسوه چې د وختي مسجد ته رسېدو ثواب یې ختم سو نو پکار ده چې د جمعې د لمانځه دپاره مسجد ته وختي ورسي نو داسي یو عمل ونه کړي چې په هغه سره ثواب ختم سي او هلته داسي حرکت نه وکړي چې په هغه سره ثواب ولاړسي.

بل څوک ولاړول نه دي پکار

﴿۱۳۰۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَا يُقِيمَنَّ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ثُمَّ لِيُخَالِفْ إِلَى مَقْعَدِهِ فَيَقْعُدَ فِيهِ وَلَكِنْ يَقُولُ افْسَحُوا. رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کې دي هیڅوک خپل مسلمان ورور د جمعې په ورځ د هغه د ځای څخه نه ولاړوي او بیا د هغه پر ځای خپله دناستي اراده دي نه کوي مګر هغو ته دا پکار ده چې د پراختیا غوښتنه وکړي. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۴\۱۷۱۴، رقم: ۲۹-۲۱۷۸.

تشریح: مسئله داده چې د یو سړی په ولاړولو سره د هغه پر ځای د هغه د رضا څخه بغیر کښېنستل حرام دی او که رضا حاصله سي نو هغه هم حقیقة کېدل پکار دي نه چې د څه بیري اوحیاء په وجه وي همداسي که یو سړی څوک د مخکي څخه مسجد ته وروانستوي چې هلته د هغه لپاره ځای ونیسي نو هغه سړی هم د هغه ځای څخه ولاړول حرام دی ځکه چې یو سړی هم یوازي په وراستولو سره او د ځای په نیولو سره د مسجد وغیره شان مقدس ځایونو حقدار کېدای نسي مګر کوم سړی چې پر کوم ځای ناست وي هغه هغه ځای ته مخکي د رسېدو په وجه تر ټولو زیات حقدار کیږي که څه هم هلته په رسېدو باندي د هغه دانیت نه وي چې کوم سړی زه

را استولی یم د هغه لپاره ځای نیسم او دلته به هغه سړی کښېنې نو خپله هغه سړي ته د خپل ځای ځخه د استونکي لپاره پورته کېدل او د هغه سره په دې اړه د قرباني معامله کول مکروه ده په شرط د دې چې هغه سړی د هغه ځخه په فضیلت کي د کمي درجې وي یعني که ځوک د هغه ځخه زیات افضل وي نو د هغه سره د قرباني معامله کول مکروه نه ده او د هغه لپاره د هغه ځای ځخه پورته کېدل ځکه مکروه دي چې په عباداتو کي بلاعذره مکروه دي.

تر ځو پوري چې د دې آیت (والذین یوثرون علی انفسهم) تعلق دی چې په دې کي الله تعالی د ایثار کونکو فضیلت بیان کړی دی نو په دې باره کي ویل سوي دي چې دلته ایثار مراد دادی چې د هغه تعلق حفظ نفس یعني د طبعي ضروریاتو او خواهشاتو سره وي.

اوس خو غالبا هیڅ چیري دا دستور نسته خو په پخوا زمانه کي ځیني اصحاب ثروت او دولت چې د هغوی د ژوند بنیادي مقصد پر نورو ظلم کول وو خپل خادمان او ملازمان به په جامع مسجد ته وړاستول چې هلته د مخکي ځخه ناست کمزوري او غریبان خلک به په پورته کړل په وهلو او ټکولو او ورته وه به په ویل دلته زما اقا کښېنې د هغې زمانې عارف ته چې د دې غلطي طریقې په باره کي وویل سوه نو هغه په ډېر افسوس سره دا عارفانه مقوله ارشاد وفرمایله هر کله چې د هغوی د عبادت دا حال وي نو د هغوی د ظلم او ګناه به څه حال وي.

ځای دي پراخه کړي داسي په هغه وخت کي ویل پکار دي کله چې په ځای کي د پراخې امکان وي کنه په داسي صورت کي داهم ویل نه دي پکار او نه خلک تنګول پکار دي مګر چیري چې ځای تر لاسه کړي هلته دي کښېنې. ددې باب د حدیث مناسبت دادی چې په دې حدیث کي دا رغبت ورکړل سوی دی چې لمونځ ګزارته مسجد ته پر وخت رسېدل پکار دي چې د چا د پورته کولو لیري کولو ضرورت مخ ته رانه سي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د جمعې په ورځ ښه جامه اغوستل

﴿۱۳۰۵﴾: عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ وَّأَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعید رضی الله عنه او ابوهریرة رضی الله عنه ځخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ وَمَسَّ مِنْ طِيْبٍ إِنْ كَانَ

څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او د خپلو جامو څخه ښه جامه واغوندي که خوشبويي ورسره وي هغه ولګوي

عِنْدَهُ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَلَمْ يَتَخَطَّ أَعْنَاقَ النَّاسِ ثُمَّ صَلَّى مَا كَتَبَ اللهُ لَهُ ثُمَّ

بيا د جمعې لمانځه ته ولاړ سي مګر د خلکو ترغاړو اوښتو سره مسجد ته نه ننوزي بيا څومره چې الله ﷻ د هغه په مقدر کي ليکلي وي (يعني سنت) وکړي

أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُه حَتَّى يَفْرُغُ مِنْ صَلَاتِهِ كَانَتْ كَفَّارَةً لِّمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الَّتِيْ قَبْلَهَا رواه أبو داود.

هر کله چې امام د خطبې لپاره ودريږي پټه خوله کښيني تر دې چې د لمانځه څخه فارغ سي نو دا د هغه د ګناهو کفاره ده چې هغه د يوې جمعې څخه تر بلې جمعې پورې کړي وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ١\ ٢٤٤، رقم: ٣٤٣.

تشريح: د ښه جامو څخه مراد سپيڅلي جامې دي رسول الله ﷺ به سپيڅلي جامې خوښولې.

مسجد ته پر پښو تلل غوره ده

﴿١٣٠٦﴾: وَعَنْ اَوْسِ بْنِ اَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت اوس بن اوس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې

غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ وَبَكَّرَ وَابْتَكَرَ وَ مَشٰى وَ لَمْ يَرْكَبْ وَدَنَا مِنَ

د جمعې په ورځ غسل وکړي او خپل ښځه هم په غسل کولو باعثه کړي او لمانځه ته پر وخت پر پښو ولاړ سي او مسجد ته اول ورسيږي او نژدې کښيني

الْاِمَامِ وَاسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغَ كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ صِيَامُهَا وَقِيَامُهَا. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجه.

امام ته او خطبه واوري او يو پالتو بې ځايه خبره ونه کړي نو هغه ته د هر قدم په بدله کې د يو کال د روژو او د شپې د عباداتو ثواب ورکول کيږي. ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۲۴۶، رقم: ۳۴۵، والترمذي ۲\ ۳۶۷، رقم: ۳۹۶، والنسائي ۳\ ۹۷، رقم: ۱۳۸۳، وابن ماجه ۱\ ۳۴۶، رقم: ۱۰۸۷.

د لغاتو حل: (وابتكر): اى اتى الصلاة في اول وقتها وادرک اول الخطبة.

تشریح: د غسل کولو مطلب دادی چي خپله بي بي ولمبوي او د دې څخه مراد چي په خپلي بي بي سره صحبت وکړي چي د هغې د لمبولو باعث سي يا مراد دادی چي خپلي جامې صافي کړي او پرې ښولي يا خپل سره په خطمي وغيره سره ومينزي د جمعې د ورځي يا د شپې د خپلي بي بي سره هم بستري په دې غوره ده چي په دې سره د زنا خطره په زړه کي نه پيدا کيږي اوپه لمانځه کي حضور قلب حاصليږي.

په حديث کي د لفظ مشی څخه وروسته د لم يرتکب د قيد مقصد دا خبره ښکاره وي چي په ټوله لار په پښو ولاړ سي بيا د تلو سره سپور سي ځکه لم يرکب په ذکر کولو سره د دې خبري تاکيد وفرمايل سو چي جامع مسجد ته د تلو لپاره سواري بالکل استعمال نه کړه سي او ټوله لار پر پښو ولاړ سي.

د جمعې لپاره جامې جوړول

﴿۱۳۰۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَا عَلٰى أَحَدِكُمْ إِنْ وَجَدَ أَنْ يَتَّخِذَ ثَوْبَيْنِ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ سِوٰى ثَوْبَيْ مِهْنَتِهِ.

رواه ابن ماجه و رواه مالك عن يحيى ابن سعيد.

په تاسو کي چي څوک د کاروبار يا د مزدوری د جامو څخه پرته د جمعې د لمانځه لپاره دوې جامې نوري جوړي کړي نو هيڅ پروا نسته. ابن ماجه، مالک.

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ۳۴۸، رقم: ۱۰۹۵.

تشریح: مطلب دادی که يو سړي ته اساني حاصله وي چي هغه د جامو څخه ماسپوا کومي چي همېشه اغوندي او په هغو جامو کي د کور بهر کاروبار کوي د جمعې د لمانځه لپاره دوې نوري جامې جوړي کړي نو دا تاوان نه لري.

د دې څخه معلومه سوه چي که يو سړی په خاصه توګه سره د جمعې او اخترونو په لمانځه کي جامې جوړي کړي نو دا د زهد او تقوای خلاف نه دي مګر د رسول الله ﷺ په باره کي ثابته

ده چي دوي داسي جامې ورسره وي چي په خاصه توګه سره به يې د جمعې په ورځ اغوستلې .

امام ته نژدې کښېنستل

﴿۱۳۰۸﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اُحْضُرُوا الذِّكْرَ وَادْنُوا مِنَ الْإِمَامِ فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ يَتَبَاعَدُ حَتّٰى يُؤَخَّرَ فِي الْجَنَّةِ وَإِنْ دَخَلَهَا . رواه أبو داود .

د خطبې پر وخت حاضر او امام ته نژدې اوسئ ځکه چي سړی څومره د نيکيو څخه ليرې وي هغومره به په جنت کې وروسته وي که چيرې جنت ته ولاړ سي ، ابوداؤد .

تخريج : سنن ابي داؤد ۱\ ٦٦٤، رقم: ۱۱۰۸.

تشريح : د دې حديث په ذريعه د دې خبرې رغبت ورکول کيږي چي همېشه اعلى امور اختيار کړه سي او پر ادنى شيانو باندې قناعت دې ونه کړه سي .

همت بلند دار که نزد خدا او خلق : باشد بقدر همت تو اعتبار تو

د خلکو تر غاړو د اوښتلو سزا

﴿۱۳۰۹﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ

سهل بن معاذ بن انس الجهني د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اتَّخَذَ جِسْرًا إِلَى جَهَنَّمَ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

کوم څوک چي د جمعې په ورځ د خلکو پر غاړو اوړي هغه د جهنم په لور پول جوړ کړي ځان ته . ترمذي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی

تخريج : سنن الترمذي ۲\ ۳۸۸، رقم: ۵۱۳.

تشريح : سيد رحمة الله عليه ويلي دي د حديث اسناد عن معاذ ابن انس عن ابيه سهوا نقل کړي دي ځکه چي د معاذ پلار انس ته نه يوازي شرف روايت حاصل دی مګر فيض صحبت

ورته هم میسر سوی دی نو صحیح اسناد داسي دی عن سهل ابن معاذ عن ابیه سهل ابن معاذ د خپل پلار څخه نقل کړي دي څرنګه چي په ترمذي کي نقل دي.

د حدیث الفاظ د جهنم پر پل جوړیږي د دې مطلب دادی چي د قیامت په ورځ به داسي سړی د خپل مثل بدله تر لاسه کوي یعني څرنګه چي هغه د خلکو پر څټانو باندي ټوپونه وهلي وه او د خلکو څخه یې خپله لار جوړه کړل همداسي به هغه د جهنم خوا ته د پل په جوړولو سره د هغه خلکو لپاره لاره جوړه کړل سي.

د ناستي منعه طریقه

﴿۱۳۱۰﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْحَبْوَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ. رواه الترمذي وأبو داود.

د حضرت معاذ رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ چي کله امام خطبه وایي د (حبوة) څخه منعه فرمایلې ده یعني چي دواړه زنګنونه جګ ودروي او ورنونه د نس سره وموښلوي او کناټي پر مځکه ولګوي. ترمذي، ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ٦٦٤، رقم: ۱۱۱۰، والترمذي ۲\ ۳۹۰، رقم: ۵۱۴.

د لغاتو حل: (الحَبوة): اسم من الاحتباء وهو ضم الساق إلى البطن بثوب أو باليدين (ورنونه د نس سره موښلول په جامه یا لاسونو سره).

تشریح: حبوة د یو خاص ناستي یو خاص طریقې ته وایي د دې صورت دا وي چي د پښو پر سر په کښېنستو سره وزن پر پښو وي خو کوناټي پر مځکه نه ایږدي د جامو یا د لاس په ذریعه دواړه زنګونان او ورنونه د نس سره یوځای کړل سي.

د خطبې پر وخت د داسي ناستي څخه منعه فرمایل سوې ده ځکه چي په داسي حالت کي خوب راځي چي د هغه په وجه د خطبې اوریدل نسي کېدای مګر دې پر واره داسي کیږي چي داسي کښېنستونکی د پرکایي په حالت کي د اړخ خوا ته وغورځیږي یا په ناستي ښې اودس مات سي او هغه خبر هم نسي.

د ارومي په راتلو سره ځای بدلول پکار دي

﴿۱۳۱۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَعَسَ

أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَلْيَتَحَوَّلْ مِنْ مَجْلِسِهِ ذٰلِكَ. رواه الترمذي

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم چا ته چې د جمعې په ورځ اړمی راسي نو هغه ته پکار ده چې خپل ځای بدل کړي . ترمذي .

تخريج : سنن الترمذي ۲\ ۴۰۴، رقم: ۵۲۶.

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

د بل چا پر ځای کښېنستل

﴿۱۳۱۲﴾: عَنْ نَافِعٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

نافع وايي ما د ابن عمر رضي الله عنه څخه اوريدلي دي چې رسول الله ﷺ د دې څخه منعه فرمايلې ده

وَسَلَّمَ أَنْ يُّقِيْمَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَقْعَدِهٖ وَيَجْلِسُ فِيْهِ قِيْلَ لِنَافِعٍ فِيْ الْجُمُعَةِ قَالَ فِي الْجُمُعَةِ وَغَيْرِهَا . متفق عليه

چې يو څوک يو سړي ولاړوي او خپله د هغه پر ځای کښيني ، د نافع څخه پوښتنه وسول ايا دا منعه يوازي د جمعې په ورځ ده ؟ هغه وويل د جمعې په ورځ هم او په نورو ورځو کي هم ، بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۱\ ۶۲، رقم: ۶۲۷۰، ومسلم ۴\ ۱۷۱۴، رقم: ۲۸- ۲۱۷۷.

تشريح : د دې عمل څخه ځکه منعه فرمايل سوې ده چې په دې سره يو مسلمان ورور ته تکليف وررسيږي نو دا ممانعت که جمعه وي او که غير جمعه د هر وخت سره متعلق دی .

د جمعې ادب کونکي لپاره زيری

﴿۱۳۱۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَحْضُرُ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ فَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِلَغْوٍ فَذٰلِكَ حَظُّهُ مِنْهَا وَرَجُلٌ

د جمعې په ورځ درې ډوله خلک مسجد ته ننوزي ۱: يو هغه چې د پالتو کار لپاره حاضريږي

(یعني د خطبې پر وخت) بیکاره حرکت او لغو کار وي او د هغه د حاضرید و دغه حصه ده ۲: دوهم هغه سړی چې

حَضَرَهَا بِدُعَاءٍ فَهُوَ رَجُلٌ دَعَا اللّٰهَ إِنْ شَاءَ أَعْطَاهُ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُ وَرَجُلٌ

د دعاء لپاره حاضریږي هغه دعاء کوي که الله یې قبوله کړي او که نه، ۳: دریم هغه سړی چې

حَضَرَهَا بِإِنْصَاتٍ وَسَكُوْتٍ وَّلَمْ يَتَخَطَّ رَقَبَةَ مُسْلِمٍ وَّلَمْ يُؤْذِ أَحَدًا فَهِيَ

په پټه خوله خطبه اوریدو لپاره حاضر سوی وي نه د چا تر غاړه اوښتی وي او نه یې چا ته تکلیف رسولی وي نو د هغه دا کار

كَفَّارَةٌ إِلَى الْجُمُعَةِ الَّتِيْ تَلِيْهَا وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ يَقُوْلُ (مَنْ

کفاره دی د دې جمعې څخه تر هغه جمعې پورې چې ددې سره لګېدلې ده بلکه د درو ورځو زیاتو د ګناه کفاره او دا له دې کبله چې الله تعالی فرمایي: کوم سړی چې

جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا). رواه ابوداؤد.

یوه نیکي وکړي هغه ته لس چنده ثواب ورکول کیږي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱/ ۶۶۵، رقم: ۱۱۱۳.

تشریح: (ان شاء اعطاه و انشاء منعه) د دې مطلب دادی چې هغه سړی د ادب خلاف او د حکم خلاف هغه وخت په دعاء کي بوخت دی ځکه که الله تعالی وغواړي نو یوازي په خپل فضل او کرم سره به د ده دعا قبوله کړي که د عدل له مخې هغه د دغه بد کار په وجه چې هغه په دعاء کي په بوخت کېدو سره د خطبې اوربدو څخه غافل سو نو د هغه دعا به قبوله نه کړي، د خطبې پر وخت په دعا کي بوخت کېدل د حنفیه په نزد مکروه دي او د نورو علماؤ په نزد حرام دی، د مشکوة په یوه بله نسخه کي لفظ د یلغوا په صیغه مضارع سره نقل سوې ده مګر صحیح بلغوا دی ځرنګه چې دلته نقل سوی دی ځکه چې دا د مخکنیو جملو سره سم دی.

(ولم یؤذ احدا) د دې مطلب دادی چې مسجد ته په راتلو سره هغه چا ته تکلیف ورنه کړي په دې توګه چې مثلا نه خو بې ځوک د هغه د ځای څخه پورته کړی او نه د چا د بدن پریو اندام ختلو سره کنبښتی یا همداسي نه خو د چا پر مصلی باندې د هغه د خوښې څخه پرته کنبښتی او نه د اوږې او پیاز په ډول بدیویه شیانو سره بې چاته تکلیف ورسوی.

د خطبې پر وخت خبري کول

﴿۱۳۱۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې

تَكَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَهُوَ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا وَالَّذِيْ

د خطبې پر وخت خبري وکړي نو هغه د هغه خره په ډول دی چې پر هغه کتابونه بار وي او څوک چې

يَقُوْلُ لَهُ أَنْصِتْ لَيْسَ لَهُ الْجُمُعَةُ . رواه أحمد .

يو چا ته ووايي چې پټه خوله سه نو د هغه هم جمعه نسته . احمد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱۱/ ۲۳۰.

تشريح : د (كمثل الحمار) مطلب دادی چې داسي سړی د هغه خره په ډول دی چې د هغه پر شا کتابونه واچول سي دا په اصل کي د عالم په علم نه کولو څخه کنايه ده او د دې خبري کنايه ده چې هغه سړی په ډېر زيات محنت او مشقت برداشتولو سره علم تر لاسه کړ خو د هغه څخه يې فائده وانه خيستل .

کوم سړی چې په خبرو کي مصروف سړي ته د چپتيا لپاره ووايي نو هغه ته هم د جمعې ثواب ځکه نه تر لاسه کيږي چې د هغه څخه داسي لغو او بې فائدې کلام صادر سو چې د هغه ممانعت ثابت سوی دی څرنګه چې د دې تفصيل د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت کي بيان سوی دی .

د خطبې پر وخت د رسول الله ﷺ د کلام وضاحت

په يوه روايت کي راځي چې يو وار د جمعې په ورځ رسول الله ﷺ خطبه ويل چې يو اعرابي راغلی هغه عرض وکړ اې د الله رسوله زما مال تباه سو ، زما اهل او عيال ووژل سوه ، زما لپاره دعا وکړه ، رسول الله ﷺ په هغه حالت کي خپل لاس مبارک پورته کړ او دعا يې وکړه يا همداسي په ځيني روايتونو کي د خطبې په حالت کي خبري اتري کول ثابت دي نو د دې روايتو په باره کي څو احتمال دي يا خو دا چې د رسول الله ﷺ په دعا کي مصروف کېدل يا خبري اتري کول د خطبې په حالت کي نه وو يا خو د خطبې پيل کېدو څخه مخکي يا د خطبې شروع کېدو وروسته به رسول الله ﷺ په دعا يا خبرو اترو کي مصروف سوی وي يو احتمال

دادی چې ددې روایتو تعلق د هغه زمانې سره دی کله چې د خطبې په حالت کې د دې ډول مصروفیت څخه منعه نه وه سوې یا دا به وویل سې چې دا د رسول الله ﷺ د ځانګړتیاوو څخه دی.

د جمعې ورځ د اختر ورځ ده

﴿۱۳۱۵﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ السَّبَّاقِ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبید بن السباق رضی الله عنه څخه مرسلا روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل

وَسَلَّمَ فِيْ جُمُعَةٍ مِّنَ الْجُمَعِ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللهُ عِيْدًا

یوه ورځ په جمعه کې د جمعو: ای د مسلمانانو ټولې! الله تعالی د جمعې دا ورځ اختر ګرځولې ده

فَاغْتَسِلُوْا وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ طِيْبٌ فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ يَّمَسَّ مِنْهُ وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ.

رواه مالك ورواه ابن ماجه عنه وهو عن ابن عباس متصلا.

نو تاسو په جمعه کې غسل کوئ که خوشبویي درسره وي هغه ولګوئ او مسواک خامخا ووهئ. (مالک)

تخریج: الامام مالک في موطا ۱\ ۶۵، رقم: ۱۱۳ وابن ماجه ۱\ ۳۴۹، رقم: ۱۰۹۸.

تشریح: مطلب دادی چې د جمعې ورځ اختر یعني د فقیرانو، اولیاء الله او صالحینو لپاره د خوشحالۍ او د زیب و زینت ورځ ده په دې ورځ ولمبېږئ یعني په ښه ډول صفائي او پاکي وکړئ او عطر استعمال کړئ عطر داسې پکار دي چې په هغه کې عطر وي خو رنګ نه وي پکښې.

علامه ابن حجر رحمة الله علیه فرمایي چې په عطرونو کې افضل عطر داسې مشک دي چې په هغه کې د ګلاب ګډون وي ځکه چې رسول الله ﷺ به اکثر د مشکو خوشبو استعمالول.

د حدیث الفاظ (ومن کان عنده طیب فلا یضره ان یمس) په باره کې دا اشکال پیدا کیږي چې دا بیان هلته استعمالیږي چیرې چې د یو ګناه ګمان وي مګر عطر استعمالول او په خاصه توګه د جمعې په ورځ چې سنت موکده دي نو په دې وخت کې یې دا ولې اختیار کړل؟ نو جواب به دا وي چې ځینو مسلمانانو به دا ګمان کوی چې د عطرو په استعمال کې د ښځو استعمال زیات وي او ښځې زیات د دې د استعمال عادت وي ځکه د خلکو لپاره به د دې استعمال مناسب نه وي د دې ګمان ګناه نفي ده په پیرایه کې بیان سوي دي چې څرنګه په طواف یعني د صفا او مروه ارکان حج دی او واجب دي مګر د دې باوجود په دې باره کې الله تعالی دا پیرایه

بيان کړ (لا جناح عليه ان يطوف بهما) يعني په دې کي څه حرج نسته چې د صفا او مروه سعي وکړل سي.

د حديث د اخري الفاظو مطلب دادی چې د جمعې په ورځ په خاصه توګه په غسل او اوداسه کې مسواک استعمالول پکار دي.

د جمعې په ورځ غسل کول او خوشبويي لګول

﴿۱۳۱۶﴾: وَعَنِ الْبَرَّاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقًّا عَلَى

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: واجب ده

الْمُسْلِمِيْنَ أَنْ يَّغْتَسِلُوْا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلْيَمَسَّ أَحَدُهُمْ مِنْ طِيْبِ أَهْلِهِ فَإِنْ

پر مسلمانانو چې د جمعې په ورځ غسل وکړي که په کور کې خوشبويي وي هغه دي ولګوي که

لَّمْ يَجِدْ فَالْمَاءُ لَهُ طِيْبٌ. رواه أحمد والترمذي وقال هذا حديث حسن.

خوشبويي نه وي نو اوبه يې خوشبويي ده (يعني چې غسل په وکړي). احمد، ترمذي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\ ۲۸۲، والترمذي ۲\ ۴۰۷، رقم: ۵۲۸.

تشريح: (من طيب اهله) ځکه فرمايل سوي دي چې بښځي اکثر عطر لري ګويا دلته دې ته اشاره ده که چيرې د يو چا سره عطر نه وي نو هغه دي هې د خپل بښځي څخه واخلي مګر د بښځي عطر داسي نه وي چې په هغه کې د رنګ ګډون وي (فالماء طيب له) مطلب دادی که د چا سره عطر نه وي او د هغه په کور کې د بښځي وغيره سره هم نه وي نو هغه دي په اوبو سره ولمبيږي چې اوبه په درجه د خوشبويي وي ځکه چې اوبه د پاکۍ او صفائي سبب دی او د بدن بدبويي په دې اوبو سره ليرې کيږي.

دا حديث او پورته حديث د امام مالک رحمة الله عليه د مذهب تائيد کوي ځکه د هغه په نزد د جمعې په ورځ غسل کول واجب دی مګر د جمهور علماء په نزد د جمعې په ورځ غسل واجب نه دی نو دې حضراتو دا حديث پر سنت محمول کړی دی ځکه چې د دې څخه پرته په نورو ډيرو حديثونو کې دا ثابته ده چې د جمعې په ورځ غسل واجب نه دی بيا هم علماء ليکي چې د جمعې په ورځ غسل نه کول مکروه دی.

بَابُ الْخُطْبَةِ وَالصَّلٰوةِ

د خطبې او د جمعې د لمانځه بيان

خطبه په لغات کي خبرو اترو او هغه کلام ته ويل کيږي چې د هغه په ذريعه خلک مخاطب کړل سي مګر د شريعت په اصطلاح کي خطبه هغه کلام ته وايي چې پر پند، نصيحت، ذکر، درود، سلام او شهادتين باندې مشتمل وي.

د جمعې په لمانځه کي خطبه فرض او شرط ده، زمونږ د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد د خطبې کم تر کمه مقدار سبحان الله يا الحمد لله يا لااله الا الله ويل دي که څه هم د رسول الله ﷺ څخه اوږده خطبه نقل سوې ده مګر اوږده خطبه واجب يا سنت ده خو امام ابويوسف رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه فرمايي چې اوږد ذکر، پند او نصيحت چې هغه ته په عرف عام کي خطبه ويل کيږي ضروري ده يوازې سبحان الله يا الحمد لله ويلو ته خطبه نسي ويل کېدای، امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي تر څو پوري چې دوې خطبې نه وي ويل سوي خطبه نه جائز کيږي د دې ټولو امامانو مذهبونه د فقهي په کتابونو کي مذکور دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د جمعې د لمانځه وخت

﴿۱۳۱۷﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ حِيْنَ تَمِيْلُ الشَّمْسُ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د جمعې لمونځ هغه وخت کوی چې کله به زوال و سو. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۳۸٦، رقم: ۹۰۴.

تشريح: د جمعې د لمانځه په اړه د رسول الله ﷺ دا معمول وو چې د يخ په وخت کي به د لمر د زوال کېدو سره به ېې د جمعې لمونځ کوی مګر د سختي ګرمي په ورځو کي به ېې د يخ په وخت کي کوی څرنګه چې وړاندي به د انس رضي الله عنه د يو بل روايت څخه معلومه سوه.

﴿۱۳۱۸﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ مَا كُنَّا نَقِيْلُ وَلاَ نَتَغَدّٰى إِلاَّ بَعْدَ الْجُمُعَةِ. متفق عليه

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چې د جمعې د لمانځه دمخه به مونږ نه قيلوله (د غرمې خوب) کول او نه به مو ډوډۍ خوړل مګر د جمعې تر لمونځ کولو وروسته به مو کول. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۴۲۷، رقم: ۹۳۹ ومسلم ۲\ ۵۸۸، رقم: ۳۰-۸۵۹.

تشريح: د غرمې په وخت کې ارام کولو ته قيلوله وايي که بيده سي يا بيده نسي د حديث حاصل دادی چې مونږ به د جمعې په ورځ په ډوډۍ خوړلو او قيلوله کې نه بوخت کېدلو، بلکه وختي به د جمعې د لمانځه لپاره تلو د لمانځه کولو وروسته به مو ډوډۍ خوړل او قيلوله به مو کوله.

﴿۱۳۱۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَدَّ الْبَرْدُ بَكَّرَ بِالصَّلاَةِ وَإِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلاَةِ يَعْنِي الْجُمُعَةَ. رواه البخاري

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د سخت يخ په ورځو کې د جمعې لمونځ وختي کوی او د سختي ګرمۍ په ورځو کې به يې لږ وروسته کوی. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۳۸۸، رقم: ۹۰۶.

د جمعې لومړنی اذان

﴿۱۳۲۰﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدٍ قَالَ كَانَ النِّدَاءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوَّلَهُ إِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِيْ بَكْرٍ وَّعُمَرَ

د حضرت سائب بن يزيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به د جمعې لومړی اذان هغه وو چې د امام پر منبر د ناستي وروسته به کېدی، د حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې هم په دې عمل کېدی

فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ وَكَثُرَ النَّاسُ زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ . رواه البخاري

بيا چې د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت زمانه سول او خلک زيات سول نو دريم آذان زيات کړل سو . بخاري

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۳۹۳، رقم: ۹۱۲.

د لغاتو حل : (الزوراء): موضع في سوق المدينة (د مدينې په بازار کې يو ځای).

تشريح : د رسول الله ﷺ په زمانه کې د جمعې د اذان په اړه دا معمول وو چې کوم وخت به رسول الله ﷺ د جمعې د لمانځه لپاره تشريف راوړ او پر منبر به کښېنستی نو اذان به يې کوی د جمعې د اول اذان چې د لمانځه د وخت شروع کېدو څخه وروسته کېږي وخت تاکلی نه وو د رسول کريم ﷺ د زمانې وروسته د حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې هم همداسې معمول وو مګر حضرت عثمان غني رضي الله عنه چې خليفه سو او هغه دا وليدل چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې مسلمانان په کم شمېر کې وه او هغوی هم مسجد ته نژدې اوسېدونکي وه او اکثر مسلمانان به هر وخت د الله تعالی په دربار کې حاضر وه او اوس نه يوازې دا چې د مسلمانانو شمېر ډېر زيات سوی دی بلکه اکثر مسلمانان د مسجد څخه په لېرې لېرې سيمو کې اوسي او په خپل کاروبار کې بوخت وي نو هغه دا مناسب وګڼل چې کله د لمانځه وخت راسي نو اذان دي وکړل سي چې کوم خلک په لېرې لېرې سيمو کې اوسېږي هغوی دي هم په خطبه کې حاضر سي همداسې اول اذان کول شروع سو نو د دريم اذان څخه مراد اول اذان دی مګر د رسول الله ﷺ په زمانه کې تاکلي دوه اذانونه يعني يو خو هغه اذان چې د خطبې پر وخت کېږي او دوهم د تکبير وروسته ځکه دی ته دريم اذان ويل کېږي .

په هرحال هغه اذان چې د جمعې د لمانځه لپاره تر ټولو مخکې کېږي حضرت عثمان غني رضي الله عنه تاکلی دی او هغه هم سنت دی دې ته بدعت نسي ويل کېدای ځکه چې د خلفاء راشدينو رضي الله عنهم فعل او د هغوی تاکلې طريقه هم په سنت کې شمېرل کېږي .

اوس خو غالبا په هيڅ ځای کې دا طريقه رواج نه ده مګر مخکې په ځينو ځايو کې دا معمول وو چې د سنت کولو پر وخت به يې يو اذان کوی دا نه خو د رسول الله ﷺ په زمانه وه تاکل سوې وه نه د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين او نه د تابعينو رحمة الله عليهم په زمانه تاکل سوې وه او نه په اکثرو اسلامي هيوادو او ښارو کې هغه وخت اذان کېدی، معلومه

نه ده چي کوم سړي دا بدعت شروع کړی دی، علماء لیکي چي د جمعې په لمانځه کي په تلوار سره د هغه تیاري کول او رسېدل واجب دی.

دوې خطبې

﴿۱۳۲۱﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به

خُطْبَتَانِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيُذَكِّرُ النَّاسَ فَكَانَتْ صَلَاتُهُ قَصْدًا وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا. رواه مسلم

دوې خطبې ویلې او د هغو په منځ کي به کښېنستی او په دواړو خطبو کي یې قرآن کریم وایه او نصیحت به یې کوی او دده مبارک لمونځ به اوسط وو (نه ډیر اوږد نه ډیر لنډ) او خطبه به یې هم د اوسطي درجې وه. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۲\۵۸۹- ۵۹۱، رقم: ۳۴- ۸۶۲.

تشریح: رسول الله ﷺ به د دواړو خطبو په مینځ کي دومره کښېنستی چي د بدن مبارک هر اندام به خپل خپل ځای ته راتلی د دواړو خطبو په مینځ کي ناسته یوازي دومره تاکل سوې ده چي په هغه کي دري واره سبحان الله ویل کېدای سي د دواړو خطبو په مینځ کي ناسته واجب نه ده مګر سنت ده په دې خبره هم پوهېدل پکار دي چي په صحیح توګه سره دا ثابته نه ده چي رسول الله ﷺ به د دواړو خطبو په مینځ کي په ناستي سره دعا غوښتل.

لنډه خطبه وایاست

﴿۱۳۲۲﴾: وَعَنْ عَمَّارٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ

د حضرت عمار رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلې دي چي فرمایل یې:

طُولَ صَلَاةِ الرَّجُلِ وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ فَأَطِيلُوا الصَّلَاةَ وَاقْصُرُوا

لمونځ اوږد کول او خطبه لنډه ویل د هوښیارتوب نښه ده نو تاسو خپل لمونځ اوږد کوئ او

الْخُطْبَةَ وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا. رواه مسلم

خطبه لنډه وایاست او ځینې بیان سحر وي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۵۹۴، رقم: ۴۷-۸۶۹.

د لغاتو حل: (مَئِنة): ای علامة یتحقق بها فقهه (ځیرکتوب).

تشریح: د خطبې په حالت کې د خلکو توجه د مخلوق یعنې خطبې ویونکې ته وي او حال دا چې د لمانځه په حالت کې د توجه مرکز د الله تعالی ذات وي، پورتنې حدیث په ډېر بلیغ انداز کې دا بنودل غواړي چې د انسان د هوښیارتوب غوښتنه دا کېدل پکار ده چې هغه حالت زیات اوږد کړل سي په کوم کې چې د بنده توجه د خپل خالق خوا ته وي او هغه حالت ډېر مختصر کړل سي په کوم کې چې د ده توجه د مخلوق خوا ته وي مګر په دې خبره باندې پوه سی چې دلته د لمانځه د اوږدولو څخه مراد دادی چې لمونځ د سنت موافق وي یعنې د لمانځه کولو په اړه چې کومه درجه د رسول الله ﷺ څخه نقل او ثابته ده د هغه څخه نه طویل وي او نه مختصر، همداسې په دې حدیث او په پورتنې حدیث کې به مطابقت پیدا سي.

(ان من البیان سحرا) ځکه چې ځینې بیان سحر یعنې جادو دی، ګویا دا د خطبې د مختصر کولو په اړه دلیل بیانیږي چې د هغه مطلب دادی چې خطبه داسې کول پکار ده چې د قل او دل پوره پوره مصداق وي یعنې د هغه الفاظ مختصر مګر د حقائقو او معنی درياب پکښې ځای سوي وي څرنګه چې د سحر په مختصر الفاظو کې ډېر زیات تاثیر وي، همداسې په هغه بیان او تقریر کې هم چې د الفاظ او معنی په اعتبار جامع او مانع وي یو عظیم تاثیر وي چې د هغه په وجه د اورېدونکو زړونه د یوه حالت څخه دوهم حالت ته مائل او منتقل کیږي نو د حدیث په دې الفاظو کې د بیان تقریر عریف هم دی او مذمت هم په دې ترتیب که یو بیان د اورېدونکو زړونه او دماغ د بدی څخه د نیکي خوا ته مایل کړي نو هغه ښه دی او کوم بیان چې د اورېدونکو په ذهن او په فکر کې د نیکی د لارې څخه د لیرې کولو سره د بدي لارې ته مائل کړي نو هغه خراب دی.

د رسول الله ﷺ خطبه

﴿۱۳۲۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ خطبه ویل

احْمَرَّتْ عَيْنَاهُ وَعَلاَ صَوْتُهُ وَاشْتَدَّ غَضَبُهُ حَتَّى كَأَنَّهُ مُنْذِرُ جَيْشٍ يَقُولُ

نو سترګي به يې سرې سوې آواز به يې لوړ سو او سخت غضب ناک به سو لکه چي رسول الله ﷺ بيرونکی دی د خلکو د لښکر څخه په دې الفاظو چي

صَبَّحَكُمْ وَمَسَّاكُمْ وَيَقُولُ بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ وَيَقْرُنُ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى. رواه مسلم

د دښمن لښکر به سبا يا ماښام تاسو لوټ کړي او فرمايل به يې زه او قيامت داسي راليږل سوي يو د دې په فرمايلو سره به يې منځنۍ ګوته او د شهادت ګوته په خپلو کي سره يو ځای کړې .مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۵۹۲، رقم: ۴۳- ۸۶۷.

تشريح: د الله تعالی د لويي او د امت مرحومه د کوتاهيو د ليدني په وجه به د خطبې په وخت کي د رسول الله ﷺ سترګي مبارکي سرې سوې همداسي د امت د غم او فکر په وجه يا دا چي د اورېدونکو غوږونو ته د خپلو الفاظو رسولو لپاره د رسول الله ﷺ اواز به پورته کېدی چي د خلکو زړونه متاثر سي او هغه وخت به د رسول الله ﷺ غصه د امت د اعتقاد او عمل له کبله نه تېزېدل.

په هرحال د حديث خلاصه داده چي څرنګه د خپل قوم او لښکر غفلت شعاري او کمي په ليري کولو سره قومونه او لښکرونه د دښمن د خطرناکو ارادو او منصوبه بندو د بېريدو څخه خپل اواز پورته کوي نو د هغه سترګي سرې کيږي او غصه يې تيزيږي همداسي د خپل امت د غفلت شعاري له کبله د خطبې پر وخت به د رسول الله ﷺ هم دا کيفيت او حالت وو.

د حديث د اخري جملې مطلب دادی چي څرنګه منځنۍ ګوته د شهادت د ګوتي څخه لږ اوږده ده همداسي زه هم د قيامت څخه بس لږ مخکي دنيا ته راغلم د قيامت د راتلو وخت زما د پيغمبرۍ د وخت سره متصل دی زما وروسته ډېر ژر قيامت راتلونکی دی.

په خطبه کي آياتونه ويل

﴿۱۳۲۴﴾: وَعَنْ يَّعْلِيْ بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ (وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ). متفق عليه

د حضرت يعلي بن اميه رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه پر منبر دا آيت اوريدلی

دی : (وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ) . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۵۶۸، رقم: ۴۸۱۹ ومسلم ۲\ ۵۹۴، ۵۹۵، رقم: ۴۹- ۸۷۱.

تشريح : په دې آيت کي د دوزخيانو او د دوزخ د سردار د سوال او جواب بيان دی چې دوزخيان به د دوزخ د عذاب د شدت څخه د بېربدو سره وايي اې سرداره ته خپل پروردګار ته عرض وکړه چې هغه زمونږ کار خلاص کړي مخکي د دوزخ د مشر جواب هم ذکر دی هغه به وايي انک ماکثون يعني مرګ او د دې عذاب څخه ستاسو د خلاصېدو ارمان باطل او بې کاره دی تاسو خو به همېشه په دغه عذاب کي اخته ياست نو رسول الله ﷺ به د دوزخ د عذاب څخه د خلکو د بېربدو لپاره دا آيت تلاوت کوی .

﴿۱۳۲۵﴾: وَعَنْ اُمِّ هِشَامٍ بِنْتِ حَارِثَةَ بْنِ نُعْمَانَ قَالَتْ مَا أَخَذْتُ ق وَالْقُرْآنِ

د حضرت ام هشام بنت حارثه بن نعمان څخه روايت دی چې ما سورة ق والقرآن

الْمَجِيدِ إِلاَّ عَنْ لِسَانِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهَا كُلَّ يَوْمٍ

المجيد د رسول الله ﷺ د خولې مبارکي څخه زده کړی دی چې هره

جُمُعَةٍ عَلَى الْمِنْبَرِ إِذَا خَطَبَ النَّاسَ . رواه مسلم

جمعه به يې په خطبه کي پر منبر خلکو ته وايه . مسلم .

تخريج : صحيح مسلم ۲\ ۵۹۵، رقم: ۵۱- ۸۷۳.

تشريح : په خطبه کي په يو وار د رسول الله ﷺ څخه پوره سورت ويل ثابت نه دي ځکه د دې حديث مفهوم دا معلوميږي چې رسول الله ﷺ به د هري جمعې په خطبه کي د سورت لږ لږ برخه تلاوت کول همداسي بې بي ام هشام رضي الله تعالى عنها به د رسول الله ﷺ څخه هره جمعه په لږ لږ اورېدو سره پوره سورت يا د کړی وي . (والله اعلم)

د لنګوټي په تړلو سره خطبه ويل

﴿۱۳۲۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ قَدْ أَرْخَى طَرَفَيْهَا بَيْنَ كَتِفَيْهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. رواه مسلم

د حضرت عمرو بن حريث رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د جمعې په ورځ په داسي

حال کي خطبه ويل چي تورہ لنگوټه به يې پر سر کړي وه او دلنگوټې دواړي شملې به يې د اوږو په منځ کي پرتې وي . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۲\ ۹۹۰، رقم: ۴۵۲-۱۳۵۹.

تشريح : په يو ضعيف حديث کي نقل دي چي په کوم لمانځه کي لنگوټه ترل سوې وي هغه ته د اويا لمنځو فضيلت حاصليږي په نسبت د هغه لمنځو چي بېله لنگوټې کړل سوي وي .

په هر حال علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي د پورتني حديث څخه دا مفهوم اخيستل کيږي چي د جمعې په ورځ ښکلا اختيارول، جامې اغوستل، تورہ لنگوټه ترل او د لنگوټې دواړي غاړې د اوږو په مينځ کي را زړول سنت دي .

د ميرک شاه رحمة الله عليه قول ددې حديث په باره کي دادی چي د کومي خطبې په باره کي دلته ښودل سوي دي دا خطبه د رسول الله ﷺ د مرض الموت په وخت کي ارشاد فرمايل سوې ده د زيلعي رحمة الله عيله وينا ده چي د توري لنگوټې استعمالول سنت دی صاحب مدخل ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ لنگوټه مبارکه اوه لاسه وه .

سيوطي رحمة الله عليه داسي ډېر صحابه او طابعين ذکر کړي دي چي تورہ لنگوټه به يې ترل په هغوی کي انس بن مالک رضي الله عنه ، عمار ابن ياسر رضي الله عنه ، معاويه رضي الله عنه ، ابو درداء رضي الله عنه ، براء رضي الله عنه ، عبد الرحمان بن عوف رضي الله عنه ، وائله رضي الله عنه ، سعيد بن مسيب رضي الله عنه ، حسن بصري او سعيد بن جبير وغيره هم دي . نووي رحمة الله عليه ليکلي دي چي لنگوټه په دواړو طريقو سره ترل جائز ده که شمله يې ايله کړې وي يا نه وي، په دې کي يوه طريقه هم مکروه نه ده .

د خطبې پر وخت تحية المسجد کول

﴿۱۳۲۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په خطبه کي فرمايلي دي

إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالإِمَامُ يَخْطُبُ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ وَلْيَتَجَوَّزْ فِيهِمَا . رواه مسلم

هر کله چي په تاسو کي يو څوک د جمعې په ورځ مسجد ته ولاړ سي او امام خطبه وايي نو هغه ته پکار دي چي دوه لنډ رکعتونه وکړي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۵۹۷، رقم: ۵۹- ۸۷۵.

تشريح: امام شافعي رحمة الله عليه دا روايت پر تحية المسجد محمول کړی دی د هغه په نزد د تحية المسجد لمونځ واجب دی که څه هم امام خطبه وايي، دا مذهب د امام محمد رحمة الله عليه هم دی دا دواړه حضرات دا حديث خپل دليل جوړوي چې تحية المسجد واجب دی ځکه خو رسول الله ﷺ د خطبې په وخت کې د دې کولو تاکيد کړی دی.

د حنفيه په نزد تحية المسجد د جمعې څخه پرته په نورو وختو کې واجب نه دی نو د خطبې په وخت به په اولی طريقې سره واجب نه وي د امام مالک رحمة الله عليه او سفيان ثوري رحمة الله عليه هم دا مذهب دی جمهور علماء صحابه رضي الله تعالى عنهم او تابعين همنوا دي.

د دې حضراتو له خوا د دې حديث تاويل دا کيږي چې دلته د خطبې څخه مراد اراده ده يعني د رسول الله ﷺ دا ارشاد مبارک دی چې دوه رکعته هغه وخت هم کول کيږي کله چې امام د خطبې لپاره ورسيږي او د خطبې ورکولو اراده کوي نه دا چې بالفعل خطبه وايي د دې تاويل هغه قرائن او صحيح احاديث دي چې د هغه څخه د خطبې پر وخت د لمانځه حرمت ثابت سوی دی د رسول الله ﷺ ارشاد دی: کله چې امام د خطبې لپاره منبر ته روان سي نو د هغه وخت څخه خبري اتري نه دي صحيح نه لمونځ صحيح دی، يوازي دا ارشاد نبوي نه بلکه د حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت عمر رضي الله عنه په باره کې نقل دي چې هغوی به هم د امام د خطبې لپاره د راوتلو وروسته کلام او لمونځ کول دواړه مکروه ګڼل نو د صحابه رضي الله تعالى عنهم قول حجت دی او زمونږ په نزد د هغه تقليد د واجب که سنت څخه منقول يو شی د هغه مخالف نه وي.

په صحيح بخاري او مسلم کې د حضرت جابر رضي الله عنه څخه دا روايت په متعدد طريقو سره نقل دی چې يو سړی په مسجد کې هغه وخت داخل سو کله چې رسول الله ﷺ خطبه ورکول، رسول الله ﷺ د هغه سړي څخه پوښتنه وکړه چې تا تحية المسجد کړي دي؟ هغه عرض وکړ چې يا، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دوه رکعته لمونځ وکړه او مختصر يې وکړه د دې تاويل دا کيدای سي چې دا واقعه د هغه وخت ده چې د خطبې په وخت کې د لمانځه کولو ممانعت نه وو سوی يا دا اجازه يوازي د هغه سړي لپاره مخصوص وو د ځينو حضراتو تحقيق دادی چې دا واقعه د رسول الله ﷺ د خطبې شروع کولو مخکې پېښه سوې وه.

شيخ ابن همام رحمة الله عليه چې په دې اړه کومه خبره فرمايلې ده هغه زياته مناسبه ده هغه فرمايي په دې حديث کې او په هغو حديثونو کې چې د هغه څخه د خطبې د وخت کولو ممانعت

ثابتيږي څه اختلاف پکښې نه لازميږي، کېدای سي کله چې سړی په مسجد کې داخل سو او رسول الله ﷺ هغه ته د لمانځه کولو لپاره وفرمايل نو رسول الله ﷺ خطبه درولې وه بيا رسول الله ﷺ خطبه پوره کړې وه.

د ابن همام رحمة الله عليه دا خبره يوازې تر دغه قياس او تاويل پورې محدوده نه ده مګر حقيقت دادی چې صورت حال همداسې سوی دی د دارقطني رحمة الله عليه روايت بالکل په واضح الفاظو کې دا وضاحت کړی دی چې رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل چې دوه رکعته لمونځ وکړه بيا تر څو پورې چې هغه سړی د لمانځه څخه فارغ سوی نه وو نو رسول الله ﷺ چپ وو د لمانځه څخه د فارغه کېدو وروسته رسول الله ﷺ بيا خطبه مکمله کړې وه.

يو رکعت د امام سره کول

﴿۱۳۲۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ مَعَ الْإِمَامِ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې د امام سره يو رکعت ونيوی نو هغه پوره لمونځ ونيوی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۵۷، رقم: ۵۸۰، ومسلم ۱\ ۴۲۴، رقم: ۱۶۲- ۶۰۷.

تشريح: دا حکم په عامه توګه د ټولو لمنځو لپاره دی د جمعې لپاره مخصوص نه دی په کتاب الصلوة باب ما على المأموم کې ددغه مضمون حديث تير سوی دی چې (من ادرک رکعة قد ادرک الصلوة) د دې وضاحت هلته هم سوی دی مګر دا حديث چې دلته نقل کيږي امام شافعي رحمة الله عليه د جمعې په لمانځه سره مخصوص او مقيد کړی دی او د دې بنياد هغه د ابوهريره رضي الله عنه پر هغه روايت ايښی دی کوم چې د دې باب په اخر کې راځي.

د فقه حنفي په مشهور کتاب هدايه کې ليکلي دي چې کوم سړي ته د جمعې په لمانځه کې د امام سره د لمانځه کومه برخه حاصله سي هغه دي د امام سره اداء کړي او پر هغه برخه باندې د جمعې بناء کولو سره پاته لمونځ دي پوره کړي د دې حديث دا دليل دی چې (ما ادرکتم فصلوا ما فاتکم فاقضوا) يعني د لمانځه کومه برخه چې د امام سره ترلاسه کړئ هغه دي ادا کړي او څه چې پاته سي هغه دي پوره کړي د دې مطلب داسو که يو سړی د جمعې په لمانځه کې بالکل په اخر کې په داسې حال کې شريک سي چې امام په التحيات کې وي يا په سجده سهو کې وي

نو هغه ته پکار ده چې په هغه حالت کې په جماعت کې شریک سي او د امام سره د جمعې د لمانځه کومه برخه چې هغه لاندې کړې ده پر هغه د جمعې بناء کولو سره پاته لمونځ دي پوره کړي، د امام یوسف او امام ابو حنیفة رحمة الله علیهما هم دا مذهب دی.

امام محمد رحمة الله علیه فرمایي که یو سړی د امام سره د جمعې د دوهم رکعت اکثره برخه ترلاسه کوي نو هغه ته پر هغه د جمعې بناکول پکار ده مګر کوم سړی چې د جمعې دوهمه برخه ترلاسه نه کړي نو هغه دي پر هغه د جمعې بناء نه کوي مګر د ماپښین بناء دي وکړي.

د دوهم رکعت د اکثري برخي د ترلاسه کولو څخه مراد د رکوع ترلاسه کول دي یعني که یو سړی د دوهم رکعت په رکوع کې هم نسي ګډ نو هغه اکثره برخه دي لاندې کړي او که امام د رکوع څخه سر په پورته کولو سره هغه په جماعت کې ګډ سي نو هغه ته بهٔ اکثره برخه ترلاسه کول نه وایو. شیخ ابن همام رحمة الله علیه فرمایلي دي چې امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام ابو یوسف رحمة الله علیه د خپل پورتني مذهب بنیاد چې پر کوم حدیث ایښی دی هغه حدیث مطلق دی د جمعې سره د هغه تخصیص نسته.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د نبي کریم ﷺ د خطبې طریقه

﴿۱۳۲۹﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به دوې خطبې ویلې

كَانَ يَجْلِسُ إِذَا صَعِدَ الْمِنْبَرَ حَتَّى يَفْرُغَ أُرَاهُ الْمُؤَذِّنُ ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ ثُمَّ

پر منبر به کښینستی بیا چې کله مؤذن به د آذان څخه فارغ سو نو رسول الله ﷺ به ودریدی او خطبه به یې ویل بیا

يَجْلِسُ وَلَا يَتَكَلَّمُ ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ . رواه أبو داود .

د یوې خطبې وروسته به کښینستی او هیڅ خبره به یې نه کول بیا به ودریدی او دوهمه خطبه به یې ویل. ابو داؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱۱ ۶۵۷، رقم: ۱۰۹۲.

تشریح : د حدیث د الفاظ (اذا صعد المنبر) سره سم علماء لیکي چې پر منبر باندې په درېدو سره خطبه ویل مستحب ده د دواړو خطبو په مینځ کې د ناستې د مقدار په باره کې علامه ابن حجر رحمة الله علیه فرمایلي دي غوره داده چې د سورة اخلاص قل هو الله احد ویلو په اندازه دي کښینې.

(خبري به ېې نه کولې) : د دې مطلب دادی چې د دواړو خطبو په مینځ کې به رسول الله ﷺ نه یو دعا کول او نه به ېې څه ویل.

مسئله داده چې په دوهمه خطبه کې د رسول الله ﷺ د آل، اصحاب او ازواج مطهراتو، خلفاء راشدینو، حضرت حمزه رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنه لپاره دعا کول مستحب ده.

په شرح کنیه کې لیکلي دي چې د پاچهانو داسې تعریف چې غلط وي او د هغوی داسې اوصاف بیانول چې د هغه سره هغوی متصف نه وي سخت مکروه یعني مکروه تحریمي دی ځکه چې په داسې عبادت سره ګناه یعني درواغ یو ځای کول لازمیږي، د دې مسئلې شدت ددې څخه په ښه ډول واضح کیږي چې زمونږ ځینې امامانو خو دا ویلي دي چې زمونږ د زمانې پاچاهانو ته عادل ویل د کفر حد ته نژدې کیږي، په حدیث کې چې دا بیان سوی دی چې رسول الله ﷺ د دواړو خطبو په مینځ کې خبري نه کولې نو د دې په باره کې شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله علیه تشریح کړې ده کوم چې پورته بیان سوې ده مګر علي قاري رحمة الله علیه د شرح طیبي څخه نقل کړي دي چې د دواړو خطبو په مینځ کې د قرآن ویل غوره دي ځکه چې د ابن حبان رحمة الله علیه یو روایت دی چې د هغه مفهوم دادی : کله چې به رسول الله ﷺ د دواړو خطبو په مینځ کې کښېنستی نو د کتاب الله ایاتونه به ېې ویل ځینې حضراتو ویلي دي چې په دې دوران کې سورة اخلاص ویل مستحب دی، په هرحال داسې معلومیږي چې د حدیث د دې جملې د تشریح پرې وخت به د شیخ عبدالحق رحمة الله علیه دا روایت نه وو. والله اعلم.

خطبې ته د ناستې طریقه

﴿۱۳۳۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَوٰى عَلَى الْمِنْبَرِ اِسْتَقْبَلْنَاهُ بِوُجُوْهِنَا . رواه الترمذي وقال هذا حديث لا نعرفه إلا من حديث محمد بن الفضل وهو ضعيف ذاهب الحديث .

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ پر منبر کښېنستی نو

مخامخ به سوو موږ ده ته په مخونو خپلو سره ، ترمذي ويلي دي دا موږ ته يوازي د محمد بن فضل څخه څرګنده ده چې ضعيف دی او د هغه حديث يادونه پاته کېدل .

تخريج : سنن الترمذي ۲\ ۳۸۳، رقم: ۵۰۹.

تشريح : د دې حديث څخه معلومه سوه چې د خلکو لپاره دا مستحب ده چې هغوی د خطبې پر وخت د خطبې اورېدو لپاره خپل مخ د خطيب خواته متوجه کړي او کښېني همداسي خطيب دي هم خلکو ته مخ په متوجه کېدو سره خطبه شروع کړي .
د حنفيه په نزد مسئله داده چې کله خطيب د خطبې لپاره پر منبر کښېني نو خلکو ته دي سلام نه کوي خو امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه د دې څخه اختلاف کړی دی .

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

نبي کريم ﷺ به خطبه په ولاړه ويل

﴿۱۳۳۱﴾: عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به خطبه ويل

قَائِمًا ثُمَّ يَجْلِسُ ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا فَمَنْ نَبَّأَكَ أَنَّهُ كَانَ يَخْطُبُ جَالِسًا

په ولاړه ويا به کښېنستی ويا به ودريدی او خطبه به يې ويل ، کوم چا چې تا ته دا خبر درکړی دی چې رسول الله ﷺ به په ناسته خطبه ويل

فَقَدْ كَذَبَ فَقَدْ وَاللهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ أَكْثَرَ مِنْ أَلْفَيْ صَلَاةٍ . رواه مسلم

هغه دروغجن دی ما د رسول الله ﷺ سره تر دوو زرو زيات لمنځونه کړي دي .مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۲\ ۵۸۹، رقم: ۳۵- ۸۶۲.

تشريح : د دوو زرو څخه زيات لمنځونو څخه يوازي د جمعې لمنځونه مراد نه دي بلکه مطلب دادی چې جمعه او د جمعې پرته نور تر دوو زرو زيات لمنځونه ما د رسول الله ﷺ سره کړي دي ځکه چې رسول الله ﷺ تر ټولو اوله جمعه مدينې منورې ته په راتلو سره کړي وه او په مدينه کې د رسول الله ﷺ ټول وخت د اقامت لس کاله وو همداسي د رسول الله ﷺ په ژوند کې د ټولو جمعو اندازه تر پنځو سوو زياته وه، په هرحال د حضرت جابر رضي الله عنه مقصد خو د رسول الله ﷺ

سره د معیت او رفاقت (ملګرتوب) زیاتوب بیانول دی.

په شرح منیه کي دا مسئله لیکلې ده چې کوم ښار په جنګ او جدل سره او د توري په ذریعه فتح سوی وي لکه مکه مکرمه چې فتح سوې ده نو هلته خطیب ته په توري سره خطبه ویل او د کوم ښار او سیدونکي چې په خپله خوښه مسلمانان سي یعني اسلام قبول کړي لکه مدینه منوره نو هلته بېله توري خطبه ویل پکار ده.

په ینا بیع کي لیکلي دي چې دوهمه خطبه د اولي خطبې په نسبت په کرار اواز سره ویل پکار ده.

﴿۱۳۳۲﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ أَنَّهُ دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ ابْنُ أُمِّ

د حضرت کعب بن عجرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه مسجد ته ننوتی او عبد الرحمن بن ام

الْحَكَمِ يَخْطُبُ قَاعِدًا فَقَالَ انْظُرُوا إِلَى هَذَا الْخَبِيثِ يَخْطُبُ قَاعِدًا وَقَالَ

الحکم په ناسته خطبه ویل هغه وویل دا خبیث ته ګوره چې په ناسته خطبه وایي حال دا چې

اللَّهُ تَعَالَى وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا. رواه مسلم

الله تعالی فرمایلي دي (کوم وخت چې سوداګري یا لوبي وویني نو د هغه په لور ور وځغلي او تا په ولاړه) (خطبه ویلو) پریږدي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۵۹۱، رقم: ۳۹- ۸۶۴.

تشریح: د رسول الله ﷺ په مقدسه زمانه کي یو وار په مدینه منوره کي سخته وچ کالي راغلل او اهل مدینه سخت پریشان او په تکلیف کي اخته سول په هغه ورځو کي یو وار داسي وسول چې رسول الله ﷺ د جمعې ورځ پر منبر خطبه و فرمایل چې ناڅاپه د تجارت یوه قافله د شام څخه په مدینه کي داخله سول، صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم چې د لوږې څخه ډیر بې حاله او کمزوري سوی وه د خطبې په دوران کي هغه قافلې ته د کتلو لپاره د مسجد څخه دباندې ووتل ځینې صحابه کرام رضي الله عنهم چې د هغوی شمېر دوولس وو په مسجد کي ناست خطبه ېې اوربدل د دغه خلکو په اړه پورتنی آیت نازل سو، د کعب رضي الله عنه د ارشاد مطلب دا وو چې د الله تعالی د دې قول څخه دا خبره بالکل واضحه کیږي چې خطبه په ولاړه ویل کیږي او د صحیح احادیثو څخه هم ثابته ده، نو سربیره ددې چې هغه سړي په ناسته خطبه ویل نو د هغه

په خبث باطن کي څه شک دی.

په هر حال د آیت د الفاظو (تا ولاړ پرېږدي) څخه دا خبره څرګنده سوه چي رسول الله ﷺ به په ولاړي خطبه ورکول د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد په ولاړي خطبه ورکول د خطبې شرط دی مګر د حنفیه په نزد سنت دی.

د جمعې او خطبې وختونه

د جمعې د صحیح اداء کولو د شرطو څخه یو شرط وخت دی چي وخت تېر سي بیا نه صحیح کیږي د جمعې وخت د ماپښین وخت دی د جمعې لمونځ د وخت څخه مخکي جائز نه دی مګر د امام احمد ابن حنبل رحمة الله علیه په نزد صحیح دی همداسي د مازدیګر وخت د شروع کېدو وروسته هم د جمعې لمونځ جائز نه دی خو د امام مالک رحمة الله علیه په نزد جائز دی.

پورتنی حدیث پر دې خبره دلالت کوي چي د حرام یا مکروه شیانو کونکي باندي سختي کول یا په هغه سره د غصې معامله کول جائز ده ځکه چي د هغه شي خلاف عمل کول چي د هغه همشتوب د رسول الله ﷺ څخه ثابت دی دا د هغه د خبث باطن علامه ده.

په خطبه کي لاسونه غورزول نه دي پکار

﴿۱۳۳۲﴾: وَعَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُؤَيْبَةَ قَالَ رَأَى بِشْرَ بْنَ مَرْوَانَ عَلَى الْمِنْبَرِ رَافِعًا

د حضرت عمارة بن رویبة رضی الله عنه څخه روایت دی چي هغه بشر بن مروان پر منبر ولیدی

يَدَيْهِ فَقَالَ قَبَّحَ اللّٰهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په لاسو غورزولو سره، هغه وویل الله تعالی دي دا لاسونه خراب کړي ما رسول الله ﷺ لیدلی دی

مَا يَزِيدُ عَلَى أَنْ يَقُولَ بِيَدِهِ هَكَذَا وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ الْمُسَبِّحَةِ. رواه مسلم

چي تر دې زیاته اشاره یې نه کول د دې په ویلو سره یې د شهادت په ګوتي سره اشاره وکړل. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱/۵۹۵، رقم: ۵۳-۸۷۴.

تشریح: مطلب دادی چي کله حضرت عمار رضی الله عنه بشر ولیدی چي هغه د سنت طریقې خلاف خپل لاسونه زیات پورته کوي نو پر هغه ېې ډیر بد وویل چي په داسي الفاظو کي یې د هغه اظهار وکړ د دې وروسته هغه د خپل شهادت په ګوتي سره په اشاره کولو سره وښودل چي رسول الله ﷺ به یوازي په دومره اندازه اشاره کول او هغه به ېې هم ځکه کول چي خلک په ښه انداز

سره مخاطب وي او ه خطبې اورېدو خواته راغب وي او د خطبې پر جزئياتو باندې د عمل کولو ولوله او جذبه پيدا سي.

د نبي کريم ﷺ د خطبې پر وخت پر منبر درېدل او د ابن مسعود رضي الله عنه مسجد ته راتلل

﴿۱۳۳۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا اسْتَوٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو ځل رسول الله ﷺ په اطمينان سره پر منبر کښېنستی

الْجُمُعَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَ اجْلِسُوْا فَسَمِعَ ذٰلِكَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ فَجَلَسَ عَلٰى بَابِ

او وې فرمايل: کښېنئ، ابن مسعود دا الفاظ واوريدل نو د مسجد په دروازه کې کښېنستی

الْمَسْجِدِ فَرَآهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تَعَالَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ. رواه أبو داود.

چې هغه وخت هلته ولاړ وو کله چې رسول الله ﷺ هغه وليدی نو وې فرمايل: عبدالله بن مسعوده! دننه راسه. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\۶۵۶، رقم: ۱۰۹۱.

تشريح: علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي دا حديث د دې خبري دليل دی چې پر منبر باندې د خطبې ورکولو او درېدو په صورت کې خبري کول جائز دي مګر د حنفيه په نزد د خطيب لپاره د خطبې په حالت کې کلام کول جائز نه دی په شرط د دې چې هغه کلام د امر بالمعروف په توګه نه وي خو خطيب ته پکار ده چې د امر بالمعروف په اړه که چاته څه وايي نو په عربي ژبه کې دي ېې ووايي که په بله ژبه ېې ووايي نو مکروه ده.

علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چې په ښکاره خو داسې معلوميږي چې کله به رسول الله ﷺ د خطبې لپاره پر منبر ودرېدی نو رسول الله ﷺ به په حاضرينو کې يو څوک هغه وخت د لمانځه کولو لپاره درېدلی ليدلی وو نو هغه ته به ېې د کښېنستلو حکم فرمايلی وي ځکه چې د خطبې لپاره پر منبر باندې د خطيب د کښېنستلو په وخت کې لمونځ کول حرام دي ځرنګه چې د ټولو علماؤ دا متفقه مذهب دی.

د جمعې دلمانځه قضايي

﴿۱۳۲۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوک چې

أَدْرَكَ مِنَ الْجُمُعَةِ رَكْعَةً فَلْيَصِلْ إِلَيْهَا أُخْرٰى وَمَنْ فَاتَتْهُ الرَّكْعَتَانِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا أَوْ قَالَ الظُّهْرَ . رواه الدارقطني .

د جمعې يو رکعت ونيسي نو هغه ته پکار ده چې د هغه سره دوهم رکعت يو ځای کړي او د کوم چا څخه چې دواړه رکعتونه تير سي نو هغه ته پکار ده چې څلور رکعته وکړي يا د ماپښين لمونځ وکړي . دارقطني.

تخريج: سنن الدارقطني ۲\ ۱۱، رقم: ۷.

تشريح : که څه هم نووي رحمة الله عليه وضاحت کړی دی چې دا حديث د ضعف څخه خالي نه دی خو دا حديث که صحيح هم ومنل سي نو د دې مطلب به دا وي چې کوم سړی د جمعې دوه رکعتونه هيڅ ونه نيسي نو هغه دي د ماپښين څلور رکعته وکړي د دې مسئلې وضاحت د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د هغه روايت د تشريح په ضمن چې د دې باب د اول فصل په اخر کې تېر سوی دی بيان سوی دی .

========

بَابُ صَلٰوةِ الْخَوْفِ (د بيرې دلمانځه بيان)

د کافرانو د بيرې او د دښمن د مقابلې په وخت کې چې کوم لمونځ کيږي هغه ته د بيرې لمونځ ويل کيږي، د بيرې لمونځ د کتاب او سنت څخه ثابت دی، د اکثرو علماؤ په نزد پر دې خبره اتفاق دی چې د رسول الله ﷺ د وصال وروسته هم دا لمونځ پاته او ثابت دی که څه هم د ځينو حضراتو قول دی چې د بيرې لمونځ يوازې د رسول الله ﷺ د زمانې سره ځانګړی وو او د ځينو حضراتو مثلا امام مالک رحمة الله عليه په نزد دا لمونځ د سفر په حالت سره مخصوص دی او د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد دا لمونځ د سفر او حضر په دواړو صورتو کې جائز دی .

د زمانې او ځای د اختلاف په مناسبت سره دا لمونځ په زیاتو طریقو سره روایت سوی دی ځینو حضراتو ویلي دي چې په شپاړلسو طریقو سره نقل دي، ځیني حضرات تر دې زیات او ځینو تر دې کم طریقې وایي، مګر د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چې په حدیثو کې چې څومره طریقې نقل دي ټولې معتبري دي، د علماء په نزد اختلاف یوازې د ترجیح او فوقیت په باره کې دی، چا یوې طریقې ته ترجیح ورکړې ده او د چا په نزد بلې طریقې ته فوقیت حاصل دی، علامه شمني رحمة الله علیه ویلي دي چې رسول الله ﷺ د بیري لمونځ څلور ځایه کړی دی: اول په ذات الرقاع کې، دوهم په بطن نخل کې، دریم په عسفان کې او څلورم په قرد کې.

د دې څخه معلومه سوه چې د بیري لمونځ سته نو د سفر په حالت کې پر دې قیاس کولو سره دا لمونځ هې په حضر کې هم جائز کړی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د جګړې په وخت کې دلمانځه طریقه

﴿۱۳۳۶﴾: عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ

حضرت سالم بن عبد الله بن عمر د خپل پلار څخه روایت دی کوي چې زه د رسول الله ﷺ سره

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَوَازَيْنَا الْعَدُوَّ فَصَافَفْنَا لَهُمْ فَقَامَ

د نجد په لور په جهاد ولاړم او د دښمن سره مو مقابله وکړه موږ د دښمن په وړاندې صف بندي وکړه او رسول الله ﷺ ودریدی

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ لَنَا فَقَامَتْ طَائِفَةٌ مَّعَهُ وَأَقْبَلَتْ

موږ ته دلمانځه کولو لپاره یوه ډله د رسول الله ﷺ سره لمانځه ته ودریدل او بله ډله د دښمن مقابلې ته ودریدل

طَائِفَةٌ عَلَى الْعَدُوِّ وَرَكَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْ مَعَهُ وَسَجَدَ

رسول الله ﷺ د هغه خلکو سره چې په رسول الله ﷺ پسې لمانځه ته ولاړ وه رکوع وکړل بیا یې دوې سجدې وکړې

سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفُوْا مَكَانَ الطَّائِفَةِ الَّتِيْ لَمْ تُصَلِّ فَجَاؤُوْا فَرَكَعَ رَسُوْلُ

بيا كومي ډلي چي لمونځ كوى د هغه ډلي پر ځاى ودريدل كوم چي لمنځونه نه وه كړې او د دښمن سره جنګېدل هغه ډله راغلل او د رسول الله ﷺ سره يې يو ركعت وكړ

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِمْ رَكْعَةً وَّسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ كُلُّ

او دوې سجدې يې وكړې ، بيا رسول الله ﷺ سلام وګرځوى او هر سړي په ولاړه

وَاحِدٍ مِّنْهُمْ فَرَكَعَ لِنَفْسِهِ رَكْعَةً وَّ سَجْدَتَيْنِ وَرَوٰى نَافِعٌ نَحْوَهُ وَزَادَ فَإِنْ

بيل بيل خپل يو ركعت وكړى او دوې سجدې يې وكړې ، رافع هم دا ډول روايت بيان كړى دى د هغه په روايت كې دا الفاظ زيات دي كه چيرې

كَانَ خَوْفٌ هُوَ أَشَدُّ مِنْ ذٰلِكَ صَلُّوْا رِجَالاً قِيَامًا عَلٰى أَقْدَامِهِمْ أَوْ رُكْبَانًا

بيره د دې څخه هم زياته وي نو خلک دي پر پښو په ولاړه او سپاره دي پر خپل سپرلي

مُسْتَقْبِلِي الْقِبْلَةِ أَوْ غَيْرَ مُسْتَقْبِلِيْهَا قَالَ نَافِعٌ لاَ أَرٰى ابْنَ عُمَرَ ذَكَرَ ذٰلِكَ

د قبلې په لور يا بل لوري ته مخ كړي او لمونځ دي وكړي ، نافع وايي ابن عمر به دا روايت

إِلاَّ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري .

خامخا د رسول الله ﷺ څخه نقل كړى وي .بخاري.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۴۲۹، رقم: ۹۴۲.

تشريح : نجد لوړي مځكي ته وايي او دلته د نجد څخه مراد نجد حجاز دى نجد يمن مراد نه دى دا حديث پر دې خبره دلالت كوي چي تعدد دجماعت يعني څو څو واره جماعت كول مكروه دى په خاصه توګه كله چي ټول لمونځ كونكي حاضر وي، همداسي دا حديث پر دې خبره دلالت كوي چي فرض لمونځ په نفل لمونځ كونكو پسي نه دى صحيح كنه رسول الله ﷺ به دواړو جماعتونو ته بيل بيل دوه دوه واره لمونځ وركړى واى او د جماعت واجب كېدو هم دا حديث قوي دليل دى چي په داسي حالت كي هم كله چي د دښمن لښكر مخامخ وي جماعت دي نه پريږدي .

ابن همام رحمة الله غليه فرمايي چي په پورتنی طريقې سره د بيري د لمانځه اداء کول هغه وخت ضروري کيږي کله چي ټول خلک د يوه سړی پر امام جوړولو باندي ټينګ وي که داسي صورت نه وي نو بيا غوره داده چي يو امام دي يو جماعت ته پوره لمونځ ورکړي او دوهم امام دي دوهم جماعت ته پوره لمونځ ورکړي.

د حديث الفاظ فقام کل واحد منهم او دا خلک ودربدل د دې تفصيل او تشريح د علماء حنفيه څخه ځيني شارحينو دا بيان کړې ده چي دا جماعت چي وروسته په راتلو سره په لمانځه کي ګډ سوی وو د رسول الله ﷺ د سلام ګرځولو وروسته د دښمن سره د مقابلې لپاره ولاړ او اول جماعت چي په اول رکعت کي ګډ سوی وو د هغه ځای څخه د لمونځ کولو لپاره راغلی او يوازي يوازي خپل پاته لمونځ ېې پوره کړی او د سلام ګرځولو سره بيا د دښمن مقابلې ته ولاړل د دې وروسته بيا دوهم جماعت دلته راغی او هغوی هم يوازي يوازي خپل لمونځ په پوره کولو سره سلام وګرځوی او بيا د دښمن مقابلې ته ولاړل.

ابن ملک رحمة الله عليه فرمايي چي د ځينو علماؤ څخه دا تفصيل او طريقه نقل ده د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه هم دا مذهب دی که څه هم دا تفصيل په حديث کي په وضاحت سره نه دی بيان سوی او نه په صراحت سره حديث پر دې دلالت کوي مګر ابن همام همام رحمة الله عليه فرمايي چي د دې حديث څخه د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه د مذهب يو برخه ثابتيږي او هغه دا چي اول جماعت په يوه رکعت کولو سره ولاړ سي او دوهم جماعت په دريم رکعت کي په راتلو سره د امام سره ګډ سي او د دې دوهم جماعت په شتون کي دي امام خپل لمونځ په پوره کولو سره سلام وګرځوي البته د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه پوره مذهب او د هغوی نقل سوې پوره طريقه د يو بل روايت څخه معلوميږي چي پر حضرت ابن عباس ﷺ باندي موقوف ده، د امام اعظم رحمة الله عليه دا مذهب او د هغوی روايت امام محمد رحمة الله عليه په خپل کتاب الاثار کي نقل کړی دی.

په دې اړه په دې خبره هم پوه سی چي د بيري د لمانځه په باره کي چي د امام اعظم رحمة الله عليه کوم مذهب دی او هغه چي کوم تفصيل بيان کړی دی هغه د حديث د موقوف څخه ثابت دی او ښکاره ده چي په دې باب کي عقل ته هيڅ دخل نسته نو حديث موقوف به د حديث مرفوع په درجه کي وي.

او بيا دا چي د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب داهم دی چي په پورتني صورت کي اول جماعت خپل لمونځ بيله قرائته د لاحق په ډول پوره کړي او دوهم جماعت ېې په قرائت

سره پوره کړي څرنګه چې مسبوق خپل لمونځ په قرائت سره پوره کوي.

مګر دا صورت د هغه وخت دی کله چې لمونځ د سفر په حالت کې کول کیږي او امام مسافر وي یا لمونځ دوه رکعتیز وي او که امام مقیم وي او لمونځ څلور رکعتیز وي نو د دواړو جماعتونو څخه هر یو جماعت به د امام سره دوه دوه رکعته کوي مګر که لمونځ دري رکعتیز وي لکه د مابنام لمونځ که د سفر وي یا د حضر په دواړو صورتونو کې اول جماعت دي د امام سره دوه رکعته کوي او دوهم جماعت یو رکعت او هر جماعت به خپل خپل لمونځ په پورتنۍ طریقې سره پوره کوي.

د حدیث اخري الفاظ (قیاما علی اقدامهم) څخه دې خبري ته اشاده ده چې لمونځ کونکي دي رکوع او سجده پرپرېدي یعني په پورتني صورت کې کله چې خلک پر سپرلۍ باندي لمونځ وکړي نو رکوع او سجده دي د سر په اشاره سره وکړي، د بیري د لمانځه په اړه پورتنۍ ذکر سوې طریقه که څه هم د قیاس خلاف ده مګر خپله د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد تلل،سپرېدل او جنګ کول لمونځ فاسد کوي بیا دا چې په دې صورت کې نه یوازې دا چې دا عمل کثیر دی بلکه د قبلې څخه هم مخ اړول کیږي ، په قرآن کریم او د رسول الله ﷺ په احادیث صحیحه کې د بیري لمونځ او د دې طریقه راغلې ده ځکه نو هغه مشروع ساتل سوې ده.

د بیري د لمانځه یوه بله طریقه

﴿۱۳۳۷﴾: وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَمَّنْ صَلَّى مَعَ رَسُولِ

یزید بن رومان د صالح بن خوات څخه او هغه د هغه سړي څخه چې د رسول الله ﷺ سره یې

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ ذَاتِ الرِّقَاعِ صَلاَةَ الْخَوْفِ أَنَّ طَائِفَةً صَفَّتْ

د ذات الرقاع په غزا کې د خوف (بیري) لمونځ کړی وو، نقل کوي چې یوې ډلې صف وترې

مَعَهُ وَطَائِفَةٌ وِجَاهَ الْعَدُوِّ فَصَلَّى بِالَّتِي مَعَهُ رَكْعَةً ثُمَّ ثَبَتَ قَائِمًا وَأَتَمُّوا

د رسول الله ﷺ سره او بله ډله د دښمن مقابلې ته ودریدل ، رسول الله ﷺ دې صف ته یو رکعت لمونځ ورکړ بیا په دوهم رکعت کې رسول الله ﷺ ودریدی هغه ډلې خپل لمونځ پوره کړی

لأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ انْصَرَفُوا فَصَفُّوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ وَجَاءَتْ الطَّائِفَةُ الأُخْرَى فَصَلَّى

بیا یوازې د دښمن مقابلې ته ورغلل او بله ډله راغلل ، رسول الله ﷺ دې ډلې ته هم

بِهِمُ الرَّكْعَةَ الَّتِي بَقِيَتْ مِنْ صَلَاتِهِ ثُمَّ ثَبَتَ جَالِسًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ

یو رکعت لمونځ ورکړ هغه رکعت چې پاته وو د لمانځه دده ﷺ څخه ییا پاته سوو ناستو خلکو خپل لمونځ د خپل ځان سره پوره کړ ییا

سَلَّمَ بِهِمْ . متفق عليه واخرج البخاري بطريق آخر عن القاسم عن صالح بن خوات عن سهل بن ابي خثمة عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

نبي کریم ﷺ سلام وګرزوی دوی هم سلام ورسره وګرزوی. بخاري او مسلم، امام بخاري دا حدیث د یو بل سند څخه بیان کړی دی د دې سند داسي دی چې قاسم د صالح بن خوات څخه او هغه د سهل بن حشمه څخه او هغه د رسول الله ﷺ څخه روایت کړی دی .

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري) ۷\ ۴۲۱، رقم: ۴۱۲۹ ومسلم ۱\ ۵۷۵، ۵۷۶، رقم: ۳۱۰- ۸۴۲.

تشریح : د ذات الرقاع په ورځ کوم سړی چې د رسول الله ﷺ ملګری وو د هغه نوم سهل ابن خثمه رضی الله عنه وو، ځکه چې محمد ابن قاسم رحمه الله د صلوة الخوف حدیث د صالح ابن خوات رحمة الله علیه څخه او هغه د حضرت سهل ابن خثمه رضی الله عنه څخه نقل کړی دی لکه څرنګه چې د بخاري په روایت کې بیان سوي دي .

ذات الرقاع د یو غزا نوم دی چې په پنځم هجري کال کې رامنځته سوې ده ، رسول الله ﷺ د کفارو د مقابلې لپاره ولاړی مګر بیله جګړې کولو بیرته ستانه سول او په دغه وخت کې دا لمونځ سوی وو.

دغه غزا ته ذات الرقاع ځکه وایي چې هغه وخت مسلمانان په غزا کې د ګډون کولو لپاره د جنګ ډګر ته تللي وه نو لوڅي پښې وه او د هغه په وجه یې په پښو کې سوریان سوي وه او نوکان یې مات سوي وه هغه مجاهدینو پر خپلو پښو رقاع چاپیره کړي وې او په دې مناسبت سره دا غزا د ذات الراقع په نامه مشهوره سوه .

په دې حدیث کې د بیري د لمانځه چې کومه طریقه نقل سوې ده دا یوه بله طریقه ده په دې کې هم هري ډلي یو رکعت د رسول الله ﷺ سره وکړ او یو یو رکعت یې یوازي وکړ، مګر دلته فرق دادی چې هري ډلي چې یو یو رکعت یوازي وکړ هغه یې د رسول الله ﷺ په لمانځه کې د پاته کېدو په دوران کې وکړ او په لومړی طریقه کې هري ډلي خپل یو یو رکعت د رسول الله ﷺ

د لمانځه څخه د فارغه کېدو وروسته کړی وو .

امام شافعي رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه پر دغه طريقه عمل کړی دی کوم چې د دغه حديث څخه ثابته ده .

د رسول الله ﷺ زغم

﴿۱۳۳۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره جهاد ته روان سو ، کله چې

إِذَا كُنَّا بِذَاتِ الرِّقَاعِ قَالَ كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا عَلَى شَجَرَةٍ ظَلِيلَةٍ تَرَكْنَاهَا لِرَسُولِ

ذات الرقاع ته ورسيدو نو موږ د رسول الله ﷺ لپاره يوه سايه داره درخته پرېښودل

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَسَيْفُ رَسُولِ

چې د هغې لاندې آرام وکړي ، جابر رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ تر درختي لاندې آرام کوی او توره يې

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَلَّقٌ بِشَجَرَةٍ فَأَخَذَ سَيْفَ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

پر درختي زړېدل چې په مشرکينو کې يو سړی راغلی او د رسول الله ﷺ توره يې واخيسته

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَرَطَهُ فَقَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَخَافُنِي

او د تيکي څخه يې راوکښل او وه يې ويل ايا ته زما څخه ويريږې ؟

قَالَ لَا قَالَ فَمَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قَالَ اللَّهُ يَمْنَعُنِي مِنْكَ قَالَ فَتَهَدَّدَهُ أَصْحَابُ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : نه ، هغه ورته وويل زما څخه به دې اوس څوک خلاصوي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ستا د لاسه به ما الله خلاصوي ، بيا صحابه کرامو هغه ولېدی

رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَغْمَدَ السَّيْفَ وَعَلَّقَهُ قَالَ فَنُودِيَ بِالصَّلَاةِ

او هغه يې ونيوی او توره يې په تيکي کې واچول او پر درخته يې وزړول ، جابر رضي الله عنه وايي د دې وروسته آذان وسو د لمانځه

فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ تَأَخَّرُوا وَصَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُخْرَى رَكْعَتَيْنِ قَالَ

رسول الله ﷺ یوې ډلي ته دوه رکعته ورکړل بیا دا ډله شا ته سول او بله ډله د هغه پر ځای راغلل رسول الله ﷺ هغوی ته هم دوه رکعته ورکړل،

فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ وَلِلْقَوْمِ رَكْعَتَانِ.

متفق علیه

یعني رسول الله ﷺ څلور رکعته وکړل او خلکو دوه دوه رکعته وکړل. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۲۶، رقم: ۴۱۳۶، ومسلم ۱\۵۷۶، رقم: ۳۱۱- ۸۳۴.

تشریح: د دې حدیث څخه معلومه سوه چې رسول الله ﷺ نه یوازې دا چې ډېر زړه ور وو بلکه د کفارو له خوا پر رسېدونکي تاوان باندې به ېې صبر کوی او جاهلو کفارو چې به کله د رسول الله ﷺ سره د بداخلاقۍ معامله کول نو رسول الله ﷺ به هغه په ډېر صبر سره زغمل، وافدي رحمة الله الله علیه ذکر کړی دی چې کله هغه مشرک په غلطي ارادې سره توره راوایستل نو د هغه پر ملا سخت درد پیدا سو چې په هغه سره وارخطا سو او توره ېې د لاسه څخه پر مځکه ایله سوه په دې حالت لیدو سره هغه مشرک مسلمان سو او د هغه په وجه ډېرو زیاتو خلکو هدایت تر لاسه کړ مګر ابوعوانه رضی الله عنه نقل کړی دی چې هغه مسلمان نه سو خو هغه دا وعده وکړه چې بیا به هیڅکله د رسول الله ﷺ سره جنګ نه وکړم.

په هرحال رسول الله ﷺ د هغه پر بداخلاقۍ هغه ته سزا نه ورکړل د دې وجه یا خو تالیف قلب وو یا یو بله وجه وه چې رسول الله ﷺ هغه معاف کړ، د دې حدیث په باره کې د مظهر رحمة الله علیه قول دادی چې د دې څخه مخکې سوی روایت او په دې روایت کې اختلاف دی.

ددغه دواړو روایتونو تعلق د یو ځای یعني غزوه ذات الرقاع سره دی نو د دې وجه داده که څه هم دواړه روایتونه په یوه ځای سره متعلق وي خو په وختونو کې فرق او اختلاف دی د دې مطلب دادی چې دواړه روایتونه به پر دې محمول کیږي چې غزوه ذات الرقاع کې رسول الله ﷺ دوه واره لمونځ کړی دی یو وار خو د هغه طریقې سره سم کوم چې سهل ابن خثمه رضی الله عنه بیان کړی دی او یو وار د هغه طریقې مطابق چې حضرت جابر رضی الله عنه ېې بیانوي، نو د سهل روایت د سهار پر لمانځه محمول کیږي او د حضرت جابر رضی الله عنه روایت به د ماپښین یا مازدیګر پر لمانځه محمول کیږي بیا دا ویل کېدای سي چې دواړه روایتونه به پر تعدد غزوات باندې محمول کیږي.

څرنګه چې د جابر رضی الله عنه د ارشاد څخه ثابتیږي چې په دغه وخت کې رسول الله ﷺ څلور

کعته وکړل او د نورو خلکو دوه رکعته سول نو علماؤ د دې څو وجهې بیان کړي دي په هغه تولو کې صحیح او بهتره وجه داده چې یا خو دا واقعه د آیت د قصر نازلېدو مخکې ده یا کوم ځای چې دا لمونځ سوی وو هلته قصر نه واجب کېدی، امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه دا قول اختیار کړی دی چې خلکو د رسول الله ﷺ سره دوه رکعته وکړل او پاته دوه رکعته ېې یوازې پوره کړل. والله اعلم.

د بیرې د لمانځه یوه بله طریقه

﴿۱۳۳۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به موږ ته د خوف لمونځ راکوی

فَصَفَفْنَا خَلْفَهُ صَفَّيْنِ وَالْعَدُوُّ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ فَكَبَّرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

موږ په رسول الله ﷺ پسې دوه صفونه جوړ کړل او د دښمن زموږ او د قبلې په منځ کې وو، رسول الله ﷺ تکبیر ووایه

وَسَلَّمَ وَكَبَّرْنَا جَمِيعًا ثُمَّ رَكَعَ وَرَكَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ

بیا موږ تولو تکبیر ووایه بیا حضرت ﷺ رکوع وکړل نو موږ هم تولو رکوع وکړل بیا رسول الله ﷺ د رکوع څخه سر راپورته کړ

وَرَفَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ

او موږ هم تولو سر راپورته کړ بیا د سجدې لپاره کښته سو او د رسول الله ﷺ سره هغه صف هم کښته سو کوم چې رسول الله ﷺ ته نژدې وو یعنې لومړی صف او دوهم صف

فِي نَحْرِ الْعَدُوِّ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُودَ وَقَامَ الصَّفُّ

د دښمن مقابلې ته ولاړی بیا رسول الله ﷺ سجده وکړه او هغه صف ودریدی

الَّذِي يَلِيهِ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ ثُمَّ قَامُوا ثُمَّ تَقَدَّمَ الصَّفُّ

(کوم چې سجده کړې وه) بیا دوهم صف د لومړي صف پر ځای

الْمُؤَخَّرُ وَتَأَخَّرَ الصَّفُّ الْمُقَدَّمُ ثُمَّ رَكَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكَعْنَا

او لومړی صف د دوهم صف پر ځای ودریدل (د قرائت وروسته) رسول الله ﷺ رکوع وکړه او موږ تولو هم رکوع وکړه

جَمِيعًا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَرَفَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ

بیا یې د رکوع څخه سر پورته کړ او موږ هم سر پورته کړ بیا د رسول الله ﷺ سره نژدې صف

وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ الَّذِي كَانَ مُؤَخَّرًا فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ

د رسول الله ﷺ سره سجده وکړه چې وړاندې ولاړ وو او دوهم صف

فِي نَحْرِ الْعَدُوِّ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُودَ وَالصَّفُّ الَّذِي

د دښمن مقابلې ته ولاړې کوم چې مخکې یې سجده کړې وه بیا چې رسول الله ﷺ او نژدې صف

يَلِيهِ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ فَسَجَدُوا ثُمَّ سَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَّمْنَا جَمِيعًا . رواه مسلم

د سجدې څخه فارغ سول نو دوهم صف سجده وکړه او بیا نبي کریم ﷺ او موږ تولو سلام وکړزوی . مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۱\ ۵۷۴، رقم: ۳۰۷= ۸۴۰.

تشریح : د بیرې د لمانځه دا یوه غوره طریقه ده، رسول الله ﷺ چې به څرنګه وخت او موقع لیدل د هغه سره سم به یې د بیرې لمونځ کوی دلته دښمن د قبلې خواته وو ځکه اسلامي لښکر یوې خواته داسې لمونځ کوی چې د دښمن لښکر مخامخ وو نو د یوې ډلې بلې خوا ته د استولو ضرورت نه محسوس کېدی، پوره لښکر تر رکوع پورې خو متفق وو د هغه وروسته یوازې دومره فرق وسو کله چې یو صف سجدې ته ولاړې نو دوهم صف ودرېدی او کله چې دوهم صف سجدې ته ولاړې نو اول صف به ودرېدی څرنګه چې په حدیث کې ذکر سوی دي، علماء لیکي چې دا لمونځ رسول الله ﷺ په عسفان کې ادا کړی دی .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د بيري د لمانځه يوه خاصه طريقه

﴿۱۳۴۰﴾: عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ صَلَاةَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ په بطن نخل (د يو ځای نوم) کې خلکو ته د جګړې په حالت کې

الظُّهْرِ فِي الْخَوْفِ بِبَطْنِ نَخْلٍ فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ رَّكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ جَاءَ طَائِفَةٌ

دماپښين لمونځ ورکړ نو يوې ډلې ته رسول الله ﷺ دوه رکعته ورکړل او سلام يې وګرزوی او بيا بله ډله راغلل

أُخْرٰى فَصَلّٰى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ . رواه في شرح السنة .

او هغوی ته يې هم دوه رکعته ورکړل او سلام يې وګرځوی . شرح السنة .

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۴\ ۲۸۴، رقم: ۱۰۹۴.

د لغاتو حل: ((بطن نخل): موضع بين مكة والطائف. (د مکې او طائف په منځ کې يوه سيمه).

تشريح: بطن نخل د مکې او مدينې په مينځ کې د يو ځای نوم دی د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب سره سم دا حديث پر دې محمول دی چې رسول الله ﷺ قصر لمونځ وکړ يعني د څلورو رکعتو پر ځای يې دوه رکعته لمونځ وکړ، د هغه وروسته يې دوه رکعته نفل لمونځ وکړ.

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په نفل لمونځ کونکي پسې د فرض لمونځ کونکی اقتدا صحيح نه ده .

د حنفي مذهب سره سم د دغه حديث تشريح په څرګنده يوه سخته مسئله ده ځکه که چيرې دا پر سفر باندې محمول کړل سي نو په نفل لمونځ کونکي پسې د فرض لمونځ کونکي اقتداء لازميږي او د حنفيه په نزد دا صحيح نه ده ، نو دا د سفر لمونځ نسي کيدای ، او که چيرې د دغه حديث محمول د حضر لمونځ وګرځول سي نو بيا پر هرو دوارو رکعتو باندې سلام ګرځول لازميږي چې د لمانځه خلاف کار دی، نو د دې څخه پرته بله لار نسته چې دا وويل سي چې لمونځ د حضر په حالت کې ورکړل سوی دی ، البته د هرو دوو رکعتو وروسته د رسول الله ﷺ سلام ګرځول دا يوازې د رسول الله ﷺ ځانګړتيا وه چې د نورو خلکو لپاره جائز نه ده، نو خلکو

خپل پاته دوه رکعته د رسول الله ﷺ د سلام ګرځولو وروسته په خپله پوره کړل ، همداسي د هغوی هم څلور رکعته پوره سول .
په دې اړه چې امام طحاوي کومه پلټنه وړاندي کړې ده هغه ډیر مناسب معلومیږي ، هغه فرمایي : چې دا پېښه د هغه وخت ده چې کله یو فرض لمونځ دوه واره کیدلای سو .

اَلْفَصْلُ الثالث (دریم فصل)

د بیړي د لمانځه یوه بله طریقه

﴿۱۳۴۱﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ بَيْنَ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ قیام وکړ په منځ کې

ضَجْنَانَ وَعُسْفَانَ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ إِنَّ لِهٰؤُلَاءِ صَلَاةً هِيَ أَحَبُّ إِلَيْهِمْ مِنْ

د ضجنان او عسفان ، مشرکانو په خپل منځ کې وویل چې د دې خلکو یو لمونځ دی چې دوی ته زیات خوښ دی تر

آبَائِهِمْ وَأَبْنَائِهِمْ هِيَ الْعَصْرُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ فَمِيلُوا عَلَيْهِمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً

تر پلرونو خپلو او زامنو خپلو او هغه د مازدیګر لمونځ دی خپله اراده پخه کړئ او په یو وارد لمانځه په حالت کې برید پرو کړئ ،

وَأَنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَأَمَرَهُ أَنْ يَقْسِمَ أَصْحَابَهُ شَطْرَيْنِ فَيُصَلِّيَ بِهِمْ

نو سمدستي جبرائیل علیه السلام د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض یې وکړ چې خپل اصحاب په دوو برخو وویشه یوې ډلې ته لمونځ ورکړه

وَتَقُومُ طَائِفَةٌ أُخْرَى وَرَاءَهُمْ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ فَتَكُونُ لَهُمْ

او دوهمه ډله دې د دښمن مقابلې ته ودریږي او د ځان سره دې د خپل ساتنې ټول سامان او اسلحه واخلي نو د هغوی د هرې ډلې

رَكْعَةٌ وَلِرَسُولِ اللّٰهِ ﷺ رَكْعَتَانِ . رواه الترمذي والنسائي .

یو یو رکعت سو او د رسول الله ﷺ دوه رکعته سول. ترمذي، نسائي

تخریج: سنن الترمذي ۵\۲۲۷، رقم: ۳۰۳۵، والنسائي ۳\۱۷۴، رقم: ۱۵۴۳.

د لغاتو حل: (ضجنان و عُسفان): موضعان او جبلان علی بعد مرحلتین من مکة.

تشریح: ضجنان د یو غره نوم دی چې د مکې او مدینې په مینځ کې واقع دی او عسفان د یو ځای نوم دی چې د مکې څخه پر دوه پراوه فاصله باندې پروت دی.

=======

بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ (د اخترو د لمانځه بیان)

د شوال د میاشتې لومړنۍ نېټې ته عیدالفطر (یعني د سرسایې اختر) او د ذي الحجې لسمې نېټې ته عیدالاضحی (یعني د قربانۍ اختر) او دواړو ته عیدین (اخترونه) ویل کیږي. دا دواړه تاریخونه د اخترو او خوشحالۍ ورځې دي چې په هغه کې دوه دوه رکعته لمونځ د شکرانې په توګه ادا کیږي، د اخترونو لمونځ د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد واجب دی مګر امام شافعي رحمة الله علیه او نورو علماؤ د اخترو لمنځو ته سنت مؤکده ویلي دي.

د عید لفظ د عود څخه مشتق دی چې د هغه معنی ده په وار وار راتلل، نو دې ورځې ته اختر ځکه ویل سوی دی چې دا ورځ هر وار راځي یعني هر کال راځي، ځینې حضرات وایي د دې ورځې نوم اختر ځکه دی چې الله تعالی عود کوي یعني پر بندګانو باندې په خپل رحمت او بخښنې سره متوجه کیږي په دې مناسبت سره د اختر په باره کې دا عارفانه جملې استعمالیږي.

لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ لَبِسَ الْجَدِيْدَ	اختر د هغه چا لپاره نه دی چې جامې واغوندي
اِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ اَمِنَ مِنَ الْوَعِيْدِ	بلکه د هغه چا لپاره دی چې د سزا څخه په امن کې وي
لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ تَبَخَّرَ بِالْعُوْدِ	اختر د هغه چا لپاره نه دی چې د عود په خوشبویي معطر سي بلکه د هغه چا لپاره دی چې توبه کونکی وي او بیا ګناه نه کوي.
اِنَّمَا الْعِيْدُ لِلتَّائِبِ الَّذِيْ لَايَعُوْد	
لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ تَزَيَّنَ بِزِيْنَةِ الدُّنْيَا	اختر د هغه چا لپاره نه دی چې د دنیا زیب وزینت اختیاروي بلکه د هغه چا لپاره دی چې تقوا او د

اِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ تَزَوَّدَ بِزَادِ التَّقْوٰى لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ رَكِبَ الْمَطَايَا اِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ تَرَكَ الْخَطَايَا لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ بَسَطَ الْبِسَاطَ اِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ جَاوَزَ الصِّرَاطَ.

آخرت توښه جوړه کړي.
اختر د هغه چا لپاره نه دی چې پر سپرلیو سپور سي بلکه د هغه چا لپاره دی چې ګناهونه پریږدي.
اختر د هغه چا لپاره نه دی چې فرش وغوړوي بلکه د هغه چا لپاره دی چې پر پل صراط تېر سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د اختر لمونځ

﴿۱۳۴۲﴾: عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ

يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَالْأَضْحٰى إِلَى الْمُصَلّٰى فَأَوَّلُ شَيْءٍ يَبْدَأُ بِهِ الصَّلَاةَ ثُمَّ

د کوچني او لوی اختر په ورځ د کور څخه عیدګاه ته تلی نو تر ټولو وړاندي به یې دا کار کوي چې لمونځ به یې شروع کوی د لمانځه څخه د فارغ کېدو وروسته به

يَنْصَرِفُ فَيَقُوْمُ مُقَابِلَ النَّاسِ وَالنَّاسُ جُلُوْسٌ عَلٰى صُفُوْفِهِمْ فَيَعِظُهُمْ

خلکو ته مخامخ ودریدی او خلک به په خپلو صفو کي ناست وه او رسول الله ﷺ به هغوی ته نصیحت کوی (یعني خطبه یې ویل)

وَيُوْصِيْهِمْ وَيَأْمُرُهُمْ وَإِنْ كَانَ يُرِيْدُ أَنْ يَّقْطَعَ بَعْثًا قَطَعَهُ أَوْ يَأْمُرَ بِشَيْءٍ أَمَرَ بِهِ ثُمَّ يَنْصَرِفُ. متفق عليه

وصیت به یې کوی او ضروري احکام به یې ورښودل او که یو لښکر به یې لیږی نو د هغه د روانېدو حکم به یې کوی او که یو خاص حکم به یې نافذ کوی نو هغه به یې نافذ کوی بیا به بېرته راوګرځیدی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۴۴۸-۴۴۹، رقم: ۹۵۶ ومسلم ۲\۶۰۵، رقم: ۹-۸۸۹.

تشريح: د مديني منورې عيدګاه د ښار څخه دباندې وه چې د هغه فاصله د حجرې شريفې څخه پر زر قدمه باندې ده، هغه ځای ډير زيات متبرک او مقدس دی اوس د هغه چاپېره چاردیواري جوړه سوې ده.

په هر حال په تشريح السنه کې ليکلي دي چې د وخت د امام لپاره ضروري ده چې د اختر د لمانځه لپاره عيدګاه ته ولاړسي هو که چيرې يو عذر مانع وي نو بيا د ښار په مسجد کې دي لمونځ وکړي ابن همام رحمة الله عليه فرمايي چې د امام لپاره مسنون دی چې هغه خپله د اختر د لمانځه لپاره عيدګاه ته ولاړسي او يو داسي سړی خپل قائم مقام جوړ کړي چې په ښار کې ضعيفانو ته د اختر لمونځ ورکړي مګر علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چې عيدګاه ته د تلو مسئله د مسجد حرام او بيت المقدس څخه پرته د نورو ځايو لپاره ده ځکه چې نه يوازې ددغه دواړو مقدسو مسجدونو د عظمت او تقدس له کبله بلکه د صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمة الله عليهم په اتباع کې هم په مسجدو کې ټول لمنځونه کول افضل دي.

مطلب دادی چې رسول الله ﷺ د لمانځه څخه د فراغت وروسته د خطبې ارشاد فرمايلو لپاره د خلکو مخکې پر مځکه ودرېدی ځکه چې د رسول الله ﷺ په هغه زمانه مبارکه کې په عيدګاه کې منبر نه وو د هغه وروسته چې د مسلمانانو شمېر ډير زيات سو نو په عيدګاه کې د منبر انتظام وکړل سو ځکه چې پر منبر باندې په درېدو سره د خطبې اوازتر ليرې پورې ځي.

نصيحت يې کوی: يعنې رسول الله ﷺ به مسلمانانو ته دغه وخت په دنيا کې د زهد اختيارولو او د اخرت خواته د توجه کولو نصيحت فرمايه او د خلکو مخکې به يې د ثواب عظمت او فضائل بيانول او د ګناهونو څخه به يې ډېرول چې خلک ددغه ورځو په خوشبويو او خوشحاليو کې په مصروف کيدو سره د طاعت څخه غافل او په ګناهونو کې اخته نسي لکه څرنګه چې نن سبا د خلکو حال دی، او وصيت به يې کوی: يعني خلکو ته به يې د تقوی اختيارولو نصيحت کوی، د تقوی دوې درجې دي: لومړی ادنی درجه يې داده چې د شرک څخه ځان وساتي، دوهم: اوسطه درجه يې داده چې د الله تعالی او د هغه د رسول فرمانبرداري وکړي، دريمه او اعلی درجه يې داده چې د الله تعالی خواته هر وخت په حضور قلب سره متوجه او د الله تعالی څخه يې غرضه سي، احکام به يې صادر فرمايل: يعني د خلکو د معاملاتو په باره کې چې کوم احکام ورکول پکار وه هغه به يې صادرول او په کوچني اختر کې به يې د

سرسايې او په لوی اختر کې به يې د قربانۍ احکام بيانول.

﴿۱۳۴۳﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيدَيْنِ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلاَ مَرَّتَيْنِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلاَ إِقَامَةٍ. رواه مسلم

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ سره د دواړو اختړو لمنځونه کړي دي يو وار او دوه واره نه بلکه ډير لمنځونه کې چې نه به آذان وو او نه اقامت. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۶۰۴، رقم: ۷-۸۸۹.

تشريح: په شرح السنة کې ليکلي دي چې د رسول الله ﷺ په اصحابو کې د اکثر اهل علم دا مذهب وو چې د دواړو اختړونو په لمانځه کې نه اذان مشروع دی او نه اقامت، همداسې په نورو نفلو کې هم اذان او اقامت نسته بلکه په کتاب الازهار کې خو مکروه ليکلي دي.

د اختر دلمانځه وروسته خطبه ويل

﴿۱۳۴۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُوْبَكْرٍ وَّعُمَرُ يُصَلُّوْنَ الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ، ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه به د دواړو اختړو لمونځ د خطبې تر مخه کوی. بخاري و مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۴۵۳، رقم: ۹۶۳ ومسلم ۲\ ۶۰۵، رقم: ۸۸۸\۸.

تشريح: د ابن منذر رحمة الله عليه قول دی چې د ديني عالمانو پر دې خبره اتفاق دی چې د کوچني او لوی اختړ خطبه د لمانځه وروسته ويل پکار ده د لمانځه څخه مخکې خطبه ويل جائز نه ده، که چيرې يو سړي د لمانځه مخکې خطبه ووايي نو د ټولو علماؤ په نزد لمونځ هې جائز دی، ويل کيږي چې مروان ابن حکم چې د مدينې حاکم سو او هغه د امير معاويه رضي الله عنه له خوا خطبه د لمانځه مخکې وويل نو د هغه دا فعل صحابه کرامو ډير بد وګڼی.

د اختړو دلمانځه لپاره اذان او اقامت نسته

﴿۱۳۴۵﴾: وَسُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَشَهِدْتَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول چې ايا تا د اختړ په لمانځه کې د رسول الله ﷺ سره

کډون کړی دی ؟

الْعِيْدَ قَالَ نَعَمْ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى ثُمَّ خَطَبَ

هغه وویل :هو، رسول الله ﷺ به د کور څخه راووتی او عیدګاه ته د رسید و سره به یې د اختر لمونځ وکړ او بیا به یې خطبه ویل،

وَلَمْ يَذْكُرْ أَذَانًا وَّلاَ إِقَامَةً ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ

ابن عباس رضی الله عنه په خپل بیان کې د آذان او اقامت یادونه ونه کړل، بیا به رسول الله ﷺ ښځو ته متوجه سو هغوی ته به یې نصیحت کوی د دین احکام به یې وریادول او د صدقه (خیرات) کولو حکم یې ورکوی

بِالصَّدَقَةِ فَرَأَيْتُهُنَّ يُهْوِيْنَ إِلٰى آذَانِهِنَّ وَحُلُوْقِهِنَّ يَدْفَعْنَ إِلٰى بِلاَلٍ ثُمَّ

ابن عباس رضی الله عنه وایي ما ولیدل چې درسول الله ﷺ د دې الفاظو په اوریدو سره ښځو خپل لاسونه غوږونو او غاړو ته اوږده کړل زیورات یې را کښل او بلال رضی الله عنه ته یې ورکول بیا به

ارْتَفَعَ هُوَ وَبِلاَلٌ إِلٰى بَيْتِهِ (متفق عليه)

رسول الله ﷺ او بلال رضی الله عنه کور ته ولاړل. بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\ ۳۴۴، رقم: ۵۲۴۹، ومسلم ۲\ ۶۰۲، رقم: ۱- ۸۸۴.

تشریح : څرنګه چې جابر رضی الله عنه ابن سمره رضی الله عنه هم په وضاحت سره بیان کړی دی د هغه روایت څخه هم ثابتیږي چې د دواړو اخترو د لمانځه لپاره اذان او اقامت کول مشروع نه دی.

د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کې د رسول الله ﷺ سره ښځې هم د اخترو د لمانځه لپاره عیدګاه ته تللې، رسول الله ﷺ چې خلکو ته وعظ او نصیحت لپاره تشریف یووړ ځکه چې ښځې به د خلکو څخه بیلې بلې خواته کښېنستلې ځکه نو کله چې به رسول الله ﷺ خلکو ته خطبه فرمایل نو اواز به ښځو ته ښه سم نه رسېدی.

د اختر د لمانځه مخکې یا وروسته نفل لمونځ

﴿۱۳۴۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى يَوْمَ الْفِطْرِ رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهُمَا وَلاَ بَعْدَهُمَا. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د کوچنۍ اختر په ورځ دوه رکعته لمونځ وکړ د هغه وړاندې او وروسته یې هیڅ یو بل لمونځ نه وکړ. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) ۲/ ۴۵۳، رقم: ۹۶۴، ومسلم ۲/ ۶۰۶، رقم: ۱۳- ۸۸۴.

تشریح: علامه ابن همام رحمة الله علیه فرمایي دا نفي د عیدګاه سره اړوند ده ځکه چې د ابو سعید خدري رضی اللہ عنہ دا روایت دی چې رسول الله ﷺ د اختر و د لمانځه مخکې نفل لمونځ نه کوی، مګر کله چې به د عیدګاه څخه کورته یې تشریف راوړ نو دوه رکعته به یې کول، په در مختار کې لیکلي دي چې د اختر و د لمانځه مخکې نفل لمونځ کول مطلقا مکروه دی یعني په عیدګاه کې هم مکروه دی او په کور کې هم، البته د اختر و د لمانځه وروسته په عیدګاه کې لمونځ کول مکروه دی او په کور کې جائز دی.

د اختر په لمانځه کې د ښځو ګډون

﴿۱۳۴۷﴾: وَعَنْ اُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيْدَيْنِ

د حضرت ام عطیه څخه روایت دی چې موږ ته دا حکم راکړل سو چې موږ ټولې ښځې حیض والا یا پردې والا ټولې د دواړو اختر و په لمنځو کې ګډون وکړو

وَذَوَاتِ الْخُدُوْرِ فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْنَ وَدَعْوَتَهُمْ وَتَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ

او د مسلمانانو په ډله کې ګډون وکړو او دهغوی په دعاء کې ګډون وکړو او حیض والا ښځې دي

عَنْ مُصَلاَّهُنَّ قَالَتِ امْرَاَةٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ قَالَ

د خپلې مصلا څخه بیلې وي، یوې ښځې د دې په اوریدو سره عرض وکړې اې د الله رسوله! په موږ کې د ځینو ښځو سره څادر نه وي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا. متفق علیه

هغه دي د خپلې ملګرې څادر استعمال کړي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱/ ۴۶۶، رقم: ۳۵۱، ومسلم ۲/ ۶۰۶، رقم: ۱۲- ۸۹۰.

تشریح: خطابي رحمة الله علیه فرمایي چې رسول الله ﷺ ټولو ښځو ته عیدګاه ته د تللو حکم ورکړ چې کومو ښځو ته یو عذر نه وي هغوی دي لمونځ وکړي او کومو ښځو ته چې یو عذر وي

هغوی ته به د لمانځه او دعا برکت ورسیږي ګویا داسي خلکو ته ترغیب ورکول کیږي چي هغوی په لمنځو کي ګډون وکړي د وعظ او ذکر په مجالسو کي حاضر سي او د علماء او صلحاؤ قرب حاصل کړي چي هغوی ته د الله تعالی د هغه نېکو او مقدسو بندګانو برکت حاصل سي که څه هم د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کي د ښځو لپاره عیدګاه ته تلل ممنوع نه وه مګر نن سبا د فتنې او فساد په زمانه کي د ښځو عیدګاه ته تلل مستحب نه دي.

د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کي عیدګاه ته د ښځو د تللو وجه امام طحاوي رحمة الله علیه دا بیان کړې ده چي په هغه وخت کي د اسلام ابتدائي دور وو مسلمانان ډیر کم وه ځکه د رسول الله ﷺ دا مقصد وو چي ټولي ښځي دي هم عیدګاه ته ځي نو د مسلمانانو شمېر به زیات معلوم سي چي په هغه سره به پر کفارو رعب ولویږي، نن سبا نه یوازي دا چي د دې ضرورت نسته بلکه د ښځو په شتون کي د زیاتو مکروهاتو او محروماتو ذریعه جوړېدای سي ځکه علماؤ د ښځو عیدګاه ته تلل منعه کړي دي.

د حدیث د اخري جملې مطلب دادی که د یوې ښځي سره یو پټو یا جامه نه وي چي ځان په پټ کړي او عیدګاه ته ولاړه سي نو د هغې ملګري ته پکار ده چي هغې ته یو شی ورکړي چي پرده په وکړي یا دا که د هغې سره هم یو څادر وي نو د خپل څادر نیمه برخه دي پر هغې واچوي او دواړي دي یو ځای کښېني.

د غزلو او سروز مسئله

﴿۱۳۴۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ اَبَابَكْرٍ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا جَارِيَتَانِ فِيْ

د حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چي حضرت ابوبکر رضی الله عنه هغې ته راغلی او په دغه وخت کي د انصارو دوې انجونې ناستې وې

اَيَّامِ مِنى تُدَفِّفَانِ وَتَضرِبَانِ وَفِيْ رِوَايَةٍ تُغَنِّيَانِ بِمَا تَقَاوَلَتِ الْأَنْصَارُ يَوْمَ

د منی په ورځو کي (په کومو ورځو کي چي حاجیان په منا کي قیام کوي) او دریاپې وهل، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي هغو انجونو هغه شعرونه ویل کوم چي انصارو

بُعَاثَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَغَشٍّ بِثَوْبِهِ فَانْتَهَرَهُمَا اَبُوْ بَكْرٍ فَكَشَفَ

د بعاث د جګړې په ورځ ویلي وه، رسول الله ﷺ دغه وخت په جامه کي ځان پیچلی وو، ابوبکر صدیق رضی الله عنه هغه انجونې وترتلې (بد او رد یې ورته وویل)

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَجْهِهِ فَقَالَ دَعْهُمَا يَا أَبَا بَكْرٍ فَإِنَّهَا أَيَّامُ

رسول الله ﷺ د مخ څخه جامه ليري کړه او وه يې فرمايل : اې ابوبکر ! دوی پريږده ځکه دا

عِيْدٍ وَّفِيْ رِوَايَةٍ يَا أَبَا بَكْرٍ إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيْدًا وَهٰذَا عِيْدُنَا . متفق عليه

د اختر ورځ ده ، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې د هر قوم يو اختر وي او دا زمونږ اختر دی. بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۱ ۴۴۵، رقم: ۹۵۲، رقم: ۹۸۷ ومسلم ۱۲/۶۰۷، رقم: ۱۶، ۱۷- ۸۹۲.

تشريح : لفظ د تضربون ګويا د تدفقان د تاکيد لپاره استعمال سوی دی مګر ځينو حضراتو د دې دا معنی بيان کړې ده چې هغه انجونو به ټوپونه وهل او دريه به يې وهل .

د دريا وهلو مسئله : د دريا وهلو په باره کې د علماؤ دوه قوله دی، اول خو دا چې غزل ويل مطلقا مباح دي يعني پر هر وخت يې ويلای سي د دې پر خلاف دوهم قول دا دی چې مطلقا حرام کار دی په دې اړه صحيح مسئله داده چې پر ځينو وختونو باندي مثلا نکاح، وليمه د واده ډوډی يا دا ډول نور مراسمو کې چې ددغه دواړو په حکم کې وي او په اختړو کې دريا ويل مباح دي، علماؤ په دريا وهلو کې فرق کړی دی يعني که چيرې دريا شرنګی کونکې نه وي نو مکروه نه ده که څه هم د نه شرنګې کونکې دريې په باره کې ځينو علماؤ اختلاف کړی دی .

(تغنِيَانِ) يعني غزلي يې ويلې، مطلب دا دی چې انجونو هغه شعرونه ويل په کوم کې چې د شجاعت او مېړانې مضمون وو چې کله انصارو پر بعاث حمله وکړه او د هغه جګړې په اړه يې ويلي وه څرنګه چې د زړه ورو عادت دی چې د جنګ په وخت خپل زړه توب او عبادت باندي مشتمل اشعار په ډير فخر سره وايي، بعاث د يو ځای نوم دی چې د مدينې څخه پر دوه ميله فاصله باندي پروت دی د ځينو حضراتو تحقيق دادی چې د جاهليت په ورځو کې د انصارو د دوو قبيلو اوس او خزرج په منځ کې سخت جنګ وسو چې په هغه کې قبيله اوس کاميابه سوه دې جنګ ته جنګ بعاث ويل کيږي .

په هرحال انجونو چې کوم اشعار ويل هغه د فحش، حسن او عشق د مضامينو څخه نه وه چې د هغه ويل معيوب او ممنوع وي مګر هغه اشعار د جنګ او جدل د کارنامو پر شجاعت داستانو او د ميدان جنګ پر ګرمو قصو باندي مشتمل وه چې د هغه په ويلو سره په اشاعت دين کې مرسته حاصليدل په دې توګه چې هغوی به د کفارو سره د جهاد کولو لپاره مومنانو ته

ترغیب ورکوی کنه د هغو انجونو جرئت نسته چي د بي بي عائشې رضي الله تعالی عنها په شتون کي او د رسول الله ﷺ په مخکي د خراب او معیوبو اشعارو ویلو جرئت پې کړی وای.

د بخاري په یوه روایت کي د لفظ تغنیان څخه وروسته دا الفاظ هم ذکر دي و لیستا بمغنیتین، یعني انجونو شعرونه ویل او غزلي پې ویلې د هغو انجونو کسب او کار نه وه چي څوک زیاتي ښه غزلي وایي او د غزلو ویلو په فن کي مشهوري وې یا دا چي هغوی د خپلو اشعارو په ذریعه د خیالات فاحشه او خواهشات نفساني د اشتیاق سبب جوړیدې چي د فتنې او فساد باعث به وو مګر هغوی بالکل په داسي انداز کي اشعار ویل چي اکثر شریف خلک پې په خپلو کورونو کي د پاکو خیالاتو حامل اشعار وایي.

(فانترها ابوبکر): یعني حضرت ابوبکر رضی الله عنه هغه انجوني وترټلي، څرنګه چي په صحیح بخاري کي ذکر دي چي حضرت ابوبکر رضی الله عنه هغو انجونو ته دا وویل چي رسول الله ﷺ ته نژدې شیطاني باجه وایاست ګویا حضرت ابوبکر رضی الله عنه هغو ته زورونه ورکړل او د هغه فعل څخه پې منعه کړې په اصطلاح کي مزمار هغه باجې ته وایي چي غزل چیان پې وایي مثلا سورنا ،دریا، رباب، او داسي نور، ابوبکر رضی الله عنه د هغه انجونو باجې ته شیطاني باجه ځکه وویل چي څرنګه شیطان د خپل ذات سره د انسان علمي ژوند د نیک کار څخه په آخوا کولو سره په بدکار کي پې مصروف کوي همداسي باجه هم انساني زړه یا د الله تعالی د یاد د مقدسي لاري څخه په آخوا کولو سره د لهو و لعب او د ناجائزو خواهشاتو پر لار روانوي.

د حدیث د اخري الفاظو مطلب دادی چي څرنګه د تیرو امتونو او د غیر مسلمو په نزد د خوشحالۍ او اختر یوه ورځ ده څرنګه چي د مجوس قوم په نزد نوروز یوه خاص ورځ ده چي په هغه کي خپل اختر کوي همداسي د مسلمانانو لپاره د خوشحالۍ دوې ورځي دي او هغه د کوچني او لوی اختر ورځي دي.

دا مشابهت یوازي د تمثیل تر حده پوري نه دی د هغوی معتقدات او په افعالو سره مشابهت مقصود نه دی یعني د دې مقصد دا نه دي څرنګه چي غیر مسلم د خوشحالۍ او میلو په ورځ غلط کارونه کوي هسي غلط کارونه مسلمانان هم په دغه ورځ کولای سي علماء لیکي چي د کوچني او لوی اختر په ورځ د غیر مسلمانانو د مېلې مشابهت اختیارول کفر دی مثلا غیرشرعي او غیر مناسب زیب و زینت کول، هګۍ جنګول، نارینوو ته نکریزي وهل، په غزلو وغیره کي مصروف کیدل.

د حدیث څخه د اهل سماع غلط استدلال: په دغه حدیث کي د اهل سماع څخه لویه غلطي

سوې ده دغه خلکو ددغه حدیث پر بنیاد د هارمونیم په ډول ساز سره د قوالۍ مباح کیدل او د هغه اوریدل جائز ګرځولي دي حال دا چې د دې حدیث په قطعي توګه سره دا مفهوم او مطلب نه دی کوم چې اهل سماع مراد اخستی دی مګر د انصاف او بېله څه تعصب په نظر که معقولیت پسند زړه او دماغ سره د حدیث حقیقي مفهوم ته وګوري نو د هغه پوره وضاحت دادی چې حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ هغه انجوني د غزلو ویلو څخه ځکه منعه کړې او هغوی ته ېې زورونه ورکړه چې د هغوی په نزد غزل ویل مطلقا معیوب شی وو او هغه دا ګمان وکړ چې رسول الله ﷺ دا انجوني د غزلو ویلو څخه ځکه منعه وفرمایلې چې رسول الله ﷺ بیده وو او دا نه وه ورته معلومه چې دلته څه کیږي حال دا چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته دا معلومه نه وه چې رسول الله ﷺ په داسي ورځ په ډیري معمولي طریقې سره د اشعار ویلو اجازه ورکړې وه او هغه د غزلو ویلو او تماشو څخه نه وو.

حاصل دا چې حضرت صدیق اکبر رضی اللہ عنہ ته ددې فرق او تفصیل علم نه وو ځکه هغه انجوني د غزلو ویلو څخه منعه کړې چې پر هغه رسول الله ﷺ صدیق اکبر رضی اللہ عنہ ته وفرمایل چې دغه انجونو ته هیڅ مه وایه نو ددغه حدیث څخه یوازي دومره معلومه سوه چې د اختر په ورځ یا پر داسي وخت باندي خوشحالي کول مباح دي د شریعت په حدود کې دننه اشعار ویل مباح دي بیا دا هم ویل پکار دي چې د دغه واقعې تعلق په یو مخصوص ځای او یو مخصوص وخت سره دی چې په هغه کې غزل ویل وغیره مطلقا مباح کېدل نه لازمیږي.

ځینو حضراتو ویلي دي چې ددې حدیث څخه دا ثابتیږي چې پر یو خاص وخت باندي دریا ویل او قوالي وغیره ممنوع نه دي مګر پر دې همېشتوب کول مکروه دي ځکه چې په مستقله توګه غزل ویل د تقوی وصف او اخلاق فاضله ختموي چې د هغه په وجه داسي سړی د شریعت په نظر کې خپل اعتماد ضائع کوي.

ابن مالک رحمة الله علیه فرمایي چې دا حدیث پر دې دلالت کوي چې دریا وهل جائز ده چې په هغه کې شرنګی نه وي او کله نا کله وویل سي، او داسي اشعار ویل جائز دي چې په هغه کې د چا بدي او مذمت نه وي بیان سوې، او پر فاحشو مضامینو باندي مشتمل نه وي، په فتاوی قاضي خان کې لیکلي دي چې د باجو اوریدل ګناه ده.

د رسول الله ﷺ ارشاد دی: د باجو اوریدل ګناه ده د هغه په مجلس کې ګډون فسق او د هغه څخه خوند اخیستل د کفر څخه دی.

او مسئله داده چې که چیرې په غیر اختیاري توګه د باجې اواز په غوږ کې ننوزي نو ګناه

نسته مګر د باجو د اواز څخه حتی الامکان تر خپله وسه پوري د ځان ساتلو پوره هڅه کول پکار ده، د رسول الله ﷺ عادت مبارک دا وو چې پر داسي وخت باندې رسول الله ﷺ په خپلو غوږو مبارکو کې ګوتې اچولې.

علماء لیکي چې د جاهلیت د زمانې داسي اشعار ویل چې په هغه کې د فحش مضامین، شراب او کباب او د حسن او عشق یادونې وي مکروه دي.

یو جلیل القدر محدث ددې حدیث په تشریح کې د سماع او غنا مسئله په پوره وضاحت سره لیکلې ده، دلته د هغه خلاصه نقل کول مناسب دي، نوموړی فرمایي چې د دغه حدیث څخه دا څرګندیږي چې غزل وغیره ویل ممنوع دي هو پر یو خاص وخت باندې مثلاً په اختر کې یا دا ډول بل د خوشحالۍ پر وخت یعني په نکاح وغیره کې ددې تر یوه حده پورې جواز دی ځکه چې صدیق اکبر رضی الله عنه په صحابه کرامو کې تر ټولو زیات د فضیلت خاوند دی هغه ته د دین احکام په ښه ډول معلوم وه هغه غزلو ته مزمار شیطان وویل، رسول الله ﷺ چې هغه منعه کړ نو ددې خبرې څخه ېې نه وه منعه کړې چې غزلې ته ېې مرزمار شیطان وویل بلکه رسول الله ﷺ هغه د اختر لپاره منعه کړې وو چې نن ورځ په دې کې دومره سختي مه اختیاروه، ګویا د رسول الله ﷺ د ارشاد مقصد د غزلې د ممانعت په اړه د صدیق اکبر رضی الله عنه د قول تردید نه وو بلکه مراد دا وو چې د غزلوویل یوازې په دومره معمولي درجه کې چې په هغه کې دغه انجوني مصروف دي نن ورځ د ممانعت د حکم څخه مستثنی دي که انجوني په شرعي او اخلاقي حدودو کې د شجاعت او میړانې، تعریف او توصیف باندې مشتمل اشعار په خوش اوازې سره ووایي نو په دې کې هیڅ تاوان نسته، رسول الله ﷺ نه یوازې دا چې خپله د انجونو په دغه کار کې دلچسپي نه واخستل څرنګه چې معلومه سوه چې رسول الله ﷺ بیده وو مګر صدیق اکبر رضی الله عنه هم ددې ترغیب نه وکړ مګر رسول الله ﷺ یو ډول لا پرواهي څرګنده کړل ګویا رسول الله ﷺ د خپل دغه فعل په ذریعه هم په هغه ورځ د دې جائز کیدو خواته اشاره وفرمایل.

نو دا حدیث په اتفاق سره د غزلو ویلو پر اباحت باندې دلیل نسي ګرځول کېدای څرنګه چې ځینې حضراتو ددې روایت د حقیقت په مفهوم اخستو سره د سماع او غنا مطلقا جواز ثابتوي.

د سماع حرمت او کراهت : دا خو د حدیث وضاحت او تشریح سول، اوس د اصلي مسئلې خواته راسئ او وګورئ چې په دې باره کې د سلف (پخوانیو علماؤ) څه رایه ده د سماع او غناء مسئله د همیشه څخه د علماؤ او فقهاء په منځ کې مختلف فیه راغلې ده د صحابه کرامو

او تابعینو هم په دې مسئلې کې اختلاف دې مګر اکثر جلیل القدر صحابه کرام ددې د حرمت او کراهت قائل وه، هغوی دا آیت کریمه (ومن الناس من یشتری لهو الحدیث) څخه مراد غنا بیان کړې ده، ابن عباس رضی الله عنه او ابن مسعود رضی الله عنه خو ددې مراد د تعین په اړه تر قسم خوړلو پورې به یې ویل چې دلته د غنا مراد دی همداسې د ابن عباس رضی الله عنه او مجاهد رضی الله عنه په نزد دا آیت کریمه (واستفزز من استطعت منهم بصوتک) کې د شیطان د اواز څخه مراد غنا اخلي.

د ابن عمر رضی الله عنه په باره کې نقل دي چې هغه به د غزلو اورېدو څخه منعه فرمایل.

د امیر المومنین حضرت علي کرم الله وجهه ارشاد مبارک نقل دی که یو سړی داسې مړ سي چې د هغه سره غزلي ویونکي ښځي وي نو د هغه جنازه مه کوئ.

ابو امامه رضی الله عنه روایت کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی چې غزل ویونکي ښځي مه اخلئ مه پې خرڅوئ او مه په هغوی تعلیم کوئ یعني پوره قاطعه ور سره وساتئ د دې ارشاد په ډول دا آیت کریمه: یشتری لهوا الحدیث نازل سوی وو په دې وجه ځیني علماء وایي چې کوم حدیثونه د غزلو او سروز پر اباحت باندې دلالت کوي د هغه تعلق د هغه ممانعت د مخکې زمانې سره دی کله چې ایت شریف نازل سو او د غنا ممانعت واضح سو نو هغه حدیثونه منسوخ وګرځول سوه.

د ابن مسعود رضی الله عنه څخه یو ارشاد نقل دی چې غناء نفاق داسې شین کوي لکه څرنګه چې اوبه شینکیا شنه کوي. د حضرت جابر رضی الله عنه څخه دا الفاظ نقل دي چې څرنګه اوبه فصل شین کوي. د حضرت انس رضی الله عنه څخه دا الفاظ نقل دي چې غنا او لهوه په زړه کې نفاق داسې شین کوي لکه څرنګه چې اوبه وابنه شنه کوي.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه دا الفاظ نقل دي چې د غنا مینه په زړه کې نفاق داسې شین کوي لکه څرنګه چې اوبه وابنه شنه کوي، په دغه ارشاداتو کې د نفاق څخه مراد هغه عملي نفاق دی چې د څرګنده احوال پر خلاف د ګناه خواهش پټ لري.

حضرت فضیل ابن عیاض رضی الله عنه فرمایي چې غنا د زنا منتر دی په هرحال په دې اړه د صحابه کرامو او تابعینو دا ډول نور ډیر ارشادات نقل دي، او کوم چې د فقهاؤ تعلق دی هغوی هم ددې حرمت او کراهت ډیر زیات په شدت سره بیان کړی دی او د څلورو امامانو په اتفاق سره مشهور او صحیح قول دادی چې غنا مکروه ده او پر دې د حرمت اطلاق هم منقول دی، قاضي ابو اللطیف رحمة الله علیه، شعبي رحمة الله علیه، سفیان ثوري رحمة الله علیه، حماد نخعي رحمة الله علیه او د فاکهي رحمة الله علیه څخه حرام کیدل ثابت سوي دي، علامه بغوي رحمة

الله علیه هم په تفسیر معالم التنزیل کي ویلي دي چي د څلورو امامانو په نزد غنا حرامه ده.

علامه قطبي رحمة الله علیه فرمایلي دي چي د غناء د حرمت په باره کي اختلاف نسته ځکه چي د دا د لهو لعب د قبیل څخه دی چي په متفقه توګه سره د ټولو په نزد مذموم دی هو کومه غنا چي د محرمات څخه محفوظ وي هغه لږ ډیر د واده، کوزدې او دا ډول نورو مراسمو کي جائز دی، د علماؤ د یو ډلي میلان د غناء د اباحت خوا ته دی.

په دې اړه دا خبره هم باید په ذهن کي وي چي دلته د کومي غنا او سروز په باره کي بحث کیږي او د حرمت او اباهت محل اختلاف دی دا هغه ډول غنا ده لکه غزلچیان چي د پېسو او فن په توګه ېې اختیاروي هغوی یوازي د خلکو په طبیعتونو کي هیجان او کیف ونشاط پیدا کولو لپاره داسي شعرونه وایي چي یوازي د محرومات پر ذکر باندي مشتمل دي هو هغه غنا مباح ده چي پر داسي پاکو شعرونو باندي مشتمل وي چي په هغه کي زړونه روحاني خوشحالي محسوس کړي او د محروماتو او مکروهاتو پر ذکر باندي مشتمل نه وي مثلا د الله تعالی حمد، د رسول الله ﷺ نعت، د حرمین شریفین یا د نورو مقدسو ځایونو منقبت، جهاد او د میدان جنګ اوصاف، د کوچنیانو خوشحالي او د بیده کولو لپاره د مندو خویندو کوچنیانو ته الله هو، د بزرګانو جائز توصیف او تعریف، د لاري پرې کولو لپاره د مسافرو د خوشحالي لپاره دا ډول اشعار په ترنم سره ویل نا جائز نه دي مګر تر یوه حده پوري دا مستحب دي ځکه چي دا د نیک او با مقصد اعمالو لپاره د نشاط موجب دي.

کوم علماء چي د غنا د اباحت قائل دي هغوی وایي چي غنا او سماع د اکثرو صحابه کرامو، تابعینو، محدثینو او علماؤ څخه چي اصحاب زهد او تقوی وه نقل دي، دا حضرات وایي چي د غنا د حرمت او کراهت په اړه د امامانو او ځینو اکابرو څخه چي کوم سخت الفاظ نقل دي هغه په اصل کي پر هغه غنا باندي محمول دي چي په هغه کي فحش مضامین یا د هغه سره د غیر شرعي شیانو مثلا مزامیر وغیره ارتباط وي دا خبره د هغه حضراتو له خوا ځکه کیږي چي د امامانو او علماؤ په قول او فعل کي تطبیق راسي ځکه چي د هغوی څخه هم غنا اوریدل نقل دي.

د پخوانۍ زمانې بزرګانو او شیخانو او د وروستنۍ زمانې بزرګانو او شیخانو د اقوالو او افعالو په مینځ کي هم اختلاف دی د مخکنۍ زمانې شیخانو چي په راه طریقت پیش روا رهنما دي پرهیز کوی خو وروسته د ځینو مشائخو څخه د سماع ابتداء کیږي په دې اړه د مخکنۍ زمانې د شیخانو د قول او فعل په باره کي د دې خبري اندازه لګیږي چي شیخ حماد

وياس رحمة الله عليه چې د خپل وخت امام طريقت او د سلسله قادريه يو جليل القدر شيخ غوږ ته غزل ورسېدل نو سمدستي ودريدی او وه يې فرمايل: نن زما څخه داسي کومه ګناه سوې ده چې د هغه په سزا کې زه په دې اخته کړل سوی يم تر ډيره وخته پورې يې غور او فکر کوی خو يو داسي خبره ورته محسوس نه سوه چې د هغه څخه پوه سي چې فلانی ګناه ورڅخه سوې ده کله چې کور ته راغلی نو پلټنه يې شروع کړه د ډير وخت وروسته ورته معلومه سوه چې يو عکس لرونکې پياله يې رانيولې ده نو وه يې فرمايل: همدا سبب دی چې د هغه په وجه زه په دې سزا کې اخته سوم چې د غزلو اواز زما غوږو ته راځي، د حضرت شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه اقوال او ارشادات د کتلو څخه هم دا معلوميږي چې نومورې به دا بد ګڼل.

د حضرت شبلي رحمة الله عليه په باره کې نقل دي چې يو وار د هغه څخه پوښتنه وسول چې: آيا غنا جائز ده؟ نو هغه پوښتنه وکړل چې ايا هغه غنا حق ده؟ يعنې په هغه کې غير شرعي او غير اخلاقي مضامين مذکور نه دي؟ خلکو وويل: يا، نو نومورې وفرمايل که هغه حق نه ده نو بيا د ګمراهۍ څخه پرته نور څه کېداى سي، بيا يې وفرمايل د دې مکروه کيدو مخکښ دليل کافي دی د دې په ذريعه نه يوازې دا چې په طبيعت کې خواهشات نفساني او د بښځو خوا ته ميلان کيږي بلکه په دې کې د نفس اماره د خوښۍ، د عقل د سپکي او د ناءت اظهار هم دی البته د الله ذکر او د هغه په ياد کې مصروف کيدل د هر هغه سړي لپاره چې پر الله او د اخرت پر ورځ يې ايمان راوړی دی تر ټولو غوره دی.

شيخ ابوالحسن شاذلي رحمة الله عليه چې د شاذليه لړۍ امام او پيشوا دی، فرمايي: کوم خلک چې په سماع کې مصروف کيږي او د ظالمانو ډوډی خوري په هغوی کې د يهوديت يوه برخه شامله ده چې د هغه په باره کې الله تعالى فرمايي: (سماعون للكذب آكلون للسحت)

حضرت اما غزالي رحمة الله عليه فرمايي چې د سماع څو درجې دي: اوله درجه: د ځوانانو لپاره حرام محض ده ځکه چې د ځوانانو مزاج او پر طبيعت باندې د خواهشاتو نفسانيه غلبه وي نو سماع د هغوی لپاره پر ځای د ښه اثر مرتب کيدو د هغوی خواهشات نفساني کې زيات انتشار پيدا کوي.

دوهم: د هغه سړي لپاره مکروه ده چې اکثر وختونه په لهو، لعب او سماع کې مصروف وي.

دريم: د هغه سړي لپاره مباح ده چې يوازې د ترنم او په خوش آوازۍ سره دلچسپي لري.

څلورم: د هغه سړي لپاره مندوب ده چې په هغه کې د الله تعالى د مينې غلبه وي او سماع د هغه لپاره ښه اثرات مرتب کړي.

د چشتیه مشائخو په اړه نقل دي چي هغوی د سماع سره دلچسپي درلودل، خو د هغوی د لچسپي به د آدابو او شرطو په حدودو کي دننه وه هغوی به اکثر په خلوت کي سماع اوریدل چي په هغه کي به نامحرم نه وو .

د شیخ المشائخ خواجه نظام الدین په اړه ویل کیږي چي هغه به هم سماع اوریدل مګر د هغه مجلس سماع به د مزامیر او تالی په ډول د لغویاتو څخه پاک وه .

په هر حال مطلب دادی چي کوم صوفیان د سماع قائل دي د هغوی په نزد دا کلیه مقرره ده چي سماع یوازي د اهل لپاره مباح ده هغوی نه یوازي دا چي د سماع لپاره اداب او شرطونه ټاکلي دي بلکه دایې هم ښودلي دي چي د سماع اوریدو اهل چاته ویل کیږي همداسي د سماع د ممانعت په اړه فقهاء او اکابر اولیاء څخه چي کوم الفاظ نقل دي د هغه تعلق د هغه نغمې او سروز سره دی چي په هغه سره غیر مشروع شیان مثلا مزامیر وغیره وي او د هغه بنیاد پر یوازي نفسي خواهشاتو او لهو لعب باندي وي کنه خوش آوازي ممنوع نه ده ځکه چي هغه مباح الاصل ده .

او بیا ددې حقیقت څخه انکار هم نسي کېدای چي څرنګه په خوش آوازي کي مفاسد دي همداسي مصالح وغیره هم دي مثلا غزل او ترنم سخت زړه نرموي او په عباداتو کي ذوق، شوق، خوږوالی او خشوع پیدا کوي مګر ددې سربېره پر غزلو او ترنم باندي همیشتوب داکابر سلف دا طریقه د اتباع څخه لیري ده ځکه کېدای سي چي کوم سړی پر دې همېشتوب کوي نو هغه ددې دلچسپي ته پر عباداتو او ریاضت باندي ترجیح ورکوي او د شیطان مکر او فریب هغه د سمي لاري څخه خپل په جال کي د اطاعت او شریعت اهمیت د هغه په نظر کي کم کړي چي د هغه په وجه هغه پر غلطه لار روان سي، نو سماع بذاته خو مباح ده مګر غلط معارض لکه د ښځي او شرابو ذکر، د نامحرمو ښځو او هلکانو غزلي، مزامیر یعني ډول او هارمونیم وغیره، د سماع پر نا اهلیت او پر دې د همیشتوب په وجه ممنوع دي .

دا خبره دي په ذهن کي وي چي کوم خلک د معرفت، حقیقت مینې مدعا کېدو سره د یو خاص جذبې د تسکین له کبله په سماع کي په بوخت کېدو سره حقیقي ذکر الله او د قرآن کریم د تلاوت څخه محروم کیږي هغوی د خپل نفس دوکه او د شیطان په فریب کي راګیر دي، هغوی په حقیقت کي د سیده لاري په پرېښودو سره غلطه لار اختیار کړې ده چي د هغه په وجه ورځ په ورځ ددین او شریعت د لاري څخه لیري کیږي ، د هغوی دا حالت دی چي په نور عبادت کي به څه بوخت سي د هغوی لمنځونه هم په بې روح کېدو سره محضي د ناستي یوه ټولګه جوړه سوې

ده ، هغه لمنځونه هم د جبر او ریا په وجه یا په مخلوق کې د خپل دین او مذهبي ژوند د ښودلو لپاره یې کوي افسوس چې د هغوی د سماع سره دومره دلچسپي نه وي یوازې هغوی لمونځ، روژه او نور فرضونه په خلوص نیت سره ادا کولای نو د هغوی دین به کم از کم نه پاته کیدی، په دې اړه دا صورت هم دی چې نن سبا کوم خلک د سماع قائل دي د هغوی نظر دادی چې فلاني بزرګ سماع اوربدل ، زمونږ فلاني پیشوا د هغه قائل وو ، نو کله چې هغه اختیار کړل نو مونږ هم د هغوی پیروي کوو ، او د هغوی په اتباع کې سماع جائز ګڼو ، حال دا چې دا هم محض د نفس فریب دی ځکه که چیرې هغه بزرګانو سماع اختیار کړه او د هغه سره یې مینه درلودل نو دا هم د هغوی د بې خودۍ او د حال غلبه وه که چیرې هغوی سماع اوربدلې ده نو پر هغه یې هیڅشتوب نه دی کړی بلکه کله کله یې د یو حکمت سره سم اوریدلې ده او بیا دا چې د هغوی په مجلسو کې د سماع دا جلوه نه وه بلکه هغوی په خلوت کې او د نیت په خلوص سره اوریدلې ده او هغوی په ضروري ګرځولو سره یو طریقه تاکلې نه ده چې په هر صورت کې په هغه عمل وکړل سي ، او بیا دا چې د هغه بزرګانو جذبه، حال او د نیت اخلاص او چیرې مونږ د زمانې دنیاوي او نفساني خواهشات او د نفس او فریب ، اوس خو د هغه بزرګانو یوازې ددې خبرې تقلید دی نه چې د هغوی د صالح افکارو اطاعت او نه د هغوی د نیك اعمالو او مقدس ژوند پیروي ده .

حقیقت دادیچې د هغه بزرګانو سره نه خو ددغه خلکو یو حقیقي نسبت سته او نه د هغه بزرګانو ددغه خلکو سره څه تعلق سته، او کوم خلک چې دا کارونه د پلار او نیکه روایت ګڼي بیله اهلیته یې اختیاروي د هغوی پر حال دغه آیت کریمه صادقیږي :

إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ ۞ فَهُمْ عَلَى آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ

خلاصه دا چې نن سبا کومه طریقه رواج ده چې د اولیاء الله پر مزارو د عرس په نامه محض د نمود او ښوونې او شهرت جشن کوي ، د رقص او سروز مجلسونه جوړوي ، قوالۍ او قوالي ویونکي د خپل قوالۍ او ساز وسامان سره یوازې د شهرت او مال تر لاسه کولو لپاره راځي ، حاشا لله چې د پخوانۍ زمانې د یو بزرګ دا طریقه پاته سوې وي .

او بیا دا چې دا شیان د مشائخو په عرسونو کې د الله تعالی د قرب ذریعه ګڼل کیږي داسي خلک دي فکر وکړي چې دوی د ګمراهۍ او ضلالت لار اختیار کړې ده ، آرمان چې دغه خلکو خپل ځان ته متقي، پرهیزګار او بزرګان نه ویلای، او خپل آزاد بدن ته یې د زهد او تقوا دا تنګه جامه نه اغوستلای،

نبه پوه سئ چي د داسي خلکو شرعا او ديانتا نه خو اطاعت واجب دی او نه د دوی تعظيم ضروري دی، ځکه که چيري د دغه خلکو عزت وکړل سي نو په دا ډول به د دوی دغه غلط اعمال او افعال تائيد او مرسته به يې کيږئ ، الله تعالی دي موږ ټولو ته پر هغه لار د تللو توفيق را کړي چي هغه د خپل پيغمبر ﷺ په ذريعه موږ ته را ښودلې ده . آمين .

د اختر په ورځ خرما خوړل

﴿۱۳۴۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَغْدُوْ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى يَأْكُلَ تَمَرَاتٍ وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا . رواه البخاري .

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چي تر څو پوري به رسول الله ﷺ يو څو خرما وي نه وای خوړلي نو د کوچني اختر لمانځه ته به نه راتلی او رسول الله ﷺ به طاق خرما وي خوړلې .بخاري

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۴۴٦، رقم: ۹۵۳.

تشريح : د رسول الله ﷺ د اختر په ورځ عيدګاه ته د تللو څخه مخکي خرما خوړل ګويا په خوراک کي تلوار کول وو چي د مخکنيو ورځو يعني روژې څخه امتياز پيدا سي ځکه چي څرنګه په روژې کي نه خوړل واجب دي همداسي د اختر په ورځ خوړل واجب دي .

رسول الله ﷺ به خرما طاق يعني درې، پنځه ، اوه يا تر دې کمي يا زياتي خوړلې په هر کار کي د طاق شمېر خيال ساتل غوره دي ځکه رسول الله ﷺ په دې اړه هم د طاق لحاظ ساتی او ددې وجه داده چي (ان الله وتر يحب الوتر) يعني الله تعالی طاق دی او طاق خوښوي .

د اختر په ورځ به رسول الله ﷺ خرما ځکه خوړل چي هغه به هغه وخت موجود وې ځيني حضراتو ويلي دي په خرما خوړلو کي حکمت دا وو چي هغه خوږې وې او د قوت بصر ذريعه جوړيدل په خاصه توګه سره د خلو معده وخت خو نظر ته تقويت لپاره دا ډير ژر اثر کوي نو د روژو په وجه چي کوم ضعف پيدا سوی دی خرما خپل په اثراتو سره هغه ختموي بيا دا چي خوږوالی د مقتضاء ايمان موافق ده، علماء ليکي کوم سړی په خوب کي خوږ شی خوړل وويني هغه ته حلاوت ايمان نصيب کيږي او خوږ شی زړه نرموي په دې ترتيب سره په خواږه شي سره روژه ماتول افضل دي .

عيدګاه د تګ راتګ دوې لاري

﴿۱۳۵۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيْدٍ

خَالَفَ الطَّرِيْقَ . رواه البخاري .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې د اختر په ورځ به رسول الله ﷺ پر دوو مختلفو لارو تګ راتګ کوی . بخاري

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) ۱۲\ ۴۷۲، رقم: ۹۸۶.

تشريح : يعني عيدګاه ته به په پر پوه لاره راتلی او پر دوهمه لاره به د عيدګاه څخه بيرته تلی په دې کي حکمت داوو چې پر دواړو لارو باندې انسانان او پيريان د عبادت شاهدي ورکړي ددې څخه پرته نوري وجهي هم علماؤ ليکلي دي مګر حقيقت دادی چې دا ټول د احتمال په درجه کي دي، علماء د خپل فهم سره سم ددې وجهي بيان کړي دي اصل حقيقت او وجه څه ده په دې الله او د هغه رسول ښه پوهيږي .

د اختري کولو وخت

﴿۱۳۵۱﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ خَطَبَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دی چې د قربانی په ورځ به رسول الله ﷺ زمونږ په وړاندې خطبه ويل

فَقَالَ إِنَّ أَوَّلَ مَا نَبْدَأُ بِهِ فِي يَوْمِنَا هَذَا نُصَلِّي ثُمَّ نَرْجِعُ فَنَنْحَرُ فَمَنْ فَعَلَ

رسول الله ﷺ به فرمايل : تر ټولو لومړی کار چې نن مونږ کوو هغه دادی چې مونږ لمونځ وکړو او بيا کورو ته ولاړ سو او قرباني وکړو ، کوم څوک چې په دې طريقه عمل وکړي

ذٰلِكَ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا وَمَنْ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ نُّصَلِّيَ فَإِنَّمَا هُوَ شَاةُ لَحْمٍ عَجَّلَهُ

نو هغه زمونږ سنت تر لاسه کړل او چا چې دلمانځه وړاندې قرباني وکړه نو هغه قرباني نه ده بلکه د غوښو پسه دی چې

لِأَهْلِهِ لَيْسَ مِنَ النُّسُكِ فِي شَيْءٍ . متفق عليه

د خپل کورنی لپاره يې ژر حلال کړی دی د قرباني سره ددې هيڅ اړه نسته . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\ ۴۵۶، رقم: ۹۶۸، ومسلم ۱۳\ ۱۵۵۳، رقم: ۷- ۱۹۶۱.

تشريح : مطلب دادی چې د لمانځه مخکې په قرباني کولو سره د قربانی ثواب نه حاصليږي مګر د هغه شميرد هغه په غوښه کي کيږي چې روزانه کور والا يې خوري .

په دې اړه مشروع دادی چې مخکې دې د لوی اختر لمونځ وکړي او د هغه وروسته دې خطبه ووايي او بيا دې قرباني وکړل سي، په پورتني حديث کې د قربانۍ تر وخته پورې وضاحت سوی دی ځکه د علماؤ پر دې خبره اجماع ده چې د اختر په ورځ د سهار مخکې قرباني کول جائز نه ده البته د سهار وروسته د قربانۍ وخت د مشروع کيدو په اړه د امامانو اختلاف دی د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چې لمر د يوې نيزې برابر سي او د هغه وروسته کم از کم دوه رکعته لمونځ او د دوو خطبو په اندازه وخت چې تير سي نو د قربانۍ وخت شروع کيږي د هغه وروسته قرباني کول جائز کيږي که څه هم د لوی اختر لمونځ سوی وي يا نه وي سوی، د دې وخت څخه مخکې قرباني نه ده جائز که څه هم قرباني کونکی په بنار کې اوسيږي يا په کلي کې، د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د قربانۍ وخت د ديارلسم تاريخ تر لمر لوېدو پورې دی.

د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد د قربانۍ وخت د بناريانو لپاره د لوی اختر د لمانځه وروسته شروع کيږي او د کلي اوسيدونکو لپاره د صبح صادق څخه وروسته شروع کيږي د دې په نزد د قربانۍ اخري وخت د دوولسم تاريخ تر اخيره پورې دی.

اختری واجب دی که سنت ؟

د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد قرباني واجب نه ده مګر سنت ده او د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دادی چې پر هر صاحب نصاب باندې قرباني واجب ده.

﴿۱۳۵۲﴾: وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللهِ الْبَجَلِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت جندب بن عبدالله البجلي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرٰى وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ

کوم څوک چې د لمانځه مخکې اختری وکړي نو هغه ته پکار ده چې د هغه پر ځای بل اختری وکړي او څوک چې

حَتّٰى صَلَّيْنَا فَلْيَذْبَحْ عَلَى اسْمِ اللهِ . متفق عليه

د لمانځه وروسته اختری وکړي نو هغه ته پکار ده چې د الله په نوم اخيستلو سره اختری وکړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹\ ۶۳۰، رقم: ۵۵۰۰، ومسلم ۳\ ۱۵۵۱، رقم: ۱- ۱۹۶۰.

﴿۱۳۵۳﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ذَبَحَ

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چې اختری حلال کړي

قَبْلَ الصَّلَاةِ فَإِنَّمَا يَذْبَحُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ

دلمانځه مخکې نو هغه د خپل ځان لپاره وکړی او چا چې د لمانځه وروسته حلال کړي نو د هغه ارکان پوره سول

وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِينَ. متفق عليه

او د مسلمانانو سنت يې ترلاسه کړل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۳، رقم: ۵۵۴۶، ومسلم ۳\ ۱۵۵۲، رقم: ۴- ۱۹۶۱.

تشريح : د جمهورو علماؤ مذهب هم دادی، مګر تعجب دی چې د دومره واضح او صحيح حديثو سربيره امام شافعي رحمة الله عليه ولي د جمهورو علماؤ د مذهب خلاف دا وايي چې د اختري کولو د وخت پيل کېدو څخه وروسته اختری کول جائز دی که څه هم لمونځ سوی وي يا نه وي سوی، ځرنګه چې مخکې د هغه مذهب نقل سوی دی.

په عيدګاه کې اختری کول

﴿۱۳۵۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْبَحُ وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلَّى. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به په عيدګاه کې حلالول او نحر به يې کوی (يعني د اوښ حلالول) کول. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\ ۴۷۱، رقم: ۹۸۲.

تشريح : پسه، بزه، غوا، ګامېښه او اوښ دغه حيوانان که نر وي يا ښځه ددې څخه پرته د نورو حيوانانو قرباني نه ده جائز، د اوښ څخه پرته د نورو حيوانانو حلالولو ته ذبح وايي او د اوښ حلالولو ته نحر وايي، د نحر طريقه داده چې اوښ ودروي د هغه په سينه کې نيزه ووهل

سي چي په هغه سره اوښ راولويږي که څه هم اوښ ذبح کول جائز دی مګر نحر افضل دي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د خوشحالۍ دوې ورځي

﴿۱۳۵۵﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وَلَهُمْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله رسول الله ﷺ مدينې ته تشريف راوړو نو په هغه وخت کي د مدينې د خلکو

يَوْمَانِ يَلْعَبُوْنَ فِيْهِمَا فَقَالَ مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ ؟ قَالُوْا كُنَّا نَلْعَبُ فِيْهِمَا فِي

دوې ورځي وې چي په هغو کي يې خوشحالي او لوبي کولې ، رسول الله ﷺ د خلکو څخه پوښتنه وکړه چي دا دوې ورځي څنګه دي ؟ صحابه کرامو عرض وکړ په دې ورځو کي به موږ د جاهليت په زمانه کي خوشحالي او لوبي کولې ،

الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَبْدَلَكُمُ اللهُ بِهِمَا خَيْرًا

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله تعالى تاسو ته دا ورځي په دوو غوره ورځو بدلي کړې

مِّنْهُمَا يَوْمَ الْأَضْحٰى وَيَوْمَ الْفِطْرِ . رواه أبو داود .

يعني د لوی اختر ورځ او د کوچني اختر ورځ . ابوداؤد .

تخريج : سنن ابي داؤد ۱\ ۶۷۵، رقم: ۱۱۳۴.

تشريح : د جاهليت په زمانه کي د مدينې اوسيدونکو لپاره دوې ورځي تاکلي وې چي په هغو کي به په لهو او لعب کي مصروف کيدل او خوشحالي به يې کول په هغو کي يوه ورځ د نوروز وه او دوهمه ورځ د مهرجان، د نوروز په ورځ لمر په برج حمل کي او د مهرجان په ورځ په برج ميزان کي داخليږي په دغه دواړو ورځو کي آب اوهوا معتدله وي او شپې برابري وي ځکه دا دواړي ورځي حکماء د خوشحالي کولو لپاره تاکلي دي دغه رواج په خلکو کي راروان وو تر دې چي اهل مدينه په اسلام مشرف سول ، په شروع کي د پخواني عادت سره سم په دغه ورځو کي د مخکنۍ زماني په دول به يې خوشحالي کوله، رسول الله ﷺ چي د دغه دواړو ورځو حقيقت وپوښتی نو خلکو د دې څه حقيقت بيان نه کړای سو يوازي دومره يې وښودل چي د پخوانی

زماني څخه دا طريقه راروانه ده چې موږ په دغه ورځو کې خوشحالي کوو بيا رسول الله ﷺ وفرمايل ددغه ورځو سره اوس تاسو هيڅ کار مه ساتئ ځکه چې الله تعالى د دغه ورځو څخه غوره ورځې تاسو ته د اخترو دوې ورځې درکړې دي تاسو په دغه دوو برکتناکو ورځو کې خوشحالي کولای سئ ګويا داسي رسول الله ﷺ اشاره وفرمايل چې مسلمانانو ته پکار ده چې هغوی حقيقي اختر او خوشحالي د عبادت په ورځ وکړي نو په دې حديث کې د اخترو په ورځ په لهو او لعب کې د مصروف کيدو څخه منعه ده، بلې خوا ته دا خفي اشاره ده چې په اخترو کې په ډيره معمولي طريقې سره بازی او په هغه طريقې سره خوشحالي کول چې په هغه کې د شريعت د حدودو څخه تجاوز نه وي جائز دی.

دا حديث په ډير بليغ انداز کې دا ښيي چې د غير مسلمو د مېلو تعظيم کول او په هغه کې خوشحالي کول او د هغوی رسمونه خپلول او دا حديث د غير مسلمانانو اختر او په ميله کې د شرکت او حاضری ممانعت هم ښکاره وي ځيني علماء خو دا دومره سخته ګڼلې ده چې په دې عمل ېې د کفر په حکم کې راوستلي دي.

ابو حفص کبير حنفي فرمايي کوم سړی چې د نوروز د عظمت او توقير له کبله په دغه ورځ مشرکانو ته په تحفه کې هګۍ ورکړي لکه څرنګه چې په دغه ورځ کې د مشرکانو طريقه ده نو هغه کافر کيږي او د هغه ټول اعمال بيکاره کيږي.

د قاضي ابو المحاسن حسن ابن منصور حنفي رحمة الله عليه قول دی که څوک په دغه ورځ هغه شيان واخلي چې په نورو ورځو کې ېې نه اخلي څرنګه چې دلته د ديوالي په ورځ د بازيو او خوارۍ شيان وغيره واخلي يا په دغه ورځ يو چا ته تحفه وروا ستوي او د هغه څخه د هغه مقصد د دغه ورځې تعظيم وي لکه څرنګه چې مشرکان ددغه ورځې تعظيم کوي نو هغه سړی کافر کيږي او که يو سړی يوازي د خپل استعمال او ګټې اخيستلو لپاره يا د عادت سره سم يو چا ته د هدې ېې استولو په نيت سره يو شي ورکړي نو کافر کيږي نه مګر دا هم مکروه دي همداسي د کافرانو سره مشابهت کيږي ځکه نو ددې څخه هم پرهيز کول پکار دی.

همداسي که يو سړی د عاشورا په ورځ خوشحالي کوي نو د خوارج سره مشابهت پيدا کيږي او که په دغه ورځ د غم او تکليف شيان نه اختياروي نو د روافض سره مشابهت پيدا کيږي نو ددغه دواړو خبرو څخه ځان ساتل پکار دي په دې خبره هم پوه سی چې د نوروز عظمت او توقير په اړه روافض د مجوسيانو سره ګډون کوي او ددې سبب دا بيانوي چې په دغه ورځ حضرت عثمان رضی الله عنه شهيد سوی دی او د حضرت علي کرم الله وجهه خلافت منځته راغلی دی.

په فتاوی ذخیره کي لیکلي دي چي کوم سړی د هولي یا دیوالي (د هندوانو د لمانځني ورځي) د کتلو لپاره په خاصه توګه ووځي نو هغه د کفر حد ته نژدې کیږي ځکه چي په دي کي د کفر اعلان کیږي نو داسي سړی ګویا په خپل دغه عمل سره د کفر مرسته کوي، او پر دې باندي د نوروز کتلو لپاره وتَل هم قیاس کول پکار دي لکه چي ځینې مسلمانان داسي کوي دا هم د کفر موجب دی.

په تجنیس کي ذکر دي چي زمونږ د مشائخو او علماؤ پر دې اتفاق دی چي کوم سړی د اهل کفارو د معتقداتو او معاملاتو څخه د یو شي د ښه کیدو اعتقاد وساتي نو هغه د کفر په حدود کي داخلیږي پر دې دامسئله هم قیاس کېدای سي که یو سړی د یو داسي اهل هوا وهوس انسان مثلا د شریعت ځرګنده خلاف ورزي کونکی د نام نهاد صوفیاء د یو کلام یا قول په باره کي ښه خیال ساتي او دا وایي چي دا کلام معنوی دی یا دا وایي چي فلانی قول داسي دی چي د هغه معنی صحیح ده همداسي نوادر الفتاوی کي نقل دي چي کوم سړی د غیر مسلمانانو په رسمونو کي ګډون وکړي نو هغه کافر کیږي، په عمدة الاسلام کي لیکلي دي چي کوم سړی د کافرانو رسمونه ادا کوي مثلا په نوي سرای کي د غوایي، غوا او آس په ژړ او سور رنګ ورکولو سره تړي نو هغه کافر کیږي.

خلاصه دا چي د عقیدو او رواجو څخه قطعا پرهیز کول پکار دی په کوم کي د اسلام او شریعت هیڅ اړه هم نسته مګر د دې بنیاد پر خالص غیر اسلامي او غیر شرعي شیانو باندي دی.

په کوچني او لوی اختر کي خوراک

﴿۱۳۵۶﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى يَطْعَمَ وَلَا يَطْعَمُ يَوْمَ الْأَضْحٰى حَتّٰى يُصَلِّيَ. رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي.

د حضرت بریدة رضي الله عنه څخه روایت دی چي د کوچني اختر په ورځ تر څو پوري چي رسول الله ﷺ به یو شی خوړلی نه وو نو دباندي به نه راوتی او د لوی اختر په ورځ به یې تر هغه وخته پوري څه نه خوړل تر څو چي لمونځ به یې نه وو کړی. ترمذي، ابن ماجه، دارمي.

تخریج: سنن الترمذي ۲\ ۵۴۲، رقم: ۵۴۲، وابن ماجه ۱\ ۵۸۸، رقم: ۱۷۵۶، والدارمي ۱\ ۴۵۵، رقم: ۱۶۰۰.

تشریح: د کوچني اختر په ورځ د لمانځه مخکي د خوراک او څښناک سبب په تیرو صفحو کي بیان سوی دی د لوی اختر په ورځ به رسول الله ﷺ د غریبانو او مسکینانو سره د ملګرتیا او د

هغوی د زړه د خوشحاله کولو له کبله د لوی اختر د لمانځه وروسته خوړل څښل کول ځکه چې غریبانو او مسکینانو ته به خوراک او څښاک هغه وخت په برخه کیدی چې کله به قرباني وسول او د هغه غوښه به پر خلکو ووېشل سول ځکه نو رسول الله ﷺ به د هغوی په وجه خپله هم خوراک او څښاک په زند سره کوی .

د اختر و تکبیرونه

﴿۱۳۵۷﴾: وَعَنْ كَثِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

حضرت کثیر بن عبدالله د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چې د دواړو اختر وپه لمنځو کې به رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ كَبَّرَ فِي الْعِيْدَيْنِ فِي الْأُوْلٰى سَبْعًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ وَفِي الْآخِرَةِ خَمْسًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي .

په لومړي رکعت کې د قرائت څخه وړاندې اووه تکبیرونه ویل او په دوهم رکعت کې د قرائت څخه وړاندې پنځه تکبیرونه ویل. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۲\۴۱۶، رقم: ۵۳۶، وابن ماجه ۱\۴۰۷، رقم: ۱۲۷۹. والدارمي ۱\۲۲۰، رقم: ۱۶۰۶.

تشریح: مطلب دادی چې رسول الله ﷺ به په اول رکعت کې د قرائت مخکې تحریمه او د رکوع د تکبیرونو څخه پرته اووه تکبیروه ویل همداسې په دوهم رکعت کې د قیام او رکوع د تکبیرونو څخه پرته پنځه تکبیرونه به هې ویل، د امام شافعي رحمة الله علیه پر دې عمل دی په دې اړه مفصل بحث مخته راځي .

﴿۱۳۵۸﴾: وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ مُرْسَلاً أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا

د حضرت جعفر بن محمد څخه مرسلا روایت دی چې رسول الله ﷺ،

بَكْرٍ وَّعُمَرَ كَبَّرُوْا فِي الْعِيْدَيْنِ وَالْاِسْتِسْقَاءِ سَبْعًا وَّخَمْسًا وَصَلُّوْا قَبْلَ

ابوبکر صدیق رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه به په دواړو اخترو کې او د استسقاء په لمانځه کې اووه تکبیرونه په لومړي رکعت کې او پنځه تکبیرونه په دوهم رکعت کې ویل

الْخُطْبَةِ وَجَهَرُوْا بِالْقِرَاءَةِ. رواه الشافعي.

او د خطبې مخکې به يې لمونځ کوی او په لوړ آواز سره به يې قرائت وايه. شافعي.

تخريج: مسند الشافعي ۱۵۷، رقم: ۴۵۷.

تشريح: د جعفر څخه مراد امام جعفر صادق رحمة الله عليه، ابن باقر رحمة الله عليه، ابن علي رحمة الله عليه يعني امام زين العابدين ابن حضرت امام حسين ابن حضرت علي كرم الله وجهه دی، د اووو او پنځو وضاحت په پورتني حديث کې بيان سوی دی چې په اول رکعت کې د قرائت څخه مخکې به يې اوه تکبيرونه او په دوهم رکعت کې د قرائت څخه مخکې به يې پنځه تکبيرونه ويل او دا هم ښودل سوي ده چې د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب هم دادی.

﴿۱۳۵۹﴾: وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا مُوْسٰى وَحُذَيْفَةَ كَيْفَ كَانَ

د حضرت سعيد بن عاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما د ابو موسی او حذيفه څخه پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ به

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي الْأُضْحٰى وَالْفِطْرِ؟ فَقَالَ أَبُوْ مُوْسٰى

په کوچنۍ او لوی اختر کې څنګه تکبيرونه ويل؟ ابو موسی وويل:

كَانَ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا تَكْبِيْرَهُ عَلَى الْجَنَائِزِ فَقَالَ حُذَيْفَةُ صَدَقَ. رواه أبو داود.

رسول الله ﷺ به څلور تکبير ويل لکه څرنګه چې د جنازې په لمانځه کې ويل کيږي او ابو حذيفه د دې تصديق وکړ. ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۶۸۲، رقم: ۱۱۵۳.

تشريح: د حضرت ابو موسی رضي الله عنه د جواب تفصيل دادی چې څرنګه رسول الله ﷺ به د جنازې د لمانځه کولو پر وخت څلور تکبيرونه ويل همداسې رسول الله ﷺ به د اختر و په لمانځه کې په هر رکعت کې څلور تکبيرونه ويل په داسې توګه چې په اول رکعت کې د قرائت څخه مخکې په تکبير تحريمه سره به يې څلور تکبيرونه ويل او په دوهم رکعت کې د قرائت څخه وروسته د رکوع د تکبير سره څلور تکبيرونه به يې ويل.

په دې اړه په دې پوهيدل پکار دي چې د اختر د تکبيراتو په اړه متضاد حديثونه نقل دي

په دې وجه د امامانو څخه هم په مذهب کې اختلاف څرګند سوی دی د درو سره امامانو په نزد د اخترو په لمانځه کې په اول رکعت کې اووه تکبیرونه دي او په دوهم رکعت کې پنځه تکبیرونه دي فرق یوازي دادی چې د امام مالک رحمۃ اللہ علیہ او امام احمد رحمۃ اللہ علیہ په نزد په اول رکعت کې پنځه تکبیرونه د تکبیر تحریمې سره دي او همداسي په دوهم رکعت کې پنځه تکبیرونه د قیام دتکبیر سره دي او د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد په اول رکعت کې اووه تکبیرونه د تکبیر تحریمې څخه پرته او په دوهم رکعت کې پنځه تکبیرونه د قیام دتکبیر څخه پرته دي.

د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه مذهب دادی چې د تکبیر تحریمې څخه پرته درې تکبیرونه په اول رکعت کې دي او د رکوع د تکبیر څخه پرته درې تکبیرونه په دوهم رکعت کې دي لکه څرنګه چې ددې حدیث څخه ثابتیږي او دا حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ هم اختیار کړی دی، او د امام شافعي رحمة الله علیه دقول سره سم د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ مذهب دی، او کوم چې د هغه احادیثو تعلق دی چې د هغو څخه امام شافعي رحمة الله علیه استدلال کوي نو د هغه صحت او ضعف او د هغه د اسنادو او طریقو په باره کې ډیر زیات اعتراضات دي چې د هغه نقل کولو دلته موقع نه وه، علماء حنفیه د خپل مذهب په باره کې لیکلي دي چې د اخترو د تکبیراتو په اړه کله چې متضاد حدیثونه مخته راسي نو په هغو کې مورږ هغه حدیثونه خپل معمول ګرځوو چې په هغو کې د تکبیراتو شمېر کم نقل وي ځکه چې د اخترو زائد تکبیرونه او رفع یدین په هرحال خلاف معمول دی ځکه نو د کم شمېر اختیارول به اولی وي.

د خطبې پر وخت پر لګړه تکیه

﴿۱۳۶۰﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُوْوِلَ يَوْمَ الْعِيْدِ قَوْسًا فَخَطَبَ عَلَيْهِ. رواه أبو داود

د حضرت براء رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ته د اختر په ورځ یو لیندی ورکړل سول او رسول الله ﷺ به پر هغه خطبه ویل. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱/۶۷۹، رقم: ۱۱۴۵.

تشریح: مطلب دادی چې څرنګه د لکړي وغیره په تکیه کولو سره خطبه ویل کیږي همداسي رسول الله ﷺ د لکړي پر ځای د لیندی په لګولو سره د هغه په مرسته خطبه و فرمایل.

﴿۱۳۶۱﴾: وَعَنْ عَطَاءٍ مُّرْسَلاً أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَطَبَ يَعْتَمِدُ عَلٰى عَنَزَتِهِ اِعْتِمَادًا . رواه الشافعي .

د حضرت عطاء څخه مرسلا روایت دی چې رسول الله ﷺ به کله خطبه ویل نو د خپلې نیزې پر تکیه لګولو سره به ودریدی . شافعي.

تخریج: مسند الشافعي ۱۴۵، رقم: ۴۲۲.

د لغاتو حل: (عَنَزَتِه): مثل نصف الرمح او اکبر شیئا وفیها سنان مثل سنان الرمح والعکازة قریب منها . (النهایة).

﴿۱۳۶۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ شَهِدْتُ الصَّلاَةَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې د اختر په ورځ زه د رسول الله ﷺ سره

يَوْمِ عِيْدٍ فَبَدَأَ بِالصَّلاَةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلاَ إِقَامَةٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلاَةَ

د لمانځه لپاره حاضر سوم، رسول الله ﷺ د خطبې څخه مخکې لمونځ وکړ او آذان او اقامت یې نه وکړ، کله چې رسول الله ﷺ لمونځ وکړ

قَامَ مُتَّكِئًا عَلَى بِلاَلٍ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ وَوَعَظَ النَّاسَ وَذَكَّرَهُمْ وَحَثَّهُمْ

نو د بلال په مرسته ودریدی (یعني تکیه یې کړې وه پر بلال باندې) د الله تعریف یې وکړ او ثناء یې وویل پرده او خلکو ته یې نصیحت وکړ او د عذاب او ثواب یادونه یې وکړه

عَلٰى طَاعَتِهِ ثُمَّ قَالَ وَمضٰى إِلَى النِّسَاءِ وَمَعَهُ بِلاَلٌ فَأَمَرَهُنَّ بِتَقْوَى اللهِ

او د الله تعالی پر فرمانبرداری یې زور واچوی، بیا د بلال سره رسول الله ﷺ د ښځو په لور تشریف یووړ او هغوی ته یې د الله ﷻ د بیرې هدایت او نصیحت وکړ

وَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ . رواه النسائي .

او د ثواب او عذاب یادونه یې وکړه . نسائي .

تخریج: سنن النسائي ۳\۱۸۶، رقم: ۱۵۷۴.

تشریح : ددې حدیث څخه معلومه سوه چې د خطبه ویونکي لپاره مناسب ده چې د خطبې ورکولو پر وخت د یو شی مثلا توره، لیندی، نیزه، لکړي یا د یو سړي په مرسته اخیستو سره ودریږي.

عیدګاه ته د تللو طریقه

﴿۱۳۶۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ يَوْمَ الْعِيْدِ فِيْ طَرِيْقٍ رَّجَعَ فِيْ غَيْرِهِ. رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ د اختر لمانځه ته پر یوه لار تشریف راوړلو نو پر هغه لار به نه ستنېدی بلکه پر بله لار به تلی. ترمذي، دارمي.

تخریج: سنن الترمذي ۲\ ۴۲۴، رقم: ۵۴۱، والدارمي ۱\ ۴۶۰، رقم: ۱۶۱۳.

تشریح : عیدګاه ته د تللو لپاره یوه لار غوره کول او د ستنېدو لپاره دوهمه لار غوره کول سنت ده، د دې حکمت ددې باب په اول فصل کې د یوه حدیث په تشریح کې بیان سوی دی، عیدګاه ته د تللو پر وخت په لاره کې تکبیر یعني الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر ویل پکار دي، د صاحبینو په نزد خو په دواړو اخترونو کې پر دواړو وختونو باندي په لاره کې دا تکبیر په لوړ اواز سره ویل پکار دي مګر امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمایي چې په کوچني اختر کې دا تکبیر په کرار اواز سره او په لوی اختر کې په لوړ اواز سره ویل پکار دي.

د عذر په وجه د اختر لمونځ په بنار کې کول

﴿۱۳۶۴﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ أَصَابَهُمْ مَطَرٌ فِيْ يَوْمِ عِيْدٍ فَصَلَّى بِهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْعِيْدِ فِي الْمَسْجِدِ. رواه أبو داود وابن ماجه.

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله به د اختر په ورځ باران وو نو نبي کریم ﷺ به خلکو ته د اختر لمونځ په مسجد کې ورکوی. ابوداؤد، ابن ماجه.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۶۸۶، رقم: ۱۱۶۰، وابن ماجه ۱\ ۴۱۶، رقم: ۱۳۱۳.

تشریح : مطلب دادی چې رسول الله ﷺ به د اختر و لمونځ د بنار څخه دباندي په ځنګل کې اداء کوی خو کله چې به باران سو نو په مسجد نبوي کې به ہې لمونځ کوی د دې څخه معلومه سوه چې د اختر و لمونځ په ځنګل کې یعني په عیدګاه کې اداء کول افضل دي هو که چیري یو

عذر وي نو بيا د ښار په مسجد کي اداء کول کيږي.

په دې اړه د اهل مکه لپاره مسئله داده چي هغوی دي د اخترو لمونځ په مسجد حرام کي اداء کوي ځرنګه چي نن سبا عمل دی همداسي اهل مدينه هم د اخترو لمونځ په مسجد نبوي کي اداء کوي.

د اخترو دلمانځه مستحب وختونه

﴿۱۳۶۵﴾: وَعَنْ أَبِي الْحُوَيْرِثِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَتَبَ إِلَى عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ وَهُوَ بِنَجْرَانَ عَجِّلِ الْأُضْحٰى وَأَخِّرِ الْفِطْرَ وَذَكِّرِ النَّاسَ. رواه الشافعي.

د حضرت ابو الحويرث رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ عمرو بن حزم ته چي په نجران کي وو وليکل چي د لوی اختر لمونځ ژر کوه او د کوچني اختر لمونځ په زند سره کوه او خلکو ته نصيحت کوه. شافعي.

تخريج: ترتيب مسند الامام الشافعي ۱\۱۵۳، رقم: ۴۴۲.

تشريح: نجران د يو ښار نوم دی چي رسول الله ﷺ عمرو ابن حزم رضي الله عنه هلته عامل تاکلی وو کله چي د هغه عمر اووه لس کاله وو نو رسول الله ﷺ هغه ته دا احکام ورکړي وه چي پر دې عمل وکړي، د لوی اختر د لمانځه ژر اداء کولو لپاره يې ځکه وفرمايل چي خلک د لمانځه د فارغه کيدو سره په قربانی وغيره کي مصروف سي همداسي د کوچني اختر لمونځ په زند سره د اداء کولو لپاره يې دا وفرمايل چي خلک دي د لمانځه مخکي سرسايه اداء کړي.

په شاهدي سره روژه ماتول

﴿۱۳۶۶﴾: وَعَنْ أَبِي عُمَيْرِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ عُمُوْمَةٍ لَّهُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

حضرت ابو عمر بن انس د خپل اکاګانو څخه چي د رسول الله ﷺ اصحاب وه روايت کوي چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَكْبًا جَاءُوْا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْهَدُوْنَ أَنَّهُمْ

د خلکو يو ډله سپره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او ددې خبري شاهدي يې ورکړه

رَأَوُا الْهِلَالَ بِالْأَمْسِ فَأَمَرَهُمْ أَنْ يُّفْطِرُوْا وَإِذَا أَصْبَحُوْا أَنْ يَّغْدُوْ إِلَى مُصَلَّاهُمْ. رواه أبو داود والنسائي.

چې هغوی پرون مانښام د اختر میاشت لیدلې ده د هغوی په شاهدي سره. رسول الله ﷺ خلکو ته د روژې ماتولو حکم ورکړ او وه یې فرمایل: چې سبا عیدګاه ته ولاړ سئ. ابوداؤد، نسائي

تخریج: سنن ابي داد ۱\ ۶۸۴، رقم: ۱۱۵۷، والنسائي ۳\ ۱۸۰، رقم: ۱۵۵۶.

تشریح: د روژې مبارکي په دیرشمه شپه د مدیني اوسیدونکو د اختر میاشت و نه لیدل نو هغوی پر دیرشم تاریخ روژه ونیول، اتفاقا په هغه ورځ یوه قافله مدینې ته راغلل او د رسول الله ﷺ مخکې ېې ددې خبري شاهدي ورکړل چې موږ پرون میاشت لیدلې ده رسول الله ﷺ د هغه قافلې شهادت په منلو سره خلکو ته حکم وکړ چې روژه ماته کړي او د میاشت لیدو دا شهادت د لمر د زال وروسته راغلی وو دا صراحت هم دی چې (انهم قدموا آخر النهار) یعني قافله د ورځې په اخري برخه کې مدینې ته رسیدلې وه ځکه رسول الله ﷺ د لمانځه په باره کې دا حکم وکړ چې سبا سهار دي اداء کړل سي، د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه پر دغه قول عمل دی چې د لمر پورته کیدو وروسته د اختر د لمانځه وخت شروع کیږي او د لمر تر زوالې پورې دی.

په شرح منیه کې لیکلي دي که چیري یو داسي عذر مخته راسي چې د کوچني اختر په ورځ د لمر د زوال مخکې د کوچني اختر د لمانځه لپاره مانع وي نو د اختر لمونځ دي د هغه پر ځای په دوهمه ورځ د لمر د زوال مخکې اداء کړل سي او که په دوهمه ورځ هم یو عذر د لمانځه د اداء کولو څخه مانع سي نو بیا دي لمونځ نه کوي.

په خلاف د لوی اختر د لمانځه، که چیري د لوی اختر د لمانځه د ادا کولو لپاره یو عذر په اوله او دوهمه ورځ مانع وي نو په دریمه ورځ هم د هغه لمونځ کېدای سي هسي د لوی اختر په لمانځه کې ببله عذره هم تر دویمې یا دریمې ورځې پورې تاخیر جائز دی مګر مکروه دی.

اَلْفَصْلُ الثالث (دریم فصل)

د اختر د لمانځه اذان او اقامت نسته

﴿۱۳۶۷﴾: عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَّجَابِرِ بْنِ

حضرت ابن جریج وایي چې عطاء د ابن عباس او جابر بن عبد الله څخه روایت کوي چې

عَبْدِاللهِ قَالاَ لَمْ يَكُنْ يُؤَذَّنُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَلاَ يَوْمَ الْأَضْحَى ثُمَّ سَأَلْتُهُ بَعْدَ

هغه ویلي دي د کوچني اختر او لوی اختر په ورځ به آذان نه کېدی، څو ورځي وروسته ما بیا د عطاء څخه

حِينٍ عَنْ ذَلِكَ فَأَخْبَرَنِي قَالَ أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ أَنْ لاَ

د دې خبري پوښتنه وکړه نو هغه وویل چې ما ته جابر بن عبدالله رضي الله عنه ښودلي دي چې

أَذَانَ لِلصَّلاَةِ يَوْمَ الْفِطْرِ حِينَ يَخْرُجُ الإِمَامُ وَلاَ بَعْدَ مَا يَخْرُجُ وَلاَ إِقَامَةَ

د کوچني او لوی اختر په ورځ د اختر د لمانځه آذان نسته نه خو د امام د باندې د وتلو په وخت او نه د امام د راتلو او نه اقامت،

وَلاَ نِدَاءَ وَلاَ شَيْءَ لاَ نِدَاءَ يَوْمَئِذٍ وَلاَ إِقَامَةَ . رواه مسلم

اعلان او نه بل یو شی او په هغه زمانه کې نه اقامت وو نه آذان. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۱/ ۶۰۴، رقم: ۵- ۸۸۶.

تشریح : ابن جریح رحمة الله علیه یا خو به دوه واړه د عطاء څخه ددې مسئلې تفصیل معلوم کړی وي یا بعینه هغه مسئله به ېې پوښتل، په هرحال عطا په دوهم وار کې یوازي د کوچني اختر ذکر وکړ او ددې وجه داوه چې هغه پوه سو چې یوازي د کوچني اختر ذکر کول کافي دی پوښتنه کونکي پر کوچني اختر لوی اختر هم قیاس کړی دی.

د نداء (الصلوة الصلوة) یا داسي نور الفاظ چې د لمانځه د خبر ورکولو لپاره استعمالیږي ویل مراد دي د لانداء وروسته لاشیئ د لانداء د تاکید لپاره راوړل کیږي بیا ددې څخه وروسته د حدیث الفاظ لانداء یومئذ ولا اقامة هم د تاکید لپاره دوهم وار استعمال سوی دی. (شیخ عبد الحق رحمة الله علیه)

ملا علي قاري رحمة الله علیه لیکلي دي چې لفظ د (لانداء) د اول څخه تر اخیره پوري د اولي جملې تاکید دی او مناسب دا دی چې د لفظ نداء څخه اذان مراد واخیستل سي ځکه چې د اختر و پر وخت د اذان او تکبیر پر ځای الصلوة جامعة په زوره ویل د ټولو علماؤ په نزد مستحب دی ګویا د شیخ عبدالحق رحمة الله علیه د قول سره سم د حدیث مطلب داسو چې د اختر و د لمانځه لپاره څرنګه چې اذان او اقامت مشروع نه دی همداسي د لمانځه د اطلاع لپاره بل لفظ مثلا الصلوة جامعة په زوره ویل هم مشروع نه دی د ملا علي قاري رحمة الله علیه د قول مطا ب

دادی چې د اختر و په لمانځه کې اذان او اقامت مشروع نه دی هو د لمانځه د خبر ورکولو لپاره نداء یعني الصلوة جامعة په زوره ویل مستحب دي نو ددغه دواړو قولو اختلاف او تضاد به ددې تطبیق په ذریعه ختم سي چې شیخ چې د نداء کومه نفي کړې ده هغه په عیدګاه کې دننه او دوهم بطریق التزام نداء دي نه ورکوي او ملا علي قاري رحمة الله علیه چې نداء ته مستحب ویلي دي نو د هغه تعلق د عیدګاه څخه دباندې په ویلو سره دی یعني الصلوة جامعة د عیدګاه څخه دباندې او کله کله په زوره ویل مستحب دي. (والله اعلم)

د خطبې مخکې لمونځ کول

﴿۱۳۶۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ

د حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به

يَخْرُجُ يَوْمَ الْأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ فَيَبْدَأُ بِالصَّلَاةِ فَإِذَا صَلَّى صَلَاتَهُ قَامَ

د کوچني او لوی اختر په ورځ د کور څخه د باندې راوتی او شروع به یې وکړه په لمانځه بیا چې به د لمانځه څخه فارغ سو نو (د خطبې لپاره) به ودریدی

فَأَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ وَهُمْ جُلُوسٌ فِي مُصَلَّاهُمْ فَإِنْ كَانَ لَهُ حَاجَةٌ بِبَعْثٍ ذَكَرَهُ

او خلکو ته چې د خپل لمانځه پر ځای به ناست وه توجه فرمایل او که چیرې به د یو لښکر د لیږلو ضرورت سو نو د خلکو په وړاندې به یې د هغه یادونه کول

لِلنَّاسِ أَوْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ بِغَيْرِ ذٰلِكَ أَمَرَهُمْ بِهَا وَكَانَ يَقُولُ تَصَدَّقُوا

یا که بل څه ضرورت وو نو د هغه حکم به یې ورکوی او خطبه کې به یې دا هم فرمایل چې صدقه ورکړئ

تَصَدَّقُوا تَصَدَّقُوا وَكَانَ أَكْثَرَ مَنْ يَتَصَدَّقُ النِّسَاءُ ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَلَمْ يَزَلْ

صدقه ورکړئ صدقه ورکړئ او صدقه او خیرات ورکونکي به زیاتي ښځې وې، ددې وروسته به رسول الله ﷺ تشریف راوړ،

كَذٰلِكَ حَتَّى كَانَ مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ فَخَرَجْتُ مُخَاصِرًا مَرْوَانَ حَتَّى أَتَيْنَا

د مروان بن حکم تر زمانې پورې په دې طریقه عمل وو د اختر په ورځ ما د مروان په لاس کې لاس

اچولی روان وم تر څو چې موږ عیدګاه ته ورسیدو

الْمُصَلَّى فَإِذَا كَثِيرُ بْنُ الصَّلْتِ قَدْ بَنَى مِنْبَرًا مِنْ طِينٍ وَلَبِنٍ فَإِذَا مَرْوَانُ

نو کثیر بن صامت د اومو خښتو او خاورو څخه منبر جوړ کړی وو بیا چې عیدګاه ته ننوتلو نو مروان

يُنَازِعُنِي يَدَهُ كَأَنَّهُ يَجُرُّنِي نَحْوَ الْمِنْبَرِ وَأَنَا أَجُرُّهُ نَحْوَ الصَّلَاةِ فَلَمَّا رَأَيْتُ ذَلِكَ

په خپل لاس سره زما لاس راکش کړ لکه هغه چې ما د منبر په لور کشوي چې خطبه د لمانځه څخه وړاندې ورکړه او ما به هغه د لمانځه په لور راکشوی هر کله چې ما د هغه دا حالت ولیدی

مِنْهُ قُلْتُ أَيْنَ الِابْتِدَاءُ بِالصَّلَاةِ فَقَالَ لَا يَا أَبَا سَعِيدٍ قَدْ تُرِكَ مَا تَعْلَمُ

چې هغه د لمانځه مخکې خطبه ورکول غواړي نو ورته وه مې ویل د اختر د لمانځه مخکې د کولو هغه فعل څه سو چې پر هغه تر اوسه عمل کېدی، مروان وویل : اې ابو سعید ! جګړه مه کوه په کومه خبره چې ته پوهیږې هغه پرېښود ل سول ،

قُلْتُ كَلَّا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَأْتُونَ بِخَيْرٍ مِمَّا أَعْلَمُ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ انْصَرَفَ . رواه مسلم

ما وویل : قسم دي په هغه ذات وي چې د هغه په واک کې زما روح ده ددې څخه غوره چې په هغه زه پوهیږم ته نه سې راوړلای ما دریې ځله دا الفاظ وویل ، ددې وروسته ابو سعید بیرته راغلی . مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۶۰۵، رقم: ۹- ۸۸۹.

د لغاتو حل: (مُخَاصرا): المخاصرة هي ان یاخذ رجل بید رجل آخر وهما ماشیان وید کل واحد منهما عند خصر صاحبه. (لاس په لاس کې ورکول او تلل).

تشریح : د صدقې او خیرات یعني د الله تعالی پر نامه د خپل مال مصرف کولو چې کوم ارزښت او فضیلت دی په دې اړه رسول الله ﷺ په خطبه کې لفظ د تصدقوا دریې واړه د تاکید لپاره فرمایلي دی یا دا چې دریې واړه فرمایل درو حالتو ته اشاره کوي اول :دا چې صدقه ورکړئ د خپل ژوند لپاره، دوهم دا چې صدقه ورکړئ د خپل مرګ لپاره او دریم دا چې صدقه ورکړئ د خپل آخرت لپاره .

مخاصر د دوو خلکو په خپلو کي لاسونه نیولو ته وایي چې د هر یوه لاس د دوهم تشي ته نژدې وي.

مروان ابن الحکم په دوهم هجري کال کي پیدا سوی وو د رسول الله ﷺ شرف زیارت ورته نه وو حاصل سوی همداسي د کثیر ابن صلت په باره کي ویل سوي دي چې د هغه پیدائش هم د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کي سوی وو له دې کبله په صاحب جامع الاصول کي شمارل سوي دی ځینې محقیقینو ورته تابعي ویلي دي د هغه کور عیدګاه ته نژدې وو هغه په عیدګاه کي منبر جوړ کړی وو چې د اختر په ورځ پر هغه په دریدو سره به یې خطبه ویل لکه څرنګه چې د جمعې خطبه پر منبر باندې په دریدو سره ویل سنت ده، د حدیث څخه دا معلومیږي چې تر تولو مخکي مروان ابن حکم په عیدګاه کي منبر جوړ کړی دی. د حدیث اخري الفاظ ثم انصرف پر دا معنی هم محتمل کېدای سي چې بیا مروان د منبر خوا ته راغلی چې خطبه ووایي هغه د ابوسعید خبره ومنل چې مخکي لمونځ وکړي او بیا خطبه ووایي.

د اختر و د لمانځه طریقه

د اختر د لمانځه دوه رکعته دي طریقه ېې داده چې لمونځ کونکی دي نیت وکړي او په تکبیر ویلو سره دي لاس وترې بیا د سبحانک اللهم... په ویلو سره دریې واره الله اکبر دي ووایي او هر وار دي د تکبیر تحریمې په ډول لاسونه دواړو غوږونو ته پورته کوي او د تکبیر وروسته دي یې ایله کړي او د هر تکبیر وروسته دي دومره توقف وکړي چې دریې واره سبحانک اللهم وویل سي د دریم تکبیر وروسته دي لاسونه نه ایله کوي بلکه لاسونه دي وترې او د اعوذ بالله او بسم الله په ویلو سره دي سورة فاتحه او یو بل سورة ووایي د دې وروسته دي دریې تکبیرونه داسي وکړي لکه څرنګه چې په اول رکعت کي د سبحانک اللهم وروسته ېې ویلي وه مګر دلته د دریم تکبیر وروسته دي لاسونه نه ترې بلکه ایله دي ېې کړي بیا د څلورم تکبیر په ویلو سره دي رکوع ته ولاړسي او لمونځ دي پوره کړي د لمانځه وروسته امام ته پکار ده چې هغه پر منبر باندې په دریدو سره دوې خطبې ووایي د کوچني اختر په خطبه کي دي د سرسائې احکام او مسائل بیان کړي او د لوی اختر په خطبه کي دي د قربانۍ او د تشریق د تکبیرو احکام بیان کړي.

تکبیر تشریق یعني د هر فرض لمانځه وروسته یو وار الله اکبر اکبر لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد ویل واجب دي دا تکبیر د عرفات یعني ذي الحجه د نهم تاریخ څخه تر

دیارلسم تاریخ مازدیگره پوري ویل پکار دي، دا تکبیر پر بنځي او مسافر باندي نه دی واجب هو که دا خلک د یو داسي سړي مقتدیان وي چې پر هغه تکبیر ویل واجب وي نو پر دوی هم تکبیر ویل واجب دی. علم الفقه.

========

بَابُ فِي الْأُضْحِيَّةِ (د اختري بیان)

په حنفي مذهب کي قرباني (اختری) پر هر هغه مسلمان باندي فرض ده چې مقیم او غني وي یعني د نصاب خاوند وي، د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد قرباني سنت مؤکده ده، د امام محمد رحمة الله علیه په نزد مشهور او مختار قول دادی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

اختری په خپل لاس حلالول

﴿۱۳۶۹﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ اختری وکړ د دوو

أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمّٰى وَكَبَّرَ قَالَ رَأَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلٰى

ابلکو نښکرورو مړو او په خپلو لاسو یې هغه حلال کړل، بسم الله او تکبیر یې ووایه، انس رضي الله عنه وایي ما رسول الله ﷺ ولیدی چې د مړو پر بغلو پښه اېښې وه

صِفَاحِهِمَا وَيَقُوْلُ بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ. متفق علیه

او رسول الله ﷺ د حلالولو پر وخت دا فرمایل: بسم الله والله اکبر. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۲۲- ۲۳، رقم: ۵۵۶۴، ومسلم ۳\ ۱۵۵۷، رقم: ۱۸- ۱۹۶۶.

د لغاتو حل: (صِفاحِهما): ای جنبیهما (بغل).

تشریح: د قرباني کونکي لپاره مستحب ده که هغه د ذبح اداب پیژني نو د قرباني حیوان دي په خپل لاس سره حلال کړي کنه د خپل خوا څخه دي بې په بل چا حلال کړي او خپله دي هلته موجود وي د ذبح پر وخت د الله نوم اخیستل یعني والله اکبر ویل د ټولو علماؤ په نزد مستحب

دی د حدیث اخري الفاظ ویقول بسم الله والله اکبر کي دې ته اشاره ده چې لفظ والله اکبر ویل مستحب دی، د ذبح پر وخت درود شریف ویل د جمهور علماء په نزد مکروه دي او د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد سنت دی.

د اختري د حیوان صفات

﴿۱۳۷۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرَ بِكَبْشٍ أَقْرَنَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ دیو داسي مړ راوستلو حکم وکړ چې د هغه په سر کې سنګر وي

يَطَأُ فِي سَوَادٍ وَيَبْرُكُ فِي سَوَادٍ وَيَنْظُرُ فِي سَوَادٍ فَأُتِيَ بِهِ لِيُضَحِّيَ بِهِ فَقَالَ لَهَا يَا

او هغه په تورو الي کې ګرځي یعني د هغه پښې توري وي او په تورو الي کې کښیني یعني د هغه نس او سینه توره وي او په تورو الي کې وینې یعني د هغه د سترګو حلقه توره وي نو داسي مړ رسول الله ﷺ ته د اختري لپاره راوستل سو، رسول الله ﷺ وفرمایل: اې

عَائِشَةُ هَلُمِّي الْمُدْيَةَ ثُمَّ قَالَ اشْحَذِيهَا بِحَجَرٍ فَفَعَلَتْ ثُمَّ أَخَذَهَا وَأَخَذَ

عائشې! چاړه راوړه او پر ډبره یې تېره کړه نو دا کار مې وکړ، ددې وروسته رسول الله ﷺ چاړه واخیستل

الْكَبْشَ فَأَضْجَعَهُ ثُمَّ ذَبَحَهُ ثُمَّ قَالَ بِاسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ

او مړ یې پرې ایستی او بیا یې په (بِاسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ

مُحَمَّدٍ وَمِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ ثُمَّ ضَحَّى بِهِ. رواه مسلم

مُحَمَّدٍ وَمِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ) ویلو سره هغه حلال کړ. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۵۵۷، رقم: ۱۹- ۱۹۶۷.

د لغاتو حل: (المُدية): ای الشفرة، (چاړه).

تشریح: کله چې حیوان حلالیږي نو د هغه مخکې چاړه تېره کول مکروه دي ځکه چې د حضرت عمر فاروق ﷺ په باره کې نقل دي چې هغه یو سړی په دُرو ووهی د داسي کولو په وجه، همداسي د یو حیوان د بل حیوان مخکې حلالول هم مکروه دي.

رسول الله ﷺ چې د حلالولو پر وخت کوم الفاظ فرمایل د هغه څخه مراد یوازې په ثواب کې خپل امت ګډول وو، نه داچې رسول الله ﷺ د ټولو له خوا قرباني کړې وه ځکه چې د یوه پسه یا بزې قرباني د ټولو خلکو لخوا صحیح نه ده.

د اختري حیوان

﴿۱۳۷۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَذْبَحُوا إِلَّا مُسِنَّةً إِلَّا أَنْ يَعْسُرَ عَلَيْكُمْ فَتَذْبَحُوا جَذَعَةً مِنَ الضَّأْنِ. رواه مسلم

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو مه حلالوئ مګر مسنه (یعني هغه اوښه چې په شپږم کال کې وي) او که مسنه مو پیدا نه کړل نو وري یا وري جزعه (چې تر یو کال پورې وي) حلال کړئ. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۳/ ۱۵۵۵، رقم: ۱۳- ۱۹۶۳.

د لغاتو حل: (المُسِن): من البقر، هو ما جاوز السنتین والمسنة انثاه. (تر دوو کالو غټ ګیلکی).

تشریح: مسنه یا جذعه د یو خاص حیوان نوم نه دي مګر دا یو اصطلاح ده چې د قرباني د حیوان په عمر کې استعمالیږي هغه اوښ ته مسنه ویل کیږي چې پوره د پنځو کالو عمر یې وي او په شپږم کال کې داخل سوی وي، په ګامیښي او غویي کې مسنه هغه ته وایي چې د پوره دوو کالو وي او په دریم کال کې داخل سوی وي نو په دې حیوان کې د قرباني لپاره مسنه کیدل ضروري دي هو پسه که جذعه هم وي نو د هغه قرباني جائز ده جذعه د میږي هغه زوی ته ویل کیږي چې د هغه عمر خو د یوه کال څخه کم وي مګر د شپږو میاشتو څخه زیات وي.

ځینې حضرات وایي چې د جذعه قرباني په دې صورت کې جائز ده چې هغه دومره چاغ وي که هغه د مسنه سره ودرول سي نو د لیرې څخه کتونکی پر هغه د مسنه ګمان وکړي که هغه تیار نه وي مګر کوچنی او کمزوره وي نو د هغه قرباني نه ده صحیح، په ښکاره د حدیث مفهوم داسي کیږي که مسنه تر لاسه نسي یا د هغه قیمت حاصل نسي نو د جذعه قرباني صحیح نه ده کنه په دوهم صورت کې د هغه قرباني نه صحیح کیږي مګر فقهاء لیکي چې دا پر استحباب باندې محمول ده یعني مستحب خو دادی که مسنه حاصل سي او د هغه د اخیستلو توفیق وي نو د جذعه قرباني دي نه کوي هسي که د مسنه موجود کیدو کې هم څوک د جذعه قرباني وکړي نو صحیح به وي.

د مرغومي یاوري اختری

﴿۱۳۷۲﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَاهُ غَنَمًا

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ هغه ته د پسو د یوې رمې د حواله کولو حکم وکړ

يَقْسِمُهَا عَلٰى صَحَابَتِهِ ضَحَايَا فَبَقِيَ عَتُوْدٌ فَذَكَرَهُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

چې پر صحابه کرامو یې د اختري لپاره وویشي، د ویش وروسته یو وری پاته سو رسول الله ﷺ ته د هغه یادونه وسول

وَسَلَّمَ فَقَالَ ضَحِّ بِهِ أَنْتَ وَفِيْ رِوَايَةٍ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو رسول الله ﷺ راته وفرمایل دا ته قرباني کړه، او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چې اې د الله رسوله!

أَصَابَنِيْ جَذَعٌ قَالَ ضَحِّ بِهِ. متفق عليه

زما په برخه یو وری راغلی دی، رسول الله ﷺ وفرمایل: ته یې قرباني کړه. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۹، رقم: ۵۵۵۵، ومسلم ۳\ ۱۵۵۵- ۱۵۵۶، رقم: ۱۵ و ۱۶- ۱۹۶۵.

د لغاتو حل: (عَتود): هو الصغير من اولاد المعز. (وریان).

تشریح: عتود د پسه هغه بچي ته وایي چې تیار او تازه وي او د یوه کال وي نو ددې حدیث څخه معلومه سوه چې د پسه د یوه کال د بچي قرباني جائز ده د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه هم دا مذهب دی.

ځینې حضرات وایي چې عتود د پسه هغه بچي (وري) ته وایي چې د شپږو میاشتو څخه زیات وي په دې صورت کې به دا یوازي د عقبه ابن عامر رضي الله عنه سره خاص وي د نورو لپاره د عتو قرباني به جائز نه وي د جذعه په باره کې مخکې بنودل سوي دي یعني د پسه هغه بچی چې د شپږو میاشتو څخه زیات وي.

په عيدګاه کې اختری کول غوره دی

﴿۱۳۷۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْبَحُ وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلّٰى . رواه البخاري

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به په عيدګاه کې ذبح او نحر کول . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۴۷۱، رقم: ۹۸۲.

تشريح: د باب صلوة العيدين د اول فصل په پای کې د ذبح او نحر معنی او د هغه په خپلو کې فرق په تفصيل سره بيان سوی دی علماء ليکي چې په عيدګاه کې قرباني کول افضل دي.

د قربانۍ برخې

﴿۱۳۷۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَقَرَةُ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْجَزُوْرُ عَنْ سَبْعَةٍ . رواه مسلم وأبو داود واللفظ له .

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د غوا (غوايي) او اوښ قرباني د اوو کسانو لپاره بس ده . مسلم ، ابوداؤد

تخريج: صحيح مسلم ۲\۹۵۵، رقم: ۳۵۲ - ۱۳۱۸، وابوداؤد: ۳\۲۳۹، رقم: ۲۸۰۸.

د اختري کونکي لپاره لاړښوونې

﴿۱۳۷۵﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ

د حضرت ام سلمة رضی اللہ عنہا څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چې داخله سي

الْعَشْرُ وَأَرَادَ بَعْضُكُمْ أَنْ يُّضَحِّيَ فَلاَ يَمَسَّ مِنْ شَعْرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا وَفِيْ

د لوی اختر لومړی لسيزه او په تاسو کې يو څوک د اختري اراده وکړي نو نه دي خپل وربښتان خريي او نه دي يې غچې کوي

رِوَايَةٍ فَلاَ يَأْخُذَنَّ شَعْرًا وَّلاَ يَقْلِمَنَّ ظُفُرًا وَفِيْ رِوَايَةٍ مَنْ رَأَى هِلاَلَ ذِيْ

او مه نوکان پرې کوئ ، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې مه وربښتان خريي او مه نوکان

پرې کوئ، او په یو بل روایت کې دا الفاظ. دي چې کوم څوک د ذي الحجې میاشت وویني

الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا مِنْ أَظْفَارِهِ . رواه مسلم .

او د اختري کولو اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چې نه خو ورېښتان وخريي او نه يې غچې کړي او نه نوکان پرې کړي . مسلم

تخريج : صحيح مسلم ۳\ ۱۵۶۵، رقم: ۳۹ و ۴۲ - ۱۹۷۷.

تشريح : د لوی اختر د میاشتې لېدو وروسته د قرباني کولو څخه مخکې د ویښتانو پرېکولو څخه ځکه منعه فرمایل سوې ده چې د احرام والاوو سره مشابهت تر لاسه سي مګر دا ممانعت تنزیهي دی نو وېښتان وغیره نه پرېکول مستحب دي او ددې خلاف عمل کول ترک اولی دی او د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد ددې خلاف کول مکروه دي .

د ذي الحجې د لسو ورځو فضیلت

﴿۱۳۷۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشْرة قَالُوْا

هیڅ ورځې چې په هغه کې نیک عمل چې د الله ﷻ په نزد تر تولو زیات خوښ وي تر دغه لسو ورځو پرته بله نه ده ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه

يَارَسُوْلَ اللهِ وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ؟ قَالَ وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ إِلَّا

اې د الله رسوله ! ایا د الله ﷻ په لار کې جهاد هم نه ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : او د الله ﷻ په لار کې جهاد هم نه، مګر

رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذٰلِكَ بِشَيْءٍ . رواه البخاري .

هغه سړی د الله په نزد د دې ورځو تر. نیک عمل هم زیات خوښ دی چې په خپل مال او ځان سره د الله په لار کې جنګ ته ووزي او بیا را نه سي . (یعني شهید سي) بخاري

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري)، ۲\ ۴۵۷، رقم: ۹۶۹.

تشریح : مطلب دادی که جهاد داسي وي چي په هغه کي سر او مال هر څه د الله په لار کي قربان کړل سي او جهاد کونکی د شهادت مرتبې ته ورسیږي نو هغه جهاد البته د الله تعالی په نزد د دې لس ورځو د نیکو اعمالو څخه هم زیات محبوب دی ځکه چي د ثواب په قدر د نفس کشي او مشقت حاصلیږي او څرګنده ده چي د الله تعالی په لار کي د سر او مال قربانولو څخه زیاته نفس کشي او مشقت نور څه کیدای سي .

د روژې د نیکو اعمالو هم ډیر زیات فضیلت او عظمت بیان سوی دی ځکه کیدای سي چي ددې حدیث مراد داوي چي ددغه لسو ورځو نیکو اعمالو د ایام رمضان د نیک اعمالو څخه پرته د نورو ورځو د نیکو اعمالو څخه زیات محبوب دي یا دا چي په هغه ورځو کي فرض روژې نیول کیږي او ډیره زیاته بزرګه او مقدس شپه یعني لیلة القدر هم په روژې کي راځي او ددې الحجه د اولي لسیزي اعمال په دې اعتبار سره تر ټولو زیات محبوب دی چي ډیره زیاته بزرګه او باعظمته او د فضیلت ورځ یعني عرفات په دغه ورځو کي راځي او افعال حج هم په دغه ورځو کي وي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د اختري کولو دعاء

﴿۱۳۷۷﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ ذَبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الذَّبْحِ كَبْشَيْنِ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د لوی اختر په ورځ دوه پسونه حلال کړل

أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ مَوْجُوئَيْنِ فَلَمَّا وَجَّهَهُمَا قَالَ إِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ

چي ښکرور، ابلک او خصي وه، رسول الله ﷺ چي هغه د قبلې په لور کړل نو دا کلمات یې وویل : (زه خپل ځان هغه لور ته متوجه کوم

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ عَلٰى مِلَّةِ إِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ إِنَّ

چي آسمان او ځمکه یې پیدا کړل په داسي حال کي چي زه د ابراهیم علیه السلام پر دین یم او د هغه پر دین چي د توحید منونکي وو او زه د مشرکانو څخه نه یم

صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ

زما لمونځ، عبادت زما او ټول عبادتونه بلکه زما ژوند او مرګ یوازې الله تعالی لره دی چې د دواړو جهانو پروردګار دی هیڅوک د هغه شریک نسته او ما ته ددې حکم سوی دی

وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ اَللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ عَنْ مُحَمَّدٍ وَّأُمَّتِهٖ بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ

او زه د مسلمانانو څخه یم، اې الله! دا قرباني ستا راکړه ده او ستا د رضا لپاره ده ته دا د محمد او د هغه د امت د لوري قبوله کړې د الله په نامه سره او الله ډیر لوی دی)

ثُمَّ ذَبَحَ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه والدارمي وفي رواية لأحمد وأبي داود والترمذي ذَبَحَ بِيَدِهٖ وَقَالَ بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَنِّيْ وَعَمَّنْ لَّمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِيْ .

د دې وروسته یې هغه حلال کړل . احمد، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي، د احمد، ابوداؤد او ترمذي په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې د دعاء کولو وروسته رسول الله ﷺ په خپل لاس سره خپل پسونه حلال کړل او ویل یې (بسم الله...) اې الله! دا قرباني قبوله کړې زما د لوري او زما د امت د هغه چا د لوري چې قرباني یې نه وي کړې .

تخریج: الامام احمد في مسنده ۳\ ۳۷۵و ابوداؤد ۳\ ۲۳۰- ۲۳۱، رقم: ۲۷۹۵، وابن ماجه ۲\ ۱۰۴۳، رقم: ۳۱۲۱، والدارمي ۲\ ۱۵۳، رقم: ۱۹۴۶،

د لغاتو حل: (اَملَحین): الذي بیاضه اکثر من سواده (چې سپینوالی یې تر توروالی ډېر وي). (مَوجُوءین): الخصي.

تشریح: د خصي څخه مراد هغه حیوان دی چې د هغه په خوتو کښلو سره د هغه شهوت ختم کړي د هغه په قرباني کې څه تاوان نسته داسې خصي حیوان تیار وي او غوښې یې خوندوري وي، (وما انا من المشرکین) او زه د مشرکانو څخه نه یم په دې کې د علماؤ اختلافي اقوال دي، رسول الله ﷺ د نبوت مخکې د چا د شریعت مطابق عبادت کوی ځینې حضرات وایي چې د نبوت تر لاسه کولو مخکې د رسول الله ﷺ عبادت د حضرت ابراهیم علیه السلام د شریعت مطابق وو، د ځینو علماؤ قول دی چې د حضرت موسی علیه السلام د شریعت مطابق وو او د ځینو علماؤ تحقیق دادی چې د حضرت عیسی علیه السلام د شریعت مطابق رسول الله ﷺ عبادت کوی .

په دې اړه صحیح قول دادی چې رسول الله ﷺ د هیڅ یو شریعت مطابق عبادت نه کوی

مګر د خپل فهم او وجدان موافق رسول الله ﷺ به په خپل عبادت کي مصروف وو او پر الله تعالی ہې ایمان درلودی البته دا خبره بالکل په اجتماعي توګه سره محقق او ثابته ده چي رسول الله ﷺ د ژوند په هیڅ دور کي هم د بت پرستی په نجاست کي ملوث نسو، اوس سوال دادی چي د رسول الله ﷺ عبادت د کوم ډول او کومي طریقې وو نو په دې باره کي علماء لیکي چي هغه غیر معلوم دی الله تعالی ښه پوهیږي چي رسول الله ﷺ هغه وخت څرنګه عبادت کوی.

په (عن محمد و امته) کي مشارکت یا خو پر ثواب باندي محمول دی یعني رسول الله ﷺ د ذبح پر وخت د دغه الفاظو په فرمایلو سره د خپل قربانی په ثواب کي خپل امت هم ګډ کړ یا دا پر حقیقت باندي هم محمول کیدای سي چي په هغه صورت کي به ویل کیدای سي چي دا د رسول الله ﷺ د ځانګړتیاوو څخه دی په دې اړه دا واضحه خبره ده چي رسول الله ﷺ د خپل خوا څخه قرباني وکړه او دوهم ہې د امت لخوا څخه قرباني وکړه- .

ددغه حدیث شریف څخه دا خبره معلومه سوه که چیري قرباني کونکی پر ذبح کولو باندي قادر وي نو هغه ته په خپل لاس سره د قرباني حیوان حلالول مستحب دي که څه هم ښځه وي.

د مړي له لوري قرباني کول

﴿۱۳۷۸﴾: وَعَنْ حَنَشٍ قَالَ رَأَيْتُ عَلِيًّا يُضَحِّيْ بِكَبْشَيْنِ فَقُلْتُ لَهُ مَا هٰذَا ؟

د حضرت حنش رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما حضرت علي رضی الله عنه پر دوو پسو حلالولو ولیدی او ما پوښتنه وکړه چي دا څه دي ؟

فَقَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَانِيْ أَنْ أُضَحِّيَ عَنْهُ فَأَنَا أُضَحِّيْ عَنْهُ . رواه أبو داود وروى الترمذي نحوه

هغه وویل : رسول الله ﷺ ما ته وصیت کړی دی چي زه د هغه د لوري هم قرباني وکړم نو ځکه زه دا قرباني کوم. ابوداؤد، ترمذي.

تخریج: سنن ابي داؤد ۳\ ۲۳۷، رقم: ۲۸۰۴، والترمذي ۴\ ۷۳، رقم: ۱۴۹۸، والنسائي ۷\ ۲۱۶، رقم: ۴۳۸۴، والدارمي ۲\ ۱۰۶، رقم: ۱۹۵۲، وابن ماجه ۲\ ۱۰۵، رقم: ۳۱۴۳.

تشریح: په دې اړه دوه احتماله دي یا خو حضرت علي کرم الله وجهه د قرباني څخه پرته دوه پسونه د رسول الله ﷺ له خوا قرباني کړل یا دا چي حضرت علي رضی الله عنه به د یوه پسه قرباني د خپل لوري کول او یو پسه به یې د رسول الله ﷺ له خوا په هر حال کي قرباني کوی.

دا حديث پر دې خبري دلالت کوي چې د مړي له خوا قرباني کول جائز ده که څه هم ځينې علماؤ دې ته جائز نه دي ويلي د ابن مبارک قول دادی چې زه دا خوښوم چې د مړي له خوا د الله تعالی په لاره کې خرڅ وکړل سي د هغه له خوا قرباني ونه کړل سي هو که د مړي له خوا قرباني وکړل سي نو د هغه غوښه دي بالکل خپله نه خوري بلکه ټوله دي د الله تعالی پر نامه وويشل سي.

د اختري حيوان بايد بې عيبه وي

﴿۱۳۷۹﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَشْرِفَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ ته رسول الله ﷺ دا حکم کړی دی چې کوم حيوانان موږ اختری کوو

الْعَيْنَ وَالْأُذُنَ وَأَنْ لَا نُضَحِّيَ بِمُقَابَلَةٍ وَلَا مُدَابَرَةٍ وَلَا شَرْقَاءَ وَلَا خَرْقَاءَ.

رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي والدارمي و ابن ماجة وانتهت روايته الى قوله والاذن.

د هغه سترګې او غوږونه دي په ښه ډول وګورو چې په هغو کې څه کمي نه وي او دا حکم يې راکړی دی چې د کوم حيوان د وړاندي څخه يا د شا څخه پرې سوی وی نو موږ هغه اختری نه کړو او نه هغه چې غوږ يې پرې سوی وي او نه پکن. ترمذي، ابوداؤد. دارمي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۲۳۷، رقم: ۲۸۰۴، والترمذي ۴\ ۷۳، رقم: ۱۴۹۸.

د لغاتو حل: (المقابلة): المقابلة هي التي قطع من اذنها شئ ثم ترک معلقا من مقدمها (المُدابرة): هي التي قطع من دبرها وترک معلقا من مؤخرها. (الشرقاء): هي مشقوقة الاذن. (الخرقاء): هي مثقوبة الاذن.

تشريح: د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د هغه پسه قرباني جائز نه ده چې د هغه غوږ لږ هم پرې وي او د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد جائز دی که چيرې غوږ د نيم څخه کم پرې سوی وي، امام طحاوي رحمة الله عليه فرمايي په دې مسئله کې د امام شافعي رحمة الله عليه عمل پر دې حديث دی او د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه چې کوم مذهب دی هغه ډير جامع دی ځکه چې د هغه په مذهب سُره په دې حديث کې او د قتاده په حديث کې تطبيق چې د هغه الفاظ دادي چې قتاده د حضرت ابن کليب څخه روايت کوي چې ما د حضرت علي کرم الله

وجهه څخه دا اوريدلي دي چې رسول الله ﷺ د عضبائې قرن د قرباني څخه منعه فرمايلې ده، قتاده ﷺ وايي ما د سعيد ابن مسيب څخه پوښتنه وکړه چې د عضبائې اذن څه مطلب دی؟ نو هغه وفرمايل چې د کوم حيوان غوږ نيم يا تر نيم زيات پرې سوی وي.

د حنفيه په نزد د کوم ډول حيوان قرباني جائز نه ده

په دې اړه چې د حنفيه کوم مذهب دی د هغه خلاصه داده چې د داسي حيوان قرباني جائز نه ده چې د هغه د غوږ دريمه حصه يا زياته پرې کړل سي او د داسي حيوان قرباني صحيح نه ده چې د هغه غوږ ونه پيدائشي نه وي همداسي د داسي حيوان قرباني هم صحيح نه ده چې د هغه لکی يا پزه دريمه برخه يا زيات پرې وي، کوم حيوان چې ړوند يا کوڼ وي يا د يوې سترګې دريمه برخه ړنا يا تر دې زياته تللې وي نو د هغه قرباني نه ده صحيح د کوم حيوان چې تي وچ سوي وي د هغه قرباني صحيح نه ده او د داسي حيوان هم قرباني صحيح نه ده چې په هغه کي ماغزه نه وي پاته سوي او نه د داسي ګوډ، شل چې د قرباني تر ځايه پوري نسي تلی او نه د داسي ناروغه حيوان چې وانبه نسي خوړلای نه داسي حيوان چې خارش لري نه د بې غاښو حيوان چې وانبه نسي خوړلای او نه د نجاست خور ځار وي هو د داسي حيوان قرباني صحيح ده چې د هغه د غوږ ونو په اوږدوالي کي يا د هغه د مخ د خوا څخه شليدلي او خلاص سوي وي دا حديث چې د دې څخه د داسي حيوان د قرباني ممانعت معلوميږي پر نهي تنزيهي باندي محمول دی.

﴿۱۳۸۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُّضَحِّيَ بِأَعْضَبِ الْقَرْنِ وَالْأُذُنِ. رواه ابن ماجه.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د هغه حيوان قرباني منعه فرمايلې ده چې د هغه ښکر مات وي او غوږ ونه يې پرې سوي وي. ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۰۵۱، رقم: ۳۱۴۵.

تشريح: په حنفي مذهب کي د داسي حيوان قرباني صحيح ده چې د هغه پيدائشي ښکرونه نه وي يا مات وي يا د هغه پوست غوږ ځړدلی وي نو دا حديث به پر نهي تنزيهي باندي محمول وي البته د داسي حيوان قرباني به صحيح نه وي چې د هغه ښکر بالکل د بيخ څخه مات سوی وي.

﴿۱۳۸۱﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ مَا

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چې

ذَا يُتَّقٰى مِنَ الضَّحَايَا فَاَشَارَ بِيَدِهٖ فَقَالَ اَرْبَعًا الْعَرْجَاءُ الْبَيِّنٌ ظَلَعُهَا وَ

کوم حیوان د اختري وړنه دی؟ رسول الله ﷺ په څلورو ګوتو اشاره وکړه یعني څلور ډوله ۱:
ګوډ چې د هغه ګوډوالی څرګند وي او تلای نه سي

الْعَوْرَاءُ الْبَيِّنٌ عَوَرُهَا وَالْمَرِيْضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا وَ الْعَجْفَاءِ الَّتِي لاَ تُنْقِي.

رواه مالك واحمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجه والدارمي .

۲: ړوند چې ړوندوالی یې ښکاره وي ۳: ناروغ چې ناروغي یې څرګنده وي ۴: او څلورم خوار چې په هډوکو کې یې توان نه وي . مالک، احمد، ترمذي، نسائي، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي

تخريج: الامام مالک في موطاه ۲\ ۴۸۲، رقم: ۱، والامام احمد في مسنده ۳\ ۲۸۹، وابوداؤد: ۳\ ۲۳۵، رقم: ۲۸۰۲، والترمذي ۳\ ۷۲، رقم: ۱۴۹۷، والنسائي ۷\ ۲۱۴، رقم: ۴۳۸۱، وابن ماجه ۲\ ۱۰۵۰، رقم: ۳۱۴۴، والدارمي ۲\ ۱۰۵، رقم: ۱۹۴۹.

د لغاتو حل: (ظلعُها): ای عَرَجُها (ګوډوالی). العَجفاء): ای التي لاشیء فیها من الشحم.

د تیار او چاغ حیوان قرباني غوره ده

﴿۱۳۸۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُضَحِّيْ

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به اختری کوی

بِكَبْشٍ اَقْرَنَ فَحِيْلٍ يَاْكُلُ فِيْ سَوَادٍ وَيَمْشِيْ فِيْ سَوَادٍ وَيَنْظُرُ فِيْ سَوَادٍ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجه .

د ښکرور پسه چې په تورو الي کې به یې لیدل کول (یعني د سترګو حلقه به یې توره وه) او په تورو الي کې به یې خوراک کوی (یعني مخ به یې تور وو) او په تورو الي کې به تلی (یعني پښې به یې هم توري وي) .ترمذي، ابوداؤد، نسائی، ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۲۳۱، رقم: ۲۷۹۶، والترمذي ۴\ ۷۲، رقم: ۱۴۹۶، والنسائي ۷\ ۳۲۱، رقم: ۴۴۰۲، وابن ماجه ۲\ ۱۰۴۶، رقم: ۳۱۲۸.

تشريح: علماء ليكي چي دداسي حيوان قرباني كول چي ډير تيار او غټ ه وي مستحب ده د يوه تيار او چاغ پسه قرباني د دوو كمزورو پسو د قرباني څخه افضل ده، همداسي د زياتو غوښو والا پسه قرباني د كمي غوښي والا پسه د قرباني څخه افضل ده په شرط د دې چي غوښه ېې خرابه نه وي يعني د زيات غوښور پسه غوښه كه خرابه وي نو بيا د هغه قرباني افضل نه ده.

د جذع قرباني

﴿۱۳۸۳﴾: وَعَنْ مُجَاشِعٍ مِنْ بَنِيْ سُلَيْمٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ إِنَّ الْجَذَعَ يُوَفِّيْ مِمَّا يُوَفِّيْ مِنْهُ الثَّنِيُّ. رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه.

د بني سليم يو كس مجاشع وايي چي رسول الله ﷺ به فرمايل: جذع (د شپږو مياشتو څخه زيات) بس دی د ثنی (تر كال زيات) څخه يعني د شپږو مياشتو پسه هم د قرباني لپاره داسي بس دی لكه څرنګه چي د كال څخه زيات بس دی. ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۲۳۳، رقم: ۲۷۹۹، والنسائي: ۷\ ۲۱۹، رقم: ۴۳۹۵، وابن ماجه ۲\ ۱۰۴۹، رقم: ۳۱۴۰.

تشريح: مطلب دادی چي څرنګه د هغه پسه قرباني جائز ده چي د يوه كال څخه زياته وي همداسي د جذع قرباني هم جائز ده، ثنی هم اصطلاحي لفظ دی چي د قرباني د عمر په اړه استعماليږي په پسو كي ثنی هغه پسه ته وايي چي د يو كال په پوره كېدو سره په دوهم كال كي داخل سوی وي او په غوا او غويي كي ثنی هغه دی چي د دوو كالو په پوره كېدو سره په دريم كال كي داخل وي په اوښ كي ثنی هغه دی چي د پنځو كالو په پوره كېدو سره په شپږم كال كي داخل سوی وي.

﴿۱۳۸۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ نِعْمَتِ الْأُضْحِيَّةُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ. رواه الترمذي

د حضرت ابو هريرة رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چې د اختري لپاره د مړ جذع (شپږ میاشتنی) غوره دی . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۷۴، رقم: ۱۴۹۹.

تشريح: د جذع د قرباني د تعريف څخه په اصل کې خلکو ته دا ښودل مراد دي چې د پسه د شپږو میاشتو د بچي قرباني جائز ده پر خلاف د پسه د جذع چې د هغه قرباني صحيح نه ده .

په قرباني کې ګډون

﴿۱۳۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چې مونږ د رسول الله ﷺ سره په

سَفَرٍ فَحَضَرَ الْأَضْحَى فَاشْتَرَكْنَا فِي الْبَقَرَةِ سَبْعَةً وَفِي الْبَعِيرِ عَشَرَةً . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

سفر کې وو چې لوی اختر راغلی نو مونږ په يوه غوا کې اووه کسان او په اوښ کې لس کسان ګډ سوو . ترمذي، نسائي، ابن ماجه. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی (د علماؤ په نزد دا په هغه حديث سره منسوخ دی چې په اوښ کې هم د اوو کسانو د ګډون حکم راغلی دی).

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۷۵، رقم: ۱۵۰۱، والنسائي ۷\ ۲۲۲، رقم: ۴۴۰۴، وابن ماجه ۲\ ۱۰۴۷، رقم: ۳۱۳۱.

تشريح: اسحاق ابن راهويه رحمة الله عليه پر دغه حديث عمل کړی دی هغه فرمايي په قرباني کې په يوه اوښ کې لسو خلکو ته ګډيدل جائز دی او د ټولو علماؤ په نزد دا حديث د هغه حديث په ذريعه منسوخ ګرځول سوی دی چې په هغه کې دا وضاحت دی څرنګه چې د غوا قرباني د اوو خلکو له خوا صحيح ده همداسي د اوښ قرباني هم د اوو خلکو له خوا صحيح کيدای سي .

د قرباني کولو فضيلت

﴿۱۳۸۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عَمِلَ

د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ إِنَّهَا لَتَأْتِي يَوْمَ

الله ﷻ ته د لوی اختر په ورځ د انسان هيڅ يو عمل پرته د اختري کولو څخه غوره نه دی او د

قيامت په ورځ به هغه حلال سوی حيوان

الْقِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلاَفِهَا وَأَنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ

د خپلو ښکرو، ورېښتانو او نوکانو سره راسي او د قربانۍ وينه تر دې وړاندې چې

أَنْ يَقَعَ مِنَ الْأَرْضِ فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا. رواه الترمذي وابن ماجه.

پر مځکه توی سي د .الله تعالی په نزد قبليږي نو تاسو اختری په ښه (خوشحاله) زړه سره کوئ .ترمذي،ابن ماجه

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۳۶، رقم: ۱۴۳۹، وابن ماجه ۲\ ۱۰۴۵، رقم: ۳۱۲۶.

تشريح : زين العرب فرمايي چې د لوی اختر په ورځ تر ټولو افضل عبادت د قرباني د حيوان وينه بيول دي او د قرباني حيوان به د قيامت په ورځ داسي راځي څرنګه چې په دنيا کي د قرباني مخکې بغير د څه عيب څخه وو چې هغه د قرباني کونکی د هر هر اندام د خوا به نعم البدل او پر پل صراط باندې د هغه سپرلۍ وي .

د حديث د اخري الفاظو مطلب دادی چې کله تاسو ته دا معلومه سي چې الله تعالی ستاسو قرباني قبلوي او د هغه په بدله کي تاسو ته ډير زيات ثواب درکوي نو د قرباني کولو په وجه په تاسو کي د هيڅ ډول تنګي يا کراهت پيدا کيدل نه دي پکار بلکه د دغه عظيم زيري په وجه ستاسو نفس ته اطمينان او ستاسو زړه ته خوشحاله کيدل پکار دي .

د ذوالحجې فضيلت

﴿۱۳۸۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ أَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ

د الله تعالی په نزد هيڅ يوه ورځ چې په هغه کي عبادت وسي د ذوالحجې د لسيزي څخه غوره نه ده په دې ورځو کې د يوې ورځې د روژې ثواب

يَوْمٍ مِنْهَا بِصِيَامِ سَنَةٍ وَقِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْهَا بِقِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ. رواه

الترمذي وابن ماجة و قال الترمذي اسناده ضعيف.

د تول کال د روژو د ثواب سره برابر دی او د یوې شپې عبادت د شب قدر د عبادت سره سم دی. ترمذي، ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۱۳۱، رقم: ۷۵۸، وابن ماجه ۱\ ۵۵۱، رقم: ۱۷۲۸.

تشريح: مطلب دادی چې د الله ﷻ په نزد په دغه ورځو کې عبادت کول د نورو ورځو د عبادت کولو په نسبت زیات محبوب دي، په خاصه توګه قرباني کول تر نورو اعمالو زیات افضل او محبوب دی د ذي الحجې د اولي لسیزي د فضیلت په اړه پوره وضاحت مخکې تیر سوی دی.

اَلْفَصْلُ الثالث (دریم فصل)

اختری د لمانځه وروسته کول

﴿۱۳۸۸﴾: عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ شَهِدْتُ الْأَضْحَى يَوْمَ النَّحْرِ مَعَ

د حضرت جندب بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چې د لوی اختر په ورځ زه

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَعُدْ أَنْ صَلَّى وَفَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ سَلَّمَ

د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم او رسول الله ﷺ په پوره توګه د لمانځه څخه نه وو فارغ سوی کله چې د لمانځه څخه فارغ سو سلام یې وګرزوی

فَإِذَا هُوَ يَرَى لَحْمَ أَضَاحِيَّ قَدْ ذُبِحَتْ قَبْلَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهِ فَقَالَ مَنْ

چې د قربانۍ غوښه یې ولیده چې د لمانځه څخه وړاندې حلال سوی وو، د دې په لید و سره رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم چا چې

كَانَ ذَبَحَ أُضْحِيَّتَهُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى وفي رواية قَالَ صَلَّى

د لمانځه څخه وړاندې اختری وکړی نو هغه ته پکار ده چې د هغه پر ځای بل اختری وکړي، او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ خَطَبَ ثُمَّ ذَبَحَ وَقَالَ مَنْ كَانَ ذَبَحَ

رسول الله ﷺ د لوی اختر په ورځ لمونځ وکړ بیا یې خطبه وویل بیا یې اختری وکړ او وه یې فرمایل : چا چې

قَبْلَ اَنْ يُّصَلِّيَ اَوْ نُصَلِّيَ فَلْيَذْبَحْ اُخْرٰى مَكَانَهَا وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللّٰهِ . متفق عليه

د لمانځه وړاندې اختری کړی دی نو هغه ته پکاره چې د هغه پر ځای بل اختری وکړي او څوک چې د لمانځه وروسته اختری وکړی نو هغه دې د الله په نوم اخیستلو سره اختری وکړي . مسلم او بخاري .

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۴۷، رقم: ۹۸۵، ومسلم ۳\ ۱۱۵۵، رقم: ۱- ۱۹۶۰.

د اختري ورځې

﴿۱۳۸۹﴾: وَعَنْ نَّافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ اَلْأَضْحٰى يَوْمَانِ بَعْدَ يَوْمِ الْأَضْحٰى . رواه مالك . وقال وبلغني عن علي بن أبي طالب مثله .

د حضرت نافع رضی الله عنه څخه روایت دی چې ابن عمر رضی الله عنه وفرمایل : اختری د یوم نحر وروسته دوې ورځې کیدلای سي . مالک.

تخریج : الامام مالک في الموطا ۲\ ۴۸۷، رقم: ۱۲.

تشریح : د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه ،امام مالک رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه د درو سره امامانو عمل پر دې حدیث دی دا حضرات فرمایي چې د قرباني اخري ورځ د ذي الحجي دوولسم تاریخ د لمر لوېدو پورې ده، امام شافعي رحمة الله علیه فرمایي چې اخري وخت تر دیارلسم تاریخ پورې دی دا حدیث د درو سره امامانو مستدل او پر امام شافعي رحمة الله علیه باندې حجت دی .

رسول الله ﷺ تل قرباني کول

﴿۱۳۹۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرَ سِنِيْنَ يُضَحِّيْ . رواه الترمذي .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ تر لسو کلو پورې په مدینه کې وو او هر کال به یې اختری کوی .ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۷۸، رقم: ۱۵۰۷.

تشریح: د قرباني د واجب کیدو دا تر ټولو لوی دلیل دی چې رسول الله ﷺ پر دې مداومت (همیشتوب) کړی دی او تل یې قرباني کول.

قرباني د ابراهیم علیه السلام سنت ده

﴿۱۳۹۱﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه څخه روایت دی چې د رسول الله ﷺ اصحابو وویل چې

وَسَلَّمَ يَارَسُوْلَ اللهِ مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ ؟ قَالَ سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ

اې د الله رسوله ! دا قرباني څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : دا ستاسو د پلار حضرت ابراهیم علیه السلام طریقه ده ،

السَّلَامُ قَالُوْا فَمَا لَنَا فِيْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ . قَالُوْا

صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله ! موږ ته څه ثواب رسیږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل د هر وړښته په بدله کې یوه نیکي ده، هغوی بیا عرض وکړ

فَالصُّوْفُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ مِّنَ الصُّوْفِ حَسَنَةٌ رواه أحمد وابن ماجه .

او وړی والا ې د الله رسوله ! رسول الله ﷺ وفرمایل هو، یعني د وړی څخه د هر وړښته په مقابل کې یوه نیکي ده . . احمد، ابن ماجه.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۴\۳۶۸، وابن ماجه ۲\۱۰۴۵، رقم: ۳۱۲۷.

بَابُ الْعَتِيْرَةِ (د بُتانو پر نامه حلالول)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

فرع او عتيره

﴿۱۳۹۲﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ فَرَعَ وَلاَ عَتِيْرَةَ قَالَ وَالْفَرَعُ أَوَّلُ نِتَاجٍ كَانَ يُنْتَجُّ لَهُمْ كَانُوْا يَذْبَحُوْنَهُ لِطَوَاغِيْتِهِمْ وَالْعَتِيْرَةُ فِيْ رَجَبٍ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په اسلام کې نه فرع ستاه او نه عتيرة، ابوهريرة وايي فرع د حيوانانو لومړي بچي ته وايي چې کفارو به د خپلو بتانو پر نامه حلالول او عتيره هغه حيوان چې کفارو به د رجب په لومړۍ لسيزه کې د بتانو پر نامه حلالول . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) ۵۹۶/۹، رقم: ۵۴۷۳، ومسلم ۱۵۶۴/۳، رقم: ۳۸- ۱۹۷۶.

د لغاتو حل : (العتيرة): هي شاة تذبح في رجب، كانوا يعظمون بذبحها شهر رجب لانه اول شهر من الاشهر الحرم. مرقات.

تشريح : د جاهليت په زمانې کې دا طريقه وه چې د چا د حيوان اول بچی به پيدا سو نو هغه به يې د بتانو پر نامه حلالوی د اسلام په شروع کې هم دا طريقه جاري وه چې مسلمان به هغه بچی د الله تعالی پر نامه حلالوی مګر وروسته دا طريقه منسوخ کړل سوه او د کفارو د مشابهت له کبله د دې څخه منعه وکړل سوه .

عتيره څه ته وايي ؟

د جاهليت په ورځو کې يو رواج دا هم وو چې خلکو به د رجب د مياشتې په اوله لسيزه کې د خپل معبود د تقرب حاصلولو لپاره پسه حلالوی او دې ته عتيره ويل کيږي ، د اسلام په شروع کې مسلمانانو هم داسې کول، کافرانو خو به د بتانو پر نامه حلالول بيا وروسته دا هم په منسوخ کړلو سره د دې څخه منعه وسوه .

ځيني حضرات وايي چي دا ممانعت د دې لپاره وو چي هغوی به د خپلو بتانو پر نامه ذبح کول او که چيري د الله تعالى پر نامه ذبح وکړل سي نو څه تاوان نه لري مګر صحيح مسئله داده چي د بت پرستو د مشابهت څخه د ساتني لپاره بايد دا ممانعت اختيار کړل سي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۱۳۹۳﴾: عَنْ مِخْنَفِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ كُنَّا وُقُوفًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت مِخنف بن سليم رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره ولاړ وو

بِعَرَفَاتٍ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عَلَى كُلِّ أَهْلِ بَيْتٍ فِي كُلِّ عَامٍ أُضْحِيَّةٌ

په عرفات کي نو ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې : اې خلکو ! پر هره کورنۍ باندې په کال کي اختری

وَعَتِيرَةٌ هَلْ تَدْرُونَ مَا الْعَتِيرَةُ هِيَ الَّتِي تُسَمُّونَهَا الرَّجَبِيَّةَ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب ضعيف الاسناد و قال ابوداؤد والعتيرة منسوخة .

او عتيره کول واجب دی تاسو ته څرګنده ده چي عتيره څه شي ده ؟ عتيره هغه شی دی چي هغه ته تاسو رجبيه واياست . ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه. او ترمذي ويلي دي دا حديث ضعيف الاسناد دی ، ابوداؤد ويلي دي چي عتيره منسوخه ده .

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۲۲۶، رقم: ۲۷۸۸، والترمذي ۴\ ۸۳- ۸۴، رقم: ۱۵۱۸، والنسائي ۷\ ۱۶۷-۱۶۸، رقم: ۴۲۳۵، وابن ماجه ۲\ ۱۰۴۵، رقم: ۳۱۲۵.

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

پر مسکين باندي اختری واجب نه دی

﴿۱۳۹۴﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

أُمِرْتُ بِيَوْمِ الْأَضْحٰى عِيْدًا جَعَلَهُ اللّٰهُ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ قَالَ لَهُ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ

ما ته حکم سوی دی چې د قربانی ورځ زه اختر و ټاکم دا ورځ الله تعالی د دې امت لپاره اختر ګرځولې ده ، یو سړي عرض وکړ اې دالله رسوله !

أَرَأَيْتَ إِنْ لَّمْ أَجِدْ إِلاَّ مَنِيْحَةً أُنْثٰى أَفَأُضَحِّيْ بِهَا ؟ قَالَ لاَ وَلٰكِنْ خُذْ مِنْ

که د چا سره د منیحه (منیحه هغه اوښه چې د شپږو لپاره یو چا ته ورکول سوې وي) پرته نور هیڅ نه وي نو ایا هغه ددې اختری وکړي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل نه، مګر ته وخریه

شَعْرِكَ وَأَظْفَارِكَ وَتَقُصُّ شَارِبَكَ وَتَحْلِقُ عَانَتَكَ فَذٰلِكَ تَمَامُ أُضْحِيَّتِكَ عِنْدَ اللّٰهِ . رواه أبو داود والنسائي .

خپل ورېښتان او یا یې کوچني کړه او نوکان پرې کړه او سنت واخله او دنامه لاندې ورېښتان وخریه دا د الله په نزد ستا پوره قرباني ده . ابوداؤد ،نسائي.

تخریج : سنن ابي داؤد ۳\ ۲۲۷، رقم: ۲۷۸۹، والنسائي ۷\ ۲۱۲، رقم: ۴۳۷۷.

د لغاتو حل : (مَنيحة): المراد بها الشاة . (پسه).

تشریح : منیحه د منح څخه مشتق دی د دې معنی د عطاء او بخښې ده، د اهل عرب دا عادت وو چې د همدردی او احسان له موخې به ېې خپل شپږو والا اوښه اړو کسانو ته ورکول چې د هغه وړی او د هغه د بچیانو څخه د خپل ضرورت او احتیاج وخت پوره فائده واخلي او کله چې د هغوی حاجت او ضرورت به پوره سو نو هغه به ېې بیرته ورکړل نو د هغه صحابي سره د دې ډول حیوان وو چې هغه ته ېې د یو ضرورت او حاجت له کبله ورکړی وو هغه په لوی اختر کې د هغه حیوان د قرباني اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ منعه وکړل ځکه چې اول خو د قاعدې مطابق خپل د ضرورت وروسته هغه حیوان خپل اصل مالک ته بیرته ورکول پکار دي دوهم دا چې د هغه حیوان څخه پرته د هغه سره بل یو داسې ذریعه نه وه چې په هغه سره ېې خپل ضرورت پوره کړي وای نو د حدیث د ښکاره مفهوم څخه دا خبره ثابتیږي چې قرباني پر تنګ دست او غریب باندې واجب نه ده په دې مسئله کې د علماؤ مختلف اقوال دي د علماء سلف د یوې ډلې

د ا قول دی چي قرباني پر تنګ دست او غريب باندي هم واجب ده د جمهور علماؤ قول دادی چي د تنګ دست لپاره قرباني کول مستحب ده مګر امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمايي چي قرباني يوازي پر هغه سړي باندي واجب ده چي د نصاب خاوند وي.

==========

بَابُ صَلٰوةِ الْخُسُوْفِ

د لمر او سپوږمۍ تندره نيولو دلمانځه بيان

د لغت پوهانو او عالمانو قول دادی چي خسوف د سپوږمۍ تندري نيولو او کسوف د لمر تندري نيولو ته وايي، په دغه باب کي چي څومره حديثونه نقل کيږي هغه ټول د لمر تندري نيولو اړوند دي مګر يو حديث چي د مخکني فصل دوهم حديث دی د هغه په باره کي احتمال دی چي هغه د سپوږمۍ تندري نيولو اړوند دی، نو د مشکوة د مؤلف لپاره غوره داده چي هغه د دې باب نوم د صلوة الخسوف پر ځای باب الکسوف ايښی وای.

ځينو علماؤ لفظ د کسوف په دواړه ځايه کي استعمال کړی دی د لمر تندري نيولو کي هم او د سپوږمۍ تندري نيولو کي هم، همداسي ځيني حضرات لفظ د خسوف هم دواړه ځايه استعمالوي.

د لمر تندري نيولو لمونځ د جمهورو علماؤ په اتفاق سره سنت دی، د حنفيه په نزد د لمر تندري نيولو لمونځ دوه رکعته په جماعت سره بېله خطبې دی او د سپوږمۍ تندري نيولو لمونځ هم دوه رکعته دی مګر په دې کي جماعت نسته بلکه هر سړی دي جلا جلا لمونځ وکړي، د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په دواړو لمنځو کي جماعت او خطبه سته.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د لمر تندري نيولو لمونځ

﴿۱۳۹۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ الشَّمْسَ خَسَفَتْ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي لمر تندري ونيوی

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ مُنَادِيًا الصَّلَاةَ جَامِعَةً فَتَقَدَّمَ فَصَلّٰى اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِيْ

نو یو اعلان کوونکی یې ولیږی چې دا اعلان یې کوی (لمونځ تیار دی) کله چې خلک را ټول سول نو رسول الله ﷺ وراندې سو او دوه رکعته یې وکړل چې په هغه کې یې څلور رکوعې

رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ قَالَتْ عَائِشَةُ مَا رَكَعْتُ رُكُوعًا قَطُّ وَلاَ سَجَدْتُ

او څلور سجدې یې وکړې، بې بې عائشه ﷺ وایي چې ما هیڅکله یو رکوع او سجده

سُجُودًا قَطُّ كَانَ أَطْوَلَ مِنْهُ . متفق عليه

دومره اوږده نه وه کړې څومره چې په دې لمانځه کې مې وکړه . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۴۹، رقم: ۱۰۶۶، رقم ۱۰۵۱، ومسلم ۲\ ۶۲۰، رقم: ۴- ۹۰۱.

تشريح : په صلوة الخسوف کې د خلکو یوځای کولو لپاره الصلوة جامعة په زوره ویل سنت دی په خاصه توګه کله چې خلک ددې لمانځه لپاره نه وي را ټول سوي، د علماؤ پر دې خبره اجتماع ده چې دا لمونځ دي په جامع مسجد یا عیدګاه کې وکړل سي او دا لمونځ دي په مکروه وختونو کې نه کول کیږي .

(فصلى اربع ركعة .....الخ) : ددې څخه دا معلومیږي چې رسول الله ﷺ څلور رکوعې او څلور سجدې وکړې یعنې په هر رکعت کې دوې رکوعې او دوې سجدې یې وکړې مګر د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه په مذهب کې د نورو لمنځونو په ډول په دغه لمانځه کې هم په رکعت کې یوه رکوع ده د هغوی دلیل هغه حدیثونه دي چې د هغه څخه یوه رکوع کول ثابت دي مګر په دې اړه یو حدیث قولی هم نقل دی او دا کلیه ده چې چیرې قول او فعل ثابتیږي نو پر فعل باندې قول ته ترجیح ورکول کیږي .

د سپوږمۍ تندري نیولو لمونځ

﴿۱۳۹۶﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ جَهَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ صَلاَةِ الْخُسُوْفِ بِقِرَاءَتِهِ . متفق عليه

د حضرت عائشې ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د سپوږمۍ تندري نیولو په لمانځه کې په لوړ آواز سره قرائت ووایه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۴۹، رقم: ۱۰۶۵، ومسلم ۲\ ۶۲۰، رقم: ۵- ۹۰۱.

د لمر تندري نيولو سبب

﴿۱۳۹۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِنْخَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ

د عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې لمر تندري ونيوی،

اللّٰهِ ﷺ فَصَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَالنَّاسُ مَعَهُ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً قَدْرَ نَحْوِ

نو رسول الله ﷺ او خلکو په لمانځه کې اوږده ولاړه وکړه يعني دومره وخت په څومره وخت کې چې

سُورَةِ الْبَقَرَةِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ

سورة بقرة ويل کيږي، بيا يې اوږده رکوع وکړل بيا يې د رکوع څخه سر پورته کړ او تر ډيره وخته پوري ولاړ وو چې د قرائت تر ولاړې کم وو

الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ ثُمَّ

بيا يې اوږده رکوع وکړه او دا رکوع تر لومړی رکوع کمه وه بيا يې سر پورته کړ بيا يې

سَجَدَ ثُمَّ قَامَ قِيَامًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهُوَ

سجده وکړه بيا ودريدی او تر ډيره وخته پوري ولاړ وو مګر دا دريدل تر لومړي دريدو کم وو بيا يې اوږده رکوع وکړه او دا رکوع

دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ

تر لومړی رکوع کمه وه بيا يې د رکوع څخه سر پورته کړ او تر ډيره وخته پوري ولاړ وو او دا ولاړه تر لومړی ولاړې کمه وه بيا يې

رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ انْصَرَفَ

اوږده رکوع وکړه او دا رکوع تر لومړی رکوع کمه وه بيا يې د رکوع څخه سر پورته کړ بيا يې سجده وکړه بيا يې لمونځ ختم کړ،

وَقَدْ انْجَلَتْ الشَّمْسُ فَقَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللّٰهِ لاَ

په دې دوران کې لمر هم ځلانده سوی وو ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل چې لمر او سپوږمۍ د الله تعالی د نښو څخه دوې نښې دي نه

يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذَلِكَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قَالُوا يَا

د یو چا پر مرګ او نه د یو چا پر پیدا کېدو تندره نیسي هر وخت چې تاسو تندره نیول وویني نو الله تعالی یاد وی ، صحابه کرامو عرض وکړ

رَسُولَ اللَّهِ رَأَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِي مَقَامِكَ هَذَا ثُمَّ رَأَيْنَاكَ تَكَعْكَعْتَ فَقَالَ

اې د الله رسوله ! موږ تاسو په دې حالت کې ولیدلت چې تاسو پر خپل ځای ولاړ د یو شی نیولو اراده مو کول بیا موږ دا ولیدل چې تاسو لږ وروسته سوا ست، رسول الله ﷺ وفرمایل:

إِنِّي رَأَيْتُ الْجَنَّةَ فَتَنَاوَلْتُ مِنْهَا عُنْقُودًا وَلَوْ أَخَذْتُهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتْ

ما جنت ولیدی او د هغه د درختي څخه مي د انګورو وانښکی شکولو اراده کړې وه که ما هغه وانښکی راشکولي وای نو تر څو پورې چې دنیا آباده وای تر هغو به مو خوړل ،

الدُّنْيَا وَرَأَيْتُ النَّارَ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ مَنْظَرًا قَطُّ أَفْظَعَ وَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ

بیا ما دوزخ ولیدی او هیڅ داسي یو خوفناک منظر زما تر نظر نه دی تیر سوی څنګه چې ما نن ولیدی، په دې کې ما زیاتې ښځې ولیدې،

قَالُوا بِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ بِكُفْرِهِنَّ قِيلَ أَيَكْفُرْنَ بِاللَّهِ قَالَ بِكُفْرِ الْعَشِيرِ

صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! ددې سبب څه دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : د هغوی دنعمت ناشکري له کبله ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه ایا ښځې د الله څخه انکار کوي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل د خپل خاوند نافرماني کوي

وَبِكُفْرِ الإِحْسَانِ لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ

او د احسان ناشکري کوي که ته ورسره تول عمر احسان کوې خو که هغه ستا د لوري د خپل مرضی خلاف یو خبره وویني نو وایي چې

مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ. متفق عليه

ما هیڅ چیري ستاسو څخه خیر لیدلی نه دی. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\۵۴۰، رقم: ۱۰۵۲، ومسلم ۲\۶۲۶، رقم: ۱۷-۹۰۷.

د لغاتو حل: (تَکَعکعتَ): احجمت وتاخرت الی وراء (ترشا څنډېدل).

تشریح: د (آیتان من آیات الله) مطلب دادی چې لمر او سپوږمی د الله تعالی د الوهیت او ربوبیت او د هغه د قدرت د ښکاره څخه دي چاته د ګټې او تاوان رسولو خو څه په دوی کې دومره طاقت هم نسته چې په خپل ځان کې پیدا سوی یو تاوان او عیب ختم کړي نو څومره بې عقله او کم بخته دي هغه خلک چې ددې شي په لېدو سره لمر او سپوږمی معبود ګرځوي او د هغوی مخکې خپل تندی کښته کوي، ددې وروسته رسول الله ﷺ د اهل جاهلیت هغه عقیده ختمه کړل کوم چې د یو عظیمي پیښې مثلا د یو لوی سړي مرګ یا عامه وباء یعني وچ کالی وغیره په وجه لمر او سپوږمی تندره ونیسي، رسول الله ﷺ وفرمایل دا خیالات او عقیدې فاسدي دي په حقیقت کې ددې هیڅ تعلق نسته، الله تعالی د دواړو په تندره نیولو کې یوازې د خپل قدرت اظهار کوي او خلک د خپل غیظ او غضب څخه بیروي.

د (فاذکروا الله) مطلب دادی چې د لمر او سپوږمی په تندره نیولو سره که د لمانځه مکروه وخت نه وي نو د کسوف او خسوف لمونځ کوئ او که چیري مکروه وختونه وي نو لمونځ مه کوئ مګر د الله تعالی په تسبیح، تهلیل، تکبیر او استغفار کې مصروف سئ، په دې خبره پوه سئ چې دا حکم د امر استحابي په توګه دی د وجوب په توګه نه دی ځکه چې د کسوف او خسوف لمونځ واجب نه دی بلکه د ټولو علماؤ په اتفاق سنت دی.

ددنیا تر پاته کېدو پوري به مو خوړلای: یعني څرنګه چې د جنت د میوو خاصیت دی د انګورو د هغه غونچې څخه چې کومه دانه مو خوړلې ده د هغه پر ځای به دوهمه دانه پیدا کیدل همداسي هغه غونچه به د دنیا تر پاته کېدو پوري چلیدلای.

د جنت د انګورو د وانښکي نه اخیستو سبب دا وو که چیري رسول الله ﷺ هغه اخیستی وای او خلکو هغه لیدلی وای نو د ایمان بالغیب هیڅ حقیقت او اهمیت به نه وای پاته سوی.

﴿۱۳۹۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ نَحْوَ حَدِيْثِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَقَالَتْ ثُمَّ سَجَدَ فَأَطَالَ

بي بي عائشې ﷺ هم د ابن عباس ﷺ په دول حدیث بیان کړی دی بیا یې دا بیان هم کړی دی چې رسول الله ﷺ سجده وکړه او اوږده سجده یې وکړه

السُّجُوْدَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ فَخَطَبَ النَّاسَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنٰى

بيا يې لمونځ ختم کړو او لمر ځلانده سو ، بيا رسول الله ﷺ خلکو ته خطبه وويل لومړی يې د الله تعالی حمد او ثناء وکړه

عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لاَ يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ

بيا يې وفرمايل : لمر او سپوږمۍ د الله تعالی دوې نښې دي نه د چا پر مرګ

اَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذٰلِكَ فَادْعُوْا اللهَ وَكَبِّرُوْا وَصَلُّوْا وَتَصَدَّقُوْا ثُمَّ

او نه د چا پر پيدا کېدو دا تندره نيسي هر کله چې تاسو تندره نيول وويني نو د الله څخه (دخير) دعاء غواړئ، تکبير وايا ست لمونځ کوئ او خيرات کوئ ، بيا

قَالَ يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ وَاللهِ مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرَ مِنَ اللهِ أَنْ يَّزْنِيَ عَبْدُهُ أَوْ تَزْنِيَ أَمَتُهُ

رسول الله ﷺ وفرمايل اې د محمد امته ! په الله دي مي قسم وي د الله ﷻ څخه زيات غيرتمند هيڅوک نسته چې زنا به کوي بنده ده يا زنا به کوي مينځه ده ،

يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ وَّاللهِ لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا . متفق عليه

اې د محمد ﷺ امته ! په الله دي مي قسم وي که تاسو ته هغه شي څرګند سي کوم چې زما په علم کې دی نو خندا به ډيره کمه او ژړا به ډيره زياته کوئ. بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۲۹، رقم: ۱۰۴۴، ومسلم ۲\ ۶۱۸، رقم: ۱- ۹۰۱.

تشريح : په دغه روايت کې د سجدې اوږدوالي، خطبې، دعا، تکبير او خيرات کولو ذکر او حکم دی او د حديث اخري الفاظ مزيد نقل دي چې د ابن عباس ؓ په روايت کې ددې ذکر نسته .

د غيرت اصل معنی په خپل حق کې د غير شرکت بد ګڼل او د الله تعالی د غيرت مطلب دادی چې په خپلو احکامو کې د بندګانو نافرماني او د امر او نهي خلاف کول بدګڼل، د ارشاد حاصل دادی چې د الله تعالی يو بنده چې په زنا کې اخته سي نو په دې معامله کې چې تاسو ته څومره غيرت محسوس کيږي او هغه د دوارو څخه چې ستاسو څومره نفرت وي د الله تعالی

غیرت د هغه څخه ډیر زیات سخت او د هغه نفرت ستاسو تر نفرت زیات سخت دی .

د لمر او سپوږمی تندري نیولو علت

﴿۱۳۹۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ خَسَفَتُ الشَّمْسُ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د ابو موسی رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې لمر تندري ونیوی نو رسول الله ﷺ په بیره کې ولاړ سو

وَسَلَّمَ فَزِعًا يَخْشَى أَنْ تَكُونَ السَّاعَةُ حَتّٰى أَتَى الْمَسْجِدَ فَصَلّٰى بِأَطْوَلِ قِيَامٍ

او د قیامت بیره وربانديې خپره سول بیا رسول الله ﷺ مسجد ته تشریف راوړ او لمونځ یې وکړ چې ولاړه،

وَرُكُوعٍ وَسُجُودٍ مَا رَأَيْتُهُ يَفْعَلُهُ قَطُّ وَ قَالَ إِنَّ هٰذِهِ الْآيَاتِ الَّتِي يُرْسِلُ اللّٰهُ لَا

رکوع او سجده یې دومره اوږده وکړه چې وړاندې ما هیڅکله نه وه لیدلې ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : دا نښې الله تعالی رالیږي

تَكُونُ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلٰكِنَّ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهَا عِبَادَهُ فَإِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا

دا نه د چا د مرګ له کبله دی او نه د چا د ژوند له کبله، مګر له دې کبله الله تعالی خپل بندګان بیروي له دې کبله هر کله چې تاسو دا ډول نښې وینئ

مِنْ ذٰلِكَ فَافْزَعُوا إِلٰى ذِكْرِهِ وَدُعَائِهِ وَاسْتِغْفَارِهِ . متفق عليه

نو د الله څخه بیره وکړئ د هغه ذکر کوئ دعاء کوئ او د هغه څخه بخښنه غواړئ . بخاري او مسلم

تخریج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۴۵، رقم: ۱۰۵۹، ومسلم ۲\ ۶۲۸، رقم: ۲۴- ۹۱۲.

تشریح : د (یخشی ان تکون الساعة) الفاظ راوي د تمثیل په توګه استعمال کړي دي، ددې قول مطلب دادی چې رسول الله ﷺ به په دغه وخت کې خوف زده وو څرنګه چې یو سړی پر قیامت کیدو باندې خوف زده وي د رسول الله ﷺ دا بیره په دې وجه نه وه چې رسول الله ﷺ دا ګڼل چې قیامت شروع سوی دی ځکه چې رسول الله ﷺ ښه پوهیدی چې تر څو پورې زه په خلکو کې موجود یم قیامت نسي راتلای .

په هرحال رسول الله ﷺ به د الله تعالی د نښو په لیدو سره مثلا د لمر او سپوږمی تندره نیول، زلزلې، سیلاب، طوفان ، برېښنا او تالندي په وخت کې چې به بیریدی نو په هغه کې

یوازي پر محکه سربیره اوسیدونکو انسانانو د شفقت جذبه وه نو رسول الله ﷺ د خپل ذات لخوا نه بلکه د نړیوالو له خوا خوف زده کیدی چي په خپل لمن کي د دنیا والا لپاره د تباهي او بربادي پیغام نه وي راوړی او په دې صورت کي پر هغوی د الله تعالی عذاب نازل نسي.

وقال هذه الایات :مطلب دادی چي د سپوږمئ او د لمر د تندري نیولو او د زلزلې سیلابو او طوفانو راتلل او د برېښنا آواز وغیره دا ټول د الله تعالی د قدرت ننبي دي په دې سره هغه خپل بندګان بیروي او انسانانو ته دا ښودل غواړي چي وګورئ زه تغیر حالت قسمت په اخیستو او پر عذاب نازلولو باندي قادر یم.

په صلوة خسوف او کسوف کي رکوعي

﴿۱۴۰۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي

وَسَلَّمَ يَوْمَ مَاتَ اِبْرَاهِيْمُ بْنُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى بِالنَّاسِ

کومه ورځ چي درسول الله ﷺ زوی ابراهیم رضي الله عنه وفات سوی وو نو لمر هم تندري ونیوی ، رسول الله ﷺ خلکو ته لمونځ ورکړ

سِتَّ رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ. رواه مسلم

چي په هغه کي یې شپږ رکوعي او څلور سجدې وکړې. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۶۲۳، رقم: ۱۰- ۹۰۴.

تشریح : حضرت ابراهیم رضي الله عنه د رسول الله ﷺ زوی وو چي د بي بي ماریه قبطیه رضي الله عنها څخه په اتم هجري کال کي پیدا سوی وو او په لسم هجري کال کي د تي رودلو په زمانه کي وفات سو د هغه عمر یوازي اتلس میاشتي یا تر دې زیات وو، په کومه ورځ چي هغه وفات سو په هغه ورځ لمر تندري ونیوی، خلکوویل چي د هغه د وفات په وجه لمر تندري ونیوی چي د هغه رسول الله ﷺ تردید وکړلکه څرنګه چي د تیرو روایتو څخه معلومه سوې ده.

د شپږ رکوعو او څلورو سجدو مطلب دادی چي رسول الله ﷺ دوه رکعته لمونځ وکړلکه څرنګه چي ددې باب د حدیثو څخه معلومیږي چي ددغه لمانځه د رکوعو شمیر مختلف بیان سوی دی، امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه هغه حدیثو ته ترجیح ورکړې ده چي په هغه کي

یوازي د یوې رکوع ذکر سوی دی ځکه نه یوازي دا چې اصل خبره داده چې په هر رکعت کې یوه رکوع وي بلکه په دې باره کې قولا او فعلا دواړه ډوله حدیثونه نقل دي او بیا دا چې د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه د مستدل روایت څخه پرته نور روایتونه مضطرب دي چې په هغه کې د یو شمېر تعین ډېر ګران دی ،امام شافعي رحمة الله علیه د دوو رکوع والا حدیث ته ترجیح ورکړې ده د امام شافعي رحمة الله علیه او نور اکثر اهل علمو حضراتو په نزد دا مسئله هم ده که د تندري نیولو تر وخته پورې وي نو دا جائز ده چې په هر رکعت کې درې، څلور یا پنځه رکوعې هم کیدای سي .

﴿۱۴۰۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ صَلَّى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حِيْنَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ ثَمَانَ رَكَعَاتٍ فِيْ أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ . وعن علي مثل ذلك . رواه مسلم .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې د لمر تندري نیولو پر وخت رسول الله ﷺ د اته رکوعو او څلورو سجدو لمونځ ورکړ یعني دوه رکعته چې په هغه کې یې څلور رکوعې او دوې دوې سجدې وکړې .حضرت علي رضي الله عنه هم داسي روایت کړی دی . مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۶۲۷، رقم: ۱۸- ۹۰۸.

تشریح : (وعن علی مثل ذالک) مطلب دادی چې یا خو حضرت علي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه دا روایت نقل کړی دی چې رسول الله ﷺ همداسي لمونځ اداء کړ یا دا چې د حضرت علي رضي الله عنه په باره کې دا نقل سوي دي چې هغه هم داسي لمونځ اداء کړ .

د لمر تندري نیولو پر وخت د نبي کریم ﷺ طریقه

﴿۱۴۰۲﴾: وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كُنْتُ أَرْتَمِي بِأَسْهُمٍ لِي بِالْمَدِيْنَةِ

د حضرت عبد الرحمن بن سمرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې ما په مدینه کې په غشو سره وېشتل کول

فِيْ حَيَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ كَسَفَتُ الشَّمْسُ فَنَبَذْتُهَا

د رسول الله ﷺ په زمانه چې لمر تندري ونیوی نو ما خپل غشي وغورزوی

فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى مَا حَدَثَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

او په زړه کې مي وویل په الله جل جلاله دي مي قسم وي چې زه به د رسول الله ﷺ حالت وینم

كُسُوفِ الشَّمْسِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ قَائِمٌ فِي الصَّلَاةِ رَافِعٌ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يُسَبِّحُ

د تندري نيولو پر وخت، ويلي دي راوي نو زه رسول الله ﷺ ته راغلم او وه مي ليدل چي رسول الله ﷺ پر لمانځه ولاړ وو د تکبير لاسونه يې پورته کړي وه نو رسول الله ﷺ تسبيح،

وَيَحْمَدُ وَيُهَلِّلُ وَيُكَبِّرُ وَيَدْعُو حَتَّى حُسِرَ عَنْهَا قَالَ فَلَمَّا حُسِرَ عَنْهَا قَرَأَ

حمد، تهليل، تکبير او دعاء ويل پيل کړل تر څو چي لمر ځلانده سو نو رسول الله ﷺ دوه رکعته وکړه چي په هغو کي يې

سُورَتَيْنِ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ . رواه مسلم في صحيحه عن عبدالرحمن بن سمرة وكذا في شرح السنة وفي نسخ المصابيح عن جابر بن سمرة .

دوه سورتونه وويل. مسلم، شرح السنة.

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۶۲۹، رقم: ۲۶- ۹۱۳، وشرح السنة ۴\ ۳۷۹، رقم: ۱۱۴۴.

د لغاتو حل: (فنبذتُها): اى رميتُ السهام. (غشى ويشتل).

تشريح: (وهو قائم في الصلوة) ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ دواړه لاسونه پورته کړل د لمانځه په انداز کي مخ پر قبله ولاړ وو او خلکو صفونه ترلي وه، يا دا ويل کيږي چي دلته صلوة يعني د لمانځه څخه مراد دعاء ده دا تاويل ځکه کيږي چي د هيڅ مذهب څخه دا نه معلوميږي چي رسول الله ﷺ د لمر تندري نيولو پر وخت د لمانځه په حالت کي د اذکارو پر وخت خپل دواړه لاسونه پورته کړي وه.

ځرنګه چي مخکي ښودل سوي دي چي د لمر تندري نيولو د لمانځه د رکوع د شمېر په باره کي جلا حديثونه روايت دي په کومو روايتونو کي چي په هر رکعت کي د څو څو رکوع اثبات دی هغه ټول مضطرب دي دا وجه ده چي په دې باره کي خپله راويان هم مضطرب دي چي ځينو دې دري رکوعي بيان کړي دي او دا قاعده ده چي اضطراب موجب ضعف دی نو د دې روايتونو پرېښودل واجب سول چي تعدد رکوع ثابتوي ځکه امام ابوحنيفه رحمة الله عليه هغه روايات خپل مستدل ګرځولي دي چي د هغه څخه په هر رکعت کي يوه يوه رکوع کول ثابت ده.

د تندري پر وخت د غلام ازادول

﴿۱۴۰۳﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَتْ لَقَدْ أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعِتَاقَةِ فِيْ كُسُوْفِ الشَّمْسِ . رواه البخاري .

د حضرت اسماء بنت ابوبکر رضی اللہ عنہا څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ما ته د لمر تندري نیولو پر وخت د غلام آزادولو حکم راکړ . بخاري.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۴۳، رقم: ۱۰۵۴.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د کسوف په لمانځه کې قرائت

﴿۱۴۰۴﴾: عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ كُسُوْفٍ لاَّ نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي وابن ماجه .

د حضرت سمرة بن جندب رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ موږ ته د لمر تندري نیولو لمونځ راکړ موږ دده مبارک آواز نه سو اوریدلای . ابو داؤد ،ترمذي ،نسائي ،ابن ماجه

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۷۰۰، رقم: ۱۱۸۴، والترمذي ۲\ ۴۵۱، رقم: ۵۶۲، والنسائي ۳\ ۱۴۰، رقم: ۱۴۸۳، وابن ماجه ۱\ ۴۰۲، رقم: ۱۲۶۴.

تشریح: دغه حدیث او دا دول نور حدیثونه پر دې خبري دلالت کوي چې د لمر تندري نیولو په لمانځه کې امام په لوړ اواز سره قرائت نه کوي، د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب دادی، په بخاري، مسلم او نورو کتابونو کې داسې روایتونه هم نقل دي چې د هغه څخه د صلوة کسوف د قرائت په لوړ اواز سره ویل ثابتیږي، د روایاتو د دغه تکرله کبله ابن همام رحمۃ اللہ علیہ هغه روایتونو ته ترجیح ورکول ضروري سول چې د هغه څخه قرائت په کرار اواز سره ویل ثابتیږي ځکه چې د ورځې په لمانځه کې د قرائت کرار ویل اصل دی .

د عجیبه پېښه پر وخت سجده کول

﴿۱۴۰۵﴾: وَعَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ قِيْلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ مَاتَتْ فُلاَنَةُ بَعْضُ أَزْوَاجِ

د حضرت عکرمة رضي الله عنه څخه روایت دی چې ابن عباس رضي الله عنه ته وویل سول چې د رسول الله ﷺ فلانی بې بې وفات سوې ده (یعني بې بې صفیه)

النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَّ سَاجِدًا فَقِيلَ لَهُ تَسْجُدُ فِي هَذِهِ السَّاعَةَ

نو ابن عباس رضي الله عنه پر سجده پریوتی، د هغه څخه پوښتنه وسول ایا ته په داسې حالت کې هم سجده کوې؟

فَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمْ آيَةً فَاسْجُدُوا فَأَيُّ

هغه وویل: رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې کله تاسو د الله ﷻ یو نښه وویني نو سجده کوئ او

آيَةٍ أَعْظَمُ مِنْ ذَهَابِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ. رواه ابوداؤد والترمذي

تر دې لویه نښه به بله څه وي چې د رسول الله ﷺ بې بې وفات سوه. ابوداؤد، ترمذي.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱/۷۰۶، رقم: ۱۱۹۷، والترمذي ۵/۶۶۵، رقم: ۳۸۹۱.

تشریح: ابن عباس رضي الله عنه ته د خلکو د وینا مطلب دا وو چې تاسو دا وخت بېله سببه سجده ولې کوئ حال دا چې بېله سببه سجده کول ممنوع ده، نو هغه دا جواب ورکړ چې د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دی کله چې تاسو د بلاګانو او مصیبتونو د راتلو په صورت کې د الله تعالی د کارنامو څخه چې د هغه په ذریعه الله تعالی خپل بندګان بیروي یو کارنامه وویني نو د الله تعالی په دربار کې سمدستي سجده کوئ او ښکاره خبره ده چې د الله تعالی کومه کارنامه به تر دې زیاته بیرونکې او سخته وي چې د رسول الله ﷺ بیبیاني مبارکې ددې دنیا څخه رخصت سوې ځکه چې دې مقدسو میندو ته د رسول الله ﷺ په زوجیت کیدو او د رسول الله ﷺ سره د ډیر زیات ارتباط او اختلاط په وجه چې کوم عظمت او فضیلت حاصل وو هغه نورو ته حاصل نه وو څرنګه چې د هغوی ژوند د نړۍ او نړیوالو لپاره د امن او برکت سبب او د نیکۍ او خیر باعث وو همداسې د هغوی وفات دنیا او د اهل دنیا لپاره د امن او برکت او د نیکۍ او خیر د تلو سبب او د انسانانو په عذاب کې د اخته کیدو د بیرې باعث دی ځکه د هغوی د برکت څخه د منقطع په وخت د الله تعالی په یاد کې مصروف کیدل او د الله تعالی په دربار کې سجده کول غوره دي چې د الله تعالی ذکر او د سجدې د برکته د الله تعالی عذاب پورته سي.

علماء لیکي چې د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک (فاسجدوا) سجده کوئ مطلب دا دی چې

لمونځ وکړئ، ځيني حضرات وايي چې ددې ارشاد څخه يوازې سجده کول نه دي مراد لکه څرنګه چې ابن عباس رضی اللہ عنہ وکړل.

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمائي چې د رسول الله ﷺ ارشاد مطلق دی ځکه که چيرې دا سپوږمۍ او لمر پر تندري نيولو باندې محمول کړي نو د سجدې څخه مراد به لمونځ وي او که د دې څخه پرته نورې ننبۍ مثلا طوفان، سيلاب، يا پر زلزلو وغيره باندې اطلاق وکړل سي نو بيا د سجدې څخه به سجده مراد وي په دې صورت کې هم لمونځ مراد کيدای سي ځکه نقل سوی دي چې کله به يو داسي صورت راغلی نو رسول الله ﷺ به لمونځ کوی.

ابن همام رحمة الله عليه فرمايي چې دا نقل سوی دي چې د سخت طوفان، سيلاب او تيارې پر راتلو باندې لمونځ کول غوره دي د ابن عباس رضی اللہ عنہ په باره کې هم روايت دی چې هغه په بصره کې د زلزلې پر وخت لمونځ کړی وو.

اَلْفَصْلُ الثالث (دريم فصل)

د صلوة کسوف رکوع او سجده تلاوت

﴿۱۴۰۶﴾: عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ اِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت ابی بن کعب رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې لمر تندري ونيوی،

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى بِهِمْ فَقَرَأَ سُوْرَةً مِنَ الطُّوَلِ ثُمَّ رَكَعَ خَمْسَ رَكَعَاتٍ

نو رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته لمونځ ورکړ او په اوږدو سورتو کې يې يو سورت ووايه او پنځه رکوعې

وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ قَامَ الثَّانِيَةَ فَقَرَأَ بِسُوْرَةٍ مِّنَ الطُّوَلِ ثُمَّ رَكَعَ خَمْسَ

او دوې سجدې يې په لومړي رکعت کې وکړې بيا د دوهم رکعت لپاره ولاړ سو او يو اوږد سورت يې ووايه بيا يې پنځه رکوعې

رَكَعَاتٍ وَ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ كَمَا هُوَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ يَدْعُوْ حَتّٰى انْجَلٰى كُسُوْفُهَا. رواه أبو داود.

او دوبسجدې وکړي، وروسته مخ پر قبله کښېنستی او دعاء يې کول ترڅو چې لمر ځلانده سو. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد ۱/۶۹۹، رقم: ۱۱۸۲.

د حنفيه مستدل حديث

﴿۱۴۰۷﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ

د نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې لمر تندري ونيوی

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ وَيَسْأَلُ عَنْهَا حَتّٰى

نو مبارک ﷺ دوه دوه رکعته لمونځ پيل کړ او دخلکو څخه به يې پوښتنه کول ايا لمر ځلانده سو؟ ترڅو چې

انْجَلَتِ الشَّمْسُ. رواه أبو داود. وفي رواية النسائي أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلّٰى حِيْنَ

لمر ځلانده سو. ابوداؤد، د نسائي په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې د لمر تندري نيولو په وخت کې رسول الله ﷺ داسې لمونځ کوی

انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ مِثْلَ صَلَاتِنَا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ، وَلَهُ فِيْ أُخْرٰى أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ

لکه څرنګه چې موږ يې کوو، يعني رکوع او سجده به يې هم کول، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې لمر تندري ونيوی نو رسول الله ﷺ

خَرَجَ يَوْمًا مُسْتَعْجِلًا إِلَى الْمَسْجِدِ وَقَدِ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فَصَلّٰى حَتّٰى انْجَلَتْ

په تلوار د کور څخه راووتی او مسجد ته ولاړ لمونځ يې پيل کړ او تر هغه وخته پورې يې لمونځ کوی ترڅو چې لمر ځلانده سوی نه وو،

ثُمَّ قَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْخَسِفَانِ إِلَّا

رسول الله ﷺ وفرمايل: د جاهليت په وخت کې به خلکو دا وويل چې لمر او سپوږمی هغه وخت تندره نيسي چې

لِمَوْتِ عَظِيْمٍ مِنْ عُظَمَاءِ أَهْلِ الْأَرْضِ وَإِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْخَسِفَانِ

د دنيا د سردارانو څخه يو څوک مړ سي (زه تاسو ته ښيم چې) لمر او سپوږمۍ تندره نه نيسي لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ وَلٰكِنَّهُمَا خَلِيْقَتَانِ مِنْ خَلْقِهِ يُحْدِثُ اللّٰهُ فِيْ خَلْقِهِ

د يو چا پر مرګ او نه د يو چا پر زيږېدني او دا دواړه هم د الله تعالى مخلوقات دي په خپل مخلوق کې چې الله ﷻ څنګه غواړي هم هغسې بدلون کوي

مَا شَاءَ فَأَيُّهُمَا انْخَسَفَ فَصَلُّوْا حَتّٰى يَنْجَلِيَ أَوْ يُحْدِثَ اللّٰهُ أَمْرًا . رواه النسائي

هر کله چې په دوی کې يو تندره ونيسي نو تاسو تر هغو لمونځ کوئ تر څو پورې چې څلانده نه سي او يا الله تعالى يو حکم څرګند کړي . نسائي .

تخريج : سنن ابي داؤد ۱\ ۷۰۴، رقم: ۱۱۹۳، والنسائي ۳\ ۱۴۵، رقم: ۱۴۸۸.

تشريح : د حديث الفاظ : (زمونږ په ډول لمونځ) مطلب دادی چې رسول الله ﷺ د صلوة کسوف يعني د لمر تندري نيولو د لمانځه په هر رکعت کې څو څو رکوعې نه دي کړي مګر څرنګه چې مونږ هره ورځ لمونځ کوو همداسې رسول الله ﷺ هم هغه وخت لمونځ کړی دی او په هر رکعت کې يوه يوه رکوع او دوې دوې سجدې دي وکړي .

دا حديث د حنفيه مذهب دليل دی ددې څخه پرته نور حديثونه هم نقل دي چې په دې مسئله کې د حنفيه د مذهب تائيد کوي .

بَابُ فِيْ سُجُوْدِ الشُّكْرِ

د شکر د سجدې بيان

د علماؤ په نزد په دې خبره کې اختلاف دی چې د لمانځه څخه دباندې يوازې سجده کول جائز، مسنون او د تقرب الى الله ذريعه ده که يا؟ د ځينو حضراتو رايه داده چې د لمانځه څخه پرته په نورو وختونو کې يوازې سجده کول بدعت او حرام دی او په شريعت کې ددې هيڅ حقيقت نسته له دې کبله د وتر لمانځه وروسته د دواړو سجدو حرمت بيانيږي، دوهم د ځينو حضراتو په نزد جائز او په کراهت سره مشروع دی .

د دې مسئلې حقيقت او تفصيل دادی چې د لمانځه څخه وتلې سجده پر څو ډوله وي يو خو سجده سهوه ده او دا د لمانځه په حکم کې ده د دې په باره کې هيڅ اختلاف نسته، دوهمه

سجده تلاوت ده او ښکاره خبره ده چې ددې په باره کې هم هیڅ اختلاف نسته، دریمه سجده مناجات ده چې د لمانځه څخه دباندې ده د ددې په باره کې د اکثرو علماؤ د ښکاره اقوالو څخه دا معلومیږي چې دا سجده مکروه ده، ځلورمه سجده شکر ده چې پر حصول نعمت او خاتمه مصیبت او پر بلا باندې کیږي په دې سجده کې د علماؤ په نزد اختلاف دی، د امام شافعي رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه په نزد دا سجده سنت ده، په حنفیه کې د امام محمد رحمة الله علیه هم دا قول دی، ددغه مذهب په تائید کې اثار او حدیثونه هم په کثرت سره نقل دي د امام مالک رحمة الله علیه او امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد دا سجده مکروه ده دا حضرات د خپل دلیل په توګه دا وایي چې د الله تعالی نعمتونه بې شمیره دي د هغه شمېر نسي کیدای نو څرګنده ده چې په بنده کې دومره طاقت نسته چې هغه د الله تعالی د هر نعمت پر حصول باندې سجده شکر وکړي هغه داسي تکلیف اوپه مصیبت کې اخته کیدل دي چې د هغه زغمل د هغه د طاقت څخه وتلی دی.

مګر کوم حضرات چې د سجده شکر قائل دي هغوی وایي چې د نعمتونو څخه مراد هغه نعمتونه دي چې نوي وي او کله کله حاصلیږي هغه نعمتونه ځینې مراد نه دي چې مستقل او دائمي وي که هغه خپله د انسان وجود د هغه توابع او د هغه لوازمات چې د اهم په حقیقت کې د الله تعالی لوی لوی نعمتونه دي چې بنده ته په مستقله توګه سره حاصل دي.

د رسول الله ﷺ په باره کې روایت دی چې کله رسول الله ﷺ ته د ابوجهل لعین د قتل کیدو خبر ورسیدی نو رسول الله ﷺ سجده شکر وکړل، د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په باره کې نقل دي چې هغه د مسیلمه کذاب په باره کې ویلي دي چې کوم وخت ذي الثدیه خارجي قتل کړل سو نو هغه سجده شکر ادا کړل همداسي د مشهور صحابي حضرت کعب رضی الله عنه او ابن مالک رضی الله عنه په باره کې نقل کړي دي چې هغه د توبې قبلېدو د زیري پر وخت سجده وکړل.

په نومورې باب کې لومړی او دریم فصل نسته

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د خوشحالۍ پر وخت سجده

﴿۱۴۰۸﴾: عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَهُ أَمْرٌ

د حضرت ابوبکرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ ته

سُرُوْرًا أَوْ يُسَرُّ بِهِ خَرَّ سَاجِدًا شَاكِرًا للهِ تَعَالٰى . رواه أبو داود والترمذي وقال هذا حديث حسن غريب .

د خوشحالي يو پېښه وړاندي سول يا په يو خبره به خوشحاله سو نو د الله ﷻ د شکر ادا کولو لپاره به پر سجده پريوتی . ابوداؤد ، ترمذي .

تخريج : سنن ابي داؤد ۳\ ۲۱٦، رقم: ۲۷۷۴، والترمذي ۴\ ۱۲۰، رقم: ۱۵۷۸.

تشريح : علامه تور پشتي رحمة الله عليه فرمايي چي د علماء يو ډله د حديث ښکاره مفهوم په ليدو سره وايي چي پر حصول د نعمت باندي سجده شکر مشروع ده حال دا چي نورو علماؤ ددې سره اختلاف کړی دی او د حديث د مفهوم په باره کي ېې ويلي دي چي دلته په اصل کي د سجدې څخه مراد لمونځ دی د دې تاويل دليل دا حديث دی چي رسول الله ﷺ د څانبښت پر وخت دوه رکعته لمونځ وکړ کله چي په جنګ کي د فتح زيری ورکړل سو ، يا دا چي د ابوجهل لعين سر پرېکړی راوړل سو .

امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمايي که بنده پر هر نوي حاصليدونکي نعمت باندي سجده لازمه وګرځوي نو په دې کي هيڅ شک نسته چي د هغه د ژوند يوه يوه لحظه هم د سجدې څخه خالي نه وي ځکه چي د انساني ژوند هيڅ يوه لحظه داسي نه راځي چي په خپلو لمحاتو کي د الله تعالی نعمت نه راوړي بيا دا چي د انسان ژوند خپله د الله تعالی تر ټولو لوی نعمت دی الحمدلله چي د هري ساه دباندي راوتل او دننه تلل او راتلونکې هره لحظه او هر دم يو نعمت دی همداسي نه يوازي دا چي ډير زيات مشقت او په تکليف کي به اخته سي بلکه د انساني ژوند پوره نظام به معطل پاته سي ځکه د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد سجده شکر سنت نه ده .

سجده شکر

﴿۱۴۰۹﴾: وَعَن أَبِيْ جَعْفَرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأٰى رَجُلاً مِنَ النَّغَاشِيْنَ فَخَرَّ سَاجِدًا . رواه الدارقطني مرسلا وفي شرح السنة لفظ المصابيح

د حضرت ابوجعفر رحمه الله څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو نغاشي (لنډ کتی ، ضعيف ، ناقص خلقتي) سړی وليدی نو پر سجده پريوتی . دار قطني .

تخريج : سنن الدار قطني ۱\ ۴۱۰، رقم: ۷۷۲.

د لغاتو حل: (النغاشين): هو القصير جدا، الناقص خلقة. (ډېر لنډ سړی).

تشریح: نغاش او نغاشي هغه سړي ته وايي چې ډېر زيات ناقص الخلقت او ضعيف الحرکت وي رسول الله ﷺ چې داسي سړی وليدی نو د الله تعالی په دربار کي پر سجده پرېوتی.

مظهر رحمة الله عليه فرمايي دا سنت دی چې څوک يو داسي سړی وويني چې په مصيبت کي اخته وي نو د الله تعالی په دربار کي سجده شکر وکړئ چې الله تعالی زه د مصيبت څخه ساتلی يم مګر په دې اړه دا خاص ادب دی چې دا سجده شکر دي په پټه توګه سره وکړل سي چې په هغه کي په بلا کي اخته غمجن نسي مګر د يو فاسق په ليدو سره دا شکر کول چې الله تعالی زه د دغه فسق څخه وساتلم په څرګنده د فاسق مخکي سجده کول پکار ده چې هغه ته شرمندګي وي او هغه د خپل فسق څخه منعه سي.

د حضرت شبلي رحمة الله عليه په باره کي نقل دي هغه چې يو داسي سړی وليدی چې ددنيا په لذتونو کي ډېر ځان ورک کړی وو نو د هغه مخکي ډېر وفرمايل: (الحمدلله الذي عافاني مما ابتلاک به) يعني هغه الله لره دي تعريف وي چې زه ډېر د بلا څخه وساتلم په کومه کي چې ته اخته ډېر.

د رسول الله ﷺ شفقت

﴿۱۴۱۰﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَاصٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت سعد بن ابووقاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره روان سوو

وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ نُرِيْدُ الْمَدِيْنَةَ فَلَمَّا كُنَّا قَرِيْبًا مِّنْ عَزْوَرَاءَ نَزَلَ ثُمَّ رَفَعَ

د مکې څخه د مدينې په اراده، کله چې موږ د مکې او مدينې درمياني ځای (عزورا) ته ورسيدو نو رسول الله ﷺ د اوښي څخه را تاسو بيا يې دواړه لاسونه پورته کړل

يَدَيْهِ فَدَعَا اللهَ سَاعَةً ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا فَمَكَثَ طَوِيْلاً ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ

دې څه وخت لپاره يې د الله تعالی څخه وغوښتل او بيا پر سجده پرېوتی او تر ډېره وخته پورې پر سجده پروت وو، بيا ودريدی دواړه لاسونه يې پورته کړل

سَاعَةً ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا فَمَكَثَ طَوِيْلاً ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ سَاعَةً ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا

او دعاء يې وکړل يو څه وخت او بيا پر سجده پرېوتی او تر ډېره وخته پورې پر سجده پروت وو بيا

ودریدی لاسونه یې پورته کړل یو څه وخت بیا پر سجده پریوتی

قَالَ إِنِّيْ سَأَلْتُ رَبِّيْ وَشَفَعْتُ لِأُمَّتِيْ فَأَعْطَانِيْ ثُلُثَ أُمَّتِيْ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّيْ

بیا یې سر پورته کړی او وه یې فرمایل: ما د خپل رب څخه د خپل امت لپاره د شفاعت دعاء وغوښتل، یعني د هغوی د ګناهو د بخښنې، ما ته دریمه برخه امت راکړل سو، زه پر سجده پریوتم او د الله ﷻ

شُكْرًا ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِيْ فَسَأَلْتُ رَبِّيْ لِأُمَّتِيْ فَأَعْطَانِيْ ثُلُثَ أُمَّتِيْ فَخَرَرْتُ

شکر مې ادا کړ بیا ما د سجدې څخه سر راپورته کړ د خپل رب څخه مې دعاء وغوښتل او د امت د بخښې غوښتونکی سوم نو الله تعالی ما ته دریمه برخه امت راکړ (یعني د دریمې برخې د امت بخښنه یې راته وکړه) زه بیا د الله ﷻ

سَاجِدًا لِرَبِّيْ شُكْرًا ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِيْ فَسَأَلْتُ رَبِّيْ لِأُمَّتِيْ فَأَعْطَانِيْ الثُّلُثَ

د شکر ادا کولو لپاره د خپل امت د بخښنې غوښتونکی سوم نو الله تعالی پاته دریمه برخه امت هم ما ته راکړ

الْآخِرَ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّيْ شُكْرًا . رواه أحمد وأبو داود .

او زه د شکر ادا کولو لپاره بیا پر سجده پریوتم . احمد، ابوداؤد .

تخریج: سنن ابي داؤد ۳\۲۱۷، رقم: ۲۷۷۵، ولم نجده عند الامام.

تشریح: په اول وار د سابقینو یعني هغه خلکو مغفرت وکړل سو چې په نیکي کولو کې سبقت او وړاندي والي کوي او په اعمالو کې هیڅ ډول کوتاهي نه کوي دوهم وار د مقتصدین یعني د منځنۍ درجو والا خلکو مغفرت وکړل سو او په دریم وار د هغه خلکو مغفرت وکړل سو چې پر خپل نفس باندي ظلم کوي یعني په معصیت او ګناه کې اخته وي .

دلته یو مشکل پیدا کیږي او هغه دا چې د څومره ایاتونو او حدیثونو څخه دا ثابته سوې ده چې کوم خلک په ګناه کبیره کې اخته وي هغوی ته به په اخرت کې عذاب ورکول کیږي مګر دلته د دې حدیث څخه دا معلومیږي چې دغه خلکو ته به عذاب نه ورکول کیږي ځکه چې ټول امت ته مغفرت سوی دی . (الحمد لله)

د دې جواب دادی چې دلته د شفاعت ددعاء او د الله تعالی له خوا د مغفرت څخه مراد دادی چې د رسول الله ﷺ امت ته د خسف او مسخ دواړو عذابو څخه امن ورکړی دیلکه څرنګه چې د مخکنیو امتونو خلک به د خپل بدی او بد عملی په وجه په همداسې دردناک عذاب کې په دنیا کې اخته کول کیږي امت محمدي ته په دې دنیا کې دا عذاب نه ورکول کیږي البته د مغفرت تعلق د هغه عذاب سره نه دی کوم چې هر ګناه کار ته د هغه د بدعملی او بدی په مناسبت سره ورکول کیږي.

ځینې حضرات وایي چې دلته مراد دادی چې د رسول الله ﷺ دعا او په سفارش سره امت مرحومه ته د دائمي عذاب څخه د امن پروانه ورکړل سوې ده چې د امت ګناه کار او بدعمله خلک په دائمي توګه سره په عذاب کې نه دي مګر د خپل جرم په مناسبت سره د سزا په ترلاسه کولو سره او د رسول الله ﷺ په سفارش سره به د جهنم څخه را وایستل سي او بیا به په دائمي توګه سره جنت ته داخلیږي.

بَابُ صَلٰوةِ الْاِسْتِسْقَاءِ

د استسقاء دلمانځه بیان

د استسقاء لغوي معنی د باران غوښتل او د شریعت په اصطلاح کې د دې مطلب دادی چې په وچ کالی کې د باران غوښتلو لپاره د ښودل سوو طریقو سره سم لمونځ کول او دعاء غوښتل.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نبي کریم ﷺ د استسقاء لمونځ

﴿۱۴۱۱﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِالنَّاسِ إِلَى الْمُصَلّٰى

د حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د خلکو سره د استسقاء (د باران غوښتنې) لپاره عیدګاه ته تشریف یووړ،

يَسْتَسْقِيْ فَصَلّٰى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ جَهَرَ فِيْهِمَا بِالْقِرَاءَةِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ يَدْعُوْ

رسول الله ﷺ خلکو ته دوه رکعته لمونځ ورکړ چې په هغه کې یې په لوړ آواز سره قرائت ووایه

او بیا مخ پر قبله سو او دعاء یې وکړه

وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ حِيْنَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ. متفق عليه.

او دواړه لاسونه یې د دعاء لپاره پورته کړل بیا یې مخ پر قبله څادر واړوی. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري) ۲/ ۵۱۴، رقم: ۱۰۲۴، ومسلم ۲/ ۶۱۱، رقم: ۲- ۸۹۴.

تشریح: د امام شافعي رحمة الله علیه او صاحبینو یعني امام ابو یوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه په نزد د استسقاء لمونځ د اختر د لمانځه په ډول دی او د امام مالک رحمة الله علیه مذهب دادی چې د استسقاء دوه رکعته لمونځ دی، د استسقاء لمونځ هم هغسې کیږي لکه څرنګه چې نور لمنځونه کیږي.

د استسقاء د لمانځه په اړه د حنفیه مذهب

د استسقاء د لمانځه په اړه خپله د حنفیه په نزد دوه قوله دي: امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه خو دا فرمایي چې د استسقاء لپاره لمونځ نسته مګر دعاء او استغفار سته، هغه فرمایي چې په کومو حدیثو کې د استغفار ذکر راغلی دی په هغه کې لمونځ نه دی ذکر سوی بلکه یوازې دعا کول ذکر دي، او بیا د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په باره کې صحیح روایت نقل دی چې هغه د استسقاء لپاره یوازې پر دعا او استغفار باندې اکتفاء وکړل لمونځ یې نه وکړی، که په دې اړه لمونځ مسنون وای نو هغه به نه پریښودای او د داسې ضروري پیښو هغوی ته نه معلومیدل کله چې د نبوت د زمانې زیاتې ورځې نه وې تیري سوي، او د معلومیدلو په صورت کې پریښودل د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د شان څخه لیري خبره ده.

د صاحبینو مذهب ددې خلاف دی، ددې حضراتو په نزد نه یوازې دا چې د استسقاء لپاره لمونځ نقل او مسنون دی بلکه جماعت او خطبه هم مشروع ده.

ځینو حضراتو لیکلي دي چې د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه قول (لا صلوة في الاستسقاء) یعني د استسقاء لپاره لمونځ نسته، ددې څخه مراد دادی چې ددغه لمانځه لپاره جماعت، خطبه او نوري ځانګړتیاوي سنت او شرط نه دي که چیرې هر سړی جلا نفل لمونځ وکړي او دعا او استغفار وکړي نو بهتره ده دا وخت د حنفیه په نزد فتاوی د صاحبین پر قول ده ځکه چې صلوة استسقاء د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت او نقل دی چې د هغه یو واضح ثبوت دا پورتنی حدیث دی. د استسقاء د لمانځه په اړه دا افضل ده چې په دغه دواړو رکعتو کې په اول رکعت کې سورة ق یا سبح اسم ربک الاعلی او په دوهم رکعت کې اقتربت الساعة یا د سورة

غاشیه قرائت دي وکړل سي .

پټو ګرځول په اصل کي د تغیر حالت لپاره د ښه فال اخیستو په درجه کي دي لکه څرنګه چي پټو اړول را اړول سوی دی همداسي په موجوده حالت کي هم تبدیل او تغیر وسي په دې توګه چي د وچ کالي په بدله کي ارزاني سي او د خشک کالي پر ځای د رحمت په باران سره دنیا اوپاشي سي .

د پټو ګرځولو طریقه داده چي خپل دواړه لاسونه د شا له خوا څخه په رایستلو سره په راسته لاس سره د پټو د چپه خوا پلو ونیسي اوپه چپه لاس سره د پټو لاندي پلو ونیسي بیا دواړه لاسونه د ملا خواته داسي وګرځوي چي په چپه لاس کي د پټو نیولي پلو پر چپه وړه باندي راسي او په چپه لاس کي د پټو نیول سوي پلو پر چپه اوړه راسي په دې طریقې سره به د پټو چپه پلو راسته سي او راسته پلو به چپه سي او پورته خوا به لاندي راسي او لاندي خوا به پورته سي . د رسول الله ﷺ د پټو په باره کي په کتابونو کي لیکلي دي چي د رسول الله ﷺ پټو څلور لاسه اوږد او دوه لاسه یوه لویشت پلن وو .

لاسونه ډیر پورته کول

﴿۱۴۱۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِّنْ دُعَائِهِ إِلَّا فِي الْاِسْتِسْقَاءِ فَإِنَّهُ يَرْفَعُ حَتّٰى يَرٰى بَيَاضَ إِبْطَيْهِ . متفق عليه

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د استسقاء د دعاء پرته په هیڅ یو دعاء کي لاسونه نه پورته کول (یعني ډیر زیات به یې نه پورته کول) ، په دې دعاء کي به رسول الله ﷺ لاسونه دومره پورته کړل چي د بغلو سپین والی به یې څرګند سو . بخاري او مسلم .

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) ۲\ ۵۱۷، رقم: ۱۰۳۱، ومسلم ۲\ ۶۱۲، رقم: ۵- ۸۹۵.

تشریح : د حضرت انس رضي الله عنه مراد د استسقاء څخه پرته په بل وخت کي د دعا پر وخت د لاس پورته کولو نفي نه وه ځکه چي د استسقاء څخه پرته پر نورو وختونو باندي هم د دعا پر وخت د رسول الله ﷺ څخه دواړه لاسونه پورته کول ثابت سوي دي مګر مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به پر نورو وختونو باندي د دعا پر وخت خپل دواړه لاسونه دومره زیات او د سر څخه نه پورته کول چي د رسول الله ﷺ د مبارکو بغلونو سپین والي به معلومیدی هو د استسقاء پر وخت د دعاء لپاره به رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه مبارک دومره زیات پورته کول که چیري جامه به

ہې نه وه اغوستې نو د بغلونو مبارکو سپین والی به ہې معلومیدی، علماء لیکي چې د کوم مقصد او مراد لپاره دعا غوښتل کیږي هغه مقصد چې څومره زیات ارزښتناک او عظیم وي د دعاء پر وخت دواړه لاسونه هغومره زیات پوره کول پکار دي.

د دعاء پر وخت د لاسو کیفیت

﴿۱۴۱۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَسْقٰى فَأَشَارَ بِظَهْرِ كَفَّيْهِ إِلَى السَّمَاءِ. رواه مسلم.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د باران لپاره دعاء وکړه او په دعاء کې د لاسو د ورغوي شا یې د آسمان په لور کړل. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۶۱۲، رقم: ۶- ۸۹۶.

تشریح: علماء لیکي چې د باران لپاره د دعا غوښتلو پر وخت د لاسونو شا د اسمان خواته کول هم د فال اخیستو په درجه کې دي څرنګه چې د پټو په اړولو سره ښه فال اخیستل کیږي د لاسونو شا د اسمان خواته کول په اصل کې دې ته اشاره ده چې الله تعالی دي وکړي همداسې د وریځو نس هم د مځکې خوا ته سي او هغه په ځان کې د اوبو ذخیره پر مځکه را و اوروي.

د دعاء پر وخت د پورته سوو لاسونو د هیئت په باره کې علماء لیکي چې په دې اړه دا طریقه اختیارول پکار ده چې کوم سړی په بلاء مثلا وچ کالي وغیره لیږي کولو لپاره دعا وغواړي نو هغه دي د خپلو لاسونو شا د اسمان خواته کړي او کوم سړی چې د الله تعالی څخه د بل یو نعمت د غوښتلو لپاره دعاء کوي نو هغه دي د لاس ورغوي د اسمان خوا ته کړي.

د باران دعاء

﴿۱۴۱۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَأَى الْمَطَرَ قَالَ اَللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا. رواه البخاري.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ باران ولیدی نو فرمایل یې: (اَللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا) اې الله! و اوروه باران نفع رسونکی. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري)، ۲\ ۵۱۸، رقم: ۱۰۳۲.

د لغاتو حل: (صیبا): الصیب هو المطر الذي یصوب اي ینزل.

د باران پر وخت د رسول الله ﷺ عمل

﴿۱۴۱۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أَصَابَنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره وو

مَطَرٌ قَالَ فَحَسَرَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ثَوْبَهُ حَتَّى أَصَابَهُ مِنَ الْمَطَرِ فَقُلْنَا يَا

چې باران پیل سو، د انس رضی الله عنه بیان دی چې رسول الله ﷺ د خپل بدن مبارک څخه جامه ایسته کړل او په باران کې لوند سو، موږ عرض وکړ

رَسُولَ اللّٰهِ لِمَ صَنَعْتَ هَذَا قَالَ لِأَنَّهُ حَدِيثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ. رواه مسلم

اې د الله رسوله! داسې مو ولې وکړل؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د باران اوبه اوس اوس د خپل پروردګار څخه راغلې دي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۱/ ۶۱۵، رقم: ۱۳- ۸۹۸.

تشریح: د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دادی چې دا اوبه د خپل رب په حکم سره همدا اوس د لوړې څخه را کښته سوې دي او د دغه عالم کثیف په اجزاء سره تر اوسه پورې لړل سوي نه دي او نه تر اوسه پورې د ګناه کارانولاسو ته رسیدلي دي ځکه دا اوبه متبرک دي چې د هغه یو برخه زه پر خپل بدن باندې اخلم، علماء لیکي چې د باران پر وخت خپل یو مقصد او مطلب غوښتل سنت دي ځکه چې د دغه وخت دعا قبلیږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د څادر اړولو طریقه

﴿۱۴۱۶﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ تشریف راوړ

إِلَى الْمُصَلّٰى فَاسْتَسْقٰى وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ حِينَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْمَنَ

عیدګاه ته او د باران دعاء یې وغوښتل بیا مخ پر قبله کېدو سره یې څادر واړوی (یعنې د څادر راسته خوا یې

عَلٰى عَاتِقِهِ الْأَيْسَرِ وَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْسَرَ عَلٰى عَاتِقِهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ دَعَا اللّٰهَ .

رواه أبو داود

د چپې اوږې خوا ته يورل او چپه خوا يې د راسته اوږې خواته) بيا يې دالله څخه دعاء وغوښتل . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۶۸۸، رقم: ۱۱۶۳.

د لغاتو حل: (عطافه): ای ردائه (څادر).

تشريح: په دغه حديث شريف کې د استسقاء لپاره د لمانځه کولو ذکر نه دی سوی يوازې د دعاء ذکر سوی دی .

﴿۱۴۱۷﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ اسْتَسْقٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د باران لپاره دعاء وغوښتل

خَمِيْصَةٌ لَّهُ سَوْدَاءُ فَأَرَادَ أَنْ يَّأْخُذَ أَسْفَلَهَا فَيَجْعَلَهُ أَعْلَاهَا فَلَمَّا ثَقُلَتْ قَلَّبَهَا عَلٰى عَاتِقَيْهِ . رواه أحمد وأبو داود .

نو څادر يې پر سر کړی وو ، رسول الله ﷺ اراده وکړل چې د څادر زړبدلي څوکې پورته کړي مګر رسول الله ﷺ ته تکليف سو نو پر اوږو يې څادر واړوی . احمد ، ابوداؤد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\ ۴۲، رقم: ۱۱۶۴.

تشريح: مطلب دادی چې د پورتنۍ طريقې سره سم کله چې په پټو ګرځولو کې تکليف محسوس سو نو رسول الله ﷺ يوازې دا وکړل چې د پټو چپه څوکه يې پر راسته وږه باندې کړل او راسته څوکه يې پر چپه اوږه باندې کښېښودل، رسول الله ﷺ پټو مبارک په دويمي خطبي کې ګرځولی وو ځکه چې د پټو ګرځولو وخت او ځای دغه دی .

﴿۱۴۱۸﴾: وَعَنْ عُمَيْرٍ مَّوْلٰى آبِي اللَّحْمِ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ يَسْتَسْقِيْ عِنْدَ

د حضرت عمير چې د ابي اللحم آزاد کړی غلام وو څخه روايت دی چې ده ليدلي وو نبي کريم ﷺ چې باران يې غوښتی

أَحْجَارِ الزَّيْتِ قَرِيْبًا مِنَ الزَّوْرَاءِ قَائِمًا يَّدْعُوْ يَسْتَسْقِيْ رَافِعًا يَدَيْهِ قَبْلَ

په مقام احجار الزیت سره نژدې زوراء ته چې ولاړ وو دعاء یې کول د باران غوښتونکی وو لاسونه یې پورته کړي

وَجْهِهِ لَا يُجَاوِزُ بِهِمَا رَأْسَهُ . رواه أبو داود وروى الترمذي والنسائي نحوه .

د لاسو ورغوي یې د مخ طرف ته وه او لاسونه یې تر سر نه وه لوړ کړي . ابوداؤد، ترمذي او نسائي هم دا ډول روایت کړی دی .

تخریج : سنن ابي داؤد ۱\ ۶۹۱، رقم: ۱۱۶۸، والترمذي ۲\ ۴۴۳، رقم: ۵۵۷، والنسائي: ۳\ ۱۵۹، رقم: ۱۵۱۳.

تشریح : (احجار الزیت) د مدینې د یوځای نوم وو د دې وجه تسمیه داده چې هلته توري ډبري وې او دومره ځلانده وې چې په کتلو سره به محسوس کیده ګویا پر هغه ډبرو باندې د زیتون تیل موډل سوي دي، زوراء هم د مدینې منورې په بازار کې د یو ځای نوم وو .

په دې حدیث کې د دعاء پر وخت د لاسونو دا هیئت بیانیږي چې د رسول الله ﷺ دواړه تلي د مخ خوا ته یعني پورته خواته وه په دې بناء دا روایت د هغه روایت خلاف نه دی چې د هغه څخه معلومیږي چې د دعا پر وخت رسول الله ﷺ د خپل پورته سوي لاسونو تلي د مځکې خواته کړي وه ځکه چې کله به رسول الله ﷺ داسې دعاء وغوښتل چې تلی به اسمان خوا ته وو ځرنګه چې د دې روایت څخه معلومه سوه همداسې دلته په دې روایت کې دا ښودل سوي دي چې د رسول الله ﷺ پورته سوي لاسونه د سر مبارک څخه پورته نه وه نو دا هم د حضرت انس رضي الله عنه د هغه روایت خلاف نه دی چې د هغه څخه معلومه سوه چې رسول الله ﷺ به د باران غوښتلو پر وخت خپل لاس مبارک ډیر زیات پورته کول دلته هم دا خبره ده چې کله به رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک ډیر زیات پورته کوی لکه څرنګه چې انس رضي الله عنه بیان کړي دي او کله به یې ډیر زیات نه پورته کوی لکه څرنګه چې دلته عمیر رضي الله عنه یې بیانوي .

د استسقاء پر وخت خشوع او عاجزي

﴿۱۴۱۹﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِيْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د باران د غوښتنې لپاره ووتی

فِي الْاِسْتِسْقَاءِ مُتَبَذِّلاً مُّتَوَاضِعًا مُّتَخَشِّعًا مُّتَضَرِّعًا . رواه الترمذي وأبو

داود والنسائي وابن ماجه .

په داسي حال کي چي زينت يې پرې اېښی وو ډيره عاجزي او زاري کونکی وو. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۱\ ۶۸۸، رقم: ۱۱۶۵، والترمذي ۲\ ۴۴۵، رقم: ۵۵۹، والنسائي ۳\ ۱۵۶، ۱۵۷، رقم: ۱۵۰۷، وابن ماجه ۱\ ۴۰۳، رقم: ۱۲۶۶.

تشريح: د باران لپاره د دعا کولو او د الله تعالی څخه د رحمت غوښتلو لپاره چي به کله رسول الله ﷺ دباندي راووتی نو د رسول الله ﷺ پټ او ښکاره، ژبه او زړه ګويا پوره بدن مبارک به ېې په ډيره بيچارګی او عجز کي مصروف وو نه يوازي دا چي رسول الله ﷺ په دغه وخت کي د بنده ډيره زياته ارتيا او بيچارګي د اظهار لپاره رسول الله ﷺ په ظاهري توګه سره زيب او زينت يعني جامې وغيره کي خوش سليقي په پرېښودلو سره سر تر پايه عاجز او منکسر وو مګر په باطني توګه سره د رسول الله ﷺ زړه مبارک د الله تعالی د بيري څخه لړزان او ژبه مبارکه به ېې په زاری کي مصروفه وه .

د باران لپاره دعاء

﴿۱۴۲۰﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ به

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَسْقٰى قَالَ اللّٰهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ وَبَهِيْمَتَكَ وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ . رواه مالك وأبو داود .

کله د باران لپاره دعاء کول نو ويل به يې (اې الله ! خپل بندګان او خپل حيوانان اوبه کړې او خپل رحمت خپور کړې او خپل مړه ښارونه آباد کړې .) مالک ، ابوداؤد .

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۱۹۰، رقم: ۲، وابوداؤد ۱\ ۶۹۵، رقم: ۱۱۷۶.

﴿۱۴۲۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤَاكِئُ فَقَالَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ وليدی چي لاسونه يې پورته کړل او دا د دعاء يې غوښتل

اللّٰهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيْثًا مَرِيْئًا مُرِيْعًا نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ عَاجِلاً غَيْرَ آجِلٍ قَالَ

فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءَ . رواه أبو داود .

(اې الله! د باران په اوبو مو ږ اوبه کړې ، زمو ږ فریاد واورې او زمو ږ انجام ښه کړې ارزانې کړې چې دا باران ګټور وي تاوان رسونکی نه وي ژر راتلونکی وي وروسته راتلونکی نه وي) جابر رضی الله عنه وایي ددې دعاء وروسته پر هغوی وریځ راغلل . ابوداؤد .

تخریج: سنن ابي داؤد ۱\ ۶۹۰، رقم: ۱۱۶۹.

د لغاتو حل: (یُواکئ): المواكاة هي الاعتماد والتحامل على الشئ والمراد انه يتحامل على يديه اي يرفعهما . مرقات.

اَلْفَصْلُ الثالث (دریم فصل)

﴿۱۴۲۲﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ شَكَا النَّاسُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې خلکو رسول الله ﷺ ته د باران نه کېدو شکایت وکړ،

قُحُوْطَ الْمَطَرِ فَأَمَرَ بِمِنْبَرٍ فَوُضِعَ لَهُ فِي الْمُصَلّٰى وَوَعَدَ النَّاسَ يَوْمًا يَّخْرُجُوْنَ

رسول الله ﷺ حکم وکړ چې په عیدګاه کې دي منبر کښېښودل سي ، په عیدګاه کې منبر کښېښودل سو او د خلکو څخه یې وعده واخیستل چې هغوی یوه ورځ عیدګاه ته ولاړ سي ،

فِيْهِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ بَدَا حَاجِبُ

بي بي عائشه رضی الله عنها وایي رسول الله ﷺ یوه ورځ د لمر ښکاره کېدو سره عیدګاه ته تشریف یووړ،

الشَّمْسِ فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَكَبَّرَ وَحَمِدَ اللهَ ثُمَّ قَالَ إِنَّكُمْ شَكَوْتُمْ جَدْبَ

او پر منبر باندې کښېښستی الله اکبر یې ووایه بیا یې د الله حمد او ثناء وکړه بیا یې وفرمایل : تاسو شکایت کړی دی

دِيَارِكُمْ وَاسْتِيْخَارَ الْمَطَرِ عَنْ إِبَّانِ زَمَانِهِ عَنْكُمْ وَقَدْ أَمَرَكُمُ اللهُ أَنْ

په خپلو ښارو کې د باران نه کېدو ، الله ﷻ تاسو ته حکم درکړی چې تاسو

تَدْعُوْهُ وَوَعَدَكُمْ أَنْ يَّسْتَجِيْبَ لَكُمْ ثُمَّ قَالَ اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

د هغه څخه دعاء وغواړئ او هغه وعده کړې ده چې ستاسو دعاء قبلوي ، بيا رسول الله ﷺ دا دعاء وکړه: (ټول تعريفونه الله لره دي چې د دواړو جهانو پروردګار دی

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ

بخښونکی او مهربان دی مالک د ورځې د قيامت دی د هغه څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه چې څه غواړي کوي ، اې الله ! ته

الغني لَآ إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْغَنِيُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ أَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ وَاجْعَلْ مَا

معبود يې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ته غني يې او موږ فقيران يو پر موږ باران و اوروې او کوم شي چې

أَنْزَلْتَ لَنَا قُوَّةً وَّبَلَاغًا إِلٰى حِيْنٍ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمْ يَتْرُكِ الرَّفْعَ حَتّٰى بَدَا

ته نازل کړې هغه تر يو زمانې پورې زموږ لپاره د خوراک او ګټې سبب جوړ کړې) ددې وروسته رسول الله ﷺ دواړه لاسونه پورته کړل او تر ډيره وخته پورې يې لوړ کړي وه تر دې چې څرګند سو

بَيَاضُ إِبْطَيْهِ ثُمَّ حَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ وَقَلَّبَ أَوْ حَوَّلَ رِدَاءَهُ وَهُوَ رَافِعٌ يَّدَيْهِ

د رسول الله ﷺ د بغلو سپين والی بيا رسول الله ﷺ خلکو ته خپله شا کړل او څادر يې واړوی د رسول الله ﷺ لاسونه هم پورته وه

ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ وَنَزَلَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَأَنْشَأَ اللّٰهُ سَحَابَةً فَرَعَدَتْ وَبَرِقَتْ

بيا د خلکو په لور متوجه سو د منبر څخه راکښته سو او دوه رکعته لمونځ يې وکړ ، الله تعالی هغه وخت وريځ څرګنده کړه بيا اوازونه يې وکړل برېښنا وسول

ثُمَّ أَمْطَرَتْ بِإِذْنِ اللّٰهِ فَلَمْ يَأْتِ مَسْجِدَهُ حَتّٰى سَالَتِ السُّيُوْلُ فَلَمَّا رَأٰى

او ددې وروسته د الله تعالی په حکم سره باران پيل سو ، رسول الله ﷺ لا مسجد ته نه وو تللی چې نالی وبهېدلې ،

سُرْعَتَهُمْ إِلَى الْكِنِّ ضَحِكَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ وَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

هر کله چې رسول الله ﷺ ولیدل چې خلک د دیوالو او سرایو پناه لټولو کې تلوار کوي نو رسول الله ﷺ په خندا سو او د مخ غاښونه یې څرګند سول بیا یې وفرمایل : (زه شاهدي ورکوم چې الله ﷻ پر هر شي

شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَّأَنِّيْ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ . رواه أبو داود .

توان لري او زه د الله بنده او رسول یم .) ابوداؤد .

تخریج : سنن ابي داؤد ۱\ ۶۹۲، رقم: ۱۱۷۳.

د لغاتو حل : (یُواکئ): الکِن هو ما یرد به الحر والبرد من المساکن.

تشریح : د امام مالک رحمة الله علیه ، امام شافعي رحمة الله علیه او د یوه روایت سره سم امام احمد رحمة الله علیه فرمایي چې د استسقاء د لمانځه وروسته دوې خطبې ویل سنت دي او د خطبې شروع په تکبیر سره کیږي او د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او د یوه بل روایت سره سم د امام احمد رحمة الله علیه په نزد خطبه مشروع نه ده یوازې پر دعا او استغفار باندي اکتفاء کول پکار ده .

ابن همام رحمة الله علیه فرمایي چې اصحاب سنن اربعة د حضرت اسحاق ابن عبد الله ابن کنانه څخه یو روایت نقل کړی دی د هغه حاصل دادی چې رسول الله ﷺ د استسقاء لپار عیدګاه ته د تلو سره ستاسو په دول خطبه نه ویل مګر رسول الله ﷺ دعا، ژړا او زاري کول او د الله تعالی عظمت او لویي یې بیانول او رسول الله ﷺ دوه رکعته لمونځ وکړ لکه څرنګه چې یې په اختر کې کوی.

په وسیله سره د باران دعاء

﴿۱۴۲۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ إِذَا قُحِطُوْا اسْتَسْقٰى بِالْعَبَّاسِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې کله به وچ کالي راغلل نو عمر بن خطاب رضي الله عنه به د حضرت عباس بن

بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ اِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِيْنَا وَإِنَّا

عبد المطلب په ذریعه د باران لپاره دعاء کول او ویل به یې (اې الله : موږ به مخکې خپل نبي ستا په لور وسیله کوی نو موږ به اوبه سوو او اوس هم

نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا قَالَ فَيُسْقَوْنَ . رواه البخاري .

د خپل نبي ﷺ اکا تا ته وسیله کوو نو موږ په اوبو اوبه کړې) انس وایي د دې دعاء په کولو سره به باران وسو . بخاري

تخریج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۴۹۴، رقم: ۱۰۱۰.

تشریح : ویل کیږي چي حضرت عمر رضی الله عنه او نور صحابه کرام چي د هغه سره ملګري وه د حضرت عباس رضی الله عنه په وسیله سره به یې دعاء غوښتل نو حضرت عباس رضی الله عنه وفرمایل اې پروردګاره! ستا د پیغمبر امت زما وسیله اختیار کړې ده ،اې الله زما دغه سپین ږیرتوب رسوا مه کړې او ما د دوی مخکې شرمنده مه کړې، نو د حضرت عمر رضی الله عنه او نورو صحابه کرامو او حضرت عباس رضی الله عنه په دغه الفاظو کې دومره تاثیر وو چې هغه وخت به باران پیل سو .

د استسقاء په اړه د یو نبي پېښه

﴿۱۴۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ خَرَجَ نَبِيٌّ مِّنَ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چې یو نبي

الْأَنْبِيَاءِ بِالنَّاسِ يَسْتَسْقِيْ فَإِذَا هُوَ بِنَمْلَةٍ رَّافِعَةٍ بَعْضَ قَوَائِمِهَا إِلَى السَّمَاءِ

په انبیاؤو کې د خلکو سره د باران د دعاء لپاره ووتی هغه نبي یو میږی ولیدی چې د خپلو پښو څخه یې ځینې د آسمان لور ته پورته کړې وې

فَقَالَ ارْجِعُوْا فَقَدِ اسْتُجِيْبَ لَكُمْ مِنْ أَجْلِ هٰذِهِ النَّمْلَةِ . رواه الدار قطني .

(د دې په لیدو سره) هغه نبي خلکو ته وویل راځئ بیرته ولاړسئ ستاسو دعاء د دې میږي په ذریعه قبوله سول . دارقطني

تخریج : سنن الدار قطني ۲\ ۶۶، رقم: ۱.

تشریح ویل کیږي چې دا نبي حضرت سلیمان علیه السلام وو ، د دې پېښې څخه مقصد په حقیقت کې د الله تعالی عظمت او د هغه د قدرت اظهار دی او دا ښودل دي چې نه یوازي دا چې د الله تعالی رحمت پر ټول مخلوقات باندي یو ډول دی بلکه د هغه علم د ټولو موجوداتو پر احوالو او کوائفو باندي خپور دی او دا چې د الله تعالی ذات مسبب او قاضي الحاجات دی .

د دغه پيښې په اړه دا هم نقل دي چې هغه ميږي دا دعا کول: (اللهم انا خلق من خلقک لا غني بنا عن رزقک فلا تهلکنا بذنوب بني آدم) يعني اې پروردګاره! ستا په مخلوقات کې موږ هم يو مخلوق يو ستا د رزق څخه موږ مستغنی نه يو نو موږ د انسانانو د ګناهونو په وجه هلاک مه کړې.

==========

بَـابُ فِي الرِّيَـاحِ (د بادونو بيان)

د مشکوة په زياتو نسخو کې يوازې لفظ د باب ليکل سوی دی لکه څرنګه چې د مشکوة د مولف عادت دی چې هغه پر ځينو ځايو باندې يوازې لفظ د باب په ليکلو سره يو باب قائموي چې په حقيقت کې يو بېل او ځانته باب نه وي بلکه بيان سوی د مخکني باب لواحق او پر متمات باندې مشتمل وي مګر په يوه صحيح نسخه کې دلته باب في الرياح، او همداسې په يوې بلې نسخې کې باب الرياح ليکل سوي دي چې د هغه مطلب دی د هوا وو بيان، ګويا په دې باب کې د هوا ګانو په اړه حديثونه نقل کيږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

هواء رحمت هم دی او عذاب هم

﴿۱۴۲۵﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُصِرْتُ بِالصَّبَا وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُوْرِ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته د جنوب د لوري د هواء سره مرسته راکړل سوې ده او د عاديانو قوم په باد سره هلاک کړل سو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۵۲۰، رقم: ۱۰۳۵، ومسلم ۲\ ۶۱۷، رقم: ۱۷-۹۰۰.

تشريح: د خندق دغزا پر وخت کله چې کفارو په پوره قهرماني طاقت سره د مدينې سخته محاصره وکړه نو د الله تعالی له خوا د مسلمانانو داسې مرسته وسول چې د جنوب د غاړې هوا ډيره زياته چلېدل شروع سول چې دومره سخته وه چې د کفارو خېمې ونړول سوې د هغوی کتوي ېې نسکوري کړې او وه يې غورځول او پر هغوی ېې د ډبرو باران شروع کړی همداسې

الله تعالی د هغوی په زړونو کې د رعب او دهشت داسې هیبت ناکه څپه وغځلول چې هغوی حواس بافته وار خطا سول او د ماتې په لیدو سره میدان ېې پرېښودی او وه تښتېدل ګویا دا پر مسلمانانو د الله تعالی یو لوی فضل او د رسول الله ﷺ یوه عظیمه معجزه وه.

د عاد قوم په تېرو امتونو کې یو سخت او سرکښ امت تیر سوی دی ددې امت د خلکو قد دوولس ګزه وو کله چې د دې قوم سرکښې اوبدې د حد څخه په تجاوز کولو سره د الله تعالی عذاب ته دعوت ورکړ نو د قبلې له لورې سخته هوا وچلیدل چې هغوی ېې داسې پر مځکه را وویشتل چې سرونه ېې مات مات سول، نسونه ېې څیرې سول او کولمې ېې دباندې راوتلې. نو د دغه ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مقصد دا ښودل وو چې هوا د الله تعالی تابعداره ده کله خو هغه د رحمت په شکل کې د مرستې په جوړیدو سره راځي او کله هغه هوا د الله تعالی په حکم سره د عذاب الهي په صورت کې د یو قوم لپاره د هلاکت او بربادۍ پیغام راوړي.

د وریځ او هواء په لیدو سره د رسول الله ﷺ حالت

﴿۱۴۲۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ ضَاحِكًا حَتّٰى أَرٰى مِنْهُ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې ما رسول الله ﷺ هیڅکله په زوره خندا کولو سره نه دی لیدلی،

لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ فَكَانَ إِذَا رَأَى غَيْمًا أَوْ رِيْحًا عُرِفَ فِيْ وَجْهِهِ. متفق عليه

کله چې ده مبارک خندل نو یوازې تبسم به ېې کوی او کله چې به ېې وریځ یا تیزه هواء ولیدل نو مخ مبارک به ېې متغیر سو. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۵۷۸، رقم: ۴۸۲۹، ومسلم ۲\ ۶۱۶، ۶۱۷، رقم: ۱۶-۸۹۹.

تشریح: مطلب دادی چې کله به رسول الله ﷺ وریځ یا هوا ولیدل نو په فکر کې به سو او پر مخ مبارک به ېې د بیرې او خوف اثار را ښکاره سول چې دا وریځ یا هوا په خپله لمن کې د تاوان سامان نه وي راوړی.

په دې روایت کې د بي بي عائشې رضي الله تعالی عنها مقصد دا ښودل دي چې هسې خو به رسول الله ﷺ د شهود یعني د جلال کبریایي د مشاهدې په وجه همیشه بیرید ونکي اولرزان وو اوپه هیڅ وخت کې هم د رسول الله ﷺ زړه مبارک د بیرې او خشیت څخه خالي نه پاته کیدی په خاصه توګه کله چې به وریځ یا هوا یې لیدل نو زیات په فکر کې به سو.

د تیز باد پر وخت د نبي کریم ﷺ دعاء

﴿۱۴۲۷﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَصَفَتْ الرِّيحُ

د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا څخه روایت دی چې کله به سخت باد چلېدی نو رسول الله ﷺ به فرمایل :

قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا فِيهَا وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ وَأَعُوذُ بِكَ

(اې الله ! زه ستا څخه د دې خیر غواړم او د هغه شي خیر چې په دې کې دی او خیر د هغه شي چې د هغه لپاره تا رالیږلی ده او ستا په ذریعه پناه غواړم

مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ وَإِذَا تَخَيَّلَتْ السَّمَاءُ تَغَيَّرَ لَوْنُهُ

د دې د شر څخه او د هغه شي د شر څخه چې په دې کې دی او د هغه شي د شر څخه چې د هغې لپاره رالیږل سوی ده) او کله چې به پر آسمان وریځ وه نو د رسول الله ﷺ د مخ رنګ به بدل سو

وَخَرَجَ وَدَخَلَ وَأَقْبَلَ وَأَدْبَرَ فَإِذَا مَطَرَتْ سُرِّيَ عَنْهُ فَعَرَفْتُ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ

او د خفګان په حالت کې به کله کور ته ننوتی او کله به راوتی کله به دې خوا تلی او کله به آخوا تلی بیا چې به باران پیل سو نو د رسول الله ﷺ پر بشاني به لیري سول ، یو ځل بي بي عائشې رضی اللہ عنہا د رسول الله ﷺ دا بدلون محسوس کړ

قَالَتْ عَائِشَةُ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لَعَلَّهُ يَا عَائِشَةُ كَمَا قَالَ قَوْمُ عَادٍ فَلَمَّا رَأَوْهُ

او د دې په اړه یې پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اې عائشې ! کیدای سي دا وریځ داسې وي چې د هغې په نسبت قوم عاد ویلي وه ، یعني کله چې پر هغوی وریځ راغلل

عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا . وفي رواية ويقول اذا رأى المطر رحمة . متفق عليه

نو هغوی به ویل دا وریځ ده پر موږ به و اوریږي ، او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې کله به رسول الله ﷺ باران ولیدی نو دا به یې فرمایل : (اې دالله ! دا د رحمت باعث جوړ کړې) بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۶\ ۳۰۰، رقم: ۳۲۰۶، ومسلم ۲\ ۶۱۶، رقم: ۱۴، ۱۵- ۸۹۹.

د لغاتو حل: (تخيلت): تهيات (وريځناکه).

تشريح: په پورتني آيت کي د قوم عاد د هلاکت د ابتدا ذکر سوی دی چي د الله تعالی عذاب کله چي د وريځ په شکل کي پر هغوی څرګند سو نو هغوی په دې خوش فهمي کي وه چي دا وريځ به پر موږ باران اوروي خو الله تعالی د هغوی خوش فهمي ژر د هغوی په هلاکت او تباهي کي بدله کړل چي د هغه اظهار د دې ايت د نورو الفاظو (بل هو ما استعجلتم الايه) په ذريعه په دې توګه سوی دی چي نه مګر دا هغه شی دی چي د هغه لپاره تاسو تلوار کوی يعني طوفان چي هغه د تکليف ورکونکی عذاب څخه ډک دی چي هر څه به د خپل رب په حکم سره تباه کړي بيا هغوی سبا ته داسي پاته سول چي د هغوی د کورونو پرته بل هيڅ شی نه معلوميدی ګناه کارانو خلکو ته موږ داسي سزا ورکوو.

نو د حديث مقصد دادی چي کله به رسول الله ﷺ وريځ وليدل نو وبه بيريدی چي په داسي سره قوم عاد د وريځ په ليدو سره دا ګڼلې وه چي پر موږ به باران وسي او بيا هغه وريځ به پر هغوی باران څه ورولی وو مګر په داسي تيزي سره طوفان راغلی چي هغه په يو دم کي ټول قوم د هلاکت په وادي کي وغورځوی ځکه نو زموږ لپاره هم دا وريځ د هلاکت او بربادي باعث نه وي.

د غيبو خزانې

﴿۱۴۲۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَفَاتِيْحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ ثُمَّ قَرَأَ (إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ) الاية. رواه البخاري

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د غيبو پنځه کلياني دي بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ: (يعني د قيامت علم د الله سره دی او هغه باران اوري....) بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۲۹۱،

تشريح: د غيب پنځه خزانې دي چي د هغه علم يوازي د الله تعالی سره دی بل هيڅوک په هغه خبر نه دی د هغه پنځو خزانو په دغه ايت کي بيان سوی دی (ان الله عنده علم الساعة وينزل الغيث ويعلم مافي الارحام وما تدري نفس ما ذا تكسب غدا وما تدري نفس باى ارض تموت ان الله عليم خبير) ژباړه: بېشکه الله تعالی ته د قيامت قائميدو او د باران اورېدو علم دی او هغه پوهيږي چي د مور په نس کي څه وي يعني هلک دی که انجلی سپين دی که تور يا نيمګړی

وغيره، او هيڅ چاته معلومه نه ده چي سبا به هغه څه کوي يعني په دنيا کي به بدي کوي که نيکي او په اخرت کي به ثواب ترلاسه کوي که عذاب،او نه څوک په دې پوهيږي چي پر کومه مځکه به مړ کيږي بېشکه الله تعالى پوهيږي .

دا د غيب پنځه خبري دي چي د هغه کليات بېله الله تعالى بل هيڅوک نه پيژني هو د الله تعالى ځيني نېک بندګان د هغو په ځينو جزئياتو باندي پوهيږي خو هغه هم هغه وخت کله چي الله ﷻ هغوى ته يو ذريعه وښيي .

سخته وچ کالي څه ته وايي ؟

﴿۱۴۲۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَيْسَتِ السَّنَةُ بِأَنْ لاَّ تُمْطَرُوْا وَلٰكِنِ السَّنَةُ أَنْ تُمْطَرُوْا وَتُمْطَرُوْا وَلاَ تُنْبِتُ الْأَرْضُ شَيْئًا . رواه مسلم

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سخته وچ کالي دا نه ده چي پر تاسو باران نه کيږي بلکه وچ کالي دا ده چي پر تاسو باران وسي او بيا باران وسي مګر مځکه هيڅ شي شين نه کړي. مسلم

تخريج : صحيح مسلم ۱۴\ ۲۲۲۸، رقم: ۴۴- ۲۹۰۴.

تشريح : قاضي ويلي دي لکه څرنګه چي د حديث څخه معلومه سوه چي سخته وچ کالي دا نه ده چي باران نه وي مګر سخته وچ کالي د دې نوم دى چي باران خو وي مګر د مځکي حاصلات بالکل بند سي ځکه چي د فائدې او خير اميد او بيا د هغه د اسباب او وسائل څرګنده کيدو وروسته په غير متواقع طريقې سره تاوان د مخکي څخه د متوقع او نا اميدې څخه ډير زيات سخت او شديد وي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

هواء ته د بدويلو څخه منعه

﴿۱۴۳۰﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې :

الرِّيحُ مِنْ رُّوْحِ اللهِ تَأْتِيْ بِالرَّحْمَةِ وَبِالْعَذَابِ فَلاَ تَسُبُّوْهَا وَسَلُوْا اللهَ مِنْ

هواء د الله ﷻ رحمت دی چې رحمت او عذاب دواړه راولي نو تاسو دې ته بد مه وایاست او د الله ﷻ څخه

خَيْرِهَا وَعُوْذُوْا بِهِ مِنْ شَرِّهَا . رواه الشافعي وأبو داود وابن ماجه والبيهقي في الدعوات الكبير .

ددې خیر غواړئ او ددې د ضرر او شر څخه پناه غواړئ . ابوداؤد ، ابن ماجه، بیهقي

تخریج: ترتیب مسند الامام الشافعي ۱\ ۱۷۵- ۱۷۶، رقم: ۵۰۴، وابوداؤد: ۵\ ۳۲۸، رقم: ۵۰۹۷، وابن ماجه: ۲\ ۱۲۲۸، رقم: ۳۷۲۷.

تشریح : تېزه هوا او طوفان چې د الله تعالی د سرکښو او نافرمانو بندګانو لپاره د عذاب ذریعه جوړیږي هغه هم په حقیقت کې رحمت دی ځکه چې د الله تعالی نېک او فرمانبرداره بندګان د هغه د تباهۍ څخه خوندي وي .

﴿۱۴۳۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلاً لَعَنَ الرِّيْحَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو سړي د رسول الله ﷺ په وړاندې هوا ته بد وویل

وَسَلَّمَ فَقَالَ لاَ تَلْعَنُوْا الرِّيْحَ فَإِنَّهَا مَأْمُوْرَةٌ وَإِنَّهُ مَنْ لَّعَنَ شَيْئًا لَّيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ رَّجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَيْهِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : پر هواء لعنت مه وایه هغه د الله د لوري امر سوې ده او ځوک چې پر یو شي لعنت وایي او هغه د لعنت مستحق نه وي نو هغه لعنت بیرته راستنیږي پر ده باندې . ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۳۰۹، رقم: ۱۹۷۸.

تشریح : امام غزالي رحمة الله علیه فرمایي د لعنت باعث درې شیان کیږي اول: کفر، دوهم بدعت او دریم فسق، او ښکاره خبره ده چې په هوا کې په درو شیانو کې یو شی هم نسي تر لاسه کیدای ځکه رسول الله ﷺ پر هوا باندې د لعنت ویلو څخه منعه وکړه .

﴿۱۴۳۲﴾: وَعَنْ أُبَيِّ ابْنِ كَعْبٍ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

لاَ تَسُبُّوا الرِّيحَ فَإِذَا رَأَيْتُمْ مَا تَكْرَهُونَ فَقُولُوا اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ

هواء ته بد او رد مه وایاست هر کله چې تاسو ووینئ چې هواء ستاسو د خوښي خلاف ده نو دا کلمات وایاست (ای الله ! موږ د دې هواء خیر غواړو

هَذِهِ الرِّيحِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ الرِّيحِ وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ . رواه الترمذي

او هغه خیر چې په دې کې دی او د کوم کار لپاره چې دا مامور ه سوې ده د هغه خیر غواړو او ستا په ذریعه موږ د دې د شر او څه چې په دې کې دي د هغې د شر څخه او په کوم کار چې دا مامور ه سوې ده د هغه د شر څخه پناه غواړو) . ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴۵۱\۱۴، رقم: ۲۲۵۲.

د تیز باد پر وخت د نبي کریم ﷺ دعاء

﴿۱۴۳۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا هَبَّتْ رِيحٌ قَطُّ إِلاَّ جَثَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې کله به تیزه هواء چلیدل نو رسول الله ﷺ به

وَسَلَّمَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَقَالَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رَحْمَةً وَّلاَ تَجْعَلْهَا عَذَابًا اَللّٰهُمَّ

پر زنګنو کښېنستی او فرمایل به یې (ای الله ! دا هواء رحمت وګرځوې او عذاب یې مه جوړوې ای الله !

اجْعَلْهَا رِيَاحًا وَّلاَ تَجْعَلْهَا رِيْحًا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِيْ كِتَابِ اللهِ تَعَالٰى (إِنَّا

دا هواء ریاح یعني رحمت جوړ کړې ریح یعني زحمت یې مه جوړوې) ابن عباس رضي الله عنه وایي په قرآن مجید کې راغلي دي چې : (موږ

أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا) وَ(أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ) (وَأَرْسَلْنَا

پر هغوی تیزه هواء راولیږل او داسي هواء مو پر راولیږل چې درختي به یې د بېخه کښلې ، او لیږلي دي موږ

الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ) وَ(أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتَ) . رواه الشافعي والبيهقي في الدعوات الكبير .

بادونه ميوه پيدا كونكي او الله زيرى ليږونكي هواوي ليږي (يعني د باران هوا). شافعي، بيهقي.

تخريج: ترتيب مسند الامام الشافعي ۱\ ۱۷۵، رقم: ۵۰۲.

تشريح : مشهور او صحيح حديث دادى چي لفظ د ريح چي مفرد دى د عذاب پر وخت استعماليږي ځرنګه چي په دغه روايت كي ذكر سوى دى، د اولو دوو اياتونو څخه معلومه سوه چي لفظ د رياح چي جمع ده د رحمت پر وخت استعماليږي ځرنګه چي د اخري دوو اياتونو څخه ثابته سوه . نو د ابن عباس ﷺ په دغه روايت كي په پورتنى دعا كي د رياح څخه مراد عذاب دى مګر ابو جعفر طحاوي رحمة الله الله عليه په دې صورت كي ظاهر كړى دى ځكه چي په قرآن كريم كي هم دا ارشاد دى چي (و جرين بهم بريح طيبة) چي د هغه څخه معلوميږي چي ريح د رحمت او د ذخيرې لپاره استعماليږي .

همداسي په ځينو حديثو كي هم لفظ د ريح چي مفرد دى د خير او شر دواړو لپاره استعماليږي د مثال په توګه د حضرت ابوهريره ﷺ د تير روايت الفاظ (الريح من روح الله .....الخ) وو ايا ست نو د دې اشكال له كبله خطابي رحمة الله عليه د دغه حديث توجيه دا كړې ده چي كله ډيري هواوي راسي نو هغه وريځ او باران راولي او په فصلونو كي زرغون والى پيدا كوي كله چي په يوه هوا كي دا تاثير كم وي ځكه رسول الله ﷺ دا دعا وفرمايل چي اې الله! دا هوا رياح جوړ كړه، ريح پې مه جوړوه .

دوريځي ليدلو دعاء

﴿۱۴۳۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَبْصَرَ نَاشَيْئًا

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ يو شى وليدى

مِّنَ السَّمَاءِ تَعْنِي السَّحَابَ تَرَكَ عَمَلَهُ وَاسْتَقْبَلَهُ وَقَالَ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ

پر آسمان يعني وريځ نو كار به يې پرېښودى او وريځي ته به متوجه سو او ويل به يې (اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غواړم

مِنْ شَرِّ مَا فِيْهِ فَإِنْ كَشَفَهُ حَمِدَ اللّٰهَ وَإِنْ مَطَرَتْ قَالَ اللّٰهُمَّ سُقْيًا نَافِعًا . رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه والشافعي واللفظ له .

د هغې د شر څخه چې په دې کې دننه ده) که الله به هغه وریځ صافه کړه نو د الله حمد او ثناء به یې کول او که باران به پیل سو نو فرمایل به یې (اې الله ! ګټه رسونکي اوبه و اوروې) .
ابو داؤد ، ابن ماجه، نسائي، شافعي

تخریج: ترتيب مسند الامام الشافعي ۱\ ۱۷۴، رقم: ۵۰۱، وابوداؤد: ۵\ ۳۳۰، رقم: ۵۰۹۹، والنسائي ۳\ ۱۶۴، رقم: ۱۵۲۲، وابن ماجه ۲\ ۱۲۸۰، رقم: ۳۸۸۹.

د برېښنا پر وخت دعاء

﴿۱۴۳۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَمِعَ صَوْتَ

دحضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ واوریدی آواز

الرَّعْدِ وَالصَّوَاعِقِ قَالَ اَللّٰهُمَّ لاَ تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ وَلاَ تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذٰلِكَ . رواه أحمد والترمذي وقال هذا حديث غريب .

د برېښنا او برېښنا به یې ولیدل نو فرمایل به یې : (اې الله ! موږ په خپل غیظ او غضب سره مه وژنې او په خپل عذاب سره مو مه هلاکوې او ددې مخکې موږ په امن ولرې) .احمد ،ترمذي

تخریج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۱۰۰- ۱۰۱، والترمذي ۵\ ۴۶۹، رقم: ۳۴۵۰.

اَلْفَصْلُ الثالث (دریم فصل)

﴿۱۴۳۶﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَمِعَ الرَّعْدَ تَرَكَ الْحَدِيْثَ

د حضرت عبد الله بن زبیر رضي الله عنه څخه روایت دی چې کله به هغه د برېښنا آواز واوریدی نو خبرې کول به یې پرېښودلې

وَقَالَ سُبْحَانَ الَّذِيْ يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ . رواه مالك

او ویل به یې : (هغه ذات پاک دی چې ثناء د هغه په تعریف سره او ملائکي د هغه د بیري د هغه تسبیح کوي) . مالک .

تخریج : الامام مالک في الموطا ۲\۹۹۲، رقم: ۲٦.

تشریح : رعد د ملائکي نوم دی چې د وریځي پر شړلو باندي تاکل سوې ده او تالنده د هغه د تسبیح آواز دی، د ابن عباس رضي الله عنه دا روایت نقل دی چې هغه فرمایي یو وار لښکر د حضرت عمر رضي الله عنه سره په سفر کي ملګري وو چې برېښنا او یخ موږ راونیولو، حضرت کعب رضي الله عنه (د دې په لېدو) وویل کوم سړی چې تالندي د اواز په اوریدو سره دې واره دا کلمات ووایي (سبحان من یسبح الرعد بحمده والملائکة من خیفته) نو هغه ددې شیانو څخه محفوظ او مامون وي نو موږ دا کلمات ویل پیل کړل او الله تعالی موږ محفوظ وساتلو د دې څخه معلومه سوه چې پر داسي وخت باندي کله چې وریځ، بریښنا او تالندي بیره را سي نو ددغه الفاظو ویل د زړه د اطمینان او ساتني لپاره ډیر تاثیر کونکي دي .

==========

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

كِتَـــابُ الْجَنَائِـــز

د جنازې بيان

د (جنائز) لفظ د جنازې جمع ده او جنازه د لغت په اعتبار د جيم په زير او زور دواړو سره استعماليږي مګر زيات فصيح د جيم په زېر سره دی، کله چې مړی پر تخت باندې وي نو دې ته جنازه وايي ځينو حضراتو ويلي دي چې لفظ د جَنازه يعني د جيم په زور سره د مړي په معنی استعماليږي او جِنازه يعني د جيم په زير سره تابوت او هغه تخت يا چارپايي ته وايي چې پر هغه باندې د مړی په اينبود و سره هغه پورته کوي ځينو حضراتو ددې برعکس ويلي دي يعني جَنازه د جيم په زور سره تابوت يا تخت ته وايي او جِنازه د جيم په زير سره مړي ته وايي.

بَابُ عِيَادَةِ الْمَرِيْضِ وَ ثَوَابِ الْمَرِيْضِ

د ناروغ پوښتنه او د ناروغۍ ثواب

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ناروغ پوښتنه

﴿۱۴۳۷﴾: عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

أَطْعِمُوا الْجَائِعَ وَعُودُوا الْمَرِيضَ وَفُكُّوا الْعَانِيَ. رواه البخاري

وږي ته ډوډۍ ورکړئ د ناروغ پوښتنه وکړئ او بنديي خلاص کړئ. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۱۲، رقم: ۵۶۴۹.

تشريح: په دغه حديث کې د درو خبرو حکم ورکول کيږي، دا حکم د وجوب علی الکفايه په توګه دی ددې مطلب دادی که يو سړی دا احکام پوره کړي نو د پاته خلکو لپاره ددې پوره کول ضروري نه دي مګر د ټولو لپاره په دغو احکامو عمل کول سنت او د ثواب باعث دی هو که

چيري يو سړی هم دا احکام پوره نه کړي نو بيا ټول خلک به د نافرمانۍ په ګناه کي اخته سي.

شيخ عبد الحق دهلوي رحمة الله عليه ليکلي دي چې وړي ته ډوډۍ ورکول هغه وخت سنت ده چې هغه د اضطرار په حالت کي نه وي يعني د هغه د لوړي حالت داسي نه وي که چيري په هغه باندي ډوډۍ نه وخوړل سي نو مړ به سي خو په دې صورت کي هغه ته ډوډۍ ورکول فرض ده چې هغه د اضطرار حالت ته رسيدلی وي، همدارنګه که يو وړی په يو داسي ځای کي وي چيري چې يو نه بلکه څو خلک د هغه وړي د ډوډۍ ورکولو وس و لري نو پر ټولو باندي د هغه په ډوډۍ مړول فرض کفايه دي که په هغوی کي يو چا هم په وړي ډوډۍ وخوړل نود ټولو خلکو ذمه به خلاصه سي. هو که وړی په يو داسي ځای کي وي چې هلته يوازي يو سړی د قدرت خاوند وي او پاته ټول خلک مفلس او غريبان وي نو پر هغه قدرت والا باندي په وړي ډوډۍ خوړل فرض عين دي همدارنګه د هغه ناروغ سړي پوښتنه سنت ده چې د هغه پوښتنه کونکی وي او د هغه ناروغ پوښتنه کول واجب دي د چا چې هيڅوک پوښتنه کوونکی نه وي.

د مسلمان پر مسلمان حق

﴿۱۴۳۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقُّ

دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : حقوق

الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ رَدُّ السَّلَامِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيْضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَ

ديوه مسلمان پر بل مسلمان پنځه دي. ۱- دسلام جواب ورکول ۲- دناروغ پوښتنه کول ۳- دجنازې سره تلل

اِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيْتُ الْعَاطِسِ . متفق عليه

۴- بلنه قبلول ۵- دتريچی جواب ورکول. بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۱۲، رقم: ۱۲۴۰، ومسلم ۴\ ۱۷۰۴، رقم: ۴- ۲۱۶۲.

تشريح : پورتني ياد سوي پنځه شيان فرض کفايه دي، سلام کول سنت دی او هغه د اسلام د حقوق څخه دی ځرنګه چې د راتلونکي حديث څخه به معلومه سي مګر سلام کول داسي سنت دی چې د فرض څخه هم افضل دی ځکه چې د سلام کولو څخه نه يوازي دا چې د تواضع (خاکساری) او انکساری اظهار کيږي بلکه دا سنت د واجب ادا کولو سبب هم دی.

د ناروغ پوښتنه او د جنازې سره د تللو د حکم څخه اهل بدعت مستثنی دي يعني د روافض او داسي نور نه خو د هغوی د ناروغۍ پوښتنه کېږي او نه دي څوک د هغوی سره جنازې ته ځي.

د بلني قبلولو څخه مراد دادی که يو سړی بې د خپلي مرستي لپاره راوبولي نو د هغه بلنه دي قبوله کړل سي او د هغه مرسته دي وکړل سي، ځينو حضراتو ويلي دي چې د دعوت قبلولو مطلب دادی که يو سړی د مېلمستيا لپاره وبلل سي نو د هغه د بلني په قبولو سره دي د هغه خوا ته ورسي او په مېلمستيا کي دي ګډون وکړي په دې شرط چې ميلمستيا د هيڅ يو داسي حيثيت څخه نه وي چې په هغه کي شرکت د ګناه باعث وي لکه چې امام غزالي رحمة الله عليه فرمايي کومه مېلمستيا چې يوازي د فخر او د نامه له کبله وي په هغه کي دي ګډون نه کوي، د سلفو صحابه کرامو يعني د مخکنۍ زمانې د علماؤ په اړه نقل سوي دي چې هغوی به داسي ميلمستيا غوره نه ګڼل.

د ترچې د جواب ورکولو مطلب دادی که چيري ترچې کونکی الحمد لله ووايي نو د هغه په جواب کي دي يرحمک الله ووايي، په شرح السنة کي ليکلي دي چې د اسلام د دې ټولو حقوقو تعلق د ټولو مسلمانانو سره دی که نېک مسلمان وي او که بد، يعني داسي مسلمان وي چې ګناه کار خو وي مګر بدعتي نه وي نو دا احتياط اوامتياز دي په نظر کي ونيول سي چې په ورين تندي سره يو ځاي کيدل او مصافحه کول يوازي د يونېک مسلمان سره خاص کيدل پکار دي فاجر يعني دبدو اوګناه کوونکو مسلمانانو سره چې په ډاګه ګناه کوي ورين تندی او مصافحه کول ضروري نه ده.

﴿۱۴۳۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: حقونه ديوه مسلمان پر

الْمُسْلِمِ سِتٌّ قِيلَ مَا هُنَّ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ

بل مسلمان شپږ دی: پوښتنه وسول چې هغه کوم کوم دي. رسول الله ﷺ وفرمايل: ۱- هرکله چې ديو مسلمان سره ووينئ نو سلام اداء کوئ ۲- کله چې څوک بلنه درکړي

فَأَجِبْهُ وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللهَ فَشَمِّتْهُ

نو دهغه بلنه قبلوه. ۳- څوک چې درڅخه نصيحت يا خيرخواهی وغواړي نو هغه ته خيرخواهي

ورسوه . ۴- کله چې څوک وترچې او الحمد لله ووايي نو دهغه جواب ورکوه (يرحمک الله ووايه)

وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ . رواه مسلم

۵- څوک چې ناروغ سي نو دهغه پوښتنه کوه ٦- څوک چې مړسي نو دهغه د جنازې سره ځه . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۷۰۵/۴، رقم: ۵- ۲۱٦۲.

تشريح : (و اذا مرض .....الخ) : مطلب دادی چې کله يو مسلمان ناروغ سي نو د هغه عيادت او پوښتنه کول پکار دي که څه هم پوښتنه او عيادت يو وار وکړل سی، په دې اړه دا فکر کول پکار دی چې ځيني خلک دا وايي چې په ځينو وختونو کي د ناروغ پوښتنه کول نه دي پکار نو د دې هيڅ اصل نسته دا بالکل غلطه خبره ده .

په دغه حديث کي د اسلام شپږ حقوق بيودل سوي دي، په تېر حديث کي د حقوقو شمېر پنځه بيان سوی دی ګويا په دغه حديث کي د خيرخواهۍ نور هم ذکر سوی دی نو په دې باره کي په دې پوهيدل پکار دي چې په حديث کي د حقوقو چې کوم شمير ذکر سوی دی هغه د احاطه کولو په توګه نه دی بلکه حقيقت دادی چې د يو مسلمان پر بل مسلمان ډير زيات حقوق دي چې هغه درجه پر درجه په مختلفو حديثو کي لږ لږ بيان سوي دي، دا هم کيدای سي چې دا احکام د وحي په ذريعه همداسي درجه په درجه نازل سوي وي يعني مخکي خو د پنځو حقوقو حکم نازل سوی وه او بيا د شپږو حقوقو احکام نازل سول .

﴿۱۴۴۰﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ أَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دئ چې نبی کريم ﷺ موږ ته دا وو شيانو امر راکړئ

وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ أَمَرَنَا بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ

او د اوو شيانو څخه ئې منعه کړو . موږ يې امر کړو :۱- دناروغه د پوښتني ۲- دجنازې سره دتلو ۳- دترچې دجواب ورکولو

وَرَدِّ السَّلَامِ وَإِجَابَةِ الدَّاعِي وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ نَهَانَا عَنْ خَاتَمِ

۴- دسلام دجواب ورکولو ۵- د بلونکي د بلني قبلولو ۶- دقسم خوړونکی دقسم درښتيا کولو ۷- او دمظلوم سره د مرستي کولو . اومنعه ئې کړو :۱- د ګوتمۍ څخه

الذَّهَبِ وَ عَنِ الْحَرِيرِ وَالْإِسْتَبْرَقِ وَالدِّيبَاجِ وَالْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ وَالْقَسِّيِّ

د سرو زرو، ۲- دريښمنو جامو داغوستلو څخه ۳- دسره ځين دپوښ داستعمالولو څخه ۴- دقسی جامو څخه چې دوريښمو او کتان څخه جوړ سوی وي

وَآنِيَةِ الْفِضَّةِ . و في رواية وعن الشرب في الفضة فانه من شرب في الفضة

۵- دسپينو زرو دلوښو داستعمال څخه ۶- داطلس جامو داستعمال څخه ۷- دوريښمنو جامو داغوستلو څخه . او په يو بل روايت کي دا الفاظ هم سته چې نبي کريم ﷺ منعه کړې ده دسپينو زرو په لوښي کي داوبو چښلو څخه ،

فانه من شرب فيها في الدنيا لم يشرب فيها في الاخرة . متفق عليه

ځکه چې يو څوک په دنيا کي دسپينو زرو په لوښي کي اوبه چيښی نو په اخرت کي به اوبه دسپينو زرو په لوښي کي ورپه برخه نه سي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۱۱۲، رقم: ۱۲۳۹، ومسلم: ۳\ ۱۶۳۵، رقم: ۳- ۲۰۶۶.

د لغاتو حل: (الاستبرق): الديباج، الحرير، الغليظ (وريښم). (الميثرة): نوع من مراكب العجم تعمل من حرير او ديباج . (القسی): ضرب من كتان مخلوط بحرير.

تشريح: د قسم کوونکي د قسم پوره کولو مطلب دادی که چيرې يو سړی ديو پيښېدونکي خبري په باره کي قسم واخلي او هغه د قسم په پوره کولو باندي قادر وي او په هغه کي ګناه هم نه وي نو تاته هغه قسم پوره کول پکار دي د مثال په توګه يو سړی تا په مخاطب کولو سره تا ته قسم واخلي چې زه به ستا څخه نه جلا کيږم تر څو تا فلانی کار نه وي کړی نو اوس که چيرې ته په هغه کار باندي قادر وې نو هغه کار وکړه تر څو د هغه قسم مات نه سي .

ځيني حضرات فرمايي چې ددې مطلب دادی که يو سړی چاته دا قسم ورکړي چې قسم په خدای ته دا کار وکړه نو د هغه سړي لپاره هغه کار مستحب دی چې د پروردګار د نامه د تعظيم له کبله هغه کار وکړي که څه هم واجب نه دی .

د مظلوم د مرستي کولو په تشريح کي علماؤ ليکلي دي چې د مظلوم سره مرسته کول واجب ده او په دې حکم کي مسلمان او ذمي دواړه برابر شريک دي يعني څرنګه چې د يو مظلوم مسلمان مرسته کول واجب ده همداسي د هغه ذمي مرسته کول هم واجب ده کوم چې د

اسلامي رياست تابعدار اوسېدونکی وي او محصول ادا کوي، او بيا د مرستي لفظ هم عام دی که د ژبي د مرستي ضرورت وي نو په ژبه او قول دواړو سره دي مرسته وکړل سي او که د فعلي مرستي ضرورت پېښ وي نو د فعل او عمل په ذريعه دي د هغه مرسته وکړل سي.

(ميثره) : د هغه زين پوښ ته وايي چي هغه د پمبوو څخه ډک سوی وي او هغه چي د آس او داسي نورو په زين اچول کيږي او پر هغه کښيني هغه ته (نمد زين) هم وايي د دنيا لرونکو دا يو عادت دی چي هغوی دغه د زين پوښ د تکبر او غرور له مخي د ريښمو او داسي نورو څخه جوړوي ددې مسئلې حکم دادی که هغه زين پوش د ريښمو وي که د هر رنګ لرونکی وي نو هغه حرام دی هو که چيري د ريښمو نه وي بلکه د سره رنګ وي نو د هغه استعمال مکروه دی که د سره رنګ نه وي نو د هغه په استعمال کي څه پرواه نسته.

(قسي) د يو جامې نوم دی چي د ريښمو او کنانو څخه به جوړيدل او د (قس) خواته به منسوب کيدل چي د مصر د يوې سيمي نوم دی.

په حديث شريف کي د سپينو زرو د لوښي د استعمال څخه منعه راغلې ده همداسي د سروزرو د لوښي استعمال هم منعه دی بلکه د سروزرو د لوښي په استعمالولو کي د سپينو زرو د لوښي تر استعمالولو زياته ګناه ده، په دې حديث کي چي د کومو شيانو څخه منعه سوې ده د هغو اړه يوازي د خلکو سره ده د ښځو سره نه ده مګر د سپينو زرو د لوښي د استعمال ممانعت د خلکو او ښځو دواړو لپاره يو ډول دی.

د حديث اخري الفاظ چي په آخرت کي به هغوی ته د سپينو زرو په لوښو کي څښنل نه په برخه کيږي ددې صحيح وضاحت دادی چي کوم سړی په دنيا کي د سپينو زرو لوښي استعمال کړل نو هغه ته به په اخرت کي تر هغه وخته پوري چي د هغه د عذاب وخت ختم نسي د سپينو زرو په لوښي کي څښنل نه په برخه کيږي، يا د وقوف او حساب په وخت به هغه ته د سپينو زرو په لوښي کي څښنل نه نصيب کيږي يا دا هم ويل کيدای سي چي په جنت کي د داخليدو وروسته به هم هغه تر يو څه وخته پوري ددغه لوښو څخه محروم وي او بيا وروسته به دا پابندي د هغه څخه ختمه سي، او همدارنګه ددې حديث شريف څخه مراد دادی چي نارينه يې د ورېښمو د اغوستلو څخه منع کړي دي، فرمائي چي (من لبسه في الدينا لم يلبسه في الآخرة) يعني کوم سړی چي په دنيا کي ريښم واغوست د هغه به په آخرت کي ريښم اغوستل نه نصيب کيږي همداسي ددې حديث هم دا وضاحت دی چي په هغه کي د شرابو په باره کي فرمايل سوي دي چي (من شربها في الدنيا لم يشربها في الآخرة) يعني چاچي په دنيا کي شراب وڅښل د هغه

به په اخرت کي شراب څيښل نه په برخه کيږي.

د ناروغ د پوښتني ثواب

﴿۱۴۴۱﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَ. رواه مسلم

دحضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هرکله چې يو مسلمان د بل مسلمان ورور دناروغۍ پوښتنه کوي نو همیشه د جنت د میوې په خوړو کې وي (د جنت د میوو د خوړولو اهل وي) تر څو چې دهغه ناروغ د پوښتني څخه بيرته راوګرځي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۱۹۸۹، رقم: ۴۱- ۲۵۶۸.

د لغاتو حل: (خُرفة الجنة): ای روضتها.

تشريح: مطلب دادی چې کله يو مسلمان د خپل ناروغ ورور پوښتني ته ځي نو تر څوپوري چې هغه د ناروغ د پوښتني د فارغه کيدو سره بيرته ستون نسي نو تر هغو پوري د الله تعالى د رحمتونو او برکتونو څخه فيضياب کيږي، او د هغه ثمره دا وي چې هغه د خپل انساني او اخلاقي همدردۍ له کبله د جنت او د جنت د میوو خوړلو وړ ګرځي.

د ناروغ د پوښتني ثواب

﴿۱۴۴۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ به

عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا ابْنَ آدَمَ مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِي قَالَ يَا رَبِّ

دقيامت په ورځ وفرمايي: اې انسانه! زه ناروغ سوم، مګر تا زما پوښتنه ونه کړه، هغه به جواب ورکړي، اې زما پروردګاره!

كَيْفَ أَعُودُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِي فُلَانًا مَرِضَ

ما څنګه ستا پوښتنه کړې وای، ته په خپله د دواړو جهانو پالونکی يې، خدای ﷻ به ورته ووايي چې ایا ستا په یاد نه دي چې زما فلانی بنده ناروغ سو

فَلَمْ تَعُدْهُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِي عِنْدَهُ يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَطْعَمْتُكَ

او تا دهغه پوښتنه ونه کړه ، که تا دهغه پوښتنه کړې وای نو زه به دي هلته پيدا کړی وای (زما رضا به دي هلته پيدا کړې وای) بيا به خدای ﷻ پوښتنه وکړی چې اې انسانه! ما ستا څخه ډوډۍ وغوښته

فَلَمْ تُطْعِمْنِي قَالَ يَا رَبِّ وَكَيْفَ أُطْعِمُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ أَمَا عَلِمْتَ

او تا ډوډۍ رانه کړه ، هغه به په جواب کي ووايي : اې پروردګار! ما تا ته څنګه ډوډۍ درکړې وای ته خو د دواړو جهانو پالونکی يې . خدای ﷻ به وفرمايي : ستا په ياد نه دي چې

أَنَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ أَطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ

زما فلانی بنده تا ته د ډوډۍ غوښتلو لپاره راغلی وو تا هغه ته ډوډۍ ورنه کړه ، که تا هغه ته ډوډۍ ورکړې وای نو دهغې ثواب به دي

ذَلِكَ عِنْدِي يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِي قَالَ يَا رَبِّ كَيْفَ أَسْقِيكَ

زما سره موندلی وای . بيا به خدای ﷻ پوښتنه وکړی چې اې انسانه ! ما ستا څخه اوبه وغوښتلې او تا اوبه رانه کړې . هغه به عرض وکړي چې اې پروردګاره! ما تا ته اوبه څنګه درکړی وای ،

وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ اسْتَسْقَاكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تَسْقِهِ أَمَا عَلِمْتَ إِنَّكَ

ته خو د دواړو جهانو پالونکی يې . خدای ﷻ به وفرمايي زما فلاني بنده ستا څخه اوبه وغوښتلې او تا هغه ته اوبه ورنه کړې ، تا ته معلومه نه ده که چيرې تا

لَوْ سَقَيْتَهُ وَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي . رواه مسلم

هغه ته اوبه ورکړی وای نو دهغه ثواب به دي زما سره موندلی وای. مسلم

تخريج : صحيح مسلم: ۱۹۹۰\۴، رقم: ۴۳- ۲۵۶۹.

تشريح : په حديث شريف کي ذکر سوي دي چې په دغه صورتونو کي په اول صورت يعني د عيادت کولو او په وروسته دواړو صورتونو کي دا فرق دی چې الله تعالی به د ناروغ د پوښتني په باره کي دا فرمايي که تا د ناروغ عيادت کړی وای نو زه به دي د هغه سره پيدا کړی وای، د ډوډۍ خوړلو او اوبه څښلو په باره کي به فرمايي که تا ډوډۍ باندي خوړلې وای يا دا که تا اوبه باندي څښلي وای نو د هغه ثواب به دي زما سره وای ددې څخه معلومه سوه چې د ناروغ پوښتنه کول، وړي ته د ډوډۍ ورکولو او تږي ته د اوبو ورکولو غوره دي .

ناروغ ته تسلي ورکول

﴿۱۴۴۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى اَعْرَابِيٍّ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دي چې نبي کريم ﷺ د صحرايي د پوښتنې لپاره ولاړ ،

يَعُودُهُ وَكَانَ اِذَا دَخَلَ عَلٰى مَرِيْضٍ يَعُوْدُهُ فَقَالَ لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ

دنبي کريم ﷺ عادت مبارک دا وو چې ديو ناروغ د پوښتنې لپاره به ورتلی نو د هغه سره به کښېنستئ او فرمايل به يې : لاباس طهور ان شاء الله (څه اندېښنه نسته ، ته په ناروغۍ مه خفه کېږه داستا پاکوونکي ده)

فَقَالَ لَهُ لَابَأْسَ طُهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ قَالَ كَلَّا بَلْ حُمَّى تَفُوْرُ عَلٰى شَيْخٍ كَبِيْرٍ

نو هغه صحرايي ته يې هم داسي وفرمايل: لاباس طهور ان شاء الله (څه اندېښنه نسته په ناروغۍ مه خفه کېږه داستا پاکوونکي ده) ، صحرايي چې دنبي کريم ﷺ دا الفاظ واوربدل نو يې وويل داسې نه ده بلکه دا يوه داسي تبه ده چې په ډير سپين ږيرې سړي جوش وهي ،

تُزِيْرَهُ الْقُبُوْرَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَعَمْ اِذَنْ. رواه البخاري.

او هغه به قبر ته ورسوي ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : او داسي به کيږي . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۲۱، رقم: ۵۶۶۲.

تشريح : دا حديث د رسول الله ﷺ د کمال تواضع او مساوات عملي نمونه ده چې رسول الله ﷺ د يو صحرائي د عيادت لپاره تشريف يوړ ګويا رسول الله ﷺ خپله په دې ښه عمل سره امت ته تعليم ورکړ چې يوازي د هغو خلکو د پوښتني لپاره تلل نه دي پکار چې تر ځان لوړو يا هم مرتبه وي بلکه د هغو خلکو پوښتنه هم پکار ده چې په يو حيثيت سره تر ځان کم او د ادنى درجې وي .يعني رسول الله ﷺ هغه صحرائي ته د خپل ناراضګۍ اظهار وفرمايه چې زه خو ستا مخکې د ناروغۍ ثواب وړاندې کوم او ته د دې نعمت څخه انکار کوې که ستا دا خيال وي نو بيا پوه سه چې همداسي به وي ځرنګه چې ته وايې ځکه چې د نعمت د ناشکري کولو سزا داده چې هغه د هغه نعمت څخه محروم سي .

د صحرائي دا رويه او د هغه د خبرو په وجه کيداى سي چې هغه کافر وي خو علماؤ ليکلي دي چې صحيح خبره داده چې هغه مسلمان وو خو بې عقل او ناپوه وو ځکه د ناروغۍ د تکليف

او د سخت درد په وجه يې دا دول الفاظ د ژبې څخه را وايستل.

د ناروغ لپاره دعاء

﴿۱۴۴۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَكٰى مِنَّا

دحضرت عائشې ﷺ څخه روايت دي چې کله به په موږ کې يو څوک ناروغ سو

إِنْسَانٌ مَسَحَهُ بِيَمِيْنِهِ ثُمَّ قَالَ أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي

نو نبي کريم ﷺ به خپل راسته لاس پر هغه راتير کړئ او فرمايل يې: اَذهب .....سَقَمًا (اې دخلکو پروردګاره، ناروغي ليري کړې او شفا ورکړې ته شفا ورکونکی يې،

لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا. متفق عليه

نسته شفا خو شفا ستا هغه شفا چې هيڅ ناروغي نه پريږدي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۳۱، رقم: ۵۶۷۵، ومسلم ۴\۱۷۲۱، رقم: ۴۶- ۲۱۹۱.

﴿۱۴۴۵﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ إِذَا اشْتَكَى الْإِنْسَانُ الشَّيْءُ مِنْهُ أَوْ كَانَتْ بِهِ قَرْحَةٌ

دحضرت عائشې ﷺ څخه روايت دی: کله چې به د يو چا په خپل بدن کې ديوه ځايه څخه شکايت وکړئ د درد يا يوې ناروغۍ له کبله

أَوْ جُرْحٌ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِصْبَعِهِ بِسْمِ اللّٰهِ تُرْبَةُ أَرْضِنَا

او يا د يو بل شي څخه د هغه په بدن کې، د ننکی يا د زخم له کبله، نو رسول الله ﷺ به خپله ګوته پورته کړل او وبه يې فرمايل. بسم الله ..... باذن ربنا (دخداى ﷻ په نامه سره برکت ترلاسه کوم، موږ د مځکی دا خاوره

بِرِيقَةِ بَعْضِنَا يُشْفَى سَقِيمُنَا بِإِذْنِ رَبِّنَا. متفق عليه

زموږ د ځينو خلکو د خولې دناوړو لړلې ده زموږ چې دپروردګار په امر زموږ ناروغ لره شفاء ورکړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۰۶، رقم: ۵۷۴۳، ومسلم ۴\۱۷۲۴، رقم: ۵۴- ۲۱۹۴.

تشریح : ویل کیږي چي په دې اړه د رسول الله ﷺ دا طریقه وه چي رسول الله ﷺ به خپلي نارې مبارکي په خپله ګوته لګولې او هغه به يې پر خاورو اینبوولې بیا به يې هغه په خاورو لړلې ګوته د هغه درد پر ځاي په اینبودو سره پر هغه اندام اینبودل او ذکر سوې دعا یعني (بسم الله.....الخ) به يې ویل.

د دانو او زخمو د علاج په اړه د رسول الله ﷺ دا طریقه او دعاء په حقیقت کي د رموز الهي څخه یو راز دی چي رسول الله ﷺ په پوهیدی او زمونږ عقلونه ددغه راز حقیقت ته د رسیدو څخه عاجز دي بیا هم قاضي بیضاوي د احتمال له مخي لیکلي دي چي د طبي نقطې د نظره دا خبره ثابته ده چي د مزاج بدلولو په اړه د خولې نارې ډیري موثري دي همداسي مزاج پر خپل حالت د برقرار ساتلو لپاره د وطن خاوره ډیر تاثیر لري تر دې چي حکیمان، عالمان، طبیبان، ساینس پوهان لیکي چي مسافر ته پکار ده چي د خپل ځان سره د خپل وطن څه خاوره د اوبو په لوښي کي واچوي او د هغه لوښي څخه د سفر په دوران کي اوبه څښي .نو کیدای سي چي رسول الله ﷺ په دې وجه دا طریقه اختیار کړې وي او نورو شارحینو هم د دې توجیهات بیان کړي دي خو هغه ټول د احتمال په درجه کي دي صحیح خبره داده چي دا دالله ﷻ یو نیاز دی چي د هغه حقیقت ته زمونږ د عقلو رسېدل ممکن نه دي یعني زمونږ عقلونه دې ته نسي رسېدلای.

مولانا اشرف علي رحمة الله علیه ویلي دي چي دا حدیث رقیه یعني د جادو پر جائز کیدو دلالت کوي په شرط ددې چي په هغه جادو کي د کفر ګډون نه وي لکه جادو یا کلمه کفر او شرک او داسي نور، او په دې اړه مسئله داده چي منتر که څه هم د کومې ژبې وي د هندي ،اردو، عربي، فارسي، ترکي او پښتو وغیره وي د هغه ویل تر هغه وخته پورې نه دی صحیح تر څوپورې چي د هغه معنی نه وي معلومه سوې ځکه چي کیدای سي چي په دې کي د کفر الفاظ وي هو په حدیث کي یوورد (بسم الله شجة قرنیة.....الخ) د لړم د چیچلو لپاره منقول دی که څه هم د دې معنی نه ده معلومه مګر ویل یې جائز دي.

په آیاتونو سره دم کول

﴿۱۴۴۶﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَكَى نَفَثَ عَلَى

دحضرت عائشې ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ ناروغ سو

نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَمَسَحَ عَنْهُ بِيَدِهِ فَلَمَّا اشْتَكَى وَجَعَهُ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ كُنْتُ

نو قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس (سورتونه) به يې پر ځان دم کول او پر بدن به يې لاس تيروی . تر کوم ځايه پوری به چې د نبی کريم ﷺ لاس رسېدی ، نبی کريم ﷺ چې کوم وخت په هغه ناروغی کې پرېوتی په کوم کی چې وفات سو

اَنْفُثُ عَلَيْهِ بِالْمُعَوَّذَاتِ الَّتِيْ كَانَ يَنْفُثُ وَاَمْسَحَ بِيَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

نو دا دواړه سورتونه به ما لوستل ، د نبی کريم ﷺ په لاسونو به مې دم کول او بيا به مې د نبی کريم ﷺ لاسونه د هغه پر بدن را تيرول .

وَسَلَّمَ . متفق عليه ، وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ قَالَتْ كَانَ اِذَا مَرِضَ اَحَدٌ مِّنْ اَهْلِ بَيْتِهِ نَفَثَ عَلَيْهِ بِالْمُعَوَّذَاتِ.

بخاري او مسلم . او د مسلم په يوه روايت کې دا الفاظ راغلي دی چې عائشې (رض) وفرمايل دکور په خلکو کی به چې څوک ناروغه سو ، نو نبی کريم ﷺ به دواړه سورتونه پر چف کول .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۱۳۱، رقم: ۴۴۳۹، ومسلم ۴\ ۱۷۲۴، رقم: ۵۴- ۲۱۹۴.

تشريح : د معوذات څخه مراد قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذ برب الناس سورتونه دي په حديث کې معوذات د جمعې په صيغه د اياتو په اعتبار فرمايل سوي دي يا دا چې اقل جمع تر ټولو کمه درجه دوه دي ځکه د دې دواړو سورتونولپاره د جمع صيغه استعمال سوې ده او دا هم ويل کيداي سي چې د معوذات څخه مراد دريې سورتونه دي يعني قل اعوذ برب الفلق قل اعوذ برب الناس او قل هو الله احد ، او دې درو ته د معوذات نوم غالبا ورکړل سوی دی دا خبره زياته د اعتماد وړ ده ، ځينو حضراتو ويلي دي چې په معوذاتو کې د دې درو سورتونو څخه ماسيوا قل يا ايها الکافرون هم داخل دی والله اعلم .

د مسلم په دوهم روايت کې د لاس ګرځولو ذکر نسته په دې هکله دا هم احتمال سته چې رسول الله ﷺ په دم کولو سره لاس هم ګرځوی. مګر دلته ددې ذکر ځکه نه وسو چې په دم کولو سره د لاس ګرځول خپله مفهوم کيږي هلته دا هم احتمال دی چې رسول الله ﷺ دم لاس هم ګرځوي همداسي په ځني وختونو کې يوازې په دم کولو باندې اکتفاء کړې وي او لاس يې نه

وي ګرځولی مګر صحیح او حقیقت ته نژدې هغه وضاحت دی کوم چې مخکې بیان سوئ دی او اولي هم دادی چې دم هم وکړل سي او لاس هم پر راتېر کړي.

دا حدیث شریف په دې خبره دلالت کوي چې د الله تعالی ایاتونه ویل او په ناروغ دم کول سنت دي.

د بدن د درد لپاره دعاء

﴿۱۴۴۷﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ ابْنِ اَبِيْ الْعَاصِ أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

دحضرت عثمان بن ابو العاص رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه نبي کریم ﷺ ته شکایت وکړ

وَسَلَّمَ وَجَعًا يَجِدُهُ فِي جَسَدِهِ مُنْذُ أَسْلَمَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د هغه درد کوم چې دهغه پر بدن وو . رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل ،

وَسَلَّمَ ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي تَأَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ وَقُلْ بِاسْمِ اللّٰهِ ثَلَاثًا وَقُلْ

کوم ځای چې ستا په بدن کې درد کوي هلته لاس کښېږده . دري واره (بسم الله) ووایه او

سَبْعَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللّٰهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ قَالَ فَفَعَلْتُ فَأَذْهَبَ اللّٰهُ مَا كَانَ بِيْ . رواه مسلم .

اووه واره (اعوذ بعزة الله وقدرته من شر ما اجد واحاذر) ووایه، عثمان رضي الله عنه وایي ما داسي وکړل خدای ﷻ زما څخه هغه درد بوتلی یعني جوړ سوم . مسلم .

تخریج: صحیح مسلم ۴\ ۱۷۲۸، رقم: ۶۷- ۲۲۰۲.

د جبرائیل علیه السلام دعاء

﴿۱۴۴۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ يَا

دحضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه څخه روایت دي چې جبرئیل علیه السلام د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او ویې ویل:

مُحَمَّدُ اشْتَكَيْتَ فَقَالَ نَعَمْ قَالَ بِاسْمِ اللّٰهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ

ای محمده ! ایا ته ناروغ یې ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : هو . جبرئیل علیه السلام ورته وویل : بسم الله ارقیک .... (دخدای عزوجل په نامه پرتا دم کوم د هر هغه شي څخه چې تا ته تکلیف درکوي

مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ اللَّهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ . رواه مسلم

د هر هغه چا د بدې څخه او د هر حاسد د نظر څخه ، الله تعالی دي تا ته شفا درکړي، دخداي عزوجل په نامه پرتا دم کوم) مسلم.

تخریج : صحیح مسلم ۴\ ۱۷۱۸، رقم: ۴۰- ۲۱۸۶.

د ناوړه پیښې څخه د پناه لپاره

﴿۱۴۴۹﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَوِّذُ الْحَسَنَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ به خپل لمسیان حسن او حسین رضی الله عنهما په دې الفاظو سره دخدای عزوجل په پناه کې ورکول :

وَالْحُسَيْنَ أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ

اعیذ کما ... (یعنی ای حسن او حسین زه تاسو د خدای عزوجل د پوره کلماتو په پناه کې ورکوم، د هر شیطان د بدې څخه ، او د هر زهرجن حیوان څخه ، او د هر

عَيْنٍ لَامَّةٍ وَيَقُولُ إِنَّ أَبَاكُمَا كَانَ يُعَوِّذُ بِهَا إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ. رواه البخاري

و في اكثر نسخ المصابيح بهما على لفظ التثنية.

نظر لګونکی دسترګو څخه) او نبی کریم ﷺ به دا هم فرمایل : چې ستاسو پلار یعنی حضرت ابراهیم علیه السلام به ددې کلماتو په ذریعه خپل زامن اسماعیل علیه السلام او اسحق علیه السلام (دخدای عزوجل) په پناه کې ورکول ،دمصابیح په اکثرو نسخو کی د ((بها)) پر ځای ((بهما)) دئ . بخاري .

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۶\ ۴۰۸، رقم: ۳۳۷۱.

د لغاتو حل : (لاَمَة): ای جامة للشر.

تشریح : د کلمات الله تعالی څخه مراد یا خو د الله تعالی معلومات دی یا د هغه اسماء مبارک همداسي د هغو کتابونو څخه هم مراد کیدای سي .د هر شیطان د بدي څخه مطلب دی هر

سرکش او دتر حد تیر د بدی څخه که هغه د خلکو څخه وي او که د پیریانو څخه وي یا د حیوانانو څخه.

(هامه) هغه زهروالا حیوان ته وایي چي د هغه په چیچلو سره انسان مرسي لکه مار او داسي نور، د کم زهروالا حیوان په چیچلو سره چي سړی نه مرکیږي هغه ته هامه وایي لکه لړم، مچ موچی، سمساره او داسي نور او په ځینو وختونو کي هوام د هامه جمع ته وایي د روایت د آخري الفاظو مطلب دادی چي دلته کوم حدیث نقل سوئ دی د هغه الفاظ (ان ابا کما کان یعوذ بها) کي د لفظ بها ضمیر مفرد سره نقل سوی دی حال داچي د مصابیح په اکثرو نسخو کي پر دې ځای باندي بهما ضمیر په تثنیه سره دی د دې مطلب دادی چي د دې ضمیر تثنیه به د حدیث د دواړو جملو من شر کل شیطان او من کل عین لامة خوا ته راجع دی مګر په دې کي خامخا تکلف دی ځکه علامه طیبي رح ویلي دي چي په کمو نسخو کي چي بهما د تثنیه د ضمیر سره لیکل سوي دي هلته د کاتب څخه خطا سوې ده صحیح بها یعني د مفرد په ضمیر سره دی.

تکلیف او ستونزه د الله ﷻ رحمت دی

﴿۱۴۵۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُرِدْ اللّٰهُ بِهِ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ. رواه البخاري

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا سره چي الله تعالی د ښو کولو اراده وکړي نو هغه په ستونزه کي واچوي. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۰۳، رقم: ۶۵۴۵.

تشریح: مصیبت هر هغه شي ته وایي چي زړه ېې قبول او خوښ نه کړي، د دغه حدیث څخه معلومه سوه چي مصیبت که د تکلیف او ناجوړی په شکل کي وي یا دیو پیښي یا د صدمې په شکل کي وي همیشه د الله د قهر او عذاب په توګه نه راځي بلکه داسي هم کیږي چي په کوم بنده باندي الله تعالی د خپل فضل او کرم سایه کول غواړي او هغه د خیر او نیکۍ پر لار روانول غواړي نو هغه په یو مصیبت کي اخته کوي چي په هغه سره نه یوازي د هغه ګناه لیري کیږي بلکه د هغه زړه او د ماغ د مصیبت سختي سره مجلي او مصفا کولو سره د خیر او نیکي نور صلاحیت پکښي پیدا کوي د دې څخه معلومه سوه که یو بنده پر یو مصیبت او تکلیف باندي صبر وکي او راضي سي نو دا به د دې خبري ننبه وي چي دا مصیبت به د هغه لپاره په لمن کي د

الله ﷻ رضا او رحمت راوړي.

هو که يو بنده پر يو مصيبت باندې د صبر او توکل لمن نه پرېښودو سره ژړا او فرياد کول شروع کړي او خفه سي نو ددې صاف مطلب به دا وي چې دا مصيبت د هغه په حق کې رحمت نه بلکه د الله تعالى عذاب دى.

د تکليف له کبله ګناه معافيدل

﴿۱۴۵۱﴾: وَعَنْهُ وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت ابو سعيد خدرى رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَالَ مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا

مسلمان ته چې کوم رنځ ، تکليف ، فکر ، غم او څه ضرر رسيږي

غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ. متفق عليه

تر دې چې يو اغزى ئې پکښې مات سي نو الله تعالى د هغه له کبله د هغه ګناه ليرى کوي.

بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۱۰۳، رقم: ۵۶۴۱، ومسلم ۴\۱۹۹۳، رقم: ۵۲- ۲۵۷۳.

تشريح: د (هم او حزن) معناوي تقريبا يو دي ليکن دومره فرق دى چې هم د راتلونکي واقع کيدونکي سره اړه لري يعني که يو داسي مشکل کار پېښېدونکى وي چې د هغه په کولو يا نه کولو سره خفګان رسيږي نو هلته (هم) استعماليږي او د غم تعلق د تيري سوي واقعې سره وي.

په هر حال د حديث حاصل دادى که يو مسلمان ته څه ډول تکليف او غم ورسيږي نو هغه د صغيره ګناهونو د ليرې کېدو ذريعه جوړيږي.

پر رسول الله ﷺ د ناروغۍ سختي

﴿۱۴۵۲﴾: وَعَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دي چې زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سوم،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُوعَكُ فَمَسَسْتُهُ بِيَدِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ لَتُوعَكُ

هغه وخت د نبي کريم ﷺ تبه وه ، ما د نبي کريم ﷺ پر بدن باندې لاس کښېښود ئ او عرض مې

وکړ. اې د الله رسوله! ستاسو هم سخته تبه کيږي؟

وَعْكًا شَدِيدًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجَلْ إِنِّي أُوعَكُ كَمَا يُوعَكُ

نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! زما هم تبه کيږي، دومره تبه کوم چې تاسو دوو کسانو ته راځي.

رَجُلَانِ مِنْكُمْ قُلْتُ ذَلِكَ لِأَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ فَقَالَ أَجَلْ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ

ابن مسعود رضي الله عنه وايي، ما عرض وکړ، اې د الله رسوله! د دې غالبه وجه داده چې تاسو دوه چنده ثواب ترلاسه کړئ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! او د دې وروسته يې وفرمايل: هيڅ يو مسلمان داسې نسته

يُصِيبُهُ أَذًى مِنْ مَرَضٍ فَمَا سِوَاهُ إِلَّا حَطَّ اللهُ بِهِ سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا. متفق عليه

چې هغه ته د يو ناروغي څخه تکليف ورسيږي، يا د دې څخه پرته بل يو تکليف ترڅو چې الله ﷻ دهغه په وجه دهغه ګناهونه ليرې کړي لکه د درختي څخه چې وچې پاڼې رژيږي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۱۱، رقم: ۵۶۴۸، ومسلم ۴\ ۱۹۹۱، رقم: ۴۵ - ۲۵۷۱.

﴿۱۴۵۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَشَدَّ عَلَيْهِ الْوَجَعُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. متفق عليه

دبی بی عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چې ما دهيڅا ناروغي دومره سخته نه وه لېدلې، څومره چې د رسول الله ﷺ ناروغي وه. مسلم او بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۱۰، رقم: ۵۶۴۶، ومسلم ۴\ ۱۹۹۰، رقم: ۴۴ - ۲۵۷۰.

د مرګ سختي د درجو لوړي ده

﴿۱۴۵۴﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ حَاقِنَتِي وَذَاقِنَتِي

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ زما د غاړې او زني په مينځ (غيږ)

كي وفات سو ،

فَلَا أَكْرَهُ شِدَّةَ الْمَوْتِ لِأَحَدٍ أَبَدًا بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري

له دي كبله د نبي كريم ﷺ څخه وروسته دهيچا دمرګ سختي بده نه ګڼم. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۱۴۰، رقم: ۴۴۴۶.

د لغاتو حل: (الحاقنة): الوهدة المنخفضة بين الترقوتين، والذاقنة: الذقن.

تشريح: د بي بي عائشې رضي الله عنها په ارشاد كي د مخكنيو خبرو مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ وفات په داسي حال كي وسو چي د رسول الله ﷺ سر مبارک زما د سينې او غاړې په منځ كي پروت وو نو زه ښه پوهيدم چي هغه وخت رسول الله ﷺ د زكندن په څومره سخت حالت كي وو او د رسول الله ﷺ مرګ څومره سخت وو.

د حديث دوهم جزء (فلا اكره شرة الموت) مطلب دادی چي مخكي خو ما دا ګڼله چي د زكندن د حالت تكليف او د مرګ سختي د ګناهونو د كثرت په وجه وي مګر ما چي د رسول الله ﷺ مرګ وليدلو نو ماته معلومه سوه چي د مرګ سختي د ګناهونو د كثرت او د نبي خاتمې د نه كيدو علامت دی بلكه د مرګ سختي او د سكرات الموت شدت د درجاتو د لوړوالي لپاره وي.

ددې څخه معلومه سوه چي د مرګ اساني د بزرګۍ او فضيلت خبره نه ده كه داسي وي نو رسول الله ﷺ ته به دا افضليت په طريق اولى سره تر لاسه واى.

د مؤمن او منافق د ژوند مثال

﴿۱۴۵۵﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت كعب بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الْخَامَةِ مِنَ الزَّرْعِ تُفَيِّئُهَا الرِّيحُ تَصْرَعُهَا مَرَّةً وَتَعْدِلُهَا

دمسلمان مثال ديو فصل د تازه پانو په ډول دی چي هوا حركت وركوي، كله ئې هوا غورځوی او كله يې دروي،

أُخْرٰى حَتّٰى يَأْتِيَهُ أَجَلُهُ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الْأَرْزَةِ الْمُجْذِيَةِ الَّتِيْ

تر دي چي دهغه دمرګ وخت راځي، او د منافق مثال دصنوبر د درختي په شان دی، چي

مضبوطه او سخته وي ،

لَا يُصِيبُهَا شَيْءٌ حَتَّى يَكُونَ انْجِعَافُهَا مَرَّةً وَاحِدَةً . متفق عليه

دهوا په وجه هيڅ يو ضرر نه ورسيږي ، همداسي منافق دحادثې پر وا نه ساتي او خوشحاله وي بيا ناڅاپه (دصنوبر د درختي په شان) غورځي (مري) بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۰۳، رقم: ۵۶۴۳، ومسلم ۴\ ۲۱۶۳، رقم: ۵۹- ۲۸۱۰.

د لغاتو حل: (المُجذية): اى الثابتة القائمة. (انجعافُها): اى انقطاعها وانقلاعها (قطع كېدل).

تشريح : د مومن مثال خو د تازه کښت او نرمي څانګي سره ورکول کيږي څرنګه چي د هوا څپې پر هغه شاخ باندي اثر اچوي داسي چي کله هغه څانګه يا شاخ راولويږي کله ېې سيده کوي خو هغه ښاخ د هوا او سختي څپو په خوړلو سره پر خپل ځاي تر آخري وخته پوري ولاړ وي همداسي د مومن حال دی چي کله خو د مشکلاتو او ضعف او ناجوړي سختي ېې راغورځوي کله د صحت او خوشحالي او مسرت چې د هغه په ژوند کي خوشحالي پيدا کوي همداسي د هغه خپل ژوند ورځي پوره کوي .

د منافق مثال د صنوبر د درختي سره ورکړل سوی دی چي څنګه د صنوبر درخته په ښکاره پر يو ځاي ولاړه وي او پر هغه د هوا اثر نه پرېوزي خو کله چي د هغه وخت پوره سي نو هغه يودم پر مځکه راولويږي همداسي د منافق مثال دی چي هغه په دنيوي ژوند کي په ښکاره معلوميږي نه پر هغه د مصيبتونو باران کيږي او نه د ناجوړي او ضعف اثر پر لويږي تر دې چي هغه ناڅاپه ببله کومي ناروغۍ او کمزوري د مرګ خولې ته ورسوي .

د حديث حاصل دا سو چي د مومن او مسلمان ژوند په مصائبو او پريشانيو کي تيريږي کله هغه د ناجوړي او کمزورتيا په جال کي ومښلي کله دمال په کمي کي اخته سي کله په نورو دنيوي حادثاتو کي راچاپېره سي خو مومن مسلمان په داسي حالت کي ژوندئ اوسي او دا ټول شيان د هغه په حق کي د اخروي سعادت او خوش بختي علامت ګرځول کيږي په شرط د دې چي د صبر، زغم، رضا او خوشحالۍ څخه کار واخلي .

ددې په مقابله کي د منافق او فاسق ژوند دی چي پر هغه نه خو زياته د غم او تکليف سايه وي نه د ناروغي او تکليفو توره وريځ پر راځي او نه د بل څه دنيوي ذلت او مصيبت ، بلکه هغه په ښکاره جوړ روغ او خوشحاله وي داسي نه هغه ته د هغه درجه حاصليږي چي په ناروغي او پريشاني کي په اخته کيدو سره د کفارې په توګه مومن او مسلمان ته حاصليږي او نه ورته هغه

ثواب او سعادت ملاويږي کوم چې په ناروغي او پريشاني کې د مومن او مسلمان د اخروي کاميابي او خلاصون ذريعه جوړه سي .

﴿۱۴۵۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : مثال

الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الزَّرْعِ لاَ تَزَالُ الرِّيحُ تُمِيلُهُ وَلاَ يَزَالُ الْمُؤْمِنُ يُصِيبُهُ الْبَلاَءُ

دمؤمن ديو فصل په شان دي ، هوا کانې هر وخت هغه ته حرکت ورکوي ، دغسي مؤمن ته تکليفونه رسيږي

وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ شَجَرَةِ الأَرْزِ لاَ تَهْتَزُّ حَتَّى تَسْتَحْصِدَ . متفق عليه

او دمنافق مثال دصنوبر د درختي په شان دي ، چې هغه نه ښوري ، تر دې چې دبيخه څخه ووځي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۰۳، رقم: ۵۶۴۴، ومسلم ۴\ ۲۱۶۳، رقم: ۵۸- ۲۸۰۹.

تشريح : مطلب دادی چې منافق په دنيوي ژوند کې په زياتو مصيبتو او تکليفو کې نه وي او نه يو درد پر هغه ډير اثر کوي چې د دې ځاي د مصيبتونو په بدله کې د هغه لپاره د اخروي ژوند عذاب سپک نه سي بلکه د مسلمان په دنيا کې مصائب او په دردو کې اخته کيدل د دې خبرې ښنبه ده چې هغه ته به په آخرت کې ډير د سکون او راحت څخه ډک ژوند حاصليږي .

ناروغي ته بد مه وايا ست

﴿۱۴۵۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَلَى أُمِّ السَّائِبِ فَقَالَ مَا لَكِ

دحضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ بی بی ام سائب رضی الله عنها ته تشريف وروړئ او پوښتنه يې وکړه ،

تُزَفْزِفِينَ قَالَتْ الْحُمَّى لاَ بَارَكَ اللَّهُ فِيهَا فَقَالَ لاَ تَسُبِّي الْحُمَّى فَإِنَّهَا تُذْهِبُ

ولی رپيږې ؟ هغې ورته وويل ، تبه مي ده ، خدای ﷻ دې دې ته برکت ورنه کړي ، نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل : تبی ته بد مه وايه ، ځکه چې تبه

خَطَايَا بَنِي آدَمَ كَمَا يُذْهِبُ الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ . رواه مسلم

دانسان ګناهونه داسي ليري کوي څنګه چي بتۍ داوسپني ميل (خيري) ليري کوي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم: ۱۹۹۳\۴، رقم: ۵۳- ۴۵۷۵.

د لغاتو حل: (تُزفزِفينَ): اى ما لک ترتعدين (رپېدل).

تشريح: په يو روايت کي نقل دي چي الله تعالى د مومن تولي ګناوي د هغه د يوې شپې د تبي په خاطر ليري کوي همداسي ابوداود په يوه روايت کي نقل کړي دي چي د يوې شپې تبه د يوه کال ګناه تويوي .

په ناروغۍ کي نيک عملونه

﴿۱۴۵۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْ سَافَرَ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا. رواه البخاري

دحضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي يو بنده ناروغه سي يا سفر کوي (او دهغه څخه دهغه نفلونه او اذکار پاته کيږي) نو دهغه په حساب کي ليکل کيږي ، څنګه چي به هغه د روغتيا او اقامت په حالت کي کول . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳۶\۶، رقم: ۲۹۹۶.

په طاعون سره مرګ

﴿۱۴۵۹﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُوْنُ شَهَادَةٌ لِّكُلِّ مُسْلِمٍ . متفق عليه

دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (په) طاعون (کي مړ کېدل) دهر مسلمان لپاره شهادت دى . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۸۰\۱۰، رقم: ۵۷۳۲، ومسلم ۱۵۲۲\۳، رقم: ۱۶۶- ۱۹۱۶.

تشريح: مطلب دادى چي په کومه سيمه کي که چيري د طاعون ناروغي خپره سي نو کوم مسلمان چي د صبر او زغملو لمن ونيسي او د ناجوړې څخه د بيريدو څخه بل ځاي ته نه وتښتي بلکه په الله ﷻ باندي په باور او توکل کولو سره هلته اوسي او د طاعون په مرض مړ سي نو هغه ته د شهيد مرتبه ورکول کيږي طاعون د يوې ناجوړي نوم دى په کمه علاقه کي چي

دا ناجوړي پيدا سي د هغه ځاي آب هوا عام ژوند د انسانانو او حيوانانو ټول ددې ناروغۍ د جراثيم او فساد څخه متاثره کيږي .

ځينو خلکو ويلي دي چې طاعون هغه خاص نا جوړي ته وايي چې په هغه سره د بدن پر نرمه برخه باندې زخم کيږي لکه ترخ او هغه زخمونه شاوخوا تور سره او شنه وي .

د شهيد ثواب

﴿۱۴۶۰﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ اَلْمَطْعُوْنُ وَالْمَبْطُوْنُ وَالْغَرِيْقُ وَصَاحِبُ الْهَدْمِ وَالشَّهِيْدُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ . متفق عليه

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : شهيدان پنځه دي . يو طاعون ځپلي . دوهم چې دنس دناروغي څخه مړ سي ، دريم چې په اوبو کي بې اختياره مړ سي ، څلورم چې د دېوال يا بام لاندې مړ سي ، پنځم چې دخداى ﷻ په لاره کي شهيد سي . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۶\ ۴۲، رقم: ۲۸۲۹، ومسلم ۳\ ۱۵۲۱، رقم: ۱۶۴- ۱۹۱۴.

تشريح : په اوبو کي مړ سړي ته د شهادت ثواب حاصليږي چې بې اختياره او بې پامه په اوبو کي ډوب سوى وي همداسي که په درياب کي کښتئ ډوبه سي يا ماته سي او ټول خلک يا څه خلک په درياب کي ډوب سي نو په هغوى کي ډوبيدونکي ته به د شهادت ثواب حاصليږي په شرط ددې چې د څه ګناه او معصيت په ارادې سره په کشتئ کي ناست نه وي .

په دې حديث کي د پنځو ډولو شهيدانو ذکر سوى دى په دې اړه په دې خبره پوهيدل پکار دي چې حقيقي شهيديوازي هغه سړى دى چې د الله ﷻ په لار کي خپل ځان قربان کي، د شهيدانو قسمونه حکمي دي مړ کيدونکى چې حقيقي شهيد خونه وي هو د هغوى بېکسي او بې بسي د مرګ په وجه ده ته د شهادت ثواب حاصليږي .

په دې وخت ددې خبري وضاحت هم ضروري دى چې دلته په دې حديث کي د څلورقسمه شهيدانو ذکر سوى دى ددې څخه ماسيوا د حکمي شهيدانو نور هم ډير زيات قسمونه دي چې د هغوى په باره کي په نورو مشهورو حديثو کي ذکر دي چې ځينې علماء مثلا سيوطي رح وغيره هغوى په يو ځاي کي راجمع کړي دي په دې حديث کي چې د حکمي شهداء ذکر سوي دي ددې ماسيوا نور حکمي شهداء دا دي .

ذات الجنب: يعني د نمونيه په ناجوړي کي مړ کيدونکى ، په سوزيدو سره مړ کيدونکي ، د

حمل په حالت کي مړه کيدونکې ښځه يا پيغله مړه کيدونکې هغه ښځه چې د حمل کيدو وروسته د بچي د پيدائش پوري يا د بچي د شېدو ورکولو په وخت کي مړه سي يعني په دق مرض کي مړکيدونکې د سفر په حالت کي مړکيدونکی د جهاد په سفر کي د سورلئي څخه د راغورځيدو په وخت کي مړکيدونکی مرابط يعني د اسلامي مملکت د سرحدونو د حفاظت په دوران کي مړکيدونکی په کنده کي په غورځيدو سره مړکيدونکی د درنده ګانو يعني زمري او داسي نورو د حملې څخه مړ کېدونکی ، خپل مال خپل اهل وعيال خپل دين خپله وينه او د حق له خاطره قتليدونکی د جهاد په دوران کي خپل د مرګ مړکيدونکی او هغه سړی چې د شهادت پر خوله آرزو لري خو د شهادت موقع نه سي ورته نصيب او د هغه وخت پوره سي او د شهادت خواهش ېې په زړه کي پاته سي او د دې دنيا څخه ولاړ سي .

د حضرت علي رح څخه روايت دی کوم سړی چې حاکم وخت د ظلم او تشدد په توګه په قيد خانه کي واچول سي او هغه هلته مړ سي نو هغه شهيد دی کوم سړی چې په ظالمانه طريقې سره ووهل سي او د هغه په نتيجه کي مړ سي نو هغه شهيد دی او کوم سړی چې د توحيد په شاهدي ورکولو سره خپل سر خالق ته وروسپاري نو هغه شهيد دی .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه په مرفوع طريقې سره روايت دی چې حضرت ابو عبيده بن الجراح رضي الله عنه روايت کوي ما عرض وکړ يا رسول الله ﷺ په شهدا وو کې د الله په نزد تر ټولو زيات با فضيلت شهيد کوم يو دی رسول الله ﷺ وفرمايل هغه سړی چې د ظالم حاکم په مخکي ودريږي هغه ته د ښه او نيک کار کولو حکم ورکړي او د بد کار څخه ېې منعه کي او هغه حاکم هغه سړی مړ کړی .

د حضرت ابو موسي رضي الله عنه څخه روايت دی کوم سړی چې د آس يا اوښ د پښولاندې سي او هغه مړ سي يا د زهرو لرونکو حيوانانو په چيچلو سره مړ سي نو هغه شهيد دی او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی د کوم سړي چې د چا سره عشق و سي او نه يوازي دا چې هغه په خپل عشق کي متقي پاته سو بلکه هغه خپل عشق هم پټ کړ او په دې حال کي مړ سو نو هغه شهيد دی .

د رسول الله ﷺ د ارشاد نقل دی چې کوم سړی په کښتی کي ناست د سر چکر اوپه قي مړ سو نو هغه ته د شهيد اجر ورکول کيږي .

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه مرفوعا روايت دی چې الله تعالی د ښځو په باره کي غيرت او خودداري لازمه کړې ده او د خلکو لپاره ېې جهاد ضروري ګرځولی دی نو کمي ښځي چې د خپلې بنې موجودګي کي د صبر او زغم څخه کار واخلي نو هغې ته به د شهيد اجر حاصليږي .

بي بي عائشه ﷺ مرفوعا روايت کوي چي کوم سړی هره ورځ پنځوس واره دا دعا ووايي (اللهم بارک لي في الموت وفيما بعد الموت) او د مرګ پر بستره وفات سي نو الله تعالی هغه ته د شهيد اجر ورکوي.

حضرت ابن عمر ﷺ مرفوعا روايت کوي کوم سړی چي د اشراق او څاښت لمونځ کوي او په مياشت کي درې روژې نيسي او وتر لمونځ نه د سفر په حالت کي پريږدي نه د قيام په حالت کي نو د هغه لپاره د شهيد اجر ليکل کيږي.

همداسي په امت کي په عامه توګه د اعتقادي او عملي ګمراهي وخت سنتو باندي په ټينګه سره قائم اوسيدونکی او د علم په غوښتني کي مړکيدونکی شهيد دی د علم په غوښتني کي د مړکيدونکي څخه مراد هغه سړی دی چي د علم په حاصلولو او درس وتدريس کي مصروفه وي يا په تصنيف وتاليف يا ترجمه کي مصروفه وي لکه فقير چي د دې کتاب مترجم دی يا يوازي په څه علمي مجلس کي حاضر وي او کوم سړي چي خپل ژوند داسي تير کړي چي د خلکو ميلمستيا او خاطر تواضع د هغه طريقه وي نو هغه شهيد دی مرتث يعني هغه سړی چي د جنګ په ميدان کي په زخمي کيدو سره سمدستي نه سي مړ بلکه کم نه کم تر دوه ورځې پوري ژوندی وي چي د دنيا د څه شي فائده واخلي نو هغه هم شهيد دی کوم سړی چي د مسلمانانو غله ورسوي او کوم سړی چي خپل اهل وعيال او د خپل غلام او مينزي لپاره يو څه وګټي نو هغه شهيد دی همداسي هغه جنب سړی چي کافر ېې د جنګ په ميدان کي قتل کي او او شريق يعني هغه سړی چي په غاړه کي ېې اوبه ومښلي او ساه ېې بنده سي او مړ سي نو هغه هم شهيد دی.

په حديث کي راغلي دي چي کوم مسلمان په خپل مرض کي د حضرت يونس ﷺ دا دعا (لااله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمين) څلويښت واري ووايي او په هغه مرض کي وفات سي نو هغه ته د شهيد ثواب ورکول کيږي او که د هغه مرض څخه خلاص سي نو هغه په هغه حال کي صحت منده کيږي چي د هغه مغفرت سوی وي.

دا هم په حديث کي وارد دي چي ريښتنی او امانت دار تاجر به د قيامت په ورځ د شهدااوو سره وي او کوم سړی چي د جمعې په شپه مړ سي هغه شهيد دی.

او په حديث کي دا هم نقل دي چي بلا اجرت يوازي د الله تعالی د رضا د خاطره اذان کوونکی موذن د هغه شهيد په ډول دی چي په خپلو وينو کي لت پت سي او هغه موذن چي مړ سي نو د هغه قبر چينجي نه کوي .نقل دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :کوم سړی چي پر مايو واري درود ووايي نو الله تعالی پر هغه لس وراه درود وايي او کوم سړی چي پر ما لس واره

درود ووايي نو الله تعالى هغه د دواړو سترګو په مينځ کي نفاق او د اور څخه خلاصي ورته ليکي او الله تعالى به هغه بنده د قيامت په ورځ د شهيدانو ملګرى کړي.

نقل دي چې کوم سړى د سهار په وخت کي دړې واره (اعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم) او د سورة حشر اخري درې اياتونه ووايي نو الله تعالى د هغه سره اويا زره ۷۰۰۰۰ ملائکي مقرري کوي او د هغه لپاره تر مابنامه پوري د بخښنې لپاره دعا کوي او که هغه سړى په هغه ورځ مړ سي نو د هغه مرګ د شهيد مرګ وي او څوک چې هې په سهار کي ووايي نو هغه هم د دې اجر مستحق دي.

نقل سوي دي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ وصيت وکړ چې کله تاسو د شپې د خوب لپاره خپلې بسترې ته ورځئ نو د سورة حشر اخري اياتونه واياست او وې فرمايل که تاسو د شپې د دې ويلو وروسته بيده سى او د شپې مړه سئ نو د شهيد مرګ به درته حاصليږي.

نقل سوي دي چې کوم سړى چې د مرګي په مرض کي اخته وي نو هغه شهيد کيږي او کوم سړى چې د حج او عمرې په دوران کي مړ سي نو شهيد کيږي کوم سړى چې په اوداسه کي مړسي نو هغه شهيد کيږي همداسي د روژې په مياشت کي په بيت المقدس کي په مکه مکرمه يا مدينه منوره کي مړ سي نو هغه شهيد دى د مانده توب په ناروغي کي چې څوک مړسي نو هغه هم شهيد کيږي کوم سړى چې په افت او بلا کي اخته وي او هغه په هغه حالت ضرر او بلا باندې د صبر او رضا لمن نيولې مړ سي نو هغه شهيد دى او کوم سړى چې د سهار مابنام مقاليد السماوات والارض .....الخ) چې د هغه د ويلو د فضيلت تذکيره په يو حديث کي سوې ده چې دا ووايي نو هغه شهيد دى.

نقل دي چې کوم سړى د نوي کالو په عمر کي مړ سي يا په داسي حال کي مړ سي چې د هغه مور وپلار د هغه څخه خوشحاله وي يا نيک بخته ښځه چې په داسي حال کي مړه سي چې د هغې خاوند د هغې څخه راضي وي نو هغه شهيده ده همداسي عادل حکيم او بادشاه صدر ګورنر شرعي قاضي او داسي نور يعني هغه قاضي چې هغه هميشه د حق او انصاف په رڼا کي فيصلې کړي وي او چې هغه مړ سي نو هغه شهيد دى او هغه مسلمان هم شهيد دى چې د يو ضيعف مسلمان سره د ښو خبرو او نيکه معامله وکړي. والله اعلم.

د طاعون په سيمه کي صبر

﴿۱۴۶۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الطَّاعُونِ

دبی بی عائشې (رض) څخه روایت دي چې ما د رسول الله ﷺ څخه د طاعون حقیقت وپوښتئ

فَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ عَذَابٌ يَبْعَثُهُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ وَأَنَّ اللَّهَ جَعَلَهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ

، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل : طاعون یو عذاب دئ چې خدای ﷻ یې پر خپلو بندګانو وغواړي نازلوي یې ، او خدای ﷻ دا د مؤمنانو لپاره رحمت ګرځوي

لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا يَعْلَمُ أَنَّهُ

او کوم ځای چې طاعون وي ، او هلته د خدای ﷻ یو مؤمن بنده پاته سي او د ښار او کلي څخه ونه تښتي ، او صابر پاته سي او د خدای ﷻ څخه د ثواب غوښتونکی سي ، او باور ولري چې

لَا يُصِيبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ شَهِيدٍ . رواه البخاري

هغه ته به څه ضرر نه رسیږي ، مګر نه هغه چې خدای ﷻ لیکلي وي ، نو هغه ته د شهید ثواب ورکول کیږي . بخاري .

تخریج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\ ۱۵۲۱، رقم: ۱۶۴- ۱۹۱۴.

د طاعون دسیمي لپاره هدایت

﴿۱۴۶۲﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت اسامه بن زید رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

الطَّاعُونُ رِجْسٌ أُرْسِلَ عَلَى طَائِفَةٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَوْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ

طاعون یو عذاب دئ چې دبني اسرائیلو پر یوې ډلې نازل سوئ وو ، یا نبی کریم ﷺ وفرمایل : په هغه خلکو کې چې ستاسو مخکې وه ،

فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ . متفق عليه

هر کله چې تاسو واورئ چې په یو ځای کې طاعون دئ ، نو هلته مه ځئ او هر کله چې په یو ځای کې طاعون خپور سي کوم ځای چې تاسو اوسیږئ نو دهغه ځایه څخه بلې خوا ته مه تښتئ .

بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۹۲، رقم: ۶۹۷۴، ومسلم ۴\ ۱۷۳۶، رقم: ۹۲- ۲۲۱۸.

تشريح: د بني اسرائيلو د يو ډلي څخه مراد هغه ډله ده چې هغوی ته د الله تعالی حکم ورکړل سوی وو چې (ادخلوا الباب سجدا) يعني په دروازه کي په سجده کولو سره داخل سئ خو هغوی د سرکښۍ او نافرمانۍ څرګندونه وکړه الله تعالی فرمايي (فانزلنا عليهم رجزا من السماء) يعني مونږ د هغوی د سرکښۍ او نافرمانۍ په وجه پر هغوی باندي د اسمان عذاب رانازل کړی.

ابن مالک رحمه الله فرمايي چې هغه اسماني عذاب طاعون وو چې الله تعالیپر هغه بد بخت او سرکش قوم باندي نازل کړ د هغه نتيجه دا سوه چې په هغه عذاب کي په اخته کيدو سره د هغه قوم څلويشت زره غټ شپين ږيري آنا فآنا د مرګ خولې ته ورسول.

په دغه حديث کي د طاعون زده سيمي په باره کي دوې لارښوونې ورکول کيږي يو خو دا چې په کمه علاقه کي طوفان راغلی وي او تاسو هلته د مخکي څخه نه ياست موجود نو اوس د طاعون د خپريدو په وجه هغه علاقې ته مه ځئ د دې څخه منعه ځکه فرمايل سوې ده چې په قصد سره ځان په هلاکت کي نه دي اچول پکار .دوهم هدايت دادی چې په کومه سيمه کي طاعون راغلی وي او تاسو هلته د مخکي څخه موجود ياست نو اوس يوازي د طاعون د خپريدو په وجه د هغه علاقې د وتلو څخه بل ځاي ته مه تښتئ ځکه چې همداسي د تکليف او پريشاني او د مرګ د بيريدو څخه د تښتيدو مطلب به دا وي چې د تقدير د ليکلي فيصلې څخه تيښته نه ده پکار ځکه دا بې فايدې دي. نو د څه عامي وبا د خپريدو د وخت په باره کي د اسلام د مقدس دين دا قاعده ده چې کوم ځاي وبا خپره سوې وي هلته تلل نه دي پکار او کوم ځاي چې د مخکي څخه موجود وو او هلته وبا خپره سوې وي نو بيا دي د هغه ځاي څخه نه تښتي کوم سړی چې وتښتي نو د ګناه کبيره مرتکب ګرځي او د الله تعالی د درګاه څخه شړل سوئ به وي هو د وبا څخه ماسوا پر نورو وختونو باندي چيرې چې د هلاکت ګمان غالب وي د تښتيدو اجازت دی مثلا يو سړی په کور کي وي او زلزله راسي يا په کور کي اور ولګيږي يا همداسي يو څوک تر ديوال لاندي ناست وي چې د هغه د رايله کيدو بيره وي نو د هغه ځاي څخه تښتيدل جائز دي.

پر رونديوالي باندي صبر او اخروي ثواب

﴿۱۴۶۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ قَالَ

دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل: الله تعالى فرمايي:

إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ ثُمَّ صَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ يُرِيدُ عَيْنَيْهِ.

رواه البخاري

کوم بنده چې زه په دوه خوښ شيانو کې اخته کوم، او هغه ور باندې صبر وکړي نو دهغو په بدله کې زه جنت ورکوم او هغه دوه خوښ شيان سترګې دي (يعني څوک چې زه رونديږم). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱۶\۱۰، رقم: ۵۶۵۳.

تشريح: د الله ﷻ د ارشاد مطلب دادی چې کوم سړی زه رونديږم نو هغه ته د دواړو سترګو په بدله کې جنت ورکوم يعني هغه د نجات حاصلونکو خلکو سره يوځای کوم يا دا چې هغه ته په جنت کې خاص ځای او درجات ورکوم.

کله چې يو سړی د سترګو څخه محروم سي نو هغه ته پکار ده چې هغه د دې په وجه په ژبه شکايت نه راوړي او نه دې په زړه کې څه تنګي پيدا کوي بلکه په داسي صورت کې دي صبر او زغم څخه کار واخلي او پوه دي سي چې رونديږل کيدل د خدای ﷻ د غضب وجه نه ده بلکه د ګناهونو د ليرې کولو او درجاتو لوړولو او د بدنظر څخه د بچ کيدلو لپاره حق تعالى په ازمائش کې اخته کې د يو بزرګ په باره کې نقل دي چې کله د عمر په اخري برخه کې رونديږل سو نو وه يې فرمايل هغه خلوت چې ټول عمر مې غوښتی اوس مې ترلاسه کړ.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ناروغ د پوښتنې ثواب

﴿۱۴۶۴﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا

دحضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدلي دي چې فرمايل يې:

مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ

کوم مسلمان چې دیو مسلمان ورور دناروغي پوښتنه دسهار په وخت کي وکړي نو اویا زره ملائکي تر مانښامه پوري دهغه لپاره درحمت او مغفرت دعاوي کوي ،

وَإِنْ عَادَهُ عَشِيَّةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي وابوداؤد.

او څوک چې دمانښام په وخت کي دناروغ پوښتنه وکړي ، نو دهغه لپاره اویا زره ملائکي تر سهاره پورې د رحمت او مغفرت دعاوي کوي اوپه جنت کي دهغه لپاره یو باغ تاکي . ترمذي ، ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۳\ ۴۷۵، رقم: ۳۰۹۸، والترمذي: ۳\ ۳۰۰- ۳۰۱، رقم: ۹۶۹.

د لغاتو حل: (خَرِيف): الحائط، ای البستان من النخل (د خرما باغ).

د سترګو د ناروغۍ لرونکو د عیادت مسئله

﴿۱۴۶۵﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ عَادَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِعَيْنَيَّ . رواه أحمد وأبو داود .

دحضرت زید بن ارقم رضي الله عنه څخه روایت دي چې زما سترګي خوږېدې نو نبي کریم ﷺ زما پوښتنه وکړه. ترمذي ، ابوداؤد

تخریج: الامام احمد في مسنده ۴\ ۳۷۵، وابوداؤد : ۳\ ۴۷۷، رقم: ۳۱۰۲.

تشریح : له دغه حدیث څخه معلومه سوه چې د هغه سړي عیادت کول سنت دي کوم چې د سترګو په خوږ یا د سترګو په ناروغۍ اخته وي هر کله چې د یوروایت چې په جامع صغیر کي نقل دي چې د هغه دا مفهوم دی چې دړې ناروغه داسي دي چې په هغه کي د ناروغه سړي عیادت کول نه دي پکار اول د سترګو خوږ دوهم د زامي د غاښ په درد کي دریم په غټو دانو کي .

په دغه دواړو حدیثونو کي ټکر دی ځکه چې په دې دواړو کي به د دې تاویل په ذریعه مطابقت پیدا کولای سي چې په دې ناروغیو کي د ناروغه سړي پوښتنه دي هغه خلک نه کوي چې د هغوی لپاره ناروغه سړي ته تکلیف رسیږي یا د هغوی راتلل د ناروغه لپاره مشکل وي ځکه خلک د اسي ناروغه سړي پوښتني ته ځي نو د سترګي په خوږیدو سره یا د سترګي د دویمي ناجوړي په شکل کي ناجوړی به خپلي سترګي په خلاصیدو باندي مجبوره کیږي یا د

زامي د غابښ د درد کولو په صورت کي هغه ته به د خبرو په وجه ډير زيات تکليف وي همداسي که غټه دانه وه نو هغه به د هغوی په وجه په صحيح توګه سره په ناستي باندي مجبوره وي او ښکاره ده چي د دې دانې په وجه به د هغه لپاره په څه بل صحيح هيئت باندي ناسته د ډير زيات تکليف باعث وي هو که داسي خلک عيادت ته ورسي چي د هغوی په وجه ناجوړي ته تکليف نه وي يا د هغوی ورتلل پر ناجوړه سړي ډير بوج نه وي نو په دې ناجوړيو کي هم پوښتني ته ورتللو کي څه حرج نسته حاصل دا چي دلته کوم حديث نقل کيږي هغه په اخري صورت باندي محمول وي او د جامع صغير روايت به پر اول صورت باندي محمول کيږي.

د عيادت لپاره اودس کول سنت دي

﴿۱۴۶۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ

دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چاچي اودس وکړ

فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ وَعَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ مُحْتَسِبًا بُوْعِدَ مِنْ جَهَنَّمَ مَسِيْرَةَ سِتِّيْنَ خَرِيْفًا. رواه أبو داود.

او په ښه توګه يې اودس وکړ او هغه صرف د ثواب په نيت ديو مسلمان وروړ پوښتنه وکړه، نو هغه د دوزخ څخه د شپيته کلو په مسافت ليري ساتل کيږي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۴۷۵، رقم: ۳۰۹۷.

تشريح: د دې حديث څخه معلومه سوه چي د عيادت لپاره اودس کول سنت دی او غالبا د دې حکمت دا فرمايل سوی دی چي عيادت عبادت دی او ښکاره ده چي په اوداسه سره عبادت کامل او افضل کيږي علماء ليکي که په داسي حالت کي دعا وکړل سي نو قبليږي.

د ناروغ لپاره دعاء

﴿۱۴۶۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَّعُوْدُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم مسلمان چي د يو مسلمان پوښتنه وکړي

مُسْلِمًا فَيَقُوْلُ سَبْعَ مَرَّاتٍ أَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيْمِ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ أَنْ

او اووه واره دا كلمات ووايي ، اسال ..... ان يشفيک (دلوی الله ﷻ څخه دعا غواړم چې دعرش عظيم خاوند دئ ، دا چې

يَشْفِيَكَ إِلاَّ شُفِيَ إِلاَّ أَنْ يَكُوْنَ قَدْ حَضَرَ أَجَلَهُ . رواه أبو داود والترمذي .

تاته شفاء درکړي) نو خدای ﷻ هغه ته شفاء ورکوي ، په شرط ددې چې دهغه دمرګ وخت نه وي راغلی . ابوداؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۴۷۹، رقم: ۳۱۰۶، والترمذي ۴\ ۳۵۷، رقم: ۳۰۸۳.

د تبي او درد دعاء

﴿۱۴۶۸﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْحُمَّى وَمِنَ

دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دي چې نبی کريم ﷺ به خپلو اصحابو ته ښودل چې هغوی دتبي او

الْأَوْجَاعِ كُلِّهَا أَنْ يَقُولَ بِسْمِ اللّٰهِ الْكَبِيرِ أَعُوذُ بِاللّٰهِ الْعَظِيمِ مِنْ شَرِّ كُلِّ

درد په وخت کي داکلمات وائي : بسم الله ..... حر النار (دلوی خدای ﷻ په نامه زه د لوي خدای ﷻ په ذريعه پناه غواړم د شر څخه دهر

عِرْقٍ نَعَّارٍ وَمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب لا يعرف الا من حديث ابراهيم بن اسماعيل وهو يضعف في الحدث .

رګ جوش وهونکي او د اور دګرمۍ د بدۍ څخه)(ترمذي ، داحديث غريب دي) يوازي د ابراهيم بن اسماعيل څخه روايت دئ او دی ضعيف ګڼل سوی دی.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۳۵۳، رقم: ۲۰۷۵.

د لغاتو حل: (نعار): ای فوار الدم.

تشريح : د هر رګ جوش وهونکي څخه مراد هغه وينه ده چې په رګ کي جوش وهي مطلب دادی چې زه د هغي وينې څخه پناه غواړم کومه چې په رګ کي جوش وهي ځکه چې وينه غالبه سي نو تکليف رسوي داسي چې د هغه څخه تبه او نور مرضونه پيدا کيږي داحديث ابي شيبه،

ترمذي ابن ماجه، ابن ابي الدنيا ابن سني او حاكم روايت كړی دی او بيهقي په دعوات كبير كي د دې د صحت تصديق كړی دی.

په ناروغۍ كي كومه دعاء پكار ده؟

﴿۱۴۶۹﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې

مَنِ اشْتَكٰى مِنْكُمْ شَيْئًا أَوِ اشْتَكَاهُ أَخٌ لَهُ فَلْيَقُلْ رَبُّنَا اللّٰهُ الَّذِيْ فِي السَّمَاءِ

په تاسو كي چي يو څوک ناروغ سي يا د هغه ورور ناروغ وي، نو هغه ته پكار ده چي دا كلمات ووايي: ربنا الله..... فيبرا (زموږ رب الله ﷻ دئ، هغه الله ﷻ چي په اسمان كي دئ،

تَقَدَّسَ اسْمُكَ أَمْرُكَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ كَمَا رَحْمَتُكَ فِي السَّمَاءِ فَاجْعَلْ

ستاسو نوم پاک دئ، ستاسو حكم په اسمان او مځكه كي منل كيږي، څنګه چي ستا رحمت په اسمان كي دئ، همداسي

رَحْمَتَكَ فِي الْأَرْضِ اغْفِرْ لَنَا حُوْبَنَا وَخَطَايَانَا أَنْتَ رَبُّ الطَّيِّبِيْنَ أَنْزِلْ رَحْمَةً

رحمت په مځكه كي نازل كړئ، زموږ كوچني او لوی ګناهونه وبخښې، ته د پاكو خلكو پروردګار يې، نازل كړې رحمت

مِّنْ رَّحْمَتِكَ وَشِفَاءً مِّنْ شِفَائِكَ عَلٰى هٰذَا الْوَجَعِ فَيَبْرَأُ. رواه أبو داود.

د خپل رحمت څخه و د خپلې شفاء څخه شفاء پر دغه ناروغۍ نو هغه به ښه سي) ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۴\۲۱۸، رقم: ۳۸۹۲.

د لغاتو حل: (حُوبنا): ای ذنبنا (زموږ ګناه).

تشريح: څرنګه چي ستا رحمت په اسمان كي دی: د دې مطلب دا دی چي په اسمان كي خو ستا رحمت په هر ځای كي دی او د هغه ځاي پر هر اوسيدونكي دی خلاف د مځكي او د مځكي د اوسيدونكو چي دلته رحمت خو خاص پر ځينو باندي وي او پر ځينو باندي نه وي يعني خاص رحمت سره يوازي مومن فيضياب كيږي نه چي كافر كه څه هم عام رحمت د ټولو لپاره يو ډول دی خواه مومن وي يا كافر څنګه چي ارشار رباني دی:

رحمتي وسعت كل شيء : زما رحمت پر هر شي باندي دی د پاكيزه خلكو څخه مراد مومن دی چي د شرک څخه پاک وي يا هغه متقي مسلمانان ځني مراد دي چي خپل ځان د فاسدو اعمالو او اقوالو څخه ژغوري.

د عيادت پر وخت دعاء

﴿۱۴۷۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِذَا جَاءَ الرَّجُلُ يَعُوْدُ مَرِيْضًا فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا أَوْ يَمْشِيْ لَكَ إِلٰى جَنَازَةٍ . رواه أبو داود .

كله چي يو سړی دناروغ پوښتني ته راسي ، نو هغه ته پكار ده چي دا كلمات ووايي : اللهم ..... الى جنازة : (يا الله دې خپل بنده ته شفاء ورکړه چي ستا د دښمن سره جنګ وکړي يا ستا د رضا د ترلاسه کولو لپاره د جنازې سره ولاړ سي) ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۴۸۰، رقم: ۳۱۰۷.

د لغاتو حل: (يَنكا): يجرح (ژوبل كيږي).

ستونزي او تكليفونه كفاره ده

﴿۱۴۷۱﴾: وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أُمَيَّةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ عَنْ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى

حضرت علي بن زيد د اميه رضي الله عنهما څخه روايت كوي چي هغې د عائشې رضي الله عنها څخه د دې اياتو مطلب وپوښتئ.

إِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ ، وَعَنْ قَوْلِهِ مَنْ يَعْمَلْ

ان تبدوا ..... به الله (څه چي ستاسو په زړونو كي دي ، هغه كه ظاهر كړي يا ئې پټ كړي ، خداى به در څخه د هغه حساب وكړي) او ومن يعمل

سُوءًا يُجْزَ بِهِ ، فَقَالَتْ مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ مُنْذُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ

سوء يجز به (او څوك چي بدي وكړي د هغه بدله به وركول سي). بي بي عائشې رضي الله عنها وفرمايل :

کله چې دا مسئله ما د رسول الله ﷺ څخه وپوښتل ،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَذِهِ مُعَاتَبَةُ اللّٰهِ الْعَبْدَ فِيمَا يُصِيبُهُ مِنَ الْحُمَّى وَالنَّكْبَةِ

زما څخه هيڅا دا مسئله نه ده پوښتلې (ستا دسوال په جواب کې) نبي کريم ﷺ فرمايلي وه چې دامحاسبه او جزاء (چې په دې اياتو کې ذکر ده) پر بنده د خدای عتاب (زورونه) ده ، چې هغه ته دتبې او رنځ په صورت کې رسيږي ،

حَتَّى الْبِضَاعَةُ يَضَعُهَا فِي يَدِ قَمِيصِهِ فَيَفْقِدُهَا فَيَفْزَعُ لَهَا حَتَّى إِنَّ الْعَبْدَ

تردې چې دهغه شي په ورکېدو سره چې هغه ېې د قميص په لستونې (يا جيب) کې لري ، او هغه بيا پيدا نه کړي ، او د هغه په نه پيدا کيدو ناراضه کيږي ،

لَيَخْرُجُ مِنْ ذُنُوبِهِ كَمَا يَخْرُجُ التِّبْرُ الْأَحْمَرُ مِنَ الْكِيرِ. رواه الترمذي

نو هغه دګناهونو څخه داسې پاکيږي ، څنګه چې سره او سپين زر دبټۍ وتلو سره صاف او پاک سي . ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۳۵۲، رقم: ۳۲۵۲،

د لغاتو حل: (النكبة): اى المحنة (خواري). (التبر): بالكسر أي: الذهب والفضة قبل أن يضربا دراهم ودنانير (سپين او سره زر چې ويلي سوي نه وي).

تشريح: ددغه دواړو اياتونو د پوښتنې کولو وجه داوه چې اول ايت پر دې خبرې دلالت کوي چې بندګان به د هغوی د زړونو د خطرو او وسوسو او خرابو خيالاتو باندې محاسبه کولای سي او د دوهم ايت څخه دا معلوميږي چې بندګانو ته به په هر عمل باندې سزا ورکول کيږي خواه هغه عمل کوچنی وي يا لويي لږ وي يا زيات نو په دې سره صحابه ډير پريشانه سوه چې څه وکړي ځکه چې د دې څخه ځان ساتل نا ممکن دي حضرت اميه رضي الله عنه د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه د آياتو مطلب وپوښتی نو هغې د دې اياتو وضاحت وکړ چې د هغه حاصل دادی چې د دې اياتونو مطلب دانه دی چې الله تعالی به د قيامت په ورځ مومنان د هغوی د زړه ټولو خبرو او د هغوی د ټولو کوچنيو ګناهونو په وجه په عذاب کې اخته کړي بلکه په اياتونو کې محاسبه او د سزا څخه مراد دادی چې الله تعالی مومنان د هغوی څخه د سوو ګناهونو په وجه په دنيا کې په خپل عتاب کې اخته کې داسې چې څوک د څه ناجوړې په تکليف کې او

څوک څه بل رنج او غم کي اخته کوي چي دا شيان د هغوی د ګناهونو کفاره سي .
د عتاب معني داده چي يو سړی د خپل يو دوست څخه د هغه د څه غلطي روبهي او بې ادبي په وجه بنکاره پر هغه د خپلي غصې اظهار وکړي خو په زړه کي يې د هغه محبت پاته وي .

﴿۱۴۷۲﴾ : وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ يُصِيبُ

د حضرت ابو سی رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بنده ته چي کوم معمولي ضرر هم ورسيږي

عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلاَّ بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللّٰهُ عَنْهُ أَكْثَرُ قَالَ وَقَرَأَ

يا بل څه تکليف که کم وي او که زيات ، دا د هغه د ګناهونو پايله وي ، او هغه ګناه چي خداى ﷻ ئې په دنيا او اخرت کي معافوي ، ددې ګناهونو څخه ډير زيات دي ، په کومو چي سزا ورکوي ، بيا نبی کريم ﷺ دا ايت ولوستئ .

وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ . رواه الترمذي

وما اصابكم .... عن كثير (کوم مصيبت چي تاسو ته رسيږي ، هغه ستاسو دلاسه وي او خداى ﷻ ډير ګناهونه معافوي) ترمذي .

تخريج : سنن الترمذي ۵\ ۳۵۲ ، رقم : ۳۲۵۲ .

تشريح : مطلب دادی چي تاسو ته کوم مصيبت تکليف او ناروغي وغيره ورسيږي هغه ستاسو د خپلو بدو اعمالو نتيجه ده ګويا دلته ګنهګار مخاطب کولاى سي چي په خپلو بدو اعمالو او د غلطو کارونو څخه منعه سي او پر نيکه لار تلل د خپل ديني او دنيوي راحت او د سکون ذريعه وګڼي هو هر کله چي هغه خلک په څه مصيبت کي اخته سي چي ګناه کار نه وي نو د هغه څخه د هغوی ازمائش او امتحان مقصود دی چي د هغه په وجه د هغوی په درجو کي لوړوالی کيږي که څه هم د الله پاک نيک او بزرګ بندګان څه معمولي تکليف او پريشاني کي هم اخته کيږي نو د خپل عجز او بېچارګي د احساس په وجه هغوی هم دا وايي چي دا زموږ د بدو اعمالو وجه ده ، د يو بزرګ په اړه ويل کيږي چي يو وار يو مږي د هغه د ټپلي تسمه وخوړل نو هغه دومره متاثر سو چي ژړل يې او ويل يې آه معلومه نه ده چي زه په کومه ګناه کي اخته سوی يم چي د هغې سزا ما داده ترلاسه کړه .

د ناروغۍ په حالت کې دروغتیا نیک اعمال

﴿۱۴۷۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا كَانَ عَلٰى طَرِيْقَةٍ حَسَنَةٍ مِّنَ الْعِبَادَةِ ثُمَّ مَرِضَ قِيْلَ لِلْمَلَكِ الْمُوَكَّلِ

کله چې یو بنده په ښه توګه عبادت کوي او بیا ناروغ سي نو خدای تعالی هغې ملائکې ته چې دهغه داعمالو په لیکلو مامور ه وي ، حکم ورکوي ،

بِهِ اُكْتُبْ لَهُ مِثْلَ عَمَلِهِ إِذَا كَانَ طَلِيْقًا حَتّٰى أُطْلِقَهُ أَوْ أَكْفِتَهُ إِلَيَّ . شرح السنة

چې هغه د صحت په حالت کې کوم نیک کار کوئ ، همهغه اعمال لیکه ترڅو چې زه هغه ته روغتیا ورکوم یا زه هغه ځان ته راوغواړم . (شرح السنة) .

تخریج : البغوي في شرح السنة ۵\ ۲۴۰- ۲۴۱، رقم: ۱۴۲۹.

﴿۱۴۷۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا ابْتُلِيَ

دحضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي : چې کله یو مسلمان

الْمُسْلِمُ بِبَلَاءٍ فِيْ جَسَدِهِ قِيْلَ لِلْمَلَكِ اُكْتُبْ لَهُ صَالِحَ عَمَلِهِ الَّذِيْ كَانَ يَعْمَلُ

په بدني ناروغۍ اخته سي ، نو ملائکو ته ویل کیږي چې دده په اعمال نامه کې هغه نیک عمل لیکئ ، کوم چې به ده د روغتیا په وخت کې کول ،

فَإِنْ شَفَاهُ غَسَّلَهُ وَطَهَّرَهُ وَإِنْ قَبَضَهُ غَفَرَ لَهُ وَرَحِمَهُ . رواهما في شرح السنة

بیا که خدای ﷻ هغه ته شفاء ورکړه ،نو دهغه ګناهونه رژوي او هغه پاکوي او که هغه واخلي (وفات کړي)نو هغه ته بخښنه کوي او رحم پر کوي . (شرح السنة)

تخریج : البغوي في شرح السنة ۵\ ۲۴۱، رقم: ۱۴۳۰.

د شهادت نور ډولونه

﴿۱۴۷۵﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيْكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت جابر بن عتيک رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

اَلشَّهَادَةُ سَبْعٌ سِوَى الْقَتْلِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَلْمَطْعُوْنُ شَهِيْدٌ وَالْغَرِيْقُ شَهِيْدٌ

شهادت پر اووه ډوله دئ : دهغه شهادت څخه پرته کوم چې دالله تعالى په لاره کې وي: ۱- هغه څوک چې دطاعون (وباء) په ناروغۍ کې مړ سي شهيد دي، ۲- کوم چې ډوب سي او مړ سي شهيد دئ،

وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيْدٌ وَالْمَبْطُوْنُ شَهِيْدٌ وَصَاحِبُ الْحَرِيْقِ شَهِيْدٌ

۳- ذات الجنب (يو مرض دی) کې چې مړ سي ، شهيد دئ، ۴- دنس په ناروغۍ کې چې مړ سي شهيد دئ، ۵- په اور کې چې وسوزي ، مړ سي ،

وَالَّذِيْ يَمُوْتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيْدٌ وَالْمَرْأَةُ تَمُوْتُ بِجُمْعٍ شَهِيْدٌ . رواه مالك وأبو داود والنسائي .

۶- تريو ودانۍ لاندې سي او مړ سي، ۷- کومه ښځه چې دحمل په حالت کې مړه سي، يا باکره (پېغله) وي مړه سي ، شهيده ده . مالک ، ابوداؤد ، نسائي .

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۲۳۳، ۲۳۴، رقم: ۳۶، وابوداؤد: ۳\ ۴۸۲، رقم: ۳۱۱۱، والنسائي ۴\ ۱۳- ۱۴، رقم: ۱۸۴۵.

د لغاتو حل: (بجُمع): اى تموت و في بطنها ولد (په نس کې يې ماشوم وي او مړه سي).

تشريح : مطلب دادی چې حقيقي شهيد خو هغه دی چې د الله تعالى په لار کې د دين د دشمنانو سره په مقابله کولو کې قتل سي د دې څخه ماسيوا اووه قسمه نور شهيدان دي چې حقيقي شهيدان خو نه دي مګر د شهيدانو په حکم کې داخل دي بلکه د دې څخه ماسيوا نور هم ډير قسمونه دي چې په مختلفو حديثو کې مذکور دي او هغه په تفصيل سره په تيرو صفحو کې ذکر سوي دي . ذات الجنب يوه مشهوره ناروغي ده د دې ناروغي په څنګ کې دننه زړه او د سينې سره نژدې داني پيدا سي او د هغه علامت دا وي چې د ناروغ ساه بنديږي او تبه او تو خی پې کيږي .

په سخت تکليف کي کوم خلک وي؟

﴿۱۴۷۶﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روايت دي چې د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې : کوم خلک په سختو ستونزو اخته کيږي؟

بَلَاءً ؟ قَالَ اَلْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلٰى حَسَبِ دِيْنِهِ

نبي کريم ﷺ وفرمايل : انبياء عليهم السلام ، بيا هغه خلک چې انبياءو سره زيات مشابه وي ،بيا هغه خلک چې دهغوی سره زيات مشابه وي ، بيا هغه انسان چې پر دين ډير سخت وي ،

فَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهِ صُلْبًا اِشْتَدَّ بَلَاؤُهُ وَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهِ رِقَّةٌ هُوِّنَ عَلَيْهِ فَمَا زَالَ

هغومره مصيبت يې سخت وي ، او څومره چې په دين کي نرم وي ، هغومره دهغه مصيبت نرم وي، تر دې چې

كَذٰلِكَ حَتّٰى يَمْشِيَ عَلَى الْأَرْضِ مَالَهُ ذَنْبٌ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

په دين کي سخت انسان پر مځکه ګرځي ، او دګناه څخه پاک وي . (ترمذي ، ابن ماجه ، دارمي)
په ترمذي کي راغلي دي چې داحديث حسن صحيح دي .

تخريج: سنن الترمذي ۱۴\ ۵۲۰. رقم: ۲۳۹۸. وابن ماجه ۲\ ۱۳۳۴. رقم: ۴۰۲۳. والدارمي: ۲\ ۴۱۲. رقم: ۲۷۸۳.

تشريح : مطلب دادی چې انبياء کرام په مصيبت او بلاء کي تر ټولو زيات اخته وي ځکه چې هغوی په بلاء او مصيبت کي داسي لذت محسوسوي څنګه چې عام انسان په نعمت او راحت کي لذت محسوسوي بيا د هغوی وروسته هغه خلک په مصيبت او سختي کي اخته سي چې د هغوی مشابه وي يعني اولياء الله او صلحاء دوی هم د مصيبت او تکليف په سخت ازمائش کي اخته دي چې د ډير زيات ثواب مستحق سي خو د دوی د مصيبت او بلا سختي د انبياء د مصيبت او بلاء تر سختي کمه وي د دې وروسته د هغه خلکو نمبر راځي چې د مرتبې او درجې څخه د اولياء الله او صلحاء څخه کم وي .

په اخر کي دا کليه بيانيږي چې کوم خلک پر خپل دين باندي په سختي سره قائم سي او په

هيڅ مرحله كي هم د هغه په قدم كي لړزه رانسي د هغه مصيبت او بلاء هم ډيره سخته ده ځكه چي هغه صاحب يقين وي نو هغه د خپل مصيبت او پر سختي صبر كوي او دا ګڼي چي زه د خپلو ګناهونو په وجه د دې اهل ځخه يم نو د دې په وجه د هغه ايمان مكمل وي او د الله تعالى سره د هغه تعلق مضبوط كيږي د هغه نتيجه دا وي چي د هغه ګناه ليري كيږي او د هغه درجات لوړ كيږي د دې پرخلاف چي كوم سړی په خپل دين كي نرم خويه وي د هغه بلاء او مصيبت سختي هم كمه وي د بې صبري څرګندونه ونه كړل سي او د خپل ايمان او تعلق د الله ﷻ سره د قوي كيدو په وجه د دين ځخه و نه وځي.

د اخرت خير

﴿۱۴۷۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا أَغْبِطُ أَحَدًا بِهَوْنِ مَوْتٍ بَعْدَ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ شِدَّةِ مَوْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الترمذي والنسائي.

دبی بی عائشې (رض) ځخه روايت دئ، چي كله ما د رسول الله ﷺ د وفات سختي ليدلې ده، ما هيڅ كله دچا د مرګ داسانۍ امید نه دئ كړی. ترمذي، نسائي

تخريج: سنن الترمذي ۳\۳۰۹، رقم: ۹۷۹، والنسائي: ۴\۶۱۴-۷، رقم: ۱۸۲۹.

تشريح: د بي بي عائشې رضي الله عنها د ارشاد مطلب دادی چي مخكي به ما د مرګ د اساني آرزو كوله خو هر كله چي ما د رسول الله ﷺ د مرګ سختي وليدله نو هغه آرزو مي شاته پاته كړه، بلكه اوس ما دا غوره ګڼلې ده چي اخروي سعادت او خير د مرګ په سختي كي دي د مرګ په اساني كي نه دي.

د نبي كريم ﷺ وفات

﴿۱۴۷۸﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالْمَوْتِ وَعِنْدَهُ قَدَحٌ فِيهِ مَاءٌ وَهُوَ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الْقَدَحِ ثُمَّ يَمْسَحُ وَجْهَهُ ثُمَّ يَقُولُ

دبی بی عائشې ﷺ ځخه روايت دي چي ما رسول الله ﷺ وليدئ چي د مرګ حالت پر خپور وو د نبی كريم ﷺ و مخته يوه پياله د اوبو پرته وه، نبي كريم ﷺ په اوبو كي لاس ډوبوئ او پر مخ به يې تيروئ او فرمايل به ئې:

اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ أَوْ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ. رواه الترمذي وابن ماجة

اللهم ..... او سكرات الموت (اې خدايه : دمرګ په سختي ليري کولو کي ته زما سره مرسته وکړې ، يا يې داسي وفرمايل: يا الله! دمرګ څپو په دفعه کولو کي زما مرسته وکړې) ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۳۰۸، رقم: ۹۷۸، وابن ماجه ۱\ ۵۱۹، رقم: ۱۶۲۳.

تشريح : سكرات الموت د زکندن يا د مرګ په سختي کي د رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک په اوبو کي لندولو سره پر مخ مبارک ځکه تير کړلو چي د مرګ سختي او شدت په وجه چي کوم حرارت او ګرمي پيدا سوې وه په هغه کي کمي وسي.

د رسول الله ﷺ د مرګ د سختي په باره کي علماوو څو وجوهات بيان کړي دي په هغو کي يوه وجه داده چي په رسول الله ﷺ باندې د سکرات الموت دا کيفيت ځکه خپور سوی وو چي د امت د خلکو په دې سبب سره د خپل مرګ په باره کي زياته پريشاني نه سي هر کله چي امي دا وويني چي د رسول الله ﷺ پاک روح څرنګه چي د جسم مبارک څخه بېلوالی حاصل کړ نو هغوی به د ځان په باره کي د صبر لمن کلکه ونيسي چي د هغه په وجه به د هغوی په زکندن کي اساني وي. والله اعلم.

د دنيا سزا د آخرت تر سزا غوره ده

﴿۱۴۷۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ اللَّهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي الله ﷻ اراده وکړي

بِعَبْدِهِ الْخَيْرَ عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ

د خپل يو بنده سره دنيکۍ ، نو دهغه سزا په دنيا کي ژر ورکوي ، او کله چي يو بنده ته د بدۍ اراده وکړي ،

عَنْهُ بِذَنْبِهِ حَتَّى يُوَافِيَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي

نو دهغه دګناهونو سزا پرېږدي تر څو د قيامت په ورځ هغه ته دګناهونو پوره سزا ورکړي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۱۹، رقم: ۲۳۹۶.

تشريح : په هر حال د دنيا سزا د آخرت تر سزا غوره ده د دې وجي الله پاک هغه نيک بندګان چي په ګناهونو کي اخته دي په دنيا کي الله تعالى د مصيبت او تکليف او يا ناروغي په صورت

كي سزا وركوي او د دې وجه داده چې د دنيا عذاب كم وي په دې توګه د دنيا موده كمه ده په هر حال كي تيريږي او هغه كسان چې د خداي ج څخه مسلسل نافرماني د وجي څخه د الله تعالى عذاب ورته وركول كيږي او په اخرت كي پر بد بختي كي اخته كيږي نو الله تعالى هغه ته په دنيا كي سزا نه وركوي بلكه هغه ته اوږد عمر وركوي د دې لپاره چې په اخرت كي په عذاب اخته سي او د آخرت عذاب د دنيا تر عذاب ډير سخت دى.

لويه بدله

﴿۱۴۸۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ

دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : لويه بدله

مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ وَإِنَّ اللهَ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السَّخَطُ. رواه الترمذي وابن ماجة.

په لوى مصيبت سره ده ، خداى ﷻ چې يو قوم خوښ كړځوي ، نو هغوى په مصيبت كي اخته كوي ، تر څو چې په مصيبت او آزمائښت كي خوشحاله سو ، نو دهغه لپاره د خداى ﷻ رضا ده ، او څوك چې ناراضه سو ، نو دهغه دپاره د خداى ﷻ ناراضي ده . ترمذي ، ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۵۱۹\۴، رقم: ۲۳۹۶، وابن ماجه: ۱۳۳۸\۲، رقم: ۴۰۳۱.

تشريح : كله چې الله تعالى د يوسړي څخه خوشحاله سي نو هغه په مصيبت كي اخته كوي همداسي د كوم سړي څخه چې خوابدى كيږي نو هغه هم په مصيبت كي اخته كوي كه څه هم دوهم جزء په حديث كي په ښكاره نه دى ذكر سوى مګر د حديث الفاظ (فمن رضي .....الخ) څخه دا جزء هم مفهوم كيږي.

ګويا د حديث حاصل دا سو چې د بنده خوشحالي او ناخوشحالي د حق تعالى د خوشحالي او ناخوشحالي علامت دى كوم سړى چې په مصيبت او بلاء كي راضي او خوشحاله وي هغه د الله تعالى خوښ او محبوب وي په دې توګه چې الله هم د هغه څخه راضي او خوشحاله وي او كوم سړى چې د مصيبت او بلاء پر سختيو باندي شكايت په ژبه راوړي او د ناراضګي او ناخوشحالي اظهار كوي نو هغه د الله تعالى د دربار څخه شړل سوى دى په دې توګه چې د هغه څخه خوشحاله او راضي نه وي.

نقل دي چي صحابوو په خپلو کي دا سوال کوی چي څنګه معلومیږي چي الله تعالی د یوبنده څخه راضي او خوشحاله دی اود کوم بنده څخه ناراضه دی ، ددې مطلب دادی چي که بنده د الله څخه خوشحاله او راضي وي نو دا به وګڼل سي چي الله پاک د هغه بنده څخه خوشحاله او راضي دی او که بنده د الله پاک څخه ناراضه وي نو د دې صاف مطلب به دا وي چي الله پاک هم د هغه څخه ناراضه دی .

مسلمان ته ستونزي راتلل

﴿۱۴۸۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ

دحضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ داسي وفرمایل : همېشه

الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وماله وولده حَتَّى يَلْقَى اللّٰهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ. رواه الترمذي و روى مالك نحوه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

مسلمان سړی او مسلماني ښځي ته دهغه یا د هغې په ذات ، مال او اولاد کي مصیبت او آزمائښت رسیږي . تر دې چي هغوی دخدای ﷻ سره دګناهونو څخه پاک یو ځای سي . ترمذي ، مالک ، په ترمذي کي راغلي دي چي دا حدیث حسن او صحیح دئ .

تخریج: سنن الترمذي ۱۴\ ۵۲۰، رقم: ۲۳۹۹، ومالک في الموطا ۱\ ۲۳۶، رقم: ۴۰.

د ستونزو زغمل مرتبې لوړوي

﴿۱۴۸۲﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ خَالِدِ السُّلَمِيِّ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ

حضرت محمد بن خالد سلمي رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلاره څخه روایت کړی دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللّٰهِ مَنْزِلَةٌ لَمْ يَبْلُغْهَا

کله چي د خدای ﷻ سره دیو بنده څه داسي رتبه وټاکل سي چي هغه په خپلو نیکو اعمالو سره تر لاسه کولای نه سي

بِعَمَلِهِ ابْتَلَاهُ اللهُ فِيْ جَسَدِهِ أَوْ فِيْ مَالِهِ أَوْ فِيْ وَلَدِهِ ثُمَّ صَبَّرَهُ عَلٰى ذٰلِكَ يُبْلِغُهُ

نو خدای ﷻ هغه په بدني، مالي، او د اولاد په ستونزه اخته کوي، (یا خو هغه ناروغ سي یا د هغه مال ضائع سي، یا اولاد ته ئې تاوان ورسي) بیا خدای ﷻ هغه ته صبر ورکوي،

الْمَنْزِلَةَ الَّتِيْ سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللهِ. رواه أحمد وأبو داود.

ترڅو هغه هغي مرتبې ته ورسوي، کومه چې دهغه لپاره تاکل سوې وي. احمد، ابوداؤد.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۲۷۳، وابوداؤد: ۳\ ۴۷۰، رقم: ۳۰۹۰.

تشریح: د دې حدیث څخه معلومه سوه چې بنده په مصیبت او تکلیف کې د صبر کولو په وجه د اخروي سعادت هغه عظیمي درجې او مرتبې ته رسیږي چې هغه ته د عبادت او د اطاعت په ذریعه نسي رسیدلای.

دنیا دمؤمن لپاره بندیخانه او د کافر لپاره جنت ده

﴿۱۴۸۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ شِخِّيْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت عبد الله بن شخیر رضی الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

مُثِّلَ ابْنُ آدَمَ وَإِلٰى جَنْبِهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ مَنِيَّةً إِنْ أَخْطَأَتْهُ الْمَنَايَا وَقَعَ

انسان په داسي حال کې پیدا سوئ دئ چې دهغه په اړخ کې نهه نیوي (۹۹) هلاکونکي بلاګاني ایښودل سوي دي، که دا بلاګاني ځینې لیري سوې یعني انسان یې په مصیبت کې اخته نه کړي، یا هغه برداشت کړي،

فِي الْهَرَمِ حَتّٰى يَمُوْتَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

نو په سپین ږیرتوب کې خو خامخا تاوان او نقصان ورسوي، تر دې پورې چې مړ سي. ترمذي. دا حدیث غریب دي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۳۹۶، رقم: ۲۱۵۰.

تشریح: مطلب دادی چې انسان د عدم څخه وجود ته راځي نو د هغه ځلورو خواوو ته د بلاګانو د یوجال په ډول اوار سوی وی هغه په داسي داسي بلاګانو او په مصیبتونو کې راچاپیره وي چې د هغه څخه خلاصون نه وي او که اتفاقا یو سړی د هغو بلاګانو څخه نجات

درلاسه کي نو په آخر کي د سپين ږيرتوب په جال کي ومښلي او سپين ږيرتوب هم داسي وي چي درد ېې بې دوا او بلا ېې بې انتهاء وي حاصل دا چي دنيا د مومن لپاره قيد خانه او د کافر لپاره جنت دی نو مسلمانانو ته لامېږي چي هغوی د دنيا د هر مصيبت او درد په وخت د صبر لمن په لاس کي کلکه ونيسي او الله تعالی څخه د هغوی په مقدر کي څه ليکلي دي پر هغه راضي او صبر کونکی سي او د اخروي کاميابۍ او سعادت ضامن سي.

په يو حديث قدسي کي نقل دي چي الله تعالی ارشاد فرمايي کوم بنده چي زما نازل کړي مصيبتونه او تکليفونه پر هغو باندي صبر ونه کي زما د ورکړو نعمتونو شکر ادا نه کي او زما په فيصله نه سي راضي نو هغه دي زما څخه ماسيوا د ځان لپاره يو بل دوهم رب پيدا کي سوچ وکړئ چي د داسي سړي لپاره د الله تعالی ناراضگي څومره سخته ده چي د صبر او شکر پر لار کامزن نه وي د الله تعالی پر فيصله نسي راضي. اللهم احفظنا منه وفقنا للصبر والشكر والرضاء.

د قيامت په ورځ آرزو

﴿۱۴۸۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوَدُّ أَهْلُ

دحضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْعَافِيَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِينَ يُعْطَى أَهْلُ الْبَلَاءِ الثَّوَابَ لَوْ أَنَّ جُلُودَهُمْ كَانَتْ

دقيامت په ورځ به هغو خلکو ته چي په دنيا کي په مصيبت کي اخته سوي وي، ثواب ورکول سي، نو کوم خلک چي په دنيا کي په امن او عافيت سره وه، ددې خبري اميد به ساتي چي کاشکي په دنيا کي ئې خپل بدنونه

قُرِضَتْ فِي الدُّنْيَا بِالْمَقَارِيضِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

په غځيانو سره پرې کړي واى (او نن دهغه په بدله کي ډېر ثواب ترلاسه سوى واى. (ترمذي) په ترمذي کي ويل سوي دي چي داحديث غريب دي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۲۱، رقم: ۲۴۰۲.

ناروغي د ګناهونو کفاره ده

﴿۱۴۸۵﴾: وَعَنْ عَامِرٍ الرَّامِ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت عامر رضي الله عنه څخه روايت دي چې يو وار رسول الله ﷺ يادونه وکړه

الْأَسْقَامَ فَقَالَ إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَصَابَهُ السَّقَمُ ثُمَّ عَافَاهُ اللهُ مِنْهُ كَانَ كَفَّارَةً

دناروغيو ، او په دې اړه يې وويل : يو مؤمن چې کله په يوه ناروغي کې اخته سي او وروسته بيا خداى جل جلاله هغه ته روغتيا ورکړي ، نو دا ناروغي دهغه لپاره کفاره کړځي

لِمَا مَضٰى مِنْ ذُنُوْبِهِ وَمَوْعِظَةً لَّهُ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُ وَإِنَّ الْمُنَافِقَ إِذَا مَرِضَ ثُمَّ

دتيرو ګناهونو او آئنده د هغه لپاره نصيحت او عبرت جوړ سي ، او منافق چې کله ناروغ سي ،

أُعْفِيَ كَانَ كَالْبَعِيْرِ عَقَلَهُ أَهْلُهُ ثُمَّ أَرْسَلُوْهُ فَلَمْ يَدْرِ لِمَ عَقَلُوْهُ وَلِمَ أَرْسَلُوْهُ

بيا روغتيا ورکړل سي نو د هغه اوښ په شان سي چې مالک ترلى وي ، بيايې ايله کړي ، اوښ ته د دې سبب څرګند نه وي ، چې ولې دهغه خاوند هغه وترئ ، اوولې يې پريښودئ ،

فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا الْأَسْقَامُ ؟ وَاللهِ مَا مَرِضْتُ قَطَّ فَقَالَ قُمْ عَنَّا

فَلَسْتَ مِنَّا . رواه أبو داود .

يو سړى د نبى کريم ﷺ دابيان واورېدئ نو هغه ته يې وويل : يا رسول الله ! ناروغي څه شي ده ؟ قسم په خداى زه خو هيڅکله نه يم ناروغ سوى . نبى کريم ﷺ وفرمايل : ته زمونږ د ډلي څخه ولاړ سه ، ته زمونږ څخه نه ئې . (ابوداؤد).

تخريج : سنن ابي داؤد ۳\ ۴۶۸، رقم: ۳۰۸۹.

تشريح : مومن د ناروغي څخه د صحت تر لاسه کولو وروسته اګاه کيږي او هغه پوهيږي چې زه د خپلو ګناهونو په وجه په ناروغي کې اخته سوى وم ځکه هغه نه يوازې دا چې پر خپلو تيرو ګناهونو باندې پښيمان کيږي او توبه کوي بلکه آئنده هم د ګناهونو څخه ځان ساتي ، د دې برعکس د منافق حال دادى چې کله هغه د ناروغي وروسته جوړ سي نو د هغه مثال د هغه اوښ په ډول دى که مالک هغه وترې نو په دې نه پوهيږي چې زه ېې ولې وترم او ولې ېې پريښودم .

منافق د ناروغي په وجه نه پوهيږي نه د هغه څخه عبرت اخلي او نه په ګناهونو پښيمانه کيږي او سره توبه کاږي ځکه د هغه ناروغي نه خو د هغه د تيرو ګناهونو کفاره کيږي او نه په آئنده کې د هغه لپاره د نصيحت او عبرت باعث کيږي چې هغه د ګناهونو څخه وساتل سي (فاولآئک

كالانعام بل هم اضل اولآئک هم الغافلون) مطلب دادی چي ته د اهل طريقه څخه نه ښې ځکه چي څنګه مونږ په ناروغيو او مصيبتونو کي اخته کيږو همداسي ته نه ښې اخته سوی .

ناروغ ته ډاډ ورکول

﴿۱۴۸۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلْتُمْ عَلَى الْمَرِيْضِ فَنَفِّسُوا لَهُ فِيْ أَجَلِهِ فَإِنَّ ذٰلِكَ لَا يَرُدُّ شَيْئًا وَيَطِيْبُ بِنَفْسِهِ. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي تاسو ورسئ ديو ناروغ پوښتنې ته ،نو هغه ته ډاډ ورکوئ او دهغه رنځ او غم ليري کړئ ، که څه هم دا ډاډ حکم الهي نه سي منعه کولاي ، مګر دناروغ زړه خامخا خوشحالوي(ترمذي ، ابن ماجه) ترمذي ويلي چي داحديث غريب دي .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۵۹، رقم: ۲۰۸۷، وابن ماجه: ۱\۴۶۲، رقم: ۱۴۳۸.

تشريح : ځينو علماوو ليکلي دي کوم وخت چي زکندن نژدې سي نو د مريض لپاره مستحب دي چي هغه مسواک ووهي په صحيح حديثونو کي د رسول الله ﷺ په اړه نقل دي چي د وفات په وخت ښې مسواک وهلی وو او د دې حکمت ځينو حضراتو دا فرمايلی دی چي په دې سره روح وتل اسانه کيږي همداسي هغه وخت د ملائکو په وجه خوشبويي لګول مستحب دي او پاکي جامې اغوستل لمونځ کول او لمبيدل هم مستحب دي .

د نس په ناروغۍ کي مړ کېدل

﴿۱۴۸۷﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَتَلَهُ بَطْنُهُ لَمْ يُعَذَّبْ فِيْ قَبْرِهِ . رواه أحمد والترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت سليمان بن صرد رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي دنس دناروغۍ څخه مړ سي ، هغه ته دقبر عذاب نه ورکول کيږي . (احمد ، ترمذي) ويل سوي چي داحديث غريب دي .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۳\۲۶۲، والترمذي ۳\۲۷۷، رقم: ۱۰۶۴.

تشریح : د نس په ناروغۍ کي د مړ کیدونکي لپاره دا سعادت ځکه دی چي د دې مرض د سختي په وجه ګناه لیري کیږي او هغه شهید مري ځرنګه چي په تیرو صفحاتو کي ذکر سوی دی او د شهید په باره کي په صحیح مسلم کي دا حدیث نقل دی چي د شهید ټولي ګناوي بېله د بندګانو د حقوقو ځخه نور ټول بخښل کیږي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د کافر پوښتنه

﴿۱۴۸۸﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ غُلَامٌ يَهُودِيٌّ يَخْدُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس رضي الله عنه ځخه روایت دي چي یو یهودي هلک به د نبي کریم ﷺ خدمت کوئ ،

فَمَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ ﷺ يَعُودُهُ فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَقَالَ لَهُ أَسْلِمْ فَنَظَرَ إِلَى

هغه هلک ناروغ سو ، نو نبي کریم ﷺ دهغه د پوښتني لپاره تشریف یووړ ، دهغه سره کښېناستئ ، او ویې ویل : اسلام قبول کړه.

أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ فَقَالَ أَطِعْ أَبَا الْقَاسِمِ ﷺ فَأَسْلَمَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ ﷺ وَهُوَ

هلک د خپل پلار خواته وکتل ، چي دهغه سره نژدې ناست وو ، دهغه پلار وویل : دابو قاسم (نبی کریم ﷺ) اطاعت وکړه ، نو هغه هلک اسلام قبول کړ . نبی کریم ﷺ چي کله دهغه ځای ځخه وګرځېدی

يَقُولُ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ . رواه البخاري .

نو فرمایل یې : هغه لوی خدای ﷻ د هر ډول تعریف وړ دئ چي دا هلک یې د دوزخ ځخه خلاص کړ . (بخاري).

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۲۱۹، رقم: ۱۳۵۶.

تشریح : د حدیث د الفاظو : فقعد راسه ځخه معلومه سوه چي د عیادت په وخت کي د مریض د سرخواته کښېنستل مستحب دي او د دې حدیث ځخه دا هم معلومه سوه چي د کافر ذمي ځخه خدمت اخستل جائز دی او که کافر ذمي ناروغه سي نو د پوښتني لپاره ېې ورتلل جائز دي .

په کتاب خزانه کي لیکلي دي چي د یهودیانو د عیادت او پوښتني لپاره په تلو کي هیڅ حرج

نسته هو د مجوسيانو د پوښتني په باره کي د علماوو په اقوالو کي اختلاف دی همداسي د فاسق د پوښتني په باره کي که څه هم د علماوو اختلاف دی مګر صحيح دادی چي د فاسق پوښتني ته په تلو کي هيڅ حرج نسته دا حديث د نابالغ اسلام د قبلولو په باره کي د حضرت امام اعظم ابو حنيفه رح تائيد کوي ځکه چي امام موصوف فرمايي چي د نابالغ اسلام قبلول صحيح دی . علماوو ليکلي دي چي دلته په حديث کي د کوم يهودي هلک ذکر کيږي د هغه نوم عبد القدوس دی .

د ناروغ د پوښتني لپاره پر پښو تلل غوره دي

﴿۱۴۸۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ عَادَ مَرِيْضًا نَادٰى مُنَادٍ فِي السَّمَاءِ طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلاً . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي ديو ناروغ پوښتنه وکړي نو يوه ملائکه داسمان څخه اواز کوي تاته دي په دنيا او اخرت کي خوشحالي وي ، او په دنيا او اخرت کي دي ستا تلل مبارک وي او په جنت کي دي درته لويه مرتبه حاصله وي .(ابن ماجه).

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۴۶۴، رقم: ۱۴۴۳.

تشريح : اصل مقصد خو د عيادت څخه ناروغ ته رسيدل دي که هر څول وي او په هره ذريعه سره وي مګر علماء ليکي چي په دې حديث کي دې ته اشاره ده چي د ناروغ سړي پوښتني ته تلل پرپښو افضل دي .

د ناروغ د خبر ورکولو طريقه

﴿۱۴۹۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنَّ عَلِيًّا خَرَجَ مِنْ عِنْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د نبي کريم ﷺ دهغه ناروغي د حالت څخه په کوم کي چي وفات سو ، حضرت علي رضي الله عنه راستون سو ،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ وَجَعِهِ الَّذِيْ تُوُفِّيَ فِيْهِ فَقَالَ النَّاسُ يَا أَبَا حَسَنٍ كَيْفَ أَصْبَحَ

نو خلکو پوښتنه وکړه ، چي اې ابو الحسن! رسول الله ﷺ په سهار کي څنګه وو ،

رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَالَ أَصْبَحَ بِحَمْدِ اللهِ بَارِئًا . رواه البخاري

علي رضي الله عنه جواب ورکړ ، دخدای شکر دی ، سهار ورباندي ښه تير سو .(بخاري).

تخريج: صحيح البخاري ۱۱\ ۵۷، رقم: ٦٢٦٦.

تشريح: كله چي خلكو د حضرت علي رضي الله عنه څخه د رسول الله ﷺ د روغتيا په باره كي پوښتنه وكړه نو حضرت علي رضي الله عنه د دې الفاظو په ذريعه جواب وركړ د هغه مطلب دا وو چي د الله تعالى شكر دى چي اوس رسول الله ﷺ صحت ته نژدې دى د حضرت علي رضي الله عنه دا جواب يا خو د هغوى د خپل گمان مطابق وو چي هغوى دا وگڼله چي رسول الله ﷺ ژر جوړيدونكى دى يا دا چي حضرت علي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د ناروغي د احساس څخه د نااميدي باوجود دا جواب د نيك فال په توگه وركړ. علماء ليكي كله چي د عيادت كونكي څخه د مريض حال وپوښتل سي كه څه هم د ناروغه حالت خراب وي خو په دې باره كي ادب او طريقه داده چي د نيك فال په توگه همداسي د ښو اظهار يعني په خوشحالي سره جواب وركول پكار دى.

علاج د توكل خلاف نه دى

﴿۱۴۹۱﴾: وَعَنْ عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ أَلَا أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ

د حضرت عطاء بن ابو رباح رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ماته ابن عباس رضي الله عنه وويل: ايا زه تاته يوه جنتي ښځه وښيم،

أَهْلِ الْجَنَّةِ قُلْتُ بَلَى قَالَ هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

ما ورته وويل. هو! ابن عباس رضي الله عنه وويل: هغه توري ښځي چي د نبى كريم ﷺ په خدمت كي عرض كړى وو چي

وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللَّهَ لِي قَالَ إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ

يا رسول الله! پر ما باندي د ميركي څپه راځي، او دهغه په وجه زما بدن ښكاره كيږي، تاسو ماته دعا وكړئ. نبى كريم ﷺ ورته وفرمايل: كه ته غواړې نو (پر دې ناروغۍ) صبر وكړه،

الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُعَافِيَكِ فَقَالَتْ أَصْبِرُ فَقَالَتْ إِنِّي أَتَكَشَّفُ

خداى ﷻ به درته جنت دركړي، او كه غواړې زه به درته دعا وكړم، خداى ﷻ به د دې ناروغۍ څخه شفاء دركړي، هغې ښځي وويل: زه به صبر وكړم،

فَادْعُ اللَّهَ لِي أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ فَدَعَا لَهَا. متفق عليه

مګر تاسو راته دعا وکړئ ، چې د میرګي د حملې په وخت کې مې ستر ښکاره نه سي ، نو نبی کریم ﷺ ورته دعا وکړه (بخاري) .

تخریج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۱۴، رقم: ۵۶۵۲، ومسلم ۴\ ۱۹۹۴، رقم: ۵۴- ۲۵۷۶.

تشریح : د هغه ښځې نوم سعیره یا سقیره وو ، د یو روایت سره سم د غه ښځې به د ام المومنین بي بي خدیجة الکبری سره ژمونځوی .

په دې حدیث کې دې ته اشاره ده چې پر مصیبت او تکلیف باندې صبر کول او د رضا په تقدیر د اوسیدو دواء او دعاء پریښول نه دي جائز بلکه د حدیث ښکاره مفهوم خو پر دې خبره دلالت کوي چې په صبر او رضا سره همیشه په ناروغي کې اخته کیدل د صحت مند او عافیت کیدو څخه بهتر دي مګر په دې نسبت د ځینو خلکو یعني دا د هغه سړي لپاره افضل دی چې د هغه ناروغي د الله تعالی د مخلوق د ګټې وررسولو د تعطل باعث جوړ نه سي او د حدیث ښکاره مفهوم هم په دې خبره دلالت کوي چې علاج معالجه کول د ابوداود د حدیث مطابق سنت دي په هغه کې یو روایت دی چې صحابه رضی الله عنهم رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې ایا مونږ په ناروغي کې دوا کولای سو رسول الله ﷺ وفرمایل هو دارو کوئ ځکه چې الله تعالی هیڅ داسي ناروغي نه ده پیدا کړې چې د هغه دارو هې نه وي پیدا کړي ماسیوا د سپین ږیرتوب ،علماء لیکي علاج معالجه د توکل خلاف نه دي ځکه چې علاج معالجه یوازي د اسبابو په درجه کې دي داوجه ده چې رسول الله ﷺ په خپله هم علاج اختیاروی حال دا چې رسول الله ﷺ د توکل د مخه علاج معالجه پریښود ل ځرنګه چې ابوبکر رضی الله عنه پرې اینبې وه د فضیلت باعث دی .

ناروغي د ګناهو کفاره ده

﴿۱۴۹۲﴾ : وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ إِنَّ رَجُلاً جَاءَهُ الْمَوْتُ فِيْ زَمَنِ رَسُوْلِ اللّٰهِ

د حضرت یحي بن سعید رضی الله عنه څخه روایت دي چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې یو سړی مړ سو ،

ﷺ فَقَالَ رَجُلٌ هَنِيْئاً لَّهُ وَلَمْ يُبْتَلْ بِمَرَضٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَيْحَكَ

نو یوه سړی وویل ، دده وفات دي مبارک وي (داچې بې تکلیفه مړ سو) او په ناروغۍ اخته نه سو ، په دې اوږدو سره نبی کریم ﷺ ورته وویل : پرتا دي افسوس دي ،

وَمَا يُدْرِيْكَ لَوْ أَنَّ اللّٰهَ ابْتَلاَهُ بِمَرَضٍ فَكَفَّرَ عَنْهُ مِنْ سَيِّئَاتِهِ . رواه مالك مرسلا

تاته څه معلومه ده ، که خدای ﷻ په ناروغي کې اخته کړی وای ، نو دا ناروغي به د هغه د ګناهونو

کفاره سوي واى (مالک مرسلا)

تخريج: الامام مالک في الموطا ۲\ ۹۴۲، رقم: ۸.

د صابر ناروغ فضيلت

﴿۱۴۹۳﴾: وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ وَالصُّنَابِحِيِّ أَنَّهُمَا دَخَلاَ عَلٰى رَجُلٍ مَّرِيْضٍ

دحضرت شداد بن اوس او صنابحی رضی الله عنهما څخه روايت دي چي دوی دواړه ديو ناروغ پوښتني ته ورغلل،

يَّعُوْدَانِهِ فَقَالاَ لَهُ كَيْفَ أَصْبَحْتَ قَالَ أَصْبَحْتُ بِنِعْمَةٍ قَالَ شَدَّادٌ أَبْشِرْ

او هغه ته يې وويل: سهار دربانديې څنګه تير سو هغه ورته وويل دخداى شکر دئ ما په نعمت الهي باندي سهار کړ، شداد ورته وويل:

بِكَفَّارَاتِ السَّيِّئَاتِ وَحَطِّ الْخَطَايَا فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ

دګناهونو په لیري کېدو او دخطاګانو په پاکېدو سره خوشحاله سه، ځکه چي ما د نبی کریم ﷺ څخه اورېدلی دي، خداوند تعالی

عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ إِذَا أَنَا ابْتَلَيْتُ عَبْدًا مِّنْ عِبَادِيْ مُؤْمِنًا فَحَمِدَنِيْ عَلٰى مَا

فرمايي: کله چي زه يو مؤمن بنده په يوه ناروغي باندي اخته کړم او هغه پر دې ازموينه زما تعريف وکړي

ابْتَلَيْتُهُ فَإِنَّهُ يَقُوْمُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذٰلِكَ كَيَوْمٍ وَّلَدَتْهُ أُمُّهُ مِنَ الْخَطَايَا وَيَقُوْلُ

نو هغه دخپلي بسترې څخه داسي پاک ولاړ سي لکه چي دموره نن پيدا سوی وي او هيڅ ګناه دهغه پاته نه سي، او خداى ﷻ فرمايي:

الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى أَنَا قَيَّدْتُّ عَبْدِيْ وَابْتَلَيْتُهُ فَأَجْرُوْا لَهُ مَا كُنْتُمْ تُجْرُوْنَ لَهُ وَهُوَ صَحِيْحٌ. رواه احمد.

ما خپل بنده بنديې کړ، په مصيبت کي مې واچوی، او ازمائښت مې په وکړ. نو (اې) ملائکو،

تاسو دهغه په اعمال نامه کي هغه عمل وليکئ چي دهغه دروغتيا په حالت کي به مو ليکئ (اعمال صالحه). (احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱۴۳\۱۴.

ناروغي کناهونه ختموي

﴿۱۴۹۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا كَثُرَتْ ذُنُوْبُ الْعَبْدِ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ مَا يُكَفِّرُهَا مِنَ الْعَمَلِ ابْتَلَاهُ اللهُ بِالْحُزْنِ لِيُكَفِّرَهَا عَنْهُ. رواه أحمد

دحضرت بی بی عائشې رضی الله عنها څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي ديو بنده کناهونه زيات سي، دهغه په اعمالو کي څه داسي شي پاته نه وي، چي د هغه د کناهونو کفاره سي، نو خدای ﷻ يې په درد غم او مصيبت کي اخته کوي، چي په دې سره دهغه دکناهونو کفاره سي (احمد).

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱۵۷\۶.

تشريح: په يو روايت کي چي طبراني او حاکم نقل کړی دی دا نقل دي چي الله تعالی هر غمجن زړه خوښوي.

د ناروغ د پوښتني ثواب

﴿۱۴۹۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ عَادَ مَرِيْضًا لَّمْ يَزَلْ يَخُوْضُ الرَّحْمَةَ حَتّٰى يَجْلِسَ فَإِذَا جَلَسَ اغْتَمَسَ فِيْهَا. رواه مالك وأحمد.

دحضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي ديوه ناروغ پوښتنه کوي. هغه درحمت په درياب کي داخليږي، تر دې چي کښېني، کله چي دناروغ سره کښېناستي نو درحمت په درياب کي ډوب سي. (مالک، احمد)

تخريج: الامام مالک في الموطا ۹۴۶\۲، رقم: ۱۷، والامام احمد في مسنده ۳۰۴\۱۲.

د تبي علاج

﴿۱۴۹۶﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ إِذَا أَصَابَ أَحَدَكُمُ الْحُمَّى فَإِنَّ الْحُمَّى

ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې دچا تبه سي، او تبه

قِطْعَةٌ مِنَ النَّارِ فَلْيُطْفِئْهَا عَنْهُ بِالْمَاءِ فَلْيَسْتَنْقِعْ نَهْرًا جَارِيًا لِيَسْتَقْبِلَ

د اوريوه توته ده، نو هغه ته پکار ده، چې په اوبو سره يې يخه کړي يعني روانو اوبو ته دننه ورسي او د اوبو دبهېدو پر لور ودريږي،

جِرْيَتَهُ فَيَقُولُ بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ وَصَدِّقْ رَسُولَكَ بَعْدَ صَلَاةِ

بيا دي دا کلمات ووائي: بسم الله.....رسولک (زه دخداى ﷻ په پاک نامه سره شفاء غواړم. اى الله ته دې بنده ته شفاء ورکړې او دخپل رسول قول ريښتينى کړې) او دا عمل دسهار دلمانځه څخه وروسته

الصُّبْحِ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ فَلْيَغْتَمِسْ فِيهِ ثَلَاثَ غَمَسَاتٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنْ

دلمر ختو څخه مخکې وکړي او په دريابو کې دري غوتې ووهي، او دري ورځې دي دا کار وکړي

لَمْ يَبْرَأْ فِي ثَلَاثٍ فَخَمْسٍ وَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي خَمْسٍ فَسَبْعٌ فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي سَبْعٍ

که ددرو ورځو پورې ارام نه راغې نو تر پنځو ورځو دي دا کار وکړي، که پنځه ورځو کې ارام او سکون رانه غې نو اوو ورځو پورې دي دا کار کوي او که تر اوو ورځو پورې سکون حاصل نه سي

فَتِسْعٍ فَإِنَّهَا لَا تَكَادُ تُجَاوِزُ تِسْعًا بِإِذْنِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ. رواه الترمذي و قال

هذا حديث غريب

نو تر نهو ورځو پورې دي دغه کار وکړي، دخداى ﷻ په فضل او مهرباني سره به تبه دنهو ورځو څخه زياته نه پاته کيږي (ترمذي) په ترمذي کې ويل سوي چې دا حديث غريب دي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۳۵۷، رقم: ۲۰۸۴.

تشريح: لفظ ولينغمس په اصل کې (فليستنقع) په ويالې کې د غورځيدو بيان دى نو د دې عبارت څخه دا معنې هم اخيستل کيږي چې دري غوتې په درو ورځو کې ووهي او دا معنى هم

محتمل کیدای سي چي هره ورځ دري دري غوتې ووهي .

په پورتني حدیث کي د تبي لپاره چي کوم علاج تجویز کړل سوی دی هغه علاج مخصوص دی یعني د هري تبي لپاره دا علاج کارکونکی نه دی بلکه د دې تعلق د ژړي تبي د ځینو اقسامو سره دی چي په هغه کي اهل حجاز اخته وي په ځني تبو کي د اوبو د استعمال څخه نه یوازي دا چي مضر وي بلکه د هلاکت باعث وي ځکه په هري تبي کي د علاج دا طریقه اختیارول نه ده پکار هو که په یوې تبي کي مسلکي طبیب او باوري ډاکټر اجازت ورکړي نو بیا پر هغه طریقه باندي عمل کول پکار دي .

په دې اړه خطابي رحمة الله علیه یوه واقعه لیکلې ده چي یو سړی په داسي تبي کي اخته سو چي په هغه کي د اوبو استعمال ضرر مند وو خو هغه په ناپوهي کي په اوبو کي غوټه ووهله نتیجه دا سوه چي حرارت یې په بدن کي ودریدی نو هغه دومره سخت ناروغه سو چي هلاکت ته نژدې سو بیا چي په څه نا څه طریقه ښه سو نو ظالم په دې نه سو پوه چي د حدیث په معني د نه پوهیدو په وجه خپله په مصیبت کي ومښتلو البته پخپله د حدیث په باره کي که هغه په دې پوهیدی چي دا حکم د هر قسم تبي لپاره نه دی بلکه د ځینو خاصو تبو لپاره دی .

تبي ته بد مه وایاست

﴿۱۴۹۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ ذُكِرَتِ الْحُمَّى عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دي چي د رسول الله ﷺ په حضور کي د تبي ذکر وسو ،

وَسَلَّمَ فَسَبَّهَا رَجُلٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبَّهَا فَإِنَّهَا تَنْفِي

یوه سړی تبي ته بد وویل ، نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل : تبي ته بد مه وایه ، دانسان ګناهونه داسي پاکوي ،

الذُّنُوْبَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ . رواه ابن ماجه .

څنګه چي اور اوسپنه د خیرو څخه پاکوي . (ابن ماجه)

تخریج: سنن ابن ماجه ۲\۱۱۴۹، رقم: ۳۴۶۹.

تشریح : مطلب دادی هر کله چي تبه ګناهونه لیري کوي نود عقل او دانش تقاضا داپکار ده چي د تبي په معامله کي د شکر څخه کار اخیستل پکار دي، دانه چي نا شکري وکړل سي مشائخو رح لیکلي دي چي په درد او مصیبت کي هم داسي د الله تعالی شکر پکار دی څنګه

چي په نعمت او راحت کي د الله تعالى شکر ادا کول کيږي ځکه چي خداوند قدوس کله پر چا يوه بلا نازلوي نو په هغه بلاء کي هم د هغه څه نا څه رحمت پټ وي .

تبه د دوزخ د اور بدله ده

﴿۱۴۹۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَادَ مَرِيْضًا فَقَالَ أَبْشِرْ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ ديوه ناروغ پوښتنه وکړه ، او ورته يې وفرمايل : تا ته دي زيرى وي ،

فَإِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ هِيَ نَارِيْ أُسَلِّطُهَا عَلٰى عَبْدِيْ الْمُؤْمِنِ فِي الدُّنْيَا لِتَكُوْنَ

خداى ﷻ فرمايي : تبه زما اور ده ، زه هغه پر خپل يوه بنده په دې وجه ور ولم چي هغه تبه

حَظَّهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه أحمد وابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان

د قيامت په ورځ د هغه لپاره د دوزخ داور بدله وګرځيږي .(احمد ، ابن ماجه ، بيهقي شعب الايمان)

تخريج : الامام احمد في مسنده ۲\ ۴۴۰، وابن ماجه ۲\ ۱۱۴۹، رقم: ۳۴۷۰، والبيهقي في شعب الايمان ۷\ ۱۶۱، رقم: ۹۸۴۴.

تشريح : مطلب دادى چي په قرآن مجيد کي د الله تعالى دا ارشاد دى (وان منكم الا واردها) يعني په تاسو کي هيڅ څوک داسي نسته چي د قيامت په ورځ په دوزخ کي نه واچول سي خو مومن بنده د دې د داخليدو په بدله کي د دنيا په تبه کي اخته کيږي همداسي هغه به د تبي په وجه د عذاب څخه چي دوزخ کي د داخليدو په وجه وي که څه هم داخليدل يې په دې توګه د ټولو لپاره وي چي پل صراط به د دوزخ پورته قائم کړل سي او پر هغه به ټول خلک تيريږي .

د پورتنۍ تشريح سره سم په حديث کي لفظ مومن سره د کامل قيد لګول پکار دي د دې مطلب به دا وي چي د حديث مفهوم تعلق د کامل مومن سره دى ځکه چي ځيني ګنهګاران مومنان به هم د دوزخ د اور په عذاب کي اخته کول کيږي همداسي هغه مومن چي د خپلو ګناهونو په وجه د دوزخ په عذاب کي اخته کيږي د حديث مفهوم او د مصداق څخه به خارج وي .

ناروغي د ګناهو د بخښني ذريعه ده

﴿۱۴۹۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ إِنَّ الرَّبَّ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى يَقُوْلُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي :

وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لاَ أُخْرِجُ أَحَدًا مِنَ الدُّنْيَا أُرِيْدُ أَغْفِرُ لَهُ حَتّٰى أَسْتَوْفِيَ كُلَّ

زما دي په خپل عزت او لويي سره قسم وي ، څوک چې زه د دنيا څخه پاک صاف او بې ګناه پورته کول غواړم هغه ته دهغه د ګناهونو په دنيا کې پوره بدله ورکوم

خَطِيْئَةٍ فِيْ عُنُقِهِ بِسَقَمٍ فِيْ بَدَنِهِ وَإِقْتَارٍ فِيْ رِزْقِهِ . رواه رزين .

د ګناهونو چې دده پر غاړه وي . يعنی هغه په ناروغي کې اخته کوم او دهغه په رزق کې کمي راولم . (رزين) .

تخريج: رواه رزين.

تشريح : د الله تعالى د ارشاد مطلب دادی چې کوم بنده زه د آخرت په ابدي سعادت سره پالل ېې غواړم نو د هغه د ګناهونو سزا په دنيا کې په دې توګه ورکوم چې کله خو هغه په ناروغي کې اخته کوم کله د مال او رزق تنګي پر هغه مسلطوم نو هغه به بخښل کيږي او د آخرت د عذاب څخه به ساتل کيږي حاصل دا چې فقر او ناروغي او درد او مصيبت ګناهونه ليرې کوي .

د ابن مسعود رضي الله عنه واقعه

﴿۱۵۰۰﴾: وَعَنْ شَقِيْقٍ قَالَ مَرِضَ عَبْدُ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ فَعُدْنَاهُ فَجَعَلَ يَبْكِيْ

د حضرت شقيق رضي الله عنه څخه روايت دي چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ناروغ سو ، مونږ د هغه پوښتنې ته ورغلو ، نو هغه مونږ ته په ژړا سو ،

فَعُوْتِبَ فَقَالَ إِنِّيْ لاَ أَبْكِيْ لِأَجْلِ الْمَرَضِ لِأَنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ

خلکو هغه ملامت کړ ، هغه وويل . زه دناروغۍ له کبله نه ژاړم، ځکه چې ما د نبی کريم ﷺ څخه اورېدلي دي،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَلْمَرَضُ كَفَّارَةٌ وَإِنَّمَا أَبْكِيْ أَنَّهُ أَصَابَنِيْ عَلٰى حَالِ فَتْرَةٍ وَّ

چې فرمايل يې: ناروغي د ګناهونو کفاره کيږي ، بلکه په دې ژاړم چې دسپين ږيرتوب په ورځو کې زه ناروغ سوم ،

لَمْ يُصِبْنِيْ فِيْ حَالِ اِجْتِهَادٍ لِأَنَّهُ يُكْتَبُ لِلْعَبْدِ مِنَ الْأَجْرِ إِذَا مَرِضَ مَا كَانَ

دځواني په ورځو کي ناروغ نه سوم، چې ما اعمالو دپاره بهترینه زمانه وه، او انسان چې ناروغه سي،

يُكْتَبُ لَهُ قَبْلَ أَنْ يَّمْرِضَ فَمَنَعَهُ مِنْهُ الْمَرَضُ . رواه رزين .

نو دهغه دناروغي په ورځو کي دهغه هغه اعمال لیکل کیږي کوم چې هغه دصحت په وخت کي کول ، دې ناروغي زه ددې ثواب څخه محرومه کړي یم . (رزین) .

تخریج: رواه رزین.

تشریح : د ځواني په ورځو کي د صحت او روغتیا په حالت کي نیک عمل ډیرزیات وي ځکه چې د دې بشارت مطابق چې الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د ناروغۍ په حالت کي د ناروغه بنده په اعمالنامه کي ملائکو ته د هغه اعمالو د لیکلو حکم ورکوي کوم چې د هغه د جوړتیا په حالت کي کول او اوس د ناروغي په وجه ېې نه سي کولای د ځواني د ورځو په ناروغیو کي چې د کوم ثواب اعمالو ثواب لیکل کیږي ځکه ابن مسعود ﷺ فرمایي کاشکي چې زه د ځواني په ورځو کي ناروغه سوی واي چې زما په اعمال نامه کي زیات ثواب لیکل کیداي .

عیادت کله کول پکار دی

﴿۱۵۰۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَعُوْدُ مَرِيْضًا إِلاَّ بَعْدَ ثَلاَثٍ . رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان .

دحضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ به دري ورځي وروسته د ناروغ پوښتنه کول . (ابن ماجه ، بیهقي درشعب الایمان)

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ۴۶۲، رقم: ۱۴۳۷، والبیهقي في شعب الایمان ۶\ ۵۴۳، رقم: ۹۲۱۶.

تشریح : مطلب دادی چې د ناروغ کیدو دري ورځي وروسته د مریض د پوښتني لپاره به رسول الله ﷺ تشریف وړی په دې اړه تر څو پوري چې د دې مسئلې سره تعلق دی جمهور علماء په دې خبره متفق دی چې عیادت په زمانه سره نه دی مقید کله چې غواړي ودې ېې کړي که مخکې ېې وکړي یا وروسته ځیني حضرات خو وایي چې دا حدیث ضعیف دی بلکه ځینو حضراتو خو دا حدیث د ځان څخه جوړ سوی بولي .

د ناروغ څخه دعاء وغواړئ

﴿۱۵۰۲﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى مَرِيْضٍ فَمُرْهُ يَدْعُوْ لَكَ فَإِنَّ دُعَاءَهُ كَدُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ. رواه ابن ماجه.

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې ته دیوه ناروغ پوښتنې ته ورسې نو هغه ته دا ووایه چې ما ته دعا وکړه، ځکه چې دهغه دعا د ملائکو د دعا په ډول وي. (ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۱/ ۴۶۳، رقم: ۱۴۴۱.

تشريح: د مریض دعاء د ملائکو د دعاء په ډول کړځول سوی دی ځکه چې د ناروغه سړي خو د ملائکو سره ډیر مشابهت وي په دې توګه چې څنګه ملائکي د ګناهونو څخه پاکي وي همیشه د الله تعالی په یاد کې اخته وي او هروخت په بارګاه رب العزت کې دعاء مناجات او التجاء کوي همداسې ناروغه هم د ګناهونو څخه ساتل کیږي هر وخت د الله تعالی خواته متوجه وي او دعاء، زارئ، او التجاء کې مصروفه وي.

د ناروغ په مخکې شور مه کوئ

﴿۱۵۰۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ تَخْفِيْفُ الْجُلُوْسِ وَقِلَّةُ الصَّخَبِ

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: داکار سنت دئ چې د ناروغ سره کم کښېنئ او شور مه کوئ،

فِي الْعِيَادَةِ عِنْدَ الْمَرِيْضِ قَالَ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا كَثُرَ

د رسول الله ﷺ د ناروغي په زمانه کې هرکله چې خلکو شور جوړ کړ او اختلاف یې وکړ، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل:

لَغَطُهُمْ وَاخْتِلَافُهُمْ قُوْمُوْا عَنِّيْ. رواه رزين.

زما څخه ولاړ سئ. (رزين)

تخريج: رواه رزين.

تشريح: د ابن عباس رضي الله عنه د ارشاد څخه دا معلومه سوه چې د پوښتنې د ادبونو څخه یو ادب دادی چې د ناروغه سره د پوښتنې په وخت کې یوازې دومره وخت کښېنستل پکار دي چې په

هغه کي د ناروغه سړي احوال معلوم کړل سي او د هغه د حالاتو او کيفياتو علم وسي ګويا د هغه سره خامخا تر زيات وخته پوري په کښېنستلو سره د ناروغه سړي پر مزاج بوج راوړل نه دي پکار هلته داهم معلومه سوه چي د ناروغه سره په کښېنستلو سره شور کول هم مکروه دي د روايت د دوهم جز تفصيل د ابن عباس رضي الله عنه د روايت په رڼا کي چي په بخاري کي روايت دي دادي چي رسول الله ﷺ د خپل ژوند په اخري ورځو کي هر کله چي په مرض اخته سو او د وفات وخت ېې رانژدې سو په دې وخت کي د رسول الله ﷺ سره ډير خلک جمع وه چي په هغوی کي حضرت عمر رضي الله عنه هم وو رسول الله ﷺ وفرمايل قلم او سياهي راوړئ زه تاسو ته يوه وصيت نامه ليکم چي زما وروسته په ګمراهي کي اخته نه سئ د دې په اوريدو سره حاضرين په مخاطب کولو سره حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل معلوميږي چي دا وخت په رسول الله ﷺ د مرض شدت ډير غالب دی ځکه چي رسول الله ﷺ د وصيت نامه ليکلو لپاره فرمايي کنې د وصيت نامه څه ضرورت دی ځکه چي ستاسو سره قرآن کريم موجود دی او کتاب الله ستاسو لپاره کافي دی د دې وروسته اهل بيت او نورو خلکو خپله خپله خبره شروع کړل چا به ويل قلم او سياهي راوړل پکار دي چي رسول الله ﷺ ستاسو لپاره وصيت نامه وليکي ځينو خلکو به د حضرت عمر رضي الله عنه د خبري تائيد کولو غرض په دې اړه کي څه بحث مباحثه زياته سوه او د خلکو رابې شور اختيار کړ نو رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو تول خلک زما څخه ليري سئ د دې صورت واقعه څخه روافض دا نتيجه اخلي چي رسول الله ﷺ په هغه وصيت نامه کي د خلافت په باره کي څه ليکل غوښتل (مثلا زما وروسته په خليفه اول علي رضي الله عنه مقرر کړل سي) مګر حضرت عمر رضي الله عنه رسول الله ﷺ د دې څخه منعه کړل.

علامه ابن حجر رحمة الله عليه د دې جواب دا ورکړی دی چي د روافضو دا نتيجه اخذ کول صحيح نه ده ځکه چي د دې واقعې حقيقت خو دا ووچي رسول الله ﷺ چي د وصيت نامه ليکلو لپاره اراده وکړله او په حاضرينو کي اختلاف پيدا سو نو د رسول الله ﷺ په زړه کي دا خبره راغله مصلحت دادی چي څه وصيت نامه ونه ليکل سي رسول الله ﷺ د حضرت عمر رضي الله عنه د ويلو په وجه نه بلکه خپله په خپل اختيار سره نه يوازې دا چي هغه وخت وصيت نامه ونه ليکله بلکه د ليکلو اراده ېې هم پرېښوله ځکه که رسول الله ﷺ د يوشي ليکلو پخه اراده کړې واي نو د حضرت عمر رضي الله عنه بل څه مجال وو چي د رسول الله ﷺ د فيصلې په لاره کي خنډ جوړ نسي رسول الله ﷺ د دې واقعې وروسته تر دردو ورځو پوري ژوندئ وو او په دا دردو ورځو کي د رسول الله ﷺ سره حضرت عمر رضي الله عنه او نور صحابه موجود نه وه بلکه اهل بيت مثلا حضرت علي رضي الله عنه حضرت عباس رضي الله عنه

وغیرهما په بارګاه رسالت کي موجود وه که رسول الله ﷺ په دې وخت د خلافت په باره کي څه وصیت نامه لیکلو کي مصلحت ګڼی نو خامخا به ېې لیکلي وای بیا دا چي رسول الله ﷺ د خلافت په باره کي داسي طریقه اختیار کړله چي په هغه کي د څه شک او شبهې او تاویل ګنجائش نه و پاته رسول الله ﷺ په خپلو اخري ورځو کي حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته په لمانځه کي د خلکو امام مقرر کړ په دې وجه حضرت علي رضی الله عنه د صدیق اکبر رضی الله عنه په لاس د بیعت کولو لپاره د خلکو په مخکي تقریر وفرمایه چي د رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر رضی الله عنه زموږ د دین لپاره منتخب کړ یعني په لمانځه کي زموږ امام ېې مقرر کړ نو ایا مونږ دي هغوی د خپلي دنیا لپاره ولي منتخب نه کړو، رسول الله ﷺ چي ابوبکر رضی الله عنه په لمانځه کي د خلکو د امام جوړولو لپاره راوغوښتی نو هغه وخت زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم او رسول الله ﷺ زه لیدم خو رسول الله ﷺ زه امام نه کړم مقرر حضرت ابوبکر رضی الله عنه د هغو خلکو څخه نه دی چي د هغوی په باره کي د حق تعالی دا ارشاد دی (لایخافون لومة لائم) یعني دا خلک د ملامت کونکي د ملامتیا څخه نه ېږېږي.

نقل دي چي ابوسفیان ابن حرب پر یوه موقع باندي حضرت علي رضی الله عنه ته وویل که ته غواړې نو زه به د ابوبکر رضی الله عنه سره د جنګ لپاره د مدیني میدان د آسونو او پیادو څخه ډک کړم نو حضرت علي رضی الله عنه د ابوسفیان په دې خبره خوابدی سو او هغه ته ېې ډیر بدو رد وویل چي نه یوازي ابوسفیان بلکه نور خلک هم پوه سي چي د ابوبکر رضی الله عنه خلافت د منشاء نبوت د مطابق کیدو په وجه دومره مستحکم او حقیقي دی چي په دې کي یوه ذره برابر د شک اوګمان ګنجائش نسته.

د دې څخه معلومه سوه چي نه خو هغه وخت رسول الله ﷺ د حضرت علي رضی الله عنه د خلافت په باره کي د څه لیکلو اراده فرمایلې وه او نه خپله د حضرت علي رضی الله عنه په ذهن کي دا خبره وه چي زه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه څخه مخکي یم او خلافت زما حق دی که حضرت علي رضی الله عنه پر حضرت ابوبکر رضی الله عنه فضیلت درلود او د خلافت مخکي د هغه حق دی نو رسول الله ﷺ به ضرور د دې وصیت کړی وای خو دې خوا ته ېې اشاره هم نه ده فرمایلې هر کله چي حضرت ابوبکر رضی الله عنه په لمانځه کي د خلکو امام په مقررولو سره دې خواته څرګنده اشاره فرمایلې وه چي زما وروسته به ابوبکر رضی الله عنه خلیفه وي.

د ناروغ سره ډير مه کښينئ

﴿۱۵۰۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلْعِيَادَةُ فَوَاقُ نَاقَةٍ، وَفِيْ رِوَايَةِ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلاً أَفْضَلُ الْعِيَادَةِ سُرْعَةُ الْقِيَامِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: دناروغه د پوښتني وخت داوښي دلوشلو په ډول دئ (څومره وخت چې داوښي دلويشلو څخه وروسته تر دوهم وار لوښلو پوري وي هغومره وخت دئ. او دسعيد بن مسيب په روايت کې دا الفاظ سته. چې تر ټولو افضله دناروغه پوښتنه هغه ده، چې په هغه کې څوک ژر ولاړ سي. بيهقی

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦\ ٥٤٣، رقم: ٩٢٢٢.

د لغاتو حل: (فُواق ناقة): اى مقدار مابين الحلبتين، لانها تحلب ثم تترک سويعة يرضعها الفصيل لتدر ثم تحلب.

تشريح: د اول حديث حاصل دادی چې د اوښي شيدې دوه يا درې واره لوښل کيږي د هغه طريقه دا ده چې يو وار شيدې لويشل بيا لږ دريدل او بچی ېې د تيانو سره لګول چې شيدې ښه را ايله سي بيا د هغه وروسته لوښل شروع کړي همداسي دوه واره په منځنی وقفه ډيره لږه وي نو د عيادت يعني پوښتني په باره کې فرمايل سوي دي هر کله چې څوک ډير زيات مريض ته ورسي نو د هغه لپاره افضل دادی چې هغه د مريض سره تر زيات وخته پوري نه کښيني بلکه دوه واره د شدو لوښلو د منځنی وقفې په اندازه کښيني چې ناروغه ته تکليف نه ورورسيږي. په کتابونو کې د يوسړي واقعه نقل ده وايي موږ د حضرت سري سقطي رضي الله عنه پوښتني ته ورغلو چې هغه د مرګ په مرض اخته وو مونږ د هغه سره تر ډيره وخته پوري ناست وو هغه وخت د هغه پر نس ډير زيات درد وو مونږ هغه ته وويل چې زمونږ لپاره دعا وکړه هغه وفرمايل اې الله دې خلکو ته د ناروغه د پوښتني کولو اداب او طريقه وروښوې ګويا هغه د دې دعا څخه دې خواته اشاره وفرمايله چې د ناروغه پوښتني ته ولاړ سئ نو تر زيات وخته پوري مه ورته کښېنئ بلکه لږ ساعت په ناستي سره په پوښتني کولو سره بيرته ولاړ سئ.

هو که څوک پوښتنه کونکی په دې پوه سي چې پر ناروغه سړي باندې د هغه زياته ناسته بوج کيږي نه بلکه د اندېوال کيدو په حيثيت سره يا د برکت حاصلولو په غرض يا د خدمت او

دينداري په وجه د مريض خپل خواهش داوي چې دی دي د هغه سره تر زياته وخته پوري کښيني نو په دې اړه ژر پورته کيدل به افضل نه وي.

ناروغ ته د هغه د خوښې شی ورکول

﴿۱۵۰۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ عَادَ رَجُلاً فَقَالَ لَهُ مَا تَشْتَهِيْ؟ قَالَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دي چې نبی کريم ﷺ ديوه ناروغ پوښتنه وکړه، د هغه څخه يې پوښتنه وکړه، څه ته دی هوا کيږي هغه عرض وکړ

أَشْتَهِيْ خُبْزَ بُرٍّ. قَالَ النَّبِيُّ ﷺ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ خُبْزُ بُرٍّ فَلْيَبْعَثْ إِلَى أَخِيْهِ

د غنمو ډوډی ته، رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا سره چې د غنمو ډوډی وي خپل ورور ته دي راوغواړي.

ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا اشْتَهَى مَرِيْضُ أَحَدِكُمْ شَيْئًا فَلْيُطْعِمْهُ. رواه ابن ماجه

د دې څخه وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې کله ديوه ناروغ ديوه شي خواهش وي نو هغه په وخوړئ. (ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۱/۴۶۳، رقم: ۱۴۳۹.

تشريح: د خواهش څخه مراد خواهش صادق (ريښتونی خواهش) دی او هغه د روغتيا نښه وي، ځينو ناروغانو ته د هغه شي خوړل چې تاوان کونکي نه وي او په اندازه کې لږ وي او داسي نه وي چې د هغه د تاوان او ضرر ارخ غالب وي، نو خلاصه داده چې د دغه حديث دا حکم (اذا اشتهى فليطعمه) په کلي او عامه توګه باندي نه دی بلکه په جزئي او انفرادي توګه دی، د دې مطلب دادی چې د هر ناروغ سره دا معامله کول نه دي پکار چې هغه څه غواړي که څه هم د روغتيا لپاره تاواني وي هغه دي ورکړل سي بلکه په ځينو خاصو حالاتو کې که يو ناروغ د يو داسي شي خواهش وکړي چې په هغه کې د تاوان او ضرر ارخ غالب نه وي او دا چې دا اکثر د هغه خلاف نه وي نو هغه شی ناروغ ته ورکول پکار دي.

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چې دا حکم پر توکل يا د ژوند څخه پر مايوسۍ باندي مبني دی يعني د کوم ناروغ چې د ژوند اميد پاته نه وي نو د هغه په اړه فرمايل سوي دي چې څه غواړي هغه ورکول پکار دي.

د مسافري په حالت کي مرګ

﴿۱۵۰۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ تُوُفِّيَ رَجُلٌ بِالْمَدِيْنَةِ مِمَّنْ وُلِدَ بِهَا

دحضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي په مدينه کي يو سړی مړ سو ،او په مدينه کي پيدا سوئ وو ،

فَصَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَالَيْتَهُ مَاتَ بِغَيْرِ مَوْلِدِهِ قَالُوْا

نبی کريم ﷺ هغه ته د جنازې لمونځ ورکړ، او بيا ئې وفرمايل: کاشکي دی په خپل پيدائشي ځای کي مړسوی نه وای !صحابه کرامو عرض وکړ ،

وَلِمَ ذَالِكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا مَاتَ بِغَيْرِ مَوْلِدِهِ قِيْسَ لَهُ مِنْ

يا رسول الله ! ولي؟ نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل :کله چي يو سړی د خپل وطنه څخه دباندي مړ سي ،

مَوْلِدِهِ إِلٰى مُنْقَطَعِ أَثَرِهِ فِي الْجَنَّةِ . رواه النسائي وابن ماجه .

نو د مرګ د ځايه څخه بيا تر پيدائشي ځايه پوري هغه ته په جنت کي ځاي په برخه کيږي (نسائي ،ابن ماجه)

تخريج: سنن النسائي ۴\ ۷ – ۸، رقم: ۱۸۳۱، وابن ماجه ۱\ ۵۱۵، رقم: ۱۶۱۴.

تشريح : مطلب دادی چي کوم سړی د وطن څخه ليري د سفر په حالت کي مړ کيږي نو د هغه د وطن او د هغه د مرګ تر ځايه پوري په مابينځ کي چي څومره مسافت وي د هغه په اندازه ځاي هغه ته په جنت کي ورکول کيږي مګر د دې په باره کي صحيح دا معلوميږي چي د سفر څخه مراد د اطاعت سفر يعني جهاد وغيره دی د دې مطلب دادی چي دا اجر او انعام هغه سړي ته ورکول کيږي چي د جهاد لپاره يا د ديني تعليم حاصلولو لپاره يا دا ډول د يو بل بامقصد او بامطلب کار لپاره د وطن څخه ليري راوتلی وي .

﴿۱۵۰۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْتُ غُرْبَةٍ شَهَادَةٌ . رواه ابن ماجه

دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي : په سفر کي مرګ شهادت دئ (ابن ماجه)

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۵۱۵، رقم: ۱۶۱۳.

﴿۱۵۰۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې مړ سي

مَرِيْضاً مَاتَ شَهِيْدًا وَ وُقِيَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَغُدِيَ وَرِيْحَ عَلَيْهِ بِرِزْقِهِ مِنَ الْجَنَّةِ.

رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان.

د ناروغۍ په حالت، نو د شهادت درجه حاصلوي، د قبر د فتنې څخه محفوظ کيږي او سهار او مابنام هغه ته همېشه د جنت رزق حاصليږي. (ابن ماجه، بيهقي.

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۵۱۵، رقم: ۱۶۱۵، والبيهقي في شعب الايمان ۷\ ۱۷۴، رقم: ۹۸۹۷.

تشريح: د مشكوة شريف په صحيح نسخو كي لفظ د مريضا ليكل سوى دى مګر په ځينو نسخو كي په تغير كولو سره د مريضا پر ځاي لفظ غريبا ليكل سوى دى مګر صحيح په ابن ماجه كي لفظ مرابطا نقل دى ځكه ميرک رح د مشكوة د خپلي نسخې په حاشيه كي دا لفظ صوابه مرابطا يعني صحيح لفظ مرابطا دي ليكلو سره د هغه لاندي ليكلي دي چې كذا في سنن ابن ماجه في باب ماجاء من مات مرابطا مات شهيدا بيا دا چې د لفظ مريضا په باره كي علماوو خو ليكلي دي چې د مرض څخه مراد عام مرض دى هر كله چې ځينو حضراتو په خاص مرض سره لكه استسقاء مراد اخستى دى مګر ملا علي قاري رح فرمايي چې دلته ددې قيد اېښولو ضرورت نسته بلكه دا ويل كيداى سي چې دلته د راوي څخه غلطي سوې ده ځكه چې د حديث الفاظ من مات مرابطا دى نه چې من مات مريضا.

د طاعون مرګ د شهادت مرګ دى.

﴿۱۵۰۹﴾: وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

دحضرت عرباض بن ساريه رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَخْتَصِمُ الشُّهَدَاءُ وَالْمُتَوَفَّوْنَ عَلٰى فُرُشِهِمْ إِلٰى رَبِّنَا فِي الَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنَ

شهيدان او هغه خلک چې پر خپله بستره مړه سي، د دواړو به د خداى ﷻ په حضور كي سره

جگړه سي ، کوم چې په طاعون مړه سوي وي

الطَّاعُوْنِ فَيَقُوْلُ الشُّهَدَاءُ إِخْوَانُنَا قُتِلُوْا كَمَا قُتِلْنَا وَيَقُوْلُ الْمُتَوَفَّوْنَ إِخْوَانُنَا

شهيدان به وايي چې دا زموږ وروڼه دي يعني زموږ مشابه دي ، زموږ په شان د طاعون دلاسه شهيدان سوي دي ،

مَاتُوْا عَلٰى فُرُشِهِمْ كَمَا مُتْنَا فَيَقُوْلُ رَبَّنَا انْظُرُوْا إِلٰى جِرَاحَتِهِمْ فَإِنِ أَشْتَبَهَتْ

او کوم خلک چې په خپلو بسترو مړه سوي وي ، هغوی به وايي ، چې دا زموږ وروڼه دي ، څنګه چې موږ په بسترو مړه سوي يو ، همدغسي دوی هم په خپلو بسترو مړه سوي دي . ددې جګړو په اوږدو سره الله ﷻ به وفرمائي : ښه ده ، ددوی زخمونه وګورئ ،

جِرَاحُهُمْ جِرَاحَ الْمَقْتُوْلِيْنَ فَإِنَّهُمْ مِنْهُمْ وَمَعَهُمْ فَإِذَا جِرَاحُهُمْ قَدْ أَشْبَهَتْ جِرَاحَهُمْ : رواه أحمد والنسائي .

که ددوی زخمونه د شهيدانو د زخم په شان وي نو دوی په شهيدانو کې دي او دهغوی په شان د ثواب وړ دي ، وبه کتل سي ، نو دهغوی (طاعون والا) زخمونه به د شهيدانو د زخم په ډول وي . (احمد ، نسائي).

تخريج : الامام احمد في مسنده ۱۲۸\۴ ، ۱۲۹ ، والنسائي ۳۶\۶ ، ۳۷ ، رقم: ۳۱۶۲ .

تشريح : د الله تعالى په دربار کې د طاعون څخه د مړه کېدونکو په باره کې د شهدا وو دليل دادی چې څرنګه مونږ قتل کړل سو همداسي دوی هم قتل کړل سوي دي د دې مطلب دادی چې څنګه مونږ د دين دشمنانو او د کفارو د لاسه په زخمي کيدو سره مړه سوي يو همداسي دوی هم د پيريانو د لاسه په زخمي کيدو سره مړه سوي دي ځکه چې علماوو ليکلي دي ډير واره طاعون زده ته دا محسوسيږي لکه څوک چې هغه په نېزو سره وهي ځکه دې مرض ته د طاعون نوم ورکول سوی دی چې د طعن څخه مشتق دی چې د هغه معنې ده نېزه وهل د دې حديث څخه معلومه سوه چې کوم سړی د طاعون په ناروغۍ مړ سي هغه د شهيدانو څخه دی ځکه چې د قيامت په ورځ به د هغوی سره وي .

د طاعون څخه تښتته

﴿۱۵۱۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْفَارُّ مِنَ الطَّاعُوْنِ كَالْفَارِّ مِنَ الزَّحْفِ وَالصَّابِرُ فِيْهِ لَهُ أَجْرُ شَهِيْدٍ. رواه أحمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۳\ ۳۵۲.

تشريح: طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي مشابهت د ګناه کبيره په اعتبار دی يعني څنګه چي د کفارو د مقابلې څخه تښتېدونکی په ګناه کبيره کي اخته کيږي همداسي د طاعون څخه تښتېدونکی هم په ګناه کبيره کي اخته کيږي او ددې عقيدې په درلودلو سره د طاعون زده علاقې څخه تښتيدل که زه دلته وتښتم نو سلامت به سم که ونه تښتم مړ به سم کفر دی په ښکاره د حديث څخه معلوميږي چي په طاعون کي صبر کونکي ته د شهيد ثواب حاصليږي که څه هم په هغه کي مړ نه سي.

بَابُ تَمَنِّي الْمَوْتِ وَ ذِكْرِهِ

د مرګ غوښتنه او د هغه يادونه

د بدني تکليف، مصيبت او دنيوي ضرر او تاوان مثلاً تنګدستي او د نورو بلاګانو او پريشانيو په وجه د مرګ خواهش کول مکروه دي ځکه چي دا د بې صبرۍ او په تقدير الهي باندي د نه راضي کېدو ښکاره ده، د الله تعالى د دېدار شوق او ددې فاني دنيا او د هغې سره محبت د پېدا کېدو څخه نجات دارالبقاء ته د رسيدو ارزو او هلته د نعمتونو په ارمان کي د مرګ خواهش د ايمان او کمال ايمان ښکاره ده همداسي د دين تاوان او ضرر د بيري څخه هم د مرګ خواهش کول مکروه نه دي.

مرګ ياد ساتل په اصل کي کنايه ده د دې خبري څخه چي د الله رب العزت بيره ېې په زړه کي وي د هغه د رضا او د هغه اطاعت او فرمانبرداري هر وخت په نظر کي نيولې وي د رسول الله ﷺ محبت او د هغوی راوړلي شريعت باندي عمل وي د توبه استغفار ورد وي او دنيوي نفع او تاوان باندي د آخرت ګټه او تاوان مقدم کړل سي کنې مرګ ياد ساتل او يادول او په عملي توګه بې لاري توب اختيارول څه دومره فائده مند نه دي بلکه د زړه د سختي وجه ده څنګه چي په غفلت سره الله رب العزت يادول څه حيثيت نه لري نسئل الله العافية.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مرګ غوښتنه مه کوئ

﴿۱۵۱۱﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَمَنَّيَنَّ

دحضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : ارزو دي نه کوي

أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ إِمَّا مُحْسِنًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَزْدَادَ خَيْرًا وَإِمَّا مُسِيئًا فَلَعَلَّهُ أَنْ

يَسْتَعْتِبَ . رواه البخاري

په تاسو کي هیڅوک دمرګ، ځکه که هغه نېک کاره وي نو ممکنه ده، چې دهغه په صالحو اعمالو کي زیاتي وسي، او که بد کاروي نو ممکنه ده، چې هغه په اښتده کي خداى ﷻ راضي کړي. (بخاري)

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۲۷، رقم: ۵۶۷۳.

﴿۱۵۱۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ

دحضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي دي هیڅوک ارزو نه کوي

الْمَوْتَ وَلَا يَدْعُ بِهِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَهُ إِنَّهُ إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمُ انْقَطَعَ اَمَلُهُ وَإِنَّهُ

دمرګ، او نه دي دمرګ دراتلو دعا کوي، ځکه چې کله یو انسان مري، نو دهغه امید ونه ختم سي

لَا يَزِيدُ الْمُؤْمِنَ عُمُرُهُ إِلَّا خَيْرًا . رواه مسلم .

او دمؤمن دعمر په زیاتوالي کي دنیکیو اضافتوب راځي. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۴\ ۲۰۶۵، رقم: ۱۳- ۲۶۸۳.

تشریح: ښکاره ده چې د انسان ژوند ختم سي نو د نیکي او خیر لاري هم قطع کیږي ځکه که ژوند وي نو نیک اعمال به وي او هر کله چې نیک اعمال وي نو په سعادت او خیر کي به اضافه توب وي همداسي فرمایل سوي دي چې د مومن بنده ژوند د راز سي نو د هغه په وجه د هغه په

خير او سعادت كي اضافه توب كيږي ځكه چي مومن بنده په درد او مصيبت باندي صبر كوي د نعمتونو شكر اداء كوي د تقدير الهي څخه راضي وي او د الله تعالى او رسول الله ﷺ د احكامو فرمانبرداري كوي چي د هغه په وجه د هغه ثواب زياتيږي.

د مرګ د غوښتني منعه

﴿۱۵۱۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَمَنَّيَنَّ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: آرزو دي نه كوي

أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ مِنْ ضُرٍّ أَصَابَهُ فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَاعِلاً فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا

په تاسو كي يو څوك د مرګ كله چي هغه ته تكليف ورسيږي، كه چيري د دغه قسم ارمان ولري نو داكلمات دي ووايي اللهم..... خيرالى (اى الله ﷻ! ما تر هغه وخته پوري ژوندى وساتې

كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي. متفق عليه

ترڅو پوري چي زما ژوند غوره وي، او هر وخت چي مرګ راته غوره وي نو ماته مرګ راولې) بخاري، مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۱۲۷، رقم: ۵۶۷۱، ومسلم: ۴\ ۲۰۶۴، رقم: ۱۰- ۲۶۸۰.

تشريح: امام نووي رحمة الله عليه فتوى وركړې ده چي د ديني فتنې او فساد د بيري څخه د مرګ خواهش كول مكروه نه دي بلكه مستحب دي په دې اړه هغه د امام شافعي رحمة الله عليه او عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه او داسي نورو په باره كي نقل كړي دي چي دې حضراتو د ديني فتنې او فساد د بيري څخه د مرګ خواهش كړى وو ځكه چي حضرت عمر رضي الله عنه او داسي نورو څخه ثابت او منقول دي بلكه د حضرت معاذ رضي الله عنه په باره كي تر دې اندازې نقل دي چي هغه د طاعون عمواس په وخت د مرګ خواهش كړى وو د دې څخه دا معلومه سوه چي د شهادت خواهش كول كه څه هم د طاعون او داسي نورو د اقسامو څخه نه دى مستحب دى.

په مسلم كي دا روايت نقل دى چي كوم سړى چي د زړه په صدق سره او د نيت په خلوص سره د شهادت خواهش وكړ نو هغه ته د شهادت ثواب حاصليږي كه څه هم هغه ته شهادت نه سي حاصل. په مدينه كي د مرګ خواهش كول مستحب دى په بخاري كي نقل دي چي حضرت عمر رضي الله عنه دا دعا كړې وه

(اللهم ارزقني شهادة في سبيلک واجعل موتي ببلد رسولک) : ترجمه : اې الله په خپله لار کې زما شهادت نصیب کړې او د خپل د رسول الله ﷺ په ښار کې ماته مرګ راپه نصیب کړې .

د حدیث د اخري الفاظو مطلب دا دی چې تر هغه وخته پورې ژوند د مرګ څخه بهتره دی تر څو پورې چې د ګناه په مقابله کې اطاعت زیات وي او زمانه د دیني فساد او فتنې څخه خالي وي هو کله چې زمانه بالکل برعکس وي په دې توګه چې د طاعات په مقابله کې ګناوي زیاتي وي او که زمانه د دین د فتنې او فساد څخه خالي وي نو بیا ژوند تر مرګ بهتر دی .

مرګ او د خپل مولی ملاقات

﴿۱۵۱۴﴾ : وَعَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللَّهِ كَرِهَ اللَّهُ لِقَاءَهُ قَالَتْ

څوک چې د خدای ﷻ سره ملاقات کول خوښوي ، خدای ﷻ د هغه سره یو ځای کېدل خوښوي ، او څوک چې د خدای ﷻ سره ملاقات کول نه خوښوي ، نو خدای ﷻ د هغه سره ملاقات کول نه خوښوي ، وویل

عَائِشَةُ أَوْ بَعْضُ أَزْوَاجِهِ إِنَّا لَنَكْرَهُ الْمَوْتَ قَالَ لَيْسَ ذَاكِ وَلَكِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا

بی بی عائشې رضي الله عنها یا د نبي کریم ﷺ یوې بلې بي بي (یا رسول الله ﷺ) مونږ مرګ ښه نه ګڼو ، نبي کریم ﷺ وفرمایل : داخبره نه ده ، بلکه واقعه داده ، کله چې یو مؤمن ته

حَضَرَهُ الْمَوْتُ بُشِّرَ بِرِضْوَانِ اللَّهِ وَكَرَامَتِهِ فَلَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ

مرګ راسي ، نو هغه ته دا زېري ورکول کیږي چې خدای ﷻ د هغه څخه راضی دي او هغه ښه ګڼي ، د هغه وخت د هغه په خیال کې د خدای ﷻ رضا ،

فَأَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ وَأَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا حُضِرَ بُشِّرَ بِعَذَابِ اللَّهِ

او د خدای ﷻ په نظر کې د هغه د عظمت څخه بهتره شي نه وي ، بیا داسي وي چې هغه مؤمن بنده د خدای ﷻ سره د ملاقات دپاره بې ارامه سي ، او خدای ﷻ هم د هغه سره ملاقات عزیز ګڼي ، او کافر بنده ته چې کله ملائکه راسي ، نو هغه د خدای ﷻ د عذاب او سزا څخه وېروي ،

وَعُقُوبَتِهِ فَلَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَهَ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ كَرِهَ لِقَاءَ اللَّهِ وَكَرِهَ اللَّهُ لِقَاءَهُ.

متفق عليه ، وفي رواية عائشة والموت قبل لقاء الله .

نو دهغه په خيال کي هغه وخت تر مرګ څخه بد بل هيڅ نه ښکاري، هغه د الله ﷻ سره ملاقات کول بد ګڼي او خداى ﷻ دهغه سره ملاقات بد ګڼي (بخاري) دبى بى عائشې څخه روايت دي چې مرګ د الله ﷻ دملاقات څخه مخکې دي .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۱۱\ ۳۵۷، رقم: ۶۵۰۷، ومسلم ۴\ ۲۰۶۵، رقم: ۱۴- ۲۶۸۳.

تشريح : مشهوره خو داده چې لقاء مولى يعني د الله تعالى ملاقات څخه مراد مرګ دى مګر په دې باره کي تحقيقي خبره داده چې د لقاء مولي څخه مرګ مراد نه دى بلکه مراد دادى چې د اخرت خواته متوجه کيدل د حق تعالى رحمت او مغفرت او د هغه د رضا غوښتونکى کيدل د دنيا خواته نه مائل کيدل او د دنيا د ژوند په محبت کي نه ګرفتارکيدل نو کوم سړي چې دنيا پرېښوده اودنيا او د دينا هغه شيان پې پرېښول نو هغه ګويا مولى خوښ کړ او کوم سړي چې دنيا اختيارکړه د دنيا د شيانو سره پې په محبت کي راګير سو او د دنيا خواته پې خپل ميلان وساتى هغه ګويا لقاء مولي ناخوښه کړ د مرګ محبت او د هغه شوق لازم دى يعني کوم سړى چې لقاء مولي خوښوي هغه به مرګ هم خوښوي ځکه چې د لقاء مولى لپاره مرګ وسيله ده .

ام المومنين دا ګڼلې وه چې د لقاء مولي څخه مراد مرګ دى ځکه رسول الله ﷺ خپل ارشاد (ليس الامر كذالک) په ذريعه وضاحت وفرمايه چې د لقاء مولى څخه مراد مرګ نه دى او نه دا مراد دى چې د بشريت د تقاضا سره سم د مرګ سره محبت وي او او بالفعل د مرګ خواهش کول وي بلکه مراد دادى چې کوم سړى د رضايي حق طالب او د لقاپې مولي شائق وي هغه د لقاپې مولي لپاره د وسيله کيدو په وجه مرګ هميشه په عقلي توګه محبوب ګڼي د هغه اثر دا کيږي چې کله د ژوند وخت پوره سي او د مرګ وخت رانژدې سي او هغه ته د حق تعالى رضا خوشخبري ورکول سي نو بيا هغه وخت هغه په طبعي توګه مرګ خوښوي او د لقاپې مولى شوق د هغه طبعي خواهش جوړيږي د حديث الفاظ(ولكن المومن .....الخ) يعني هر کله چې مومن ته مرګ راسي نو د دې خبري خوشخبري ورکول کيږي چې الله تعالى د هغه څخه راضي دى د دې خبري وضاحت کوي .

د بي بي عائشې ﷺ د روايت الفاظ مرګ د الله تعالى د ملاقات څخه مخکې دى د دې

مطلب دادی چي د الله تعالى ديدار د مرګ څخه مخکي ممکن نه دی او دا چي د لقاء الاهي وجود د مرګ د وجود څخه مخکي مقصور نه دی د دې څخه معلومه سوه چي لقاء الهي او مرګ واړه يو شی نه دي بلکه دواړه د جلا جلا مفهوم لرونکی دي.

د مؤمن او فاجر د مرګ پايله

﴿۱۵۱۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ اِنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت ابوقتاده رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ ته

مُرَّ عَلَيْهِ بِجِنَازَةٍ فَقَالَ مُسْتَرِيحٌ وَمُسْتَرَاحٌ مِنْهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا

جنازه راوړل سوه، نبي کريم ﷺ وفرمايل: دی راحت موندونکي دی، يا به راحت ځيني ترلاسه سي. اصحابو عرض وکړ يا رسول الله!

الْمُسْتَرِيحُ وَالْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ قَالَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا

راحت موندونکي څوک دی، او هغه څوک دی چي دهغه څخه به نورو ته راحت حاصليږي. نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل: مؤمن بنده د مرګ څخه وروسته د دنيا د رنځ او تکليف څخه او د دنيوي تکليفو څخه بيا راحت مومي،

وَأَذَاهَا إِلَى رَحْمَةِ اللّٰهِ وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيحُ مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلَادُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ. متفق عليه

او د خدای ﷻ رحمت ته به ولاړ سي، او فاجر او بدکاره بنده د مرګ سره به د خدای ﷻ بندګان، ښارونه، درختي او حيوانان دهغه د شر څخه بيا راحت مومي. (بخاري، مسلم).

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱/ ۳۶۲، رقم: ۶۵۱۲، ومسلم ۲/ ۶۵۶، رقم: ۶۱ - ۹۵۰.

تشريح: مطلب دادی چي مومن بنده وفات سي نو هغه د دنيا د رنځ څخه په دې توګه راحت ترلاسه کوي چي په دنيا کي د اعمالو او احوالو په وجه هغه په کم مشقت او محنت کي اخته وو د هغه څخه خلاصون ورته و سو او د دنيا د تکليف څخه په دې توګه راحت ښ ترلاسه کړو چي دنيوي تکليف او پريشاني مثلا ګرمي، يخ، تنګدستي، مفلسي او داسي نورو څخه يا دا چي د اهل دنيا د تاوان څخه هغه ته خلاصون وسي ځکه مسروق رح ويلي دي چي ماته په هيڅ شي هم

د څه شي په وجه دومره شک نه راځي يعني څومره شک چې ماته پر هغه مومن راځي کوم چې په قبر کې بيده کړل سي ځکه چې هغه د الله د عذاب څخه په امان سي او د دنيا څخه راحت او سکون تر لاسه کي او ابوداود فرمايي زه خپل رب ته د تلو په شوق کي مرګ خوښوم د ګناهونو د کفارې لپاره مرض خوښوم او د خپل رب په مخکي د تواضع او انکساري له خاطره فقر خوښوم.

کله چې يو ګناه کار بنده مري نو د هغه څخه بندګان داسي راحت تر لاسه کوي چې هغه به په خپل ژوند کي د شرعي په خلاف خبري کولې هغه به خلک منعه کوله، هغوی ته به يې تکليف رسوی او که خاموشي به هې اختيارول نو خپل دين او دنيا ته به هې تاوان رسوی او کوم وخت چې هغه ګناه کار مړ سي نو خلک د هغه څخه خلاصون تر لاسه کي او ښاروالا د هغه په مرګ په دې توګه راحت تر لاسه کوي چې د ګناه او ظلم کيدو په وجه په عالم کي فساد کيږي د دين په ارکانو کي خلل راځي او الله تعالى ګنهګار او ظالم غضب وهلي ليري کوي نو د هغه په وجه مځکه او هغه ټوله شيان کوم چې په مځکه کي دي تاوان ورته پيښيږي بيا دا چې د هغه د ګناه په وجه الله تعالى باران نه اوروي اوس چې هغه مړ سو نو وريځو خپله خوله خلاصه کړه او د مځکي ونې شنې سوې او همداسي ټولو راحت تر لاسه کړ.

په دنيا کې مسافر اوسئ

﴿۱۵۱۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ ونيول

بِمَنْكِبِي فَقَالَ كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ

زما اوږه، او ويې فرمايل: په دنيا کي داسي اوسه، لکه ته چې مسافر يې، يا پرلاره تېرېدونکی لاروی، او ابن عمر رضي الله عنه به ويل:

إِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ وَخُذْ مِنْ

چې مابنام سي، نو دسهار انتظار مه کوه، او چې سهار سي نو دمابنام انتظار مه کوه،

صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ. رواه البخاري

او صحت دناروغۍ څخه مخکې او ژوند تر مرګ مخکې غنيمت ګڼه. (بخاري)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۲۳۳، رقم: ٦٤١٦.

تشريح : په حديث کي لفظ د (بمنكبي) د (ي) په سکون سره د مفرد په صيغه سره نقل کړل سوی دی حال دا چې د مشکوة په يوې بلې نسخې کي حرف يا په تشديد سره بصيغه تثنيه نقل ده .

فانک غريب: لکه ته چې مسافر يې، د دې مطلب دادی چې ته د دنيا خواته رغبت مه کوه ځکه چې ته دې دنيا ته د آخرت سفر کونکی يې نو ته دادنيا خپل وطن مه جوړوه د دنيا د لذتونو سره الفت او محبت مه ساته دنيادارو خلکو او د هغوی د ملګري کيدو څخه ځان وساته ځکه چې ته د دې ټولو خلکو څخه جلا کيدونکی يې په دې دنيا کي د خپلې بقاء وهم او ګمان هم مه ساته د هغو کارو څخه قطعا پرهيز وکړه چې د هغه څخه يو مسافر په جلاوطني کي پرهيز کوي او په هغو شيانو کي نه مصروفه کيږي چې په هغه کي مسافر اهل وعيال او خپل وطن ته دتلو اراده ولري ، ته بالعموم په دې دنيا کي داسي اوسه څرنګه چې يو مسافر په خپل وطن او د خپل اهل وعيال څخه ليرې په وطن کي اوسي بيا مخکې نور په مبالغې سره يې وفرمايل بلکه د يوراه ګير پر لار تلونکی په ډول اوسه ځکه مسافر د خپل سفر په دوران کي په مختلفو طريقو سره په مختلفو ښارو کي قيام کوي په خلاف د لار تلونکي چې هغه چيرې خو قيام هم نه کوي .

نو د دنيا څخه نه يوازې دا چې د سفر ځاي ګڼل پکار دي بلکه دا خيال کول پکار دي چې پر لار روان يم نه خو په وطن کي يم او نه چيرې د سفر په حالت کي چيرې درېدلی يم .

هر کله چې سهار سي نو د مابنام انتظار مه کوه الخ .د دې ارشاد مطلب دادی چې هيڅ سړي ته د خپل مرګ د وخت علم نسته معلومه نه ده چې د مرګ په پنجه کي کله راګير سي د يوې لمحې لپاره هم د ژوند څه باور نسته د سهار په وخت کي دا هيڅ چاته نه وي معلومه چې مابنام لېدل به ورته په نصيب سي که نه حاصل دا چې د سهار او مابنام هر وخت مرګ خپل مخ ته حاضر ګڼه د ژوند ارزوګاني مه اوږدوه د خير په عمل کولو کي وړاندي والی کوه او نيک اعمال ورځ ته مه پريږده ځکه چې :

غنيمتي شمراي شمع وصل پروانه که اين معامله تا صبح دم نه خواهد ماند.

صحت د ناروغۍ مخکې غنيمت ګڼه، د دې مطلب دادی چې د روغتيا په حالت کي څومره چې ممکنه وي ډېر تر ډېره نيک اعمال کوه چې د ناروغي په حالت کي هر کله چې ته په نيکو اعمالوباندي قادر نه يې هغسي ثواب ترلاسه کوه يعني ستا چې څومره هم ژوند دی په هغه کي عمل کوه هر کله چې ژوند خپل وخت پوره کي او ته د مرګ غيږ ته ورسيږي نو بيا د دې وروسته ستا د ژوند د هغه د اعمالو ثواب تاته نه رسيږي .

غنیمت دان جوانا دولت حسن جواني را : نه پنداري که ایام جواني جاودان باشد

په ښکاره معلومیږي چې د حدیث الفاظ (اذا مسیت ترمن حیاتک لموتک... پوري) د ابن عمر رضي الله عنه ارشاد موقف دی مګر په احیاء العلوم کې دا مرفوعا یعني د رسول الله ﷺ ارشاد نقل سوی دی. والله اعلم.

د الله ﷻ څخه د رحمت امید ساتئ

﴿۱۵۱۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِثَلَاثَةِ أَيَّامٍ يَقُولُ لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللَّهِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دي چې ما د رسول الله ﷺ څخه دري ورځې مخکې تر وفات دا اوریدلي دي، په تاسو کې دي څوک نه مري، خو داچې د خدای ﷻ په اړه نیک ګمان لري، یعني د مرګ څخه مخکې دی دهغه په فضل وکرم او بخښې پوره باور ولري. (مسلم)

تخریج: صحیح مسلم ۴\۲۲۰۵، رقم: ۸۱ - ۲۸۷۷.

تشریح: مطلب دا چې هر مؤمن مسلمان د الله تعالی په فضل، کرم او د هغه په عفوې باندې پوره امید ولري او د هغه په وعدو چې د مؤمن مسلمان سره کړي دي باور ولري او مسلمان باید د الله ﷻ په وړاندې د ښه معاملې کولو فکر وکړي، داسې نه وي چې د هغه د رحمت څخه د مایوسۍ په حالت کې مړ سي او سبب د الله ﷻ د قهر او غضب وګرځي.

علماوو لیکلي دي چې د الله پاک سره د نیک ګمان ساتلو څخه مراد نیک اعمال کول دي یعني په خپل ژوند کې نیک اعمال کول پکار دي چې د مرګ په وخت د الله پاک سره ښه ګمان وي د چا ژوند چې د الله تعالی د اطاعت او فرمانبرداري او د هغه د رضاء او خوشحالي له خاطره په عباداتو او نیکو اعمالو کې تیر سوی وي هغه د مړکید و په وخت کې د الله پاک سره نیک ګمان وساتي چې انشاءالله زما سره به ښه معامله کیږي د دې پرخلاف د چاژوند چې د الله پاک په نافرماني او په خرابو اعمالو کې تیر سوی وي هغه د مرګ په وخت کې د الله پاک سره بد ګمان ساتي هر کله چې مرګ ېې پر سر ودریږي نو هغه ته د خپل ژوند خراب اعمال رایاد سي هغه وخت د هغه سره دا خیال پیدا سي چې زما سره به نیکه ښه معامله نه کیږي.

او علماء لیکي چې د امید حقیقت دادی چې عمل کوي او امید ساتي د مولي اطاعت کوي او نظر هغه پر عطاء ساتي نه چې درواغ امید چې د عمل څخه ېې ممنوع کوي او د ګناهونو

باعث وي د امید څخه نه دی بلکه دا ارزو او غرور دی د امام حسن بصري رح دا قول نقل دی که په تاسو کي څوک سړی بې عمله دا ووايي چې زه د خپل پروردګار څخه ښه ګمان لرم نو هغه درواغ وايي ځکه که هغه د خپل پروردګار سره ښه ګمان لري نو نېک عمل به يې هم کولای .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د قيامت په ورځ ترټولو لومړی پوښتنه

﴿۱۵۱۸﴾: عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ

دحضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

شِئْتُمْ أُنَبِّئُكُمْ مَا أَوَّلُ مَا يَقُوْلُ اللهُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ؟ وَمَا أَوَّلُ مَا

ايا تاسو ديوې خبري څخه اګاه کړم ، چې د قيامت په ورځ به خداى ﷻ د مؤمنانو سره ترټولو مخکي کومه خبره کوي ؟ او مؤمن به اولني خبره

يَقُوْلُوْنَ لَهُ ؟ " قُلْنَا نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ إِنَّ اللهَ يَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ هَلْ أَحْبَبْتُمْ

د خداى ﷻ سره کومه کوي ؟ اصحابو عرض وکړ . هو يا رسول الله ! نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل : خداى ﷻ به د قيامت په ورځ د ټولو څخه مخکي دا پوښتنه کوي ، ايا تا زما سره ملاقات کول خوښول ؟

لِقَائِيْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ يَا رَبَّنَا فَيَقُوْلُ لِمَ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ : رَجَوْنَا عَفْوَكَ وَ مَغْفِرَتَكَ

مؤمن به جواب ورکوي ، هو ! پروردګاره ، خداى ﷻ به ورځخه پوښتنه وکړي ، چې تا زما سره ملاقات کول ولي خوښول ؟ مؤمن به جواب ورکړي ، په دې وجه چې موږ ستا څخه د معافی اوبخښې امید درلودي ،

فَيَقُوْلُ قَدْ وَجَبَتْ لَكُمْ مَغْفِرَتِيْ . رواه في شرح السنة وأبو نعيم في الحلية

خداى ﷻ به په دې اوربدلو سره وفرمائي ، زما بخښنه ستاسو دپاره واجب سوه . (شرح السنة ،

تخريج : البغوي في شرح السنة ۱۵\ ۲۶۸ ، رقم: ۱۵۴۲ ، وابونعيم في حلية الاولياء ۸\ ۱۷۹ ، رقم: ۳۹۷ .

تشريح : کيدای سی چې د ملاقات څخه مراد د آخرت خوا ته رجوع کول وي او دا هم احتمال

لري چي د ملاقات څخه مراد د حق تعالى ديدار وي ابن مالک رح ويلي دي په حديث کي د لفظ څخه وروسته د الفاظ کيدل پکار دي (لاي سبب اذ نبتم) يعني حق تعالى به فرمايي چي تاسو ولي ګناهونه کړي دي مګر صحيح الفاظ دادى لم احببتم لقائي، يعني زما ملاقات مو ولي خوښوى څنګه چي په ترجمه کي ښکاره سو .

مرګ په ياد لرئ

﴿۱۵۱۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثِرُوْا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دخوندو ليري کوونکي ،يعني مرګ دهر په ياد لرئ (ترمذي ، نسائي ، ابن ماجه)

تخريج: سنن الترمذي ۴ \ ۴۷۹، رقم، ۲۳۰۷، والنسائي ۴ \ ۴، رقم، ۱۸۲۳، وابن ماجه ۲ \ ۱۴۲۲، رقم، ۴۲۵۸.

د لغاتو حل: (هاذم)، اى قاطع (قطع کوونکى، ختموونکى).

تشريح: صحيح لفظ دادى چي هاذم په ذال سره دى د دې معني ده قطع کونکى، کومو خلکو چي په دال سره يعني لفظ هادم بمعني اچوونکي نقل دي صحيح نه دى کيداى سي چي په دې باره کي د راوي خطا سوې يې په هر حال د حديث حاصل دادى چي مرګ په کثرت سره ياد ول پکار دى ځکه چي په مرګ يادولو سره غفلت چي د نيکو اعمالو په لار کي خنډ ليري کيږي د مرګ يا د دنيا د خرابو کارونو مشغوليت څخه ښې منعه کوي او مرګ يادونکى د طاعاتو او عباداتو خواته موتوجه وي چي د آخرت توښه ده .نسائي دا روايت په دې اضافه الفاظو سره نقل کړى دى (فانه لايذكر في كثير الا قلله ولا في قليل الا كثره) هر کله چي د مال په زياتي کي مرګ را ياد سي نو هغه مال کموي يعني د مرګ دياد د راتلو په وجه د مال خواته ښې څه رغبت نه پاته کيږي او مال فاني ګڼي ځکه هغه وخت زيات مال هم په نظر کي راځي د حقير کيدو په وجه کم محسوسيږي او هر کله چي د مال په کمي کي مرګ را ياد سي نو هغه مال زياتوي يعني هر کله چي مرګ را يادږي نو دنيا په فاني ګڼلو سره پر کم مال باندي قناعت کوي ځکه لږ مال هم زيات ور معلوميږي .

د الله ﷻ څخه شرم او حیاء کول

﴿۱۵۲۰﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ یوه ورځ اصحابو ته وفرمایل:

يَوْمٍ اسْتَحْيُوا مِنَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ حَقَّ الْحَيَاءِ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا

د الله ﷻ څخه دشرم او حیا په کولو کې دشرم او حیا حق ادا کړئ، اصحابو عرض وکړ، ای دخدای ﷻ رسوله!

نَسْتَحِي وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ قَالَ لَيْسَ ذٰلِكَ وَلٰكِنْ مَنِ اسْتَحَى مِنَ اللّٰهِ حَقَّ الْحَيَاءِ

دخدای تعالی شکر دي، موږ د الله ﷻ څخه شرم او حیا کوو، یعني دهغه څخه بېرېږو، نبي کریم ﷺ وفرمایل: حیا کول دا نه دي کوم چې تاسو وایاست، بلکه دخدای ﷻ څخه دحیا یو مطلب دادي چې

فَلْيَحْفَظِ الرَّأْسَ وَمَا حَوٰى وَلْيَحْفَظِ الْبَطْنَ وَمَا وَعٰى وَلْيَذْكُرِ الْمَوْتَ وَالْبِلٰى

سر او څه چې په سر کې دننه دي، دهغوي ساتنه وکړئ، او ساتي دي نس او هغه څه چې جمع کړي دغه نس، او پکار دي چې مرګ یاد لرئ، او دهغوکو وراسته کېدل هیر نه کړئ،

وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ تَرَكَ زِينَةَ الدُّنْيَا فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدِ اسْتَحْيَا مِنَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ حَقَّ الْحَيَاءِ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث غريب.

او څوک چې داخرت دنیکۍ خیال ساتئ، دغه ددنیا زینت پرېږدئ، چاچې په دې خبرو عمل وکړ، هغه دخدای ﷻ څخه حیا وکړه، او دحیا حق ئې ادا کړ (احمد، ترمذي، داحدیث غریب دي) دسر د حفاظت څخه مراد غرور او تکبر څخه منعه کول دي، او په سر کې دننه دشیانو مراد، ژبه، ستر کې، او غوږونه دبدو خبرو څخه ځان ساتل دي، دنس څخه مراد حرام خوړل او په نس کې ددننه شیانو څخه مراد ستر، لاسونه، پښې او زړه دي دهغوی حفاظت کول. احمد او ترمذي.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۱/ ۲۸۷، والترمذي ۴/ ۵۵۰، رقم: ۲۴۵۸.

تشریح: د سر ساتنه: د دې مطلب دادی چې سر الله تعالی په شرف او کرامت سره نازولی دی

د الله تعالی څخه ماسوا د بل چا لپاره دي په کار وا نه چول سي . سر ته الله تعالی انساني تقدس ور کړی دی د انسان د لاسونو تراشلي بتانو او خپله د انسانانو مخکي په کښته کولو سره دي ذلیل نه کړل سي او خلکو ته د دینداری په خاطر په لمانځه کي کښته سي، سر دي د الله ماسیوا بل چاته نه کښته کوي او سر د غرور او تکبر له مخي دي پورته نه کړل سي .په سر سره د شیانو څخه مراد په ژبه سترګي او غوږونه دي اود دې شیانو د ساتني مطلب دادی چي دا اندامونه دي د ګناهونو څخه بچ کړل سي ژبه دي په غیبت کي نه سي اخته نه دي درواغ وویل سي په سترګو سره دي نامحرومو شیانو ته نه وکتل سي او په غوږو سره دي د چاغیبت او درواغ قصې دي نه واوریدل سي د نس د ساتني مطلب دادی چي حرام او مشتبه شیان دي نه وخوړل سي په نس سره شیان د جسم هغه حصې او اندامونه مراد دي چي د نس سره لګېدلي وي مخصوص اندامونه لاس پښې او زړه او داسي نور د دې مطلب دادی چي د جسم د اندامونو او حصو هم دي د ګناه څخه محفوظ وساتل سي مثلا ستر یعني خاص اندامونه دي په حرام کار کي اخته نه کړل سي د ګناه او خواهش ځاي لکه مېلې تماشې ، ډولونه ، سرناوي او غزلو ته دي نه ورځي همداسي پښې دي د ګناه څخه محفوظ وساتل سي په لاسونو سره دي چاته هیڅ تکلیف نه ورسوي نه دي څوک ووهي او وټکوي نه دي د چا مال غلا کړل سي نه دي په زوره واخستل سي نه دي نامحرم ته لاس ورورل سي همداسي زړه دي د خرابو عقیدو ګنده خیالاتو او د الله پاک څخه ماسیوا د بل چا د یاد څخه پاک وساتل سي . په اخر کي د انسان د خاکي جسم د فاني کیدو احساس ورکړل سوی دی فرمایل سوي دي داخبره هیڅ کله هیروله نه دي پکار چي اخر به یوه نه یوه ورځ د دې دنیا څخه سترګي پټې سي او دا فاني جسم خواه هر څومره ښائسته وي د قبر په غېږ کي به بیده کړل سي چي هلته به غوښه چي څه هډوکي هم وراسته او خاوري سي .

بیا د دې وروسته (ومن اراد الآخرة .....الخ) په فرمایلو سره یوه قاعده بیان کړه سوې ده چي کوم سړی پوهیږي چي دنیا فاني ده هغه دنیا او د دنیا لذتونه پرېږدي او دا چي کوم سړی د اخرت ثواب او د هغه د ابدي نعمتونو او سعادتونو خواهش ولري هغه دي د دنیا ښکاره زیب و زینت پرېږدي ځکه چي دا دواړه شیان په پوره کمال سره په یوه سړي کي تر دې چي په اولیاء کي هم نسي جمع کیدای .

دا حدیث د خلکو په وړاندي زیات بیانول د دې خپرول او دې مفهوم او د غوښتنو څخه عوام خبرول د لوئ سعادت او فضیلت خبره ده امام نووي رحمة الله علیه فرمایي دا حدیث په کثرت سره بیانول مستحب دی .

مرګ د مؤمن تحفه ده

﴿۱۵۲۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُحْفَةُ الْمُؤْمِنِ اَلْمَوْتُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د مؤمن تحفه مرګ دي (بيهقي په شعب الايمان کې

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۷۱\۷، رقم: ۹۸۸۴.

د مؤمن مرګ

﴿۱۵۲۲﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُؤْمِنُ يَمُوْتُ بِعَرَقِ الْجَبِيْنِ . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه .

د حضرت بريده رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : مؤمن د تندي د خولې سره مري (يعني مؤمن ته دزکندن پر وخت سخت تکليف وي چې په هغه سره پر تندي خوله راځي او دا دنيکي ننبه ده) (ترمذي ، نسائي ، ابن ماجه)

تخريج: سنن الترمذي ۳۱۰\۳، رقم: ۹۸۲، والنسائي ۶\۴، رقم: ۱۸۲۷، وابن ماجه ۴۶۸\۱، رقم: ۱۴۵۲.

تشريح : ځيني حضرات وايي چې د تندي په خولو سره مرکيدل د ځکندن د شدت څخه کنايه ده چې د هغه په وجه ځينو ويلي دي دا د دې خبري کنايه ده چې مومن تر مرګ پورې د حلالي روزي په طلب کې مشقت او محنت کوي او په عباداتو کې کوښښ کوي، ځيني علماء وايي چې د مرګ په وخت په تندي د خولو راتلل د سعادت او خير ننبه ده ځينو علماء ويلي دي چې د دې څخه مراد دادی چې مرګ د مومن لپاره د تکليف سبب نه دی ، دا چې د هغه په تندي خوله راسي، والله اعلم.

ناڅاپي مرګ

﴿۱۵۲۳﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبيدالله بن خالد رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَوْتُ الْفُجَاءَةِ أَخْذَةُ الْأَسَفِ . رواه أبو داود وزاد البيهقي في شعب الإيمان ورزين في كتابه أخذة الأسف للكافر ورحمة للمؤمن

ناڅاپه مرګ دخدای ﷻ دغضب نیول دي (ابو داؤد) په بیهقي او رزین په دې روایت کي دا الفاظ زیات کړي دي چې د خدای ﷻ دغضب نیول دکافر دپاره دي، او مؤمن دپاره رحمت دی.

تخریج: سنن ابي داؤد ۳\ ۴۸۱، رقم: ۳۱۱۰.

تشریح: مطلب دادی چې ناڅاپه مرګ د الله تعالی د غضب ښښنه ده ځکه چې د ناپامه مرګ واقع کیدونکي صورت کي دومره هم فرصت نه ترلاسه کیږي چې د آخرت د سفر تیاري وکي په دې توګه چې توبه او په استغفار کولو سره د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړي او نیک او صالح عمل په اختیارولو سره په بارګاه رب العزت کي سرلوړی سي مګر علماء لیکي چې د ناپامه مرګ د کافر لپاره د غضب ګرفت فرمایلي دي او د هغو خلکو لپاره دي چې پر نیکه لار نه وي لکه چې د حدیث د آخري الفاظو څخه چې بیقهي او رزین نقل کړي معلومیږي ګویا حاصل د کلام دا سو چې په ناڅاپه مرګ نیکو او د ښو خلکو لپاره ښه دی او د خرابو اوبدکارو خلکو لپاره بد دی.

د الله ﷻ څخه د رحمت امید

﴿۱۵۲۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى شَابٍّ وَهُوَ فِي

دحضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ یو ځوان ته ورغلی،

الْمَوْتِ فَقَالَ كَيْفَ تَجِدُكَ قَالَ ارجو الله يَا رَسُولَ اللَّهِ وَإِنِّي أَخَافُ ذُنُوبِي فَقَالَ

چې ساه یې په ختو وه، نبی کریم ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چې ته په ځان کي کوم حال وینې (یعني ستا په زړه کي دخدای درحمت امید دی یا دغضب الهي ویره) هغه ورته وویل: یا رسول الله! زه په خپل زړه کي دخدای ﷻ درحمت امید لرم، او دخپلو ګناهونو څخه خوفزده یم.

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَجْتَمِعَانِ فِي قَلْبِ عَبْدٍ فِي مِثْلِ هَذَا

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دیوه بنده په زړه کي چې په دې وخت کي دا دوه حالاته یو ځای سي

الْمَوْطِنِ إِلَّا أَعْطَاهُ اللّٰهُ مَا يَرْجُو وَآمَنَهُ مِمَّا يَخَافُ. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب

نو الله ﷻ دهغه دا اميد پوره كوي، او دويري څخه يې په امن كوي (ترمذي، ابن ماجه) په ترمذي كې دا حديث غريب بنوول سوى دى.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۳۱۱، رقم: ۹۸۳، وابن ماجه ۲\ ۱۴۲۳، رقم: ۴۲۶۱.

تشريح: د داسي وخت څخه مراد يا خو په خاصه توګه د سكرات الموت وخت دى يا داسي وختونه هم ځني مراد دي چې د سكرات الموت د وخت په ډول وي چې په هغه كي انسان حكما بالكل د مرګ پر غاړه وي لكه د جنګ د وخت لپاره يا د قصاص وخت يا دا ډول نور وختونه.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د عمر د اوږدوالي سعادت

﴿۱۵۲۵﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَمَنَّوُا الْمَوْتَ

دحضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دمرګ غوښتنه مه كوئ

فَإِنَّ هَوْلَ الْمُطَّلَعِ شَدِيْدٌ وَّإِنَّ مِنَ السَّعَادَةِ أَنْ يَّطُوْلَ عُمَرَ الْعَبْدِ وَيَرْزُقَهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ الْإِنَابَةَ. رواه أحمد.

ځكه چې دزكندن وېره سخته ده او دا كار په نېك بختي كي داخل دي چې دبنده عمر زيات وي او خداى ﷻ خپل بنده دخپل اطاعت ولورته متوجه كوي. (احمد).

تخريج: الامام احمد في مسنده ۳\ ۳۳۲.

د لغاتو حل: (مطلع): بتشديد الطاء وفتح اسم مكان الاطلاع أو زمانه. (د اعلان لور ځاى).

تشريح: مطلع هغه لور ځاى ته وايي چې د هغه په ختلو سره يو شي ويني دلته د حديث په الفاظو كي د مطالع څخه مراد سكرات الموت او د هغه سختي ده چې مخكي انسان په هغه كي راونيول سي بيا مړكېږي. د حديث حاصل دادى چې د مرګ په خواهش كي هيڅ فائده او نيك بختي نسته كوم سړى چې د مرګ خواهش كوي هغه غم سختي او د صبر د كمي په وجه داسي

کول نو د مړکیدو وخت د هغه ناامیدي به نوره زیاته وي او همداسي د غضب خداوندي هم مستحق وي ځکه د مرګ د خواهش څه فائده د دې څخه معلومه سوه چي د بې صبري او ناامیدي په وجه د مرګ ارزو منعه ده هو د دیدار الهي شوق او عالم آخرت د محبت په وجه د مرګ خواهش جائز دی.

د حدیث الفاظ (ان من السعادة) څخه د مرګ خواهش د ممانعت دوهم علت بیانوي چي د مرګ خواهش مه کوئ ځکه چي مرګ خو خپله یوه نه یوه ورځ خامخا راځي د دنیا دا څو ورځي د ژوند غیمت وګنړئ او په ژوند کي د آخرت لپاره چي کمه توښه تیارولای سئ تیاره ېې کړئ یعني نیک اعمال کوئ هر کله چي مرګ راسي او تاسو د دې دنیا څخه دارالبقاء ته روان سئ نو ستاسو لمن دي په نیکو او صالحو اعمالو سعادت څخه ډکه کړل سي (الدنیا مزرع الآخرة) یعني دا دنیا د آخرت کښت دی چي دلته نیک اعمال کوئ نو هلته به مو پکار راسي.

﴿۱۵۲۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ قَالَ جَلَسْنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دي چي موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وو او ټول نبي کریم ﷺ ته متوجه وو،

فَذَكَّرَنَا وَرَقَّقَنَا فَبَكَى سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فَأَكْثَرَ الْبُكَاءَ فَقَالَ يَا لَيْتَنِي مِتُّ

رسول الله ﷺ موږ ته نصیحت کوئ، او (په خپل بیان سره یې) زمونږ زړونه نرم کړل، سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه خو د نبی کریم ﷺ په بیان سره دومره متاثره سو، چي ډېر یې وژړل، او بیائې وویل: کاشکي زه مړ سوی وای په کوچنیوالي کي،

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا سَعْدُ أَعِنْدِي تَتَمَنَّى الْمَوْتَ فَرَدَّدَ ذٰلِكَ

رسول الله ﷺ وفرمایل: سعده! زما په مخکي د مرګ ارزو کوې؟ دا جمله نبی کریم ﷺ

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَالَ يَا سَعْدُ إِنْ كُنْتَ خُلِقْتَ لِلْجَنَّةِ فَمَا طَالَ عُمُرُكَ أَوْ

دري واره وویل، او ددې څخه وروسته یې وفرمایل: ای سعده! که ته د جنت د پاره پیدا سوي یې، نو څونه چي ستا عمر زیات وي

حَسُنَ مِنْ عَمَلِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ. رواه احمد

او ستا عمل نیک وي هغومره به ستا لپاره بهتره وي. (احمد).

تخریج: الامام احمد في مسنده ۵\۲۶۷.

تشریح: د رسول الله ﷺ ارشاد دی: ایا ته زما مخکي د مرګ خواهش کوې د دې مطلب دادی چي زما وروسته د مرګ د خواهش څه وجه کیداي سي خو زما په موجودګي کي د مرګ خواهش ولي کوئ ځکه چي زما د جمال باکمال دیدار او زما د صحبت عظیم شرف ستا لپاره د هر نعمت څخه بهتر او اعلي دی اګر که زما مخکي د مړکیدونکي وروسته تاته د هغه ځاي اعلي مراتب او نعمتونه حاصل وي او په دې کي هیڅ شک نسته چي د رسول الله ﷺ د مقدس او مبارک مخ د دیدرا عظیم مرتبې ته بل هیڅ شئ نسي رسېدلاي د یومرد عارف څخه چا پوښتنه وکړه که د مومن لپاره ژوند بهتر دی که مرګ هغه عارفا جواب ورکړ، د نبوت په زمانه کي چي د رسول الله ﷺ د داسي لوړه هستي او شخصیت او لوی نعمت په موجودګي کي د مومن لپاره ژوند بهتر وو او اوس د هغوی وروسته مرګ بهتر دی د حدیث د اخري الفاظو وروسته د دوهم شق ذکر هې نه وو فرمایلو چي ګویا دلته محذوف دی او هغه دادی چي (وان کنت خلقت للنار فلا خیر في موتک ولا یحسن الاسراع الیه) یعني که ته نعوذبالله د اور لپاره پیدا سوی هې نو بیا هم په نه مړکیدو کي خیر دی او نه د مرګ لپاره تلوار کول ښه خبره ده.

د حضرت خباب ﷺ واقعه

﴿۱۵۲۷﴾: وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى خَبَّابٍ وَقَدْ اكْتَوَى سَبْعًا

د حضرت حارثه بن مضرب ﷺ څخه روایت دئ چي زه خباب ﷺ ته ورغلم، چي هغه خپل بدن اووه ځایه داغلی وو،

فَقَالَ لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لَتَمَنَّيْتُهُ

او هغه وویل که ما د نبي کریم ﷺ څخه دا نه وای اورېدلي چي په تاسو کي دي څوک د مرګ غوښتنه نه کوي، نو ما به خامخا د مرګ ارزو کړې وای،

وَلَقَدْ رَأَيْتُنِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ مَا أَمْلِكُ دِرْهَمًا وَإِنَّ فِي جَانِبِ بَيْتِي الْآنَ

ما ځان د نبی کریم ﷺ په وخت کي لیدلي وو چي زه دیوه درهم خاوند نه وم او نن زما په کور کي

لَأَرْبَعِينَ أَلْفَ دِرْهَمٍ قَالَ ثُمَّ أُتِيَ بِكَفَنِهِ فَلَمَّا رَآهُ بَكَى قَالَ لَكِنَّ حَمْزَةَ

څلوېښت زره درهم سته ، حارثه وايي : ددې څخه وروسته د خباب مخکې دهغه کفن راوړل سو ، هغه چې کفن ولیدئ ،نو په ژړا سو او وه يې ويل : آه حمزه

لَمْ يُوجَدْ لَهُ كَفَنٌ إِلَّا بُرْدَةٌ مَلْحَاءُ إِذَا جُعِلَتْ عَلَى رَأْسِهِ قَلَصَتْ عَنْ قَدَمَيْهِ

هغه ته داسې کفن تر لاسه سو ، چې په هغه کې سپيني او توري ليکي وې ، ليکن دومره کوچنی وو ، که به يې سر ورپټ کړنو پښې به يې لوڅې سوې ،

وَإِذَا جُعِلَتْ عَلَى قَدَمَيْهِ قَلَصَتْ عَنْ رَأْسِهِ حَتَّى مُدَّتْ عَلَى رَأْسِهِ وَجُعِلَ عَلَى

او که به يې پښې ورپټې کړې نو سر به يې لوڅ سو ، اخر يې سر ورپټ کړ ، او په پښو يې

قَدَمَيْهِ الْإِذْخِرُ. رواه احمد والترمذي الا انه لم يذكر ثم اتي بكفنه الى اخره

اذخر (يو قسم وابنه دي چې په مدينه کې پيدا کېدل) ورواچول . (احمد او ترمذي) خو ترمذي . ثم اتي بكفنه څخه تر اخره پورې ذکر نه کړ .

تخريج : الامام احمد في مسنده ۱۱۱\۵، والترمذي ۳۰۱\۳ - ۳۰۲، رقم: ۹۷۰.

د لغاتو حل : (ملحاء): اى فيها خطوط سود وبيض. (سپيني او توري کرښې لرونکی).

تشريح : حضرت خباب بن ارت رضی الله عنه يو جليل القدر صحابي وو د اولينو اسلام راوړونکو څخه شميرل کېږي دا هغه کس دی چې د کفارو د ظلم او ستم په ماحول کې يې تر ټولو مخکې د خپل اسلام اظهار وکړ د هغه نتيجه دا سوه چې د ډېرو تکليفونو ، کړاوونو او ظلم سره مخامخ سو ، حضرت خباب په بدر او نورو غزاوو کې شريک سوی دی او په دروڅلوېشت هجري کال کې په حق ورسېدی .پر بدن باندې داغ لګول په هغه زمانه کې د ډېرو امراضو يو معروف علاج وو يو وخت د دې څخه منعه وفرمايل سوه خو ځينو علماوو وضاحت کړی دی چې دا ممانعت ځکه فرمايل سوئ دی چې په دغه طريقه علاج اختيارونکو داعقيده درلودل چې په دې سره شفاء کېږي که دا صورت نه وي بلکه عقيده دا وي چې د علاج دا طريقه خو يوازې د يو ښکاره سبب درجه کې شفاء ورکونکی الله دی نو بيا د علاج په دې طريقې سره پرواه نه لري يا داسې به وويل سي چې دا ممانعت په هغه صورت کې دی هر کله چې في الواقع د علاج د دې طريقې ضرورت او حاجت نه وي . د حضرت خباب رضی الله عنه د خوا د مرګ خواهش ځکه وو چې هغه د دې مرض د شدت څخه چې د هغه لپاره داغ لګولی وو ډېر زيات ناقراره وو يا د دې وجه د هغه مالداري وه

ي هغه ته دا احساس وو چي. مال او زر د ډير والي چيري زما په استقامت کي لړزه نه کي پيدا ي د هغه په وجه د اخرت په عذاب کي اخته سم او دا وجه زياته صحيح ده ځکه چي د هغه دا لفاظ (ولقد رايتني .....الخ) په دې دلالت کوي. حضرت حمزه رضي الله عنه د عبدالمطلب زوئ او رسول الله ﷺ اکا وو په جنګ احد کي په شهادت ورسېدی اوپه سيد الشهداء لقب سره يادېږي.

اذخر: د يو وانبه نوم وو چي خوښبوداره وو دا وانبه د چت پر تختو اچول سوي وه او په وړو ډيرو ضروریاتو کي هم استعمالېږي دا حديث په دې خبره دلالت کوي چي صبر کونکی مفلس او تنګ دست د شرک کونکي مالدار څخه افضله دی ځکه حضرت خباب رضي الله عنه په ډول جليل القدر صحابي پر خپل حال باندي چي هغه ته مالداري حاصله وه او ښکاره ده چي د هغه په شاکر کيدو کي هيڅ شبه نه وه افسوس پې وکړ.

بَابُ مَا يُقَالُ عِنْدَ مَنْ حَضَرَهُ الْمَوْتُ

د زکندن پر وخت ښودنه \ تلقين ورکول

د قريب الموت څخه مراد هغه ناروغ دی چي پر هغه د مرګ نښي ښکاره سي او علماوو ليکلي دي چي د مرګ نښي دادي چي د ناروغ پښې سستي سي که هغه درېدل وغواړي نو درېدلای نه سي د پزي سر پې کوږ سي، کوناټي يې کښيني او د بيضتين (خايو) پوست پې زوړند سي. د زکندن نيوونکي کس ته د تلقين ورکولو څخه مراد کلمه طيبه ده يعني لااله الا الله محمد رسول الله تلقين د سورة ياسين تلاوت، انا لله وانا ليه راجعون ويل، د خير دعاوي کول او مغفرت غوښتل او داسي نور .....

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د کلمې تلقين کول

﴿۱۵۲۸﴾: عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ وَّاَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالاَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ. رواه مسلم

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه او ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مړ کيدونکی ومخته لا اله الا الله وايا ست.

تخريج: صحيح مسلم: ۲\ ۶۳۱، رقم: ۱- ۹۱۶.

تشريح: د تلقين معني ده ويل دلته د تلقين څخه مراد د زكندن په وخت كي د مړ كېدونكي په مخ كي كلمه لا اله الا الله ويل چي هغه هم په اوريدو سره ووايي خو قريب الموت كس ته دا نه ويل پكار دي چي ته يې هم ووايه، داسي نه وي چي د مرض دشدت يا د بد حواسي په سبب د هغه د خولې څخه انكار صادر سي د جمهور علماء په نزد دا تلقين مستحب دى.

د خير كلمې ويل

﴿۱۵۲۹﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا حَضَرْتُمُ الْمَرِيضَ أَوِ الْمَيِّتَ فَقُولُوا خَيْرًا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ. رواه مسلم

دبى بى ام سلمه رضى الله عنها څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي تاسو يو ناروغ يا مرګ ته نژدې كس ته ورسئ نو دهغه مخته د خير كلمه وايا ست، ځكه چي تاسو څه وايا ست، ملائكي پر هغه باند آمين وايي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۲\ ۶۳۳، رقم: ۶- ۹۱۹.

تشريح: په حديث كي د ميت څخه مراد ميت حكمي يعني قريب الموت هم مراد اخيستل كيداى سي او ميت حقيقي يعني مړى هم مراد اخستل كېږي كه ميت حقيقي مراد وي نو لفظ (او) به د راوي د شك د اظهار لپاره وركول سوئ وي او كه ميت حقيقي مراد وي نو لفظ (او) به د تنويع لپاره وي. د حديث حاصل دادي چي مريض او د قريب المرګ مخكي په خپلې ژبې سره د خير او نيكي كلمات ادا كوي په دې توګه چي د ځان لپاره خو د خير د مريض لپاره شفاء او د مړي لپاره د بخښنې دعاء وكړي.

د مصيبت په وخت كي صبر

﴿۱۵۳۰﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ

د حضرت ام سلمه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل. چي كله يو مسلمان ته

تُصِيبُهُ مُصِيبَةٌ فَيَقُولُ مَا أَمَرَهُ اللَّهُ بِهِ { إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ } اللَّهُمَّ

مصيبت ورسيږي، او هغه د لوى خداى ﷻ د حكم مطابق په هغه مصيبت كي دا الفاظ ووايي انا لله..... خير منها (موږ د خداى يو او دهغه وطرفته زمونږ وروسته ورتلل دي، اى الله!

أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَخْلَفَ اللَّهُ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا فَلَمَّا

زما په مصيب ما ته ثواب راکړي او کوم حالت چې دي دهغه څخه بهتر راکړي)نو خدای ﷻ هغه ته دهغه څخه بهتره شی ورکوي ،

اتَ أَبُو سَلَمَةَ قُلْتُ أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌ مِنْ أَبِي سَلَمَةَ أَوَّلُ بَيْتٍ هَاجَرَ إِلَى

حضرت ام سلمه ﷺ وايي چې کله ابو سلمه ﷺ (يعني دهغې خاوند) وفات سو نو ما وويل : دابو سلمه ﷺ څخه به غوره کوم مسلمان وي ، هغه داسې سړی وو چې تر تولو مخکې يې دخپل اهل وعيال سره هجرت کړي وو ،

رَسُولِ اللَّهِ ﷺ ثُمَّ إِنِّي قُلْتُهَا فَأَخْلَفَ اللَّهُ لِي رَسُولَ اللَّهِ ﷺ . رواه مسلم

ما دغه کلمات وويل ، نو خدای ﷻ ماته دابو سلمه ﷺ په عوض کې حضرت رسول الله ﷺ راکړ (يعني زما سره نبی کريم ﷺ نکاح وکړل). (مسلم) يعني دابو سلمه ﷺ په وفات کې ما دغه کلمات وويل چې پورته بيان سول . نو الله ﷻ ماته بهتر خاوند (حضرت محمد ﷺ) راکړ. مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۲\ ۶۳۱ ، رقم ۳-۹۱۸.

تشريح : انا لله و انا اليه راجعون ، د دې مطلب دادی چې موږ او کوم شيان چې موږ ګڼلي دي دا ټول د الله پاک ملکيت او د هغه پيدا سوي دي او موږ هغه خواته ورګرځېدونکي يو ، ګويا په دې ايت کې دا تسليم او اقرار دی چې خپله زموږ ځان او زموږ ذات او هغه شيان چې د هغه موږ ځان مالکان ګڼو او هغه زموږ په تيوازي او اختيار کې دي او زموږ خواته د هغه نسبت کيږي هغه ټول په حقيقت کې د الله پاک ملکيت دی زموږ سره خو يوازي عاريتا دي د الله پاک د خوا څخه زموږ ابتداء سوي ده او هغه خواته زموږ انتهاء هم ده ، کوم سړی چې دا مضمون په خپل زړه او دماغ کې راسي او په کوم مصيبت کې چې هغه اخته وي په هغه مصيبت د صبر او رضا لمن ېې نيولې وي نو د هغه لپاره هغه مصيبت څه چې هر مصيبت اسانه کيږي مګر په دومره خبره باندې پوهيدل پکار دي چې په مصيبت او تکليف باندې جزع او فزع د آيت صرف په ډېې سره اداء کول څه دومره فائده مند نه دی که يو سړي ته دا مشکل پيدا سي چې د مذکوره ايت او کلماتو د ويلو حکم ېې نه دی بيان کړی نو بيا د ارشاد دا جزء فيقول ما امره الله به د الله تعالی د حکم مطابق دي ېې ووايي د دې څه مطلب دی نو د دې جواب به په مختصره توګه دا

وي چي هر کله د آيت او د مذکوره کلماتو د ويلو فضيلت بيان سو دا حکم فرمايل سوی دی لفظ اجرني همزه الف جزم او د جيم په پيش سره هم نقل دی او د همزه زور او جيم زير هم نقل دی خو د دواړو معني او مراد يو دی د بي بي ام سلمه ﷺ ارشاد : فلما مات ابوسلمه يعني کوم وخت چي ابوسلمه ﷺ وفات سو الخ د دې مطلب دادی چي ما د رسول الله ﷺ دا حديث مبارک د مخکي څخه اورېدلی وو هر کله چي زما خاوند ابوسلمه ﷺ د رسول الله ﷺ مخکي وفات سو نو د رسول الله ﷺ حکم پر ځاي د راوړلو له امله او دا فضيلت د حاصلولو لپاره ما وغوښتل چي دا کلمات ووايم نو بيا زما په زړه کي دا خيال پيدا سو چي ابوسلمه ﷺ څخه بهتر کوم سړی کيداي سي چي الله تعالی به ېې د ابوسلمه ﷺ په بدله کي عطاء کړي وه نو ام سلمه ﷺ د ابوسلمه ﷺ فضيلت بيانوي چي کوم خلک په هجرت کي مدينې شريفي ته تللي وه په هغوی کي ابوسلمه تر ټولو اول کس وو چي د خپل اهل وعيال سره ېې هجرت وکړ او د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو بيا دا چي ابوسلمه ﷺ د رسول الله ﷺ د اکا زوی او رضاعي ورور ېې وو د دې وروسته ام سلمه ﷺ فرمايي باوجود د دې تردد ما مذکوره کلمات وويل چي د هغه په وجه ماته د دنيا او آخرت د ټولو عظيم لوئي سعادت او فضيلت حاصل سو يعني د رسول الله ﷺ په نکاح کي راغلم چي افضل البشر دی .

د مړي لپاره د نبي کريم ﷺ دعاء

﴿۱۵۳۱﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَبِي سَلَمَةَ

دبی بی ام سلمه ﷺ څخه روايت دي چي کله دابوسلمه ﷺ (يعنی دهغې د خاوند) سترګي (د مرګ په وخت کي) غړېدلي پاته سوې نو رسول الله ﷺ تشريف راوړ ،

وَقَدْ شَقَّ بَصَرُهُ فَأَغْمَضَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الرُّوحَ إِذَا قُبِضَ تَبِعَهُ الْبَصَرُ فَضَجَّ

او په خپل لاس سره يې د هغه سترګي بندي کړې ، بيا ئې وفرمايل : کله چي روح قبض کيږي ، نو د هغه ديد هم د هغه د روح سره ولاړ سي ،(دابو سلمه ﷺ د کور خلک پوه سول چي

نَاسٌ مِنْ أَهْلِهِ فَقَالَ لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ

ابوسلمه وفات سوي دي) هغوی په ژړا سول، نبی کريم ﷺ وفرمايل ، د ځان د پاره د خير څخه ماسوا بله دعا مه کوئ ، ځکه چي په دې وخت کي څه چي ستاسو د ژبې څخه وځي ، ملائکي په

عَلَى مَا تَقُولُونَ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِي سَلَمَةَ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ

هغه آمين وايي ، ددې څخه وروسته نبی کريم ﷺ وفرمايل : اللهم اغفر ....ونور له فيه . (اې الله ! ابو سلمه وبخښې ، او دهغه درجه لوړه کړي ، هغه په هغو خلکو کې شامل کړي چې هغوی ته سيده لاره ښوول سوې ده

وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ . رواه مسلم

او د هغه وروسته پاتو کار ساز سې ، او اې ددواړو جهانو پروردګاره! موږ او دی وبخښې او قبر يې ورپراخ کړی او منور يې کړي) (مسلم) .

تخريج : صحيح مسلم ۲\ ۶۳۴، رقم: ۷- ۹۲۰.

تشريح : د حديث د الفاظو (ان الروح اذا قبض .....الخ) په ذريعه ګويا د اغماض يعني د سترګو بندولو علت بيان سوی دی د هغه مطلب دادی چې ما د هغه سترګې ځکه ور بندې کړې چې کله هې روح قبض کيږي نو د هغه سره د سترګو نور هم ځي نو د سترګود خلاصې پاته کيدو څه فائده نسته .

د نبي کريم ﷺ وفات

﴿۱۵۳۲﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ سُجِّيَ بِبُرْدٍ حِبَرَةٍ . متفق عليه

د حضرت بی بی عائشې ﷺ څخه روايت دي کوم وخت چې رسول الله ﷺ وفات سونو په يمني څادر باندې يې بدن مبارک پټ کړل سو . (بخاري او مسلم)

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري)، ۳\ ۱۱۳، رقم: ۱۲۴۱، ومسلم ۲\ ۶۵۱، رقم: ۴۸- ۹۴۲.

د لغاتو حل : (حبرة) : اى مخطط . (کربنه لرونکی).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د مرګ په وخت کي اخري خبره

﴿۱۵۳۳﴾: عَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه ابوداؤد

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ديو چا اخيري خبره چې لااله الاالله سوه ، هغه په جنت کي داخليږي ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\۴۸۶، رقم: ۳۱۱۶.

تشريح : مراد دادی چې کوم سړی په آخري وخت کي پوره کلمه طيبه (لااله الا الله محمد رسول الله) ووايي هغه به په جنت کي داخليږي اوس دا احتمال خواه دا دخول جنت څخه د عذاب مخکي دخول خاص دی يا د خپلو ګناهونو په اندازه عذاب ورکولو وروسته به وي مګر اول احتمال صحيح معلوميږي چې په هغه کي مومنين کوم چې په کلمه طيبه ويلو سره خپل ځان الله پاک ته وروسپاري او هغه مؤمنان چې د هغوی آخري کلام کلمه طيبه نه وي امتياز پيدا سي.

دزکندن پر وخت یاسین ویل

﴿۱۵۳۴﴾: وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوا يس عَلَى مَوْتَاكُمْ . رواه احمد و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : مړ کيدونکي ته سورة يس وواياست . (احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه)

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۲۷، وابوداؤد: ۳\۴۸۹، رقم: ۳۱۲۱، وابن ماجه ۱\۴۶۶، رقم: ۱۴۴۸

تشريح : د مړو څخه مراد مرګ ته نژدې کسان دي په دې اړه د سورة ياسين ويلو حکم په بنکاره دا معلوميږي چې مرګ ته نژدې کس په دې سورة کي ذکر سوي مضامين مثلا د الله تعالى ذکر، د قيامت حال او د دې قسم نور عجيب او غريب مضامينو څخه باخبر سي.

دا هم احتمال لري چې په حديثو کي لفظ د (موتكم) څخه قريب الموت مراد نه وي بلکه حقيقي مړی ځني مراد وي په دې صورت کي د دې کلمې مطلب به دا وي چې سورة ياسين مړي

ته د هغه په کور کي يا د ښخېدو وروسته د قبر د سر خواته وويل سي .

ابن مردويه رح او حُينو نورو يو حديث روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل د کوم سړي يعني قريب المرگ سر ته چي سورة ياسين شريف وويل سي نو الله تعالی مرگ پر هغه اسانه کوي .

ابن عدي رحمة الله عليه وغيره دا حديث نقل کړی دی کوم سړی چي د خپل مور وپلار يا يوازي د مور يا د پلار قبر ته هره جمعه ورسي بيا هلته سورة ياسين ووايي نو د قبر دصاحب لپاره د سورة ياسين د ټولو حروفو د تعداد په اندازه مغفرت ورته عطاء کيږي علماء فرمايي په دې حديث کي د جمعې څخه مراد حسب ظاهر په خاصه توګه د جمعې ورځ هم مراد کيداي سي او پوره اونۍ هم مراد اخيستل کيږي .

مسلمان مړی مچول جائز دي

﴿۱۵۳۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبَّلَ

دبی بی عائشې رضی الله عنها څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ د عثمان بن مظعون بدن د وفات څخه وروسته مچ کړ

عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُوْنٍ وَّهُوَ مَيِّتٌ وَهُوَ يَبْكِيْ حَتّٰى سَالَ دُمُوْعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى وَجْهِ عُثْمَانَ . رواه الترمذي و أبو داود وابن ماجه

او د هغه په مړی يې وژړل ، تر دې چي د نبی کريم ﷺ اوښکي مبارکي د عثمان پر مخ وبهېدلي . (ترمذي ، ابو داؤد ، ابن ماجه)

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۵۱۳، رقم: ۳۱۶۳، والترمذي ۳\ ۳۱۴، رقم: ۹۸۹، وابن ماجه: ۱\ ۴۶۸، رقم: ۱۴۵۶.

تشريح : په مهاجرينو کي عثمان ابن مظعون تر ټولو اول په مدينه کي وفات سو تر ټولو مخکي دی په بقيه هديره کي ښخ کړل سو ددې وروسته بقيع ته د هديرې حيثيت ورکړل سو رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک سره ډبري را پورته کړې او د هغه پر قبر ېې د نښې په توګه کښېښولې د دې حديث څخه معلومه سوه چي مسلمان مړي د ښخولو څخه مخکي مچول او په مسلمان مړي باندي په اوښکو سره ژړل جائز دي .

﴿۱۵۳۶﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ قَبَّلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مَيِّتٌ.

رواه الترمذي وابن ماجه

د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دي چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه رسول الله ﷺ دوفات څخه وروسته پر مخ باند مچ کړ. (ترمذي، ابن ماجه)

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۳۱۴، رقم: ۹۸۹، وابن ماجه ۱\ ۴۶۸، رقم: ۱۴۵۶.

په تجهيز او تكفين كې تلوار

﴿۱۵۳۷﴾: وَعَنْ حُصَيْنِ بْنِ وَحْوَحٍ أَنَّ طَلْحَةَ بْنَ الْبَرَاءِ مَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ ﷺ يَعُودُهُ فَقَالَ إِنِّي لَا أُرَى طَلْحَةَ إِلَّا قَدْ حَدَثَ فِيهِ الْمَوْتُ فَآذِنُونِي بِهِ وَعَجِّلُوا فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِجِيفَةِ مُسْلِمٍ أَنْ تُحْبَسَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَهْلِهِ. رواه ابوداؤد

د حضرت حصين بن وحوح رضي الله عنه څخه روايت دي چې طلحه بن براء ناروغه سو، نو رسول الله ﷺ دهغه پوښتنې ته راغې او ويې فرمايل: زه وينم چې د طلحه مرګ راغلي دي، کوم وخت چې دی وفات سو، نو ما سمدستي خبر کړئ او تاسو دده په کفن و دفن کې دتلواري څخه کار واخلئ، ځکه چې مسلمان مړي دکور په مينځ کې زيات ساتل مناسب نه دي. (ابوداؤد)

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۵۱۰، رقم: ۳۱۵۹،

تشريح: که چيرې د مړي په ښخېدو کې چې ځنډ وسي نو د مړي د خرابېدو بيره وي او ښکاره خبره ده چې د مړي په خرابېدو سره به خلک د هغه څخه نفرت کوي په دې اړه د مړي حقارت او سپکاوی کيږي الله تعالى مومن ډير معظم او مکرم پيدا کړی دی چې د هغه په تکفين (کفن ورکولو) او تدفين (ښخولو) کې تلوار کوئ چې پورتنۍ صورتونه پيدا نسي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

مړي ته تلقين ورکول

﴿۱۵۳۸﴾: عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دحضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ

تاسو مړ کيدونکي کس ته ددې کلماتو ښوونه کوئ : لا اله الا الله .... رب العالمين (دالله څخه ماسوا بل څوک دعبادت لائق نسته ، چې حليم او کريم دي ، دلوی عرش پروردګار دي ،

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ لِلْأَحْيَاءِ قَالَ أَجْوَدُ وَأَجْوَدُ .

رواه ابن ماجه .

ټوله تعريفونه دهغه دپاره دي ، چې ددواړو جهانو پالونکي دي) اصحابو عرض وکړ : يا رسول الله ﷺ ! ددې کلمو ښوول وصحتمندو خلکو ته څنګه دي؟ نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل : بهتر او ډېر بهتر دي . (ابن ماجه) .

تخريج : سنن ابن ماجه ۱\ ۴۶۵، رقم: ۱۴۴۶.

تشريح : ابن عساکر رضي الله عنه د حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل کړي دي ما د رسول الله ﷺ څخه څو کلمات اوريدلي دي کوم سړی چې دا د خپل وفات په وخت کې ووايي هغه به په جنت کې داخليږي او هغه کلمات دادي (لااله الا الله الحليم الكريم) درې واره الحمد لله رب العالمين درې واره او د دې وروسته تبارک الذي بيده الملک يحيي ويميت وهو علي کل شيء قدير ووايي .

د مؤمن او فاسق روح

﴿۱۵۳۹﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمَيِّتُ

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : مړک ته نژدې انسان ته

تَحْضُرُهُ الْمَلَائِكَةُ فَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ صَالِحًا قَالُوا اخْرُجِي أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ

ملائكي راځي ، كه هغه صالح بنده وي ، نو ملائكي ورته وايي ، اې پاک روحه

كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ اخْرُجِي حَمِيدَةً وَأَبْشِرِي بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ

چې په پاک بدن کې وې ، راووځه . په داسې حال کې چې دخدای ﷻ او مخلوق په نیز ستا تعریف سوي دي ، او خوشحاله په راحت ، دجنت پاک رزق ، او تا ته دي دخدای ﷻ دملاقات زیري وي ، چې په تا باندي

غَضْبَانَ فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذَلِكَ حَتَّى تَخْرُجَ ثُمَّ يُعْرَجُ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ

غضب ناکه نه دي ، (بلکه ستا څخه خوشحاله دي) دا ملائکي مخامخ دهغه سړي ومخته داکلمات وايي . تر دې چې روح يې په خوشحالي سره دبدن څخه په خوشحالي راووځي ، او ملائکي يې داسمان ولورته يوسي ،

فَيُفْتَحُ لَهَا فَيُقَالُ مَنْ هَذَا فَيَقُولُونَ فُلَانٌ فَيُقَالُ مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الطَّيِّبَةِ

او بيا دهغه ومخته داسمان دروازه خلاصه سي ، دربان ورڅخه پوښتنه کوي ، چې څوک دي ؟ ملائکي وايي چې دا فلانکی بنده دي ، نو ورته وايي چې دا پاک روح دی هر کله راسي ،

كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ ادْخُلِي حَمِيدَةً وَأَبْشِرِي بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ

چې په پاک بدن کې وو . اې پاکه روحه ! په اسمان کې په داسې حال کې داخل سه چې ستا تعریف سوي دي ، او تا ته دي دراحت ، دجنت رزق او دخوشحالي زیري وي .

غَضْبَانَ فَلَا يَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذَلِكَ حَتَّى يُنْتَهَى بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي فِيهَا اللَّهُ

داجملې وهغه ته مخامخ ویل کیږي . تر دې چې دهغه روح هغه اسمان ته راورسیږي چې په هغه کې خدای ﷻ دی ،

عَزَّ وَجَلَّ وَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ السُّوءُ قَالَ اخْرُجِي أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيثَةُ كَانَتْ

او که هغه بدکاره انسان وي نو ملائکي هغه ته وايي ای خبیثه نفسه! چې

فِي الْجَسَدِ الْخَبِيثِ اخْرُجِي ذَمِيمَةً وَأَبْشِرِي بِحَمِيمٍ وَغَسَّاقٍ وَآخَرَ مِنْ

په خبيث او ناپاک بدن کي وي ، دباندي راووځه ، په داسي حال کي چي ستا بد ويل سوي دي ، او تا ته دي دنو په شان دګرمو اوبو ،

شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذَلِكَ حَتَّى تَخْرُجَ ثُمَّ يُعْرَجُ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ

او درنګارنګ عذابونو زيري وي ، ملائکي ورته مخامخ د الفاظ وايي ، تر دې چي دهغه روح دبدن څخه راووځي ، او ملائکي هغه داسمان ولورته يوسي ،

فيفتح لَهَا فَيُقَالُ مَنْ هَذَا فَيُقَالُ فُلَانٌ فَيُقَالُ لَا مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الْخَبِيثَةِ

داسمان دروازه ورته خلاصه سي ، پوښتنه وسي چي څوک دي ؟ ورته وويل سي ، فلاني بنده دي ، داسمان دربان ورته وايي ، ناپاکه روح ته دي زيري نه وي ،

كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيثِ ارْجِعِي ذَمِيمَةً فَإِنَّهَا لَا تُفْتَحُ لَكِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ

چي په ناپاک بدن کي وو ، په داسي حال کي چي ستا بدی ويل سوي ده ، او ستا دپاره داسمان دروازې نه خلاصيږي

فَيُرْسَلُ بِهَا مِنَ السَّمَاءِ ثُمَّ تَصِيرُ إِلَى الْقَبْرِ. رواه ابن ماجة.

نو هغه د آسمان څخه را وشړل سي او دقبر وطرفته ولاړ سي . (ابن ماجه)

تخريج : سنن ابن ماجه ۲\ ۱۴۲۳، رقم: ۴۲۶۲.

تشريح : هغه ته ملائکي راځي : د دې څخه په ښکاره دا معلوميږي چي مړ کېدونکي ته د هغه روح قبضولو لپاره د رحمت ملائکي او د عذاب ملائکي دواړي راځي که مړ کېدونکی نيک او صالح وي نو د رحمت ملائکي خپل کار کوي او که بد کار وو نو د عذاب ملائکي خپل کار کوي .

د نيک او صالح څخه په عمومي توګه مومن مراد دی يا هغه نيک بخت مراد دی چي د الله ﷻ او د بندګانو د دواړو د حقوقو مراعت ساتي او د هغه ژوند د اطاعت او فرمانبرداري په لار تير سوی وي .

په حديث شريف کي د نيک صالح او د کافر د روح د قبضولو په باره کي خو په تفصيل سره ښودنه سوې ده مګر د فاسق په باره کي بالکل سکوت اختيار سوی دی د هغه څه ذکر نه دی

سوی ځکه چې د فاسق په باره کې د کتاب او سنت دا طریقه ده چې د هغه په باره کې سکوت اختیارول کیدای سي چې هغه د بیري او امید د دواړو په مابینځ کې وي د مومن او کافر د روح په مابینځ کې دا امتیاز او فرق هم واضح سوی دی چې د کافر روح د اسمان ځخه را شړل کیږي او هغه د همیشه لپاره اسفل السافلین کې قید کیږي پر خلاف د صالح مومن د روح چې هغه ته ازادي حاصلیږي او په اسمان او مځکې کې چیري چې غواړي سیل کولای سي په جنت کې مېوې خوړلای سي، د عرش لاندې د قندیلونو خواته خپل ځای اختیارولای سي بیا دا چې په قبر کې د خپل جسم سره د هغه تعلق وي په دې توګه چې مړی په قبر کې د قرآن کریم تلاوت کولای سي، لمونځ کولای سي، د سکون او راحت ځخه خوندي اخلي، د واده د زلمي په ډول خوب کوي او خپل حسب مراتب او د جنت په درجاتو کې خپل ځای وینې او ګوري هم.

په دې هکله دي دا خبره په نظر کې ونیول سي چې د روح معامله او د برزخ او د آخرت احوال که څه هم خوارق عادتونه دي دا چې زموږ په دنیوي ژوند کې هغه احوال په ظاهره نه معلومیږي مګر د دې امورو د وقوع په باره کې په هیڅ ډول شک او شبهه کې اخته کیدل نه دي پکار.

﴿۱۵۴۰﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا خَرَجَتْ رُوحُ

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه ځخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې د مؤمن روح ووځي

الْمُؤْمِنِ تَلَقَّاهَا مَلَكَانِ يُصْعِدَانِهَا قَالَ حَمَّادٌ فَذَكَرَ مِنْ طِيبِ رِيحِهَا وَذَكَرَ

نو دوې ملائکې هغه د اسمان ولور ته وړي، حماد راوي وایي، د دې ځخه وروسته ابوهریره رضي الله عنه د روح د خوشبو او مشکو ذکر وکړ (یعني دا چې د دې ځخه د مشکو بوئ راځي)

الْمِسْكَ قَالَ وَيَقُولُ أَهْلُ السَّمَاءِ رُوحٌ طَيِّبَةٌ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْأَرْضِ صَلَّى

د دې ځخه وروسته راوي د رسول الله ﷺ دا قول بیان کړ: د اسمان ملائکې چې دا روح ووینې نو وایي: یو پاک روح د مځکې لخوا ځخه راځي،

اللهُ عَلَيْكِ وَعَلَى جَسَدٍ كُنْتِ تَعْمُرِينَهُ فَيُنْطَلَقُ بِهِ إِلَى رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ يَقُولُ

بیا اسمان والا هغه مخاطب کړي ورته وایي، د خدای رحمت دی پر تا او ستا پر بدن باندې نازل وي، چې تا به اباد ساتي، بیا ملائکې هغه وپروردګار ته یوسي، او پروردګار دا حکم ورکړي

انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى آخِرِ الْأَجَلِ قَالَ وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا خَرَجَتْ رُوحُهُ قَالَ حَمَّادٌ

د قيامت تر ورځي پوري معطل کړي ، او کله چې د کافر روح وځي ، حماد وويل :

وَذَكَرَ مِنْ نَتْنِهَا وَذَكَرَ لَعْنًا وَيَقُولُ أَهْلُ السَّمَاءِ رُوحٌ خَبِيثَةٌ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ

ابو هريرة رضي الله عنه د دې روح دبدبوي ذکر وکړ ، او بيا يې دلعنت ، د دې څخه وروسته يې وفرمايل : د دې روح په لېدو سره د اسمان والا وايي ، چې يو ناپاک روح د مځکې دلور څخه راځي ،

الْأَرْضِ فَيُقَالُ انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى آخِرِ الْأَجَلِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَرَدَّ رَسُولُ اللَّهِ

بيا وويل سي ، چې دايوسئ ، او د قيامت تر ورځي پوري مهلت ورکړئ ، حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي : د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَيْطَةً كَانَتْ عَلَيْهِ عَلَى أَنْفِهِ هَكَذَا. رواه مسلم

د خپل پټو څوکه پر خپله پزه کښېښودل (لکه چې د کافر د روح بدبوئ رسول الله ﷺ ته محسوسه سول) (مسلم).

تخريج : صحيح مسلم: ۱۴\ ۲۲۰۲، رقم: ۷۵- ۲۸۷۲.

د لغاتو حل : (رِيطَة): وهي بفتح الراء وسكون الياء التحتانية، كل ملاءة على طاقة واحدة ليست لفقتين أي: طرف ريطة. (د څادر څوکه).

تشريح : کله چې د مؤمن روح د الله تعالى په دربار کې وړاندې کيږي نو الله رب العزت د هغه په باره کې فرمايي: دې يوسئ او د قيامت تر ورځي پوري وخت ورکړئ چې په جنت کې يا د جنت نژدې اوسئ او د پروردګار د رحمتونو برخمن کيږي بيا د دې وروسته د قيامت په ورځ به د ده بيرته راتلل وي د حساب وروسته د هغه لپاره د جنت د دائمي سعادت فيصله کول کيږي. ګويا په حديث کې د اجل څخه مراد د برزخ وخت دی چې د هغه انتهاء يوم حساب يعني د قيامت ورځ ده، برزخ هغه عالم ته وايي چې د مرګ څخه د قيامت تر ورځي پوري درميانې وقفه ده. د حديث آخري الفاظ همداسي راوړلو : مطلب دادی چې حضرت ابو هريره رضي الله عنه د خپل پټو پر څوکې پزه کښېښودل او دا ېې وښودل چې رسول الله ﷺ همداسي د خپل پټو پر څوکې خپل پزه مبارکه ايښې وه.

پر پزه ہې د پټو څوکه کښېښودل : د دې وجه دا وه چې رسول الله ﷺ ته د مکاشفې له مخې د کافر روح او د هغه بدبوئي محسوسه سوه چې د هغه په وجه رسول الله ﷺ خپل پټو پر خپل پزه مبارکه کښېښودی .

﴿۱۵۴۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حُضِرَ الْمُؤْمِنُ

دحضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چې دیو مؤمن دمرګ وخت رانژدې سي

أَتَتْهُ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ بِحَرِيرَةٍ بَيْضَاءَ فَيَقُولُونَ اخْرُجِي رَاضِيَةً مَرْضِيًّا

نو درحمت ملائکي دورېښم سپینه کپړه راوړي ، او دمؤمن وروح ته وایي : اې روحه ! دبدن څخه راووځه ، او دخدای ﷻ وطرفته ته راځه ، په داسي حال کي چې ته دخدای ﷻ څخه راضي یې ، او خدای ﷻ ستا څخه راضي دي ،

عَنْكِ إِلَى رَوْحِ اللّٰهِ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ فَتَخْرُجُ كَأَطْيَبِ رِيحِ الْمِسْكِ

الله ﷻ رحمت ، او دجنت رزق ستا دپاره دي نو روح راووځي او خوشبویي یې دمشکو په شان وي

حَتَّى أَنَّهُ لَيُنَاوِلُهُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا حَتَّى يَأْتُونَ بِهِ بَابَ السَّمَاءِ فَيَقُولُونَ مَا

او ملائکي یې لاس په لاس واسمان ته وړئ ، کله چې ملائکي دا روح داسمان ودروازو ته یوسي ، نو داسمان ملائکي وایي

أَطْيَبَ هَذِهِ الرِّيحَ الَّتِي جَاءَتْكُمْ مِنَ الْأَرْضِ فَيَأْتُونَ بِهِ أَرْوَاحَ الْمُؤْمِنِينَ

څه ښه خوشبویي ده ، چې تاسو دمځکي دطرفه څخه راوړې ده ، بیا ملائکي داروح دمؤمنانو ارواحو ته یوسي ،

فَلَهُمْ أَشَدُّ فَرَحًا بِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ بِغَائِبِهِ يَقْدَمُ عَلَيْهِ فَيَسْأَلُونَهُ مَاذَا فَعَلَ

او هغوي ورسره دومره خوشحاله سي ، چې دیو خپل دسفر څخه په بیرته راتلو سره ، یا دیو ورک سوي خپل په بیرته راتلو سره تاسو خوشحاله کیږي ،

فُلَانٌ مَاذَا فَعَلَ فُلَانٌ فَيَقُولُونَ دَعُوهُ فَإِنَّهُ كَانَ فِي غَمِّ الدُّنْيَا فَإِذَا قَالَ أَمَا

بيا دمؤمنانو روحونه دهغه روح څخه پوښتنه كوي ، چې فلاني فلاني بنده څه وكړه ، يعني دفلاني فلاني بنده څه حال دي ، بيا دمؤمنانو روحونه خپلو كي وايي ، دې پريږدي ، دې ددنيا په رنځ او تكليف كې اخته وو ،

أَتَاكُمْ قَالُوا ذُهِبَ بِهِ إِلَى أُمِّهِ الْهَاوِيَةِ وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا احْتُضِرَ أَتَتْهُ مَلَائِكَةُ

هر كله چې ده ته سكون او ارام حاصل سي ، نو بيا ور څخه پوښتنه وكړئ ، بيا داروح (دارام دحاصلولو څخه وروسته) وايي ، چې فلاني بنده مړ سو ، ايا هغه تاسو ته نه دي راغلي ؟ دمؤمنانو روحونه به ورته وايي ، ملائكو هغه وخپل ځاي (دوږخ) ته يو وړ . او كله چې دكافر دمرګ وخت نژدې سي ، نو دعذاب ملائكي

الْعَذَابِ بِمِسْحٍ فَيَقُولُونَ اخْرُجِي سَاخِطَةً مَسْخُوطًا عَلَيْكِ إِلَى عَذَابِ اللَّهِ عَزَّ

هغه ته تاټ راوړئ او ورته وايي : اې روحه! بهر راووځه ، دخداى ﷻ عذاب تاته متوجه دي ،

وَجَلَّ فَتَخْرُجُ كَأَنْتَنِ رِيحِ جِيفَةٍ حَتَّى يَأْتُونَ بِهِ بَابَ الْأَرْضِ فَيَقُولُونَ مَا

نو هغه روح دبدبوئ مرداري په شان راوځي ، تر دې پورې چې ملائكي يې دمځكي دروازو طرفته راوړي ، او ورته ويل كيږي ،

أَنْتَنَ هَذِهِ الرِّيحَ حَتَّى يَأْتُونَ بِهِ أَرْوَاحَ الْكُفَّارِ . رواه احمد والنسائي .

څنګه ناپاكه او بدبويه روح دي ، بيا هغه دكافرو روح ته يوورل سي . (احمد ، نسائي).

تخريج: سنن النسائي ۴\۸-۹، رقم: ۱۸۳۳. لم نجده عند الامام احمد.

دلغاتو حل: (مِسح): الثوب الخشن (كلك توكر، تاټ).

تشريح : د مؤمن د مرګ په وخت كي د رحمت ملائكي د ريشم جامې څكه راوړي چې په هغه كي روح نغښتى يوسي، ماذا فعل فلان، فلانى څه كوي يعني د مؤمنو ارواح د راتلونكي مؤمن د روح څخه د هغو خلكو په باره كي چې په دنيا كي پيژندل او په دنيا كي يې پرې ايښى وه پوښتنه كوي چې فلانى او فلانى په څه حال كي دى او د دې پوښتني څخه د هغوى مطلب داوي كه دا معلومه سي چې د هغوى ژوند د الله تعالى او د الله د رسول ﷺ په اطاعت او فرمانبردارى كي تيريږي نو خوشحاله سي او پر راه حق باندې د هغوى د استقامت لپاره دعاء كوي او كه د

چاپه باره کي هغوی ته دا معلومه سي چي د هغه ژوند د ګناه او معصيت په جال کي نغښتی دی نو رنځ اوغم کوي او د الله تعالی څخه د هغوی د هدايت او د هغوی د مغفرت او تحسين دعا غواړي.

(حتي ياتون به الی باب الارض) بيا ملائکي هغه د مځکي د دروازو خواته راوړي د دې په باره کي علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي د مځکي د دروازې څخه مراد د مځکي د اسمان يعني اول اسمان دروازه ده ځرنګه چي د تير حديث الفاظ (ثم يعرج بها الی السماء) دلالت کوي او دا هم احتمال دی چي د مځکي د دروازو څخه مراد مځکه وي په دې صورت کي به د دې مطلب داوي چي د کافر روح اسفل السافلين خواته غورځول کيږي ملا علي قاري رحمة الله عليه فرمايي چي زما په نزد هم دوهم صورت غوره معلوميږي.

د کافر ارواح خواته ښې وړي: ددې مطلب دادی چي هغه د کافرانو ارواحو ته چي د هغوی ځای سجين دی هغه ته ښې رسوي سجين د جهنم په ژورو والي کي د يو ځای نوم دی.

﴿۱۵۴۲﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی چي مونږ د رسول الله ﷺ سره ولاړو

فِي جِنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ وَلَمَّا يُلْحَدْ فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ

ديوه انصاري جنازې ته، تر دې چي مونږ د هغه قبر ته ورسېدو، ترهغه وخته پورې هغه ښخ سوي نه وو، رسول الله ﷺ کښېنستي،

ﷺ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ وَكَأَنَّ عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرَ وَفِي يَدِهِ عُودٌ يَنْكُتُ فِي الْأَرْضِ فَرَفَعَ

او مونږ هم د نبي کريم ﷺ سره شاوخوا سر کښته او خاموش کښېناستو، ګواکي زمونږ پر سرو باندې مرغان ناست دي، نو د نبي کريم ﷺ په لاس کي دغه وخت يو لرګی وو، چي په هغه سره يې مځکه ګروول،

رَأْسَهُ فَقَالَ اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ

بيا نبي ﷺ خپل سر مبارک پورته کړ او ويې فرمايل: د قبر د عذاب څخه پناه غواړئ، دوه يا درې واري نبي کريم ﷺ دا الفاظ وويله، ددې څخه وروسته يې وفرمايل: هر کله چې

نَ إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ نَزَلَ إِلَيْهِ مَلَائِكَةٌ مِنَ

ن بنده تعلق د دنيا څخه قطعه کېدونکي وي او هغه د اخرت ولورته متوجه وي نو هغه ته د اسمان دلوري څخه ملائکي راځي ،

اءِ بِيضُ الْوُجُوهِ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الشَّمْسُ مَعَهُمْ كَفَنٌ مِنْ أَكْفَانِ الْجَنَّةِ

ی مخونه داسي روښانه وي ګواکي دهغوی مخونه لمر غوندي وي ، دهغوي سره د جنت کفن

طٌ مِنْ حَنُوطِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَجْلِسُوا مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ

نت خوشبويي وي ، تر دې چې هغوی دومره ليرې کښيني ، څومره چې نظر کار کوي ، بيا د مرګ ملائکه راسي ،

السَّلَامِ حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَيَقُولُ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ اخْرُجِي إِلَى

د من بنده ته کښېني او ورته وايي اې پاکه روحه ! د خدای د بخښني او د رضا ولورته راسه ،

رَةٍ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ قَالَ فَتَخْرُجُ تَسِيلُ كَمَا تَسِيلُ الْقَطْرَةُ مِنَ السِّقَاءِ

ل کريم ﷺ وفرمايل : چې روح داسي بهېدونکي د بدن څخه راووځي لکه څنګه چې دابو څاڅکي د مشک څخه بهېدونکي راووځي ،

خُذُهَا فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ حَتَّى يَأْخُذُوهَا فَيَجْعَلُوهَا

د مرګ ملائکه هغه روح واخلي او سمدستي نوري ملائکي د ملک الموت څخه هغه روح واخلي ، يعني دستر ګو د رف څخه ژر ، او هغه کښېږدي

لِكَ الْكَفَنِ وَفِي ذَلِكَ الْحَنُوطِ وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَطْيَبِ نَفْحَةِ مِسْكٍ وُجِدَتْ عَلَى

په هغه کفن او خوشبويي کي کوم چې هغوی راوړي دي ، د دې روح څخه هغه بهترينه خوشبويي خيژي ، چې په مځکه کي د ټولو خوش بويو شيانو څخه افضله وي ، ب

هِ الْأَرْضِ قَالَ فَيَصْعَدُونَ بِهَا فَلَا يَمُرُّونَ يَعْنِي بِهَا عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا

ملائکي د روح د اسمان و طرف ته وړي ، او د ملائکو دکومي ټولۍ سره چې د روح تيريږي

قَالُوا مَا هَذَا الرُّوحُ الطَّيِّبُ فَيَقُولُونَ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ بِأَحْسَنِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانُوا

نو هغه تولی وايي .دا پاک روح دچا دی ، کومي ملائکي چي داروح وړی هغوی وايي ، دا فلانی بنده دی او دفلاني زوی (يا لور) دی ، يعني دهغه نوم او لقب ورو ښيي چي

يُسَمُّونَهُ بِهَا فِي الدُّنْيَا حَتَّى يَنْتَهُوا بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَسْتَفْتِحُونَ لَهُ

په دنيا کي يې ذکر کيږي ، ترڅو چي دا ملائکي يې ددنيا اسمان ته راورسوئ او دهغه دپاره داسمان د دروازې خلاصولو غوښتنه وسي

فَيُفْتَحُ لَهُمْ فَيُشَيِّعُهُ مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ مُقَرَّبُوهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي تَلِيهَا حَتَّى يُنْتَهَى

نو د هغه لپاره د آسمان دروازه خلاصه سي او دهغه سره دهر اسمان ملائکي دبل اسمانه پوري ځي ، ترڅو پوري چي هغه روح ورسول سي

بِهِ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ اكْتُبُوا كِتَابَ عَبْدِي فِي عِلِّيِّينَ

اووم اسمان ته ، او الله ﷻ فرمايي : زما دبنده اعمال نامه مقام العلين کي (کم ځاي چي نيک روحونه قرار لري) کښيږدي ،

وَأَعِيدُوهُ إِلَى الْأَرْضِ فَإِنِّي مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ وَفِيهَا أُعِيدُهُمْ وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً

او دا روح دمځکي وطرف ته يوسئ (يعني دده بدن چي نسخ سوي دي واپس کړئ) ما دمځکي څخه بدنونه پيدا کړي دي

أُخْرَى قَالَ فَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ فَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُولَانِ لَهُ مَنْ

او مځکي ته يې واپس کوم ، او دمځکي څخه به يې دوهم وار راباسم ،ددې څخه وروسته نبی کريم ﷺ وفرمايل چي هغه روح بيا دهغه په بدن کي اچول کيږي ، بيا هغه ته دوې ملائکي راځي هغه کښېنوي او دهغه څخه پوښتنه کوي: څوک دی

رَبُّكَ فَيَقُولُ رَبِّيَ اللَّهُ فَيَقُولَانِ لَهُ مَا دِينُكَ فَيَقُولُ دِينِيَ الْإِسْلَامُ فَيَقُولَانِ لَهُ مَا

ستا رب ؟ په جواب کي هغه ورته ووايي . زما پروردګار الله ﷻ دی ، بيا هغوی پوښتنه ځينې وکړي ، ستا دين څه دی ؟ (يعني ته په کوم دين يې؟) هغه ورته ووايي ، زما دين اسلام دي ، بيا

هغوی ځینې پوښتنه وکړي چې

هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ فَيَقُولُ هُوَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فَيَقُولَانِ لَهُ وَمَا عِلْمُكَ

دا څوک دي، چې تاسو ته درلیږل سوي وو؟ هغه ورته په جواب کې وایي، دا د خدای ﷻ رسول دی، بیا ځینې پوښتنه کوئ، چې تا دده رسالت څنګه وپیژندي؟

فَيَقُولُ قَرَأْتُ كِتَابَ اللَّهِ فَآمَنْتُ بِهِ وَصَدَّقْتُ فَيُنَادِي مُنَادٍ فِي السَّمَاءِ أَنْ صَدَقَ

هغه ورته وایي، ما د خدای ﷻ کتاب ولوستی، ما ایمان پر راوړ، او تصدیق مې وکړ، بیا یو اواز کونکي د اسمان څخه یو اواز وکړي چې ریښتیا وویل

عَبْدِي فَأَفْرِشُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَأَلْبِسُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ قَالَ

زما بنده، دده دپاره د جنت بستره هواره کړئ، او د جنت جامه په واغوندئ، او د جنت ولور ته یو کلکین ورته خلاص کړئ، نو کلکین ورته خلاص سي

فَيَأْتِيهِ مِنْ رَوْحِهَا وَطِيبِهَا وَيُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ مَدَّ بَصَرِهِ قَالَ وَيَأْتِيهِ رَجُلٌ

او دهغه لاري ورته د جنت هوا او خوشبویي راځي، او هغه قبر ورته ډېر پراخه سي، د ډې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: بیا هغه ته یو ډېر ښائسته سړی راسي،

حَسَنُ الْوَجْهِ حَسَنُ الثِّيَابِ طَيِّبُ الرِّيحِ فَيَقُولُ أَبْشِرْ بِالَّذِي يَسُرُّكَ هَذَا يَوْمُكَ

چې ښائسته لباس یې اغوستي وي او بهترینه خوشبویي یې لګولې وي، او هغه ته وایي، تاته د دې دهغه شي زیري وي چې ستا خوشحالوونکي دي (یعني ستا دپاره دهر قسم نعمتونه موجود دي) دا هغه ورځ ده

الَّذِي كُنْتَ تُوعَدُ فَيَقُولُ لَهُ مَنْ أَنْتَ فَوَجْهُكَ الْوَجْهُ يَجِيءُ بِالْخَيْرِ فَيَقُولُ أَنَا

چې د دغه نعمتو وعده درسره سوې وه، مړي ځینې پوښتنه کوي چې ته څوک یې؟ چې ستا ښائست کامل دي، او تا زیري راوړي دي، هغه به ورته ووایي: زه

عَمَلُكَ الصَّالِحُ فَيَقُولُ رَبِّ أَقِمِ السَّاعَةَ حَتَّى أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي وَمَالِي قَالَ وَإِنَّ

ستا نیک عمل یم، مړي چې دا واوري نو وایي، چې ای زما پروردګاره! قیامت راولې، چې زه

بیا یو وار دمال او عیال لور ته ولاړسم ، ددې څخه وروسته نبي کریم ﷺ وفرمایل :

الْعَبْدَ الْكَافِرَ إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ نَزَلَ إِلَيْهِ مِنَ

کافر بنده چې د دنیا څخه د اخرت ولورته ځي ، نو راسي هغه ته

السَّمَاءِ مَلَائِكَةٌ سُودُ الْوُجُوهِ مَعَهُمُ الْمُسُوحُ فَيَجْلِسُونَ مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ ثُمَّ

د آسمان څخه ملائکي چې د هغوی سره تاټ وي ، هغوی دومره لیري ځینې کښېني ، چې تر کمه ځایه پورې سترګې دید کوي ، بیا

يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَيَقُولُ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيثَةُ

د مرګ ملائکه ورته راسي او د هغه سره کښېني او ورته وایي ، ای خبیثه او ناپاکه روحه!

اخْرُجِي إِلَى سَخَطٍ مِنَ اللَّهِ وَغَضَبٍ قَالَ فَتُفَرَّقُ فِي جَسَدِهِ فَيَنْتَزِعُهَا كَمَا يُنْتَزَعُ

د خدای د غضب ولورته راځه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : د کافر روح چې دا واوري بدن یې په لړزه سي (او د جسم څخه دراوتلو څخه ییریږي لیکن د مرګ ملائکه هغه روح راکاږي لکه چې

السَّفُّودُ مِنَ الصُّوفِ الْمَبْلُولِ فَيَأْخُذُهَا فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ

ازغی دلندو وړی څخه راکاږي ، او هغه د بدن څخه راوکاږي او دسترګو په رف کې د هغه څخه روح هغه ملائکي راوکاږئ ، چې د هغه اخیستلو دپاره راغلي وي ،

عَيْنٍ حَتَّى يَجْعَلُوهَا فِي تِلْكَ الْمُسُوحِ وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَنْتَنِ رِيحِ جِيفَةٍ وُجِدَتْ عَلَى

ملائکي هغه روح په تاټ کې وپېچي ، او د هغه څخه ډیره سخته بدبویي راوځي ، لکه د مردار ي

وَجْهِ الْأَرْضِ فَيَصْعَدُونَ بِهَا فَلَا يَمُرُّونَ بِهَا عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوا مَا

هغه بوی چې په مځکه کې پیدا سي ، بیا ملائکي هغه روح د اسمان لورته وړئ ، د ملائکو دکومي ډلې څخه چې دا روح تیریږي ، هغوی دا وایي چې

هَذَا الرُّوحُ الْخَبِيثُ فَيَقُولُونَ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ بِأَقْبَحِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانَ يُسَمَّى بِهَا

دا د چا ناپاکه روح دي ؟ ملائکي جواب ورکوئ ، د فلاني بنده د فلاني زوی (یالور) یعني هغه په بدو لقبو او نومو سره ذکر کوي ، چې مخاطب کېدی په هغو سره

فِي الدُّنْيَا حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُسْتَفْتَحُ لَهُ فَلَا يُفْتَحُ لَهُ ثُمَّ قَرَأَ

په دنيا کي ، تردې چې ملائکي هغه د دنيا اسمان ته ورسوئ او د دروازې خلاصولو غوښتنه وسي ليکن دروازه نه خلاصيږي . تر دې وروسته

رَسُولُ اللَّهِ ﷺ { لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ

نبي کريم ﷺ وويل : لا تفتح لهم ..... في سم الخياط . (د اسمانونو دروازې د کافرانو دپاره نسي خلاصيدلای او نه به هغوی په جنت کي داخل کړل سي تر څو پورې چې

الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ } فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ اكْتُبُوا كِتَابَهُ فِي سِجِّينٍ فِي الْأَرْضِ

اوښ د ستني په سپم کي د اخل نه سي يعني دهغوی په جنت کي داخلېدل ممکن نه دي) بيا به الله ﷻ حکم وکړي ، دده اعمالنامه په سجين کي کښېږدئ (چې په دوزخ کي ديو ځاي نوم دي) چې په اوومه مځکه دننه دي ،

السُّفْلَى فَتُطْرَحُ رُوحُهُ طَرْحًا ثُمَّ قَرَأَ { وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ

بيا دهغه روح وغورځول سي ، د دې څخه وروسته نبي کريم ﷺ دا ايات ولوستي : ومن يشرک بالله.....الخ (چا چې د خداى ﷻ سره څوک شريک کړ ، هغه لکه چې د اسمان څخه پرمخي راولوېدي ،

فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ } فَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ

مرغان هغه خوري يا يې هوا په ليري ځاى کي غورځوي) د دې څخه وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل : بيا دهغه روح په بدن کي واچول سي

وَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُولَانِ لَهُ مَنْ رَبُّكَ فَيَقُولُ هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي فَيَقُولَانِ

او دوې ملائکي ورته راسي ، هغه کښېنوي او پوښتنه ځيني وکړي ، ستا رب څوک دي ؟ هغه به ورته ووايي . هاها ماته معلوم نه دي ، بيا به ځيني پوښتنه وسي ،

لَهُ مَا دِينُكَ فَيَقُولُ هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي فَيَقُولَانِ لَهُ مَا هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ

چې ستا دين کم دي ، هغه به ووايي هاها ماته معلوم نه دي ، بيا به دهغه څخه پوښتنه وسي ، چې

هغه څوک دي چې تاستو ته لېږل سوي وو ،

فِيكُمْ فَيَقُولُ هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي فَيُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ أَنْ كَذَبَ فَافْرِشُوا

هغه به په جواب کې ووايي چې هاها ماته معلوم نه دي ، ددې څخه وروسته يو اواز کوونکی دخدای ﷻ دطرفه څخه اواز کوي چې دا درواغجن دي ، ددې دپاره فرش هوار کړئ

مِنَ النَّارِ وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ فَيَأْتِيهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُومِهَا وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ

دا ور او ددې دپاره ددوزخ لور ته دروازه خلاصه کړئ ، نو ددوزخ ولور ته يوه دروازه خلاصه سي ، نو ددوزخ ګرمي او هوا ودې ته رسيږي ، او قبر يې تنګ سي ،

قَبْرُهُ حَتَّى تَخْتَلِفَ فِيهِ أَضْلَاعُهُ وَيَأْتِيهِ رَجُلٌ قَبِيحُ الْوَجْهِ قَبِيحُ الثِّيَابِ مُنْتِنُ

تر دې چې دهغه پښتې ديوه خوا څخه بلې خواته وځي ، بيا به يو بد صورت سړی چې خيرنې جامې يې اغوستې وي ، هغه ته به راسي ،

الرِّيحِ فَيَقُولُ أَبْشِرْ بِالَّذِي يَسُوءُكَ هَذَا يَوْمُكَ الَّذِي كُنْتَ تُوعَدُ فَيَقُولُ مَنْ

چې دهغه څخه به سخته بد بويي خيژي ، ورته وبه وايي ، تا ته دي دهغه شي زيري وي (بد زيري) چې تا ته به بد معلوميږي ، دا هغه ورځ ده چې ددې وعده درسره سوې وه ، مړي دهغه څخه پوښتنه کوي چې ته څوک يې ؟

أَنْتَ فَوَجْهُكَ الْوَجْهُ يَجِيءُ بِالشَّرِّ فَيَقُولُ أَنَا عَمَلُكَ الْخَبِيثُ فَيَقُولُ رَبِّ لَا تُقِمِ

ته خو ډېر بد شکل يې او بد زيري دي راوړي دي ، هغه به په جواب کې ورته ووايي چې زه ستا بد عمل يم ، په دې اوږدو سره به مړی ووايي اې پروردګاره ! قيامت مه راوله .

السَّاعَةَ. وَفِي رِوَايَةٍ نَحْوَهُ وَزَادَ فِيهِ إِذَا خَرَجَ رُوحُهُ صَلَّى عَلَيْهِ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ

په يو بل روايت کې داتوله خبره ذکر ده ، او دومره نوره زياته ده چې کوم وخت دمؤمن بنده روح دبدن څخه وځي نو په هغه باندې هره ملائکه چې داسمان او محکي ترمينځ وي رحمت ليږي

السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ

او هغه ملائکه چې په اسمان کې وي دهغه دپاره داسمان دروازې خلاصوي او دهر مسلمان

لپاره داسمان ملائكي دخداى ﷻ څخه

بَابٍ إِلاَّ وَهُمْ يَدْعُوْنَ اللهَ أَنْ يُّعْرَجَ بِرُوْحِهِ مِنْ قِبَلِهِمْ . وَتُنْزَعُ نَفْسُهُ يَعْنِيْ

دا دعا غواړئ چي دهغه روح ددوى ددروازو څخه تيريږي چي دهغه په زيارت مشرف سي او دكافر روح دهغه ځايو څخه منعه سي ،

الْكَافِرَ مَعَ الْعُرُوْقِ فَيَلْعَنُهُ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ

او هره ملائكه چي د اسمانو او مځكو په مينځ كي وي لعنت پر وايي .

وَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ إِلاَّ وَهُمْ يَدْعُوْنَ اللهَ أَنْ لاَّ يُعْرَجَ رُوْحُهُ مِنْ قِبَلِهِمْ . رواه أحمد

او داسمان تولي دروازې ورته بندي سي او دهرې دروازې ملائكي دخداى ﷻ څخه دادعا غواړئ چي دهغه روح دهغوى په دروازو كي تير نه سي ، احمد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱۴\۲۸۷-۲۸۸.

د لغاتو حل: (السفُودُ): الشوك (ازغى). (المسوح): جمع المسح بالكسر، وهو اللباس الخشن (پنډ توكر\ټاټ).

تشريح : د حديث الفاظ (فتخرج تسيل كما تسيل القطرة من السقاء) څخه دا معلومه سوه چي د بنده روح په ډيري اساني سره وځي هر كله چي د يوې خوا څخه دا معلوميږي چي د روح د وتلو په معامله كي مومن هم په ډير تكليفو كي اخته كيږي نو په دې دواړو روايتونو كي تطبيق پيدا كيږي چي د مومن روح خو د جسم د وتلو څخه مخكي په سختي كي اخته سي او د جسم څخه د وتلو په وخت كي په اساني سره دباندي راوځي په خلاف د كافر د روح چي د هغه روح د جسم څخه د وتلو په وخت كي هم په ډيري سختي كي اخته كيږي .

دې حديث دا وښودل چي د مومن روح اووم اسمان ته رسول كيږي هر كله چي د دوهم روايت څخه معلومه سوه چي د مومن روح عرش ته رسول كيږي نو كيداى سي چي ځني روحونه اووم اسمان ته رسول كيږي او ځني روحونه تر عرشه پورې رسول كيږي .

عليين: د يوځاى نوم دى چي په اووم اسمان باندي واقع دى او په هغه كي د نيكو خلكو اعمال نامې پرتې وي .

په حديث کي د منکر نکير دريم سوال داسي نقل سوی دی يعني رسول الله ﷺ چي تاسو ته را استول سوی دی ځوک دی نو کيداي سي چي د ځني خلکو ځخه داسي پوښتنه کيږي او د ځني خلکو ځخه دا پوښتنه کيږي چي ستاسو نبي ځوک دی ځنګه چي په يو دريم روايت کي نقل دي.

حتي ارجع الي اهلي ومالي: چي زه خپل د اهل وعيال خواته ولاړسم په دې کي د اهل ځخه مراد حوري او خادمان دي او د مال ځخه محل د جنت او هلته د مال په توګه نور شيان هم ځني مراد دي يا دا هم ويل کيداي سي چي د اهل ځخه مراد د مومن اهل قرابت او د مال ځخه مراد محلونه او داسي نور دي. والله اعلم

سجين: د اومي مځکي لاندي د دوزخ د ژوروالي د يو ځاي نوم دي چيري چي د دوزخيانو اعمال نامې ايښول کيږي د حديث الفاظ اكتبوا كتابه في سجين في الارض السفلي په دې کي دې خواته اشاره ده چي دوزخ د اوومي مځکي لاندي دی.

د الله تعالی سرکش خلک قبر په ځومره دردناکي طريقې سره کنبېکاږي دا خو تاسو ته د دې حديث ځخه معلومه سوه ليکن ځيني مومنين بلکه اکابر موحدين يعني اولياء الله لپاره هم د قبر کنبې کنبل ثابت دی خو د دې کيفيت دا نه وي بلکه د مومن لپاره قبر خپلي دواړي غاړې داسي يوځاي کوي ځنګه چي مور د انتهائي زيات شوق او محبت په حالت کي خپل بچی د خپلي غاړي سره يوځاي کړي د دوهم روايت الفاظ د کافر روح د رګو سره راباسل کيږي په دې کي دې خبري ته اشاره ده چي د کافر روح خپل جسم په ډير مشکل او سختي سره پريږدي او د هغه روح دا نه غواړي چي د جسم ځخه راوباسل سي نو ځکه ملائکي د هغه روح په کنبولو راباسي.

په عالم برزخ کي د مؤمن روح

﴿۱۵۴۳﴾: وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ لَمَّا حَضَرَتْ كَعْبًا الْوَفَاةُ

حضرت عبدالرحمن بن کعب رضی الله عنه د خپل پلار ځخه روايت کوي، کوم وخت چي د کعب رضی الله عنه د مرګ وخت رانژدې سو،

أَتَتْهُ أُمُّ بِشْرٍ بِنْتُ الْبَرَاءِ بْنِ مَعْرُورٍ فَقَالَتْ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ إِنْ لَقِيتَ

نو د براء بن معرور لور بی بی ام بشر هغه ته راغله، او ويې ويل: اې ابو عبدالرحمن! که په اخرت کي د فلاني سره يوځاي سوې،

فُلَانًا فَاقْرَأْ عَلَيْهِ مِنِّي السَّلَامَ قَالَ غَفَرَ اللّٰهُ لَكِ يَا أُمَّ بِشْرٍ نَحْنُ أَشْغَلُ مِنْ

نو هغه ته زما سلام وايه ، كعب رضي الله عنه جواب وركړ ، اې ام بشر! خداى ﷻ دي تا وبخښي هلته به ددې څخه زيات په مهم كار باندې مشغول يو ، (يعني هلته به مو د دغه څخه خبر نه يو ، نو دبل چا خبر به څنګه اخلو) .

ذٰلِكَ قَالَتْ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَمَا سَمِعْتَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ إِنَّ أَرْوَاحَ

بى بى ام بشر وويل : اې ابو عبدالرحمن ! ايا تا د رسول الله ﷺ څخه دا نه دي اورېدلي چې د مؤمنانو ارواح به

الْمُؤْمِنِينَ فِي طَيْرٍ خُضْرٍ تَعْلُقُ بِشَجَرِ الْجَنَّةِ قَالَ بَلَى قَالَتْ فَهُوَ ذَاكَ . رواه ابن ماجة والبيهقي في كتاب البعث والنشور.

دشنو مرغانو په شكل كي وي ، چې د جنت د درختو څخه به مېوې خوري . كعب رضي الله عنه ورته وويل : او ما (هم داسي) اورېدلي دي ، بى بى ام بشر رضي الله عنها ورته وويل : دا هغه فضل وكرم دي چې دا ستا دپاره اميد كېداى سي . (يعني ستا روح به په هغو روحونو كي شامل وي) (ابن ماجه ، بيهقي در كتاب البعث والنشور) .

تخريج : سنن ابن ماجه ۱\ ۴۶۶، رقم: ۱۴۴۹.

د لغاتو حل : (تعلُقُ): اى تاكل وترعى (خوراک كوي او څريږي).

تشريح : حضرت عبدالرحمن رحمة الله عليه د سترو تابعينو څخه دى او د هغه ښاغلى پلار حضرت كعب رضي الله عنه د جليل القدر صحابه كرامو څخه شمېرل كيږي، همداسي براء ابن معرور رضي الله عنه هم صحابي دى او د انصارو څخه دى، بي بي ام بشر رضي الله عنها د هغه لور وه، حضرت كعب رضي الله عنه چې د آخرت د سفر په تياري كي وو او د هغه اجل نژدې وو نو ام بشر د دې خبري خواست ورته وكړ چې كله ته د دنيا څخه رخصت سې او د فلاني سړي سره دي لېدنه وسي نو زما سلامونه ورته وايه .

په څرګنده ددې څخه دا معلوميږي چې فلانى سړى د راوي الفاظ دي ام بشر په دې وخت كي د حضرت براء يا د حضرت بشر نوم اخيستى خو كعب و ام بشر ته وويل الله تعالى دي تا وبخښي دا الفاظ پر هغه وخت وويل سول كله چې خبري كونكي خپل مخاطب ته يو داسي خبره وراوروي چې هغه ته ويل پې نه دي پكار ګويا د حضرت كعب رضي الله عنه مطلب دا وو چې ته دا څه

وايي، هلته خو به زمونږ بوختيا ددې څخه ډېره زياته وي هلته په رسيدو سره څوک و پيژنو او هغوی ته د چا سلام او پيغام ورسوو، يعني هلته په رسيدو سره زه به په خپل حال کي اخته يم د خپل ځان څخه به هم خبر نه يم د نورو به څه خبر سم، همداسي ټول به په خپل خپل حال کي اخته وي، حاصل دا چي هلته به څوک په هوش کي نه وي او چا ته به د خپل حال څخه فراغت نه وي نو د بل چا سلام او پيغام به څه ورسوي.

ام بشر د رسول الله ﷺ د ارشاد په ړنا کي هغه ته د دې عذر دا جواب ورکړ چي تاسو به په هغه خلکو کي نه ياست چي په ستونزو کي به راګير ياست بلکه تاسو به په هغو مؤمنانو کي ياست چي د هغوی په اړه رسول الله ﷺ ته دا لوی زيری ورکړل سوی دی ګويا تاسو به هلته خوشحاله او ډاډه ياست او د الله تعالى په لوی رحم او کرم کي به ياست.

په يو بل روايت کي په عالم برزخ کي د مؤمانو د روحونو يو څه تفصيل داسي سوی دی چي د مؤمنانو روحونه به د شنو مرغانو په څېر کي وي چي په جنت کي به ګرځي د هغه مېوې به خوري د هغه اوبه به چښي او د عرش لاندي د سروزرو په قنديلونو کي خپل د اوسيدو ځای به يې جوړ کړی وي.

﴿۱۵۴﴾: وَعَنْهُ عن أبيه أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبدالرحمن رضي الله عنه دخپل پلاره څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ

قَالَ إِنَّمَا نَسَمَةُ الْمُؤْمِنِ طَيْرٌ تَعْلُقُ فِيْ شَجَرِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَرْجِعَهُ اللهُ فِيْ

وفرمايل: دمؤمن روح به دمرغانو په شکل دجنت دد رختو څخه مېوې خوري، تر څو چي هغه بيا الله ﷻ هغه په بدن کي اچوي په

جَسَدِهِ يَوْمَ يَبْعَثُهُ. رواه مالك والنسائي والبيهقي في كتاب البعث والنشور

هغه ورځ به ئې الله ﷻ پورته کړي، يعني دقيامت په ورځ. (مالک، نسائي، بيهقي کتاب البعث والنشور).

تخريج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۲۴۰، رقم: ۴۹، والنسائي: ۴\ ۱۰۸، رقم: ۲۰۷۲.

تخريج: (النسَمة): النفس والروح (ساه او روح).

تشريح: که چيري دا اشکال پيدا سي چي د انسان روح ته د حيوان بدن ورکړل سي نو د هغه

مرتبه کمه سوه ځکه چې په دې صورت کې هغه انسان حیوان سو او قلب د حقیقت لازم سو نو د دې جواب به دا وي چې د مؤمن روح د مرغه د جسم سره داسې تعلق نه وي لکه څرنګه چې خپله د حقیقي جسم سره د روح تعلق وي او پر هغه خپل تصرف کوي بلکه دا تعلق داسې دی لکه ځرنګه چې د یو قیمتي شي مثلا لال یا جواهر د هغه د حفاظت او احتیاط له کبله په صندوق کې اېږدي نو د مؤمن روح د مرغه په غالب کې په ورکولو سره نه خو د هغه مرتبه کمېږي او نه قلب حقیقت لازمیږي بلکه په داسې توګه د هغه درناوی او تعظیم کیږي.

ځینې علماء فرمایي په حدیث کې د مومن د روح په باره کې چې کوم کیفیت بیان سوی دی د هغه تعلق د شهدااوو سره دی هر کله چې د نورو ځینو علماؤ دا قول دی چې د دې تعلق د عاموموممنانو سره دی لکه څرنګه چې د حدیث د ښکاره مفهوم څخه ثابتیږي.

﴿۱۵۴۵﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ وَهُوَ يَمُوتُ فَقُلْتُ اقْرَأْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ السَّلَامَ. رواه ابن ماجة.

حضرت محمد بن منکدر رضي الله عنه فرمادي: کوم وخت چې د جابربن عبد الله رضي الله عنه د مرګ وخت نژدې سو، نو زه ورسره وم، او ورته مې وویل: زما سلام و رسول الله ﷺ ته ورسوه. (ابن ماجه)

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ۴۶۶، رقم: ۱۴۵۰.

بَابُ غُسْلِ الْمَيِّتِ وَ تَكْفِيْنِهِ

مړي ته غسل او کفن ورکول

په دغه باب کې هغه حدیثونه نقل کیږي په کومو سره چې مړي ته د غسل ورکولو او کفن ورکولو د احکامو، مسائلو او ادابو علم ترلاسه کیږي، د ټولو علماؤ په نزد مړي ته غسل ورکول فرض کفایه دي یعني که یوڅو خلک مړی ولمبوي نو د ټولو ذمه به ادا سي او که هیڅوک مړی و نه لمبوي نو ټول به ګناه کار وي.

په دې اړه د علماؤ په نزد اختلاف دی چې د مړي په غسل کې نیت شرط دی که نه، د ځینو حضراتو په نزد شرط دی او د ځینو په نزد شرط نه دی مګر صحیح قول دادی چې نیت شرط دی لکه څرنګه چې د شیخ ابن همام رحمة الله علیه قول دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

مړي ته غسل ورکول

﴿۱۵۴۶﴾: عَنْ اُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دبي بي ام عطيه ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ موږ ته راغلی

وَنَحْنُ نَغْسِلُ ابْنَتَهُ فَقَالَ اغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ إِنْ

کله چې موږ د رسول الله ﷺ لور (بی بی زینب رض) ته غسل ورکوئ او ویې فرمایل : دې ته په اوبو او د بیرې په پاڼو سره دري یا پنځه واري غسل ورکړئ یا زیات تر دې که چیرې

رَأَيْتُنَّ ذٰلِكَ بِمَاءٍ وَّ سِدْرٍ وَاجْعَلْنَ فِي الْآخِرَةِ كَافُورًا أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُورٍ فَإِذَا

تاسو ددې ضرورت وګڼئ ، او اخر کافور یا د کافور یو څه شي په کښې واچوئ ،او کله چې

فَرَغْتُنَّ فَآذِنَّنِي فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ فَأَلْقَى إِلَيْنَا حِقْوَهُ فَقَالَ اَشْعِرْنَهَا اِيَّاهُ وَ فِيْ

د غسل څخه فارغه سواست نو ما ته خبر راکړئ ، بیا چې موږ د غسل څخه فارغه سو نو نبی کریم ﷺ ته مو خبر ورکړ ، نو نبی کریم ﷺ خپل لنګ موږ ته راغورځوي ، او ویې فرمایل : دا لنګ دمړی د بدن سره ولګوئ ، یعني دهغه په بدن یې واچوئ ،

رِوَايَةٍ اِغْسِلْنَهَا وِتْرًا ثَلٰثًا اَوْ خَمْسًا اَوْ سَبْعًا وَ ابْدَاْنَ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ

او په یو بل روایت کې دا الفاظ دي :طاق یعني درې یا پنځه یا اووه واره غسل ورکړئ ، او غسل دراسته او

الْوُضُوْءِ مِنْهَا وَ قَالَتْ فَضَفَرْنَا شَعَرَهَا ثَلَاثَةَ قُرُوْنٍ وَأَلْقَيْنَاهَا خَلْفَهَا . متفق عليه

داو داسه داعضاو څخه شروع کړئ ،بی بی ام عطیه ﷺ فرمایي : موږ دمړي دویښتانو څخه درې کوڅې جوړې کړئ او هغه مو دهغې شا اړخ ته ایله کړئ .(بخاري او مسلم) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۳۴، رقم: ۱۲۶۳، ومسلم ۲\ ۶۴۷، رقم: ۳۷- ۹۳۹.

د لغاتو حل: (حَقوَه): ازاره (لونګ). (قُرون): ای ضفائر (کوڅې).

ح : د حديث په الفاظو :(اغسلنها ثلاثا او خمسا او اكثر من ذالك او اغسلنها وترا و خمسا او سبعا) كي د (او) لفظ د ترتيب لپاره دى د اختيارولو لپاره نه دى، ځكه كه په اول غسل كي پاكي حاصله سي نو درې واره لمبول مستحب دى او تر دې زيات تجاوز مكروه دى او كه پاكي په دوه يا درې واره حاصله سي نو بيا پنځه واره لمبول مستحب دي ت تر زيات اووه واره، تر اووه واره زيات لمبول نه دي نقل سوي، مگر تر دې زيات لمبول دي.

د بيري په بلگو او د كافور په اوبو سره مړي ته غسل وركول :

مړي د بيري په پانو او د كافور په اوبو سره لمبول پكار دى په دې اړه قاعده داده چي دوه ره خو د بيري د پانو په اوبو سره دي ولمبول سي لكه څرنگه چي د هدايې څخه معلوميږي بودا د روايت دى چي ابن سيرين رحمة الله عليه د بي بي ام عطيه رضي الله عنها څخه د سل زده كړى وو .

كافور د اوبو سره يو ځاى كړل سي كه د عطرو سره؟

يخ ابن همام رحمة الله عليه فرمايي چي د دغه حديث مراد دادى چي كافور دي په هغه اوبو ځاى كړل سي په كومو چي مړى لمبوي، د جمهور علماؤ هم دا رايه ده ، مگر كوفي وايي چي كافور دي د حنوط يعني هغه خوشبويي سره يوځاى كړل سي په كومو چي عطر كيږي، او د مړي د لمبولو او د هغه د بدن وچولو وروسته پر بدن باندي لگول كيږي علماؤ ليكلي دي كه كافور تر لاسه نه سي نو بيا مشك د هغه پر ځاى استعمالول هم صحيح دي .

د بيري د پانو او د كافورو ځانگړتيا:

علماء كرام ليكي چي د بيري د پانو په اوبو سره مړي ته غسل وركول او د مړي پر بدن د كافور وجه داده چي د بيري په پانو سره خو د بدن خيري په ښه ډول صفا كيږي او د دې په وجه مړى ښيږي او د بيري د پانو او كافور د استعمال په وجه ضرر ناكه حيوانان مړي ته نه راځي.

ت حاصلولو لپاره د بزرگانو څه جامه په كفن كي داخلولاى سي : رسول الله ﷺ خپله خپلي لور ته د كفن لگولو لپاره ځكه وركړې وه چي د هغه بركت هغې ته ورسيږي د دې معلومه سوه چي څرنگه يو سړى د ديندارو او بزرگانو د جامې څه جامه د مرگ څخه ې د ځان سره د تبرك لپاره وساتي يا هغه استعمالوي همداسي د مرگ وروسته د بزرگانو ې بركت حاصلول مستحب دى په دې توگه د هغوى څه جامه په اخستو سره په كفن كي ه سي مگر په دې اړه دا په خيال كي ساتل پكار دى چي هغه جامه د كفن د جامو څخه زياته

نه وي.

(و ابدان بميامنها) د دې مطلب دادی چې مړی دي د هغه د راسته لاس راسته اړخ او د راسته پښې خوا څخه لمبول شروع کړي همداسي د مواضع الوضوء منها کي حرف (واو) د مطلق جمع لپاره دی د هغه مطلب دادی چې د مړي په غسل کي د اوداسه اندامونه پرېوللپکار دي د هغه وروسته نور اندامونه مينزل پکار دي او د اوداسه د اندامو څخه مراد هغه اندامونه دي چې د هغه پرېوللفرض دي د مړي په غسل کي خوله پرېوللاو په پزه کي اوبه اچول د حنفيه په نزد پکار نه دي. ځيني علماؤ دې خبري ته مستحب ويلي دي چې مړی لمبونکی دي پر خپلو ګوتو باندي جامه واچوي او د هغه سره د مړي غاښونه تالو د دننه څخه وچ کړي او سپرمې ومړي اوس دا معمول دی.

صحيح دادی چې د غسل پر وخت د مړي پر سر باندي دي مسح و سي او د هغه پښې دي د غسل وروسته پرېوللسي مګر کله چې د اوداسه نور اندامونه ومينزل سي نو هغه وخت دي پښې هم ومينزل سي مګر د غسل په شروع کي د خولې نه مينزل پکار دي پر خلاف د ناپاکه اسړي چې هغه کله غسل کوي نو مخکي خپل دواړه لاسونه ځکه مينځي چې د نورو اندامو د مينزلو لپاره دواړه لاسونه پاک سي کله چې مړی د نورو لاسونو سره مينزل سي ځکه د هغه د دواړو لاسونو مينزلو حاجت نسته.

د حضرت امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد مسئله داده که مړی ښځه وي نو د غسل وروسته د هغه ويښتيان دي خلاص نه پرېښودل سي بلکه هغه دي وترل سي.

د رسول الله ﷺ کفن

﴿۱۵۴۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ كُفِّنَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ بِيضٍ سَحُولِيَّةٍ مِنْ كُرْسُفٍ لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عِمَامَةٌ. متفق عليه

دبی بی عائشې رضي الله عنها څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ ته دیمن په درو سپينو کپړو سره کفن ورکول سو . چې دسحول (په يمن کي يو کلي کي) جوړي سوي وي او دپمبو وي ،په دغه کپړو کي قميص او لنګوټه نه وه .(بخاري او مسلم)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۱۳۵، رقم: ۱۲۶۴ ومسلم ۲\۶۴۹، رقم: ۴۵- ۹۴۱.

د لغاتو حل: (کُرسُف): القطن (پنبه).

تشریح : (لیس فیها قمیص ولا عمامة) : یعني نه په هغه کي قمیص وو او نه پټکی وو د دې مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ په کفن کي د دې جامو څخه ماسیوا قمیص او پټکی بالکل نه وو.

ځیني حضراتو د دې جملې مطلب دا بیان کړی دی چي قمیص او پټکی په دې درو جامو کي نه وو مګر قمیص او پټکی د دې درو جامو څخه ماسیوا وو په دې صورت کي د رسول الله ﷺ په کفن کي پنځه جامې کیدل لازمیږي حال دا چي دا ثابت سوي دي چي د رسول الله ﷺ په کفن کي درې جامې وې نو دا به ویل کیږي چي د دې جملې صحیح مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ په کفن کي قمیص او پټکی بالکل نه وو یوازي درې جامې وې.

د دې جملې سره سم د علماؤ په مذهب کي دا اختلاف پیدا سوی دی چي ایا دا مستحب دی چي په کفن کي دي قمیص او پټکی وي یا دا دي نه وي امام مالک رحمة الله علیه، امام شافعي رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه خو دا فرمایي چي په کفن کي درې لفافې وي یعني یوازي پټو نه وي چي په هغه کي ونغاښتل سي او په هغه کي قمیص او پټکی نه وي.

کله چي حنفیه دا وایي چي په کفن کي درې جامې کیدل پکار دي اول ازار یعني لنګ دوهم قمیص یعني کفن دریم لفافه یعني د کفن پاسني پټو چي مړی د کفن د نورو حصو سره انغښتل سي په حدیث کي چي د قمیص نفي فرمایل سوې ده د هغه تاویل حنفیه دا کوي چي هغه ته کفني وایي (سحولیه) د سحول خوا ته منسوب دی او سحول د یمن د یوه کلي نوم دی.

ښه کفن ورکول

﴿۱۵۴۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَفَّنَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُحَسِّنْ كَفَنَهُ. رواه مسلم

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي تاسو خپل ورور ته کفن ورکوئ، نو پکار ده چي ښه کفن ورکړئ. (مسلم)

تخریج: صحیح مسلم ۲\۶۵۱، رقم: ۴۹-۹۴۳.

تشریح : د ابن عدي رحمة الله علیه روایت دی چي خپلو مړو ته ښه کفنونه ورکوئ ځکه چي مړي په خپلو قبرونو کي یو د بل سره ملاقات کوي.

په هر حال د ښه کفن څخه مراد دادی چي د کفن جامې پوره وي او بغیر د څه اسراف لطیف پاکیزه او سپین وي خواه مینزلي هې وي که نوي وي د ښه کفن څخه اعلی او قیمتي جامې مراد

نه دي چي ځيني جاهل دنيا داران پې د نامه کولو او د تکبر له مخي استعمالوي مګر داسي کفن سخت حرام دی .

علامه تورپشتي رحمة الله عليه فرمايي اسراف کونکو چي کومه طريقه اختيار کړې ده چي د ډيري زياتي قيمتي جامې کفن ورکوي دا د شرعي اعتبار څخه منعه ده ځکه چي په دې سره خامخا د مال ضائع کول لازميږي .

د احرام د جامو کفن

﴿۱۵۴۹﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِنَّ رَجُلاً كَانَ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ

دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړی د نبي کريم ﷺ ملګري وو ،

فَوَقَصَتْهُ نَاقَتُهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ فَمَاتَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اغْسِلُوْهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ

او دحج احرام يې تړلي وو ، چي دهغه اوښي دهغه غاړه ماته کړه او هغه مړ سو ، رسول الله ﷺ اصحابو ته حکم ورکړ ، چي ده ته دبيرو دپانو په اوبو سره غسل ورکړئ ،

وَكَفِّنُوْهُ فِيْ ثَوْبَيْهِ وَلَا تُحَنِّطُوْهُ وَلَا تُخَمِّرُوْا رَأْسَهُ فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا. متفق عليه و سنذكر حديث خباب قتل مصعب بن عمير في باب جامع المناقب ان شاء الله تعالى .

او په دوو کپړو کي ورته کفن ورکړئ ، مه ورباندي خوشبويي لګوئ او مه سر ورپټوئ ، ځکه چي د قيامت په ورځ به داسې لبيک ويونکي د قبر څخه راپورته کيږي . (ډېر ژر به انشاء الله په باب جامع المناقب کي د حضرت عمر رضي الله عنه بن مصعب د قتل حديث ذکر کړو)

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۳۷، رقم: ۱۲۶۷، ومسلم ۲\ ۸۶۵، رقم: ۹۳- ۱۲۰۶.

تشريح : د دې حديث څخه دا معلوميږي که يو سړی د احرام په حالت کي وفات سي نو په خپلو جامو کي دي هغه محرم ته کفن ورکول سي او عطر دي پر ونه لګول سي د امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه دا مذهب دی کله چي د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام مالک رحمه الله په نزد کفن د محرم او نامحرم دواړو لپاره برابر دي .

ترڅو پورې چي د دې خبرې سوال دی چي رسول الله ﷺ هغه محرم د هغه په دواړو جامو کي

چي هغه بطور محرم استعمالوی د کفن کولو حکم ورکړی د هغه وجه داده چي د هغه سره د هغه دوو جامو ماسیوا بل هیڅ جامه نه وه چي هغه ته پوره کفن ورکړه سي همداسي رسول الله ﷺ د هغه د سرپټولو څخه منعه وفرمایله چي دا ممانعت هم یوازي د هغه سړي لپاره وو په عامه توګه سره د کولو لپاره دا حکم نه وو .

(وسنذکر حدیث خباب قتل مصعب بن عمیر في باب جامع المناقب انشاء الله تعالی) او د خباب هغه حدیث چي د هغه ابتداء داده قتل مصعب بن عمیر موږ به هې انشاء الله په باب جامع المناقب کي نقل کړو .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د سپینو جامو کفن

﴿۱۵۵۰﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَسُوا

دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو اغوندئ

مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ وَإِنَّ خَيْرَ

سپيني جامې ،چي دا غوره جامې دي ، او په سپینو جامو کي مړي ته کفن ورکوئ ،

أَكْحَالِكُمُ الْإِثْمِدُ فَإِنَّهُ يُنْبِتُ الشَّعْرَ وَيَجْلُو الْبَصَرَ . رواه ابوداؤد والترمذي

وروی ابن ماجة الی موتاکم.

او ستاسو دپاره بهترین رانجه اثمد (تور رانجه) دي ، ځکه چي دا بانو شنه کوي او دسترګو دید زیاتوي .(ابوداؤد ، ترمذي او ابن ماجه دموتاکم پوري روایت کړي دي .

تخریج: سنن ابي داؤد ۴\۳۳۲، رقم: ۴۰۶۱، والترمذي ۳\۳۱۹، رقم: ۹۹۴، وابن ماجه ۲\۱۱۸۱، رقم: ۳۵۶۶.

تشریح : مړوته په سپینو جامو کي د کفن ورکولو حکم د استحباب په توګه دی ابن همام رحمة الله علیه فرمایي چي د کفن جامه که سپینه وي نو غوره خبره ده کنه د خلکو د کفن لپاره برد او دکتان جامه او د بنځو د کفن لپاره ریشمي ، زعفراني او د سوررنګ په جامه کي هم څه تاوان نسته ځکه چي سړی وي که بنځه د هغه لپاره په ژوند کي د کومو جامو استعمال جائز دی د مرګ وروسته هم د هغو جامو کفن ورکول جائز دی .

(اثمد) هغه رانجو ته وايي چي په عامه توګه سره موږ په استعمالوو د دې رانجو د استعمال په باره کي افضل دادی چي د رسول الله ﷺ د اتباع سره سم د بيده کيدو پر وخت ولګول سي بيا دا چي د بيده کيدو په وخت رانجه لګول د خپلو فائدو د اعتبار څخه ډير زيات تاثير لري.

کران بيه کفن منعه دئ

﴿۱۵۵۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَغَالَوْا فِي الْكَفَنِ فَإِنَّهُ يُسْلَبُهُ سَلْبًا سَرِيعًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت علی رضی الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په کفن کي ډېره قيمتي جامه مه استعمالوئ، ځکه چي هغه ژر خرابيږي. (ابوداؤد)

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\۵۰۸، رقم: ۳۱۵۴.

تشريح: ډير ژر واخيستل سي: مطلب دادی چي ډير ژر خرابيږي او زړيږي بيا څه ضرورت دی چي نفيس او زياته قيمتي جامه په دې کفن کي ولګول سي غرض د حديث حاصل د کفن په باره کي د اصراف کولو څخه منعه کول دي ځکه علماء ليکي چي په کفن کي د اوسطي درجې جامه لګول مستحب دی.

په قيامت کي پاڅېدل

﴿۱۵۵۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ لَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ دَعَا بِثِيَابٍ جُدُدٍ

د حضرت ابو سعيد خدری رضی الله عنه څخه روايت دي، کوم وخت چي دهغه د مرګ وخت رانژدې سو، نو هغه نوي کپړې راوغوښتلې

فَلَبِسَهَا ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْمَيِّتَ

او وايي غوستلې او ويې ويل: ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي فرمايل يې: مړي

يُبْعَثُ فِي ثِيَابِهِ الَّتِي يَمُوتُ فِيهَا. رواه ابوداؤد.

په هغه کپړو کي راپاڅېږي په کوم کي چي مړ سوي وي. (ابوداؤد)

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\۴۸۵، رقم: ۳۱۱۴.

تشريح: د حديث د ښکاره مفهوم څخه دا معلومه سوه چي ابوسعيد رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په

ارشاد عمل کولو لپاره نوي جامې راوغوښتلې او هغه ېې واغوستلې په ښکاره د حدیث مراد دا سو په قیامت کي چې مړی به دوهم وار را ژوندی کیږي او هغوی به د حشر میدان ته راځي نو هغه وخت به د هغوی پر بدن جامې وي.

ښکاره ده چې که دا مفهوم د حدیث مراد دی نو مسئله ډیره زیاته نازکه کیږي ځکه چې د صحیح حدیث په ذریعه دا خبره ثابته سوې ده چې د قیامت په ورځ په خلک بربنډ بدن او بربنډې پښې راپورته کیږي.

ځکه علماء د دې حدیث معنی دا لیکي چې په حدیث کي د جامو څخه مراد هغه اعمال دي چې پر هغه ژوند ختمیږي داسي کیږي چې اهل عرب کله کله لفظ ثیاب یعني جامې وایي او د هغو اعمالو څخه مراد اخلي څرنګه چې جامې د بدن سره لګیدلي وي همداسي اعمال هم د بدن سره متعلق وي دا وجه ده چې دا ایت کریمه (ثیابک فطهر) د دې تاویل ځیني مفسرینو دا کړی دی چې خپل اعمال صحیح کړه.

ابو سعید رضی الله عنه هغه وخت د دنیا څخه رخصت کېدی یوازي دپاکي او پاکیزګي لپاره ېې نوي جامې واغوستلې اتفاقا دا حدیث هم د هغه په ذهن کي راغلی چې هغه بیان کړه نه دا چې ابو سعید رضی الله عنه هغه وخت نوي جامې اغوستل د دلیل په توګه سره دا حدیث بیان کړی وو.

د دې ارشاد مراد دا هم کیدای سي چې په کومو جامو کي مرګ واقع سي هغه به د قبر څخه په هغو جامو کي راپورته کیږي خو د حشر میدان ته به بربنډ حالت کي رسیږي.

غوره کفن کوم یو دی؟

﴿۱۵۵۳﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ خَيْرُ الْكَفَنِ الْحُلَّةُ وَخَيْرُ الْأُضْحِيَّةِ الْكَبْشُ الْأَقْرَنُ . رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجه عن ابي امامة.

د حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: بهترین کفن حله دی (یعني لنګ، څادر او قمیص) بهترینه قربانی دښکرور پسه ده. (ابوداؤد، ترمذي او ابن ماجه داروایت دابو امامه څخه نقل کړي دي).

تخریج: سنن ابي داؤد ۳\۵۰۹، رقم: ۳۱۵۶. والترمذي ۴\۸۳، رقم: ۱۴۷۳.

تخریج: (الحُلّة): ای الازار والرداء (لونګ او څادر).

تشريح : د حُله څخه پټو ، لنګ او د هغه لاندي قميص مراد دی په کفن کي دا دري سره جامي مسنون دي يا دا چي د حله څخه مراد د قميص کفني څخه ماسيوا يوازي څادر او لنګ دی په دې صورت کي به مطلب دا وي چي په کفن کي پر يوې جامې باندي اکتفاء ونه سي مګر کم ازکم دوې جامي کيدل بهتر دي حُکه چي دا کفن کفايه او ادنی درجه ده او که په کفن کي دري جامې يعني څادر لنګ او د هغه سره قميص ورکړي نو دا سنت او د کمال درجه ده .

د شهيدانو کفن خپل جامې وي

﴿۱۵۵۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بِقَتْلَى أُحُدٍ أَنْ يُنْزَعَ عَنْهُمُ الْحَدِيدُ وَالْجُلُودُ وَأَنْ يُدْفَنُوا بِدِمَائِهِمْ وَثِيَابِهِمْ . رواه ابوداؤد وابن ماجة

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دي چي د احد د شهيدانو په اړه رسول الله ﷺ دا امر وکړ ، چي د هغو د بدنو څخه دي اوسپنه او د پوست جامې وغيره ليري کړل سي ، او بيا دي په هغو کپړو کي چي په وينو دي ښخ کړل سي . (ابوداؤد ، ابن ماجه)

تخريج : سنن ابي داؤد ۳\۴۹۷، رقم: ۳۱۳۴، وابن ماجه ۱\۴۸۵، رقم: ۱۵۱۵.

تشريح : د امام شافعي رحمه الله عليه په مذهب کي د شهيد لپاره غسل نسته نه د جنازې لمونځ سته او د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله عليه په نزد د شهيدانو لپاره غسل خو نسته ليکن د جنازې لمونځ سته .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د حضرت مصعب رضي الله عنه او حضرت حمزه رضي الله عنه کفن

﴿۱۵۵۵﴾: عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ أُتِيَ بِطَعَامٍ وَكَانَ صَائِمًا فَقَالَ قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّي كُفِّنَ فِي بُرْدَةٍ

د حضرت سعد بن ابراهيم رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت کوي چي د عبد الرحمن رضي الله عنه روژه وه ، چي هغه ته دوه دی راوړل سوه ، هغه وويل : مصعب بن عمير رضي الله عنه شهيد سو ، او هغه زما څخه بهتر وو ، خو هغه په يوه جامه کي ښخ سو ،

إِنْ غُطِّيَ رَأْسُهُ بَدَتْ رِجْلَاهُ وَإِنْ غُطِّيَ رِجْلَاهُ بَدَا رَأْسُهُ وَأُرَاهُ قَالَ وَقُتِلَ

او دومره کوچنی وه ،که سر به يې ورته پټ کړ نو پښې به يې لڅي سوې او که به يې پښې ورته پټې کړې نو سر به يې لڅ سو ، ، دراوي بيان دي ، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه داهم وويل :چې

حَمْزَةُ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّي ثُمَّ بُسِطَ لَنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا بُسِطَ أَوْ قَالَ أُعْطِينَا مِنَ

حضرت حمزه رضي الله عنه شهيد سو او هغه زما څخه افضله وو او هغه ته هم دغسي کفن ورکول سو ، او بيا زمونږ لپاره په دنيا کې پراخې سول هغه چې پراخه سول . يا دا الفاظ يې وويل :

الدُّنْيَا مَا أُعْطِينَا وَقَدْ خَشِينَا أَنْ تَكُونَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا ثُمَّ جَعَلَ يَبْكِي حَتَّى تَرَكَ الطَّعَامَ . رواه البخاري

مونږ ته دنيا راکول سوه ،هغه قدر چې راکړل سوه، زمونږ سره دا بيره پيدا سوه چې شايد زمونږ دنيکو بدله مونږ ته ژر راکول شوه ، ددې په ويلو سره هغه دخپل ځان سره په ژړا سو ترڅو يې دوډۍ خوړل پرېښول (بخاري) .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\ ۳۵۳، رقم: ۴۰۴۵.

تشريح : عبدالرحمان بن عوف رضي الله عنه لوی او ډير باعظمته صحابي دی او د عشره مبشره څخه دی همداسي مصعب ابن عمير رضي الله عنه هم يو جليل القدر او د لوړې مرتبې صحابي دی ، د بدر په غزا کې يې ګډون کړی دی او د احد په غزا کې شهيد سو .

حضرت مصعب ابن عمير رضي الله عنه د اسلام راوړلو مخکې ډير مالداره وو کله چې د اسلام مقدسو وړانګو د هغه زړه او دماغ روښانه کړ او د رسالت تر احکامو لاندې يې ژوند اختيار کړ نو د مال او دولت څخه يې مخ په ګړځولو سره د زهد او فقر ژوند اختيار کړ نقل دي چې يو وارد رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت اقدس کې په داسي حال کې حاضر سو چې پر ملا يې تسمه تړلې وه رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په ليدو سره صحابو وته وفرمايل دې سړي ته وګورئ الله تعالى د ايمان په رڼا سره د ده زړه منور کړ ما دی په مکه کې په داسي حال کې ليدلی دي چې د ده پر بدن به د دوو سوو درهمو جامې وې خو اوس دا سړي د الله او د هغه د رسول په محبت کې خپل ځان دې حالت ته رسولی دی .

حضرت حمزه رضي الله عنه ابن عبد المطلب د رسول الله صلى الله عليه وسلم محترم اکا وو او د اهل بدر څخه دی او په جنګ احد کې په شهادت ورسيدی رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته سيد الشهداء فرمايلي دي .

د حضرت عبدالرحمان قول ولقد خشينا .....الخ) زمونږ سره د دې خبري بيره ده د دې مطلب دادی چې دنيا او د دنيا د نعمتونو کومه پراخي سره مونږ ته حاصل سوې ده د هغه په وجه مونږ بيريږو چې چيرې مونږ هم په هغو خلکو کې داخل نسو چې د هغوی په باره کې د الله تعالی دا ارشاد دی :

مَّن كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاء لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلاهَا مَذْمُومًا مَّدْحُورًا ۱۸ وَمَنْ أَرَادَ الآخِرَةَ وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُورًا ۱۹ كُلاًّ نُّمِدُّ هَؤُلاء وَهَؤُلاء مِنْ عَطَاء رَبِّكَ وَمَا كَانَ عَطَاء رَبِّكَ مَحْظُورًا ۲۰ انظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَلَلآخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَاتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلاً ۲۱ لاَّ تَجْعَل مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولاً

ژباړه : کوم سړی چې د دنيا د نعمتونو د حاصلولو اراده لري نو مونږ هغه ته چې په دنيا کې کوم شی غواړي او د چا لپاره يې غواړي ژر يې ورکوو بيا مونږ د هغه لپاره جهنم ګرځوو چې په هغه کې به په بد حال کيدو سره ورننوځي .

په عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه باندې د الله تعالی بيره غالبه او د هغه زړه د الله تعالی د ويرې څخه لړزان وو ځکه هغه ته خيال وسوچې داسې نه وي چې زه په هغو خلکو کې داخل سم چې د هغوی په باره کې الله تعالی دا سخته سزا بيان سوې ده کنې ښکاره د ايت معنی داده کوم سړی يوازې دنيا او د دنيا د نعمتونو خواهشمند وي او د دنيا د نعمتونو ماسيوا د هغه د خواهش محور بل څه نه وي نومونږ په دنيا کې هغه په خپل انعام سره نازوو مګر مونږ هغه ته هغه ورکوو چې مونږ يې غواړو نه دا چې څه د هغه خواهش همداسې مونږ هغه سړي ته د دنيا نعمتونه ورکوو .

حاصل دا چې په ايت مذکوره کې د هغو خلکو په باره کې سزا بيان سوې ده چې يوازې د دنيا طلبګاره وي ښکاره ده چې عبدالرحمان بن عوف رضي الله عنه د هغو خلکو څخه نه وو خو پر هغو باندې د الله تعالی بيره غالبه وه ځکه بيريدله چې د دنيا د دې اسائش او پراخي په وجه چيرې زمونږ شمير هم په دې خلګو کې نه وسي .

په عبدالرحمن بن عوف باندې د الله تعالی د بيرې د غلبې دا اثر وو چې د روژه دار کيدو باوجود د سخت ضرورت هغه طعام پورې پريښودی او هيڅ يې نه خوړل ځکه چې زړه د خدای تعالی له ويرې څخه په لړزان وو نو هغه د هيڅ دنيوي لذت خوا ته نه مائل کيږي .

دا حديث پر دې خبرې دلالت کوي چې د ضرورت په وخت کې څومره کفن وجود لري نو هغه سنت دی .

د منافقينو د مشر عبدالله ابن ابی سره د رسول الله ﷺ معامله

۱۵۵۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ

حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ راغلم کله چې دعبدالله بن

يِّ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ حُفْرَتَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ فَوَضَعَهُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَنَفَثَ عَلَيْهِ

ابی مړی په قبر کي کښېښودل سو او حکم يې وکړ چې مړی د قبر څخه راوباسئ ،نو مړی
او کښل سو ، نبی کريم ﷺ هغه په خپلو زنګنو مبارکو کښېنوئ او د هغه په خوله کي يې خپلي
ناوړی مبارکي واچولې

بْنِ رِيقِهِ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ فَاللَّهُ أَعْلَمُ وَكَانَ كَسَا عَبَّاسًا قَمِيصًا. متفق عليه

او خپل قميص يې ورته واغوستئ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي :چې عبدالله بن ابی حضرت
عباس رضي الله عنه ته د بدر په غزا کي قميص ور اغوستئ وو نو نبی کريم ﷺ دهغه بدله
ورکړه .(بخاري او مسلم)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۲٦٦، رقم: ۵۷۹۵، ومسلم ۴\ ۲۱۴۰، رقم: ۲- ۲۷۷۳.

تشريح : د منافقينو مشر عبدالله بن ابی د اسلامي تاريخ يو مشهور ترين کس دی ، کله چې نبي کريم ﷺ د الله تعالی په حکم د مکې معظمې څخه ومدينې منورې ته تشريف راوړ همداسي د اسلامي دعوت او تبليغ مرکز د مکې معظمې څخه ومدينې منورې ته نقل سو نو د اسلامي دعوت او تبليغ په نتيجه کي درې ډلي په وجود راغلې :

اول : يو جماعت خو د هغه باسعادت او پر عظيمو انسانانو باندي مشتمل وو چې هغوی د رسول الله ﷺ پر دعوت لبيک ووايه، او په اخلاص او صدق سره يې د الله تعالی وحدانيت او د رسول الله ﷺ پر رسالت باندي ايمان راوړی، د نبوت وروسته دوی تر ټولو انسانانو لوړه مرتبه د صحابيت تر لاسه کړه.

دوهم جماعت د اول جماعت برعکس دی، دا جماعت په هغه بدبختو باندي مشتمل دی کومو چې په ډاګه باندي د رسول الله ﷺ مخالفت وکړ، د دوی نتيجه کي انساني نسل د ژوند و هغه کمزوري او ذليلي درجې (کفر وشرک) ته ورسېدی .

دريم : د دې دواړو جماعتونو په مينځ کي يو دريم جماعت وو دا دريم جماعت پر هغه خود

غرضو او مفاد پرستو خلکو باندي مشتمل وو چې د خپل اغراضو او مقاصدو لاندي په ښکاره خو مسلمانان سوي وه او مسلمانانو ته د ښودني لپاره هغوی همنواهم وه خو په باطني توګه د هغوی مهمه موضوع د دعوت اسلامي مخالفت او د مسلمانانو د بیخ ایستلو جذبه وه دا هغه جماعت وو چې د انسانیت ارزل ترین خصلت د نفاق څخه ډک وو او په اسلامي تاریخ کي د منافقینو په نامه سره یادیږي، عبدالله ابن ابي د دې جماعت سردار وو.

حضرت عباس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ اکا محترم وو که څه هم د بدر د غزا څخه ډیر مخکي اسلام یې قبول کړی وو خو د ځینې مجبوریو په وجه ځان یې مسلمان نه ظاهروی کله چې جنګ بدر وسو نو د مکي د کفارو د خوا څخه په بدر کي مجبورا ګډ سو خو رسول الله ﷺ ته دا معلومه وه چې دی مسلمان سوی دی ځکه رسول الله ﷺ مسلمانان خبر کړي وه چې په جنګ کي پر هغه لاس پورته نه کړي.

په هر حال جنګ ختم سو او الله تعالی مسلمانانو ته فتح ور نصیب کړه نو اسلامي لښکر د مکي د کفارو یو لوی لښکر د جنګ د میدان څخه بندیان مدینې منورې ته راوستل، په دغه بندیانو کي حضرت عباس رضي الله عنه هم وو چې مدینې ته یې راویستی نو پر بدن یې جامه نه وه او هغه د راز قد وو نو د یوه مسلمان جامه هم د عباس رضي الله عنه پر بدن صحیح نه راغله اتفاقا عبدالله ابن ابي هم دراز قد وو هغه خپل قمیص وکښی او حضرت عباس رضي الله عنه ته یې پیش کړی چې د مجبوری څخه یې هغه قبول کړ، همداسي حضرت عباس رضي الله عنه د عبدالله ابن ابی قمیص واغوست، کوم وخت چې عبدالله ابن ابی مړ سو نو رسول الله رضي الله عنه د هغه قمیص بدله د ورکولو لپاره خپل قمیص مبارک هغه ته ورواغوستی چې پر رسول الله رضي الله عنه باندي د یو منافق احسان پاته نسي.

دلته یو مشکل پیدا کیږي او هغه دا چې په قرآن کریم کي خو د الله تعالی ارشاد دی:

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ

ژباړه: په منافقانو کي چې څوک مړ سي د هغه لپاره د مغفرت او بخشش دعا هیڅ کله مه کوه او مه د هغه قبر ته ورځه.

مګر د دې سربیره رسول الله ﷺ د عبدالله ابن ابي قبر ته تشریف یووړ هغه ته یې قمیص و رواغوستی او د هغه په خوله کي یې د خپلي خولې مبارکي ناړي واچولې.

علماؤ د دې اشکالو ډیر جوابونه ورکړي دي چې په پورته تفصیل سره په نورو تشریحو کي

ذکر دي دلته یوازي دا جواب کافي دی چي دا پیښه د هغه وخت ده کله چي مذکوره ایت نه وو نازل سوی یا دا چي د رسول الله ﷺ مقصد د هغه د احسان بدله ورکول وو ځرنګه چي اوس یې بیان سو او د عبدالله ابن ابی زوی ډیر مخلص او صادق مومن وو او هغه د نفاق ځخه پاک وو ځکه د هغه هرکلی کول هم مقصد وو .

د ژوند اخري لمحات او د مړي د غسل د تکفین یو ځو احکام

دا باب ختمیږي ځکه مناسب دی چي پر دې وخت د ژوند اخري لمحات او د مړي د غسل او تکفین په باره کي ځه احکام او مسائل بیانیږي کله چي یو سړی قریب المرګ وي او پر هغه د مرګ علامات ځرګند سي نو هغه دي مخ پر قبله سي او قریب المرګ ته دي تلقین و سي یعني د هغه مخکي دي کلمه (اشهد ان لااله الا الله وان محمد رسول الله) په لوړ اواز سره ووایي چي قریب المرګ یې هم په اوریدو سره ووایي خو قریب المرګ ته دي د کلمي ویلو حکم نه ورکول کیږي ځکه چي دا وخت ډیر سخت وي معلومه نه ده چي د هغه د خولې ځخه ځه ووځي کله چي روح ورځخه ووځي نو د هغه ټول اندامونه دي سم سي او په جامو سره دي د هغه خوله په ترکیب سره وتړي چي جامه د زني لاندي په راکښلو سره پر سر باندي غوټه کړي چي خوله یې بنده سي او په خوله کي دننه ځه چینجي وغیره داخل نسي سترګي دي هم وربندي سي او د پښو دواړي بټي ګوتي په یو ځای کولو سره دي یې وروتړي چي دواړي پښې یې یو ځای سي .

د مړي د لمبولو ، کفن ورکولو او په ښخولو کي چي ځومره کیدای سي تلوار کول پکار دي کله چي مړي ته د غسل ورکولو اراده و سي نو مخکي دي یو تخت یا لوئ تختې ته د لبان یا ګربتی وغیره خوشبویي ولګول سي درې واره یا پنځه واره یا اووه واره ځلور خواته دي د خوشبویي لوګی په ورکولو سره مړی دي په هغه کي واچوي هغه جامې په راکښلو سره ځه جامه دي چي د هغه اوږدوالی دي یونیم لاس او پلنوالی دوه لاسه وي د ناف ځخه تر زنګانه پوري واچوي چي ستریې پټ سي .

د مړي د غسل طریقه

د مړي د لمبولو طریقه داده چي لومړی دي د مړي استنجاء وکړل سي مګر ورنو او د استنجاء ځای ته دي غسل ورکونکی خپل لاس نه وروړي او نه دي پر هغه نظر اچوي مګر د خپل لاس ځخه دي یو جامه چاپیره کړي او کومه جامه چي د نامه ځخه تر زنګانه پوري پرته وي د هغه دننه دننه دي یې ومینزي بیا دي د هغه وروسته اودس وسي خو نه دي په خوله کي او نه دي په پزه کي اوبه اچوي او نه دي تر مړوندو پوري لاسونه پرېوللسي مګر مخ دي پرېوللسي، بیا

لاسونه تر څنګلو پوري بيا د سرمسح بيا دواړي پښې او که دري واره پنبه په لندولو سره پر غاښونو او وريو باندي د پزي په دواړو سوريانو کي وګرځول سي نو هم جائز دی ، او که څوک د حيض يا نفاس په حالت کي مړ سي نو خولې او پزې ته اوبه رسول ضروري دي .

د مړي د پزي خولې او په غوږونو کي دي پمبه کښېښودل سي چي اودس کولو او د لمبولو په وخت کي اوبه دننه ولاړي نسي .

کله چي اودس و سي نو سر او ږيره يې په ګل خطمی سره يا څه بل شي لکه صابون او داسي نورو سره په مورلو ومينځي بيا دي مړی په چپه خوا کي د بيري د پاڼو په اچولو سره نيمی يخي ګرمي اوبه دي دري وار د سر څخه تر پښو پوري پر واچول سي تر دې چي په تختې سره لګيدلي اړخ ته ورسيږي بيا په راسته اړخ مخ ورکولو سره همداسي د سر څخه تر پښو پوري دي اوبه دري واره پر واچول سي تر دې چي اوبه هغه اړخ ته ورسيږي چي د تختې سره لګيدلی دی .

د دې وروسته دي مړي کښېنول سي او د هغه نس دي کرار کرار وموږي که د نس څخه څه ګندګي وغيره راووځي نو هغه دي پرېږول سي مګر د دې صفائي وروسته بيا دوهم وار د اوداسه او د غسل ضرورت نسته د دې وروسته دي هغه پر چپه خوا واړول سي د کافورو اوبه دي پر واچول سي او اوبه دي د سر څخه تر پښو پوري دري واره پر واچول سي که د بيرو پانې يا کافور او اشنان پيدا نسي نو ساده نيمي ګرمي اوبه کافي دي په دې سره همداسي دري واره دي ولمبول سي د لمبولو وروسته ټول بدن دي په جامې سره وچ کړه سي بيا د هغه سر او پر ږيري باندي دي عطر ولګول سي او تر تندي پوري پر دواړو تلو دواړو ګنډو او دواړو پښو باندي کافور دي وموږل سي د مړي ويښته او ږيره دي نه ږمونځوي او نه دي نوکان ور پرې کوي همدارنګه کوم مړی چي سنت سوی نه وي د هغه سنت دي هم نه کوي د دې ټولو شيانو څخه د فارغيدو وروسته دي کفن ورکړل سي .

مسنون کفن

نارينه مړی په درو جامو کي کفن کول سنت دی : اول کفني يعني قميص چي د وږو څخه تر پښو پوري وي دوهم ، لنګ دريم ، لفافه يعني پټو ازار د سر څخه تر پښو پوري او پټو د هغه څخه يو لاس لوئ پکار دی دا مسنون کفن دی او کفن کفايه دوې جامې يعني يو ازار او يوه لفافه ښځه مړی په پنځو جامو کي کفن کول سنت دی :

اول ، کفني يعني قميص دوهم پورنی يعني سپين سربند دريم ازار څلورم لفافه يعني پټو پنځم سينه بند . سربند دري لاسه اوږد پکار دی او سينه بند د بغلو د لاندي برخي څخه تر زنګنو

پوري پلن او دومره اوږد پکار دی چي وترل سي پاته دري برخي په اندازه کي کیدل پکار دي څومره چي د سړي په کفن کي لګیږي د مسنون کفن په دې اندازه کي زیاتي یا کمي کول نه دي پکار. د ښځي لپاره کفن کفایه دري جامې دي: ۱- ازار، ۲- پورنی، ۳- لفافه، د ضرورت په وخت کي یوه کپړه هم کافي ده لیکن بهله ضرورته په یوه کپړه دي اکتفاء نه کوي.

د کفن ورکولو طریقه

د کفن ورکولو مخکي دري یا پنځه یا اووه واره عطر ورته لګول پکار دي بیا مړی که نر وي نو په دې طریقې سره دي کفن کړل سي چي مخکي د لفافې د کفن پورتنی پټو چي مړي د کفن په نورو حصو سره نغښتلای سي پټو دي هوار کړه سي د هغه پورته ازار د هغه پورته قمیص بیا مړی ته قمیص واغوستل سي او د هغه دواړه لاسونه دي پر سینه نه ایږدي مګر دواړو خواوو ته دي خواره کړه سي بیا لنګ دي راونغاشتي مخکي چپه خواته بیا راسته خوا ته بیا پټو دي راونغاښتي مخکي چپه خواته بیا راسته خوا ته.

د ښځي د کفن کولو طریقه داده چي مخکي دي پټو او ازار په خورولو سره پر هغه قمیص کښیښودل سي او مړی دي هغه په اچولو سره مخکي دي قمیص وروا غوستل سي او د سر ویښته په دوو حصو کولو سره د قمیص پورته پر سینه دي واچول سي یوه برخه راسته خواته او یوه برخه چپه خواته.

د دې وروسته سربند دي پر سر او پر ویښتانو واچول سي هغه دي نه ترې او نه دي انغښتل سي بیا دي د هغه پورته ازار او د هغه وروسته د لفافې پټو دي په ترتیب سره یعني مخکي د چپه خوا څخه بیا د راسته خوا څخه ونغاښته سي بیا د ټولو وروسته دي سینه بند ونغاښته سي. د کفن جامې د نغښتلو وروسته په یوې ټوټې سره دي د پښې او سر خوا ته کفن وترل سي او په یو بند سره دي ملا هم وترل سي چي په لار کي کفن خلاص نسي.

=========

بَابُ الْمَشْي بِالْجَنَازَةِ وَالصّلوة عَلَيْهَا

د جنازې سره تلل او د جنازې دلمانځه بيان

د جنازې سره پر پښو تلل افضل دي :

په جنازې پسې پر پښو تلل او سپور تلل دواړه جائز دي مګر پر پښو تلل افضل دي که يو سړی د جنازې سره په يو سواري کې ولاړ سي نو هغه ته پکار ده چې د جنازې وروسته وروسته ځي هو پر پښو تلونکي لپاره د جنازې مخکې تلل هم جائز دی او وروسته هم مګر د هغه لپاره وروسته تلل افضل دی .

د جنازې لمونځ فرض کفايه دی : د جنازې لمونځ فرض کفايه دی يعنې که څه خلک د جنازې لمونځ وکړي نو د ټولو د ذمې څخه فرضيت ساقطيږي او که چيرې يوه هم د جنازې لمونځ ونه کړ نو ټول خلک ګناه کاره سول .

د جنازې د لمانځه د صحت شرائط : د جنازې د لمانځه صحيح درې شرطونه دي .

۱- مسلمان به وي.

۲- مړي ته به غسل ورکول سوی وي.

۳- جنازه به د خلګو مخ ته حاضره وي . .

نو د دريم شرط مطلب دا سو که چيرې جنازه حاضره نه وه نو د جنازې لمونځ جائز نه دی ، د غيبانې جنازې لمونځ جائز نه دی او بل دا که چيرې جنازه په موټر يا د خلګو پر اوږو يا د يوه حيوان په شا وي بيا هم لمونځ ورکول جائز نه دي، همداسې که جنازه د خلګو تر شا وه په دې صورت کې بيا د جنازې لمونځ جائز نه دی .

که چيرې يو مړی بېله غسله ښخ کړل سي او د هغه مړي راکښل بېله قبره د کېندلو ممکن نه وي نو په دې صورت کې د طهارت شرط ساقطيږي او که چيرې د جنازې لمونځ نه وي ورکول سوی نو د جنازې لمونځ دي د هغه د قبره سره وسي او که د مړي راکښل ممکن وه نو مړي ته دي غسل ورکړي او وروسته دي د جنازې لمونځ ورکول سي ، او که چيرې په خطا کې بېله غسله مړي ته د جنازې لمونځ ورکړي او ښخ يې کړي وروسته معلومه سي چې بېله غسله يې لمونځ ورکړی او مړ راوکاږي نو مړي ته دي غسل ورکړي او بيا دي د جنازې لمونځ ورکړي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په جنازه کې تلوار کول

﴿۱۵۵۷﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْرِعُوا

دحضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : تلوار کوئ

بِالْجِنَازَةِ فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُونَهَا وَإِنْ يَكُ سِوَى ذَلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُونَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ . متفق عليه

دجنازې په وړلو کې ، ځکه که هغه دنیک سړی جنازه وي نو هغه دنیکي وطرفته ژر رسول پکار دي او که هغه دبد کاره جنازه وي ، نو هغه دخپلو غاړو څخه ژر کښته کړئ .(بخاري اومسلم)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۱۸۲، رقم: ۱۳۱۵، ومسلم ۲\ ۶۵۱، رقم: ۵۰- ۹۴۴.

تشريح : په جنازې کې تلوار مه کوئ: د دې مطلب دادی که د ښخولو لپاره جنازه وړئ نو تلوار کوئ او کرار کرار قدمونه مه اخلئ مګر د چابکتیا څخه ځغستل مراد نه دی بلکه درمیانه تګ مراد دی چې قدم ژر ژر اخلئ د دې حاصل دادی چې د عام تګ څخه تېز او د ځغاستې څخه منعه وسي، که هغه جنازه د نیک سړي وه او د هغه ژوند په ښه اعمالو سره تیر سوی وي نو هغه ژر ژر بیایاست چې د اخرت د نعمتونو او د الله تعالی د رحمت سره یو ځای سي، او که هغه جنازه د یوداسي سړي وي چې د هغه ژوند په خرابو احوالو او په خرابو اعمالو کې تیر سوی وي نو هم ژر ژر ځئ تر څو چې دا بدعمله مو د اوږو څخه ژر کښته سي.

د نیک او بد انسان جنازه

﴿۱۵۵۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَتْ

دحضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چې جنازه تیاره سي ،

الْجِنَازَةُ فَاحْتَمَلَهَا الرِّجَالُ عَلَى أَعْنَاقِهِمْ فَإِنْ كَانَتْ صَالِحَةً قَالَتْ قَدِّمُونِي

نو خلک یې پر اوږو پورته کوي ، بیا که هغه دنیک سړی جنازه وي ، نو وایي چې ما ژر دخپل منزل وطرف ته ورسوئ ،

وَإِنْ كَانَتْ غَيْرَ صَالِحَةٍ قَالَتْ لِأَهْلِهَا يَا وَيْلَهَا أَيْنَ تَذْهَبُونَ بِهَا يَسْمَعُ صَوْتَهَا

او که دبد کاره جنازه وي نو خپلو قریبانو ته وایي افسوس دی وتاسو ته ما چیري وړئ، دمړي دا اواز اوري

كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا الْإِنْسَانَ وَلَوْ سَمِعَ الْإِنْسَانُ لَصَعِقَ . رواه البخاري

هر څوک ماسیوا دانسان څخه ، که یې انسان واوري نو بې هوشه کیږي یا مړکیږي (بخاري).

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۱۸۴، رقم: ۱۳۱۶.

تشریح: نیک بخت یعني مومن چي مړ کیږي او د هغه جنازه تیاره سي نو د جنت نعمتونه او د الله تعالی رحمتونه ویني ځکه د جنازې د ژر وړلو امر سوی دی تر څو د نعمتو سره ژر وصل سي، د دې پر خلاف چي بدبخت انسان د مرګ غیږ ته ورسیږي او د هغه جنازه تیاره سي نو هغه عذاب خپل مخ ته وویني ځکه واویلا کوي او خپلو خلکو ته وایي چي ما د عذاب خوا ته ولي وربولئ.

علماء لیکي چي مړی هغه وخت په حقیقت کي خبري اوري که څه هم د هغه روح تللی وي فرق یوازي دومره دی چي انسان د هغه اواز نسي اوریدی کله چي نور مخلوقات د هغه اواز اوري او دا شی څه غیر ممکن نه دی ځکه چي الله تعالی پر دې قادر دي دا بالکل داسي وي څرنګه چي مړی په خپل قبر کي سوال او د جواب لپاره را ژوندی کیږي.

جنازې ته دریدل

﴿۱۵۵۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا فَمَنْ تَبِعَهَا فَلَا يَقْعُدْ حَتَّى تُوضَعَ . متفق عليه

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي تاسو یوه جنازه وویني نو ودریږئ او څوک چي د جنازې سره ولاړ سي هغه دي تر هغه وخته پوري نه کښیني تر څو چي یې جنازه نه وي ایښي. (بخاري او مسلم).

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۷۸، رقم: ۱۳۱۰، ومسلم ۲\ ۶۶۰، رقم: ۷۷- ۹۵۹.

تشریح: مطلب دا چي جنازه د کور څخه وځي نو د مړي احترام او د هغه د ایمان د تعظیم سره سم دریدل پکار دي ګویا په دغه ارشاد کي دې ته اشاره ده چي په داسي وخت کي بې پرواه کیدل نه دي پکار بلکه په جنازه لبدو سره په احترام دریدل پکار دي تر هغه وخته پوري چي

جنازه يې نه وي ايښې نه دي کښېښي او د جنازې په مخ کې دې نه ځي بلکه اوږده په اوږده دي ورسره ځي.

ځيني حنفي علماء فرمايي که يو سړی جنازې سره د تلو اراده نه لري نو د اکثرو علماء په نزد جنازه په ليدو سره د هغه دريدل مکروه دي کله چې ځيني حضرات فرمايي هغه ته اختيار دی خواه ودريږي خواه کښېيني همداسي د ځيني علماؤ قول دی چې دا دواړه يعني دريدل او کښېنستل مستحب دی جمهور علماء فرمايي چې دا حديث او د دې وروسته د راتلونکی حديث دواړه د حضرت علي کرم الله وجهه د روايت پر بناء چې مخته به راسي منسوخ دی.

﴿۱۵۶۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ مَرَّتْ جَنَازَةٌ فَقَامَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَقُمْنَا مَعَهُ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا يَهُودِيَّةٌ فَقَالَ إِنَّ الْمَوْتَ فَزَعٌ فَإِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا. متفق عليه

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دي چې يوه جنازه تېره سوه، رسول الله ﷺ چې هغه وليدل نو ولاړ سو او موږ هم ولاړ سوو، بيا موږ عرض وکړ يا رسول الله! داخو ديوې يهودی ښځې جنازه وه، نبی کريم ﷺ وفرمايل: مرګ دخوف او ويرې شی دی، تاسو چې جنازه ووينئ نو ورته درپرېږئ. (مسلم)

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۱۷۹، رقم: ۱۳۱۱، ومسلم ۲\۶۶۰، رقم: ۷۸- ۹۶۰.

﴿۱۵۶۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ رَأَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَامَ فَقُمْنَا وَقَعَدَ فَقَعَدْنَا يَعْنِي فِي الْجَنَازَةِ. رواه مسلم وفي رواية مالك وابي داؤد قام في الجنازة ثم قعد بعد

د حضرت علی رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ رسول الله ﷺ وليدئ چې ولاړ وو، نو موږ هم ودرېدو، بيا چې نبی کريم ﷺ کښېنستئ نو موږ هم کښېناستو. يعني د جنازې په ليدو سره. (مسلم) او د مالک او ابوداؤد په روايت کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ جنازه وليده نو ولاړ سو، بيا کښېناستي.

تخريج: صحيح مسلم ۲\۶۶۲، رقم: ۸۴- ۹۶۲.

تشريح : د اول روايت چې امام مسلم رحمة الله عليه نقل کړی دی دوې معناوي يې دي يو خو دا چې رسول الله ﷺ د جنازې په ليدو سره ودرېدی او کله د نظر څخه غائبه سوه نو رسول الله ﷺ کښينستلو او مورږ هم ورسره کښينستلو .

دوهمه معنی داده چې تر يوه وخته پورې د رسول الله ﷺ دا معمول وو چې جنازه په ليدو سره به دريدلی مګر وروسته دا صورت سو چې جنازې په ليدو سره به نه و لاړيدی ناست به وو . همداسې د دوهم روايت چې امام مالک رحمة الله عليه او امام ابوداود رحمة الله عليه نقل کړی دی دا دواړه مطلبونه اخيستل کيدای سي او دوهم مطلب زيات صحيح دی .

د جنازې د کښون او ښخولو ثواب

﴿۱۵۶۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اتَّبَعَ

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چې ديو مسلمان

جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ

دجنازې سره دمؤمن په حيثيت او دثواب دطلب په غرض ولاړ سي ، ورسره وي ، جنازه وکړي ، او فارغه سي

دَفْنِهَا فَإِنَّه يَرْجِعُ مِنَ الْأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ وَمَنْ صَلَّى

د هغه دښخولو څخه ، نو هغه ته دوه قيراطه ثواب حاصليږي ، چې هر قيراط داحد دغره برابر دي ، او څوک چې صرف د جنازې لمونځ وکړي

عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ. متفق عليه

او بيرته راسي او په ښخولو کې نسي شريک ، نو هغه ته يو قيراط ثواب حاصليږي .(بخاري او مسلم) .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹۶۳، رقم: ۱۳۲۵، ومسلم ۲\ ۶۵۲، رقم: ۵۲- ۹۴۵.

تشريح : قيراط د دينار دوولسمي برخي ته وايي چې د هغه وزن تقريبا د څلورو وربشو برابر وي دلته د قيراط څخه مراد لويه کوټه ده چې د احد د غره سره تعبير سوې ده .

د نجاشي د جنازې لمونځ

﴿۱۵۶۳﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ نَعَى النَّجَاشِيَّ فِي الْيَوْمِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ وَخَرَجَ بِهِمْ إِلَى الْمُصَلَّى فَصَفَّ بِهِمْ وَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ . متفق عليه

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ خلکو ته د نجاشي (د حبشې د باچا) خبر ورکړ، په هغه ورځ په کومه ورځ چې هغه مړ سوی وو، بیا د اصحابو سره عیدګاه ته ولاړ، بیا یې صفونه جوړ کړل او څلور تکبیرونه یې وویل (یعني پر هغه یې د جنازې لمونځ وکړ) (بخاري او مسلم).

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۱۸۶، رقم: ۱۳۱۸، ومسلم ۲\۶۵۶، رقم: ۶۲-۹۵۱.

تشریح: نجاشي د حبشې د پاچا لقب وو د هغه نوم اصحمه وو چې د هغه د جنازې لمونځ رسول الله ﷺ غائبانه ادا کړ.

هغه مخکې د نصاری د دین پیروکار وو خو وروسته د رسول الله ﷺ پر رسالت یې ایمان راوړی کله چې د مکې کفارو په رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم ظلم او ستم شروع کړ او په مکه کې د هغوی ژوند ډیر سخت سو نو رسول الله ﷺ صحابه رضي الله عنهم ته حکم ورکړ چې هغوی د مکې څخه هجرت وکړي نو د صحابوو رضي الله عنهم یو لوی شمیر د خپلو کورو په پریښودو سره حبشې ته هجرت وکړ، د مسلمانانو دا تر ټولو اول هجرت وو په حبشه کې هغه وخت دا اصحمه په نامه پاچا وو هغه د صحابوو رضي الله عنهم ډیره اعلی پیمانه حوصله افزایي وکړه او د هغوی خدمت یې د ځان لپاره د خوشبختۍ ذریعه وګڼله.

کله چې هغه مړ سو نو رسول الله ﷺ ته ډیره صدمه ورسیده صحابه یې د هغه د وفات څخه خبر کړل او د ټولو سره یې عیدګاه ته تشریف یووړی او هلته یې غائبانه د جنازې لمونځ ادا کړ.

په مسجد کې د جنازې د لمانځه کولو مسئله

په هدایه کې راځي چې په مسجد کې کوم ځای د لمانځه د جماعت لپاره جوړ سوی وي هلته دي د جنازې لمونځ نه کوي د رسول الله ﷺ ارشاد دی کوم سړی چې په مسجد کې د جنازې لمونځ وکړي هغه ته ثواب نه حاصلیږي.

علامه ابن همام رحمة الله علیه فرمایي: په مسجد کې د جنازې لمونځ کول مکروه دی که څه هم جنازه او لمونځ کوونکي دواړه په مسجد کې وي یا جنازه په مسجد کې دننه وي او ټول لمونځ

کوونکي يا لږ لمونځ کوونکي د مسجد څخه دباندي وي البته ځيني حضرات دا فرمايي په هغه صورت کي مکروه نه دی کله چي جنازه د مسجد څخه دباندي ايښودل سوی وي بيا د دې وروسته د کراهيت په باره کي هم د علماؤ اختلافي اقوال دي ځيني حضرات وايي چي کراهت تحريمي دی او د ځينو حضراتو قول دی چي کراهت تنزيهي دی .

د حديث څخه د شوافعو استدلال

شافعي مذهبه حضرات دا حديث د خپل مذهب استدلال گرځوي چي د غائبانه جنازې لمونځ جائز دی د حنفيه په نزد د جنازې غائبانه لمونځ جائز نه دی ځکه د هغوی لخوا څخه د دې حديث تاويل داسي کيږي چي کيدای سي چي د نجاشي جنازه د رسول الله ﷺ مخ ته ايښودل سوې وي ځکه چي د الله تعالی ذات پر دې قادر دی چي په مينځ کي حائل غرونه ځنگلونه او دېوالونه ليري کړي او رسول الله ﷺ د نجاشي جنازه ويني نو دا د رسول الله ﷺ خصوصيت سو نو د نورو لپاره جائز نه دی چي هغوی د غائبانه جنازې لمونځ اداء کوي د ابن عباس رضي الله عنه دا بيله اسناده نقل دی چي د نجاشي جنازه پرانستي سوه تر دې چي رسول الله ﷺ وليده او پر هغه يې لمونځ وکړ .

د جنازې د لمانځه تکبيرونه

﴿۱۵۶۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ كَانَ زَيْدٌ يُكَبِّرُ عَلَى جَنَائِزِنَا أَرْبَعًا وَإِنَّهُ كَبَّرَ عَلَى جَنَازَةٍ خَمْسًا فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يُكَبِّرُهَا .

رواه مسلم

د حضرت عبدالرحمن بن ابی ليلی رضي الله عنه څخه روايت دي چي زيد بن ارقم به زمونږ د جنازې په لمونځو کي څلور يا پنځه تکبيرونه ويل ، مونږ ځيني د دې سبب وپوښتئ ، هغه وويل : چي رسول الله ﷺ به پنځه تکبيرونه کول (مسلم) (تکبيرونه څلور دي ،پنځه منسوخ دي) .

تخريج : صحيح مسلم: ۲\۶۵۹، رقم: ۷۲- ۹۵۷.

تشريح : د زيد بن ارقم ارشاد چي رسول الله به پنځه تکبيرونه ويله، د دې مطلب دا دی چي يا خو رسول الله ﷺ په ابتدائي زمانه کي پنځه تکبيرونه ويل يا دا چي کله کله يې پنځه تکبيرونه ويلي دي .

د ټولو علماؤ په متفقه توګه سره دا فیصله ده چې د جنازې په لمانځه کې څلور تکبیرونه دي که څه هم د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو څخه تر څلورو زیات تکبیرونه نقل دي مګر علماء لیکي چې په اخر کې د رسول الله ﷺ څخه څلور تکبیرونه ثابت دي په کومو روایتونو کې چې تر څلورو زیات تکبیرونه نقل دي هغه منسوخ دي خو زید رضی الله عنه د هغه روایتونو د منسوخ کیدو قائل نه دی نو پر دې اتفاقي او اجتماعي فیصلې باندې هیڅ اثر نه لویږي.

د جنازې په لمانځه کې سورة فاتحه

﴿۱۵۶۵﴾: وَ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ عَلَى جَنَازَةٍ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ قَالَ لِيَعْلَمُوا أَنَّهَا سُنَّةٌ. رواه البخاري

د حضرت طلحه بن عبد الله بن عوف رضی الله عنه څخه روایت دي چې ما په ابن عباس رضی الله عنه پسې د جنازې یولمونځ وکړ، هغه (د هغه تکبیرو څخه وروسته) سورة فاتحه وویل، بیا یې وویل: ما سورة فاتحه ځکه وویل چې تاسو ته معلومه سي چې سنت ده. (بخاري).

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۰۳، رقم: ۱۳۳۵،

تشریح: امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمایي دا سنت دی د دې څخه مراد دادی چې د جنازې په لمانځه کې سورة فاتحه ویل واجب نه دی، یعني که د تکبیر اولی وروسته سبحانک اللهم پرځای سورة فاتحه وویل سي نو د سنت یعني سبحانک اللهم ...الخ ویلو قائم مقام کیږي.

محقق ابن همام رحمة الله علیه فرمایي د جنازې په لمانځه کې د سورة فاتحه قرات نه کیږي هو د ثناء په نیت سره فاتحه ویل کیږي د جنازې په لمانځه کې رسول الله ﷺ څخه سورة فاتحه ویل ثابت نه دي او په موطا کې نقل دي چې ابن عمر رضی الله عنه به د جنازې په لمانځه کې سورة فاتحه نه ویله.

د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد د جنازې په لمانځه کې سورة فاتحه ویل واجب دي هغه فرمایي د ابن عباس رضی الله عنه الفاظ انها سنة دا سنت دی په دې کې د سنت څخه مراد دی چې سورة فاتحه ویل د دین یوه مشروعه طریقه ده نو د هغوی د دغه تاویل څخه وجوب د نفي نه لازمیږي.

د جنازې په لمانځه کې دعاء

﴿۱۵۶۶﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى

د حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ په یوه جنازه کې لمونځ وکړ

جَنَازَةٍ فَحَفِظْتُ مِنْ دُعَائِهِ وَهُوَ يَقُولُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ

او نبي کريم ﷺ چې کومه دعا په لمانځه کې وکړل هغه ما په یاد کړه ، هغه دعا داده : اللهم ....من عذاب النار .اې الله! دی وبخښې ، او رحم پر وکړی او دبدو څخه یې بري کړي ، او دده قصور معاف کړې ،

عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنْ

او دده ښه مېلمستیا وکړې ، او دده قبر پراخه کړې ، او دی په اوبو سره، په واوري سره او په یخې سره پاک کړې ،

الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ

دده ګناهونه پاک کړې ، څنګه چې سپینه کپړه دمیل (خیري) څخه پاکیږي ، او دده ته د ده د کور څخه افضله کور ورکړې ،

وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ

او دده د ښځې څخه افضله ښځه ورکړې (دده د خادمانو څخه ښه خادمان ورکړې) او دی په جنت کې داخل کړې ، او دی خلاص کړې

عَذَابِ الْقَبْرِ أَوْ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَفِي رِوَايَةٍ وَقِّهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ قَالَ

د قبر د عذاب څخه او د دوزخ د عذاب څخه او په یوه بل روایت کې راغلي دي او دده قبر د دوزخ د فتنې او د دوزخ د عذاب څخه خلاص کړې ، عوف وایي

حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ أَنَا ذَلِكَ الْمَيِّتَ . رواه مسلم

کله چې ما د رسول الله ﷺ دژبې څخه دا الفاظ واوریدل ، نو بې اختیاره زما په زړه کې دا آرزو پیدا سوه ، چې کاشکې دا مړی زه وای . او رسول الله ﷺ زما د پاره دا دعا کړې وای (مسلم) .

تخریج : صحیح مسلم، ۲\ ۶۶۲، رقم: ۱۵- ۹۶۳.

تشریح : د هغه د ښځې څخه بهتره ښځه: د دې څخه څرنګه د جنت حوري مراد دي همداسې د دنیا ښځې هم مراد دي نو په دې اړه څه اشکال پاته نه سو ، په جنت کې به د دنیا ښځې د خپل

لمانځه او روژې په وجه د جنت د حورو څخه افضلي وي څرنګه چې په حديث کې راغلي دي.
په فقه کې ليکلي دي چې دا دعا اهسته ويل مستحب دي رسول الله ﷺ داد عا په لوړ اواز ځکه ويلې وه چې نور يې په اوريدو سره ياد کړي دا دعا نسائي او ترمذي هم نقل کړې ده او امام بخاري فرمايلي دي د جنازې په اړه د مړي لپاره چې کومې دعاوي نقل دي په هغو ټولو کې دا دعا تر ټولو زياته صحيح ده.

په مسجد کې د جنازې لمونځ

﴿۱۵۶۷﴾: وَ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ لَمَّا تُوُفِّيَ سَعْدُ بْنُ أَبِي

ابو سلمه بن عبد الرحمان رضي الله عنه څخه روايت دي کله چې سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه وفات سو،

وَقَّاصٍ قَالَتْ ادْخُلُوا بِهِ الْمَسْجِدَ حَتَّى أُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَأُنْكِرَ ذَلِكَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ

نو بی بی عائشې رضي الله عنها خلکو ته وويل: دده جنازه مسجد ته يوسئ چې زه لمونځ ورکړم خلکو د جنازې مسجد ته د وړلو څخه انکار وکړ، بی بی عائشې رضي الله عنها وفرمايل:

وَاللَّهِ لَقَدْ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَلَى ابْنَيْ بَيْضَاءَ فِي الْمَسْجِدِ سُهَيْلٍ وَأَخِيهِ.

رواه مسلم

په خداى دي مي قسم وي رسول الله ﷺ دبيضاء پـــزلا واړو زامنو (سهيل او د هغه ورور) باندې د جنازې لمونځ په مسجد کې وکړ. (مسلم).

تخريج: صحيح مسلم: ۲\۶۶۹، رقم: ۱۰۱- ۹۷۳.

تشريح: د سهيل د ورور نوم سهل وو او د هغه د دواړو د مور نوم بيضاء وه په مسجد کې د جنازې د لمانځه کولو مسئله مختلف فيه ده د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد د دې حديث په دليل د جنازې لمونځ په مسجد کې کيداى سي کله چې د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد په مسجد ي د جنازې لمونځ کول مکروه دى د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله دليل هم دا حديث دى د بي بي عائشې رضي الله عنها په وينا صحابه رضي الله عنهم د دې خبرې څخه انکار وکړى چې د بن ابي وقاص رضي الله عنه جنازه مسجد ته راوړه سي ځکه چې د رسول الله ﷺ دا معمول نه وو چې په مسجد کې دي د جنازې لمونځ کوي مګر مسجد ته نژدې يوځاى تاکلى وو

هلته به رسول الله ﷺ د جنازې لمونځ کوی د دې ماسیوا په ابوداود کې یو حدیث هم پر دې مضمون نقل دی چې کوم سړی په مسجد کې د جنازې لمونځ کوي هغه ته ثواب نه حاصلیږي.
تر څو پوري چې د بي بي عائشې رضي الله عنها د ارشاد تعلق دی رسول الله ﷺ په مسجد کې د سهیل او د هغه د ورور د جنازې لمونځ کړی دی په دې اړه علماؤ لیکلي دي چې داسې رسول الله ﷺ د عذر د وجې څخه وکړی یا خو باران وو یا رسول الله ﷺ په اعتکاف کې وو ځکه رسول الله ﷺ په مسجد کې د جنازې لمونځ ادا کړی که په یوه روایت کې د دې وضاحت هم سوی دی چې رسول الله ﷺ په اعتکاف کې وو ځکه رسول الله ﷺ په مسجد کې د جنازې لمونځ وکړ.

د جنازې په لمانځه کې د ډډو ځای

﴿۱۵۶۸﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ صَلَّيْتُ وَرَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ مَاتَتْ فِي نِفَاسِهَا فَقَامَ عَلَيْهَا وَسَطَهَا. متفق عليه

د حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روایت دي چې ما په رسول الله ﷺ پسې دیوې ښځې د جنازې لمونځ وکړ کوم چې د نفاس په وجه مړه سوې وه، نبي کریم ﷺ د جنازې په مینځ کې ودرېدئ. (بخاري).

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۰۱، رقم: ۱۳۳۲، ومسلم: ۲\ ۶۶۴، رقم: ۸۷- ۹۶۴.

تشریح: د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب خو دادی چې د ښځې د جنازې په لمانځه کې امام دي د مړي برابر ودریږي او د سړي د جنازې په لمانځه کې دي د مړي د سر مخ ته ودریږي د ښځې د جنازې د لمانځه په باره کې د امام شافعي رحمة الله علیه د مذهب دلیل دا حدیث دی کله چې د سړي د جنازې د لمانځه په باره کې هغه خپل مذهب د یوه دوهم حدیث څخه ثابتوي.
د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه مذهب دادی چې امام دي د مړي د سینې مخ ته ودریږي خواه د سړي جنازه وي یا د ښځې د دې حدیث په باره کې ابن همام رحمة الله علیه فرمایي دا حدیث د مړي د سینې مخکې د دریدو خلاف نه دی ځکه چې انساني جسم د اندامو د اعتبار څخه په اصل کې سینه وسط دی په دې توګه سره چې د سینې پورته سر او لاسونه وتړي او د سینې لاندې نس او پښې دي او د دې تولو په مینځ کې سینه ده او دا احتمال دی چې رسول الله ﷺ پر دې وخت ته د ځیګر خوا ته لږ مائل ولاړ وو او دا دواړي برخې یعني سینه او ځیګر په خپلو کې بالکل نږدې نږدې دي ځکه راوي به دا ګمان کړی وي چې رسول الله ﷺ د ځیګر مخ ته

ولاړ وو .
شمني رحمة الله عليه ويلي دي د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام ابو يوسف رحمة الله عليه په روايت کي هم دا دی چي د ښځي د جنازي په لمانځه کي امام ته د مړي د ځيګر مخ ته دريدل پکار دي . (والله اعلم)

د ښخېدو وروسته د جنازې لمونځ

﴿۱۵۶۹﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِقَبْرٍ قَدْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ پر يو قبر تير سو

دُفِنَ لَيْلًا فَقَالَ مَتَى دُفِنَ هَذَا قَالُوا الْبَارِحَةَ قَالَ أَفَلَا آذَنْتُمُونِي قَالُوا دَفَنَّاهُ

چي په هغه کي د شپې مړي دفن کړل سوی وو ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا کله دفن سوي دي صحابه کرامو عرض وکړ نن شپه ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه تاسو زه ولي خبر نه کړم؟ صحابه کرامو عرض وکړ

فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ فَكَرِهْنَا أَنْ نُوقِظَكَ فَقَامَ فَصَفَفْنَا خَلْفَهُ فَصَلَّى عَلَيْهِ . متفق عليه

مور دوی په تياره کي ښخ کړل او په داسي وخت کي مو ستاسو را کښينول مناسب نه وګڼل ، رسول الله ﷺ و دريدئ او مور صف جوړ کړی او پر هغه (قبر) يې لمونځ وکړ . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۱۱۷/۳ ، رقم : ۱۲۴۷ ، ومسلم ۶۵۸/۲ ، رقم : ۶۹ - ۹۵۴ .

﴿۱۵۷۰﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ أَوْ شَابًّا

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يوې توري ښځي او يا يو زلمي به مسجد نبوي جارو کوئ ،

فَفَقَدَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَ عَنْهَا أَوْ عَنْهُ فَقَالُوا مَاتَ

رسول الله ﷺ چي هغه غائب وليدئ نو پوښتنه يې وکړه (چي چيري دي) صحابه کرامو عرض وکړ هغه مړه سوې ده (يا مړ سوئ دئ)

قَالَ أَفَلَا كُنْتُمْ آذَنْتُمُونِي قَالَ فَكَأَنَّهُمْ صَغَّرُوا أَمْرَهَا أَوْ أَمْرَهُ فَقَالَ دُلُّونِي

رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو زه ولي خبر نه کړم ، ابو هريرة رضي الله عنه وايي لکه چي صحابه کرامو د هغه مرګ

معمولي ګڼئ له دې کبله يې رسول الله ﷺ ته خبر ورنه کړ، رسول الله ﷺ وفرمايل ما ته وښياست

عَلَى قَبْرِهِ فَدَلُّوهُ فَصَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ قَالَ إِنَّ هَذِهِ الْقُبُورَ مَمْلُوءَةٌ ظُلْمَةً عَلَى أَهْلِهَا

د هغه قبر، صحابه کرامو د هغه قبر ته بوتلئ او پر هغه قبر يې لمونځ وکړ بيا يې وفرمايل: دا قبرونه د تاريکيو څخه ډک دي

وَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُنَوِّرُهَا لَهُمْ بِصَلَاتِي عَلَيْهِمْ . متفق عليه و لفظه للمسلم

او زما لمونځ کول پر هغه ځلانده کوي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۰۴، رقم: ۱۳۳۷، ومسلم ۲\ ۶۵۹، رقم: ۷۱-۹۵۶.

تشريح: يوه تور رنګي ښځه وه يا يو ځوان سړی وو: دا په حقيقت کي د راوي شک دی چې په صحيح توګه ورته خبره ياد نه ده چې ابوهريره ﷺ دا فرمايلي وه چې يوه توره ښځه وه چې مسجد نبوي به يې جارو کوی يا دا يې وفرمايل چې يو ځوان سړی وو چې مسجد مبارک به يې جارو کوی.

د تيارو څخه ډک قبرونه: د دې څخه مراد هغه قبرونه دي چې پر هغه د رسول الله ﷺ لمونځ کول ممکن نه وو په دې مسئله کي چې پر قبرونو باندي د جنازې لمونځ کول جائز دی که نه د علماؤ اختلاف دی که څه هم مخکي د هغه د جنازې لمونځ اداء سوی وي که نه وي اداء سوی.

ابراهيم نخعي رحمة الله عليه، امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه او د امام مالک رحمة الله عليه قول دادی که مخکي د جنازې لمونځ سوی وي نو اوس پر قبر باندي د جنازې لمونځ نه دی صحيح او که مخکي د جنازې لمونځ نه وي سوی نو بيا جائز دی مګر د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه شرط دا هم دی که مړی په قبر کي خراب سوی نه وي نو لمونځ به صحيح وي کنې د مړي په قبر کي د خرابېدو په صورت کي به لمونځ صحيح نه وي په قبر کي د مړي د خرابېدو اندازه ځينو حضراتو درې ورځي تاکلې ده يعني که د ښخولو درې ورځي نه وي تيري سوي نو دا ګڼلی به سي چې مړی اوس لا په خپل قبر کي نه دی خراب سوی او که د ښخولو درې يا زياتي ورځي تيري سوي وې نو دا ګڼل پکار دي چې مړی په خپل قبر کي خراب سوی دی.

امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمايي: په کومو حديثونو کي چې د رسول الله ﷺ په باره کي پر قبر باندي لمونځ کول نقل دی نو دا يوازي د رسول الله ﷺ خصوصيت دی چې رسول الله ﷺ د هغوی قبرونه منور او روښانه کولو لپاره پر هغوی لمونځ کوی د نورو لپاره دا مطلقا

جائز نه دی.

په جنازه کي (۴۰) کسان

﴿۱۵۷۱﴾: عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ مَاتَ ابْنٌ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه ازاد سوی غلام کریب د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کوي چي د هغه زوی مړ سو

لَهُ بِقُدَيْدٍ أَوْ بِعُسْفَانَ فَقَالَ يَا كُرَيْبُ انْظُرْ مَا اجْتَمَعَ لَهُ مِنَ النَّاسِ قَالَ

په قدید یا عسفان نامي ځای کي نو هغه وویل: اې کریب! وګوره او د جنازې د لمانځه لپاره یو څو کسه یو ځای کړه، کریب وایي

فَخَرَجْتُ فَإِذَا نَاسٌ قَدْ اجْتَمَعُوا لَهُ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ تَقُولُ هُمْ أَرْبَعُونَ قَالَ

زه د باندي ولاړم او وه مي لیدل چي ډیر خلک یو ځای سوي دي، ما ابن عباس رضي الله عنه ددې څخه خبر کړ، هغه پوښتنه وکړه ایا ستا په خیال دا خلک به څلوښت وي؟ ما عرض وکړ

نَعَمْ قَالَ أَخْرِجُوهُ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ

هو، هغه وویل ښه دئ جنازه. راواخلئ ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي

رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوتُ فَيَقُومُ عَلَى جَنَازَتِهِ أَرْبَعُونَ رَجُلًا لَا يُشْرِكُونَ بِاللَّهِ

هر کله چي یو مسلمان مړي باندي څلوښت داسي خلک یو ځای سي چي د الله ﷻ سره شریک نه نیسي (او هغه مړي ته جنازه ورکړي)

شَيْئًا إِلَّا شَفَّعَهُمُ اللَّهُ فِيهِ. رواه مسلم.

نو الله تعالی د هغوی شفاعت د مړي په حق کي قبلوي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۶۵۵، رقم: ۵۹-۹۴۸.

په جنازه کي سل کسان

﴿۱۵۷۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ مَا مِنْ مَيِّتٍ تُصَلِّي عَلَيْهِ أُمَّةٌ مِنْ

الْمُسْلِمِينَ يَبْلُغُونَ مِائَةً كُلُّهُمْ يَشْفَعُونَ لَهُ إِلَّا شُفِّعُوا فِيهِ . رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : پر کوم مړي چې د مسلمانانو یو ډله چې د سلو شمیر ته ورسیږي لمونځ وکړي او ډله د مړي لپاره الله تعالی ته سفارش وکړي نو د هغه ډلې سفارش قبلیږي . مسلم .

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۶۵۴، رقم: ۵۸- ۹۴۷.

تشریح : په اول حدیث کې د څلویښتو خلکو د جنازې د لمانځه کولو ثواب بیان سوی دی علماء د دې اختلافي وجه دا لیکي چې مخکې به د سلو خلکو د شرکت فضیلت نازل سوی وای بیا وروسته به الله تعالی د خپلوبندګانو په حال په رحم کولو سره شمیر په کمولو سره د څلویښتو خلکو او سلو په خاصه توګه سره د دې څخه کثرت د جماعت مراد دی .

مؤمنان د الله شاهدان دي

﴿۱۵۷۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ مَرُّوا بِجَنَازَةٍ فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې د صحابه کرامو یو ډله پر یوه جنازې تیر سول او د هغه د نیکۍ تعریف یې وکړ ، نبي کریم ﷺ چې د هغوی تعریف واوریدئ نو وه یې فرمایل

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَبَتْ ثُمَّ مَرُّوا بِأُخْرَى فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا فَقَالَ وَجَبَتْ

واجب سو ، بیا دا ډله پر یوه بله جنازه تیره سول او د هغه بدي یې وکړل ، رسول الله ﷺ وفرمایل : واجب سو ،

فَقَالَ عُمَرُ مَا وَجَبَتْ قَالَ هَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا فَوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وَهَذَا

حضرت عمر رضی الله عنه پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! څه شي واجب سو ، رسول الله ﷺ وفرمایل ، د کوم مړي د نیکۍ چې تاسو تعریف وکړ د هغه لپاره جنت واجب سو او د کوم چې

أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ . متفق عليه وفي رواية المؤمنون شهداء لله في الارض .

تاسو د بدۍ بیان وکړ د هغه لپاره دوزخ واجب سو او تاسو خلک پر مځکه د الله شاهدان

یاست. بخاري او مسلم، او په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي مؤمن بندګان په مځکه کي د الله تعالی شاهدان دي.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۲۸، رقم: ۱۳۶۷، ومسلم ۲\ ۶۵۵، رقم: ۶۰- ۹۴۹.

تشریح: جنت واجب سو د دې مطلب دادی د کوم سړي چي تاسو تعریف بیانوئ که د هغه تعریف صحیح او رښتیا وي یا د هغه مرګ د خیر او نیکي په حالت کي سوی وي چي تاسو یې بیانوئ مطلب دا هم دی چي د کوم سړي تاسو بدي بیانوئ که د هغه هغه بدي واقعي وي یا د هغه مرګ د هغه د بدي په حالت کي سوی وي کوم چي تاسو بیانوئ نو د هغه لپاره د دوزخ سزا واجب سوه.

د مظهر قول دی دا حکم په عامه توګه سره د هر سړي لپاره نه دی د کوم سړي په باره کي چي خلک د خیر او نیکي ذکر کوي د هغه لپاره جنت لازم سي مګر د کوم سړي په باره کي چي خلک د بنه او نیکو خیالاتو اظهار کوي او د هغه تعریف بیان کړي نو د هغه لپاره د جنت امید کیدای سي همداسي د کوم سړي په باره کي چي خلک د خرابو خیالاتو اظهار کوي نو د هغه په باره کي دا ییره وه چي دوزخ ته به ولاړ سي،

اوس پاته سوه دا خبره چي رسول الله ﷺ د اول سړي لپاره دوزخ ولي واجب کړ؟ د دې وجه دا ده چي الله تعالی رسول الله ﷺ ته اول سړی د جنتي کیدو او دوهم سړی د دوزخي کیدو د فیصلې څخه خبر سوی وو.

زین عرف فرمایي د یوه سړي خیر نیکي شر او بدي ذکر کول د هغه لپاره ذریعه د جنت او دوزخ نه سي کیدای، مګر په حقیقت کي د یوه سړي په باره کي د خلکو د ژبې بنه یا بد اثر د هغه د جنتي کیدو یا د دوزخي کیدو نښه ده.

بیا دا چي د هغه تعریف او هغي بدي ته هغه وخت اعتبار دی چي د نیک بخت او متقي خلکو ژبې د هغه ګواهي ورکړي مځکه چي د الله تعالی د نیک بخت او متقي خلکو ژبه د هغه د زړه سلیم همنوا وي نو هغوی چي د کوم سړي تعریف کوي یا د کوم سړي بد وایي او په هغه کي د څه خارجي دباو یا د نفس د څه غلطي تقاضا قطعي دخل نه وي مګر د هغوی ظاهري تاثرات په حقیقت کي د هغوی د صالح زړه د صحیح فیصلې غماز وي نو د یوه سړي په باره کي د هغوی تعریف به د هغه سړي د جنتي کیدو علامت دی او د یوه سړي په باره کي د هغوی بیان کړی دی بدي به د هغه سړي د دوزخي کیدو علامت وي.

د دې څخه دا خبره ښکاره سوه که یو فاسق او دنیا دار سړی د نفس د غلطي تقاضا او د خپل ذاتي اغراض او مقاصد لخاطره د یوه خراب او بد کار سړي تعریف بیان کړی او د هغه په باره کي د ښه تاثراتو اظهار وکړي یا همداسي پر یو نیک او پر مردمومن بدي بیان کړي نو نه به د هغه د تعریف اعتبار وي نه به د هغه د بیان کړي بدي څه حیثیت وي مګر د هغه په باره کي به دا وویل سي چي دی د خپل نفس غلام او ضمیر فروش دی چي یوازي د خپل ذاتي اغراض او مقاصدو له خاطره هغه سړي ته ښه وایي چي د هغه بدي او بدکاري څرګنده ده او د هغه نیک بخت بدي وایي چي د هغه نیک بختي مثالي حیثیت لري.

انتم شهداء الله (تاسو د الله تعالی ګواهان یاست) د رسول الله ﷺ دا ارشاد د اکثرو د اعتبار څخه دی د دې مطلب دادی چي اکثر داسي کیږي چي کوم سړی څرنګه دی الله تعالی د خپلو بندګانو د ژبي هغه ته همداسي وایي یعني که یو سړی نیک دی نو الله تعالی د خپلو بندګانو د ژبي څخه د هغه د بدکاری شهادت ورکوي د بنده دا شهادت په حقیقت کي د دې خبري نښه ده چي هغوی د چا په باره کي د کوم تاثر اظهار کوي هغه واقعتا همداسي دی.

خلک د الله ﷻ شاهدان دي

﴿۱۵۷۴﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا مُسْلِمٍ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د کوم مسلمان لپاره چي

شَهِدَ لَهُ أَرْبَعَةٌ بِخَيْرٍ أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ قُلْنَا وَثَلَاثَةٌ قَالَ وَثَلَاثَةٌ قُلْنَا وَاثْنَانِ

څلور کسان د نیکی شاهدي ورکړي الله تعالی به هغه په جنت کي داخل کړي، موږ عرض وکړ اې دالله رسوله! که درې کسان شاهدي ورکړي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: او که درې کسان هم شاهدي ورکړي نو الله تعالی به هغه په جنت کي داخل کړي، موږ بیا عرض وکړا و که دوه کسان د هغه شاهدي ورکړي؟

قَالَ وَاثْنَانِ ثُمَّ لَمْ نَسْأَلْهُ عَنِ الْوَاحِدِ. رواه البخاري

رسول الله ﷺ وفرمایل: او که دوه کسان هم شاهدي ورکړي نو بیا هم (په جنت کي داخلیږي) بیا موږ د یوه سړي د شاهدي په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه ونه کړل. بخاري.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲۲۹\۳، رقم: ۱۳۶۸.

د مړي بد مه وایاست

﴿۱۵۷۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا . رواه البخاري

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په مړو پسې بد مه وایاست ځکه چې هغوی څه کړي وي د هغه جزا او سزا ته ورسیدل . بخاري

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري)، ۱۳\ ۲۵۸، رقم: ۱۳۹۳.

د احد د شهیدانو بخول

﴿۱۵۷۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به

الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَقُولُ أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ

د احد دوه دوه شهیدان په یوه جامه کې پټول یعني دوو کسانو ته یې یو کفن ورکوئ ، بیا به رسول الله ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه کول چې په دوی دواړو کې کوم یو په قرآن کریم کې زیات وو ،

فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدٍ قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ وَقَالَ أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

صحابه کرامو چې به یوه ته اشاره وکړه نو هغه به په لحد کې د قبلې په لور لومړی کښېښودل سو ، بیا به یې وفرمایل : زه به د قیامت په ورځ د دوی د شهادت شاهدي ورکوم،

وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ بِدِمَائِهِمْ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُغَسَّلُوا . رواه البخاري

بیا رسول الله ﷺ حکم وکړ چې دوی همداسې په خاورو او وینو لړلي ښخ کړئ ، رسول الله ﷺ هغوی ته د جنازې لمونځ ورنه کړ او غسل یې هم ورنه کړ . بخاري .

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري)، ۱۳\ ۲۱۲، رقم: ۱۳۴۷.

د جنازې څخه ستنېدل

﴿۱۵۷۷﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ ﷺ بِفَرَسٍ مُعْرَوْرًى فَرَكِبَهُ

حِينَ انْصَرَفَ مِنْ جَنَازَةِ ابْنِ الدَّحْدَاحِ وَنَحْنُ نَمْشِي حَوْلَهُ . رواه مسلم

د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دئ کله چې د ابن دحداح جنازه ښخ کړل سول نو د رسول الله ﷺ لپاره يو آس راوستل سو پر کوم چې حُين نه وو ، رسول الله ﷺ پر هغه سپور سو او موږ د رسول الله ﷺ شاوخوا روان سوو . مسلم .

تخريج : صحيح مسلم ۳\ ٦٦٤، رقم: ۸۹- ۹٦٥.

تخريج : (معرُور): عار من السرج (هغه چې حُين نه لري).

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

د جنازې سره د تللو طريقه

﴿۱۵۷۸﴾: عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرَّاكِبُ

د حضرت مغيرة بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : سپور سړی دي

يَسِيرُ خَلْفَ الْجَنَازَةِ وَالْمَاشِي يَمْشِي خَلْفَهَا وَأَمَامَهَا وَعَنْ يَمِينِهَا وَعَنْ

د جنازې شا ته ځي او پياده خلک دي مخکې ، وروسته ، راسته خوا ته او

يَسَارِهَا قَرِيبًا مِنْهَا وَالسِّقْطُ يُصَلَّى عَلَيْهِ وَيُدْعَى لِوَالِدَيْهِ بِالْمَغْفِرَةِ وَالرَّحْمَةِ

چپه خوا ته نژدې نژدې ځي او دکوچني پر جنازه دي لمونځ وکړل سي او د هغه د مور اوپلار لپاره دي د بخښنې او رحمت دعاء وکړل سي .

رواه ابوداؤد و في رواية احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة قال الراكب خلف الجنازة و الماشي حيث شاء منها والطفل يصلي عليه و في المصابيح عن المغيرة بن زياد .

ابوداؤد . د احمد ، ترمذي او نسائي په يو روايت کې دا الفاظ دي چې سپور سړی دي تر جنازې شاته شاته وي او پياده چې دده خوښه وي او د کوچني پر جنازه دي لمونځ وکړل سي او په

مصابيح كي د مغيره بن زياد څخه روايت دئ.

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۵۲۲، رقم: ۳۱۸۰.

د جنازې مخكې تلل

﴿۱۵۷۹﴾: وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَأَبَا بَكْرٍ وَّعُمَرَ يَمْشُوْنَ أَمَامَ الْجَنَازَةِ. رواه أحمد وأبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه وقال الترمذي وأهل الحديث كأنهم يرونه مرسلا

ابوبكر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه ليدلي دي چې هغوى به تر جنازې مخكې تلل، احمد، ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، ترمذي او محدثين دا مرسل ګڼي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۸، وابوداؤد: ۳\ ۵۲۲، رقم: ۳۱۷۹، والترمذي ۳\ ۳۲۹، رقم: ۱۰۰۷، والنسائي ۴\ ۵۶، رقم: ۱۹۴۳، وابن ماجه ۱\ ۴۷۵، رقم: ۱۴۸۲.

د جنازې تر شا تلل

﴿۱۵۸۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْجَنَازَةُ مَتْبُوعَةٌ وَلَا تَتْبَعُ مَعَهَا مَنْ تَقَدَّمَهَا. رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة قال الترمذي و ابوماجد الراوي رجل مجهول.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خلک د جنازې تابع دي چې تر هغه وروسته ولاړ سي او هغه (جنازه) د خلکو تابع نه ده چې تر خلکو وروسته وي او څوک چې تر جنازې مخكې ځي هغه ته د جنازې د ملګرتيا ثواب نه تر لاسه کيږي. ترمذي، ابن ماجه، ابوداؤد، ترمذي ويلي دي ابو ماجد مجهول راوي دئ.

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۵۲۵، رقم: ۳۱۸۴، والترمذي ۳\ ۳۳۲، رقم: ۱۰۱۱، وابن ماجه ۱\ ۴۷۶، رقم: ۱۴۸۴.

جنازې ته اوږه ورکول

﴿۱۵۸۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَبِعَ

د حضرت ابو هريرهٔ رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې ولاړ سي

جَنَازَةً وَحَمَلَهَا ثَلَاثَ مِرَارٍ فَقَدْ قَضَى مَا عَلَيْهِ مِنْ حَقِّهَا . رواه الترمذي و

د جنازې سره ولاړ سي او دري واره يې هغې ته اوږه ورکړه نو هغه خپل حق ادا کړ، ترمذي

قال هذا حديث غريب و قدوري في شرح السنة ان النبي صلى الله عليه وسلم حمل جنازة سعد بن معاذ بين العمودين .

وفرمايل چې دا حديث غريب دئ . او په شرح السنة کې دي چې رسول الله ﷺ د سعد بن معاذ جنازه د دوو لرګيو په منځ کې پورته کړې وه

تخريج: سنن الترمذي ۳۵۹\۳، رقم: ۱۰۴۱.

په جنازه کې پر پښو تلل

﴿۱۵۸۲﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دئ چې موږ د نبي کريم ﷺ سره په يو جنازه کې ګډون وکړ،

جَنَازَةٍ فَرَأَى نَاسًا رُكْبَانًا فَقَالَ اَلَا تَسْتَحْيُونَ اِنَّ مَلَائِكَةَ اللّٰهِ عَلَى اَقْدَامِهِمْ

موږ وليدل چې خلک سپاره دي، رسول الله ﷺ هغه سپاره مخاطب کړل او ورته وې فرمايل: تاسو ته شرم او حياء نه درځي د الله ﷻ ملائکې پر پښو روانې دي

وَاَنْتُمْ عَلَى ظُهُورِ الدَّوَابِّ . رواه الترمذي و ابن ماجة و روي ابوداؤد نحوه

قال الترمذي و روي عن ثوبان موقوفا .

او تاسو د حيوانانو پر شا سپاره ياست . ترمذي، ابن ماجه، ابوداؤد او دا حديث د ثوبان څخه موقوفا روايت دئ .

سنن الترمذي ۳\ ۳۳۳، رقم: ۱۰۱۲، وابن ماجه ۱\ ۴۷۵، رقم: ۱۴۸۰، وابوداؤد ۳\ ۵۳۱، رقم:

په جنازه کې سورة فاتحه

۴: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ عَلَى الْجَنَازَةِ
ةِ الْكِتَابِ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

رت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د جنازې (په لمانځه کې) سورة
فاتحه وويل . ترمذي ، ابوداؤد ، ابن ماجه

ج: سنن الترمذي ۳\ ۳۴۵، رقم: ۱۰۲۶، وابوداؤد ۳\ ۵۳۷، رقم: ۳۱۹۸، وابن ماجه ۱\ ۴۷۹، رقم:

د مړي لپاره دزړه د اخلاصه دعاء

۱۷۸۶: وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا
تُمُ عَلَى الْمَيِّتِ فَأَخْلِصُوا لَهُ الدُّعَاءَ . رواه ابوداؤد وابن ماجة.

ضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د مړي لمونځ وکړئ
نو په اخلاص سره د هغه لپاره دعاء وغواړئ . ابوداؤد ،. ابن ماجه

ريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۵۳۸، رقم: ۳۱۹۹، وابن ماجه ۱\ ۴۸۰، رقم: ۱۴۹۶.

د جنازې د لمانځه دعاء

۱۵۸۵: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلّٰى عَلَى الْجَنَازَةِ

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د جنازې په لمانځه کې دا دعاء

قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا وَشَاهِدِنَا

کول : (اللهم ..... ولا تفتنا بعده) اې الله زمونږ مړه او ژوندي و بخښې زمونږ حاضر او زمونږ
غايب ، زمونږ ماشومان او زمونږ لويان ، زمونږ نارينه او زمونږ ښځينه ،

وَغَائِبِنَا اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِيمَانِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ

اې الله ﷻ په موږ کې چې څوک ژوندی پاته کړې نو پر اسلام يې ژوندی لرې او په موږ کې چې څوک وفات کړې نو هغه د ايمان سره وفات کړې

عَلَى الْإِيمَانِ اللَّهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهُ. رواه احمد و ابوداؤد والترمذي و ابن ماجة و رواه النسائي عن ابي ابراهيم الاشهلي عن ابيه و انتهت روايته عند قوله و انثانا و في رواية ابي داؤد فاحيه على الايمان و توفه على الاسلام و في اخره و لاتضلنا بعده.

اې الله موږ د هغه د ثواب څخه مه محرومه کوې او د هغه وروسته موږ په فتنه کې مه اچوې. احمد ، ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه، نسائي د ابراهيم اشهلي څخه روايت کړئ دئ هغه د خپل پلار څخه او د هغه روايت يوازې انثانا، پوري دئ. او د ابوداؤد په يوه روايت کې : فاحيه على الايمان و توفه على الاسلام او د هغه په پای کې ولا تضلنا بعده الفاظ دي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۳٦۸، وابوداؤد ۳\ ۵۳۹، رقم: ۳۲۰۱، والترمذي ۳\ ۳۴۳، رقم: ۱۰۲۴، وابن ماجه ۱\ ۴۸۰، رقم: ۱۴۹۸.

د مړي لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۱۵۸٦﴾: وَعَنْ وَاثِلَةَ ابْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت واثلة بن اسقع رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ زموږ سره د يو مسلمان د جنازې

عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِي ذِمَّتِكَ

لمونځ وکړ او ما د رسول الله ﷺ څخه دا دعاء واوريدل : اللهم ان .... الغفور الرحيم. اې الله ! فلان زوی د فلان ستا په امن کې دئ ته دی

وَحَبْلِ جِوَارِكَ فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَق

د قبر د فتنې څخه او د دوزخ د عذاب څخه وساتې اې الله ! ته د وفا او حق خاوند يې

اللَّهُمَّ فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ . رواه ابوداؤد و ابن ماجة

اې الله ! دا مړی و بخښې او پرده رحم وکړې ېهله شکه ته بخښونکی او رحم کونکئ يې .
ابوداؤد ، ابن ماجه .

تخريج : سنن ابي داؤد ۳\ ۵۴۰، رقم: ۳۲۰۲، وابن ماجه ۱\ ۴۸۰، رقم: ۱۴۹۹.

تشريح : ملا علي قاري رحمة الله عليه په وحبل جوارک کي د لفظ حبل څو معناوي بيان کړي دي او په اخر کي يې ليکلي دي د دې جملې تر ټولو بهتره معنی داده چي هغه د قرآن کريم سره تعلق لرونکی او هغه ته په مظبوطي سره نيونکی وو نو دلته د لفظ حبل څخه قرآن کريم مراد دی ځرنګه چي د قرآن کريم دا ايت دی چي ترجمه يې داده د الله تعالی کتاب په مضبوطي سره ونيسئ په دې کي د حبل څخه مراد قرآن کريم دی همداسي د لفظ جوار څخه امان مراد دی او د دې جملې وحبل جوارک کي اضافت بيانيه دی ګويا د دې جملې وضاحتي معنی به دا وي چي هغه سړی قرآن کريم په مضبوطي سره نيونکی وو داسي قرآن کريم چي هغه په مضبوطي سره اختيارول يعني پر هغه په پوره توګه عمل کول د اسلام د سلامتيا او د اسلام د معرفت باعث او ذريعه ده .

د مړي بد مه وياست

﴿۱۵۸۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذْكُرُوا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ وَكُفُّوا عَنْ مَسَاوِيهِمْ . رواه ابوداؤد و الترمذي

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مړو نيکی يادوی او د هغوی بد مه يادوی . ابوداؤد ،ترمذي.

تخريج : سنن ابي داؤد ۵\ ۲۰۶، رقم: ۴۹۰۰، والترمذي ۳\ ۳۳۹، رقم: ۱۰۱۹.

تشريح : د مړو خلکو نيک اعمال او د هغوی نيکي ځکه يادول او بيانول پکار ده چي د نيک او نيکی د ذکر کولو پر وخت د الله تعالی د رحمت نزول کيږي .

مګر د هغوی د بدي د ذکر څخه د ساتلو حکم ورکړه سوی دی هغه د وجوب په توګه دی يعني پر هر مسلمان باندي واجب دی چي هغه د خپل مړه مسلمان ورور بدي ذکر نه کړي او د دې کار څخه ځان وساتي، په حجة الاسلام کي ليکلي دي چي د مړو غيبت کول د ژوندو د

غيبت څخه ډير د نفرت قابل وي ، په كتاب الازهار كي د علماؤ دا قول ليكل سوى دى كه د مړي د غسل په حالت كي په مړي كي څه نيک علامت وويني مثلا د مړي مخ روښانه او منور وي يا د مړي د بدن څخه ښه بوئ راځي نو هغه د خلكو په مخ كي بيانول مستحب دى او كه څه بد علامت وويني مثلا نعوذ بالله د مړي مخ يا بدن تور سوى وي يا د هغه صورت مسخ سوى وي نو هغه خلكو ته بيانول حرام دى .

د امام د دريدو ځاى

﴿۱۵۸۸﴾: وَعَنْ نَافِعٍ اَبِيْ غَالِبٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَلَى جَنَازَةِ

د نافع ابو غالب رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د يو سړي جنازه د انس بن مالک رضي الله عنه سره وكړل

رَجُلٍ فَقَامَ حِيَالَ رَأْسِهِ ثُمَّ جَاءُوا بِجَنَازَةِ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَقَالُوا يَا اَبَا

حضرت انس رضي الله عنه د جنازې سر ته نژدې ودريدئ او بيا د يو قريشي ښځې جنازه راوړل سوه او ورته وويل سول اې ابو

حَمْزَةَ صَلِّ عَلَيْهَا فَقَامَ حِيَالَ وَسَطِ السَّرِيرِ فَقَالَ لَهُ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ هٰكَذَا

حمزه ! پر دې لمونځ وكړه اوس انس رضي الله عنه د جنازې د تخت د مينځ سره ودريدئ ، علاء بن زياد انس رضي الله عنه ته وويل

رَأَيْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْجَنَازَةِ مُقَامَكَ مِنْهَا وَمِنَ الرَّجُلِ

ايا تا رسول الله صلى الله عليه وسلم په جنازه كي داسي ولاړ ليدلى دئ څنګه چې ته د دې ښځې د جنازې په منځ كي او د سړي د جنازې سر ته مخامخ ولاړ يې ،

مُقَامَكَ مِنْهُ قَالَ نَعَمْ . رواه الترمذي و ابن ماجة و في رواية ابي داؤد نحوه مع زيادة و فيه مقام عند عجيزة المراة

انس بن مالک رضي الله عنه وويل هو ، . ترمذي ، ابن ماجه ، او د ابوداؤد په يوه روايت كي دا الفاظ دي چې انس بن مالک د هغې ښځې د تشي سره نژدې ودريدئ .

تخريج : سنن الترمذي ۳\ ۳۵۲ ، رقم: ۱۰۳۴ ، وابن ماجه ۱\ ۴۷۹ ، رقم: ۱۴۹۴ ، وابوداؤد ، ۳\ ۵۳۳ ، رقم: ۳۱۹۴ .

تشريح : په دې مسئله کي چې د جنازې په لمانځه کي امام ته په جنازې کي کوم ځای دريدل پکار دي اختلاف دی او د دين د امامانو چې کوم مذهب دی د هغه پوره تفصيل په وضاحت سره د تيرو صفحاتو د اول فصل د يوه حديث په تشريح کي بيان سوی دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د جنازې په لېدو سره دريدل

﴿۱۵۸۹﴾: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنَ أَبِي لَيْلَى قَالَ كَانَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ وَقَيْسُ بْنُ

د حضرت عبد الرحمن بن ابو ليلى رضي الله عنه څخه روايت دئ چې سهل بن حنيف او قيس بن

سَعْدٍ قَاعِدَيْنِ بِالْقَادِسِيَّةِ فَمَرُّوا عَلَيْهِمَا بِجَنَازَةٍ فَقَامَا فَقِيلَ لَهُمَا إِنَّهَا مِنْ

سعد په قادسيه کي يو ځای ناست وه چې يوه جنازه هلته تيره سوه دواړه د هغه په لېدو سره ولاړ سول ، هغوی ته وويل سول چې دا خو د

أَهْلِ الْأَرْضِ أَيْ مِنْ أَهْلِ الذِّمَّةِ فَقَالَا إِنَّ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتْ بِهِ

ذمي جنازه ده، هغوی وويل : د رسول الله ﷺ په خوا کي هم يو جنازه تيره سوې وه

جِنَازَةٌ فَقَامَ فَقِيلَ لَهُ إِنَّهَا جِنَازَةُ يَهُودِيٍّ فَقَالَ أَلَيْسَتْ نَفْسًا . متفق عليه

او رسول الله ﷺ ورته ولاړ سوی وو ، کله چې رسول الله ﷺ ته وويل سول چې دا جنازه خو د يهودي ده نو رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا دی ساه لرونکی نه دئ . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\ ۱۷۹، رقم: ۱۳۱۲، ومسلم ۲\ ٦٦١، رقم: ۸۱- ۹٦۱.

تشريح : قادسيه د يو ځای نوم دی چې د کوفي څخه پر پنځلس کوس فاصله باندي پروت دی . په روايت کي ذمي په اهل زمين سره تعبير سوی دی يا خو د هغوی د کمي رتبې کيدو په وجه يا دا چې مسلمانانو د هغوی مځکه کرله او د هغوی څخه به يې خراج اخيستی ځکه هغوی ته اهل زمين ويل سوي دي .

د رسول الله ﷺ ارشاد ايا دی انسان نه دی : د دې مطلب دا دی چې ايا دا د انسان جنازه نه ده چې د هغه په لېدو سره دي عبرت حاصل نه کړه سي حاصل دا چې په جنازه ليدو سره بيره محسوسيږي او عبرت حاصليږي که هغه مسلمان وي که کافر ځکه د جنازې په ليدو سره زه ودريدم .

په تیرو صفحاتو کي دا هم ښودل سوي دي چي جنازه په لیدو سره دریدل د حضرت علي رضي الله عنه په روایت سره منسوخ سوی دی نو کیدای سي چي دې دواړو صحابه ته د هغه منسوخي علم نه وو ځکه نو دا حضرات به د جنازې په لیدو سره دریدلي وي .

د رسول الله ﷺ عادت

﴿۱۵۹۰﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ

إِذَا اتَّبَعَ الْجَنَازَةَ لَمْ يَقْعُدْ حَتَّى تُوضَعَ فِي اللَّحْدِ فَعَرَضَ لَهُ حَبْرٌ فَقَالَ هَكَذَا

د یو جنازې سره تلئ نو تر هغو پورې نه کښینستئ تر څو پورې چي هغه په قبر کي نه وو ایښودل سوي . یو یهودي عالم د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ

نَصْنَعُ يَا مُحَمَّدُ قَالَ فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَقَالَ خَالِفُوهُمْ . رواه الترمذي و ابوداؤد وا ابن ماجة و قال الترمذي هذا حديث غريب و بشر بن رافع الراوي ليس بالقوي .

اې محمد ! موږ هم داسي کوو ، د راوي بیان دئ چي ددې وروسته به رسول الله ﷺ د مړي ښخولو یا په لحد کي د کښته کولو څخه مخکي کښینستئ او فرمایل به یې په دې اړه تاسو د یهودو مخالفت وکړئ . ترمذي، ابوداؤد ، ابن ماجه، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ ، بشر بن رافع راوي قوي نه دئ .

تخریج: سنن الترمذي ۳\ ۳۴۰، رقم: ۱۰۲۰، وابوداؤد: ۳\ ۵۲۰، رقم: ۳۱۷۶، وابن ماجه ۱\ ۴۹۳، رقم: ۱۵۴۵.

په جنازه کي ناسته

﴿۱۵۹۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنَا بِالْقِيَامِ فِي الْجِنَازَةِ ثُمَّ جَلَسَ بَعْدَ ذَلِكَ وَأَمَرَنَا بِالْجُلُوسِ . رواه احمد

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ موږ ته حکم راکړئ چي د جنازې په لیدو و

سره چې و دريږئ بيا رسول الله ﷺ کښينستئ او موږ ته يې هم د ناستې حکم راکړئ . احمد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱\ ۸۲.

تشريح : د دې حديث د ښکاره مفهوم څخه دا خبره ثابته سوه چې مخکې خو جنازه په ليدو سره د دريدو حکم وو خو وروسته دا حکم منسوخ کړه سو اوس د دې وروسته مسئله داده چې کوم خلک د جنازې سره نه مګر چې ناست وي هغوی ته جنازه په ليدو سره دريدل نه دي پکار .

﴿۱۵۹۲﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ سِيْرِيْنَ قَالَ أَنَّ جَنَازَةً مَرَّتْ بِالْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ

د محمد بن سيرين رضي الله عنه څخه روايت دئ چې حسن بن علي رضي الله عنه

وَابْنِ عَبَّاسٍ فَقَامَ الْحَسَنُ وَلَمْ يَقُمْ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ الْحَسَنُ أَلَيْسَ قَدْ

او د ابن عباس رضي الله عنه سره نژدې يوه جنازه تيره سوه ، ددې په ليدو سره حسن بن علي رضي الله عنه ولاړ سو مګر ابن عباس رضي الله عنه ولاړ نه سو ، حسن ابن عباس ته وويل :

قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِجَنَازَةِ يَهُوْدِيٍّ قَالَ نَعَمْ ثُمَّ جَلَسَ . رواه النسائي

ايا رسول الله ﷺ د يهودي د جنازې په ليدلو سره ولاړ. نه سوو ، ابن عباس وويل : هو ، مګر بيا ناست وو . (و نه دريدئ) نسائي .

تخريج: سنن النسائي ۴\ ۴۶، رقم: ۱۹۲۳.

تشريح : د ابن عباس رضي الله عنه د جواب مطلب دادی چې مخکې خو بيشکه دا يې معمول وو چې جنازه په ليدو سره به دريدی خو ورسته يې دا معمول سوی وو چې جنازه په ليدو سره به نه دريدی مګر ناست به وو نو جنازه په ليدو سره د دريدلو حکم منسوخ سوی دی .

د حضرت حسن رضي الله عنه د عمل په باره کې علماء ليکي کيدای سي چې حسن رضي الله عنه ته د دې حکم د منسوخ کيدو علم نه وو سوی ځکه هغه يوازې دا چې جنازه په ليدو سر دريدی مګر هغه د ابن عباس رضي الله عنه پر نه دريدو هم اعتراض وکړی .

کله چې نبي کريم ﷺ د يوې يهودی جنازه وليدل

﴿۱۵۹۳﴾: وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ كَانَ جَالِسًا

حضرت جعفر بن محمد د خپل پلار څخه روايت کوي چې حسن بن علي رضي الله عنه ناست وو چې

فَمُرَّ عَلَيْهِ بِجَنَازَةٍ فَقَامَ النَّاسُ حَتَّى جَاوَزَتْ الْجَنَازَةُ فَقَالَ الْحَسَنُ إِنَّمَا مُرَّ

يوه جنازه تيره سوه ، خلک ودريدل تر څو چې جنازه تيره سوه ، حسن بن علي وويل :

بِجَنَازَةِ يَهُودِيٍّ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى طَرِيقِهَا جَالِسًا

رسول الله ﷺ په يو ځای کې تشريف فرما وو چې د يو يهودي جنازه پر هغه لور تيره سوه ،

وَكَرِهَ أَنْ تَعْلُوَ رَأْسَهُ جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ فَقَامَ . رواه النسائي .

رسول الله ﷺ دا کار بد وګڼئ چې د يهودي جنازه د رسول الله ﷺ تر سره تيره سي له دې کبله رسول الله ﷺ ودريدئ . نسائي .

تخريج : سنن النسائي ۴\۴۷، رقم: ۱۹۲۶.

تشريح : د حضرت حسن رحمة الله عليه د ارشاد مطلب دادی چې رسول الله ﷺ د يهودي جنازه په ليدو سره چې ولاړ وو نو د دې وجه د مړي احترام نه وو مګر اصل حقيقت خو دا وو چې رسول الله ﷺ دا خبره خوښه نه کړه چې د يهودي جنازه د رسول الله ﷺ د سر څخه پورته سي ګويا حضرت حسن رضي الله عنه د خپل ارشاد په ذريعه پر هغو خلکو اعتراض وکړی چې جنازه په ليدو سره نه وه دريدلي .

اوس د دې مخکې چې کوم حديث تير سوی دی د هغه څخه معلومه سوه چې حضرت حسن رضي الله عنه نه يوازې دا چې جنازه په ليدو سره ودريدی مګر پر ابن عباس رضي الله عنه يې ځکه اعتراض وکړی چې هغه جنازه په ليدو سره نه وه دريدلی او دلته په دې حديث کې دا بيانيږي چې کوم خلک جنازه په ليدو سره ودريدل حضرت حسن رضي الله عنه پر هغوی اعتراض وکړی .

نو د دې اختلاف په باره کې محدثين ليکي دا واقعه چې دلته بيانيږي تر هغه پيښې وروسته ده کومه چې د دې مخکې په حديث کې بيانه سوې ده مخکې حضرت حسن رضي الله عنه ته د منسوخي علم نه وو سوی ځکه هغه ابن عباس رضي الله عنه باندې اعتراض وکړی خو وروسته د تحقيق دا ثابته سوه چې رسول الله ﷺ په مخکنۍ وجه د يهودي د جنازې په ليدو سره دريدلی وو او دا چې جنازه په ليدو سره د دريدو حکم اوس منسوخ سوی دی نو هغه پر دې وخت پر هغو خلکو باندی اعتراض وکړی چې جنازه په ليدو سره دريدلي وه .

په هر حال جنازه په ليدو سره ودريدی نور هم څو وجهې دي مثلاً ډير وار داسي کيږي چې

رسول الله ﷺ به د بيري او عبرت په وجه جنازه په ليدو سره ودريدی کله د ملائکه د تعظيم په وجه به ودريدی چې د جنازې سره به وو کله به رسول الله ﷺ ځکه ودريدی چې رسول الله ﷺ جنازه په خپل سر مبارک اخستل نه خوښول.

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه ليکلي دي دا حديث منقطع دی ځکه چې امام باقر رحمة الله عليه د حضرت حسن رضی الله عنه په زمانه کې نه وو.

﴿۱۵۹۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا مَرَّتْ

د حضرت ابو موسی رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چې تيريږي

بِكَ جِنَازَةُ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ أَوْ مُسْلِمٍ فَقُومُوا لَهَا فَلَسْتُمْ لَهَا تَقُومُونَ إِنَّمَا تَقُومُونَ لِمَنْ مَعَهَا مِنَ الْمَلَائِكَةِ. رواه احمد

ستا سو په مخکې د يو يهودي، نصراني يا مسلمان جنـــازه نو ودريږئ تاسو د جنازې (د ادب او احترام) لپاره نه بلکه د هغه ملائکو لپاره ودريږئ چې د جنازې سره وي. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۳۹۱\۴.

تشريح: څرنګه چې پورته بيان سوی دی چې جنازه په ليدو سره د دريدو مختلفي وجهي دي په هغه کې يوه وجهه دلته بيانيږي او هغه دا چې د دريدو حکم مخکې وو اوس منسوخ سوی دی د دې وضاحت هم د تيرو حديثو په تشريح کې بيان سوی دی.

﴿۱۵۹۵﴾: وَعَنْ اَنَسٍ أَنَّ جَنَازَةً مَرَّتْ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ فَقِيلَ إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ فَقَالَ إِنَّمَا قُمْنَا لِلْمَلَائِكَةِ. رواه النسائي.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چې يوه جنازه د رسول الله ﷺ سره تيره سوه، نو رسول الله ﷺ ودريدئ، رسول الله ﷺ ته وويل سول چې دا خو د يهودي جنازه ده، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه د ملائکو له کبله ودريدم. نسائي.

تخريج: سنن النسائي ۴۸\۴، رقم: ۱۹۲۸.

د جنازې په لمانځه کې درې صفه جوړول

﴿۱۵۹۶﴾: وَعَنْ مَالِكِ بْنِ هُبَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت مالک بن هبیرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي

يَقُوْلُ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ فَيُصَلِّي عَلَيْهِ ثَلَاثَةُ صُفُوفٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا

چې فرمایل یې : هر کله چې یو مسلمان مړ سي او د هغه په جنازه کې درې صفه د لمانځه جوړ سي

أَوْجَبَ فَكَانَ مَالِكٌ إِذَا اسْتَقَلَّ أَهْلَ الْجَنَازَةِ جَزَّأَهُمْ ثَلَاثَةَ صُفُوفٍ لِهٰذَا

نو الله تعالی د هغه لپاره جنت واجبوي ، ددې حدیث د اوریدو وروسته به حضرت مالک کله چې د جنازې په لمانځه کې تر درې صفو کم ولیدل نو هغوی به یې پر درو صفو ویشل .

الْحَدِيثِ. رواه ابوداؤد و في رواية الترمذي قال كان مالك بن هبيرة اذا صلى على جنازة فتقال الناس عليها جزاهم ثلثة اجزاء ثم قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من صلى عليه ثلثة صفوف اوجب .

ابوداؤد . د ترمذي په یو روایت کې دي چې مالک بن هبیرة به کله د جنازې کولو اراده وکړه او لږ خلک به یې ولیدل نو هغوی به یې پر درو برخو وویشل بیا به یې وویل : رسول الله ﷺ فرمایلي دي پر چا چې درې صفه لمونځ وسي نو د هغه لپاره شفاعت واجب سي . ابن ماجه هم داسې روایت کړی ی .

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۵۱۴، رقم: ۳۱۶۶، و رواية الترمذي في سننه ۳\ ۳۴۷، رقم: ۱۰۲۹، وابن ماجه ۱\ ۴۷۸، رقم: ۱۴۹۰.

تشريح : د اسلامي عقائدو دا یوه واضحه مسئله ده هر سړي ته دا عقیده ساتل ضروري دی چې پر الله تعالی باندې هیڅ شی واجب نه دی یعني د هغه بزرګ وبرتر ذات د څه شي کولو باندې مجبور نه دی مګر دلته په حدیث کې فرمایل سوي دي چې الله تعالی جنت واجب کوي ځکه علماء د حدیث دا مطلب بیانوي چې د کوم سړي د جنازې په لمانځه کې د مسلمانانو درې صفونه ګډ سي د دې بشارت پر موجب الله تعالی پر خپل ځان باندې دا واجب وي چې هغه به په

جنت کي داخل کړي ګويا دلته په حديث کي چې د کوم وجوب ذکر کيږي هغه د الله تعالى د فضل او د هغه د وعدې د مناسبت ځخه دى د دې مطلب دادى چې الله تعالى د داسي سړي په جنت کي د داخليدو وعده کړې ده او ښکاره ده چې الله تعالى کومه وعده وکړي او هغه دي پوره نسي دا ناممکنه ده ځکه د وعدې د پوره کولو او د خپل فضل او کرم د اظهار په توګه الله تعالى د ځه مجبوري يا د دباو لاندي نه مګر پر ځان باندي دا واجب کوي چې داسي سړى په جنت کي داخل کړي دې ته اصطلاحا وجوب لغيره وايي چې د دې خلاف نه دى هو وجوب لذاته د الله تعالى د ذات لپاره ممتنع دى چې د هغه په باره کي پورته اسلامي عقيده بيان سوې ده کرماني رحمة الله عليه ليکلي دي د جنازې په لمانځه کي په ټولو صفونو کي زيات افضل تر ټولو وروسته صف دى پر خلاف د نورو لمونځونو چې په هغه کي د ټولو مخکي صف تر ټولو زيات افضل وي.

او علماء دا مسئله ليکي چې د جنازې د لمانځه وروسته د مړي لپاره دي دعا نه کوي ځرنګه چې په نورو لمونځونو کي د سلام ګرځولو وروسته دي دعا وغوښتل سي ځکه چې په دې سره د جنازې په لمانځه کي د اضافتوب اشتباه ده.

د جنازې دعاء

﴿۱۵۹۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الْجَنَازَةِ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه ځخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به په جنازه کي دا دعاء کول:

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبُّهَا وَاَنْتَ خَلَقْتَهَا وَاَنْتَ هَدَيْتَهَا لِلْاِسْلَامِ وَاَنْتَ قَبَضْتَ رُوحَهَا

اللهم انت ..... فاغفرله. اې الله! ته دده پروردګار يې تا دى پيدا کړى دئ او تا د اسلام په لور هدايت ورته کړئ دئ او تا يې روح قبض کړې ده

وَاَنْتَ اَعْلَمُ بِسِرِّهَا وَعَلَانِيَتِهَا جِئْنَاكَ شُفَعَاءَ فَاغْفِرْ لَهُ. رواه ابوداؤد.

ته دده په ظاهر او باطن ته ښه خبردار يې مونږ دده سفارش ته راغلي يو ته دى وبخښې. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\۵۳۸، رقم: ۳۲۰۰.

د کوچني مړي دعاء

﴿۱۵۹۸﴾: وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَبِي هُرَيْرَةَ عَلَى صَبِيٍّ لَمْ يَعْمَلْ خَطِيئَةً قَطُّ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ اللّٰهُمَّ أَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . رواه مالك

د حضرت سعید بن المسیب ﷺ څخه روایت دئ چې ما په ابوهریرة ﷺ پسې د یو داسې کوچني د جنازې لمونځ وکړ چې هغه هیڅکله هم ګناه نه وه کړې نو په لمانځه کې ما د ابوهریرة څخه دا واوریدل : اللهم اعذه من ..... اې الله ! دی د قبر د عذاب څخه وساتې . مالک .

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۲۲۸، رقم: ۱۸.

تشریح : علامه ابن حجر رحمة الله علیه فرمایي چې د روایت الفاظ (یعمل خطیبة قط) یعني هیڅ کله ګناه نه وي ځیني سوې لفظ د صبی یعني د بچي صفت کاشفه دی ځکه چې پر غیر بالغ نه ګناه کیدل مقصور نه دي .

د ابوهریره ﷺ دعاء: اې الله! دې کوچني ته د قبر د عذاب څخه پناه ورکړه، په دې کې د قبر د عذاب سزا او د قبر سوال او جواب مراد نه دی مګر د دې څخه مراد دادی چې اې الله دا کوچنی د قبر د حسرت او غم، د قبر د وحشت او د قبر د دباو کولو او د بیرې څخه په امان کې وساتې او ښکاره ده چې د قبر په دباو کې هر سړی اخته کیږي که بالغ وي که نا بالغ .

په قبر کې د کوچنیانو سوال او جواب وي که نه ؟

په دې اړه د علماء ټبل ټبل قولونه دي چې څرنګه د بالغو څخه سوال او جواب کیږي که نه د ځیني حضراتو قول خو دادی چې د کوچنیانو څخه به سوال او جواب کیږي کله چې د نورو حضراتو قول دادی چې کوچنیان به د دې څخه مستثنی وي د هغوی څخه به هیڅ سوال او جواب نه کیږي او دا قول صحیح دی ځکه چې پر غیر مکلف باندې په عذاب کې اخته کیدل د اصول شریعت خلاف دی .

د کوچني د جنازې لمونځ

﴿۱۵۹۹﴾: وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيْقًا قَالَ يَقْرَءُ الْحَسَنُ عَلَى الطِّفْلِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَيَقُولُ اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا سَلَفًا وَّفَرَطًا وَّ ذُخْرًا وَّأَجْرًا .

د امام بخاري (رح) څخه دا حدیث معلق (یعني بېله سنده) روایت دئ چې حضرت حسن بصري

ﷺ به د کوچني د جنازې په لمانځه کي (د تکبير اولی وروسته د سبحانک اللهم پر ځای) سورة فاتحه ويل او بيا به يې دا دعاء کول: اللهم ...واجرا. اې الله! دی زمونږ پېښوا وګرځوې او زمونږ پېش رو يې جوړ کړې او ذخيره او ثواب يې وګرځوې. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۰۳، رقم: ٦٥.

تشريح: سلف هغه مال ته وايي چې مخکې استول سوی وی تر څو منزل ته په رسيدو سره د هغه څخه فائده حاصله سي همداسي فرط د لښکر هغه سړي ته ويل کيږي چې د لښکر څخه مخکې په رسيدو سره د خوراک څيښاک او نور سامان انتظام کوي.

دلته په دعا کې د دواړو څخه مراد دادی چې دا کوچنيان به د قيامت په ورځ زمونږ د بهتري خير او منفعت باعث جوړ سي په دې توګه چې الله تعالی ته به زمونږ شفاعت وکړي ذخره هغه مال ته وايي چې د ذخيرې په توګه ايښول سوی وي چې د حاجت او ضرورت په وخت په کار راسي.

د کوچني لمونځ

﴿۱٦۰۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَلطِّفْلُ لاَ يُصَلّٰي عَلَيْهِ لَا يَرِثُ وَلَا يُورَثُ حَتّٰى يَسْتَهِلَّ. رواه الترمذي و ابن ماجة الا انه لم يذكروا لا يوريب.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پر کوچني دي لمونځ نه کيږي، نه دي هغه د چا وارث وي او نه دي څوک د هغه وارث وي تر څو پوري چې د زيږيدني پر وخت د هغه آواز وا نه وريدل سي. ترمذي، ابن ماجه، مګر ابن ماجه (ولا يورث) لفظ نه دی ذکر کړئ.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۳۵۰، رقم: ۱۰۳۲، وابن ماجه ۱\ ۴۸۳، رقم: ۱۵۰۸.

امام او مقتديان دي يو برابر ولاړوي

﴿۱٦۰۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابي مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د دې څخه منعه فرمايلې ده

وَسَلَّمَ أَنْ يَّقُوْمَ الْإِمَامُ فَوْقَ شَيْءٍ وَالنَّاسُ خَلْفَهُ يَعْنِيْ أَسْفَلَ مِنْهُ. رواه الدار قطني في المجتبى في كتاب الجنائز.

چې امام دي پر يو لوړ ځای يا لوړ شي ولاړوي او خلک تر ده کښته ولاړ وي. دارقطني د

مجتبی کتاب الجنائز کي بيان کړی دئ

تخريج : سنن الدار قطني ۲\ ۸۸، رقم: ۱.

تشريح : د جنازې په لمانځه کي د امام لپاره دا منعه دی چي هغه پريږ لوړ ځای ودريږي او ټول مقتديان دي تر هغه لاندي وي د دې څخه معلومه سوه چي دا خبره به په طريق اولی سره منعه ده چي يوازي امام خو دي لاندي ولاړ وي او مقتديان دي پورته ولاړ وي دا مسئله د ټولو لمونځو ده د جنازې د لمانځه تخصيص پکښي نسته، د حديث الفاظ هم مخصوص نه دي مګر د مشکوة مصنف دا حديث د جنازې پر لمانځه په محمول کولو سره په دې باب کي نقل کړی دی د دې څخه واضح کيږي چي دا حديث په دې باب کي هم وارد سوی دی او د دې وجه داده چي خلک به د جنازې په لمانځه کي دا طريقه اختيار کړي نو د دې څخه يې منعه کړل.

==========

بَابُ دَفْنِ الْمَيِّتِ (د مړي ښخولو بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

پر لحد اومې خښتي ايښودل

﴿۱۶۰۲﴾: عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي هَلَكَ فِيهِ الْحَدُوا لِي لَحْدًا وَانْصِبُوا عَلَيَّ اللَّبِنَ نَصْبًا كَمَا صُنِعَ بِرَسُولِ اللَّهِ ﷺ. مسلم

د حضرت عامر بن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دئ چي سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په خپل هغه ناروغۍ کي چي پکښي وفات سو وويل: زما د ښخولو لپاره لحد جوړ کړئ او پر ما اومې خښتي ودروئ لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ په لحد کي سوي وه. مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۲\ ۶۶۵، رقم: ۹۰-۹۶۶.

د لغاتو حل : (لحدًا): الحَد يُلحِد: اذا حفر اللحد، واللحد: هو الشق تحت الجانب القبلي من القبر.

تشريح : لحد په قبر کي د قبلي خوا ته جوړي سوي هغي کندي ته وايي چي په هغه کي مړی ايښودل کيږي په کوم قبر کي چي داسي کنده جوړيږي هغه ته بغلي قبر وايي د دې حديث څخه معلومه سوه چي بغلي قبر جوړول مستحب دی.

ابن همام رحمة الله عليه فرمايي زمونږ په نزد په قبر کي لحد جوړول سنت دی په شرط د دې چې څه مجبوري نه وي يعني که مځکه پسته وي او لحد په جوړولو سره د قبر کښينستو بيره وي نو بيا په قبر کي لحد جوړول نه دی پکار مګر صندخ دي جوړ کړه سي .

د حضرت سعد رضي الله عنه ارشاد : پر ما اومې خښتي ودروئ، د دې مطلب دادی چې زما لحد په امو خښتو بند کړی علماء ليکي چې د رسول الله ﷺ د قبر مبارک لحد په اومو خښتو سره بند کړه سوی وو .

په قبر کي د څادر اچول

﴿۱۶۰۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جُعِلَ فِي قَبْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطِيفَةٌ حَمْرَاءُ . رواه مسلم

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ په قبر کي سور څادر اچول سوی وو . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۲/ ٦٦٥، رقم: ۹۱- ۹٦۷.

د لغاتو حل: (قطيفة): الكساء (څادر).

تشريح : د رسول الله ﷺ يو خادم وو د هغه نوم شعران وو هغه د صحابه کرامو د خوښۍ او اجازت څخه ماسيوا په خپله دا پټو د رسول الله ﷺ په قبر کي اوار کړی وو او د دې وجه يې دا بيان کړه چې زه دا قطعي نه خوښوم چې کوم پټو مبارک رسول الله ﷺ استعمال کړی وو هغه دي د رسول الله ﷺ وروسته بل سړی استعمال کړي .

ځيني علماء دا وايي چې په قبر کي پټو ايښول د رسول الله ﷺ د خصائصو څخه نه وو اوس د بل چا لپاره اجازت نسته چې د هغه په قبر کي دي پټو خپور کړه سي يا کښيښودول سي ځيني حضراتو ليکلي دي چې د رسول الله ﷺ په قبر کي د پټو ايښولو په باره کي هم په صحابه کي د چاد نبې رائې اظهار ونه کړ حضرت علي رضي الله عنه دا سخته رد کړه چې هغه په قبر مبارک کي پټو ولي کښيښوی علامه ابن عبد البر رحمة الله عليه په کتاب استيعاب کي دا ليکلي دي چې هغه پټو چې شعران د رسول الله ﷺ پر قبر مبارک اچولی وو د قبر د پټولو مخکي وکښل سو .

په هر حال علماء په قبر کي لاندي څه جامه هوارول مکروه ګرځولي دي ځکه چې په دې کي د مال اسراف او د هغه ضائع کول دي .

د قبر شکل

﴿۱۶۰۴﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ التَّمَّارِ أَنَّهُ رَأَى قَبْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسَنَّمًا . رواه البخاري

د حضرت سفیان تمار رضی الله عنه څخه روایت دئ چې هغه د رسول الله ﷺ قبر مبارک ولیدئ چې د اوښ د قوب (ماهي پشت) په ډول وو . بخاري

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۶۵۵، رقم: ۱۳۹۰.

تشریح: امام مالک رحمة الله علیه ، امام احمد رحمة الله علیه او امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه نه یوازي دا حدیث مګر د دې ماسیوا نور هم صحیح حدیثونه د خپل دې مذهب مستدل ګرځولي دي چې قبر د اوښ د بوق په ډول جوړول د مسطح جوړولو څخه افضل دی د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد قبر مسطح جوړول افضل دی .

د قبرو لوړول منعه دي

﴿۱۶۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي الْهَيَّاجِ الْأَسَدِيِّ قَالَ قَالَ لِي عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ . رواه مسلم

د حضرت ابو الهیاج الاسدي رضی الله عنه څخه روایت دئ چې ما ته حضرت علي رضی الله عنه بن ابي طالب وویل : ایا زه تا په هغه کار مامور نه کړم په کوم چې زه رسول الله ﷺ مامور کړی وم او هغه دادئ چې کوم ځای عکس وویني نو هغه نیست او نابود کړه او چیري چې لوړ قبر وویني نو هغه برابر کړه . مسلم

تخریج: صحيح مسلم: ۲\ ۶۶۶، رقم: ۹۳- ۹۶۹.

تشریح: علماء لیکي چې د ځان سره تصویر ساتل هم حرام دی او هغه خرابول واجب دی او د هغه مخ ته کښینستل ناجائز دی کوم قبر چې لوړ وویني هغه برابر کړي د دې مطلب دادی که قبر ډیر لوړ جوړ سوی وي نو هغه دومره را کښته کړي چې د مځکي د سطح سره نژدې سي یوازي د هغه ننبه پاته سي چې د هغه اندازه یوه لویشت ده ځکه چې مسنون دادی په کتاب

الازهر کي د علماء دا قول ليکلی دی چي قبر په اندازه د يوه لويشت پورته کول مستحب دی او تر دې زيات مکروه دی او تر يوه لويشت زيات پورته قبر غورځول يعني يوازي په اندازه د يوه لويشت پاته پريښودل مستحب دی .

پوخ قبر منعه دئ

﴿۱۶۰۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ. رواه مسلم

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د دې څخه منعه فرمايلې ده چي قبر دي پوخ جوړ کړل سي يا پر قبر دي عمارت جوړ کړل سي او پر قبر باندي د ناستي څخه يې منعه فرمايلې ده . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم: ۲\ ٦٦٧، رقم: ۴۹- ۹۷۰.

تشريح : په کتاب اظهار کي ليکلي دي چي د قبرونو د ګچ کاري ممانعت د کراهت په توګه دی يعني په قبرونو ګچ کاري کول مکروه دی بيا د ممانعت دا حکم د دواړو صورتونو لپاره دی يعني که د قبر خښتي ګچ کړل سي يا پر قبر باندي د ګچو کار وکړل سي دواړه مکروه دي د قبر پورته څه عمارت لکه ګنبده يا قبه جوړول صحيح نه دي مګر په يو قبر که څه عمارت جوړ سوی وي نو د هغه غورځول واجب دی که څه هم هغه مسجد وي .

علامه تور پشتي رحمة الله عليه فرمايي پر قبرونو باندي عمارت جوړول دوو شيانو ته محتمل دي خواه پر قبر باندي ډبري او خښتي سره څه عمارت جوړ کړه سي خواه د قبر پورته څه خيمه وغيره ودروي دواړه صورتونه ممنوع دي ځکه چي د دې شيانو هيڅ فائده نسته علامه تور پشتي رحة الله عليه دا هم فرمايلي دي چي د دې ممانعت يو سبب دا هم دی چي دا د جاهليت فعل دی يعني کفارو به د مړي پورته لس لس ورځي سوري کوله ځکه د دې مشابهت څخه د ځان ساتلو لپاره هم مقصود دی .

پر قبر باندي د ناستي څخه ځکه منعه فرمايل سوې ده چي دا د مومن د اکرام او شرف خلاف دی په دې توګه چي د قبر پورته په ناستي سره د صاحب قبر تحقير او سپکاوی لازميږي .

ځيني حضرات فرمايي د قبر پورته د ناستي څخه مراد دادی چي يو سړی د رنځ او غم د اظهار لپاره د قبر پورته مسلسل کښيني ځرنګه چي ځيني خلک د فقر او دنيا څخه د ليري والي په

اختیارولو سره خپل یو محسن او متعلق قبر خپل د اوسیدو ځای جوړوي نو د دې څخه منعه فرمایل سوې ده .

د قبرو په هکله یو څو احکام

﴿۱۶۰۷﴾: وَعَنْ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا . رواه مسلم

د حضرت ابو مرثد الغنوي رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : پر قبرو مه کښینئ او مه د قبرو په لور لمونځ کوئ. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۲\ ٦٦٨، رقم: ۹۷- ۹۷۲.

تشریح : محقق ابن همام رحمة الله علیه فرمایي په قبرونو کي کښینستل او هغه نړول مکروه دی د ځینو خلکو دا عادت دی چې هغوی په خپلې هدیره کي د خپل یو قریب قبر ته د رسیدو لپاره بېله تکلیفه پر قبرو خیژي او هغوی تر پښو لاندې کوي دا ډیره غلطه خبره ده .

د ضرورت په وخت کي مثلا د قبر د کښلو لپاره یا د مړي د ښخولو لپاره په هدېره کي تګ راتګ جائز دی ، په هدېره کي لوڅې پښې تلل مستحب دي او قبر ته تکیه وهل او بېدېدل مکروه دي. د قبرونو سره استنجاء وهل کوچني یا غټې بولي کول خو د زیات کراهت خبره ده هدیرې ته د راتګ په باره کي هر هغه شی مکروه دی کوم چې د سنت څخه نه دی ثابت په دې اړه یوازي قبرونو ته تلل او هلته په ولاړي ولاړي دعا غوښتل د سنت څخه ثابت دي د رسول الله ﷺ په باره کي نقل دي چې کله به یې جنت البقیع هدیرې ته تشریف وړی نو هلته به یې دا فرمایل (السلام علیکم دار قوم مؤمنین وانا ان شاءالله بکم لاحقون واسئل الله ولکم العافیة) یعني اې د مومنانو کوره پر تاسو دي سلام وي موږ انشاء الله ستاسو سره پیوست کیږو د الله تعالی څخه ستاسو امن او عافیت غواړو (ملا علي قاري رحمة الله علیه) .

د ملا علي قاري رحمة الله علیه په دې الفاظو سره څه اشکال پیدا کیږي چې دلته خو دا ثابته سوه چې د قبرونو د زیارت په اړه کي خو یوازي قبرونو ته تلل او هلته دعا غوښتل د سنت څخه ثابت دی څرنګه چې ملا علي قاري رحمة الله علیه هم د دې باب د دریم فصل په یوه حدیث کي چې د ابن عمر رضي الله عنه څخه نقل دی په تشریح کي هغه حدیثونه نقل دي نو د دې جواب به دا وي چې د قران کریم تلاوت په دعا کي شامل دي ځکه د قرآن کریم تلاوت هم حکما دعا ده نو دا مکروه

نه دی.

د حدیث اخري الفاظ (ولا تصلوا الیها) اومه د قبرو خواته لمونځ کوئ په رښا کي علماء لیکي چي کوم سړی قبر ته یا د قبر وخاوند ته د تعظیم په وجه د قبر خواته لمونځ کوي نو دا څرګنده کفر دی که د قبر یا صاحب قبر په نظر کي نه وي بیا هم قبر ته لمونځ کول مکروه تحریمي دی دا حکم د جنازې هم دی کله چي د لمونځ کوونکي مخ ته پرته وي مګر په دې کي خو نور هم زیات کراهت دی حاصل دا چي د لمونځ کونکي مخته باید قبر او جنازه نه وي.

پر قبر د کښېنستلو عذاب

﴿۱۶۰۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

يَجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلَى جَمْرَةٍ فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ فَتَخْلُصَ إِلَى جِلْدِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَجْلِسَ عَلَى قَبْرٍ . رواه مسلم

که په تاسو کي څوک د اور پر سکرو ټو کښېني او هغه د هغه جامې وسوځي د هغه پوست ته ورسیږي نو دا ددې څخه غوره ده چي هغه پر قبر کښېني. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۲\۶۶۷، رقم: ۹۶- ۹۷۱.

تشریح: مطلب دا چي که یو سړی د اور سربیره کښېني او هغه اور د هغه جامې په سوزولو سر ه د هغه بدن ته ورسیږي او د بدن برخي سوزوي ددې تکلیف څخه د قبر پورته ناستي تاوان او تکلیف ډیر زیات دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د نبي کریم ﷺ قبر مبارک

﴿۱۶۰۹﴾: عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ بِالْمَدِينَةِ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا يَلْحَدُ

د حضرت عروة بن الزبیر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي په مدینه کي دوه کسان وه چي په هغوی کي یو وه لحد جوړوئ

وَالْآخَرُ لَا يَلْحَدُ فَقَالُوا أَيُّهُمَا جَاءَ أَوَّلًا عَمِلَ عَمَلَهُ فَجَاءَ الَّذِيْ يَلْحَدُ فَلَحَدَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه في شرح السنة

او بل لحد نه جوړوئ ، د رسول الله ﷺ د وفات وروسته د صحابه کرامو دا رایه سوه چې په هغو کې کوم یو لومړی راسي هغه دي خپل کار وکړي نو لحد جوړولو والا مخکې راغلی او د رسول الله ﷺ لپاره لحد تیار کړل سو . شرح السنة

تخريج: البغوي في شرح السنة ۵\ ۳۸۹، رقم: ۱۵۱۰.

تشريح : ابو عبیده بن الجراح رضی الله عنه د لوئ عظمت او فضیلت مالک صحابي دی د جلیل القدر صحابه رضي الله تعالى عنهم د شمیر څخه دی د عشره مبشره یعني هغه لس خوش نصیبه صحابؤ څخه یو دی چې رسول الله ﷺ ورته په دنیا کې د جنتي کیدو زیری ورکړی وو .
د دې روایت څخه معلومه سوه چې که څه هم بغلي قبر افضل دی مګر صندوقي قبر هم مشروع دی که صندوقي قبر مشروع نه وای نو ابو عبیده رضی الله عنه به صندوقي قبر نه کښی .

د قبر لحد

﴿۱۶۱۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَللَّحْدُ لَنَا وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا. رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه رواه احمد عن جرير بن عبد الله

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : لحد زمونږ لپاره دئ او شق زمونږ څخه د پرته لپاره (یعني لحد د انبیاؤو لپاره خاص دئ او شق یعني خلاص قبر د ټولو لپاره جائز دئ) . ترمذي، ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجه، احمد د جریر بن عبد الله څخه روایت کړئ دئ .

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۵۴۴، رقم: ۳۲۰۸، والترمذي ۳\ ۳۶۳، رقم: ۱۰۴۵، والنسائي ۴\ ۸۰، رقم: ۲۰۰۸، وابن ماجه ۱\ ۴۹۶، رقم: ۱۵۵۴.

تشريح : علماؤ د دې حدیث څو معناوي بیان کړي دي مګر زیاته صحیح معنی داده چې لحد یعني بغلي قبر زمونږ انبیاء د جماعت لپاره دی ګویا د لحد فضیلت بیانیږي د دې مطلب دادی چې د بغلي قبر نسبت د انبیاء جماعت خوا ته په کولو سره د هغه د فضیلت او اولیت اظهار فرمایل کیږي .

قبر ژور کښل پکار دي

﴿۱۶۱۱﴾: وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ يَوْمَ أُحُدٍ احْفِرُوا وَأَوْسِعُوا

د حضرت هشام بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احد په ورځ وفرمايل :قبرونه وکاږئ پراخ يې کړئ

وَأَعْمِقُوا وَأَحْسِنُوا وَادْفِنُوا الِاثْنَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ فِي قَبْرٍ وَاحِدٍ وَقَدِّمُوا أَكْثَرَهُمْ

او ژور يې کړئ ښه يې جوړ کړئ او په يوه يوه قبر کي دوه دوه دري دري ښخ کړئ . او په قبر کي لومړی هغه کس اېږدئ چي

قُرْآنًا . رواه أحمد والترمذي وأبو داود والنسائي وروى ابن ماجه إلى قوله وأحسنوا

قرآن يې زيات زده وي . احمد ، ترمذي، ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجه تر واحسنوا پوري بيان کړئ دئ .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\ ۱۹، وابوداؤد ۳\ ۵۴۷، رقم: ۳۲۱۵، والترمذي ۴\ ۱۸۵، رقم: ۱۷۱۳، والنسائي: ۴\ ۸۱، رقم: ۲۰۱۰، وابن ماجه ۱\ ۴۹۷، رقم: ۱۵۶۰.

تشريح : د اُحد د غزا د ورځي څخه مراد دادی چي کله جنګ احد ختم سو او د شهداء د ښخولو اراده وکړل سوه نو هغه وخت رسول الله ﷺ وفرمايل قبرونه وکاږئ نو په ارشاد کي د قبرونو د کښنو حکم خو د وجوب په توګه دی پاته احکام يعني د قبرونو پراخول،ژور کښل او ښه جوړولو حکم د استحباب په توګه دی .

قبرونه ژور کاږئ د دې څخه معلومه سوه چي قبر ژور کښل سنت دی ځکه چي د دې په وجه مړی د درندګانو څخه په امن کي وي .

د مظهر رحمة الله عليه قول دی قبرونه دومره ژور کاږل مراد دی که سړی پکښې دننه ودريږي او هغه خپل لاسونه پورته کړي نو د هغه د ګوتو سرونه د قبر غاړي ته ورورسيږي .

په يوه قبر کي دوه دوه يا دري دري خلک ښخول او د مجبوري او حاجت په وخت کي جائز دی مګر بېله ضرورته او مجبوری جائز نه دی .

د رسول الله ﷺ په ارشاد کي او اولني د قبلې خواته هغه کښيږدي چاته چي قرآن زيات يادوو په دې کي دې خوا ته اشاره ده چي څرنګه د عالم باعمل تعظيم او تکريم د هغه په ژوند کي کيدی همداسي د هغه د مرګ وروسته هم د هغه د تعظيم او د هغه احترام په خپل نظر کي ساتل پکار دی .

د ډېرو جنازو په يووار لمونځ

څرنګه چې پر يوې جنازې لمونځ ادا کيږي همداسي په يوه وخت کې د څو جنازو يو لمونځ هم اداء کيداى سي مطلب دا چې په يوه وخت څو جنازې را ټولې سي که څه هم پر هري جنازې باندې جلا جلا لمونځ و سي او که ټولې جنازې په ايښودو سره د ټولو لپاره د جنازې يو لمونځ و سي دا دواړه صورتونه جائز دي که د څو جنازو پر وخت د جنازې لمونځ وکړه سي نو د جنازې مخ ته په ترتيب سره په ايښودو کې هم اختيار دى خواه ټولې جنازې مخ ته په ترتيب سره په ايښودو کې هم اختيار دى که ټولې جنازې د قبلې خواته مخکې وروسته په کولو سره کښيښودل سي او که په اوږد قطار د ټولوسره په جنازې کې کښيښوده سي دواړه ډوله جائز دي البته امام ته پکار ده چې هغه د جنازې سره ودريږي چې هغه په ټولو جنازو کې افضل دى .

د مړي د يوه ځاى څخه بل ځاى ته وړل

﴿۱۶۱۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ جَاءَتْ عَمَّتِيْ بِأَبِيْ لِتَدْفِنَهُ فِيْ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ کله چې د احد ورځ سوه يعني د احد جګړه وسوه او په هغه کې مسلمانان شهيدان سول نو زما عمه زما د پلار مړي ته راغلل چې

مَقَابِرِنَا فَنَادَى مُنَادِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ أَنْ رُدُّوا الْقَتْلَى إِلَى مَضَاجِعِهَا . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي ولفظه للترمذي .

زمونږ يعني په خپله هديره کې يې ښخ کړي ، په دا وخت کې سمدستي د رسول الله ﷺ له لوري دا علان وکړل سو چې شهيدان د هغوى د شهادت ځاى ته ورسوئ چې هلته ښخ کړل سي . احمد ، ترمذي ، ابوداؤد ، نسائي ، دارمي او الفاظ د ترمذي دي .

تخريج : الامام احمد في مسنده ۳\ ۲۹۷، و ابوداؤد ۳\ ۵۱۴، رقم: ۳۱۶۵، والترمذي ۴\ ۱۸۷، رقم: ۱۷۱۷، والنسائي ۴\ ۷۹، رقم: ۲۰۰۳، والدارمي ۱\ ۳۵، رقم: ۴۵.

تشريح : د حضرت جابر رضي الله عنه د ارشاد مطلب دادى چې کله د احد په غزا کې ځيني مسلمانان شهيدان سوه نو زما پلار هم په هغه شهيدانو کې وو زما ترور زما د پلار خو د ميدان جنګ څخه دباندې ښار ته راوړى چې په خپلې هديرې يعني په بقيع کې ښخ کړه سي مګر د رسول الله ﷺ د خوا څخه يوه سړي اعلان وکى چې شهيدان چې کوم ځاى شهيدان سوي دي هلته دي ښخ کړل سي .

دا خو د حدیث وضاحت وو اوس د مسئلې خوا ته راځو ځینې علماء فرمائي څرنګه چې په دې حدیث کې د رسول الله ﷺ حکم نقل سوی دی کوم سړی چې په کوم ښار کې دننه ښخ کړل سي د هغه جسم دې بل ښار ته نه وړې په کتاب ازهار کې لیکلي دي چې د مړي د نقلولو د نه اجازې دا حدیث یو قوي دلیل دی، مګر په دې اړه صحیح خبره داده چې دلته په حدیث کې د مړي د یو ځای څخه بل ځای ته د وړلو کوم ممانعت چې فرمایل سوی دی هغه یوازې د شهداء سره خاص دی او تر دې زیاته صحیح خبره داده چې دا ممانعت د مړي د ښخولو وروسته ښله څه عذره پر منتقل کولو باندې محمول کړه سي یعني که مړی ښخ کړل سي نو اوس د څه عذر بغیر دوهم ځای ته د هغه منتقل کول منعه دي.

علامه یحیی په دې مسئله کې دا فرمائي که واقعي ضرورت پیښ سي نو د مړي دوهم ځای ته منتقل کول جائز دي مګر بغیر د څه ضرورته نه دي جائز.

د محقق علامه ابن همام رحمة الله علیه قول دادی که مړی د ښخولو او د قبر د تیارې مخکې په یو یا دوه کوسه فاصله باندې منتقل کړه سي نو څه تاوان نه لري ځکه چې هدیره پر دومره فاصله باندې وي.

علماء لیکي چې مړی د هغه ښار په هدیرې کې ښخول مستحب دی چیرې چې هغه وفات سوی وي نقل دي چې د ام المومنین بي بي عائشې صدیقې رضي الله عنها وروو حضرت عبدالرحمان بن ابوبکر رضي الله عنه وفات د مکې څخه پر یوه منزل فاصله باندې وسو نو د هغه جنازه د ښخولو لپاره مکې مکرمې ته راوړه سو کله چې بي بي عائشې صدیقې رضي الله عنها د هغه قبر ته تشریف راوړی نو وې فرمایل که زه ستا د وفات پر وخت موجود وای نو دلته به مونه راوړلای مګر هلته به مي ښخ کړی وای چیرې چې ته وفات سوی یې.

د ښخولو وروسته د قبر کښلو مسئله

د مړي د ښخولو او پر قبر باندې د خاورو اچولو وروسته د مړي د راکښلو لپاره یا د څه بل مقصد لپاره قبر کنل جائز نه دی خواه د ښخ سوي لږ وخت سوی وي یا زیات، هو د عذر پر بناء جائز دی مثلا که د ښخولو وروسته دا ښکاره سي چې پر کومه مځکه باندې دی ښخ کړه سوی دی هغه په زور اخستل سوې مځکه ده یا هغه مځکه یوه سړي بحق شفعه په اخستو سره خپل ملکیت جوړه کړې ده نو په دې صورتونو کې د مځکې د مالک په مطالبه قبر کینل به جائز وي علماء لیکي څومره صحابه چې د کافرانو په ښارونو کې ښخ کړه سوي دي خو هغوی د هغه ځای څخه منتقل نه کړه سوه.

که د هغه مځکي مالک چې پر هغه قبر جوړ سوی دی دا غواړي چې مځکه هواره کړي او په هغه کې کښت وکړي نو د هغه حق دی د ښخولو وروسته د قبر کینلو په عذرونو کې یو عذر دا هم دی که د یوه سړي څه مال یا جامې په قبر کې پاته سي نو د هغه لپاره جائز دی چې قبر په کینلو سره هغه مال یا جامې را وکاږي.

علامه ابن همام رحمة الله علیه فرمائي علماء او مشائخ په دې خبره متفق دي که د یوې ښځې زوی د ښار څخه ماسیوا په بل ځای کې ښخ کړه سي او هلته هغه ښځه موجوده نه وي او د هغه محبت یې بې صبره کړي او هغه په دې خبره اصرار کوي چې د هغه د زوئ جسد دي د هغه ښار څخه وایستل سي نو په دې صورت کې قطعي هیڅ ګنجائش نسته چې جسد وایستل سي په دې اړه ځینې علماء د کوم جواز چې قائل سوي دي د هغوی هیڅ اعتبار نسته.

صاحب هدایه د هدایې څخه ماسوا په یو دوهم کتاب کې د هدائې لیکلي دي که یو سړی په یو ښار کې مړ سي نو د هغه جسد دوهم ښار ته وړل مکروه دی ځکه چې داسي نه یوازې دا چې یو بې فائدې شي کې وخت تیریږي مګر مړي ته د ښخولو هم تاخیر کیږي او د ځینې علماء بالاتفاق فیصله ده که یو مړی بغیر د غسل او لمانځه ښخ سي بیا هم د قبر څخه راکښل جائز نه دي.

یو سړی دي په هغه ځای کې نه ښخیږي په کوم ځای کې چې هغه اوسیږی دا یوازې د انبیاء کرام علیهم السلام سره خاص وو د دوهم لپاره داسي کول مناسب نه دي.

مړی قبر ته کښته کول

﴿۱۶۱۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سُلَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ. رواه الشافعي

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د سر د خوا څخه قبر ته کښته کړل سو. شافعي

تخریج: ترتیب مسند الامام الشافعي ۱\ ۲۱۵، رقم: ۵۹۸.

تشریح: د دې صورت دا وو چې جنازه د قبر د پښو خواته کښیښودی بیا رسول الله ﷺ د سر مبارک خوا ته په لوړولو سره په قبر کې کښیښودل سي د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد مړی په دې طریقې سره په قبر کې اینبودل پکار دي.

د حنفیه په نزد په دې اړه مسنون طریقه داده چې جنازه د قبر قبلې خوا ته دي کښیښول سي

او د هغه ځای څخه دي مړی په پورته کولو سره په قبر کي کښيښول سي رسول الله ﷺ به مړی په دې طريقې سره په قبر کي کښيښودی ځرنګه چې د راتلونکي حديث څخه واضحه کيږي.
تر څو پوري چې د مذکوره روايت تعلق دی چې رسول الله ﷺ په دې طريقې سره په قبر کي ايښول سوی دی نو د هغه وجه داده چې په کوتې مبارکي کي دومره وسعت نه وو چې رسول الله ﷺ د قبلې د خوا څخه په قبر کي ايښی وای ځکه چې د رسول الله ﷺ قبر د حجري د ديوال سره موښتی وو.
د حنفيه له خوا څخه د دې يو جواب دا هم ورکول کيږي چې د رسول الله ﷺ په قبر کي د ايښولو کيفيت مضطرب نقل دی يعني دلته په دې روايت کي خو دا ښودل سوي دي چې رسول الله ﷺ د سر مبارک د خوا څخه په قبر کي ايښول سوی وو کله چې د ابوداود يو روايت دی چې رسول الله ﷺ په قبر کي د قبلې د خوا څخه ايښول سوی وو او همداسي يو روايت ابن ماجه رحمة الله عليه هم نقل کړی دی نو په دې دواړو حديثونو کي تکراغی نو دواړه حديثونه ساقط سول.

﴿۱۶۱۴﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ قَبْرًا لَيْلًا فَأُسْرِجَ لَهُ سِرَاجٌ فَأَخَذَهُ مِنْ قِبَلِ الْقِبْلَةِ وَقَالَ رَحِمَكَ اللَّهُ إِنْ كُنْتَ لَأَوَّاهًا تَلَّاءً لِلْقُرْآنِ. رواه الترمذي وقال في شرح السنة اسناده ضعيف.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د شپې يو قبر ته کښته سو نو د رسول الله ﷺ لپاره څراغ بل کړل سو او هغه مړی د قبلې خوا ته رسول الله ﷺ په قبر کي کښښودئ او بيا يې وويل: رحمک الله.... تلاء للقرآن. الله دي پر تا رحم وکړي ته ډير ژړېدونکی او قرآن ويونکی وې. ترمذي، په شرح السنة کي راځي چې دې سند ضعيف دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۳۷۲، رقم: ۱۰۵۷، وشرح السنة ۵\ ۳۹۸، رقم: ۱۵۱۴.

تشريح: د دې روايت په باره کي د امام ترمذي رحمة الله عليه فيصله داده چې دا حديث حسن صحيح دی او په دې اړه د حضرت جابر رضي الله عنه او يزيد بن ثابت روايتونه هم نقل دي.
د دې حديث څخه معلومه سوه چې د شپې مړی ښخول مکروه نه دی ځرنګه چې ځيني علماؤ ليکلي دي چې دا حديث د حنفيه د مذهب دليل دی د دوی په نزد مړی په قبر کي د قبلې خوا ته

اینبول سنت دی .

د مړي قبر ته کښته کول

﴿۱۶۱۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَدْخَلَ الْمَيِّتَ الْقَبْرَ قَالَ بِسْمِ اللهِ وَبِاللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ وَعَلٰى سُنَّةِ رَسُوْلِ اللهِ . رواه أحمد والترمذي وابن ماجه وروى أبو داود الثانية

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی کله چې به رسول الله ﷺ یو مړی قبر ته کښته کوئ نو فرمایل به یې : بسم الله .... علی سنة رسول الله . زه تا د الله په نامه سره د الله په حکم سره او د رسول الله او شریعت سره سم قبر ته کښته کوم، او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې د رسول الله ﷺ پر طریقه . احمد ، ترمذي، ابن ماجه. د ابوداؤد په یوه روایت کې آخري الفاظ دي .

تخریج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۵۹، وابوداؤد: ۳\ ۵۴۶، رقم: ۳۲۱۳، والترمذي ۳\ ۳۶۴، رقم: ۱۰۴۶، وابن ماجه ۱\ ۴۹۴، رقم: ۱۵۵۰.

پر قبر درې لپې خاورې اچول

﴿۱۶۱۶﴾: وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيْهِ مُرْسَلاً أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَثَّا عَلَى الْمَيِّتِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ بِيَدَيْهِ جَمِيْعًا وَأَنَّهُ رَشَّ عَلٰى قَبْرِ ابْنِهِ إِبْرَاهِيْمَ وَوَضَعَ عَلَيْهِ حَصْبَاءَ . رواه في شرح السنة وروى الشافعي من قوله : رش .

حضرت جعفر بن محمد د خپل پلار څخه په مرسل توګه روایت کوي چې رسول الله ﷺ په دواړو لاسو کې درې لپې خاوره پر یو مړي واچول او د خپل زوی ابراهیم پر قبر یې اوبه وننولې ، او پر قبر یې د نښې لپاره ډبرې ودرولې . شرح السنة . امام شافعي تر (رش) پورې ذکر کړئ دئ .

تخریج: ترتیب مسند الامام الشافعي ۱\ ۲۱۵، رقم: ۵۹۹- ۶۰۱، وشرح السنة ۵\ ۴۰۱، رقم: ۱۵۱۵.

تشریح: امام احمد رحمة الله علیه په ضعیف اسناد سره نقل کړی دی رسول الله ﷺ په قبر باندې خاوره داسې اچوله چې اول موټ به یې په ډکولو سره خاوره پر اچوله نو ویل به یې (منها

خلقناکم) او کله چې به يې دوهم موټ ډکولو نو ويل به يې (وفيها نعيدکم) او همداسي چې دريم موټ به يې اچولو نو دا به يې ويل ومنها نخرجکم.....الخ)

حضرت ابن مالک رحمة الله عليه فرمائي کوم خلک چې په جنازې سره قبر ته ولاړ سي د هغوی لپاره سنت دی کله چې لحد يا شق بند کړه سي نو هغوی دي موټ په ډکولو سره خاوره پر قبر واچوي همداسي چې قبر ډک سي او پورته خاوره برابره کړه سي نو د قبر پورته د اوبو اوپاشي کول سنت دي.

حکايت : نقل سوي دي چې يو سړی وفات سو نو يو چا په خوب کي وليدی او پوښتنه يې ځيني وکړه چې الله تعالی ستا سره څه سلوک وکی هغه وويل کله چې زما نيکي او بدي وتله سوې نو بدئ تر نيکيانو ډيري سوې ناپامه يوه تيلئ د نيکيو په ترازو کي ومښته چې د هغه په وجه د نيکيو ترازو دروند سو ما تيلئ راواخسته چې په هغه کي يو موټ خاوره وه او دا هغه خاوره وه چې يو وخت ما د يو مسلمان پر قبر اچولې وه همداسي زما دا نيکي په کار راغله.

د قبر پخول او پر قبر ليکل منعه دي

﴿۱۶۱۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُجَصَّصَ الْقُبُورُ وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا وَأَنْ تُوطَأَ. رواه الترمذي

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د قبرونو د پخولو، پر قبرو د ليکلو او د قبرو په پښو سره پايماله کولو څخه منعه فرمايلې ده. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۳۶۸، رقم: ۱۰۵۲.

د لغاتو حل: تُوطَأ: ای بالارجل (ترپښو لاندي کول).

تشريح :د قبرونو د ګچ کولو څخه ځکه منعه فرمايل سوې ده چې په دې کي يو ډول زينت او تکلف دی د ځيني حضراتو په نزد په خټو کي ليو کول جائز دی.

پر قبرونو باندي د الله ﷻ او د رسول ﷺ نوم او د قرآن کريم ايات ونه ليکل مکروه دي چې د پښو لاندي په راتلو سره يا د يو حيوان او داسي نورو په بولو کولو سره د هغه بې ادبي ونسي ځيني حنفي علماء وائي همداسي د مسجدونو وغيره پر ديوالو باندي د الله تعالی او د هغه د رسول نومان او د قرآن کريم ايات ونه ليکل منعه دي او دا هم مکروه دي چې پر ډبري وغيره باندي د مړي نوم وليکل سي او هغه پر قبر کښيښودل سي البته ځيني علماء دا وايي چې پر ډبري

وغيره باندي د مړي په خاصه توګه سره د علماء دين او صلحاء امت وغيره په ليکلو سره پر قبر باندي جائز دی چي د زماني د تيريدو باوجود د هغوی قبرونه وپيژندل سي.

پر قبر اوبه پاشل

﴿۱۶۱۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رَشَّ قَبْرُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ الَّذِيْ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ پر قبر مبارک اوبه وننول سوې او چا چي

رَشَّ الْمَاءَ عَلٰى قَبْرِهٖ بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ بِقِرْبَةٍ بَدَأَ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهٖ حَتّٰى انْتَهٰى إِلٰى رِجْلَيْهِ. رواه البيهقي. في دلائل النبوة

وننولې هغه بلال بن رباح وو، بلال په ژي سره اوبه وننولې او تر قدمو پورې يې وپاشلې. بيهقي

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

پر قبر ډبري درول

﴿۱۶۱۹﴾: وَعَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ اَبِيْ وَدَاعَةَ قَالَ لَمَّا مَاتَ عُثْمَانُ بْنُ مَظْعُوْنٍ أُخْرِجَ

د حضرت مطلب بن ابو وداعه رضي الله عنه څخه روايت دئ کله چي عثمان بن مظعون رضي الله عنه وفات سو نو

بِجَنَازَتِهٖ فَدُفِنَ فَأَمَرَ النَّبِيُّ ﷺ رَجُلًا أَنْ يَأْتِيَهُ بِحَجَرٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ حَمْلَهُ

د هغه جنازه پورته سول او ښخ کړل سول، رسول الله ﷺ يو سړي ته حکم ورکړ چي هغه ډبري راوړي هغه سړي ډبري را نه وړلای سوی (د ډبرو راوړلو طاقت يې نه درلودی)

فَقَامَ إِلَيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَحَسَرَ عَنْ ذِرَاعَيْهِ قَالَ الْمُطَّلِبُ قَالَ الَّذِي

نو رسول الله ﷺ په خپله ورغلئ او لستونې يې پورته کړل، مُطلب وايي کوم سړي چي ما ته دا

يُخْبِرُنِي ذٰلِكَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلٰى بَيَاضِ ذِرَاعَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ

روايت کړئ دئ هغه يادونه وکړه چي لکه زه چي اوس هم سپينوالی وينم چي د لستونو پورته کولو څخه د رسول الله ﷺ د بغلو څخه ما ته هغه څرګنده سوې وه.

حِيْنَ حَسَرَ عَنْهُمَا ثُمَّ حَمَلَهَا فَوَضَعَهَا عِنْدَ رَأْسِهٖ وَقَالَ أَعْلَمُ بِهَا قَبْرَ أَخِيْ

بيا رسول الله ﷺ ډبري پورته کړي او د قبر د سر په خوا يې کښېښود لې او وه يې فرمايل : ما د خپل ورور پر قبر ښښه ولګول

وَأَدْفِنُ إِلَيْهِ مَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِي . رواه ابوداؤد .

او زه به بيا هغه څوک چې زما د کورنۍ څخه مړ سي ددې قبر سره ښخوم . ابوداؤد .

تخريج : سنن ابي داؤد ۳\ ۵۴۳، رقم: ۳۲۰۶.

تشريح : حضرت مطلب بن ابو وداعه رضي الله عنه هغه صحابي دی چې د مکې د فتحې په ورځ په اسلام مشرف سوی وو هغه دا روايت د يو بل صحابي رضي الله عنه څخه ځکه نقل کړی دی چې دی خپله په هغه وخت موجود نه وو .

حضرت عثمان بن مظعون د رسول الله ﷺ په شيدو شريک ورو وو هغه بالکل د اسلام په ابتدائي زمانه کې اسلام قبول کړی وو او د هغه مخکې يوازې دياړلسو خلکو ايمان راوړی وو د بدر په غزاء کې يې ګډون کړی وو په مدينه کې په مهاجرينو کې تر ټولو مخکې دی وفات سوی وو د هغه قبر ته نژدې تر ټولو مخکې د رسول الله ﷺ زوئ حضرت ابراهيم رضي الله عنه ښخ سوی وو .

په ازهار کې ليکلي دي چې د دې حديث څخه معلومه سوه چې پر قبر باندې د ننبي په توګه يوه ډبره وغيره ايښول مستحب دي چې قبر وپيژنده سي او اهل خاندان او قرباء يو ځای ښخول مستحب دي .

د نبي کريم ﷺ او يارانو قبرونه

﴿۱۶۲۰﴾: وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ يَا أُمَّاهُ

د حضرت قاسم بن محمد رضي الله عنه څخه روايت دئ چې زه د حضرت عائشې رضي الله عنها په خدمت کې حاضر سوم او عرض مې وکړ چې اې مورجانې !

اكْشِفِي لِي عَنْ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا

زما لپاره د رسول الله ﷺ او د هغه د دواړو ملګرو يعني ابوبکر صديق رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه قبر (يعني دروازه) خلاصه کړه،

فَكَشَفَتْ لِي عَنْ ثَلَاثَةِ قُبُورٍ لَا مُشْرِفَةٍ وَلَا لَاطِئَةٍ مَبْطُوحَةٍ بِبَطْحَاءِ الْعَرْصَةِ

الْحَمْرَاءِ . رواه ابوداؤد

حضرت عائشې ﷺ د حجرې دروازه خلاصه کړه ما دې قبرونه وليدل چې نه لوړ وه او نه ښيخي د مځکې سره برابر پر هغو د مدينې د ميدان د شاوخوا سرې شګې پرتې وې . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\۵۴۹، رقم: ۳۲۲۰.

د لغاتو حل: (مبطوحة): اى ملقاة فيها البطحاء وهو الحصى الصغار. (شكي وريانديي اچول). (العرصة): كل بقعة بين الدور واسعة ليس فيها بناء.

تشريح: د رسول الله ﷺ، حضرت ابوبكر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه قبرونه د بي بي عائشې په حجره كي وه تر څو پورې چې دروازه خلاصه سوه په هغه كي پرده زړېدل، كله چې به يو سړي د قبرونو د زيارت مشرف كيدل غوښته نو د پردې په پورته كولو سره به دننه تلى .

﴿۱۶۲۱﴾: وَعَنِ الْبَرَّاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ سره ولاړو

وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ وَلَمْ يُلْحَدْ بَعْدُ

د يو انصاري په جنازه كي، قبر ته ورسيدلو نو څرګنده سوه چې اوس لا هغه تيار سوى نه وو ،

فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَجَلَسْنَا مَعَهُ . رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة وزاد في آخره كان على رؤسنا الطير .

رسول الله ﷺ مخ پر قبله كښېنستئ او موږ د رسول الله ﷺ سره كښېنستو . ابوداؤد او نسائي . د ابن ماجه په يوه روايت كي دا الفاظ دي چې موږ داسي پته خوله ناست وو لكه زموږ پر سرو چې مرغان ناست وه .

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\۵۴۶، رقم: ۳۲۱۲، والنسائي ۴\۷۸، رقم: ۲۰۰۰، وابن ماجه ۱\۴۹۴، رقم: ۱۵۴۹.

تشريح: د (باب مايقال عند من حضره الموت) په دريم فصل كي هم دا حديث په تفصيل سره نقل سوى دى دلته د حديث څخه يوازې د خاموشي ناسته مراد ده .

د مړي سپکاوی کول منعه دي

﴿۱۶۲۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَسْرُ عَظْمِ الْمَيِّتِ كَكَسْرِهِ حَيًّا. رواه مالك و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د مړي هډوکي ماتول داسي دي لکه د ژوندي انسان هډوکي ماتول. مالک، ابوداؤد، ابن ماجه.

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۲۳۸، رقم: ۴۵، وابوداؤد ۳\ ۵۴۳، رقم: ۳۲۰۷، وابن ماجه ۱\ ۵۱۶، رقم: ۱۶۱۶.

تشریح: په دې ارشاد کي دې ته اشاره ده چې څرنګه د ژوندي سړي تحقیر او بې عزتي ممنوع ده همداسي د مړي تحقیر او سپکاوئ هم ممنوع دی څرنګه چې ژوندی سړی تکلیف او ارام محسوسولای سي همداسي مړی هم تکلیف او ارام محسوسوي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د لور پر وفات د رسول الله ﷺ اوښکي

﴿۱۶۲۳﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ شَهِدْنَا بِنْتَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُدْفَنُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ د لور بي بي ام کلثوم رضي الله عنها په ښخولو کي ګډون وکړ،

وَرَسُولُ اللّٰهِ ﷺ جَالِسٌ عَلَى الْقَبْرِ فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَدْمَعَانِ فَقَالَ هَلْ فِيكُمْ

رسول الله ﷺ د قبر سره ناست وو او دسترګو مبارکو څخه یې اوښکي روانې وې، رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي داسي څوک سته

مِنْ اَحَدٍ لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ أَنَا قَالَ فَانْزِلْ فِي قَبْرِهَا فَنَزَلَ فِي قَبْرِهَا. رواه البخاري

چې هغه نن شپه د خپلي بي بي سره صحبت نه وي کړی، ابو طلحه رضي الله عنه وویل: زه یم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د هغې قبر ته کښته سه نو هغه هم کښته سو. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري)، ۳\۱۵۱، رقم: ۱۲۸۵.

تشریح: رسول الله ﷺ د صحابه کرامو څخه د خپلو ښځو سره د صحبت نه کولو په باره کې ځکه پوښتنه وکړه چې که څه هم د خپلو ښځو سره صحبت ممنوع نه دی مګر په نه کولو کې د ملائکو سره مشابه کیږي نو رسول الله ﷺ وغوښتل چې کوم سړي نن شپه صحبت نه دی کړی او همداسي هغه د ملائکو مشابه وي هغه دي د بي بي ام کلثوم رضی الله عنها قبر ته کښته کړي.

اوس دلته یو اشکال دا پیدا کیږي چې حضرت ابو طلحه رضی الله عنه بي بي ام کلثوم رضی الله عنها قبر ته کښته کړه چې د هغه لپاره پردی او غیر محرم وو د دې اشکال توجیه داده چې دا خو د هغه د خصوصیاتو څخه وو چې رسول الله ﷺ هغه ته بطور خاص قبر ته د کښته کولو حکم ورکړیا همداسي رسول الله ﷺ په دې اړه د جواز خوا ته اشاره وفرمایل.

د ښځې مړی دي خلک په قبر کې واچوي

محقق علامه ابن همام رحمة الله علیه فرمائي د ښځې مړی په قبر کې د اښنودلو یا راکښلو کار دي سړي وکړي ځرنګه چې ښځې ته د هغې په ژوند کې د یو پردي سړي د ضرورت په وخت کې داسي مسه کول جائز دی چې په مینځ کې جامه وغیره حائل وي همداسي مړه ښځه هم په وخت د ضرورت کې پردي سړي ته مسه کول جائز دی کله چې یوه ښځه مړه سي او د هغه څوک محرم نه وي نو قبر ته دي د هغې همسایه ور کښته کړي کله چې نیک او صالح ضعیف موجود نه وي نو بیا هغه همسایه ځوان دي قبر ته ور کښته کړي چې نیک او صالح وي هو که محرم موجود وي که څه هم هغه د شیدو په خاطر محرم وي نو هغه دي و قبر ته کښته کړي.

که څه هم د مخکني حدیث په باره کې دا اشکال پیدا وي چې علماء خو دا وائي چې د ښځې د مړي په قبر کې د کښته کولو لپاره خاوند او محارم اولی دي نو بي بي ام کلثوم رضی الله عنها حضرت عثمان رضی الله عنه یا خپله رسول الله ﷺ قبر ته ولي نه ور کښته کړ، نو د دې جواب دادی دا احتمال دی چې هغه وخت رسول الله ﷺ او حضرت عثمان رضی الله عنه ته څه عذر پیښ سوی وو ځکه نه خو رسول الله ﷺ قبر ته ور کښته سو او نه حضرت عثمان رضی الله عنه.

د عمرو بن عاص وصیت

﴿۱۶۲۴﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ لِابْنِهِ وَهُوَ فِيْ سِيَاقِ الْمَوْتِ إِذَا أَنَا مُتُّ

د حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روایت دئ چې هغه خپل زوی ته د زکندن په حالت کې وویل: کله چې زه مړ سم

فَلَا تَصْحَبْنِي نَائِحَةٌ وَلَا نَارٌ فَإِذَا دَفَنْتُمُونِي فَشُنُّوا عَلَيَّ التُّرَابَ شَنًّا ثُمَّ أَقِيمُوا

نو زما د جنازې سره دي نه څوک غم کونکی وي او نه دي اور وي، کله چې تاسو ما ښخ کړئ نو پر ما کرار کرار خاوره اچوئ، د ښخولو وروسته زما د قبر سره دومره انتظار سئ

حَوْلَ قَبْرِي قَدْرَ مَا تُنْحَرُ جَزُورٌ وَيُقْسَمُ لَحْمُهَا حَتَّى أَسْتَأْنِسَ بِكُمْ وَأَعْلَمَ مَاذَا أُرَاجِعُ بِهِ رُسُلَ رَبِّي . رواه مسلم

په څومره وخت کې اوښ حلالېدای سي او د هغه غوښې ویشل کیدای سي ځکه زه ستاسو له کبله ارام تر لاسه کوم او په دې پوه سم چې د خپل پروردګار ملائکو ته څه جواب ورکوم. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۱\ ۱۱۳- ۱۱۳، رقم: ۱۹۲- ۱۲۱.

تشریح: د جاهلیت په زمانه کې دا رواج وو چې د لویې او ریا په توګه د مړي سره به یې اور اخیستی چې د دې په ذریعه خوشبو وغیره ولګوي یا څه بل کار ځینې واخیستل سي په شریعت کې د دې څخه منعه فرمایل سوې ده ځکه حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه دا وصیت وکړ چې زما د جنازې سره دي غزلي نه ویل کیږي چې دا یو غیر اسلامي طریقه ده او نه دي اور وي چې دا هم د جاهلیت د زمانې یوه ټبنه ده .

د دې څخه دا معلومه سوه چې د جنازې سره ګربتې لګول په درختو او داسي نورو شیانو باندې څراغان لګول، اورونه بېله ضرورته لګول منعه دي.

تر دې چې زه ارام تر لاسه کوم، د دې مطلب دادی چې پر قبر باندې ستاسو دعائې استقامت او د مغفرت ذکر او قرآن کریم ا استغفار او ایصال ثواب په وجه د سوال او جواب په مرحله کې په اساني سره تیرسم او په قبر کې د الله تعالی د رحمتونو سره وصل سم د ابوداود د په یوه روایت کې نقل دي رسول الله ﷺ چې به د یوه مړي د ښخولو څخه فارغه سو نو د هغه د قبر سره به ودریدی او صحابه ته به مخاطب سو او ورته وه به یې فرمایل د خپل ورور استغفار وغواړئ او د ده لپاره دعائې استقامت او اثبات وغواړئ ځکه چې دا وخت د ده سره سوال او جواب کیږي.

په ښخولو کې تلوار کول

﴿۱۶۲۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې ما د سول الله ﷺ څخه اوریدلي دي

يَقُوْلُ إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ فَلَا تَحْبِسُوْهُ وَأَسْرِعُوْا بِهِ إِلٰى قَبْرِهِ وَلْيُقْرَأْ عِنْدَ رَأْسِهِ

چې فرمايل يې : هر کله چې په تاسو کې يو څوک مړ سي نو هغه مه زندوئ بلکه ژر يې قبر ته وړئ او پکار دي چې د بښخولو وروسته د هغه سر ته

فَاتِحَةُ الْبَقَرَةِ وَعِنْدَ رَجْلَيْهِ بِخَاتِمَةِ الْبَقَرَةِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان . وقال : والصحيح أنه موقوف عليه

لومړی سورة بقرة (تر مفلحون پورې) وويل سي او د پښو خـــوا ته يې د سورة بقرة آخري آياتونه وويل سي (يعني د آمن الرسول څخه تر پايه پورې) مرقاة .

تخريج : البيهقي في شعب الايمان ۷\ ۱٦، رقم: ۹۲۹۴.

تشريح : هغه بندي مه ساتئ يعني بغير د څه عذره د مړي په بښخولو کې ځند مه کوئ مګر څومره چې کيداى سي ژر تر ژره مړى د دنيا اخري ارام ګاه يعني قبر ته ورورسوئ علامه ابن همام رحمة الله عليه فرمائي کله چې يوسى مړ سي نو د هغه په کفن ورکولو او بښخولو کې ځند مه کوئ د (فلا تجلسوا) وروسته جمله (و اسرعوا به) يا خو د دې څخه د مخکې جملې د تاکيد په توګه راوړل سوې ده ځرنګه چې په ترجمه کې بښکاره سوه يا بيا د دې جملې څخه دې خوا ته اشاره فرمايل کيږي چې کله جنازه په اخستو سره روان سي نو په چابکتيا سره تلل سنت دي يعني جنازه په اخستو سره دي په درميانه تګ سره ځي نه خو منډې وهل پکار دي او نه بالکل کرار تلل پکار دي .

د ثواب لېږلو فضيلت

حضرت امام بن حنبل رحمة الله عليه فرمائي کله چې تاسو هديرې ته ولاړ سئ نو هلته سورة فاتحه قل هو الله احد او معوذتين په ويلو سره د هغه ثواب اهل هديرې ور وبخښي د ثواب رسولو لپاره قبرونو ته يعني د مړي لپاره خو دا مقصود دى چې هغه ايصال ثواب او دعائې مغفرت او داسي نورو څخه فائده حاصله کړي او قبر ته د تلونکي لپاره دا بهتره ده چې هلته په تلو سره عبرت حاصل کړي .

د حضرت علي رضي الله عنه څخه بطريق مرفوع روايت دى چې کوم سړى هديرې ته ولاړ سي او هلته قل هو الله احد يوولس واره په ويلو سره د هغه ثواب اهل قبر ته وروبخښي نو هغه ته په هديرې

کي د ښخ سوي مړو د شمير په برابر ثواب ورته حاصليږي.

حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم سړی چي هديرې ته ولاړ سي او سورة فاتحه، قل هوالله احد، او الهکم التکاثر په ويلو سره دا عرض وکړي چي اې الله ما ستا د کلام پاک څخه چي دا وخت څه ويلی دی د هغه ثواب په دې هديرې کي د ښخ سوو مومنانو خلکو او ښځو ته رسوم او په هديرې کي ښخ سوي مړي نر او ښځي د هغه ويونکي لپاره الله تعالی ته شفاعت کونکي سي.

حضرت حماد مکي رحمة الله عليه خپله يوه واقعه بيانوي وايي چي يوه شپه زه د مکې هديرې ته ورسيدم او هلته سر په ايښودو سره بيده سوم ناڅاپه په خوب کي څه وينم چي مړي په ويلو ويلو حلقو کي ناست دي ما وويل ايا قيامت قائم سوی دی چي تاسو ټول د قبرونو څخه راوتلي ياست هغوی وويل يا مګر زمونږ د ورونو څخه يوه سړي قل هوالله احد په ويلو سره ثواب يې مونږ ته رابخښلي دي نو مونږ خلک د يوه کال څخه دلته ناست يو هغه ثواب په خپلو کي تقسيمو و.

حضرت انس رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم سړی چي هديرې ته ولاړ سي او هلته د ايصال ثواب په غرض سورة ياسين تلاوت کړي نو الله تعالی د هديرې په عذاب کي کمي کوي او هغه سړي ته په هديرې کي د ښخ سوو مړو د شمير په اندازه نيکي ورکوي.

د حضرت امام شافعي رحمة الله عليه قول

علامه سيوطي رحمة الله عليه چي شافعي المذهب دی په شرح الصدور کي ليکلي دي دا مسئله مختلف فيه ده چي قرآن کريم په ويلو سره که د دې ثواب مړي ته وروبخښل سي نو ايا هغه ثواب ورته رسيږي که نه جمهور سلف يعني صحابه رضي الله عنهم او تابعين رحمة الله عليهم د مخکي زماني علماء او دري سره امامان خودا وائي چي مړي ته د دې ثواب رسيږي خو امام شافعي رحمة الله عليه په دې اړه اختلاف لري.

بيا د دې وروسته سيوطي رحمة الله عليه د امام شافعي رحمة الله عليه د دلائلو څو جوابونه په ليکلو سره دا خبره ثابته کړې ده که يو سړی د خپل بدني اعمال او عباداتو ثواب لکه لمونځ روژه او د قرآن کريم تلاوت او داسي نور يو مړي ته وروبخښي نو هغه مړي ته د هغه ثواب رسيږي په دې اړه د نور تحقيق لپاره په شرح الصدور کي يا په مرقات کي تاسو کتلای سئ.

بي بي عائشه ﷺ او دورور قبر

﴿۱۶۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ بِحُبْشِيٍّ

د حضرت ابو مليكة ﷺ څخه روايت دئ چي كله عبد الرحمن بن ابوبكر ﷺ په حبشي (مقام) كي وفات سو

وَهُوَ مَوْضِعٌ فَحُمِلَ إِلَى مَكَّةَ فَدُفِنَ فِيهَا فَلَمَّا قَدِمَتْ عَائِشَةُ أَتَتْ قَبْرَ عَبْدِ

نو د هغه مړی مكې ته راوړل سو او ښخ كړل سو ، كله چي حضرت عائشة (رض) د حج لپاره مكې ته راغلل نود خپل ورور

الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ فَقَالَتْ وَكُنَّا كَنَدْمَانَيْ جَذِيمَةَ حِقْبَةً مِنَ الدَّهْرِ حَتَّى

عبد الرحمن بن ابوبكر قبر ته راغلل او دا شعر يې ووايه : (ژباړه) : موږ دواړه خو په كراره كراره په جذيمه كي د دوو همنشينانو په ډول وو چي تر ډيره وخته پوري د يو بل څخه بيل سو

قِيلَ لَنْ يَتَصَدَّعَا فَلَمَّا تَفَرَّقْنَا كَأَنِّي وَمَالِكًا لِطُولِ اجْتِمَاعٍ لَمْ نَبِتْ لَيْلَةً مَعَاثُمَّ

تر دې چي دا وويل سول چي دوی به هيڅكله نه بيليږي بيا تر ډيره وخته پوري د يو ځای اوسيدو څخه وروسته بيل سو نو داسې څرګنده ده لكه چي يو ځای مو شپه هم نه وي تيره كړې) بيا

قَالَتْ وَاللَّهِ لَوْ حَضَرْتُكَ مَا دُفِنْتَ إِلَّا حَيْثُ مُتَّ وَلَوْ شَهِدْتُكَ مَا زُرْتُكَ. رواه الترمذي

حضرت عائشې (رض) وفرمايل : په الله دي مي قسم وي كه زه هغه وخت ستا سره موجود واى كوم وخت چي ته ښخېدلې نو ته به ما هيڅكله دلته نه واى ښخ كړى بلكه هلته به مي ښخ كړى واى كوم ځای چي ته مړ سوى وې او كه ستا د وفات په وخت كي زه ستاسره موجود واى نو ستا ليدنې ته به نه راتلاى . ترمذي

تخريج : سنن الترمذي ۳\ ۳۷۱، رقم: ۱۰۵۵.

تشريح : (حُبشي) د مكې نژدې د يو كلي نوم وو ځيني حضرات وائي چي دا د مكې د يو ځای نوم دى بي بي عائشه رضي الله عنها د خپل ورور قبر ته ورغله ه هلته هغې د خپل ورور په

فراق کي د حال سره مناسب دوه شعرونه وويل دا شعرونه متمم بن نويره د خپل ورو مالک بن نويره په مرثيه کي ويلي وو چي خالد بن وليد ﷺ د حضرت ابوبکر صديق ﷺ د خلافت په زمانه کي قتل کړی وو .

په دې اشعارو کي متمم بن نويره خپل ځان او خپل ورور ته د جذيمه د دوو هم نشينانو سره مشابهت ورکړی دی د دې قصه داده په يوه زمانه کي د عراق يو بادشاه وو چي د هغه نوم جذيمه وو په جزيره عرب کي د هغه تصرف وو د دې بادشاه دوه همنشينان وه چي دواړه وروڼه وه په هغوی کي د يوه نوم مالک وو او د دوهم نوم عقيل وو دا دواړه ځلويشت کاله تر اوږدې مودې پوري د جذيمه بادشاه هم نشين وو دا دواړه وروڼه نعمان ووژل، د دوی د قتل واقعه هم ډيره عجيبه ده چي په مقامات حريري کي په تفصيل سره ذکر دي .

په هر حال متمم د خپل ورور په مرثيه کي وائي چي زه او ته دواړه هم نشين او په خپلو کي ډېر زيات محبت لرو او مونږ د ډېر وخت راهسي يو دبله نه يو جلا سوی ځرنګه چي د جذيمه دواړو هم نشينانو په خپلو کي تر دومره اوږدې مودې پوري انتهائي ژور اخلاص او محبت او هم نشيني لرله چي خلکو به د هغوی په ليدو سره ويل دا دواړه به هيڅ کله د يو بله ځخه جلا نسي بيا تميم وائي کوم وخت چي مالک مړ سو او همداسي په دواړو کي جدائي وسوه نو اوس د دې باوجود چي مونږ دواړه تر يوې اوږدې مودې پوري يو ځای وو خو اوس ماته دا محسوسيږي چي ګويا مونږ دواړه د يوې شپې لپاره هم يو ځای نه سو پاته کيدای يعني د محبت او يکجائي هغه اوږده زمانه په ځو لمحو کي ختمه سوه يا د يو خوب په شان محسوسيږي .

د بي بي عائشې رضي الله عنها الفاظ که زه ستا د وفات پر وخت ستا سره موجوده وای نو دا وخت به ستا قبر ته نه راتلم د دې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ په هغو ښځو باندی لعنت کړی دی چي قبرونو ته ورځي ځکه زه به دلته قبر ته هيڅ کله نه وای راغلې خو ستا د وفات په وخت ستا زيارت مي نصيب سوی نه وو ځکه مجبورا اوس ستا قبر ته راغلې يم چي زما ستا قبر ته راتلل په اخري وخت کي ستا د ملاقات قائم مقام جوړ سي .

د امام شافعي مستدل

﴿۱۶۲۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ رَافِعٍ قَالَ سَلَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدًا وَرَشَّ عَلَى قَبْرِهٖ مَاءً . رواه ابن ماجة .

د حضرت ابو رافع رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د سر د خوا څخه قبر ته کښته کړل سو او د هغه پر قبر اوبه وپاشل سوې . ابن ماجه

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ۴۹۵، رقم: ۱۵۵۱.

تشریح: مړی په قبر کې د وراچولو په باره کې د حضرت امام شافعي رحمة الله علیه مذهب بیان سوی دی دا حدیث د هغوی د دې مذهب دلیل دی د حنفیه لخوا څخه د دې جواب دا ورکول سوی دی یا خو دا چې په ضرورت یا بیان جواز باندې محمول دی د دې پوره تفصیل د دې باب په دوهم فصل کې د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ د روایت د تشریح په ضمن کې ترلاسه کیدای سي .

د خاورو اچول

﴿۱۶۲۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى عَلٰى جَنَازَةٍ ثُمَّ اَتَى الْقَبْرَ فَحَثّٰى عَلَيْهِ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهٖ ثَلَاثًا . رواه ابن ماجة .

د حضرت ابو هریرة رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ پریو جنازه لمونځ ادا کړیا د هغه قبر ته ورغلئ او د خاورو دریو لپې یې د هغه د سر خوا ته واچولې . ابن ماجه

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ۴۹۹، رقم: ۱۵۶۵.

قبر ته څنګ وهل منعه دي

﴿۱۶۲۹﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ قَالَ رَآنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلٰى قَبْرٍ فَقَالَ لَا تُؤْذِ صَاحِبَ هٰذَا الْقَبْرِ اَوْ لَا تُؤْذِهٖ . رواه احمد.

د حضرت عمرو بن حزم رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ زه د یو قبر سره په څنګ وهلو باندې ولیدم نو وې فرمایل : ته دې قبر والا ته تکلیف مه ورکوه ، یا یې دا وفرمایل : ده ته تکلیف مه ورکوه . احمد .

تخریج: لیس هذا الحدیث في المنشور من المسند ص ۸۵ حیث قال.....

تشریح: د تکلیف ایذاء څخه غالبا دا مراد دی چې پر قبر باندې په څنګ وهلو سره ، پر پروتي یا په ناستي سره د صاحب قبر روح خفه کیږي ځکه چې په داسي کولو سره د هغه سپکاوی کیږي .

========

بَابُ الْبُكَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ

پر مړي باندي ژړا کول

د يو قريب، ملګري او اړوند کس پر دائمي بېلتون باندي رنج او غم او مسرت او افسوس کيدل يوه فطري خبره ده مړ کيدونکی چي څومره زيات نژدې او عزيز وي د غم هغومره زيات وي دا نا ممکنه ده چي خپل عزيز او په متعلقين کي دي څوک مړ سي او څوک دي نه وژاړي سترګي دي اوښکي نه وبيوي او مخ دي د درد او غم تصوير جوړ نه کي بيا د دې فطري رنج غم دريم رخ د غم اظهار دی اوښکي بيونکی سترګي د هغه کيفيت کوي چي پر زړه باندي د جدائي د احساس تور پټو وغوړوي او پر مخ باندي د رنج او غم اوريدونکي وريځي د هغه د جذباتو اظهار کوي کوم چي په رګ رګ کي د دائمي فرق سبب ګرځي اسلام د ژوند په هره شعبه کي د ميانه روي لار ښودلی ده او پيغمبر اسلام څه د خوشحالي او څه د غم په هره مرحله باندي د انساني وقار معيار برقرار ساتلی دی نو ځکه د انساني همدردی لپاره ددې باب د راوړلو ضرورت وو چي په دې هکله د رسول الله ﷺ مقدس تعليم او عمل څه وو .

د باب اړوند يو څو احکام او مسائل

د يو چاپر وفات نوحه او چغي وهلو بغير ژړل مکروه نه دي چغي او په نوحه سره ژړل او د مړي زيات او د حقيقت څخه ليري تعريف بيانول څرنګه چي دا د جاهليت د زماني رواج وو مکروه دی البته د مړي واقعي او حقيقي تعريف بيانول مکروه نه دی .

که يو سړی مړ سي نو د هغه د لواحقينو سره تعزيت کول مستحب او ډير ښه کار دی او د تعزيت مفهوم دادی چي لواحقينو ته د صبر او سکون نصيحت و سي او هغوی ته تسلي ورکول سي د يوه څخه زيات وار تعزيت دي نه کول کيږي د وفات په دريمه ورځ د مړي په کور کي جمع کيدل خوراک او څښاک کول او نور رسمونه ادا کول په قطعي توګه سره بدعت او حرام دی نه يوازي دا چي په شريعت کي د دې خبري څه حقيقت نسته مګر د مړي د وصيت څخه بغير د هغه مال خرڅول د يتيمانو وارثانو په مال کي تصرف کول بالکل نا جائز ده د قاموس مصنف مجدد الدين په سفر السعادة کي ليکلي دي مخکي د مړي لپاره يوازي دا طريقه وه چي خلک به صرف د جنازې د لمانځه لپاره جمع کيدل خو اوس دا طريقه ورځ او شپه په تاکلو سره او غير ضروري تکلفات کولو سره قرآن خواني او د ختم وغيره کولو لپاره پر قبر باندي يا په څه بل ځای کي

خلک جمع کول بدعت دی .

د تعزیت لپاره په حجره یا مسجد کي ناسته جائز ده، نقل دي چي کوم وخت د حضرت جعفر، حضرت زید او حضرت ابن رواحه ﷺ په باره کي رسول الله ﷺ ته دا خبر ورسیدی چي دوی دري سره د موته په غزا کي شهیدان سوي دي نو رسول الله ﷺ ډیر زیات په غم سره په مسجد نبوي کي کښینستی هلته خلګ د تعزیت لپاره راتلل او رسول الله ﷺ تعزیت په کولو سره به تلل هو په ټاکلو ورځو او په تاریخونو کي د تعزیت هغه طریقه چي وروسته رائج سوه هغه وخت نه وه .

وروستني ډیر علماء لیکي چي د ښخولو وروسته د مړي په کور کي د تعزیت لپاره په خاصه توګه سره جمع کیدل مکروه دي او دا خبره خو سخته مکروه ده چي د مړي اهل عیال یوازي د دې مقصد لپاره د کور پر دروازه کښیني او خلک هلته په جمع کیدو سره تعزیت کوي ځکه چي دا د زمانه جاهلیت طریقه ده په دې اړه صحیح طریقه داده کله چي خلک مړي ښخ کړي نو په خپلو کارو پسي دي ولاړ سي ، د مړي اهل او عیال ته پکار ده چي هغوی هم په خپل کاروبار کي اخته سي همداسي د قبر څلور خوا ته حلقه په ټرلو سره قرآن ویل مکروه ده .

د مړي د ښخولو وروسته یوازي تر درو ورځو پوري تعزیت کول پکار دي تر درو ورځو زیات تعزیت کول مکروه دي هو که چیري غم ځپونکي موجود نه وي نو بیا چي کله سره ووینې هغه وخت دي تعزیت وکړي په دې کي هیڅ کراهت نسته .

د مړي د ښخولو وروسته تعزیت کول د ښخولو مخکي د تعزیت کولو څخه اولی دی خو دا مسئله په هغه صورت کي ده کله چي د مړي په اهل او عیال کي ډیر زیات د رنج او غم اظهار نه وي که اهل او عیال په زیات غم کي اخته وي نو بیا د ښخولو مخکي به تعزیت اولی وي .

په عمومي توګه سره د مړي ټوله اقارب خوا کوچني وي که لویان خلک وي که ښځي د ټولو سره تعزیت کول مستحب دی هو که ښځه ځوانه وي نو د هغې سره دي تعزیت نه کیږي البته د هغي ښځي محرم د هغه سره تعزیت کولای سي .

د تعزیت پر وخت کوم الفاظ ویل پکار دي ؟

مستحب دادی چي کله یو سړی د کور والا سره تعزیت کوي نو د هغوی سره دي صبر او تسلي د دې ډول الفاظ وائي الله تعالی دي مړی په خپل مغفرت او بخښش سره وبخښي د هغه خطاګاني دي معاف کړي پر هغه دي خپل رحمت وکړي پر دي پیښي دي تاسو ټولو ته د صبر توفیق درکړي او تاسو ټولو ته دي د دې مصیبت په بدله کي ثواب درکړي .

د تعزیت بهترین الفاظ هغه دي کوم چي رسول الله ﷺ فرمایلي وه :

ان الله ما اخذ له ما اعطى وكل شيء عنده باجل مسمى.	پر هغه شي هم د الله تعالى ملكيت دى چې هغه واخست او پر هغه شي باندې هم د هغه ملكيت دى چې هغه ورکړى.

او که کافر مړ سي او د هغه قریبان مسلمانان وي نو د هغه سره دي تعزیت داسي وکړه سي چې الله تعالى دي تاته ډیر زیات ثواب درکړي او تادي په ښه صبر او سکون سره ونازوي او که مړی مسلمان وي او قریبان یې کافران وي نو هغوی ته دي داسي وویل سي الله تعالى دي مړی په بخښش او په مغفرت سره ونازوي، تاسو ته دي صبر او سکون درکړي او که مړی او قریبان یې دواړه کافران وي نو تعزیت دي په دې الفاظو سره وکړه سي: الله تعالى دي تاسو ته د دې بدله درکړي او ستاسو په اهل او عیال کي دي د دې کمي نه وکړي.

د غم او احساس په توګه تردرو ورځو پورې خپل کاروبار پریښودل او په کور کښینستل که څه هم جائز دى مګر د دې پریښودل اولى دي د غم د اظهار پر وخت خلکو ته توري جامې اغوستل د مصیبت پر وخت جامې څیرل ګریوان څیرې کول دا ټول شیان منعه دي هو که ښځي توري جامې واغوندي نو په دې کي هیڅ تاوان نسته.

د چاپر مرګ تر حد زیات ژړا او انګولا کول مثلا مخ او لاسونه تورول، ګریوان څیرل، مخ وهل، ویښتان شکول، پر سر باندې خاوري اچول، سینه وهل او پر قبرونو باندې اور بلول دا ټول د جاهلیت د زمانې رسمونه دي او غلط کار دى د دې څخه منعه کول پکار دي.

په کوم کور کي چې مړی وسي هلته ډوډۍ پخول او استول هیڅ تاوان نه لري مګر دا ضروري او لازمي ګڼل او د هغه لپاره پور کول ډیره غلطه خبره ده همداسي پر دریمه ورځ خلک په خاصه توګه سره رابلل او ډوډۍ په خورل هم بې فائدې کار دى.

دا خبره په خاصه توګه یاد ساتئ چې کوم خلک د دریمې پر نوم کوم خرافات او واهیات حرکتونه کوي هغوی په ډیري زیاتي ګمراهي کي اخته دي مثلا د مرګ پر دریمه ورځ داسي انتظامات وکړه سي څرنګه چې په واده یا په کوزدې کي کیږي خلکو ته دعوت ورکول کیږي فرش غوړیږي، خیمې درول کیږي، عطرونه تقسیمیږي دا ټولي خبرې بدعت او ډیري زیاتي ګمراه کونکي دي د دې واهیاتو او خرافاتو څخه ځان ساتل پکار دي.

په نصاب کي لیکلي دي په کومو ځایونو کي چې دا رسم شروع دى چې د سړي د مرګ په دریمه ورځ خوشبو لګول کیږي هغوی د ښځو سره په مشابهت کي اخته دي ځکه چې ښځي په دریمه ورځ ماتم د ختمولو لپاره خوشبو لګوي نو د دې څخه پرهیز کول پکار دى مګر دا ممانعت د

خوشبو لګولو په وجه نه دی مګر په دې وجه دی چې همداسې هغه وخت ښځو سره مشابهت پیدا کیږي او شریعت د ښځو سره د مشابهت اختیارولو څخه منعه فرمایلې ده .

د تعزیت اداب دادی چې کله یو سړی د مړي کورته د غم شریکولو لپاره ولاړ سي نوهلته کور والا ته دي سلام وکړي مصافحه دي وکړي د هغوی سره دي ډیر زیات تواضع او په نرمي سره دې خبري اتري کوي بې فائدې او زیاتي خبري دي نه کوي مګر یوازي د تسلي او اطمینان او صبر او سکون الفاظ دي ووایي او د خنداګانو او مسخرو څخه دي پرهیز وکړي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نبي کریم ﷺ د خپل زوی پر وفات غم

﴿۱۶۳۰﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ دَخَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَبِي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ سره ولاړو

سَيْفٍ الْقَيْنِ وَكَانَ ظِئْرًا لِإِبْرَاهِيمَ فَأَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِبْرَاهِيمَ فَقَبَّلَهُ

ابو سیف پښ ته ، چې د نبي کریم ﷺ د زوی ابراهیم د دائي خاوند وو ، نبي کریم ﷺ ابراهیم په غیږ کې واخیستئ مچ یې کړی

وَشَمَّهُ ثُمَّ دَخَلْنَا عَلَيْهِ بَعْدَ ذٰلِكَ وَإِبْرَاهِيمُ يَجُودُ بِنَفْسِهِ فَجَعَلَتْ عَيْنَا

او بوی یې کړی (یعني خپل پزه او خوله یې د هغه پر مخ داسې کښېښودل لکه څوک چې بویوي) ددې پېښې څو ورځې وروسته موږ بیا ابو سیف ته ورغلو ابراهیم په دغه وخت کې پر زکندن وو د هغه په لیدو سره

رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ تَذْرِفَانِ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

د رسول الله ﷺ سترګې په بهېدو پیل سوې ، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه عرض وکړ اې د الله رسوله !

وَأَنْتَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ يَا ابْنَ عَوْفٍ إِنَّهَا رَحْمَةٌ ثُمَّ أَتْبَعَهَا بِأُخْرَى فَقَالَ

تاسو هم ژاړئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اې د عوف زویه ! دا (اوښکې) رحمت دئ ، ددې وروسته د رسول الله ﷺ د سترګو څخه بیا اوښکې روانې سوې رسول الله ﷺ وفرمایل :

ﷺ إِنَّ الْعَيْنَ تَدْمَعُ وَالْقَلْبَ يَحْزَنُ وَلَا نَقُولُ إِلَّا مَا يَرْضَى رَبُّنَا وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُونُونَ. متفق عليه

ستركي او ښكي بيوي او زړه غمګين دئ مګر موږ په خپله ژبه سره هغه خبره کوو چې په هغه سره زمونږ پروردګار راضي وي، ابراهيمه موږ ستا په بيلتون غمګين يو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۷۲، رقم: ۱۳۰۳، ومسلم ۴\ ۱۸۰۷، رقم: ۶۲- ۲۳۱۵.

د لغاتو حل: (القَين): الحداد (پښه)، طِئرا: ای زوج مرضعة ابراهيم عليه السلام.

تشريح: د ابوسيف نوم براء وو او د هغه د ښځي نوم خوله بنت منذر وو چې انصاريه او د رسول الله ﷺ د زوئ حضرت ابراهيم رضي الله عنه دائي وه د هغوی کور يې د کار په لحاظ درولی وو حضرت ابراهيم رضي الله عنه يوازي د شپاړلس يا اوولس مياشتو وو چې په حق ورسېدی، په دې حديث کي د هغه د ناروغي او د زکندن د حالت بيان دی. رسول الله ﷺ د هغه د دائي کورته ورغلی او هغه غيږ کي په اخستو سره مينه محبت يې ورسره وکړ او هر کله چې د هغه اخري وخت يې وليدی نو په ژړا سو په دې وجه حضرت عبدالرحمان بن عوف عرض وکی د دې ډول زړه نرمونکي وختونو باندي خلک خو ژاړي خو ستاسو د عظمت شان او د کمال مغفرت څخه دا خبره ليري ده چې تاسو دي هم وژاړئ د دې جواب رسول الله ﷺ دا ورکړی چې دا رحمت دی يعني زما ستركي د بې صبري په وجه او ښكي نه بيوي څرنګه چې ته ګڼې مګر حقيقت دادی چې بچی په دې حالت کي په ليدو سره د رحم جذبه راپورته سي چې د او ښكو په شكل کي د ستركو څخه بهيږي.

زړه غمجن دی، په دې کي دې ته اشاره ده چې کوم خلک په داسي وختونو کي غمجن نه وي او د هغه زړه غم نه محسوسوي نو د هغه په سينه کي لړزېدونکی زړه نسته مګر د ډبري يوه ټوټه ده کله چې د ستركو مخکي د ځيګر د ټوټې ساه خپړي پر داسي نازک وخت باندي ستركي او ښكي نه بيوي نو دا صبر او ضبط نه دی مګر د احساس محبت نشته والی دی نو دا حال يعني غمجن کيدل د اهل کمال په نزد کامل تر دی په نسبت د دې شيانو چې د بچي مرګ واقع سي او پر مخ باندي د بشاشت او اطمينان اثار را ښكاره سي.

د لمسي پر مرګ د رسول الله ﷺ اوښکي

﴿۱۶۳۱﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ قَالَ أَرْسَلَتْ ابْنَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د نبي کريم ﷺ لور بي بي زينب نبي کريم ﷺ ته د يو سړي په ذريعه دا پيغام وليږئ چې

إِلَيْهِ إِنَّ ابْنًا لِي قُبِضَ فَأْتِنَا فَأَرْسَلَ يُقْرِئُ السَّلَامَ وَيَقُولُ إِنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ

زما د زوی ساه خيژي تاسو تشريف راوړئ ، رسول الله ﷺ په جواب کې د سلام څخه وروسته وفرمايل : کوم شی چې خدای واخلي هغه د خدای دئ

مَا أَعْطَى وَكُلٌّ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ تُقْسِمُ

او کوم شی چې هغه ورکړي هغه هم د هغه دئ او د هغه سره د هر يو شي وخت تاکلئ دئ نو ته صبر کوه او د ثواب غوښتونکې سه ، بي بي زينب دوهم وار سړی وليږئ او رسول الله ﷺ ته يې د تشريف راوړلو لپاره قسم ورکړ ،

عَلَيْهِ لَيَأْتِيَنَّهَا فَقَامَ وَمَعَهُ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَمَعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ

نو رسول الله ﷺ سمدستي را ولاړ سو دا وخت سعد بن عبادة ، معاذ بن جبل ، ابی بن کعب،

وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَرِجَالٌ فَرُفِعَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ الصَّبِيُّ وَنَفْسُهُ تَتَقَعْقَعُ قَالَ

زيد بن ثابت او نور صحابه کرام هم ورسره وه، کوچني رسول الله ﷺ ته راوړل سو او د رسول الله ﷺ په غيږ کې ورکړل سو دغه وخت د زکندن حالت وو ،

حَسِبْتُهُ أَنَّهُ قَالَ كَأَنَّهَا شَنٌّ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ فَقَالَ سَعْدٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا هَذَا

د هغه په لېدو سره د رسول الله ﷺ د سترګو څخه اوښکي روانې سوې ، سعد رضي الله عنه وويل: اې د الله رسوله ! دا څه دي ؟

فَقَالَ هَذِهِ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللَّهُ فِي قُلُوبِ عِبَادِهِ وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللَّهُ مِنْ عِبَادِهِ

الرُّحَمَاءَ. متفق عليه

رسول الله ﷺ وفرمايل دا د خداى رحمت دئ چې الله ﷻ د خپلو بندګانو په زړو کې پيدا کړئ دئ او الله ﷻ په خپلو بندګانو کې پر هغه چا رحم کوي چې هغه مهربانه وي . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۱۳\ ۱۵۰، رقم: ۱۲۸۴، ومسلم ۲\ ۶۳۵، رقم: ۱۱- ۹۲۳.

د لغاتو حل : (تتقعقع) : اى تضطرب ولاتلبث على حال واحدة (بې تابي کول).

تشريح : حضرت سعد رضي الله عنه دا ګمان وکړى چې د ژړا ټول ډولونه حرام او مکروه دي او رسول الله ﷺ دا وخت سهوا ژاړي ځکه رسول الله ﷺ هغه خبر کړ چې داسې ژړا چې يوازې سترګې اوښکې بيوي حرام او مکروه نه دى مګر داسې ژړا خو د رحم د جذبې علامت دى چې په زړه کې راپورته کيږي نو په چغو سره ژړل ګرېوان شکول او مخ وهل حرام او منعه دي .

په چغو ژړل

﴿۱۶۳۲﴾ : وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ اشْتَكَى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ شَكْوَى لَهُ فَأَتَاهُ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې سعد بن عبادة رضي الله عنه ناروغ سو ،

النَّبِيُّ ﷺ يَعُودُهُ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ وَسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ وَعَبْدِ اللّٰهِ

نبي ﷺ د هغه پوښتنې ته تشريف راوړئ ، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص، او عبدالله

بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ فَوَجَدَهُ فِي غَاشِيَةِ أَهْلِهِ فَقَالَ

بن مسعود هم ورسره وه ، کله چې رسول الله ﷺ را ورسيدئ نو هغه د بې هوشي په حالت کې وو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه

قَدْ قَضَى قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَبَكَى النَّبِيُّ ﷺ فَلَمَّا رَأَى الْقَوْمُ بُكَاءَ النَّبِيِّ

ايا وفات سو ؟ صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! نه، د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ ته ژړا ورغلل ، صحابه کرامو چې رسول الله ﷺ په ژړا ولیدئ

ﷺ بَكَوْا فَقَالَ أَلَا تَسْمَعُونَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُعَذِّبُ بِدَمْعِ الْعَيْنِ وَلَا بِحُزْنِ الْقَلْبِ

نو هغوى هم په ژړا سول، رسول الله ﷺ وفرمايل : واورئ الله تعالى د سترګو په جاري کېدو عذاب نه ورکوي او نه د زړه په غمګين کېدو ،

وَلَكِنْ يُعَذِّبُ بِهَذَا وَأَشَارَ إِلَى لِسَانِهِ أَوْ يَرْحَمُ وَإِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ. متفق عليه

مګر الله تعالى له دې کبله عذاب ورکوي او رحم هم کوي او رسول الله ﷺ ژبې ته اشاره وکړه، البته مړي ته د هغه د کورنۍ د ژړا په سبب عذاب ورکول کيږي (يعني په لوړ آواز سره ژړا او په چغو چغو سره ژړل). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۷۵، رقم: ۱۳۰۴، ومسلم ۲\ ۶۳۶، رقم: ۱۲- ۹۲۴.

تشريح: د حديث د اخري الفاظو مطلب دادی که دومره اهل او عيال او د هغه کور والا په لوړ اواز يعني په چغو چغو ژاړي يا نوحه کوي نو هغه مړي ته عذاب کيږي د دې مسئلې تحقيق به په دريم فصل کې انشاء الله راسي.

﴿۱۶۳۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ. متفق عليه

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک زموږ څخه نه دئ څوک چې مخ ووهي، ګريوان څيري کړي او د جاهليت د زمانې په ډول په چغو چغو ژاړي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۶۳، رقم: ۱۲۹۴، ومسلم ۱\ ۹۹، رقم: ۱۶۵- ۱۰۳.

تشريح: دلته مخ وهونکی او ګريوان شلونکي لپاره چې کومه سزا فرمايل سوې ده دا سزا د هغه سړي لپاره هم ده چې د سر څخه پورنی يا پټو وغورځوي يا د سر او ږيرې وريښتان وشکوي ځکه چې د دې ټولو شيانو يو حکم دی.

﴿۱۶۳۴﴾: وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى قَالَ أُغْمِيَ عَلَى أَبِي مُوسَى فَأَقْبَلَتْ

د حضرت ابو بردة بن ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ابو موسى رضي الله عنه بې هوشه سو

امْرَأَتُهُ أُمُّ عَبْدِ اللهِ تَصِيحُ بِرَنَّةٍ قَالَا ثُمَّ أَفَاقَ قَالَ أَلَمْ تَعْلَمِي وَكَانَ يُحَدِّثُهَا

نو د هغه ښځه ام عبدالله په چغو چغو ژړا پيل وکړ، کله چې ابو موسى په هوش کې سو نو هغه ورته وويل: ايا تا نه څرګنده نه ده

أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ حَلَقَ وَسَلَقَ وَخَرَقَ .

متفق عليه و لفظه للمسلم.

چې رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي زه د هغه چا څخه بېزاره يم چې په مصيبت کې د سر ورېښتان شکوي، په چغو چغو ژاړي او جامې شکوي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري)؛۳\ ۱۶۵، رقم: ۱۲۹۶، ومسلم ۱\ ۱۰۰، رقم: ۱۶۷- ۱۰۴.

د لغاتو حل: (حلق): اى حلق شعره لاجل المصيبة (د غمه سر خريل)، صلق: اى رفع صوته بالبكاء (په چغو ژړل). خرق: اى قطع ثوبه (جامې شلول).

تشريح : د جاهليت په زمانه کې به دا دول افعال د ښځو څخه کيدل نو مسلمانانو ته د دې خبرو څخه پرهيز کول پکار دي څرنګه چې رسول الله ﷺ د داسې خلکو څخه بيزاره کيږي کوم چې په دې غلط او باطلو شيانو کې اخته وي .

د فرياد کولو بدي

﴿۱۶۳۵﴾: وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو مالک اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

أَرْبَعٌ فِي أُمَّتِي مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ لَا يَتْرُكُونَهُنَّ الْفَخْرُ فِي الْأَحْسَابِ وَالطَّعْنُ

د جاهليت د زماني څلور شيان دي چې زما امت به يې نه پريږدي : ۱: په حسب فخر کول . ۲: طعنه ورکول

فِي الْأَنْسَابِ وَالِاسْتِسْقَاءُ بِالنُّجُومِ وَالنِّيَاحَةُ وَقَالَ النَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ

په نسب ۳: د ستورو څخه اوبه غوښتل ۴: ويرا و ماتم کول ، که ويرا کونکې ښځه د مرګ څخه مخکې توبه ونه باسي

مَوْتِهَا تُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ وَدِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ . رواه مسلم

نو د قيامت په ورځ به په داسې حال کې را پورته سي چې د هغې پر بدن به د قطران او خارش قميص وي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۱۲/ ۶۴۴، رقم: ۲۹- ۹۳۴.

تشريح: حسب هغو عادتونو ته وايي که په انسان کي موجود وي نو د هغه د موجودګي په وجه ځان بهتر او ښه وګڼي لکه شجاعت، مېړانه، فصاحت او داسي نور.

پر نسب باندي د طعن کولو مطلب دادی چي د يوه سړي په نسب کي داسي عيب پيدا کړي چي د فلاني سړي پلار خراب وو او د فلاني سړي نيکه د کمي درجې وو، په حسب فخر کولو او پر نسب باندي د طعن کولو په وجه خپل تعظيم او لوئ والي او د نورو خلکو سپکاوئ لازميږي ځکه دا دواړه شيان خراب دي هو د اسلام او د کفر د امتياز پر بناء دي په دې دواړو شيانو کي هيڅ تاوان نسته يعني که يو مسلمان د خپل ايمان او اسلام په وجه خپل ځان بزرګ او لوئ وګڼي او يو کافر د هغه د کفر په وجه حقير او کمتر وګڼي نو دا جائز دی د ستورو په ذريعه اوبه غوښتلو څخه مراد دادي چي د ستورو پر تاثير باندي د باران اميد ساتل يعني دا عقيده ساتل چي فلانی ستورئ په فلاني منزل کي داخل سي نو باران به کيږي.

په دې اړه مسئله داده چي دا عقيده ساتل چي د فلاني ستوري فلانی منزل کي د داخليدو په وجه به باران کيږي حرام دی مګر کله چي باران وي نو دا ويل واجب دی چي الله تعالی يوازي په خپل فضل او کرم سره موږ په باران اوبه کړو.

د نوحه کولو مطلب دادی چي يو سړی مړسي او پر هغه باندي واويلاء وکړه سي او د مړي ښه خصلتونه په ژړا ژړا کي داسي بيان کړه سي چي هغه څومره زړه ور وو هغه داسي وو او هغه داسي وو.

قطران د تار کول په ډول د يوې دوائي نوم دی چي تور او بدبويه داره وي او ابهل يعني د هغي اوني څخه چي هغه ته هوبير هم وائي د هغه څخه تيل وځي دا د هغه اوښ پر بدن موږي چي هغه خارښ سي په دې کي حرارت او ګرمي زياته وي ځکه هغه د اوښ خارش سوځوي د دې يو خاص اثر دا هم دی چي د اور اثر ډير ژر قبلوي او ژر لنده کيږي د ارشاد د دې اخري جملې مطلب داسو که نوحه کونکې ښځه د خپل دې بد فعلي په وجه د توبې څخه بغير مړه سي نو د قيامت په ورځ به د هغې پر بدن خارش مسلط کړه سي يا پر هغه قطران موږي چي د هغه په خارش کي زيات سوزش پيدا سي او هغه زيات تکليف تر لاسه کوي.

﴿۱۶۳۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَأَةٍ تَبْكِي عِنْدَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يوې ښځې په خوا کي تير سو چي پر يو

قبر يې په چغو چغو ژړل،

قَبْرٍ فَقَالَ اتَّقِي اللَّهَ وَاصْبِرِي قَالَتْ إِلَيْكَ عَنِّي فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِي وَلَمْ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د الله ﷻ څخه و بيريږه او صبر کوه ، هغې ښځې ورته وويل : پر خپل لار ځه تا ته زما په ډول ستونزي نه دي رسيدلي،

تَعْرِفْهُ فَقِيلَ لَهَا إِنَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ ﷺ فَلَمْ

هغې ښځې رسول الله ﷺ نه وو پيژندلئ ، بيا چې هغې ته وويل سول چې دا رسول الله ﷺ وو ، نو هغه ښځه د نبي کريم ﷺ دروازې ته راغلل

تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ فَقَالَتْ لَمْ أَعْرِفْكَ فَقَالَ إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى . متفق عليه

او هلته يې چوکيدار ونه ليدئ او د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سوه او عرض يې وکړه : ما تاسو نه واست پيژندلی، رسول الله ﷺ وفرمايل : صبر د غم په پيل کې وي . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۴۸، رقم: ۱۲۸۳، ومسلم ۲\ ۶۳۷، رقم: ۱۵- ۹۲۶.

تشريح : څومره ريښتنی او پر حقيقت باندې مبني قول دی چې کومه خبره وويل سي هغه ته ګوره چې ويو نکی څوک دی پر دې قول عمل نه يوازي دا چې د رښتيا او نيکئ لاري روښانه کوي مګر ډير واره جهالت او شرمندګي څخه هم سړي ساتي په دې پيښې نظر واچوه يوه ښځه غلط کار کوي رسول الله ﷺ هغې ته د نيکئ پر لار د روانولو لپاره څه ارشاد فرمائي هغه ښځه په اتفاقي توګه سره رسول الله ﷺ نه پيژني نه يوازي دا چې د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه مخ اړوي مګر يو غلط جواب هم ورکوي وروسته چې هغې ته معلومه سوه چې دا د خير خبره کوونکي خو د الله تعالى رسول دی نو هغې ته دا احساس وسو چې زه په غلطه يم نو په ځغاستي د رسول په خدمت کې حاضره سوه او د خپلې غلطۍ او پښېمانۍ اقرار يې وکړ .

اوس وګورئ که هغې د دغه عارفانه قول مطابق د رسول الله ﷺ د پيژندلو څخه بغير د رسول الله ﷺ د ارشاد مخکې واطاعت ته سر کښته کړی وای نو نه يوازي دا چې د نيکئ لار به يې هغه وخت تر لاسه کړې وای مګر وروسته د خجالت او شرمندګئ څخه به ساتل سوی وای .

د حديث د اخري جملې مطلب دادی چې کامل او جميل صبر چې پر هغه ثواب حاصليږي هغه دی چې د مصيبت پر وخت وکړه سي کنې په اخر کې خو خپله صبر راځي وروسته که چا صبر وکړئ نو څه صبر يې وکړی ؟

نوحه کول حرام دی

د پورته ذکر سوو حديثو څخه دا خبره واضحه سوه چې نوحه کول او د مړي ښه خصلتونه په ژړا ژړا کې بيانول او په چغو چغو ژړل مخ وهل ګريوان شکول ويښتان شکول ، مخ تورول. پر سر باندې خاورې اچول او داسې نور ټول شيان پر بې صبرۍ باندې دلالت کوي حرام دی .

د درو اولادو نو مرګ

﴿۱۶۳۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَمُوْتُ لِمُسْلِمٍ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَيَلِجَ النَّارَ إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ . متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د کوم مسلمان چې درې کوچنيان مړه سي هغه به اور ته نه داخليږي، مګر د قسم پوره کولو لپاره، دا د دې آيت په لور اشاره ده : (وان منکم الا واردها) : يعني قسم دئ په تاسو کې هيڅوک داسې نسته چې په دوزخ کې به داخل نه سي که څه هم د يوې لحظې لپاره وي . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۵۴۱، رقم: ۶۶۵۶، ومسلم ۴\ ۲۰۲۸، رقم: ۱۵۰- ۲۶۳۲.

تشريح : د حديث اخري جمله هو د قسم پوره کولو لپاره به ځئ د دې څخه د الله تعالی ارشاد (و ان منکم الا واردها الاية) دې خوا ته اشاره ده ګويا په اصل کې دا ايت داسې دی وان منکم والله الا واردها الاية، قسم مې دي په خدای وي په تاسو کې هيڅ څوک داسې نسته چې په دوزخ کې به داخيل نسې که څه هم هغه د بجلي يا هوا په ډول د يوې لمحې لپاره ولې داخل نسي د دې مطلب دادی چې د دوزخ پورته پر پل صراط قائم کړه سي کافر او خواه نيک وي يا بد يوازې دومره خبره به وي چې څوک بدکار وي هغه به د دې په ذريعه تکليف تر لاسه کوي په دې توګه چې هغه به د پل صراط څخه دوزخ ته راغورځي او نيک کار به هيڅ تکليف نه تر لاسه کوي په دې توګه چې هغه به په دې په تيريدو سره په جنت کې داخل سي نو د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چې د کوم مسلمان درې کوچنيان مړه سي هغه به دوزخ ته اچول کيږي هو يوازې د دومرې لمحې لپاره نو د هغه دوزخ ته تلل ممکن دي چې د الله تعالی قسم پوره سي او هغه د

مختصر وخت لپاره هم پر پل صراط باندي د تيريدو وقفه ده يعني د دې مطلب دا نه دی چې په دوزخ کي به دننه داخل کړه سي او عذاب تر لاسه کي مګر مطلب دادی چې هغه به هيڅ دول عذاب نه کي ترلاسه او يوازي پر پل صراط باندي تيريدل په دې ايت کي د مذکوره د خول دوزخ مصداق او د الله تعالی د قسم د ريښتيا او پوره کيدو لپاره کافي دی.

اهل عرف په خپل ورځني عرف کي وائي چې ما دا کار د خپل قسم پوره کولو لپاره وکی يعني دا کار مي يوازي په دومره اندازه وکی چې د دې په وجه قسم پوره سي او ښکاره ده چې د هغه لپاره د هغه کار چې ادنی حصه په کمه موده کي تېره سي د هغه قسم پوره کېدو لپاره کافي ده.

﴿۱۶۳۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د انصارو ښځو ته وفرمايل :

لَا يَمُوْتُ لِإِحْدَاكُنَّ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَحْتَسِبَهُ إِلَّا دَخَلَتِ الْجَنَّةَ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ

په تاسو کي چې د يو چا دري ماشومان مړه سي او هغه په صبر او شکر سره د ثواب غوښتونکې وي نو په جنت کي به داخل سي ، د دې په اوريدو سره په هغو ښځو کي يوې ښځې وويل :

مِنْهُنَّ أَوِ اثْنَيْنِ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ أَوِ اثْنَيْنِ. رواه مسلم و في رواية لهما ثلثة لم يبلغوا الحنث.

اې د الله رسوله ! که د چا دوه ماشومان مړه سي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هو ، ددوو لپاره هم (دا زيری دئ) . مسلم او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چې دري ماشومان چې بالغ سوي نه وي.

تخريج: صحيح مسلم: ۲۰۲۸\۴، رقم: ۱۵۱- ۲۶۳۲.

تشريح : د ثواب طلبګاره وي د دې مطلب دادی کله چې الله تعالی د چا دري بچي ځان ته وبولي نو هغوی دي د هغوی په مړه کيدو په چغو نه ژاړي مګر د صبر او شکر لمن دي ونيسي د (انا لله و انا اليه راجعون) په ويلو سره د الله تعالی د مرضي او د هغه د مصلحت مخکي دي سر کښته کړي نو هغه به په جنت کي داخله کړه سي.

اوس په دې اړه دوه احتماله دي يا خو به هغه د شروع څخه په غير عذاب کي په اخته کولو جنت کي داخله کړه سي يا بيا دا چې د هغه د بچو د سفارش وروسته به د جنت د سعادت سره ونازول سي.

د ښځي په عرض کولو د رسول الله ﷺ يا (دوه ښځي مړه سي) په باره کي علماء ليکي کله چي رسول الله ﷺ د درو ځامنو په باره کي ارشاد وفرمايه او ښځي د درو د تخصيص د ختمولو د خواهش اظهار وکړ نو د بې نيازه خداى تعالى له خوا څخه فورا د وحي په ذريعه نبي کريم ﷺ ته اطلاع ورکړه که دوه ځامن يې مړه سي نو هم دا سعادت به ورته حاصليږي يا بيا دا چي رسول الله ﷺ به په دې اړه بطور خاص دعا وغوښتله او د الله تعالى په دربار کي دعا قبوله سوه نو رسول الله ﷺ هغې ښځې ته زيرى ورکړ.

په دوهم روايت کي د نابالغ قيد ځکه ولګېدى چي د کوچنيانو بچو سره د ښځو ډير زيات محبت وي د غټو بچانو په نسبت کوچني بچيان خپلي مور ته زيات قريب او محبوب وي ځکه د هغوى په مرګ په طبعي توګه سره ښځو ته ډير زيات غم او رنځ رسيږي.

پر مرګ باندي د صبر جزا

﴿۱۶۳۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللهُ تَعَالَى مَا

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله پاک فرمايي: نسته

لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةُ. رواه البخاري

زما بنده لره زما څخه جزا هغه وخت چي قبض کړم هغه غوره ده ته په اهل دنيا کي بيا طلب د ثواب وکړى دى په هغه مګر جنت دى. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۴۱، رقم: ۶۴۲۴.

تشريح: مطلب دادى چي که د ديوه سړي د اهل دنيا څخه څوک عزيز او محبوب لکه اولاد، مور، پلار يا د دوى څخه ماسيوا څوک داسي سړى چي هغه عزيز او محبوب لري وفات سي او هغه پر هغه صبر وکړي نو د هغه د دې صبر پر بناء به الله تعالى هغه ته جنت ورکړي.

د اهل دنيا د قيد څخه معلومه سوه که د اهل اخرت څخه څوک عزيز او محبوب وفات سي او په هغه صبر وکړه سي نو تر دې هم زيات سعادت حاصليږي او هغه دا چي الله تعالى به د هغه څخه ناراضه نه وي او د ديوه بنده څخه د الله تعالى راضي کيدل د هغه په حق کي د دنيا او اخرت تر ټولو لوئ سعادت او تر ټولو لوئ فضيلت دى.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

پرويرکونکو لعنت

﴿۱۶۴۰﴾: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّائِحَةَ وَالْمُسْتَمِعَةَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ پرويرکونکې او ويرې اورېدونکي باندې لعنت ويلئ دئ . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۴۹۲، رقم: ۳۱۲۸.

تشريح: د نوحه کونکي ښځي څخه مراد هغه ښځه ده چې د مړي ښه خصلتونه په ژړا ژړا کې بيان کړي او ځيني حضرات داسې فرمايي چې د مړي سره په زوره زوره چغو وهلو ته نوحه وايي او نوحه (اورېدونکي ښځي) هغه ښځي مراد دي چې د نوحه ويونکي ښځو سره قصدا ناستي وي د هغوی نوحه اوري او د هغوی د نوحې څخه خوند اخلي .

مؤمن ته په هر حالت کې ثواب

﴿۱۶۴۱﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَجَبٌ لِّلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ حَمِدَ اللهَ وَشَكَرَ وَإِنْ أَصَابَتْهُ مُصِيْبَةٌ حَمِدَ

د مؤمن بنده عجيبه حال دئ چې کله خير ورته ورسيږي نو د الله ﷻ تعريف او شکر ادا کوي او کله چې ستونزه ورته ورسيږي نو هم حمد او شکر ادا کوي

اللهَ وَصَبَرَ فَالْمُؤْمِنُ يُؤْجَرُ فِيْ كُلِّ أَمْرِهِ حَتّٰى فِي اللُّقْمَةِ يَرْفَعُهَا إِلٰى فِيْ امْرَأَتِهِ .

رواه البيهقي في شعب الإيمان

او هم صبر کونکی اوسي ، نو مؤمن ته په دواړو حالتو کې ثواب ترلاسه کيږي تر دې چې کومه کوله هغه پورته کړي او د خپل بي بي په خوله کې يې واچوي پر دې هم ثواب ترلاسه کوي . بيهقي .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۴\ ۱۱۶، رقم: ۴۴۸۵.

تشريح : د دې حديث په ذريعه د مومن فضيلت او د هغه دا امتياز د فخر په توګه بيانيږي چې هغه د ژوند په هره لحظه کې د يوه الله تعالى شکر ګزار وي که هغه ته څه نعمت او راحت حاصل سي نو د الله تعالى تعريف کوي او د هغه شکر اداء کوي او که هغه ته څه مصيبت ور ورسيږي نو بيا هم هغه په ژبه د الله تعالى شکر اداء کوي او د هغه تعريف په بيانولو سره هغه د خپل عبوديت اظهار کوي ځکه الله تعالى مومن ته دا سعادت ورکړى دى او بل دا چې په هر مباح کار باندې ثواب ورکوي په شرط د دې چې د خير او ثواب په نيت هغه کار وکړي يعني مومن که يو مباح کار وکړي که د هغه نيت د خير وي نو هغه ته پر هغه ثواب ورکول کيږي د مثال په توګه که يو سړى د خپلې ښځې په خوله کې ګوله ورکړي او د ګولې پر وخت د هغه نيت دا وي چې زه د دې خپل حق اداء کولو لپاره چې زما پر ذمه دى او د الله تعالى د رضا له خاطره د خپلې ښځې په خوله کې ګوله اچوم نو د هغه دا معمولي مباح کار هم د هغه په حق کې د ثواب په اعتبار يو لوى سعادت ګرځي.

د مؤمن لپاره دوې دروازې

﴿۱۶۴۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُؤْمِنٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د هر مؤمن لپاره

إِلَّا وَلَهُ بَابَانِ بَابٌ يَصْعَدُ مِنْهُ عَمَلُهُ وَبَابٌ يَنْزِلُ مِنْهُ رِزْقُهُ فَإِذَا مَاتَ بَكَيَا

دوې دروازې وي پريوه دروازه د هغه اعمال پورته خيژي او پر دوهمه دروازه د هغه رزق را کښته کيږي ، هر کله چې مؤمن مړ کيږي نو دواړې دروازې پر هغه ژاړي

عَلَيْهِ فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ : فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ . رواه الترمذي

او دا معنا ده د الله پاک ددې ارشاد : (فما بكت عليهم السماء والارض) پر کافرانو باندې آسمان او ځمکې هيڅا ونه ژړل . ترمذي .

تخريج : سنن الترمذي ۵\ ۳۵۴، رقم: ۲۲۵۵.

تشريح : مطلب دادى چې يوه دروازه خو هغه ده چې د هغه په ذريعه د مومن نيک اعمال چې پر ځمکه باندې د هغه په عمل نامه کې ليکل سوي دي اسمان ته خيژي او بيا هلته د اعمالو ليکلو په ځاى کې دوهم وار په اعمال نامه کې ليکل کيږي، دوهمه دروازه هغه ده چې د هغه په

ذريعه رزق مځکي ته را کښته کيږي او د کوم په نصيب کي چي څومره رزق وي هغومره رسوي نو کوم مؤمن چي مري نو دواړي دروازې ژاړي ځکه چي د ديو دروازې څخه نېک اعمال راتلل او د دوهمي دروازې څخه رزق لهږل کېدی نو په دې وجه دواړي دروازې د مؤمن پر انتقال او ددې خوشبختۍ څخه پر محرومه کېدو ژاړي.

ددغه آيت کريمه څخه دا معلوميږي چي الله تعالی د کافرانو په هکله دا فرمايلي دي چي د هغوی لپاره نه آسمان وژړل او نه هم مځکي او دا چي کله مؤمن مړ سي نو په هغه باندي آسمان او مځکه دواړه ژاړي.

د اولاد په مرګ ثواب

﴿۱۶۴۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لَهُ فَرَطَانِ مِنْ أُمَّتِي أَدْخَلَهُ اللّٰهُ بِهِمَا الْجَنَّةَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ

زما په امت کي چي د ديو چا دوه ماشومان مړه سوي وي نو الله تعالی دهغوی له کبله هغه په جنت کي داخلوي، بي بي عائشې رضي الله عنها پوښتنه وکړه او که د ديو چا يو کوچني مړ سوئ وي،

مِنْ أُمَّتِكَ قَالَ وَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ يَا مُوَفَّقَةُ قَالَتْ فَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فَرَطٌ مِنْ

ستا په امت کي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : (تاته دي د نيکۍ توفيق درکړل سي) د چاچي يو کوچني مړ سوی وي د هغه لپاره هم دا حکم دئ، بي بي عائشې بيا پوښتنه وکړه او ستاسو په امت کي چي د ديو چا يو کوچني هم نه وي مړ سوئ؟ (د هغه لپاره څه حکم دئ)

أُمَّتِكَ قَالَ فَأَنَا فَرَطُ أُمَّتِي لَنْ يُصَابُوا بِمِثْلِي . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب

رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د خپل امت د کاروان امير يم کومي ستونزي چي ما ته رسيدلي دي هغوی ته نه دي رسيدلي. ترمذي، دا حديث غريب دئ.

تخريج : سنن الترمذي ۳\۳۷۶، رقم: ۱۰۶۲.

تشريح : (فرط) هغه سړي ته وايي چي د قافلې څخه مخکي منزل ته په رسيدو سره د قافلې

والا لپاره د خوراک او څښناک سامان تیار کړي، دلته په دې حدیث کې د فرط څخه مراد هغه کوچنی دی چې د بالغ کیدو څخه مخکې وفات سي، داسې ماشوم ته ځکه فرط ویل کیږي چې هغه آخرت ته مخکې په رسیدو سره د خپل مور او پلار لپاره د جنت د نعمتونو بندوبست کوي یعني هغه به د خپل مور او پلار لپاره د الله تعالی څخه په شفاعت کولو سره جنت ته به یې بیایي، د حدیث په آخري جملې (فانا فرط امتي .....الخ) کې د فرط څخه مړ سوی ماشوم مراد نه دی.

رسول الله ﷺ په دغه وخت کې بي بي عائشې رضي الله تعالی عنها ته د کمال تعلق او د هغه د ذاتي ځانګړتیا، اوصاف او فضائلو له کبله سوفقه په ویلو سره مخاطب کړل چې په مجموعه کې دا د فضل او کمال لقب دی د دې معنی داده چې اې عائشې! چاته چې د الله تعالی له خوا څخه د خیر او د ښو خبرو د پوښتنې کولو توفیق ورکړل سوي وي.

د حدیث د اخري الفاظو مطلب دادی چې زه د خپل امت لپاره د منزل امیر یم په دې توګه چې زه د دوی څخه مخکې اخرت ته په رسیدو سره به شفاعت کوم او هغوی به جنت ته بیایم ځکه چې د ثواب په اندازه مصیبت او ستونزه وي یعني مصیبت او ستونزه چې څومره سخت وي هغومره ثواب زیات تر لاسه کیږي نو د دې دنیا څخه پورته کیدل د هغوی لپاره دومره لوئ مصیبت او دومره لویه پیښه ده چې د دې برابر هیڅ لویه پیښه نسي کیدای نو زما څخه زما د امت هر فرد به حقیقا او حکما د دې حادثې او مصیبت سره مخامخ کیږي ځکه د کومو خلکو چې کوچني اولاد د وفات کیدو سره د هغوی لپاره د اخرت ذخیره سوې نه وي نو زما د وصال دا پیښه به د هغوی لپاره د پورتني سعادت او زیری په توګه کافي وي.

د اولاد پر وفات صبر

﴿۱۶۴۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو موسی اشعري رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

إِذَا مَاتَ وَلَدُ الْعَبْدِ قَالَ اللّٰهُ لِمَلَائِكَتِهِ قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِيْ فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ

هر کله چې د یو مؤمن بنده زوی مړ کیږي نو الله تعالی ملائکو ته فرمایي: تاسو زما د بنده د زوئ روح قبض کړل؟ هغوی وایي هو،

فَيَقُوْلُ قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهِ فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ فَيَقُوْلُ مَاذَا قَالَ عَبْدِيْ فَيَقُوْلُوْنَ

الله تعالى فرمايي : تاسو د هغه د زړه ميوه وشكول، هغوى وايي هو، او الله تعالى پوښتنه كوي زما بنده څه وويل؟ هغوى ورته وايي :

حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ فَيَقُولُ اللَّهُ ابْنُوا لِعَبْدِي بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَسَمُّوهُ بَيْتَ الْحَمْدِ . رواه احمد والترمذي

ستا .تعريف يې وكړ او انا لله وانا اليه راجعون يې وويل ، الله تعالى فرمايي : زما د بنده لپاره په جنت كي يو كور جوړ كړئ او د هغه نوم بيت الحمد كښيږدئ . احمد ، ترمذي.

تخريج : الامام احمد في مسنده ۴۱۴\، والترمذي ۳۴۱\۳، رقم: ۱۰۲۱.

تشريح : مومن بنده د خپل ځيګر د ټوټې پر وفات د الله رب العزت تعريف او لوئي په بيانولو سره د صبر او شكر لار اختياره كړي ځكه د عبوديت د دې عظيمي جذبې په صله كي هغه ته په جنت كي يو لوئ كور بيت الحمد وركول كيږي .

ددغه كور نوم بيت الحمد ځكه دى چي هغه په مصيبت او پيښي كي د الله تعالى حمد او ثناء او د تسليم په بدله كي وركول كيږي ځكه نو د دې نوم بيت الحمد يعني د حمد او ثناء كور دى .

ستونزمن ته ډاډ وركول

﴿۱۶۴۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ عَزَّى

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي يو ستونزمن ته ډاډ وركړ

مُصَابًا فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ " . رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي : هذا حديث غريب لا نعرفه مرفوعا إلا من حديث علي بن عاصم الراوي وقال : ورواه بعضهم عن محمد بن سوقة بهذا الإسناد موقوفا

نو هغه ته به د هغه سره سم ثواب رسيږي . ترمذي او ابن ماجه، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ دا حديث مرفوعا يوازي د علي بن عاصم څخه روايت دئ او ځينو د محمد بن سوقة څخه په دې اسناد و سره موقوفا روايت كړئ دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۳۸۵، رقم: ۱۰۷۳، وابن ماجه ۱\ ۵۱۱، رقم: ۱۶۰۲.

تشريح: مصيبت زده عام دی که څه هم څوک د مرګ په مصيبت کي اخته وي يا د دې څخه ماسيوا په بلي څه پيښي کي اخته وي او د هغه سره مخامخ وي په هر حال د حديث حاصل دادی که يو سړی چاته اطمينان او ډاډ ورکړي چي د خپل يوه قريب پر مرګ باندي يا يو مصيبت زده ته پر صبر کولو باندي حاصليږي هغه ته د صبر تلقين کوي او بيا هغه سړی صبر کوي نو ګويا دا سړی د مصيبت زړه د صبر باعث جوړيږي ځکه چي (الدال علي الخير کفاعله) يعني کوم سړی چي د ښې خبري لار ښويي هغه ته هم پر هغه لار د تلونکي په ډول ثواب حاصليږي هغه هم اجر او په سعادت سره نازول کيږي او س په دې اړه عمومیت دی که غواړي نو تسلي دي خپله مصيبت زده ته په رسيدو سره وکړي يا که پر دې باندي هم قدرت نه وي نو بيا د خط په ليکلو سره يا په په بله ذريعه سره اطمينان او سکون دي ورکړل سي د دواړو يو حکم دی مګر د مرفوع په حکم کي دی يا دا چي د ابن ماجه په دې روايت سره تقويت حاصليږي چي د هغه سند حسن او مرفوع دی.

ما من مسلم يعزی اخاه بمصيبة الا کساه الله من حلل الکرامة يوم القيامة.

ژباړه: کوم مسلمان چي د خپل يوه مسلمان ورور په مصيبت کي هغه ه صبر او تلقين وکړي الله تعالی به د قيامت په ورځ هغه ته د بزرګۍ فضيلت ورکوي.

﴿۱۶۴۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَرْزَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَزَّى ثَكْلٰى كُسِيَ بُرْدًا فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو برزة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي هغه ښځي ته ډاډ ورکړي د کومي چي زوی مړ سوئ وي، نو په جنت کي به غوره لباس ورواغوستل سي، ترمذي دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۳۸۷، رقم: ۱۰۷۶.

د مړي د کورنۍ لپاره مېلمستيا

﴿۱۶۴۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ لَمَّا جَاءَ نَعْيُ جَعْفَرٍ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ

د حضرت عبد الله بن جعفر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله د جعفر رضي الله عنه د مرګ خبر راغلئ نو نبي کريم ﷺ وفرمايل:

اصْنَعُوا لِأَهْلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا فَإِنَّهُ قَدْ جَاءَهُمْ مَا يَشْغَلُهُمْ . رواه الترمذي و ابو داؤد وابن ماجة.

د جعفر د کورنۍ لپاره ډوډۍ تیاره کړئ ځکه چې هغوی ته هغه مصیبت رسیدلئ دئ کوم چې هغوی د (ډوډۍ) ځخه بوخت کړي دي . ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجة

تخریج: سنن ابي داؤد ۳\ ۴۹۷، رقم: ۳۱۳۲، والترمذي ۳\ ۳۲۳، رقم: ۹۹۸، وابن ماجه: ۱\ ۵۱۴، رقم: ۱۶۱۰.

تشریح : دا حدیث پر دې دلالت کوي چې کله یو سړی مړ سي نو د هغه خپلوانو او همسایه ګانو ته د هغه د اهل او عیال لپاره پخه کړې ډوډۍ وراستول مستحب دي او ډوډۍ هم دومره وي چې د مړي کور والا یې یوه ورځ او یوه شپه په ماړه نس وخوري .

د مړي کور ته استونکې ډوډۍ نور خلک خوړلای سي که نه ؟

په دې اړه د علماؤ اختلافي اقوال دي چې ډوډۍ د مړي کورته د هغه د خپلوانو او همسایه ګانو د خوا ځخه راځي د مړي د کور والا ځخه ماسیوا نورو خلکو ته خوړل جائز دي که نه ځیني علماء خو د عدم جواز قائل دي کله چې ځیني حضرات مثلا د ابوالقاسم رحمة الله علیه قول دی چې د هغه سړي لپاره په خوړلو کي هیڅ تاوان نسته چې د مړي په کفن ورکولو او ښخولو کي مصروفه وي .

او علماء لیکي کله چې د یو مړي کورته ډوډۍ په پخولو سره وروا ستول سي نو پر دې وخت د دې خبري خیال ساتل پکار دی چې د مړي کور والا هم ډوډۍ خوري ځکه چې پر داسي غمناک ماحول کي خوراک څښاک ته څه خیال نه وي په خاصه توګه سره د مړي کور والا هم د غم په وجه د خوراک څښاک وغیره خواهش نه لري ځکه مناسب او بهتر دادی چې پر هغوی باندې ډوډۍ ضرور وخوړل سي چې د غم د ډېرښت او د ډوډۍ نه خوړلو په وجه په ضعف او کمزوري کې اخته نسي .

د نوحه ویونکو ښځو لپاره ډوډۍ تیارول چې خلک راټول سي او وې خوري بدعت او مکروه دی مګر په دې اړه د حضرت جابر رضی الله عنه ځخه دا قول نقل دی چې موږ دا نیاحت یعني د نوحه ویونکو یو ډول شمیرو نو د دې ارشاد ځخه خو د دې شي صریح حرام کیدل معلومیږي .

امام غزالي رحمة الله علیه فرمائي د دې مقصد لپاره د مړي د کورنۍ له خوا ځخه تیاره کړې ډوډۍ کي ګډیدل مکروه دي ملا علي قاري رحمة الله علیه فرمائي دا کراهت په هغه صورت

كي دى كله چي هغه ډوډى په هغه مال سره تياره سوې يي چي د يتيم وي يا د هغه سړي ملكيت وي چي موجود نه وي او د هغه د اجازې څخه پرته د هغه په مال كي تصرف وكړي او كه ډوډى د داسي مال څخه تياره سوې وي چي د يتيم يا بل غير موجود سړي ملكيت وي نو بيا د هغه په ډوډۍ كي گډون كول بېله كوم اختلافه حرام دى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

پر مړي باندي ويړ

﴿۱۶۴۸﴾: عَنِ الْمُغِيْرَةَ ابْنِ شُعْبَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ يُعَذَّبُ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ. متفق عليه

د حضرت مغيرة بن شعبة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يي: پر چا چي ويړ وكول سي نو د هغه ويړ له كبله به د قيامت په ورځ هغه ته عذاب وركړل سي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۶۰، رقم: ۱۲۹۱، ومسلم ۲\ ۶۴۳، رقم: ۲۸- ۹۳۲.

﴿۱۶۴۹﴾: وَعَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ

د حضرت عمرة بنت عبد الرحمن رحمها الله څخه روايت دئ چي هغې وويل: ما واورېدل

عَائِشَةَ وَذُكِرَ لَهَا أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ الْحَيِّ

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه او د هغې په مخكي دا يادونه وسول چي عبد الله بن عمر رضي الله عنه داسي وايي چي پر مړي باندي د ژوندو خلكو د ژړا له كبله عذاب وي،

فَقَالَتْ عَائِشَةُ يَغْفِرُ اللّٰهُ لِأَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَمَا إِنَّهُ لَمْ يَكْذِبْ وَلٰكِنَّهُ نَسِيَ أَوْ

نو هغې وفرمايل: الله ﷻ دي ابي عبد الرحمان و بخښي، هغه دروغ نه دي ويلي مګر هيره ځيني سوې يا

أَخْطَأَ إِنَّمَا مَرَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى يَهُودِيَّةٍ يُبْكَى عَلَيْهَا فَقَالَ

په بيان کي يې غلطي وکړه ، پښښه داده چي رسول الله ﷺ د يهودي ښځي پر قبر تيريدئ چي پر هغې ژړا کېده نو رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّهُمْ لَيَبْكُونَ عَلَيْهَا وَإِنَّهَا لَتُعَذَّبُ فِي قَبْرِهَا . متفق عليه

دا خلک پر دې ژاړي او پر هغې عذاب کيږي په قبر کي . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۵۲، رقم: ۱۲۸۹، ومسلم ۲\ ۶۴۳، رقم: ۲۷- ۹۳۲.

تشريح : الله تعالى دي يې وبخښي ، دا جمله په عربو کي پر داسي وخت باندي استعمال کيده کله چي يو سړي به په خپلي خبري يا په يو بحث کي خطا وکړه، د بي بي عائشې رضي الله عنها د ارشاد مقصد دادی چي عبدالله بن عمر رضي الله عنه په دې وخت کي د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه چي کومه نتيجه اخستې ده هغه صحيح نه ده ځکه چي د رسول الله ﷺ ارشاد چي د هغه خپلوان ژاړي او هغه په خپل قبر کي دننه په عذاب کي اخته ده د دې مطلب يوازي دا وو چي دا خلک څومره ناپوه او نادان دي چي هغه بدبخته ښځه خو په خپل قبر کي دننه د الله تعالى په عذاب کي اخته او خوار وزار ده څرنګه چي د کافرانو حال وي نو دا خلک هغه مرحومه ګڼي او د هغه سره د محبت او تعلق اظهار کوي نو رسول الله ﷺ دا خبره په خاصه توګه سره د هغه يهودي ښځي په باره کي فرمايلې ده همداسي د نورو کافرانو په باره کي به هم دا صورت حال وي چي د هغوی عزيزان او قريبان هم مرحوم په ګڼلو سره او د هغوی سره د خپل تعلق او محبت په اظهار کولو سره ژاړي بيا دا چي رسول الله ﷺ خو دا هم نه وه فرمايلي چي هغه د هغوی د ژړا په وجه په عذاب کي اخته ده .

که څه هم د بي بي عائشې رضي الله عنها د اعتراض حاصل دا سو چي رسول الله ﷺ خو د هغې ښځي د کفر په وجه فرمايلي وه چي هغه د خپل کفر په وجه په عذاب کي اخته ده او عبدالله بن عمر رضي الله عنه دا وګڼه چي رسول الله ﷺ بطور کليه دا ارشاد وفرمايله چي مړی د ژوندو د ژړا په وجه په عذاب کي اخته کيږي .

دا خو د دې روايت وضاحت سو تر څو پوري چي د نفس مسئلې تعلق دی علماء ليکي په دې اړه د بي بي عائشې رضي الله عنها دا اعتراض هم د هغه لپاره پر خپل اجتهاد مبني دی ځکه چي د بي بي عائشې رضي الله عنها دا اعتراض هغه وخت صحيح کيدای سي کله چي د رسول الله ﷺ دا ارشاد په بيلو بيلو الفاظو سره او د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه او د نورو صحابوو څخه نقل دی، نو د بي بي عائشې رضي الله عنها دا فرمايل چي دا ارشاد پر هغه خاص وخت باندي

او يوازي د هغي يهودي ښځي په باره کي وو په هيڅ پوهه کي نه راځي په هر حال د دې مسئلې نور وضاحت د راتلونکي حديث په تشريح کي کتلای سئ .

﴿۱۶۵۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ تُوُفِّيَتْ ابْنَةٌ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ

د حضرت عبيد الله بن ابي مليکة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د عثمان بن عفان رضي الله عنه لور مړه سوه

بِمَكَّةَ فَجِئْنَا لِنَشْهَدَهَا وَحَضَرَهَا ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ عَبَّاسٍ فَإِنِّي لَجَالِسٌ بَيْنَهُمَا

په مکه کي، مور د هغې په جنازه او ښخولو کي ګډون وکړ، ابن عمر رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه هم ګډون وکړ، زه د دوی دواړو په منځ کي ناست وم

فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ لِعَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ وَهُوَ مُوَاجِهُهُ أَلَا تَنْهَى عَنِ الْبُكَاءِ

عبد الله بن عمر رضي الله عنه، عمرو بن عثمان رضي الله عنه ته چې د هغه مخته ناست وو وويل : تاسو خپل قريبان ولي د ژړا څخه نه منعه کوئ

فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ فَقَالَ ابْنُ

ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې مړي ته د هغه د کورنۍ په ژړا عذاب ورکول کيږي . (د دې په اوريدو سره) ابن عباس رضي الله عنه وويل :

عَبَّاسٍ قَدْ كَانَ عُمَرُ يَقُولُ بَعْضَ ذَلِكَ ثُمَّ حَدَّثَ فَقَالَ صَدَرْتُ مَعَ عُمَرَ مِنْ

حضرت عمر رضي الله عنه داسي څه ويلي دي (يعني په عامه توګه سره به يې د ژړا څخه منعه نه کولای بلکه په چغو چغو ژړا به يې منعه کولای) د دې وروسته ابن عباس رضي الله عنه دا پېښه بيان کړل چې زه يو وار د حضرت عمر رضي الله عنه سره

مَكَّةَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ إِذَا هُوَ بِرَكْبٍ تَحْتَ ظِلِّ سمرة فَقَالَ اذْهَبْ فَانْظُرْ

د مکې څخه راستون سوم کله چې مور بيداء نامي ځای ته راورسيدو نو حضرت عمر رضي الله عنه يوه قافله وليدل چې د کيکر تر يوې درختي لاندې تم وه ، عمر رضي الله عنه ما ته وفرمايل : ورسه او وګوره

مَنْ هَؤُلَاءِ الرَّكْبُ فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ صُهَيْبٌ قَالَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ادْعُهُ فَرَجَعْتُ

چې په دې قافلې کې کوم خلک دي ، زه ورغلم نو وه مې ليدل چې په هغوی کې حضرت صهيب رضي الله عنه وو ، ما حضرت عمر رضي الله عنه ددې څخه خبردار کړ ، هغه وويل : هغه راوغواړه، زه ورغلم

إِلَى صُهَيْبٍ فَقُلْتُ ارْتَحِلْ فَالْحَقْ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ فَلَمَّا أَنْ أُصِيبَ عُمَرُ دَخَلَ

هغه ته مې وويل د امير المؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه ملاقات ته راسه، ددې وروسته په مدينه کې حضرت عمر رضي الله عنه ژوبل سو

صُهَيْبٌ يَبْكِي يَقُولُ وَا أَخَاهُ وَا صَاحِبَاهُ فَقَالَ عُمَرُ يَا صُهَيْبُ أَتَبْكِي عَلَيَّ وَقَدْ

نو صهيب رضي الله عنه ژړل او په دې ويلو سره د هغه په خدمت کې حاضر سو چې هاى زما وروره ! هاى زما اکا ، د دې په اوريدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل : اې صهيبه ! ايا پر ما ژاړې؟ حال دا چې

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبَعْضِ بُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ

رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې مړي ته د هغه د ځينو قريبانو د ژړا له کبله عذاب ورکول کيږي ، ددې پېښې بيانولو وروسته ابن عباس رضي الله عنه وويل :

فَلَمَّا مَاتَ عُمَرُ ذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَائِشَةَ فَقَالَتْ يَرْحَمُ اللَّهُ عُمَرَ لَا وَاللَّهِ مَا حَدَّثَ

د حضرت عمر رضي الله عنه د وفات وروسته بي بي عائشې رضي الله عنها ته ما ددې پېښې يادونه وکړه نو هغې وويل : الله جل جلاله دي پر عمر رضي الله عنه رحم وکړي په الله دي مې قسم وي ! د رسول الله ﷺ حديث دا نه دئ

رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِنَّ اللَّهَ يُعَذِّبُ الْمُؤْمِنَ بِبُكَاءِ أَحَدٍ وَلَكِنْ قَالَ إِنَّ اللَّهَ يَزِيدُ

چې مړي ته د هغه د قريبانو د ژړا له کبله عذاب ورکول کيږي بلکه حديث دا دئ چې الله جل جلاله

الْكَافِرَ عَذَابًا بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ قَالَ وَقَالَتْ عَائِشَةُ حَسْبُكُمُ الْقُرْآنُ { وَلَا

پر کافر مړي باندې د ژړا له کبله د هغه عذاب زياتوي ، ددې وروسته حضرت عائشې رضي الله عنها وفرمايل : (ددې په ثبوت کې) ستالپاره د قرآن مجيد دا ارشاد بس دئ : (ولا

تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى } قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عِنْدَ ذَلِكَ وَاللَّهُ أَضْحَكَ وَأَبْكَى، قَالَ

تزر وازرة وزر اخرى) : او هيڅوک به د بل چا بوج نه پورته کوي، ابن عباس رضي الله عنه وويل : دې ته

نژدې نژدې ددې آيت مفهوم دا هم دئ چې : (وانه هو اضحک وابکی) : او هم الله ﷻ څوک خندوي او هم يې ژړوي،

ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ فَوَاللَّهِ مَا قَالَ ابْنُ عُمَرَ شَيْئًا . متفق عليه

ابن ابي ملكيه وايي ددې تولې پېښې د اوريدو وروسته حضرت ابن عمر رضي الله عنه هم هيڅ ونه ويل . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۱۸۰- ۱۸۱، رقم: ۱۲۸٦- ۱۲۸۷- ۱۲۸۸، ومسلم ۲\ ٦٤١- ٦٤٢، رقم: ۲۳- ۹۲۷، ۹۲۸، ۹۲۹.

تشريح : درويشتم هجري كال د ذي الحجې د مياشتي شپږويشتم تاريخ او د چارشنبې ورځ وه د سهار د لمانځه وخت حضرت عمر رضي الله عنه مسجد نبوي ته د لمانځه ورکولو لپاره ولاړې حاضرينو صفونه وترل حضرت د مسجد په محراب کي ودريدی اوس يې لا لمونځ نه وو شروع کړی چې د مغيره ابن شعبه غلام ابولؤلؤ لعين هم تر شا ناست وو په دوو خنجرو يې پر حضرت عمر رضي الله عنه باندې حمله وکړه، د خنجر په اړخ کي ولګيدی د ځينو خلکو وينا ده چې لعين شپږ ځايه وواهه، حضرت عمر رضي الله عنه راولوېدی چې کله يې کور ته راوړی په ټوله مدينه کي دا خبر د برېښنا په ډول خپور سو، خلګ په ډلو ډلو حاضرېدل پېل سول چې په هغوی کي حضرت صهيب رضي الله عنه هم وو، هغه چې حضرت عمر رضي الله عنه په وينو رنګ وليدی نو بې اختياره په ژړا سو او دا يې وفرمايلې: اې زما وروره! اې زمابادارہ!، حضرت ابن عباس رضي الله عنه په دې پېښې سره دې ته اشاره کوي، په هر حال د حضرت صهيب رضي الله عنه دا ژړا او وينا نوحه ګڼل نه دي پکار ځکه چې نوحه هغه وي چې په لوړ اواز سره د جاهليت د زمانې په شان وي، او دلته د هغه څخه هيڅ شی نه تر لاسه کيږي مګر حضرت عمر رضي الله عنه د دې څخه هم صهيب رضي الله عنه احتياطا منعه کړ چې د غم د اظهار دا مباح طريقه چيرې د حد څخه تجاوز په کولو سره داسې مرحلې ته نه ورسيږي چې شريعت د هغه څخه منعه کوي .

بي بي عائشې رضي الله عنها چې قسم په کولو سره د حديث نفي وکړه نو هلته په حقيقت کي د هغې مراد د حديث نفي نه ده مګر د هغه نتيجه نفي ده چې حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د حديث څخه اخذ کړې وه کنې تر څو پورې چې د نفس حديث تعلق دی د دې د صحيح کيدو هيڅ شک او شبهه نسته اختلاف يوازې د حديث په متعين کولو کي دی حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت عبدالله خو د دې حديث څخه دا نتيجه اخلي چې د مړي د عذاب تعلق د هغه د کور ووالا په ژړا

سره دی یعني که د مړي کور والا پر مړي ژاړي نو هغه په عذاب کي اخته کیږي که څه هم مړی مومن وي یا کافر وي بي بي عائشه رضي الله عنها فرمائي د رسول الله ﷺ دا ارشاد د کافر په حق کي دی او هغه په هر صورت کي په عذاب کي اخته وي که څه هم د هغه کور والا پر هغه ژاړي که نه ژاړي هو دومره خبره ضرور ده چي د کور والا د ژړا په وجه د کافر سړي په عذاب کي زیاتي کیږي او هغه هم په دې وجه کافر په ژړا سره خوشحاله او راضي کیږي تر دې چي ځینې کافرانو به د مرګ پر وخت دا وصیت کوی چي کله هغه مړ سي نو پر هغه دي وژړل سي او نوحه دي پر وکړل سي.

بي بي عائشه رضي الله عنها خپل مذهب چي د مړي د کورو والا لپاره د عذاب سبب نه جوړیږي پر دې باندي د آیت کریمه استدلال کوي چي (ولا تزر وازرة وزر اخری) یعني د یوه سړي ګناه د بل په اعمال نه کي نه لیکل کیږي او څرګنده ده چي هر کله یو سړی د دوهم سړي د ګناه ذمه دار نه دی نو پر هغه د هغه سړي ګناه د سزا په حکم کي نسي کیدای که د مړي کور والا ژړا یا نوحه کوي نو دا د هغه فعل دی د هغوی ګناه ده د مړي په عمل نامه کي ولي ولیکل سي او د هغوی د ګناه په وجه دي مړی ولي په عذاب کي اخته کړه سي د دې وروسته ابن عباس رضی الله عنهما هم په دې ویلو سره د حضرت عمر رضی الله عنه د مذهب نفي او د بي بي عائشې رضي الله عنها د قول تائید وکی چي د انسان ژړل ختندل او د هغه خوشحالي او غم د الله تعالی لخوا څخه دي هغه دا شیان پیدا کوي ځکه ژړا ته په عذاب کي څه دخل دی.

مګر د ابن عباس رضی الله عنه پر دې قول دا اعتراض وارد کیږي چي همداسي خو د بندګانو ټول اعمال الله تعالی پیدا کوي بنده خو یوازي هغه کوي چي پر هغه د ثواب او عذاب ترتیب وي، که څوک نیک عمل کوي نو هغه ته ثواب حاصلیږي او که څوک بد عمل کوي نو هغه ته عذاب ورکول کیږي، اوس خندا که یو سړی پر یو مسلمان ورور د زیاتي خوشحالی څخه خاندي نو هغه ثواب تر لاسه کوي او که یو سړی د خپل مسلمان ورور په لیدو سره د مسخرو او سپکاوي په نیت وخاندي نو ګناه کاره کیږي همداسي د غم او خوشحالي معامله ده ځینې خوشحالی او غمونه داسي دي چي پر هغه سزا او جزا ورکول کیږي ځکه د بي بي عائشې رضی الله عنها تائید او د حضرت عمر رضی الله عنه د مذهب په نفي کي د ابن عباس رضی الله عنه دا ویل چي الله تعالی خندوي هم او ژړوي هم، پوهونکي خبره نه ده هو د ابن عباس رضی الله عنه دا قول په دې قید سره خو صحیح دی چي خندل او ژړل بي اختیاره وي یعني که په خندا او ژړا کي اختیار داخل وي نو بیا به پر هغه د ثواب او عذاب ترتیب ضروري وي.

د حديث اخري جمله حضرت ابن عمر رضي الله عنه په دې اوريدو سره هيڅ نه وويل پر دې خبري دلالت نه کوي چې ابن عمر رضي الله عنه د دې قصې په اوريدو سره د ابن عباس رضي الله عنه دا خبره ومنل مګر هغه د چپتيا په اختيارولو سره بحث ختمول مناسب وګڼل ځرنګه چې د عاقل لپاره اشاره کافي ده.

پر مړي د ژړا منع

﴿۱۶۵۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا جَاءَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتْلُ ابْنِ حَارِثَةَ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چې کله د ابن حارثه ،

وَجَعْفَرٍ وَابْنِ رَوَاحَةَ جَلَسَ يُعْرَفُ فِيهِ الْحُزْنُ وَأَنَا أَنْظُرُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ تعني

جعفر او ابن رواحه د شهادت خبر رسول الله ﷺ ته راغلئ (چې په غزوه موته کې شهيدان سوي وه) نو رسول الله ﷺ په مسجد کې کښينستئ او پر مخ مبارک يې د غم ننبې ځرګندې وې او ما د دروازې د سريو څخه په کور کې دننه د رسول الله ﷺ حال ليدئ ،

شَقِّ الْبَابِ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ إِنَّ نِسَاءَ جَعْفَرٍ وَذَكَرَ بُكَاءَهُنَّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَنْهَاهُنَّ

يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض يې وکړ: د جعفر د کورنۍ ښځې داسې داسې کوي، يعني د هغوی د ژړا يادونه يې وکړه ، رسول الله ﷺ هغه ته حکم وکړ چې هغوی د ژړا څخه منعه کړئ ،

فَذَهَبَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ لَمْ يُطِعْنَهُ فَقَالَ انْهَهُنَّ فَأَتَاهُ الثَّالِثَةَ قَالَ وَاللهِ لَقَدْ

هغه سړی ورغلئ او دوهم وار حاضر سو او وه يې ويل هغوی نه منعه کيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل هغوی منعه کړه ، هغه ولاړئ بيا راغلئ او وه يې ويل : په الله دي مې قسم وي

غَلَبْنَنَا يَا رَسُولَ اللهِ فَزَعَمَتْ أَنَّهُ قَالَ فَاحْثُ فِي أَفْوَاهِهِنَّ التُّرَابَ فَقُلْتُ

اې د الله رسوله ! هغوی پر مونږ غالب راغلې يعني هغوی زمونږ د منعه کېدو څه پروا ونه کړل، بې بې عائشه رضي الله عنها وايي زما خيال دادئ چې د هغه په جواب کې رسول الله ﷺ دا وفرمايل چې د هغوی په خوله کې خاوري واچوه ، عائشه رضي الله عنها وايي چې ما په خپل زړه کې د هغه په اړه وويل :

أَرْغَمَ اللهُ أَنْفَكَ لَمْ تَفْعَلْ مَا أَمَرَكَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَلَمْ تَتْرُكْ رَسُولَ اللهِ

ﷺ مِنْ الْعَنَاءِ . متفق عليه

خداى دي ستا پزه په خاورو ولړي تا ته چې رسول الله ﷺ كوم حكم د كړئ نه خو تا په هغه عمل وكړلاى سو او نه دي رسول الله ﷺ پر كراره پرېښودئ د خفګان رسولو څخه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\ ۱۶، رقم: ۱۲۹۹، ومسلم ۲\ ۶۴۴، ۶۴۵، رقم: ۳۰- ۹۳۵.

د لغاتو حل: (العَناء): بفتح العين المهملة أي: تعب الخاطر من سماع ارتكابهن الكبائر أو الصغائر، وعدم انزجارهن بالزواجر (په عذابول).

تشريح: د هغوى په خوله كي خاوري واچوه په بنكاره داسي معلوميږي چي دا د دې خبري كنايه ده چي هغوى پر خپل حال ودريږي ځكه چي د سخت غم په وجه د ژړا او انګولا په حالت كي نصيحت پر هغوى اثر نه كوي.

د (ارغم الله) څخه تر اخيره پوري د بي بي عائشې رضي الله عنها د ارشاد مطلب دادى چي الله تعالى دي تا ذليل كړي ځكه چي تا رسول الله ﷺ ته تكليف ورسوى او هغوى ته د تكليف رسولو سبب جوړ سوې ځكه د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ ته ډير زيات غم ورسيدى چي بنځي په ګناه كبيره كي اخته دي او د منعه كولو سربېره د ژړا څخه لاس نه اخلي كه تاسو په سختي سره هغوى د دې فعل څخه منعه كوي نو رسول الله ﷺ ته به دومره سخت روحاني تكليف نه واى.

﴿۱۶۵۲﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ لَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ قُلْتُ غَرِيبٌ وَفِي أَرْضِ غُرْبَةٍ

د حضرت ام سلمه ﷺ څخه روايت دئ چي كله ابو مسلمه رضي الله عنه (يعني د هغې خاوند) مړ سو نو ما په زړه كي وويل: ابو سلمه په سفر كي د هيواد څخه د باندي مړ سوئ دئ

لَأَبْكِيَنَّهُ بُكَاءً يُتَحَدَّثُ عَنْهُ فَكُنْتُ قَدْ تَهَيَّأْتُ لِلْبُكَاءِ عَلَيْهِ إِذْ أَقْبَلَتْ امْرَأَةٌ

زه به پرده داسي ژاړم چي خلک به زما د ژړا يادونه كوي نو زه د ژړا په تياري كي بوخته وم چي يوه بنځه كورته راغله،

مِنْ الصَّعِيدِ تُرِيدُ أَنْ تُسْعِدَنِي فَاسْتَقْبَلَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

غالبا يې زما په غم كي د زما سره د ګډون اراده درلودل، ناڅاپه رسول الله ﷺ د هغې مخته ورغلئ

وَقَالَ أَتُرِيدِينَ أَنْ تُدْخِلِي الشَّيْطَانَ بَيْتًا أَخْرَجَهُ اللَّهُ مِنْهُ مَرَّتَيْنِ فَكَفَفْتُ عَنِ الْبُكَاءِ فَلَمْ أَبْكِ . رواه مسلم

او وه يې فرمايل : ايا ته دا اراده لرې چې په دې کور کې شيطان داخل کړې حال دا چې دوه واره الله ﷻ هغه ددې کور څخه ايستلى دئ . ام سلمه وايي : د رسول الله ﷺ ددې الفاظو زه د ژړا څخه منعه کړم او بيا ما ونه ژړل . مسلم .

تخريج : صحيح مسلم: ۲\ ۶۳۵، رقم: ۱۰- ۹۲۲.

د لغاتو حل : (تُسعدني): اى تريد ان تساعدني في البكاء وتعينني في النداء (په ژړا کې مرسته).

تشريح : زه د ژړا په تيارې کې مصروفه وم د دې مطلب دا دى چې ما د ژړا کولو اراده کوله او په دې وخت کې د ژړا لپاره چې د کومو شيانو ضرورت وو لکه توري جامې او داسې نور مې ترتيبول .

په ښکاره داسې معلوميږي چې بي بي ام سلمه رضي الله عنها ته تر هغه وخته پورې دا معلومه سوې نه وه چې نوحه کول حرام دي که هغې ته د دې حکم معلوم واى نو يقيني خبره ده چې هغې د دې خبرې تصور هم نه سو کولاى .

د کور څخه دوه واره د شيطان د تلو څخه دا مراد دي چې يو وار خو هغه وخت شيطان د کور څخه را وايستل سو کله چې ابوسلمه رضي الله عنه د کفر او شرک د توري جامې په کښلو سره د ايمان او اسلام نوراني جامه يې په تن کړه او په دوهم وار د کور څخه هغه وخت شيطان را وايستل سو کله چې ابوسلمه رضي الله عنه د ظلم او جهل څخه نجات پيدا کړ او د دې دنيا څخه په ايمان او اسلام رخصت سو .

دوير کولو څخه منع

﴿۱۶۵۳﴾ : وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ أُغْمِيَ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَوَاحَةَ فَجَعَلَتْ

د نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دئ کله چې پر عبدالله بن رواحه باندې بې هوښي راغلل

أُخْتُهُ عَمْرَةُ تَبْكِي وَا جَبَلَاهُ وَا كَذَا وَا كَذَا تُعَدِّدُ عَلَيْهِ فَقَالَ حِينَ أَفَاقَ مَا قُلْتِ

نو د هغه خور عمره ژړل او دا يې ويل چې اې زما غره ! افسوس او اې داسې سړيه (يعني د هغه ښېګڼې يې بيانولې) کله چې عبدالله په هوښ کې راغلى نو هغه خپل خور ته وويل : تا چې څه وويل هغه ما ته د

تعریض په دول وویل سول

شَيْئًا إِلَّا قِيلَ لِي آنْتَ كَذَلِكَ . زاد في رواية فلما مات لم تبك عليه . رواه البخاري

ایا ته داسي (غر) یې او په یوه روایت کي دا الفاظ زیات دي چي کله د عبدالله بن رواحه وفات سو نو د هغه خور پر هغه ونه ژړل. بخاري

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۵۱۶، رقم: ۴۲۶۷.

﴿۱۶۵۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ:

د حضرت ابو موسی رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي :

مَا مِنْ مَيِّتٍ يَمُوتُ فَيَقُومُ بَاكِيهِ فَيَقُولُ وَا جَبَلَاهُ وَا سَيِّدَاهُ أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ إِلَّا

هر کله چي یو مسلمان مړ کیږي او د هغه قریبان پر هغه ژاړي او دا وایي چي اې غره ! اې سرداره ! او داسي نور الفاظ...

وُكِّلَ بِهِ مَلَكَانِ يَلْهَزَانِهِ ويقولان أَهَكَذَا كُنْتَ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب حسن .

نو الله تعالی دوې ملائکي پر مړي باندي مامور ه کوي او هغوی یې په سوکانو وهي او ورته وایي ایا ته داسي وې . ترمذي . او ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب حسن دئ .

تخریج: سنن الترمذي ۳\۳۲۶، رقم: ۱۰۰۳.

تشریح : د مړي څخه حقیقي مړی او مرګ ته نژدې کس هم مراد اخستل کیدای سي پر مړي باندي د ژړا او په دې وجه د مړي په عذاب کي د اخته کیدو په باره کي څه خبري په تیرو صفحاتو کي بیان سوي دي ، دلته هم د دې مسئلې په باره کي پر څو نورو خبرو باندي هم پوهیدل پکار دي .

علامه سیوطي رحمة الله علیه په شرح الصدور کي دا حدیث (ان المیت لیعذب ببکاء اهله) یعني مړي ته د هغه د کور رواله د ژړا په وجه عذاب ورکول کیږي د نقل کولو وروسته ویلي دي چي په دې اړه اختلافي اقوال دي چي ایا مړي ته د هغه د کور والا د ژړا په وجه عذاب ورکول

کیږي او که څنګه، په دې اړه کي چي څومره مذهبونه دي هغه علامه موصوف داسي سلسله وار نقل کړي دي.

اول : دا حدیث د خپل ظاهري الفاظو او مفهوم مطابق مطلق دی یعني وصیت یا د کافر قید نسته مګر پر مړي په چغو چغو ژړل او د نوحه کولو په وجه مړی په عذاب کي اخته کیدل دي د حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت ابن عمر رضي الله عنه هم دا رائي ده.

دوهم : مړی د هغه د کور والا د ژړا په وجه په مطلقا عذاب کي نه اخته کیږي.

دریم : د عذاب تعلق د حالت سره دی یعني مړی هغه وخت په عذاب کي اخته کیږي کله چي د هغه کورنۍ پر هغه ژاړي او هغه عذاب د هغوی د ژړا په وجه نه مګر دومره د خپلو ګناهونو او خرابو اعمالو په وجه دي.

څلورم : دا حدیث په خاصه توګه سره د کافرانو په باره کي دي دا دواړه قولونه د بي بي عائشې رضي الله عنها دي.

پنځم : دا حدیث او دغه سزا په خاصه توګه د هغه سړي په باره کي ده چي د هغه په نزد د نوحه رسم او رواج وي د امام بخاري رحمة الله علیه دا مذهب دی.

شپږم : دا سزا د هغه سړي په باره کي ده چي د نوحه لپاره وصیت وکړي یعني کوم سړی چي خپلو وارثانو ته وائي نو هغه به د د کور والا د ژړا او نوحه په وجه په عذاب اخته کیږي ځکه چي دا د هغه فعل دی.

اووم : دا سزا د هغه سړي په باره کي ده چي د نوحه کولو وصیت نه وکړي کوم سړي چي د خپلي کورنۍ په باره کي دا خیال ولري چي هغوی به زما د مرګ وروسته ویر کوي نو هغه ته د نوحه نه کولو وصیت کول واجبیږي.

اتم : مړي ته د هغه د کورنۍ د ژړا په وجه هغه وخت عذاب ورکول کیږي کله چي هغوی د مړي هغه خبري په ژړا کي بیان کړي کومي چي په شرعي توګه سره خرابي او ډیر زیات د نفرت قابل وي څرنګه چي په د جاهلیت په زمانه کي به څوک مړ سو نو خلکو به په دې ویلو سره ژړل چي اې د ښځو کونډې کوونکې! اې د اولاد یتیم کوونکې، اې د کور خرابونکې.

نهم : د عذاب څخه مراد د اهل میت د پورتي طریقې په بیانولو سره د ژړا په وجه د ملائکو پر مړي غصه کیدل دي.

لسم : د مړي کورنۍ چي ساندي کوي نو مړی په خپل قبر کي دننه په عذاب کي اخته کیږي څینې حضرات فرمائي چي د عذاب څخه مراد دادی چي کله د مړي کور والا په غلطي طریقې

سره ژاړي او په دې اړه غير شرعي طريقه اختياروي نو په دې وجه مړي ته ډير سخت روحاني تکليف رسيږي څرنګه چې عالم برزخ ته د دنيا څخه څه روح راځي او هلته د مخکې څخه موجود روحونه د هغه څخه د خپلو عزيزانو او متعلقينو په باره کې پوښتنه کوي که يو روح ته د خپل متعلقينو په باره کې دا معلومه سي چې هغوی خراب اعمال او په ګناهونو کې اخته دي نو هغه روح ته په دې سره تکليف رسيږي او که هغه ته معلومه سي چې د هغه متعلقين د نيکي او خير پر لار روان دي نو هغه خوشحاله کيږي .

په هر حال د دې مسئلې د پوره بحث حاصل داسو که مړی د هغه ګناه خپله سبب وي يعني که هغه د مرګ مخکې دا وصيت وکړي چې پر ما دي ويړ وکړه سي يا په چغو چغو دي وژړل سي يا دا چې هغه وصيت خو ونه کړي خو په دې امور سره خوشحاله او راضي سي نو په دې صورت کې په حديث کې پورته عذاب به پر خپلې حقيقي معنی باندې محمول وي په دې توګه که پر مړي باندې د مړي کور والا سانديکوي نو هغه به په عذاب کې اخته کيږي او که دا صورت نه وي يعني نه خو مړي وصيت کړی وي او نه هغه دا خبرې خوښوي نو په دې شکل کې عذاب به پر خپلې حقيقي معنی باندې محمول نه وي مګر غم پورته کونکی به محمول وي که څه هم د غم کولو د زکندن په حالت کې وي يا د مرګ وروسته که کافر وي که مسلمان په دې باره کې تول برابر دي همداسي د آيت (ولا تزر وازرة وزر اخری) او هغه حديثونو په منځ کې چې په دې اړه مطلق نقل سوي دي مطابقت پيدا کوي .

د نوحې او چغو منع

﴿۱۶۵۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ مَاتَ مَيِّتٌ مِنْ آلِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ کله چې د رسول الله ﷺ په کورنۍ کې يو کس وفات سو (يعني بي بي زينب رضي الله عنها)

وَسَلَّمَ فَاجْتَمَعَ النِّسَاءُ يَبْكِينَ عَلَيْهِ فَقَامَ عُمَرُ يَنْهَاهُنَّ وَيَطْرُدُهُنَّ فَقَالَ

نو ښځې را ټولې سوې او ژړل يې، حضرت عمر رضي الله عنه ولاړ سو او هغوی يې د ژړا څخه منعه کړې او وه يې ترټلې ، ددې په ليدو سره

رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ دَعْهُنَّ يَا عُمَرُ فَإِنَّ الْعَيْنَ دَامِعَةٌ وَالْقَلْبَ مُصَابٌ وَالْعَهْدَ

قَرِيبٌ . رواه احمد والنسائي

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې عمره ! دوی پر خپل حال پريږده ځکه چې سترګې ژاړي او زړه مصيبت زده دئ او دمرګ وخت نژدې دئ . (يعني تازه وفات دئ) احمد او نسائي .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۴۴۴، والنسائي ۴\ ۱۹، رقم: ۱۸۵۸.

تشريح: په ښکاره خو دا معلوميږي چې په دغه وخت کې ښځې په کراره ژاړي چونګه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ددې احتياط په مراعت کولو سره چې داسې ونه سي چې ښځې نوحه ويل شروع کړي ، چونګه نوحه ويل د شريعت خلاف کار دی، دوی يې ددې کار څخه منعه کول غوښتل مګر نبي کريم ﷺ ، حضرت عمر رضي الله عنه ددې کار څخه منعه کړ او د دوی د عذر په بيانولو سره يې داسې اشاره وکړه چې په داسې دردناکه حالت کې ښځې د غم او تکليف د ښکاره کولو اجازه نه ورکول د احتياط تقاضا کيدای سي مګر دا د فطرت خلاف دی .

﴿۱۶۵۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَاتَتْ زَيْنَبُ ابْنَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې کله د رسول الله ﷺ لور بي بي زينب وفات سوه

وَسَلَّمَ فَبَكَتْ النِّسَاءُ فَجَعَلَ عُمَرُ يَضْرِبُهُنَّ بِسَوْطِهِ فَأَخَّرَهُ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ

نو ښځې په ژړا سوې ، حضرت عمر رضي الله عنه هغه ښځې په خپل کوړې (تازيانه) ووهلې ، رسول الله رضي الله عنه حضرت عمر په خپل لاس سره منعه کړ

بِيَدِهِ وَقَالَ مَهْلًا يَا عُمَرُ ثُمَّ قَالَ إِيَّاكُنَّ وَنَعِيقَ الشَّيْطَانِ ثُمَّ قَالَ إِنَّهُ مَهْمَا

او ورته وې فرمايل : اې عمره ! نرمي کوه ددې وروسته يې خپلو ښځو ته وفرمايل : خپل ځان د شيطان د آواز څخه ليرې وساتئ يعني په: چغو چغو ژړا څخه، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل

كَانَ مِنْ الْعَيْنِ وَالْقَلْبِ فَمِنْ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَمِنْ الرَّحْمَةِ وَمَا كَانَ مِنْ الْيَدِ وَاللِّسَانِ فَمِنْ الشَّيْطَانِ . رواه احمد

څه چې د سترګو څخه وي يعني اوښکې او څه چې د زړه څخه وي يعني غم دا د الله تعالى د لوري دي او د رحمت سبب دئ او څه چې د لاس او ژبې څخه وي يعني ځان وهل، جامې شکول،

ورښتنتان شکول، او په چغو چغو ویر او ماتم کول دا ټوله د شیطان د لوري وي. احمد.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۱\ ۳۳۵.

تشریح: د حدیث د اخري جزء مطلب دادی چي د غم د اظهار پر وخت چي کوم شیان د لاسونو څخه ظاهریږي لکه مخ وهل، جامې څېرل، وېښتان شکول یا هغه شیان چي په ژبه سره کیږي لکه چغي او ساندي کوي، ویر کول یا د ژبي څخه داسي الفاظ راکښل چي الله تعالی ته خوښ نه وي دا ټول شیان د شیطان د خوا څخه دي په دې توګه چي کله شیطان سړی غولوي نو دا شیان ځینې صادر کیږي او شیطان دا شیان خوښوي.

یوه واقعه

﴿۱۶۵۷﴾: وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيْقًا قَالَ لَمَّا مَاتَ الْحَسَنُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ

د امام بخاري رح څخه دا روایت تعلیقا روایت دئ چي کله حسن بن حسن بن علي رضي الله عنه وفات سو

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ ضَرَبَتْ امْرَأَتُهُ الْقُبَّةَ عَلَى قَبْرِهِ سَنَةً ثُمَّ رُفِعَتْ فَسَمِعُوا

نو د هغه ښځي د هغه پر قبر تریو کال پوري خیمه ودرول او بیا یې ایسته کړل بیا یې غیبي آواز واوریدئ چي ویل یې:

صَائِحًا يَقُوْلُ أَلَا هَلْ وَجَدُوا مَا فَقَدُوا فَأَجَابَهُ الْآخَرُ بَلْ يَئِسُوا فَانْقَلَبُوا.

څه چي ورک سوي وه ایا د خیمې په دریدو سره هغه بیرته ترلاسه سو؟ دوهم آواز راغلی: چي ناامیده سوه او خیمه یې وکښل.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۰۰،

تشریح: کوم وخت چي حسن بن علي رضي الله عنه وفات سو نو د هغه ښځي پر قبر یوه خیمه ودرول چي پوره کال هلته ولاړه وه او خپله هم تریوه کاله پوري هلته وه چي په دې خاطر د خپل خاوند د وفات غم، مصیبت او بېلوالي احساس هره ورځ د هغې په زړه کي تازه کیدی.

په څرګنده دا معلومیږي چي هغې د خپل خاوند پر قبر باندي خیمه د دې لپاره درولې وه چي د هغه دوستان او خپلوان د ایصال ثواب او د قرآن ویلو لپاره راسي او خلک د دعائې مغفرت لپاره راجمعه سي.

د ماتم او ویر کولو منعه

﴿۱۶۵۸﴾: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ وَأَبِي بَرْزَةَ قَالَا خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ

د حضرت عمران بن حصین او ابو برزة (رض) څخه روایت دئ چې موږ دواړو د رسول الله ﷺ سره په یو جنازه کې ګډون وکړ،

فِي جِنَازَةٍ فَرَأَى قَوْمًا قَدْ طَرَحُوا أَرْدِيَتَهُمْ يَمْشُونَ فِي قُمُصٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ

نو رسول الله ﷺ ځینې خلک ولیدل چې هغوی خپل څادرونه غورزولي وه، قمیصونه یې اغوستي... روان وه، رسول الله ﷺ د هغوی په لید و سره وفرمایل:

ﷺ أَبِفِعْلِ الْجَاهِلِيَّةِ تَأْخُذُونَ أَوْ بِصُنْعِ الْجَاهِلِيَّةِ تَشَبَّهُونَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ

ایا د جاهلیت په فعل عمل کوئ یا د جاهلیت د کارو ورته والی کوئ، ما اراده وکړه چې

أَدْعُوَ عَلَيْكُمْ دَعْوَةً تَرْجِعُونَ فِي غَيْرِ صُوَرِكُمْ قَالَ فَأَخَذُوا أَرْدِيَتَهُمْ وَلَمْ يَعُودُوا لِذَلِكَ. رواه ابن ماجه.

ستاسو لپاره دا بنیرا وکړم چې تاسو کورونو ته ستانه سئ نو په نورو شکلو کې را ستانه سئ، د راوي بیان دئ چې د رسول الله ﷺ د دې الفاظو په اوریدو سره خلکو خپل څادرونه پر سر کړل او بیا یې هیڅکله همداسې ونه کړل. ابن ماجه.

تخریج: سنن ابن ماجه ۱/۴۷۶، رقم: ۱۴۸۵.

تشریح: د دې حدیث څخه معلومه سوه چې په هغه زمانه کې دا رواج وو چې خلکو به د قمیصونو پورته پټوان اچول.

په هر حال د جاهلیت د زمانې یو رسم دا هم وو چې خلک به د جنازې سره تلل نو خپل پټوان به یې غورځول ګویا د دې څخه و خفګان ته اشاره کیږي.

علامه طیبي رحمة الله علیه فرمائي کله چې دومره لږ تغیر یعني د پټو په ایستلو باندې رسول الله ﷺ دومره سخته تنبیه او سزا وفرمایله نو د هغه خلکو به څه حشر وي چې تر دې زیات دیر لوی رواجونه یې اختیار کړی وي.

دوير كونكو بښځو د جنازې څخه منع

﴿۱۶۵۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُتْبَعَ جِنَازَةٌ مَعَهَا رَانَّةٌ. رواه احمد وابن ماجة .

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د هغه جنازې سره د تلو څخه منعه فرمايلې ده چې د كوم سره ويركونكي بښځه وي . احمد او ابن ماجه

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۹۲، وابن ماجه ۱\ ۵۰۴، رقم: ۱۵۸۳.

تشريح : كه څه هم د جنازې سره تلل سنت دي مګر د دې بدفعل د موجودګي په وجه دا سنت پريښول پكار دى همداسي د شرعي خلاف شي په موجودتيا كي د جنازې سره تلل نه دي پكار.
دا حديث د دې مسئلې بنياد دى چې په كوم مجلس كي د شرعي خلاف كارونه كيږي هلته تلل نه دي پكار كه څه هم دعوت قبلول سنت دى مګر پر داسي وخت باندي د غير خبرو او افعالو په وجه پر دې سنت عمل نه كول بهتر او اولى دي.

كوچني به مور او پلار جنت ته بوځي

﴿۱۶۶۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَجُلاً قَالَ لَهُ مَاتَ ابْنٌ لِيْ فَوَجَدْتُ عَلَيْهِ هَلْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې يو سړي هغه ته وويل : زما كوچني زوى مړ سوئ دي زه په هغه ډير غمجن يم ايا

سَمِعْتَ مِنْ خَلِيْلِكَ صَلَوَاتُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَسَلاَمُهُ شَيْئًا يَطِيْبُ بِأَنْفُسَنَا عَنْ

تا د خپل دوست (نبي كريم ﷺ) څخه يوه داسي خبره زموږ د ماشومانو په اړه اوريدلې ده چې زموږ زړونه په خوشحاله سي ؟

مَوْتَانَا قَالَ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُهُ ﷺ صِغَارُهُمْ دَعَامِيصُ الْجَنَّةِ يَلْقَى أَحَدُهُمْ

ابو هريرة رضي الله عنه وايي د دې په جواب كي ما ورته وويل : هو، ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چې د مسلمانانو ماشومان به په جنت كي داسي وي لكه د درياب حيوانان،

أَبَاهُ فَيَأْخُذُ بِثَوْبِهِ فَلاَ يُفَارِقُهُ حَتَّى يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ . رواه مسلم و احمد واللفظ له

په دوی کي چي څوک د خپل پلار سره یو ځای کیږي نو د هغه لمن به نیسي او تر هغو پوري به یې نه پریږدي تر څو پوري چي جنت ته یې داخل نه کړي . مسلم او احمد .

تخریج: صحیح مسلم ۴\۲۰۲۹، رقم: ۱۵۴- ۲۶۳۵، والامام احمد في مسنده ۲\۴۸۸ و ۵۱۰.

د لغاتو حل: (دعامیص): جمع دعموص، وهو الدخال في الامور ای انهم سیاحون في الجنة، دخالون في منازلها لایمنعون من موضع.

تشریح: عامیص د دعموص جمع ده د عموص د اوبو یو کوچنی تور حیوان دی چي په عامه توګه سره په تالابونو کي چي کله اوبه کمي سي څرګنده کیږي او دا حیوانان په همېشه اوبو کي نه اوسي مګر په اوبو کي غوټه خوري او وروسته دباندي راوځي دې حیوان ته په ځینو ځایو کي جولاها هم وائي .

عموص هغه سړي ته وائي چي د باچایانو او امیرانو په معاملاتو کي ډیر زیات د خیل وي او د هغوی پر فکر او پر عمل باندي تر ډیره حده پوري اثر اچوي .

په هر حال د وفات سوو ماشومانو په جنت کي په عموص سره په دې معنی تشبیه ورکړه سوې ده چي دا ماشومان په جنت کي سیل کوي او ګرځي څرنګه چي په دنیا کي د کوچني بچیانو څخه پرده نه کیږي او یو کورته د تلو څخه نه منعه کیږي او همداسي کوچنیان هم په جنت کي چیري چي غواړي هلته تللای سي ، پر دوی باندي هیڅ پابندي نسته.

په دې حدیث کي په خاصه توګه د پلار ذکر سوی دی د دې وجه داده چي په دې وخت کي به یوازي د پلار په باره کي خبره چلیده ځکه چي د هغه پر ذکر اکتفاء وکړه سي کنې تر څو پوري چي د دې مسئلې تعلق دی هغه دا چي څرنګه کوچني بچي خپل پلار جنت بیایي همداسي خپله مور هم په جنت کي داخلوي څرنګه چي په ځینې حدیثونو کي د مور او پلار دواړو ذکر سوی دی .

د اولاد د مړ کېدو اجر

﴿۱۶۶۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه څخه روایت دئ چي یوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض یې وکړ : ای د الله رسوله !

اللّٰهِ ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيثِكَ فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ يَوْمًا نَأْتِيكَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا

نارینوو ستاسو د حدیثو څخه ګټه تر لاسه کړه تاسو زموږ لپاره یوه ورځ و ټاکئ چي موږ ستاسو

په خدمت کې حاضر سو او تاسو مو ورته هغه خبري وښياست

عَلَّمَكَ اللَّهُ فَقَالَ اجْتَمِعْنَ فِي يَوْمِ كَذَا وَكَذَا فِي مَكَانِ كَذَا وَكَذَا فَاجْتَمَعْنَ فَأَتَاهُنَّ

کومې چې الله تعالى تاسو ته ښودلي دي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ښه دئ، تاسو په فلانۍ ورځ په فلاني وخت په فلاني ځای کې يو ځای سئ نو هغه ښځې پر هغه وخت راغلې

رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللَّهُ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا

رسول الله ﷺ تشريف راوړئ او هغوى ته يې هغه خبري وښودلې کومې چې الله تعالى رسول الله ﷺ ته ښودلي وې ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کې چې چا درې ماشومان مخکې ليږلي وي (يعني وفات سوي وي)

مِنْ وَلَدِهَا ثَلَاثَةً إِلَّا كَانَ لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ فَقَالَتْ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوْ

نو هغه به ورته د اور پرده وي (يعني هغه به مو دوزخ ته نه پريږدي) په هغوى کې يوې ښځې وويل اې د الله رسوله ! که چيرې

اثْنَيْنِ فَأَعَادَتْهَا مَرَّتَيْنِ ثُمَّ قَالَ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ . رواه البخاري .

چا دوه ماشومان ليږلي وي ، دوه واره هغې دا الفاظ وويل ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوو هم دغه ثواب دئ . بخاري .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱ ۱۹۵، رقم: ۱۰۱.

﴿۱۶۶۲﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

مِنْ مُسْلِمَيْنِ يُتَوَفَّى لَهُمَا ثَلَاثَةٌ إِلَّا أَدْخَلَهُمَا اللَّهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمَا

د کوم مسلمان (يعني ښځې او سړي) چې درې ماشومان وفات سي الله ﷻ به هغه په جنت کې داخل کړي ،

فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوْ اثْنَانِ قَالَ أَوْ اثْنَانِ قَالُوا أَوْ وَاحِدٌ قَالَ أَوْ وَاحِدٌ ثُمَّ

صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! که دوه ماشومان يې وفات سوي وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د دوو هم د غه ثواب دئ ، صحابه کرامو بيا پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! او د يوه څه حکم دئ ؟

قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ السِّقْطَ لَيَجُرُّ أُمَّهُ بِسَرَرِهِ إِلَى الْجَنَّةِ إِذَا احْتَسَبَتْهُ . رواه احمد و روي ابن ماجة من قوله والذي نفسي بيده

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د يوه هم د غه حکم دئ ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل په هغه ذات دي مي قسم وي چې د هغه په واک کي زما روح دی چې اوم کوچنی چې ساقط سي خپله مور به د نامه په ذريعه جنت ته بيايي ، په دې شرط چې د هغه مور صبر کړی وي او د ثواب غوښتونکې سوې وي . احمد ، ابن ماجه ، .

تخريج : الامام احمد في مسنده ۵\ ۲۴۱، وابن ماجه ۱\ ۵۱۳، رقم: ۱۶۰۹.

د لغاتو حل : (بسرره): السرر هو ما تقطعه القابلة من السرة. (هغه نُو چې تر زېږون وروسته پرې کيږي).

تشريح : انول نال هغه کولمې ته وائي چې د پيدا کيدو پر وخت د کوچني د نُو سره موښتې وي . ارشاد (ليجر امه بسرره) کې د آنونال څخه کوچنی او د هغه د مور په منځ کې تعلق او علاقې ته اشاره ده ، گويا آنول نال به د رسی په ډول سي چې د هغه په ذريعه به هغه بچی خپله مور او پلار د جنت خوا ته راکشوي ، په دې کې دې ته اشاره ده چې د هغه بچي د مړ کيدو دومره زيات ثواب دی چې اوس لا نيمگړي وه او د مور سره يې هم څه تعلق پيدا سوی نه وو نو د هغه بچي په مرګ به مورته څومره ډېر ثواب ترلاسه کيږي .

﴿۱۶۶۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَنْ قَدَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چې مخکې ليږلي وي (يعني مړه سوي وي)

ثَلَاثَةً مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحنث كَانُوا لَهُ حِصْنًا حَصِينًا مِنَ النَّارِ قَالَ أَبُو

خپل درې نابالغ ماشومان نو هغه ماشومان به د هغه لپاره د دوزخ د اور څخه تينګه پناه وي ، ابوذر وويل :

ذَرٍّ قَدَّمْتُ اثْنَيْنِ قَالَ وَاثْنَيْنِ فَقَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ سَيِّدُ الْقُرَّاءِ قَدَّمْتُ وَاحِدًا قَالَ وَوَاحِدًا . رواه الترمذي وابن ماجة و قال الترمذي هذا حديث غريب

ما دوه ماشومان مخكي ليږلي دي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د دوو حكم هم دغه دئ ، ابو كعب چې د قاريانو سردار دئ وويل چې ما يو كوچني مخكي ليږلئ دئ (يعني يو اولاد مې مړ سوئ دئ) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د يوه هم دغه حكم دئ ، ترمذي او ابن ماجه، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

تخريج : سنن الترمذي ۳\ ۳۷۵، رقم: ۱۰۶۱، وابن ماجه ۱\ ۵۱۲، رقم: ۱۶۰۶.

﴿۱۶۶۴﴾: وَعَنْ قُرَّةَ الْمُزَنِيِّ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْتِي النَّبِيَّ ﷺ وَمَعَهُ ابْنٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ

د حضرت قرة بن مزني رضي الله عنه څخه روايت دئ چې يو سړی به د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضريدئ او د هغه سره به د هغه زوئ هم وو ، يوه ورځ د هغه څخه

النَّبِيُّ ﷺ أَتُحِبُّهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَحَبَّكَ اللَّهُ كَمَا أُحِبُّهُ فَفَقَدَهُ النَّبِيُّ ﷺ

رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه چې ستا دد ې زوئ سره ډيره مينه ده ؟ هغه عرض وكړ اې د الله رسوله ! ستا سره دي الله ﷻ داسي مينه وكړي لكه څرنګه چې زه د د ې زوئ سره مينه كوم ، يو وار هغه سړی راغلئ او هغه زوئ ورسره نه وو ،

فَقَالَ لِي مَا فَعَلَ ابْنُ فُلَانٍ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَاتَ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لِأَبِيهِ

رسول الله ﷺ د صحابه كرامو څخه پوښتنه وكړه د فلاني سړي زوئ څه سو ؟ صحابه كرامو عرض وكړ اې د الله رسوله ! هغه مړ سوئ دئ ، رسول الله ﷺ د هغه پلار ته وفرمايل :

أَمَا تُحِبُّ أَنْ لَا تَأْتِيَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ إِلَّا وَجَدْتَهُ يَنْتَظِرُكَ فَقَالَ الرَّجُلُ

ايا ته دا خوښوې چې ته د جنت دروازې ته ورسې او هلته خپل زوئ انتظار كونكی ووينې ؟ (يعني دا چې ستا زوئ تا جنت ته بوزي) يو بل سړي چې دا واوريدل نو عرض يې وكړ :

يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَهُ خَاصَّةً أَمْ لِكُلِّنَا قَالَ بَلْ لِكُلِّكُمْ . رواه احمد

اې دالله رسوله ! دا زيرى يوازي ددې سړي لپاره دئ او كه زمونږ ټولو لپاره ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ستاسو ټولو لپاره دئ ، احمد

تخريج : الامام احمد في مسنده ۵\ ۳۵.

مړ كوچني مور اوپلار جنت ته بيايي

﴿۱۶۶۵﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ السِّقْطَ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چې

لَيُرَاغِمُ رَبَّهُ إِذَا أَدْخَلَ أَبَوَيْهِ النَّارَ فَيُقَالُ أَيُّهَا السِّقْطُ الْمُرَاغِمُ رَبَّهُ أَدْخِلْ

د اومه كوچني د مور او پلار الله تعالى دوږخ ته ددا خلولو اراده وكړي نو هغه د الله تعالى سره جګړه كوي هغه ته به وويل سي اې جګړه كوونكې اوم ماشومه ! ته داخله كړه

أَبَوَيْكَ الْجَنَّةَ فَيَجُرُّهُمَا بِسَرَرِهِ حَتَّى يُدْخِلَهُمَا الْجَنَّةَ. رواه ابن ماجة .

خپل مور او پلار جنت ته ، نو هغه كوچني به خپل مور اوپلار د نامه څخه راكاږي او هغوى به جنت ته بيايي . ابن ماجه

تخريج : سنن ابن ماجه ۱\ ۵۱۳، رقم: ۱۶۰۸.

د لغاتو حل : (يُراغم): يجادل ويخاصم (شخړه كوي).

پر مصيبت باندي د صبر اجر

﴿۱۶۶۶﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ اللَّهُ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي :

سُبْحَانَهُ ابْنَ آدَمَ إِنْ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى لَمْ أَرْضَ لَكَ ثَوَابًا دُونَ الْجَنَّةِ. رواه ابن ماجة .

اې انسانه ! كه ته پرلومړى صدمه صبر وكړې او د الله څخه د ثواب غوښتونكئ سې نو زه به ستا لپاره تر جنت په كم ثواب راضي نه سم . ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\ ۵۰۹، رقم: ۱۵۹۷.

انا لله وانا اليه راجعون ويل

﴿۱۶۶۷﴾: وَعَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ

د حضرت حسين بن علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم مسلمان

مُسْلِمٍ وَلَا مُسْلِمَةٍ يُصَابُ بِمُصِيبَةٍ فَيَذْكُرُهَا وَإِنْ طَالَ عَهْدُهَا قَالَ عَبَّادٌ

سړي يا ښځي ته چې يو ستونزه ورسيږي او هغه هغه ستونزه په ياد کړي که څه هم هر څومره زيات وخت تير سوئ وي او هر کله چې ورپه ياد سي

قَدُمَ عَهْدُهَا فَيُحْدِثُ لِذَلِكَ اسْتِرْجَاعًا إِلَّا جَدَّدَ اللَّهُ لَهُ عِنْدَ ذَلِكَ فَأَعْطَاهُ مِثْلَ أَجْرِهَا يَوْمَ أُصِيبَ بِهَا . رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان .

او هغه وخت انا لله وانا اليه راجعون ووايي نو الله تعالى هغه ته هغه ثواب ورکوي کوم ثواب چې د مصيبت په ورځ ورکول کېدئ . احمد او بيهقي

تخريج: الامام احمد في مسنده ۱\ ۲۰۱، والبيهقي في شعب الايمان ۷\ ۱۱۷- ۱۱۸، رقم: ۹۶۹۵.

﴿۱۶۶۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ أَحَدِكُمْ فَلْيَسْتَرْجِعْ فَإِنَّهُ مِنَ الْمَصَائِبِ " . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کې چې د يو چا د څپليو تسمه وشکيږي نو هغه ته هم پکار دي چې انا لله وانا اليه راجعون ووايي ځکه چې دا هم يو ستونزه ده .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۷\ ۱۱۷، رقم: ۹۶۹۳.

د لغاتو حل: (شِسع): احد سبور النعل وهو الذي يدخل بين الاصبعين ويدخل طرفه في الثقب الذي في صدر النعل. (تسمي) .

تشريح: د څپلي د تسمې د پرې کېدو څخه معمولي مصيبت او تکليف مراد دی د هغه

حاصل دادی چي که د يو معمولي درجې مصيبت او تکليف هم ورسيږي نو (انا لله) ويل پکار دي لکه په يوه روايت کي چي نقل دي يو وار نا څاپه يو څراغ مړ سو نو رسول الله ﷺ دغه آيت کريمه (انا لله) ووايه.

پر نعمت باندي شکر او زحمت باندي صبر

﴿۱۶۶۹﴾: وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ

د حضرت ام درداء رضي الله عنها څخه روايت دئ چي ما د ابو درداء رضي الله عنه څخه اوريدلي دي چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

ﷺ يَقُوْلُ إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى قَالَ: يَا عِيْسٰى إِنِّيْ بَاعِثٌ مِّنْ بَعْدِكَ أُمَّةً إِذَا

چي فرمايل يې: الله تعالى حضرت عيسى عليه السلام ته وفرمايل: اې عيسى! زه ستا وروسته يو داسي قوم پيدا کوم چې هغوته يو داسي شى ترلاسه سي چې هغه خوښوي

أَصَابَهُمْ مَا يُحِبُّوْنَ حَمِدُوا اللهَ وَإِنْ أَصَابَهُمْ مَا يَكْرَهُوْنَ احْتَسَبُوْا وَصَبَرُوْا

نو هغوى به د الله شکر ادا کړي او هرکله چې يو داشى ورته پېښ سي چې هغه نه خوښوي نو پر هغه صبر کوي

وَلَا حِلْمَ وَلَا عَقْلَ. فَقَالَ: يَا رَبِّ كَيْفَ يَكُوْنُ هٰذَا لَهُمْ وَلَا حِلْمَ وَلَا عَقْلَ؟

او د ثواب غوښتونکى وي يعني د مصيبت اخته کېدو له کبله د حلم او عقل څخه د بېگانه کېدو سربيره بيا هم صبر کوي

قَالَ: أُعْطِيْهِمْ مِنْ حِلْمِيْ وَعِلْمِيْ". رواهما البيهقي في شعب الإيمان

نو زه به ورته خپل بردباري او خپل عقل ورکړم. بيهقي په شعب الايمان کي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۹۰\۷، رقم: ۹۹۵۳.

تشريح: دلته د امت څخه د رسول الله ﷺ نيک او فرمانبرداره بندګان او صلحاء مراد دي د الله تعالى دا ارشاد چي نه به يې عقل وي نه به يې بردباري د دې مطلب دادى چي د دې باوجود د مصيبت او تکليف په وجه بردباري او عقل به يې ولاړ سي مګر پر تکليف او مصيبت باندي به صبر کوي او د ثواب غوښتونکي وي يعني بردباري او عقل دا دواړه داسي صفتونه دي چې د

دې په وجه انسان د مصیبت او حادثې پر وخت ژړا فریاد او بې صبري د اختیارولو څخه منعه کوي او په دې ګڼلو سره د صبر او سکون لمن به یې نیولې وي چې تاوان ګټه تکلیف او راحت هر څه د الله تعالی د خوا څخه دي نو د دې دوو اوصافو څخه د کیدو سربېره د صبر او سکون لمن ټینګه نیول د تعجب قابله خبره ده ځکه حضرت عیسی علیه السلام پوښتنه وکړه چې کله د بردباري او عقل کمښت وي نو بیا صبر کول به څنګه ممکن وي او بیا د ثواب د امید څه معنی ده د حضرت عیسی علیه السلام د دې اشکال او د هغوی د دې حیرت د جواب د بارګاه الوهیت څخه دا ورکول سو چې پر داسي وخت باندي به د امت مرحومه د افرادو رهنمائي د عقل او پوهې، حلم او بردباری هغه نور کوي چې کسبي به نه وي مګر د خپل خوا څخه به د عقل او بردباری دولت بلا کسبه ورته ورکړه سي چې د هغه په وجه به پر لوی مصیبت باندي هغوی صبر کوي او د ثواب امید لرونکي به وي.

==========

بَابُ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ

د قبرو د زیارت بیان

دلته د پورته عنوان په قائمولو سره هغه حدیثونه نقل کیږي چې د هغه څخه قبرونو ته د تلو فضائل او اداب او په دې سره متعلق احکام او مسائل معلومیږي او دا ښودل سوي دي چې قبرونو ته د تلو مقصد څه دی او هلته د تلو څه فائده ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د قبرو زیارت مستحب دی

﴿۱۶۷۰﴾: عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَيْتُكُمْ عَنْ

د حضرت بریدة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایل: ما تاسو منعه کړي واست د

زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا وَنَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُومِ الْأَضَاحِيِّ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَأَمْسِكُوا

قبرونو د زیارت کولو څخه نو اوس تاسو د هغه زیارت کوئ، ما تاسو د درو ورځو څخه وروسته د قربانی د غوښو خوړلو څخه منعه کړي واست

مَا بَدَا لَكُمْ وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيذِ إِلَّا فِي سِقَاءٍ فَاشْرَبُوا فِي الْأَسْقِيَةِ كُلِّهَا وَلَا تَشْرَبُوا مُسْكِرًا . رواه مسلم

اوس تاسو د هغه قربانۍ غوښه تر څو پوري چې ساتلای سئ وساتئ او ما تاسو د نبیذو څخه منعه کړي واست مګر په ژي کي دننه د نبیذو څخه مي نه واست منعه کړي اوس تاسو چې په کوم لوښي کي غواړئ چښئ مګر نشه راوستونکئ شی هیڅکله مه چښئ . مسلم .

تخریج : صحیح مسلم ۲\ ۶۷۲، رقم: ۱۰۶- ۹۷۷.

تشریح : رسول الله ﷺ د اسلام په شروع کي قبرونو ته د تلو څخه منعه فرمایلې ده ځکه چې د جاهلیت زمانه نژدې وه نو دا اندیښنه وه چې شاید خلک قبرونو ته په تلو سره د کفر او شرک خبرې شروع نه کړي کله چې رسول الله ﷺ ولیدل چې د اسلام په زړونو کي نقش حاصل کړي دي نو رسول الله ﷺ د قبرونو د زیارت کولو اجازت ورکړه د ټولو علماء په نزد د قبرونو زیارت کول مستحب دی ځکه چې قبرونو ته په تلو سره په زړه کي نرمي راځي مرګ را یادیږي او زړه او دماغ دې پر عقیدې باندې پخته کیږي چې دنیا فاني ده د دې څخه ماسیوا نورې ډیرې فائدې دې بیا تر ټولو بهتره فائده دا هم ده چې قبرونو ته په تلو سره د مړو لپاره د رحمت او مغفرت د دعا موقع حاصلیږي چې د سنت څخه نقل دي چې رسول الله ﷺ به بقیع ته تشریف وړی او هلته مړو ته به یې سلام ادا کوی او د هغوی لپاره یې د مغفرت دعا کوله .

د ښځو لپاره د قبرونو د زیارت مسئله

په دې اړه د علماؤ اختلاف دی چې د اسلام په شروع کي چې د قبرونو د زیارت په باره کي کوم ممانعت فرمایل سوی وو هغه د ښځو په حق کي اوس هم پاته دی یا د خلکو په ډول هغوی ته هم قبرونو ته د تلو اجازت ورکول سوی دی د ځینې حضراتو رایه ده چې د خلکو په ډول ښځو ته هم قبرونو ته تلل صحیح دي خو د نورو حضراتو رایه داده چې د ښځو لپاره صحیح نه دي په دې اړه صحیح مسئله داده چې د ښځو لپاره یوازي د رسول الله ﷺ د روضه مطهره زیارت خو جائز دی مګر د دې ماسیوا نورو قبرونو ته تلل د هغوی لپاره صحیح نه دي د (باب الصلوة) حدیث (لعن رسول الله ﷺ زائرات القبور .....الخ) د تشریح په ضمن کي په تفصیلي توګه سره مسئله فقهي په روایتونو کي بیان کړه سوې ده .

د قبرونو د زیارت ډولونه : د مقصد د اعتبار څخه قبرونو ته د تلو ډولونه دادي .اول:

یوازي د مرګ یادولو او اخرت ته د توجه کولو لپاره یوازي د قبرونو لیدل کافي دي، دا ضروري نه ده چي د صاحب قبر په باره کي دا هم معلومیدل پکار دي چي هغه څوک وو او څنګه وو . دوهم : د مغفرت دعاوي کول او د هغوی ته ثواب لیږل دا د هر مسلمان لپاره سنت ده، دریم : د حصول برکت او سعادت لپاره د اولیاء الله او بزرګان دین د مزاراتو زیارت کول کیږي ځکه چي په برزخ کي د بزرګان دین او اولیاء الله تصرف او د هغوی برکتونه بې شمیره دي .

څلورم : د قریب او دوست د حق ادا کولو لپاره د خپلوانو، مور او پلار یا اندیوال قبر ته د دې لپاره تلل چي هلته په رسیدو سره د هغوی لپاره دعاء مغفرت او ایصال ثواب کول پر ځان د هغوی حق وبولي په حدیث ابونعیم کي نقل دي کوم سړی چي د خپل مور او پلار یا په هغوی کي د یوه قبر زیارت د جمعې په ورځ وکړي نو د هغه دا فعل د حج برابر دی .

پنځم : د دیني وروړګلوی، مینې او انساني مهربانۍ په وجه څرنګه چي په یوه حدیث کي نقل دي کله چي یو سړی د مومن وروړ پر قبر تیریږي او هلته سلام او دعائې مغفرت ورته کوي نو مړی هغه پیژني او د هغه د سلام جواب ورکوي .

قبرونو ته د تللو اداب او احکام : قبرونو ته د تللو څه احکام او اداب دادي چي شریعت ښودلي دي مثلا کله چي یو سړی دعاء مغفرت او ایثال ثواب د خاطره یو قبر ته ولاړ سي نو هلته د صاحب قبر مخ ته دي داسي ودریږي چي مخ یې د قبر خوا ته او شا یې د قبلې خوا ته وي دوهم قبر ته په رسیدو سره صاحب قبر ته سلام کوي دریم په قبر سره دي لاس نه لګوي څلورم قبر دي نه ښائسته کوي پنځم د قبر مخکي دي تعظیما نه کښته کوي او نه دي قبر ته سجده کوي شپږم د قبر خاوره دي پر مخ نه موږي چي دا د نصاراوو عادت دی .

ددې احکامو او ادابو برسېره دداسو شیانو اختیارول کوم چي په شریعت کي وجود نه لري د ډیري ګمراهۍ او ضلالت خبره ده .

د قبر سره د قرآن کریم تلاوت کول مکروه نه دي بلکه مستحب دی کله چي یو سړی مړ سي هلته سورة اخلاص اوه واره په ویلو سره د هغه ثواب دي صاحب قبر ته وربخښي د نورو ورځو په نسبت د جمعې ورځ خصوصا د ورځي په شروع کي قبر ته تلل افضل دی په حرمین شریفین کي دا معمول دی چي خلک د جمعې په ورځ د ورځي په ابتدائي برخه کي معلی او بقیع ته زیات د قبور لپاره راځي او نقل دي چي د نورو ورځو په نسبت د جمعې په ورځ مړي ته زیات علم او ادراک ورکول کیږي او هغه د جمعې په ورځ خپل قبر ته راتلونکي د نورو ورځو په

نسبت زیات پیژني څرنګه چي مخکي هم ښودل سوي دي چي قبرونه بې ضرورته په پښو سره پایمال کول یا پر هغه تلل مکروه دی دا مستحب دی چي د مرګ وروسته تر اوو ورځو پوري د مړي لخوا د الله تعالی په نامه څه خیرات کړي.

(ونهیتکم عن لحوم الاضاحي) د دې مطلب دادی چي د اسلام په شروع کي د مسلمانانو سره مال او دولت او اسباب معیشت پراخي نه وه اکثره خلک تنګ دست وه ځکه هر سړي قرباني نه سوه کولای رسول الله ﷺ قرباني کونکو ته فرمایلي وه د قربانۍ تر درو ورځو زیاته په اینښودو سره مه خورئ مګر په مسکین او غریبانو خلکو کي یې ویشئ خو کله چي الله تعالی مسلمانانو ته مال او دولت او د اسباب معیشت وسعت ورکړ او د هغوی د تنګدستي او مفلسي دور ختم سو چي د هغه په وجه هغوی ته د نورو خلکو د قربانۍ د غوښو ضرورت پاته نه سو نو بیا رسول الله ﷺ اجازت ورکړه چي د قربانۍ غوښه چي تر څومره ورځو پوري وغواړي اینښودلای یې سي.

(نبیذ) یو خاص ډول شراب دي د هغه صورت دا وي چي خرما یا انګور په اوبو کي واچوي او هغه تر یوې مودې پورې په اوبو کي وي د دې وروسته هغه د یو شراب په ډول سي، دا نبیذ تر هغه وخته پورې حلال وي تر څوپورې چي په هغه کي نشه پیدا نسي رسول الله ﷺ په شروع کي حکم ورکړی وو چي نبیذ دي په ژي کي کښیښول سي ځکه چي ژی نری وي په هغه کي اینښودل سوي نبیذ ژر ګرمیږي او د نشې اثر یې ځي.

په نورو لوښو کي د نبیذ د اینښودو څخه رسول الله ﷺ منعه وفرمایل مثلا لاکي لوښی وغیره کي دي نبیذ نه اچوي ځکه چي په دې ډول لوښو کي اینښودل سوي نبیذ ژر ګرمېدل چي د هغه په وجه به په هغه کي نشه پیدا کیدل او هغه وخت لږ مخکي شراب حرام سوی وه او خلکو اوس لا د شرابو لذت نه وو هیر کړی ځکه اندیښنه وه چي خلک په کرار کرار بیا د شرابو خوا ته متوجه نسي د دې وروسته چي د شرابو د حرمت حکم په پوره توګه سره د خلکو په زړونو کي قرار ونیوی او د شرابو څخه پرهیز لازم سو نو د دې خبري څه احتمال پاته نسو اوس د خلکو خواهشات بیا د شرابو خوا ته په څه حیثیت سره هم متوجه کیدای سي نو رسول الله ﷺ تاکید وفرمایی چي نبیذ تر هغه پورې څیښل جائز دي تر څو پورې چي په هغه کي د نشې شبهه هم پاته نسي څرنګه چي د حدیث اخري الفاظ (ولا تشربوا مسکرا) څخه دا خبره واضحه کیږي او د هغه حاصل دادی چي د ممانعت تعلق د نشې سره دی د لوښي سره نه دي د لوښي ممانعت خو تر هغه وخته پورې یوازي د احتیاط پیش نظر سوی وو اصل مقصد هغه وخت هم دا وو چي د

خلکو میلان د نشې خوا ته دوهم وار ونسي.

رسول الله ﷺ د خپل مور پر قبر

﴿۱۶۷۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ زَارَ النَّبِيُّ ﷺ قَبْرَ اُمِّهٖ فَبَكَى وَاَبْكَى مَنْ حَوْلَهٗ

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د خپل مور د قبر زیارت وکړ، رسول الله ﷺ وژړل او ورسره خلکو هم وژړل

فَقَالَ اسْتَأْذَنْتُ رَبِّيْ فِيْ اَنْ اَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يُؤْذَنْ لِيْ وَاسْتَأْذَنْتُهٗ فِيْ اَنْ اَزُوْرَ

رسول الله ﷺ وفرمایل: ما د خپل پروردګار څخه اجازت غوښتئ وو چې د خپلې مور د بخښنې دعاء ځینې وغواړم مګر ما ته اجازه رانه کړل سوه، بیا ما د هغې د قبر د زیارت اجازه وغوښتل

قَبْرَهَا فَاُذِنَ لِيْ فَزُوْرُوا الْقُبُوْرَ فَاِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ. رواه مسلم.

او ددې اجازه راکړل سول، نو تاسو د قبرونو زیارت کوئ ځکه چې دا مرګ په یاد وی. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۲/۶۷۱، رقم: ۱۰۸- ۹۷۶.

تشریح: د رسول الله ﷺ د مور محترمې نوم بي بي امنه وو، د رسول الله ﷺ عمر شپږ کاله وو چې بي بي امنه د رسول الله ﷺ په اخستو سره د خپلو خپلوانو د ملاقات لپاره مدینې منورې ته ولاړه کوم وخت چې هغه د مدینې څخه مکې ته دوهم وار راتلل او ابواء ته ورسیدل چې د مکې او مدینې په منځ کې دیو ځای نوم دی نو هلته وفات سوه او هم هلته ښخه کړل سوه، یو وار چې رسول الله ﷺ د هغې قبر ته ولاړی نو د خپلې مور بي بي د بېلوالي په غم کې یې ډېر وژړل، د رسول الله ﷺ په لیدو سره هغه خلکو هم طاقت ونه کړ کوم چې د رسول الله ﷺ سره ملګري وه د رسول الله ﷺ او ښکو هغوی دومره متاثره کړل چې هغوی ټول هم په ژړا سوه.

د رسول الله ﷺ مور او پلار

د دې حدیث څخه دا خبره معلومیږي چې د رسول الله ﷺ مور بي بي د کفر په حالت کې وفات سوې وه د مخکې زمانې د علماؤ خیال دادی مګر وروستنې علماؤ د رسول الله ﷺ د مور او پلار اسلام ثابت کړی دی بیا د دې هم دري صورتونه بیان کړي دي چې یا خو هغوی د حضرت ابراهیم علیه السلام پر دین قائم وه یا هغوی ته د اسلام دعوت نه وو رسیدلی او هغوی په ایام فطرت کې وه او په هغوی کې د نبوت د زمانې څخه مخکې وفات سوی وو یا دا چې الله تعالی د

رسول الله ﷺ د مور او پلار د دوهم وار ژوند په باره کي چي کوم حديثونه نقل کړي دي چي هغوی پر رسول الله ﷺ ايمان راوړی که څه هم د رسول الله ﷺ د مور او پلار دوهم وار ژوندي چي د کومو حديثونو څخه نقل دي هغه بذاته ضعيف دي مګر د تعدد طريق په ذريعه د دې تصحيح او تحسين سوی دی دا خبره ګويا د مخکي زماني د علماؤ څخه پټه ده خو الله تعالی وروسته علماؤ ته داځرګنده کړه، شيخ جلال الدين سيوطي رحمة الله عليه په دې اړه تصنيف کړي دي او دا مسئله يې په دلائلو سره د مخالفينو د شبهاتو جواب يې ورکړی دی.

په هر حال دا مسئله ډيره نازکه ده ځکه د علماؤ دا فيصله ده چي په دې اړه چپتيا اختيار سي دا د الله تعالی معامله ده الله تعالی ښه په پوهيږي.

قبر ته دورتلو دعاء

﴿۱۶۷۲﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُهُمْ إِذَا

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به مسلمانانو ته ښودل چي کله

خَرَجُوا إِلَى الْمَقَابِرِ فَكَانَ قَائِلُهُمْ يَقُولُ فِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ السَّلَامُ عَلَى أَهْلِ

تاسو قبرو ته ولاړ سئ نو دا کلمات وايايست : السلام عليكم ..... ولكم العافية . (اې

الدِّيَارِ وَفِي رِوَايَةِ زُهَيْرٍ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ

کورونووالا! مؤمنانو او مسلمانانو پر تاسو دي سلامتيا وي

وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَلَاحِقُونَ نَسْأَلُ اللَّهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ . رواه مسلم

موږ به هم کله چي د الله تعالی خوښه وي ستاسره يو ځای کيږو او موږ د الله تعالی څخه د ځان لپاره او ستاسو لپاره د عافيت دعاء غواړو) مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۶۷۱، رقم: ۱۰۴- ۹۵۷.

تشريح : رسول الله ﷺ قبرونو ته کور ځکه وفرمايه چي څرنګه ژوندي انسانانو په خپلو کورونو کي اوسيږي همداسي مړی هم په خپلو خپلو قبرونو کي اوسيږي.

په (اهل الديار من المومنين والمسلمين) اکي من المومنين اهل الديار او د دې وضاحت دی همداسي والمسلمين د تاکيد لپاره استعمال سوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۱۶۷۳﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ بِقُبُورِ الْمَدِينَةِ فَأَقْبَلَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ په مدينه کې پر يو څو قبرو تير سو

عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ

نو د هغو په لوريې مخ کړ او وه يې فرمايل: السلام عليكم ....بالاثر. اې د قبرو خاوندانو! پر تاسو دي سلامتيا وي الله ﷻ دي مورږ او تاسو و بخښي تاسو

سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب.

زمورږ څخه تر مخه ياست او مورږ درپسې يو. ترمذي، دا حديث حسن غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۳۶۹، رقم: ۱۰۵۳.

تشريح: د حديث الفاظ رسول الله ﷺ د قبرونو خوا ته مخ مبارک په کولو سره متوجه سو په دې کې د دې خبرې دليل دی چې کله يو سړی اهل قبور ته سلام پيش کړي نو د هغه لپاره مستحب دی چې د هغه مخ دي د مړي مخ ته وي همداسي چې دعائې مغفرت او فاتحه خواني وغيره لپاره پر قبر ودريږي نو خپل مخ دي د مړي خوا ته ساتي د ټولو علماؤ او مجتهدينو دا مذهب دی او د دې مطابق د ټولو مسلمانانو عمل دی يوازي علامه ابن حجر رحمة الله عليه د دې خلاف دی هغه فرمائي زمورږ په نزد مستحب دادی چې پر قبر باندې حاضريدونکي دعائې مغفرت او فاتحه خواني پر وخت خپل مخ د قبلې خوا ته ساتي.

مظهر رحمة الله عليه فرمائي د مړي زيارت د هغه د ژوند د لېدنې په ډول وي ځرنګه چې د يوه سړي په ژوند کې د هغه سره د ملاقات پر وخت خپل مخ د هغه د مخ خوا ته متوجه کول کيږي همداسي د هغه د مرګ وروسته د هغه د ميت يا د هغه د قبر د زيارت پر وخت هم د مخ خيال ساتي بيا دا چې د يوه مړي په هغه طريقه او اداب کې خيال ساتل پکار دی کوم چې د هغه په ژوند کې د ناستي ولاړي پر وخت په خيال کې ساتل کيږي د مثال په توګه که يو سړی د يو داسي سړي د ملاقات پر وخت چې د خپل کمالات او فضائلو په وجه د لوړي مرتبې او د قدر خاوند وو، د ادب او احترام له موخې بالکل نژدې نه کښينستی بلکه د هغه څخه پر څه فاصله

کښينستی نو اوس د هغه مړي يا د هغه د قبر د زيارت پر وخت هم په هغه فاصله سره دي ولاړ وي يا کښيني او که د هغه په ژوند کي پر وخت د ملاقات هغه ته قريب کښينستی نو کله چي د هغه د مړي د قبر زيارت کوي نو د هغه نژدې دي ودريږي يا دي کښيني.

کله چي د يوه قبر زيارت وکړل سي نو هغه وخت دي سورة فاتحه او قل هو الله احد دړې واره ووايي او د هغه ثواب دي مړي ته په وربښلو سره د هغه لپاره د بخښني دعا وکړي مګر دومره خبره بايد په خيال کي وي چي د قبر د زيارت پر وخت نه دي قبر ته لاس ورورې او نه دي يې ښائسته کوي ځکه چي دا د نصاوو عادت دی همداسي قبر ته سجده کول د قبر مخکي رکوع کول او د قبر طواف کول هم ډيره سخته ګناه ده او د ايمان او اسلام د دعوې خلاف ده، د دې خبرو څخه پرهيز کول پکار دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

قبر ته دورتلو دعاء

﴿۱۶۷۴﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّمَا كَانَ

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دئ چي کله به ددې شپه د رسول الله ﷺ سره وه

لَيْلَتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ يَخْرُجُ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ إِلَى الْبَقِيعِ فَيَقُولُ

نو رسول الله ﷺ به د شپې په آخر کي د مدينې هديرې (بقيع) ته تشريف وړئ او فرمايل به يې

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَأَتَاكُمْ مَا تُوعَدُونَ غَدًا مُؤَجَّلُونَ وَإِنَّا إِنْ

السلام عليکم .... بقيع الغرقد. اې د مؤمنانو قومه! پر تاسو دي سلام وي او تاسو ته هغه شی راغلئ چي د هغه درسره وعده سوې وه سبا ته يعني د قيامت په ورځ او تاسو ته د يو ټاکل سوي وخت مهلت درکړل سو

شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ. رواه مسلم

او موږ هم که الله تعالی وغوښتل تاسو ته راتلونکي يو اې الله بقيع الغرقد والا وبخښي. (بقيع الغرقد د مدينې د هديرې نوم دئ). مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲/۶۶۹، رقم: ۱۰۲- ۹۷۴.

تشريح : په مدينه کي د يو ځای نوم بقيع دی چي په هغه کي د مدينې د خلګو قبرونه دي، دې هديرې ته جنت البقيع هم ويل کيږي په دې ځای کي د غرقد درختي ډيري دي ځکه دې ته په دعاء مغفرت کي بقيع غرقد وفرمايل سو .

قبر ته دورتلو دعاء

﴿۱۶۷۵﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَيْفَ أَقُولُ يَا رَسُولَ اللَّهِ تعني في زيارة القبور قَالَ قُولِي

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د قبرو د زيارت په وخت کي څه وايم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : دا وايه

السَّلَامُ عَلَى أَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ وَيَرْحَمُ اللَّهُ الْمُسْتَقْدِمِينَ

(السلام على..... للاحقون) : پر مؤمن او مسلمان کورو الاوو دي سلامتيا وي او الله ﷻ دي زمونږ په مخکنيو

مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَلَاحِقُونَ . رواه مسلم .

او وروستنيو رحم وکړي او مونږ هم که الله ﷻ وغواړي ستاسو سره يو ځای کيدونکي يو . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۳\۶۶۹، رقم: ۱۰۳- ۹۷۴.

تشريح : د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه يو روايت نقل دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم سړی چي د خپل يوه مومن ورو قبر ته ورورسيږي چي په دنيا کي يې پيژندی بيا هغه ته سلام پيش کړي نو د قبر خاوند هغه پيژني او د هغه د سلام جواب ورکوي .

د مور او پلار د قبرو زيارت

﴿۱۶۷۶﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ النُّعْمَانِ يَرْفَعُ الْحَدِيثَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ قَالَ مَنْ زَارَ قَبْرَ أَبَوَيْهِ أَوْ أَحَدِهِمَا فِي كُلِّ جُمُعَةٍ غُفِرَ لَهُ وَكُتِبَ بَرًّا " . رواه البيهقي في شعب الإيمان مرسلا

حضرت محمد بن النعمان رضي الله عنه دا حديث تر رسول الله ﷺ پورې رسولئ دئ او وايي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي هره اونۍ د خپل مور اوپلار د قبرو زيارت کوي يا په هغو کي د يوه د

قبر ، نو هغه بخښل کيږي او نيک ليکل کيږي . بيهقي

تخريج : البيهقي في شعب الايمان ٦\ ٢٠١، رقم: ٧٩٠١.

د قبرو زيارت کول

﴿١٦٧٧﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ . رواه ابن ماجه

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما به تاسو د قبرو زيارت کولو څخه منعه کولاست ، اوس تاسو د هغو زيارت کوئ ځکه چي د قبرو زيارت کول سړی د دنيا څخه بې شوقه کوي او آخرت ورپه يادوي . ابن ماجه .

تخريج : سنن ابن ماجه ١\ ٥٠١، رقم: ١٥٧١.

تشريح : په حديث کي ګويا قبرونو ته د تلو علت بيانيږي چي قبرونو ته ولي تلل پکار دي فرمايل کيږي چي قبرونو ته تلل په حقيقت کي د انسان په زړه او دماغ کي دنيا او د دنيا د شيانو څخه د بې شوقي اظهار پيدا کوي چي همدا کول پکار دي، نو د دنيا سره زړه لګول او په خپل ژوند باندي غرور کول نه دي پکار، لوی انسانان په دې دنيا کي پيدا سوه چا چي د خپل سلطنت او حکومت په مرسته د خدائي دعوه وکړه، چا د دولت او طاقت په نشه کي د خپلي برتری مظاهره وکړه، څوک د سائنس دان او ايجاداتو په دوکه کي د خپلي برتري مظاهره کوي او چا د عزت او اقتدار په زور امن او سکون جهنم او بهيدونکې وينه په درياب کي بدله کړه چي انجام يې څرګند دی .

هو کوم وخت چي هغوی تر خاورو لاندي سوه نو څوک نوم اخستونکي يې پاته نه سو کله چي د هغو بدنونه په درياب کي واچول سوه نو د څپو يوې څپې د کبر او غرور مجسمه يې د دريابي حيوان ته ورورسول او کله چي د هغوی بدن د اور شعلو ته حواله کړه سو نو د بې چارګي او بې کسی څخه پرته نور هيڅ نه وو .

قبرونو ته د تلو دوهمه وجه دا بيان سوې ده چي سړي ته اخرت رايادوي يعني قبرونو ته په رسيدو سره دا احساس پيدا کيږي چي د دې عالم څخه پرته يو بل عالم هم سته چي هلته تلل دي او هلته په تلو سره د دې عالم د ټوه يوه عمل حساب ورکول دي .

د دې څخه معلومه سوه چي هديرې ته په رسيدو سره قبرونو ته د عبرت په نظر وکتل سي او

مرګ را یاد کړه سي چې د مرګ یاد په حقیقت کې د دنیوي لذتونو فریب څرګندونکی او د ګناهونو او معصیت هر خیرن والی پاکوونکی دی.

د ښځو د قبرو د زیارت څخه منعه

﴿۱۶۷۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ زَوَّارَاتِ الْقُبُوْرِ. رواه أحمد والترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح وقال: قد رأى بعض أهل العلم أن هذا كان قبل أن يرخص النبي في زيارة القبور فلما رخص دخل في رخصته الرجال والنساء. وقال بعضهم: إنما كره زيارة القبور للنساء لقلة صبرهن وكثرة جزعهن. تم كلامه

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ پر هغه ښځو چې قبرو ته ډیري ځي لعنت ویلئ دئ، احمد، ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دئ (د ځینې عالمانو خیال دئ چې دا لعنت د اجازې تر مخه دئ بیا چې رسول الله ﷺ د قبرو د زیارت اجازه ورکړل نو په دې کې سړي او ښځي دواړه شامل سول، او ځینې علماء وایي چې د ښځو لپاره د قبرو زیارت کول مکروه دئ ځکه چې په دوی کې د صبر ماده کمه وي او هغوی ژړاوي او انګولاوي زیاتي کوي. د ترمذي کلام پوره سو.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۱۳\ ۴۴۲، رقم: ۱۰۵۶، وابن ماجه ۱\ ۵۰۲، رقم: ۱۵۷۵.

د مړي لحاظ کول پکار دي

﴿۱۶۷۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَدْخُلُ بَيْتِي الَّذِي دُفِنَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَأَبِي فَأَضَعُ ثَوْبِي فَأَقُولُ إِنَّمَا هُوَ زَوْجِي وَأَبِي فَلَمَّا دُفِنَ عُمَرُ مَعَهُمْ فَوَاللَّهِ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دئ چې زه به هغه حجرې ته تلم په کوم کې چې رسول الله ﷺ ښخ کړل سوئ وو

او ما به خپل جامې (څادر وغیره) لاندې اېښودل او په زړه کې به مې ویل چې دا زما خاوند دئ (یعني رسول الله ﷺ) او دا زما پلار دئ (یعني ابوبکر صدیق رضي الله عنه) نو د دوی څخه څه شرم او

حجاب کول پکار دي، بيا چي کله حضرت عمر رضي الله عنه په هغه حجره کي ښخ کړل سو نو په الله قسم

مَا دَخَلْتُ إِلَّا وَأَنَا مَشْدُودَةٌ عَلَيَّ ثِيَابِي حَيَاءً مِنْ عُمَرَ. رواه احمد.

چي بيا زه هيڅکله هم حجري ته دننه نه سوم مګر په داسي حال کي چي خپل بدن به مي د حضرت عمر څخه د حياء له کبله په جامو کي نغښتئ وو. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۶\۲۰۲.

تشريح: دا حديث په وضاحت سره د دې خبري دليل وړاندي کوي چي د مړي او د قبرو د زيارت پر وخت هغه لحاظ ساتل پکار دی کوم چي د هغوی په ژوند کي کيدی په دې اړه د يوه صحابي حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه دا ارشاد نقل دی.

که زه پر اور يا د توري پر تيرې څوکي باندي خپله پښه کښيږدم چي د هغه په نتيجه کي زما پښه وسوزي يا پريکړل سي نو زما په نزد دا غوره ده په نسبت د دې خبري چي زه د يوه سړي پر قبر و خټړم او زما په نزد پر قبرونو بولي کول داسي دي لکه يو څوک چي په ډک بازار کي د ټولو خلګو مخکي بولي کوي.

همداسي حضرت ابن ابي الدينا د حضرت سليم بن غفير په اړه دا نقلوي چي يو ځل هغه د يوې هديرې سره تېرېدی نو هغه ته ډېر سخت د بولو حاجت پيدا سو د هغه د کيفيت په لېدو سره خلګو ورته وويل چي د سپرلي څخه ولي نه راکښته کيږې او قضاء حاجت ولي نه پوره کوې، هغه وفرمايل: سبحان الله (يعني دا څومره غلطه خبره تاسو کوئ)، په الله دي مي قسم وي زه د مړو څخه داسي حيا کوم لکه څرنګه چي د ژوندو څخه يې کوم.

==========

كِتَابُ الـزكوة

دزکات بیان

د زکوة معنی : د زکوة لفظي معنی د طهارت ، برکت او زیاتیدو ده، د شریعت په اصطلاح کي زکوة د خپل مال د معین مقدار هغه برخه چي شریعت تاکلې ده مستحق مالک جوړولو ته وایي، د زکوة لغوي او اصطلاحي معنی دواړو مخ ته په اینبودو سره په دې پوه سئ چي دا کار یعني د خپل مال د تاکلي مقدار د یوې برخي مالک جوړول د مال پاته برخه پاکول په دې کي د الله تعالی لخوا ځخه برکت ورکول کیږي او د هغه مال نه یوازي دا چي په دنیا کي زیاتیږي مګر په آخرت کي الله تعالی د هغه په ثواب کي زیاتوب کوي او د هغه مالک د ګناهونو د لویو خصلتونو مثلا بخل او داسي نورو ځخه پاکوي ځکه دې فعل ته زکوة ویل کیږي .

زکوة ته صدقه هم ویل کیږي چي دا کار د خپل مال د یوې برخي په کښلو د ایمان د دعوې پر صحت او صداقت باندې دلیل دی.

زکوة کله فرض سو : صدقه فطر په دوهم هجري کي واجب سوی وو د زکوة د فرضیت په باره کي که څه هم د علماؤ په نزد اختلافي اقوال دي خو صحیح قول دادی چي د زکوة د فرضیت حکم خو د هجرت مخکي په مکه کي نازل سوی وو خو د دې حکم په نفاذ مدینه کي د هجرت پر دوهم کال د روژې پر اول تاریخ سوی دی او د دې اعلان وکړه سو .

زکوة پر ټولو امتونو باندي فرض وو : په اجتماعي توګه سره دا مسئله ده زکوة پر انبیاء علیهم السلام باندي فرض او واجب نه دي البته څرنګه چي تیرو ټولو امتونو باندي فرض وو همداسي د امت محمدي ځخه مخکي پر هر امت باندي زکوة فرض وو د زکوة اندازه د مال په تحدید کي اختلاف ضرور راغلی دی مګر دا خبره اټله یا حتمي ده چي د زکوة په باره کي اسلامي شریعت ډیر اسان دی او د تیرو انبیاء علیهم السلام په شریعتونو کي دومره اساني نه وه .

دزکوة اهمیت او تاکید : په قرآن کریم کي دودیرش ځایه د زکوة ذکر د لمانځه سره فرمایل سوی دی په مظاهر حق کي د دودیرشو پر ځای د درو اتیا شمیر دی مګر دا صحیح نه معلومیږي د دې وخت د علماؤ تحقیق دادی چي په قرآن مجید کي د لمانځه سره د زکوة ذکر دودیرش ځایه دی، د دې سره نه یوازي دا چي د لمانځه او زکوة د دواړو کمال اتصال ښکاره

زیات وي او هغه د نصاب حد ته ورسیږي نو په هغه کي زکوة واجبیږي خو دا خبره په خیال کي ساتل پکار ده چي هغه پور د زکوة لپاره مانع وجوب دی چي د هغه مطالبه د بندګانو لخوا څخه وي، نذر، کفارات فطرانه او د دې ډول نور مطالبات چي د هغه تعلق یوازي د الله تعالی د ذات سره دی او یوه بنده ته د هغه د مطالبې کولو حق نسته د زکوة لپاره مانع وجوب نه دی .هو داسي پور چي د هغه تعلق خو د الله تعالی سره وي خو د هغه د مطالبې او وصولي حق بندګانو ته رسیږي لکه زکوة عشر ، خراج وغیره چي امام هغه وخت د الله تعالی لخوا څخه د هغه مطالبه کولای سي نو دا هم د زکوة لپاره مانع وجود دی خو د وخت امام او حاکم په مال ظاهري کي مطالبه کولای سي مثلا په حیوانانو کي یا په هغه د تجارت په مال کي چي ښار ته راوړل کیږي یا استل کیږي یا په تقدو روپو کي، لیکن په هغه مال کي چي د هغه تجارت په ښار کي دننه محدود وي نو په هغه کي حاکم یا د ښځي مهر چي د هغه تقاضا ښځه کوي نو د هغې د مهر په اندازه په مال کي زکوة نه واجبیږي .

په بحر الرائق کي دی معتمد مذهب دادی چي پور د زکوة او صدقه فطر لپاره مانع وجوب دی او مطلقا پور مانع دی که څه هم معجل یا موجل وي که څه هم د ښځي مهر موجل وي چي د هغه مدت تاجیل طلاق یا پر مرګ باندي ختمیږي مګر ځیني حضرات فرمائي چي مهر موجل د زکوة لپاره مانع وجوب نه دی ځکه چي په عامه توګه سره د دې مطالبه نه کیږي پر خلاف د مهر معجل چي د هغه مطالبه کیږي خو ځیني علماؤ په دې اړه دا لیکلي دي که خاوند د ادائیګي مهر اراده ولري نو مهر موجل د زکوة لپاره مانع وجوب دی کنې نه دی ځکه چي دا په پور کي نه شمیرل کیږي .

د حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه او صاحبین یعني امام ابویوسف او امام محمد رحمة الله علیهما په منځ کي په دې اړه اختلاف دی که د یوې ښځي خاوند مالداره وي نو هغه د خپل مهر په وجه چي د خپل د خاوند پر ذمه پاته دی غنیه به ګڼل کیږي او که نه؟، یعني هغه ښځه چي هغې ته زکوة نه ورکول کیږي د صاحبینو مذهب خو دادی چي داسي ښځه به غنیه کېدل معتبر وي یعني د زکوة مستحقه به نه وي مګر دا خبره دي په ذهن کي وي چي دا اختلاف یوازي د مهر معجل په باره کي دی د مهر مؤجل په صورت کي د درو سره حضراتو متفقه مذهب دادی چي داسي ښځه به مالداره نه وي .

د ضرورت اصلي مطلب : د ضرورت اصلیه څخه مراد دا شیان دي: د اوسیدو لپاره سرای، د اغوستلو لپاره جامې، د کور لپاره اسباب، د سپرلي لپاره آس ، موټر سائیکل او داسي نور،

د خدمت لپاره مزدور، د استعمال لپاره وسله، د اهل علم لپاره کتابونه، د کاریګر لپاره د هغه د کسب سامان اود اسي نور، د مثال په توګه یو سړي یو ځای د تجارت په نیت واخلی او هغه ځای د هغه د اوسیدو ځخه فارغ هم وي نو په هغه کي زکوة واجبیږي همداسي په نورو شیانو کي هم قیاس کیدای سي، که سرای، غلام او داسي نور د خپل ضرورت او حاجت لپاره وي او د هغه د تجارت نیت نه وي نو بیا په هغه کي زکوة نه واجبیږي.

کامل ملکیت : مخکي د زکوة واجب کیدو شرائط په بیانولو سره دا شرط هم بیان کړه سوی دی چي په مال کي د هغه ملکیت په پوره او کامله توګه سره وي د کامل ملکیت ځخه مراد دادی چي د مال اصل مالک هم وي او هغه مال د هغه په قبضه کي هم وي کوم مال چي د هغه په قبضه کي نه وي یا مالک خو وي قبضه کي نه وي یا په قبضه کي وي نو پر هغه زکوة فرض نه دی د مکاتب په ګټل سوي مال کي زکوة نسته مکاتب هغه غلام دی چي د هغه اقا په دې شرط ازاد کړی وي چي هغه دومره روپی په ګټلو سره هغه ته ورکړي کله چي هغومره روپی په ګټلو سره هغه ته ورنه کړي غلام به وي او د ورکولو وروسته ته خپله پر خپل مکاتب باندي نه هغه مولی دی ځکه چي هغه مال د مکاتب په ملک کي نه دی د هغه په قبضه کي دی همداسي د مولی په قبضه کي نه دی که څه هم د هغه په ملک کي وي.

همداسي په مال ضمار کي هم زکوة نه واجب کیږي ځکه چي هغه مال په ملکیت کي خو وي خو په قبضه کي نه وي مال ضمار هغه ته وائي چي د خپلي رسائي دباندي وي د دې څو ډولونه دي اول هغه مال چي ورک سي دوهم هغه مال چي په ځنګل کي ښخ کړه سوی وي چیري چي یې ښخ کړی وي هغه ځینې هیر سي دریم هغه مال چي په دریاب کي غرق سي څلورم هغه مال چي یو سړی یې په زبردستي تر لاسه کي پنځم هغه مال چي د یوه ظالم د توري په زور واخسته سي شپږم هغه مال چي بطور قرض واخستل سي او وروسته د پوروړي د پور ځخه منکر سي او څه تمسک او ګواهي د هغه نه وي هغه پوروړی مالدار وي یا مفلس که انکار کوي نو څه تمسک یا ګواهي وي یا خپله قاضي په دې پوهیږي چي هغه دومره مال په پور اخستی وو مګر په دې حال کي به زکوة په دې تفصیل سره واجب کیږي چي.

اول : که هغه پور د مال تجارت په بدله کي وي کله چي د نصاب پنځه برخي وصولي سي نو د تیرو ورځو زکوة دي ادا کړي.

دوهم : که هغه پور د مال تجارت په بدله کي نه وي مثلا د کور اغوستو جامې خرڅي کړي یا د خدمت غلام خرڅ کړي یا د اوسیدو سرای خرڅ کړي او د هغه قیمت د رانیونکي پر ذمه پور سي

نو په هغه کي د تيرو ورځو زکوة هغه وخت واجب کيږي کله چي په اندازه نصاب وصول سي .
دريم : که پور د هغه شي په بدله کي وي چي مال نه دی مگر مهر وصيت او بدل خلع وغيره نو په دې کي زکوة هغه وخت واجب کيږي کله چي په اندازه نصاب وصول سي او پر هغه پوره کال تير سي يعني په هغه کي د تيرو ورځو څخه واجب کيږي مگر يوازي د هغه کال زکوة به واجب وي چي په هغه کي پر مال قابض وو مگر دا حکم د هغه سړي په باره کي دی چي د مخکي څخه صاحب نصاب وي که د مخکي څخه صاحب نصاب نه وي نو دا مال به د هغه په حق کي پر منزله د مال مستفاد وي په اول مال سره د دې مال به هم زکوة واجب وي او د يوه کال تيريدل به شرط نه وي .

د زکوة د اداکيدو لپاره نيت شرط دی : د زکوة د اداکيدو لپاره شرط دی چي زکوة ورکونکی د زکوة ورکولو نيت وکړي يعني دا اراده وکړي چي پر ما باندي څومره مال ورکول چي فرض دی زه يې د الله تعالی د رضا لپاره ورکوم يا کوم وخت چي د خپل مال څخه د زکوة برخه وکاږي هغه وخت د زکوة نيت دي وکړي چي دومره زکوة ورکوم .

که يو سړی خپل ټول مال د الله تعالی په لار کي خيرات کړي او د زکوة نيت ونه کړي نو د هغه د ذمې څخه زکوة ساقط کيږي يعني پر هغه د زکوة مطالبه نه پاته کيږي په شرط د دې چي هغه مال هغه د څه بل واجب په نيت نه وي وکړی هو که يو سړی ټول مال خو نه مگر لږ مال بغير د زکوة د نيت څخه د الله تعالی په لار کي خيرات کي نو د امام محمد رحمة الله عليه په نزد د هغه د مال زکوة ادا کيږي خو د امام ابويوسف رحمة الله عليه په نزد د هغه مال زکوة به ادا نه وي امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه څخه هم دا نقل دي او پر دې قول فتوی هم ده .

زکوة د ساقط کولو لپاره حيله کول مکروه دي که يو سړی دا ووايي چي مال د زکوة د ادا کولو څخه وساتل سي او د هغه صورت دا وکړي چي کال پوره کيږي نو څه ورځي مخکي خپل مال دوهم ته په هبه کولو سره هغه پر قابض کړي همداسي د زکوة د اداکيدو څخه به وساتل سي که څه هم په دې صورت سره زکوة خو به ساقط سي خو دا څه ښه کار نه دی .

که يو سړی يو غلام د تجارت لپاره رانيسي خو وروسته د هغه څخه د خدمت اخستو نيت يې وسو نو هغه غلام به د تجارت لپاره پاته نسي مگر د خدمت لپاره به پاته سي ځکه زکوة نه واجب کيږي همداسي که يو غلام د خدمت په نيت رانيسي بيا وروسته د هغه د تجارت نيت وکړي نو هغه غلام به تر هغه وخته پوري د تجارت په حکم کي داخل نه وي تر څو پوري چي هغه سړی هغه خرڅ نه کړي د خرڅ وروسته د هغه په قيمت کي زکوة واجب کيږي .

د نصاب تعریف

د زکوة نصاب د مال هغه خاصي اندازې ته وايي چې په هغه کې شریعت زکوة فرض کړی دی او د کومې اندازې څخه چې په کوم مال کې زکوة نه فرض کیږي مثلا اوښ لپاره پنځه او پنځه ویشت او داسې نور شمیر او د پسو لپاره څلویښت او یوسلو یوویشت او داسې نور شمیر او د سپینو زرو لپاره دوه سوه درهمه او د سرو زرو لپاره شل مثقاله.

د نصاب دولونه : د نصاب دوه ډولونه دي.

اول : نامي یعني زیاتیدونکی مال دوهم : غیر نامي یعني نه زیاتیدونکی مال بیا دا چې د تجارت مال په نفع سره زیاتیږي حیوانان د کوچنیانو په پیدائش سره زیاتیږي د تقدیري اطلاق سره زر سپین زرو باندې کیږي دا شیان په ظاهره خونه زیاتیږي مګر د زیاتیدو صلاحیت لري نصاب غیر نامي اطلاق د کور او د کور پر هغو اسبابو باندې کیږي چې د ضرورت اصلیه څخه ماسوا وي.

په نصاب نامي او په غیر نامي کې فرق : نصاب نامي او غیر نامي کې فرق دادی چې پر نصاب مالک باندې زکوة فرض وي او د هغه لپاره نور زکوة نذر او د صدقات واجبه مال اخستل صحیح نه دی او د هغه لپاره صدقه فطر ورکول او قرباني کول واجب کیږي د نصاب غیر نامي پر مالک باندې زکوة نه فرض کیږي خو د هغه لپاره هم زکوة نذر او صدقه واجبه مال اخستل صحیح نه دي او پر هغه هم صدقه فطر کول او قرباني کول واجب کیږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

معاذ بن جبل ته لارښوونې

﴿۱۶۸۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا اِلَى

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ولیږئ

الْيَمَنِ فَقَالَ إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا

یمن ته او ورته وویې فرمایل : ته یو داسې قوم ته ځې چې اهل کتاب دي (یعني یهود او نصارا دي) نو هغوی ددې خبرې شاهدي ته راوبله چې د الله ﷻ څخه پرته بل د عبادت وړ نسته

اللّٰهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللّٰهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ

او محمد ﷺ د الله تعالی رسول دئ او که هغوی دا ومني نو هغوی ته وښیه چې الله تعالی پر هغوی فرض کړي دي

خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ

پنځه لمنځونه په شپه او ورځ کې که هغوی دا هم قبول کړي نو بیا هغوی ته وښیه چې الله تعالی

افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ فِي فُقَرَائِهِمْ فَإِنْ هُمْ

پر هغوی زکوة فرض کړی دئ چې د شتمنو څخه واخیستل سي او پر غریبانو وویشل سي، که

أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهَا

وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ . متفق عليه

هغوی دا هم ومني نو د هغوی غوره مال (په زکوة کې) مه اخله (بلکه درمیانه مال اخله) او (د زکوة په ترلاسه کولو کې) خپل ځان د مظلوم د بښیراوو څخه وساته ځکه چې د مظلوم د عاء او د الله تعالی په منځ کې پرده نسته. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۵۷، رقم: ۱۴۹۶، ومسلم ۱\۵۰، رقم: ۲۹-۱۹.

تشریح: که څه هم په یمن کې مشرک او ذمي کافر هم وو خو په ټولو قومو کې د اهل کتابو کثرت وو ځکه رسول الله ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه یمن ته د استولو په وخت د هغو خلکو څخه په خاصه توګه سره یوازې د اهل کتابو ذکر وکړ.

د جنګ د اعلان څخه مخکې کافرانو ته د اسلام دعوت ورکول واجب دی

ابن مالک رحمة الله علیه فرمائي: دا حدیث په دې خبرې دلالت کوي چې د کفارو په مقابله کې د اعلان جنګ مخکې د اسلام دعوت ورکول واجب دی مګر دا په هغه صورت کې دی کله چې کفارو ته د اسلام دعوت نه وو رسیدلی او هغوی د الله تعالی اخري دین خوا ته د مخکې څخه نه وه بلل سوي که صورت حال دا وي چې هغوی ته د اسلام دعوت مخکې رسیدلی وي نو اوس د جنګ مخکې هغوی ته د اسلام دعوت ورکول واجب نه دی مګر مستحب دی.

د زکوة نه ادا کولو سزا

﴿۱۶۸۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَا

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې د سرو او

فِضَّةٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ

سپينو زرو خاوند وي او هغه د هغه حق (يعني زكوة) ادا نه كړي نو د قيامت په ورځ به د هغه لپاره تخت جوړ سي

نَارٍ فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِينُهُ وَظَهْرُهُ كُلَّمَا بَرَدَتْ

چې پر اور به تودیږي او په هغه تخت سره به د هغه بغلونه، تندی او ملا داغیږي او هر کله چې هغه یخ سي

أُعِيدَتْ لَهُ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ

نو بیا به د دوږخ په اور کي تودیږي او بیا به په داغیږي او همیشه به ورسره داسي کیږي، او دا ورځ په کومه ورځ چې به داسي ورسره کول کیږي دومره لویه وي چې د هغه اندازه به د دنیا د پنځوس زرو کلو برابر وي تر دې چې د بندګانو حساب کتاب به ختم سي

فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَالْإِبِلُ قَالَ وَلَا

او جنت ته تلونکي به جنت ته او دوږخ ته تلونکي به دوږخ ته ولیږل سي . د رسول الله ﷺ د ارشاد اوریدو سره پوښتنه وسول چې اې دالله رسوله ! دا حکم خو د زرو دئ د اوښانو څه حکم دئ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

صَاحِبُ إِبِلٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا وَمِنْ حَقِّهَا حَلَبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا إِلَّا إِذَا كَانَ

د اوښانو خاوند هم که هغه د اوښانو حق ادا نه کړي نو د قیامت په ورځ به د اوښانو خاوند

يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ أَوْفَرَ مَا كَانَتْ لَا يَفْقِدُ مِنْهَا فَصِيلًا وَاحِدًا

پرمخې د اوښانو مخکي په یو هوار میدان کي را وغورزول سي او د هغه ټول اوښان سره د بچیانو به هلته موجود وي یعني په شمیر به پوره وي او د اوښانو خاوند به په هغوی کي یو هم کم پیدا نه کړي، تر دې چې یو بچي به یې هم کم نه وي

تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَعَضُّهُ بِأَفْوَاهِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِي يَوْمٍ

او دا اوښان او بچي به ښه څاربه وي خپل خاوند به ترپښو لاندي میده کوي او په خپلو غاښو سره به يې چيچي او هر کله چې د اوښانو يو قطار د میده کولو او چيچلو څخه وروسته ولاړ سي نو دوهم قطار به راسي ترپښو لاندي به يې میده کوي او په غاښو به يې چيچي او همیشه به ورسره داسي کيږي

كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى

او په کومه ورځ چې به داسي کيږي د هغې ورځې اندازه به پنځوس زره کاله وي ترڅو چې د بندګانو په منځ کې به پريکړه وسي

الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَالْبَقَرُ وَالْغَنَمُ قَالَ وَلَا صَاحِبُ بَقَرٍ

او هغوی به دوزخ او جنت ته ولاړ سي ، د دې په اوريدو سره د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول اې د الله رسوله ! د غواوو او د پسو د خاوند به څه حال وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل

وَلَا غَنَمٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ لَا

څوک چې د هغوی حق (زکات) نه ادا کوي د قيامت په ورځ به په هوار ميدان کې پرموخې پرې ايستل سي

يَفْقِدُ مِنْهَا شَيْئًا لَيْسَ فِيهَا عَقْصَاءُ وَلَا جَلْحَاءُ وَلَا عَضْبَاءُ تَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا

او د هغه غواوو او پسو څخه به هيڅ شی کم نه وي او د هغوی ښکرونه به غوند نه وي او نه به مات وي او نه به په هغوی کې بې ښکره وي يعني د تولو پر سرونو به ښکرونه وي او سالم به وي

وَتَطَؤُهُ بِأَظْلَافِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ

دا غواوي او پسونو به خپل خاوند په ښکرو وهي او په خپلو نوکانو سره به يې نوکاري کوي او هر کله چې يو قطار خپل کار وکړي ولاړ سي نو دوهم قطار به راسي خپل کار به کوي او همداسي به کيږي او په کومه ورځ چې به داسي کيږي د هغې ورځې اندازه به

خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا

پنځوس زره کاله وي ترڅو چې د بندګانو په منځ کې پريکړه وسي او هغوی به په پرخپله خپله لار

جنت او دوزخ ته ولاړ سي،

إِلَى النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَالْخَيْلُ قَالَ الْخَيْلُ ثَلَاثَةٌ هِيَ لِرَجُلٍ وِزْرٌ وَهِيَ

د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چې اې د الله رسوله ! د آسانو څه حکم دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : آسان پر درې ډوله دي د یو ډول سړي لپاره خو د ګناه سبب کیږي

لِرَجُلٍ سِتْرٌ وَهِيَ لِرَجُلٍ أَجْرٌ فَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ وِزْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا رِيَاءً وَفَخْرًا

او د یو ډول د سړي لپاره پرده وي او د یو ډول د سړي لپاره د ثواب سبب وي ، هغه آسان چې د ګناه سبب وي د هغه سړي آسان دي چې د فخر او غرور د څرګندونې لپاره د ریا لپاره

وَنِوَاءً عَلَى أَهْلِ الْإِسْلَامِ فَهِيَ لَهُ وِزْرٌ وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ سِتْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي

یا د مسلمان سره د دښمني لپاره وي ، او هغه آسان چې د سړي لپاره پرده وي د هغه سړي آسان دي چې هغه د الله ﷻ په لار کې د کار اخیستلو لپاره ترلي وي

سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَمْ يَنْسَ حَقَّ اللَّهِ فِي ظُهُورِهَا وَلَا رِقَابِهَا فَهِيَ لَهُ سِتْرٌ وَأَمَّا الَّتِي

او د هغوی په شاوو او غاړو کې هغه د الله تعالی حق نه هیروي دا آسان به د هغه لپاره پرده وي ، او هغه آسان

هِيَ لَهُ أَجْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ فِي مَرْجٍ وَرَوْضَةٍ فَمَا

چې د ثواب سبب ګرځي د هغه سړي آسان دي چې د مسلمانانو لپاره یې د الله ﷻ په لاره کې د جهاد لپاره ترلي وي او په وربشو او وښو سره به یې ساتل ،

أَكَلَتْ مِنْ ذَلِكَ الْمَرْجِ أَوِ الرَّوْضَةِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا كُتِبَ لَهُ عَدَدَ مَا أَكَلَتْ حَسَنَاتٌ

څومره وابنه چې دغه آسان خوري د هغه په حساب کې د هغه په اندازه نیکۍ لیکل کیږي ،

وَكُتِبَ لَهُ عَدَدَ أَرْوَاثِهَا وَأَبْوَالِهَا حَسَنَاتٌ وَلَا تَقْطَعُ طِوَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ

د هغو ګندګي او بولي هم په نیکیو کې شمیرل کیږي ، او کوم آس چې رسۍ وشکوي یو یا دوه میدانه وځغلي

شَرَفَيْنِ إِلَّا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ عَدَدَ آثَارِهَا وَأَرْوَاثِهَا حَسَنَاتٍ وَلَا مَرَّ بِهَا صَاحِبُهَا

الله تعالى د هغوى د قدمو نښي او ګندګي هم په نيکيو کي ليکي، او هر کله چې د هغوى خاوند هغه ويالې ته بوځي

عَلَى نَهْرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ وَلَا يُرِيدُ أَنْ يَسْقِيَهَا إِلَّا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ عَدَدَ مَا شَرِبَتْ

او هغوى د ويالې څخه اوبه چښني که څه هم د خاوند اراده د اوبو ورکولو نه وي نو د اوبو د اندازې سره سم د هغه په حساب کې نيکۍ ليکل کيږي،

حَسَنَاتٍ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَالْحُمُرُ قَالَ مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ فِي الْحُمُرِ شَيْءٌ إِلَّا هَذِهِ

د دې بيان په اوريدو سره صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله ! د خرو څه حکم دئ ؟رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : پر ما د خرو حکم نه دئ نازل سوئ خو يوازې يو جامع

الْآيَةَ الْفَاذَّةُ الْجَامِعَةُ { فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ } . رواه مسلم

آيت : (فمن يعمل ...) څوک چې د يوې ذرې په اندازه نيکي وکړي هغه به ووينې او څوک چې د يوې ذرې په اندازه بدي وکړي هغه به ووينې . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۶۸۰، ۶۸۲، رقم: ۲۴- ۹۸۷.

د لغاتو حل: (قرقر): الاملس، (عقصاء): ملتوية القرنين، الجلحاء: التي لا قرن لها، العضباء: مكسورة القرن. (النواء): المعاداة والمنازعة (شخړه او دښمني).

تشريح : د قيامت د ورځې اندازه د پنځوس زره کاله برابر ايښودل سوې ده مګر د دې تعلق د کافرانو سره دى يعنې د قيامت په ورځ به کافرانو ته د پنځوسو زرو کالو برابر معلوميږي پاتې ګناه کارانو ته د هغوى د ګناه په اندازه دراز محسوسيږي که د چا ګناه کمه او معمولي وي نو هغه ته هغه ورځ په هغه اعتبار سره کم اوږده محسوسيږي او که د چا ګناه زياته او د شديد نوعيت وي نو هغه ته به هغه ورځ هم په هغه اعتبار سره زياته اوږده محسوسيږي خو د الله تعالى نيک بندګان يعنې مومنان کاملين ته به هغه پوره ورځ يوازې د دوو رکعتو لمانځه په اندازه معلوميږي ګويا په څومره وخت کې چې دوه رکعته لمونځ کيږي هغوى ته به هغه ورځ

یوازي د هغه وخت په اندازه محسوسیږي.

(فیري سبیله اما الی الجنة .....الخ) او هغه وخت به د جنت یا دوزخ خواته خپله لار وویني د دې مطلب دادی که د یوه سړي په اعمال نامه کي د زکوة پریښولو ماسیوا بله څه ګناه نه وي او مذکوره عذاب چې په هغه کي اخته کړه سي د هغه دا ګناه لیري کړي نو د دې وروسته به هغه جنت ته ځي او خدای دي نه کړي که د هغه په اعمال نامه کي د زکوة پریښولو ماسیوا نور ګناهونه وي یا دا چې د مذکوره ګناه وروسته هم د زکوة پریښولو ګناه هم د هغه څخه لیري نسي نو بیا به هغه په دوزخ کي اچول کیږي.

(حتی یقضی بین العباد) کي دې خواته اشاره ده چې د قیامت په ورځ به د حشر په میدان کي نور د خدای مخلوق به په حساب کتاب کي مصروف وي خو هغه خلک چې هغوی زکوة نه وي ادا کړی په عذاب کي په اخته وي.

(ومن حقها حلبها یوم وردها) د اوښانو یو حق دا هم دی، د اوښانو والا دا قاعده وي چې هغوی خپل اوښان په دریمه یا څلورمه ورځ د اوبو د څښلو ځای ته د اوبو لپاره بوځي په عربو کي دا یو معمول هم وو چې کوم ځای ته به د اوبو د چشلو لپاره راوستل سوه هغه به هلته خلک جمع کیدل اوښانو والا به خپلو اوښانو ته هلته اوبه ورکولې او هلته به یې د اوښانو شپدې په لویشلو سره هلته جمع سوي خلکو باندي څیښل په دې اړه فرمایل سوي دي که څه هم د اوښانو واجب حق خو یوازي دادی چې د هغوی زکوة دي اداء کړه سي خو د هغوی او د نورو حقونو څخه یو مستحب حق دا هم دی چې په کومه ورځ اوښان د اوبو څیښلو لپاره ولاړ سي د هغې ورځي شپدې په لویشلو سره په غریبانو او مسکینانو وڅیښل سي دا کار که څه هم مستحب دی مګر د همدردي له موخي او د شکر د حق د اداء په بنیاد ګویا دا د واجب حکم لري ځکه په دې اړه په دومره اهمیت سره بیان سوی دی د حدیث د ظاهري الفاظو څخه دا معلومیږي چې د دې حق د عدم ادائیګي په صورت کي هم عذاب کیدای سي.

(ولا یریدان یسقیها) که څه هم د مالک اراده د هغوی د اوبو څښلو نه وي، د دې مطلب دادی چې مالک و اسانو ته د اوبو ورکولو اراده نلري مګر د دې ارادې او قصد بغیر آس اوبه وڅیښي نو په دې اړه مذکوره بیان سوی دی د دې څخه اندازه لګول کیږي که چیري مالک په خپله دا اراده او قصد وکړي چې اسانو ته اوبه ورکړي نو هغه به څومره ثواب ترلاسه کوي د آسانو په باره کي د صحابوو رضي الله عنهم څخه پریوې پوښتنې باندي رسول الله ﷺ چې کوم جواب ورکړ هغه اسلوب د مخکي جوابو د اسلوب څخه جلا دی په دې وخت کي رسول الله ﷺ

چې د جواب کوم طرز اختیار کړی دی دې ته جواب علی اسلوب الحکیم وائي ګویا رسول الله ﷺ پوښتنه کونکو ته وفرمایل چې د آسانو کوم حق واجب دی یوازې په دې اړه پوښتنه مه کوئ چې د دې اسانو په وجه د دې پالونکي د سعادت او نیک بختي څومره مقام حاصلوي او هغه ته د دې اسانو څخه څومره ګټې رسیږي همداسي دوهم اړخ هم چې د دې ساتونکو ته څومره ګناه حاصلیږي او هغوی ته کوم تاوان رسوي.

په دې بنیاد رسول الله ﷺ د اسانو دري ډولونه بیان کړي دي اول هغه اسان چې د خپل مالک لپاره د ګناه سبب ګرځي د دې په تشریح کې رسول الله ﷺ دا وفرمایل چې د دې څخه هغه اسان مراد دي چې د هغوی مالک اظهار فخر او یا د ریاء لپاره ساتلي وي یعني آس د ساتلو څخه د هغه غرض دا وي چې خلک د هغه شان او شوکت وویني او پوه سي چې دی مجاهد دی حال دا چې په واقعي کې هغه مجاهد نه وي او د فخر څخه مراد دادی چې هغه آس په دغه نیت وساتي چې تر ځان کشته پر خلکو باندې خپله لوئي څرګنده کړي او د هغوی مخکې د فخر اظهار وکړي دوهم هغه آسان چې د خپل مالک لپاره پرده وي د دې وضاحت رسول الله ﷺ دا وفرمایه چې د دې څخه هغه اسان مراد دي چې د هغه مالک د دې لپاره ترلي وي چې هغه د الله تعالی په کار کې راسي دلته د الله تعالی په لار کې په کار د راتلو څخه جهاد مراد نه دی مګر مراد دادی چې د آسانو د ساتلو او ترلو مقصد اظهار فخر پر غرور او ریاء باندې نه وي مګر هغه په ښه او نیک نیت سره وساتي مثلا اسان د دې مقصد لپاره وساتي چې هغه د الله تعالی په اطاعت او فرمانبرداري د ضرورتونو په وخت کې پر هغه سپاره سي او دا چې د خپل فقر او احتیاج پرده پوشي وکړي څرنګه چې په دې روایت کې فرمایل سوي دي (ربطها تغنیا وتعففا) یعني د نورو څخه مستغنی کیدو او د نورو مخکې د خپل احتیاج او ضرورت د اظهار څخه د ساتلو لپاره د آس ساتل پکار دي مثلا تجارتي مقصد لپاره د عزیز قریب او دوست احباب ته د ورتلو لپاره پتې درمن ته د تلو راتلو لپاره د دې ډول د نورو مقاصدو پر وخت که د آس ضرورت وي نو بل چا ته خواست کول په کښې رائي مګر که خپل آس وي نو پکار به راسي او د پردو مخکې د اظهار ضرورت د شرمندګي څخه به وساتل سي ځکه په دې وخت کې رسول الله ﷺ آس خپل د مالک لپاره پوده ګرځولې ده چې یو خوا ته خو آس د خپل مالک د فقر او احتیاج لپاره پرده وي په دې توګه چې د آس په وجه د نورو په نظرونو کې د هغه د مالک وقار قائم وي او د هغه عزت جوړوي دوهم خوا ته د آس مالک خپل ضرورت او د حاجت پر وخت د بل سړي مخکې د اظهار حاجت او د سوال او لاس د اوږدولو څخه وساتل سي.

په دې وخت کې د الله تعالی د لاري څخه دا مفهوم ځکه مراد اخستل کیږي چې په یوه عبارت کې تکرار رانسي ځکه چې د دریم ډول په ضمن کې مذکوره د الله تعالی د لاري څخه مراد جهاد دی.

په دې ضمن کې رسول الله ﷺ د آس د مالک یو وصف دا هم بیان کړی دی چې د هغوی د شا او د هغوی د غاړې او د خوراک په اړه هغه د الله تعالی حق هیر نه کړي.

په دې ارشاد کې د شا په باره کې د الله تعالی حق دادی چې پر هغه آس باندې د ښه او نیکو کارو لپاره سپورسي او که چا د هغه څخه د خپل سواري لپاره یا پر آسپو باندې د ختلو لپاره د هغه آس وغوښتی نو د هغه ضرورت دې ور پوره کړي همداسي د غاړې حق دادی چې د هغه زکوة یې ادا کړ خو د شوافع حضراتو لخوا څخه د دې ارشاد مطلب دا بیانیږي چې مالک د خپل آس خیرګیري وکړي په دې توګه چې د هغه په وانښه دانه کې څه کمي ونه کړي هغه ته یې پوره خوراک ورکړ او که هغه ته څه مرض ورورسید یا څه تکلیف وسو نو هغه یې سمدستي لیري کړی.

په آسونو کې زکوة ستە که نسته : په اصل کې د دې عبارت د مفهوم په تعین کې دا اختلاف ځکه راغلی دی چې د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد پر هغه آسانو باندې زکوة واجب کیږي کوم چې په ځنګل کې څرول کیږي بیا د آسونو مالک په دې اړه مختار دی که وغواړي نو هغوی په زکوة کې په هر آس پسې دې یو دینار ورکړي که څه هم د هغه قیمت په تاکولو سره د هرو دووسو درهمو څخه پنځه درهمه زکوة ادا کړي څرنګه چې د زکوة حساب دی.

د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد او د صاحبین رحمة الله علیهم په نزد پر اسانو باندې زکوة نه واجب کیږي د دې حضراتو دلیل د رسول الله ﷺ ارشاد دی چې پر مسلمانانو باندې د هغوی د آسونو او په غلامانو کې صدقه واجب نه ده د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه د خوا څخه د دلیل په توګه دا حدیث پیش کیږي په هر آس پسې چې په ځنګل کې څري یو دینار دی.

تر څو پورې چې پر تعین قیمت باندې د زکوة تعلق دی په دې اړه ویل کیږي چې دا حضرت عمر فاروق رضی الله عنه څخه نقل دي امام شافعي رحمة الله علیه چې د دلیل په توګه کوم حدیث پیش کوي د دې په باره کې د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه لخوا څخه ویل کیږي چې د دې تعلق د غازي او مجاهد د آس سره دی همداسي د غلام څخه هغه غلام مراد دی چې د خدمت لپاره ساتل سوی وي.

دریم: هغه آسونه چې د خپل مالک لپاره د ثواب سبب او ذریعه جوړیږي د دې تشریح حضرت

دا وفرمايله چي د دې څخه هغه آسان مراد دي چي د هغه مالک د مسلمانانو لپاره د الله تعالى په لار کي ترلي وي دلته د الله تعالى د لار څخه مراد جهاد دى يعني هغه د دې مقصد لپاره آسونه ساتلي وي چي کله د جهاد وخت راسي نو هغه په سوريدو سره د اسلام د دشمنانو سره جنګ وکړي د ضرورت پر وخت نورو مسلمانانو ته يې ورکړي چي پر هغه په سپريدو سره جنګ يعني جهاد وکړي.

﴿۱۶۸۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا ته چي الله تعالى شتمني ورکړې وي

فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ

او د هغې زکوة يې ادا نه کړ نو د قيامت په ورځ به د هغه د شتمنى څخه يو مار جوړ سي چي د هغه په سترګو کي به دوې توري شغلي وي او د مار څخه به طوق جوړ سي

يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِي بِشِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا

او د هغه په غاړه کي به واچول سي بيا به دا مار هغه تر دواړو وښکونه ونيسي او ورته وايي به زه ستا شتمني

كَنْزُكَ ثُمَّ تَلَا { لَا يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ } الْآيَةَ. رواه البخاري.

او ستا خزانه يم، ددې وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ (وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ ...) کوم خلک چي بخل کوي هغوى دي دا ګمان نه کوي ..... الخ. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۶۸، رقم: ۱۴۰۳.

د لغاتو حل: (شُجاعا): الحية الذكر (نر مار).

تشريح: د پک مار مطلب دادى چي د هغه پر سر به ويښتان نه وي اود اپک توب د مار د ډير زيات زهر والا او د اوږده عمر کيدو علامت دى.

رسول الله ﷺ د خپل ارشاد وروسته بطور علامت د آيت کريمه تلاوت په فرمايلو سره خبر کړل په نبه ډول واورى الله تعالى هم دا ارشاد فرمائي پوره آيت دادى:

وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ژباړه : کومو خلکو ته چې الله تعالی په خپل فضل سره مال ورکړی دی او په هغه کې بخل کوي نو هغوی دي د خپل هغه مال په باره کې دا ګمان نه کوي چې د هغوی لپاره بهتر دی مګر هغه مال خو د هغوی په حق کې سراسر نقصان دی او یاد و لرئ چې د قیامت په ورځ د هغه مال چې په هغه کې بخل کوي طوق به ورته واچول سي یعني د هغوی هغه مال په طوق جوړولو سره د هغوی په غاړو کې واچول سي.

﴿۱۶۸۳﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُونُ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د چا سره چې

لَهُ إِبِلٌ أَوْ بَقَرٌ أَوْ غَنَمٌ لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا إِلَّا أُتِيَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْظَمَ مَا تَكُونُ

اوښان، غواوي یا پسونه وي او د هغوی حق (زکات) ادا نه کړي نو د قیامت په ورځ به دا شیان ډیر لوی او

وَأَسْمَنَهُ تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا كُلَّمَا جَازَتْ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُولَاهَا حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ. متفق عليه

په بد شکل کې راوستل سي او هغه کس به په خپلو پښو سره میده. کوي او په خپلو ښکرونو سره به یې وهي او د هغوی قطارونه به یو په بل پسې داسې کوي تر څو چې د خلکو د حساب او کتاب پریکړه وسي. بخاري او مسلم

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳/۳۲۳، رقم: ۱۴۶۰، ومسلم ۲/۶۸۶، رقم: ۳۰-۹۹۰.

عاملین خوشحالوئ

﴿۱۶۸۴﴾: وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاكُمُ الْمُصَدِّقُ فَلْيَصْدُرْ عَنْكُمْ وَهُوَ عَنْكُمْ رَاضٍ. رواه مسلم

د حضرت جریر بن عبد الله رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې تاسو ته زکوة اخیستونکی راسي نو تاسو ته پکار ده چې هغه ستاسو څخه راضي ولاړ سي . مسلم

تخریج : صحیح مسلم: ۲\ ۶۸۶، رقم: ۲۹- ۹۸۹.

تشریح : مطلب دادی چې کله امام وخت یا د اسلامي ادارو د خوا څخه زکوة وصولونکی راسي نو د هغوی سره د عزت او احترام معامله کوي او هغوی ته پوره پوره زکوة ورکړي چې هغوی راضي او خوشحاله خپلو اولادو ته ولاړ سي .

زکوة ادا کونکي ته دعاء

﴿۱۶۸۵﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِيْ أَوْفٰى قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت عبدالله بن ابي اوفی رضی الله عنه څخه روایت دئ چې کله به رسول الله ﷺ ته

أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ قَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى آلِ فُلَانٍ فَأَتَاهُ أَبِيْ بِصَدَقَتِهِ فَقَالَ

یو قوم د زکوة ورکولو لپاره راغلئ نو رسول الله ﷺ به فرمایل : اې الله ! پر آل د فلاني باندي رحمت نازل کړې ، یوه ورځ زما پلار د زکوة ورکولو لپاره راغلئ نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى آلِ أَبِيْ أَوْفٰى. متفق عليه وَفِيْ رِوَايَةٍ إِذَا أَتَى الرَّجُلُ النَّبِيَّ بِصَدَقَتِهِ قَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ .

اې الله ! پر آل د ابو اوفی رحمت نازل کړې . بخاري او مسلم او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چې هر کله به یو سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کي د زکوة ورکولو لپاره راغلئ نو رسول الله ﷺ به فرمایل : اې الله ! پر ده رحمت وکړې .

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۳۶۱، رقم: ۱۴۹۷، ومسلم ۲\ ۷۵۶، ۷۵۷، رقم: ۱۷۶- ۱۰۷۸

تشریح : د یوه سړي په باره کي یوازي د هغه لپاره لفظ په صلوة سره دعا کول یعني داسي ویل چې (اللهم علی آل فلان) صحیح نه دی لفظ صلوة سره دعا یوازي د انبیاء کرام لپاره مخصوص ده هو که یو سړی د انبیاء سره په متعلق کولو سره لفظ صلوة سره دعا وکړي نو صحیح ده تر څو پوري چې د رسول الله ﷺ د ذات تعلق دی چې د زکوة راوړونکو لپاره به یې لفظ صلوة سره د رحمت دعا کوله نو په دې اړه ویل سوي دي چې دا د رسول الله ﷺ د خصائص څخه دی د بل چا لپاره دا جائز نه دی .

﴿۱۶۸۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَرَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ حضرت عمر رضي الله عنه

عَلَى الصَّدَقَةِ فَقِيلَ مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ وَالْعَبَّاسُ عَمُّ رَسُولِ

د زكوة كار كونكى و تاكئ، يو چا رسول الله ﷺ خبر كړ چې ابن جميل، خالد بن وليد او عباس زكوة نه دئ وركړئ،

اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فَقِيرًا فَأَغْنَاهُ

نو رسول الله ﷺ وفرمايل: ابن جميل خو له دې كبله د زكوة وركولو څخه انكار كړئ دى چې (په يوه زمانه كې) هغه مفلس او نيست مند وو او اوس الله تعالى او د هغه رسول هغه شتمن جوړ كړئ (د حضرت محمد ﷺ د دعاء په بركت دى غني سو)،

اللّٰهُ وَرَسُولُهُ وَأَمَّا خَالِدٌ فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا قَدْ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتَادَهُ

او خالد بن وليد نو تاسو پر هغه ظلم كوئ (چې د هغه څخه زكات غواړئ) ځكه چې هغه خپل زغري او د جنګ ټول سامان د جهاد لپاره وقف كړئ دئ،

فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَأَمَّا الْعَبَّاسُ فَهِيَ عَلَيَّ وَمِثْلُهَا مَعَهَا ثُمَّ قَالَ يَا عُمَرُ أَمَا شَعَرْتَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ. متفق عليه

پاته سو عباس رضي الله عنه نو د هغه زكوة پر ما واجب دئ او په مثل دې نور هم، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عمر! ايا تا ته څرګنده نه ده چې د سړي اكا د هغه د پلار په ډول وي، بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۳۱، رقم: ۱۴۶۸، ومسلم ۲\۶۷۶، ۶۷۷، رقم: ۱۱-۹۸۳

تشريح: ابن جميل مخكې منافق وو وروسته مسلمان سو هغه ډير زيات مسكين او محتاج وو هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سو خواست يې وكړ چې زما لپاره د مال او دولت دعا وغواړه زه به د الله د راكړل سوو نعمتونو شكر ادا كوم رسول الله ﷺ د هغه لپاره دعا وكړه نو هغه د مال او دولت خاوند سو د هغه فرض وو چې الله تعالى د هغه د محتاجۍ په بدله كې

مال او دولت ورکړ حال دا چې د الله تعالی شکریې ادا کړی وای خو هغه نا شکري وکړه تر دې چې د زکوة د ورکولو څخه یې هم انکار وکړ ځکه په دې حدیث کې رسول الله ﷺ د هغه په باره کې د زجر او تنبیه په توګه مذکوره کلمات وفرمایل.

رسول الله ﷺ په خپل ارشاد مبارک (الله تعالی او د هغه رسول هغه دولت مند جوړ کړ) کې د ابن جمیل د دولت مند کېدو په نسبت په دې اعتبار سره وفرمایل چې ما ددې مقصد لپاره د الله تعالی په دربار کې دعاء کړې وه او هغه مې ددعاء په وجه دولت مند کړ.

په دې ټول پوهیږي چې حضرت عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ اکاوو، رسول الله ﷺ د هغه زکوة پر خپله ذمه کړ چې رسول الله ﷺ د هغه څخه د دوو کالو په یوه وار زکوة مخکې وصول کړی وو یعنې د هغه لخوا څخه د روان کال زکوة هم رسول الله ﷺ ته راغلی وو چې د هغه مطالبه کیده او د راروان کال زکوة هم ځینې اخسته سوی وو ځرنګه چې رسول الله ﷺ په خپل ارشاد کې د ومثلها معها په ذریعه واضحه کړه.

د زکوة اخیستونکی لپاره هدیه نسته

﴿۱۶۸۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ حُمَيْدِ السَّاعِدِيِّ قَالَ اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو حمید الساعدي رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د زکوة کارکونکئ وتاکئ

رَجُلًا مِنَ الْأَزْدِ يُقَالُ لَهُ ابْنُ الْأُتْبِيَّةِ عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ هٰذَا لَكُمْ

د ازد د قبیلې څخه یو سړی چې ابن اللتبیه نومیدئ کله چې هغه مدینې ته راغلی نو مسلمانانو ته یې وویل: دا مال ستاسو دئ (یعنې د زکوة مال)

وَهٰذَا أُهْدِيَ فَخَطَبَ النَّبِيُّ ﷺ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّيْ

او دا مال ما ته د تحفې په ډول راکول سوی دئ، د دې پېښې په اوریدو سره رسول الله ﷺ د خلکو په وړاندې خطبه وویل، لومړی یې د الله تعالی حمد او ثناء بیان کړه بیا یې وفرمایل: زه

أَسْتَعْمِلُ رِجَالًا مِّنْكُمْ عَلٰى أُمُوْرٍ مِّمَّا وَلَّانِيَ اللّٰهُ فَيَأْتِيْ أَحَدُهُمْ فَيَقُوْلُ هٰذَا

په تاسو کې ځینې خلک پر ځینو کارونو تاکم چې په هغه کې الله تعالی زه تاکلی یم اوس په تاسو کې یو سړی راځي او دا وایي چې دا

لَكُمْ وَهٰذَا هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ لِيْ فَهَلاَّ جَلَسَ فِيْ بَيْتِ أَبِيْهِ أَوْ بَيْتِ أُمِّهِ فَيَنْظُرُ

ستاسو مال دئ او دا ما ته تحفه راکړل سوې ده، هغه سړی دي د خپل مور اوپلار په کور کي کښيني او وه دي ګوري

أَيُهْدٰى لَهُ أَمْ لاَ ؟ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ مِنْهُ شَيْئًا إِلَّا جَاءَ بِهِ

چي هغه ته څوک تحفه راليږي يا نه ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده په تاسو کي چي څوک يو شی د (استحقاق څخه پرته) اخلي

يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَبَتِهِ إِنْ كَانَ بَعِيرًا لَهُ رُغَاءٌ أَوْ بَقَرَةً لَهَا خُوَارٌ أَوْ

هغه به د قيامت په ورځ د هغه پر څټ بار کړی راوړل سي که هغه شی اوښ وي نو د هغه آواز به وي که غوا وي نو د هغې آواز به وي او که

شَاةً تَيْعَرُ ثُمَّ رَفَعَ بِيَدِهِ حَتّٰى رَأَيْنَا عُفْرَةَ إِبْطَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ

پسه وي نو د هغه آواز به وي (يعني دا شيان به د هغه پر څټ سپاره وي او آواز ونه به کوي) ددې وروسته رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه دومره پورته کړل چي موږ د رسول الله ﷺ د بغلو سپين والی وليدئ او وه يې فرمايل : اې الله ما ستا حکم ورسوئ

اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ . متفق عليه . قال الخطابي : وفي قوله : " هلا جلس في بيت أمه أو أبيه فينظر أيهدى إليه أم لا ؟ " دليل على أن كل أمر يتذرع به إلى محظور فهو محظور وكل دخل في العقود ينظر هل يكون حكمه عند الانفراد كحكمه عند الاقتران أم لا ؟ هكذا في شرح السنة

اې الله ما ستا حکم ورسوئ . بخاري او مسلم ، خطابي ويلي دي چي د رسول الله ﷺ دا قول چي د خپل مور اوپلار په کور کي کښيني ددې ليدو لپاره چي ايا هغه ته څوک تحفه راليږي که يا ، دا قول پر دې خبره دليل دئ چي کوم شی د امر حرام ذريعه جوړه کړل سي هغه وسيله هم حرامه ده او هر هغه عقد چي په عقود کي داخل وي نو کتل کيږي چي ايا ددې حکم يو ازيني وخت هغه

دئ چې د اجتماع په وخت کې دئ که یا ، همداسې په شرح السنة کې بیان سوئ دئ .

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\ ۲۲۰، رقم: ۲۵۹۷، ومسلم ۳\ ۱۴۶۳، رقم: ۲۶- ۱۸۳۲.

تشریح: دا قول چې هغه به یې لیدلی وو چې هغه ته څوک تحفه را استوي که نه. د دې مطلب دادی چې هغه سړي ته د تحفې وړاندیز د هغه د ذات په وجه نه دی مګر د هغه د عهدې په وجه دیکه هغه زکوة د وصولو لپاره عامل نه وای تاکل سوی مګر په خپل کور کې ناست وای نو هغه ته به هیڅ چا تحفه نه وای را استولې .

د دې څخه دا خبره معلومه سوه که عامل ته د هغه عزیز یا اړیوال تحفه ورکړي نو کتلای به سي که د هغه لپاره د هغه تحفې وړاندیز د هغه د عامل کیدو په وجه نه وو مګر د خپل تعلقات او د یارانه مراسمو په وجه دی او دا یې همیشه معمول دی نو هغه تحفه به د هغه لپاره جائز وي او که د تحفې وړاندیز یوازې د هغه د عهدې په وجه وي نو هغه تحفه به د هغه لپاره جائز نه وي څرنګه چې قاضي او نورو حاکمانو په دې اړه مسئله ده که د قاضي او حاکم دعوت وکړه سي یا هغه ته تحفه ورکړه سي نو هغه وخت دي هغه قبول کړه سي کله چې په دې پوه سي چې دا وړاندیز زما د موجوده عهدې په وجه نه دی مګر د خپل ذاتي تعلقاتو په وجه دی او د همیشه معمول مطابق دی .

خو ابن ملک رحمة الله علیه دا فرمائي چې عامل حاکم لپاره دا جائز نه دی چې هغه د چا تحفه قبوله کړي ځکه چې د تحفې وړاندیز یوازې او یوازې د هغه دا خواهش وي چې عامل زکوة کې څه برخه پریږدي او حاکم د هغه سره غیر قانوني رعایت وکړي او دا مطلقا جائز نه دی .

خطابي رحمة الله علیه د دې حدیث څخه دوې قاعدې او شرعي اصول ثابتوي. اوله قاعده او شرعي وصول دا بیانوي که د یوه حرام شي د خاطره یو مباح او جائز شی وسیله او ذریعه جوړه کړه سي نو هغه مباح او جائز شی به هم د یوه حرام مقصد وسیله کیدو په وجه حرام سي د مثال په توګه دا سي پوه سئ چې یو سړی نفع او سود د حاصلولو لپاره یو سړي ته پور ورکوي او ظاهره ده چې پور ورکول یو جائز کار دی خو پور ورکونکی سود د حاصلولو لپاره پور ورکړي ځکه د هغه پور ورکول هم حرام سو همداسې کور چې یو سړی هغه بطور ګروي واخلي چې په هغه کې بغیر د کرائې سکونت اختیار کړي یا حیوان چې هغه رهن واخسته سي او بیا بېله معاوضې پر هغه سپرتیا کوي یا د هغه څخه دوهمه فائده حاصله کړي .

دوهمه قاعده او شرعي اصول یې دا بیان فرمایلی دی که دوې جلا جلا معاملې د یوه بل سره متعلق کړه سي نو هغه وخت به دا کتلای سي چې د دې دواړو معاملو جلا جلا حکم د هغو

دواړو د یو ځای د متعلق کیدو د حکم مطابق دی که نه یعني که هغه مَعاملې جلا جلا جائز کیدای سي نو دواړه د یوبل سره د متعلق کیدو سره به هم صحیح وي او که دواړي معاملې جلا جلا صحیح نه وي نو دواړه د یو بل سره په متعلق کیدو سره به هم صحیح نه وي مثلا یو سړی چا دوهم ته د لسو روپو شی په سل روپی خرڅ کړي چي هغه ته بیا زرو روپو پور ورکوي او د هغه سود د هغه شي د قیمت په توګه وصول کړي یعني څرنګه چي په هغه صورت کي نیوي روپی قرض کونکي ته حاصلي سوې چي د هغه د پور ګټه سود سوه دا صورت جائز نه دی ځکه که هغه د لسو روپو شی په سلو روپو خرڅوي او رانیونکي ته د پور امید ورنه کړي نو هغه به هیڅ کله هغه په دومره زیات قیمت باندي نه وای اخیستی.

او چیري چي دوې معاملې داسي وي که یوه د دویمي څخه جلا کړي نو هم جائز او صحیح وي لکه هغه صورت مذکور کي د لسو روپو شی په لس روپی خرڅوي او د زرو روپو پور هم ورکولای نو دا دواړي معاملې جلا جلا به جائز وي ځکه په یوې بلي سره متعلق او یو ځای په کیدو سره به هم صحیح وي.

خطابي رحمة الله علیه د حدیث څخه چي دا دوې قاعدې اخیستي دي په دې کي اوله قاعده خو بلا اختلاف د ټولو په نزد قابل قبول ده ځکه چي د ټولو امامانو مذهب کي دا قاعده تاکل سوې ده چي وسائل او ذرائع د مقاصد په حکم کي وي ځکه چي د نیکي وسیله به هم نیکي وي او د بدي وسیله به هم بدي وي مګر دوهمه قاعده د امام مالک رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه په نزد خو قابل قبول ده ځکه چي هغوی هر هغه حیله ناجائز ګرځوي چي د هغه په ذریعه د سود وغیره د حرمت څخه وساتل سي خو امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه او د امام شافعي رحمة الله علیه دا دوهمه قاعده نه منی د دې حضراتو په نزد حیله مباح ده خو دومره خبره دي په خیال کي ساتل وي که څه هم امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه د دې قائدې قائل نه دی مګر د دې قائدې چي مثال ورکړه سوی دی هغه صورت د امام صاحب رحمة الله علیه په نزد هم د یوې دویمي شرعي قاعدې مطائق جائز نه دی د امام صاحب رحمة الله علیه په نزد د حیلې ځیني صورتونه صحیح دي په دې اړه ویل سوي دي چي هغوی د خطابي ذکر سوی د دوهمي قاعدې قائل نه دي.

عامل دي خيانت نه كوي

﴿۱۶۸۸﴾: وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَمِيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عدي بن عمير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمْنَا مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ كَانَ غُلُولًا يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه مسلم

په تاسو كي چي يو څوك په يو كار مامور سي (يعني عامل يا حاكم وټاكل سي) او بيا هغه زموږ څخه د ستني په اندازه يا ددې څخه زيات يو شى پټ كړي نو دا پټول خيانت دئ او د قيامت په ورځ به هغه د هغه شي سره راځي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۳\ ۱۴۶۵، رقم: ۳۰- ۱۸۳۳.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

زكوة نه وركونكي ته تنبيه

﴿۱۶۸۹﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ { وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله دا آيت نازل سو (والذين.... والفضة) او كوم خلك چي سره او سپين زر يو ځاى كوي،

وَالْفِضَّةَ } قَالَ كَبُرَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَا أُفَرِّجُ

نو مسلمانانو دا گران فكر وكړ ، حضرت عمر رضي الله عنه خلكو ته وويل زه به ستاسو دا فكر ليري كړم

عَنْكُمْ فَانْطَلَقَ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ إِنَّهُ كَبُرَ عَلَى أَصْحَابِكَ هٰذِهِ الْآيَةُ فَقَالَ

او دا مشكل به مو حل كړم ، نو حضرت عمر د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر او عرض يې وكړ اې د الله رسوله ! دا آيت ستاسو پر اصحابو دروند سوئ دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَفْرِضِ الزَّكَاةَ إِلَّا لِيُطَيِّبَ مَا بَقِيَ



صحابه دا کیفیت په لید و سره رسول الله ﷺ ته په دې اړه عرض وکی په دې اړه رسول الله ﷺ وفرمایل چې زکوة خو فرض سوی دی چې د دې په ادا کولو سره پاته مال پاک سي د مال څخه چې زکوة ادا کړه سي نو کوم مال چې پاته سي هغه پاک سي اوس که هغه مال راټول کړي نو په هغه کي څه تاوان نسته په ایت کریمه کي چې کومه سزا بیان سوې ده هغه مطلقا د مال د جمع کولو په باره کي نه ده مګر د هغه صورت لپاره ده چې مال جمع کړه سي او د هغه زکوة ادا نه کړه سي که یو د زکوة د ایستلو وروسته مال جمع کړي نو د هغه لپاره هیڅ سزا نسته.

(و ذکر کلمة) او د دې وروسته یې یوه بله کلمه ذکر کړل ، دا جمله د حدیث د راوي حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ده یعني حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په دغه وخت کي دا فرمائي چې رسول الله ﷺ : و انما فرض المواریث، څخه وروسته بله جمله ارشاد فرمایلې ده خو هغه جمله څه ده ماته یاد نه ده اوس خو ماته چې څومره اندازه یاد دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل الله تعالی میراث ځکه فرض کړی دی چې هغه ستاسو ستاسو د وارثانو حق سي ګویا د دې خبري څخه هم رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمایل که مطلقا مال جمع کول د شریعت په نظر کي قابل نفرت کار وي نو الله تعالی به نه زکوة فرض کوی او نه میراث ، د زکوة او میراث فرض کیدل د دې خبري دلیل دی چې په جائزو طریقو سره مال جمع کول بد نه دي هو دومره خبره ضرور ده چې د هغه مال زکوة ادا کیدل پکار دي.

کله چې رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وښودل چې تر څو پورې زکوة ادا کیږي نو مال جمع کول منعه نه دي او د صحابه کرامو رضي الله عنهم د یو مشکل او بیرې څخه په وتلو سره د اطمینان او خوشحالی احساس وکړ، نو رسول الله ﷺ د هغوی د کیفیت په لېدو سره هغوی ته د هغه شي رغبت ورکړ چې د مال څخه په هر صورت ښه دی یعني ښځه که څه هم په دې اړه د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو چې نیک بخته او ښائسته ښځه د مال څخه بهتره او افضله ده ځکه چې روپی، سره زر او سپین زر د ذخیره کېدو شیان نه دي بیا دا چې سره زر او سپین زر په جمع کولو سره په خپله خزانه کي محفوظ وساتي ظاهره ده چې په داسي صورت کي نه د هغه تاوان او نه راحت سته هو کله چې د خپل ضرورت په وخت کي هغه خرڅ کړي او هغه ستا څخه ولاړسي نو یوازي هغه وخت هغه ستا په کار راتلای سي پر خلاف د ښځي چې هغه تر څو پورې ستا سره وي ستا د ژوند ملګري او د راحت باعث جوړیږي کله چې ته هغې ته وګورې نو ستا طبیعت خوشحالیږي، که ستا یو ضرورت وي نو هغه سمدستي پوره کوي، کله چې ته هغې ته یو حکم کوې نو سمدستي اطاعت کوي هر وخت ستا د نفساني سکون او راحت ذریعه جوړیږي

کله چي ته د کور څخه دباندي راوځي نو هغه ستا د کوچنيانو او ستا د مال او اسباب حفاظت کوي او د هغې څخه ستا اولاد پيدا کيږي چي نه يوازي دا چي په ژوند کي ستا قوت جوړيږي مګر د مرګه وروسته ستا جانشين کيدو سره خاندان او قوم ژوندی او روښانه ساتي همداسي د ښځي څخه ډېره زياته ګټه او راحت حاصليږي بيا دا چي ښځه نه يوازي دا چي د خپل خاوند په دنيوي ژوند کي د اطمينان، سکون او خوشحالۍ باعث وي مګر په اخروي توګه سره هغه د ډيرو خرابو او بدو کارو څخه منعه کوي دا وجه ده چي په يوه مرفوع روايت کي دا نقل دي چي کوم سړي نکاح وکړه هغه خپل دريمه برخه دين تينګ کړ.

زکوة پوره ادا کوئ

﴿۱۶۹۰﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيْكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن عتيک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

سَيَأْتِيكُمْ رُكَيْبٌ مُبْغَضُونَ فَإِنْ جَاءُوكُمْ فَرَحِّبُوا بِهِمْ وَخَلُّوا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ

تاسو ته به يوه کوچنۍ قافله راسي (د زکوة اخيستلو لپاره) چي مبغوض به وي هر کله چي هغوی تاسو ته راسي نو تاسو ښه راغلاست ورته واياست او د هغوی په خدمت کي

مَا يَبْتَغُونَ فَإِنْ عَدَلُوا فَلِأَنْفُسِهِمْ وَإِنْ ظَلَمُوا فَعَلَيْهَا وَأَرْضُوهُمْ فَإِنَّ تَمَامَ زَكَاتِكُمْ رِضَاهُمْ وَلْيَدْعُوا لَكُمْ . رواه ابوداؤد .

د زکوة مال حاضر کړئ او بل هيڅ شی د هغوی او خپل په منځ کي حائل نه کړئ که هغوی د زکوة په اخيستو کي د انصاف څخه کار واخلي نو هغوی لپاره دا غوره ده او که ظلم وکړي نو د هغوی وبال پر هغو دئ او تاسو زکوة اخيستونکي راضي کړئ او پوره زکوة ورکول د هغوی رضامندي ده او کارکونکي ته پکار دي چي هغوی تاسو ته دعاء وکړي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۴۵، رقم: ۱۵۸۸.

تشريح : (و ان ظلموا) او که د ظلم معامله وکړي د دې مطلب دادی چي د زکوة د وصولولو په معامله کي که څه هم تاسو د خپل ګمان او طبيعت مطابق دا ولي ونه ګڼی چي عامل ستاسو سره ظلم کوي بيا هم هغه راضي کوي يا د دې څخه مراد دادی که بالفرض محال هغوی ظلم هم وکړي نو بيا هم د هغوی د رضا خيال ساتئ په دې صورت کي به دا وويل سي چي رسول الله ﷺ

دا جمله د مبالغې په توګه ارشاد وفرمایل چې دا خبره واضحه سي چې د عامل راضي کولو څومره اهمیت دی کنې ظاهره ده که یو سړی حقیقتا او واقعتا ظلم کوي نو د هغه د راضي کیدو څه صورت کیدای سي.

(و ارضوهم) مطلب څرنګه چې خپله هم په حدیث کې بیان سوی دی دادی چې تاسو د زکوة وصولونکو خوشحالولو او راضي کولو مخکې هیڅ کمي مه کوئ په دې توګه چې د زکوة کوم مال پر تاسو باندې په شرعي توګه سره واجب دی د هغه په ادا کولو کې خیانت او د ځنډ معامله مه کوئ مګر هغوی ته پوره زکوة ورکړئ.

که څه هم د زکوة د ادا کولو اصل فریضه د مال په ادا کولو سره پوره کیږي بیا هم زکوة وصولونکې خوشحالول د زکوة د ادا کولو یو جز دی دی نو په دې اړه احتیاط کول پکار دي. کوم سړی چې زکوة وصولولو ته ولاړ سي د هغه لپاره مستحب دادی چې هغه د زکوة ورکونکي په حق کې د رحمت او برکت دعا وکړي.

﴿۱۶۹۱﴾: وَعَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ جَاءَ نَاسٌ يَعْنِي مِنَ الْأَعْرَابِ إِلَى

د حضرت جریر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت دئ چې د خلکو یو ډله د رسول الله ﷺ په خدمت کې

رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالُوا إِنَّ نَاسًا مِنَ الْمُصَدِّقِينَ يَأْتُونَا فَيَظْلِمُونَا قَالَ فَقَالَ

حاضر سول او عرض یې وکړ: زکوة اخیستونکی موږ ته راځي او پر موږ ظلم کوي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَإِنْ ظَلَمُونَا قَالَ أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ زَادَ عُثْمَانُ وَإِنْ ظُلِمْتُمْ. رواه ابوداؤد.

تاسو زکوة اخیستونکي خلک راضي کړئ،. هغوی عرض وکړاې دالله رسوله! که څه هم هغوی پر موږ ظلم کوي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زکوة اخیستونکي راضي کوئ که څه هم هغوی پر تاسو ظلم وکړي. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۲/۲۴۶، رقم: ۱۵۸۹.

تشریح: نفسیاتي خبره داده چې د کوم سړي څخه مال ځي د هغه په زړه کې څه نا څه تنګي راځي ځکه د زکوة د وصولونکو لخوا څخه هم د زکوة ورکونکو په زړه کې څه ښه خیالات نه وي

ځکه رسول الله ﷺ کلي والا ته وفرمايل که څه هم تاسو دا ګمان کوئ چې زکوة وصولونکی زموږ سره د ظلم معامله کوي خو تاسو په دې صورت کې هم هغوی راضي او د خوشحاله ساتلو کوشش کوئ.

مال مه پټوئ

﴿۱۶۹۲﴾: وَعَنْ بَشِيْرِ ابْنِ الْخَصَاصِيَّةِ قَالَ قُلْنَا إِنَّ أَهْلَ الصَّدَقَةِ يَعْتَدُونَ عَلَيْنَا أَفَنَكْتُمُ مِنْ أَمْوَالِنَا بِقَدْرِ مَا يَعْتَدُونَ فَقَالَ لاَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت بشير بن خصاصية رضي الله عنه څخه روايت دئ چې موږ رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چې زکوة اخيستونکي پر موږ ظلم کوي يعني د اندازې څخه زيات مال راڅخه اخلي ايا په داسي حالت کې موږ خپل مال (د هغو څخه) پټوو، رسول الله ﷺ وفرمايل: يا، ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۴۴، رقم: ۱۵۸۶.

تشريح: رسول الله ﷺ هغوی ته د زکوة د مال څخه د څه اندازه پټولو اجازت ځکه ورنه کړل چې غالبا هغوی د خپل ګمان مطابق دا وکړل چې زکوة وصولونکی د هغوی څخه د واجب مقدار هم زيات زکوة وصولوي حال دا چې په حقيقت کې داسي نه وه مګر هغوی واجب مقدار وصولوی.

د زکوة کارکونکی اجر

﴿۱۶۹۳﴾: وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

الْعَامِلُ عَلَى الصَّدَقَةِ بِالْحَقِّ كَالْغَازِي فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى بَيْتِهِ. رواه ابوداؤد والترمذي.

په انصاف او حق سره زکوة وصولونکی کارکونکی د الله په لار کې د غازي په ډول دئ تر څو چې هغه کور ته راستنيږي. ابوداؤد ترمذي.

تخريج: سنن ابئ داؤد ۳\ ۳۴۸، رقم: ۲۹۳۶.

تشريح: په حق سره د دې مطلب دا دی چې يو عامل د ثواب او د الله تعالی د رضا حاصلولو په

خاطر د زکوة د وصولولو لپاره خپل ځان وقف کړي نو دهغه د صدق او اخلاص په بناء باندي د غازي د ثواب او اجر په اندازه ثواب ورکول کیږي.

د زکوة وصولونکي لپاره هدایت

﴿۱۶۹۴﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ وَلَا تُؤْخَذُ صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِي دُوْرِهِمْ . رواه ابوداؤد .

عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: نه دي زکوة اخیستونکي حیوانان په را غوښتلو غواړي او نه دي زکوة ورکونکی حیوان لیري ځینې بیایي بلکه د حیوانان زکوة دي د هغو په کورو کي وصول کړل سي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۵۰، رقم: ۱۵۹۱.

تشریح: جلب مطلب دادی چې زکوة وصولونکی د زکوة ورکونکو د سرایونو څخه لیري په یوه ځای کي مقیم وي او زکوة د اخستو لپاره حیوان هلته وغواړي.

د جنب مطلب دادی چې د حیوانانو مالک د خپل سرای څخه لیري ولاړ سي او زکوة وصولونکی زکاة د اخستو لپاره تکلیف او پریشاني په برداشت کولو سره هلته ورسیږي او رسول الله ﷺ د دې دواړو خبرو څخه منعه کړې ده ځکه چې په اول صورت کي زکوة ورکونکي ته تکلیف او پریشاني وي او په دوهم صورت کي د زکوة وصولونکي په پریشاني کي اخته کیږي د حدیث اخري جمله د دې ممانعت د تاکید په توګه استعمال سوی دی یا د حدیث حاصل دا سو چې نه دي زکوة ورکونکی لیري ځي او نه دي زکوة وصولونکی چیري لیري ځای قیام نه کوي مګر د زکوة ورکونکو نژدې دي و واسیږي او د هغوی کورونو ته په وار وار تلو سره زکوة دي اخلي.

د کال تیریدو سره زکوة

﴿۱۶۹۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اسْتَفَادَ مَالًا فَلَا زَكَاةَ عَلَيْهِ حَتّٰى يَحُوْلَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ ، رواه الترمذي و ذكر جماعة انهم وقفوه على ابن عمر

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې مال تر لاسه کړي نو پر هغه تر هغه وخته پورې زکوة نسته تر څو چې یو کال پر تیر نه سي، ترمذي، د محدثینو یو

ډله یادونه کوي چې هغوی دا حدیث پر ابن عمر موقوف کړئ دئ.

تخریج: سنن الترمذي ۳\ ۲۵- ۲۶، رقم: ۶۳۱.

تشریح: مخکې په دې پوه سوي یاست چې مال مستفاد څه ته وائي، فرض کړئ که ستاسو سره اتیا بزې موجودي وي چې پر هغه کال نه وي تیر سوی په دې منځ کې یو ځلویښت بزې تاسو ته نوري حاصلیږي که هغه په میراث کې حاصل سوي وي یا د تجارت څخه د ګټې په صورت کې، که څه هم یو چا تاسو ته هسې درکړې وي په هر حال همداسې د بزو شمیر د اتیا پر ځای د یو ځلویښتو سو او دا یو ځلویښت بزې چې تاسو ته د کال په منځ کې حاصل سوی دی دې ته مال مستفاد ویل کیږي ګویا دمال مستفاد تعریف داسو چې هغه د مال د جنس څخه وي او د کال په منځ کې حاصل سوی وي.

اوس حدیث ته راسئ، ابن مالک رحمة الله علیه فرمائي د دې حدیث مطلب دادی چې پر یوه سړي د مال په وجه زکوة فرض وي او د کال په منځ کې هغه ته نور مال د هغه جنسه حاصل سي مثلا مخکې بزې موجود وې نوري بزې ورته حاصلې سوې یا مخکې غواوي موجود وې نوري غواوي ورته حاصلې سي نو وروسته چې کوم مال حاصل سوی دی په هغه باندې تر هغه وخته پورې زکوة نسته تر څو چې کال نه وي پر تېر سوی. (دا د امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ مذهب دی). مګر امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمائي چې اصل یعني د مخکې څخه پر موجود مال باندې پوره کال تیریدل بس دی وروسته حاصلیدونکي مال باندې پوره کال تیر سي یا تیر نسي زکوة پر جمعه سوي مال باندې واجبیږي.

په دې اختلاف باندې د مثال په توګه داسي پوه سئ مثلا د یوه سړي سره اتیا بزې وي پر هغه شپږ میاشتې تیري سوې چې بیا هغه ته یو ځلویښت بزې تر لاسه سوې که څه هم هغه رانیولې یې یا په وراثت کې ورته حاصلې سوي یې یا په بله ذریعه سره یې حاصلې کړي وي خو هغه وروسته حاصلیدونکو پر یو ځلویښتو بزو باندې زکوة نه واجب کیږي هو پر هغه بزو باندې هم د هغه د رانیولو یا په وراثت کې د حاصلیدلو د وخت څخه یو کال پوره سي نو زکوة پر واجب کیږي د امام شافعي رحمة الله علیه او د هغوی سره د امام احمد رحمة الله علیه دا مذهب دی، مګر د حضرت امام اعظم ابوحنیفة رحمۃ اللہ علیہ او هغه سره د حضرت امام مالک رحمۃ اللہ علیہ په نزد هغه مال مستفاد (کوم چې وروسته حاصل سوی وي) د اصل (یعني د مخ څخه موجود مال) تابع کیږي کله چې مخکې په اتیا بزو باندې د یوه کال تېرېدو په وجه دوې بزې زکوة واجب کیږي دا چې په ځلویښتو بزو باندې یوه بزه زکوة واجبیږي چې دا د زکوة نصاب دی که چیرې

یوه دانه هم د څلوېښتو څخه کمه وي نو بیا زکوة نه واجبیږي.

اوس پاته سوه دا خبره چې د حدیث څخه خو په ظاهره د امام شافعي رحمة الله علیه د مذهب تائید کیږي په دې اړه د حنفي علماء د خوا څخه دلیل ورکول کیږي چې د دې حدیث هغه معنی نه ده کوم چې شافعي حضرات بیانوي مګر د دې مفهوم خو دادی چې کوم سړی په ابتدائي توګه باندې مال حاصل کړي نو پر هغه زکوة هغه وخت واجب کیږي کله چې یو کال پر تیر سي نو په حدیث کې د مال څخه مستفاد مراد نه دی.

ترکال تیرېدو مخکې زکوة

﴿۱۶۹۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ الْعَبَّاسَ سَأَلَ النَّبِيَّ ﷺ فِي تَعْجِيلِ صَدَقَتِهِ قَبْلَ أَنْ تَحِلَّ فَرَخَّصَ لَهُ فِي ذَلِكَ. رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجه والدارمي.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دئ چې حضرت عباس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه د ژر زکوة ادا کولو په اړه پوښتنه وکړه (یعني د کال تیریدو څخه وړاندې د زکوة ورکولو پوښتنه یې وکړه) رسول الله ﷺ دې اجازه ورکړه. ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه، دارمي

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۷۵، رقم: ۱۶۲۴، والترمذي ۳\ ۶۳، رقم: ۶۷۸، وابن ماجه ۱\ ۵۷۲، رقم: ۱۷۹۵، والدارمي ۱\ ۴۷۰، رقم: ۱۶۳۶.

تشریح: د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه او اکثرو امامانو په نزد دا خبره جائز او درست ده چې پر مال باندې د کال تیریدو مخکې دي زکوة ادا کړل سي په شرط د دې چې زکوة ورکونکی د شرعي نصاب مالک وي.

د نابالغ د مال زکوة

﴿۱۶۹۷﴾: وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَطَبَ

عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ خطبه وویل

النَّاسَ فَقَالَ أَلَا مَنْ وَلِيَ يَتِيمًا لَهُ مَالٌ فَلْيَتَّجِرْ فِيهِ وَلَا يَتْرُكْهُ حَتَّى تَأْكُلَهُ الصَّدَقَةُ. رواه الترمذي و قال في اسناده مقال لان المثني بن الصباح ضعيف

خلکو ته او وه یې فرمایل: څوک چې د یتیم سرپرست وي او د هغه یتیم سره مال وي نو هغه

سرپرست ته پکار دي چي د هغه په مال سره تجارت وکړي او هغه بې تجارته نه پريږدي ، ځکه چي که سوداګري (تجارت) په مال ونه سي او زکات ځيني ورکول سي نو هغه مال کميږي . ترمذي ويلي دي ددې په اسنادو کې خبري سته ځکه چې مثنى بن صباح ضعيف دى .

تخريج : سنن الترمذي ۳\ ۳۲، رقم: ۴۶۱.

تشريح : د امام شافعي رحمة الله عليه ، امام مالک رحمة الله او امام احمد رحمة الله عليه مذهب خو دادى چي د نابالغ په مال کي هم زکوة فرض دى کله چي امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمائي چي نابالغ که څه هم يتيم نه وي په هر صورت د هغه په مال کي زکوة فرض نه دى ځکه چي په يوه دوهم روايت کي دا ارشاد دى چي د درو کسانو د مکلف کولو څخه قلم منعه سوى دى يو بيده سړى تر څو پوري چي راويښ نسي دوهم نابالغ تر څو پوري چي هغه بلوغ ته نه وي رسيدلى ، دريم ليونى تر څو پوري چي ليونتوب يې ختم نسي ، دا روايت ابوداود نسائي او حاکم نقل کړى دى او حاکم دا روايت صحيح ګرځولى دى .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

دزکوة نه ورکونکي سره جهاد

﴿۱۶۹۸﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ ﷺ وَاسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ بَعْدَهُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ وفات سو نو ابوبکر صديق رضي الله عنه د رسول الله ﷺ خليفه و ټاکل سو ،

وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ قَالَ عُمَرُ يَا أَبَا بَكْرٍ كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ وَقَدْ قَالَ

په عربو کي چي څوک کافر کيدل هغوى کافران سول ، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د هغوى سره د جګړې اراده وکړه نو عمر رضي الله عنه ورته وويل ته ددې خلکو سره څنګه جګړه کوې حال دا چي

رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَقُولُوا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ فَمَنْ قَالَ لَا

رسول الله ﷺ دا وفرمايل : ما ته حکم سوئ دئ چي زه تر هغه وخته د خلکو سره و جنګيږم تر څو پوري چي هغوى لااله الاالله ونه وايي نو چا چي

إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ فَقَدْ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلَّا بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَى اللّٰهِ فَقَالَ أَبُو

لااله الاالله وويل نو هغه زما څخه خپل ځان او مال وساتئ ، خو د الله تعالى او اسلام حق پر هغه پاته سو ، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ورته وويل :

بَكْرٍ وَاللَّهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ وَاللَّهِ

قسم په خداى زه به د هغه کس سره جنګيږم چې د لمانځه او زکوة په منځ کې فرق کوي زکوة د مال حق دئ ، په الله دي مي قسم وي

لَوْ مَنَعُونِي عَنَاقًا كَانُوا يُؤَدُّونَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهَا قَالَ

که خلک د میږو بچیان هم نه راکوي کوم چې به د رسول الله ﷺ په زمانه کې ورکول کېده نو زه به په دې انکار د هغوی سره وجنګيږم ،

عُمَرُ فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ رَأَيْتُ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ . متفق عليه

حضرت عمر رضي الله عنه وويل : قسم په خداى خبره هيڅ نه ده خو دا چې ما وليدل چې الله تعالى د ابوبکر رضي الله عنه سينه د غزا لپاره خلاصه کړې ده بيا ما ته څرګنده سوه چې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه رايه صحيح وه او هغه پر حق وو . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۳\۳۰۸ ، رقم : ۱۳۹۹ ، ومسلم ۱\۵۱ - ۵۲ ، رقم : ۳۲ - ۲۰ .

د لغاتو حل : (عناقا) : العناق الانثى من ولد المعز اذا لم تستكمل السنه . (وری چې تر کال کم وي)

تشريح : کله چې رسول الله ﷺ د دې دنيا څخه تشريف يووړی او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه اول خليفه وټاکل سو نو څه نوي فتنې راپورته سوې په دې اړه موږ په لسم جلد کې د تذکره صدیق لاندې څه رڼا اچولې ده او هلته د دې فتنوذکر په کولو سره په خصوصيت سره د فتنه ارتداء ذکر مو کړی دی د هغه متعلق مو ښودلي دي چې دا عظيمه فتنه حضرت ابوبکر رضي الله عنه په څومره جرات او تدبير سره ختمه کړه او د مرګ پر ګودريې وروغورځول .

په پورته حديث کې د دې ډول يوې بلې فتنې خوا ته اشاره سوې ده د هغه صورت دا سو چې څه قبائل مثلا عطفان ، بني سليم او ځينو نورو د زکوة ورکولو څخه انکار وکړ همداسې هغوی د اسلام پر دغه اهمي او بنيادي فريضې باندې عمل نه کول جلا خبره ده خو د هغې فريضې څخه انکار کول يوه دوهمه معنى لري دا وجه ده چې د زکوة څخه د منکر کېدو په خاطر هغوی

کافران سول، په حقیقي معنی کي استعمال سوی دی هسي د دې لفظ په باره کي دا تفصیل کیږي چي یا خو د هغه خلکو په باره کي لفظ د کفر په حقیقي معنی کي استعمال سوی دی ځکه چي د زکوة فرضیت قطعي دی او د فرضیت زکوة څخه انکار کفر دی یا دا چي هغو خلکو ته کافران ځکه ویل سوي دي چي هغوی د زکوة ورکولو څخه انکار وکی نو د هغوی په دغه سخت جرم او تینګار باندي د کفر اطلاق وکړل سو.

په هر حال کومه معنی چي تاکل سوې ده د هغوی دا جرم دومره سخت وو چي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د هغوی سره د جنګ کولو اراده وکړه حضرت عمر رضی الله عنه چي دا صورت حال ولیدی نو د هغه خلکو د ظاهري احوالو مطابق چي هغه خلک خو په ظاهره مسلمانان وه د هغوی په کفر کي تامل او اعتراض وکړ او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته حقیقت حال وښودی نو نه یوازي دا چي هغه هم د حضرت ابوبکر رضی الله عنه پر فیصله همنوا سو مګر هغه ته کامل یقین هم وسو چي د حضرت ابوبکر رضی الله عنه خواست ایماني او د هغوی تدبیر چي کومه فیصله کړې ده هغه بالکل صحیح ده.

په ځینو روایتونو کي نقل دي چي نورو صحابه کرامو حتی چي حضرت علي رضی الله عنه هم حضرت ابوبکر رضی الله عنه د جنګ کولو څخه منعه کړی او ورته یې وویل چي د عهد خلافت ابتدائي دور دی مخالف ډیر زیات دي داسي نه وي چي فتنه او فساد را پورته سي او اسلام ته تاوان ورسیږي ځکه په دې معامله کي هم سوچ کول پکار دی خو حضرت ابوبکر رضی الله عنه په ډیر جرات او مېړانه سره دا جواب ورکړ که په دې معامله کي ټول خلک یوې خوا ته سي او زه یوازي پاته سم نو بیا هم خپله فیصله به بدله نه کړم او د شعائر دین حفاظت او د اسلام د نظریات او اعمال د تحفظ لپاره چي ما کوم قدم پورته کړی دی په دې کي بدلون نه رائي او زه به د پوره قوم سره یوازي جنګ کوم د دې څخه حضرت ابوبکر رضی الله عنه د صحیح رائې، جرات او مېړاني اندازه لګیږي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد: (لا اله الا الله) وویاست، په دې کي د لا الله الا الله څخه مراد پوره کلمه توحید یعني لا اله الا الله محمد رسول الله ده ځکه چي پر دې خبري باندي اجماع او اتفاق دی چي د اسلام قبلولو لپاره یوازي لا الله الا الله ویل معتبر نه دي مګر د الله تعالی د وحدانیت په اقرار سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیغمبري اقرار هم ضروري دی.

الا بحقه، ماسوا د اسلام، د دې مطلب دادی که پر هغه دیت لازم دی یا څه بل ډول حق د هغه پر ذمه دی نو د هغه ادا کول په هر صورت کي ضروري دي همدا سي په قصاص وغیره کي به قتل کیږي.

(وحسابه علی الله) او د هغه حساب د الله تعالی پر ذمه دی د دې مطلب دادی چې کوم سړی لا اله الا الله ووائي او خپل ځان مسلمان ظاهر کړي نو موږ به د هغه د مسلمانیدو اعلان کوو او د هغه سره به جنګ نه کوو او نه به موږ د هغه د باطن تحقیق او تفتیش کوو چې ایا هغه خپل په ایمان او اسلام کې مخلص او صادق دي که نه مګر د هغه باطن حال به الله تعالی ته ورسپارو که هغه په ظاهري توګه سره مسلمان سوی دی او په زړه سره یې ایمان نه وای راوړی څرنګه چې د منافقانو حال دی نو په دې اړه الله تعالی پوه سه او هغه پوه سه.

(من فرق بین الصلوة والزکوة) کوم سړی چې د لمانځه او د روژې په مینځ کې فرق وکړي یعني د لمانځه د وجوب خو قائل وي خو د زکوة د وجوب منکر وي یا لمونځ خو کوي مګر زکوة نه ورکوي.

عناق د بزې هغه زوئ ته وائي چې د یوه کال د عمر وي حضرت ابوبکر رضی الله عنه په خپل ارشاد کې د خپلې بچی فرض او واجب حق د غوښتلو په اړه بطور مبالغه فرمایلي دي دلته دا پر حقیقت باندې محمول دی ځکه چې نه خو د بزې هغه بچی د یوه کال څخه کم وي په زکوة کې اخستل کیږي او نه د بزې پر داسې ځامنو باندې زکوة واجب کیږي په زکوة کې د اخستو لپاره اولی درجه مسنه ده یعني هغه بچی چې د یوه کال وي که بچی د بزو سره وي نو بیا په هغوی کې زکوة واجب کیږي مګر په هر صورت په زکوة کې به مسنه ورکول کیږي دا حکم د غواوو او اوښانو دی چې د زکوة په توګه به مسنه ورکول کیږي په وروستني یو قسط کې غالبا بنودل سوي دي چې د بزو مسنه خو هغه ده چې د هغه عمر یو کال وي او د غوا مسنه هغه ده چې د هغه عمر دوه کاله وي او د اوښ مسنه هغه ده چې د پنځو کالو وي.

اوس په اخرکي په دې خبره هم پوه سئ چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه دا وفرمایل چې زه به هغوی د دې انکار په وجه د هغوی سره جنګ کوم، دلته د کفر په اړه چې کوم تفصیل بیان سوی دی همداسې د هغه قول په باره کې هم دا تفصیل دی که هغوی د وجوب زکوة منکر سوي دي نو زه به د هغوی د کفر او ارتداد په وجه د هغوی سره جنګ کوم او که هغه منکر زکوة خو نه دي سوي مګر زکوة نه ادا کوي نو بیا به د هغوی سره زما جنګ شعائر اسلام د حفاظت او د فتنې د بندیز لپاره وي.

بې زکاته مال به مار سي

﴿۱۶۹۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَكُونُ كَنْزُ أَحَدِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

شُجَاعًا أَقْرَعَ يَفِرُّ مِنْهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يَطْلُبُهُ حَتَّى يُلْقِمَهُ أَصَابِعَهُ . رواه احمد .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو خزانه به د قيامت په ورځ يو مار پک جوړ کړل سي د هغه خاوند به ځينې تښتي او هغه به ورپسې ځغلي تر څو چې هغه لاندې کړي او د هغه ګوتې به ګوله کړي . احمد .

تخريج : الامام احمد في مسنده ۲\ ۵۳۰.

تشريح : د خزانې څخه مراد هغه مال دی چې د هغه مالک يې راټولوي او د هغه زکوة نه ادا کوي دا حکم د هغه ټولو مالونو دی چې په ناجائزه او حرامي طريقې سره جمع کړه سوی وي.

د حديث اخري جمله حتى يلقمه اصابعه د دې دوې معناوي کيدای سي يوه خو دا معنی چې په ترجمه کې ظاهره سوې ده هغه مار به د مالک ګوتې ګوله کړي ځکه په هغو لاسونو يې مال ګټلی وو او د هغه زکوة يې نه وو ادا کړی په دې صورت کې لفظ اصابعه به د ضمير بدل وي.

دوهمه معنی دا کېدلای سي چې مالک به خپلې ګوتې د لقمې په ډول د مار په خوله ورکوي کله کله دا کيدای سي چې د مار او داسي نورو د وهم څخه بې اختياره خپلې ګوتې د هغه په خوله چخې ليکن دا دوهمه معنی څرنګه چې د انسان لږ زړه ته لويږي او په دې کې د خلګو اشکال او اعتراضات پيدا کيږي نو په دې وجه سره اوله معنی تر دوهمې معنی زياته صحيح ده .

﴿۱۷۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ رَجُلٍ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې

لَا يُؤَدِّي زَكَاةَ مَالِهِ إِلَّا جَعَلَ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي عُنُقِهِ شُجَاعًا ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا

د خپل مال زکوة ادا نه کړي نو د قيامت په ورځ به د هغه مال څخه الله تعالى مار جوړ کړي او د هغه په څټ کې به زړبدلې وي، بيا رسول الله ﷺ ددې په اړه

مِصْدَاقَهُ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ { وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ } . الاية. رواه الترمذي و النسائي وابن ماجة .

د قرآن کريم دا آيت تلاوت کړ : ولا يحسبن الذين ..... ترمذي ، نسائي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۲۱۶، رقم: ۳۰۱۲، والنسائي ۵\ ۱۱- ۱۲، رقم: ۲۴۴۰، وابن ماجه ۱\ ۵۶۸، رقم: ۱۷۸۴.

په حلال مال کې حرام مال یو ځای کول

﴿۱۷۰۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې

خَالَطَتِ الزَّكَاةُ مَالاً قَطُّ إِلاَّ أَهْلَكَتْهُ " . رواه الشافعي والبخاري في تاريخه

په کوم مال کې زکوة ګډه وده سي (یعني زکوة ځینې بیل نه سي) نو هغه مال ضائع کیږي، شافعي، بخاري

والحميدي وزاد قال : يكون قد وجب عليك صدقة فلا تخرجها فيهلك

او حمیدي په دې روایت کې دا الفاظ زیات کړي چې پر تا زکوة واجب وي او ته هغه ورنه کړې

الحرام الحلال . وقد احتج به من يرى تعلق الزكاة بالعين هكذا في

نو حرام حلالو لره ضائع کوي دا حدیث د هغه خلکو لپاره دلیل دئ چې د زکوة عین سره د متعلق کیدو قائل دي، او همدا سي په

المنتقى وروى البيهقي في شعب الإيمان عن أحمد بن حنبل بإسناده إلى

منتقی کې دي او بیهقي په شعب الایمان کې د احمد بن حنبل څخه روایت کړئ دئ چې د هغه

عائشة . وقال أحمد في " خالطت " : تفسيره أن الرجل يأخذ الزكاة وهو موسر أو غني وإنما هي للفقراء

اسناد بې بې عائشې ته رسیږي. او احمد د لفظ (خالطت) تفسیر داسي بیان کړئ دئ چې هغه څوک زکوة اخلي چې خپله په زکوة ادا کولو مامور وي یا غني وي حال دا چې زکوة د فقیرانو لپاره دئ.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۳\ ۲۷۳، رقم: ۳۵۲۲، وترتيب مسند الامام الشافعي ۱\ ۲۲۰، رقم: ۶۰۷، والتاريخ الكبير للبخاري ۱\ ۱\ ۱۸۰، رقم: ۵۴۹.

تشریح : د رسول الله ﷺ د ارشاد دوې معناوي بیان سوي دي، امام بخاري رحمة الله علیه خو د دې مطلب دا بیانوي چې مثلا یو سړی صاحب نصاب دی او پر هغه زکوة واجب دی خو هغه د خپل مال څخه هغه برخه نه کاږي کوم چې بطور زکوة پر هغه کښل واجب دي همداسي د ملا هغه برخه چې د زکوة په توګه هغه ته کښل یې پکار وو او اوس د نه کښلو په صورت کې د هغه په حق کې حرام مال دی د هغه په اصل مال کې مخلوط سو .

امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه د دې حدیث معنی دا بیانوي چې مثلا یو سړی مالدار یعني صاحب نصاب دی چې د هغه په وجه هغه د بل چا څخه زکوة په اخستو مستحق نه دی خو هغه د بل زکوة اخلی او د هغه زکوة چې د هغه په حق کې حرام دی په خپل اصل مال سره یې مخلوط کوي .

په هر حال دلته چې کومه معنی تعین سوې ده هغه د دواړو اقوالو په نظر کې نیولو د حدیث مفهوم دا کیږي چې حرام مال که په هغه مال کې د زکوة هغه واجب سوې حصه نه وي ایستل سوې یا صاحب نصاب د بل چا د زکوة حاصل سوی مال واخلي په اصل کې هغه حلال مال تباه کوي نو په همدې ډول د داسي حرام مال د اخیستلو په وجه هغه پوره مال په یوه نه بله طریقه باندې ضائع کیږي یا په هغه کې تاوان پېښیږي یا د مال څخه برکت پورته کیږي یا د ګټې کولو قابل نه جوړیږي ، څرنګه چې د مرام مال څخه ګټه اخیستل هم شرعا جواز نلري .

د زکوة د ادایني تعلق په عین مال سره دی یا په ذمه سره دی

د روایت په اخر کې یوې اختلافي مسئلې ته اشاره سوې ده چې د زکوة ادا کولو تعلق په عین مال سره دی؟ د مثال په توګه په دې داسي پوه سي مثلا یو سړی مالدار یعني صاحب نصاب دی پر هغه زکوة واجب دی اوس سوال دادی چې ایا هغه د زکوة په توګه په اندازه واجب مال د هغه څخه مال کاږي کوم چې د هغه سره دی یا که هغه د مال څخه د زکوة په اندازه برخه ونه کاږي مګر د هغه قیمت ادا کړي نو په دې مسئله کې د امام شافعي رحمة الله علیه او نورو امامانو مذهب دادی چې د زکوة تعلق یوازې د مال سره دی مګر پر کوم مال چې زکوة واجب دی د هغه مال څخه په اندازه واجب مال په ایستلو سره زکوة دي ادا کړي او دا خبره هغوی د حدیث د لفظ (خالطت) څخه اخیستې ده، مګر امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمائي چې د زکوة تعلق په ذمه سره دی د دې مطلب دادی که صاحب نصاب د هغه مال څخه چې پر هغه زکوة واجب دی د زکوة په اندازه مال ونه کاږي مګر د هغومره مال قیمت په زکوة کې ادا کړي نو زکوة به ادا سي او هغه به بري الذمه سي

خو دا خبره دي هم په ذهن کي وي چي دا حديث د امام شافعي رحمة الله عليه او داسي نورو د مذکوره مذهب دليل هغه وخت کيداى سي کله چي د حديث دا معنى د حديث اصل مفهوم وگرځول سي چي د امام بخاري رحمة الله عليه لخوا څخه بيان سوى دى .

د حنفي مذهب دليلونه ملا علي قاري رحمة الله عليه په مرقات کي او د شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه په اشعه اللمعات کي په وضاحت او تفصيل سره بيان کړي دي د اوږدوالي په وجه هغه دلته نه دي نقل سوي، اهل علم دغه کتابونو ته مراجعه کولاى سي .

=========

بَابُ ما تَجِب فيه الزكوة

په کومو شيانو کي زکوة واجب دى

شريعت پر څلور ډوله مالو باندي زکوة فرض کړى دى اول سائمه يعني پر څاريو باندي، دوهم پر سرو او سپينو زرو باندي، دريم پر تجارتي مال باندي چه هر ډول مال وي، څلورم د فصل او درختو پر پيداوار باندي که څه هم دا څلورم ډول فقهاؤ د زکوة په لفظ سره نه دى ذکر کړى مگر دې ته عشره وائي په متفقه توگه سره د ټولو امامانو پر دې خبري اتفاق دى چي حيوان يعني اوښ ، غوا ، بزه ميږه، پسه او گاميښي کي زکوة واجب دى که نر وي او يا ماده ، ددې څخه پرته په نورو حيوانانو کي زکوة واجب نه دى، البته د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد په آسونو کي هم زکوة واجب دى، د دې تفصيل به په راتلونکو صفحاتو کي بيان کړل سي، همداسي په متفقه توگه سره د ټولو امامانو په نزد په سرو او سپينو زرو کي او د تجارت په مال کي زکوة واجب دى .

د کومو شيانو څخه چي تر يوه کاله پوري قائم نه پاته کيږي لکه بادرنگ، هندوانه او نوري شنگياوي او سبزيجات په دې کي د نورو امامانو په نزد زکاة واجب نه دى البته په خرما او وڅکو کي زکوة واجب دى کله چي د هغه شمير تر پنځه وسقه پوري نه وي تر پنځو وسقو څخه په کم مقدار کي وي په هغه کي هم زکوة واجب نه دى .

د حضرت امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد په هر هغه شي کي لسمه کښل واجب دي کو شى چي د مځکي څخه پيدا وي که څه هم پيداوار يې کم وي که زيات مگر بانس لرگى او په وښو کي عشر واجب نه دى په دې اړه د امام صاحب دليل د رسول الله ﷺ دا ارشاد دى :

ما اخرجته الارض ففيه العشر

ژباړه : د مځکي څخه په پيدا کونکي هر شي کي لسمه برخه کښل واجب دي
د مځکي په پيداوار کي د عشر واجب کيدو لپاره څه معين مقدار شرط نه دی همداسي کال تيريدل هم شرط نه دی مګر څومره او کله چي پيداوار وي هغه وخت لسمه برخه کښل واجب کيږي د نورو مالو پر خلاف چي په هغه کي زکوة هغه وخت واجب کيږي کله چي هغه په اندازه د نصاب وي او پر هغه يو کال پوره تير سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د زکوة نصاب

﴿۱۷۰۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ فِيْمَا دُوْنَ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نه سته په کم کي

خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيْمَا دُوْنَ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ

تر پنځو وسقو خرماوو زکوة واجب نه دئ او تر پنځه اوقيه څخه کم سپينو زرو باندي

صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيْمَا دُوْنَ خَمْسِ ذَوْدٍ مِنَ الْإِبِلِ صَدَقَةٌ . متفق عليه

زکوة واجب نه دئ او تر پنځو سرو (دانو) اوښانو څخه په کم کي زکوة واجب نه دئ، بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۲۲، رقم: ۱۴۵۹، ومسلم ۲\۶۷۳، رقم ۱- ۹۷۹.

د لغاتو حل: (ذَوْدٍ): الذود هو ما بين الاثنين الى التسع وقيل ما بين الثلاث الى العشرة والمراد منه خمس ابل من الذود لا خمس اذواد.

تشريح : يو وسق د اتو صاع (کاسو) برابر دی، يو صاع د اته رطل برابر او يو رطل د څلوردیرشو تولې يوه نيمي ماشې برابر دی په دې شمير سره پنځه وسقه د انګريزي حسابه د اتيا تولو د سير په حساب سره پنځه ويشت من دوولس نيم سيره برابر وي که څه هم پنځه ويشت منه سيره يا تر دې زيات په خرما کي لسمه برخه د زکوة په توګه راوکښل سي تر دې اندازې کم که خرما پيدا سي نو د دې حديث پر موجب په هغه کي د زکوة په توګه لسمه برخه نه واجب کيږي امام شافعي رحمة الله عليه او په حنفيانو کي د امام ابويوسف رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه دا مذهب دی د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد د مځکي په پيداوار کي څه نصاب نه دی تاکل سوی څومره چي پيداوار وي د هغه لسمه برخه کښل واجب دي، مثلاً که

چيري لس سهره پيداوار وي نو په هغه کي يو سير زکوة واجبيږي ، که چيري په لس سيره کي يو چوټانګ هم اضافه سي نو د هغه برخي څخه هم يو چټانګ ايستل کيږي .

د مځکي د نور پيداوار مثلا غنم ، اوربشي ، نخود او داسي نور هم په دې حکم کي دي د مځکي د پيداوار د عشره په باره کي د حنفيانو په نزد فتوى د امام اعظم رحمة الله عليه پر قول ده دا حديث د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه د مذهب په ظاهره خلاف معلوميږي ځکه د هغوى د خوا څخه د دې حديث ترجمه دا بيانيږي ځکه چې هغه وخت به د خرما رانيول او اخستل د وسق په حساب کيده او د يوه وسق خرما قيمت په څلويشت درهمه وه په دې حساب سره د پنځه وسقو قيمت د دوو سوو درهمه سو چې د تجارت په مال کي د زکوة لپاره متعين نصاب دى .

اواق د اوقيه جمعه ده : يو اوقيه د څلويښتو درهمو يعني لس نيمي تولې برابر وي همداسي پنځه اوقيه د دوو سوو درهمو يعني د دوپنځوس نيم توله تقريبا دوه سوه شپاړلس ګرام، دو پنځوس تولې چې د سپينو زرو د زکوة نصاب دى، په دې اندازه کي په کمو سپينو زرو کي زکوة واجب نه دى ګويا کوم سړى چې د دوو سوو درهمو مالک وي هغه بطور زکوة پنځه درهمه ادا کوي .

دا خو د درهم نصاب وو په سپينو زرو کي د سکې څخه ماسيوا په څه دوهم صورت کي وي مثلا د سپين زر زيورات او لوښي وي يا د سپينو زرو سکې وي نو هغه دي هم پر دې قياس کړه سي او همداسي د هغه زکوة دي ادا کړه سي بيا هم په تفصيل سره سپين زر داسي وګڼئ .

يو درهم درې ماشه او يو رتي دى او د پنځو حصو د رتي برابر وي همداسي په دوو سوو کي شپږ سوه ديرش ماشې يعني دوپنځوس نيم توله سپين زر سوه نو د دوو سوو درهمو زکوة د څلويشتمي حصې مطابق پنځه درهمه سوه چې پنځلس ماشې شپږ رتي يعني په يو توله کي ماشه د شپږ رتي برابر وي همداسي د درهم څخه ماسيوا د سپينو زرو په زيوراتو يا د لوښو وغيره په صورت کي دوپنځوس نيمي تولې سوه نو د دوو سوو درهمو زکوة د څلويښتمي برخي مطابق پنځه درهمه سوه چې پنځلس ماشې شپږ رتي يعني په يوه توله کي ماشه د شپږ رتي برابر وي همداسي د درهم څخه ماسيوا د سپينو زرو په لوښو او داسي نورو په صورت کي دوپنځوس نيمي تولې يو پر دوه وي، نو د هغه د زکوة په توګه څلويښتمه برخه په يو توله کي ماشه شپږ رتي يا دومره د سپينو زرو قيمت د زکوة په توګه ادا کيږي او که سپين زر د سکې په شکل کي وي يا په کومه زمانه کي چې د سپينو زرو سکې جاري وي هغه وخت د دې حساب او تفصيل ضرورت محسوس کيدى اوس که څه هم د سپينو زرو سکې نسته بيا هم په مظاهر حق

قدیم کي دا تفصیل لیکل سوی دی ځکه دلته هم هغه نقل سوی دی هسي خو د سپینو زرو د زکوة دا بالکل صفا سکه ده د موجوده سپینو زرو څلویښتمه برخه یا د هغه برخي قیمت به په زکوة کي ادا کیږي او یوه سکه دولس ماشي او د قیمت د اعتبار څخه د یوې روپۍ وي نو په دې حساب سره دوپنځوس یو پر دوه توله یعني هغه دوولس ماشي والا یوه روپي پنځه انې واجب کیږي او که سکه یوولس یو پر دوه ماشه او د قیمت د اعتبار څخه د یوې روپۍ وي نو په دې حساب سره د دوپنځوس نیم توله سپین زر قیمت به څلور پنځوس روپۍ دوولس انې شپږ پر درویشت پائې برابر وي چې پر هغه زکوة واجب کیږي نو د دې څخه به د هغه سپینو زرو د روپو په حساب سره یعني هغه یوولس یو پر دوه ماشي والا یوه روپي پنځه انې لس پایانې د زکوة په توګه ورکول پکار دي.

د نصاب دا ټول حصاب د پوهیدو لپاره لیکل سوي دي که د حساب څخه زیاتي روپۍ وي نو د هغه هم حساب دادی چې دوه یو پر دوه دوې نیمي روپۍ سلیزه یعني په هرو سلو روپو کي د دوې نیمي روپو پر حساب به زکوة ادا کیږي.

که څه هم په حدیث کي د سروزرو حساب نه دی ذکر سوی مګر په دې اړه هم پوه سئ چې د سروزرو شمیر شل مثقاله یعني اوه نیمي تولې دي تر دې کم زکوة نه واجب کیږي که په دې مقدار کي تر دې زیات مقدار کي سره زر وي نو د موجوده مقدار څلویښتمه برخه یا د هغه برخه قیمت به د زکوة په توګه ادا کیږي.

که سره زر او سپین زر دواړه په مجموعي اعتبار سره په اندازه د نصاب وي نو په هغه کي به زکوة واجب وي مثلا د یوه سړي سره شپږ ویشت تولې سپین زر دي او د هغه سره د پاوکم شپږ ویشت توله سپین زر د قیمت په اندازه سره زر هم وي نو هغه سړی به صاحب نصاب سي او پر هغه به زکوة واجب وي همداسي که د یوه سړي سره شپږ ویشت تولې سپین زر قیمت په اندازه د تجارت مال وي او د هغه سره د پاوبالا شپږ ویشتو تولو سپینو زرو په اندازه نقدي روپۍ وي نو هغه به هم صاحب نصاب حسابیږي. او پر هغه به زکوة واجب وي.

سره زر او سپین زر په هر شکل او صورت کي چې وي په هر صورت په هغه کي زکوة واجب کیږي د دې څخه معلومه سوه چې په یو ځای کي سپین زر وي د هغه د اندازې به هم اندازه لګول کیږي که هغه اندازه نصاب ته ورسیږي نو د هغه زکوة به ادا کول کیږي، ملغلري، لعل او مرجان یا په یاقوت او نورو جواهراتو کي زکوة نه واجب کیږي که څه هم د لکونو روپو د قیمت وي هو که جواهرات د تجارت په مقصد سره وي نو پر هغه به زکوة واجب وي.

په غلام او آس کي زکوة نسته

﴿۱۷۰۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ صَدَقَةٌ فِيْ عَبْدِهٖ وَلَا فِيْ فَرَسِهٖ ، و في رواية قال ليس في عبده صدقة الا صدقة الفطر . متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر مسلمانانو د هغه په آس او غلام کي زکوة واجب نه دئ ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د مسلمانانو په غلام کي زکوة واجب نه دئ مګر صدقه فطر پر واجب دئ . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۳۲۷، رقم: ۱۴۶۴؛ ومسلم ۲\ ۶۷۵، رقم: ۸- ۹۸۲.

تشريح : د حديث مطلب دادی که غلام او آسونو د تجارت لپاره نه وي نو په هغوی کي زکوة واجب نه دی د امام شافعي رحمة الله عليه امام ابويوسف رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه مذهب دادی مګر د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دادی چي کوم آسان او آسپي يو ځای د کال په اخره برخه کي په ځنګل او دښتو کي څري په هغوی کي هم زکوة واجب دی د هغه نصاب دادی چي سر يو دينار يا د هغه پوره قيمت په تاکلو سره په هر دوو سوو درهمو باندي په حساب سره يعني د قيمت څلويښتمه برخه دی په زکوة کي دي ادا کړه سي .
فتاوی قاضي خان په درمختار او فتاوی عالمګيري کي ليکلي دي د حنفيه په نزد فتوی د امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليه پر قول ده چي پر آسانو باندي زکوة واجب نه دی .

د نصاب تفصيل

﴿۱۷۰۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَتَبَ لَهُ هٰذَا الْكِتَابَ لَمَّا وَجَّهَهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ابوبکر صديق رضي الله عنه هغه د بحرين په لور وليږئ نو دا حکم نامه يي وليکل

إِلَى الْبَحْرَيْنِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هٰذِهٖ فَرِيْضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِيْ فَرَضَ

د الله ﷻ په نامه سره پيل کوم چي ډير مهربان او زيات رحم کوونکئ دئ ، دا د هغه زکوة بيان دئ چي فرض کړئ دئ

رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ عَلَى الْمُسْلِمِينَ وَالَّتِي أَمَرَ اللّٰهُ بِهَا رَسُولَهُ فَمَنْ سُئِلَهَا مِنَ

رسول الله ﷺ د الله تعالى په حكم سره پر مسلمانانو ، كله چې زكوة وغوښتل سي

الْمُسْلِمِينَ عَلَى وَجْهِهَا فَلْيُعْطِهَا وَمَنْ سُئِلَ فَوْقَهَا فَلَا يُعْطِ فِي أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ

نو ددې پيمانې سره سم دې ورکړل سي او که ددې څخه زيات وغوښتل سي نو نه دې يې

ورکوي : په څليرويشتو

مِنَ الْإِبِلِ فَمَا دُونَهَا مِنَ الْغَنَمِ مِنْ كُلِّ خَمْسٍ شَاةٌ إِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِينَ

اوښانو يا ددې څخه په کم کې زکوة داسي واجب دئ چې د هرو پنځو اوښانو پر سر يو پسه دئ

او هر کله چې پوره پنځه ويشت اوښان وي

إِلَى خَمْسٍ وَثَلَاثِينَ فَفِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ أُنْثَى فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَثَلَاثِينَ إِلَى

نو تر پنځه ديرشو پورې يوه يوکلنه اوښه ده، د شپږ ديرشو څخه تر

خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ فَفِيهَا بِنْتُ لَبُونٍ أُنْثَى فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَأَرْبَعِينَ إِلَى سِتِّينَ

پنځه څلوښتو پورې دوه کلنه اوښه ده، او د شپږ څلوښتو څخه تر شپيتو پورې

فَفِيهَا حِقَّةٌ طَرُوقَةُ الْجَمَلِ فَإِذَا بَلَغَتْ وَاحِدَةً وَسِتِّينَ إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِينَ

درې کلنه اوښه ده چې لائقه د ختو د اوښ وي او د يو شپيتو څخه تر پنځه اويا پورې

فَفِيهَا جَذَعَةٌ فَإِذَا بَلَغَتْ يَعْنِي سِتًّا وَسَبْعِينَ إِلَى تِسْعِينَ فَفِيهَا بِنْتَا لَبُونٍ

هغه اوښه چې د څلورو کاله وي او په پنځم کال کې داخله سوې وي، او د شپږ اويا څخه تر نيوي پورې

دوه دوه کلنې اوښې

فَإِذَا بَلَغَتْ إِحْدَى وَتِسْعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِيهَا حِقَّتَانِ طَرُوقَتَا

او د يو نيوي څخه تر يو سل اوشلو پورې دوې اوښې چې د درو درو کالو وي،

الْجَمَلِ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ وَفِي كُلِّ

او هر کله چې د يوسل او شلو څخه زيات سي نو د هر څلوېښتو پر سر دوه کلنه اوښه او د هر

خَمْسِينَ حِقَّةٌ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ إِلَّا أَرْبَعٌ مِنَ الْإِبِلِ فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ إِلَّا

پنځوسو پر سر د درو درو کلو اوښه او د چا سره چې يوازې څلور اوښان وي نو پر هغه زکوة واجب نه دئ ، مګر

أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا مِنَ الْإِبِلِ فَفِيهَا شَاةٌ ومن بلغت عنده من

که خاوند يې وغواړي نو په نفلي ډول سره يې ورکولای سي . هر کله چې پنځه اوښان سي نو يو پسه پر واجب دی او د چا سره چې

الإبل صدقة الجذعة وليست عنده جذعة وعنده حقة فإنها تقبل منه

دومره اوښان وي چې په هغه کې څلور کلنه اوښه واجب وي يعني د يو شپيته څخه تر پنځه اويا پورې او هغه سره څلور کلنه اوښه نه وي درې کلنه وي نو درې کلنه اوښه دي ځينې قبوله کړي

الحقة ويجعل معها شاتين أن أستيسر تا له أو عشرين درهما ومن بلغت

او که ورسره وي نو دوه پسونه دي ورکړي يا شل درهم دي ورسره کړي . او د چا سره چې

عنده صدقة الحقة وليست عنده الحقة وعنده الجذعة فإنها تقبل منه

دومره اوښان وي چې په هغو کې درې کلنه اوښه واجب وي يعني د شپږ څلوېښتو څخه تر شپيتو او ښانو پورې وي او د هغه سره درې کلنه اوښه نه وي بلکه څلور کلنه اوښه ورسره وي

الجذعة ويعطيه المصدق عشرين درهما أو شاتين . ومن بلغت عنده

نو څلور کلنه اوښه به د هغه څخه اخيستل کيږي او د زکوة اخيستونکئ به هغه ته دوه پسونه يا شل درهمه بيرته ورکوي او د چا سره چې

صدقة الحقة وليست إلا عنده بنت لبون فإنها تقبل منه بنت لبون

دومره اوښان وي چې درې کلنه اوښه پر واجب وي او د هغه سره درې کلنه اوښه نه وي بلکه دوه کلنه ورسره وي نو دوه کلنه اوښه دي ځينې واخيستل سي

ويعطي معها شاتين أو عشرين درهما . ومن بلغت صدقته بنت لبون

او زكوة ورکونکی دي دوه پسونه يا شل درهمه هغه ته نور ورکړي ، او د چا سره چې دومره اوښان وي چې

وعنده حقة فإنها تقبل منه الحقة ويعطيه المصدق عشرين درهما أو

پر هغو دوه کلنه اوښه واجب کيږي او د هغه سره دوه کلنه اوښه نه وي نو دري کلنه ده ځيني واخيستل سي او زکوة اخيستونکی دي هغه ته شل درهمه يا

شاتين . ومن بلغت صدقته بنت لبون وليست عنده وعنده بنت مخاض

دوه پسونه ورکړي ، او د چا سره چې دومره اوښان وي چې په هغو کي دوه کلنه اوښه واجب وي او د هغه سره دوه کلنه اوښه نه وي بلکه يو کلنه اوښه ورسره وي

فإنها تقبل منه بنت مخاض ويعطي معها عشرين درهما أو شاتين . ومن

نو يو کلنه اوښه دي قبوله کړي او زکوة ورکونکی دي شل درهمه يا دوه پسونه نور هم ورکړي،

بلغت صدقته بنت مخاض وليست عنده وعنده بنت لبون فإنها تقبل

او د چا سره چې دومره اوښان وي چې پر هغو يو کلنه اوښه واجب وي او د هغه سره دوه کلنه اوښه وي نو هغه دوه کلنه اوښه دي واخلي

منه ويعطيه المصدق عشرين درهما أو شاتين . فإن لم تكن عنده بنت

او زکوة اخيستونکئ دي شل درهمه يا دوه پسونه بيرته ورکړي او که يو کلنه اوښه نه وي

مخاض على وجهها وعنده ابن لبون فإنه يقبل منه وليس معه شيء وَفِي

دوه کلن (نر) اوښ وي نو هغه دي ورکړي او هيڅ شی دي بيرته نه ورکول کيږي .

صَدَقَةِ الْغَنَمِ فِي سَائِمَتِهَا إِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ شَاةٌ فَإِذَا زَادَتْ

د پسو زکوة دادئ : که د پسو پيونکئ وي نو د څلوېښتو څخه تر شپيتو پسو پورې يو پسه واجب دئ

عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ إِلَى مِائَتَيْنِ فَفِيهَا شَاتَانِ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى مِائَتَيْنِ إِلَى ثَلَاثِ

او د شپږ شلو څخه (۱۲۰) چې تر دوو سوو پورې وي نو دوه پسونه دي ، او دوو سوو څخه تر درو سوو پورې

مِائَةٍ فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلَاثِ مِائَةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ فَإِذَا

درې پسونه دي او که تر درو سوو زیات وي نو په هر سلو کې یو پسه دئ . او که

كَانَتْ سَائِمَةُ الرَّجُلِ نَاقِصَةً مِنْ أَرْبَعِينَ شَاةً وَاحِدَةً فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ إِلَّا

څرونکي پسونه تر څلوېښتو کم وي نو په هغو کې زکوة واجب نه دئ مګر که

أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا. ولا يجمع بين متفرق ولا يفرق بين مجتمع خشية الصدقة

د هغه خاوند وغواړي نو د نفل په ډول څه ورکولای سي، په زکوة کې دي زور (حیوان) نه ورکول کیږي او نه هم عیب داره ، او دا حکم د اوښانو او غواوو هم دئ، او په زکوة کې دي بکر (نر) نه ورکول کیږي

وما كان من خليطين فإنهما يتراجعان بينهما بالسوية وَفِي الرِّقَّةِ رُبُعُ

البته که زکوة اخیستونکي د یو مصلحت په وجه بوک (نر پسه) اخیستل وغواړي نو څه پروا نسته، ډول ډول حیوانان یو ځای کول نه دي پکار یعني د څو ډولو حیوانانو یو ځای کولو څخه دي شمیر نه پوره کول کیږي او نه دي د زکوة د بیري څخه حیوانان بیل بیل کړل سي او کوم شرعي نصاب چې د دوو برخه لرونکو یعني د دوو شریکانو په منځ کې واجب دئ هغه دي دواړه برابر وویشي ،

الْعُشْرِ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ إِلَّا تِسْعِينَ وَمِائَةً فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا.

رواه البخاري

او په سپینو زرو کې څلوېښتمه برخه زکوة واجب دئ که د یو چا سره یو سل نیوي درهمه وي نو په هغو کې زکوة واجب نه دئ البته که د هغه خاوند و غواړي د خیرات په ډول یې ورکړي نو کولای سي . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۱۷، رقم: ۱۴۵۴.

د لغاتو حل: (بنت المخاض): من الابل التي استكملت سنة من عمرها ولم تتم الثانية.، (بنت اللبون): ولد الناقة اذا استكمل سنتين، (الحقة): من الابل التي اتمت الثالثة من عمرها ودخلت في الرابعة، (الجذع): هو من الغنم ما كان عمره اكثر من ستة اشهر ومن الابل ما اتم السنة الرابعة ودخل في الخامسة،

تشریح: په تیرو صفحاتو کي یو حدیث تیر سوی دی په هغه کي فرمایل سوي دي چي تاسو زکاة وصولونکي خوشحاله کوئ، که څه هم هغوی ستاسو سره د ظلم معامله و کړي همداسي یو حدیث بل تیر سوی دی په هغه کي بیان سوی دی چي ځینو خلکو رسول الله ﷺ ته عرض وکړی چي زکوة وصولونکي زیاتي کوي یعني د واجب مقدار څخه زیات مال اخلي، نو ایا موږ د هغوی څخه زیات غوښتونکي مال پټ کړو؟ یعني هغوی ته یې ور نه کړو، د دې په جواب کي رسول الله ﷺ هغوی د داسي کولو څخه منعه کړل مګر دلته فرمایل سوي دي چي د کوم سړي څخه زیاته مطالبه وکړه سي هغه دي نه ادا کوي، په ظاهره په دغه روایتونو کي اختلاف معلومیږي د دې جواب دادی چي هغه وخت زکوة وصولونکي صحابه وو ظاهره ده چي نه خو هغوی ظالمان وه او نه د شرعي مقدرا څخه د زیات مال غوښتنه یې کوله او نه د صحابه په اړه داسي تصور کیدای سو خلکو د خپل ګمان او خیال مطابق دا وګڼله چي زموږ سره د ظلم او زیاتي معامله کیږي رسول الله ﷺ د دې حقیقت په نظ کي نیولو دا حکم وکړی چي هغوی دي په هر صورت خوشحاله کړل سي او هغوی چي څه غواړي د هغه په ورکولو کي دي اندیښنه نه کوي او دلته د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په ارشاد کي د زکوة وصولونکو څخه صحابه مراد نه دي مګر نور خلک مراد دي او ظاهره ده چي د صحابه ماسیوا نورو خلکو ته د داسي خبرو ظاهریدل ممکن نه وو ځکه حضرت ابوبکر رضی الله عنه دا تحریر وفرمایه چي د زیاتي مطالبې اداینه دي نه کیږي، په دې وضاحت سره په حدیثو کي چي په ظاهره اختلاف په نظر راتلی هغه ختم سو.

(فاذا ازادت على عشرين ومائة .....الخ) او کله چي شمیر د یوسلو شل څخه زیات سي قاضي رحمة الله علیه فرمائي دا حدیث شمیر د مذکور څخه د تجاوز کولو په صورت کي استقرار او پر حساب باندي دلالت کوي یعني اوښان چي د یوسلو شلو څخه زیات وي نو د هغوی د زکوة حساب به د نوي سره نه شروع کوي مګر په داسي صورت کي هغه د هر څلویښتو زیاتو باندي دو کلیزې اوښه او د هر پنځوسو زیاتو باندي د درو کلیزو اوښي په حساب سره زکوة ادا کول پکار دي، د اکثرو امامانو مذهب دادی خو امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمائي چي د نوي سره به حساب شروع کي د اوښانو شمیر چي د یوسلو شلو څخه تجاوز وکړي

هغه وخت به دوې حقې یعنې درې کلیزې اوښې او یوه بزه واجب کیږې او همداسې تر اخیره پورې، د اول ترتیب مطابق به حساب کول کیږې او د امام نحفي رحمة الله علیه او امام ثوري رحمة الله علیه هم دا قول دی د دې حضراتو دلیل دا ارشاد دی کله چې د اوښانو شمیر تر سلو زیات سې نو د هغه حساب دې د نوې سره وکړل سې، د حضرت علي کرم الله وجهه څخه هم همداسې نقل دې.

د اوښانو د زکوة په باره کې په دومره خبرې باندې پوه سئ چې د هغه د زکوة په توګه ماده یعنې اوښه یا د هغې قیمت واجب کیږې کله چې د غوا او بزې زکوة کې د نر او مادې څه تخصیص نسته مګر د هغه د زکوة په توګه نر یا د هغه قیمت او ماده یا د هغې قیمت دواړه کیدای سې.

(مالم یکن عنده بنت مخاص علی وجهها) او که د هغه سره د ورکولو قابله یو کلیزه اوښه نه وي ابن مالک رحمة الله علیه د دې وضاحت په اړه فرمایلي دي د د دې درې معناوي کیدای سي اوله د هغه سره یوه کلیزه اوښه موجوده نه وي دوهم یو کلیزه اوښه موجوده خو وي خو صحیح نه وي ناروغه وي په دې صورت کې هم ګویا هغه د نه کیدو په درجه کې وي دریم یوه کلیزه اوښه خو موجوده وي خو د اوسط درجې نه وي ډیره قیمتي او د اعلی درجې وي معلومه دي وي چې په زکاة کې د اوسط درجې مال ورکولو حکم دی.

په هر حال په دې کې چې کوم صورت هم دی د هغه حکم دا بیان سوی دی چې په داسې صورت کې ابن لبون یعنې دوه کلیزه اوښ به د زکوة په توګه ورکول کیږې بیا د دې وضاحت یې هم فرمایلی دی چې د ابن لبون سره نور څه اخستل ورکول واجب نه دي څرنګه چې د اوښو په باره کې حکم ورکړه سوی دی که پر یو سړي باندې د زکوة په توګه د ورکولو لپاره دوې کلیزې اوښه واجب وه او د هغه سره دوې کلیزې اوښه موجود نه وي مګر درې کلیزې اوښه وي نو زکوة وصولونکی دي د هغه درې کلیزې اوښه واخلي خو هغه دي زکوة ورکونکي ته د دوو کلیزو اوښې پر ځای درې کلیزه اوښه ورکولو په صورت کې دوې بزې یا شل درهمه ورکړي، څرنګه چې د دې پر خلاف صورت هم بیان سوی دی که زکوة ورکونکی د درو کلیزو اوښې پر ځای چې پر هغه واجب ده خو موجود نه ده دوې کلیزې اوښه دي ورکړي نو د هغه سره دي دوې بزې یا شل درهمه نور ورکړي چې د زکوة په مال کې تاوان پاته نسي په هر حال د دې څخه معلومه سوه چې فضیلت تانیت د عمر د زیاتوالي په بدل کې کیږې.

که څه هم د څریدونکي قید یوازې د بزې د زکوة په نصاب کې لګول سوی دی مګر د دې

تعلق د هر څاروي نسره دی یعني که څه هم بزه وي یا اوښ وي یا غوا وي، په دې کي زکوة هغه وخت واجب کیږي کله چي هغه د کال پر اکثرو حصو باندي یعني د نیم کال څخه زیات په څنګل کي وځروي که په هغوی کي یو حیوان داسي وي چي د کال په اکثر برخه کي په کور کي ورته خوراک ورکول سي نو په هغه کي زکوة نه واجبیږي.

د بزو نصاب څلویښت بیان سوی دی که د څلویښتو څخه کمي بزې وي نو په هغه کي زکوة نه واجب کیږي بیا چي څلویښت بزې وي نو یوه بزه د زکوة په توګه واجب کیږي او که د څلویښتو زیات وي نو په یو سل اوشلو بزو کي یوه بزه واجبیږي همداسي تر دروسو بزو پوري د شمیر د نصاب زکوة د بیانولو وروسته فرمایل سوي دي کله چي شمیر تر دروسو زیات سي نو بیا به دا حساب وي چي پر هرو سلو بزو باندي یوه بزه واجبیږي او څلور بزې هغه وخت واجبیږي کله چي شمیر پوره څلورسوه سي د اکثرو امامانو او علماؤ دا مذهب دی مګر د حسن ابن صالح قول په دې اړه دادی چي تر درو وروسته که یوه بزه هم زیاته وي نو څلور بزې واجبیږي.

(ولا ذات عوار) او عیب دار دی نه ورکول کیږي په زکوة کي، د عیب لرونکي مال نه اخستلو حکم په هغه صورت کي دی کله چي پوره مال یا څه مال داسي وي چي په هغه کي څه عیب او خرابي نه وي که پوره مال عیب داره وي نو بیا په هغه کي د اوسطي درجې په کتلو سره به ورکول سي.

په زکوة کي د مینده اخستلو څخه منعه ځکه سوې ده چي مینده د راتلونکي نسل لپاره ساتل کیږي که مینده واخستل سي نو د بزو د مالک به تاوان وي یا هغه به د دې په وجه په پریشاني کي اخته سي یا د مینده اخستلو څخه منعه ځکه فرمایل سوې ده چي د دې غوښه بد خونده او بدبوداره وي.

(ولا یجمع بین متفرق .....الخ) او متفرق حیوان دي یوځای نه کړه سي د دې جملې په مطلب د پوهیدو مخکي د مسئلې په حقیقت پوه سئ چي مفهوم په ذهن کي قرار ونیسي، مسئله داده چي ایا زکوة پر رمه یعني مجموعه باندي دی که اشخاص یعني د مال د مالک اعتبار به وي امام شافعي رحمة الله علیه خو فرمائي چي زکوة د ګلې په اعتبار ورکول کیږي د هغوی په نزد د مالک اعتبار نه وي او دا چي حضرت امام ابو حنیفة رحمه الله و رمې ته اعتبار نه ورکوي بلکه د هغې مالک ته اعتبار ورکوي، په دې مسئله د مثال په توګه داسي پوه سئ چي د یو سړي سره اتیا بزې وي خو هغه بزې یوځای یعني په یوه رمه کي نه وي مګر جلا جلا په رمو

کي وي نو د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد زکوة پر رمه باندي واجب کيږي ځکه چي د هغوی د مذهب مطابق د هغه دواړو رمو څخه به دوې بزې زکوة وي،ليکن د حضرت امام ابوحنيفة رحمة الله عليه د مذهب مطابق د دواړو رمو څخه به يوه بزه د زکوة په توګه ايستل کيږي که څه هم اتيا بزې په دوو ګلو کي تقسيم وي خو په ملکيت کي د يوه سړي دي ځکه د دې حساب مطابق چي د څلويښتو څخه تر يو سلو شلو پوري په تعداد کي يوه بزه واجب کيږي د هغه سړي څخه به هم يوه بزه وصول کيږي دوهم مثال دادی چي د دوو خلکو اتيا بزې وي چي په يوه رمه کي وي نو د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب مطابق د هغي رمې څخه به يوه بزه واخستل سي او د امام اعظم رحمة الله عليه د مذهب مطابق دوې بزې زکوة کيږي ځکه چي هغه اتيا بزې که څه هم په يوه رمه کي وي مګر د هغه مالکان جلا جلا دي او هغوی دواړه د څلويښتو څلويښتو بزو مالکان وي چي د هغوی پر جلا شمير باندي يوه بزه واجب کيږي.

دا مسئله په ذهن کي په ايښودو سره اوس پوه سئ چي د حديث د دې جملې (ولا يجمع بين متفرق .....الخ) مطلب د امام شفعي رحمة الله عليه په نزد خو دادی چي د دې ممانعت په تعلق سره دی که څه هم د مثال په توګه څلويښت بزې د هغه وي او څلويښت بزې د بل چا وي او دا دواړه شمير جلا جلا وي نو دا بزې چي جلا جلا او متفرق دي د زکوة کمولو لپاره دي يو ځای نه کړل سي يعني مالک دا سوچ په کولو سره که دا بزې جلا جلا په دوو رمو کي وي نو په دې کي به دوې بزې ورکوګ وي او که دواړې رمې په يوځای کولو سره يوه رمه کړه سي نو بيا به يوه بزه ورکول وي هغه دي نه يو ځای کوي..

همداسي (ولا يفرق بين مجتمع) او نه دي حيوانان جلا کوي په دې کي د دې ممانعت تعلق هم د مالک سره دی مثلا که د هغه سره شل بزې وي چي د دوهم سړي د بزو په رمه کي يوځای سوي وي نو مالک دي بزې د هغو بزو د رمې څخه جلا کوي په دې سوچ کولو سره دا بزې په هغه رمه کي وي نوزکوة به ورکول وي او که هغه بزه د هغي رمې څخه جلا کړه سي نو د زکوة څخه به وساتل سي.

د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد د دې ممانعت تعلق ساعي يعني د زکوة وصولونکي سره دی چي هغه زکوة د اخستو لپاره متفرق بزې يوځای نه کړي مثلا د دوو جلا جلا خلکو سره دومره بزې وي چي جلا جلا خو حد نصاب ته نه رسيږي او پر هغه زکوة نه واجب کيږي څرنګه چي د دواړو سره شل شل بزې وي خو کله چي د دواړو بزو يو ځای کړه سي نو پر هغوی زکوة واجب سي نو زکاة وصولونکي لپاره دا صحيح نه دي چي هغه زکوة د اخستو لپاره

هغه بزې يو ځای کړي همداسي د دوهم ممانعت تعلق هم د زکوة وصولونکي سره دی چې زکوة د اخستو لپاره جلا جلا ځاروي يو ځای نه کړي مثلا د يو سړي سره اتيا بزې داسي وي چې ځلويښت خو يو ځای وي او ځلويښت خوپه دوهم ځای کي دي نو زکوة وصولونکی د دې دواړو ځايونو د بزو دوې جلا جلا نصاب په ګرځولو سره هغه د هغه سړي څخه دي دوې بزې نه وصولوي مګر د دواړو ځايونو د بزو يو نصاب دي وګرځوي او د قاعدې مطابق يوه بزه دي وصول کړي ځکه چې بزې که څه هم جلا جلا وي مګر په ملکيت کي د يوه سړي دي نو د دواړو ځايونو مجموعه پر بزو باندي چې د هغه شمير اتيا دي يوه بزه واجبيږي.

(وما كان من خليطين) په کوم نصاب کي چې دوه خلک شريکان وي د دې جملې وضاحت هم يوه مسئله په پوهيدو باندي موقوفه ده مسئله داده چې مثلا دوه سوه بزې دي چې په هغه کي دوه خلک شريکان دي په دې حساب سره چې د يوه سړي ځلويښت بزې دي او د بل يوسل او شپيته، اوس سوال دادی چې پر بزو باندي د زکوة په توګه خو دوې بزې واجب دي خو هغه دوې بزې به د هغو دواړو څخه په کوم حساب سره وصولیږي ظاهره چې دا خو نسي کيدای چې پر اول سړي باندي خو د هغه د برخي پيش نظر د يوې بزې دو خمس واجب سي او پاته پر دوهم سړي باندي واجب سي مګر داسي به کيږي چې زکوة وصولونکی به د قاعدې مطابق د دواړو خلکو څخه يوه بزه وصوله کړي خو په دې صورت کي اول سړي ته به تاوان وي ځکه چې هغه په ګډو بزو کي د هغه برخه يوازي ځلويښت بزې دي هغه به هم يوه بزه ورکوي او دوهم سړی به هم يوه بزه ورکوي چې د هغه برخه يو سلو شپيته بزې دي په دې اړه فرمايل سوي دي چې زکوة وصولونکی به د دواړو څخه يوه بزه وصوله کړي مګر بيا وروسته دواړو ته پکار ده چې هغوی د خپلي خپلي برخي سره سم حساب وکړي يعني اول سړی چې د هغه ځلويښت بزې دي دوهم سړي څخه چې د هغه يوسلو شپيته بزې دي د خپلي ورکړي بزې دريم خمس وصول کړي په دې حساب سره د ځلويښتو بزو پر مالک باندي د هغه د برخي سره سم دوه خمسه رائي او پاته د يوسل او شپيتو بزو پر مالک باندي به د هغه د برخي سره سم رائي نو ارشاد (فانهما يتراجعان بالسوية) هغوی ته پکار دي چې هغوی دواړه برابر تقسيم کړي د دې دا معنی ده.

د کښتو زکات

﴿۱۷۰۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ فِيمَا سَقَتْ السَّمَاءُ وَالْعُيُونُ أَوْ كَانَ عَثَرِيًّا الْعُشْرُ وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ . رواه البخاري

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کومه مځکه چې آسمان (باران) اوبه کړي وي يا چينو او يا په خپله شنه سوې وي نو په هغې کې لسمه برخه (زکوة) واجب دئ او کومه مځکه چې په څاه اوبه کيږي د هغې د حاصلاتو شلمه برخه واجب ده . بخاري .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۳\ ۳۴۷، رقم: ۱۴۸۳.

د لغاتو حل : (عثريا) : هو من النخل الذي يشرب بعروقه من ماء المطر يجتمع في حفيرة.

تشريح : مطلب دادی چې کومه مځکه په باران سره اوبه کيږي يا د چينو ويالو او نالیو په ذريعه هغه ته اوبه راځي نو د داسې مځکې څخه چې کومه غله وغيره پيدا کيږي په هغه کې به لسمه برخه بطور زکوة ورکول واجب دی .

عشری، هغه مځکې ته وائي چې د عاثور څخه اوبه کيږي او عاثور هغه کندي ته وائي چې مځکه د تالاب په ډول وکيندل سي او د هغه څخه کښتو او داسې نورو ته اوبه ورکول کيږي ځيني حضرات وائي عشری هغې مځکې ته وائي چې اوبو ته د نژدې کيدو په وجه هميشه تازه او شنه وي .

د خزانو زکوة

﴿۱۷۰۶﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ وَالْبِئْرُ جُبَارٌ وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ. متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : که حيوان څوک ژوبل کړي نو معاف دئ که په څاه کې ولويږي مړ سي نو معاف دئ ، که په کان کښلو کې څوک مړ سي نو معاف دئ او په کان يا پخوانی ښخه سوې خزانه کې پنځمه برخه زکوة واجب دئ بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۳\ ۳۶۴، رقم: ۱۴۹۹، ومسلم ۳\ ۱۳۳۴، رقم: ۴۵ - ۱۷۱۰.

تشريح : يو حيوان آس، غوائی، ګامينبه او داسې نور که يو سړی زخمي کړي يا ضائع کړي يا څوک مړ کړي او په دغه وخت کې د حيوان سره د هغه مالک نه وي او دا چې د ورځې وخت وي نو د حيوان زخمي کول يا څه شی ور ضائع کول معاف دي يعني د هغه پر مالک د هغه څه بدله او جرمانه نه راځي هو که حيوان په داسې حال کې څوک زخمي کړي يا يو شی يې ورورک کړي چې پر هغه څوک سپور وي يا د هغه سره شړونکی او ببونکی وي نو په داسې صورت کې

د حیوان پر مالک بدله او جرمانه واجب کیږي ځکه چې په دې کې به کوتاهي او لا پرواهي ته دخل وي همداسي که یو حیوان د شپې وخت په خلاصیدو سره څوک زخمي کړي یا څه شی یې ورورک کړي نو د هغه پر مالک به د هغه تاوان رائي ځکه چې د شپې حیوان ترڅل کیږي خو هغه حیوان په ترڅلو سره د لاپرواهي او کوتاهي ثبوت ورکړ په دغه باره کې پورته حدیث که څه هم عام دی او په دې کې څه قید او تخصیص نسته خو د نورو حدیثونو او دلائلو په نظر کې نیولو پورته قید ذکر سوی دی.

(والبئر جبار) که په څاه کیندلو کې څوک مړ سي نو معاف دی د دې مطلب دادی مثلا یو سړی څاه کیندل غواړي او هغه څاه د کینلو لپاره د یوه مزدور خدمتونه حاصل کړي دي اوس که هغه مزدور په څاه کیندلو کې و ځاته ایله سي یا د ساه په بندېدو سره مړسي نو پر څاه کنونکي باندي هیڅ تاوان یعني دیت وغیره نه واجبیږي همداسي که یو سړی په خپله مځکه یا داسي افتاده مځکه کې چې د هغه د مالک درک نه وي څاه کیندي او په هغه څاه کې یو سړی یا حیوان وغیره په غورځیدو سره مړ سي نو په دې صورت کې هم پر هغه هیڅ تاوان نه رائي هو که څاه په لاره کې یا په څه بله مځکې کې د مالک د اجازې پرته کیندل سوی وي او په هغه څاه کې څوک سړی یا حیوان وغیره په ورغورځیدو سره مړ سي نو په دې صورت کې به د څاه کیندلو پر عاقله باندي تاوان یعني خونه بها واجب کیږي دا حکم به د هغه سړي په باره کې لارګو وي چې سره زر سپین زر د فیروزه یا خاورو د کښلو لپاره د مځکې څه برخه وکیندي.

عاقله څه ته وائي ؟ عاقله یوه فقهي اصطلاح ده د دې په معنی د مثال په توګه داسي پوه سئ چې د یو سړي څخه یو جرم کیږي مثلا هغه پر ښکار باندي توپک وچلوي ناڅاپه ببله کوم قصد او ارادې د هغه مرمی د ښکار پر ځای په یو انسان کې ولګیږي او هغه مړ کړي یا د پورته صورت سره سم یو سړی په لار کې څاه کیندي او په هغه څاه کې په غورځیدو سره مړسي نو د کوم سړي په مرمی سره چې مرګ وسي یا د کوم سړي کیندل سوي څاه کې څوک په غورځیدو سره چې مړسي د هغه ملګري او رفیق ته عاقله وائي فرض که هغه سړی په فوج یا په پولیس کې ملازم دی نو د هغه ملګري فوجي یا سپاهي ته عاقله وائي او که هغه چیري ملازم نه وي نو بیا د هغه قبیله او خاندان ته به عاقله وائي.

پر عاقله باندي تاوان ولي ؟ اوس سوال دا پیدا کیږي چې غلطي خو د هغه سړي ده خو جرمانه یا تاوان د هغه ملګرو یا د هغه د اهل خاندان او پر قبیله والا باندي ولي ده د دې وجه داده کله چې د هغه سړي څخه څه غلطي وسوه او په هغه غلطي کې هم د هغه قصد او ارادې ته

څه دخل نه وو که څه هم هغه د دې څه جرمانه ولي نسي کيدای چې هغه پر هغه غلطي باندې پښيمانه نه وي او د هغه د لاپرواهي او کوتاهي آئنده د څه لوئي پيښې ذريعه جوړه سي ځکه ضروري سوه چې جرمانه او تاوان پر هغو خلکو باندې لازمه کړه سي چې د هغه نژدې اوسيدونکي او د هغه سره متعلق وي چې هغوی په مذکوره توګه سره په واک کي سي او د آئنده لپاره د هغه څخه داسي حرکت نه وسي.

په حديث کې د رکاز څخه څه مراد دي : امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمائي په حديث کې چې د کوم رکاز ذکر سوی دی د هغه څخه معدن مراد دی مګر اهل حجاز د رکاز څخه د جاهليت په زمانه کې په مځکه کې پټې خزانې مراد اخلي تر څو پوري چې د حديث ظاهري مفهوم او د دې وسياق وسباق دی د دې پيش نظر هغه معنی زياته بهتره معلوميږي کومه چې امام اعظم رحمة الله عليه اختستې ده بيا دا چې خپله د رسول الله ﷺ يو ارشاد هم د رکاز د معنی وضاحت کوي نقل دي چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې رکاز هغه سره او سپين زر دي چې هغه الله تعالی په مځکه کې د هغه د تخليق په وخت کې پيدا کړي دي.

د کان څخه د وتونکو شيانو ډولونه

دلته په دې هم پوهيدل پکار دي چې کوم شيان چې د کان څخه را ايستل کيږي د هغه درې ډولونه دادي :

اول هغه شيان چې منجمد وي او په اور کې په اچولو سره نرم سي او د منقش کيدو قابل وي يعني کومې سکې وغيره د منقش کيدو په کار راتلای سي لکه سره زر سپين زر او داسي نور.

دوهم : د هغو شيانو څخه چې منجمد نه وي لکه اوبه، تېل او داسي نور.

دريم : د هغه شيانو څخه چې په اور کې په اچولو سره نه نرميږي او نه د سکې وغيره لپاره استعمالیدای سي لکه ډبره چونا هړتال او ياقوت وغيره په دې درو ډولو کې يوازې په اول ډول کې د زکوة په توګه خمس يعني پنځمه برخه کښل واجب دي او د دې لپاره د يوه کال تيريدل شرط نه دي د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد په معدنياتو کې يوازې سره او سپين زر کې زکوة واجب کيږي نور معدنيات مثلا وسپنه، مس او داسي نورو کې زکوة نه واجبيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د غوا او غوايي زکوة

﴿۱۷۰۷﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ عَفَوْتُ عَنِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما معاف کړ زکوة

الْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ فَهَاتُوا صَدَقَةَ الرِّقَةِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمًا وَلَيْسَ فِي

د هغه غلامانو او آسانو (چي د تجارت لپاره نه وي) او تاسو زکوة د سپينو زرو څلوېښت درهمو باندي يو درهم ادا کوئ

تِسْعِينَ وَمِائَةٍ شَيْءٌ فَإِذَا بَلَغَتْ مِائَتَيْنِ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ ، رواه الترمذي

او پريو سل نيوي درهمو باندي زکوة نسته او هر کله چي پوره دوه سوه درهمه سي نو پر هغه پنځه درهمه واجب دي . ترمذي،

و ابوداؤد و في رواية لابي داؤد عَنِ الْحَارِثِ الْأَعْوَرِ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ زُهَيْرٌ اَحْسِبُهُ

او ابوداؤد ، د ابوداؤد په يوره روايت کي دي چي د زهير څخه نقل دئ چي زهير وويل : زما په خيال کي حارث اعور ته چي هغه وويل چي حضرت علي بيان وکړ چي

عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّه قَالَ هَاتُوا رُبُعَ الْعُشْرِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ

رسول الله ﷺ وفرمايل : په هر څلوېښت درهمو کي تاسو څلوېښتمه برخه ادا کوئ

وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ شَيْءٌ حَتَّى تَتِمَّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَإِذَا كَانَتْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَفِيهَا

او تر هغه وخته پوري پر تاسو هيڅ واجب نه دي تر څو پوري چي پوره دوه سوه درهم نه سي بيا هر کله چي پوره دوه سوه درهمه سي نو په هغو کي

خَمْسَةُ دَرَاهِمَ فَمَا زَادَ فَعَلَى حِسَابِ ذَلِكَ وَفِي الْغَنَمِ فِي أَرْبَعِينَ شَاةً شَاةٌ الى

پنځه درهمه واجب دي او څومره چي د دوو سوو درهمو څخه زيات وي په هغه حساب سره زکوة واجب دئ او په پسو کي پر هر څلوېښت باندي يو پسه واجب دئ ، تر

عشرين ومائة فان زادت واحدة فشاتان الى مائتين فان زادت فثلث

يوسل او شلو پوري او هر كله چې پر دې شمير باندې يو هم زيات سي نو دوه پسونه واجب دئ تر دوو سوو پوري او كه تر دوو سوو زيات سي نو پر درو سوو باندې دري

شياة فان لم تكن الا تسع و ثلثون فليس عليك فيها شئ وَفِي الْبَقَرِ فِي كُلِّ

پسونه واجب دي او كه تر درو سوو زيات سي نو په هر سل كې يو پسه واجب دئ ، او كه كم يعني يو كم څلوېښت پسونه وي نو پر هغو هيڅ شى واجب نه دئ او په غواوو كې پر هر

ثَلَاثِينَ تَبِيعٌ وَفِي الْأَرْبَعِينَ مُسِنَّةٌ وَلَيْسَ عَلَى الْعَوَامِلِ شَيْءٌ .

ديرشو غواوو باندې يو كلن كيلگى او پر څلوېښتو باندې يوه غوا چې دوه كلنه وي او د كاو پر حيوانانو باندې زكوة نسته .

تخريج : سنن ابي داؤد ۲\ ۲۳۲، رقم: ۱۵۷۴، والترمذي ۳\ ۱۶،

تشريح : (فما زاد فعلى حساب ذالك): چې د تر دوو سوو درهمو زيات وي نو په هغه كې به په دې شمير سره زكوة واجب وي په حنفيه كې صاحبين يعني امام ابويوسف او امام محمد رحمة الله عليه دا مذهب دى چې د دوو سوو درهمو څخه كوم مقدار زيات وي د هغه شمير په كولو سره څلويښتمه برخه دي په توګه د زكوة ادا كړه سي خو امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمائي چې تر دوو سوو زيات په اندازه كي هلته زكوة واجب كيږي چې كله هغه اندازه تر څلويښت درهمه پوري وي او كه زيات مقدار او څلويښت ته نه ورسيږي نو بيا په هغه كې زكوة نه واجب كيږي مګر د دوو سوو درهمو زكوة به ورکول كيږي امام صاحب په دې حديث كې زيات مقدار د څلويښتو درهمو پر زيات باندې محمول كړى دى او دا هغوى ځكه ويلي دي چې په ټولو حديثونو كې تطبيق يعني مطابقت وسي او څه اختلاف نه سي څرګنده .

د غوا په نصاب كې د زكوة په توګه د غوائي ورکولو لپاره فرمايل سوي دي د غوا د زكوة په توګه نر او ماده دواړه برابر دي كه غوا وركړي كه غويى وركړي څرنګه چې په راتلونكي روايت كې د دې وضاحت هم سته د غوا او بزې د زكوة په توګه ماده ورکول ضروري نه دي د اوښانو پر خلاف چې په هغه كې ماده ورکول افضل دي مګر په غوا او بزې كې د دې څه قيد او تخصيص نسته .

علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي كه غواوي يا غوايان تر څلويښتو زيات وي نو په هغه زياته اندازه كي تر هغه وخته پوري څه شی نه واجب كيږي تر څو پوري چي شمير شپيتو ته نه ورسيږي كله چي شمير شپيته سي په هغه كي دوه تبيعي يعني د يوه كال دوه غوايان يا د دې عمر دوي غواوي به ورکول وي بيا د دې وروسته په هرو څلويښتو كي يوه مسنه يعني دوه كليزه غوا يا دوه كليزه غوايی به ورکول كيږي او په هرو ديرشو كي يوه يوه تبيعه واجب كيږي مثلا اويا سي نو يوه مسنه او يوه تبيعه اتيا سي نو دوي مسنې او كه نيوي سي نو درې تبعې او كله چي سل سي نو دوې تبيعې او يوه مسنه واجب كيږي همداسي په هرو ديرشو كي يوه تبيعه او په هرو څلويښتو كي د يوې مسنې شمير ته به زكوة ادا كول كيږي.

د علامه ابن حجر رحمة الله عليه قول كه غواوي يا غويان تر څلويښتو پر زياتو اندازه كي تر هغه وخته پوري هيڅ شی نه واجب كيږي تر څو پوري چي شمير شپيتو ته نه ورسيږي په حنفيه كي د صاحبين دا مذهب دی مګر د امام اعظم رحمة الله عليه مذهب دا دی چي تر څلويښتو كوم شمير هم زائد سي د هغه هم حساب په ورکولو سره زكوة به ادا كيږي تر دې چي شمير شپيتو ته ورسيږي كله چي تعداد و شپيتو ته ورسيږي نو دوې تبعي واجبيږي پاته حساب به د پورته ترتيب سره سم وي كه تر څلويښتو څخه يوه هم غوا يا غويی زيات وي نو مسنه څلويښتمه برخه يا د يو تبيعه ديرشمه برخه يعني د هغه د قيمت څلويښتمه يا ديرشمه برخه ورکول به ضروري وي همداسي كوم مقدار هم چي زيات وي د هغه به هغه مطابق حساب كول كيږي په حنفيه كي صاحب هدايه او د هغوی د متبعينو په رايه كي د امام صاحب رحمة الله عليه دا قول معتبر دی.

د حديث اخري جمله (وليس على العوامل شيء) د كار روزګار په حيوانانو كي هيڅ هم واجب نه دي د دې مطلب دا دی چي كوم حيوان د كار روزګار وي او په ضروريا تو كي استعماليږي لكه غويان د يوي كولو يا د څاه څخه اوبه د راكښلو يا د بارورلو راورلو د كار لپاره وي كه څه هم د هغوی شمير په اندازه نصاب وي په هغوی كي زكوة نه واجب كيږي دا حكم د اوښانو او داسي نورو په باره كي هم دی امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه د دوی هم دا مذهب دی مګر امام مالک رحمة الله عليه فرمائي چي په داسي حيوانانو كي هم زكوة واجب كيږي.

﴿۱۷۰۸﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ أَمَرَهُ

د حضرت معاذ رضي الله عنه څخه روايت دی چي كله رسول الله ﷺ هغه د يمن په لور وليږئ حكم يې ورکړ

أَنْ يَأْخُذَ مِنَ الْبَقَرِ مِنْ كُلِّ ثَلَاثِينَ تَبِيعًا أَوْ تَبِيعَةً وَمِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ مُسِنَّةً. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي والدارمي.

چې په غواوو کې پر دیرشو غواوو د یو کلن ګیلګي زکوة اخله او په څلوېښتو کې دوه کلنه غوا اخله. ابوداؤد، ترمذي او نسائي

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۳۶، رقم: ۱۵۷۸، والترمذي ۳\ ۲۰، رقم: ۶۲۳، والنسائي ۵\ ۲۶۲۵۰، رقم: ۲۴۴۹، والدارمي ۱\ ۴۶۵، رقم: ۱۶۲۴.

د لغاتو حل: (التبيع): ما اتم الحول من البقر. (یو کلن ګیلګی).

زیات زکات اخیستل

﴿۱۷۰۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُعْتَدِي فِي الصَّدَقَةِ كَمَانِعِهَا. رواه ابوداؤد والترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په زکوة کې زیاتي کونکی د هغه چا په ډول دئ چې د زکوة څخه انکار کونکی وي یعني د دواړو یو ډول ګناه ده. ابوداؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۴۳، رقم: ۱۵۸۵، والترمذي ۳\ ۳۸، رقم: ۶۴۶.

د غلې او خرماووزکوة

﴿۱۷۱۰﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ فِي حَبٍّ وَلَا تَمْرٍ صَدَقَةٌ حَتَّى تَبْلُغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ. رواه النسائي.

د حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په غله او خرماوو کې زکوة نسته تر څو چې د هغو اندازه پنځو وسقو (دیرشو منو) ته ونه رسیږي. نسائي

تخريج: سنن النسائي ۵\ ۴۰، رقم: ۲۴۸۴.

تشريح: د غلې او خرما د زکوة په باره کې په تیرو صفحو کې په تفصیل سره بیان سوی دی هلته پریږدئ باندي د وسق وضاحت هم سوی دی.

﴿۱۷۱۱﴾: وَعَنْ مُوْسٰى بْنِ طَلْحَةَ قَالَ عِنْدَنَا كِتَابُ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ عَنِ النَّبِيِّ

د حضرت موسی بن طلحه رضی الله عنه څخه روایت دئ چې زمونږ سره د معاذ بن جبل هغه خط موجود دئ چې هغه ته نبي کریم ﷺ لیږلئ وو ،

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّمَا أَمَرَهُ أَنْ يَّأْخُذَ الصَّدَقَةَ مِنَ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيْرِ وَالزَّبِيْبِ وَالتَّمْرِ . مرسل رواه في شرح السنة

د معاذ بیان دئ چې نبي کریم ﷺ ما ته حکم راکړئ وو چې د غنمو ، اوربشو ، انګورو او خرماوو باندې زکوة وصول کړم . شرح السنة مرسلا .

تخریج: شرح السنة ۶\ ۴۰، رقم: ۱۵۷۹.

تشریح : د دې مطلب دا نه دی چې د مځکې د پیداوارو څخه نه یوازې په دې څلورو شیانو کې زکوة واجب دی مګر د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد خو د مځکې په هر پیداوار کې زکوة واجب کیږي چې د انساني ژوند لپاره غذا جوړیدای شي او د حنفیه په نزد د مځکې په هر پیداوار کې زکوة دی که څه هم هغه د انساني ژوند لپاره غذا وي یا نه وي تر څو پورې چې د دې حدیث تعلق دی نو په دې اړه ویل کیږي چې په دې علاقه کې یوازې دا څلور شیان پیدا کیدل ځکه د دې څلورو شیانو په خاصه توګه سره ذکر سوی دی .

د انګورو زکات

﴿۱۷۱۲﴾: وَعَنْ عَتَّابِ ابْنِ اَسِيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ فِي زَكَاةِ الْكُرُومِ إِنَّهَا

د عتاب ابن اسید رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د انګورو په اړه دا فرمایلي دي

تُخْرَصُ كَمَا يُخْرَصُ النَّخْلُ ثُمَّ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ زَبِيبًا كَمَا تُؤَدَّى زَكَاةُ النَّخْلِ تَمْرًا . رواه الترمذي و ابوداؤد .

چې انګور دي اندازه کړل سي او د وچو انګورو موافق دي زکوة ادا کړل سي څنګه چې د وچو خرماوو ادا کیږي . ترمذي ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۵۷، ۲۵۸، رقم: ۱۶۰۳، والترمذي ۳\ ۳۶، رقم: ۶۴۴.

تشريح : مطلب دادی چي په انګورو او خرما کي خوږوالی پيدا سي نو يوما هر سړی دی په دې اړه دا اندازه لګوي چي د وچ کيدو وروسته به دا څومره وي بيا چي هغه وچ سي نو د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه د مذهب سره سم هغه چي هر څومره وي د هغه لسمه برخه دي په توګه د زکوة ادا کړه سي صاحبين او د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب سره سم که د هغه اندازي حد نصاب يعني تر پنځه وسقه پوري ورسيږي نو لسمه برخه دي ادا کړه سي .

﴿۱۷۱۳﴾: وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ اَبِيْ حَثْمَةَ حَدَّثَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سهل بن ابي حثمة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي

كَانَ يَقُولُ إِذَا خَرَصْتُمْ فَخُذُوا وَدَعُوا الثُّلُثَ فَإِنْ لَمْ تَدَعُوا الثُّلُثَ فَدَعُوا الرُّبُعَ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي

هر کله چي تاسو د خرماوو او انګورو زکوة اندازه کړئ نو د واجب اندازه سوي اندازې څخه دريمه حصه پريږدي او که دريمه حصه نه پريږدي نو څلورمه حصه پريږدي (مالک ته) . ترمذي، ابوداؤد او نسائي .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۵۸- ۲۶۰، رقم: ۱۶۰۵، والترمذي ۳\ ۳۵، رقم: ۶۴۳، والنسائي ۵\ ۴۲، رقم: ۲۴۹۰.

تشريح : په اصل کي د زکوة وصولونکي ته خطاب دی چي کله تاسو د زکوة اندازه وټاکل نو هغه تعين سوې اندازه دوه په دريمي کي تاسو واخلئ او يو په دريمه کي د احسان په وجه ومالک ته پريږدئ تر څو هغه په خپلو همسايګانو او مسافرانو باندي وخوري د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه دا مذهب دی که څه هم د امام شافعي رحمة الله عليه اول قول هم دادی خو د هغوی وروسته قول دادی چي د زکوة د واجب اندازې څخه هيڅ برخه دي هم نه پريږدي .

د دې حديث تاويل هغوی دا کوي چي د دې تعلق د خيبر د يهوديانو سره وو رسول الله ﷺ د خيبر د يهوديانو سره نيم کاره معامله کړې وه چي نيمه خرما به د هغوی وي او نيمه به دربار رسالت ته استول کيږي ځکه رسول الله ﷺ د خرما اندازه کونکو ته دا حکم ورکړی وو چي مخکي دي په هغه ټوله خرما کي دريمه برخه يا څلورمه برخه د هغه يهوديانو لپاره د احسان د

مخه پريږدي بيا پاته خرما دي نيمی نيمی تقسيم کړي يوه برخه دي يهوديانو ته ورکړه سي او يوه برخه دي دربار نبوت ته واستول سي .

په خرماوو کي زکات

﴿۱۷۱۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَبْعَثُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ رَوَاحَةَ إِلَى يَهُودَ فَيَخْرُصُ النَّخْلَ حِينَ يَطِيبُ قَبْلَ أَنْ يُؤْكَلَ مِنْهُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به عبدالله بن رواحه د خيبر د يهودو په لور ليږئ او هغه به د خرماوو اندازه هغه وخت کول چې په هغو کي به خوږوالی پيدا سو مګر د خوراک به لا نه وه . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۶۰، رقم: ۱۶۰۶.

په عسلو کي زکات

﴿۱۷۱۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فِي الْعَسَلِ فِي كُلِّ عَشَرَةِ أَزْقٍّ زِقٌّ . رواه الترمذي و قال في اسناده مقال ولا يصح عن النبي ﷺ في هذا الباب كثير شئ .

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په لس ژيو شاتو کي دي يو ژی شات واخيستل سي ، ترمذي ويلي دي ددې حديث په سند کي شبه ده او د شاتو په اړه د رسول الله ﷺ څخه زيات نقل نسته

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۲۴، رقم: ۶۲۹.

د لغاتو حل: (الزق): وعاء من جلد توضع فيه السوائل.

تشريح : د عسلو د زکوة په باره کي د امامانو اختلاف دی امام شافعي رحمة الله عليه فرمائي په شاتو کي زکوة نسته خو د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد په شاتو کي زکوة واجب دی که څه هم په کم مقدار کي وي يا په زياته اندازه کي وي په شرط د دې چې د عشرې د مځکي څخه وتلي وي د هغوی دليل دا ارشاد دی چې د مځکي په هر پيداوار کي عشر واجب دی او کوم شات چې په غرونو کي وي په هغه کي هم د امام اعظم رحمة الله عليه په نزد لسمه برخه د

زکوة په توګه کښل واجب دي.

په زیوراتو کي زکوة

﴿۱۷۱۶﴾: وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَتْ خَطَبَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ فَإِنَّكُنَّ أَكْثَرُ أَهْلِ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د ښځي بي بي زینب څخه روایت دئ چي زمونږ په وړاندي رسول الله ﷺ خطبه وویل چي:

اې ښځو د خپل مال زکوة ورکوئ که څه هم هغه ستاسو جامې وي ځکه په تاسو کي به د قیامت په ورځ زیاتي دوږخیاني وي. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۲/۱۳، رقم: ۹۳۵.

تشریح: اکثره د دوږخیانو وي، د دې مطلب دادی چي ښځه اکثره وخت د دنیا او د دنیا د شیانو په محبت کي راچاپیره وي چي د هغه په وجه نه یوازي دا چي زکوة نه ادا کوي مګر د الله تعالی په لار کي د خپل مال د خرڅولو په هغوی کي جذبه هم نه وي ځکه د ښځو اکثریت ته دوږخیان ویل سوي دي ښځي خبري کړه سوې که تاسو د دوږخ د دردناکه عذاب څخه ځان ساتل غواړی نو د دنیا محبت او دنیوي عیش او عشرت د طمع او حرص څخه ځانونه وساتئ الله تعالی چي تاسو ته څه مال درکړی دی پر هغه صبر وکړی د هغه څخه زکوة او صدقه وباسی چي د قیامت په ورځ د الله تعالی رحمت ستاسو سره وي او تاسو دوږخ ته د تلو څخه وساتل سی.

د ښځو جامې زیور د زکوة په باره کي د امامانو اختلاف دی د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه مذهب خو دادی چي په مطلق زرو کي زکوة واجب دی کله چي هغه حد نصاب ته ورسیږي د امام شافعي رحمة الله علیه اول قول هم دادی امام مالک رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه فرمائي د ښځو په هغو جامو کي زکوة واجب نه دی چي د هغه استعمالول مباح دي د کومو زیوراتو استعمالول چي حرام دي د دې حضراتو په نزد په هغه کي زکوة واجب کیږي د امام شافعي رحمة الله علیه اخري قول هم دادی د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه د مذهب دلیل دا حدیث دی چي د هغه څخه په مطلقا زیوراتو کي د زکوة وجوب ثابتیږي.

﴿۱۷۱۷﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ أَتَتَا رَسُولَ

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چې دوې ښځې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضري سوې

اللَّهِ ﷺ وَفِي أَيْدِيهِمَا سُوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ لَهُمَا أَتُؤَدِّيَانِ زَكَاتَهُ قَالَتَا لَا

او د هغو په لاسو کې دوه باهوګان وه د سرو زرو، رسول الله ﷺ د هغو څخه پوښتنه وکړه ايا تاسو ددې زکوة ورکوئ؟ هغوی وويل: نه،

فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى ﷺ أَتُحِبَّانِ أَنْ يُسَوِّرَكُمَا اللَّهُ بِسُوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا تاسو غواړئ چې الله تعالى تاسو ته د اور باهوګان واچوي،

قَالَتَا لَا قَالَ فَأَدِّيَا زَكَاتَهُ. رواه الترمذي و قال هذا حديث قد روي المثني

هغوی عرض وکړ: نه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې زکوة ادا کړئ، ترمذي ويلي دي دا

ابن الصباح عن عمرو بن شعيب نحو هذا والمثني ابن الصباح وابن لهيعة يضعفان في الحديث و لا يصح في هذا الباب عن النبي ﷺ شئ.

حديث مثنى بن صباح د عمربن شعيب څخه داسې روايت کړئ دئ ابن صباح او ابن لهيه دواړه ضعيف دي په دې اړه د نبي کريم ﷺ څخه صحيح حديث منقول نه دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۲۹، رقم: ۶۳۷.

تشريح: دا حديث هم په وضاحت سره د دې خبرې دليل دی چې په زيوراتو کې زکوة واجب دی د امام ترمذي رحمة الله عليه دا ويل چې په دې اړه د رسول الله ﷺ څه صحيح حديث نقل نه دی دا خبره صحيح نه ده ځکه چې د حديثونو په نورو کتابونو کې ددې مسئلې په اړوند صحيح حديثونه نقل دي چې ملا علي قاري رحمه الله هم په مرقات کې نقل کړي دي.

﴿۱۷۱۸﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَلْبَسُ أَوْضَاحًا مِنْ ذَهَبٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَكَنْزٌ هُوَ فَقَالَ مَا بَلَغَ أَنْ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ فَزُكِّيَ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ. رواه مالك و ابوداؤد.

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دئ چې ما به اوضاح (د کالو نوم دئ) اغوستل چې د سرو زرو وه، ما یوه ورځ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ایا دا (کالي) هم کنز (خزانه) دئ (د کوم سزا چې په قرآن کریم کې راغلئ دئ)؟ رسول الله ﷺ وفرمایل که دا هغه اندازې ته رسیږي چې پر هغه زکوة واجب دئ او د هغه زکوة ادا کړل سې نو بیا دا کنز نه دئ. مالک ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۱۲- ۲۱۳، رقم: ۱۵۶۴، ولم نجده عند مالک.

د لغاتو حل: الاوضاح: نوع من الحلي یعمل من الفضة. (یو ډول جامې چې سره زر پکښې کار سوي وي.)

تشریح: د بي بي ام سلمه ﷺ د پوښتنې مطلب دا وو چې قرآن کریم د مال جمع کولو په باره کې دا سزا بیان کړې ده:

وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ

ژباړه: کوم خلک چې سره او سپین زر جمع کوي او هغه د الله تعالی په لار کې نه خرڅوي نو هغوی د دردونکي عذاب څخه خبر کړی.

نو ایا زما د سرو زرو زیور هم په دغه وعید کې داخل دي؟ د دې جواب رسول الله ﷺ دا ورکړ چې مال په اندازه د نصاب وي چې د هغه زکوة ادا کړه سي نو هغه مال په دې سزا کې داخل نه دی ځکه چې قرآن کریم خو د دردونکي عذاب خبر د هغه مال مالک ته ورکوي چې هغه بغیر زکوة ورکولو جمع کړي.

د تجارت مال

﴿۱۷۱۹﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ مِنَ الَّذِي نُعِدُّ لِلْبَيْعِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به موږ ته حکم راکوئ چې کوم مال موږ د تجارت لپاره تیار کړئ دئ په هغو کې زکوة ورکوو. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۱۱، رقم: ۱۵۶۲.

د کانو د زکوة مسئله

﴿۱۷۲۰﴾: وَعَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ

حضرت ربیعة بن ابي عبد الرحمن رضي الله عنه د ډیرو صحابه کرامو څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ

أَقْطَعَ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ الْمُزَنِيَّ مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ وَهِيَ مِنْ نَاحِيَةِ الْفُرْعِ فَتِلْكَ

بلال بن حارث مزني رضي الله عنه ته د قبليه نامي ځای کانونه ورکړي وه او د هغو کانو څخه تر اوسه پوري يوازي زکوة اخيستل کيږي

الْمَعَادِنُ لَا يُؤْخَذُ مِنْهَا إِلَّا الزَّكَاةُ إِلَى الْيَوْمِ . رواه ابوداؤد .

يعني څلوېښتمه برخه او خمس (پنځمه برخه) ځيني نه سي اخيستل کيدلای څنګه چي د کانو په اړه حکم دئ . ابوداؤد .

تخريج : سنن ابي داؤد ۳\ ۴۴۳، رقم: ۲۰۶۱.

تشريح : (قبليه) د قبل خوا ته منسوب دی چي په قرع کي د يوځای نوم دی او فرع د مکې او مدينې په مينځ کي يوه علاقه ده په قبل کي چي کوم کانونه وه رسول الله ﷺ هغه بلال ابن حارث مزني رضي الله عنه ته ورکړي وه چي د هغو کانو څخه څه پاتې راوړي او په هغه سره خپل ژوندي تېروي .

د حديث د اخري جملې مطلب دادی چي د هغو کانونو څخه زکوة يعني څلوېښتمه برخه اخسته کيږي ګويا خمس دي نه ځني اخلي څرنګه چي د کانو متعلق حکم دی امام مالک رحمة الله عليه او د يوه قول مطابق د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چي په کانو کي هم څلوېښتمه برخه واجب کيږي خمس واجب نه دی خو د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دادی چي په کانو کي پنځمه برخه واجب کيږي څلوېښتمه برخه نه واجب کيږي د امام شافعي رحمة الله عليه يو قول دا هم دی، د امام شافعي رحمة الله عليه يو دريم قول دا هم دی که د کان څخه د راوړونکي شيانو د لوئ محنت او مشقت په نتيجه کي حاصل سي نو څلوېښتمه برخه واجب کيږي کنه نو په بل صورت کي خمس واجبيږي .

په هر حال حديث د حنفيه مذهب خلاف دی ځکه په دې اړه ويل سوي دي چي د حديث د مفهوم څخه دا خبره نه ثابتيږي چي د دې کانو څخه د خمس پر ځای څلوېښتمه برخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د يوه حکم سره سم اخسته کيږي مګر داسي معلوميږي چي د هغه وخت حاکمانو په خپل ذاتي اجتهاد سره په هغو کانونو کي د خمس پر ځای څلوېښتمه برخه ضروري ګرځولې وي او ظاهره ده چي زمونږ د مذهب بنياد د کتاب الله، سنت صحيحه او په قياس دی، ملا علي قاري رحمة الله عليه په مرقات کي دا خبره په ډير تفصيل سره راوړې ده اهل علم هغه کتاب ته مراجعه کولای سي

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

زكوة په كومو شيانو كي سته

﴿۱۷۲۱﴾: عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نه سته په سبزيجاتو كي

صَدَقَةٌ وَلاَ فِي الْعَرَايَا صَدَقَةٌ وَلاَ فِي أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ وَلاَ فِي

زكوة او نه په هغه درختو كي چي د چا څخه مستعار (العرايا) هغه درخته چي مالک يې بل چا ته اجازه ورکړې وي چي ميوه يې ته خوره اخيستل سوي وي او پرپنځو وسقو (ديرش منه) كم اندازه باندي زكوة واجب نه دئ او نه

الْعَوَامِلِ صَدَقَةٌ وَلاَ فِي الْجَبْهَةِ صَدَقَةٌ قَالَ الصَّقْرُ : اَلْجَبْهَةُ الْخَيْلُ وَالْبِغَالُ وَالْعَبِيْدُ . رواه الدارقطني

د كار پر حيوانانو زكوة سته ، او نه پر جبهة باندي زكوة سته . صقر راوي وايي چي جبهة (آس، غاتره، او غلام ته وايي) دارقطني . (مستعار : ديو څو ورځو لپاره په پور اخيستل سوي ته وايي) .

تخريج: سنن الدارقطني ۲\ ۹۴، رقم: ۱.

د لغاتو حل: العرايا جمع عرية وهي النخلة التي يعطيها مالكها لغيره ليأكل ثمرها عاما او اكثر.

تشريح : په تركاريو او سبزيو كي د زكوة په باره كي پوره تفصيل د باب بالكل په شروع كي بيان سوى دى عرايا د عرية جمعه ده عريه د خرما هغه وني ته وائي چي د هغه مالک يې يو محتاج او ضرورت مند ته بطور رعايت ورکړي او د پوره كال خرما د هغه ملكيت جوړه كړه چي په هغه خرما سره خپل احتياج او ضرورت پوره كړه سي دلته د داسي خرما په باره كي فرمايل سوي دي چي په هغوى كي زكوة واجب نه دى ځكه چي هغه وجوب د زكوة څخه مخكي د خپل مالک د ملكيت څخه وځي .

د دې څخه ماسيوا په حديث كي چي د كومو شيانو د زكوة په باره كي فرمايل سوي دي د هغه تولو تفصيلي ذكر په تيرو صفحو كي پر مختلفو ځايو باندي بيان سوي دي .

زكوة په كومو شيانو كي دئ

﴿۱۷۲۲﴾: وَعَنْ طَاوُسٍ أَنَّ مُعَاذَ بْنِ جَبَلٍ أُتِيَ بِوَقْصِ الْبَقَرِ فَقَالَ لَمْ يَأْمُرْنِيْ فِيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ . رواه الدارقطني والشافعي وقال : الوقص ما لم يبلغ الفريضة

د حضرت طاؤس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي معاذ بن جبل رضي الله عنه ته د غواوو دومره شمير راوړل سو چي په هغو كي زكوة واجب نه وو ، هغه وويل :

نبي كريم ﷺ ما ته پر دومره شمير باندي د زكوة اخيستلو حكم نه دئ راكړئ ، دارقطني او شافعي ، مګر شافعي ويلي دي چي د وقص څخه مراد هغه اندازه ده چي د نصاب څخه كم وي او فرضيت ته ونه رسيږي .

تخريج : سنن الدار قطني ۲\ ۹۹، رقم: ۲۱، وترتيب مسند الامام الشافعي ۱\ ۲۳۷، رقم: ۶۴۹.

تشريح : علامه طيبي رحمة الله عليه فرمائي وقص د قاف په زير سره د حيوانانو هغه شمير ته وائي چي فرض حد نصاب ته نه رسيږي كه څه هم ابتدائي داسي شمير وي يا د دوو نصابو په مينځ كي وي .

په دې خبره د مثال په توګه داسي پوه سئ چي غواوي يا غوايان تر ديرشو كم په شمير كي وي نو په هغه كي زكوة واجب نه دى تر ديرشو كم هغه شمير چي په ابتدائي توګه سره حد نصاب ته نه وي رسيدلي تر ديرشو كم دې تعداد ته وقص ويل كيږي .

د دوو نصابو په مينځ كي وقص دادى مثلا ديرش غواوي يا پر غوايانو باندي زكوة واجب كيږي كله چي شمير تر ديرشو زيات سي خو څلويښتو ته نه رسيږي د دې منځنى تعداد د يو ديرشو څخه واخله تر نه ديرشو پوري د زكوة په توګه څه ورکول نه واجبيږي هو كله چي شمير پوره څلويښت سي نو د زكوة مقدار زياتيږي د يو ديرشو څخه واخله تر نه ديرشو پوري شمير ته وقص وائي همداسي د څلويښتو وروسته د زكوة اندازه هغه وخت زياتيږي كله چي شمير پوره شپيته سي د دې دواړو شمير د منځني شمېر ته وقص وائي ځكه چي په دې شمير كي زكوة نه واجب كيږي بيا چي شمير د شپيتو څخه زيات سي د زكوة اندازه هغه وخت زياتيږي كله چي شمير اويا سي د دې دواړو شمير د منځني شمېر ته هم وقص ويل كيږي ځكه چي په دې شمير

كي هم زكوة نه واجب كيږي همداسي د هر دوهمي وروسته حكم متغير كيږي په دې توګه د زكوة په اندازه كي اضافه كيږي د دوو ددويمو په مينځ كي چي څومره غوايان او غواوي وي هغه ټولو ته وقص وائي او په هغه كي زكوة معاف دى.

په حديث كي چي د كوم وقص تذكره سوې ده د هغه څخه ابتدائي وقص يعني تر ديرشو كم شمير مراد دى ځكه چي حضرت معاذ رضي الله عنه ته كومي غواوي چي راوسته سوې د هغه شمير تر ديرشو كم وو.

د دوو نصابو په مينځ كي پر وقص باندي د صاحبين په نزد مطلقا زكوة نه واجب كيږي مګر د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد د څلويښتو څخه تر شپيتو پوري په مينځ كي (وقص) خو زكوة واجب كيږي خو په پاته وقص كي نه واجب كيږي.

د دې مسئلې پوره تفصيل د دې باب د دوهم فصل په شروع كي بيان سوى دى د دې حديث په باره كي ميرك رحمة الله عليه وائي د دې اسناد منقطع دى ځكه چي حضرت معاذ رضي الله عنه سره د طاؤس ملاقات ثابت نه دى.

=========

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ (د سرسايې بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

سرسايه پر چا واجب ده

﴿۱۷۲۳﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ فَرَضَ رَسُولُ اللهِ ﷺ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ صدقه فطر (سرسايه) فرض كړې ده

أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى وَالصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ مِنْ

پر مسلمانانو باندي پر هر غلام، آزاد، نر، ښځي، كوچنى او سپين ږيري باندي يو صاع (كاسه) اوربشي يا خرماوي

الْمُسْلِمِينَ وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ. متفق عليه

او حكم يې كړئ دئ چي دا دي لمانځه ته تر تلو وړاندي ادا كړل سي. بخاري او مسلم. صاع

تقريبا څلور سيره كيږي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۶۷، رقم: ۱۵۰۳، ومسلم ۲\۶۷۷، رقم: ۱۲- ۹۸۴.

تشريح: د امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه په نزد صدقه فطر فرض ده د امام مالک رحمة الله عليه په نزد سنت موکده ده او د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په مذهب کي واجب ده په حديث کي ذکر سوی لفظ (فرض) د امام شافعي رحمة الله عليه او حضرت امام احمد رحمة الله عليه په نزد پر خپلي ظاهري معنی باندي محمول دی امام مالک رحمة الله عليه فرض معنی وټاکله حنفي حضرات فرمائي صدقه فطر په دليل قطعي سره ثابته نه ده ځکه صدقه فطر د عمل د اعتبار څخه خو د فرض برابر ده مګر په اعتقادي توګه دې ته فرض نه ويل کيږي د دې مطلب دادی چي واجب ده فرض نه ده.

د امام شافعي رحمه الله په مذهب کي په هر هغه چا صدقه فطر واجب ده چي خپلو لپاره يا د هغه کسانو لپاره چي د کوم له طرفه صدقه فطر ورکول د هغه پر ذمه وي د يوې ورځي د خوراک نفقه ولري او د هغه د صدقه فطر د اندازې څخه هم زياته وي، د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه د مذهب سره سم صدقه فطر پر هغه سړي باندي واجب کيږي چي غني وي يعني هغه د خپل ضرورت اصليه څخه ماسيوا دوپنځوس نيمي تولې سپين زر په اندازه اسباب وغيره مالک وي يا د هغه په اندازه سپين زر په خپل ملکيت کي لري او هغه د پور څخه محفوظ وي.

د صدقه فطر وجوب د کوچني اختر د سهار راختلو وخت دی کوم سړی چي د سهار راختلو څخه مخکي مړ سي پر هغه صدقه فطر نه واجب کيږي همداسي کوم سړی چي د سهار د راختلو وروسته اسلام راوړي او او مال تر لاسه کي يا د کوم بچي چي د سهار راختلو مخکي پيدائش وسي پر هغه صدقه فطر واجب نه ده، يو صاع د درې نيمو سيرو برابر دي په تيرو صفحو کي هم د څه اوزانو په باره کي تفصيلي بيان سوی دی.

کوم غلام چي د خدمت لپاره وي د هغه د خوا څخه د هغه پر مالک باندي صدقه فطر ورکول واجب ده هو کوم غلام چي د تجارت لپاره وي د هغه د خوا څخه صدقه فطر ورکول واجب نه دي همداسي کوم غلام چي وتښتي د هغه د خوا څخه هم صدقه فطر ورکول واجب نه دي هو کله چي دوهم وار بيرته راسي نو هغه وخت ورکول واجب دي.

اولاد که کوچنی وي او مالداره نه وي نو د هغه د خوا څخه د هغه پر پلار صدقه فطر ورکول واجب دي هو که کوچنی اولاد مالداره وي نو بيا د هغه صدقه فطر ورکول د هغه پر پلار واجب نه ده مګر د هغه د مال څخه به ورکول کيږي.

غټ زوی چې لیونی وي د هغه حکم هم د کوچني اولاد په ډول دی همداسي د لوئ اولاد د خوا څخه پر پلار باندي او د ښځي د خوا څخه پر خاوند باندي د هغوی صدقه فطر ورکول واجب نه ده هو که پلار د خپل هوښیار اولاد د خوا څخه یا یو خاوند د خپلي ښځي د خوا څخه د هغوی صدقه د هغوی په اجازت سره د احسان له موخي ادا کوي نو جائز دي.

علامه طیبي رحمة الله علیه فرمایي په حدیث کي من المسلمین لفظ د (عبد) او د هغه وروسته الفاظ حال واقع کیږي نو پر هیڅ مسلمان باندي د خپل کافر غلام د خوا څخه صدقه فطر واجب نه ده خو صاحب هدایه لیکلي دي د کافر غلام صدقه فطر هم د هغه پر مسلمان مالک باندي واجبیږي هغه د دې په ثبوت کي یو حدیث هم نقل کړی دی چې هدایه په مرقات کي یې تاسو وویني حنفیه دلته فتوی د صاحب هدایه د قول سره سم ده (علم الفقه)

د حدیث د اخري الفاظو مطلب دادی چې صدقه فطر د اختر د لمانځه مخکي ادا کول مستحب ده که یو سړی تر دې هم مخکي که څه هم یوه میاشت مخکي یا تر یوې میاشتي زیات مخکي ادا کړي نو جائز ده د اختر د لمانځه وروسته یا زیارت په ځنډ سره صدقه فطر نه ساقطیږي په هر صورت ورکول ضروري ده.

د سرسایي اندازه

﴿۱۷۲۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كُنَّا نُخْرِجُ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ

د حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دئ چې موږ به صدقه فطر ورکول یوصاع

طَعَامٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ. متفق عليه

د خوراک (یعني غنمو) څخه یا د وربشو څخه یا د خرماوو څخه یو صاع یا د پنیر څخه یو صاع یا د وچو انګورو څخه یو صاع. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳/۳۷۱، رقم: ۱۵۰۶، ومسلم ۲/۶۷۸، رقم: ۱۷-۹۸۵.

تشریح: علامه طیبي رحمة الله علیه فرمائي چې د طعام څخه مراد غنم دي مګر حنفي علماء وائي چې د ډوډۍ څخه د غنمو ماسیوا نوري غلې هم مراد دي په دې صورت کي به پر ډوډۍ باندي د دې وروسته عطف خاص د علی العام د ډول څخه وي.

(قروط)، یو خاص ډول پنیر ته وائي دا پنیر به داسي جوړیدی چي مستي په جامو کي په ترلو سره به یې زړول ، د مستو تولي اوبه به په څڅیدو څڅیدو سره توی سوې اوپاته مانده برخه به د پنیر په ډول په جامو کي پاته سوه هغه برخي ته به یې قروط (چکیده) ویل.

وچ انګور د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد د غنمو په ډول دي ځکه د دې څخه د صدقه فطر په ډول نیم صاع ورکول پکار دي البته صاحبین وچ انګور د اوربشو په مثل ګڼي ځکه د دې حضراتو په نزد د دې څخه د صدقه فطر په توګه یو صاع ورکول پکار دي امام حسن رحمة الله علیه د امام اعظم رحمة الله علیه هم یو قول دا نقل کړی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۱۷۲۵﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِي آخِرِ رَمَضَانَ أَخْرِجُوا صَدَقَةَ صَوْمِكُمْ فَرَضَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي هغه د روژې په آخر کي خلکو ته وویل: تاسو د خپلو روژو صدقه ادا کړئ دا صدقه فرض کړې ده

رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ هٰذِهِ الصَّدَقَةَ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ عَلَى كُلِّ حُرٍّ أَوْ مَمْلُوكٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ . رواه ابوداؤد والنسائي

رسول الله ﷺ پر هر یو مسلمان که هغه آزاد وي یا غلام، نښځه وي یا نر، کوچنی وي یا لوی د هر یوه د لوري څخه د یو صاع د خرماوو څخه یا اوربشو څخه او نیم صاع د غنمو څخه (ورکوئ) ابوداؤد او نسائي.

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۷۲، رقم: ۱۶۲۲، والنسائي ۵\ ۵۰، رقم: ۲۵۰۷.

تشریح: امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه د دې حدیث سره سم وائي د صدقه فطر په ډول که غنم ورکړه سي نو د هغه اندازه نیمی صاع کیدل پکار دي.

د سر سایې حکمت

﴿۱۷۲۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ فَرَضَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چې د پالتو خبرو او لغو کلام څخه د پاکولو لپاره رسول الله ﷺ صدقه فطر واجب کړې ده او د مسکینانو د خوراک لپاره یې واجب کړې ده. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۶۲، رقم: ۱۶۰۹.

تشریح: مطلب دادی چې صدقه قطر د دې لپاره واجب کړه سوې ده چې د تقصیراتو کوتاهي او د ګناهونو په وجه په روژو کې چې کوم خلل پیښ سي نو صدقه فطر د هغه کوتاهیو قائم مقام سي او پر مسکینانو او غریبانو باندې د اختر په ورځ د خلکو څخه د سوال کولو څخه وساتل سي او هغوی صدقه فطر په اخستو سره د اختر په خوشحالیو کې د نورو مسلمانانو سره ګډون وکړي دار قطني د دې روایت په اخر کې دا الفاظ ذکر کړي دي. چې کوم سړی صدقه فطر د اختر د لمانځه مخکې ادا کړي د هغه صدقه مقبوله صدقه وي او کوم سړی چې د اختر د لمانځه وروسته یې ادا کړي نو د هغه صدقه به صرف د صدقو څخه یوه صدقه وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د سرسایې اندازه

﴿۱۷۲۷﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ بَعَثَ مُنَادِيًا

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ یو اعلان کونکی ولیږی

فِي فِجَاجِ مَكَّةَ أَلَا إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى حُرٍّ أَوْ

د مکې په کوڅو کې چې صدقه فطر پر هر مسلمان واجب ده که نارینه وي یا ښځینه، آزاد وي یا

عَبْدٍ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ أَوْ سِوَاهُ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ. رواه الترمذي

غلام، کوچنی وي یا لوی دوه مد (نصف صاع) د غنمو څخه او ددې څخه پرته نور د خوراک د شیانو څخه یو صاع. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۳\ ۶۰، رقم: ۶۷۴.

تشریح: د دوو مد څخه مراد نیم صاع دي ځکه چې د یوه مد غله وزن د څورلسو چټانګو نږدې وي او یو صاع د درې نیمو سیرو برابر وي نو د صدقه فطر په توګه غنم پاوکم دوه سیره ورکول پکار دي د غنمو اوړه او د غنمو ستوان هم د غنمو په مثل دي ځکه دا دواړه شیان هم په دې

اندازه كي وركول پكار دي.

﴿۱۷۲۸﴾: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ أَوْ ثَعْلَبَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي صُعَيْرٍ عَنْ

حضرت عبدالله بن ثعلبه يا ثعلبه بن عبدالله بن ابي صغير د

أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاعٌ مِنْ بُرٍّ أَوْ قَمْحٍ عَلَى كُلِّ

خپل پلار څخه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: صدقه فطر واجب ده يو صاع د غنمو د

اثْنَيْنِ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى أَمَّا غَنِيُّكُمْ فَيُزَكِّيهِ اللَّهُ وَأَمَّا

دواړو د لوري كه هغه كوچنی وي يا لوی، آزاد وي يا غلام، سړی وي يا ښځه. ستاسو غني الله پاكوي او

فَقِيرُكُمْ فَيَرُدُّ اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَاه. رواه ابوداؤد.

ستاسو فقير ته الله تعالى زيات وركوي څومره چې هغه وركړي وي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۷۰، رقم: ۱۶۱۹.

تشريح: د مشكاة په نسخو كي د حديث د راوي نوم كه څه هم داسي ليكل سوی دی مګر صحيح داسي دی عبدالله ابن ثعلبه ابن ابي صغيريا ابن ابي صعير عن ابيه .....، حضرت ثعلبه صحابي دی د هغه څخه د هغه زوئ عبدالله دا روايت نقل كړی دی.

د حديث د اخري جملې مطلب دادی چې غني دي صدقه فطر ادا كوي او فقير دي هم صدقه فطر وركوي د دې دواړو په باره كي فرمايل سوي دي الله تعالى غني د هغه د صدقه فطر وركولو په وجه پاكيزه جوړوي او فقير ته د هغه څخه زياته وركوي څومره چې پر هغه د صدقه فطر په توګه وركړې ده د زكوة او صدقاتو په مسئلو كي د فقير لفظ په اصطلاحي معنى كي استعماليږي د شريعت په اصطلاح كي فقير هغه سړي ته وائي چې د يو داسي مال د نصاب مالک نه وي چې پر هغه زكوة فرض كيږي خو بالكل خالي لاسه هم نه وي حاصل دا چې د فقير څخه د موجوده دور فقير مراد اخستل نه دي پكار ځكه چې نن صبا خو فقير سوالګر وي، دا بشارت كه څه هم د غني لپاره دی چې الله تعالى د هغه په مال كي هم د هغه څخه ډير بركت وركوي څومره چې هغه وركړی وي مګر دلته زيری د فقير سره ځكه خاص كړ تر څو د هغه حوصله افزايي وسي او دا چې هغه د صدقه وركولو څخه لاس په سر نسي.

بَابُ من لا تحل له الصدقة

هغه کسان چې زکوة اخیستل ورته حلال نه دي

په دغه باب کي هغه حدیثونه نقل کیږي د هغه څخه به معلومه سي چې د زکوة مال کومو کومو خلکوته اخستل او د هغه څخه فائده اخستل جائز نه ده په دې باب سره متعلق ډیري زیاتي مسئلې دي ځکه مناسبه ده چې مخکي هغه ټولي مسئلې په تفصیلي توګه سره نمبر وار نقل کړه سي.

اول : کوم سړی چې صاحب نصاب وي او پر هغه زکوة واجب وي نو هغه دي د زکوة مال خپل اصل ته نه ورکړي یعني مور پلار انا نیکه او د هغوی پورته بزرګانو ته که څه هم د پلار د خوا څخه وي یا د مور د خوا څخه په هغوی کي هیڅ چاته زکوة ورکول صحیح او جائز نه دي همداسي خپل فرع ته یعني زوی، لور، لمسی، کړوسی، او د هغوی په اولاد کي هیڅ چاته هم زکوة ورکول صحیح نه دي د امام اعظم رحمة الله علیه د قول سره سم خاوند ښځي ته او ښځه دي خاوند ته زکوة نه ورکوي خو د صاحبین رحمة الله علیهما قول دادی که ښځه خپل خاوند ته زکوة ورکړي نو صحیح دي د دوی څخه ماسیوا پاته خپلوانو ته د زکوة مال ورکول صحیح دي په شرط د دې چې هغوی د زکوة مستحق وي یعني غني سید هاشمي او کافر نه وي مګر د نورو په مقابله کي خپلو خپلوانو ته ورکول بهتر دي په دې اړه علماء لیکي که زکوة په دې ترتیب سره ورکړه سي نو ډیر ښه دی چې مخکي خور ورور ته ورکړه سي د هغوی وروسته د هغوی اولاد ته بیا اکا او امه د پلار خور ته د هغوی وروسته د هغوی اولاد ته بیا ماما، خاله د مور خور ته د هغوی وروسته د هغوی اولاد ته بیا هغه خلکو ته چې ذوی الارحام وي بیا خپل پردي همسایګانو ته بیا خپل هم کسبه ته بیا خپل هموطن ته دا حکم د صدقه فطر او نذر هم دی چې په لاندي ترتیب سره ورکول افضل دي هسي که یو سړی غیر او پردي ته ورکوي نو څه تاوان نه لري خو بهتر او افضل دادي چې خپل قریبان او عزیزان مخته سي.

دوهم : خپل غلام او خپلي مینزي ته زکوة ورکول صحیح نه دي دا حکم د ام ولد یعني د هغي مینزي دی چې هغه د خپل مالک څخه اولاد وي چې د هغه مالک دي هغه ته هم زکوة نه ورکوي.

دریم : د خسرګنی قریبانو ته زکوة ورکول صحیح دی، مثلا خوابنبي، خسر، اخښی، خوښینه، یا د کومو خلکو سره چې د دوی په وجه قرابت وي همداسي زوم او مژور ته زکوة ورکول صحیح

دي او د ميرې مور هم زکوة ورکول جائز دی.
څلورم: د زکوة مال غني ته ورکول صحیح نه دي غني هغه سړي ته وائي چې په اندازه نصاب د مال مالک وي مال که څه هم نامي وي که غیر نامي نامي مال هغه ته وائي چې په هغه کي اضافه او زیاتي کیږي لکه د تجارت مال نقدي روپی، سره زر او سپین زر او د سرو او سپینو زرو زیورات دا مال د شرعي قاعدې سره سم د زیاتیدو صلاحیت لري همداسي داسي حیوانان هم حقیقتا نامي مال دی چې د تجارت یا زیاتیدو لپاره وي، غیر نامي مال هغه ته وائي چې په هغه کي اضافه او زیاتي نه کیږي لکه قلعه، ځایونه، جامې، لوښي او داسي نور دا شیان هم که د ضرورت اصلیه څخه زائد وي او په اندازه د نصاب وي او د پور څخه ساتل سوي وي نو هم زکوة اخستل صحیح نه دي دا ستوګني سرای، د استعمال جامې، د خوراک سامان، د خوراک پخولو لپاره لوښي، د اهل علم د لیکلو ویلو کتابونه، د جنګ لپاره اوزار اسلحه، او د کاریګرانو اوزار او دا هغه شیان دي چې په ضرورت اصلیه کي حسابیږي.
پنځم: هاشمي ته زکوة ورکول جائز نه دي د پنځو ځلکو اولاد ته هاشمي ویل کیږي:
اول: د حضرت علي رضي الله عنه اولاد. که څه هم د بي بي فاطمې څخه پیدا وي یا د نورو بیبیانو څخه. دوهم: د حضرت جعفر رضي الله عنه اولاد. دریم: د حضرت عقیل رضي الله عنه اولاد. څلورم: د حضرت عباس رضي الله عنه اولاد، پنځم د حارث ابن عبد المطلب اولاد، د دې پنځو په سلسله نصب سره تعلق لرونکو ته هاشمي وائي د دوی غلام او مینزو ته هم زکوة ورکول جائز نه دی همداسي که د دوی غلام او مینزي ازادي سي بیا هم هغوی ته د زکوة مال اخستل او خوړل جائز نه دي.
شپږم: کافر ته د زکوة مال ورکول صحیح نه دي که څه هم حربي وي که ذمي وي. اووم: که یو سړی غني یا کافر یا خپل پلار یا خپل زوئ یا خپلي ښځي ته د زکوة مستحق په ګڼلو سره د زکوة مال یې ورکړي یا زکوة د ورکولو په وخت کي هغه ته معلومه نه سوه چې دی هاشمي دی یا کافر دی یا خپل پلار یې دی یا زوئ یې دی یا ښځه یې ده بیا د زکوة ورکولو وروسته هغه ته حقیقت معلوم سو نو د هغه د ذمې څخه زکوة ادا سو اوس دوهم وار د زکوة ورکولو ضرورت نسته.
اتم: د مسجد د تعمیر او د مرمت لپاره یا د مړي د ښخولو او د کفن لپاره یا د مړي د پور د اداکیدو لپاره د زکوة مال ورکول جائز نه دي که یو سړي په دې کي د څه کار لپاره د زکوة مال ورکړ نو د هغه زکوة نه ادا کیږي.
د زکوة مستحقین: د زکاة مستحقین فقیران دي او د شریعت په اصطلاح کي فقیر هغه

سړي ته وائي چې د نصاب څخه د کم مال مالک وي، مساکين کم د زکوة مستحقان وي، مسکينان هغه خلکو ته وائي چې د هغوی سره هيڅ هم نه وي د زکوة مستحق دی ، د وخت د حاکم له خوا چې کوم خلک پر زکوة وصولولو باندې مقرر وي هغوی هم د زکوة مستحقين دي که څه هم هغوی خپله غنيان وي، په دې هم پوه سئ چې د هاشمي لپاره هغه تنخواه هم جائز نه ده کوم چې زکوة وصولونکي ته ورکول کيږي هغه خلک هم د زکوة مستحقين دي چې جهاد يا د حج د سفر مسافر وي او د هغوی سره روپی نه وي پاته سوي که څه هم په خپل وطن کي زياتي روپی ورسره موجودي وي همداسي هغه مسافرانو ته هم د زکوة مال اخستل صحيح دي که څه هم د يوه مسافر په خپل وطن کي هر څومره مال او زر وي مګر په اخر کي په دې خبره ي پوه سئ کوم سړي ته چې د يوې ورځې په اندازه د ژوند اسباب ميسر وي د هغه لپاره د سوال لاس غزول بالکل صحيح نه دي . (مولانا محمد اسحاق دهلوي رحمة الله عليه) .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

نبي کريم ﷺ ته د زکوة مال خوړل حرام وو

﴿۱۷۲۹﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرَةٍ فِي الطَّرِيقِ قَالَ لَوْلَا أَنِّي أَخَافُ أَنْ تَكُونَ مِنَ الصَّدَقَةِ لَأَكَلْتُهَا . متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ پر لاره روان وو او يوه خرما يې پر لاره پيدا کړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : که زه نه بيريدلای چې دا خرما د زکوة ده نو ما به خوړلې وای . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۲۹۳، رقم: ۲۰۵۵، ومسلم ۲\ ۷۵۲، رقم: ۱۶۴- ۱۰۷۱.

تشريح : د دې حديث څخه څو مسئلې راوځي اوله مسئله داده چې رسول الله ﷺ ته د زکوة مال خوړل حرام وو علماء ليکي د رسول الله ﷺ په حق کي مطلقا د صدقې مال خوړل حرام وو که څه هم د صدقه واجبه يعني زکوة وغيره مال وي يا د صدقه نافله رسول الله ﷺ به په خپل استعمال کي نه راوستل، دوهمه مسئله داده چې د بني هاشم لپاره صدقه واجبه اخستل او هغه استعمالول خو حرام دي مګر صدقه نافله ورته حرامه نه ده دريمه مسئله په لار کي پروت يو داسي شی په پورته کولو سره خوړل يا خپل په استعمال کي راوستل جائز دي که څه هم هغه

اندازه او په شمير كي ډير لږ وي او دا گمان وي چي د دې مالک به دا تلاش نه كړي څلورمه مسئله د بنده مومن لپاره دا خبره اولى او افضله ده چي د هر هغه شي څخه پرهيز وكړي چي په هغه كي د حرمت ذره اندازه هم شبه وي.

نبوي كورنۍ ته زكات اخيستل حرام دي

﴿۱۷۳۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَخَذَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا تَمْرَةً

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حسن بن علي رضي الله عنه يوه خرما

مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِخْ كِخْ

د خرماوو څخه پورته كړه او په خوله كي يې واچول، نبي كريم صلى الله عليه وسلم د هغه د منع كولو او خرما غورزولو لپاره كخ كخ وويل،

لِيَطْرَحَهَا ثُمَّ قَالَ أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ . متفق عليه

بيا يې فرمايل: ايا تا ته څرگنده نه ده چي مونږ خلک (يعني بنو هاشم) صدقه او زكوة نه خورو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۳۵۴، رقم: ۱۴۹۱، ومسلم ۲\ ۷۵۱، رقم: ۱۶۱- ۱۰۶۹.

تشريح: (اما شعرت) ايا ته نه پوهيږې د دې جملې استعمال پر داسي وخت باندي كيږي كله چي مخاطب د څه واضحه او ظاهر امر پر خلاف يوه خبره كوي كه څه هم مخاطب د امر څخه بې خبره وي گويا د دې جملې مطلب داوي چي دا امر دومره واضحه او د ظاهريدو باوجود په تاپټ څنگه دى او ته د دې څخه لاعلم ولي يې.

په هر حال ظاهره ده چي حضرت حسن رضي الله عنه خو هغه وخت بالكل كم عمره وو د دې ټولو خبرو څخه څه خبر وو خو رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې باوجود د هغه په دې اندازه سره ځكه مخاطب كړ چي نور خلک په دې اړه خبر سي او هغوى ته د بني هاشم په حق كي د صدقه زكوة د مال د حرمت علم وسي.

د دې حديث څخه دا نكته هم لاس ته راغله چي پر مور او پلار باندي واجب دى چي خپل اولاد د شرعي خلاف كارونو او غلطو حركتو څخه منعه كړي په دې وجه حنفي علماء فرمائي د مور او پلار لپاره دا حرام دي چي هغوى خپلو ځامنو ته د ريشمو جامې او د سرو او سپينو زرو زيورات ورواچوي.

زكوة د انسان خيري ده

﴿۱۷۳۱﴾: وَعَنْ عَبْدِالْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيْعَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ هٰذِهِ الصَّدَقَاتِ إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ وَإِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ . مسلم

د عبدالمطلب بن ربيعة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دا صدقې (زكوة او داسي نور) د خلكو خيري دي او د دې خوراک د محمد ﷺ او د هغه د اولاد لپاره جائز نه دئ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۷۵۳، رقم: ۱۶۷- ۱۰۷۲.

تشريح : زكوة ته خيري ځكه ويل سوى دى چي څرنګه د انسان د بدن ټوله چټلي په ښره صفا كيږي همداسي زكوة په وركولو سره پاكيزګي پيدا كيږي دا حديث په دې خبري دلالت كوي چي د رسول الله ﷺ لپاره د زكوة مال اخستل حرام وو همداسي د رسول الله ﷺ اولاد ته هم زكوة اخستل حرام دى كه څه هم هغوى زكوة پر وصولولو باندې مقرر وي يا محتاج او مفلس وي د حنفيه صحيح مذهب دا دى .

نبي كريم ﷺ به يوازې تحفه خوړل

﴿۱۷۳۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ سَأَلَ عَنْهُ أَهَدِيَّةٌ أَمْ صَدَقَةٌ فَإِنْ قِيلَ صَدَقَةٌ قَالَ لِأَصْحَابِهِ كُلُوا وَلَمْ يَأْكُلْ وَإِنْ قِيلَ هَدِيَّةٌ ضَرَبَ بِيَدِهِ ﷺ فَأَكَلَ مَعَهُمْ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ ته يو چا خوراک راوړئ نو پوښتنه به يې كول چي دا هديه ده او كه صدقه، كه هغه به ويل چي دا صدقه ده نو رسول الله ﷺ به صحابه كرامو ته وفرمايل تاسو يې وخورئ او پخپله يې نه خوړل ، او كه هغه به ويل چي هديه ده نو رسول الله ﷺ به د خوراک لپاره لاس وړاندې كړي او د صحابه كرامو سره به يې خوړل . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\ ۲۰۳، رقم: ۲۵۷۶، ومسلم ۲\ ۷۵۶، رقم: ۱۷۵- ۱۰۷۷.

تشريح : صدقه هغه مال ته ويل كيږي چي يو محتاج او ضرورتمند ته د مهرباني د مخه وركول كيږي او د هغه څخه مقصد دا وي چي د الله تعالى رضا حاصله سي او په اخرت كي د هغه اجر او

ثواب ترلاسه کوي د صدقه مال اخستونکي ته یو ډول ذلت او کمتري محسوسیږي ځکه رسول الله ﷺ لپاره صدقه اخستل مطلقا حرام وو .

د هدیه مطلب داوي چي یو سړی د خپل یوه لوئ او عظیم المرتبت سړي په خدمت کي څه شی د تعظیم او تکریم د مخه پیښ کړي د هدیې یو خاص ارخ هم دادی چي په دنیوي توګه سره د هغه تعلق په طرفین سره دی په دې توګه چي کوم سړی چاته څه شی هدیه کي نو هغه په دنیا کي د هغه بدله هم ترلاسه کوي چي چاته هغه دا هدیه ورکړي ده هغه هغه ته هم څه وخت څه شی د هدیې په توګه ورکوي کله چي په صدقه کي د دې سوال نه پیدا کیږي .

د تملیک مسئله

﴿۱۷۳۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ اِحْدَى السُّنَنِ اَنَّهَا

د حضرت عائشې ﷺ څخه روایت دئ چي د بریرې (د بي بي عائشې مینځي) له کبله درې سنت په وجود کي راغلل یو خو دا چي هغه

عُتِقَتْ فَخُيِّرَتْ فِيْ زَوْجِهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ وَدَخَلَ

آزاده سوه او اختیار ورکړل سو چي هغه خپل خاوند قائم وساتي، دوهم دا چي رسول الله ﷺ وفرمایل د مینځي میراث د هغه چا دئ څوک چي یې آزاده کړي . دریم دا چي

رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَالْبُرْمَةُ تَفُوْرُ بِلَحْمٍ فَقُرِّبَ إِلَيْهِ خُبْزٌ وَأُدْمٌ مِنْ أُدْمِ الْبَيْتِ

رسول الله ﷺ کور ته تشریف راوړ او وه یې لیدل چي د غوښو کټو ښه په جوش باندي ده بیا رسول الله ﷺ ته ډوډۍ او د کور سبزیجات وړاندي سول ،

فَقَالَ أَلَمْ أَرَ بُرْمَةً فِيهَا لَحْمٌ؟ قَالُوا: بَلٰى وَلٰكِنْ ذٰلِكَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلٰى

رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا کټو نه ده پخه چي په هغه کي غوښه وه ؟ عرض یې وکړ : هو ، مګر هغه د صدقې غوښه ده چي

بَرِيرَةَ وَأَنْتَ لَا تَأْكُلُ الصَّدَقَةَ قَالَ هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ . متفق عليه.

بریره ته ورکړل سوه او تاسو صدقه نه خورئ ،رسول الله ﷺ وفرمایل : دا غوښه د بریره لپاره صدقه ده او زمونږ لپاره هدیه ده . بخاري او مسلم .

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري)، ۱۹/ ۴۰۴، رقم: ۵۲۷۹ ومسلم: ۲/ ۱۱۴۴، رقم: ۱۴- ۱۵۰۴.

د لغاتو حل: (البُرمة): القِدر (دېگ).

تشریح: د حدیث د اولو الفاظو مطلب دادی چي بریره ﷺ چي د بي بي عائشې رضي الله عنها آزاده سوې مینځه وه د هغې په سبب دې شرعي احکام نافذ سوه اول حکم دا چي بریره ازاده سوه نو هغې ته اختیار ورکړه سو که څه هم د خپل خاوند مغیث په نکاح کي پاته سي یا د هغه څخه بېلوالی اختیار کړي.

دې ته د علماء په نزد خیار عتق ویل کیږي یعني کومه مینزه چي د چاپه نکاح کي وي نو د ازاد کیدو وروسته هغې ته اختیار دی که غواړي نو د خاوند په نکاح کي دي پاته سي او که غواړي نو بېلوالی دي ځینې وکړي مګر امام شافعي رحمة الله علیه فرمائي مینزي ته به دا اختیار هغه وخت حاصل وي کله چي د هغه خاوند غلام وي حنفیه وائي د هغه خاوند که څه هم غلام وي یا ازاد هغه به په دواړو صورتونو کي مختاره وي.

د بریره خاوند مغیث غلام وو کله چي بریره د ازاد کیدو وروسته د هغه څخه جلا ولای اختیار کړه ګویا هغه یې قبول نه کړ نو مغیث ډیر پریشانه سو تر دې چي هغه د بریره په عشق او فراق کي په ژړا او فریاد په کولو سره ګرځېدی خو پر بریره باندې د دې هیڅ اثر ونه سو او د هغه څخه جلا سوه.

د بریره په سبب دوهم حکم دا نافذ سو ولاء یعني د مینزي میراث د هغه سړي لپاره دی چا چي هغه ازاده کړې وه د دې تفصیل دادی چي بریره د یو یهودي مینزه وه هغه مکاتب کړه یعني یهودي هغې ته ویلي وه که ته دومره درهمه راکړې نو ازاده به سې کوم وخت چي بریره په مطلوبه شمیر درهم د جمع کولو څخه عاجزه سوه نو د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کي حاضره سوه که هغه څه ورکړي نو خپل مالک ته په ورکولو سره ازادي حاصله کړي بي بي عائشې رضي الله عنها ورته وفرمایل د خپل مالک څخه پوښتنه وکړه که هغه تاخرڅوي نو زه به دي رانیسم بریره خپل مالک ته ورغله هغه ته یې د بي بي عائشې رضي الله عنها خواهش بیان کړ هغه خرڅولو ته تیار سو خو هغه دا هم وویل زه به په دې شرط تا خرڅه کړم چي ولاء یعني د بریره د میراث به موږ حقداره یو بي بي عائشې رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته دا خبر ورکړ چي یهودي داسي وائي او د هغه دا شرط دی رسول الله ﷺ وفرمایل یهودي غلط وائي، د میراث حق د هغه چا دی چي هغه ازاده کړي اې عائشې ته هغه په رانیولو سره ازاده کړه د هغه میراث به ستا وي د یهودي دا شرط باطل دی.

دريم حكم چي د بريره په سبب نافذ سو د هغه ذكر د حديث په اخر كي سوى دى د دې حاصل او مطلب دادى كه مستحق زكوة ته د زكوة مال وركړه سي او مستحق زكوة هغه مال په اخستو سره يو داسي سړي ته وركړي چي د زكوة مستحق نه وي نو د هغه لپاره به دا مال حلال او جائز وي حُكه چي زكوة وركونكى خو يو صحيح او مستحق سړي ته مال وركړ او هغه مال د هغه مستحق زكوة ملكيت سو اوس هغه چي كوم سړي ته خپل مال وركوي جائز او صحيح به وي په اصطلاح كي دې ته تمليک ويل كيږي كوم چي جائز او حلال دى .

د تحفې بدله ورکول

﴿۱۷۳۴﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا . رواه البخاري

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به هديه قبلول او د هغې بدله به يې وركول . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۲۱۰، رقم: ۲۵۸۵.

معمولي شى قبلول

﴿۱۷۳۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ دُعِيتُ إِلَى كُرَاعٍ لَأَجَبْتُ وَلَوْ أُهْدِيَ إِلَيَّ ذِرَاعٌ لَقَبِلْتُ . رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه د پسه د پندې ما ته بلنه راكړل سي نو زه به يې قبلوم او كه ما ته يو وړون په تحفه كي راكړل سي نو ره يې قبلوم (مراد ادنى او معمولي شى دئ) بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\ ۱۹۹، رقم: ۲۵۶۸.

تشريح : كراع د پسه وړون ته وائي د رسول الله ﷺ مطلب دادى كه يو سړى ماته يوازي د بزې پندې چي يو معمولي شى دى د خوراک لپاره راواستوي نو زه به د هغه دعوت قبول كړم همداسي رسول الله ﷺ دا هم وفرمايل كه يو سړى ماته د تحفې په توګه د بزې لاس هم راواستوي نو زه به يې په ډيري خوشحالي سره قبول كړم .

په دې ارشاد کې دې ته اشاره ده چې رسول الله ﷺ به د الله تعالی د مخلوق سره په ډېر تواضع، شفقت او محبت سره مخامخ کېدی، رسول الله ﷺ دا نه غوښتل چې د ده د ذات مبارک په وجه یو د کوچني ته هم د معمولي درجې تکلیف ورسیږي هغه د خپل ځان د کمتری احساس ونه کړي ګویا نبي کریم ﷺ ددې ارشاد په ذریعه د دې خبرې ترغیب هم ورکړ که یو سړی تاسو ته د ډیرې زیاتې معمولي درجې تحفه راوړي نو هغه په خوشحالي او رغبت سره قبوله کړي.

د مسکین پیژندنه

﴿۱۷۳۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْمِسْكِينُ

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: مسکین هغه څوک نه دئ

الَّذِي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَكِنْ

چې د خلکو څخه یې غواړي او هغه یوه ګوله یا دوې ګولې یا یوه خرما یا دوې خرماوي ورکړي

الْمِسْكِينُ الَّذِي لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ وَلَا يُفْطَنُ بِهِ فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ وَلَا يَقُومُ فَيَسْأَلُ النَّاسَ. متفق عليه.

بلکه مسکین هغه دئ چې دومره مال نه لري چې هغه بې پروا کړي او نه چا ته د هغه محتاج کېدل معلوم وي. چې هغه ته صدقه ورکړل سي او نه هغه چا ته د غوښتلو لپاره ورسي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳/۳۴۱، رقم: ۱۴۷۹، ومسلم ۲/۷۱۹، رقم: ۱۰۱-۱۰۳۹.

تشریح: لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې د زکوة او صدقاتو ارزښت او فضیلت بیان سوی دی همدا سي الله تعالی په قرآن کریم کې د زکوة مصارف (ورکسان) هم بیان کړي دي، د الله تعالی ارشاد دی:

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ

ژباړه: بېله شکه د صدقې مال یوازې د فقیرانو، مسکینانو، عمالو او د مؤلف القلوب (یعنې هغه خلکو لپاره چې د هغوی زړه مائل کړل سي) او د غلامانو په ازادولو کې او د پورونو د پور ادا کولو لپاره او د الله تعالی په لار کې د خرڅولو لپاره او د مسافر لپاره دی.

په دغه آیت کریمه کي اته ډوله خلک بیان سوي دي چي د صدقو مال مثلا زکوة او داسي نورو د اخستلو مستحقین وي، د دوی پرته بل چاته د زکوة مال ورکول جائز نه دي په دوی کي د حنفیه په نزد د مولفة القلوب برخه ساقط سوې ده ځکه چي د هغوی په نزد د زکات مستحقین یوازي پر اوو ډولو باندي پاته سوي دي، مولفة القلوب د اسلام په لومړنۍ زمانه کي رسول الله ﷺ به د ځینیو خلکو د زړه مائله کولو لپاره د صدقاتو مال ورکوی، په هغوی کي به ځینې کافران وه چي هغوی ته د ورکولو ځخه مقصد دا وو چي د هغوی په زړه کي د اسلام مینه پیدا سي او مسلمان سي، او ځینې کافرانو ته له دې کبله ورکول کیدی چي هغوی د خپلو فلانونو او بدامنۍ د کارو ځخه لاس واخلي، ځینې خلک داسي هم وه چي نوي په اسلام کي داخل سوي وه هغوی ته په دې وجه زکوة ورکول کیدی چي د هغوی په زړه کي د اسلام بنیاد ټینګ سي.

په هر حال د حدیث مطلب دادی چي په دغه آیت کي د کومو مسکینانو ذکر سوی دی د هغوی ځخه هغه مسکین مراد نه دی کوم چي په عام توګه ورته مسکین ویل کیږي او د هغوی کار دا وي چي د سوال کولو لپاره دروازه پر دروازه ګرځي، کومې دروازې ته چي ورسیږي د ډوډۍ یوه ټوټه یا لږ اوړه په جوال کي اچولو سره یې رخصت کړي، مګر حقیقي مسکین خو هغه وي چي د اوربشو ډوډۍ هم ترلاسه نه کړي مګر د هغوی د شرافت او عزت دا حالت وي چي د هغوی په خوا کي اوسیدونکي همسایګان هم د هغوی اصل حقیقت نه پیژني هغوی د خلکو مخکي لاس نه اوږدوي د خپل ارتیا لاس په خپرولو سره کور په کور نه ګرځي مګر هغوی پر خپل الله ﷻ باندي باور او یقین لري او په خپلو کورونو کي په صبر سره ناست وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د نبوي کورنۍ ازاد کړي غلام ته زکات ورکول

﴿۱۷۳۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ رَافِعٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلًا مِنْ بَنِي مَخْزُومٍ

د حضرت ابو رافع رضي الله عنه ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د بني مخزوم یو سړی

عَلَى الصَّدَقَةِ فَقَالَ لِأَبِي رَافِعٍ اصْحَبْنِي كَيْمَا تُصِيبَ مِنْهَا فَقَالَ لَا حَتَّى آتِيَ

د زکوة وصولولو لپاره و تاکئ، هغه ابو رافع ته وویل چي ته هم زما سره ولاړ سه چي تا ته هم د زکوة ځخه څه ترلاسه سي، ابورافع ورته وویل: تر څو چي

رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فَأَسْأَلَهُ فَانْطَلَقَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَسَأَلَهُ فَقَالَ إِنَّ الصَّدَقَةَ لَا

د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه ونه کړم نه درسره ځم، نو ابورافع د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او د هغه سړي سره يې د تلو اجازه وغوښتل رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زکاة

تَحِلُّ لَنَا وَإِنَّ مَوَالِيَ الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي

موږ خلکو (يعني بنو هاشم) لپاره حلال نه دئ او د بنو هاشم آزاد کړل سوی غلام هم د بنو هاشم په حکم کي داخل دئ. ترمذي، ابوداؤد، نسائي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۹۸، رقم: ۱۶۵۰، والترمذي ۳\ ۴۶، رقم: ۶۵۷، والنسائي ۵\ ۱۰۷، رقم: ۲۶۱۱.

تشريح: حضرت ابو رافع رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ازاد سوی غلام وو، رسول الله ﷺ هغه د زکوة مال اخستو څخه منعه کړی، څرنګه چي موږ ته د زکوة مال اخستل صحيح نه دی همداسي ستا لپاره هم د زکوة مال اخستل حلال نه دي نو ددې څخه معلومه سوه چي د بني هاشم غلامانو ته هم د زکوة مال اخستل رواه نه دی.

زکات د چا لپاره حلال نه دئ

﴿۱۷۳۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ. رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي و رواه احمد والنسائي وابن ماجه عن ابي هريرة.

د شتمن لپاره زکوة اخيستل رواه نه دئ او نه د هغه چا لپاره چي روغ او توانا وي (او دکار کسب کولو توان لري)،. ترمذي ابوداؤد، نسائي، دارمي، احمد، ابن ماجه د ابوهريرة څخه.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۸۵، رقم: ۱۶۳۴، والترمذي ۳\ ۴۲، رقم: ۶۵۲، والدارمي ۱\ ۴۷۲، رقم: ۱۶۹۹.

تشريح: غني (شتمن) پر دري ډوله وي: اول هغه سړی چي پر هغه زکوة فرض وي يعني هغه سړی د نصاب خاوند وي او د هغه پر نصاب باندي يو کال تير سوی وي، دوهم هغه سړی چي د زکوة اخيستو وړ نه وي او پر هغه سرسايه او قرباني کول واجب وي يعني هغه سړی چي د چا

سره د ضرورت اصليه څخه پرته د نصاب په اندازه يعني پنځه ويشت نيم تولې د سپينو زرو په اندازه مال وي، دريم هغه سړی چې د هغه لپاره د صدقې مال خو حلال وي مګر هغه ته د سوال لاس غزول حرام وي يعني هغه سړی چې د يوې ورځې ډوډۍ او د ستر پټولو لپاره د جامو خاوند وي.

د روغ رمټ مطلب دادی لکه څرنګه چې د غني لپاره د زکوة مال حلال نه دی همداسي د هغه سړي لپاره هم زکوة حلال او جائز نه دی کوم چې روغ رمټ وي يعني د هغه اندامونه سالم او قوي وي او هغه پر دومره ګټه کولو باندي قادر وي چې د هغه په ذريعه خپل ځان او کورنۍ وساتل سي، د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب ددغه حديث سره سم دی د هغه په نزد د يو داسي سړي لپاره د زکوة مال اخستل حلال نه دی کوم چې د ګټې وړ وي مګر د حنفيه مذهب دادی چې هر هغه سړي ته زکوة اخستل حلال دی کوم چې د پورتني نصاب خاوند نه وي که څه هم هغه روغ رمټ او د ګټې قابل وي.

رسول الله ﷺ هغه اړو صحابه کرامو ته د صدقو او زکوة مال ورکړ حال دا چې هغوی روغ جوړ هم وه او د ګټې وړ هم وه او ترپايه پوري د رسول الله ﷺ دا معمول وو.

د دغه حديث په اړه ويل سوي دي چې يا خو دا منسوخ دی يا د دې حديث مراد ظاهر دی چې کوم سړی روغ او جوړ وي او د مزدورۍ په کولو سره د خپل ځان او کورنۍ لپاره د ژوند تېرولو د اسباب برابرولو قدرت او طاقت لري نو د هغه لپاره دا غوره او مناسب نه ده چې هغه د زکوة او صدقو مال په اخستو سره پر دغه ذلت باندي مطمئن او راضي سي او د ټولنې يو ناکاره سړی جوړ سي مګر د هغه لپاره خو غوره او اولی داده چې هغه د خپلو لاسو په ذريعه خپله محنت او ګټه وکړي او همداسي په ماحول کې عزت مند ژوند تير کړي.

زکات دوه چا لپاره حلال نه دئ

﴿۱۷۳۹﴾: عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ قَالَ أَخْبَرَنِي رَجُلَانِ أَنَّهُمَا أَتَيَا

د حضرت عبيد الله بن عدي بن الخيار رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما ته دوو کسانو بيان وکړ چې

النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ يُقَسِّمُ الصَّدَقَةَ فَسَأَلَاهُ

هغوی په حجة الوداع کې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سول، دغه وخت رسول الله ﷺ د زکوة مال ويشئ، هغوی د رسول الله ﷺ څخه د زکوة مال وغوښتئ،

مِنْهَا فَرَفَعَ فِينَا الْبَصَرَ وَخَفَضَهُ فَرَآنَا جَلْدَيْنِ فَقَالَ إِنْ شِئْتُمَا أَعْطَيْتُكُمَا

رسول الله ﷺ هغوی ته په غور سره وکتل بیا یې لاندې باندې ورته وکتل او موږ دواړه یې قوي ولیدلو بیا یې وفرمایل : که تاسو غواړئ نو زه به یې تاسو ته درکړم

وَلَا حَظَّ فِيهَا لِغَنِيٍّ وَلَا لِقَوِيٍّ مُكْتَسِبٍ . رواه ابوداؤد والنسائي .

مګر په دې کې نه خو د شتمن برخه ستاو نه د هغه چا چې د کار او کسب توان لري . ابوداؤد، او نسائي

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۸۵، رقم: ۱۶۳۳، والنسائي ۵\ ۹۹- ۱۰۰، رقم: ۲۵۹۷.

تشریح: (حجة الوداع) د رسول الله ﷺ اخري حج ته وائي چې په هغه کې رسول الله ﷺ د الله تعالی د احکامو وضاحت وکړ او خلکو ته یې دا وویل او بیا د هغه څخه څو میاشتې وروسته د رفیق اعلی سره یو ځای سو یعني وفات سو .

د امام شافعي رحمة الله علیه د مذهب سره سم د حدیث د اخري جملو مطلب به دا وي چې ستاسو خلکو لپاره د صدقې مال خوړل حرام دی مګر که تاسو حرام مال خوړل غواړی نو زه یې درکوم ګویا رسول الله ﷺ د زجر په توګه همداسې ارشاد وفرمایه .

د حنفیه په نزد د دې مطلب دادی که تاسو د دې مال څخه اخستل غواړی نو زه به یې درکوم مګر په دې پوه سی چې کوم سړی روغ او جوړ وي او پر ګټې باندې قدرت لري د هغه لپاره د صدقې مال خوړل هیڅ مناسب کار نه دی .

په ځینو حالاتو کې د غني لپاره زکوة

﴿۱۷۴۰﴾: وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ

د حضرت عطاء بن یسار څخه مرسلا روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : زکوة روا نه دی

لِغَنِيٍّ إِلَّا لِخَمْسَةٍ لِغَازٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ لِعَامِلٍ عَلَيْهَا أَوْ لِغَارِمٍ أَوْ لِرَجُلٍ اشْتَرَاهَا

د شتمن لپاره ، مګر یوازې د پنځو کسانو لپاره حلال دئ : د خدای ﷻ په لار کې جهاد کونکي لپاره ،دوهم د زکوة کارکونکي لپاره، دریم د تاوان پوره کولو والا لپاره، څلورم د هغه چا لپاره چې د یو مفلس څخه د زکوة مال خرید کړي،

بِمَالِهِ أَوْ لِرَجُلٍ لَهُ جَارٌ مِسْكِينٌ فَتُصُدِّقَ عَلَى الْمِسْكِينِ فَأَهْدَى الْمِسْكِينُ

لِلْغَنِيِّ . رواه مالك و ابوداؤد و في رواية لابي داؤد عن ابي سعيد اوابن السبيل

پنځم د هغه چا لپاره چې د هغه همسایه غریب وي او هغه ته زکوة ورکړل سي او هغه د زکوة د مال څخه هغه غني ته هدیه ورکړې وي . مالک ، ابوداؤد ، د ابوداؤد په یوه روایت کي دي چې ابو سعید څخه د مسافر لفظ هم نقل دئ .

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۲۶۸، رقم: ۲۹. وابوداؤد: ۲\ ۲۸۶، رقم: ۱۶۳۵.

تشریح: د تاوان زغمونکي غني څخه مراد هغه مالداره او غني دی چې هغه ته د یو تاوان او جرماني په توګه یو لوئ شمیر یا د څه مال یوه لویه برخه ادا کول وي که څه هم هغه مالداره وي خو د هغه پر ذمه د تاوان او جرماني کوم شمیر یا مال چې وي هغه د هغه د موجوده مال او شمیر څخه هم زیات دی نو د هغه لپاره جائز او حلال وي چې هغه زکوة په اخستو سره د هغه سره تاوان هم پوره کړي اوس هغه تاوان که د دیت په صورت کي وي یا په دا شکل کي وي چې یو سړی د بل پوروړی وو هغه طرفین د جنګ جګړې څخه د ساتلو لپاره یا په څه بلي وجې د هغه سړي پور پر خپله ذمه واخستی چې د هغه د خوا څخه دا قرض به زه ادا کوم په دې وجه هغه پوروړی سو یا دا شکل هم مراد اخستل کیږي چې هغه خپله د چاپوروړی وي او خپل پور د ادا کولو لپاره هغه ته د رقم او مال ضرورت وي د امام شافعي رحمة الله علیه د مذهب سره سم هغه غازي چې غني مالداره وي زکوة اخستلای سي او هغه ته زکوة اخستل صحیح دي مګر د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد هغه ته زکوة ورکول جائز نه دی ځکه چې په نورو حدیثونو کي مطلقا غني ته زکوة د ورکولو څخه منعه فرمایل سوې ده د غني لپاره د صدقو مال حلال نه دی بیا دا چې رسول الله ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه ته چې کوم حکم فرمایلی وو په هغه کي رسول الله ﷺ دا ارشاد فرمایلی وو چې کوم قوم ته ته تللی یې د هغه قوم د مالدارانو څخه زکوة وصول کړه او د هغوی پر مسکینانو او فقیرانو باندې یې تقسیم کړه هغه حدیث چې په هغه کي د حضرت معاذ رضی الله عنه په باره کي مذکوره حکم نقل دی دلته د ذکر سوي حدیث څخه زیات قوي دی .

د دې څخه ماسیوا په حدیث کي چې ذکر سوی دی هغه په ټولو صورتونو کي په متفقه توګه سره د ټولو امامانو په نزد صحیح دی زکوة وصولونکي ته خو د زکوة مال اخستل ځکه صحیح دی چې هغه د خپل محنت او عمل اجرت اخلي په دې صورت کي د هغوی فقیران او غنیان دواړه برابر دي، تاوان ورونکی که څه هم غني وي مګر پر هغه چې کوم پوریا مطالبه د هغه د هغه د موجوده مال څخه د زیاتي په وجه د هغه د مال څخه د نه کیدو برابر ده همداسې د

پاته دوو صورتونو معامله هم ظاهره ده چې زکوة مستحق زکوة ته حاصل سو نو لکه هغه سړی چې خپلې محلې ته ورسیدی و هغه مستحق زکوة د هغه مال مالک سو اوس که غواړي هغه دې خرڅ کړي که غواړي چاته دې یې د تحفې په توګه ورواستوي.

د زکات وښ الله ﷻ کړئ دئ

﴿۱۷۴۱﴾: وَعَنْ زِيَادِ بْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت زیاد بن الحارث الصدائي رضي الله عنه څخه روایت دئ چې زه د رسول الله ﷺ ته راغلم

وَسَلَّمَ فَبَايَعْتُهُ فَذَكَرَ حَدِيثًا طَوِيلًا فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ أَعْطِنِي مِنَ الصَّدَقَةِ

او د رسول الله ﷺ په لاس مې بیعت وکړ، د دې وروسته هغه یو اوږد حدیث بیان کړ بیا یې وویل: یو کس د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او د زکوة مال یې وغوښتئ

فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَمْ يَرْضَ بِحُكْمِ نَبِيٍّ وَلَا غَيْرِهِ فِي

، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل: د زکوة په اړه الله تعالی نه خو د یو نبي په حکم راضي سو او نه د غیر نبي

الصَّدَقَاتِ حَتَّى حَكَمَ فِيهَا هُوَ فَجَزَّأَهَا ثَمَانِيَةَ أَجْزَاءٍ فَإِنْ كُنْتَ مِنْ تِلْكَ

الْأَجْزَاءِ أَعْطَيْتُكَ. رواه ابوداؤد.

بلکه خپله الله تعالی د زکوة مصرف (وړ) بیان کړ، الله تعالی زکوة پر اته برخو ویشلئ دئ یعني د اتو ډولو کسانو لپاره الله تعالی د زکوة مال حلال کړئ دئ که ته د هغو اتو کسانو څخه یې نو زه به زکوة درکړم. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد: ۲\۲۸۱- ۲۸۳، رقم: ۱۶۳۰.

تشریح: آیت کریمه (انما الصدقات للفقراء والمساكين الاية) چې په هغه کې د زکاة د مستحقینو ذکر سوی دی چې ذکر یې لږ مخکې وسو، د دې ایت سره سم د زکوة د مستحقینو شمیر اته داسې ښیي: اول فقیر، دوهم مسکین، دریم عاملین زکوة، څلورم مولفة قلوب، د دې په باره کې ښودل سوي دي چې د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد د تالیف قلب مصرف اوس نسته، پنځم غلام، شپږم پوروړی یا تاوانی، اووم د الله تعالی په لار کې جهاد کونکی. د حج د سفر مسافر او طالب علم، اتم مسافرین.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

حضرت عمر رضی اللہ عنہ او د زکات شیدې

﴿۱۷۴۲﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ أَنَّهُ قَالَ شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لَبَنًا فَأَعْجَبَهُ

د حضرت زید بن اسلم رحمہ اللہ څخه روایت دئ چې عمر بن الخطاب رضی اللہ عنہ یوه ورځ شیدې وچښلې او ښه پرولګېدلې،

فَسَأَلَ الَّذِي سَقَاهُ مِنْ أَيْنَ هَذَا اللَّبَنُ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ فَإِذَا

چا چې شیدې ورکړې وې د هغه څخه یې پوښتنه وکړه چې دا شیدې د کوم ځای دي؟ هغه ورته وویل: د اوبو یو ځای ته

نَعَمٌ مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ وَهُمْ يَسْقُونَ فَحَلَبُوا لِي مِنْ أَلْبَانِهَا فَجَعَلْتُهُ فِي

د زکوة اوښان راغلل هلته یې اوبه چښلې، د اوښانو خاوند د هغه شیدې ولوښلې او دا لږ شیدې

سِقَائِي فَهُوَ هَذَا فَأَدْخَلَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ. رواه مالك و البيهقي في شعب الايمان

ما په خپل ژي کې واچولې دا هغه شیدې دي، عمر رضی اللہ عنہ په خوله کې کوته ننه ایستل او هغه شیدې یې قی کړې. مالک، بیهقي په شعب الایمان کې.

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۲۶۹، رقم: ۳۱، البیهقي في شعب الایمان ۵\ ۶۰، رقم: ۵۷۷۱.

تشریح: د حضرت عمر رضی اللہ عنہ دا عمل د کمال تقوی او د ډیر زیاتې پرهیزګاري پر بناء وو کنه تر څو چې د مسئلې خبره ده دا خو ښودل سوي دي مستحق زکوة د زکوة مال د مالک کیدو وروسته که هغه چا غیر مستحق زکوة ته هبه کړل یا د تحفې په توګه یې ورکړي نو هغه په استعمال کې راوستل او هغه خوړل جائز دي په تیرو صفحاتو کې چې د بریره کومه واقعه تیره سوې ده په هغه کې رسول الله ﷺ د دې مسئلې جواز بیان فرمایلی دی.

==========

بَابُ مَنْ لاَ تَحِلّ لَهُ الْمَسْئَلَةُ وَمَنْ تَحِلّ لَهُ

چا ته سوال کول روا نه دي او چا ته روا دی

علماء ليکي د کوم سړي سره چي د يوې ورځې په اندازه غذا او د ستر پټولو په اندازه جامه وي نو هغه ته د چا مخکي د سوال لاس زغول نه دی پکار ځکه چي بغير ضرورت او حاجت غوښتل حرام دي هو د کوم سړي سره چي د يوې ورځې غذا او د ستر پټولو په اندازه جامه نه وي نو د هغه لپاره سوال کول حلال دی کوم محتاج او فقير چي د يوې ورځې د غذا مالک وي او هغه د ګټې قدرت لري نو هغه ته زکوة اخستل خو حلال دی خو د خلکو څخه سوال کول ورته حرام دی کوم مسکين او محتاج ته چي د يوې ورځې غذا هم حاصله نه وي او هغه د ګټلو قدرت هم نه لري نو هغه ته سوال کول حلال دی .

نووي رحمة الله عليه د مسلم په شرح کي ليکلي دي د علماء په دې خبره اتفاق دی چي بغير د ضرورت او حاجته د خلکو څخه غوښتل منعه دي البته کوم سړی چي د ګټې قدرت لري د هغه په باره کي اختلافي اقوال دي زيات صحيح قول خو دادی چي داسي سړي ته چي په ګټلو سره خپله ګزاره کولای سي د خلکو څخه سوال کول ورته حرام دي مګر ځيني حضرات ورته مکروه وائي هغه هم په درو شرطونو سره اول دا چي په سوال کولو سره خپل ځان ذليل نه کړي دوهم دا چي په غوښتلو کي د مبالغې کار وانه خلي دريم دا چي د کوم سړي څخه سوال کوي هغه ته تکليف نه ورسوي که په دې درو شرطونو کي يو هم پوره نه وي نو بيا سوال کول بالاتفاق حرام دی .

ابن مبارک رحمة الله عليه نقل کړي دي هغه فرمائي کوم سوالګر چي د الله لپاره، په ويلو سره سوال وکړي نو ماته ښه نه معلوميږي چي هغه ته څه ورکړه سي ځکه چي دنيا او د دنيا شيان کمتر او حقير دي کله چي هغه د دنيا د يو شي لپاره د لوجه الله په ويلو سره سوال وکړي نو ګويا هغه د هغه شي لويي او عزت وکړ چي الله تعالی کمتر او حقير ګرځولی دی داسي سړي ته د زجر او تنبيه له مخي هيڅ ورکول نه دي پکار او که يو سړی په دې ويلو سره سوال وکړي چي بحق الله يا بحق محمد راکړه نو هغه ته څه ورکول نه واجب کيږي او که يو سړی خپل څه غلط او درواغ او حاجت او ضرورت په ظاهريدو سره د چا څخه څه واخلي نو هغه د هغه شي نه مالک کيږي که څه هم هغه شی د هغه په حق کي ناجائز او حرام کيږي همداسي که يو سړی چاته دا ووائي چي زه سيد يم او ماته د فلاني شي يا دومره روپو ضرورت دی او هغه سائل سيد په ګټلو

سره د هغه سوال پوره کړي خو په حقیقت کي هغه سید نه وي نو هغه هم د هغه غوښتلي شي مالک نه دی چي په نتیجه کي هغه شی د هغه په حق کي ناجائز او حرام دی.

همداسي که یو سړی سوالګر ته د نیک بخت او صالح په ګڼلو سره څه شی ورکړي حال دا چي هغه سائل په باطني توګه سره ګناه کار وي، که ورکونکي ته د هغه د ګناه خبر سوی وای نو هغه شی به یې نه ورکولای، نو په دې صورت کي هم سائل د هغه مالک نه دی هغه شی د هغه لپاره حرام دی او هغه شی د هغه مالک ته دوهم وار ورکول پر هغه واجبیږي که یو سړی چاته د هغه د بدزباني یا د هغه د چغل خوري د مضر اثراتو څخه د ساتلو لپاره څه شی ورکړي نو هغه شی به د هغه په حق کي حرام وي.

او که یو فقیر یو سړي ته د غوښتلو لپاره راسي او د هغه لاس او پښې ور مچ کړي چي د هغه په وجه د هغه سوال پوره کړي نو دا مکروه دي مګر هغه سړي ته پکار ده چي هغه فقیر خپل لاس او پښې مچولو ته نه پریږدي.

هغه سائل او فقیرانو ته هیڅ ورکول نه دي پکار چي نغاره، ډول یا هارمونیم او داسي نور شیان ږغوي په دروازه کي سوال کوي او ګرځي، او سازکونکی (دم) خو تر ټولو بد تر دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

سوال کول چاته روا دی؟

﴿۱۷۴۳﴾: عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ مُخَارِقٍ الْهِلَالِيِّ قَالَ تَحَمَّلْتُ حَمَالَةً فَأَتَيْتُ رَسُولَ

د حضرت قبیصه بن خارق الهلالي رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د یو پور ضمانت پر غاړه واخیستئ، بیا زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْأَلُهُ فِيهَا فَقَالَ أَقِمْ حَتَّى تَأْتِيَنَا الصَّدَقَةُ فَنَأْمُرَ

د پور د ادا کولو لپاره مي سوال وکړ، رسول الله ﷺ وفرمایل: یو څو ورځي تم سه مودې ته د زکوة مال راتلونکی دی د هغه څخه به یې درکړو،

لَكَ بِهَا قَالَ ثُمَّ قَالَ يَا قَبِيصَةُ إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ إِلَّا لِأَحَدِ ثَلَاثَةٍ رَجُلٍ

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: اې قبیصه! سوال کول یوازي درو کسانو ته جائز دي:

تَحَمَّلَ حَمَالَةً فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَهَا ثُمَّ يُمْسِكُ وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ

یو هغه چا ته چې د یو پور ضمانت یې کړې وي هغه ته دومره اندازه غوښتل جائز دي چې په هغه سره خپل پور ادا کړي او دهغه وروسته بیا څه ونه غواړي، دوهم هغه کس ته چې په یو آفت او

جَائِحَةٌ اجْتَاحَتْ مَالَهُ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ أَوْ

ستونزه کې اخته وي هغه ته دومره غوښتل پکار دي چې په هغه سره یې ضرورت پوره سي یا

قَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ حَتَّى يَقُومَ ثَلَاثَةٌ مِنْ ذَوِي الْحِجَا

ژوند یې قائم سي، دریم هغه کس ته چې لوږه پر راسي او د محل درې کسان ددې شاهدي ورکړي

مِنْ قَوْمِهِ لَقَدْ أَصَابَتْ فُلَانًا فَاقَةٌ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ

چې اوږی دئ نو هغه ته هم سوال کول جائز دي یوازي دومره چې ژوند یې پر قائم پاته سي .

عَيْشٍ أَوْ قَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ فَمَا سِوَاهُنَّ مِنَ الْمَسْأَلَةِ يَا قَبِيصَةُ سُحْتًا يَأْكُلُهَا صَاحِبُهَا سُحْتًا. رواه مسلم .

ددې خلکو څخه پرته اې قبیصه ! بل چا ته سوال کول صحیح نه دي او که یو څوک ددې څخه پرته سوال کوي نو دا سوال حرام دئ او هغه حرام مال خوري . مسلم

تخریج : صحیح مسلم: ۲\ ۷۲۲، رقم: ۱۰۹- ۱۰۴۴.

تشریح : حماله هغه مال ته وائي چې پر یوه سړي د دیت په توګه څو خلکو ته مال ورکول ضروري وي او څوک دوهم سړی د هغه مال د عدم ادائیګي په وجه په خپلو کي جنګ جګړي د ختمولو لپاره په مینځ کي پریږدي او هغه مال پر خپله ذمه واخلي یو د هغه په وجه پوروړی سي .
د حدیث په اخري کي درې صاحب عقل او فراست خلکو شهادت چې ذکر سوی دی هغه د احتیاج او ضرورت واقعي او حقیقي د کیدو لپاره په توګه د مبالغې دی او د دې خبرې احساس د پیدا کولو لپاره دی چې خلک سوال کول اسان ونه ګڼي او د دې خراب کار څخه ځان وساتي .

ناحقه سوال کول روا نه دي

﴿۱۷۴۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ . رواه مسلم

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې د خلکو څخه ددې لپاره سوال وکړي چې د هغوی څخه مال واخلي او خپل مال زيات کړي نو هغه گويا د اور سکروټه غواړي اوس نو هغه ته اختيار دئ که ډير غواړي او يا لږ غواړي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۷۲۰، رقم: ۱۰۵- ۱۰۴۱.

تشريح: د مال د زياتيدو مطلب دادی چې يو سړی د خپل احتياج او ضرورت په وجه نه مگر يوازي د ددې لپاره د خلکو څخه سوال کوي چې د هغه مال زيات سي .
د اور د سکروټو څخه مراد د دوزخ د اور سکروټي دي د ددې مطلب دادی چې داسي سړی د خپل حاجت پوره کولو لپاره نه مگر يوازي د مال زياتولو لپاره د چا څخه څه غواړي نو هغه به د خپلي ددې هوس او د طمعي په وجه د دوزخ په اور کي غورځول کيږي کم يا زيات رسول الله ﷺ په توگه تنبيه ارشاد وفرمايله د ددې وضاحت دادی چې بلا ضرورته د خلکو څخه سوال کول د دنيوي او اخروي اعتبار څخه په هر صورت تاوانی دی او د ذلت او رسوائي باعث دی که څه هم هغه د څه حقير شي لپاره سوال وکړي او که د يو قيمتي گران او اعلی شي لپاره سوال وکړي .

د سوال کولو پای

﴿۱۷۴۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ حَتّٰى يَأْتِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُضْغَةُ لَحْمٍ . متفق عليه

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : يو کس به هميشه د خلکو څخه سوال کوي تر دې چې د قيامت په ورځ به هغه په داسي حال کي راسي چې د هغه پر مخ به د غوښو يوه ټوټه هم نه وي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۳۳۸، رقم: ۱۴۷۴، ومسلم ۲\ ۷۲۰، رقم: ۱۰۴- ۱۰۴۰.

تشريح: مطلب دادی چې کوم خلک بې ضرورته يوازي د کاروبار په توگه سوال کوي د قيامت په ورځ به د هغوی پر مخ به په ميدان حشر کي ذليل او رسوا کولو سره راوسته سي يا

حقیقتا به د هغوی دا حال وي چي هغوی د دې خراب او غلط فعل د سزا په توګه د هغوی پر مخ به غوښه نه وي همداسي به دا خلک د حشر په میدان کي د مخلوق خدا په مینځ کي په دې ویلو سره بې ابرو او رسوا کړه سي چي دوی په دنیا کي سوال کول خپل کاروبار ګرځولی وو نن به د هغه سزا تر لاسه کوي.

په سوال کولو کي ټینګار کول ښه نه دئ

﴿۱۷۴۶﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُلْحِفُوا

د حضرت معاویة رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مبالغه مه کوئ

فِي الْمَسْأَلَةِ فَوَاللّٰهِ لَا يَسْأَلُنِي أَحَدٌ مِنْكُمْ شَيْئًا فَتُخْرِجَ لَهُ مَسْأَلَتُهُ مِنِّي شَيْئًا

په سوال کولو کي په الله دي مي قسم وي زما څخه چي څوک یو شی په داسي حال کي وغواړي

وَأَنَا لَهُ كَارِهٌ فَيُبَارَكَ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتُهُ. رواه مسلم

چي د هغه ورکول زه بد ګڼم نو کوم شی چي زه ورکړم او په هغه کي دي برکت راسي (یعني دا دواړه نه سي یو ځای کیدلای) یعني څوک چي زما څخه یو شی غواړي او د هغه ورکول زه بد ګڼم نو په هغه کي دي برکت نه وي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\۷۱۸، رقم: ۹۹-۱۰۳۸.

د لغاتو حل: (لاتُلحِفوا): الحف في المسالة: ای الح فیها ولزمها (په فقر کي ټینګار کول).

تشریح: مطلب دادی چي دا سړی په ډیري زیاتي مبالغې سره زما څخه سوال کوي که څه هم زه د هغه سوال رد نه کړم او هغه ته زه ورکړم خو زما دا خوښه نه وي، شی او برکت دواړه یو ځای جمع کیدای نسي نو زه چي یې په ناخوښي سره کوم شی ورکړم په هغه کي برکت نه وي.

فقر کول سپکاوی دئ

﴿۱۷۴۷﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت زبیر بن العوام رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةِ الْحَطَبِ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهَا فَيَكُفَّ

په تاسو کي چي څوک خپله رسۍ واخلي او پر شا د لرګو یو پیتی راوړي هغه خرڅ کړي

اللَّهُ بِهَا وَجْهَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ. رواه البخاري

او الله تعالى د معاش په دې ذريعه د هغه عزت برقرار وساتي نو دا تر دې غوره ده چې هغه د خلکو څخه سوال وکړي او هغوی يې ورکړي يا يې نه ورکړي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۳۳۵، رقم: ۱۴۷۱.

د سوال نه کولو اراده کول

﴿۱۷۴۸﴾: وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت حکيم بن حزام رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه سوال وکړ

فَأَعْطَانِي ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي ثُمَّ قَالَ يَا حَكِيمُ إِنَّ هَذَا

او هغه زما سوال پوره کړ، بيا مې سوال وکړ او بيا يې راکړل، بيا يې راته وفرمايل: اې حکيم!

الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ وَمَنْ أَخَذَهُ

دا مال شين او خوږ دئ څوک چې دا په بې پرواهي سره تر لاسه کړي يعني د حرص او طمع څخه پرته نو په هغه کې برکت راځي او څوک چې

بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ

دا د نفس د طمعې سره تر لاسه کړي نو په هغه کې برکت نه راځي او د هغه حالت د هغه چا په ډول دئ چې خوري يې مګر نس يې نه مړيږي او (اې حکيمه!) لوړ لاس تر لاندې لاس غوره دئ (يعني خيرات ورکول تر اخيستلو غوره دئ)

الْيَدِ السُّفْلَى قَالَ حَكِيمٌ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَرْزَأُ

حکيم وايي د دې وروسته ما عرض وکړ اې د الله رسوله! په هغه ذات دي مې قسم وي چې تاسو يې په حق سره راليږلي ياست اوس به زه د هيڅوا د مال څخه څه کم نه کړم

أَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتَّى أُفَارِقَ الدُّنْيَا. متفق عليه

تر څو چې د دنيا څخه بيل سم. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۳۳۵، رقم: ۱۴۷۲، ومسلم ۲\ ۷۱۷، رقم: ۹۶- ۱۰۳۵.

د لغاتو حل: (لا ارزا): اى لا انقص ماله بالطلب منه.

﴿۱۷۴۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ عَلَى

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ پر منبر وفرمايل :

الْمِنْبَرِ وَذَكَرَ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ وَالْمَسْأَلَةَ الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى

او د صدقې او سوال کولو څخه د منع کيدو يادونه يې وفرمايل چې لوړ لاس تر لاندي لاس غوره دئ

فَالْيَدُ الْعُلْيَا هِيَ الْمُنْفِقَةُ وَالسُّفْلَى هِيَ السَّائِلَةُ . متفق عليه

او لوړ لاس خرڅ کونکی او ورکونکی لاس دئ اولاندي لاس د سوال کونکي لاس دئ .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۹۴، رقم: ۱۴۲۹، ومسلم ۲\ ۷۱۷، رقم: ۹۴- ۱۰۳۳.

د سوال نه کولو فضيلت

﴿۱۷۵۰﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ إِنَّ نَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ

د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د انصارو څو کسانو د رسول الله ﷺ څخه سوال وکړ

اللَّهِ ﷺ فَأَعْطَاهُمْ ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ حَتَّى نَفِدَ مَا

رسول الله ﷺ د هغوی سوال پوره کړ تر څو چې څه د رسول الله ﷺ سره وه هغه ختم سول ،

عِنْدَهُ فَقَالَ مَا يَكُونُ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ

بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : په مال کې چې کوم شی زما سره وي زه به هغه ستاسو څخه منع نه کړم او څوک چې د سوال کولو څخه ځان ژغورل غواړي

يُعِفَّهُ اللَّهُ وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ

عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ . متفق عليه

نو الله تعالى هغه ژغورې او څوک چې بې پرواهي څرګندوي الله تعالى هغه بې پروا کوي څوک

چې د صبر غوښتونکی سي الله تعالی هغه ته صبر ورکوي او د صبر څخه غوره او پراخ شی هیچا ته ورکول سوی نه دئ . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۳۵، رقم: ۱۴۶۹، ومسلم ۲\۷۲۹، رقم: ۱۲۴- ۱۰۵۳.

کوم شی چې پرته د سوال څخه راځي هغه اخله

﴿۱۷۵۱﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به

يُعْطِينِي الْعَطَاءَ فَأَقُولُ أَعْطِهِ مَنْ هُوَ أَفْقَرُ إِلَيْهِ مِنِّي فَقَالَ خُذْهُ فَتَمَوَّلْهُ وَ

ما ته د زکوة تر لاسه کولو مزدوري راکول نو ما به ویل چې زما څخه زیات څوک اړوي هغه ته یې ورکړه ، رسول الله ﷺ راته وفرمایل : په خپل مال کې یې ګډ کړه او

تَصَدَّقْ بِهِ فَمَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا الْمَالِ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ وَمَا لَا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ . متفق عليه

خیرات یې کړه. کوم شی چې په دې مال کې تا ته پرته د طمع او غوښتنې څخه تر لاسه سي هغه اخله او کوم چې درته داسې تر لاسه نه سي نو په هغه مه پسې کیږه . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۳۷، رقم: ۱۴۷۳، ومسلم ۲\۷۲۳، رقم: ۱۱۰- ۱۰۴۵.

تشریح: د حدیث د اخري الفاظو مطلب دادی چې کوم شی بغیر د څه طمعې او بغیر د غوښتلو حاصل سي د هغه د حاصلولو لپاره طمع مه کوه او مه د هغه منتظر اوسه لکه چې وویل سي (لارد ولاکد) .

په یو بل حدیث کې نقل دي کوم سړي ته چې څه مال یا څه شی بغیر د طمعې او حرص حاصل سي او هغه واپس کړي نو ګویا هغه شی الله تعالی ته واپس کې یعني د الله تعالی د یو نعمت ناشکري یې وکړه .

یوه د عبرت کیسه: نقل دي چې یو وار امام احمد رحمة الله علیه بازار ته ولاړی او هلته یې څه سامان رانیوی چې بنان جلال هغه په پورته کولو سره د امام احمد رحمة الله علیه سره یې د هغه کورته راوړی، کوم وخت چې هغه کورته داخل سو نو وې لیدل چې هلته ډوډی د پخولو

لپاره پرانستي پرتې دي امام صاحب خپل ځوی ته حکم وکی چې یوه ډوډۍ بنان ته ورکړه، زوی چې بنان ته ډوډۍ ورکول نو هغه انکار وکی، بنان چې د کور څخه دباندي راووتی نو امام احمد رحمة الله علیه خپل زوئ ته وویل: اوس هغه ته ورسه او ډوډۍ ورکړه، زوئ یې دباندي په راوتلو سره بنان ته ډوډۍ ورکړه نو هغه سمدستي قبوله کړه هغه ته ډیر تعجب وسو چې مخکې خو یې د ډوډۍ اخستو څخه انکار وکی او اوس سمدستي قبوله کړه اخر دا څه پیښه ده هغه د امام احمد رحمة الله علیه څخه د دې پوښتنه وکړه امام صاحب ورته وفرمایل بنان چې په کور کې داخل سو نو هغه د خوراک یو ښه شی ولیدی، د انساني او طبیعي تقاضا سره سم د هغه ورته خواهش وسو او په زړه کې د هغه طمعه پیدا سوه ځکه چې تا ډوډۍ ورکوله نو هغه دا خوښه نه کړل چې د خپل طبع خواهش تابع جوړ سي نو هغه د ډوډۍ څخه انکار وکی خو کله چې دباندي ووتی او هغه د ډوډۍ څخ قطع نظر په کولو سره روان سو او بیا ته راغلې او هغه ته دې ډوډۍ ورکړه نو اوس هغه ته هغه ډوډۍ بغیر د طمعي او خواهش سره حاصله سوه ځکه هغه د الله تعالی د نعمت په ګنلو سره سمدستي قبوله کړه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

سوال کول بې عزتي ده

﴿۱۷۵۲﴾: عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ الْمَسَائِلُ كُدُوحٌ

د سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: سوال کول یو زخم دئ

يَكْدَحُ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ فَمَنْ شَاءَ أَبْقَى عَلَى وَجْهِهِ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَ إِلَّا أَنْ

چې په هغه سوال کونکی خپل مخ ژوبل کوي (یعني په سوال سره خپل عزت دلاسه ورکوي) څوک چې غواړي نو پر خپل مخ دې یې پاته وساتي او څوک چې پاته ساتل نه غواړي نو هغه دې یې پریږدي مګر دا چې

يَسْأَلَ الرَّجُلُ ذَا سُلْطَانٍ أَوْ فِي أَمْرٍ لَا يَجِدُ مِنْهُ بُدًّا . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي

سړی د حاکم څخه سوال وکړي یا د یو داسي شي سوال وکړي چې ډیر ضروري وي. ابوداؤد، نسائي

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۸۹، ۲۹۰، رقم، ۱۶۳۹، والترمذي ۳\ ۶۴ - ۶۵، رقم: ۶۸۱، والنسائي ۵\ ۱۰۰، رقم: ۲۵۹۸.

د لغاتو حل : (کدوح): ای جروح (زخمونه)

تشریح: مطلب دادی که تاسو سوال کوی نو کم تر کمه د داسي سړي څخه چي پر هغه ستا حق هم دی او هغه حاکم یا بادشاه دی چي د هغه په تصرف کي بیت المال او خزانه وي نو تاسو د هغه څخه خپل حق غواړی، تاسو یې مستحقین یاست نو هغه به د بیت المال څخه درکړي.

د عطاء سلطاني د قبلولو مسئله : علامه طیبي رحمة الله علیه فرمائي په دې اړه اختلافي اقوال دي چي ایا عطائې سلطاني یعني د بادشاه او حاکم عطیه قبلول جائز دي که نه ؟ په دې اړه صحیح قول دادی که بیت المال او په خزانه کي حرام مال زیات وي نو د هغه څخه څه غوښتل یا د هغه څخه عطیه سلطاني قبلول حرام دي او که داسي صورت نه وي نو بیا حلال دي.

د دې حدیث د اخري جملې مطلب دادی که څه واقعي مجبوري او ضرورت وي چي د چا څخه د غوښتلو ماسیوا بله چاره نه وي مثلا د چا ضامن سوی وي د طوفان او سیلاب په وجه فصل یې تباه سوی وي یا د څه پیښي او مصیبت په وجه دې ته رسیدلی وي نو په دې صورتونو کي د سوال کولو اجازت دی مګر یو سړی که حالت اضطراري ته رسیدلی وي که څه هم هغه اضطراري حالت د هغه د جامو د خوا څخه وي چي د ستر پټولو لپاره ورسره جامه نه وي یا د ډوډۍ خوړلو لپاره څه نه وي چي د سختي لوږي څخه یې بالکل ساه خیژي نو په داسي صورت کي د چا څخه غوښتل او خپل اضطراري حالت لیري کول واجب دی.

امام غزالي رحمة الله علیه فرمائي همداسي د هغه سړي لپاره سوال کول واجب کیږي چي د حج استطاعت یې درلودی خو حج یې ونه کی تر دې چي مفلس سو نو اوس هغه سړي ته پکار ده چي هغه د خلکو څخه د سفر خرڅ په غوښتلو سره د حج لپاره ولاړ سي.

د سوال کولو پای

﴿۱۷۵۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ سَأَلَ النَّاسَ

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي د خلکو څخه سوال کوي

وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَسْئَلَتُهُ فِيْ وَجْهِهِ خُمُوْشٌ أَوْ خُدُوْشٌ أَوْ

حال دا چي د هغه سره هغه شی وي چي هغه غني جوړ کړي نو د قیامت په ورځ به هغه په داسي حالت کي راسي چي د هغه سوال به د هغه پر مخ د زخم په شـــکل وي،

كُدُوحٌ قِيْلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا الْغِنَى قَالَ خَمْسُونَ دِرْهَمًا أَوْ قِيمَتُهَا مِنَ الذَّهَبِ . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي .

پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! غني کونکی کوم شی دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : پنځوس درهم يا ددې قيمت سره زر ، ابوداؤد ، ترمذي ، نسائي ، ابن ماجه ، دارمي .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۷۷، رقم: ۱۶۲۶، والترمذي ۳\ ۴۰-۴۱، رقم: ۶۵۰، والنسائي ۵\ ۹۷، رقم: ۲۵۹۱، وابن ماجه ۱\ ۵۸۹، رقم: ۱۸۴۰، والدارمي ۱\ ۴۷۲، رقم: ۱۶۴۰.

د لغاتو حل: (خموش): الخدوش وخدش الجلد : قشره بعود او نحوه. (داغ او زخم)

تشريح: خموش جمع د خمش ده، خدوش جمع ده خدش او کدوح جمع د کد ده، ځيني علماء فرمائي دا ټول الفاظ قريب المعنى دي په دې توګه چې د دې ټولو معنى حاصل زخم دی ګويا په حديث کي لفظ او د راوي شک ظاهروي چې رسول الله ﷺ په دې درو کي کوم يو لفظ ارشاد فرمايلی دی .

مګر ځيني نور علماء فرمائي چې دا دري سره الفاظ متبائن دي يعني د دې درو سرو جلا جلا معناوي دي د خموش معنى ده د لرګي په ذريعه پوست کښل د خروښ معنى ده د نوکانو په ذريعه پوست کښل او د کدح معنى ده د غابنونو په ذريعه پوست کښل، ګويا همداسي د قيامت په ورځ د سائلينو تفاوت ته اشاره ده چې کوم سړی کوم سوال کوي د هغه پر مخ به معمولي زخم وي څوک چې زيات سوال کوي د هغه پر مخ به دير ژور زخم وي او څوک چې د سوال کولو درمياني درجه اختياروي د هغه پر مخ به د زخم هم درميانه درجه وي .

﴿۱۷۵۴﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سهل بن الحنظلية رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَنْ سَأَلَ وَعِنْدَهُ مَا يُغْنِيهِ فَإِنَّمَا يَسْتَكْثِرُ مِنَ النَّارِ قَالَ النُّفَيْلِيُّ وهو احد

څوک چې سوال وکړي او د هغه سره دومره مال وي چې هغه غني کړي نو هغه ډير بدل د اور غواړي ، نفيلي چې ددې حديث راوي دئ

رواته فِي مَوْضِعٍ آخَرَ وَمَا الْغِنَى الَّذِي لَا تَنْبَغِي مَعَهُ الْمَسْأَلَةُ قَالَ قَدْرُ مَا

په یو بل ځای کې وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : ددې وروسته سوال کول جائز نه دي چې په اندازه

يُغَدِّيهِ وَيُعَشِّيهِ وَقَالَ النُّفَيْلِيُّ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ أَنْ يَكُونَ لَهُ شِبْعُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ أَوْ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ. رواه ابوداؤد.

د یوې ورځې او شپې په ماړه نس خوراک تر لاسه کړي، او په یو بل ځای کې یې ویلي دي چې په اندازه د یوې ورځې یا یوې ورځې او شپې د خوراک تر لاسه کول.

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۸۰ رقم: ۱۶۲۹.

تشریح: د سهار او مابنام د ډوډۍ په اندازه، د دې مطلب دادی چې د کوم سړي سره په دومره اندازه کې غذائي ضرورت موجود وي چې هغه یوه ورځ او یوه شپه خپل نس ډک کړای سي نو هغه غني دی یعني اوس د هغه لپاره جائز نه ده چې د چا مخ ته لاس وغزوي یعني سوال وکړي. اوس د دې مخکې د ابن مسعود رضی الله عنه چې کوم روایت تیر سوی دی د هغه څخه خو دا معلومیږي چې د مال شمیر چې د هغه په وجه سړی مستغنی سي او د چا څخه سوال نه کوي پنځوس درهمه دي یعني کوم سړی چې د پنځوسو درهمو مالک وي د هغه لپاره د چا څخه سوال کول حرام دی دلته چې کوم روایت نقل سوی دی په هغه کې دا اندازه د سهار او مابنام د ډوډۍ په اندازه بیان سوی دی او د دې وروست د عطاء ابن یسار چې کوم روایت راروان دی د هغه څخه دا خبره ثابتیږي چې کوم سړی یو اوقیه یعني د څلویښتو درهمو مالک وي هغه ته به مستغني ویل کیږي د هغه لپاره د چا څخه سوال کول مطلقا جائز نه دي.

ګویا دا دري روایتونه دي په دې کې په خپلو کې اختلاف دی د امام احمد رحمة الله علیه ابن مبارک رحمة الله علیه او اسحاق رحمة الله علیه عمل خو پر اول روایت دی چې د ابن مسعود رضی الله عنه څخه نقل دی ځینې علماء دریم روایت معمول ګرځولی دی چې د عطاء ابن یسار څخه نقل دی د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه دا مذهب دی چې کوم سړی د یوې ورځې د غذائي ضروریاتو مالک وي هغه ته به مستغنی ویل کیږي او د هغه لپاره د چا څخه سوال کول حرام دی ګویا د امام مالک رحمة الله علیه په نزد دا حدیث د نورو حدیثونو لپاره ناسخ دی.

﴿۱۷۵۵﴾: وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي أَسَدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

حضرت عطاء بن یسار د بنو اسد د یو سړي څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

ﷺ مَنْ سَأَلَ مِنْكُمْ وَلَهُ أُوقِيَّةٌ أَوْ عِدْلُهَا فَقَدْ سَأَلَ إِلْحَافًا . رواه مالك و ابوداؤد والنسائي .

څوک چې په تاسو کې سوال وکړي او د هغه سره يوه اوقيه (څلوېښت درهمه يا دهغو بيه) موجود وي نو هغه د يو مجبوري څخه پرته سوال وکړ . مالک، ابوداؤد او نسائي .

تخريج: مالك في الموطا ۲\ ۹۹۹، رقم: ۱۱، سنن ابي داؤد ۲\ ۲۷۸، رقم: ۱۶۲۷، والنسائي ۵\ ۹۸-۹۹، رقم: ۲۵۹۵.

تشريح: د الحاف مطلب دادی چې هغه د اطراري کيفيت څخه ماسوا او بېله ضرورته په ډيري مبالغې سره سوال وکړي کوم چې په خلکو کې ډېر بد او منعه دی، په قرآن کريم کې د فقراء په دې توګه تعريف سوی دی : ولا يسالون الناس الحافا : يعني هغوی د خلکو څخه په مښلېدو سره سوال نه کوي چې تر څو د هغه سوال پوره نسي نو نه يې پرېږدي .

سوال کول په انتهايي مجبوری کې

﴿۱۷۵۶﴾: وَعَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت حبشي بن جناده رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ إِلَّا لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ غُرْمٍ

سوال کول د شتمن لپاره جائز نه دئ او نه هغه چا ته چې روغ او توانا وي مګر د هغه کس لپاره جائز دئ چې مفلسي پر مځکي غورزولی وي

مُفْظِعٍ وَمَنْ سَأَلَ النَّاسَ لِيُثْرِيَ بِهِ مَالَهُ كَانَ خُمُوشًا فِي وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

يا چې ډېر پورونه وي او څوک چې يوازي د دې لپاره د خلکو څخه سوال کوي چې د دې په ذريعه سره خپل مال زيات کړي نو دا سوال به د قيامت په ورځ د هغه پر مخ يو زخم وي .

وَرَضْفًا يَأْكُلُهُ مِنْ جَهَنَّمَ وَمَنْ شَاءَ فَلْيُقِلَّ وَمَنْ شَاءَ فَلْيُكْثِرْ . رواه الترمذي

او په دوزخ کې به تودې ډبرې جوړې کړل سي او هغه به خوري، نو څوک چې غواړي سوال دي کم کړي او د چا چې زړه غواړي نو زيات دي يې کړي . ترمذي .

تخریج: سنن الترمذي ۳\ ۴۳، رقم: ٦٥٣.

د لغاتو حل: (رضفا): الحجارة المحماة: (توده دبره).

تشریح: پر مځکه يې غورځولی وي دا کنايه ده چې شدت محتاجي او مفلسي پر مځکه غورځولې ده چې د ولاړيدو توان هم نه لري گويا مطلب دادی د چا مخکې لاس غزول يوازې د ډيرې زياتې محتاجې پر وخت جائز دی د حديث اخري جمله په توګه د تنبيه او تهديد ارشاد فرمايل سوې ده ځرنګه چې د کافرانو ظالمانو او د الله تعالی د باغيانو په باره کې بطور تهديد د قرآن کريم دا آيت دی:

فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا

ژباړه: ځوک چې غواړي مومن دي سي او ځوک چې غواړي کافر دي سي موږ خو د ظالمانو لپاره اور تيار کړی دی يعنې اور مو ورته تاکلی دی.

﴿۱۷۵۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د انصارو يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو

يَسْأَلُهُ فَقَالَ أَمَا فِي بَيْتِكَ شَيْءٌ فَقَالَ بَلَى حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَهُ وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ

او سوال کول يې پيل کړ، رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ايا ستاسو په کور کې هيڅ هم نسته، هغه عرض وکړيو غټ کمبل سته چې د هغه يوه برخه پر مځکه غورځوم او يوه برخه يې اغوندم

وَقَعْبٌ نَشْرَبُ فِيهِ مِنَ الْمَاءِ قَالَ ائْتِنِي بِهِمَا قَالَ فَأَتَاهُ بِهِمَا فَأَخَذَهُمَا رَسُولُ

او يوه پياله ده چې په هغه کې اوبه چښو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا دواړه شيان راوړه، هغه سړي دا دواړه شيان راوړل، رسول الله ﷺ هغه په لاس کې واخيستل

اللَّهِ ﷺ بِيَدِهِ وَقَالَ مَنْ يَشْتَرِي هَذَيْنِ قَالَ رَجُلٌ أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ قَالَ:

او وه يې فرمايل: دا څوک رانيسي؟ يو سړي وويل: زه يې په يوه درهم رانيسم، رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا قَالَ رَجُلٌ أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمَيْنِ فَأَعْطَاهُمَا

د يوه درهم څخه په زيات يې څوک رانيسي؟ دوه واره يا دري واره رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل،

یوه سړي وویل : زه یې په دوو درهمو رانیسم ، رسول الله ﷺ هغه دواړه شیان هغه ته ورکړل

إِيَّاهُ وَأَخَذَ الدِّرْهَمَيْنِ وَأَعْطَاهُمَا الْأَنْصَارِيَّ وَقَالَ اشْتَرِ بِأَحَدِهِمَا طَعَامًا

او د هغه څخه یې دوه درهمه واخیستل او هغه انصاري ته یې ورکړل بیا یې ورته وفرمایل : په دې کي دیوه درهم د خوراک او چې بناک شیان رانیسه

فَانْبِذْهُ إِلَى أَهْلِكَ وَاشْتَرِ بِالْآخَرِ قَدُومًا فَأْتِنِي بِهِ فَأَتَاهُ بِهِ فَشَدَّ فِيهِ رَسُولُ

او خپلي کورنۍ ته یې ورسوه او په دوهم د رهم تبر رانیسه او ما ته یې راوړه ، هغه تبر رانیوئ او د رسول الله ﷺ په خدمت کي یې حاضر کړ ، رسول الله ﷺ په خپل مبارک لاس په هغه تبر کي لاستی واچوئ

اللَّهِ ﷺ عُودًا بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ لَهُ اذْهَبْ فَاحْتَطِبْ وَبِعْ وَلَا أَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ

او بیا یې تبر ورکړ او ورته وه یې فرمایل : ولاړسه لرګي یوځای کوه او پلوره یې اوس چې تر پنځلسو ورځو پورې دي زه ونه وینم ،

يَوْمًا فَذَهَبَ الرَّجُلُ يَحْتَطِبُ وَيَبِيعُ فَجَاءَ وَقَدْ أَصَابَ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ

هغه سړی ولاړ لرګي به یې راوړل او پلورل به یې ، یوه ورځ هغه سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو دهغه سره لس زره درهم وه

فَاشْتَرَى بِبَعْضِهَا ثَوْبًا وَبِبَعْضِهَا طَعَامًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ هَذَا خَيْرٌ لَكَ

په هغو کي یې په یو څه جامې رانیولې او په یو څه یې د خوراک شیان ، بیا هغه ته رسول الله ﷺ وفرمایل : دا ستا لپاره تر هغه کار غوره دئ

مِنْ أَنْ تَجِيءَ الْمَسْأَلَةُ نُكْتَةً فِي وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَصْلُحُ إِلَّا

چې ته کرځي او سوال کوې او د قیامت په ورځ ستا پر مخ د سوال داغ وي ، سوال جائز نه دی مګر

لِثَلَاثَةٍ لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ لِذِي غُرْمٍ مُفْظِعٍ أَوْ لِذِي دَمٍ مُوجِعٍ . رواه ابوداؤد وروي ابن ماجة الى قوله يوم القيامة .

د درو کسانو لپاره : یو خو د هغه مفلس لپاره چې مفلسي پر مځکه غورزولی وي ، دوهم د هغه پوروړی لپاره چې د هغه پور دروند وي ، دریم د هغه چا لپاره چې د یو چا د دیت (وژني) ضامن وي او د هغه د ادا کولو توان نه لري . ابوداؤد ، او ابن ماجه تر یوم القیامة، پورې روایت کړئ دئ .

تخریج: سنن ابي داؤد ۳\ ۲۹۲، رقم: ۱۶۴۱، وابن ماجه ۲\ ۷۴۰، رقم: ۲۱۹۸.

د لغاتو حل: (حِلس): هو الكساء الذي يلي ظهر البعير تحت القتب (غټ کمبل). (قعب): قدح ضخم غليظ. (پنډ لوښی).

یوازې الله تعالی ته حاجت بیانول

﴿۱۷۵۸﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : چا ته چې

أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ وَمَنْ أَنْزَلَهَا بِاللَّهِ أَوْشَكَ اللَّهُ لَهُ

فاقه وي یعني یو سخت حاجت یې وي او هغه یې پر خلګو څرګند کړي د حاجت لپاره یې خواهش کړی وي نو د هغه حاجت به نه سي پوره. چا چې خپل حاجت الله جل جلاله ته بیان کړ

بِالْغِنَى إِمَّا بِمَوْتٍ عَاجِلٍ أَوْ غِنًى عَاجِلٍ . رواه ابوداؤد والترمذي .

نو الله جل جلاله به ژر د هغه حاجت په اندازه د بسوالي پوره کړي یعني یا خو به هغه غني کړي یا به یې ژر مړ کړي . ابوداؤد او ترمذي

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۹۶، رقم: ۱۶۴۵، والترمذي ۴\ ۴۸۷، رقم: ۲۳۲۶.

تشریح: د حدیث په اخري جمله (او غنی آجل) کي لفظ د اجل د مصابیح په اکثرو نسخو او په جامع الاصول کي په عین سره یعني عاجل قوم مراد دی چې دهغه مطلب به دا وي چې الله تعالی هغه ته ژر ګټه او اطمینان ورکړي په دې توګه چې هغه به ژر شتمن او مالدار کړي،. مګر په سنن ابي داود او ترمذي کي چیري چې دا روایت نقل سوی دی نو دا لفظ په الف یعني آجل دی او صحیح هم دادی ځکه چې ژپاړه یې د همدې سره سمه ده .

داسي معلومیږي چې دا حدیث د قرآن کریم د دغه آیت کریمه په رڼا کي فرمایل سوی دی :

وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ

ژباړه : څوک چې د الله تعالی څخه بیریږي نو د هغه لپاره د وتلو ځای پیدا کوي او هغه ته د داسې ځای څخه رزق ورکوي چې د هغه ځای څخه یې ګمان هم نه کیږي او کوم سړی چې په الله تعالی باور لري الله تعالی هم د هغه لپاره کافي دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د چا څخه سوال کول پکار دي

﴿۱۷۵۹﴾: وَعَنِ ابْنِ الْفِرَاسِيِّ أَنَّ الْفِرَاسِيَّ قَالَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن فراسي رضي الله عنه څخه روایت دئ چې فراسي رضي الله عنه وویل: ما د رسول الله ﷺ څخه

وَسَلَّمَ أَسْأَلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا وَإِنْ كُنْتَ سَائِلًا لَا بُدَّ فَاسْأَلِ الصَّالِحِينَ . رواه ابوداؤد والنسائي .

پوښتنه وکړه چې: اې د الله رسوله ! ایا زه (د خلکو څخه) سوال وکړم ، رسول الله ﷺ وفرمایل :یا ، مګر که ضروري وي نو د نیکو خلکو څخه یې غواړه . ابوداؤد ، نسائي

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۹۶، رقم: ۱۶۴۶، والنسائي ۵\ ۹۵، رقم: ۲۵۸۶.

تشریح: د ضرورت او اړتیا پر وخت د نیکانو څخه د غوښتنې لپاره ځکه فرمایل سوي دي چې د هغوی سره حلال مال وي او هغوی مهربانه وي د غوښتونکي څخه منعه نه کوي دا وجه ده چې د بغداد فقراء او مسکینان به هغوی د خپل ضروریاتو او اړتیاوو پر وخت د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه دروازې ته ورتلل او هغوی ته به یې خپل ضرورت او حاجت بیانوی .

د نوموړي د تقوی او احتیاط چې کوم حالت وو د دې اندازه په دغه پیښې سره لګول کیږي چې یو وار د هغه کوروالا ته د خمیر ضرورت سو چې د امام احمد رحمة الله علیه د زوی د کور څخه یې وغوښتی د امام احمد رحمة الله علیه زوی د قاضي پر دنده وو او د هغه د سعادت او نیکۍ دا حال وو چې د خپل کور د دروازې سره به بیده کیدی ددې لپاره چې یو اړ کس بیرته ولاړ نسي، په هر حال د امام احمد رحمة الله علیه کور والا د هغه خمیر څخه ډوډۍ پخه کړه، کله چې نوموړي امام ته ډوډۍ وړاندي سول نو هغه ته د کشف په ذریعه د ډوډۍ په باره کې څه شک او شبه پیدا سول ، د کور والا څخه یې پوښتنه وکړه، هغې ورته حال بیان کړل ، نوموړي امام رحمة الله علیه د ډوډۍ خوړلو څخه انکار وکړ او د هغه په وجه کوروالا هم ډوډۍ ونه

خورل او دا پوښتنه يې وکړه چې ايا دا دوډی فقيرانو ته ورکړم نو يې ورته وويل چې وريې کړه مګر د هغې حال او احوال ورته بيان کړه حال دا وو چې فقيرانو هم د هغې د اخيستلو څخه منعه وکړه ، په پای د کوروالا لپاره د ټول کور دوډی د نوموړي په اجازه سره په درياب کي وغورځول .

کوم شی چې پرته د سوال څخه وي

﴿۱۷۶۰﴾: وَعَنِ ابْنِ السَّاعِدِيِّ قَالَ اسْتَعْمَلَنِي عُمَرُ رضي الله عنه عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا

د حضرت ابن ساعدي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې حضرت عمر رضي الله عنه زه د زکات کار کونکی و ټاکلم

فَرَغْتُ مِنْهَا وَأَدَّيْتُهَا إِلَيْهِ أَمَرَ لِي بِعُمَالَةٍ فَقُلْتُ إِنَّمَا عَمِلْتُ لِلَّهِ وَأَجْرِي عَلَى

د خپل کار څخه چې زه فارغ سوم او د زکات مال مي حضرت عمر رضي الله عنه ته حواله کړ نو حضرت عمر رضي الله عنه حکم راکړ چې زما د خدمت معاوضه دي ما ته راکړل سي ، ما عرض وکړ

اللَّهِ قَالَ خُذْ مَا أُعْطِيتَ فَإِنِّي قَدْ عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَعَمَّلَنِي

دا کار خو ما يوازي د الله جل جلاله لپاره کړئ دئ او ددې ثواب د الله تعالی پر ذمه دئ ، حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل : څه چې درکړل سي هغه واخله ما هم د رسول الله ﷺ په زمانه کي دا کار کوئ او ما ته به چې اجرت راکړل سو

فَقُلْتُ مِثْلَ قَوْلِكَ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا أُعْطِيتَ شَيْئًا مِنْ غَيْرِ أَنْ تَسْأَلَهُ فَكُلْ وَتَصَدَّقْ . رواه ابوداؤد .

نو ما به داسي ويل څه چې ته وايي ، نو رسول الله ﷺ به ما ته فرمايل : هر کله چې تا ته بې سواله کولو يو شی درکړل سي نو هغه خوره يا يې خيرات کوه . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۲۹۶، رقم: ۱۶۴۷.

تشريح: د دغه حديث څخه معلومه سوه چې پر يو کار او خدمت باندي د بيت المال څخه مزدوري اخستل جائز دي که څه هم هغه خدمت فرض وي ، لکه د بيت دا لمال منشي توب ، درس او تدريس او داسي نور ، مګر د وخت د امام لپاره ضروري ده چې هغه نه يوازي د داسي خلکو بلکه د هغه خلکو هم خيال وساتي کوم چې د بيت المال په اړه ځان خبروي او يو ډول کار

پکښي کوي.

دا حديث او هغه حديث کوم چي د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په اړه مخکي تير سوی دی په ظاهره پر دې خبري دلالت کوي که يو څوک چا ته د هغه د سوال او طمعي څخه پرته يو شی ورکړي نو د هغه لپاره قبلول واجب دی، د امام احمد رحمة الله عليه او نورو امامانو دا مذهب دی، مګر جهمور علماء دا پر استحباب يا اباحت باندي محمول کړی دی.

سوال کول کله رواه دی

﴿۱۷۶۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّهُ سَمِعَ يَوْمَ عَرَفَةَ رَجُلاً يَسْاَلُ النَّاسَ فَقَالَ اَفِيْ هٰذَا الْيَوْمِ وَفِيْ هٰذَا الْمَكَانِ تَسْاَلُ مِنْ غَيْرِ اللهِ فَخَفَقَهُ بِالدُّرَّةِ. رواه رزين.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د عرفات په ورځ هغه واوريدل چي يو سړی د خلکو څخه سوال کوي نو هغه ته يې وويل: ايا په دا ورځ او په دې ځای کي چي دلته هره دعاء قبليږي ته د الله جل جلاله څخه پرته د بل چا څخه سوال کوې؟ نو هغه يې په دره ووهئ. رزين.

تخريج: رواه رزين.

د لغاتو حل: (الدُرة): السوط (چلاخه).

تشريح: د حضرت علي رضي الله عنه د ارشاد مطلب دا وو چي دا ستا څومره بدبختي ده چي په نن ورځ کوم چي د دعاء د قبلېدو ورځ ده او د عرفات په ميدان کي کوم چي مقدس او بابرکت ځای دی ته الله تعالی پريږدي او د خلکو څخه سوال کوې، ددې څخه معلومه سوه چي مقدس او بابرکت ځايونه مثلا په مسجدو او داسي نورو کي د خلکو څخه سوال کول ښه خبره نه ده.

فقر او غنا څه ته وايي؟

﴿۱۷۶۲﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ تَعْلَمُنَّ اَيُّهَا النَّاسُ اَنَّ الطَّمْعَ فَقْرٌ وَ اَنَّ الْاِيَاسَ غِنِيٌ وَّ اَنَّ الْمَرْءَ اِذَا يَئِسَ مِنْ شَيْءٍ اِسْتَغْنٰى عَنْهُ. رواه رزين.

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه (خلکو ته) وويل: اې خلکو! پوه سئ چي طمع ارتيا ده او د خلکو څخه بې پرواهي غنا ده او هر کله چي انسان د يو شي څخه انا اميده سي نو د هغه څخه بې پروا سي. رزين.

تخريج: رواه رزين.

تشریح: طمع اړتیا ده، ددې مطلب یا خو دادی چې طمع د اړتیا یو صورت دی، او یا مطلب دادی چې طمع د اړتیا ذریعه ده یعني د طمع په وجه انسان اړ کیږي په دې توګه چې د خپل طمعي پوره کولو لپاره د نورو خلکو په وړاندې لاس غزوي، نا امیده کیدل بې پرواهي ده، ددې مطلب دادی چې د انسان څخه ناامیدي مستغنی او بې پرواه جوړوي، د ابوالحسن شاذلي رحمة الله علیه په اړه نقل دي چې د هغه څخه یو چا علم کیمیا کوم چې یوازې په دوو الفاظو کې منحصره ده وغوښتل نو هغه ورته وفرمایل: د خدای پاک د مخلوق څخه نظر وکړه یعني د یو انسان څخه امید ونه مه لره او د الله تعالی څخه د هغه شي په اړه خپل طمع منقطع کړه کوم چې ستا په قسمت کې د لیکل سوو شیانو څخه پرته دي، یعني الله تعالی چې کوم شیان ستا په مقدر کې لیکلي دي د هغه څخه پرته د نورو شیانو امید مه کوه.

د طمع معنی ده د هغه شیانو تر لاسه کولو خواهش کول چې د هغه په تر لاسه کولو کې شک وي، یعني د یو شي په باره کې دا خیال وي چې د هغه خاوند به یې راکړي که یا، هو که چیرې د یو داسي شي یو داسي سړي ته د تر لاسه کولو غوښتنه وي چې د هغه سړي سره د کمال تعلق، او د مینې او مروت پر بناء یقین وي که هغه شی تر لاسه سي نو دې ته به طمع نه وایو.

د سوال نه کونکي لپاره زیری

﴿۱۷۶۳﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَكْفُلُ لِي

د حضرت ثوبان رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې زما سره ددې خبرې قول وکړي چې

أَنْ لَا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا فَأَتَكَفَّلُ لَهُ بِالْجَنَّةِ فَقَالَ ثَوْبَانُ أَنَا فَكَانَ لَا يَسْأَلُ أَحَدًا شَيْئًا. رواه ابوداؤد والنسائي.

هغه به د خلکو څخه سوال نه کوي نو زه د هغه لپاره د جنت ضامن یم، ثوبان وایي ما عرض وکړ: زه. ددې قول کوم، ددې وروسته به ثوبان د چا څخه سوال نه کوئ. ابوداؤد او نسائي

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۲۹۵، رقم: ۱۶۴۳، والنسائي ۵\ ۹۶، رقم: ۲۵۸۹.

تشریح: د رسول الله ﷺ د قول مطلب دا دی چې زه د هغه سړي لپاره ددې خبرې ضمانت کوم چې هغه به ببله څه عذاب په جنت کې داخل کړل سي، ګویا په دې کې دې ته اشاره ده چې د چا څخه سوال نه کونکی انشاء الله تعالی د خیر د خاتمې په سعادت سره به ونازول سي.

مگر په دې خبره پوه سئ چې په دې اړه هغه صورت وتلی دی کله چې د مرګ بېره وي ځکه چې ډېر زیات ضرورت منعه شیان هم رواه کوي، که یو سړی په داسي حالت کي وي چې د چا څخه هیڅ شی نه غواړي او په هلاکت کي ولویږي نو دهغه لپاره غوښتل او خپل ځان ساتل ضروري دی، د مثال په توګه که یو سړی په سختي لویږي کي اخته سي او هغه د چا څخه په څه غوښتلو سره ونه خوري او په همدې حالت کي مړ سي نو ګناه کار به مړ سي.

د سوال نه کولو حکم

﴿۱۷۶۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ دَعَانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَشْتَرِطُ

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ زه را وغوښتلم او زما څخه یې ددې خبري عهد واخیستئ چې

عَلَيَّ أَنْ لَا تَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا قُلْتُ نَعَمْ قَالَ وَلَا سَوْطَكَ إِنْ يَسْقُطَ مِنْكَ حَتَّى تَنْزِلَ إِلَيْهِ فَتَأْخُذَهُ. رواه احمد.

ته به د خلکو څخه هیڅ شی نه غواړې (یعني سوال به نه کوې) ما ددې خبري اقرار وکړ بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: تر دې چې ستا تازیانه (کوړه) ایله سي نو (د راپورته کولو لپاره مه وایه) د سپرلي څخه په خپله تا سه او پورته یې کړه. احمد.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۵\۱۸۱،

تشریح: د رسول الله ﷺ د ارشاد آخري برخه د سوال پرېښودو په اړه د مبالغې په توګه دی، ځکه که چیري د چا غمچینه ولویږي او د هغه پورته کولو لپاره یو چا ته ووایي نو ددې مطلب دادی چې هغه یو چا ته لاس وغزوی، بلکه په حقیقت کي خو هغه دده ملک دی چې هغه ته یوازي د پورته کولو لپاره وایي، مګر په دې کي هم یو ډول سوال دی ځکه رسول الله ﷺ د مبالغې په توګه ددې څخه هم منعه وفرمایل.

==========

بَابُ الْاِنْفَاقِ وَ كَرَاهِيَةِ الْاِمْسَاكِ

د خرڅ کولو فضیلت او د بخل بدوالی

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د الله ﷻ په لار کې خرڅول

﴿۱۷۶۵﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ لِي

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: که زما سره وای

مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا يَسُرُّنِي أَنْ لَا يَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثٌ كِيَالٍ وَعِنْدِي مِنْهُ شَيْءٌ إِلَّا شَيْءٌ أُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ . رواه البخاري

د احد د غره په اندازه سره زر نو زما به دا خوښه نه وای چې پر هغه درې ورځې تیرې سي او د هغه وروسته د هغه څخه زما سره هیڅ پاته نه سي مګر یوازې دومره چې زه د هغه څخه پور ادا کړلای سم. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\ ۵۵، رقم: ۲۳۸۹.

تشریح: مطلب دادی چې که چیرې زما سره د احد د غره په اندازه سره زر وي نو زما لپاره به تر ټولو غوره خبره دا وي چې هغه ټول سره زر په درو شپو کې دننه په خلکو باندې تقسیم کړم او د هغه څخه هیڅ هم ځان ته نه پریږدم هو دومره سره زر خامخا پریږدم چې په هغه سره خپل پور ادا کړم ځکه چې پور ادا کول تر صدقې هم مخکې دی د دې ارشاد څخه یوې خواته د رسول الله ﷺ ډیر سخاوت معلومیږي او بلې خواته دا چې کوم خلک د خپل مال او زرو خیرات ورکوي او د الله تعالی په لار کې یې مصرفوي او خپل د راحت ذرائع مهیا کوي مثلا لوړ لوړ ښائسته ماڼۍ جوړوي، کوټۍ جوړوي یا داسې نور د ژوند د ارام لپاره بې حسابه مال خرڅوي خو پر هغوی د نورو خلکو حقوق وي د هغوی د حقوق ادا کول څه چې د هغوی خوا ته خیال هم نه کوي نو دا ښه خبره نه ده مګر په شرعي توګه سره ډیره زیاته غلطه خبره ده.

شریعت او اخلاق نه مګر یوازې عقل او دانش او د انسان د همدردي سره سم ایا دا خبره

صحیح کیدای سي چي یو سړی خو د خپل حریص هوس او ژوند په جوړید و سره خپلي تجوری ډکي ناست دي، د بې اندازې مال کوتې او د سره زرو او سپینو زرو خزانې جمع کوي خو یو بل سړی د هغه په مخکي د اوربشو ډوډۍ ته هم ضرورت لري او د هغه د تجوری خوله نه خلاصیږي یو مسکین د لوږي څخه مري خو د هغه سره دومره همدردي نسته چي په هغه مسکین باندي ډوډۍ وخوري چي د هغه د ژوند ډیوه مړه نسي.

هو په نن سبا زمانه کي چي سوشلزم د مساوات او انساني ورورګلوی او همدردی نعرې هر وخت وهي، نه ویني چي د مال او زر بندګان د خپل خواهش لپاره د تجوری خوله خلاصوي د خپل دنیوي راحت لپاره د مال او زر تختې هواروي، خوکه څوک وږي او تندي وهلی وي د هغوی په ډول انسان هغوی ته ډوډۍ او اوبه ورکوي نو د هغوی تندی ورته تریب سي او د هغوی د خولې څخه د نفرت او سپکاوي الفاظ راوځي، هغوی د سخت زړه خاوندان فکر نه کوي که معامله د دې چپه وای د هغوی جزیات او احساسات به څه وای نو د جنګ په موجوده زمانه کي د مسلمانانو لپاره نه مګر د پوره انساني همدردی لپاره دا ارشاد یو دعوت عمل او او دنور مینار دی.

د ملائکو دعاء د سخي لپاره

﴿۱۷۶۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ یو ورځ داسي نه تیریږي

الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا اللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا

چي په هغه کي سهار وختي دوې ملائکي را نازلیږي چي په هغو کي یوه دا وایي اې الله! نفقه کونکو ته ددې بدله ورکړې

وَيَقُولُ الْآخَرُ اللّٰهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا. متفق عليه

او دوهمه ملائکه وایي اې الله! د بخیل مال برباد کړې. بخاري او مسلم

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۴۰۳، رقم: ۱۴۴۲، ومسلم ۲\ ۷۰۰، رقم: ۵۷-۱۰۱۰.

سخاوت کوئ

﴿۱۷۶۷﴾: وَعَنْ اَسْمَاءَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ انفقي ولا تحصي فيحصي

الله عليك و لَا تُوعِي فَيُوعِيَ اللّٰهُ عَلَيْكِ ارْضَخِي مَا اسْتَطَعْتِ . متفق عليه

د حضرت اسماء (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : نفقه کوئ او شميرل مه کوئ (ځکه که ته په شمير ورکول کوې) نو الله به يې هم په شمير درکوي او ته د فقير څخه مال مه منع کوه ګوندي الله به هم تا منع نه کړي او ورکړه څومره چې طاقت دي وي . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري):۵\ ۲۱۷، رقم: ۲۵۹۱، ومسلم ۲\ ۷۱۳، رقم: ۸۸- ۱۰۲۹.

د لغاتو حل : (لاتُوعي): اى لاتمنعي فضل المال على الفقير (ارضخي): اى اعطي ولو شيئا يسيرا (يعني ورکړه که څه هم لږ وي).

تشريح : لفظ د (لا تحصى) او دا مه شميرئ د دې خو يوه معنى هغه ده کوم چې پورته ترجمه سوې ده او يوه معنى يې داده چې د مال جمع کولو لپاره يې مه شميرى او هغه د الله تعالى په لار کې په خرڅولو کې يې مه پريږده .

د حديث د اخري الفاظو مطلب دادى چې ته د خپل حيثيت او قدرت سره سم څه چې خرڅ کولاى سې هغه د الله تعالى په لار کې ضرور خرڅوه که څه هم هغه د اندازې او شمير په اعتبار هر څومره کم وي مګر هغه سپک هم مه ګڼه ځکه چې د اخلاص په نيت سره د الله تعالى په لار کې خرڅ کونکې يوه ذره د الله تعالى په نزد ډير او د عمل په ترازو کې ډېره درنه ده .

﴿۱۷۶۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ ويلي دي چې الله ﷻ فرمايلي دي : اې انسانه ! ته نفقه کوه (په خلګو) زه به پر تا نفقه کوم . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\ ۴۹۷، رقم: ۵۳۳۵۲، ومسلم ۲\ ۶۹۰- ۶۹۱، رقم: ۲۶- ۹۹۳.

تشريح : د الله تعالى د ارشاد مطلب دادى چې اې د آدم اولاده ! ته ددې فاني دنيا مال زما په لار کې خرڅ کړه چې په اخرت کې تاته ډېر قيمتي مالونه حاصل سي .

ځيني حضراتو د دې دا معنى بيانه کړې ده چې څه چې ما تاته درکړي دي د هغه څخه يو څه ته خلکو ته ورکړه چې زه تاته په دنيا او عقبى کې تر هغه څخه زيات درکړم ګويا دا دې آيت کريمه ته اشاره ده :

(وما انفقتم من شيء فهو يخالفه) څه چې تاسو د الله تعالى د رضا لپاره خرڅوى الله تعالى تاسو ته د هغه بدله خامخا درکوي.

د ضرورت ځخه زيات مصرف

﴿۱۷۶۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا ابْنَ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : اې

آدَمَ إِنَّكَ أَنْ تَبْذُلَ الْفَضْلَ خَيْرٌ لَكَ وَأَنْ تُمْسِكَهُ شَرٌّ لَكَ وَلَا تُلَامُ عَلَى كَفَافٍ وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ . رواه مسلم

انسانه ! څه چې ستا د خرڅ ځخه زيات وي ستا لپاره د هغه خرڅ کول غوره دي او مال منع کول (ساتل) ستا لپاره بد دي په اندازه د ضرورت ساتلو باندي پر تا ملامتيا نسته تر ټولو وړاندي پر خپل کورنۍ خرڅ کوه. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۲\ ۷۱۸، رقم: ۹۷-۱۰۳۶.

تشريح: (ولا تلام على كفاف) په اندازه د کفايت پر مال باندي ملامتيا نسته د دې مطلب دادى که ته دومره مال د ځان سره ساتې چې ستا د ژوند د بقاء لپاره ضروري وي په دې توګه چې د هغه په وجه ستا غذائي ضرورت پوره وي او ته د چا مخکې د سوال کولو ځخه وساتل سې نو په دې کې هيڅ تاوان نسته او ظاهره ده چې د بقاء ژوند په اندازه د مال تعين د اشخاص د احوال او زمانې سره سم دى يعني د ځينې خلکو لپاره د بقاء ژوند په اندازه د مال اندازه کمه وي او د ځينو لپاره زياته څه خلک داسې وي چې هغوى واقعي د ضروريات ژوند لپاره د هغوى لږ مال پکار وي او څه خلک داسې وي چې د هغوى لپاره د زياتې اندازې ضرورت وي همداسې په ځينو ورځو کې د ژوند د بقاء لپاره کم مال پکار وي او په ځينو ورځو کې په زياته اندازه کې ضروري وي په ځينو حالاتو کې لږ مال کفايت کوي او په ځينې حالاتو کې د زيات مال ضرورت وي رسول الله ﷺ فرمايلي دي دا که يو سړى د خپل حيثيت سره سم د څه واقعي ضرورت او حاجت په اندازه مال او زر وساتي نو په دې کې هيڅ تاوان نسته.

د حديث د اخري الفاظو (وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ) مفهوم دادى چې د سخاوت او خرڅ په معامله کې خپله کورنۍ مخته کول پکار دي چې د هغوى نفقه پر خپل ځان واجب وي يعني چې د

هغوی څخه کوم مال پاته سي بیا دي هغه نورو خلکو ته ورکړه سي په دې اندازې سره خرڅول هم ښه خبره نه ده چې خپله کورنۍ خو د دې ضرورتمند او محتاجه وي او نورو خلکو ته دي ورکړه سي.

د حدیث د اخري الفاظو څخه خو دا معلومیږي چې دا ارشاد هم د الله تعالی ارشاد دی که څه هم په حدیث کې صراحتا ذکر نه دی سوی مګر دا احتمال هم لري چې شاید رسول الله ﷺ د خپل ارشاد لپاره دا طرز اختیار کړی وي. (والله اعلم)

د بخیل لپاره ورکړه مشکل وي

﴿۱۷۷۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ مَثَلُ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُنَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ قَدِ اضْطُرَّتْ

د بخیل او خیرات کوونکي حال د هغه دوو کسانو په ډول دئ چې د هغوی پر بدن دوې زغرې وي او د هغې زغرې د تنګۍ له کبله

أَيْدِيهِمَا إِلَى ثُدِيِّهِمَا وَتَرَاقِيهِمَا فَجَعَلَ الْمُتَصَدِّقُ كُلَّمَا تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ

د هغوی دواړه لاسونه د سینې او غاړې سره موښتي وي هر کله چې صدقه ورکوونکی د صدقې ورکولو اراده وکړي

انْبَسَطَتْ عَنْهُ وَجَعَلَ الْبَخِيلُ كُلَّمَا هَمَّ بِصَدَقَةٍ قَلَصَتْ وَأَخَذَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ بِمَكَانِهَا. متفق عليه.

نو د هغه زغره خلاصه سي او هر کله چې بخیل د صدقې ورکولو اراده وکړي نو د زغرې کړۍ نوري تنګې سي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۰۵، رقم: ۱۴۴۳ ومسلم ۲\۷۰۸، رقم: ۷۵-۱۰۲۱.

د لغاتو حل: (جنتان من حدید): ای وقایتان (پوښونه).

تشریح: د دې ارشاد مطلب دا دی چې سخي انسان چې کله د الله تعالی د رضا لپاره د خپل مال د خرڅولو قصد کوي نو د هغه صادقي جذبې په وجه د هغه سینه پراخه کیږي او د هغه لاس د

هغه د زړه او احساساتو تابع سي په دې توګه چې هغه مال د خرڅولو لپاره لاس اوږده وي د دې پر خلاف په داسي وختونو کې د انسان سینه تنګه سي او د هغه لاس را ټول سي.
د دې مثال رسول الله ﷺ دا ورکړی دی چې کله سخي انسان د خیر او ښېګڼې اراده کوي نو د الله تعالی توفیق د هغه شاهد رسول الله ﷺ وي په دې توګه چې د هغه لپاره د خیر او ښېګڼې نیکه لار اسانه کیږي او د بخیل لپاره د نیکۍ او خیر لاره نوره هم سخته سي.

د بخل تاوان

﴿۱۷۷۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّقُوا الظُّلْمَ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د ظلم څخه ځان وژغورئ

فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ

ځکه چې ظلم به د قیامت په ورځ تاریکي وي او د بخل څخه ځان ژغورئ ځکه چې بخل هلاک کړي دي هغه خلک

قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ. رواه مسلم

کوم چې ستاسو څخه وړاندي وه، بخل هغوی په دې اماده کړي وه چې هغوی وژني وکړي او حرام حلال وګڼي.

تخریج: صحیح مسلم: ۱۹۹۶\۴، رقم: ۵۶-۲۵۷۸.

تشریح: د ظلم اصلي مفهوم دادی چې یو شی په خپل ځای کې نه استعمالول مثلا د انسان د تخلیق مقصد دادی د الله تعالی عبادت او اطاعت کول او پر نیکه لار باندې تلل اوس که د انسان نفس اماره د هغه تخلیق د هغوی د مقصد څخه په لیرې کولو سره د الله تعالی څخه د بغاوت سرکشي او پر بدې لارې بوځي نو دې ته به ظلم ویل کیږي نو د ظلم مفهوم په ټولو ګناهونو کې ګډ دی یعني څوک چې ګنهکار وي هغه ته به ظالم ویل کیږي.
ظلم به د تاریکۍ په شکل کې وي په دې باره کې علامه طیبي رحمة الله علیه فرمائي دا جمله پر خپلې ظاهري معنی باندې محموله ده یعني د قیامت په ورځ به ظلم د ګناه کار مخکې د تیارو په صورت کې وي چې په هغه کې به ظالم سرګردان ګرځي او د هغه په وجه به د نجات لار نه ترلاسه کوي څرنګه چې د مومن صالح په باره کې نقل دي چې هغه به د قیامت په ورځ د خلاصون لار

داسي ترلاسه کوي چي د هغوی ټولو د سعادت او نیک بختي نور به د هغوی مخ ته مخ ته زغلي چي د هغه په رښا کي به د جنت د همیشه نیک بختیو لار د هغوی مخکي وي او هغوی به پر هغه په اطمینان او آساني سره په تلو سره د خپل رب رضا او رحمت ترلاسه کوي.

یا دا هم احتمال دی چي د تیارو څخه د قیامت د ورځي سختي مراد ده یعني دا ظالمان به د قیامت په ورځ په ډیرو سختو عذابو کي اخته وي. د بخل څخه د ځان ساتلو ځکه فرمایل سوي دي چي بخل نه یوازي دا چي د ظلم یو قسم دی بلکه د ظلم یو ډېر لوی قسم دی نو دا وجه ده چي د ظلم څخه د ځان ساتلو د یو عمومي فرمان وروسته په یو خاص ډول (د بخله څخه د ځان ساتلو) تائید فرمایل سوی دی.

بخل د ویني تویولو او حرام او حلال باعث ښودل سوی دی ځکه چي خپل مال او زر د نورو د راحت لپاره خرڅول او همداسي د خپلو مسلمانانو وړونو خیر خواهي په حقیقت کي د محبت ذریعه ده چي د هغه په اخري نتیجه کي په خپلو کي دښمني ده او دا بالکل ظاهره خبره ده چي کله د یو بل سره دښمني سي نو بیا وینه تویول هم کیږي د دې دښمنۍ یو دوهم اړخ حرامي خبري مباح او حلال ګڼل هم دي ځکه چي کوم سړی هم وي هغه د دښمني د جذباتو څخه په متاثره کیدو سره خپل دښمن ښځي د هغه مال او زر او د هغه ابرو بې عزتي او داسي نور حلال ګڼي ځکه چي چیري یو خوا ته بخل د خونریزي سبب ښودل سوی دی همداسي دویمي خوا ته هغه حرام د حلال ګڼلو باعث هم فرمایل سوی دی.

تولنیزه اړتیا

﴿۱۷۷۲﴾: وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ تَصَدَّقُوا فَإِنَّهُ

د حضرت حارثة بن وهب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خیرات کوئ ځکه

يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ يَمْشِي الرَّجُلُ بِصَدَقَتِهِ فَلَا يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا يَقُولُ الرَّجُلُ

یوه داسي زمانه به راسي چي خلک به خیرات په لاس کي ګرځوي او څوک قبلوونکی به نه وي او هر سړی به دا ورته وایي

لَوْ جِئْتَ بِهَا بِالْأَمْسِ لَقَبِلْتُهَا فَأَمَّا الْيَوْمَ فَلَا حَاجَةَ لِي بِهَا. متفق عليه

که تا پرون راوړی وای نو ما به اخیستی وای نن ما ته ضرورت نسته. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۲۸۱، رقم: ۱۴۱۱، ومسلم ۲\۷۰۰، رقم: ۵۸-۱۰۱۱.

تشریح: د الله تعالی د رضا لپاره خپل مال خرڅوئ: د دې مطلب دادی چې دا وخت د الله تعالی په لار کې خپل مال خرڅول غنیمت او په خپل حق کې باعث سعادت وګڼی ځکه چې بیا به د صدقې مال قبلونکی څوک سړی نه تر لاسه کوې ځکه چې یا خو به هغه وخت ټول خلک مالداره وي یا دا چې د دنیا څخه په بې رغبتی او د آخرت خوا ته د میلان او رغبت په وجه د هغوی زړونه به غني او بې پرواه وي علماء لیکي دا هم د هغې زمانې خوا ته اشاره ده کله چې دا فاني دنیا به د خپل علم اخري حدونو ته رسیدلې وي او حضرت امام مهدي علیه السلام به په دې عالم کې تشریف فرما یي.

د صدقې غوره وخت

﴿۱۷۷۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ چې

الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا قَالَ أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ تَخْشَى الْفَقْرَ

د کومې صدقې ثواب زیات دئ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: په داسې حال کې خیرات کول چې روغ یې، د مال یو ځای کولو غوښتنه او حرص لري د مفلسې څخه بیریږي

وَتَأْمُلُ الْغِنَى وَلَا تُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتْ الْحُلْقُومَ قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا وَلِفُلَانٍ كَذَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ. متفق عليه

او د شتمنی امید لري نو په صدقه ورکولو او خیرات کولو کې سستي مه کوه تر څو چې ستا ساه حلق ته راورسیږي نو بیا ته دا ووایې چې دومره مال د فلاني لپاره دئ او دومره مال د فلاني لپاره حال دا چې ته په دې پوهیږې چې مال د فلاني دئ. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۸۴، ۲۸۵، رقم: ۱۴۱۹، ومسلم ۲\ ۷۱۶، رقم: ۹۲- ۱۰۳۲.

تشریح: مطلب دادی چې افضله او د ډیر زیات د ثواب باعث هغه صدقه ده چې په ژوند کې په هغه زمانه کې ادا سي کله چې صحت او روغتیا ملګري وي ځکه چې د ژوند په هغه حصه کې د عمر د اوږدوالي امید د مال د جمع کولو د حوص باعث وي صحت مند او تندرست انسان نه یوازې دا چې د جنګ په میدان کې د مخکې کیدو کوشش کوي مګر د هغه جبلت طبعي د بخل خوا ته مائله وي دننه پټ شیطان هغه د فقرا او محتاجې څخه بیروي او د هغه په زړه کې دا

وسوسه او خيال ورپيدا کوي چي د الله تعالى په لار کي د خپل مال خرڅولو په وجه چيري مفلس نسم او د زيات دولت حاصلولو خواهش ډير واره د حرص او هوس تکل اختيار وي نو د ژوند په دې حصه کي د الله تعالى د رضا لپاره مال خرڅول په حقيقت کي د نيک بختي او سعادت معراج دی.

د حديث د اخري جملې (ولا تمهل .....الخ) مطلب دادی چي په صدقه ورکولو او خيرات کولو کي زنډ ، سستي او غفلت مه کوه چي کله ژوند پر ختميدو سي ساه حلق ته راسي نو بيا وائي دومره مال د فلاني سړي لپاره دی او دومره مال د فلاني لپاره دی حال دا چي هغه وخت هغه مال د وارثانو دی په دې توګه چي د وارثانو حق متعلق سي.

په هر حال د دې ارشاد رسول الله ﷺ وضاحت داسي کړی دی چي د صحت او روغتيا په حالت کي خپل مال د الله تعالى په لار کي خرڅول د لوی فضيلت او ثواب خبره ده خو کله چي د مرګ وخت راسي نو هغه وخت د خپل مال په نيکو کارونو کي د خرڅولو وصيت کوي هغه وخت د الله تعالى په لار کي خرڅول د زيات ثواب باعث نه دي.

بخل د تاوان سبب دئ

﴿۱۷۷۴﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم

فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ فَلَمَّا رَآنِي قَالَ هُمُ الْأَخْسَرُونَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ فَقُلْتُ فِدَاكَ أَبِي

رسول الله ﷺ د کعبې شريفې په سايه کي ناست وو چي زه يې وليدم نو وې فرمايل : د کعبې پروردګار دي مي قسم وي! هغه خلک په لوی تاوان کي دي، ما عرض وکړ اې د الله رسوله!

وَأُمِّي مَنْ هُمْ قَالَ هُمُ الْأَكْثَرُونَ أَمْوَالًا إِلَّا مَنْ قَالَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا

زما مور اوپلار دي پر تاسو قربان وي هغه کوم خلک دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ډير مال يو ځای کوونکی ، خو (هغه خلک مستثنی دي) چي هغوی آخوا دېخوا او دې طرف ته يعني

مِنْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ وَعَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَقَلِيلٌ مَا هُمْ . متفق عليه

خپل وړاندي او وروسته او راسته چپه لور ته خرڅ وکړ او داسي خلک کم دي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۵۲۴، رقم: ۶۶۳۸، ومسلم ۲\ ۶۸۶، رقم: ۳۰- ۹۹۰.

تشريح: ابوذرغفاري رضي الله عنه فقر او مفلسي د خپل ژوند امتياز جوړ کړی وو ، او همداسي هغه دنيا او د دنيا د آسائشونو څخه مخ په ګرځولو سره غناء ، مفلسي او فقر ته ترجيح ورکړې وه ځکه رسول الله ﷺ د هغوی د تسلي او اطمينان قلب د خاطره دا حديث ارشاد وفرمايه، ګويا په دې ارشاد کي د دنيا څخه بې شوقي او د فقر فضيلت ته اشاره ده .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۱۷۷۵﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّخِيُّ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : سخي

قَرِيبٌ مِنَ اللّٰهِ قَرِيبٌ مِنَ الْجَنَّةِ قَرِيبٌ مِنَ النَّاسِ بَعِيدٌ مِنَ النَّارِ وَالْبَخِيلُ

نژدې دئ د الله ﷻ رحمت ته، نژدې دئ جنت ته او نژدې دئ خلکو ته (يعني ټول يې خوښوي) او ليرې دئ د دوزخ څخه، او بخيل سړی

بَعِيدٌ مِنَ اللّٰهِ بَعِيدٌ مِنَ الْجَنَّةِ بَعِيدٌ مِنَ النَّاسِ قَرِيبٌ مِنَ النَّارِ وَلَجَاهِلٌ

ليرې دئ د الله د رحمت څخه، ليرې دئ د جنت څخه، ليرې دئ د خلکو څخه او نژدې دئ دوزخ ته او جاهل

سَخِيٌّ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ عَابِدٍ بَخِيلٍ . رواه الترمذي .

سخي د الله ﷻ په نزد تر بخيل عابد غوره دئ . ترمذي .

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۳۰۲، رقم: ۱۹۶۱.

تشريح: د جاهل سخي څخه د عابد ضد يعني هغه سخي مراد دی چې فرائض خو کوي خو د نوافلو پابندي نه کوي همداسي د عابد بخيل څخه مراد هغه بخيل دی چې نوافل ډير زيات ادا کوي که څه هم هغه عالم وي يا عالم نه وي .

په ژوند کي خيرات کوئ

﴿۱۷۷۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنْ

د حضرت ابوسعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَتَصَدَّقَ الْمَرْءُ فِي حَيَاتِهِ بِدِرْهَمٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ عِنْدَ مَوْتِهِ . رواه ابوداؤد .

د انسان د خپل روغتیا په ورځو کي یوه روپي خیرات کول د مرګ په وخت کي تر سلو روپو خیرات کولو غوره دئ . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۳\ ۲۸۸، رقم: ۲۸٦٦.

تشریح: مطلب دادی چي د صحت او روغتیا په حالت کي خپل مال په کم شمیر او کم مقدار کي د الله تعالی په لار کي خرڅول د مرګ پر وخت د ډیر زیات مال خرڅولو څخه بهتر دي او د دې په مقابله کي د ډیر زیات ثواب باعث وي .

د مرګ په وخت کي د خیرات کونکي مثال

﴿۱۷۷﴾: وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مثال

الَّذِيْ يَتَصَدَّقُ عِنْدَ مَوْتِهِ اَوْ يَعْتِقُ كَالَّذِيْ يُهْدِيْ اِذَا شَبِعَ . رواه احمد والنسائي والدارمي والترمذي و صححه .

د هغه چا چي د مرګ په وخت کي خیرات وکړي یا غلام آزاد کړي داسي دئ لکه څوک چي چا ته د تحفې په توګه هغه وخت ډوډۍ ولیږي چي په خپله مور سي ، احمد ، نسائي ، دارمي، ترمذي، او هغه د دې تصحیح وکړ .

تخریج: الامام احمد في مسنده ٦\ ۴۴۸، والنسائي ٦\ ۲۳۸، رقم: ۳٦۱٦، والدارمي ۲\ ۵۰۵، رقم: ۳۲۲٦، والترمذي ۴\ ۳۷۸، رقم: ۲۱۲۳.

تشریح: د دې ارشاد مفهوم دادی چي د مرګ پر وخت د الله تعالی په لار کي خپل مال خرڅول یا غلام ازادول د کم ثواب باعث دي څرنګه چي یو ضرورتمند ته داسي وخت ډوډۍ ورکول د کم ثواب باعث دی کله چي د هغه نس ډک سوی وي څرنګه چي یو سړي ته د هغه د لوږې په حالت کي ډوډۍ خوړل یا د هغه سره سخاوت کول افضل او د زیات ثواب باعث دي همداسي د صحت او روغتیا په حالت کي مال د الله تعالی په رضا کي خرڅول یا غلام ازادول زیات افضل

او د زیات ثواب باعث دي.

ایمان او بخل یو د بل ضد دي

﴿۱۷۷۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِيْ مُؤْمِنٍ الْبُخْلُ وَسُوْءُ الْخُلُقِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په مؤمن کي دوه عادته نه سي یو ځای کیدلای یو بخل او بل بد اخلاقي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۳۰۲، رقم: ۱۹۶۲.

تشریح: د دې ارشاد مطلب دادی چې دا مناسب او لائق نه دی چې په کامل مؤمن کي دا دواړه خراب خصلتونه جمع سي یا مراد دادی چې په یو مومن کامل کي دا دواړه خراب خصلتونه د دې درجې نه دي چې هغه کله د دې څخه جلا نسي او د هغه په موجودتیا کي مطمئن او راضي وي هو که د بشریت په تقاضا یو کامل مؤمن بد خلقي وکړي یا په هغه کي بخل پیدا سي بیا وروسته هغه ته پښیماني او شرمندګي وي او د هغه په وجه هغه پښیمانه سي او خپل نفس ملامت کړي نو دا د کمال ایمان خلاف نه دی.

خلق پر هغو کارو باندي د عمل کولو نوم دی د کوم چې شریعت تعلیم ورکړی دی، خلق یا اخلاق نورو ته په کښته کیدو سره او په ورین تندي سره د مخامخ کېدو یا په ټولو معاملو کي د نرمي کولو نوم نه دی څرنګه چې په عامو خلکو کي مشهوره وه ځکه چې په ځینې کارونو کي سختي اختیارول د ایمان تقاضا ده دلته په حدیث کي د ذکر سوي بد اخلاقي څخه مراد د هغه کارونو خلاف ورزي کول دي چې د هغه اسلام تعلیم ورکړی دی.

درې کسان به جنت ته ولاړ نه سي

﴿۱۷۷۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خِبٌّ وَلَا مَنَّانٌ وَلَا بَخِيْلٌ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چمباز او بخیل به جنت ته ولاړ نه سي او نه هغه څوک چې په احسان اچولو سره خیرات کوي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۳۰۲- ۳۰۳، رقم: ۱۹۶۳.

د لغاتو حل: (خِب): (ای خداع یفسد بین الناس) (چمباز).

تشریح: مطلب دادی چې دا دري سره به په جنت کې اولني ببله عذاب څخه نه داخلیږي مګر دوی به د خپل خپل جرم سزا ترلاسه کوي نو د عذاب وروسته به په جنت کې داخلیږي.
د بخیل څخه مراد هغه سړی دی چې د خپل مال څخه واجب حق نه ادا کوي د منان یوه معنی خو هغه ده کومه چې په ترجمه کې ذکر کړه سوې ده د دې دوهمه معنی د پریکونکي ده یعنې هغه سړی چې د خپلو خپلوانو او قریبانو سره تعلقات پریږدي او د مسلمانانو سره د محبت معامله نه کوي.

دوه خراب عادتونه

﴿۱۷۸۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرُّ مَا

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

فِي رَجُلٍ شُحٌّ هَالِعٌ وَجُبْنٌ خَالِعٌ . ابوداؤد، و سنذکر حدیث ابي هریرة لا یجتمع الشح والایمان في کتاب الجهاد ان شاء الله تعالی.

د انسان په عادتونو کې دوه ډیر خراب عادتونه دي یو خو ډیر زیات بخل او بل ډیره بیره، ابوداؤد، او ډیر ژر به انشاء الله د ابوهریرة حدیث چې د (بخیل او ایمان نه سي یو ځای کیدلای) په کتاب الجهاد کې بیان کړل سي

تخریج: سنن ابي داؤد ۳\۲۶- ۲۷، رقم: ۲۵۱۱.

د لغاتو حل: (الهلع): اشد الجزع والضجر، و خالع اي شدید کانه یخلع فؤاده من شدة خوفه. (ډیره بیره)

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د الله ﷻ په لاره کې د مصرفولو فضیلت

﴿۱۷۸۱﴾: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ بَعْضَ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَ لِلنَّبِيِّ

د حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ ځینو بیبیانو رسول الله ﷺ ته وویل:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّنَا أَسْرَعُ بِكَ لُحُوقًا قَالَ أَطْوَلُكُنَّ يَدًا فَأَخَذُوا قَصَبَةً

په موږ کي به څوک ستاسو سره ژر يو ځای کيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چې د چا لاس تر ټولو لوی وي ، د دې په اوريدو سره بيبيانو لرګي راواخيستل

يَذْرَعُونَهَا فَكَانَتْ سَوْدَةُ أَطْوَلَهُنَّ يَدًا فَعَلِمْنَا بَعْدُ أَنَّمَا كَانَتْ طُولَ يَدِهَا

او په هغه سره يې خپل لاسونه اندازه کول پيل کړل، د بي بي سودې (رض) لاسونه اوږده وختل، مګر وروسته موږ ته څرګنده سوه چې د اوږدو لاسو څخه د رسول الله ﷺ مراد

الصَّدَقَةُ وَكَانَتْ أَسْرَعَنَا لُحُوقًا بِهِ زَيْنَبُ وَكَانَتْ تُحِبُّ الصَّدَقَةَ. رواه البخاري

صدقه او خيرات کول وه نو په موږ ټولو کې وړاندې بي بي زينب وفات سوه چې ډير خيراتونه به يې کول ، بخاري شريف

و في رواية مسلم قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْرَعُكُنَّ لَحَاقًا بِي

او د مسلم په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې بي بي عائشې ﷺ وويل : رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کې زما سره ژر يو ځای کېدونکې

أَطْوَلُكُنَّ يَدًا قَالَتْ فَكُنَّ يَتَطَاوَلْنَ أَيَّتُهُنَّ أَطْوَلُ يَدًا قَالَتْ فَكَانَتْ أَطْوَلَنَا يَدًا

اوږدو لاسو والا ده ، بي بي عائشة ﷺ وايي چې بيبيانو خپل لاسونه اندازه کول پيل کړل چې د چا لاسونه اوږده دي نو په موږ کې

زَيْنَبُ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَصَدَّقُ .

د بي بي زينب لاسونه اوږده وه ځکه چې هغې به په خپل لاسو سره ټول کارونه او خيرات کوئ .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۸۵، رقم: ۱۴۲۰، ومسلم ۴\ ۱۹۰۷، رقم: ۱۰۱- ۲۴۵۲.

تشريح : (فعلمنا) خو وروسته موږ ته معلومه سوه : د دې مطلب دادی کوم وخت چې رسول الله ﷺ دا ارشاد وفرمايه نو موږ د لاس اوږدوالی د دې پر ظاهري معنی باندې محمول کی چې واقعتا د چا لاس تر ټولو اوږد وي هغه به ژر د رسول الله ﷺ سره ملاقات کوي نو معلومه سوه چې د لاس د اوږدوالي څخه مراد د صدقه او خيرات کثرت وو ګويا د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا وو چې د تر ټولو اوږدو لاسو والا هغه دی چې تر ټولو زيات خيرات او صدقه کوي .

د بي بي زينب رضي الله عنها په باره کې نقل دي چې هغې به په خپل لاس سره د پوست د

پخولو کار کوی بیا به یې هغه خرڅوی او کوم قیمت چې به ورته رسول الله ﷺ ایښودی هغه به یې د الله تعالی د رضا لپاره د الله تعالی په لاره کې خرڅوی.

د بني اسرائیلو واقعه

﴿۱۷۸۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په بني اسرائیلو کې یو سړي وویل:

لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ فَأَصْبَحُوا

زه نن (شپه) یو خیرات کوم، هغه مال واخیستئ روان سو او (په تیاره کې) یو غله ته یې ورکړئ کله چې سهار سو نو

يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ عَلَى سَارِقٍ فَقَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ

په خلکو کې اوازه سوه چې نن (شپه) غله ته خیرات ورکړل سوئ دئ هغه سړي چې دا واوریدل نو وه یې فرمایل: اې الله! غله ته په صدقه ورکولو تالره تعریف دئ، ددې وروسته هغه وویل: نن به زه بیا خیرات کوم،

فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدَيْ زَانِيَةٍ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ

نو هغه مال واخیستئ او ووتی او یوې زنا کاري ښځې ته یې خیرات ورکړئ کله چې سهار سو نو په خلکو کې اوازه سوه چې د شپې

عَلَى زَانِيَةٍ فَقَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى زَانِيَةٍ لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ

زنا کاري ښځې ته صدقه ورکړل سوې ده، هغه سړي چې دا واوریدل نو وه یې ویل: اې الله! زنا کاري ته په صدقه ورکولو تالره تعریف دئ، ددې وروسته هغه وویل: نن به زه بیا خیرات کوم نو هغه د مال سره ووتئ

بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدَيْ غَنِيٍّ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ عَلَى غَنِيٍّ فَقَالَ

او یو شتمن سړي ته یې خیرات ورکړ کله چې سهار سو نو په خلکو کې اوازه سوه چې د شپې

شتمن سړي ته صدقه ورکړل سوې ده ، هغه سړي چې دا واوريدل نو وه يې ويل :

اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى سَارِقٍ وَعَلَى زَانِيَةٍ وَعَلَى غَنِيٍّ فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ أَمَّا صَدَقَتُكَ

اې الله ! غله ته ، زناکاري ته او شتمن ته په صدقه ورکولو باندې تالره تعريف دئ ، نو هغه ته په خوب کې وښودل سول او ورته وويل سول چې : کومه صدقه چې تا

عَلَى سَارِقٍ فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعِفَّ عَنْ سَرِقَتِهِ وَأَمَّا الزَّانِيَةُ فَلَعَلَّهَا أَنْ تَسْتَعِفَّ

غله ته ورکړې ده کيدای سي چې دا يې د غلا څخه منعه کړي او کومه صدقه چې تا زناکاري ته ورکړې ده کيدای سي چې هغه د زنا څخه منعه کړي

عَنْ زِنَاهَا وَأَمَّا الْغَنِيُّ فَلَعَلَّهُ يَعْتَبِرُ فَيُنْفِقُ مِمَّا أَعْطَاهُ اللَّهُ . متفق عليه و لفظه للبخاري .

او کومه صدقه چې تا شتمن ته ورکړې ده کيدای سي چې د هغه لپاره نصيحت او عبرت سي او څه چې الله تعالى هغه ته ورکړي دي د هغه څخه نفقه وکړي . بخاري او مسلم مګر دا الفاظ د بخاري دي .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۳\ ۲۹۰، رقم: ۱۴۲۱، ومسلم ۲\ ۷۰۹، رقم: ۷۸- ۱۰۲۲.

تشريح : صدقه ورکوونکي د الله تعالى تعريف د شکر په توګه وکړ چې د الله تعالى شکر دی چې ما صدقه خو ورکړه که څه هم غير مستحقين ته په لاس ورغلل او يا د تعجب په توګه د زړه د اطمينان لپاره هغه د الله تعالى تعريف وکړی .

په هر حال رسول الله ﷺ د بني اسرائيلو د هغه سړي واقعه ځکه بيان کړه چې معلومه سي چې د الله تعالى د رضا لپاره صدقه او خيرات په هر صورت غوره او د ثواب باعث دی ، څوک چې صدقه ورکړي ضرور به ثواب ترلاسه کوي .

د الله ﷻ په لاره کې د مصرف کولو برکت

﴿۱۷۸۳﴾ : وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا رَجُلٌ بِفَلَاةٍ مِنَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړی په ځنګل کې ولاړ وو

الْأَرْضِ فَسَمِعَ صَوْتًا فِي سَحَابَةٍ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ فَتَنَحَّى ذَلِكَ السَّحَابُ

هغه د وريځي څخه آواز واوريدئ چې د فلاني سړي باغ اوبه کړه بيا هغه وريځ يوې خوا ته ولاړه

فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِي حَرَّةٍ فَإِذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدْ اسْتَوْعَبَتْ ذَلِكَ الْمَاءَ

او پريو ډبرني مځکي باندې يې باران واوروئ او هغه اوبه په کوچنۍ نالیو کې يو ځای سوې

كُلَّهُ فَتَتَبَّعَ الْمَاءَ فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي حَدِيقَتِهِ يُحَوِّلُ الْمَاءَ بِمِسْحَاتِهِ فَقَالَ لَهُ

او لويه ويالې ځينې جوړه سوه او پر مخ ولاړې هغه سړي ددې څرګندولو لپاره چې دا اوبه چيرې ځي د اوبو سره روان سو ناڅاپه هغه يو سړی وليدی چې په خپل بېلچې سره آخوا دېخوا اوبه خپروي، پوښتنه ځينې وسول چې

يَا عَبْدَ اللَّهِ مَا اسْمُكَ قَالَ فُلَانٌ لِلِاسْمِ الَّذِي سَمِعَ فِي السَّحَابَةِ فَقَالَ لَهُ يَا

اې د الله بنده ! ستا نوم څه شي دئ ؟ هغه ورته وويل زما نوم فلانی دئ (يعني هغه نوم يې ور وښودئ کوم چې وريځي ته ويل سوئ وو)، بيا د هغه څخه پوښتنه وسول اې د الله بنده !

عَبْدَ اللَّهِ لِمَ تَسْأَلُنِي عَنْ اسْمِي فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ صَوْتًا فِي السَّحَابِ الَّذِي

تا زما د نوم څنګه پوښتنه وکړه ؟ هغه سړي ورته وويل : ما ددې وريځي څخه چې دا دهغې اوبه دي دا آواز واوريدئ

هَذَا مَاؤُهُ وَيَقُولُ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ لِاسْمِكَ فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا قَالَ أَمَّا إِذْ قُلْتَ

چې د فلاني سړي باغ اوبه کړه ، نو ته دا راته وويل چې ته په خپل باغ کې د نيکۍ کوم کار کوې؟ هغه ورته وويل : هر کله چې تا دا پوښتنه وکړه نو زه يې درښيم

هَذَا فَإِنِّي أَنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ وَآكُلُ أَنَا وَعِيَالِي ثُلُثًا وَأَرُدُّ فِيهَا ثُلُثَهُ . رواه مسلم .

څه چې زما په باغ کې پيدا کيږي د هغې دريمه برخه خيراتوم او دريمه برخه خپل کورنۍ باندې خرڅوم او دريمه برخه په باغ کې لګوم . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۲۸۸، رقم: ۴۵- ۲۹۸۴.

تشریح: که څه هم د وریځي اواز د باغ والا نوم صراحة اخستی وو څرنګه چي وروسته ذکر هم سوه خو رسول الله ﷺ دا واقعه په اوریدو سره په شروع کي صراحة د هغه نوم وانه خستی مګر د لفظ فلان سره يې د هغه نوم کناية ذکر کی.

همداسي د وریځي اواز اوریدونکي سړي هم د وریځي څخه د باغ والا نوم صراحة اوریدلی وو بیا هغه د باغ والا څخه د هغه نوم ځکه وپوښتی چي هغه ته یقین وسي چي بیشکه دا هغه سړی دی چي د هغه نوم د وریځي اواز اخستی وو کوم وخت چي باغ والا د هغه نوم د پوښتلو سبب وپوښتی نو هغه د وریځي اواز په نقلولو سره هم د هغه نوم يې وانه خستی بلکه لفظ فلان يې ووایه ګویا هغه ظاهره کړه که څه هم د وریځي اواز ستا نوم صراحة اخستی وو خو زه دا وخت ستا د خاص نامه په ځای فلان لفظ ذکر کوم، حاصل دادی چي غیبي اواز د باغ د مالک نوم ښکار ذکر کړی وو مګر اوریدونکي هغه نوم د فلان په لفظ سره کفایة تعبیر کړ او هغه ته يې وویل چي ستا نوم ما واوریدی مګر هغه مي اوس په فلان سره تعبیر کړ.

د بني اسرائیلو د درو کسانو قصه

﴿۱۷۸۴﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ ثَلَاثَةً فِي

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي په بني اسرائیلو کي درې کسان وه چي

بَنِي إِسْرَائِيلَ أَبْرَصَ وَأَقْرَعَ وَأَعْمَى فَأَرَادَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ فَبَعَثَ

یو پیس (د جزام په ناروغی اخته) دوهم پک او دریم رونده وو، الله تعالی د هغوی ازموینه اخیستل وغوښتل، هغوی ته يې راولیږل

إِلَيْهِمْ مَلَكًا فَأَتَى الْأَبْرَصَ فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ لَوْنٌ حَسَنٌ وَجِلْدٌ

یوه ملائکه، ترتولو وړاندي جزامي ته راغلل پوښتنه يې وکړه ستا ترتولو زیات کوم شی خوښ دئ؟ هغه ووویل ښکلی رنګ او

حَسَنٌ قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ قَالَ فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ فَأُعْطِيَ لَوْنًا حَسَنًا

ښکلی پوست او د بدن څخه ددې ناروغی لیرې کیدل چي ددې له کبله خلک زما څخه نفرت کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل: ملائکي چي دا واوریدل نو د هغه پر بدن يې لاس تیر کړ او د هغه ناروغي

ختمه سوه ، او پوست يې ښكلي او پاک سو ،

وَجِلْدًا حَسَنًا فَقَالَ أَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْإِبِلُ أَوْ قَالَ الْبَقَرُ هُوَ شَكَّ فِي

ددې وروسته ملائكي ورته وويل ستا كوم ډول مال خوښ دئ ؟ هغه وويل اوښان يا غواوي ، (ددې حديث راوي ته شک دئ چې هغه اوښان وويل كه غواوي)

ذَلِكَ إِنَّ الْأَبْرَصَ وَالْأَقْرَعَ قَالَ أَحَدُهُمَا الْإِبِلُ وَقَالَ الْآخَرُ الْبَقَرُ فَأُعْطِيَ

په جزامي او پک دواړو كي يوه اوښان وښودل او بل غواوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه د غوښتني سره سم هغه ته بلاربي اوښي ورکړل سوې

نَاقَةً عُشَرَاءَ فَقَالَ يُبَارَكُ لَكَ فِيهَا وَأَتَى الْأَقْرَعَ فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ

او ملائكي دعاء ورته وكړه چې الله دي ستا لپاره په دې كي بركت واچوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې وروسته ملائكه هغه پک سړي ته راغلل او پوښتنه يې ځيني وكړه چې ستا كوم شى خوښ دئ ؟

قَالَ شَعَرٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّي هَذَا قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ قَالَ فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ

هغه ورته وويل : ښكلي ورېښتان او ددې ناروغي ليرې كېدل ، چې ددې له كبله خلک زما څخه نفرت كوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ملائكي د هغه پر سر لاس تير كړ

وَأُعْطِيَ شَعَرًا حَسَنًا قَالَ فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْبَقَرُ قَالَ فَأُعْطَاهُ بَقَرَةً

او د هغه پكتوب ختم سو او ښكلي ورېښتان ورکړل سول ، بيا ملائكي پوښتنه وكړه ستا كوم مال خوښ دئ ؟ هغه ورته وويل غواوي ، نو هغه ته بلاربي غواوي ورکړل سوې

حَامِلًا وَقَالَ يُبَارَكُ لَكَ فِيهَا وَأَتَى الْأَعْمَى فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ

او ملائكي دعاء ورته وكړه چې الله تعالى دي ستا په دې مال كي بركت واچوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې وروسته ملائكه هغه رونده سړي ته راغلل او پوښتنه يې ځيني وكړه چې ستا كوم شى خوښ دئ ؟ هغه وويل :

يَرُدُّ اللَّهُ إِلَيَّ بَصَرِي فَأُبْصِرُ بِهِ النَّاسَ قَالَ فَمَسَحَهُ فَرَدَّ اللَّهُ إِلَيْهِ بَصَرَهُ قَالَ

یوازي دا چي الله تعالی مي ړوند والی ختم کړي چي په سترګو سره خلک ووینم ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ملائکي د هغه پر سترګو لاس تیر کړ نو الله تعالی هغه بنا (لیدونکی) کړ ، بیا ملائکي پوښتنه وکړه چي

فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْغَنَمُ فَأَعْطَاهُ شَاةً وَالِدًا فَأُنْتِجَ هَذَانِ وَوَلَّدَ هَذَا

ستا کوم ډول مال خوښ دئ ؟ هغه وویل : پسونه، نو هغه ته ډیري میږي ورکړل سوې ، د درو سره په مال کي الله تعالی برکت واچوئ د جزامي او پک د اوښانو او غواوو څخه ځنګل ډک سو

فَكَانَ لِهَذَا وَادٍ مِنْ إِبِلٍ وَلِهَذَا وَادٍ مِنْ بَقَرٍ وَلِهَذَا وَادٍ مِنْ غَنَمٍ ثُمَّ إِنَّهُ أَتَى

او د ړانده لپاره یوه شیله د پسو ، نبي کریم ﷺ وفرمایل : ددې وروسته ملائکه

الْأَبْرَصَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ فَقَالَ رَجُلٌ مِسْكِينٌ قَدِ انْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي

په خپل اصلي شکل کي چي ورانديراغلې وه جزامي ته راغلل او ورته وه یې ویل زه یو مسکین سړی یم د سفر سامان نه لرم

سَفَرِي فَلَا بَلَاغَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللَّهِ ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ بِالَّذِي أَعْطَاكَ اللَّوْنَ الْحَسَنَ

نن ورځ زه نسم کولای چي ورسیږم اول د الله تعالی مهرباني او بیا ستا سبب کیدای سي زه تا ته د هغه ذات واسطه درکوم چي ښه رنګ او مال یې درکړئ دئ

وَالْجِلْدَ الْحَسَنَ وَالْمَالَ بَعِيرًا أَتَبَلَّغُ بِهِ فِي سَفَرِي فَقَالَ لَهُ إِنَّ الْحُقُوقَ

یو اوښ غواړم چي ددې په ذریعه خپل منزل ته ورسیږم ، جزامي په جواب کي ورته وویل پر ما ډیر حقوق دي (یعني زما ډیر حقدار موجود دي او دهغوی په شتون کي تاته څه حق نه رسیږي)

كَثِيرَةٌ فَقَالَ لَهُ كَأَنِّي أَعْرِفُكَ أَلَمْ تَكُنْ أَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ فَقِيرًا فَأَعْطَاكَ

ملائکي ورته وویل کیدای سي زه تا پیژنم ته هغه جزامي نه یې چي خلکو به در څخه نفرت کوئ ته فقیر وې الله تعالی مال درکړئ ،

اللَّهُ مَالًا فَقَالَ لَقَدْ وَرِثْتُ لِكَابِرٍ عَنْ كَابِرٍ فَقَالَ إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللَّهُ

جزامي ورته وويل : دا مال ما ته د پلرونو او نيکو څخه په لاس راغلئ دئ ، ملائکي ورته وويل : ښه دئ که ته درواغجن يې نو الله ﷻ دي بيا هغسي کړه څنګه چې پخوا وې،

إِلَى مَا كُنْتَ وَأَتَى الْأَقْرَعَ فِي صُورَتِهِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِهَذَا فَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَ

نو الله تعالى بيا هغسي کړ څنګه چې مخکې وو ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : ملائکه په خپل اصلي شکل کې پک ته راغلل او هغه ته يې هغه وويل څه چې يې جزامي ته ويلي وه ، هغه هم هغسي جواب ورکړ څنګه چې جزامي ورکړئ وو

مَا رَدَّ عَلَيْهِ هَذَا فَقَالَ إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللَّهُ إِلَى مَا كُنْتَ وَأَتَى الْأَعْمَى فِي

نو ملائکې ورته وويل ښه دئ که ته درواغجن يې نو الله تعالى دي هغسي کړه لکه څنګه چې وړاندې وې ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې وروسته ملائکه په خپل اصلي شکل کې هغه رڼوند ته راغلل

صُورَتِهِ فَقَالَ رَجُلٌ مِسْكِينٌ وَابْنُ سَبِيلٍ وَانْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي فَلَا

او ورته وه يې ويل : زه يو مسکين سړی يم ، مسافريم د سفر سامان راسره نسته اوس زه نسم کولای چې و کور ته ورسيږم

بَلَاغَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللَّهِ ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ بِالَّذِي رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ شَاةً أَتَبَلَّغُ بِهَا فِي

د الله په مهربانۍ او ستا په ذريعه سره کيداى سي نوزه تا ته د هغه ذات واسطه درکوم چې تا ته يې بينايي دوهم وار درکړې ده ، دا يو پسه در څخه غواړم چې ددې په ذريعه

سَفَرِي فَقَالَ قَدْ كُنْتُ أَعْمَى فَرَدَّ اللَّهُ بَصَرِي وَفَقِيرًا فَقَدْ أَغْنَانِي فَخُذْ مَا

د خپل سفر سامان پوره کړم ، رڼوند وويل : زه رڼوند وم الله تعالى زه ليدونکى جوړ کړم نو څومره چې دي پکار وي هغه يوسه

شِئْتَ فَوَاللَّهِ لَا أَجْهَدُكَ الْيَوْمَ بِشَيْءٍ أَخَذْتَهُ لِلَّهِ فَقَالَ أَمْسِكْ مَالَكَ فَإِنَّمَا

په الله دي مې قسم وي زه به تا ته د هغه شي د بيرته راکولو تکليف درنه کړم کوم چې ته واخلې ، ددې په اوريدو سره ملائکې ورته وويل : ته دي خپل مال د ځان سره وساته

ابْتُلِيتُمْ فَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنْكَ وَسَخِطَ عَلَى صَاحِبَيْكَ . متفق عليه

پر تاسو ازمويښه وسول، الله ﷻ ستا څخه راضي سو او ستا دملګرو څخه ناراضه سو . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٥٠٠- ٥٠٥، رقم: ٣٤٦٤، ومسلم ٤\ ٢٢٧٥، رقم: ٦- ٢٩٦١

تشريح: د الله تعالى مهرباني وسي او د هغه وروسته ته ذريعه جوړه سې علماء وائي د چا مخكي د سوال كولو پر وخت دا طرز اختيارول جائز دى ځكه چي همداسي د هغوى سوال خو الله تعالى ته وي خو بنده د هغه ذريعه او سبب جوړ سي خو داسي طرز اختيارول چي په هغه كي د الله تعالى سره بنده ته هم د حاجت پوره كولو درجه ورکړه سي مثلا داسي وويل سي چي زه د الله تعالى څخه او ستا څخه سوال كوم قطعا صحيح نه دى .

سوالګر ته يو څه ورکوئ

﴿۱۷۸۵﴾: وَعَنْ أُمِّ بُجَيْدٍ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الْمِسْكِينَ لَيَقُومُ عَلَى

د حضرت ام بجيد (رض) څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ ته وويل: اې د الله رسوله ! مسكين دريږي

بَابِي حَتى استحيي فَلا أَجِدُ في بيتي ما ادفع في يده فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

زما په دروازه كي او ما ته شرم راځي چي هغه ته د ورکولو لپاره زما په كور كي هيڅ هم نه وي، رسول الله ﷺ راته وفرمايل :

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْفَعِي فِي يَدِهِ وَ لَوْ ظِلْفًا مُحْرَقًا . رواه ابوداؤد والترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح .

كه ستا سره سوزېدلې توتې هم وي نو هغه د هغه په لاس كي ورکړه (يعني كه څه هم ډير لږ شى وي) ابوداؤد، ترمذي .

تخريج: الامام احمد في مسنده ٦\ ٣٨٢، وابوداؤد: ٢\ ٣٠٧، رقم: ١٦٦٧، والترمذي ٣\ ٥٢.

د عبرت يوه قصه

﴿۱۷۸۶﴾: وعن مولى لعثمان رضي الله عنه قال : أهدي لأم سلمة بضعة من لحم

د حضرت عثمان رضي الله عنه د آزاد سوي غلام څخه روايت دئ چي بي بي ام سلمة رضي الله عنها ته د (پخ کړي) غوښو يوه ټوټه د تحفې په ډول راوړل سوه ،

وكان النبي ﷺ يعجبه اللحم فقالت للخادم : ضعيه في البيت لعل النبي

د نبي کريم ﷺ به غوښه ډيره خوښه وه ، ام سلمه رضي الله عنها خادمې ته وويل چي دا غوښه په کور کي کښيږده کيداى سي رسول الله ﷺ يې

ﷺ يأكله فوضعته في كوة البيت . وجاء سائل فقام على الباب فقال :

وخوري ، نو مينځي غوښه په تاخچه کي کښيښودل ، په دا وخت کي يو سوالګر راغلئ په دروازه کي ودريدئ او وه يې ويل :

تصدقوا بارك الله فيكم . فقالوا : بارك الله فيك . فذهب السائل فدخل

اې کورواالوو صدقه راکړئ الله تعالى دي برکت درکړي هغه ته وويل سول الله تعالى دي برکت درکړي ، سوالګر چي دا واوريدل نو ولاړئ او نبي کريم ﷺ کور ته تشريف راوړئ

النبي ﷺ فقال : " يا أم سلمة هل عندكم شيء أطعمه ؟ " . فقالت : نعم .

او وه يې فرمايل : ام سلمه ! د خوراک يو شى سته ؟ هغې وويل : هو،

قالت للخادم : اذهبي فأتي رسول الله ﷺ بذلك اللحم . فذهبت فلم تجد

بيا ام سلمة مينځي ته وويل ورسه هغه غوښه راواخله ، مينځه چي ورغلل نو په تاخچه کي يې غوښه پيدا نه کړل

في الكوة إلا قطعة مروة فقال النبي ﷺ : " فإن ذلك اللحم عاد مروة لما لم تعطوه السائل " . رواه البيهقي في دلائل النبوة

مګر د هغه پر ځاى يې د سپيني ډبري يوه ټوټه وليدل ، نبي کريم ﷺ ته چي دا پيښه څرګنده سوه

نو وه يې فرمايل : هغه غوښه د ډبري تودې جوړه سوه ځکه چې تاسو هغه سوال کونکي ته ور نه کړل . بيهقي په دلائل النبوة کې .

تخريج : رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د لغاتو حل : (المروة): الحجارة (ډبره).

د الله ﷻ پر نامه نه ورکول

﴿۱۷۸۷﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُم بِشَرِّ النَّاسِ مَنْزِلًا ؟ قيل : نعم قال : الذي يسأل بالله ولا يعطي به . رواه أحمد

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو دا ونه ښيم چې د الله په نزد تر ټولو خراب څوک دئ ؟ صحابه کرامو عرض وکړ هو ، اې د الله رسوله ! رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د الله په نزد په خلکو کې تر ټولو بد هغه کس دئ چې د هغه څخه د الله په نامه وغوښتل سي او هغه يې نه ورکړي . احمد .

تخريج : الامام احمد في مسنده ۱۱ ۳۱۹.

تشريح : مطلب دادی که يو پوښتنه کونکی د يو سړي څخه د الله تعالی پر نامه او د الله تعالی په واسطې سره په دې توګه سوال وکړي چې د الله تعالی پر نامه ماته څه راکړه او د دې باوجود هغه سړی سائل ته هيڅ نه ورکړي نو هغه د الله تعالی په نزد د ټولو خلکو څخه د مرتبې په اعتبار بد دی هو که سائل مستحق نه وي يا سائل د کوم سړی څخه پوښتنه کړې وي د هغه سره د خپل ضرورت او د هغه د کورنۍ د ضرورت زيات مال نه وي نو بيا د هغه سائل سوال نه پوره کولو په صورت کې نه خو به هغه ګناه کار وي او نه هغه د دې حديث سره سم ګناه کار وي رسول الله ﷺ دا چې د الله تعالی په نامه سره د سوال کونکي سوال نه پوره کونکی به په هغه صورت کې قابل مذمت او ګناه کار وي کله چې سائل د هغه د مال مستحق وي او د هغه سره دومره مال وي چې د هغه د ضروريا تو څخه زيات وي .

مال د يو ځای کولو لپاره نه دئ

﴿۱۷۸۸﴾ : وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّهُ جَاءَ يَسْتَأْذِنُ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې هغه حضرت عثمان رضي الله عنه ته د ورتلو اجازه وغوښتل ،

فَأَذِنَ لَهُ وَبِيَدِهِ عَصَاهُ فَقَالَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَا كَعْبُ إِنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ

عثمان رضي الله عنه اجازه ورکړه ، په دغه وخت کې د ابوذر په لاس کې لکړه وه ، عثمان رضي الله عنه وويل : اې کعب ! عبدالرحمن

تُوُفِّيَ وَتَرَكَ مَالًا فَمَا تَرَى فِيهِ فَقَالَ إِنْ كَانَ يَصِلُ فِيهِ حَقَّ اللَّهِ فَلَا بَأْسَ

وفات سو او مال ځيني پاته سو ، اوس د هغه مال په اړه ستا څه رايه ده ؟ کعب وويل : که هغه د مال څخه د الله جل جلاله حق (زکات) ورکړئ وي نو هيڅ پروا نسته

عَلَيْهِ فَرَفَعَ أَبُو ذَرٍّ عَصَاهُ فَضَرَبَ كَعْبًا وَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ مَا

د دې په اوريدو سره ابو ذر خپله لکړه پورته کړه او کعب يې ووهئ ، بيا يې وويل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې

أُحِبُّ لَوْ أَنَّ لِي هَذَا الْجَبَلَ ذَهَبًا أُنْفِقُهُ وَيُتَقَبَّلُ مِنِّي أَذَرُ خَلْفِي مِنْهُ سِتَّ أَوَاقٍ

زه دا خبره نه خوښوم چې زما سره د احد د غره په اندازه سره زر وي او زه هغه خرڅ نه کړم او زما څخه دي اميد وساتل سي چې زه د هغه څخه شپږ اوقيه پريږدم ،

أَنْشُدُكَ بِاللَّهِ يَا عُثْمَانُ أَسَمِعْتَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَ نَعَمْ . رواه احمد

تر دې وروسته ابو ذر حضرت عثمان ته مخاطب سو او وې ويل : اې عثمانه ! زه تا ته په الله قسم درکوم چې تا هم اوريدلي دي ، درې واره ابو ذر دا الفاظ وويل ، حضرت عثمان وويل هو ، (يعني ما هم داسې اوريدلي دي) احمد .

تخريج : الامام احمد في مسنده ۱\ ۶۳.

تشريح : حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه په يو جماعت کې ناست وو د هغه فقر او زهد امتيازي شان درلودی که دا وويل سي نو بې ځايه به نه وي چې د ابوذر غفاري رضي الله عنه ذات د فقر او زهد او استغناء په باره کې په ټول امت کې يو مثالي حيثيت درلودی دا وجه ده چې د هغوی دا نظريه ده چې د ځان سره د مال او زر اولی ترينه حصه هم جمع نه کړي مګر څه چې هم په خپله قضه او قدرت کې راسي هغه ګرده د الله تعالی په لار کې خرڅ کړی په دې وخت کې هم د هغوی دا جذبه پر هغوی غالبه راغله او هغوی چې د کعب رضي الله عنه څخه د خپل مزاج خلاف خبره واوريده نو هغه

يې ووهی .

په دې باره کي تر څوپوري چې د مسئلې تعلق دی هغه مخکې ښودل سوې ده، د جمهور علماء دا فیصله ده که د مال زکوة ادا کیږي نو بیا د هغه په جمع کولو کي څه تاوان نسته که څه هم هر څومره زیات مال وي .

د رسول الله ﷺ په ارشاد کي جمله (ویتقبل منی) په توګه د مبالغې استعمال سوی دی د دې مطلب دادی چې دومره زیات مال او زر د الله تعالی په لار کي خرڅ کړم د دې باوجود هم کاش چې قبول سي .

لفظ د (اذر) حذف او د هغه سره د احب مفعول دی، ګویا د دې پوره جملې معنی به دا وي که الله تعالی دومره زیات مال راته راکړي او هغه زه د الله تعالی په لار کي خرڅ کړم او بیا په دربار الوهیت کي قبول هم سي نو بیا به هم زه دا نه خوښوم چې د هغه مال څخه کم تر کم شپږ اوقیه خپل وروسته پریږدم .

د رسول الله ﷺ زمانه

﴿۱۷۸۹﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ صَلَّيْتُ وَرَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عقبة بن حارث رضی الله عنه څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ سره په مدینه کي د مازدیګر لمونځ وکړ،

بِالْمَدِينَةِ الْعَصْرَ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ مُسْرِعًا فَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ إِلَى بَعْضِ

رسول الله ﷺ د سلام ګرځولو وروسته سمدستي ولاړ سو او د خلکو پر اوږو اوښتلو سره د خپلو ځینو

حُجَرِ نِسَائِهِ فَفَزِعَ النَّاسُ مِنْ سُرْعَتِهِ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ فَرَأَى أَنَّهُمْ قَدْ عَجِبُوا

بیبیانو د کور په لور ولاړئ ، د دې په لیدلو سره خلک بیري واخیستل ، کله چې رسول الله ﷺ راستون سو او وه یې لیدل چې خلک حیران دي

مِنْ سُرْعَتِهِ فَقَالَ ذَكَرْتُ شَيْئًا مِنْ تِبْرٍ عِنْدَنَا فَكَرِهْتُ أَنْ يَحْبِسَنِي

نو وه یې فرمایل : ما ته د سرو زرو یو شی را یاد سوی وو چې په کور کي پروت وو ما ته بده څرګنده سوه چې هغه ما منعه کړي د قرب الهي څخه

فَأَمَرْتُ بِقِسْمَتِهِ. رواه البخاري و في رواية له قا كنت خلف في البيت تبرا من الصدقة فكرهت ان ابيته .

نو د هغه د وېشلو حكم مي وركړ . بخاري . په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما د سرو زرو يو شى په كور كي پرې ايښى ووما بده وګڼل چي د شپې يې د ځان سره وساتم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۳۳۷، رقم: ۸۵۱، رقم: ۱۴۳۰.

تشريح : د دې حديث څخه معلومه سوه چي د الله تعالى نورو شيانو ته توجه كول هغه د خداى تعالى بندګان چي دربار الوهيت ته نژدې وي د مقام قرب څخه منعه كوي يا خوبيا دا به وويل سي چي د رسول الله ﷺ دا ارشاد د امت لپاره په توګه د تعليم او تنبيه دى چي دنيا او د دنيا د شيانو رغبت او خواهش كيدل نه دى پكار .

نبي مال نه پريږدي

﴿۱۷۹۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عندي

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ د ناروغي په زمانه كي زما سره

في مرضه سِتَّةُ دَنَانِيرَاو سبعة فَأَمَرَنِي نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ

شپږ يا اووه ديناره وه ، رسول الله ﷺ ما ته حكم راكړ چي زه يې ووېشم،

أُفَرِّقَهَا فَشَغَلَنِي وَجَعُ نَبِيِّ اللهِ ﷺ ثُمَّ سَأَلَنِي عَنْهَا مَا فَعَلَتْ السِّتَّةُ أَوْ

مګر د رسول الله ﷺ د درد يا ناروغي د بوختيا له كبله ما هغه ونه ويشئ، ددې وروسته رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وكړه چي هغه شپږ يا اووه ديناره څه سول ،

السَّبْعَةُ قُلْتُ لَا وَاللهِ لَقَدْ كَانَ شَغَلَنِي وَجَعُكَ فَدَعَا بِهَا ثُمَّ وضعها فِي كَفِّهِ

ما وويل: ستاسو په ناروغي كي د بوختيا له كبله ما هغه ونه وېشل ، بيا رسول الله ﷺ هغه دينارونه را وغوښتل په خپل لاس كي يې كښېښودل

فَقَالَ مَا ظَنُّ نَبِيِّ اللهِ لَوْ لَقِيَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ وَهَذِهِ عِنْدَهُ . رواه احمد

او وه يې فرمايل : ايا د الله تعالى د نبي دا خيال دئ چي هغه د الله تعالى سره په داسي حال كي

ملاقات وکړي چې د هغه سره دا (دینارونه) وي. احمد

تخریج: الامام احمد في مسنده ۱۰۴\۶.

تشریح: د حدیث د الفاظو مطلب دادی چې دا خبره د مقام نبوت خلاف ده چې د الله نبي د دنیا څخه په رخصتیدو سره د خپل حقیقي مالک سره یوځای سي نو د هغه په کور کي دي مال او زر موجود وي رسول الله ﷺ په دې اندازې سره بي بي عائشې رضي الله عنها ته تنبیه وفرمایله چې د دې اشرفیو په کورو کي پاته کیدل زما قطعي خوښه نه ده دا سمدستي وویښه.

بلال رضي الله عنه ته مشوره

﴿۱۷۹۱﴾: وعن أبي هريرة أن النبي صلى الله عليه وسلم دخل على بلال

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ بلال رضي الله عنه ته راغلئ

وعنده صبرة من تمر فقال ما هذا يا بلال ؟ قال شيء ادخرته لغد

او د هغه سره د خرماوو کوتې وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اې بلاله! دا څه دي؟ بلال وویل: یو شی دئ چې ما د سبا لپاره یو ځای کړي دي (یعني د راتلونکي لپاره)

فقال أما تخشى أن ترى له غدا بخارا في نار جهنم يوم القيامة أنفق بلال ولا تخش من ذي العرش إقلالا

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ایا ته د دې څخه نه بیریږې چې د قیامت په ورځ به د هغه بخار د جهنم په اور کي جوړ سي، اې بلاله! دا انفاق کړه او د عرش عظیم د خاوند څخه د مفلسی او فقر بیره مه کوه. بیهقي.

تخریج: البیهقي في شعب الایمان ۱۱۸\۲، رقم: ۱۳۴۵.

تشریح: په ارشاد (اما تخشى ان ترى له غدا .....الخ) کي غد د صبا ورځ یعني د قیامت ورځ مراد ده نو ویل کیږي به چې په دې جملې کي د یوم القیامة د الفاظو د غد د تاکید په توګه ارشاد فرمایل سوی دی، د بخار څخه مراد اثر دی مطلب دادی ایا ته غواړې چې د قیامت په ورځ د دې په سبب د دوزخ د اور اثر تاته ورسیږي ګویا دا د دې خبري کنایه ده چې ذخیره کول دوزخ ته نژدې ده او د دې رسول الله ﷺ وضاحت دا کړی دی که ته پر الله تعالی باندي توکل نه کوې او د فقر او افلاس د خوف څخه ذخیره ټولوي نو د دې په وجه به دوزخ ته نژدې سې.

د حديث د اخري الفاظو مطلب دادی چي ذخيره کول مه کوه بلکه څه چي دي جمع کړي دي هغه د الله تعالی پر نامه خرڅوه د فقر او افلاس بيره مه کوه مګر پر الله تعالی باندي اعتماد او توکل ساته ځکه چي قادر مطلق عرش عظيم پيدا کړی دی او ستا تخليق يې کړی دی هغه به درته روزي هم رسوي .

ګويا رسول الله ﷺ حضرت بلال رضی الله عنه ته دا حکم د تعليم په توګه ورکړ چي کمال مقام حاصل کړه چي توکل پر ذات حق باندي کامل اعتماد دی کنې تر څو پوري چي د مسئلې تعلق دی علماء ليکي د خپل ځان او خپل اهل او خپلي کورنۍ د ضروريا تو پر اندازه ذخيره کول جائز دي .

د سخي او بخيل مقام

﴿۱۷۹۲﴾: وعن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم السخاء

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سخا

شجرة في الجنة فمن كان سخيا أخذ بغصن منها فلم يتركه الغصن حتى

په جنت کي يوه درخته ده ، څوک چي سخي وي هغه به د دې درختي ښاخونه ونيسي او هغه ښاخونو به يې تر هغه وخته نه پريږدي تر څو چي

يدخله الجنة والشح شجرة في النار فمن كان شحيحا أخذ بغصن منها

په جنت کي يې داخل کړی نه وي ، او همداسي د بخل په دوزخ کي يوه درخته ده څوک چي بخيل وي هغه به د دې درختي ښاخونه ونيسي

فلم يتركه الغصن حتى يدخله النار . رواهما البيهقي في شعب الإيمان

او تر هغه وخته پوري به يې نه پريږدي تر څو پوري چي په دوزخ کي يې داخل نه کړي . بيهقي په شعب الايمان کي .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۷/۴۳۵، رقم: ۱۰۸۷۷.

تشريح: مطلب دادی چي سخاوت د ونې په ډول دی ګويا دې وصف ته په ونې سره مشابهت ورکړه سوی دی ځرنګه چي ونه غټه وي او د هغه شاخونه ډير زيات وي همداسي سخاوت هم يو وصف عظيم دی چي د هغه ډير زيات شاخونه او ډولونه دي . هغه به د هغه ښاخونه ونيسي د دې مطلب دادی چي د سخاوت کوم ډولونه دي د هغه څخه به يو ډول ونيسي .

صدقه رد بلا ده

﴿۱۷۹۳﴾: وعن علي قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بادروا بالصدقة فإن البلاء لا يتخطاها" . رواه رزين

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په صدقه او خيرات ورکولو کې تلوار کوئ ځکه چې په صدقې سره بلا او ستونزي نه زياتيږي يعني صدقه بلا وي او ستونزي منعه کوي. رزين.

تخريج: رواه رزين.

=========

بَابُ فَضْلِ الصَّدَقَة

د صدقې فضيلت

صدقه د مال هغه برخي ته وائي چې يو سړی يې د خپل مال څخه د الله تعالی د رضا او د هغه د قرب حاصلولو لپاره وباسي که څه هم هغه واجب وي يا نفلي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

صدقه او حلال مال

﴿۱۷۹۴﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَصَدَّقَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې خيراتوي

بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ وَلَا يَقْبَلُ اللّٰهُ إِلَّا الطَّيِّبَ فَإِنَّ اللّٰهَ يَتَقَبَّلُهَا

که څه هم د خرما په اندازه وي نو د پاکي او حلالي کتي څخه دي خيرات کوي او الله تعالی نه قبلوي مګر پاک ، نو خداى ﷻ به هغه قبلوي

بِيَمِينِهِ ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ .

متفق عليه .

په خپل راسته لاس سره بیا هغه خیرات د خیرات کونکي لپاره پالي او زیاتوي یې لکه څنګه چې موږ خپل (بهان) د آس بچي ساتو تر دې چې هغه د غره په ډول جوړ سي . بخاري او مسلم

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۷۸، رقم: ۱۴۱۰، ومسلم ۲\ ۷۰۲، رقم: ۶۳- ۱۰۱۴.

تشریح : د کسب معنی ده جمع کول دلته د کسب طیب څخه مراد هغه مال دی چې په حلالو ذریعو سره جمع کړه سي یعني د شرعي اصولو لاندي کیدونکی تجارت ، صنعت ، زراعت ، ملازمت ، او وراثت په حصه کي رسیدونکی مال .

(ولا یقبل الله الا الطیب) الله تعالی یوازي حلال مال قبلوي د دې مخکي دې خوا ته اشاره ده چې په دربار الوهیت کي یوازي هغه صدقه قبلیږي چې د حلال مال وي غیر حلال مال نه قبلیږي او د دې څخه دا نکته هم پیدا سوه چې حلال مال خو په ښه او نیک ځای کي خرسیږي . الله تعالی هغه په خپل راسته لاس کي اخلي د دې مطلب دادی چې د الله تعالی په لار کي خرڅ کیدونکی حلال مال په دربار الوهیت کي کمال قبولیت ته رسیږي او الله تعالی د مال خرڅ کونکي څخه ډیر زیات خوشحاله کیږي دا مفهوم دلته په راسته لاس سره په اخستو سره ځکه محاورتا او عرفا بیان سوي دي چې غوره او محبوب شی په راسته لاس کي اخستل کیږي .

د (پالي) څخه مراد دادی چې الله تعالی د هغه صدقې ثواب زیاتوي چې د قیامت په ورځ د عمل په ترازو کي درانه وي .

د عبرت یوه کیسه د حدیث په پورته رښا کي چې دا نکته بیانه سوې ده چې حلال مال پر ښه ځای خرڅیږي په دې اړه یو سبق آموز حکایت واوری :

شیخ علي متقي عارف بالله رحمة الله علیه فرمائي یو متقي او صالح سړي کسب معاش کوی د هغه دا معمول وو چې څه به یې ګټل نو مخکي به یې دریمه برخه د هغه څخه د الله تعالی په لار کي خرڅول بیا دریمه برخه به یې په خپلو ضروریاتو کي خرڅول او دریمه برخه به یې د خپل کسب معاش په ذریعه کي لګول یو ورځ هغه ته یو دنیا داره سړی راغی ورته وې ویل زه غواړم چې څه مال د الله تعالی په لار کي خرڅ کړم نو ماته څوک مستحق سړی وښایه ، هغه وژته وفرمایل مخکي حلال مال وګټه بیا د هغه وزوسته یې د الله تعالی په لار کي خرڅ کړه هغه به خپله مستحق سړي ته ورسیږي دنیا داره سړي دا خبره پر مبالغه باندي محموله کړه شیخ ورته وفرمایل ښه دی ته ولاړ سه چې کوم سړی هم داسي وویني چې د هغه لپاره ستا په زړه کي د رحم جذبه پیدا سي او دا په ګټلو سره چې د صدقې مال د دې بې چاره څخه زیات مستحق څوک

کیدای سي یو څه ورکړه په دوهمه ورځ هغه د یو ضعیف او ړانده سړي په خوا کي تیر سو نو هغه ځیني واوریدل چي د هغه په خوا کي ولاړ یو بل سړي ته د پرون واقعه بیانوي چي پرون ما ته یو شتمن سړی راغلی او هغه پر ما زړه وسوزی او ډېر مال یې راکړ ما هغه مال په بدکاری او شراب څښنلو کي خرڅ کړ هغه دنیا دار په دې اوریدو سره و شیخ ته راغلی او دا ټوله واقعه یې ورته بیان کړه ، شیخ چي دا واقعه واورېده نو یې د خپلي ګټې څخه یو درهم هغه ته ورکړ او ورته وې فرمایل دا د ځان سره کړه او د دې ځای څخه په وتلو سره تر ټولو مخکي چي اول ستا نظر پر کوم سړي ولویږي دا هغه ته ورکړه نو هغه د شیخ په دینار سره د کور څخه دباندي راووتی د هغه نظر د ټولو مخکي پر یو سړي سم پریوتی چي په ظاهره دولت مند معلومیدی مخکي خو هغه ته په ورکولو سره لږ اندېښمن سو خو د شیخ حکم وو نو مجبور وو او هغه درهم یې هغه سړي ته ورکړ هغه سړي درهم واخستی او د خپل شا خوا ته روان سو د هغه سره هغه مالدار هم روان سو هغه ولیدل چي چي هغه سړی په یوه خرابه کي داخل سو او د هغه ځای څخه بلي خوا ته ولاړی هلته هیڅ شی هغه نه ولیدی دلته هغه یوه مړه کوتره ولیده بیا په هغه سړي پسي روان سو هغه قسم په ورکولو سره یې پوښتنه ځیني وکړه او ورته وه یې ویل چي ته څوک یې او په کوم مال حال کي یې هغه وویل زه یو غریب انسان یم زما کوچني کوچني بچیان دي هغوی ډیر وږي دي ما د هغوی لوږه نه سوه برداشت کولای او د ډیري زیاتي پریشاني په حالت کي د هغوی لپاره د څه انتظام کولو لخاطره د کور څخه په وتلو سره سرګردان ګرځیدم چي دا مړه کوتره مي ولیده ما دا کوتره پورته کړه او د کور خوا ته روان سوم چي د دې په ذریعه د کوچنیانو لوږه په پورته کولو سره یې اطمینان ورکړم خو کله چي الله تعالی ستا په ذریعه ماته درهم راکړ نو دا کوتره چیري مي پورته کړې وه هلته مي وغورځوله .

اوس د دې مالداره سړي سترګي خلاصي سوې او ورته معلومه سوه چي د شیخ هغه قول پر مبالغه باندي محمول نه وو مګر حقیقت دادی چي حلال مال په ښه ځای کي او حرام مال په خراب ځایکي خرڅ کیږي .

مال په خیرات سره نه کمیږي.

﴿۱۷۹۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ شَيْئًا وَمَا زَادَ اللّٰهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په خيرات کولو سره مال نه کميږي او د يو چا قصور معاف کولو سره الله تعالى د هغه بنده عزت زياتوي او څوک چې د الله لپاره تواضع کوي نو الله تعالى د هغه مرتبه لوړوي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم: ۲۰۰۱\۴، رقم: ۶۹- ۲۵۸۸.

تشريح: دلته دري خبري بنودل سوي دي اوله خبره خو دا چې د خپل مال څخه څه حصه د الله تعالى په لار کي خرڅول که څه هم په ظاهري توګه سره په مال کي د کمي او تاوان سبب ښکاري خو په حقيقت کي صدقه او د خيرات په مال کي د زياتي سبب ګرځي په دې توګه چې صدقه او خيرات کونکی په مال کي برکت کيږي د هغه مال د بلا او افت څخه ساتل کيږي او د هغه په عمل نامه کي ثواب زياتيږي مګر په دغيا کي هم هغه ته د هغه نعم البدل ورکول کيږي او د هغه مال زياتيږي .

دوهمه خبره دا بيان سوې ده چې کوم سړی د نورو د قصور د بدلې پر اخيستلو قادر وي ددې باوجود د هغوی ګناوي ورمعافوي نو الله تعالى په دنيا او آخرت کي د هغه عزت لوړوي چونکه د يو عارف د قول څخه نقل دي (هيڅ انتقام اخيستل د عفوي او درګزر سره مساوي نه دی) .

دريمه خبره دا بيان سوې ده چې کوم سړی د څه غرض او منفعت د خاطره نه مګر يوازي د الله ﷻ د رضاء او د هغه د قرب د جذبې سره تواضع او عاجزي اختياروي نو الله تعالى په دنيا او آخرت کي د هغه مرتبه لوړوي .

د جنت دروازې

﴿۱۷۹۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چې جوړی يا دوه برابر

مِنْ شَيْءٍ مِنَ الْأَشْيَاءِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ دُعِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ و للجنة ابواب

شی د الله ﷻ په لار کي خرڅ کړ نو هغه به د جنت د دروازو څخه و بلل سي او د جنت څو دروازې دي

فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ

نو څوک چې لمونځ کوونکی وي هغه به د جنت د باب الصلوة څخه و بلل سي او څوک چې جهاد کوونکی وي

دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ

هغه به د باب الجهاد د دروازې څخه و بلل سي او څوک چې خيرات کوونکی وي هغه به د باب الصدقة څخه و بلل سي

وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ مَا عَلَى هَذَا

او څوک چې روژه دار وي نو هغه به د باب الريان څخه و بلل سي ، د ذې په اوريدو سره حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وفرمايل : په څرګنده چې د دې ضرورت نسته چې

الَّذِي يُدْعَى مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ فَهَلْ يُدْعَى احد من تلك الابواب كُلِّهَا قَالَ نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ . متفق عليه .

د دې ټولو دروازو څخه هغه څوک و بلل سي کوم چې د ټوپې دروازې څخه بلل سوی وي او په جنت کې داخل سوئ وي مګر بيا هم داسي څوک سته چې په دغه ټولو دروازو و بلل سي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : زه اميد لرم چې ته به د هغو خلکو څخه وې . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۱۱، رقم: ۱۸۹۷، ومسلم: ۲\ ۷۱۱- ۷۱۲، رقم: ۸۵- ۱۰۲۷.

تشريح: دوه برابر شی مثلا دوه درهمه دوې روپی دوه غلامان دوه اسان يا دوې جامې وغيره ته وايي .

(دعي من ابواب الجنة) نو هغه به د جنت دروازې ته وروبلل سي د دې مطلب دادی چې هغه سړی چې هغه په دنيا کې دوچنده شيان د الله تعالی په لار کې خرڅ کړي کله چې په جنت کې داخليږي نو د جنت د ټولو دروازو دارو څخه به هغه بلل کيږي او د هر يوه به دا خواهش وي چې دا خوش نصيبه د هغه په دروازه کې جنت ته داخل سي د دې څخه معلومه سوه چې دا يو عمل د هغه اعمالو برابر دی چې د هغه په وجه د جنت په ټولو دروازو کې د داخليدو سعادت حاصليږي .

د ريان معنی ده سيراب ، نقل دي چې باب الريان چې د هغه په ذريعه ډير زيات روژې نيونکي به په جنت کې داخليږي دا هغه دروزاه ده چيرې چې پر روژه دار باندې په جنت کې خپل مستقر ته د رسيدو څخه مخکې شراب طهور څښل کيږي ګويا کوم سړی چې دلته په دنيا کې د الله تعالی د رضا لپاره د روژې په نيولو سره تږی سوی وي هغه به د دې لوی کار په بدله کې د

مذکوره دروازې څخه د سیراب کیدو وروسته په جنت کې داخلیږي.

په یو روایت کې نقل دي رسول الله ﷺ وفرمایل د جنت یوه دروازه ده چې هغې ته باب الضحی ویل کیږي د قیامت په ورځ به اعلان کونکې ملائکه اواز وکړي چیرې چې وي هغه خلک چې د ځانښت یا د الله تعالی د اشراق پر لمانځه باندې به یې همېشه توب کوی دا دروازه ستاسو لپاره ده نو تاسو خلک د الله تعالی په رحمت سره دې ته داخل سی.

په یو حدیث کې نقل دي د جنت د یوې دروازې نوم باب التوبه ده چې توبه کونکی به د دې دروازې په ذریعه په جنت کې داخلیږي همداسي یوه دروازه به داسي وي چې د هغه په ذریعه به د الله تعالی پر رضا باندې راضي کیدونکي داخلوي.

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په ارشاد کې د (فهل یدعی) څخه ما قبل جمله (ما علی من دعي .....الخ) د هغوی د سوال فهل یدعي د تمهید په توګه دی په اخر کې حضرت ابوبکر رضی الله عنه د امتیازي شان خواتهِ اشاره فرمایلې ده په هغوی کې دا ټول اوصاف او خوبي ترلاسه سوې دې ځکه هغوی به په جنت کې د ټولو دروازو څخه بلل کیږي.

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه نیک اعمال

﴿۱۷۹۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کې د چا

الْيَوْمَ صَائِمًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَا قَالَ فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً

نن روژه ده؟ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه عرض وکړ: زما، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په تاسو کې څوک نن د جنازې سره تللی دئ؟

قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَا قَالَ فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا قَالَ

ابوبکر صدیق رضی الله عنه عرض وکړ: زه، بیا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په تاسو کې چا نن مسکین ته خوراک ورکړئ دئ؟ ابوبکر رضی الله عنه عرض وکړ:

أَبُو بَكْرٍ رضی الله عنه أَنَا قَالَ فَمَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضی الله عنه

ما، بیا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په تاسو کې نن چا د ناروغ پوښتنه کړې ده؟ ابوبکر صدیق رضی الله عنه عرض وکړ:

أَنَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه مسلم

ما ، رسول الله ﷺ وفرمایل : په چا کي چې دا ټولې ښېګڼې یو ځای سي نو هغه به جنت ته ځي . مسلم

تخریج : صحیح مسلم: ۲\ ۷۱۳، رقم: ۸۷- ۱۰۲۸.

تشریح : مطلب دادی چې که یو سړی د ورځې روژه هم ونیسي د جنازې په لمانځه کي ګډون هم وکړي او د جنازې سره هدیرې ته ولاړ سي یو مسکین ته ډوډۍ ورکړي د یو ناروغه پوښتنه وکړي نو داسي سړی به په جنت کي داخلیږي د دې مطلب دادی چې هغه به بغیر حساب په جنت کي داخلیږي ځکه چې همداسي خو مطلقا د دخول جنت لپاره یوازي ایمان کافي دی یا د دې مطلب دادی چې د کومي دروازې څخه غواړي په جنت کي داخلېدلای سي .

د دې حدیث څخه معلومه سوه چې پر داسي وخټو باندې اَنَا (زه) ویل او د حصول ثواب غرض او د خپل احوالو د خبرورکولو په توګه خپل فضیلت بیانول منعه دی ځینې صوفیه او مشائخ چې سالکین منعه کړي دي چې پر خپله ژبه باندې انا جاري کول نه دي پکار نو د دې څخه د هغوی مراد دادی چې د تکبر په اراده او د لوړې هستۍ او انانیت په ډول انا ویل څرنګه چې ابلیس یعني حضرت آدم علیه السلام ته د سجدې کولو د حکم پر وخت د تکبر او غرور له مخه او په توګه د انا نیت ویلي وه چې انا خیر منه .

خیرات کول سپک مه ګڼئ

﴿۱۷۹۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ . متفق علیه .

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : اې مسلمانو ښځو ! هیڅ یو همسایه دي خپلې همسایه ته هدیه یا صدقه لږ ډل سپک نه ګڼي که څه هم هغه د پسه یو نوکی وي . بخاري او مسلم

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۴۴۵، رقم: ۶۰۱۷، ومسلم ۲\ ۷۱۴، رقم: ۹۰- ۱۰۳۰.

د لغاتو حل : (فِرسِنَ): الفِرس: عظم قلیل اللحم، وهو خف البعیر کالحافر للدابة. (ښنګری).

تشریح : مطلب دا چې و همسایه ګانو ته هغه شی چې ستا سره موجود وي د تحفې او صدقې په توګه لږ ډل سپک مه ګڼه ګویا ستا سره چې څه شی هم وي یا څه شی هم کیدای سي په لږ یا

ډېره اندازه وي و همسایګانو ته یې لېږه.

ځینې حضرات فرمائي په دې ارشاد کي هغې ښځو ته خطاب سوی دی چې چاته تحفه وراستول کیږي په دې صورت کي به د دې معنی دا وي چې په تاسو کي هیڅ څوک د خپلې همسایې تحفه سپکه نه ګڼي مګر په ډېر شوق سره دي هغه قبوله کړي که څه هم هغه هر څومره کمتره وي.

د بزې ښکر، ظاهره ده چې نه خو په تحفه کي د ورکولو قابله ده او نه دا په توګه د صدقه چاته ورکیدای سي نودا به وویل سي چې دلته دا د مبالغې په توګه بیان سوی دی مراد ځینې دادی چې په تحفه کي استونکی یا راتلونکی هر شی چې څومره حقیر او کمتر وي قبلوه یې.

دلته په توګه خاص ښځو ته دا خطاب سوی دی چې د هغوی په مزاج کي غصه اود کمو او بې قیمتو شیانو په توګه تحفه د بیرته کولو میلان زیات وي.

هر نیک عمل صدقه ده

﴿۱۷۹۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ وَّ حُذَيْفَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ. متفق عليه.

د حضرت جابر رضی الله عنه او حذیفه رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هره نیکي صدقه ده. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۴۷، رقم: ۶۰۲۱، ومسلم ۲\۶۹۷، رقم: ۵۲- ۱۰۰۵.

تشریح: مطلب دادی چې د نیکۍ کوم عمل وي که څه هم د هغه تعلق په ژبي سره وي یا په فعل سره او دا چې هغه د الله تعالی د رضا سره سم وي نو د هغه ثواب داسي وي څرنګه چې د الله تعالی په لار کي د مال خرڅولو ثواب دی.

نیکي سپکه مه ګڼئ

﴿۱۸۰۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ. رواه مسلم.

د حضرت ابو ذر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د نیکۍ هیڅ یو شی معمولي او حقیر مه ګڼئ که څه هم ته د خپل ورور سره په ورین تندي لیدنه وکړې. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۲\۲۰۲۶، رقم: ۱۴۴- ۲۶۲۶.

تشريح: که يو سړی د چا سره په ښو اخلاقو او ورين تندي سره يو ځای کيږي نو هغه خوشحاله وي د ديوه مسلمان زړه خوشحالول ښه او محبوب ترينه خبره ده ځکه دا هم نيک کار دی که څه هم په خوشحالي سره يو ځای کيدل څه عظيم الشان کار نه دی خودا هم د کمي درجې نيکی ګڼل نه دي پکار.

د خيرات ډولونه

﴿۱۸۰۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَجِدْ قَالَ فَيَعْمَلُ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ

پر مسلمان صدقه واجب ده، صحابه کرامو پوښتنه وکړه که د چا سره هيڅ هم نه وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: په دواړو لاسونو سره دي کار وکړي مال دي تر لاسه کړي خپل ځان ته دي هم ګټه ورسوي

وَيَتَصَدَّقُ قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَوْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ فَيُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ

او خيرات دي هم وکړي، صحابه کرامو بيا پوښتنه وکړه که د چا توان نه وي او داسي نه سي کولای؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د غمجن او اړکس مرسته دي وکړي،

قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ فَيَأْمُرُ بِالْخَيْرِ قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ فَيُمْسِكُ

صحابه کرامو عرض وکړ که داسي هم نه وکړای سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د نيک کار لارښوونه دي وکړي، صحابه کرامو عرض وکړ که داسي هم ونه کړلای سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل خپل ځان دي وژغوري

عَنِ الشَّرِّ فَإِنَّهُ لَهُ صَدَقَةٌ. متفق عليه

د بدی څخه دا هم د هغه لپاره صدقه ده. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۴۷، رقم: ۶۰۲۲، ومسلم ۲\۶۹۹، رقم: ۵۶- ۱۰۰۹.

تشریح: د تکلیف رسولو څخه مراد دادی چې نه خو په خپلې ژبې او لاس سره چاته تکلیف او ضرر رسوی او که د هغه په وس کې وي نو نور خلک دي هم نورو ته د تکلیف او ضرر رسولو څخه منعه کړي دا مضمون یو شاعر داسې کړی دی. مرا بخیر تو امید نیست بد مرسان

د بدن صدقه ورکول

﴿۱۸۰۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ سُلَامَى

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د انسان په بدن کې چې څومره بندونه دي

مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ يَعْدِلُ بَيْنَ الِاثْنَيْنِ

په هغو کې هره ورځ پر هریوه صدقه واجب ده د دوو کسانو په منځ کې انصاف کول هم صدقه ده

صَدَقَةٌ وَيُعِينُ الرَّجُلَ عَلَى دَابَّتِهِ فَيَحْمِلُ عَلَيْهَا أَوْ يَرْفَعُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ

او چې کومک وکړي د سړي سره پر حیوان د هغه سړي چې پر سپور یې کړي یا پورته یې کړي پر حیوان اسباب دده دا صدقه ده

وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ وَكُلُّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا إِلَى الصَّلَاةِ صَدَقَةٌ وَيُمِيطُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ. متفق عليه

او ښه خبره صدقه ده، او مسجد ته په تلو سره چې کوم قدم پورته کوي هغه هم صدقه ده او د لارې څخه تکلیف ورکونکی شی لیرې کول هم صدقه ده. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۶\ ۱۳۲، رقم: ۲۹۸۹، ومسلم ۲\ ۶۹۹، رقم: ۵۶-۱۰۰۹.

تشریح: مطلب دا چې الله تعالی د انسان په بدن کې کوم مفاصل (بندونه) چې پیدا کړي دي په هغه کې د هغه حکمتونه او بې شمیره نعمتونه پټ دي نو د هغه په شکرانه کې هره ورځ پر انسان باندې صدقه لازمه ده.

(یعدل بین الاثنین.....الخ) څخه دا خبره بیان فرمایل سوې ده چې صدقه یوازې د دې نوم نه دی چې یو سړي ته د الله تعالی په لار کې مال او زر ورکړه سي مګر دا شیان یعني د دوو خلکو په مینځ کې عدل کول هم صدقه ده ځرنګه چې د الله تعالی په لار کې په مال خرڅولو

سره کوم ثواب تر لاسه کیږي همداسي د دې شیانو هم ډیر زیات ثواب تر لاسه کیږي ، انسان چې هره ورځ څه هم نیک کار کوي ګویا هغه صدقه وکړه چې الله تعالی پر هغه د جوړونو د خوا څخه یې د شکر په توګه لازم کړې ده .

د نبي خبري څخه مراد هغه خبره ده او کلام دی چې په هغه سره زیات ثواب تر لاسه کیږي یا د سائل وغیره سره په نرمه لهجه کې خبري هم کیدای سي .

(وکل خطوة) څخه یوازي هغه قدم مراد نه دی چې لمانځه ته د تلو لپاره ایښودل سي مګر هر هغه قدم ځینې مراد دی چې په نیکه لار کې او د نیک مقصد لپاره پورته کول سي مثلا د طواف لپاره د ناروغه د پوښتنې لپاره په جنازې کې د ګډون لپاره او د علم لپاره .

تکلیف ده شیان د دې څخه هر هغه شیان مراد دي چې د هغه څخه پر لار تلونکي ته د تکلیف رسیدو اندیښنه وي لکه ازغی، هډوکی، ډبره، خښته ،نجاست او داسي نور .

د انسان د بدن بندونه

﴿۱۸۰۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلق كُلُّ

د حضرت عائشې ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : پیدا کړل سوي دي هر

إِنْسَانٍ مِنْ بَنِي آدَمَ عَلَى سِتِّينَ وَثَلَاثِ مِائَةِ مَفْصِلٍ فَمَنْ كَبَّرَ اللَّهَ وَحَمِدَ اللَّهَ

انسان دري سوه شپیته (۳۶۰) بندونه، څوک چې الله اکبر ووایي د الله حمد وکړي .

وَهَلَّلَ اللَّهَ وَسَبَّحَ اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ اللَّهَ وَعَزَلَ حَجَرًا عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ

لااله الاالله ووایي ، سبحان الله ووایي . د الله ﷻ څخه استغفار وغواړي او د خلکو د لارې څخه ډبري، هډوکي یا

شَوْكَةً أَوْ عَظْمًا عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ وَأَمَرَ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نَهَى عَنْ مُنْكَرٍ عَدَدَ تِلْكَ

ازغي لیري کړي یا یو چا ته نیکه خبره وښیي او د بدۍ څخه یې منع کړي او دا ټوله

السِّتِّينَ وَالثَّلَاثِ مِائَةِ فَإِنَّهُ يَمْشِي يَوْمَئِذٍ وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهُ عَنِ النَّارِ .

رواه مسلم .

دري سوه شپيته ته ورسيږي نو داسي سړی په دغه. ورځ داسي ګرځي لکه هغه چي ځان د اور څخه ليري ساتلی يي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۶۹۸، رقم: ۵۴- ۱۰۰۷.

تشريح: مطلب دادی چي مذکوره افعال کول او د خپل جسم د دردونو په شمير د مذکوره کلمات ورد ويل او په حقيقت کي خپل بدن او د بدن د جوړونو د دوږغ د اور څخه ساتل دي. لفظ يومئ په هغه ورځ څخه دې خوا ته اشاره ده چي پر دې خبرو باندي عمل او د دې کلماتو ورد روزانه کول پکار دی چي د هغه د ګناهونو کفاره ادا کيږي.

معنوي صدقې

﴿۱۸۰۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بِكُلِّ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر

تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَهْلِيلَةٍ

تسبيح (سبحان الله ويل) صدقه ده او هر تکبير (الله اکبر ويل) صدقه ده او هر تحميد (الحمدلله ويل) صدقه او هر تهليل (لااله الاالله) ويل

صَدَقَةً وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ صَدَقَةٌ وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ

صدقه ده، او د نيکي خبري لارښوونه کول صدقه ده او د بدي څخه منع کول صدقه ده او د خپلي ښځي يا مينځي سره کوروالي کول

صَدَقَةٌ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيَأْتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ قَالَ أَرَأَيْتُمْ

صدقه ده، د دې په اوريدو سره صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! په موږ کي هر څوک خپل شهوت پوره کوي او په دې کي هم هغه ته ثواب رسيږي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا راته وواياست

لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ فِيهَا وِزْرٌ فَكَذَلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرًا. رواه مسلم

که چیري هغه په حرامو خپل شهوت پوره کولای نو پر هغه به ګناه وای که نه ؟ همداسي د هغه په حلاله طریقه شهوت پوره کول د ثواب باعث دئ .. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۲\۶۹۷، رقم: ۵۳-۱۰۰۶.

تشریح: څرنګه چي په ظاهري توګه سره صدقه د الله تعالی په لار کي خرڅولو ته وایي چي د هغه په وجه الله تعالی ورته ثواب ورکوي همداسي د مذکوره کلمات ورد کول او مذکوره اعمال په معنوي توګه سره په صدقې سره تعبیر کیږي په دې توګه چي د هغه په وجه هم ورته الله تعالی هغه ته ثواب ورکوي کوم چي د صدقې په توګه مال ورکونکو ته ترلاسه کیږي.

د خپلي بي بي او مینزي سره صحبت که څه هم بذات خود عبادت او صدقه نه ده همداسي صحابه ته هم اشکل سو مګر د خپلي بي بي حق ادا کیږي او نفس حرام کاري خوا ته ډیر زیات مائل کیدو او د شیطان د ترغیب او تحریص باوجود د الله تعالی د حکم لاندي خپل ځان د حرامو ذریعو څخه په ساتلو سره حلالي او جائزې ذریعې خوا ته مائل کوي همداسي د خپلي بي بي یا مینزي سره صحبت کونکی د صدقې ثواب ترلاسه کوي.

غوره صدقه

﴿۱۸۰۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نِعْمَ الصَّدَقَةُ اللِّقْحَةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً وَالشَّاةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً تَغْدُو بِإِنَاءٍ وَتَرُوحُ بِآخَرَ. متفق علیه

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: غوره صدقه هغه زیات شیدې ورکونکې اوښه، (میږه، غوا وغیره) ده چي د شیدو لپاره یو چا ته ورکړل سي او بیا هغه زیاتې شیدې ورکونکې میږه چي د شیدو لپاره چا ته ورکړل سي چي هغه په سهار کي ډک لوښی شیدې کوي او په مابنام کي هم لوښی ډکوي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۷۰، رقم: ۵۶۰۸، ومسلم ۲\۷۰۷، رقم: ۷۴-۱۰۲۰.

د لغاتو حل: (اللقحة): الناقة ذات اللبن (شیدې کوونکې اوښه). (الصفي): الغزیرة اللبن. (ښه شیدې کوونکې).

تشریح: په عربو کي دا معمول وو چي چاته به الله تعالی توفیق ورکی نو هغه به خپله شیدې ورکونکې اوښه یا بزه چا ضرورت مند یا محتاج ته عاریة ورکوله چي د هغه په ذریعه به هغه حاجتمند خپل ضرورت د پوره کولو وروسته هغه مالک ته واپس کړه رسول الله ﷺ د دې طرز

عمل تعریف کړی دی چې دا عمل بهترینه صدقه ده .

د کښتونو صدقه

﴿۱۸۰۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم مسلمان چې

يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ

یو نیالګی ولګوي یا فصل وکري او د هغه څخه انسان، مرغان او حیوانان خوراک کوي نو دا

صَدَقَةٌ. متفق عليه و لي رواية لمسلم عن جابر و ما سرق منه له صدقة .

هم د هغه لپاره صدقه ده . بخاري او مسلم .

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۳۸، رقم: ۶۰۱۲، ومسلم: ۳\۱۱۸۹، رقم: ۱۲- ۱۵۵۳.

تشریح: مطلب دادی که د یوه مسلمان د درختي میوه او داسي نور یا د هغه د فصله څخه انسان یا مرغان په څه طریقه څه وخوري نو د هغه مالک ته ثواب رسیږي کوم چې د الله تعالی په لار کي د خپل مال خیرات کولو ثواب دی ګویا د دې ارشاد په ذریعه مالک ته تاوان پر مال باندي تسلي ورکول کیږي چې هغه دي پر داسي وخت صبر وکړي ځکه چې د دې د تاوان په بدله کي هغه ته ډیر زیات ثواب ترلاسه کیږي .

یو اشکال او د هغه جواب : دلته یو اشکال پیدا کیږي چې د اعمال ثواب خو پر نیت باندي موقوف دی او ظاهره ده چې په صورت مذکوره کي د مالک د خوا څخه د نیت څه سوال نه پیدا کیږي نو بیا ثواب څرنګه ترلاسه کیږي، شاه عبدالعزیز محدث دهلوي رحمة الله علیه د دې په جواب کي فرمایي فصل مقصود مطلقا د نوع انساني حیات اوبقاء ده یعني بزګر چې کله په مځکه کي تخم اچوي یا د درختي بوټی لګوي نو د هغه لاندي د یو فرد د تخصیص بغیر مطلقا د نوع انساني او حیواني د ژوند د ضروریاتو د تکمیل نیت وي اوس د هغه فصله یا درختي څخه چې د انسان او حیوان کوم فرد هم فائده اخلي که څه هم هغه په ناجائزي طریقې سره فائده اخلي یا په جائزې طریقې سره، د اجمالي نیت تعلق به هغه سره وي دا جلا خبره ده چې کوم سړی په ناجائزي طریقې سره فائده اخلي خو د مالک په حق کي د هغه اجمالي نیت کافي کیږي ځکه چې د حصول ثواب لپاره اجمالي نیت کافي دی د هغه مالک ته به د هغه تاوان په بدله کي

د صدقې ثواب رسيږي.

د هر ساه لرونکي شي مرسته کول ثواب لري

﴿۱۸۰۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُفِرَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بخښنه وسوه

لِاِمْرَأَةٍ مُوْمِسَةٍ مَرَّتْ بِكَلْبٍ عَلَى رَأْسِ رَكِيٍّ يَلْهَثُ كَادَ يَقْتُلُهُ الْعَطَشُ فَنَزَعَتْ

يوې بد کاره ښځې ته (له دې کبله) چې هغه پر لارې تيريده چې د څاه سره يې يو سپی وليدی چې د تندې له کبله يې ژبه راوتلې وه او نژدې وو چې د تندي څخه مړ سي

خُفَّهَا فَأَوْثَقَتْهُ بِخِمَارِهَا فَنَزَعَتْ لَهُ مِنَ الْمَاءِ فَغُفِرَ لَهَا بِذٰلِكَ قِيلَ إِنَّ لَنَا فِي

هغه ښځې خپله موزه وکښل او په خپل پورني سره يې وترل او د څاه څخه يې د هغه سپي لپاره اوبه راوکښې ددې له کبله هغه وبخښل سول، پوښتنه وسول ايا

الْبَهَائِمِ أَجْرًا قَالَ فِي كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ. متفق عليه

د حيوانانو سره په احسان کولو کې هم موږ ته ثواب ترلاسه کيږي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هر ساه لرونکي سره احسان کولو کې ثواب دئ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٣٥٩، رقم: ٣٣٢١، ومسلم ٤\ ١٧٦١، رقم: ١٥٤- ٢٢٤٥.

د لغاتو حل: (رَكِي): اى بئر (څاه).

تشريح: حضرت مظهر رحمه الله عليه فرمائي د هر حيوان سره حسن سلوک کولو يعني په هغه باندې د خورلو او څښنلو ثواب ترلاسه کيږي، هو موذي حيوان چې د وژلو حکم لري د دې څخه مستثنى دي لکه مار، لړم او داسې نور.

دا حديث په دې خبره دلالت کوي چې الله تعالى چې کله غواړي د يوه سړي کبيره ګناهونه بغير د توبې هم معافوي د اهل سنت والجماعت دا مذهب دی.

د پيشې له کبله عذاب

﴿۱۸۰۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَاَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عمر او ابوهريرة (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

عُذِّبَتْ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ امسكتها حَتَّى مَاتَتْ من الجوع فلم تكن تطعمها ولا ترسلها فتأكل مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ . متفق عليه

يوې ښځي ته د پيشي له كبله عذاب وركړل سو چي هغه يې ترلې وه تر څو چي د لوږې څخه مړه سوه چي نه يې خوراک وركوئ او نه يې خلاصول چي د مځكي د حيوانانو څخه يو شى وخوري . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٣٥٦، رقم: ٣٣١٨، ومسلم ٤\ ١٧٦٠، رقم: ٢٢٤٢.

د لغاتو حل: (خشاش الارض): اى دوابها (د مځكي خزندې).

تشريح: د دې حديث څخه دا خبره معلومه سوه چي د حيوان سره بدسلوک او بې رحمي كول د الله تعالى په عذاب كي خپل ځان را چاپيره كول دي ، همدارنګه دا خبره هم ثابته سوه چي پر صغيره ګناه باندي هم عذاب كيداى سي د هغي ښځي دا فعل ظاهر دى چي صغيره ګناه ده د عقائد دا يوه مسئله ده چي پر صغيره ګناه باندي عذاب كيدل خلاف امكان نه دي .

په معمولي نيكۍ باندي جنت

﴿۱۸۰۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ رَجُلٌ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړى تېر سو

بِغُصْنِ شَجَرَةٍ عَلَى ظَهْرِ طَرِيقٍ فَقَالَ وَاللّٰهِ لَأُنَحِّيَنَّ هَذَا عَنْ طريق الْمُسْلِمِينَ لَا يُؤْذِيهِمْ فَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ. متفق عليه .

د يوې درختي پر ښاخ چي په لاره كي پروت وو هغه وويل : زه به دا د مسلمانانو د لاري څخه ليري كړم چي هغوى ته تكليف ونه رسيږي په دې خبره هغه سړى جنت ته داخل كړل سو . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٢\ ١٣٩، رقم: ٦٥٢، ومسلم ٤\ ٢٠٢١، رقم: ١٢٧- ١٩١٤.

تشريح: مطلب دادى چي هغه سړى د هغه ښاخ د لاري څخه د پورته كولو اراده وكړه او بيا هغه يې پورته كړ نو هغه په جنت كي داخل كړه سو يا دا چي هغه سړى د خپل نيک او با خلوص نيت پر بناء د جنت مستحق وګرځول سو .

﴿۱۸۱۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَتَقَلَّبُ فِي الْجَنَّةِ فِي شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ كَانَتْ تُؤْذِي النَّاسَ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ما يو سړی په جنت کې وليدئ چې له دې کبله جنت ته تللی وو چې هغه د لاري څخه يوه درخته پريکړه او وه يې غورزول چې خلکو ته يې تکليف رسوئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۰۲۱، رقم: ۱۲۹- ۱۹۱۴.

﴿۱۸۱۱﴾: وَعَنْ أَبِي بَرْزَةَ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ عَلِّمْنِي شَيْئًا أَنْتَفِعُ بِهِ قَالَ اعْزِلِ الْأَذَى عَنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ. رواه مسلم و سنذكر حديث عدي بن حاتم اتقوا النار في علامات النبوة. ان شاء الله تعالى.

د حضرت ابو برزة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ چې اې د الله رسوله! ما ته يو داسې خبره وښيه چې زه گټه ځينې واخلم، رسول الله ﷺ راته وفرمايل: د مسلمانانو د لاري څخه تکليف رسونکی شی ليرې کوه. مسلم او ډير ژر به د عدي بن حاتم حديث (اتقوا النار) په علامات نبوت کې بيان کړل سي.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۰۲۱، رقم: ۱۳۱- ۲۶۱۸.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

تولنيزه نيکي

﴿۱۸۱۲﴾: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه څخه روايت دئ چې کله رسول الله ﷺ مدينې ته تشريف راوړ

وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ جِئْتُ. فَلَمَّا تَبَيَّنْتُ وَجْهَهُ عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ

نو زه يې په خدمت کې حاضر سوم، د رسول الله ﷺ په مخ مبارک ليدو سره ما ته څرګنده سوه چې دا مخ درواغجن نه دئ

كَذَّابٍ فَكَانَ أَوَّلُ مَا قَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ أَفْشُوا السَّلَامَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصَلُّوا

ترتولو وړاندي رسول الله ﷺ دا وفرمايل: خلکو سلام خپور کړئ يعني هر مسلمان ته سلام ادا کوئ، (لوږو) ته ډوډۍ ورکوئ (د قريبانو) سره ښه چلن کوئ

وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ. رواه الترمذي وابن ماجة.

او د شپې هغه وخت لمونځ کوئ چې نور خلک بيده وي نو تاسو به په سلامتيا سره جنت ته داخل سئ. ترمذي، ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۵۳، رقم: ۱۸۵۵، وابن ماجه ۲\ ۱۲۱۸، رقم: ۳۶۹۴.

غريبانو ته خوراک ورکول

﴿۱۸۱۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

اعْبُدُوا الرَّحْمَنَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَأَفْشُوا السَّلَامَ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ. رواه الترمذي و ابن ماجة.

د الله تعالى عبادت کوئ وږو ته ډوډۍ ورکوئ او په لوړ آواز سره سلام عام کړئ نو جنت ته به په سلامتيا سره داخل سئ. ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۱۵۳، رقم: ۱۸۵۵، وابن ماجه ۲\ ۱۲۱۸، رقم: ۳۶۹۴.

د خيرات کتله

﴿۱۸۱۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ عَنْ مِيتَةِ السُّوءِ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: صدقه د الله تعالى غصه يخوي او خراب مرګ ليري کوي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۵۲، رقم: ۶۶۴.

تشريح: د الله تعالى غضب يخوي د دې مطلب دادی چې کوم سړی د الله تعالى په لار کې مال خرڅوي هغه ته الله تعالى په دنيا کې عافيت او سکون ورپه برخه کوي او پر هغه باندې بلاوي او آفتونه نه نازلوي.

د خراب مرګ څخه ساتي: د دې مطلب دادی چې صدقه او خيرات کونکی د مرګ پر وخت د خراب حالت څخه محفوظ وي يعني نه خو شيطان په هغه وسوسو کې اخته کوي او نه هغه سړی په ځه داسې ناروغي او تکليف کې اخته کيږي ترڅو چې د هغه ميلان د کفر او ناشکرۍ خوا ته مائله سي، حاصل دادی چې د الله تعالى د رضا لپاره خپل مال او زر خرڅولو والا خاتمه بالخير په ابدي سعادت سره نازول کيږي.

هره نيکي صدقه ده

﴿۱۸۱۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مَعْرُوفٍ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هره نيکي

صَدَقَةٌ وَإِنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ وَأَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِي إِنَاءِ أَخِيكَ. رواه احمد والترمذي.

صدقه ده او دا هم نيکي ده چې ته په ورين تندي د خپل (مسلمان) ورور سره مخامخ سې او په خپله سلواغه د خپل ورور لوښی ډک کړې. احمد او ترمذي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۳\ ۳۴۴، والترمذي ۴\ ۳۰۶، رقم: ۱۹۷۰.

﴿۱۸۱۶﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ تَبَسُّمُكَ فِي وَجْهِ أَخِيكَ لَكَ

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د خپل ورور په وړاندې ستا خندل يا مسکی کيدل

صَدَقَةٌ وَأَمْرُكَ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهْيُكَ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَإِرْشَادُكَ الرَّجُلَ فِي

صدقه ده، نيکه خبره کول صدقه ده ستا د بدې خبرې څخه منع کيدل صدقه ده چا ته لار ښودل

أَرْضِ الضَّلَالِ لَكَ صَدَقَةٌ وَبَصَرُكَ لِلرَّجُلِ الرَّدِيءِ الْبَصَرِ لَكَ صَدَقَةٌ

صدقه ده ، ړوند سړی تر لاس نیولی بیول . صدقه ده ،

وَإِمَاطَتُكَ الْحَجَرَ وَالشَّوْكَةَ وَالْعَظْمَ عَنْ الطَّرِيقِ لَكَ صَدَقَةٌ وَإِفْرَاغُكَ مِنْ

دلاري څخه ډبري ازغی او هډوکی لیري کول ستا لپاره صدقه ده او د خپل مسلمان ورور

دَلْوِكَ فِي دَلْوِ أَخِيكَ لَكَ صَدَقَةٌ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

لوښی د اوبو څخه ډکول هم ستا لپاره صدقه ده ، ترمذي روایت کړی او وایي دا حدیث غریب دی .

تخریج: سنن الترمذي ۴\۲۹۹، رقم: ۱۹۵۶.

تشریح: ددې حدیث د آخري الفاظو څخه دا څرګندیږي چې د خپلي سلواغي څخه اوبه ډکول د صدقې له موخې دا د ثواب باعث دی نو په داسي حالت کې د سړي سره سلواغه نه وي نو هغه ته اوبه ورکول به تر دې زیات ثواب لري .

تر ټولو غوره صدقه

﴿۱۸۱۷﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أُمَّ سَعْدٍ مَاتَتْ فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ قَالَ الْمَاءُ فَحَفَرَ بِئْرًا وَقَالَ هَذِهِ لِأُمِّ سَعْدٍ . رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت سعد بن عبادة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې ما نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله ! ام سعد (یعني زما مور) مړه سوه نو کومه صدقه غوره ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : اوبه، نو سعد رضي الله عنه څاه وکښئ او وه یې ویل دا کوهي د ام سعد لپاره صدقه ده . ابوداؤد او نسائي .

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\۳۱۳، رقم: ۱۶۷۹، والنسائي ۶\۲۵۴، رقم: ۳۶۶۶.

تشریح: هسي خو الله تعالی چې کوم شیان پیدا کړي دي هغه د بنده په حق کې د الله تعالی نعمت دی مګر د هغي لویو نعمتونو څخه یو لوی نعمت اوبه دي چې د دې څخه پرته د انساني ژوند بقاء ناممکنه ده بیا د مخلوق خدا لپاره د دې ضرورت دومره پراخه دی چې قدم په قدم د انسان ژوند دهغه وجود ته محتاجه دی، څه دنیا او څه آخرت د ټولو امورو لپاره د دې ډیر زیات ضرورت دی په خاصه توګه سره په هغه ښارونو او علاقو کې د اوبو ضرورت ډیر زیات محسوسیږي کومې چې ګرمي وي چل هلته د اوبولاس ته راوړل په اساني سره نه کیږي ځکه رسول الله ﷺ اوبه بهترینه صدقه ارشاد په فرمایلو سره د اوبو د حصول هره ذریعه که څه هم څاه

وي يا تالاب بهترينه صدقه جاريه ده چي تر څو پوري د هغه ذريعه موجوده وي د هغه قائمونکی به د الله تعالی په رحمتونو سره نازول کيږي.

د نيکۍ ډولونه

﴿۱۸۱۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم

مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا عَلَى عُرْيٍ كَسَاهُ اللّٰهُ مِنْ خُضْرِ الْجَنَّةِ وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ

مسلمان چي يو لوڅ مسلمان ته جامې ورکړي الله تعالی به هغه ته د جنت جامې واغوندي او کوم مسلمان چي

أَطْعَمَ مُسْلِمًا عَلَى جُوعٍ أَطْعَمَهُ اللّٰهُ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ سَقَى مُسْلِمًا

يو اوږي ته ډوډۍ ورکړي الله تعالی به هغه ته د جنت د ميوو څخه خوراک ورکړي او کوم مسلمان چي يو تږي باندي اوبه وچښي

عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللّٰهُ مِنَ الرَّحِيْقِ الْمَخْتُوْمِ. رواه ابوداؤد والترمذي.

الله تعالی به هغه د مهر لګېدلو شرابو څخه اوبه کړي. ابوداؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۳۱۴، رقم: ۱۶۸۲، والترمذي ۴\ ۵۴۶، رقم: ۲۴۴۹.

تشريح: مهر بند او د شراب څخه مراد دادی چي الله تعالی به په جنت کي پر هغه شراب څښي چي د سيل او مهر په ذريعه به د تغير و تبدل څخه محفوظ او د هغه سړي لپاره به مخصوص وي چي د هغه څخه بل څوک به يې نسي څښلای، ګويا د هغه شرابو نفاست طرز ته اشاره فرمايل سوې ده چي څرنګه يو شی ډير اعلی او نفيس وي هغه مهر بند کولای سي چي هغه د زماني د يخي ګرمي هوا او د نورو څخه وساتي، همداسي هغه شراب به هم ډير اعلی او نفيس وي چي په دې کي د هغه د خوند صحيح ادارک هم نسي کيدای بيا دا چي پر هغه به مهر هم د مشک وي څرنګه چي ارشاد مبارک دی:

يسقون من رحيق مختوم ختامه مسک : په هغوی به مهر خالص شراب څښنل کيږي چي د هغه مهر به مشک وي. يعني هغه شراب به دموم او لاکه وغيره په ذريعه نه بلکه د مشک په

ذريعه مهر او لاک کړل سوي يي .

په شتمنۍ کي يوازي زکات نه دئ

﴿۱۸۱۹﴾: وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت فاطمې بنت قيس (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ الَّتِي فِي الْبَقَرَةِ { لَيْسَ الْبِرَّ

په مال کي د زکوة څخه پرته هم حق ستة ، بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ (ليس البر ...)

نيکي يوازي دا نه ده چې

أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ } الْآيَةَ . رواه الترمذي و ابن ماجة والدارمي .

خپل مخ ختيځ يا لويديځ لور ته وګرځوې . ترمذي ، ابن ماجه او دارمي .

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۴۸، رقم: ۶۵۹ و ۶۶۰، وابن ماجه ۱\ ۵۷۰، رقم: ۱۷۸۹، والدارمي ۱\ ۴۷۱، رقم: ۱۶۳۷.

تشريح: مطلب دادی چې د مال زکوة خو فرض دی چې ضرور ورکول يې پکار دي خو د زکوة څه نور نفل صدقات هم مستحب دي چې د هغه ورکول د ډير زيات ثواب باعث دي او هغه صدقات دادي چې سائل او قرض غوښتونکی محروم او مايوس نه کړه سي د کور سامان مثلا کټوي، پيالې او داسي نور ، يا داسي هغه سامان چې په خپله قبضه او ملکيت کي وي که څوک رعايۀ غواړي نو هغوی ته په ورکولو کي منعه کول نه دي پکار څوک دي د اوبو مالکي او اور اخستلو څخه نه منعه کوي او داسي نور .

د حق څخه مراد هغه شيان دي چې په ذکر سوي آيت کي بيان سوه يعني خپلو قريبانو ، يتيمانو مسکينانو د مسافرو او سوالګرو لپاره د احسان او حسن سلوک معامله کول او د غلام ازادولو لپاره مال خرڅول او داسي نور ، پورتنی پوره آيت داسي دی :

لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَالْمَلآئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّآئِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ ۞

ژباړه : نيکي دا نه ده چې تاسو ختيځ او لويديځ (په قبله ګڼلو سره) هغه خوا ته مخ ګړئ بلکه

نيكي داده چي خلک پر الله تعالى باندي، پر ملائكو باندي او پر كتابو باندي او پر پيغمبرانو باندي ايمان راوړي او مال سره د ارزښتناكه كېدو قريبانو، يتيمانو، اړو او مسافرو او غوښتونكو ته وركړي او په غاړه خلاصولو كي يې خرڅ كړي او لمونځ كوي او زكوة وركوي.

رسول الله ﷺ دا آيت ځكه د استناد په توګه تلاوت كړى چي په دې كي الله تعالى مخكي خو د هغه مومنانو تعريف كړى دى چي پر خپلو قريبانو، يتيمانو او مسكينانو باندي خپل مال خرڅوي د دې وروسته د لمونځ كونكو او زكوة وركونكو تعريف يې كړى دى د دې څخه معلومه سوه چي مال خرڅول د زكوة وركولو عليحده دي چي صدقه نفل ورته وائي ګويا رسول الله ﷺ چي دا فرمايلي وه د مال وزر په باره كي د دې ايت څخه ثابته سوه ځكه چي الله تعالى مخكي صدقات نافله ذكر كړه د هغه وروسته يې صدقه واجب يعني د زكوة ذكر يې وكړ.

د كومو شيانو نه وركول منع دي

﴿۱۸۲۰﴾: وَعَنْ بُهَيْسَةَ عَنْ اَبِيْهَا قَالَتْ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا

حضرت بهيسة (رض) د خپل پلار څخه روايت كوي چي د هغې پلار د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي اې د الله رسوله! هغه كوم شى دئ چي

يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ الْمَاءُ قَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ

بندول (نه وركول) يې جائز نه دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اوبه، بيا يې پوښتنه وكړل بل كوم شى بندول؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

الْمِلْحُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ أَنْ تَفْعَلَ الْخَيْرَ خَيْرٌ لَكَ. رواه ابوداؤد.

مالكه، بيا يې پوښتنه وكړه بل كوم شى دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: نيكي كول ستا لپاره غوره ده. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داؤد ۳\ ۷۵۰، رقم: ۳۴۷۶.

تشريح: د اوبو مطلب دادى چي ستا په مځكه كي څاه او تالاب وي يا ستا په كور كي نل او داسي نور وي او د هغه څخه يو سړى اوبه اخلي نو هغه د اوبو څخه منع كول مناسب نه دى همداسي كه په تاسو كي يو سړى اوبه غواړي او ستاسو سره د ضرورت زياتي اوبه وي نو هغه

ته د ورکولو څخه انکار مه کوه همداسي د مالکي د ورکولو څخه انکار مه کوئ ځکه چي خلکو ته د مالکي ډير زيات ضرورت وي او خلک دا اخلي ورکوي بيا دا چي د مالکي په ډول د شيانو څخه انکار کول هسي څه معنی نه لري دا ډير زيات عام او ارزانه شی دی چي د هغه څه قيمت او هيڅ قدر يې نسته.

د حديث اخري جمله پر ټولو نيکيو باندي مشتمله ده، د هغه مطلب دا دی چي ستاسو څخه چي څومره کيدای سي او کومه نيکی چي کولای سی نو کوی يې د نيکی او خير د کارونو څخه خپل ځان منعه کول صحيح نه دي او نه نور خلک د نيکی څخه منع کول جائز دي ګويا په حديث کي مخکي د څو نيکيو بطور خاص ذکر کولو وروسته دا جمله ارشاد فرمايل تعميم بعد تخصيص دی او دې خوا ته اشاره ده چي لا يحل د مفهوم د اعتبار څخه د لاينبغي په معنی کي استعمال سوی دی همداسي د حديث مفهوم به دا وي چي د شيانو څخه منع کول او د هغه د ورکولو څخه انکار کول مناسب نه دي.

وچه مځکه ابادول هم صدقه ده

﴿۱۸۲۱﴾: وعن جابر قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ من أحيى أرضا ميتة فله فيها أجر وما أكلت العافية منه فهو له صدقة". رواه النسائي والدارمي

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي وچه مځکه اباده کړه نو په دې کي هم د هغه لپاره ثواب دئ او کوم شی چي د کښت څخه وخوړل سي نو دا هم د هغه لپاره صدقه ده. دارمي

تخريج: النسائي في السنن الكبرى ۳\ ۴۰۴، رقم: ۵۷۵۷، والدارمي ۲\ ۳۴۶، رقم: ۲۶۰۷.

د لغاتو حل: (العافية): الجماعة (ډله).

د پور ورکولو فضيلت

﴿۱۸۲۲﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَنَحَ مَنِيحَةَ لَبَنٍ أَوْ وَرِقٍ أَوْ هَدَى زُقَاقًا كَانَ لَهُ مِثْلُ عِتْقِ رَقَبَةٍ. رواه الترمذي

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي يو چا ته د شيدو چينلو لپاره د شيدو حيوانان ورکړي يا نغدي روپۍ په پور ورکړي يا په لاره او کوڅه کي يو چا ته لار و ښيي نو هغه

ته به د يوه غلام آزادلو ثواب ورسيږي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۰۰، رقم: ۱۹۵۷.

د لغاتو حل: الزُقاق: الطريق، يريد من دل الضال او الاعمى على طريقة. (لاره).

يو څو نبوي نصيحتونه

﴿۱۸۲۳﴾: عَنْ أَبِي جُرَيٍّ جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ اَتَيْتُ الْمَدِيْنَةَ فَرَأَيْتُ رَجُلًا

د ابو جرى جابر بن سيلم رضي الله عنه څخه روايت دئ چې کله زه مدينې ته راغلم نو يو سړى مې وليدئ

يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ لَا يَقُولُ شَيْئًا إِلَّا صَدَرُوا عَنْهُ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالُوا

چې خلک د هغه پر رايه ځي يعني څه چې هغه وايي خلک په هغه عمل کوي، هغه داسې هيڅ خبره نه کوي چې خلک عمل په ونه کړي، ما پوښتنه وکړه دا څوک دئ؟ خلکو وويل:

هَذَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ

دا د الله ﷻ رسول دئ، پر هغه دي د الله ﷻ رحمت او سلام وي، زه (رسول الله ﷺ) ته ورغلم او وه مې ويل: عليک السلام يا رسول الله،

مَرَّتَيْنِ قَالَ لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ قُلْ السَّلَامُ

ما دوه واره دا الفاظ وويل، رسول الله ﷺ وفرمايل: عليک السلام مه وايه، دا د مړي دعاء ده بلکه السلام

عَلَيْكَ قُلْتُ أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ فَقَالَ أَنَا رَسُولُ اللّٰهِ الَّذِي إِذَا أَصَابَكَ ضُرٌّ

عليکم ووايه، ما ورته وويل تاسو د الله رسول ياست؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، زه د الله رسول يم، هر کله چې تا ته يو تکليف ورسيږي

فَدَعَوْتَهُ كَشَفَهُ عَنْكَ وَإِنْ أَصَابَكَ عَامُ سَنَةٍ فَدَعَوْتَهُ أَنْبَتَهَا لَكَ وَإِذَا كُنْتَ

او ته هغه (الله) ياد کړې نو هغه ستا تکليف ليرې کوي او که ته په وچ کالي کې اخته يې نو هغه ياد کړې نو په مځکه کې سبزيجات درته پيدا کړي او هر کله چې ته

بِأَرْضٍ قَفْرَاءَ أَوْ فَلَاةٍ فَضَلَّتْ رَاحِلَتُكَ فَدَعَوْتَهُ رَدَّهَا عَلَيْكَ قُلْتُ اعْهَدْ إِلَيَّ

په داسي مځکه کي يې چې د درختو او اوبو څخه خالي وي يا يو داسي ځنګل کي يې چې ابادي نه لري او ستا سپرلی ورک سي او ته هغه الله یاد کړې نو هغه ستا سپرلي بيرته درکوي، د جابر رضي الله عنه بيان دئ چې ددې په اوريدو سره ما عرض وکړ : ما ته يو څه نصحيت وکړئ ،

قَالَ لَا تَسُبَّنَّ أَحَدًا قَالَ فَمَا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرًّا وَلَا عَبْدًا وَلَا بَعِيرًا وَلَا شَاةً

رسول الله ﷺ راته وفرمايل : ته چا ته بد مه وايه، جابر رضي الله عنه وايي ددې وروسته ما هيچا ته بد ونه ويل، يعني نه آزاد او نه غلام ته ، نه اوښ ته او نه پسه ته ،

قَالَ وَلَا تَحْقِرَنَّ شَيْئًا مِنَ الْمَعْرُوفِ وَأَنْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَأَنْتَ مُنْبَسِطٌ إِلَيْهِ

بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : د نيکۍ هيڅ يو خبره سپکه مه ګڼه هر کله چې ته د خپل ورور سره خبري کوې نو په ورين تندي ورسره خبره وکړه

وَجْهُكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنَ الْمَعْرُوفِ وَارْفَعْ إِزَارَكَ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ فَإِنْ أَبَيْتَ فَإِلَى

چې دا هم نيکي ده ، او خپل پرتوګ تر نيمي پوندې پورې پورته کړه او که دومره پورته دي خوښ نه وي نو تر

الْكَعْبَيْنِ وَإِيَّاكَ وَإِسْبَالَ الْإِزَارِ فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيلَةِ وَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمَخِيلَةَ

خپلو بجلکو لاندې پرتوګ تړلو څخه ځان وساته، ځکه چې دا د لويي نښه ده او الله تعالى تکبر (لويي) نه خوښوي ،

وَإِنِ امْرُؤٌ شَتَمَكَ وَعَيَّرَكَ بِمَا يَعْلَمُ فِيكَ فَلَا تُعَيِّرْهُ بِمَا تَعْلَمُ فِيهِ فَإِنَّمَا وَبَالُ

او څوک چې درته بنکنځل وکړي او تا ته پر هغه غيرت درسي چې هغه ته معلوم دئ نو د هغه پر هغه عيب کوم چې تا ته معلوم دئ هغه ته پيغور مه ورکوه ځکه چې د هغه ګناه

ذَلِكَ عَلَيْهِ. رواه ابوداؤد و روي الترمذي منه حديث السلام و في رواية فيكون لك اجر ذالك و باله عليه .

پر هغه ده ، (پر تا نه ده) ابوداؤد ، او ترمذي سلام والا حديث روايت کړئ دئ او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چې ستا لپاره به د هغه ثواب وي او د هغه لپاره وبال .

تخريج: سنن ابي داؤد ۴/۳۴۴ - ۳۴۵، رقم: ۴۰۸۴، والترمذي ۵/۶۸، رقم: ۲۷۲۱ و ۲۷۲۲.

تشريح: حضرت جابر رضي الله عنه دوه واره سلام ځکه ادا کړ چې يا خو رسول الله ﷺ به اول سلام نه وو اوريدلی يا دا چې رسول الله ﷺ به هغه ته د سلام طريقې نبودلو په غرض د اول سلام جواب نه وي ورکړی ارشاد علکي السلام مه وايه د نهي تنزيهي په توګه دی او د حديث الفاظ عليک السلام ويل د مړي لپاره دعا ده د دې څخه په ظاهره دا خبره ثابتيږي چې کله يو سړی مړي ته راسي نو عليک السلام دي وائي السلام عليک دي نه وائي ځرنګه چې يو ژوندي سړي ته ويل کيږي حال دا چې تحقيقي خبره داده چې د مړي لپاره هم السلام عليک ويل مسنون دي ځکه چې د رسول الله ﷺ په باره کي دا ثابته ده چې کله به يې د مړي د زيارت لپاره تلی نو السلام عليکم به يې ويل نو رسول الله ﷺ وويل : عليک السلام د مړي دعا ده د دې معنی به دا وي چې د جاهليت په ورځو کي عليک السلام د مړي لپاره دعا ده ځيني حضرات فرمائي په عربو کي مخکي دا معمول وو چې کله به څوک قبر ته تلی نو هلته به يې د سلام لپاره دا ويل عليک السلام، نو رسول الله ﷺ د خپل ارشاد په ذريعه دې ته اشاره وفرمايله چې عليک السلام ويل د اهل عرب د معمول او عادت سره سم د مړي لپاره دعا نه ده نه دا چې د دې ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چې مړی دي سلام داسي کوي .

د حضرت جابر رضي الله عنه دا وينا چې د دې وروسته ما چاته بد ونه ويل د احتياط په توګه دی کنې تر څوپوري چې د مسئلې تعلق دی علماء ليکي چې داسي سړي ته بد ويل چې د هغه د کفر په حالت کي مړ کيدل په يقيني توګه سره معلوم وي جائز دی خو افضل او بهتر دادی چې خپله ژبه د الله تعالی په ذکر کي مصروفه وساتل سي چاته بد ويل نه دي پکار ځکه چې ماسيوا د الله تعالی په بل شي کي مصروفه کيدل د تاوان باعث دی کله چې چاته د بدو په ويلو کي هيڅ تاوان نسته مګر علماء خو تر دې پوري ليکي چې پر شيطان باندي هم په لعنت نه ويلو کي څه تاوان نسته . تر څو پوري چې د پرتاګه لنګ او داسي نورو د بجلکو زړول منعه دي همداسي په قميص کي هم د بجلکو لاندي کول منعه دي .

د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چې کوم کس تاسو ته بنکنځل وکړي يا تاسو په خپلو عيبو وبولي او تاسو شرمنده کړي نو ستاسو به په دې کي څه تاوان وي، هغه خو خپله ګناه کاره دی نو تاسو هم خپله ژبه مه خرابوئ او د هغه بې عزتي پر خپله ذمه مه اخلئ .

بدي را بدي سهل باشد جزاء اگر مردي احسن الى من اسا

د روايت په اخري کي (وفي رواية .....الخ) د الفاظو څخه معلوميږي چي ترمذي هم دا پوره روايت نقل کړی دی په ځينو حاشيو کي ليکل سوي دي چي ترمذي هم پوره روايت نقل کړی دی که څه هم د هغه الفاظ مختلف دي دلته چي کوم روايت نقل سوی دی هغه ابوداود نقل کړده روايت الفاظ دي.

خيرات ورکول

﴿۱۸۲۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ مَا بَقِيَ مِنْهَا قَالَتْ مَا بَقِيَ مِنْهَا إِلَّا كَتِفُهَا قَالَ بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا. رواه الترمذي و صححه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي صحابه کرامو يو پسه حلال کړ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا په هغه پسه کي يو شی پاته دئ؟ بي بي عائشي وويل يوازي يو وړون پاته دئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا خو ټول پسه پاته دئ (يعني پرته د وړون څخه د ټول پسه خيرات ثواب اوس هم سته). ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۵۵، رقم: ۲۴۷۰.

تشريح: بېله وړونه ټوله پاته ده: د دې مطلب دادی چي په هغوی کي خو غوښه هغه پاته ده کومه چي په خلکو کي تقسيمه سوې ده په دې توګه چي د هغه ثواب محفوظ او ثابت سو د هغه پر خلاف چي کومه حصه په کور کي پاته ده هغه فاني ده ګويا په دې آيت کريمه کي دې خوا ته اشاره ده. ما عندکم ينفدوا ما عند الله باق: څه چي ستاسو سره وي فاني دي او څه چي د الله تعالى سره دي هغه پاته کيدونکي دي.

لوښ ته جامه ورکول

﴿۱۸۲۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي

يَقُولُ مَا مِنْ مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا إِلَّا كَانَ فِي حِفْظٍ مِنَ اللَّهِ مَا دَامَ مِنْهُ عَلَيْهِ خِرْقَةٌ. رواه احمد والترمذي.

چي فرمايلي يې: کوم مسلمان يو بل مسلمان ته جامه ورکړي نو تر څو پوري چي د هغه جامې يو تاهم پاته وي نو هغه سړی به د الله په امن کي وي. احمد او ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵۶۲\۴، رقم: ۲۴۸۴، لم نجده عند الامام احمد.

تشريح: دا د دنيا فائده ده چي د هغه د ورکړه سوو جامو څخه يوه توته هم تر څو پوري چي د هغه مسلمان پر بدن وي هغه د الله تعالى په حفاظت او امان کي وي خو په آخرت کي چي د دې کوم ثواب دی هغه بې حسابه دی.

په پټه صدقه ورکول

﴿۱۸۲۶﴾: وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ يَرْفَعُهُ قَالَ ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللّٰهُ رَجُلٌ

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: درې کسان داسي دي چي الله تعالى ورسره مينه کوي: يو هغه کس

قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتْلُو كِتَابَ اللّٰهِ وَرَجُلٌ يتصدق بصدقة بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا أُرَهُ

چي د شپې ولاړ يږي او د قرآن تلاوت کوي، دوهم هغه کس چي په راسته سره صدقه ورکړي مګر چپه لاس يې هم خبر نه سي،

قَالَ مِنْ شِمَالِهِ وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَانْهَزَمَ أَصْحَابُهُ فَاسْتَقْبَلَ الْعَدُوَّ.

رواه الترمذي و قال هذا حديث غير محفوظ احد رواته ابوبكر بن عياش كثير الغلط.

دريم هغه کس چي په يو لښکر کي. کډون وکړي د هغه ملګري ماته وخوري او هغه د دښمن په وړاندي پاته سي. ترمذي ويلي دي دا حديث غير محفوظ دئ د دې يو راوي ابوبکر بن عياش ډيري غلطي کوي.

تخريج: سنن الترمذي ۶۰۱\۴، رقم: ۲۵۶۷.

تشريح: د (بيمينه) څخه د صدقه ورکونکي آداب ته اشاره فرمايل سوې ده چي د صدقې مال په خپل لاس سره ورکړه سي يا دا چي مخکي هغه سړي ته د صدقې او خيرات مال ورکړي چي خپل راسته خوا ته وي.

د چپه لاس څخه یې پټه کړي د دې مطلب دادی چي په راسته لاس سره د صدقې مال ورکړي نو چپه لاس هم د هغه څخه خبر نه وي په هغوی کي کمال د پټ والي لپاره د مبالغې په توګه فرمایل سوی دی یعني د صدقې مال دي په ډیري زیاتي پټي طریقې سره ورکړه سي چي د صدقې مال اخستونکی په عام نظرونو کي خپله کمتري محسوسه نه کړي بیا د دې الفاظو معنی به دا وي چي د صدقې مال راسته خوا ته ورکړي نو د هغه چپه خوا والا هم خبریدل نه دي پکار. دا چي د الله تعالی د رضا لپاره او د هغه ریاء او ځان ښووني څخه د ساتلو لپاره همداسي په پټه صدقه ورکول د زیات ثواب باعث دي.

درې کسان

﴿۱۸۲۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمْ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د درو کسانو سره الله جل جلاله مینه کوي

اللّٰهُ وَثَلَاثَةٌ يُبْغِضُهُمْ اللّٰهُ فَأَمَّا الَّذِينَ يُحِبُّهُمْ اللّٰهُ فَرَجُلٌ أَتَى قَوْمًا فَسَأَلَهُمْ

او د درو کسانو سره الله تعالی بغض ساتي، کوم خلک چي الله جل جلاله دوستي ورسره کوي د هغو څخه یو دادئ چي هغه داسي سړي ته صدقه ورکړي چي د یو قوم څخه د غوښتلو لپاره راغلئ وو

بِاللّٰهِ وَلَمْ يَسْأَلْهُمْ لقرابة بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ فَمَنَعُوهُ فَتَخَلَّفَ رَجُلٌ بِأَعْقَابِهِمْ

او هغه دغه قوم څخه د خپلولۍ د حق په نامه نه بلکه د الله تعالی په نامه سوال کړی وو مګر قوم د ورکولو څخه انکار وکړ نو د قوم څخه یو سړی را وړاندي سو او په داسي پټه یې د هغه سوال پوره کړ چي

فَأَعْطَاهُ سِرًّا لَا يَعْلَمُ بِعَطِيَّتِهِ إِلَّا اللّٰهُ وَالَّذِي أَعْطَاهُ وَقَوْمٌ سَارُوا لَيْلَتَهُمْ

د الله جل جلاله څخه پرته او د هغه سړي څخه پرته بل چا ته څرګنده نه سوه، او دوهم هغه سړی چي د قوم سره ټوله شپه ولاړئ

حَتَّى إِذَا كَانَ النَّوْمُ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِمَّا يُعْدَلُ بِهِ فَوَضَعُوا رُءُوسَهُمْ فَقَامَ أَحَدُهُمْ

تر دي چي خوب ورته ډیر خوږ سو او ټول خلک بیده وي او دی را ولاړ سي د الله تعالی په

وړاندې زارۍ کوي

يَتَمَلَّقُنِي وَيَتْلُو آيَاتِي وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَلَقِيَ الْعَدُوَّ فَهُزِمُوا وَأَقْبَلَ

او قرآن مجيد وايي او دريم هغه سړی چې په يو لښکر کې وو ، د لښکر د ډبنمن سره مقابله سوه او ماته يې وخوړل او دا سړی د ډبنمن په وړاندې د سپر په ډول ولاړ وو ،

بِصَدْرِهِ حَتَّى يُقْتَلَ أَوْ يُفْتَحَ لَهُ وَالثَّلَاثَةُ الَّذِينَ يُبْغِضُهُمُ اللَّهُ الشَّيْخُ الزَّانِي

تر څو چې قتل سي يا فتح ترلاسه کړي ، او هغه درې کسان چې الله تعالی بغض ورسره کوي په هغوی کې يو هغه سپين ږيری دئ چې زنا کوي

وَالْفَقِيرُ الْمُخْتَالُ وَالْغَنِيُّ الظَّلُومُ . رواه الترمذي و النسائي مثله و لم يذكر و ثلثة يبغضهم .

او دوهم تکبر کونکی فقير دئ او دريم ظلم کونکی شتمن دئ ، نسائي هم داسې روايت کړئ دئ او (ثلثة يبغضهم) يې نه دئ ذکر کړئ .

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۶۰۱، رقم: ۲۵۶۸، والنسائي ۵\ ۸۴، رقم: ۲۵۶۹.

تشريح: د حديث شروع چې په کوم طرز سره سوې ده د هغه څخه خو معلوميږي چې دا د رسول الله ﷺ ارشاد دی خو وروسته طرز يعني د حديث الفاظ يتملقني او زما مخکې په زارۍ شروع سي د دې څخه دا خبره ثابتيږي چې دا ارشاد نبوي نه دی بلکه کلام الهي دی، طرز خلاف د دې اختلاف توجيه دا کيږي چې دا حديث په حقيقت کې خو ارشاد نبوي دی مګر الله تعالی خپل نبي ته هغه کيفيت بيان کی چې د هغه او هغه بنده په مينځ کې واقع کيږي ځکه رسول الله ﷺ په دې وخت کې د هغوی کيفيت د بيانولو لپاره د الله تعالی بعينه قول نقل و فرمايه.

الشيخ الزاني: چې د سپين ږرتوب باوجود زنا کوي د لفظ شيخ څخه يا خو سپين ږيرتوب مراد دی يا به وويل سي چې دلته د شيخ څخه واده سوی مراد دی که څه هم هغه سپين ږيری وي يا ځوان وي لکه څرنګه چې په دغه منسوخ آيت کې دی :

الشيخ والشيخة اذا زانيا فارجموهما البتة نكالا من الله والله عزيز حكيم

ژباړه : واده سوی سړی او واده سوې ښځه کله چې دواړه زنا وکړي نو دواړه سنګسار کړی د الله تعالی د خوا څخه دا سزا ضروري ده بيشکه الله تعالی غالب ذات او د حکمت خاوند دی .

په دې کې د شیخ څخه مراد واده سوی دی که څه هم هغه ځوان وي یا سپین ږیری تکبر کونکی فقیر هم د الله تعالی په نزد مبغوض ګرځول کیږي مګر د فقیر هغه تکبر مستثنی دی چې د یوه متکبر سره وي مګر داسې تکبر خو صدقه ګرځول کیږي یعنې که یو فقیر چا د متکبر سره تکبر وکړی نو هغه به د الله تعالی په نزد مبغوض نه وي بلکه هغه ته به د صدقې ثواب ورکول کیږي، د بشیر ابن حارث رحمة الله علیه په باره کې نقل دي چې یو وار هغه امیرالمومنین حضرت علي کرم الله وجهه په خوب کې ولیدی نو هغه ته یې وویل چې اې امیرالمومنین! ماته څه نصیحت وکړه حضرت علي رضی الله عنه ورته وفرمایل: شتمنو ته د الله تعالی د رضا د حاصلولو لپاره او د مسکینانو سره د مهربانۍ معامله کول ډېر غوره دي، او فقیرانو ته پر الله تعالی باندې توکل او اعتماد او د مالدارانو سره د تکبر معامله کول ډېر بهتر دي.

پورته چې کوم خصلتونه ذکر سوي دي که څه هم هغه د ټولو خلکو په حق کې خراب دي مګر د دې درو سرو په حق کې ډېر زیات خراب دي ځکه چې دوی د الله تعالی دښمنان ګرځول سوي دي.

﴿۱۸۲۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې الله تعالی پیدا کړه

الْأَرْضَ جَعَلَتْ تَمِيدُ فَخَلَقَ الْجِبَالَ فَعَادَ بِهَا عَلَيْهَا فَاسْتَقَرَّتْ فَعَجِبَتْ

مځکه نو هغه په لړزیدو سوه، بیا یې غرونه پیدا کړل او هغو ته یې پر مځکه د درېدو حکم ورکړ نو مځکه ودریدل نو حیراني سوې

الْمَلَائِكَةُ مِنْ شِدَّةِ الْجِبَالِ فَقَالُوا يَا رَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ

ملائکې د غرو په سختوالي، هغوی پوښتنه وکړه اې پروردګاره! ستا په مخلوق کې تر غره هم سخت شی ستە؟

الْجِبَالِ قَالَ نَعَمُ الْحَدِيدُ فَقَالُوا يَا رَبِّ فَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ

الله تعالی ورته وفرمایل: هو، اوسپنه ده، بیا ملائکو پوښتنه وکړه اې پروردګاره! ستا په مخلوق کې تر اوسپنې هم زیات سخت شی ستە؟

الْحَدِيدِ قَالَ نَعَمُ النَّارُ فَقَالُوا يَا رَبِّ فَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ النَّارِ

الله تعالى ورته وفرمايل : هو ، اور دئ ، ملائكو بيا پوښتنه وكړه اې پروردګاره ! ستا په مخلوق كې تر اور هم سخت شى سته ؟

قَالَ نَعَمُ الْمَاءُ قَالُوا يَا رَبِّ فَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْمَاءِ قَالَ نَعَمُ

الله تعالى ورته وفرمايل : هو ، اوبه دي ، ملائكو بيا پوښتنه وكړه اې ربه ! ستا په مخلوق كې تر اوبو هم زيات سخت شى سته ؟ الله تعالى ورته وفرمايل : هو ،

الرِّيحُ قَالُوا يَا رَبِّ فَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الرِّيحِ قَالَ نَعَمُ ابْنُ آدَمَ

هواء ده ، ملائكو بيا پوښتنه وكړه اې ربه ! ستا په مخلوق كې تر هواء هم زيات سخت شى سته ؟ الله تعالى ورته وفرمايل : هو ، د آدم اولاده انسان دئ

تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا مِنْ شِمَالِهِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غيريب و ذكر حديث معاذ الصدقة تعطفئ الخطيئة في كتاب الايمان

چې په راسته لاس سره داسې خيرات كوي چې د چپه لاس څخه يې هم پټوي . ترمذي ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ ، د معاذ حديث چې صدقه ګناهونه رژوي په كتاب الايمان كې بيان سوى دئ .

تخريج : سنن الترمذي ۵\ ۴۲۳، رقم: ۳۳۶۹.

تشريح : د بني آدم صدقه ورکول دې فعل ته ځکه تر ټولو زيات سخت فرمايل سوى دى چې په ډيرې پټې توګې سره چاته صدقه په ورکولو كې د نفس اماره مخالفت طبيعت او پر مزاج باندې د شيطان ملعون مدافعت لازميږي .

كله چې د دې څخه په ذكر سوو شيانو يعني غرونه، اوسپنه، اور او داسې نورو كې دا خبره نسې تر لاسه كيداى .

په پټه صدقه ورکولو كې د نفس مخالفت او د شيطان مدافعت په دې توګه لازميږي چې په فطري توګه سره نفس دا غواړي چې زه كله چاته مال ورکړم نو خلک دې وګوري او زما تعريف دې وکړي چې ماته په نورو خلکو فخر او امتياز حاصل دى، هغه چې د عام نظرونو څخه په پټولو سره چاته خپل مال ورکي نو هغه ګويا د نفس اماره مخالفت وکى او شيطان يې د ځان څخه ليرې کى .

ځيني علماء فرمائي: دا ځکه زياته سخته ده چې د صدقې په وجه د الله تعالى رضا حاصليږي او ظاهره ده چې د الله تعالى رضا تر ټولو لوى شى دى.

و ذكر حديث معاذ الصدقة تطفئي الخطيئة في كتاب الايمان : او د حضرت معاذ رضي الله عنه روايت تطفئي الخطيئة په كتاب الايمان كې نقل سوي دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د هر شي څخه دوه دوه شيان خيراتول

﴿۱۸۲۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ عَبْدٍ

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم مسلمان چې

مُسْلِمٍ يُنْفِقُ مِنْ كُلِّ مَالٍ لَهُ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ إِلَّا اسْتَقْبَلَتْهُ حَجَبَةُ

د خپل هر مال څخه دوه دوه شيان د الله ﷻ په لار كې نفقه كوي نو د جنت ټول دربانان د هغه ښه

الْجَنَّةِ كُلُّهُمْ يَدْعُوْهُ إِلَى مَا عِنْدَهُ قُلْتُ وَكَيْفَ ذٰلِكَ قَالَ إِنْ كَانَتْ إِبِلًا

راغلاست كوي او په هغوى كې به هر يو هغه لره هغه د هغه شي په لور بولي چې ورسره دي، ابوذر وايي ما پوښتنه وكړه ددې څه شكل دئ؟ يعني دوه دوه شيان څنګه خرڅ كيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: كه اوښان وي

فَبَعِيْرَيْنِ وَإِنْ كَانَتْ بَقَرًا فَبَقَرَتَيْنِ. رواه النسائي.

نو دوه اوښان او كه غواوي وي نو دوې غواوي. نسائي.

تخريج: سنن النسائي ٦\ ٤٨- ٤٩، رقم: ٣١٨٥.

تشريح: د الله تعالى په لار كې د خرڅولو مطلب دادى چې خپل مال دي هلته خرڅ كړي كوم ځاى چې په خرڅولو سره الله تعالى خوشحاله كيږي او راضي كيږي لكه حج، جهاد، طلب علم، د غريبانو او محتاجانو مرسته او داسي نور، د ځان سره د شيانو مراد د جنت ښه ښه شيان او د هغه ځاى نعمتونه دي يا د دې مطلب دا چې د هغه دربان به هغه د جنت هري دروازې خوا ته بولي.

صدقه سايه ده

﴿۱۸۳۰﴾: وَعَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ

د حضرت مرثد بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما ته د رسول الله ﷺ ځينو صحابه كرامو بيان كړئ دي

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ ظِلَّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهُ . رواه احمد .

چې هغوى د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې د قيامت په ورځ به د مؤمن سايه د هغه صدقه وي . احمد

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\۲۳۳.

تشريح: څرنګه چې سايوان د لمر د ګرمۍ څخه ساتي همداسي د قيامت په ورځ به صدقه د نجات او ارام او راحت سبب وي يا دا چې د قيامت په ورځ به صدقه يا د هغه د سايوان په شكل كي د صدقې وركونكو پر سر ودرول سي تر څو چې د هغه ورځي د ګرمۍ څخه وساتل سي.

د عاشورې ورځ

﴿۱۸۳۱﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې

وَسَّعَ عَلَى عِيَالِهِ فِي النَّفَقَةِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَسَّعَ اللَّهُ عَلَيْهِ سَائِرَ سَنَتِهِ " . قال سفيان : إنا قد جربناه فوجدناه كذلك . رواه رزين

د عاشورې په ورځ په خپل كورنۍ زيات خرڅ وكړي نو الله تعالى به پر هغه ټوله كال پراخي وكړي ، د سفيان ثوري بيان دي چې. موږ ددې تجربه وكړه او همداسي وسول . رزين ، بيهقي په شعب الايمان كي د ابن مسعود ، ابوهريرة ، ابوسعيد او جابر څخه روايت كړئ دئ او هغه دې حديث ته ضعيف ويلي دي .

تخريج: رواه رزين.

تشریح: بیهقي رحمة الله علیه دې روایت ته ضعیف ویلی دی مګر هغه دا هم ویلي دي که څه هم د دې طرق ضعیف دی خو د یو بل څخه تقویت ورته حاصل دی.

ځینې خلکو د عاشورې په ورځ د رانجو وهلو په باره کې چې کوم حدیث نقل کړی دی د هغه څه حقیقت نسته همداسې د عاشورې په ورځ د نورو لس افعالو په اړه چې کوم حدیث نقل کیږي دغه هم نسته البته د عاشورې په ورځ د صحیح احادیث په ذریعه یوازې روژه نیول او په خوراک کې وسعت اختیارول ثابت دي.

د خیرات کولو ثواب

﴿۱۸۳۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ قَالَ قَالَ اَبُوْذَرٍ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اَرَأَيْتَ الصَّدَقَةَ مَاذَا هِيَ قَالَ أَضْعَافٌ مُضَاعَفَةٌ وَعِنْدَ اللّٰهِ الْمَزِيْدُ. رواه احمد.

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دئ چې ابو ذر د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! ما ته وښیاست چې د صدقې ثواب څه شي دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دوه برابر او ددوو برابرو څخه هم زیات او د الله تعالی په نزد د دې څخه هم زیات دئ. احمد

تخریج: الامام احمد في مسنده ۵\ ۱۷۸،

تشریح: د حدیثو څخه د چند درچند مقدرا لس چنده تر اوه سوه پورې معلومیږي او که الله تعالی غواړي او د هغه خالص رحمت شامل وي نو د ثواب مقدار تر اوو سوو هم زیات کیدای سي څرنګه چې خپله الله تعالی فرمائي: والله یضاعف لمن یشاء : د چا لپاره چې الله تعالی وغواړي د هغه ثواب زیاتوي.

==========

بَابُ اَفْضَلِ الصَّدَقَة

د غوره صدقې بیان

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

غوره صدقه

﴿۱۸۳۳﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ وَ حَكِيْمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه او حکیم بن حزام رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُوْلُ . رواه البخاري و رواه مسلم عن حكيم وحده .

غوره صدقه هغه ده چې په بې پرواهي سره ورکړل سي او صدقه د هغه چا څخه پیل کړه چې پر تا دهغه نفقه واجب ده . بخاري او مسلم یوازي د حکیم بن حزام څخه روایت کړئ دئ .

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۹۴، رقم: ۱۴۲۶. ومسلم ۲\ ۷۱۷، رقم: ۹۵- ۱۰۳۴.

تشریح : د بې پرواهي مطلب دادی چې د صدقې مال دي په اندازه سره ورکړي چې ته خپله فقیر او مفلس جوړ نسې بلکه غنا پاته وي یعني د خپلې کورنۍ د ژوند د ضروریاتو په اندازه مال او اسباب وساته د دې وروسته چې څه پاته سي هغه د الله تعالی پر نامه خیرات کړه، داسي نه چې ټول مال و زر د الله تعالی په لار کې خرڅ کې او خپله کورنۍ محتاجي او لوږې ته پریږدې رسول الله ﷺ وروسته د دې خبري وضاحت وکی چې د صدقې مال مخکې هغه خلکو ته ورکړه د چا د ژوند ضروریات چې ستا د ذات سره تړلي دي د هغوی څخه چې پاته سي نو بیا یې نورو ته ورکړه .

د صدقې ورکولو وروسته د نفس غنا یا د مال غنا کیدل ضروري دي : په دې باره کې تحقیقي مسئله داده چې کوم سړی د الله تعالی په لار کې خپل مال وزر خرڅ کول غواړي د هغه لپاره ضروري ده چې هغه ته یا خو غنائې نفس اماره حاصل وي په دې توګه چې د نفس د سخاوت له مخې هغه خپل مال وزر د الله تعالی په لار کې خرڅوي نو د هغه څخه دا د الله تعالی

پر ذات باندي د دې درجې کامل اعتماد او توکل وي چې د هغه زړه باالکل مستغنی وي او هغه ته د دې خبري پروانه وي چې زما کوچنیان به سبا څه خوري څرنګه چې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په باره کې نقل دي چې هغه یو وار خپل ټول مال او اسباب د الله تعالی په لار کې د خرڅولو لپاره د رسول الله ﷺ په قدمونو کې کښیښوده نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اې ابوبکره د کور والا لپاره دي څه پریښودل ؟ هغه وویل: الله یعني د کورنۍ لپاره د الله تعالی پر ذات کامل اعتماد او توکل مې پرې ایښی دی چې هغه تر اوسه پورې ماته دومره مال و زر راکړي دي هغه به د سبا ورځې لپاره هم د هغوی د ژوند ضروریات پوره کړي رسول الله ﷺ د هغوی د دې سخاوت او د عظیمي جذبې تعریف وکی دا خو اوله درجه سوه دوهمه درجه داده که غنائي نفس حاصل نه وي بیا غناء مال کیدل ضروري دی یعني د الله تعالی په لار کې دومره مال خرڅوي چې خپله مفلس او فقیر نسي بلکه دومره مال پاته پریښودل ضروري دي چې د اهل وعیال د ژوند ضروریات پوره کړه سي څرنګه چې پورته ذکر سوي دي .

حاصل دا چې که د توکل دولت نصیب سي نو بیا څه چې غواړي د الله تعالی په لار کې دي یې خرڅ کړي که دا مرتبه حاصله نه وي نو خپله کورنۍ ته دي په صدقه او خیرات کې دومره مال ورکې چې خپل اهل وعیال یې د ژوند په ضروریاتو کې محتاج نسي .

په کورنۍ د خرڅ کولو ثواب

﴿۱۸۳۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْفَقَ الْمُسْلِمُ نَفَقَةً عَلَى أَهْلِهِ وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً . متفق عليه

د حضرت ابو مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : مسلمان چې په خپل کورنۍ باندي خرڅ کوي او پر هغه د ثواب امید ساتي نو دا هم د هغه لپاره په صدقه کې شمیرل کیږي . بخاري او مسلم

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۹\ ۴۹۷، رقم: ۵۳۵۱، ومسلم ۲\ ۶۹۵، رقم: ۴۸- ۱۰۰۲.

﴿۱۸۳۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِينَارٌ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : یو دینار دئ

أَنفَقْتَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَدِينَارٌ أَنفَقْتَهُ فِي رَقَبَةٍ وَدِينَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ

چې تاسو يې د الله تعالى په لار کې خرڅ کړئ او يو دينار دئ چې په غلام آزادولو يې خرڅ کړئ او يو دينار دئ چې مسکين ته يې صدقه کړئ

وَدِينَارٌ أَنفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ . رواه مسلم

او يو دينار دئ چې په خپل کورنۍ باندې يې خرڅ کړئ په دې ټولو کې د اجر له کبله هغه دينار تر ټولو زيات دئ چې تاسو يې په خپل کورنۍ باندې خرڅ کړئ . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۶۹۲، رقم: ۳۹- ۹۹۵.

غوره صدقه

﴿۱۸۳۶﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ دِينَارٍ

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره دينار

يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى دَابَّتِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

چې سړی يې نفقه کوي هغه دينار دئ چې هغه يې په خپلې کورنۍ نفقه کوي او هغه دينار دئ چې هغه يې په خپلو حيوانانو نفقه کوي چې د غزا لپاره يې ساتلي

وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ . رواه مسلم .

وي او هغه دينار دئ چې په خپلو ملګرو يې نفقه کوي کوم چې په جهاد کې بوخت وي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۶۹۱، رقم: ۳۸- ۹۹۴.

تشريح: دلته د مال و زر درې بهترينه مصرف بيان سوي دي چې پر دې درو باندې خپل مال و زر خرڅول د دوی پر نورو باندې د خرڅولو بهتر دي .

په کورنۍ د خرڅ کولو ثواب

﴿۱۸۳۷﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلِيَ أَجْرٌ أَنْ أُنْفِقَ عَلَى بَنِي أَبِي سَلَمَةَ إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ فَقَالَ أَنْفِقِي عَلَيْهِمْ فَلَكِ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ .

متفق علیه

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روایت دئ چې ما نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ چې اې د الله رسوله ! که زه د ابو سلمه په زامنو کې چې زما زامن هم دي نفقه کوم ؟ نو ایا ما ته به ددې ثواب راکول کیږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : ته پر هغو نفقه کوه څه چې ته پر هغوی نفقه کړې د هغه به ثواب ترلاسه کړې ، بخاري او مسلم .

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۳۲۸، رقم: ۱۴۶۷، ومسلم ۲\ ۶۹۵، رقم: ۴۷- ۱۰۰۱.

تشریح : ابو سلمه رضی الله عنه یو صحابي وو ، بي بي ام سلمه رضي الله عنها د هغه په نکاح کي وه ، د ابو سلمه رضی الله عنه څو بچي وسوه عمر زینب او دره کوم وخت چې ابو سلمه رضی الله عنه وفات سو نو ام سلمه رضی الله عنها رسول الله ﷺ په نکاح کړه د هغې څخه چې کوم کوچنیان وه د هغوی اخراجات به یې هغوی ته ورکول په دې باره کې هغې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې زه دوی ته څه ورکړم ایا د دې ثواب به ماته حاصلیږي که نه؟ نو په دې صورت کې به د زامنو څخه د بي بي ام سلمه حقیقي زامن مراد دي چې د ابو سلمه رضی الله عنه څخه وه ، ام سلمه رضی الله عنها پر هغوی د مال خرڅولو په باره کې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه په دې صورت کې به د زامنو څخه مراد د ام سلمه رضی الله عنها میرنې زامن مراد وي .

په کورنۍ د خرڅ کولو ثواب

﴿۱۸۳۸﴾: وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَاَةِ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

د عبدالله ابن مسعود دښځې بي بي زینب څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

تَصَدَّقْنَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ قَالَتْ فَرَجَعْتُ إِلَى عَبْدِ اللهِ

اې ښځو ! خیرات کوئ که څه هم هغه ستاسو د ګېنو وي ، بي بي زینب وایي (د دې په اوریدو سره) کله چې زه خپل خاوند عبدالله ته ورسیدم

فَقُلْتُ إِنَّكَ رَجُلٌ خَفِيفُ ذَاتِ الْيَدِ وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَدْ أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ

نو ما ورته وویل : ته یو مفلس سړی یې او رسول الله ﷺ موږ ته د خیرات کولو حکم راکړئ دئ

فَأْتِهِ فَاسْأَلْهُ فَإِنْ كَانَ ذَلِكَ يَجْزِي عَنِّي وَإِلَّا صَرَفْتُهَا إِلَى غَيْرِكُمْ قَالَتْ فَقَالَ

اوس ته د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سه او پوښتنه وکړه که زه پر تا او ستا پر اولاد خرڅ کړم نو دا بس ده که یا؟ که دا صدقه کول بس وي نو زه به یې پر تا خرڅ کړم، یعني بل چا ته به یې نه ورکوم، بي بي زینب وایي: د دې په اوریدو سره زما خاوند عبدالله ما ته وویل:

لِي عَبْدُ اللّٰهِ بَلْ ائْتِيهِ أَنْتِ قَالَتْ فَانْطَلَقْتُ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بِبَابِ

ته په خپله ولاړه سه او د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه، زینب وایي زه ولاړم نو یو انصاري ښځه هم د رسول الله ﷺ په دروازه کي ناسته وه

رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ حَاجَتِي حَاجَتُهَا قَالَتْ وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ قَدْ أُلْقِيَتْ عَلَيْهِ

د هغې پوښتنه هم زما د پوښتنې په ډول وه، زینب وایي د رسول الله ﷺ ډیر هیبت وو (یعني خلک به ځینې بیریدل)

الْمَهَابَةُ قَالَتْ فَخَرَجَ عَلَيْنَا بِلَالٌ فَقُلْنَا لَهُ ائْتِ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فَأَخْبِرْهُ أَنَّ

ناڅاپه بلال رضی الله عنه موږ ته راغلئ موږ هغه ته وویل چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړه

امْرَأَتَيْنِ بِالْبَابِ تَسْأَلَانِكَ أَتُجْزِئُ الصَّدَقَةُ عَنْهُمَا عَلَى أَزْوَاجِهِمَا وَعَلَى أَيْتَامٍ

چي دوې ښځې په دروازه کي ناستي دي او دا پوښتنه کوي که هغوی خپلو خاوندانو ته او هغه یتیمانو ماشومانو ته

فِي حُجُورِهِمَا وَلَا تُخْبِرْهُ مَنْ نَحْنُ قَالَتْ فَدَخَلَ بِلَالٌ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ

چي د هغوی په روزنه کي دي صدقه ورکړي نو ایا دا بس ده؟ او رسول الله ﷺ ته دا مه ښیه چي سوال کونکي ښځې څوک دي،

فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ هُمَا قَالَ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَزَيْنَبُ

بي بي زینب وایي بلال د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو د مسئلې پوښتنه یې وکړه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا دواړې ښځې څوک دي؟ بلال رضی الله عنه ورته وویل یوه انصاري ښځه ده او بله زینب ده،

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ أَيُّ الزَّيَانِبِ قَالَ امْرَأَةُ عَبْدِ اللّٰهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ

رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په زینبو کي کومه زینب ده ؟ بلال ورته وویل د عبدالله کور والا، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

ﷺ لَهُمَا أَجْرَانِ أَجْرُ الْقَرَابَةِ وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ . متفق عليه و اللفظ للمسلم .

هغې ته به دوه برابر ثواب ورکول کیږي یو ثواب د قرابت او دوهم د صدقې بخاري او مسلم

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۳۲۸، رقم: ۱۴۶۶، ومسلم ۲\ ۶۹۴، رقم: ۴۴ - ۹۹۹.

تشریح: (قَدْ أُلْقِيَتْ عَلَيْهِ الْمَهَابَةُ): د دې مطلب دادی چې الله تعالی د رسول الله ﷺ ذات اقدس هیبت او عظمت داسي پکښې جوړ کړی وو چې خلک به رسول الله ﷺ څخه مرعوب کیده او بیریده د رسول الله ﷺ بې انتها تعظیم به یې کوی په دې وجه چاته جرات نه کیدی چې هغوی نا څاپي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سي او ظاهره ده چې د رسول الله ﷺ دا عظمت او هیبت نعوذ بالله د رسول الله ﷺ د څه بد اخلاقی او خشونت په وجه نه وو بلکه هغه خدایي وو چې الله تعالی د رسول الله ﷺ دا عظمت او هیبت د رسول الله ﷺ د عزت او تعظیم سبب جوړ کړی وو .

کله چې بي بي زینب رضي الله عنها حضرت بلال رضی اللہ عنہ منع کړی وو چې د هغوی نومونه دي رسول الله ﷺ ته نه بنائي نو هغه ته د هغوی د خواهش احترام کول پکاره وو خو رسول الله ﷺ د هغه څخه د هغو ښځو نومونه وپوښتل ځکه د رسول الله ﷺ د حکم په وجه د هغه لپاره دا ضروري سوې وه چې د هغوی نومونه وبنائي نو هغه د رسول الله ﷺ د حکم تعمیل وکی .

دا خو د حدیث وضاحت وو اوس دې مسئلې ته راسئ چې ایا یوه ښځه خپل خاوند ته یا سړي خپلي ښځي ته د خپل زکوة مال ورکولای سي که نه، په دې باره کي د ټولو علماؤ مذهب دادی چې هیڅ سړی دي خپلي ښځي ته د خپل زکوة مال نه ورکوي خو د دې برعکس په صورت کي امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه خو دا فرمائي چې هیڅ ښځه دي خپل خاوند ته د زکوة مال نه ورکوي نو د هغه مال څخه به خپله هم فائده حاصلوي چې جائز به نه وي صاحبین یعني امام ابو یوسف او امام محمد رحمة الله علیه فرمائي چې څرنګه یو سړي ته خپلي ښځي ته زکوة ورکول جائز نه دی همداسي ښځه هم خپل زکوة خاوند ته نسي ورکولای د امامانو د دې اختلاف په وجه به وویل سي چې د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد د دغه مذکوره

صدقې څخه به صدقه نفل مراد وي او د صاحبينو په نزد د هغه څخه صدقه نفل هم مراد کيداى سي او صدقه فرض يعني زکوة هم مراد کيداى سي.

قريبانو ته خيرات ورکول

﴿۱۸۳۹﴾: وَعَنْ مَيْمُوْنَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّهَا أَعْتَقَتْ وَلِيدَةً فِيْ زَمَانِ رَسُوْلِ اللّٰهِ

د حضرت ميمونې بنت الحارث (رض) څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ. متفق عليه

هغې يوه مينځه آزاده کړه، بيا رسول الله ﷺ ته د هغې يادونه وکړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که تا دا مينځه خپل ماما ته ورکړې واى نو لوى ثواب به دې سوى واى. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\ ۲۱۷، رقم: ۲۵۹۲، ومسلم ۲\ ۶۹۴، رقم: ۴۴-۹۹۹.

تشريح: مطلب دادى چې ستا ماما ته د يو خدمتګار ضرورت وو ځکه تا هغه مينځه هغه ته ورکړې وه نو تاته به د صدقې ثواب هم ترلاسه کيدى او د صله رحمي ثواب هم.

د همسايه خيال ساتل

﴿۱۸۴۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ لِيْ جَارَيْنِ فَإِلَى أَيِّهِمَا

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې ما د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! زما دوه همسايګان دي زه په هغوى کې کومې يوې

أُهْدِيْ قَالَ إِلَى أَقْرَبِهِمَا مِنْكِ بَابًا. رواه البخاري

ته تحفه ولیږم، رسول الله ﷺ راته وفرمايل: د چا دروازه چې ستا دروازې ته نژدې وي هغې ته. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\ ۲۱۹، رقم: ۲۵۹۵.

تشريح: که د چا دوه همسايه ګان وي داسې چې په هغوى کې د يوه هماسه ديوال ډير نژدې وي او د دوهم همسايه بيا دروازه ډيره نژدې وي نو هغه قريبي دروازې والا دي مخته ونيول سي. مګر په دومره خبره پوه سئ چې دلته په حديث کې حصه مراد نه ده يعني د رسول الله ﷺ د ارشاد

مطلب دا نه دی چي يوازي هغه ته دي ورکړه سي دوهم ته دي نه ورکړه سي مګر مراد دادی چي مخکي يا زيات دي هغه همسايه ته ورواستول سي چي د هغه دروازه زياته نژدې وي او د دې وجه په ظاهره دا معلوميږي چي د کوم همسايه دروازه زياته نژدې وي د هغه سره تګ راتګ او ملاقات زيات وي چي د هغه په وجه د هغه د حالاتو هم زيات علم وي نو د هغه سره د محبت او ښه سلوک معامله کول اعلی ده .

﴿۱۸۴۱﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَأَكْثِرْ مَاءَهَا وَتَعَاهَدْ جِيرَانَكَ . رواه مسلم

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايل : هر کله چي ته غوښي پخې کړې نو په هغه کي زياتي اوبه اچوه او د خپلو همسايو خبر اخله . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۲۰۲۵، رقم: ۴۲- ۲۶۲۵.

تشريح: د دې ارشاد منشاء داده چي کله سالن پخوی نو خپل لذت او خواهش مقدم مه ساتی بلکه د همسايه د ضرورت هم خيال ساتی او د دې شکل دادی چي په کتغ کي اوبه زياتي اچوی چي ښوروا زياته وي تر څو تاسو او همسايګان يې په ماړه نس وخورئ .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

غوره صدقه

﴿۱۸۴۲﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ قَالَ جُهْدُ الْمُقِلِّ وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د نبي کريم صلي الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چي اې د الله رسوله ! کوم صدقه غوره ده ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايل : د لږ مال خاوند زيات کوښښ کول (يعني په محنت او مزدوري چي څه تر لاسه سي د هغه څخه ورکول) او د صدقې پيل د هغه چا څخه کوه چي د هغوی پر تا نفقه واجب وي . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۳۱۲، رقم: ۱۶۷۷.

تشريح: د کم مال لرونکي زيات سعي او کوښښ: د دې مطلب دادی د هغه سړي صدقه زياته

افضله ده که څه هم د کم مال مالک وي مګر د صدقه ورکولو په معامله کي خپله پوره سعي او کوښښ او مشقت وي او څه چي د هغه په وس کي وي هغه د الله تعالی په لار کي د خرڅولو څخه دي منعه نه کوي.

د دې باب چي اول حدیث تیر سوی دی د هغه څخه خو دا معلومه سوه چي بهترینه صدقه هغه ده چي په غناء حالات کي ورکړه سي کله چي دا حدیث هغه صدقه افضل ګرځوي چي د مال د کمي په حالت کي ورکړه سي نو د دې دواړو روایتونو تطبیق به داسي وي چي د صدقې د فضیلت تعلق د اشخاص او حالت او قوت توکل او ضعف یقین تفاوت سره دی اول حدیث د هغه خلکو په باره کي دی چي د توکل پر معیار پوره نه پریوځي او دا حدیث د هغه خلکو په باره کي دی چي هغوی ته د کامل توقع او یقین مرتبه حاصلیږي.

ځیني حضرات فرمائي دلته په حدیث کي مقل یعني کم مال والا څخه غني القلب یعني هغه شخص مراد دی چي د زړه غني او بې پرواه وي په دې صورت کي به دا حدیث د اول حدیث د الفاظو خیر الصدقة ما کان عن ظهر غنی سره سم سي همداسي حاصل به کیږي چي د هغه سړي لپ صدقه هم چي کوم مالدار خو غني زړه وي د مالدار د صدقې څخه افضله ده که څه هم د هغه صدقه هر څومره زیاته وي.

د صدقې دوه برابر ثواب

﴿۱۸۴۳﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت سلیمان بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

الصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ وَهِيَ عَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ.

رواه احمد والترمذي و النسائي وابن ماجة والدارمي.

مسکین ته خیرات ورکول یوه صدقه ده یعني ددې ثواب یو دئ او شناخته ته صدقه ورکول صدقه هم ده او بنه چلن هم، یعني ددې صدقې دوه برابر ثواب تر لاسه کیږي. احمد، ترمذي او دارمي

تخریج: الامام احمد في مسنده ۴\ ۲۱۴ والترمذي ۳\ ۴۶، ۴۷، رقم: ۶۵۸، والنسائي ۵\ ۹۲، رقم: ۲۵۸۱. وابن ماجه ۱\ ۵۹۱، رقم: ۱۸۴۴، والدارمي ۱\ ۴۸۸، رقم: ۱۶۸۰.

د خیرات درجې

﴿۱۸۴۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهریرة رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چې یو سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو

فَقَالَ عِنْدِي دِينَارٌ قَالَ اَنْفِقْهُ عَلَى نَفْسِكَ قَالَ عِنْدِي آخَرُ قَالَ اَنْفِقْهُ عَلَى

او ویې ویل: زما سره یو دینار دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دا په خپل ځان خرڅ کړه، بیا هغه وویل زما سره یو بل دینار هم دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

وَلَدِكَ قَالَ عِنْدِي آخَرُ اَنْفِقْهُ عَلَى اَهْلِكَ قَالَ عِنْدِي آخَرُ قَالَ اَنْفِقْهُ عَلَى

په خپل اولاد یې خرڅ کړه، بیا هغه وویل زما سره یو بل دینار هم دئ.، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په خپله کورنۍ یې خرڅ کړه، بیا هغه وویل زما سره یو بل دینار هم دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

خَادِمِكَ قَالَ عِنْدِي آخَرُ قَالَ اَنْتَ اَعْلَمُ . رواه ابوداؤد والنسائي .

پر خپل خادم یې خرڅ کړه، بیا هغه وویل زما سره یو بل هم دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اوس نو ته ښه پوهیږې، ابوداؤد، نسائي.،

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۳۲۰- ۳۲۱، رقم: ۱۶۹۱، والنسائي: ۵\ ۶۲، رقم: ۲۵۳۳.

ښه او بد انسان

﴿۱۸۴۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ النَّاسِ

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا زه تاسو ته وښیم چې تر ټولو غوره کس څوک دئ؟

رَجُلٌ مُمْسِكٌ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِالَّذِي يَتْلُوهُ رَجُلٌ

دا هغه سړی دئ چې د الله تعالی په لاره کې د غزا لپاره د خپل آس واګې ونیسي (یعني د جهاد په انتظار وي) بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا دا هم درته وښیم چې هغه کوم یو سړی دئ چې په درجه کې هغه ته نژدې دئ،

مُعْتَزِلٌ فِي غُنَيْمَةٍ لَهُ يُؤَدِّي حَقَّ اللّٰهِ فِيهَا أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِشَرِّ النَّاسِ رَجُلٌ

دا سړی هغه څوک دئ چې د خپلو پسو سره يې کونج ناستي غوره کړي ده او د هغو پسو څخه د الله تعالی حق يعني زکوة ادا کوي ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل ايا زه تاسو ته ترټولو خراب کس وښيم ، دا هغه کس دئ چې

يُسْأَلُ بِاللّٰهِ وَلَا يُعْطِي بِهِ . رواه الترمذي و النسائي والدارمي .

د هغه څخه د الله په نامه و غوښتل سي او د هغه په نامه څه ورنه کړي . ترمذي، نسائي او دارمي

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۱۵۶، رقم: ۱۶۵۲، والنسائي ۵\ ۸۳- ۸۴، رقم: ۲۵۶۸، والدارمي ۲\ ۲۶۵، رقم: ۲۳۹۵.

تشريح: د دې حديث مطلب دادی چې په بهترينو او ښه خلکو کې هغه سړی هم دی چې د الله تعالی په لار کې د کافرانو سره د جنګ منتظر وي دا مفهوم ځکه اختيار ول کيږي چې مجاهد يا غازي ترټولو خلکو افضل نه دی .

همداسي د بدترين څخه هم دا مراد دی چې په بدو او خرابو خلکو کې يو هغه سړی هم دی چې د هغه څخه يو سوالګر د الله تعالی د قسم په ورکولو سره سوال وکړي خو هغه يې سوال پوره نه کړي .

سوالګر مه جوابوئ

﴿۱۸۴۶﴾: وَعَنْ أُمِّ بُجَيْدٍ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُدُّوا السَّائِلَ وَلَوْ بِظِلْفٍ مُحْرَقٍ . رواه مالك والنسائي والترمذي و ابوداؤد معناه

د حضرت ام بجيد (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : سوال کونکی داسي جواب کړئ چې يو څه ورکړی که څه هم هغه سوځېدلې توتې وي . مالک، نسائي، ترمذي او ابوداؤد

تخريج: الامام مالک في الموطا ۲\ ۹۲۳، رقم: ۸، وابوداؤد ۲\ ۳۰۷، رقم: ۱۶۶۷، والترمذي ۳\ ۵۲- ۵۳، رقم: ۶۶۵، والنسائي ۵\ ۸۱، رقم: ۲۵۶۴.

د لغاتو حل: المُحرق: هو المغلي بالحرق، وهو النار . (په اور ايشول سوی).

تشريح: بظلف محرق په خپل اصلي معنی کې نه دي استعمال سوی يعني د دې مطلب دا نه دی چې سائل ته دي د سوځيدو سُم ورکړل سي ځکه چې دا د فائدې شی نه دی بلکه دا لفظ دلته په توګه د مبالغې استعمال سوی دی د دې مفهوم دادی چې کله يو سائل تاسو ته راسي نو هغه

خالي لاس مه استوی بلکه که هغه وخت ستاسو سره ادنی او کم شی هم وي نو وریې کړی.

یو څو ضروري خبري

﴿۱۸۴۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چې

اسْتَعَاذَ بِاللَّهِ فَأَعِيذُوهُ وَمَنْ سَأَلَ بِاللَّهِ فَأَعْطُوهُ وَمَنْ دَعَاكُمْ فَأَجِيبُوهُ وَمَنْ

د الله تعالی په ذریعه در څخه پناه وغواړي نو هغه ته پناه ورکړئ او څوک چې د الله تعالی په نامه در څخه څه وغواړي نو هغه ته یې ورکړئ او څوک چې تاسو ته بلنه درکړي نو هغه قبوله کړئ

صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفًا فَكَافِئُوهُ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُونَهُ فَادْعُوا لَهُ حَتَّى

او څوک چې احسان در سره وکړي نو د هغه د احسان بدله ورکړئ (او که بدله ممکن نه وي نو) دعاء ورته وکړئ تر څو چې

تَرَوْا أَنَّ قَدْ كَافَأْتُمُوهُ. رواه احمد و ابوداؤد والنسائي.

تا ته یقین وسي چې تا د هغه بدله ادا کړه. احمد، ابوداؤد او نسائي

تخریج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۶۸، وابوداؤد ۲\ ۳۱۰، رقم: ۱۶۷۲، والنسائي ۵\ ۸۲، رقم: ۲۵۶۶.

تشریح: کوم سړی چې ستاسو څخه د الله تعالی په واسطې سره پناه وغواړي د دې مطلب دادی که یو سړی ستاسو د ذات په وجه یا څه بل دوهم څخه څه پیښه او په شر کې اخته وي او هغه وخت د الله د واسطه په ورکولو سره ستاسو څخه پناه وغواړي یعني هغه وخت دا ووائي چې زه د الله تعالی واسطه په درکولو سره تاسو ته خواست کوم چې ماته د دې مصیبت څخه خلاصون راکړه نو تاسو ته پکار ده چې د هغه خواست قبول کی او د الله تعالی د نامه د تعظیم سره سم هغه د هغه آفت او مصیبت څخه وساتی (من استعاذ منکم بالله) د حرف با په باره کې دا هم احتمال دی چې د لفظ استعاذ په صله کې واقع کیږي په دې صورت کې د دې جملې معنی به دا وي چې کوم سړی د څه آفت او مصیبت پر وخت د الله تعالی څخه پناه غواړي نو تاسو د هغه سره تعرض مه کوی بلکه هغه ته پناه ورکوی او هغه ته د آفت او مصیبت څخه د خلاصي ورکولو کوشش کوی.

د حدیث اخري الفاظ (حتی ترو .....الخ) ترڅو پوري چي تاسو په دې پوه نسی د دې مطلب دادی چي تاسو د هغه لپاره تاکل سوې دعا غواړی ترڅو پوري چي تاسو ته دا یقین وسي چي تاسو د هغه حق ادا کړی.

په یو دوهم روایت کي ارشاد نقل دی د کوم سړي سره چي احسان وکړه سي او د هغه احسان کونکي ته ووائي چي جزاءک الله خیرا، نو هغه د خپل محسن تعریف او د هغه د احسان په بدله کي مبالغه وکړی.

دا حدیث په دې خبره دلالت کوي چي کوم سړی د خپل محسن لپاره یو وار جزاک الله خیرا وویل نو هغه د احسان بدله ورکړه بلکه د حق څخه یې هم زیاته بدله ورکړه ځکه چي دا جمله په ویلو سره هغه د خپل نفس په بدله ورکولو کي عاجز وګڼی او هغه یې الله تعالی ته وروسپاری چي ترڅولو بهتر اجر او بدله هغه ورکړي نو دا جمله یو وار د مکرر او سه کرر دعا کولو برابر دی.

د بي بي عائشې رضی الله عنها معمول: د بي بي عائشې رضي الله عنها معمول وو چي کله به یو سائل د هغه لپاره دعا وکړه نو هغې به مخکي هم د هغه لپاره دعا کوله بیا به هغه صدقه ورکوله خلکو د دې سبب وپوښتی نو هغې وفرمایله که زه د هغه لپاره دعا ونه کړم نو د هغه حق او زما حق برابر سي ځکه چي هغه زما لپاره دعا وکړه او ما هغه ته یوازي صدقه ورکړه همداسي د دواړو حسنات برابر سوه نو زه هم د هغه لپاره دعا کوم چي زما دعا د هغه د دعا بدله سي او کومه صدقه چي ما ورکړې ده هغه خالصه سي همداسي د دواړو حق برابر نه پاته کیږي بلکه زما نیکي زیاتیږي.

د الله ﷻ په نامه سوال مه کوئ

﴿۱۸۴۸﴾: وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُسْأَلُ بِوَجْهِ اللّٰهِ إِلَّا الْجَنَّةُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله تعالی په روی د جنت پرته بل هیڅ شی غوښتل نه دي پکار. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\۳۰۹، رقم: ۱۶۷۱.

تشریح: مطلب دادی چي د الله تعالی د ذات او واسطې سره د خلکو څخه څه شی مه غواړی یعني د چا مخکي په دې الفاظو سره سوال مه کوی چي د ذات خداوندي په واسطې سره یا

بواسطه الله ماته فلانی شی راکړه ځکه چې د الله تعالی نوم ډیر لوی دی او د هغه د ذات او د هغه د اسم دا شان دی چې هغه واسطه په جوړولو سره د دنیا حقیر شیان وغواړي هو د هغه واسطې سره جنت که غواړي یعنې داسې ووائي چې اې الله موږ ستا د ذات کریم په واسطې سره ستاسو ځخه سوال کوو چې موږ په جنت کې داخل کړې .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د ابو طلحه رضی الله عنه سخاوت

﴿۱۸۴۹﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَكْثَرَ الْأَنْصَارِ بِالْمَدِينَةِ مَالًا مِنْ

د حضرت انس رضی الله عنه ځخه روایت دئ چې د مدینې په انصارو کې د خرماوو په اعتبار ابو طلحه ډیر شتمن وو

نَخْلٍ وَكَانَ أَحَبُّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ وَكَانَ رَسُولُ

او د هغه تر ټولو زیات هغه باغ خوښ وو چې د هغه نوم بیرحاء وو ، او دا باغ مسجد نبوي ته مخامخ وو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به

اللّٰهِ ﷺ يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا أُنْزِلَتْ هَذِهِ

دغه باغ تلئ او هلته به یې خوږې اوبه چښلې ، انس رضی الله عنه وایي کله چې دغه آیت نازل سو

الْآيَةُ { لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ } قَامَ أَبُو طَلْحَةَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ

(لن تنالوا البر ....) هیځکله به نیکي تر لاسه نه کړئ تر څو پورې چې هغه مال د الله تعالی په لار کې خرڅ نه کړئ کوم چې ستاسو زیات خوښ وي ، نو ابو طلحه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر سو

ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ { لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى

او عرض یې وکړ چې اې دالله رسوله ! الله تعالی فرمایي (لن تنالوا البر حتی ....)

تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ } وَإِنَّ أَحَبَّ أَمْوَالِي إِلَيَّ بَيْرُحَاءَ وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلّٰهِ أَرْجُو

او ما ته په خپلو شتمنیو کي د بیرحاء باغ زیات خوښ دئ زه دغه د الله تعالی پر نامه صدقه کوم او د هغه څخه د نیکۍ امید لرم،

بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللَّهِ فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ حَيْثُ أَرَاكَ اللَّهُ قَالَ فَقَالَ

چي دا به د الله تعالی په نزد زما لپاره ذخیره سي، اې د الله رسوله! تاسو چي کوم ځای مناسب ګڼئ دا خرڅ کړئ، ددې په اوربد و سره

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَخٍ ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ وَقَدْ

رسول الله ﷺ وفرمایل : شاباس شاباس، دا (باغ) ګټور مال دئ ،

سَمِعْتُ مَا قُلْتَ وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْأَقْرَبِينَ فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ أَفْعَلُ يَا

تا چي څه وویل ما واوریدل، اوس زما په نزد مناسب دادئ چي ته دا (باغ) په خپلو قریبانو کي وویشې ابو طلحه عرض وکړ اې د الله رسوله! همداسي به وکړم،

رَسُولَ اللَّهِ فَقَسَمَهَا أَبُو طَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمِّهِ. متفق عليه

نو ابو طلحه خپل بیرحاء باغ په خپلو قریبانو او د اکا په زامنو باندي وویشئ ، بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۲۵، رقم: ۱۴۶۱، ومسلم ۲\۶۹۳، رقم: ۴۲-۹۹۸.

تشریح: چیري چي دا احتمال دی چي بني عمه (د اکا زامن) بیانوي هلته دا احتمال هم دی چي د اقارب څخه د اکا د زامنو څخه پرته نور قریبان هم مراد دي.

وړي ته خوراک ورکول غوره صدقه ده

﴿۱۸۵۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ أَنْ تُشْبِعَ كَبِدًا جَائِعًا" . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : غوره صدقه داده چي ته وړی مور کړې. بیهقي

تخریج: البيهقي في شعب الايمان ۳\۲۱۷، رقم: ۳۳۶۷.

تشریح: مطلب دادی چي هر ساه لرونکی حیوان او ژوندی که مسلمان وي او که کافر که

چيري وږی وي نو هغه ته خوراک ورکول يوه غوره صدقه ده ، هو په دې حکم کي هغه موذي (ضرر رسونکي) حيوانان استثناء دي کوم چي د وژلو حکم لري ، يعني مار، لړم او داسي نورو ته خوراک او څښاک ورکول مناسب نه دي .

=========

بَابُ مَا تُنْفِقُهُ الْمَرْاَةُ مِنْ مَالِ زَوْجِهَا

د خاوند د شتمنۍ څخه د ښځي خيرات کول

د مشکوة مولف رحمة الله عليه پر ځينو ځايو باندي عنوانونه نه متعين کوي او په باب ليکلو سره مخته باب شروع کوي او د هغه لاندي هغه حديثونه نقلوي چي د تيرو بابونو متمات او ملحقات وي دلته هم موصوف يوازي په باب ليکلو سره باب شروع کړی دی او يو تاکلی عنوان يې نه دی ليکی .

خو د مشکوة په ځينو نسخو کي دلته دا عنوان ليکل سوی دی : باب ما ينفقه المراة من مال بعلها ، يعني ښځه د خپل خاوند د مال څخه چي کوم شی خرڅول غواړي د هغه بيان .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

ښځه د کور د شتمنۍ څخه خيرات کولای سي

﴿۱۸۵۱﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْفَقَتْ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي صدقه ورکړي

الْمَرْأَةُ مِنْ طَعَامِ بَيْتِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ كَانَ لَهَا أَجْرُهَا بِمَا أَنْفَقَتْ وَلِزَوْجِهَا

ښځه د کور د خوراک څخه او اسراف ونه کړي نو هغې ته به د هغه ثواب رسيږي او خاوند ته به

أَجْرُهُ بِمَا كَسَبَ وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ لَا يَنْقُصُ بَعْضُهُمْ أَجْرَ بَعْضٍ شَيْئًا .

متفق عليه

يې د هغې د ثواب کټلو ثواب رسيږي او اشپز ته به هم د هغه هغومره ثواب رسيږي . او دهغوی په ثواب کي به د هيڅا په ثواب کي کمي نه راځي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۰۲، رقم: ۱۴۳۷، ومسلم: ۲\۷۱۰، رقم: ۷۹- ۱۰۲۳.

تشريح: د دې حديث تعلق په هغه صورت سره دی کله چې خاوند ښځې ته د خپل مال څخه د صدقه خيرات کولو اجازت ورکړې وي که څه هم هغه صراحة اجازت ورکړې وي يا د لالة.

ځيني حضرات فرمائي د اهل حجاز دا رواج وو چې هغوی د خپلې ميلمستيا او سخاوت لاندې خپلو ښځو او خدمتګارانو مثلا په اشپز خانه کې اشپز ته دا اجازه ورکړې وه چې هغوی دې د ميلمنو پوره ميلمستيا کوي او فقيران او مسکينان او د همسايه ګانو په خلکو دې ډوډی خوري رسول الله ﷺ د دې ارشاد په ذريعه خپل امت ته ترغيب ورکوی چې دا نيک او ښه خصلت اختيار کړي.

﴿۱۸۵۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْفَقَتْ الْمَرْأَةُ مِنْ كَسْبِ زَوْجِهَا عَنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَلَهَا نِصْفُ أَجْرِهِ. متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کومه ښځه چې د خاوند د اجازې پرته خيرات وکړي نو هغې ته به نيم ثواب ورسيږي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۰۴، رقم: ۵۳۶۰، ومسلم ۲\۷۱۱، رقم: ۸۴- ۱۰۲۶.

تشريح: د هغه د اجازې څخه پرته: ددې مطلب دادی چې کوم شی دا په صدقه کې ورکوي په خاصه توګه د هغه شي اجازه خاوند نه وي ورکړې ليکن دا د خاوند صراحة يا دلالة په اجمالي رضا پوهيږي او هغه شی په کمه اندازه وي نو د هغه شي د ورکولو څخه دي منعه نه کوي لکه څرنګه چې دلته په عامه توګه ښځې د دروازې و سوالګرو ته اوړه، ډوډۍ او دوې درې روپۍ ورکوي.

خزانچي هم په ثواب کې ګډون لري

﴿۱۸۵۳﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

الْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الْأَمِينُ يُعْطِي مَا أُمِرَ بِهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبًا بِهِ نَفْسُهُ

هغه امانتداره مسلمان خزانچي چې د خپل بادار د حکم سره سم صدقه او خيرات ورکړي او د حکم سره سم پوره پوره او په خوښي سره

فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِي أُمِرَ لَهُ بِهِ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقَيْنِ. متفق عليه

هغه چا ته ورکړي کوم ته چې د ورکولو حکم سوی دئ نو هغه هم د دوو صدقه کونکو څخه یو دئ یعني یو خاوند او دوهم هغه. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۰۲، رقم: ۱۴۳۸، ومسلم ۲\۷۱۰، رقم: ۷۹- ۱۰۲۳.

تشریح: د خپل بادار څخه د صدقات او خیرات ورکونکي مزدور لپاره په دې حدیث کې څلور شرطونه ذکر سوي دي: اول د صدقې او خیرات لپاره د مالک حکم کیدل دوهم مالک چې د څومره مال په صدقه کې د ورکولو حکم کړی وي هغه بغیر د څه کمي پوره کوي دریم په ښه زړه سره ورکول د دې شرط ځکه ذکر سوی دی چې مالک چې مال په صدقه کې د ورکولو حکم کوي ځینې مزدوران په ښه زړه سره هغه نه ورکوي څلورم مالک چې کوم سړي ته د مال ورکولو حکم کړی دی هغه ته ورکول د هغه څخه بل فقیر او مسکین ته نه ورکول.

لفظ متصدقین دوه صدقه ورکونکي خلک په صیغه سره استعمال سوی دی یعني یو خو مالک چې د هغه مال په صدقه کې ورکړه سو او دوهم مزدور چې د هغه په ذریعه صدقه ورکړه سوه همداسې مزدور د هغه دواړو څخه یو سو.

د مشکوة په یوه بله نسخه کې متصدقین د جمع په صیغې سره یعني متصدقون نقل دي همداسې د دې معنی دا سوه چې ملازم هم د صدقه ورکونکو څخه یو دی.

په هر حال د حدیث خلاصه داده چې کوم نوکر مسلمان او امانتدار وي چې د هغه مالک په صدقه کې د څه ورکولو حکم کوي هغه په پوره پوره خوشحالي سره ورکوي او د صدقې مال هغه سړي ته ورکوي چې هغه ته د ورکولو حکم ورکړه سوی وي نو هغه ملازم ته هم د هغه مالک د ثواب په ډول ثواب رسیږي.

په مړي پسې خیرات کول

﴿۱۸۵۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې یو سړي نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ:

أُمِّي افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ. متفق عليه

زما مور ناڅاپه مړه سوه که هغې د خبرو کولو موقع ترلاسه کړې وای نو خامخا به يې د صدقې او خيرات کولو وصيت کړی وای نو که زه صدقه ورکړم ايا هغې ته به ثواب رسيږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو.، بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۲۵۴، رقم: ۱۳۸۸، ومسلم ۲\ ۶۹۶، رقم: ۵۱- ۱۰۰۴.

تشريح: دا حديث پر دې خبري دلالت کوي که يو سړی د خپل يو مړه قريب له خوا څخه د صدقې په توګه مال وغيره ورکړي نو هغه مړي ته ثواب رسيږي همداسي د مړي لپاره دعاء، استغفار وغيره هم ګټور دي، د اهل سنت والجماعت په اتفاق سره دا مذهب دی، مګر بدني عبادت لمونځ، روژه او د قرآن کريم د تلاوت وغيره په باره کې د علماؤ اختلافي قولونه دي مګر په دې اړه د باور وړ او صحيح قول دادی چې مړي ته د بدني عبادتو ثواب هم رسيږي.
امام عبدالله يافعي رحمة الله عليه ليکلي دي چې يو بزګ شيخ عبدالسلام رحمة الله عليه د هغه د وفات وروسته چا په خوب کې وليدی نو شيخ وفرمايل موږ خو به په دنيا کې ويل چې د تلاوت ثواب مړي ته نه رسيږي مګر دغه عالم ته په راتلو سره ثواب ضرور ورته رسيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د ښځې خيرات کول

﴿۱۸۵۵﴾: عَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ خُطْبَتِهِ

د حضرت ابو امامهٔ رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه په خطبه کې

عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَقُوْلُ لَا تُنْفِقُ امْرَأَةٌ شَيْئًا مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِ

د حجة الوداع اوريدلي چې ښځه دې د خاوند د کور څخه د هغه د اجازې پرته هيڅ نه خيراتوي،

زَوْجِهَا قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَا الطَّعَامُ قَالَ ذَاكَ أَفْضَلُ أَمْوَالِنَا. رواه الترمذي

پوښتنه وسول چې اې د الله رسوله ! خوراک هم نه ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : خوراک خو زموږ په مال کې غوره مال دئ. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۵۷، رقم: ۶۷۰.

تشريح: د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دادی چې د خاوند د اجازې څخه پرته دا شيان پلورل جائز نه دي چې د ډوډۍ څخه د کمي درجې وي نو ډوډۍ خرڅول به څرنګه صحيح وي حال دا

چې دا غوره شئ دی.

په ظاهره په دې حدیث کې او په دې باره کې ذکر په تیرو حدیثو کې تکرار معلومیږي مګر د دې حدیثو تشریح که مخ ته وي نو بیا هیڅ اختلاف نه معلومیږي ځکه د دې تشریح په ذریعه په حدیثو کې تطبیق بیان سوی دی.

﴿۱۸۵۶﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ لَمَّا بَايَعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النِّسَاءُ

د حضرت سعد رضی الله عنه څخه روایت دئ چې کله رسول الله ﷺ د ښځو سره بیعت کوئ

قَامَتْ امْرَأَةٌ جَلِيلَةٌ كَأَنَّهَا مِنْ نِسَاءِ مُضَرَ فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّا كَلٌّ عَلَى آبَائِنَا

نو یوه لویه ښځه چې کیدای سي د مضر د قبیلې څخه وه ولاړه سوه او عرض یې وکړ چې اې د الله تعالی رسوله! زموږ خرڅ زموږ پلار

وَأَبْنَائِنَا وَ أَزْوَاجِنَا فَمَا يَحِلُّ لَنَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ قَالَ الرَّطْبُ تَأْكُلْنَهُ أَوْ تُهْدِينَهُ.

رواه ابوداؤد.

زموږ پر زامنو او زموږ پر خاوندانو دئ نو ایا زموږ لپاره دا جائز دئ چې موږ د هغوی د مال څخه پرته د اجازې خرڅ وکړو، رسول الله ﷺ وفرمایل: تازه مال خورئ او تحفه کوئ یې.

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\۳۱۶، رقم: ۱۶۸۶.

تشریح: د تازه مال څخه دوه شیان مراد دي چې د برپا څخه نه وي بلکه ژر خرابیږي لکه کتغ، ترکاري او شبدې وغیره نو د دې شیانو په استعمالولو کې د اجازت ضرورت نسته ځکه چې په عامه توګه سره خلک د دې شیانو د خرڅولو څخه منع کوي ګویا همداسي د دې شیانو د خرڅولو لپاره دلالة اجازه حاصلیږي بخلاف د هغه شیانو چې وچ او نه خرابیدونکي وي چې د هغه د خرڅولو لپاره اجازه او رضا تر لاسه کول ضروري دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د بادار د مال څخه د غلام خیرات کول

﴿۱۸۵۷﴾: عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ قَالَ أَمَرَنِي مَوَالِيَّ أَنْ أُقَدِّدَ لَحْمًا فَجَاءَنِي

د ابو اللحم آزاد کړئ غلام حضرت عمیر رضی الله عنه روایت کوي چې زما بادار (ابو اللحم) ما ته حکم راکړ چې زه غوښه تهوتې تهوتې کړم، په دا وخت کې راغلئ

مِسْكِينٌ فَأَطْعَمْتُهُ مِنْهُ فَعَلِمَ بِذَلِكَ مَوْلَايَ فَضَرَبَنِي فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى

یو فقیر نو ما هغه ته غوښه ورکړه نو هغه زه ووهلم، زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَدَعَاهُ فَقَالَ لِمَ ضَرَبْتَهُ فَقَالَ يُعْطِي

او پېښه مې ورته بیان کړه، رسول الله ﷺ زما بادار راوغوښتئ او پوښتنه یې وکړه تا خپل غلام ولې ووهئ؟ هغه عرض وکړ:

طَعَامِي بِغَيْرِ أَنْ آمُرَهُ فَقَالَ الْأَجْرُ بَيْنَكُمَا. و في رواية قَالَ كُنْتُ مَمْلُوكًا

هغه زما طعام زما د اجازې پرته ورکوي، رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو دواړو ته به د ددې ثواب تر لاسه سي، او په یوه روایت کې دا الفاظ چې عمیر وویل: زه غلام وم

فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَأَتَصَدَّقُ مِنْ مَالِ مَوَالِيَّ بِشَيْءٍ قَالَ

نَعَمْ وَالْأَجْرُ بَيْنَكُمَا نِصْفَانِ. رواه مسلم.

ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ایا زه د بادار د مال څخه خرڅ کولای سم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، د ددې ثواب به تاسو دواړو ته نیم په نیمه رسیږي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\۷۱۱، رقم: ۸۲- ۱۰۲۵.

تشریح: علامه طیبي رحمة الله علیه فرمائي رسول الله ﷺ د عمیر رضی الله عنه په شکایت د هغه آقا ابو اللحم رضی الله عنه ته چې څه وویل یا د عمیر رضی الله عنه سره چې کومه رویه اختیار کړه د هغه مطلب دا نه وو چې د مالک په مال کې غلام او ملازم ته مطلقا د تصرف حق حاصل دی بلکه رسول الله ﷺ خو یوازې په دې خبرې د ناخوښي اظهار وکی چې غلام او مزدور دې په دا خبرې ووهل سي چې مالک خو غلطي خپل تاوان ګڼي خو په حقیقت کې هغه د مالک په حق کې غلطي یا تاوان نه وي بلکه د هغه لپاره په هغه کې بهترې او خیر وي نو رسول الله ﷺ ابو اللحم رضی الله عنه ته ترغیب ورکړی چې د هغه غلام د هغه په حق کې بهتر او نیک کار کړی دی ځکه هغه دې معاف کړي او هغه ثواب دې غنیمت وګڼي چې د هغه مال ذ خرڅولو په وجه هغه ته حاصل سوي دي ګویا د

ابو اللحم لپاره د رسول الله ﷺ رهنمائي او تعليم نه وو چې د عمير رضي الله عنه کار رسول الله ﷺ جائز ونه ګرځوی.

========

بَابُ مَنْ لاّ يَعُوْدُ فِي الصّدَقَةِ

د خيرات بيرته اخيستلو بيان

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

خيرات بيرته اخيستل جائز نه دي

﴿۱۸۵۸﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَأَضَاعَهُ

د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د الله ﷻ په لاره کې يو سړی پر آس سپور کړ (يعني مجاهد ته مې آس ورکړ) نو هغه آس خراب کړ،

الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ فَسَأَلْتُ

ما اراده وکړه چې هغه رانيسم او زما دا خيال وو چې هغه به يې ارزانه را باندې خرڅ کړي، نو ما پوښتنه وکړه

النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا تَشْتَرِ وَلَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ وَإِنْ أَعْطَاكَهُ

د رسول الله ﷺ څخه چې ايا زه يې بيرته واخلم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅکله يې مه رانيسه، خپله صدقه بيرته مه اخله که څه هم هغه يې درکوي

بِدِرْهَمٍ فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُوْدُ و فِي رواية لاَ تَعُدْ فِيْ صَدَقَتِكَ

په يوه درهم ځکه خپله صدقه بيرته اخيستل داسې دي لکه سپی چې قی وکړي او بيا يې دوهم وار وڅښي، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خپله صدقه بيرته مه اخله

فَإِنَّ الْعَائِدَ فِيْ صَدَقَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ. متفق عليه

ځکه چې صدقه بيرته اخيستونکی د هغه کس په ډول دئ چې يو شی قی کړي او بيا يې و

خوري . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۳۵۳، رقم: ۱۴۹۰، ومسلم ۳\ ۱۲۴۱، رقم: ۷- ۱۶۲۲.

تشريح : د حضرت عمر رضي الله عنه په ذهن کي د آس پر ارزانه بيه خيال ځکه پيدا سو چي آس کمزوره سوی وو په دې صورت کي ظاهره ده چي د هغه اصلي قيمت نه پاته کيدی يا هغه دا خيال ځکه وکی چي ما د هغه سره د احسان معامله کړې وُه ځکه کيدای سي چي هغه به هم دا وخت زما سره د رعايت او انصاف معامله وکړي .

ابن ملک رحمة الله عليه فرمائي د حديث د ظاهري الفاظو او مفهوم لاندي د ځيني حضراتو مذهب دادی چي خپله ورکړه سوې صدقه رانيول حرامه ده مګر اکثر علماء ليکي چي دا مکروه تنزيهي ده ځکه چې همداسي يوازي قبيح لغيره لازميږي او هغه دا چي کوم سړي ته د صدقې مال ورکول کيږي هغه چي هغه مال د صدقه ورکونکي پر لاس خرڅوي نو په دې وجه چي هغه صدقه په ورکولو سره د هغه سره احسان وکړي هغه به يې په ارزانه قيمت ورکړی نو صدقه ورکونکی دي په دې صورت کي بقدر رعايت مال چي د هغه صدقې حصه وه په دوهم وار اخستونکو کي شميرکړه سي .

په هر حال صحيح او قابل اعتماد قول دادی چي د رسول الله ﷺ ارشاد (ولا تشتريه) يعني هغه مال مه رانيسی د نهي تنزيهي په توګه دی .

د صدقې بيرته اخيستو يو صورت

﴿۱۸۵۹﴾ : وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم

إِذْ أَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يا رسول الله إِنِّي تَصَدَّقْتُ عَلَى أُمِّي بِجَارِيَةٍ وَإِنَّهَا مَاتَتْ

چي يوه ښځه راغلل او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! ما خپلي مور ته يوه مينځه صدقه کړل اوس زما مور مړه سوه (ايا زه هغه بيرته واخلم)

فَقَالَ وَجَبَ أَجْرُكِ وَرَدَّهَا عَلَيْكِ الْمِيرَاثُ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ كَانَ عَلَيْهَا

رسول الله ﷺ وفرمايل : ستا ثواب تا ته تر لاسه سو او ميراث هغه مينځه تا ته بيرته درکړل ، يعني هغه ستا په ميراث کي ده ، هغې ښځې بيا پوښتنه وکړه اې دالله رسوله !

صَوْمُ شَهْرٍ أَفَأَصُومُ عَنْهَا قَالَ صُومِي عَنْهَا قَالَتْ إِنَّهَا لَمْ تَحُجَّ قَطُّ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا قَالَ حُجِّي عَنْهَا . رواه مسلم .

ایا زه د هغې د لوري روژې ونیسم ، رسول الله ﷺ وفرمایل : هو د هغې د لوري روژې ونیسه، هغې ښځې بیا پوښتنه وکړه ایا زما مور حج نه دئ کړئ ایا زه د هغې لپاره حج وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هو د هغې لپاره حج وکړه . مسلم .

تخریج: صحیح مسلم: ۲\ ۸۰۵، رقم: ۱۵۷- ۱۱۴۹.

تشریح: (وردها علیک المیراث) یعني میراث هغه مینځې تاته رد کړی په دې کې د میراث خوا ته د بیرته ورکولو نسبت مجازي دی د دې جملې حقیقي معنی به دا وي چې الله تعالی هغه مینزه د میراث په ذریعې تاته واپس کړه او هغه مینزه د میراث په سبب ستا ملکیت سوه ګویا هغه تاته په حلالي ذریعې او طریقې سره راغله .

د دې مفهوم دادی چې په صدقه کې ورکړی مال د دوهم وار اخستو کوم ممانعت چې سوی دی په دې صورت کې د ذکرسوي تعلق ممانعت سره نه دی ځکه چې دا امر اختیاري نه دی بلکه دا صورت دی چې په صدقه کې ورکړی مال په توګه د میراث په ملکیت کې راغلی دی چې ظاهره ده چې دا بالکل جائز دی .

پوښتنې کونکو ته د روژې نیولو په باره کې د رسول الله ﷺ د اجازت مطلب دا وو چې په حقیقت کې روژه مه نیسه بلکه حکما یې نیسه چې د فدئې ادائیګي ده د جمهور علماء مذهب دادی که یو سړی په داسي حالت کې مړ سي چې د هغه پر ذمه فرض روژې وي نو دا د هیڅ چا لپاره جائز نه دی چې هغه د مړي د خوا څخه روژه ونیسي مګر په دې صورت کې حکم دادی چې د هغه وارثان د هغه له خوا فدیه ادا کړي .

دا مسئله به په تفصیل سره مع اختلاف مذاهب انشاء الله د روژې د قضاء بیان په ضمن کې بیان کړه سي خو په دې وخت کې په اصولي توګه سره په دې پوه سی چې د عبادت څو ډولونه دي اول عبادت مالي چې د هغه تعلق یوازي د مال د ادائیګي سره دی لکه زکوة دوهم عبادت بدني چې د هغه تعلق یوازي د نفس او بدن د مشقت او محنت سره دی لکه لمونځ دریم مرکب یعني هغه عبادت چې د هغه تعلق د مال نفس او بدن دواړو سره دی لکه حج .

نو په عبادت مالي کې خو نیابت جائز دی که څه هم حالت اختیاري یا حالت اضطراري،

ځکه چې د دې مقصود د فقیر او مفلس حاجت پوره کول دي نو هغه د نائب ادا کولو سره هم ادا کیږي په عبادت بدني کي نیابت په هیڅ حال کي هم جائز نه دی ځکه چې په عبادت بدني کي مقصد خپل نفس په محنت او مشقت کي اخته کول دي چې په نائب کولو کي سره نه حاصلیږي، په مرکب کي نیابت د مجبوري او ضرورت پر وخت خو جائز دی مګر په حالت قدرت او اختیار کي جائز نه دی البته د نفلي حج په صورت کي حال قدر او په اختیار کي هم نیابت جائز دی ځکه چې د نفل دائره ډېره پراخه ده.

د حدیث اخري الفاظ (نعم حجي عنها)، هو د هغې د خوا څخه حج وکړه د دې مفهوم د دواړو صورتونو سره متعلق دی که څه هم پر هغه حج واجب وو یا نه وو همداسي د حج وصیت یې کړی وو یا نه یې وو کړی د وراثت لپاره دا جائز او صحیح دی چې د مورث د خوا څخه وغواړي په بل چا حج ادا کړي او که وغواړي خپله دي حج وکړي خپله د حج کولو په صورت کي د مورث اجازت شرط نه دی کله چې په بل چا حج کوي نو د هغه لپاره به د مورث اجازت شرط وي. (والله اعلم).

==========

كِتَابُ الصَّـوْمِ

د روژې بيان

د صوم معنی : په لغت کې د صوم او صیام معنی ده معنه کېدل یعني مطلقا منع کیدل او د شریعت په اصطلاح کې د دې الفاظو مفهوم دادی چې د فجر څخه تر لمر ډوبیدو پورې د روژې په نیت سره خوراک څښاک جماع کول او د بدن هغه حصه چې هغه د دننه په حکم کې وي د څه شی د دا خلیدو څخه منع کول او روژه دار مسلمان د حیض و نفاس څخه پاکیدل د دې د صحیح کیدو د شرائطو څخه دي .

روژه کله فرض سوه ؟ د رمضان د میاشتي روژې د هجرت د اتلسمي میاشتي وروسته د شعبان په میاشت کې د تحویل قبله ګرځیدل د لسو ورځو وروسته فرض سوه ځینې حضرات وائي د دې مخکې هیڅ روژه فرض نه وه کله چې د ځینې حضراتو قول دی چې د دې مخکې هم څو ورځې روژې فرض وې چې د روژې د میاشتي د روژو د فرضیت وروسته منسوخ سوه د ځینې حضراتو په نزد خو عاشوره محرم یعني د محرم لسم تاریخ روژه فرض وه او د ځینې حضراتو قول دی چې د ایام بیض د قمري میاشتي د دیارلسم څوارلسم او پنځلسم شپو د ورځو روژې فرض دي د روژې د میاشتي روژې د فرضیت ابتدائي ورځو ځینې احکام ډیر سخت وه مثلا د لمر ډوبیدو وروسته د بیده کیدو مخکې د خوراک څښاک اجازت وو خو د بیده کیدو وروسته د خوراک څښاک اجازت نه وو که څه هم څوک سړی بغیر د خوراک څښاک بیده سوی وي همداسي جماع هیڅ وخت او په هیڅ حالت کې هم جائز نه وه کله چې دا احکام پر مسلمانانو باندې سخت تیر سوه او د دې احکامو په وجه څو پیښې وسوې نو دا احکام منسوخ کړه سوه او څه سختي پاته نه سوه .

د روژې اهمیت او فضیلت : د اسلام چې کومې پنځه بناوي دي په هغو کې روژه دریمه درجه ده ګویا روژه د اسلام دریم رکن دی د دې اهم رکن چې کوم تاکید و او اهمیت دی په هغه د شریعت ماهرین ښه پوهیدای سي، د روژې انکار کوونکی کافر او د هغې پرېښودونکی فاسق او ډېر سخت ګناه کار دی، د درمختار څخه په باب ما یفسد الصلوة کې دا مسئله او حکم نقل سوی دی چې :

ولو اکل عمدا اشهرة بلا عذر یقتل: کوم سړی چې په روژه کې بې له عذره په ډاګه په خوراک او

څیښناک کولو ولیدل سي نو هغه دي مړ کړل سي.

د روژې د فضیلت په باره کي یوازي په دومره اندازه ویل بس دي چي ځینې علماء د دې اهم ترین او باعظمت رکن ډیر زیات فضائل په لیدو سره دې ته یې د لمانځه په ډول پر عظیم الشان عبادت باندې هم ترجیح او فضیلت ورکړی دی که څه هم دا د ځینې علماؤ قول دی کله چي د اکثرو علماؤ مذهب دادی چي لمونځ په ټولو اعمالو کي افضل دی او پر روژې هم ورته فضیلت حاصل دی، خو یوازي دادي کله چي په دې خبره د علماء اختلاف دی چي لمونځ افضل دی که روژه نو اوس ظاهره ده چي د لمانځه پرته بل دوهم عمل او دوهم رکن د روژې همسري نسي کولای.

د روژې فائدې : د یوه عبادت او عمل تر ټولو لویه فائده دا وي چي د الله تعالی رضا حاصله سي او د الله تعالی رحمت کامله د هغه عمل او عبادت کونکی دین و دنیا دواړه ځایه په خپل غیږه کي پټ کړي ظاهره ده چي د دې اعتبار څخه د روژې فائده به هم عظیم الشان وي خو د روژې څه نور هم روحاني او ديني فائدې دي چي د خپل اهمیت او عظمت د اعتبار څخه قابل ذکر دي د هغې څو فائدې دلته بیانیږي.

اول : د روژې په وجه خاطر جمعي او سکون قلب تر لاسه کیږي د نفس اماره تیزي او تندي ځي جسماني اندامونه خاص هغه اندامونه چي د هغه نیکۍ او بدۍ نیغ په نیغ تعلق دی لکه لاس سترګه ژبه غوږ او ستر وغیره سست سي چي د هغه په وجه د ګناه خواهش کم سي او د ګناه خوا ته رجحان کم سي ځکه ویل کیږي چي کله نفس وږی وي نو ټول اندامونه ماړه وي یعني هغوی ته د خپل کار رغبت هم نه وي او کله چي نفس مو ړ سي نو ټول اندامونه وږي وي د هغوی خپل کار خوا ته رغبت وي په دې قول په وضاحت سره داسي پوه سی د بدن چي څومره اندامونه دي قدرت هغه خپل د مخصوصو کارو لپاره پیدا کړي دي مثلا د سترګې تخلیق د لیدو لپاره وي ګویا د سترګي کار لیدل دي د لوږي په حالت کي د هیڅ شي لیدو خوا ته نه راغب کیږي هو کله چي نس ډک وي نو سترګه خپل کار په ډیر رغبت سره کوي او هغه د هر جائز او نا جائز شي د لیدو خواهش کوي، پر دې دا نور اندامونه هم قیاس کیدای سي.

دوهم : د روژې په وجه زړه د خیرو څخه پاک وي ځکه چي د زړه کدورت د سترګي ژبي او د نورو اندامو د فضول کارونو په وجه وي یعني د ژبي د ضرورت او حاجت څخه زیاتي خبري کوي د سترګو بلا ضرورته لیدل همداسي د نورو اندامو د ضرورت زیات خپل په کار کي مصروفه کیدل د زړه د تنګۍ او د زړه د بیري باعث وي او ظاهره ده چي روژه دار د پالتو خبرو

او فضول کارو څخه ساتل سوی وي په دې وجه د هغه زړه صاف او مطمئن وي همداسي د زړه پاکیزګي او د زړه اطمینان د ښه او نیکو کارو ته میلان او رغبت او د لوړ درجو د حصول ذریعه جوړیږي.

دریم: روژه د غریبانو او مسکینانو سره د حسن سلوک او د ترحم سبب دی ځکه چې کوم سړی کوم وخت د لوږې غم زغملی وي هغه ته اکثر هغه حالت را یادیږي نو هغه چې کله یو سړی وږی ووینې نو هغه ته د خپلې لوږې حالت را یادیږي چې د هغه په وجه د هغه ده رحم جذبه راپورته کیږي.

څلورم: روژه دار د خپلې روژې په حالت کې ګویا د فقیرانو او مسکینانو د لوږې د حالت مطابقت کوي په دې توګه چې په کوم تکلیف کې هغه اخته وي هغه تکلیف او مشقت روژه دار هم برداشتوي په دې وجه د الله تعالی په نزد د هغه مرتبه ډیره لوړه ده څرنګه چې د یوه بزرګ بشر حافي په باره کې نقل دي چې یو سړی د یخ په موسم کې د هغه په خدمت کې حاضر سو نو وینې چې هغه ناست دی او رپیږي حال دا چې د هغه سره دومره جامې ورسره وې چې هغه یې د یخ څخه ساتلای وای خو هغه جامې جلا ایښي وې هغه سړي دا صورت حال په لیدو سره په ډیر تعجب سره د هغه څخه پوښتنه وکړه چې تا د یخ په حالت کې خپلې جامې جلا ایښي دي هغه ورته وفرمایل اې زما وروره د فقراء او مساکین شمیر ډیر زیات دی په ما کې دومره وس نسته چې زه د هغوی د جامو انتظام وکړم نو کوم شی چې زما په اختیار کې دیهغه غنیمت ګڼم چې څرنګه هغه خلک د یخ تکلیف زغمی همداسي زه هم د یخ تکلیف برداشتوم نو داسي زه د هغوی مطابقت کوم.

دا جذبه موږ د هغه اولیاء او عارفینو په ژوند کې هم ترلاسه کوو چې دا د هغوی په باره کې نقل دي چې هغوی به د ډوډۍ خوړلو پر وخت اول دا د دعا کلمات ویل:

اللهم لا تواء خذني بحق الجائعین اې زما الله د وږو د حق په باره کې مواخذه مه وکړې.

د حضرت یوسف علیه السلام په باره کې نقل دي چې کوم وخت وچ کالی پوره ملک د خپل هیبت په سایه کې واخستی باوجود د دې چې خپله ورسره د غلې ډیره زیاته ذخیره موجوده وه خو هغوی یوازې په دې وجه په مارې نس ډوډۍ ونه خوړله چیرې د وږو خیال یې د زړه څخه نه ووځي او دا چې همداسي هغوی ته د وږې او قحط وهلو عوام تکلیف او د مصیبت سره مشابهت او مطابقت حاصل وي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

دروژې برکتونه

﴿۱۸۶۰﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې پیل سي

شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَ فِيْ رِوَايَةٍ فُتِحَتْ اَبْوَابُ الْجَنَّةِ وَغُلِّقَتْ

د روژې میاشت نو د آسمان دروازې خلاصي سي او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چې د جنت دروازې خلاصي سي او وترل سي

أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتْ الشَّيَاطِيْنُ . و في رواية فتحت ابواب الرحمة . متفق عليه .

د دوزخ دروازې او شیطانان بندي سي او په یوه روایت کي دي چې د رحمت دروازې خلاصي سي . بخاري او مسلم

تخریج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۱۲، رقم: ۱۸۹۹، ومسلم: ۱\ ۷۵۸، رقم: ۲- ۱۰۷۹.

تشریح : د اسمان دروازې خلاصي سي دا ددې خبري کنایه مقصوده ده چې د دې مقدسي میاشتي په شروع کیدو سره د الله تعالی د پرله پسې رحمت نزول کیږي او د بندګانو اعمال بغیر څه مانع پورته کیږي او د قبولیت دروازې به خلاصي سي بنده چې کومه دعا غواړي د لوی خدای ﷻ په دربار کي د قبولیت شرف ترلاسه کوي . .

د جنت دروازې خلاصي سي د دې څخه دې خوا ته کنایه ده چې بنده ته د هغه نیکیو او ښه کارو توفیق ورکول کیږي چې په جنت کي د داخلیدو ذریعه جوړیږي .

د دوزخ دروازې بندي کیږي د دې څخه د دې خبري خوا ته کنایه ده چې روژه دار د داسي کارو څخه نیول سوی وي کوم چې په دوزخ کي د داخلیدو باعث کیږي او دا ظاهره ده چې روژه دار د کبیره ګناهو څخه خوندي وي او د هغه چې کوم صغیره ګناهونه وي د هغه د روژې د برکته هغه بخښل کیږي .

شیطانان بندیان کیږي د دې مطلب دا دی چې هغه شیطانان کوم چې سرکشه او باغیان وي

په زنځيرونو ترړل کيږي او د هغوی هغه قوت سلب کيږئ چې د هغه په وجه هغوی د بندګانو پر دوکه کولو باندې قادره کيږي.

ځينې حضرات وائي دا جمله په اصل کې د دې خبرې خوا ته کنايه ده چې د روژې په مياشت کې شيطانان د خلکو غولولو څخه منع وي او بندګان نه يوازې دا چې د هغوی وسوسې او وهمونه نه قبلوي بلکه د هغوی د مکر او فريب په جال کې مبتلي هم نه او د دې وجه دا وي چې د روژې په وجه پر انسان قوت حيوانيه مغلوبه کيږي کوم چې د غيظ و غضب او شهوت بنياد دی او د ډول ډول ګناهو باعث کيږي د دې پر خلاف قوت عقليه غالب او قوي کيږي چې د اطاعاتو او نيکې باعث وي دا وجه ده چې په روژې کې د نورو مياشتو په نسبت ګناه کمه صادره کيږي او په عباداتو او اطاعاتو کې زياتوالی کيږي.

باب الريان

﴿۱۸۶۱﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ

د حضرت سهل رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل د جنت

ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ فِيهَا بَابٌ يُسَمَّى الرَّيَّانَ لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا الصَّائِمُونَ. متفق عليه

اته دروازې دي په هغو کې د يوې نوم الريان دئ پر دې دروازه به يوازې روژه نيونکي جنت ته ځي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٣٢٨، رقم: ٣٢٥٧، ومسلم ٢\ ٨٠٨، رقم: ١٦٦- ١١٥٢.

تشريح: (ريان) معنی ده اوپاشي کول د دې پوره وضاحت او تفصيل په باب الصدقة د حديث نمبر دريم په تشريح کې ذکر سوی دی.

د روژې د مياشتې فضيلت

﴿۱۸۶۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَامَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې روژې ونيولې

رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ

د رمضان په عقيدت او ايمان سره او د ثواب تر لاسه کولو په نيت د هغه تول مخکنې ګناهونه بخښل کيږي او څوک چې ودريږي (يعنې تراويح يې وکړي) او په شب قدر کې د تراويح وروسته نفل وکړي

إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ . متفق عليه

د عقيدت ، ايمان او ثواب ترلاسه کولو په نيت نو د هغه تول مخکني ګناهونه بخښل کيږي .
بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱ ۹۲، رقم: ۳۸، ومسلم ۱۱ ۵۲۴، رقم: ۱۷۵- ۷۶۰.

تشريح: په روژې کي د دريدو مطلب دادی چي د روژې په شپو کي تراويح وکړي د قرآن کريم تلاوت وکړي د الله تعالی په ذکر او داسي نورو کي مصروفه وي او که په حرم شريف کي وي نو طواف او عمره کوي بيا همداسي په نورو عباداتو کي ځان مصروفه ساتي .

په شب قدر کي د دريدو مطلب دادی چي په شب قدر کي د الله تعالی په عبادت او د الله تعالی په ذکر کي مصروفه وي که څه هم د هغه شپې په شب قدر کيدو هغه خبر وي که نه وي .

(غفر له ما تقدم من ذنبه) نو د هغوی هغه ګناه بخښل کيږي کومه چي يې مخکي کړې وي په دې باره کي علامه نودي رحمة الله عليه فرمائي يعني هغه د خير اعمال چي د ګناهونو ختمونکي دي صغيره ګناوي خو ختموي او کبيره ګناوي سپکوي او که د يو خوش نصيب په عمل نامه کي د ګناه وجود نه وي نو بيا د مکفراتو په وجه په جنت کي د هغه درجي لوړې کيږي .

د روژې ثواب

﴿۱۸۶۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل د انسان د هر نيک عمل

يُضَاعَفُ الْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا

ثواب داسي زياتيږي چي د يوې نيکۍ ثواب لس برابر ورکول کيږي تر څو چي دا ثواب اووه سوه پوري ورسيږي ، الله تعالی فرمايلي دي : مګر

الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي لِلصَّائِمِ

د روژې ثواب تر دې هم زيات دئ ځکه چي روژه يوازي زما لپاره ده او زه به ددې ثواب ورکوم ، (روژه نيونکی) خپل خواهشات او خپل خوراک يوازي زما د رضا لپاره پريږدي

فَرْحَتَانِ فَرْحَةٌ عِنْدَ فِطْرِهِ وَفَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَاءِ رَبِّهِ وَلَخُلُوفُ فم الصائم

او هغه ته دوې خوښۍ ترلاسه کيږي يوه خوښي د روژه ماتي پر وخت او دوهمه خوښي د خپل پروردګار سره د ملاقات پر وخت، د روژه نيونکي د خولې بوی

أَطْيَبُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ والصيام جنة فاذا كان يوم صوم احدكم

د الله ﷻ په نزد تر مشکو هم زيات خوشبوداره دئ، او روژه سپر دئ هر کله چې په تاسو کې د يو چا روژه وي نو

فلا يرفث و لا يصخب فان سابه احد او قاتله فليقل اني امرء صائم .

متفق عليه

د فحش خبرې دې نه کوي، نه دې پالتو چغې وهي که څوک هغه ته بد ووايي يا د جګړې کولو اراده ورسره وکړي نو هغه ته دې ووايي چې زما روژه ده . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱۸/۴، رقم: ۱۹۰۴، ومسلم ۸۰۷/۲، رقم: ۱۶۴- ۱۱۵۱.

تشريح: د نيکۍ د اجر په اړه اولى درجه لس ده چې نيکۍ خو يوه وي خو ثواب د هغه لس چنده حاصل سي بيا د دې وروسته د نيک عمل کونکي پر صدق خلوص انحصار کيږي د هغه هڅه او کوښښ او د هغه خلوص او د هغه په رښتوني نيت کې څومره پختي او کمال زياتيږي همداسي د هغه په ثواب کې هم اضافه کيږي تر دې چې په ځيني حالاتو کې په يوې نيکۍ باندې اوه سوه چنده ثواب حاصليږي ګويا دا اخري درجه ده مګر ځيني ځايونه او وختونه داسي هم دي چې په هغه کې يوه نيکۍ دي هم په زيات اجر او ثواب سره نازول کيږي .

د روژې دومره ډير زيات فضيلت ولې دی؟ روژه او د دې د ثواب او فضيلت دوه سببه دي اول خو دا چې روژه د نورو خلکو د نظر څخه پټه وي د نورو عبادتو پر خلاف چې په هغه کې دا صفت نسته څومره چې هم عبادات وي هغه په څه نا څه ډول د نورو خلکو د نظر ونو مخ ته راځي کله چې روژه يو داسي عبادت دی چې د هغه علم هم د الله تعالى څخه پرته يوازي روژه دار ته وي نو روژه يوازي د الله تعالى لپاره وي چې په دې کې رياء او نمائش ته هيڅ دخل نسته نو الله تعالى د خپل ارشاد (فانه لي) څخه دې ته اشاره وفرمايل چې روژه خاص زما لپاره ده ځکه چې روژه خو صورت د ځان لپاره وجود نه لري کله چې نور عبادتونه صورة د ځان لپاره وجود لري .

دوهم دا چې په روژه کې د نفس او جسم د بدن سپکيدل او تاوان دی او پر هغه صبر کول وي کله چې په نورو عباداتو کې نه دومره سختي او تکليف وي او نه خپل پر خواهش او طبيعت

باندي دومره جبر وي، الله تعالى د خپل ارشاد (يدع شهوته) په ذريعه دې ته ارشاره وفرمايله چې روژه دار خپل خواهش پريږدي يعني د روژې په حالت کې چې کوم شيان منعه دي د هغه ټولو څخه کناره ليري والى اختياروي.

د لفظ (شهوته) وروسته د (طعامه) ذکر يا خو د تخصيص بعده د تعميم په توګه دى يا د شهوت څخه مراد جماع ده او د طعام څخه د جماع پرته هغه نور شيان مراد دي چې روژه ماتونکي دي د روژه مات پر وخت روژه دار ته خوشحالي په دوو وجهو کيداى سي يا خو په دې وجه چې دا هغه وخت وي چې روژه دار خپل ځان د الله تعالى حکم او خپله ذمه داري پوره کونکى محسوسوي يا دا چې د عبادت د توفيق او نورانيت په وجه خپل ځان مطمئن او خوشحاله محسوسوي چې دا په ظاهره د خوشحالى وجه ده ، د دې څخه پرته په دنيوي او جسماني توګه سره هم داسي خوشحالي محسوسيږي چې د ټولي ورځې د لوږې او تندي وروسته هغه ته خوراک څښاک حاصليږي.

د حديث د اخري جملې معنى داده که يو سړى روژه دار ته بد و رد ووايي يا د هغه سره د جنګ اراده وکړي نو هغه دي ورته انتقاما بد و رد نه وائي او نه دي د هغه سره جنګ ته تياريږي بلکه هغه سړي ته دي دا وائي چې زه روژه دار يم او دا خبره دي په ژبي سره ووائي چې دښمن د خپلو ناپاکو ارادو څخه ونيول سي ځکه چې روژه دار خپل مقابل ته دا ووائي چې زه روژه دار يم نو د دې مطلب به دا وي چې زما روژه ده زما لپاره دا جائز نه دى چې ستا سره جنګ وکړم او کله چې زه خپله جنګ ته تيار نه يم نو ستا لپاره هم دا مناسب نه ده چې ته د روژې په حالت کې د چا سره جنګ وکړې يا چاته په خپلې ژبې سره بدو رد ووايې.

د لفظ (الا الصوم) په اړه حضرت مولانا شاه عبدالعزيز دهلوي رحمه الله عليه ليکلي دي د حديث ځيني شارحين په دې وخت کې وائي موږ ته دا نه وه معلومه چې د روژې دا خاصيت په څه وجه دى خو پر موږ باندي دا خبره واجبه او لازمه ده چې بغير د څه شک او شبهې موږ د دې تصديق وکړى هو ځيني محققينو علماؤ د دې خصوصيت څه اسباب بيان کړي دي ځيني حضرات وائي چې روژه هغه عبادت دى چې د جاهليت په ورځو کې هم د اهل عرب په نزد يوازي د الله تعالى د ذات لپاره مخصوص ده څرنګه چې کفارو او مشرکانو به سجده د الله تعالى پرته د نورو شيانو لپاره هم کوله ولې هغوى به په روژه کې د الله تعالى پرته څوک نه ګډول بلکه روژه به يې يوازي د الله تعالى لپاره نيوله.

همداسي د دې نکتې په ذريعه هم د دې خصوصيت ته اشاره کيداى سي چې په حقيقت

کي کوم سړی روژه ونيسي او همداسي هغه يوازي د الله تعالی د رضا لپاره خپل خوراک، څيښاک او نور خواهشات پريږدي نو هغه يو ډول لطافت او پاکيزګي حاصلوي ګويا هغه په دې باره کي د الله تعالی اوصاف او د خلګو سره مشابهت اختياروي په دې توګه چي الله تعالی د خوراک څښاک څخه پاک دی همداسي هغه هم د ورځي خپل ځان د دنيوي خواهشاتو څخه پاک ساتي په دې وجه روژې ته دا خصوصيت حاصل دی.

تاسو پورته وويل چي د عربو مشرکينو په روژې کي څوک د الله تعالی سره نه شريکول خو اوس د هغوی روژه هم يوازي د الله تعالی لپاره مخصوص نه ده پاته سوې آيا تاسو نه وينی چي د ځيني بزرګانو په نامه او د هغوی لپاره هم اوس روژه نيول کيږي الله تعالی دي موږ ټول د دې ګمراهي او ضلالت د لاري څخه وژغوري او يوازي د خپل دين اسلام تابع او پابند مو دي جوړ کړي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د روژې برکتونه

﴿۱۸۶۴﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي

أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ صُفِّدَتْ الشَّيَاطِيْنُ وَمَرَدَةُ الْجِنِّ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ

د رمضان لومړی شپه راسي نو شيطان او سرکښ پيريانان وترل سي، او بندي سي دروازې

النَّارِ فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ وَفُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ

د دوزخ او هيڅ دروازه نه خلاصيږي، او د جنت دروازې خلاصي سي او د هغه هيڅ دروازه نه بنديږي

وَيُنَادِي مُنَادٍ يَا بَاغِيَ الْخَيْرِ أَقْبِلْ وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ وَلِلّٰهِ عُتَقَاءُ مِنْ

او يو اعلان کونکی اعلان کوي اې د نيکی غوښتونکي، د نيکی په لور متوجه سه او اې د بدی اراده کونکي د بدی څخه منع سه او الله ﷻ (په دغه مياشت کي) ډير خلک د دوزخ څخه آزادوي

النَّارِ وَذٰلِكَ كُلُّ لَيْلَةٍ. رواه الترمذي و ابن ماجة و رواه احمد عن رجل و قال الترمذي هذا حديث غريب.

او داسي هره شپه کيږي (يعني اعلان هره شپه کيږي) .، ترمذي ، ابن ماجه، احمد د يو سړي څخه روايت کړی دی ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ٦٦- ٦٧، رقم: ٦٨٢، وابن ماجه ۱\ ٥٢٦، رقم: ١٦٤٢. و امام احمد في مسنده ۱۴\ ۳۱۱، والترمذي الموضع السابق.

تشريح: د روژې د مياشتي په شروع کيدو سره شيطانان بنديان کيږي ترڅو هغوی روژه دار په مکر او فريب کي وانه چوي او د هغوی په زړونو کي وسوسې او د ناپاکو خيالاتو تخم ونه کري د دې ټولو لوی ثبوت دادی چي د روژې په مياشت کي اکثر ګناه کاران د ګناهو څخه نيول سوي وي او د الله تعالی خوا ته متوجه وي البته داسي بد بخت هم وي چي په دې مبارکي مياشت کي هم د ګناه څخه نه منعه کيږي د دې وجه هغه اثرات وي کوم چي د روژې مخکي په عامو ورځو کي د شيطان غولولو په وجه د هغوی په فتنو کي راشکيل وي، يعني د هغوی ذهن او فکر او د هغوی عملي قوت د مخکي څخه د شيطان تر اثر لاندي وي، او د هغوی نفس عادي سوی وي ځکه داسي خلک د عادت په وجه د روژې په مياشت کي هم د ګناه او معصيت څخه ځان نه سي ساتلای .

د الله تعالی خوا ته د متوجه کيدو مطلب دادی چي د الله تعالی بندګي د هغه د عبادت او د هغه د رضا په کارونو کي زيات د مصروفه کيدو کوښښ وکړل ځکه چي دا داسي وخت دی که لږ نيک عمل هم په دې کي وکړه سي او د هغه ثواب به ورته حاصليږي او د معمولي درجې نيکی هم د سعادت او نيک بختي لوړې درجې ته رسوي .

همداسي د بدي څخه د منع کيدو مطلب دادی چي د ګناه او معصيت لاره پريږدي د نيکی او سيده لار خپله کړي د خپلو زړو ګناهونو توبه وکاږي او د الله تعالی خوا ته خپله توجه وکړي ځکه چي د قبوليت دعا او مغفرت دا غوره وخت دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۱۸۶۵﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَاكُمْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر تاسو راغلې ده

رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ السماء

د رمضان مبارکه میاشت د هغې روژې الله ﷻ پر تاسو فرض کړي دي ، په دې میاشت کې د آسمان دروازې خلاصې سي

وَتُغْلَقُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَحِيمِ وَتُغَلُّ فِيهِ مردة الشَّيَاطِينُ لله فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ

او ددوزخ دروازې وترل سي او سرکښ شیطانانو ته توقونه واچول سي ، په دې میاشت کې د الله تعالی یوه خاصه شپه ده چې غوره ده

مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا قَدْ حُرِمَ . رواه احمد والنسائي .

ترزرو میاشتو ، څوک چې ددې د خیر څخه محروم سو نو هغه (د هر خیر څخه) محروم سو . احمد او نسائي .

تخریج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۲۳۰، والنسائي ۴\ ۱۲۹، رقم: ۲۱۰۵.

تشریح: ملا علي قاري رحمة الله علیه د دې حدیث الفاظ (و تغل فیه مردة الشیاطین)څخه دا مفهوم اخلي چې د روژې شریفې په میاشت کې یوازې هغه شیطانان بندیان کیږي کوم چې سرکشه او باغیان وي ګویا داسي هغه اشکال خپله رفع کیږي چې د اوس څخه مخکې د حدیث په تشریح کې تیر سوه په هغه صورت کې د هغه حدیث پنځه الفاظ صفدت الشیاطین و مردة ..... عطف پر شیطان باندې (عطف د تفسیرو بیان) له امله دی .

ملا علي قاري رحمة الله علیه د دې قول وضاحت داسي کړی دی چې د دې مخکې د حدیث په تشریح کې دې اشکال ته اشاره سوې ده چې د شیطانانو د بندولو سربېره هم چې کوم خلک په دې مبارکه میاشت کې په ګناه کې اخته کیږي د دې څه وجه ده؟ د دې یوجواب خو داورکړل سوی وو چې د دې وجه هغه اثرات وي کوم چې د روژې مخکې په عامو ورځو کې د شیطان د غولولو په وجه د هغوی په بدو خصلتو کې اخته کیږي ، یو جواب یې دا کړی دی .

د دې اشکال دوهم جواب ملا علي قاري رحمة الله علیه د مفهوم په رنړا کې ورکړی دی چې په روژې کې په اصل کې هغه شیطانان بندیان کیږي کوم چې سرکش او باغیان وي نو کوچني او غټ شیطانان ازاد وي ځکه داسي خلک دوکه کوي چې د هغوی په وجه په روژې کې هم د ګناهونو څخه ځان نه سي ژغورلای .

خو د دې باب اول حدیث څخه دا ثابته سوه چې مطلقا شیطانان بندیان کیږي ځکه د هر سرکشه شیطان څه تخصیص نسته نو د ملا علي قاري رحمه الله دا جواب څه زیات موثر نه معلومیږي .

په دې اړه د مولانا شاه محمد اسحاق دهلوي رحمة الله علیه تقریر تر ټولو بهتر دی د هغه نه یوازي دا چې مسئله مذکوره کې څه اشکال نه پاتې کیږي بلکه په دې باره کې نقل په تولو حدیثونو کې تطبیق هم پیدا کیږي حضرت موصوف رحمة الله علیه فرمائي د سرکشو شیطانانو بندول څرنګه چې دا حدیث بنائي د مخصوص افراد نسبت سره دی مطلب دادی چې سرکش شیطانان خو د فاسقو خلکو د غولولو څخه منع کیږي داسې خلک په روژې کې ګناوي کمې کوي البته نور کوچني شیطانان هغوی دوکه کوي چې د هغه په وجه څه نا څه ګناه د هغوی څخه کیږي او مطلقا شیطانان د صلحاء او نیکو خلکو د غولولو څخه منع کیږي نو هغوی د کبیره ګناهونو څخه محفوظه کیږي که په شرعي تقاضا باندې د هغوی څخه څه ګناه وسي نو هغوی توبه استغفار کوي.

د ذکر سوي پورته اشکال یو دوهم جواب دادی چې څه ګناوي خو داسې وي چې د شیطانانو په غولولو سره کیږي او څه ګناوي داسې وي چې خپله د خپل نفس په تقاضا سره کیږي کومې ګناوي چې د شیطان په غولولو سره کیږي هغه ګناوي هم خلک په روژې کې کوي او کومې ګناوي چې د خپل نفس په تقاضا سره کیږي هغه په روژې کې هم کیږي.

(من حرم خیرها) کوم سړی چې د خیر څخه محرومه سي د دې مطلب دادی چې هغه ته په دې مقدسې میاشت کې د الله تعالی د عبادت لپاره د شپې بیداري توفیق نه ورکول کیږي که هغه لږ تر لږه د شپې په ابتدائي او اخري حصو کې بیداره وي او د الله تعالی بندګي کوي بیا هم هغه ته به د دې شپې د عبادت فضیلت حاصلیدی ځکه نقل دي چې کوم سړی چې لږ تر لږه د ماښتن او سهار لمونځ په جماعت سره وکړي نو هغه ته به هم د لیلة القدر د سعادتونو خپله حصه تر لاسه سي.

فقد حرم: یعني د هر شي څخه محروم سو، دا د مبالغې په توګه فرمایل سوي دي او د دې څخه مراد د پوره ثواب څخه محروم کېدل دي.

د روژې او قرآن کریم شفاعت

﴿۱۸۶۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

اَلصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَقُوْلُ الصِّيَامُ: أَيْ رَبِّ إِنِّيْ مَنَعْتُهُ

روژه او قرآن کریم به د بنده شفاعت کوي ، روژه به وايي اې پروردګاره! ما دی منع کړی وو

الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ وَيَقُوْلُ الْقُرْآنُ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ

د ورځي د خوراک او خواهشاتو څخه نو دده لپاره زما شفاعت قبول کړې، او قرآن کریم به وايي ما د خوب څخه منع کړی وو

بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ فَيُشَفَّعَانِ " . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د شپې او دده په حق کي زما شفاعت قبول کړې نو د هغوی دواړو شفاعت به قبول کړل سي . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۲\۳۴۶، رقم: ۱۹۹۴.

تشريح: د قرآن کریم څخه مراد د قرآن کریم تلاوت دی، علامه طيبي رحمة الله عليه وايي چي د قرآن څخه تهجد، د قرآن کریم تلاوت، عبادت او داسي نور مراد دي، د روژې او قرآن کریم د دواړو د شفاعت ثمره به دا وي چي په روژې سره به ګناهونه ختم سي او د قرآن کریم په شفاعت سره به په درجو کي لوړوالی په برخه سي .

د شب قدر فضيلت

﴿۱۸۶۷﴾: وَعَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ قَالَ دَخَلَ رَمَضَانُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رمضان مياشت پيل سوه نو رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هَذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَكُمْ وَفِيْهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ

دا مياشت پر تاسو راغلل او په دې کي يوه داسي شپه ده چي تر زرو مياشتو غوره ده څوک چي

حُرِمَهَا فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ وَلَا يُحْرَمُ خَيْرَهَا إِلَّا مَحْرُوْمٌ . رواه ابن ماجه

د دې شپې د خير څخه محروم سو نو هغه د ټولو خيرو څخه م.حروم سو او د دې شپې د نيکيو څخه يوازي بې نصيبه محروم کيږي . ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\۵۲۶، رقم: ۱۶۴۴.

تشريح: ستاسو لپاره دا مياشت راغلې ده: د دې مطلب دادی چي د روژې مقدسه او بابرکته مياشت د دين او دنيا د سعادتونو او نېکبختيو څخه ډکه مياشت ده نو د دې راتلل غنيمت وګڼی د ورځي روژه ونيسی او د شپې د الله تعالی عبادت يعني تراويح او د قرآن کريم تلاوت

او په تهجد او داسي نورو عباداتو کي مصروف کيدل د دې مياشتي برکتونه او سعادتونه حاصل کړي او د حديث د اخري جملې مطلب دادی چې د ليلة القدر د سعادتونو څخه هغه سړی محروم کيدای سي چې د سعادت او خير په معامله کي بدنصيبه وي او د هغه د عبادت سره شوق نه وي.

د روژې د مياشتي برکتونه

﴿۱۸۶۸﴾: وعن سلمان الفارسي قال خطبنا رسول الله ﷺ في آخر يوم من

د سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې په آخري ورځ رسول الله ﷺ موږ ته خطبه را کړه

شعبان فقال: " يا أيها الناس قد أظلكم شهر عظيم مبارك شهر فيه

د شعبان او وه يې فرمايل: اې خلکو! يوه لويه مياشت پر تاسو سايه غورلې ده چې ډيره

ليلة خير من ألف شهر جعل الله تعالى صيامه فريضة وقيام ليله تطوعا

برکتناکه مياشت ده دا داسي مياشت ده چې په دې کي يوه شپه ده چې تر زرو مياشتو غوره ده، ددې مياشتي روژې الله تعالى فرض کړي دي او ددې مياشتي عبادت يې نفل کړ ځولی دئ

من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن أدى فريضة فيما سواه ومن

څوک چې په دې مياشت کي په نيکۍ سره د الله تعالى قرب ولټوي نو دهغه ثواب دومره دئ څومره چې د فرضو د رمضان د مياشتي پرته په نورو مياشتو کي دئ

أدى فريضة فيه كان كمن أدى سبعين فريضة فيما سواه وهو شهر الصبر

څوک چې په دې مياشت کي فرض لمونځ ادا کړي د هغې ثواب د رمضان د مياشتي پرته د نورو مياشتو د اويا فرضو برابر دئ، دا مياشت د صبر مياشت ده

والصبر ثوابه الجنة وشهر المواساة وشهر يزداد فيه رزق المؤمن من فطر

او د صبر ثواب جنت دئ دا مياشت د غمخواری مياشت ده دا مياشت يوه داسي مياشت ده چې په دې کي د مؤمن رزق زياتيږي څوک چې

فيه صائما كان له مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وكان له مثل أجره

په دې میاشت کې د یوه روژه نیونکي د روژه ماتي بندوبست وکړي نو هغه د ګناهونو د بخښنې او د دوزخ د اور څخه د خلاصون سبب کیږي او هغه ته د روژه نیونکي د روژې برابر ثواب ورکول کیږي

من غير أن ينتقص من أجره شيء " قلنا : يا رسول الله ليس كلنا نجد ما

او په دې سره د روژه نیونکي ثواب هم نه کمیږي، موږ پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! زمونږ سره دومره سامان نسته

نفطر به الصائم . فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " يعطي الله هذا

چې د روژه نیونکي روژه ماتی ورکړو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی ورکوي دغه

الثواب من فطر صائما على مذقة لبن أو تمرة أو شربة من ماء ومن أشبع

ثواب هغه چا ته چې د شیدو یو غړپ یا په خرما سره یا د اوبو یوه غړپ سره د چا روژه ماتی وکړي څوک چې روژه نیونکي ته په ماړه نس ډوډۍ ورکړي

صائما سقاه الله من حوضي شربة لا يظمأ حتى يدخل الجنة وهو شهر أوله

الله تعالی به هغه زما په حوض داسي اوبه وکړي چې بیا به هیڅکله نه تږی کیږي تر څو چې جنت ته ولاړ سي دا میاشت داسي میاشت ده چې په لومړی کې

رحمة وأوسطه مغفرة وآخره عتق من النار ومن خفف عن مملوكه فيه

رحمت دئ په منځ کې بخښنه او په پای کې د دوزخ څخه خلاصون دئ ، چا چې په دې میاشت کې د خپل روژه نیونکی غلام څخه لږ کار واخیستئ

غفر الله له وأعتقه من النار " . رواه البيهقي

او د هغه په کار کې یې کمي وکړل نو الله یې بخښي او د دوزخ څخه خلاصون ورکوي . بیهقي .

تخریج: البيهقي في شعب الايمان ۳\ ۳۰۵-۳۰۶،

تشریح: او د دې شپو قیام یې نفل ګرځولی دی د دې مطلب دادی چې د روژې په میاشت کې تراویح لمونځ او د دې ډول نور سنت موکده عبادتونو لپاره د شپې بیداري نفل ګرځولې ده،

کوم سړی چې د شپې بیداري وکړي او تراویح لمونځ وکړي هغه به په ډیر غوره اجر او ثواب سره نازول کیږي او کوم سړی چې دا پریږدي هغه به نه یوازې د خیر او شیګنې د سعادتونو څخه محرومه سي بلکه د الله تعالی په عذاب کې به راګاپیره سي.

د دې جملې مطلب دادی چې تراویح لمونځ یې نفل ګرځولی دی ځکه چې تراویح لمونځ خوسنت موکده دی او د دې لوی تاکید دی د ابوداود باب (في شهادة الواحد على رؤية هلال رمضان) کې یو روایت نقل دی د هغه الفاظ دادي (فامر بلالا فنادى في الناس ان يقوموا وان يصوموا) یعني کله چې د روژې د میاشتې ګواهي تیره سوه نو رسول الله ﷺ بلال رضی الله عنه ته د اعلان کولو حکم وکړو او هغه اعلان وکړ چې قیام دي وکړل سي یعني تراویح لمونځ دي وکړه سي او روژه دي ونیول سي. تر دې چې هغه به په جنت کې داخل سي ځکه یې وفرمایل چې دا خو معلومه ده چې په جنت کې د داخلیدو وروسته د تندي څه وجود پاته نه پاته کیږي لکه چې د الله تعالی ارشاد دی:

انک لا تظما فیها	بې شکه تاسو به په جنت کې نه تږي کیږئ.

نو د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب به دا وي چې هغه سړی به د دې وروسته هیڅ کله تږی نه پاته کیږي.

د روژې لومړنی برخې یعني اولې لسیزې ته رحمت ویل سوی دی د دې مطلب دادی چې دا هغه زمانه وي کله چې د الله تعالی د رحمت عام نزول وي ظاهره ده که د هغه رحمت نه وي نو بیا دي نه څوک روژه نیسي نه دي څوک تراویح کوي.

د خپل غلام او مینځي بار سپکول د دې مطلب دادی چې د روژې په میاشت کې روژه دار خپل خدمتګار او خپل د خادم سره ډیر زیات د محبت او رحمت معامله کوي او د هغه په تاکلي خدمت کې دي آسانتیا او رعایت کوي همداسي د عامو ورځو په نسبت د روژې په حالت کې پرهغوی دي د خپل خدمت او نورو کارو بار نه اچوي.

په رمضان کې د بندیانو خلاصون

﴿۱۸۶۹﴾: وعن ابن عباس قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا دخل شهر رمضان أطلق كل أسير وأعطى كل سائل. رواه البيهقي

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې کله به د روژې میاشت راغلل نو رسول الله ﷺ به بندیان ایله کړل او هر سوال کونکي ته به یې ورکړه ورکول. بیهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۳\ ۳۱۱، رقم: ۳۶۲۹.

تشريح د بنديانو څخه مراد هغه خلک هم دي چې د حقوق الله لپاره بنديان سوي وي او هغه خلک هم مراد ځيني اخستل کيږي چې د بندګانو د حقوقو د مطالباتو په خاطر بنديان کيږي کوم خلک چې د الله تعالى د حقوقو د خاطره بندي سي د هغوی د خلاصون څخه مراد به دا وي چې رسول الله ﷺ به داسي بنديان صاحب حقوق ته په ويلو سره ازادول يو احتمال داهم دی چې رسول الله ﷺ به يوازي هغه بنديان پريښول چې خپله به د رسول الله ﷺ د حقوقو د خاطره بنديان کيده هسي خو جود او سخا د رسول الله ﷺ امتيازي وصف وو او رسول الله ﷺ به د روژې پرته په نورو ورځو کې هم د هر سوالګر سوال پوره کوی خو په روژه کې به د رسول الله ﷺ د جود او سخا څه بل کيفيت وو د حديث اخري الفاظ او د هر سوالګر مراد به يې پوره کوی د دې څخه به مراد دا وي چې رسول الله ﷺ به په روژې کې د خپل عادت او معمول څخه زياته ورکړه او سخاوت کوی.

د جنت بنګلا

﴿۱۸۷۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْجَنَّةَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : جنت

تزخرف لرمضان من رأس الحول إلى حول قابل" . قال : "فإذا كان أول

د کال د پيل څخه د کال تر پايه پورې د رمضان مياشتې لپاره بنکلی کيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چې د روژې لومړی ورځ سي

يوم من رمضان هبت ريح تحت العرش من ورق الجنة على الحور العين

نو د عرش الهي لاندي د جنت د درختو د پاڼو څخه پر حور عين هوا چليږي ،

فيقلن : يا رب اجعل لنا من عبادك أزواجا تقر بهم أعيننا وتقر أعينهم بنا" . روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان

نو حور عين وايي اې پروردګاره ! خپل بندګان زموږ خاوندان جوړ کړې او د هغوی د صحبت او لذت څخه زموږ سترګې يخې کړې او د هغوی سترکي زموږ د صحبت او لذت څخه يخې کړې ، بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۳\ ۳۱۲، رقم: ۳۶۳۳.

تشريح: د کال د پيل څخه مراد د محرم اوله ورځ ده مګر دا هم ليږي نه ده چې د جنت او روژې د اعتبار څخه د کال د شروع څخه د شوال لومړنۍ ورځ مراد وي حاصل دا چې د روژې او د روژې برکتونه يعني کثرت بخشش او مغفرت او د لوړو درجو د راتلو په خوشحالۍ کې جنت ټول کال سنګاريږي.

خپل بندګان زموږ خاوندان جوړ کړي، په دې کې د بندګانو څخه د الله تعالى هغه نيک او فرمانبرداره بندګان مراد دي چې د روژې په روځو کې روژه نيسي او په شپو کې په تراويح لمانځه کې مصروفه وي د رسول الله ﷺ ارشاد نقل دی چې کوم بنده د روژې په مياشت کې روژه نيسي نو د هغه د هرې ورځې د روژې په بدله کې هغه ته يوه د غټو سترګو لرونکې حوره ورکول کيږي کوم چې د غميانو په خيمه کې قرار لري څرنګه چې د الله تعالى ارشاد دی: حور مقصورات في الخيام.

د روژه دار مغفرت

﴿۱۸۷۱﴾: وعن أبي هريرة قال عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال يغفر

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بخښنه کيږي

لأمته في آخر ليلة في رمضان قيل يا رسول الله أهي ليلة القدر؟ قال لا

د روژې په آخري شپه د محمد ﷺ د امت لپاره، پوښتنه وسول چې اې د الله رسوله! ايا هغه شب قدر ده؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: نه،

ولكن العامل إنما يوفى أجره إذا قضى عمله. رواه أحمد

مګر کارکونکي (روژه نيونکي) ته چې هغه خپل کار پوره کړي نو د هغه کار پوره اجرت ورکول کيږي احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۲۹۲.

تشريح: د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دادی چې د مغفرت دا سعادت د ليلة القدر په وجه نه ورکول کيږي بلکه د هغه عظيمي فريضې د تکميل په وجه حاصليږي چې د هغه دا ادائيګي حکم الله خپلو بندګانو ته ورکړی دی او هغه روژه نيول دي د روايت الفاظ (يغفر لامته) د

رسول الله ﷺ د ارشاد څخه دی بلکه دا د ابوهریره رضی الله عنه خپل الفاظ دي چې د هغه په ذریعه هغه د رسول الله ﷺ د الفاظو مبارکو مفهوم ادا کړی دی او بعینه د رسول الله ﷺ الفاظ یې نه دي نقل کړي چې هغه دادي (یغفر لامتي).

=======

بَابُ رُؤْيَةِ الْهِلَالِ

د میاشتي لیدلو بیان

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رمضان او شعبان د میاشتي لیدل

﴿۱۸۷۲﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصُومُوا

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : روژه مه نیسئ

حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ، و في

تر څو چې د روژې میاشت ونه وینئ او روژه مه ماتوئ تر څو چې داختر میاشت ونه وینئ، که ستاسو په مخکي وریځ وي او میاشت څرګنده نه سي نو اندازه وکړئ ،او په

روایة قَالَ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً فلا تصوموا حتى تروه فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فاكملوا العدة ثلثين . متفق عليه .

یوه روایت کي دا الفاظ دي چې میاشت کله د یو کم دیرش شپو وي تاسو تر هغه وخته پوري روژه مه نیسئ تر څو پوري چې میاشت ونه وینئ که ستاسو په مخکي وریځ وي نو پوره دیرش ورځي شمیرل کیږي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱۹\۴، رقم: ۱۹۰۶، ومسلم ۷۵۹\۲، رقم: ۲- ۱۰۸۰.

تشریح: مطلب دادی چې تر څو پوري میاشت ونه ویني یا د باور وړ شهادت او د باور وړ ذرائع سره تر څو پوري چې میاشت لیدل ثابت نسي مه روژه نیسی او مه روژه په ختمولو سره اختر کوی.

مياشت كله د يوكم ديرشو شپو هم وي په اصل كي د دې خبري ترغيب وركول مقصود دى چې پر ديرشمه شپه يعني پر يو كم ديرش تاريخ دي مياشت وګوري علماء ليكي چې د شعبان پر يوكم ديرشم پر خلكو واجب كفايه دى چې د روژې د مياشتي د ليدو كوښښ وكړي .

﴿۱۸۷۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ صُوْمُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ فَإِنْ غُبِّيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِيْنَ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د مياشت ليدو سره روژه نيسئ او د مياشت لېدو سره يې ماتوئ، او كه وريځ وي نود شعبان ديرش ورځې پوره كړئ . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱۹/۴، رقم: ۱۹۰۹، ومسلم ۷۶۲/۲، رقم: ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰- ۱۰۸۱.

د مياشتي ليدنه

﴿۱۸۷۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا أُمَّةٌ رضي الله عنه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : موږ

أُمِّيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسُبُ الشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا و عقد الابهام في الثالثة

يو امي (بې تعليمه) قوم يو ، ليكل ، لوستل، حساب او كتاب نه پيژنو ، مياشت دومره او دومره وي يعني دوه واره يې ګوتي خلاصي كړې او په دريم واري يې

ثم قال الشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا يَعْنِي تمام الثلاثين يعني مَرَّةً تِسْعَةً وَعِشْرِينَ وَمَرَّةً ثَلَاثِيْنَ . متفق عليه

بټه ګوته بنده كړه، ددې دا مطلب سو چې مياشت د نهه ويشتو ورځو هم وي، او بيا يې وفرمايل : مياشت داسي ، داسي او داسي وي . يعني دري واره يې ګوتي خلاصي ولرلې ، ددې مطلب دا سو چې كله پوره ديرش ورځې مياشت وي او كله نهه ويشت ورځې، بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲۶/۴، رقم: ۱۹۱۳، ومسلم ۷۶۱/۲، رقم: ۱۵- ۱۰۸۰.

تشريح: اهل عرب ته امي ځكه ويل كيږي چې هغوى به څنګه د مورد نس څخه پيدا سوه

همداسي به اوسيده ليک او لوست يې نه کوی خو رسول الله ﷺ دا اکثر د اعتبار څخه فرمايلی دی که څه هم په عربو کي تعليم عام نه وو او اکثريت يې اميان وه، خو بيا هم څه نا څه خلک د علم څخه برخمن وه، د دې جملې څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي اهل عرب حساب کتاب نښه نه سو کولای.

په هر حال د حديث معنی داده چي د نجوم ګرو په قاعدو باندي عمل کول زمونږ طريقه نه ده او نه د نجوم قواعد او حساب څخه څرنګه چي په جنتري کي ليکلي دي د مياشت ثبوت د باور وړ کيدای سي بلکه په دې باره کي زمونږ علم يوازي د مياشتي په ليدو سره متعلق دي که مياشت وليده سي يا د مياشت ليدل د شرعي قواعد لاندي ثابت سي نو روژه مشروع کيږي يا د دې اختتام کيږي د دې خبري په اخر کي وضاحت وکړه سو چي په ځينو مياشتو کي مياشت پر نهه ويشت تاريخ پوره کيږي او په ځينو مياشتو کي پر ديرش تاريخ پوره کيږي.

د روايت د اخري عبارت دواړي جملې يعني (تمام الثلثين يعني مرة تسعا .....الخ) د راوي الفاظ دي په اولي جملې سره خو راوي د رسول الله ﷺ اخري ارشاد بيان کړی دی او د دوهمي جملې په ذريعه يې د دواړو شيانو وضاحت کړی دی.

د روژې او ذي الحجې مياشتي

﴿۱۸۷۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرَانِ لَا يَنْقُصَانِ شَهْرَا عِيدٍ رَمَضَانُ وَذُو الْحَجَّةِ. متفق عليه.

د حضرت ابوبکرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوې مياشتي نه کميږي يعني د رمضان او ذي الحجې مياشتي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۲۴، رقم: ۱۹۱۲، ومسلم ۲\ ۷۶۶، رقم: ۳۱-۱۰۸۹.

تشريح: روژې ته اختر په دې اعتبار سره فرمايل سوی دی چي دا اختر ته نژدې وي په هر حال د حديث مطلب خو يا دادی چي په يوه کال کي د روژې مياشت او د ذی الحجه دواړي مياشتي ناقص يعني د نهه ويشتو ورځو وي يا د دې معنی داده چي د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کي به دا دواړي مياشتي کمي نه وې.

يا د دې ارشاد مطلب به دا وي چي دا دواړي مياشتي به د حکم او ثواب د اعتبار څخه ناقصي نه وي که څه هم په دې کي يوه د نهه ويشتو ورځو او دوهمه د ديرشو يا دواړه د نهه

ويشتو ورځو وي خو ثواب پوره د ديرشو ورځو حاصليږي.

د شعبان اخري روژې نسته

﴿۱۸۷۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

لَا يَتَقَدَّمَنَّ أَحَدُكُمْ رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ كَانَ

په تاسو کې دي هيڅوک تر روژې مخکې يوه يا دوې ورځې روژه نه نيسي، مګر نه هغه څوک

يَصُومُ صَوْمَهُ فَلْيَصُمْ ذٰلِكَ الْيَوْمَ . متفق عليه

چې د روژې نيولو عادت يې وي نو هغه دد غه ورځو روژې نيولای سي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۲۸، رقم: ۱۹۱۴، ومسلم۲\ ۷۶۲، رقم: ۲۱- ۱۰۸۲.

تشريح: د حديث د اخري جز مطلب دادی چې دا منعه د هغه سړي په حق کې نه ده چې په دې ورځو کې د روژې نيولو عادي وي مثلا يو سړی د چارشنبې يا پنجشنبې په ورځ د نفلي روژې نيولو عادي وي او اتفاقا د شعبان نهه ويشت يا ديرش تاريخ هم په هغه ورځ سي نو د هغه لپاره په هغه ورځ روژه نيول ممنوع نه ده هغه دي يې ونيسي هو کوم سړی چې په دې ورځو کې د روژې نيولو عادي نه وي هغه دي ونيسي خو دومره خيال ساتل پکار دي چې دا منعه د نهي تنزيهي په توګه ده .

علماء فرمائي د روژې څخه يوه ورځ يا دوې روځې مخکې د روژې نيولو ممانعت ځکه دی چې د نفل او فرض دواړو روژو اختلاط ونسي او په اهل کتاب سره مشابهت نه وي ځکه چې هغوی به د فرض روژو سره نوري روژې هم يوځای کولې د مظهر رحمة الله عليه قول دی د شعبان په اخري ورځو کې روژه يوه ورځ يا دوې ورځې مخکې نيول مکروه دي .

مولانا اسحاق رحمة الله عليه فرمائي دلته چې د کومو روژو څخه منع کول کيږي هغه د يوم الشک روژه نه ده بلکه مطلقا د شعبان په اخري ورځو کې د روژې څخه يوه يا دوې ورځې مخکې د روژې نيولو ممانعت دی البته کوم سړی چې په دې ورځو کې د روژې نيولو عادي وي هغه د دې ممانعت څخه مستثنی دی .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د شعبان د نيمايي څخه روژه نسته

﴿۱۸۷۷﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْتَصَفَ شَعْبَانُ فَلَا تَصُوْمُوا . رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجة والدارمي

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي د شعبان نيمه مياشت تيره سي نو روژه مه نيسئ . ابوداؤد ، ترمذي ، ابن ماجه او دارمي .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۷۵۱، رقم: ۲۲۳۷، والترمذي ۳\ ۱۱۵، رقم: ۷۳۸، وابن ماجه ۱\ ۵۲۸، رقم: ٦٥١، والدرامي ۲\ ۲۹، رقم: ۱۷۴۰.

تشريح: مطلب دادی چي د شعبان په اخري نصف حصه مياشت كي قضاء يا څه واجب روژې څخه پرته نوري روژې دي نه نيسي خو دا ممانعت د نهي تنزيهي په توګه دی او د دې تعلق د امت د اساني په وجه دی يعني رسول الله ﷺ د روژې بالكل په نژدې ورځو كي د روژې نيولو څخه ځكه منع فرمايلې ده چي د دې روژو په وجه خلكو ته ضعف او نا توانی ورپيښه نسي چي د هغه په وجه د روژې د مياشتي روژې پر سختي سي .

د قاضي رحمة الله عليه قول دی د دې ممانعت تعلق د هغه سړي سره دی چي هغه ته پرله پسې د روژو نيولو طاقت نه وي نو د هغه لپاره دي په دې ورځو كي روژې نه نيول مستحب دي څرنګه چي هغه خلكو ته چي قوت برداشت نه لري د عرفې په ورځ روژه نه نيول مستحب دي چي هغه د روژې ناقابل برداشت مشقت څخه د ساتلو په هغه ورځ ذكر او په دعا كي مصروفه سي هو په كومو خلكو كي چي قوت برداشت وي د هغوی لپاره د شعبان په اخري نيمه مياشت كي روژې نيول منعه نه دي ځكه چي د رسول الله ﷺ په اړه ثابت دي چي د شعبان پوره مياشت به يې روژې نيولې .

د شعبان ورځې يادوئ

﴿۱۸۷۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْصُوا هِلَالَ شَعْبَانَ لِرَمَضَانَ . رواه الترمذي ،

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د روژې لپاره د شعبان مياشت شميرئ . (يعني د رمضان د مياشتې د څرګندېدو لپاره) ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۷۱، رقم: ٦٨٧.

تشريح: مطلب دادی چې د شعبان د مياشتې ورځې شميرئ او ياد يې ساتئ چې د روژې د راتګ خبر درته وسي.

د شعبان د مياشتې روژې

﴿۱۸۷۹﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَصُومُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ إِلَّا شَعْبَانَ وَرَمَضَانَ . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي و ابن ماجة

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه پرته د شعبان او رمضان پرله پسې دوې مياشتې روژې نيول د بل چا نه دي ليدلي ، ددې دواړو مياشتو پرله پسې روژې به رسول الله ﷺ نيولې . ابوداؤد ، ترمذي ، نسائي او ابن ماجه .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۷۵۰، رقم: ۲۳۳٦، والترمذي ۳\ ۱۱۳، رقم: ۷۳٦، والنسائي ۴\ ۱۵۰، رقم: ۲۱۷۴، وابن ماجه ۱\ ۵۲۸، رقم: ۱٦۴۸.

تشريح: يعني رسول الله ﷺ چې به څرنګه د روژې په پوره مياشت کې روژې نيولې همداسې به يې د شعبان په پوره مياشت کې هم روژې نيولې د دې حديث مفصل وضاحت به انشاء الله په (باب صيام التطوع) کې ذکر سي.

شکمنه روژه نسته

﴿۱۸۸۰﴾: وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ مَنْ صَامَ الْيَوْمَ الَّذِي يُشَكُّ فِيهِ فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجة

د حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنه څخه روايت دئ چا چې په شک منه ورځ روژه ونيول نو هغه د ابوالقاسم ﷺ نافرماني وکړه . ابوداؤد ، ترمذي ، نسائي او ابن ماجه .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۷۴۹، رقم: ۲۳۳۴، والترمذي ۳\ ۷۰، رقم: ٦٨٦، والنسائي ۴\ ۱۵۳، رقم: ۲۱۸۷، وابن ماجه ۱\ ۵۲۷، رقم: ۱٦۴۵، والدارمي ۲\ ۵، رقم: ۱٦۸۲.

تشريح: د شعبان په ديرشمه شپه يعني پريو کم ديرش تاريخ که د وريځې او ګرد په وجه

میاشت ونه لیده سي خو یو سړي د میاشت لیدو شاهدي ورکړي او د هغه شاهدي قبول نه کړه سو همداسي دوو فاسقانو خلکو د میاشت لیدو ګواهي ورکړه او د هغوی ګواهي قبوله نه کړه سوه د هغه په سهار چي کومه ورځ سي یعني دیرشم تاریخ نو هغه ته به (یوم الشک) ویل کیږي ځکه چي د هغه ورځ په باره کي دا هم احتمال کیدای سي چي روژې شروع سوي وي او دا هم احتمال کیږي چي روژه شروع سوې نه یي نو د دې غیر یقیني صورت په وجه دې ته د شک ورځ ویل کیږي هو که پر نهه ویشت تاریخ وریځ یا ګرد نه وي او څوک میاشت نه وویني نو دیرشم تاریخ ته به (یوم الشک) نه وایو.

په دې حدیث کي د دې ورځي په باره کي فرمایل سوي دي چي په یوم الشک کي د روژې یا د څه واجب نیت سره روژه نیول مکروه ده البته په دې ورځ د نفل روژو نیولو په باره کي څه تفصیل دی که یو سړی د شعبان د اول تاریخ څخه روژه ونیسي یا پر دیرشم تاریخ اتفاقا هغه ورځ سي چي په هغه کي یو سړی د روژې نیولو عادي وي چي د هغه وضاحت مخکي سوی دی نو د هغه لپاره په هغه ورځ روژه نیول به افضل وي.

همداسي په یوم الشک کي روژه نیول د هغه سړي لپاره هم افضل دی چي د شعبان په اخري درو ورځو کي روژه ونیسي او که دا صورت نه وي نو بیا د یوم الشک مسئله داده چي خاص دي په هغه ورځ د نفل په نیت سره روژه ونیسي او عوام دي تر غرمې پوري د خوراک او څښاک بغیر انتظار وکړي او که میاشت څه قابل قبول شهادت رانسي نو د غرمې وروسته دي روژه مات وکړي.

د ابن عمر او نور صحابه کرامو رضي الله عنهم دا معمول نقل کیږي چي دې حضراتو به د شعبان پر نهه ویشت تاریخ میاشت پیدا کوله که میاشت به یې ولیده یا د د باور وړ شهادت په ذریعه به د میاشت لیدو ثبوت وسو نو په راتلونکي ورځ به یې روژه نیوله کنې په بل صورت کي وریځ او ډ ګرځ او داسي نورو څخه د مطلع (د سپوږمۍ د راختلو ځای) صاف کیدو په صورت کي به یې روژه نه نیوله هو که مطلع به صاف نه وه نو روژه به یې نیوله او علماء فرمائي چي په دې صورت کي به د هغوی دا روژه نفل وه.

د خواص څخه مراد هغه خلک دي چي د شک په ورځ د روژې نیت کول پیژني او کوم خلک چي د دې ورځي نیت کول نه پیژني هغوی ته عوام ویل کیږي په دې ورځ د روژې نیت دادی چي کوم سړی په هغه ورځ چي په هغه کي د روژې په باره کي شک واقع کیږي د روژې نیولو عادي نه وي هغه دي دا نیت وکړي چي زه نن ورځ د نفل روژې نیت کوم او د هغه په زړه کي دا خیال

پیدا نسي که نن د روژې ورځ وي نو دا روژه د روژې هم ده همدا سي نیت کول مکروه دی که سبا ته د روژې ورځ وي نو دا روژه به د روژې په میاشت کي حساب وي او که د روژې ورځ نه وي نو په نفل یا څه بل واجب کي به حساب وي خو که چا داسي نیت وکی او په هغه ورځ روژه کیدل ثابته سوه نو هغه ورځ به د روژې میاشت کي حسابیږي د دې پر خلاف که یو سړی په دې نیت سره روژه ونیسي که نن د روژې ورځ وي نو زما به هم روژه وي او که د روژې ورځ نه وي تو زما به هم روژه نه وي نو همدا سي نه به نفل روژه وي نه به فرضي د روژې روژه وي که څه هم په هغه ورځ د روژې د میاشتي روژه سي.

په شاهدي سره د روژې پیل کول

﴿۱۸۸۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې یو صحرائي رسول الله ﷺ ته راغلی

فَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُ الْهِلَالَ يَعْنِي هِلَالَ رَمَضَانَ فَقَالَ أَتَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ

او عرض یې وکړ چې ما میاشت لیدلې ده، (یعني د روژې میاشت)، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا ته ددې خبري شاهدي ورکوې چې دالله ﷻ څخه پرته بل د عبادت وړ نسته،

قَالَ أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ يَا بِلَالُ أَذِّنْ فِي النَّاسِ أَنْ

هغه وویل هو، بیا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا ته ددې خبري اقرار کوې چې محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دئ، هغه وویل: هو، ددې وروسته رسول الله ﷺ بلال ته وفرمایل: خلک خبر کړه چې

يَصُومُوا غَدًا. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجة والدارمي.

د سبا څخه روژه ونیسي. ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او دارمي.

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۷۵۴، رقم: ۲۳۴۰. والترمذي ۳\ ۷۴، رقم: ۶۹۱، والنسائي ۴\ ۱۳۱، رقم: ۲۱۱۱، وابن ماجه ۱\ ۵۲۹، رقم: ۱۶۵۲، والدارمي ۲\ ۹، رقم: ۱۶۹۲.

تشریح: دا حدیث په دې خبري دلالت کوي چې کوم (مستور الحال) وي یعني د هغه فاسق کیدل معلوم نه وي نو د روژې د میاشت په باره کي د هغه شهادت به د باور وړ او د قبلیدو قابل وي او بل دا چې د روژې د میاشتي شاهدي په ورکولو سره د لفظ شهادت استعمال شرط نه دی.

د دې حديث څخه دا خبره هم معلومه سوه چې د روژې د مياشتې په شهادت کې يوازې د يوه سړي ګواهي قبليدای سي په حنفي مذهب کې صحيح مسئله داده چې د روژې د مياشتې ليدل د يو عادل او مستور الحال سړي د شهادت څخه ثابتيږي او دا چې د روژې د مياشتې په شهادت کې د لفظ شهادت استعمال شرط نه دی خو د يوه سړي ګواهي به په هغه صورت کې د اعتبار وړ وي کله چې لمر خاته وريځ او ګرځ و دوړې وي که د اختر مياشت د شپې وريځ او ګرځ وي نو بيا د دوو خلکو يا يوه سړی او د دوو عادلانو آزادو ښځو شهادت به د اعتبار وړ وي او دا چې په دې وخت کې به د لفظ شهادت استعمال هم شرط وي بيا د موقع لاندې د شهادت صورت هم بدليږي که لمر خاته صاف وي نو د ډېرو کسانو شاهدي به ضروري وي.

﴿۱۸۸۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ تَرَاءَى النَّاسُ الْهِلَالَ فَأَخْبَرْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ رَاَيْتُهُ فَصَامَ وَاَمَرَ النَّاسَ بِصِيَامِهِ. رواه ابوداؤد والدارمي

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې خلک د مياشتې ليدو لپاره يو ځای سول، ما رسول الله ﷺ خبر کړ چې ما مياشت ليدلې ده نو رسول الله ﷺ روژه ونيول او خلکو ته يې د روژې نيولو حکم ورکړ. ابوداؤد، دارمي

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\۷۵۶، رقم: ۲۳۴۲. والدارمي ۲\۹، رقم: ۱۶۹۲.

د لغاتو حل: صحيح التراءي هو ان يري القوم بعضهم بعضا.-

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د رسول الله ﷺ عادت

﴿۱۸۸۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَحَفَّظُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به په پاملرنې سره شمېرلې

مِنْ شَعْبَانَ مَا لَا يَتَحَفَّظُ مِنْ غَيْرِهِ ثُمَّ يَصُوْمُ لِرُؤْيَةِ رَمَضَانَ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْهِ عَدَّ ثَلَاثِيْنَ يَوْمًا ثُمَّ صَامَ. رواه ابوداؤد.

د شعبان ورځې دومره چې د بلې مياشتې شمېر به يې دومره پروا نه کول، بيا د رمضان د

مياشتي په ليدو سره به رسول الله ﷺ روژه نيول ، كه وريځ به وه او د يوكم ديرشو مياشت به څرګنده نه سوه نو رسول الله ﷺ به پوره ديرش ورځې روژې نيولې . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۷۴۴، رقم: ۲۳۲۵.

د لغاتو حل: يتحفظ: يتكلف في عد ايام شعبان لمحافظة صوم رمضان. د شعبان د ورځو په تېنګه شمېرل.

تشريح: د رسول الله ﷺ معمول وو چې د شعبان مياشت ته به يې خاصه توجه کوله او د هغې ورځې به يې په ډېر احتياط سره شمېرلې چې د روژې د مياشت په باره کې څه تردد پيدا نسي د شعبان پرته بلي مياشتي ته به يې دومره توجه نه فرمايله ځکه چې په بلي مياشتي سره چې شرعي امر سره سم کوم امر نه وو البته د حج مياشت به داسي وه چې د هغه سره يوه شرعي فريضه سمه وه نو هغه نادر ده چې نه خو د هغه تعلق د هر سړي سره دی او نه هر کال فرض دی .

د مياشتي په ليدو سره روژه

﴿۱۸۸۴﴾: وَ عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا لِلْعُمْرَةِ فَلَمَّا نَزَلْنَا بِبَطْنِ نَخْلَةَ

د ابو البختري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې موږ د عمرې لپاره ولاړو کله چې په نخله کې تم سوو

تَرَاءَيْنَا الْهِلَالَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ

نو خلک د مياشتي ليدو لپاره يو ځای سوی وه ، ځينې خلکو (د مياشتي په ليدو سره) وويل دا د دريمې شپې مياشت ده ، او ځينيو وويل

لَيْلَتَيْنِ قَالَ فَلَقِينَا ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْنَا إِنَّا رَأَيْنَا الْهِلَالَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ

د دويمې شپې ده ، بيا چې موږ د ابن عباس رضي الله عنه سره يو ځای سوو نو موږ هغه ته وويل چې موږ مياشت وليدل ځينو ويل چې

ابْنُ ثَلَاثٍ وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ لَيْلَتَيْنِ فَقَالَ أَيَّ لَيْلَةٍ رَأَيْتُمُوهُ فَقُلْنَا

د درو شپو ده او ځينو ويل د دويمې شپې ده ، ابن عباس رضي الله عنه پوښتنه وکړه: تاسو په کومه شپه مياشت ليدلې ده موږ ورته وويل

لَيْلَةَ كَذَا وَكَذَا فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَدَّهُ لِلرُّؤْيَةِ فَهُوَ

په فلانۍ شپه نو ابن عباس رضي الله عنه وويل: رسول الله ﷺ د رمضان وخت پرې وه مياشت ليدو

موقوف کړئ دئ

لِلَيْلَةٍ رَأَيْتُمُوهُ ، و في رواية عَنْهُ قَالَ أَهْلَلْنَا رَمَضَانَ وَنَحْنُ بِذَاتِ عِرْقٍ

نو په کومه شپه چې تاسو میاشت لیدلې ده د هغه وخت څخه شمیرل کیږي، په یوه روایت کې د ابو البختري څخه نقل دئ چې موږ په عرق نامې ځای کې میاشت ولیدل

فَأَرْسَلْنَا رَجُلًا إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَسْأَلُهُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ

او یو سړی مو د ابن عباس رضي الله عنه په خدمت کې د تصدیق لپاره ولیږئ ابن عباس رضي الله عنه وویل :

رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَمَدَّهُ

رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې الله تعالی د روژې وخت پر میاشت لیدلو موقوف کړئ دئ

لِرُؤْيَتِهِ فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ . رواه مسلم .

که پر آسمان وریځ وي نو د ورځو شمیر پوره کړئ . مسلم .

تخریج: صحیح مسلم: ۱۲\ ۷۶۵، رقم: ۲۹- ۱۰۸۸.

تشریح: مطلب دا چې د روژې دار و مدار د میاشتې پر لیدو باندې دی د میاشتې د لوی کیدو اعتبار نسته بلکه نقل دي چې د سپوږمی په شپه کې د میاشت لوی کیدل د قیامت د نژدې کېدو علامات دي دلته چې کوم روایتونه نقل کړه سوي دي هغه که څه هم په ظاهره مخالف معلومیږي خو په حقیقت کې د دې احتمال لاندې په هغه کې څه اختلاف نسته چې د دې خلکو په ذات عرق کې په جمع کیدو سره میاشت لیدلې وه بیا په هغوی کې د اختلاف پیدا کیدو په صورت کې یو سړی د ابن عباس رضي الله عنه په خدمت کې واستول سو هغه هغه وخت د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کړ بیا چې دا ټول خلک بطن نخله ته ورسیده نو په دې باره کې د ابن عباس رضي الله عنه څخه باالمشافه پوښتنه وسوه نو هغه د رسول الله ﷺ د ارشاد په رڼا کې دا پورته جواب ورکړ د میاشت لیدو په باره کې څه مسئلې په ذهنو کې وساتئ:

که د شعبان په دیرشم تاریخ د ورځې د زوال مخکې یا د زوال وروسته میاشت ولیده سې نو هغه به د راتلونکې شپې میاشت وګڼل سې نو په هغه ورځ نه خو د روژې د شروع حکم ورکول کیږي او نه به د هغې ورځې د روژو نیولو لپاره ویل کیږي همدا سې که د روژې په دیرشم

تاريخ مياشت وليده سي نو نه به په هغه ورځ روژه ماتول کيږي او نه به هغه ورځ د اختر ورځ ګرځول کيږي د شعبان ديرشمه شپه يعني پر نهه ويشتم تاريخ مياشت پيداکول واجب على الكفايه دي که په يوځای کي د مياشتي ليدل ثابت سي نو د ټولو ځايونو پر خلکو به د راتلونکي ورځ روژه نيول واجب وي په دې اړه به دا اختلاف د مطالع اعتبار څخه وي مثلا که په دهلي کي د جمعې په شپه مياشت وليدل سي او په نورو ښارونو کي د هفتې په شپه مياشت وليده سي نو د هفتې په شپه کي د مياشت ليدو اعتبار به نه وي بلکه په ټولو ښارونو کي ليدل به معتبر وي او په ټولو ځايونو کي د جمعې د ورځي روژه نيول به لازم وي د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه ظاهري روايت دادی او د حنفيه جمهور علماء پر دې باور او اعتمادی دی چې د امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه په مذهب کي د اختلاف مطالع اعتبار دی د دې حضراتو په نزد د يوه ښار والا مياشت ليدل د نورو ښارو والا لپاره کافي نه دی.

کوم سړي چې د روژې مياشت ليدلې وي او د هغه شهادت او خبر په څه وجه قابل قبول نه وي نو خپله هغه ته د خپل روايت سره سم روژه نيول پکار ده که هغه خپله هم روژه ونيسي نو پر هغه باندې قضاء لازميږي.

==========

بَابُ في مسائل متفرقة من كتاب الصوم

د روژې د متفرقو مسئلو بيان

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د پيښلمي برکت

﴿۱۸۸۵﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً. متفق عليه

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پيښلمی کوئ ځکه چې په پيښلمي کي برکت وي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۳۹، رقم: ۱۹۲۳، ومسلم ۲\ ۷۷۰، رقم: ۴۵- ۱۰۹۵.

تشريح: مطلب دادی چې د روژې نيولو لپاره د پيښلمي پر وخت څه نا څه خوړل پکار دي او

په یوه روایت کي نقل دي چي پیښلمی خوری که څه هم هغه د یوه سک اوبو په شکل کي وي دا حکم د وجوب په توګه نه دی بلکه د استحباب په توګه دی.

(سحر) د شپې اخري حصې ته وائي سحور د سین په زور سره اسم دی یعني سحور د سهار ډوډۍ ته وائي او د سین په پیښ سره مصدر دی چي د هغه معنی ده د سهار د وخت ډوډۍ دلته په دې روایت کي دا لفظ سحور اسم نقل کړه سوی دی د محدیثینو په نزد په محفوظ روایت کي دا لفظ داسي دی البته ځیني حضرات وائي چي بهتر او مناسب مصدر دی ځکه چي د حدیث د مفهوم لاندي د برکت تعلق د فعل یعني د سهار د وخت د ډوډۍ سره دی نه چي د دې تعلق د اسم سره یعني د طعام سره دی.

د برکت څخه مراد دادی چي پیښلمی خوړل په اصل کي په سنت نبوي باندي عمل کول دي ځکه د دې په وجه نه یوازي دا چي لوی ثواب حاصلیږي بلکه د روژې نیولو قوت هم رائي.

د مسلمانانو د روژو فرق

﴿۱۸۸۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصْلُ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ أَكْلَةُ السَّحَرِ . رواه مسلم

د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زمونږ او د اهل کتاب په روژو کي د پیښلمي کولو فرق دئ. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۲/ ۷۷۰، رقم: ۴۶-۱۰۹۶.

تشریح: د اهل کتاب په نزد په شپې کي د بیده کیدو وروسته خوراک حرام وو همداسي د مسلمانانو په نزد هم د اسلام په شروع کي دا حکم وو خو وروسته مباح سو نود پیښلمی په کولو سره د اهل کتاب مخالفت لازمیږي چي د دې عظیم نعمت د شکر ګزاري یوه ذریعه ده.

په روژې ماتولو کي تلوار

﴿۱۸۸۷﴾: وَعَنْ سَهْلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ . متفق عليه

د حضرت سهل رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تر څو چي خلک په روژه ماتي کي تلوار کوي (یعني دلمر لوبدو سره سمدستي روژه ماتوي) نو هغوی به په خیر کي وي.

بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹۸\۴، رقم: ۱۹۵۷، ومسلم ۷۷۱\۲، رقم: ۴۸- ۱۰۹۸.

تشريح: په روژه مات کي د تلوار مطلب دادی چي د لمر ډوبيدو وروسته دې په روژه مات کي زنډ نه کول کيږي په ښارونو کي د لمر ډوبيدو علامت دادی چي د مشرق خوا ته تورو الی پورته سي يعني د کوم ځای څخه چي صبح صادق شروع کيږي تر هغه پوري ورسيږي د آسمان په مينځ کي د تورو الي رسيدل شرط نه دي.

د لمر ډوبيدو وروسته په روژه مات کي په چابکتيا کولو سره د اهل کتابو مخالفت هم کيږي ځکه چي هغوی په روژه مات کي تر هغه وخته پوري زنډ کوي تر څو پوري چي ستوري په اسمان کي په ښه ډول نه راووځي په مسلمانانو کي اهل بدعت يعني د روافض په نزد هم په دې عمل دی نو د هغوی مخالفت هم کيږي د صحيح حديثو پر موجب د مانبام د لمانځه کولو مخکي روژه مات کول سنت دی.

دروژې ماتولو وخت

﴿۱۸۸﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَقْبَلَ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي راسي

اللَّيْلُ مِنْ هَا هُنَا وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَا هُنَا وَغَرَبَتْ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ. متفق عليه

شپه د دې لوري څخه (يعني په ختيځ کي تورو الی سي) او ورځ دې لوري ته (لوېديځ ته) ولاړه سي او لمر ولويږي نو روژه نيونکی دي روژه ماته کړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹۶\۴، رقم: ۱۹۵۴، ومسلم ۷۷۲\۲، رقم: ۵۱- ۱۱۰۰.

تشريح: (و غربت الشمس) او لمر ډوب سي په اصل کي د خپل ماقبل جملو د تاکيد په توګه استعمال سو د حديث د اخري جملې مطلب دادی چي کله د روژه مات وخت سو نو ګويا روژه دار ته روژه ماتول پکار ده څه هغه خوړلي او څښلي نه وي ځينو حضراتو ويلي دي چي د دې جملې معنی داده چي روژه دار که د روژه مات په وخت کي داخل سو دا هم ممکنه ده چي د دې جملې معنی مراد دا وي چي کله مذکوره وخت راسي نو روژه مات کول پکار دی.

صوم وصال

﴿۱۸۸۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ منع فرمايلي ده د

الْوِصَالِ فِي الصَّوْمِ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ إِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ وأيكم مثلي

إِنِّيْ أَبِيْت يطعمني رَبِّيْ وَيسقيني . متفق عليه .

روژو پرله پسې نيولو څخه (يعني داسي روژې چي روژه ماتی پکښې نه وي) يو سړي د منع کيدو د حکم په اوريدو سره وويل اې دالله رسوله ! تاسو خو پرله پسې روژې نيسيئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل په تاسو کي څوک زما په ډول نه سي کيدلای ، زه شپه داسي تيروم چي زما رب په ما خوري او چښي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\ ۲۰۵، رقم: ۱۹۶۵، ومسلم ۲\ ۷۷۴، رقم: ۵۷- ۱۱۰۳.

تشريح: روژه پر روژه : د دې مطلب دادی چي دوې يا تر دوو زياتي روژې پرله پسې داسي ونيول سي چي په مينځ کي روژه مات نه وي روژه پر روژه د نيولو څخه ځکه منع سوې ده چي دا د ضعف سبب کيږي چي د هغه په وجه په نورو عباداتو او اطاعاتو کي تاوان واقع کيږي په دې مسئله کي د علماء په نزد اختلاف دی چي ايا د رسول الله ﷺ پرته د نورو خلکو لپاره روژه پر روژه نيول جائز دي يا حرام دي که مکروه دي ځيني حضرات خو د هغه سړي لپاره د جواز قائل دي چي پر دې قادره وي دا حضرات وائي چي په دې صورت کي په حديث کي ذکر سوی ممانعت يوازي د رحمت او شفقت په توګه دی د هغوی دليل د بي بي عائشې رضي الله عنها دا روايت دی رسول الله ﷺ خلک د وصال روژو يعني روژه پر روژې نيولو څخه پر هغوی د رحمت او شفقت له کبله منع فرمايلې ده او ځيني صحابه مثلا عبدالله بن زبير رضي الله عنه او ځيني تابعين مثلا عبدالله بن ابي معمر عامر بن عبدالله بن زبير رضي الله عنه او د ابراهيم تيمي په باره کي نقل دي چي دې حضراتو به روژه پر روژه نيوله اکثر علماء وائي چي دا جائز نه دی امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه امام مالک رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه دې ته مکروه ويلي دي که څه هم په دې خبري کي اختلاف دی چي ايا دا مکروه تحريمي دی که مکروه تنزيهي زيات صحيح قول دادی چي مکروه تحريمي دی د جمهور علماء وينا داده چي روژه پر روژه نيول د رسول الله ﷺ د

خصائصو څخه وه او د حديث د ظاهري مفهوم څخه هم دا ثابتيږي په دې وجه اهل سلوک چې د رياضت مجاهدي او نفس کشي زيات شوق لري په يو غړپ اوبو سره يې هره ورځ روژه ماتوله چې روژه پر روژه د نيولو اطلاق ونسي.

(يطعمني ربي ويسقيني) د مراد په باره کې څو مختار قولونه دي او زيات صحيح قول دادی چې د دې څخه ظاهري خوراک څښاک مراد نه دی رسول الله ﷺ د غذائي جسماني څخه قطعا مستغني وو او کله چې په دنيوي توګه سره په مجازي محبت او خوښۍ کې ددې تجربه ده نو د حقيقي محبت او معنوي محبت به يې څه وايي، چې ددې په وجه د علائق دنيا څخه څومره استغناء (لاپرواهي) وي هغومره کمه ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

دروژې نيت

﴿۱۸۹۰﴾: عَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ

د حضرت حفصې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې

يُجْمِعُ الصِّيَامَ قَبْلَ الْفَجْرِ فَلَا صِيَامَ لَهُ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي والدارمي و قال ابوداؤد و وقفه على حفصة معمر والزبيدي وابن عيينة و يونس الايلي كلهم عن الزهري.

ترسهار مخکې نيت ونه کړي نو د هغه روژه نه کيږي.، ترمذي، ابوداؤد، نسائي او دارمي. او ابوداؤد ويلي دي چې حديث معمر، زبيدي، ابن عيينه او يونس ايلي په بې بې حفصې پورې موقف بيان کړئ دي او ددې ټولو روايت د زهري څخه دئ.

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۸۲۳، رقم: ۲۴۵۴، والترمذي ۳\ ۱۰۸، رقم: ۷۳۰، والنسائي ۴\ ۱۹۶- ۱۹۷، رقم: ۲۳۳۲، والدارمي ۲\ ۱۲، رقم: ۱۶۹۸.

تشريح: د دې حديث څخه په ظاهره خو دا معلوميږي که د روژې نيت د شپې ونه کړه سې نو روژه نه صحيح کيږي که څه هم روژه فرض وي که واجب وي يا نفل په دې باره کې د علماء اختلافي قولونه دي د امام مالک رحمة الله عليه خو مذهب دادی چې په روژه کې نيت د شپې

کول شرط دی که څه هم روژه د کوم نوعیت وي د امام شافعي رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه هم دا قول دی مګر په معامله کي د دې دواړو په نزد دومره فرق دی که روژه نفل وي نو د امام احمد رحمة الله علیه په نزد د زوال مخکي هم نیت کیدای سي او د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد د لمر ډوبیدو مخکي پوري هم نیت کول جائز دی د حنفیه مذهب دادی چي روژه نفل او د نذر معین په روژه کي د نیمي ورځي شرعي یعني د لمر د زوال مخکي نیت کول جائز دی مګر قضاء کفاره او په نذر مطلق کي د حنفیه په نزد هم د شپې نیت کول شرط دی د دې تولو حضراتو دلیلونه د فقهي په کتابونو کي ذکر دي.

د پیشلمي وخت

﴿۱۸۹۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا سَمِعَ أَحَدُكُمُ النِّدَاءَ وَالْإِنَاءُ فِيْ يَدِهٖ فَلَا يَضَعْهُ حَتّٰى يَقْضِيَ حَاجَتَهُ مِنْهُ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي په تاسو کي یو څوک د سهار آذان واوري او دهغه په لاس کي د اوبو لوښی وي نو لوښی دي تر هغو نه ایږدي تر څو چي خپل ضرورت پوره نه کړي. (یعني که اوبه چښبي نو وه دي یې چښي) ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۷۶۱، رقم: ۲۳۵۰.

تشریح: مطلب دادی که د سهار په وخت کي څوک خوړل څښل غواړي خو د سهار اذان شروع سوی وي نو هغه یوازي د اذان اواز په اوریدو سره خپل خوراک څښاک دي نه پریږدي مګر دا خبره دي په خیال کي ساتي چي دا حکم د هغه صورت لپاره دی کله چي دا یقین یا غالب ګمان وي چي سهار سوی نه دی او د سهار وخت پاته دی او که د دې خبري یقین یا غالب ګمان وي چي سهار سوی دی او د سهار وخت پاته نه دی پاته سوی نو بیا خوراک څښاک پریښول پکار دی ابن مالک رحمة الله علیه فرمائي که د سهار راختلو علم نه وي نو خوراک او څښاک موقوف کول نه دی پکار او که دا معلومه سي چي سهار سوی دی یا د سهار ختو شک هم وي نو خوراک څښاک دي پریږدي.

ځیني حضرات فرمائي چي په حدیث کي ذکر سوي اذان څخه مراد د مابنام اذان دی د هغه مطلب دادی که څه هم اذان په اوریدو سره خوراک څښاک پریښودل مسنون دي خو د روژه مات پر وخت که یو سړی د مابنام اذان واوري او هغه څه وڅیښي نو په هغه صورت کي څیښل دي نه

پريږدي بلكه اول دي وخيښي بيا دي د لمانځه لپاره ولاړ سي.

د روژه ماتي تېنګار

﴿۱۸۹۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ أَحَبُّ عِبَادِي إِلَيَّ أَعْجَلُهُمْ فِطْرًا. رواه الترمذي

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: زما په بندګانو کې تر ټولو زيات خوښ بنده هغه دئ چې په روژې ماتولو کې تلوار وکړي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۸۳، رقم: ۷۰۰- ۷۰۱.

تشريح: ژر روژه ماتونکی د الله تعالى په نظر کې تر ټولو زيات د محبوب کيدو فضيلت ځکه ورته حاصل کيږي چې هغه د خپل دغه عمل په ذريعه نه يوازي دا چې د سنت اتباع کوي بلکه د اهل کتاب او روافض مخالفت هم کوي.

په خرما يا اوبو روژه ماتول

﴿۱۸۹۳﴾: وَعَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا

د حضرت سلمان بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

فَطَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى تَمْرٍ فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى مَاءٍ فَإِنَّهُ طَهُورٌ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي و لم يذكر فانه بركة غير الترمذي.

په تاسو کې چې څوک روژه ماتول غواړي نو هغه ته پکار دي چې په خرما سره روژه ماته کړي ځکه چې خرما د برکت سبب ده، که خرما نه وي نو په اوبو سره دي يې ماته کړي ځکه چې اوبه پاکونکي دي. احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه او دارمي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۴\ ۱۷- ۱۸، ۲۱۴، وابوداؤد ۲\ ۷۶۴، رقم: ۲۳۵۵، والترمذي ۴\ ۴۶۰ ۴۷، رقم: ۶۵۸، وابن ماجه ۱\ ۵۴۲، رقم: ۱۶۹۹، والدارمي ۲\ ۱۳، رقم: ۱۷۰۱.

تشريح: په خرما او اوبو سره د روژې ماتولو حکم د استحباب په توګه دی او په خرما سره روژه په ماتولو کې په ظاهره حکمت دا معلوميږي چې کله معده خالي سي او د خوراک خواهش

په پوره توګه سره وي نو په دې صورت کي چې کوم شی خوړل کیږي معده هغه په ښه ډول قبلوي او هضموي یې په داسي حالت کي چې خوږوالی معدې ته ورسیږي نو بدن ته ډیره زیاته فائده رسوي د خوږوالي خصوصیت دا وي چې د دې په وجه په جسماني قوت کي ژر اثر کوي خصوصا قوت باصره ته په خوږوالي سره ډیره زیاته فائده رسیږي په عربو کي خوږوالی اکثر خرما ده او د اهل عرب مزاج په دې سره ډیر زیات بلد دی ځکه په خرما سره د روژه مات لپاره وفرمایل سو د خرما د نه موجودیت په صورت کي په اوبو سره روژه ماتول فرمایل سوي دي ځکه چې دا ظاهره او باطني طهارت او پاکیزګي لپاره نیک فال دی.

د رسول الله ﷺ روژه ماتی

﴿۱۸۹۴﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْطِرُ قَبْلَ أَنْ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به روژه ماتول مخکي

يُصَلِّيَ عَلَى رُطَبَاتٍ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ رُطَبَاتٌ فَتُمَيْرَاتٌ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تُمَيْرَاتٌ حَسَا

تر لمانځه په تازه خرما سره روژه ماتول، که تازه خرما به نه وه نو په وچو خرماوو سره به یې ماتول او که وچې خرماوې به هم نه وې

حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب

نو په څو غړپه اوبو. سره به یې روژه ماتول. ترمذي، او ابوداؤد، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ.

تخریج: سنن ابي داود ۲\ ۷۶۴- ۷۶۵، رقم: ۲۳۵۶، والترمذي ۳\ ۷۹، رقم: ۶۹۶.

تشریح: په یوه روایت کي د ابویعلی څخه نقل دي چې رسول الله ﷺ به په درو خرماوو سره یا په بل داسي شي سره چې د اورپخ سوی به نه وو روژه ماتول خوښول. ځینو خلکو چې دا ویلي دي چې په مکه مکرمه کي د مقیم خلکو لپاره دا مسنون دي چې هغوی د خرما مخکي آب زمزم په څښلو سره روژه ماته کړي یا دواړه په یوځای کولو سره روژه ماته کړي نو دا باالکل غلطه بلکه د اتباع سنت نبوي هم خلاف ده ځکه چې رسول الله ﷺ د مکې د فتحې په کال په مکه مکرمه کي تر ډیرو ورځو پوري مقیم وو خو داسي څه عمل ځینې نقل نه دی.

خلکو ته روژه ماتی ورکول

﴿۱۸۹۵﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت زید بن خالد رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چې

فَطَرَ صَائِمًا أَوْ جَهَّزَ غَازِيًا فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ" . رواه البيهقي في شعب الإيمان ومحيي السنة في شرح السنة وقال صحيح

د روژه دار د روژه ماتي بندوبست وکړي یا د یو غازي سامان پوره کړي نو هغه ته به د هغه برابر ثواب ورکول کیږي . بیهقي ،. او صاحب شرح السنة ویلي دي دا حدیث صحیح دئ .

تخریج: البيهقي في شعب الايمان ۳\ ۴۱۸، رقم: ۳۹۵۳ ، والبغوي في شرح السنة ۳\ ۷۹، رقم: ۶۹۶.

تشریح: مطلب دادی چې روژه دار ته د هغه د روژې په وجه او غازي ته د هغه د جهاد په وجه چې کوم ثواب حاصلیږي همداسې ثواب روژاتي د خوراک پر خوراک ورکولو او مجاهد ته د جهاد پر سامان ورکولو باندې هم حاصلیږي هغه د خپل دې عمل په ذریعه په یوه نیک کار کې مرستیال کیږي .

د رسول الله ﷺ قول

﴿۱۸۹۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَفْطَرَ قَالَ ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتْ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به روژه ماتول نو فرمایل به یې : تنده ولاړه ، رګونه تازه سول او ثواب ثابت سو که الله وغواړي . ابوداؤد .

تخریج: سنن ابي داؤد ۲\ ۷۶۵، رقم: ۲۳۵۷.

تشریح: په دې ارشاد کې د امت لپاره د عبادت ترغیب دی چې په عبادت کې مشقت خو ډیر لږ وي ځکه چې هغه ختم سي خو اجر او ثواب زیات وي ځکه چې هغه پاته او ثابت پاته کیدونکی دی .

د روژه ماتي دعاء

﴿۱۸۹۷﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ زَهْرَةَ قَالَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَفْطَرَ قَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ . رواه ابوداؤد مرسلا .

د حضرت معاذ بن زهرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کله روژه ماتول نو فرمايل به يې : (اللهم لک ....) اې الله ! ما ستا لپاره روژه ونيول او ستا په رزق مي ماته کړه . ابوداؤد مرسلا

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۷۶۵، رقم: ۲۳۵۸.

تشريح: ابن مالک رحمة الله عليه فرمائي رسول الله ﷺ به دا دعا د روژه مات وروسته کوله په دې دعا کي د (ولک صمت) وروسته دا الفاظ (وبک آمنت وعليک توکلت) په عامه توګه سره ويل کيږي دا الفاظ که څه هم د حديث څخه ثابت نه دي خو د معنى د لحاظ څخه صحيح دي ابن ماجه روايت کړی دی چي روژه دار د روژه مات پر وخت چي کومه دعا غواړي هغه نه رد کيږي بلکه هغه قبليږي د روژه مات پر وخت د رسول الله ﷺ څخه دا ويل هم نقل دي :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَعَانَنِيْ فَصُمْتُ وَرَزَقَنِيْ فَاَفْطَرْتُ

ژباړه: ټول تعريفونه الله تعالى لره دي چي هغه زما مرسته وکړه چي ما روژه ونيوله او ماته يې رزق راکړی چي ما روژه ماته کړه .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

په روژه ماتي کي تلوار

﴿۱۸۹۸﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَزَالُ الدِّيْنُ ظَاهِرًا مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ لِأَنَّ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى يُؤَخِّرُوْنَ . رواه ابوداؤد وابن ماجة

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دين به هميشه غالب وي تر څو پوري چي خلک په روژه ماتي کي تلوار کوي ځکه چي يهود او نصارا په روژه ماتولو کي زنډه کوي . ابوداؤد او ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۷۶۳، رقم: ۲۳۵۳، وابن ماجه ۱\ ۵۴۲، رقم: ۱۶۹۸.

تشريح: ځرنګه چي مخکي هم ښودل سوي دي چي يهود و او نصارا وو په روژه مات کي ځنډ

کوی چي ستوري په پوره توګه سره راووځي او په دې زمانه کي روافض جمع د رافض یا رافضي رافضیان هم د هغوی پیروي کوي نو وخت پر کیدو باندي د چابکتیا په کولو کي د اهل باطل مخالفت کیږي چي د هغه سره د دین غلبه او د دین شان ظاهریږي دا حدیث پر دې خبري دلالت کوي چي د دین د دشمنانو مخالفت په حقیقت کي د دین په مضبوطي او د غلبې باعث دي او د هغوی موافقت د دین د تاوان ذریعه ده لکه چي د الله تعالی قول دی :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ

ژباړه : اې مومنانو ! یهود او نصاری دوستان مه جوړوی په هغوی کي ځینې د ځینې خلکو دوستان دي دلته په تاسو کي چي کوم سړی د هغوی سره اړیوالي کوي هغه به د هغوی څخه وي یعني د قیامت په ورځ به د هغوی سره یوځای کیږي .

﴿۱۸۹۹﴾ : وَعَنْ اَبِيْ عَطِيَّةَ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَمَسْرُوقٌ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْنَا يَا أُمَّ

د حضرت بي بي عطیة (رض) څخه روایت دئ چي زه او مسروق د بي بي عائشې په خدمت کي حاضر سو اوهغې ته مو وویل : اې

الْمُؤْمِنِينَ رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدُهُمَا يُعَجِّلُ

د مؤمنانو مور ! د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کي دوه کسان دي چي یو خو تلوار کوي

الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ وَالْآخَرُ يُؤَخِّرُ الْإِفْطَارَ وَيُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ قَالَتْ أَيُّهُمَا

په روژه ماتي کي او تلوار کوي په لمانځه کي او دوهم په روژه ماتي او لمونځ کي ځنډ کوي ، بي بي عائشې رضي الله عنها پوښتنه وکړه څوک

الَّذِي يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ قَالَ قُلْنَا عَبْدُ اللّٰهِ يَعْنِي ابْنَ مَسْعُودٍ

په روژه ماتي او لمونځ کولو کي تلوار کوي ؟ موږ عرض وکړ : عبدالله بن مسعود رضي الله عنه،

قَالَتْ هٰكَذَا صَنَعَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَالْآخَرُ أَبُو مُوسَى . رواه مسلم .

بي بي عائشې وفرمایل : رسول الله ﷺ همداسي کول، د راوي بیان دئ چي دوهم سړي چي په

روژه ماتي او لمونځ کولو کي به يې ځنډ کوئ هغه ابو موسی دئ . مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۷۷۱، ۷۷۲، رقم: ۴۹-۱۰۹۹.

تشریح: عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه د ډير لوړي درجې عالم او فقيه وو ځکه هغه د سنت سره سم عمل وکړی ابوموسی رضی الله عنه هم جليل القدر صحابي وو د هغه عمل د بيان جواز د خاطره وو يا هغه ته به څه عذر پيښ وو دا هم احتمال دی چې هغه به کله کله داسي د څه مصلحت او مجبوري د خاطره کول.

د پيشلمي برکت

﴿۱۹۰۰﴾: وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ دَعَانِي رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِلَى السَّحُورِ فِي رَمَضَانَ فَقَالَ هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ الْمُبَارَكِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت عرباض بن ساریة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې يو وار په روژه کي رسول الله ﷺ زه د پيشلمي خوړلو لپاره وغوښتلم او وه يې فرمايل د برکت خوړلو په لور راځه . ابوداؤد ، نسائي .

تخریج: سنن ابي داود ۲\ ۷۵۷- ۷۵۸، رقم: ۲۳۴۴، والنسائي ۴\ ۱۴۵، رقم: ۲۱۶۲.

غوره پيشلمی کول

﴿۱۹۰۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ سَحُورُ الْمُؤْمِنِ التَّمْرُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د مؤمن غوره پيشلمی خرما خوړل دي . ابوداؤد .

تخریج: سنن ابي داود ۲\ ۷۵۸، رقم: ۲۳۴۵.

=========

بَابُ تَنْزِيْهِ الصَّوْمِ

د روژې پاکولو بیان

په دې باب کې دا بیانیږي چې په کومو شیانو سره روژه نه صحیح کیږي او په کومو شیانو سره د روژې ثواب باطل کیږي او هغه کوم شیان دي چې په هغه سره د روژې په ثواب کې کمي کیږي نو د هغه ټولو شیانو څخه پرهیز ضروري دی چې په هغه سره پر روژې باندي په څه نا څه حیثیت سره اثر اچوي.

که څه هم د روژې مفسدات او داسي نور په راتلونکو صفحو کې د ذکر سوو حدیثو په ضمن کې په متفرقه توګه سره راځي لیکن مناسبه معلومه سول چې په دې وخت کې داسي ټولي مسئلې پر یوه ځای د فقهي د معتبر کتابونو په رڼا کې په تفصیل سره بیان کړه سي چې ګرانو لوستونکو ته فائده او اساني وي ځکه د امداد الفتاح شرح نور الایضاح څخه اخیستل سوي مسائل دلته نقل کیږي دا کتاب په عربو کې هم معتبر او مروج دی په دې کتاب کې دا مسائل په ډیر ترتیب سره ذکر دي ځینې مسائل د در مختار څخه هم اخذ کړه سوي دي.

هغه شیان چې روژه نه په ماتیږي:

کوم سړي ته چې د روژې خیال نه وي او د هغه په وجه څه وخوري یا څه وڅیښي یا جماع وکې نو روژه نه فاسدیږي که څه هم روژه فرض وي یا نفل.

یوه سړي په هیره جماع شروع کړه بیا سمدستي ورته یاد سو که هغه یاد په راتلو سره سمدستي خپل مخصوص اندامونه د شرمګاه څخه دباندي راوباسی نو روژه نه ماتیږي او که نه یې وباسی نو روژه به یې ماته سي په دې صورت کې به د هغه د روژې قضاء لازمیږي کفاره ضروري نه ده کله چې خپل بدن ته حرکت ورنه کړي یعني د یاد راتلو وروسته زور و نه کړه چې په هغه سره انزال وسي ځکه که زور وکړي نو کفاره لازمیږي لکه یو سړي یاد په راتلو باندي دباندي په راکښلو سره بیا داخل کې نو پر هغه کفاره لازمیږي او که یو سړی سهار د راختو مخکې قصدا په جماع کې مصروفه سو او په دې دوران کې سهار راوختی نو هغه ته سمدستي جلا کیدل ضروري دی که سمدستي جلا نه سو بلکه بدن ته یې حرکت هم ورکړ نو په دې صورت کې کفاره لازمیږي هو که بدن ته حرکت ورنه کړي او جلا هم نه وي نو یوازې روژه فاسده کیږي که یو سړی د سهار راختو د بیري څخه د جماع څخه جلا سي او بیا د سهار راختو وروسته د

جماع څخه د جلا کیدو په صورت کي انزال وسي نو د هغه پر روژه اثر نه پریوځي.

که یو سړی په هیره کي څه وخوري او وڅیښي نو نورو خلکو ته هغه ته وریادول پکار دي ځکه چي په داسي حالت کي هغه ته نه وریادول مکروه دي په شرط د دې چي په هغه سړي کي د روژې نیولو قوت وي او هغه بغیر د څه مشقت او تکلیف تر شپې پوري د روژې نیولو پوره طاقت لري که یو سړی یې هغه ته وریاد کړي او بیا هم هغه ته یاد نسي او هغه وخوري او وڅیښي نو په دې صورت کي پر هغه قضاء لازمیږي که په هغه سړي کي د روژې نیولو قوت هم نه وي نو هغه ته نه یادول اولی دي.

د ښځي شرمګاه ته په کتلو سره د انزال کیدو په صورت کي روژه نه ماتیږي په دې باره کي د علماء اختلافي اقوال دي چي د حیوان سره بدفعلي په کولو سره د انزال کیدو په صورت کي روژه ماتیږي که نه د ځینې حضراتو په نزد خو روژه ماتیږي او ځینې حضرات وائي چي روژه نه ماتیږي هو که انزال نه وي نو په متفقه توګه سره مسئله داده چي یوازي د بدفعلي په وجه روژه نه ماتیږي.

د موټ په ذریعه د انزال کیدو په صورت کي روژه ماتیږي او قضاء لازمیږي کفاره نه لازمیږي په دې باره کي په دې خبره پوهیدل ضروري دي چي دا قبیح فعل په غیر د روژې میاشت کي هم حلال نه دی کله چي په دې سره قضاء شهوت مقصود وي هو که تسکین شهوت مقصود وي نو بیا امید دی چي په دې صورت کي به پر هغه څه نه وي یعني که یو سړی یوازي د لذت حاصلولو لپاره په دې فعل کي اخته وي نو د هغه لپاره قطعا حلال نه دی او که د بې قراري دا حالت وي چي د دې فعل په ذریعه د مني نه راوتلو په صورت کي په زنا کي د اخته کیدو بیره وي او هغه کار وکړي نو بیا امید دی چي هغه ګناه کار نه وي مګر پر دې باندي همیشه توب په هر صورت کي د ګناه باعث کیږي.

د یوې ښځي په تصور کولو سره انزال وسي نو روژه نه ماتیږي همداسي د دوو ښځو په خپلو کي دا بدفعل کول یعني یوه ښځه په خپل شرمګاه سره اوږد او کلک غوندي لرګي یا ډبره وموږي او د بلي ښځي سره لکه د خلکو جماع کوي په دې سره روژه نه ماتیږي په شرط د دې چي انزال ونسي او که انزال وسي نو روژه ماتیږي او قضاء لازمیږي په تیل لګولو سره روژه نه ماتیږي ځکه چي د مسامات په ذریعه د څه شي په بدن کي داخلیدل د روژې خلاف نه وي داسي دی لکه چي یو سړی ولمبیږي د هغه ځیګر یخ سي همداسي رانجه په لګولو سره هم روژه نه ماتیږي که څه هم د هغه خوند په حلق کي محسوس سي یا د هغه ګرنګ یا ناړو کي ظاهر سي

ځکه چې د سترګو او دماغ په مینځ کې څه لار نسته ځکه د سترګو څخه اوښکې هم په څڅيدو سره وځي څرنګه چې د يو شي اوبه ايستل کيږي، او دا ښودل سوي دي چې کوم شی د مسامات په ذريعه په بدن کې داخليږي هغه د روژې خلاف نه دی بيا دا چې د رانجو په باره کې د بي بي عائشې رضي الله عنها دا روايت نقل دی چې رسول الله ﷺ د روژې په حالت کې رانجه لګول همداسي که په سترګو کې دوائي يا شېدې واچول سي او د هغه خوند يا د هغه تريخوالی په حلق کې محسوس سي نو روژه نه ماتيږي.

که د يوه سړي څخه پنبه تېر سي په داسي حال کې چې په يوه تار يې ترلي وي او نس ته داخل سي او بهرته يې د تار په ذريعه راوکاږي نو په دې صورت کې روژه نه ماتيږي او که چيرې تناو پرې سي او پنبه و نس ته داخله سي نو بيا روژه ماتيږي او که څوک په خپل حلق کې لرګی يا داسي بل شی داخل کړي او د دوهم سر د هغه په لاس کې وي نو روژه نه ماتيږي همداسي که يو سړی خپله ګوته په شرمګاه کې داخله کړي يا ښځه خپله ګوته په شرمګاه کې داخله کړي نو روژه نه فاسده کيږي هو که ګوته په اوبو يا تيلو سره لنده وي نو ماتيږي، په غيبت سره روژه نه فاسديږي البته د روژې ثواب ځي يوازې د روژه مات نيت په کولو سره کله چې څه ونه خوري او نه وڅيښي پر روژه څه اثر نه پريوځي.

د يوه سړي په حلق کې بې قصده او اختياره دود ولاړ سي نو روژه نه فاسده کيږي ځکه چې د دې څخه ځان ساتل قطعا ناممکن دی که يو سړی د احتياط لاندې پر داسي وخت باندې خپله خوله بنده هم کړي نو دود د پزې په ذريعه داخليږي نو دا د لوندوالي د ډول څخه دی چې د خولې پرېوللو وروسته په خوله کې پاته کيږي او په هغه سره پر روژه اثر نه لويږي هو که قصدا يو سړی په خپل حلق کې دود داخل کړي او داخلېدل په کوم صورت سره وي نو د هغه روژه ماتيږي که څه هم لوګی د عنبر وي يا د اګربتی يا د دې پرته د څه بل شي وي که يو سړی د عطرو څخه شی په سوځولو سره د هغه لوګی ځان ته اخلي او هغه بويوي باوجود دې چې هغه ته دا يادوي چې زه روژه دار يم نو د هغه روژه به فاسده سي ځکه چې د هغه لپاره د هغه څخه ځان ساتل ممکن دي د دې مسئلې څخه اکثر خلک غافل دي په دې باره کې احتياط کول پکار دی په دې خبره هم پوهيدل پکار دي چې دا مسئله د مشک او ګلاب او د بلي خوشبوئي بويولو باندې قياس کيدای نسي ځکه چې يوازې د عطرو د خوشبو دار لوګی په هغه جوهر کې چې قصدا په حلق کې داخل کړه سي کوم فرق دی په هغه ټول پوهيږي همداسي د چلم په دود سره روژه ماتيږي ځکه چې هغه په قصده راکښل کيږي او په دې سره نفس ته تسکين کيږي او په

اکثرو حالاتو کي دا د دوا په توګه استعمالیږي.

خوله او اوښکي په حلق کي په تلو سره پر روژې باندي څه اثر نه اچوي کله چي هغه په لږ مقدار کي وي هو که هغه په زیات مقدار کي ولاړ سي چي په هغه سره په حلق کي ترپووالی محسوس سي نو روژه ماتیږي څه خوشبویه شی مثلا ګل، عطر او داسي نور په بویولو سره هم روژه نه ماتیږي.

د یوه سړي په حلق کي دود یا د ژرندي وړه یا مچ ولاړ سي یا د دوایانو ټکولو پر وخت یا د هغه پوڼی ترلو پر وخت د هغه څخه څه د الوتلو په صورت کي په حلق کي دننه سي نو روژه نه فاسده کیږي ځکه چي د دې شیانو څخه ځان ساتل نا ممکنه دي.

روژه دار د جنابت په حالت کي سهار چي را پورته سي نو د هغه روژه نه فاسدیږي که څه هم هغه پوره ورځ یا تر څو ورځو پوري همداسي وي او غسل او پاکي نه کوي البته د نجس کیدو او لمونځ وغیره نه کولو په وجه به د ثواب څخه محروم وي.

که یو سړی د روژې په حالت کي د خپلي خاص عضوي په سوري کي دوائي یا تیل واچوي یا همداسي سلائي وغیره داخله کړي که څه هم دا شیان مثانې ته ورسیږي د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه د قول سره سم روژه نه فاسده کیږي ځکه چي مثانه نه یوازي دا چي د جوف څخه دباندي ده بلکه د مثانې څخه دننه ته لارنسته ځکه کوچنی بولي هم په څخیدو سره وځي البته د امام ابویوسف رحمة الله علیه په نزد په پورته صورت کي روژه نه پاته کیږي هو که دا شیان مثانې ته ونه رسیږي بلکه مخصوص عضوي په سوریانو پوري محدود وي نو د درو سرو حضراتو په نزد روژه نه فاسده کیږي.

یو سړی که په اوبو کي کښیني او اوبه د هغه په غوږو کي ولاړې سي یا هغه خپل غوږ ګروي او د غوږ خیري ښکاره سي بیا هغه اوبه په غوږ کي ننه باسي او همداسي څو واره وکړي بیا هم روژه نه فاسده کیږي.

د یوه سړي په پزه کي د دماغ څخه په کښته کیدو سره بلغم راسي او هغه پورته وخیږوي یا تیر یې کړي څرنګه چي اکثر بې تمیزه او کثیف الطبع خلک کوي نو روژه نه ماتیږي د چا د خولې څخه ناوړي ووځي او هغه قطع کیږي نه بلکه د تار په توګه په بهیدو سره زني ته راسي او بیا هغه ناوړي پوره په کښلو سره تیري کړي نو روژه نه ماتیږي هو که ناوړي را بهیږي نه بلکه په قطع کیدو سره توی سي او بیا هغه په خوله کي واچوي نو روژه ماتیږي په دې که خوله بلغم په تیرولو سره د امام ابویوسف رحمة الله علیه په نزد روژه ماتیږي خو د امام اعظم ابوحنیفه رحمة

الله علیه په نزد په دې سره روژه نه ماتیږي د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد کله چې د بلغم په توکلو باندې قادر وي او د دې باوجود یې تیري کړي نو روژه فاسده کیږي.

په بې اختیاره قی وهلو سره روژه نه فاسدیږي که څه هم قی په ډکه خوله وي یا تر دې زیات وي همداسي په هغه صورت کي هم روژه نه ماتیږي کله چې راغلی قی بې اختیاره تر حلق لاندې را ولویږي که څه هم هغه هر څومره وي مګر د امام یوسف رحمة الله علیه په نزد په دې صورت کي روژه ماتیږي هو که هغه قصدا تیر کړي او په ډکه خوله وي نو د تولو په نزد روژه نه صحیح کیږي البته کفاره نه لازمیږي او که په ډکه خوله نه وي نو روژه نه فاسده کیږي او که یو سړی قصدا قی وکړي او په ډکه خوله وي نو په متفقه توګه سره مسئله داده چې روژه نه پاته کیږي او که په ډکه خوله نه وي نو د امام ابویوسف رحمة الله علیه په نزد روژه نه فاسده کیږي او صحیح داده د امام محمد رحمة الله علیه قول دی چې په ډکه خوله نه کیدو په صورت کي هم روژه ځي کوم قی چې په قصدٌ وکړه سي او په ډکه خوله نه وي او هغه بې اختیاره د حلق څخه را ولویږي نو روژه نه فاسده کیږي قصدا د تیرولو په باره کي دوه قوله دي صحیح قول دادی چې په دې صورت کي روژه نه فاسده کیږي.

څه چې د غذا د ډول څخه نه وي او د شپې د غاښونو په مینځ کي پاته سوی وي نو د ورځي هغه په تیرولو سره روژه نه فاسده کیږي په شرط د دې چې هغه د نخود د مقدار څخه کم وي او د خولې څخه دباندې په راباسلو سره ونه خوځه سي همداسي د چا د غاښونو څخه یا د خولې د څه دننه حصې څخه وینه ووځي او حلق ته ولاړه سي نو روژه نه فاسدیږي په شرط د دې چې نس ته ونه رسیږي یا نس ته ورسیږي خو په ناړو سره په مخلوط کیدو سره او تر ناړو کم او د هغه خوند په حلق کي محسوس نسي که څه هم وینه نس ته ورسیږي او که هغه پر ناړو باندې غالبه وي یا د ناړو برابر وي نو روژه فاسده کیږي.

که یو سړی په اندازه د نخود یو شی دباندې په خوله کي واچوي او هغه په خوله کي نشر هم سي نو روژه نه فاسده کیږي په شرط د دې چې په حلق کي محسوس نسي یا دا چې بغیر د بوولو هغه شی تیر سي او په حلق کي دهغه خوند محسوس نسي بیا هم روژه ماتیږي او که څه شی د هغه شیانو څخه وي چې د هغه کفاره لازمیږي نو کفاره به ضروري وي کنې قضاء به لازمیږي.

هغه شیان چې په هغه سره روژه فاسدیږي او په هغه سره قضاء او کفاره لازمیږي:

تر ټولو مخکې په دې خبرې پوهیدل ضروري دي چې د روژې د فاسد کیدو په صورت کې کفاره پر کومو خلکو باندې او په کومو حالاتو کې لازم کیږي.

کفاره هغه وخت لازمیږي کله چې روژه لرونکی مکلف یعني عاقل اوبالغ وي روژه د روژې د میاشت څخه وي یعني د روژې قضاء په روژو کې هم کفاره نه لازمه کیږي نیت یې د شپې نه وي کړی که سهار د راختو وروسته یې نیت کړی وي نو پر روژه ماتیدو باندې کفاره نه لازمیږي د روژې ماتیدو وروسته څه داسې امر پیښ نسي چې کفاره ساقط کونکې وې لکه حیض او نفاس که روژه د ماتیدو وروسته په دې کې څه پې پیښ سي نو کفاره نه لازمیږي د دې تفصیلي بیان به مخ ته راسي همداسي روژه د ماتولو مخکې داسې شی پیښ نسي چې په هغه سره کفاره ساقطه کیږي لکه سفر که یو سړی د سفر په حالت کې روژه ماته کړي نو کفاره نه لازمیږي هو که یو سړی د سفر مخکې روژه ماته کړي نو کفاره نه ساقطه کیږي روژه په خپلې مرضي او خواهش سره ماته کړه سي که د زور په حالت کې روژه ماته کړه سي نو کفاره نه لازمیږي په روژې ماتولو کې قصدا او اختیار ته دخل دی د هیري په صورت کې کفاره نه واجب کیږي او دا چې روژه دار مضطرب نه وي ځکه چې پر مضطرب باندې کفاره نه لازمیږي کله چې دا ټول شرطونه تر لاسه سي او لاندې مضرات صوم (یعني د روژې د ماتولو شیانو) څخه یو صورت پیښ سي نو کفاره او قضاء دواړه لازمیږي.

د دې وروسته اوس وګورې چې هغه کوم شیان او صورتونه دي چې په هغه سره روژه فاسده کیږي او د هغه په وجه کفاره او قضاء دواړه لازمیږي جماع کول بچه بازي کول په دې دواړو صورتونو کې فاعل او مفعول پر دواړو باندې کفاره او قضاء لازمیږي خوراک څښاک که څه هم په توګه د غذا یا په توګه د دوا وي د غذائیت معنی او په محمول کې پر هغه شي وي چې د هغه خوراک لپاره طبیعت خواهش وکړي او د هغه په خوراک سره د نس د خواهش تقاضا پوره کیږي د ځینې حضراتو قول دادی چې د غذا شی به هغه ته ویل کیږي چې د هغه په خوړلو سره د بدن اصطلاح وي او د ځینې حضراتو وینا داده چې غذا هغه شیانو ته ویل کیږي کوم چې عادتا خوړل کیږي.

که یو سړی د باران اوبه یا واوره تیره کړي یا امه غوښه وخوري که څه هم هغه مرداره ولې نه وي نو کفاره لازمیږي همداسې پوست وچه سوې غوښه او غنم په خوړلو سره هم کفاره واجبه کیږي هو که دانه نیمه غنم په خوله کې په اچولو سره وزبیږل سي او هغه په خوله کې خپره سي نو

کفاره نه لازميږي د خپلي ښځي او محبوب ناړي په تيرولو سره هم کفاره واجب کيږي ځکه چي په دې کي هم د طبيعت خواهش دخل دی هو د دې پرته د نورو ناوړو تيرولو په صورت کي کفاره نه واجب کيږي البته روژه ماتيږي او قضاء لازميږي مالګه په کم مقدار کي په خوړلو سره خو کفاره لازميږي په زيات مقدار کي په خوړلو سره په استغنی کي دې قول ته روايت مختار ويل سوی دی مګر په خلاصه او هنديه کي ليکلي دي چي مختار يعني قابل قبول او لائق اعتماد مسئله داده چي مطلقا مالګه په خوړلو سره کفاره واجبه کيږي که څه هم مالګه زياته وي يا کمه وي که د ناروتي وربشي وخوړل سي نو کفاره نه لازميږي ځکه چي امې وربشي نه خوړل کيږي مګر دا د وچو اوربشو مسئله ده که تازه اوربشي په راکښلو سره وخوړل سي نو کفاره لازميږي د ګل څخه پرته خاوره مثلا ملتاني وغيره د خوړلو په باره کي مسئله داده که هغه عادتا وخوړه سي نو پر هغه هم کفاره لازميږي او که نه وخوړه سي نو بيا کفاره نه لازميږي.

يو حديث دی چي د هغه الفاظ دادی (الغيبة تفطر الصيام) غيبت روژه ختموي په ظاهره خو د دې څخه دا معلوميږي که يو روژه دار غيبت وکړي نو د هغه روژه ختميږي مګر علمائې امت پر اجتماعي طريقه باندي د دې حديث تاويل دا کړی دی چې د حديث مراد دا نه دی چي غيبت په کولو سره روژه ختميږي بلکه د دې مراد دادی چي کوم روژه دار په غيبت کي مصروفه سي د هغه د روژې ثواب ختميږي.

حديث او د دې دا تاويل په ذهن کي وساتی او اوس دا مسئله واوری که يو سړی د چا غيبت وکړي او د هغه وروسته قصدا ډوډی يې وخوړه نو پر هغه کفاره لازميږي که څه هم هغه ته دا حديث معلوم وي يا معلوم نه وي او که څه هم د حديث په پورته ذکر سوي تاويل خبر وي يا خبر نه وي او دا چي مفتي د کفارې لازميدو فتوی ورکړې ده يا نه ځکه چي حديث او د هغه د تاويل څخه قطعي نظر د غيبت وروسته د روژې ختميدل قطعا خلاف قياس دی.

همداسي يو حديث افطر الحاجم والمحجوم د ښکر وهونکو او لګونکي د دواړو روژه ماتيږي د دې حديث هم دا تاويل سوی دی چي وينه په کښلو روژه دار ته کمزوري پيدا کيږي او د زياتي وينې وتلو په صورت کي د روژې ماتيدو بيره کيدای سي ځکه د وينو کښونکي په باره کي دا امکان کيږي چي د وينې څه قطره د هغه نس ته ورسيږي ځکه رسول الله ﷺ د احتياط لاندي دا وفرمايل چي روژه ختميږي کنې په حقيقت کي په وينو کښلو سره روژه نه ماتيږي.

د حديث (الغيبة تفطر الصيام) پر خلاف د دې مسئله داده که يو سړی د وينه کښلو وروسته د دې حديث لاندي په دې ګمان سره چي روژه ختميږي قصدا خوراک څښاک وکړي نو

پر هغه کفاره یوازي په هغه حالت کي لازميږي کله چي هغه د دې حديث ذکر سوی پورته تاويل ځخه چي جمهور علماء نقل کړی دی خبر وي يا دا چي يو فقيه او مفتی دا فتوی کړې وي چي وينه په کښلو سره روژه ماتيږي که څه هم د هغه دا فتاوی به هم په حقيقت کي خلاف وي او د دې ذمه واري به پر هغه وي او که د دې حديث تاويل معلوم نه وي نو کفاره نه لازميږي (الغيبة تفطر الصيام ، افطر الحاجم والمحجوم) د دواړو د حديثونو په احکامو کي پورته ذکر سوی فرق ځکه دی چي په غيبت سره د روژې ماتيدل نه يوازي دا چي خلاف قياس دی بلکه د دې حديث پر ذکرسوي فرق د ټولو علماؤ امت اتفاق دی کله چي وينه په کښلو سره د روژې ماتيدل نه يوازي دا چي دا خلاف قياس نه وي بلکه د دې حديث پر مذکوره تاويل د ټولو علماؤ اتفاق نسته ځکه چي ځيني علماء مثلا امام او زاعي رحمة الله عليه وغيره د دې حديث پر ظاهري مفهوم باندي په عمل کولو سره وائي چي وينه په کښلو سره روژه ماتيږي همداسي يو سړی په شهوت سره د يوې ښځي سره هم خواب سو يا د يوې ښځي سره يې بغير انزال مباشرت فاحشه وکړي يا رانجه يې ولګول يا رګ يې وواهه يا د حيوان سره يې بدفعلي وکړه خو انزال ونه سو يا په خپلي کونه کي يې ګوته داخله کړه او دا ګمان په کولو سره چي روژه ولاړه هغه قصدا څه خوراک او څه څښاک وکی نو په دې صورت کي هم کفاره هغه وخت لازميږي کله چي فقيه يا مفتي د پورته شيانو په باره کي دا فتوی ورکړې ده چي په دې سره روژه ماتيږي که څه هم د هغه دا فتوی غلطه او د حقيقت خلاف وي که مفتی فتوی ورنه کړي نو کفاره نه لازميږي ځکه چي په پورته شيانو سره روژه نه ماتيږي .

پر هغه ښځه کفاره واجبيږي چي د روژې په حالت کي د يو داسي سړي سره په رضا او رغبت او په خوشحالي جماع وکړه چي پر جماع کولو باندي مجبوره کړه سوی نه وه نو کفاره به يوازي پر هغې ښځي واجبه وي پر هغه سړي به نه وي .

يوې ښځي په دې پوهيدو سره چي سهار راختلی دی هغې دا د خپل خاوند ځخه پټ کړ نو د هغې خاوند د هغه سره صحبت وکی او هغه ته معلومه نه وه چي سهار راختلی دی نو په دې صورت کي هم يوازي پر ښځي باندي کفاره واجبيږي نه پر سړي باندي .

په کومو شيانو سره کفاره لازميږي ؟

يوې ښځي په قصد د ډوډۍ وخوړل يا په رضا او رغبت يې جماع وکړه او په هغه ورځ د هغه ورځي حيض ورته شروع سو يا په نفاس کي اخته سوه نو هغې د ذمي ځخه کفاره ساقط کيږي همداسي که يو سړی په هغه ورځ په يو داسي مرض او تکليف کي اخته سو چي په هغه کي روژه

نه نیول جائز دي او دا چي مرض او تکليف قدرتي وي نو کفاره ساقطيږي د قدرتي قيد د دې لپاره دي چي فرضًا که يو سړي په قصده روژه ماته کړه او بيا خپل ځان يې داسي زخمي کی چي په هغه حالت کي د روژې نه نيولو اجازت وای يا خپل ځان يې د بام يا غره څخه غورځولی وای نو ظاهره ده چي په داسي صورت کي هغه تکليف او مرض به د هغه خپل د لاسه وي په داسي صورت کي د علماءاختلافي قولونه دي ځيني حضرات خو وائي چي په دې صورت کي هم کفاره ساقطه کيږي کله چي د نورو حضراتو قول دی چي کفاره نه ساقطه کيږي او د کمال د قول سره سم مختار او زيات صحيح قول دادی چي کفاره نه ساقطه کيږي .

په جمع العلوم کي ليکلي دي که يو سړی د زيات تلو يا څه کار په وجه خپل ځان په څه تکليف او مشقت کي اخته کی تر دې چي هغه ته ډيره زياته او سخته تنده ولويده او هغه روژه ماته کړه نو پر هغه کفاره لازميږي مګر ځيني حضرات وائي چي کفاره نه لازميږي او دا قول بقائي رحمة الله عليه هم اختيار کړی دی ځرنګه چي په تاتار خانيه کي نقل دي .

د کفارې مسئلې

د يوې روژې په کفاره کي يو غلام ازادول پکار دي که څه هم هغه غلام کافر وي که د غلام ازادول ممکن نه وي يا په يوه ځای کي غلام نسي ترلاسه کوای نو بيا تر دوو مياشتو پورې شپيته ورځې پرله پسې روژې نيول واجب دي د دې روژو پيوست او په داسي ورځو کي خيال ساتل ضروري دی چي په هغه کي د اخترو ورځ او ايم تشريق هر ډول روژې نيول منع دي که په مينځ کي د څه عذر په وجه د يوې ورځې روژه فوت سي نو بيا د نوي سره به شروع کول ضروري دي ، مخکي چي څومره روژې نيول سوي وي د هغه هيڅ حساب به نه کيږي هو که يوې ښځې ته حيض راسي او په هغه وجه په مينځ کي روژې ناغه سي نو څه تاوان نه لري خو د نفاس په وجه د ناغه کيدو په صورت کي به هم د نوي سره روژې شروع کول کيږي او که د مرض يا سپين ږيرتوب په وجه د شپيتو روژو نيولو قدرت نه وي نو بيا شپيته محتاجو ډوډۍ ورکول په ماړه نس واجب دي همداسي که غواړي نو پر هغوی دي په يوه ورځ کي دوه وخته يعني سهار او ماښام ډوډۍ وخوري که څه هم دوې ورځې د سهار وخت يا دوې ورځې د ماښام وخت يا ماخستن او د سهار تر وخته پورې ډوډۍ وخوري خو شرط دا دي چي په اول وخت پر کومو محتاجو باندي ډوډۍ وخوړه سي دوهم وخت هم هغه محتاجو ته ډوډۍ ورکړه سي که چا يو وخت په شپيتو محتاجو باندي ډوډۍ وخوړه او بيا دوهم وخت د هغه پرته په نورو شپيتو محتاجو باندي يې ډوډۍ وخوړه نو دا نه کافي کيږي بلکه کفاره هغه وخت ادا کيږي کله چي

هغه د دواړو جماعتونو څخه پریوه جماعت باندې بیا دوهم واړیو وخت ډوډۍ وخوري هو که یو سړی پرله پسې تر شپیتو ورځو پورې په یوه محتاج باندې ډوډۍ خوري نو څه تاوان نه لري همداسې کفاره ادا کیږي یوه بله خبره دا چې یو سړی په یوه ورځ شپیته یا د هغه څخه کم په محتاجو د ډوډۍ په اندازه صدقه یو محتاج ته ورکړي نو هغه به د ټولو لپاره ادا نه وي بلکه د یوه محتاج لپاره به ادا وي.

په شپیتو محتاجو باندې د ډوډۍ خوړلو په اړه د غنمو ډوډۍ ببله کتغه کافي کیږي یعني که شپیته محتاجو ته یوازې د غنمو ډوډۍ ببله کتغه په ماړه نس یې ورکړي نو حکم پوره کیږي پر خلاف د وربشو ډو ډۍ چې په هغه سره کتغ ضروري دی ځکه چې د وربشو ډوډۍ د سخت کیدو په وجه عادتا ببله کتغه نسې خوړل کیدای کله چې د غنمو ډودۍ ببله کتغه هم په ماړه نس خوړل کیدای سي ځکه ویل سوي دي چې د غنمو ډوډۍ خپل کتغ په خپل ځان کې لري نو کوم سړی چې د غنمو د ډوډۍ سره سالن وغوښتی هغه وړی نه دی.

یو شرط دا هم دی چې په کومو شپیتو محتاجو ډوډۍ وخوړه سي هغه به ټول وړي وي په هغوی کې به هیڅ څوک په ماړه نس نه وي او که په ماړه نس وي او د وړي په ډول یې نه خوري نو د هغه پر ځای دي بل وړي کښینوي او په هغه باندې ډوډۍ خوړل ضروري ده.

په هر حال کې یا خو د پورته ذکر سوي طریقو او شرط سره سم پر محتاجو باندې ډوډۍ دي وخوري یا دا چې هر محتاج ته دي د نصف صاع یعني یو کلو شپږ سوه درو دیرش ګرامه غنم یا د هغه اوړه ورکړل سي که څه هم یو صاع درې کیلو دوه سوه شپږ شپیته ګرامه اوربشي یا انګور یا خرما یا د هغه قیمت ورکړه سي که څه هم ټولو محتاجو ته په یوه وخت کې ورکړه سي یا دا چې په جلا جلا وختونو کې ورکړه سي.

که یو سړی په قصده جماع کولو سره یا په قصده په خوړلو سره څو روژې ماتې کړي نو د هغه ټولو لپاره یوه کفاره کافي کیږي په شرط د دې چې هغه په مینځ کې څه کفاره ادا کړې نه وي مثلا یوه سړي لس روژې وخوړې او د هغه په مینځ کې کفاره ادا نه کړه نو هغه د لسو روژو لپاره به یوه کفاره کافي سي که په مینځ کې څه کفاره یې ادا کړه نو بیا وروسته د روژې لپاره دوهمه کفاره ضروري کیږي بیا دا چې هغه ماتې سوي څو روژې که څه هم د یوه روژې وي که څه هم د دوو روژو وي په دې باره کې صحیح مسئله دغه ده څرنګه چې په در مختار کې ذکر دي خو ځینې حضرات وائي چې پورته ذکر سوی حکم د هغه صورت لپاره دی کله چې هغه روژې د یوې روژې وي او که هغه روژې د څو روژو وي نو د هرې روژې لپاره جلا جلا کفاره ضروري کیږي

فتاوی عالمګیریه کي دا قول اختیار کړه سوي دي.

هغه شیان چي په هغه سره قضاء لازمیږي خو کفاره نه لازمیږي:

په دې باره کي قاعده کلیه داده که په څه داسي شي سره روژه فاسده سي چي د غذا د ډول څخه نه وي یا که وي نود څه شرعي عذر په وجه هغه نس یا دماغ ته رسول کیږي یا څه داسي شی وي چي په هغه سره د شرمګاه شهوت په پوره توګه سره ختم سوی نه وي لکه موټ او داسي نور نو په داسي شیانو سره کفاره نه لازمیږي بلکه یوازي قضاء ضروري ده که روژه دار په روژې کي اومې وریجي یا وچ اوړه وخوري نو روژه نه صحیح کیږي او قضاء واجب کیږي او که څوک د اوربشو یا غنمو اوړه په اوبو کي په اغږلو سره او په هغه کي خواړه په یو ځای کولو سره وخوري نو په دې صورت کي کفاره لازمیږي.

که یوسړی په یوه وار زیاته مالګه وخوري یا د ګل ارمتي څخه پرته څه داسي خاوره وخوري چي هغه عادتا نه خوړه کیږي یا هډوکی یا پنبه او داسي نور یا خپلي ناړي تیري کړي چي د ریښم او جامې او داسي نورو په رنګ مثلا ژړ، زرغون باندي متغیر سوی وي او هغه ته خپله روژه هم یاد وه یا کاغذ یا د هغه په ډول څه بل داسي شی یې وخوړی چي عادتا نه خوړه کیږي یا اومه میوه یې وخوړه چي د پخیدو مخکي عادتا نه خوړه کیږي او هغه په پخولو سره او مالګه په یوځای کولو سره ونه خوړه یا داسي تازه جوزیې وخوړی چي په هغه کي مغز نه وو یا شګه، اوسپنه، تانبه، سره زر، سپین زر یا ډبري که څه هم هغه د زمرود وغیره وي تیریې کړه نو په دې صورتونو کي کفاره نه واجبه کیږي یوازي قضاء لازمیږي همداسي که کلمو د صفا کولو لپاره پیچکاري ولګوي یا په پزه کي دوا واچوي او د هغه څخه څه حلق ته ولاړ سي یا په دواړو غوږونو کي تیل واچوي نو په دې صورت کي هم یوازي قضاء لازمیږي کفاره نه واجب کیږي.

په غوږ کي په قصد د اوبو اچولو په باره کي مختلف اقوال دي، هدایه ملتقي، در مختار او په شرح وقایه او داسي نورو کي ذکر دي چي په دې صورت کي روژه نه ماتیږي خو په قاضي خان او فتح القدیر کي لیکلي دي په دې باره کي صحیح مسئله داده چي روژه نه پاتې کیږي او قضاء لازمیږي.

یوه سړي د نس په زخم کي دوا واچول او هغه نس ته ولاړه یا د سر په زخم کي یې دوائي واچوله او هغه دماغ ته ورسیده یا په حلق کي د باران اوبه یا واوره ولاړه او هغه یې قصدا تیره نه کړه بلکه په خپله د حلق څخه لاندي ولاړه یا خولې په پرهوللو کي حلق ته اوبه لاندي ولاړې یا

په پزه کي اوبه په اچولو سره دماغ ته وختې يا په زور په چا باندي روژه ماته کړه که څه هم د جماع په سبب يعني خاوند په زوره د ښځي سره جماع وکړه يا ښځي په زوره د خاوند سره جماع وکړه نو په دې ټولو صورتونو کي کفاره نه لازميږي بلکه قضاء لازميږي هو د جماع په اړه په زور کونکي باندي کفاره لازميږي او د چا سره چې زور سوی وي پر هغه يوازي قضاء لازميږي .

که يوه ښځه چې مينځهٔ وي که څه هم حرم وي يا منکوحه د خدمت او کار روزګار کولو په وجه د ناروغه کيدو په وجه روژه ماته کړي نو پر هغې قضاء لازميږي همداسي که مينزه په داسي صورت کي روژه ماته کړي کله چې کار روزګار مثلا يو شی پخوي يا جامې د مينزلو په وجه ضعف او ناتواني ورته ورسيږي نو په دې صورت کي به هم قضاء پر واجب کيږي په دې ضمن کي دا مسئله په ذهن کي کښينول پکار ده که يوې مينزې ته آقا د څه داسي کار لپاره ووائي چې د فرض د اداء څخه مانع وي نو د هغه خبره د منلو څخه انکار کول پکار دی .

يو سړي د روژه دار په خوله کي د خوب په حالت کي اوبه واچولې يا خپله روژه دار د خوب په حالت کي اوبه وڅيښلې نو د هغه روژه ماته سوه او پر هغه قضاء واجب ده دا مسئله په هيره د ځوراک ځښاک په صورت کي قياس کيدای نسي ځکه که خوب والا يا هغه سړی چې د هغه عقل نه وي پاته سوی څه حيوان حلال کړي نو د هغه مذبوحه حلاله نه ده د دې پر خلاف که څوک د حلالولو پر وخت بسم الله ويل ځيني هير سي نو د هغه حلال سوي حيوان غوښه خوړل جائز دی همداسي دلته مسئله داده چې د هيري په حالت کي د خوراک ځښاک کونکي روژه نه ماتيږي هو که يو سړی د خوب په حالت کي خوراک ځښاک وکړي نو د هغه روژه ماتيږي .

يوه سړي که په هيره سره په روژه کي څه وخوړل بيا يې د هغه وروسته په قصده وخوړل او د هغه وروسته يې په قصده جماع وکړه يا د ورځې يې د روژې نيت وکړ بيا قصدا خوراک ځښاک يې وکړ يا جماع يې وکړه يا د شپې د روژې نيت يې وکړ بيا په سبا کيدو سره يې سفر وکړ بيا د هغه وروسته د اقامت نيت يې وکړاو څه خوراک ځښاک يې وکړکه څه هم په دې صورت کي د هغه لپاره روژه ماتول جائز نه وو يا د شپې څخه د روژې نيت يې وکړ سهار ته مقيم وو بيا يې سفر وکی او مسافر سو او د سفر په حالت کي قصدا خوراک ځښاک يا جماع يې وکړه که څه هم په دې صورت کي د هغه لپاره روژه ماتول جائز نه وو نو په دې ټولو صورتونو کي يوازي قضاء لازميږي کفاره نه واجب کيږي په ذکر سوي مسئلې کي د سفر په حالت کي د خوراک قيد ځکه لګول سوی دی که يو سړی د سفر شروع کولو وروسته خپل څه هير شی د اخستو لپاره خپل کورته بيرته راغی او په خپل کور کي يا خپل بنار او د ابادي څخه د جلا کيدو مخکي په قصده

خوراک وکړي نو په دې صورت کي قضاء او کفاره دواړه لازميږي .

که يو سړی ټوله ورځ خوراک څښاک او نور ممنوعات د روژې څخه منعه وو خو نه هغه د روژې نيت وکړ او نه يې روژه ماته کړه يا چا سړي پيښلمی وخوړی يا جماع يې وکړه په داسي حالت کي د سهار د ختو په باره کي هغه ته شک وو حال دا چي هغه وخت طلوع فجر سوی وو يا يو سړي د لمر پريوتو غالب ګمان سره روژه ماته کړه حال دا چي هغه وخت لمر نه وو ډوب سوی نو په دې صورت کي د کفارې لازم کيدو په باره کي دوه قوله دي چي په هغه کي د جعفري فقهي مختار قول دادی چي د لمر ډوبيدو د شک په صورت کي کفاره لازميږي همداسي که د يوه سړي غالب ګمان دا وي چي لمر ډوب سوی نه دی خو د دې باوجود روژه ماته کړي او په حقيقت کي لمر ډوب سوی نه وي نو پر هغه کفاره لازميږي .

يو سړي ته د حيوان يا مړي سره د بدفعلي کولو په وجه انزال وسو يا د چا وړون يا نو په لاس موږلو سره مني توي سول يا د چا په بله وجه انزال وسو يا بېله اداء د روژې مياشت روژه يې ماته کړه نو په دې ټولو صورتونو کي کفاره نه واجبه کيږي بلکه قضاء لازمه کيږي همداسي که چا د روژه داري ښځي سره د خوب په حالت کي جماع وکړه نو د هغې ښځي روژه ولاړه او پر هغې يوازي قضاء لازميږي کفاره نه واجب کيږي يا دا چي د يوې ښځي د شپې څخه د روژې نيت وکی کله چي سهار سو نو هغه ليونی سوه او د هغې ليونتوب په حالت کي چا د هغې سره جماع وکړه نو په دې صورت کي پر هغې ښځي د هغي روژي قضاء لازميږي .

که يوې ښځي په خپل شرمګاه کي اوبه يا دوائي واچوله يا په تيلو يا اوبو سره يې ګوته لنده په خپلي کوني کي يې داخله کړه يا چا داسي استنجاء وکړه چي اوبه د حقنه ځای ته ورسيدې که څه هم داسي لږ پېښيږي يا د استنجاء په کولو کي د زياتي مبالغې په وجه اوبه شرمګاه ته ورسيدې نو قضاء واجب کيږي .

يوه سړي ته بواسير وي او د هغه مسی دباندي راووځي او هغه پريولي که هغه مسی پورته د پورته کيدو مخکي وچي کړه سي نو د هغه پورته په ختلو سره روژه نه ماتيږي ځکه چي داسي اوبه د بدن يوې ظاهري حصې ته رسيدلي وي او بيا د بدن دننه حصې ته د رسيدو مخکي زائل سوې هو که مسی پورته د ختو مخکي وچي نسي نو روژه فاسده کيږي .

که يوه ښځه په تيلو يا اوبو سره ګوته لنده کي او د شرمګاه په دننه حصه کي يې داخله کړي يا يوه ښځه دا شيان د خپل شرمګاه په دننه حصه کي داخله کړي او دا شيان دننه پټ سي نو روژه نه پاته کيږي او قضاء لازميږي هو که د لرګي يو سر په لاس کي وي يا دا شيان د ښځي د

شرمګاه دباندي حصې پوري ورسيږي نو روژه نه فاسده کيږي داسي چې يو سړي تار تير کی په دې توګه چې د هغه يو سر د هغه په لاس کي وي او بيا هغه تار دباندي راوکاږي نو روژه نه فاسده کيږي او که د هغه يو سر په لاس کي نه وي بلکه ټول تير کړي نو روژه ماتيږي او قضاء لازميږي.

کوم سړی چې په خپل قصد او اختيار سره د څه شي دود په خپل دماغ يا خپل نس کي واچوي نو د هغه روژه فاسده کيږي او قضاء لازميږي خو ، يعني که د دې دواړو دود قصدا داخل کړي نو ليري نه ده چې کفاره هم لازمه سي ځکه چې د دې دود نه يوازي دا چې قابل انتفاع دی بلکه اکثر دواء هم استعماليږي همداسي د سګريټ بيړی او چلم دود هم د داخلولو په صورت کي کفاره لازمه کيدای سي.

که يو سړی په قصده قی وکړي که څه هم هغه په ډکه خوله نه وي نو د هغه روژه ځي او قضاء لازميږي په دې باره کي ظاهري روايت دادی مګر امام ابويوسف رحمة الله عليه فرمائي چې قصدا د قی کولو په صورت کي روژه هغه وخت فاسده کيږي او قضاء لازميږي کله چې قی په ډکه خوله راغلی وي که په ډکه خوله نه وي راغلی نو روژه نه فاسده کيږي نه قضاء لازميږي زيات صحيح او مختار قول دادی.

که يوه سړي ته په خپله ډکه خوله قی راغلی او هغه يې تير کړی يا د يو سړي په غاښونو کي ښتی څه شی د نخود برابر يا تر هغه زيات وو يا يوه سړي د شپې څخه نيت نه وکی په ورځ کي هم هغه نيت نه وو کړی چې په هيره يې څه خوراک او څه څښاک وکی او د هغه وروسته يې د روژې نيت وکی نو په دې ټولو صورتونو کي روژه نه صحيح کيږي او قضاء لازميږي يا همداسي څوک روژه دار بې هوشه سو که څه هم هغه تر مياشتي پوري بې هوشه وي پر هغه قضاء لازميږي هو د هغي ورځي قضاء نه لازميږي د کومي ورځي يا کمي شپې څخه چې بې هوشه سوی دی ځکه چې د مسلمان په باره کي نيک ګمان کول پکار دی کيدای سي چې په هغه شپه کي نيت کړی وي او همداسي د هغي ورځي روژه پوره سي اوس د هغه وروسته چې څومره ورځي بې هوشه وي د هغه به قضاء راوړي د بې هوشي شروع کيدو ورځ په باره کي هم که دا يقين وي چې نيت يې نه وو کړی نو د هغي ورځي د روژې قضاء به ضروري وي د بې هوشي د ورځو د روژو قضاء به ضروري وي که څه هم هغه هيڅ خوراک څښاک ونه کی خو د روژې نيت تر لاسه نه سو ځکه د بې هوشۍ په حالت کي د هغه بغير نيت څه خوراک څښاک نه کول او د ټولو شيانو څخه ځان نيول کافي او کار آمد کيږي نه که پر يوه سړي باندي د روژې په پوره

میاشت کي لیونتوب خپور وي نو پر هغه قضاء نه واجب کیږي هو که پوره میاشت لیونتوب نه وو نو بیا قضاء ضروري کیږي او که پر یوه سړي باندي پوره میاشت په دې توګه لیونتوب خپور وو چي په ورځ کي یا په شپه کي د نیت وخت د ختمیدو وروسته به ښه سو نو بیا هم قضاء نه ضروري کیږي بلکه دا پوره میاشت به د لیونتوب په حکم کي وي.

که یو سړي په روژه کي د روژې نیت ونه کی او بیا په هغه ورځ کي خوراک څښاک وکی نو د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه د قول سره سم په دې صورت کي به کفاره واجب نه وي یوازي قضاء لازمیږي خو د صاحبین رحمة الله علیهم قول دادی چي کفاره واجب کیږي.

د یوه سړي روژه ماته سوه که څه هم د هر عذر په وجه ماته سوې وي بیا هغه عذر ختم سو نو اوس د هغه لپاره ضروري ده چي هغه په پاته حصه کي د روژې د احترام په توګه خوراک څښاک او د نورو ممنوع شیانو څخه پرهیز وکړي همداسي هغي ښځي ته هم د ورځي په پاته حصه کي په روژه کي د ممنوعو شیانو پرهیز ضروري وي چي په حیض یا نفاس کي اخته وه او د لمر ختو وروسته پاکه سوه او مسافر چي په ورځ کي څه وخت مقیم سو ناروغه روغ سو د لیوني سړي لیونتوب ولاړی هلک بالغ سو کافر اسلام راوړی دې ټولو خلکو ته هم د ورځي په پاته حصه کي خوراک څښاک او د نورو ممنوعو شیانو څخه پرهیز کول پکار دی پر دې ټولو به هم د هغې ورځي د روژې قضاء لازمه وي البته موخر الذکر پر دواړو باندي قضای لازمیږي.

کومه ښځه چي په حیض او نفاس کي اخته وي یا هغه سړی چي د ناروغی حالت کي وي یا هغه سړی چي د سفر په حالت کي وي د دوی لپاره د خوراک څښاک څخه پرهیز ضروري نه دی بیا هم د دوی لپاره دا حکم دی چي د عامو خلګو د لېدو څخه د ځان ساتلو لپاره په پټه توګه سره یې خوراک او څښاک وکړی.

د روژاتي ر لپاره مکروه او غیر مکروه شیان

د روژه دار لپاره د یو شي څیښل یعني په څکلو سره یې تو کول مکروه دي په ذخیره کي نقل دي چي د روژه دار لپاره بې ضرورته د څه شي خوند کتل مکروه دی هو د عذر په صورت کي مکروه نه دی مثلا یوه سړي د خوراک څښاک یو شی رانیوی او دا بیره ورته وه که د هغه خوند ونه ګورم نو دوکه به سم بیا دا شی به زما د مرضي سره سم نه وي نو په دې صورت کي که هغه د هغه شي خوند وکتی نو مکروه به نه وي.

په فتاوی نسفی کي نقل دي که د یوې ښځي خاوند بد اخلاق او ظالم وي او په دوه دی کي د مالګي مرچ او مصالحه باندي د کمي بیشي سره د سختي معامله کوي نو د هغې لپاره هم

جائز دی چې هغه د کتغ خوند وګوري چې د خپل خاوند د ظلم او تشدد څخه وساتل سي او که خاوند نیک او نیک مزاج وي بیا ښځې ته د هغه شي خوند کتل جائز نه دی دا حکم د مینزي هم دی بلکه هغه نوکر او ملازم هم په دې حکم کې شامل دی چې دوه دی پر پخولو باندې مقرر وي.

بې له عذره څه شی ږوول مکروه دی مثلا یوه ښځه وغواړي چې دوه دی وغیره په میده کولو سره خپل کوچني ته یې ورکړي که د هغې سره څوک هوشیاره کوچنی انجلی وي یا څوک حائضه وي نو په هغې باندې دې یې په میده کولو سره ورکړي.

خپله دې یې نه میده کوي په دې صورت کې خپله په میده کولو سره ورکول مکروه دی هو که غیر روژه دار یې پیدا نه کی نو بیا دې یې خپله ور میده کړي په دې صورت کې به مکروه نه وي.

روژه دار ته مصطګی ژوول مکروه دی که څه هم سړی وي یا ښځه ځکه د هغه په ژوولو سره د روژې د ختمیدو یا روژې نه نیولو اشتباه کیږي هسې خو سړي ته د بېله روژې په حالت کې هم ژوول مکروه دی هو د څه عذر په وجه او هغه هم په خلوت کې ژوول جائز دی ځینې حضراتو ویلي دي د مصطګي ځوپښل د خلکو لپاره مباح دی کله چې د ښځو لپاره مستحب دی ځکه چې د هغوی په حق کې مسواک قائم مقام دی مصطګي د یو ږیر رنګ مشهور ګوند چې د دوا په توګه استعمالیږي دی په پښتو کې ورته ژاوله ویل کیږي.

د روژې په حالت کې مچه اخستل او د ښځو سره مباشرت یعني هغوی تر غاړې باسل وغیره مکروه دي په شرط د دې چې د انزال بیره وي که دا بیره او اندیښنه نه وي نو بیا مکروه نه دی.

قصدا په خوله کې ناوړې جمع کول او هغه تیرول مکروه دي همداسي روژه دار ته د هغه شیانو اختیارول هم مکروه دی چې د هغه په وجه کمزوري لاحق کیدو بیره وي لګه رګ په زوره وهل وینه کښل وغیره وغیره هو که د دې په وجه د ضعف احتمال نه وي نو بیا مکروه نه دی.

د روژې په حالت کې رانجه لګول بریتونه غوړول او مسواک کول که څه هم د زوال وروسته مسواک کړه سي او دا چې مسواک تازه وي یا په اوبو کې لوند سوی وي مکروه نه دی د اوداسه پرته هم خوله پرېوللل او په پزه کې اوبه اچول مکروه نه دی همداسي غسل کول او یخ والی د حاصلولو لپاره لنده جامه پر بدن اچول مکروه نه دي مفتي به قول دا دی ځکه چې د رسول الله ﷺ څخه دا ثابت دي دا روایت به په راروانو صفحو کې راسي. د روژه دار لپاره چې کوم شیان مستحب دي پېښلمی خوړل پېښلمی په ځنډ سره خوړل او په وخت کیدو باندې په روژه مات کې تادي کول کله چې په فضاء کې وریځ نه وي په کومه ورځ چې په فضاء کې وریځ وي په هغه ورځ په روژه مات کې احتیاط یعني دوې درې دقیقې ځنډ ضروري دی.

هغه عذرونه چې د هغه په وجه د روژې نه نیولو اجازت دی :

داسې عذرونه چې د هغه په وجه روژه نه نیول مباح دي لس دي :

اول : مرض ، دوهم سفر، دریم اکراه، یعني زور، څلورم حمل، پنځم ارضاع ،یعني بچي ته شیدې ورکول، شپږم لوږه، اووم تنده، اتم ډیر زیات بوډاتوب ، نهم حیض، لسم نفاس، دا عوارض او عذرونه په تفصیل سره لاندې بیانیږي :

مرض : که روژې په نیولو سره د څه نوي مرض پیدا کیدو یا موجوده مرض د زیاتیدو بیره وي نو په دې صورت کې روژه نیول نه ده پکار همداسې که دا ګمان وي چې د روژې په نیولو سره په صحت او جوړتیا کې ځنډ راځي نو هم روژه نیول نه ده پکار ځکه چې ډیر واره د مرض زیاتي او په هغه کې ځنډ د هلاکت باعث جوړیږي .

مرض د هغه شي نوم دی چې د طبیعت د تغیر باعث کیږي او د هغه په وجه د طبیعت سکون په بې ارامي کې بدلیږي او دا کیفیت مخکې په باطني توګه سره محسوس کیږي بیا د هغه اثر پر بدن باندې ظاهریږي مرض که د هر ډول وي که څه هم د سترګو خوږ وي د بدن د څه زخم په صورت کې وي یا دا چې د سر درد او تبې او داسې نورو په شکل کې وي کله چې په هغه کې زیاتي یا د هغه د اوږدیدو بیره وي نو د روژې نه نیولو اجازت دی بلکه د روژې د نیت کولو وروسته هم که څه مرض پیدا سي مثلا مار لړم یې وچیچي یا تبه وي نو د هغې ورځې روژه نیول هم ورته ضروري نه ده بلکه بهتره داده چې روژه ماته کړي .

علماء لیکي که یو غازي او مجاهد د روژې په میاشت کې د دین د دشمنانو سره جنګ کوي او هغه ته بیره وي چې د روژې په وجه به ورته ضعف پیدا سي چې د هغه په وجه به په جنګ کې تاوان پیدا سي نو د هغه لپاره دا جائز دی چې هغه روژه ونه نیسي که څه هم مسافر وي یا مقیم پر دې علماء دا مسئله هم قیاس کړې ده چې کوم سړي ته سخته تبه راځي او هغه د وار په ورځ د تبې راتلو مخکې خپله روژه ختمه کړي د دې بیرې په وجه چې نن به تبه راځي چې د هغه په وجه به کمزوري راته ورسیږي نو په دې کې هیڅ تاوان نسته او که هغه ورځ تبه هم رانسي نو صحیح داده چې پر هغه کفاره نه واجبیږي ، او په فتاوی عالګیریه کې لیکلي دي چې په دواړو صورتونو کې کفاره لازمیږي .

همداسې که بازار والا د روژې په دیرشم تاریخ د ډول او نغاره یا د ټکانو اواز واوري او دا ګمان وکړي چې دا نن د اختر د ورځې کیدو اعلان دی روژه ماته کړي او بیا وروسته ورته

معلومه سي چي دا د اختر د ورځي د کيدو اعلان نه وو بلکه په بل څه سبب دا ډول وه يا مرمۍ توغول سوي وي نو په دې صورت کي هم پر هغه کفاره نه واجبه کيږي.

سفر : سفر که څه هم جائز وي يا نا جائزه بې مشقته وي لکه ريل ګاډی او هوائي جهاز او موټر او داسي نور په پښو يا د آس وغيره پر سپاري باندي په هر حال کي روژه نه نيول جائز ده خو بې مشقته په سفر کي مستحب دادی چي روژه ونيول سي په شرط د دې چي د هغه د سفر ټول ملګري بغير د روژې نه وي او په ټولو کي خرڅ مشترک وي هو که د هغه د سفر ټول ملګري روژه نه نيسي او د ټولو خرچ مشترک وي نو بيا روژه نه نيول افضل دی چي د ټول جماعت موافقت وي.

که يو سړی د سهار ختو مخکي سفر په شروع کولو سره مسافر سي نو د هغي ورځي روژه نه نيول د هغه لپاره مباح دی که يو سړی د روژې په حالت کي د سهار ختو وروسته سفر شروع کړي نو اوس د هغه لپاره روژه نيول به مباح نه وي البته د ناروغۍ کيدو په صورت کي د لمر ختو وروسته سفر شروع کونکي لپاره روژه نه نيول به مباح وي او به هر صورت کفاره نه لازميږي بلکه يوازي قضاء واجب کيږي که څه هم د سفر په حالت کي د ناروغۍ په وجه روژه ماته کړي يا پرته د ناروغۍ.

اکراه : يعني زور، کوم سړی چي په روژه نه نيولو باندي مجبوره کړه سي هغه ته هم شريعت د روژې نه نيولو يا روژې ماتولو اجازت ورکړی دی مثلا يوه سړي يو روژه دار په زور سره په غورځولو سره د هغه په خوله کي څه شی واچوی يا يو سړي روژه دار مجبوره کړی که روژې ونيسي نو مړ به دي کړم يا ډير سخت به دي ووهم يا ستا د بدن څه حصه به پرې کم نو په دې صورت کي د هغه لپاره روژه ماتول يا روژه نه نيول جائز ده.

حمل : حاملې ښځي ته روژه نه نيول جائز دی په شرط د دې چي د خپل ځان او د بچي د تاوان بيره وي يا په عقل کي او جسماني کمزوري به يې ډيره زياته سي يا کيدونکی بچي پر صحت به خراب اثر پريوځي يا خپله په څه ناروغي او هلاکت کي به اخته سي نو د هغې لپاره جائز دی چي هغه روژه قضاء کړي.

ارضاع : يعني شيدې ورکول څرنګه چي حاملې ښځي ته روژه نه نيول جائز دی همداسي شيدې ورکونکي ښځي ته هم روژه نه نيول جائز ده که څه هم هغه بچی د هغې وي يا د بلي ښځي بچي ته په اجرت يا مفت شيدې ورکوي په شرط د دې چي د خپل صحت او روغتيا د خرابي يا بچي د ضرر بيره وي کومو خلکو چي دا ويلي دي چي په دې باره کي د شيدې ورکونکو ښځو څخه نه يوازي دائي مراد ده نو دا خبره غلطه ده ځکه چي په حديث کي مطلقا

شيدې ورکونکي ښځي ته د روژې نه نيولو اجازت ورکړه سوی دی که څه هم هغه مور وي يا دائي د الله تعالی ارشاد دی :

ان الله وضع عن المسافر الصوم وشطر الصلوة وعن الحبلی والمرضع الصوم

ژباړه : الله تعالی د مسافرانو لپاره روژه او نيم لمونځ معاف کړی دی همداسي د حاملې او شېدې ورکونکي ښځي لپاره يې هم روژه معافه کړې ده .

يا دا که په دې باره کي څه تخصيص دی نو د قياس تقاضا داده چي تخصيص د ائي پر ځای د مور وي ځکه چي د دائي لپاره د چا بچي ته شېدې ورکول واجب او ضروري نه دی هغه خو يوازي اجرت د اخستو لپاره شېدې ورکوي که هغه غواړي نو دا کار پرېښودای سي کله چي د مور معامله چپه ده خپل بچي ته شېدې ورکول پر هغې ديانة واجب دی په داسي حال کي چي پلار يې مفلس وي .

شېدې ورکونکي ښځي ته دواء څېښل جائز دی کله چي طبيب يا ډاکټر ووائي چي دا دوائي بچي ته فائده ورسوي ، په پورته مسئلې کي ښودل سوي دي چي حامله او شېدې ورکونکي ښځي لپاره روژه نه نيول جائز دی کله چي هغې ته د خپل ځان يا د بچي د تاوان بيره وي نو په دې باره کي پوه سی چي د بيري څخه مراد دادی چي يا خو د څه سابقه تجربې په وجه خپل ځان يا د بچي د تاوان غالب ګمان وي يا دا چي يو مسلمان او مسلکي طبيب چي د هغه کردار د عقيدې او عمل د اعتبار څخه قابل اعتماد وي دا خبره وکړي چي د روژې په وجه به ورته تاوان ورسيږي .

لوږه او تنده : په کوم سړي باندي چي د لوږې او تندي دومره غلبه وي که خوراک او څېنښاک ونه کړي نو مړ به سي يا په عقل کي به يې خلل وسي يا هوش او حواس به يې ختم سي نو د هغه لپاره هم روژه نه نيول جائز دی او د روژې نيت د کولو وروسته که داسي حالت پيدا سي بيا هم هغه ته اختيار دی چي روژه ماته کړي نو کفاره نه لازميږي يوازي قضاء واجب ده خو شرط دادی چي روژه دار به په خپله خپل نفس په دومره مشقت کي په اخته کولو سره دا حالت پيدا نه کړي مثلا چي په خپله يې نفس په دې توګه په مشقت کي اخته کړ چي بغير څه سخت ضرورت او اوږده منډه يې ووهله چي د هغه په وجه د سختي تندي څخه په مجبوريدو سره روژه يې ماته کړه نو پر هغه کفاره لازميږي که څه هم ځينو حضراتو ويلي دي چي کفاره نه لازميږي .

د علي بن احمد رحمة الله عليه څخه د پېښې او مزدوري کونکو په باره کي پوښتنه وسوه که يو مزدور په دې پوه سي که زه په دې کار کي اخته يم نو په داسي ناروغي کي به اخته سم چي په هغه

کې روژه نه نیول مباح دی حال دا چې هغه خپل او د خپلې کورنۍ نس د مړلو لپاره پر هغه کار کولو باندې مجبور دی نو ایا په ناروغۍ کې د اخته کیدو مخکې د هغه لپاره روژه نه نیول مباح دد که څنګه؟ نو علي بن احمد رحمة الله علیه د دې خبرې څخه په سختۍ سره منع وکړه.

مګر په دې باره کې تر څو پورې چې د مسئلې تعلق دی په در مختار کې لیکلي دي چې په دې صورت کې که هغه ته ذکر سوې بیره وي نو هغه ته پکار ده چې نیمه ورځ نو محنت او مزدوري وکړي او نیمه ورځ ارام وکړي چې د ژوند اسباب هم موجود سي او روژه هم دلاسه ولاړه نسي.

سپین ږیر توب : شیخ فاني او سپین سري فاني لپاره هم جائز دی چې هغه روژه نه ونیسي شیخ فاني او سپین سرې فاني هغه سړي او ښځې ته وائي چې د ژوند اخري مرحلې ته رسیدلی وي د فرض ادائیګي څخه قطعا مجبوره او عاجزه وي او جسماني طاقت یې ورځ په ورځ کمزوره کیږي تر دې چې د کمزورۍ په وجه هغوی ته قطعا امید نه وي چې آئنده به روژه ونیسم.

حیض او نفاس : کومه ښځه چې په حیض او نفاس کې اخته وي نو د هغې لپاره هم جائز دي چې هغه روژه ونه نیسي.

فدیه : په پوره عذرونو کې یوازې سپین ږیرې او سپین سري لپاره جائز دی چې د خپلو روژو فدیه ادا کړي هو د هغه سړي لپاره هم فدیه ورکول جائز ده چې د همیشه روژو نیولو نذر یې منلی وي خو د هغه څخه عاجزه وي یعني که یو سړی دا نذر ومني چې زه به همیشه روژې نیسم که څه هم وروسته هغه د معیشت د اسباب حاصلولو یا څه بل عذر په وجه خپل نذر پوره نه کړ سم نو د هغه لپاره جائز دی چې هغه روژې نه نیسي البته هره ورځ دي فدیه ادا کړي د دې پرته د نورو ټولو عذرونو مسئله داده چې عذر زائل کیدو وروسته د روژو قضاء ضروري ده فدیه ورکول صحیح نه ده یعني فدیه په ورکولو سره روژه نه معافه کیږي ځکه که یو معذور د خپل عذر په حالت کې مړ سي نو پر هغه د هغه روژو د فدیې وصیت کول واجب نه دی چې د هغه د عذر په وجه مړ سوی وي او نه د هغه پر وارثانو دا واجب دی چې هغوی فدیه ادا کړي که څه هم عذر د ناروغۍ وي یا د سفر یا ذکر سوي پورته عذرونو کې څه بل عذر وي هو که یو سړی په داسي حالت کې مړ سي چې د هغه عذر زائل سوی وي او هغه قضائي روژې نیولای سي خو هغه قضائي روژې ونه نیولې نو د هغه لپاره ضروري ده چې د هغه ورځو د روژو د فدیې وصیت وکړي چې په هغه کې د مرض څخه خلاصي په ترلاسه کولو سره صحت یاب سوی وو یا سفر په پوره کولو سره مقیم وو یا کوم عذر چې وو هغه زائل سوی وو.

که یو سپین ږیرې د سفر په حالت کې مړ سي نو د هغه د خوا څخه د هغه د روژو فدیه

ورکول ضروري نه دي کوم چي په هغه کي مسافر وو ځکه چي يو بل شخص د سفر په حالت کي وفات سي نو دهغه لپاره د سفر روژې معاف کيږي همداسي د هغه لپاره هم د هغه ورځو روژې به معاف وي.

پر کوم سړي چي فديه لازمه وي او هغه فديه په ورکولو باندي قادره نه وي نو بيا اخري صورت دادی چي الله تعالی ته استغفار وکړي ناشوني نه ده چي ارحم الرحمين هغه معاف کړي.

د فديې اندازه : د هري ورځي روژې په بدله کي د فديې اندازه نيمی کاسه يعني يو کلو شپږ سوه درو ديرش ګرامه غنم يا د دې قيمت دی فديه او په کفاره کي چي څرنګه تمليک مالک يا خاوند کيدل جائز دی همداسي اباحت طعام د ډودۍ مباح جائز کيدل هم جائز دي يعني که غواړي نو د هري ورځي په بدله کي دي پورته بالا مقدار يو محتاج ته ورکول او که غواړي نو هره ورځ دي دواړه وخته په وږي په ماړه نس ډودۍ باندي وخوري دواړه صورتونه جائز دي د صدقه فطر پر خلاف چي په هغه کي د زکوة په توګه مالک کيدل ضروري دی په دې باره کي په دې وصول پوه سی چي صدقه لفظ اطعام يا ډودۍ په خوړلو سره مشروع دی په دې کي تمليک او اباحت دواړه جائز دي او کومه صدقه چي په لفظ ايتا يا ادا سره مشروع دی په هغه کي تمليک شرط او ضروري دی اباحت قطعاً جائز نه دی.

قضا روژې : قضا روژې پرله پسې نيول شرط او ضروري نه دي بيا هم مستحب دي چي د کوم سړي عذر زائل سي هغه دي سمدستي روژې پيل کړي ځکه چي په دې کي ځنډ مناسب نه دی، هسي خو مسئله داده کله چي وغواړي وه دي يې نيسي د لمانځه په ډول په دې کي ترتيب فرض نه دی.

دلته په دې خبره هم پوهيدل پکار دي چي په شريعت کي ديارلس ډوله روژې دي په هغه کي اوه ډوله روژې خو هغه دي چي علی الاتصال پرله پسې نيول کيږي.

اول د روژې د مياشتي روژې، دوهم د کفارې ظهار روژې، دريم د قتل د کفارې روژې، څلورم د کفاره يمين روژې، پنځم په روژې کي قصدا د ماتي سوي روژو د کفارې روژې، شپږم د نذر معين روژې، اووم د واجب اعتکاف روژې.

او شپږ ډوله روژې داسي دي چي په هغه کي اختيار دی که څه هم پرله پسې يې ونيسي که يې جلا جلا ونيسي،

اول نفل روژې، دوهم د روژې د مياشتي قضائي روژې، دريم د متعه روژې، څلورم د فديه حلق روژې، پنځم د اختر د جزاء روژې، شپږم د نذر معين روژې.

صحیح دادی چي نفل روژې هم بغیر د څه عذره ماتول جائز نه دي هو دومره خبره ده چې نفل روژه د شروع کولو وروسته واجب کیږي که هغه په هر حالت کي هم ماته کړه سي نو د هغه قضاء ضروري کیږي هو پنځه ورځي داسي دي که په هغه کي نفل روژې د شروع کولو وروسته ماتي کړه سي نو قضاء واجب کیږي دوې ورځي د کوچني او لوی اختر و او درې ورځي د تشریق د ذي قعده یوولس دوولس دیارلس تاریخ دی په دې ورځو کي روژه نیول منعه دیسس په دې ورځو کي چي روژه د شروع څخه نه واجب کیږي نو د هغه پر ماتولو قضاء نه واجب کیږي.

که یو سړی د دې پنځو ورځو د روژو نذر ومني یا د پوره کال د روژو نذر ومني نو په دې دواړو صورتونو کي په دې ورځ کي دي روژه نه نیسي بلکه په نورو ورځو کي دې د ورځو په بدله کي دي روژې ونیسي.

په اخر کي په یوه مسئله هم پوه سی چي کله په کوچني کي د روژې نیولو طاقت راسي نو هغه ته دي د روژو نیولو لپاره وویل سي او کله چي هغه د لسو کالو سي نو د روژې نه نیولو په صورت کي دي پر هغه سختي وکړه سي او هغه دي په روژو نیولو باندي مجبوره کړه سي څرنګه چي د لمانځه په باره کي حکم دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

روژه پاکه ساتئ

﴿۱۹۰۲﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِيْ أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي درواغ ویل او خراب کار پریښودل نه پریږدي (په روژه کي) نو الله ته ددې ضرورت نسته چي څوک خپل خوراک او چښاک پریږدي. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱۶/۴، رقم: ۱۹۰۳.

تشریح: (دلغو او باطل کلام) څخه مراد هغه خبري دي چي د هغه د ژبي څخه د کښلو په صورت کي ګناه لازمیږي لکه کفریات ویل، درواغ ویل، غیبت کول، بهتان ویل، که څه هم د زنا بهتان وي یا څه بله بدي، او لعنت کول یا د دې ډول هغه خبري چي د هغه څخه ځان ساتل

ضروري دي ، د حديث حاصل دا سو کوم روژاتي که د پالتو او لغو باطل څخه خپل ځان ونه ژغوري او نه يې د بدو افعالو څخه ځان وساتی نو دا روژه د الله تعالی په دربار کي هيڅ قدر نه لري صرف روژاتې ته لوږه او تنده پاته سوه .

په دې خبره په زيات وضاحت سره داسي پوه سی چي د روژې اصل مقصد څه دی ؟ دا چي انسان خپل نفساني خواهشات کم کړي او خپل نفس اماره د الله تعالی د رضا تابع جوړ کړي کله چي دا مقصد حاصل نه سو چي نه روژه دار لغو خبري پريښودلې او نه يې خراب کارونه پريښوده چي د روژو خلاف دي نو الله تعالی ته څه ضرورت دی چي هغه روژه دار يوازي د لوږې تندي څه پرواه وکړي يا هغه خوا ته د مهربانۍ نظر وکړي .

گويا د پروانه کولو څخه مراد دادی هغه خوا ته توجه نه کول او د هغه روژه د قبوليت شرف سره نه نازول او ظاهره ده چي داسي روژه دار ته دي الله تعالی توجه ولي ورکړي دې نادان بيشکه هغه شيان خو پريښودل چي د روژې په مياشت کي د هغه د پريښولو حکم دي که څه هم هغه په نورو ورځو کي مباح دی مثلا خوراک څښاک ، جماع او داسي نور خو هغه شيان يې اختيار کړه چي هغه روژه څه چي په هيڅ حالت کي هم اختيارول يې نه دي پکار او هغه حرام دي . مشائخ ليکلي دي چي د روژې دړې دوله دي يوه روژه خو د عوام ده چي په هغه کي د خوراک ، څيښاک او جماع څخه خپل ځان منع کول دوهمه روژه د خواص ده چي په هغه کي ټول اندامونه او حسيات د حرام او مکروه خواهشاتو او لذاتو څخه ساتل کيږي بلکه د داسي مباحو شيانو څخه هم پرهيز وي چي د نفس ماتولو خلاف دي او دريمه روژه د اخص الخواص ده چي په هغه کي پرته د حق څخه د هر شي څخه کليه پرهيز وي بلکه د ناحق خوا ته توجه هم نه وي .

د بنځې څخه مچه اخيستل

﴿۱۹۰۳﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ وَكَانَ أَمْلَكُكُمْ لِإِرْبِهِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د روژې په حالت کي مچه اخيستل او مباشرت به يې کوئ (يعني بدن به يې د بدن سره يو ځای کوئ) او رسول الله ﷺ پر خپل بدن به واک لرلو کي تر تاسو خلکو ډير توانا وو . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۱۴۹/۴ ، رقم : ۱۹۲۷ ، ومسلم ۷۷۷/۲ ، رقم : ۶۵ - ۱۱۰۶ .

تشریح: د حاجت څخه مراد شهوت دی مطلب دادی چې رسول الله ﷺ د نورو خلکو په نسبت خپل خواهشات او پر شهوت باندې ډیر زیات واک درلودلو باوجود چې د خپلو بیبیانو څخه به یې مجه اخستل او ځان ته به یې رانژدې کولې خو د صحبت څخه به یې ځان ساتی ظاهره ده چې د نورو خلکو په داسې صورت کې پر خپل شهوت باندې واک پیدا کول ډېر سخت دي.

په پورته ذکر سوي مسئلې کې د اهل علم په نزد اختلاف دی د حنفیه مذهب دادی چې مجه اخستل، مساس کول او د بښې د بدن سره ځان مښلول د روژه دار لپاره مکروه کار دی کله چې په داسې صورت کې په جماع کې مصروفه کیدل یا د انزال کیدو بیره وي او که دا بیره نه وي نو مکروه نه دی.

په جنابت کې د روژې نیت جائز دی

﴿۱۹۰۴﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُدْرِكُهُ الْفَجْرُ فِي رَمَضَانَ وَهُوَ جُنُبٌ مِنْ غَيْرِ حُلُمٍ فَيَغْتَسِلُ وَيَصُومُ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې په روژې کې به کله داسې وسول چې پر رسول الله ﷺ به د جنابت په حالت کې سهار سو، او دا جنابت به د احتلام له کبله نه وو، (بلکه د کوروالی له کبله به وو) نو رسول الله ﷺ به غسل کوئ او روژه به یې نیول. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۵۳، رقم: ۱۹۳۰، ومسلم ۲\ ۷۸۰، رقم: ۷۶- ۱۱۰۹.

تشریح: مطلب دادی چې رسول الله ﷺ ته به د احتلام په وجه نه بلکه د جماع (کوروالی) په وجه د غسل کولو ضرورت کیدی او د رسول الله ﷺ به په دغه حالت کې روژه وه او بیا به یې غسل وکړی، ددې څخه معلومه سوه چې د جنابت په حالت کې د سهار راختلو څخه مخکې غسل کول ضروري نه دی بلکه په داسې حالت کې د روژې نیت کیدای سي او بیا سهار په پورته کېدو سره په غسل کولو کې هیڅ پرواه نسته او د جماع په وجه ناپاکي اختیاري وي نو کله چې په داسې صورت کې ببله غسل کولو روژه نیول جائز دي نو د احتلام په سبب د ناپاکی په حالت کې روژه نیول خو په اولی درجه صحیح دي، بلکه د روژې په حالت کې که احتلام وسي نو پر روژې باندې څه اثر نه لویږي. من غیر حلم: او دا جنابت به د احتلام په وجه نه وو ددې په خاصه توګه ذکر ځکه سوی دی چې انبیاء علیهم السلام ته به احتلام نه کیدی ځکه چې دا په خوب کې د شیطان د راتلو اثر وي او دا ظاهره ده چې هغوی ددې څخه خوندي دي.

په روژه کې وينه کښل

﴿۱۹۰۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَاحْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ . متفق عليه

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د احرام او روژې په حالت کې ښکر وهئ . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۷۴، رقم: ۱۹۳۸، ومسلم ۲\ ۸۶۲، رقم: ۸۷- ۱۲۰۲.

تشريح: شيخ جزري رحمة الله عليه فرمايي چې د ابن عباس رضي الله عنه مراد دادی چې رسول الله ﷺ د احرام په حالت کې روژه نيولې وه او هغه وخت يې وينه وکښل او د ابن عباس رضي الله عنه دا مراد د ابوداؤد د يوه بل روايت په رڼا کې اخيستل سوی دی چې د هغه الفاظ دادي :

انه صلى الله عليه وسلم احتجم هو صائما محرما : يعني نبي کريم ﷺ هغه وخت وينه وکښل کله چې د احرام په حالت کې او روژه دار وو .

په هر حال مظهري رحمة الله عليه فرمايي چې د احرام په حالت کې وينه کښل جائز دي په شرط ددې چې وښته مات نسي همداسي د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه ، امام شافعي رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه په اتفاق سره دا مذهب دی چې روژه نيونکي ته ښله کراهته وينه کښل رواه دي مګر امام محمد رحمة الله عليه فرمايي چې د وينه کښونکي او د چا څخه چې وينه کښل کيږي د دواړو روژه باطله کيږي مګر کفاره نه واجبيږي .

په هيره خوراک او چښاک کول

﴿۱۹۰۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ وَشَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللَّهُ وَسَقَاهُ . متفق عليه

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې د روژې په حالت کې په هيره سره خوراک او چښاک وکړي نو هغه دي خپله روژه پوره کړي ځکه چې څه هغه په هيره سره خورلې او چښلې دي هغه الله تعالى په خورلې او چښلې دي . بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۵۵، رقم: ۱۹۳۳، ومسلم ۲\ ۸۰۹، رقم: ۱۷۱- ۱۱۵۵.

تشریح: دا حکم علی الاطلاق د هري روژې لپاره دی که فرضي روژه وي یا نفلي او داسي نور، که یو روژه دار په هیره یو شی وخوري یا وڅښي نو د هغه روژه نه باطلیږي، د ټولو امامانو مذهب دادی، البته امام مالک رحمة الله علیه فرمایي که چیري دا صورت د رمضان په روژو کي پیښ سي نو د هغه قضا ضروري ده.

په هدایه کي لیکلي دي چي کله د خوراک او څښاک په باره کي دا حکم ثابت سو نو د جماع په باره کي به هم دا حکم وي یعني که یو سړی د روژې په حالت کي په هیره سره جماع وکړي نو د هغه پر روژه به څه تاثیر نه لویږي.

د روژې کفاره

﴿۱۹۰۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي

جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكْتُ قَالَ مَا لَكَ قَالَ وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي وَأَنَا

یو سړی حاضر سو او عرض یې وکړ اې دالله رسوله! زه هلاک سوم، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه څه وسول؟ هغه وویل: ما د روژې په حالت کي د خپلي ښځي سره کوروالي وکړه،

صَائِمٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً تُعْتِقُهَا قَالَ لَا قَالَ فَهَلْ

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ایا ستا سره یو غلام ستة چي هغه آزاد کړې؟ هغه وویل: نه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ایا

تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ قَالَ لَا فَقَالَ فَهَلْ تَجِدُ إِطْعَامَ

ته دومره توان لرې چي پرله پسې دوې میاشتي روژې ونیسئ؟ هغه وویل: نه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ایا ته شپیتو مسکینانو ته ډوډۍ ورکولای سې؟

سِتِّينَ مِسْكِينًا قَالَ لَا قَالَ فَمَكَثَ النَّبِيُّ ﷺ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ أُتِيَ النَّبِيُّ

هغه وویل: نه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: کښینه، او رسول الله ﷺ پته خوله کښېنستئ ،لکه د یو چا انتظار چي کوئ، غرض دا چي موږ همداسي ناست وو چي رسول الله ﷺ ته

ﷺ بِعَرَقٍ فِيهَا تَمْرٌ وَالْعَرَقُ الْمِكْتَلُ الضخم قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ فَقَالَ أَنَا

یو عرق (دخرماوو کڅونه) راوړل سوه ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه : پوښتنه کوونکی چیرې دئ ؟ هغه وویل حاضر یم ،

قَالَ خُذْهَا فَتَصَدَّقْ بِهِ فَقَالَ الرَّجُلُ أَعَلَى أَفْقَرَ مِنِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَوَاللَّهِ مَا

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا واخله او خیرات یې کړه ، هغه وویل: اې دالله رسوله ! ایا پر هغه چا یې خیرات کړم چې ترزما زیات اړوي ؟ قسم په خدای !

بَيْنَ لَابَتَيْهَا يُرِيدُ الْحَرَّتَيْنِ أَهْلُ بَيْتٍ أَفْقَرُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي فَضَحِكَ النَّبِيُّ

د مدینې په دواړو لورو کې په هیڅ کور کې زما تر کورنۍ زیاته اړ نسته ، د دې په اوربدو سره رسول الله ﷺ ته خندا ورغلل

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ ثُمَّ قَالَ أَطْعِمْهُ أَهْلَكَ. متفق عليه

تردې چې د رسول الله ﷺ مخکې غاښونه مبارک څرګند سول ، بیا یې وفرمایل : ښه دئ په خپل کورنۍ یې وخوره . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۶۳، رقم: ۱۹۳۶، ومسلم ۲\ ۷۸۱، رقم: ۱۸۱- ۱۱۱۱.

تشريح : کوم سړی چې د رمضان روژه قصدا ماته کړي که په خوراک، څښاک او یا جماع وغیره سره وي نو پر هغه کفاره واجبیږي او د کفارې ترتیب هم هغه دی کوم چې په پورتنۍ حدیث کې ذکر سوی دی یعنې یو غلام آزاد کړي او یا دوې میاشتې پرله پسې روژې ونیسي او که دا یې هم په وس نه وي نو آخري درجه داده چې شپیتو مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي او په دې کې اختیار دی چې هر مسکین ته اومه د خوراک شیان ورکړي یا پاخه شیان ورکړي ، په دې صورت کې هر مسکین ته پاو کم دوه سیره غنم یا درې نیم سیره اوربشې ورکړل سي که پاخه وي یا اومه، په دې صورت کې هغه شپیتو مسکینانو ته په یوه ورځ دواړه وخته په مارې نس ډوډۍ ورکول کیږي .

خپل کورنۍ ته په کفاره ورکولو سره کفاره نه ادا کیږي که هغه د اصولو څخه وي (یعنې پلار، نیکه او داسې نور) او که د فروع څخه وي (یعنې زوی ، لمسی او داسې نور) .

او کوم چې د حدیث تعلق دی نو د هغه څخه خپل کورنۍ ته د کفاري ورکولو جواز ثابتیږي، په دې اړه د علماؤ اختلافي قولونه دي چې آیا د هغه سړي د ذمې څخه کفاره ادا سوه که یا؟ د اکثرو علماؤ دا رایه ده چې کفاره ادا سوه او دا حکم یوازي د هغه سړي سره خاص دی چې رسول الله ﷺ هغه ته په خاصه توګه اجازه ورکړې وه چې خرماوي چې د کفاري په توګه د هغه د لوري ورکول کیږي هغه په خپل کورنۍ باندي وخوري دا یو خاص معامله ده ځکه د بل چا لپاره دا جائز نه دي.

ځینې حضرات دا وایي چې هغه وخت د هغه د ذمې څخه کفاره ادا سوې نه وه بلکه د هغه پر ذمه پاته وه او ددې وجه دا بیانوي چې د کفاري ادا کول بالفعل هغه وخت ضروري وي کله چې کفاره ورکونکی سره د هغه اوږه هغه د کورنۍ د خوراک څخه پرته دومره مال موجود وي چې د کفاري په توګه ورکړل سي کنه نو په دریم صورت کې هغه کفاره د هغه پر ذمه پاته وي چې کله د هغه توان پیدا کړي نو کفاره دي ادا کړي.

سلمه بن صخر الانصاري البیاضي ډیر زیات اړوو ځکه رسول الله ﷺ هغه ته اجازه ورکړه چې هغه وخت هغه خرماوي خپل کورنۍ باندي وخوري مګر وروسته چې توان پیدا کړي نو کفاره دي ادا کړي.

د ځینو حضراتو وینا داده چې مخکې دا حکم وو چې کفاره به خپل کورنۍ ته هم ورکول کیدل، رسول الله ﷺ سلمه رضی الله عنه ته وویل چې هغه خرماوي په خپل کورنۍ باندي وخوري مګر وروسته دا حکم منسوخ سو ځکه اوس مسئله داده چې هیڅکله دي کفاره په خپل کورنۍ باندي نه خوري.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د خپلې بې بې څخه مچه اخیستل

﴿۱۹۰۸﴾: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ وَيَمُصُّ لِسَانَهَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به د روژې په حالت د هغې څخه مچه اخیستل او د هغې ژبه به یې ژوول. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۲\ ۷۸۰، رقم: ۲۳۸۶.

تشريح : كه څه هم دا حديث ضعيف دى مگر د ټولو امامانو په نزد د بل چا (يعني خپل بي بي) په ناوړه لګيدو سره روژه ماتيږي ځکه که چيري دا حديث د احتمال په درجه هم ومنل سي نو دا به وويل سي چي رسول الله ﷺ د بي بي عائشې رضي الله عنها ژبه په خپل مبارکه خوله کي په اخيستو سره به يې ناوړي د خولې څخه دباندي نه غورځولې يا هغه به يې نه تېرولې .

په روژه کي د ښځې سره يو ځای والی

﴿۱۹۰۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه

الْمُبَاشَرَةِ لِلصَّائِمِ فَرَخَّصَ لَهُ وَأَتَاهُ آخَرُ فَسَأَلَهُ فَنَهَاهُ فَإِذَا الَّذِي رَخَّصَ لَهُ شَيْخٌ وَالَّذِي نَهَاهُ شَابٌّ . رواه ابوداؤد.

چي هغه د روژې په حالت کي د خپل بي بي سره ګډون کوي، رسول الله ﷺ هغه ته اجازه ورکړه، يو بل سړی راغلئ هغه هم د اسي سوال وکړ ،رسول الله ﷺ هغه منع کړ ، چا ته چي يې اجازه ورکړه هغه سپين ږيری وو او څوک چي يې منع کړ هغه ځوان وو . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۷۸۰، رقم: ۲۳۸۷.

تشريح : په ضعيف توب کي د سړي جذبات زيات نه پاريږي او د هغه په اړه دا بېره نه وي چي هغه به صرف د مباشرت په نتيجه کي د جماع خواهش په واک کي نه کړل سي ځکه رسول الله ﷺ سپين ږيري ته خو اجازه ورکړل ددې پر خلاف د ځوان سړي جذبات ژر پاريږي او د هغه په باره کي دا بيره هم وي چي هغه د مباشرت په نتيجه کي خپل جذبات په واک کي نه درلودو سره او جماع به وکړي ځکه رسول الله ﷺ هغه د روژې په حالت کي د مباشرت څخه منع کړ اوس په دې باره کي اختلاف دى ځيني حضرات وايي چي دا نهي تحريمي ده او حال دا چي ځيني حضرات وايي چي دا نهي تنزيهي ده .

په روژه کي قی وهل

﴿۱۹۱۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر چا چي قی غلبه وکړي (يعني په خپله قی ورسي) د روژې په حالت کي

فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ وَمَنْ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ . رواه الترمذي وا بوداؤد

نو پر هغه قضا واجب نه ده او چې په قصد سره قی وکړي پر هغه قضا واجب ده . ترمذي، ابوداؤد

وابن ماجه والدارمي . وقال الترمذي هذا حديث غريب لا نعرفه الا

او ابن ماجه او دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ موږ د

من حديث عيسي ابن يونس و قال محمد يعني البخاري الا اراه محفوظا

عيسي بن يونس د اسناد څخه دا روايت پيژنو، امام بخاري فرمايلي دي زه دا حديث غير محفوظ ګڼم .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۷۷٦، رقم: ۲۳۸۰، والترمذي ۳\ ۹۸، رقم: ۷۲۰، وابن ماجه ۱\ ٥۳٦، رقم: ۱٦۷٦ والدارمي ۲\ ۲۴، رقم: ۱۷۲۹.

تشريح: (ومن استقاء عمدا) او چا چې په قصد سره قی وکړه په دې کي د قصد قيد لګولو سره ګويا د هيري استثنی فرمايل سوې ده يعني که روژه دار په داسي حالت کي قصدا قی وکړي چې هغه ته خپل روژه ياد وي نو د هغه روژه نه پاتيږي او پر هغه قضا واجبيږي ددې پر خلاف که روژه دار قصدا قی وکړي مګر هغه ته ياد نه وي چې زما روژه ده نو پرهغه قضا نه واجبيږي ، د قي په اړه پوره وضاحت د باب په پيل کي تير سوی دی دا مسئله په تفصيل سره هلته کتلای سئ .

﴿۱۹۱۱﴾: وَعَنْ مَعْدَانَ بْنِ طَلْحَةَ اَنَّ اَبَا الدَّرْدَاءَ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د معدان بن طلحهٔ رضی الله عنه څخه روايت دئ چې ابودرداء دا حديث بيان کړئ دي چې رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاءَ فَأَفْطَرَ قَالَ فَلَقِيتُ ثَوْبَانَ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَقُلْتُ اَنَّ

قی وکړ او ددې وروسته يې روژه ماته کړه ، ددې وروسته معدان د دمشق په مسجد کي د ثوبان سره يو ځای سو او هغه ته يې وويل :

اَبَاالدَّرْدَاءَ حَدَّثَنِيْ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاءَ فَافْطَرَ قَالَ

ابودرداء ما ته دا حديث بيان کړئ دي چې رسول الله ﷺ قی وکړ بيا يې روژه ماته کړه ، ثوبان وويل

صَدَقَ أَنَا صَبَبْتُ لَهُ وَضُوءَهُ . رواه ابوداؤد والترمذي و الدارمي

ابو درداء رښتيا ويلي دي او ما د رسول الله ﷺ د اوداسه لپاره لوښی د اوبو څخه ډک کړی وو . ترمذي، ابوداؤد، او دارمي .

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۷۷۷، رقم: ۲۳۸۱، والترمذي ۱\ ۱۴۲، رقم: ۸۷، والدارمي ۲\ ۲۴، رقم: ۱۷۲۸.

تشريح: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ د يو عذر په وجه خپل نفلي روژه په قصد قی کولو سره ماته کړې وه که هغه عذر د ناروغۍ وو يا د ضعف، په هر حال د عذر قيد ځکه لګول سوی دی چي رسول الله ﷺ به بېله عذره نفلي روژه هم نه ماتول ځکه چي د الله تعالی ارشاد دی : (لاتبطلوا اعمالكم) يعني خپل اعمال مه باطلوئ .

د حديث آخري الفاظ (و انا صببت له وضوءه) څخه امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه او داسي نورو دا مسئله اخذ کړې ده چي په قي سره اودس ماتيږي او امام شافعي رحمة الله عليه او نورو علماء په قي سره د اودس ماتېدو قائل نه دي هغوی فرمايي چي دلته اودس کولو څخه خوله پريوللو او مخ پريوللو مراد دي .

په روژه کي مسواک وهل

﴿۱۹۱۲﴾: وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَا أُحْصِي يَتَسَوَّكُ وَهُوَ صَائِمٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد،

د حضرت عامر بن ربيعة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ د روژې په حالت کي په مسواک وهلو دومره واره ليدلی دئ چي زه يې شمېرلای نه سم . ترمذي او ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داؤد ۲\ ۷۶۸، رقم: ۲۳۶۴، والترمذي ۳\ ۱۰۴، رقم: ۷۲۵.

تشريح: دا حديث ددې خبرې دليل دی چي روژه دار ته هر ډول مسواک وهل جائز دی په دې باره کي ددغه حديث څخه پرته نور هم ډير حديثونه منقول دي چي په مرقات کي په تفصيل سره ذکر سوي دي .

د روژې په حالت کي د مسواک وهلو په باره کي د علماؤ اختلافي اقوال هم سته امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه خو فرمايي چي د روژې په حالت کي هر ډول مسواک وهل جائز دی که هغه شين يا تازه وي يا په اوبو کي لوند سوی وی همداسي هر

وخت مسواک وهلای سي که د لمر د زوال څخه مخکي وخت وي يا د لمر د زوال څخه وروسته وخت وي، د امام ابويوسف رحمة الله عليه قول دادی چي روژه دار لپاره تازه او لوند مسواک وهل مکروه دی ، امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي چي د لمر د زوال څخه وروسته مسواک وهل مکروه دی .

په روژه کي په سترګو کي رانجه اچول

﴿۱۹۱۳﴾: وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړی نبي کريم ﷺ ته راغلی

قَالَ اشْتَكَتْ عَيْنِي أَفَأَكْتَحِلُ وَأَنَا صَائِمٌ قَالَ نَعَمْ . رواه الترمذي وقال ليس اسناده بالقوي و ابو عائلة الراوي يضعف .

او عرض يې وکړ چي زما سترګي خوږيږي ايا د روژې په حالت کي رانجه پکښې اچوم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هو، . ترمذي وويل ددې اسناد قوي نه دي د ابو عاتکه راوي کمزورتيا بيان سوې ده .

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۱۰۵، رقم:: ۷۲۶.

تشريح : دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د روژې په حالت کي رانجه لګول بېله کراهته جائز دي ، د اکثرو علماؤ دا مذهب دی ، امام ابوحنيفة ، او امام شافعي رحمة الله عليهما فرمايي چي د روژې په حالت کي رانجه لګول مکروه نه دي که څه هم د هغه خوند په حلق کي محسوس سي ، او د امام احمد ، اسحاق او سفيان رحمة الله عليهم په نزد مکروه دي ، امام مالک رحمة الله عليه څخه ځينو خلکو د کراهت قول نقل کړی دی او ځينو خلکو د عدم کراهت، دا حديث که څه هم ضعيف دی مګر په دې باره کي نور حديثونه هم نقل سوي دي ځکه نو هغه ټول په يو ځای کېدو سره قابل استناد او استدلال جوړيږي .

پر سر اوبه تويول

﴿۱۹۱۴﴾: وَعَنْ بَعْضِ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ

د نبي کريم ﷺ د ځينو صحابه کرامو څخه روايت دئ چي هغوی وليدئ

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَرْجِ يَصُبُّ الْمَاءَ عَلَى رَأْسِهِ وَهُوَصَائِمٌ مِنَ الْعَطَشِ أَوْ مِنَ الْحَرِّ . رواه مالك و ابوداؤد .

رسول الله ﷺ په عرج نامي ځای کي چي د روژې په حالت کي د سختي تندي يا زياتي ګرمۍ له کبله يې پر سر مبارک اوبه اچولې . مالک ،ابوداؤد

تخريج : الامام مالک في الموطا ۱\ ۲۹۴، رقم: ۲۲، وابوداؤد ۲\ ۷۶۹، رقم: ۲۳۶۵.

تشريح : عرج د مکې او مدينې په مينځ کي د يو ځای نوم دی ، ابن مالک رحمة الله عليه فرمايي چي دا حديث ددې خبري دليل دی چي د روژې په حالت کي پر خپل سر اوبه اچول يا په اوبو کي دننه کښېنستل مکروه نه دي .

په نورالايضاح کي چي د فقه حنفي يو معتبر کتاب دی ليکلي دي چي د مفتي د قول سره سم صحيح مسئله داده چي د روژې په حالت کي يخ والی تر لاسه کول او د ګرمۍ ددفع کولو لپاره لمبېدل او پر خپل بدن باندې په اوبو لوند توکر تېرول مکروه نه دي او په درمختار کي هم دا منقول دي .

په وينه کښلو سره روژه ماتيږي

﴿۱۹۱۵﴾: وَعَنْ شِدَّادِ بْنِ اَوْسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتٰى رَجُلاً

د حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ بقيع ته تشريف يوړئ

بِالْبَقِيعِ وَهُوَ يَحْتَجِمُ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدَيَّ لِثَمَانِيَ عَشْرَةَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ

او هلته يې يو سړی وليدئ چي ښکر وهي او د روژې اتلسمه نيټه ده رسول الله ﷺ زما لاس نيولی وو ، رسول الله ﷺ چي هغه ښکر وهونکی وليدئ

فَقَالَ أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ . رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي قال

نو وه يې فرمايل : ښکر وهونکی او د چا څخه چي د ښکر له ذريعه وينه کښل کيږي د دواړو روژه ماته ده . ابوداؤد ، ابن ماجه، دارمي،

الشيخ الامام محي السنة رحمه الله وتاوله بعض من رخص في الحجامة

امام محي السنة وفرمايل د ښکر په ذريعه وينه کښونکی په اړه د روژې ماتولو اجازه ورکونکو تاويل کړی دئ. يعني د چا څخه چې وينه وکښل سي د هغه د کمزورۍ له کبله او

اي تعرضاً للافطار المحجوم للضعف والحاجم لانه لا يأمن من ان يصل شئ الى جوفه بمص الملازم.

د ښکر کونکي له دې کبله چې د روژې ماتولو ته نژدې دئ کله چې هغه ښکر راکاږي نو د هغه نس ته خامخا څه ځي.

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۷۷۲، رقم: ۲۳۶۹، وابن ماجه ۱\ ۵۳۷، رقم: ۱۶۸۱، والدارمي ۲\ ۲۵، رقم: ۱۷۳۰.

د لغاتو حل: الملازِم: هي قوارير الحجامين: (د وينه کښونکو بوتلان).

تشريح: په (بعض من رخص) کي د بعض څخه مُراد جمهور يعني اکثر علماء دي او د اکثر علماؤ دا مذهب دی چې د روژې په حالت کي په وينه کښلو کي څه پرواه نسته ځکه چې د ابن عباس رضي الله عنه صحيح روايت منقول دی چې رسول الله ﷺ د احرام او روژې په حالت کي وينه کښل، د امام اعظم ابو حنيفة رحمة الله عليه، امام شافعي رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه دا مذهب دی، ددغه حضراتو د لوري دغه حديث هغه مراد اخيستل کيږي چې امام محي السنة نقل کړی دی چې روژه ماتېدو ته نژدې کيږي يعني په ډک ښکر راکښلو سره وينه زياته وځي چې د هغه په وجه ضعف سستي او ناتواني دومره زياته کيږي چې په دې باره کي دا خوف پيدا کيږي چې هغه د خپل ځان ساتلو لپاره روژه ماته کړي او د ښکر راکښونکي په باره کي دا بيره وي چې د ښکر په خولې سره راکشولو کي کيدای سي چې ددغه عمل په وخت کي د وينې يو څاڅکی د هغه نس ته ورسيږي.

ځينې حضرات وايي چې په ډک ښکر وينه کښلو سره روژه نه ماتيږي البته د ضعف کېدو په وجه د ځان د هلاکت بيرې سره مکروه کيږي، د ځينو حضراتو قول دادی چې دغه ارشاد په خاصه توګه د هغه دوو کسانو لپاره دی چې هغوی په ښکر سره وينه کاږي او د راکښلو په وخت کي په غيبت کي اخته وه نو هغه دواړه په غيبت کي د بوخت کېدو په وجه رسول الله ﷺ د تنبيه په توګه وفرمايل چې د دوی دواړو روژه ماته سوې ده، ځيني علماء دا هم وايي چې دا حکم مخکي وو او بيا منسوخ سو.

په قصد سره روژه نه نيول

﴿۱۹۱۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَفْطَرَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې په روژه کې

يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَلَا مَرَضٍ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهِ

پرته د اجازې، عذر يا ناروغۍ څخه روژه ونه نيسي نو د هغه ټول عمر روژه نيولو سره د هغې

وَإِنْ صَامَهُ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي والبخاري في ترجمة باب و قال الترمذي سمعت محمدا يعني البخاري يقول ابو المطوس الراوي لا اعرف له غير هذا الحديث .

بدله نه سي پوره کيدلای . احمد ، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجة، دارمي، بخاري ترمذي ويلي دي ما د امام بخاري څخه واوريدل چې هغه ويل: د ابوالمطوس څخه پرته ما ددې حديث هيڅ بل روايت نه دي ترلاسه کړئ.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۳۸٦، وابوداؤد ۲\ ۷۸۸، رقم: ۲۳۹٦، والترمذي ۳\ ۱۰۱، رقم: ۷۲۳، وابن ماجه ۱\ ۵۳۵، رقم: ۱٦۷۲، والبخاري ۴\ ۱٦۱، رقم: ۱۹۳۵ والدارمي ۲\ ۱۸، رقم: ۱۷۱۴.

تشريح: ببله رخصته په قصد سره روژه نه نيولو څخه مراد دادی چې شريعت د روژې نه نيولو لپاره د سفر په حالت کي چې کوم رخصت يعني اجازه ورکړې ده ددې څخه پرته هغه حالت هر کله چې روژه نيول ضروري دي په قصد سره روژه ونه نيسي په دې باره کي د باب په پيل کي تفصيلي بيان سوی دی، د حديث آخري الفاظو: (وان صامه) د مخکي جملې د تاکيد په توګه ارشاد فرمايل سوی دی.

دا حديث د رمضان د روژې اهميت او عظمت د اظهار لپاره د مبالغې په توګه فرمايل سوی دی، د حديث مراد دادی چې د فرض روژې ثواب دومره زيات دی چې هغه په نفلي روژو سره نسي اداء کيدای که څه هم يو څوک ټول عمر روژې ونيسي، په دې باره کي تر څو پوري چې د مسئلې تعلق دی علماء ليکي که يو سړی د رمضان يو روژه ونه نيسي بيا وروسته قضائي روژې ونيسي نو د هغه د ذمې څخه فرض ادا سول همداسي که يو سړی د رمضان يو روژه

قصدا ماته کړي او بيا د هغې د کفارې په توګه دوې مياشتي روژې ونيسي نو هغه بري الذمه کيږي.

علامه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي چې د حديث ظاهري مفهوم دادی که يو سړی د رمضان روژه ونه نيسي او بيا د هغه په بدله کې ټول عمر روژه ونيسي نو هغه بري الذمه کيږي نه، د حضرت علي رضي الله عنه او ابن مسعود رضي الله عنه دا مذهب وو، مګر اکثر صحابه او د علماؤ مذهب دادی چې د يوې روژې په بدل کې د دويمي ورځې روژه کيږي يعني که په رمضان کې يوه ورځ روژه ونه نيسي او د هغه د قضا په توګه په يو بله ورځ روژه ونيسي نو فرض ادا کيږي که څه هم دا صورت وي چې د رمضان هغه روژه چې ده نه وه نيولې د ګرمۍ د يو سختۍ او يا د ورځې د لوی والي په وجه او د هغه د قضا په توګه په يخ کې او په کوچنۍ ورځې کې روژه ونيول سي، همداسي صحيح مسئله داده چې لمونځ هم د روژې په حکم کې دی که يو وخت لمونځ ونه کړي نو په دوهمه ورځ د هغه قضا کولو سره فرض ادا کيږي ځکه چې په دغه دواړو کې هيڅ فرق نسته بلکه د ټولو علماؤ په نزد لمونځ د روژې څخه غوره دی.

بې ګټې روژه او عبادت

﴿۱۹۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمْ مِنْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ډير

صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الْجُوعُ وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ. رواه الدارمي و ذكر حديث لقيط بن صبرة في باب سنن الوضوء.

روژه نيونکي دي چې هغو ته د هغوی د روژو د تږي پرته نور څه په لاس نه ورځي او ډير د شپې عبادت کونکي داسي دي چې هغوی ته د وېښ پاته کېدو څخه پرته نور څه په لاس نه ورځي. دارمي، او د لقيط بن صبرة حديث په سنن الوضوء کې ذکر سوی دئ.

تخريج: سنن الدارمي ۱۲\ ۳۹۰، رقم: ۲۷۲۰.

تشريح: مطلب دادی چې کوم څوک روژه ونيسي مګر د هغه په نيت کې اخلاص نه وي او نه هغه د درواغو، غيبت، بهتان او داسي نورو شيانو څخه پرهيز کوي نو د هغه روژه بېله روحه ده چې هغه وږی او تږی خو وي مګر هغه ه د روژې کمال او ثواب نه ترلاسه کيږي که څه هم د هغه د ذمې څخه فرض ساقط کيږي همداسي کوم سړی چې د شپې په عبادت کې بوخت وي او هغه ته

د قلب د حضوري او د نيت د صدق دولت ميسر نه وي يا د هغه عبادت ددنيا د ګټي، ريا لپاره وي نو هغه ته هيڅ ثواب نه ترلاسه کيږي او دا بالکل داسي دي لکه چې يو سړی بېله عذر نه په جماعت سره لمونځ کوي که څه هم د هغه ذمه خلاصيږي چې د هغه لمونځ قضا ضروري نه وي مګر د ثواب او دولت څخه محروم وي همداسي نور عبادات مثلا د حج، زکوة او داسي نورو مسئله هم داده، که د نيت اخلاص حاصل نه وي نو د مال ضائع کېدو او جسماني مشقت او محنت څخه پرته نور هيڅ په لاس نه راځي.

حاصل دا چې کوم عبادت وي که دنيت، اخلاص، قلب حضوري او صرف د الله تعالىٰ د رضا او خوښۍ جذبه نه وي نو هغه بېله روح وي چې په هغه سره نه د قرب الهي سعادت ميسر کيږي او نه د اجر او ثواب دولت ترلاسه کيږي.

و ذكر حديث لقيط بن صبرة في باب سنن الوضوء، او د لقيط بن صبره روايت (کوم چې د مصابيح صاحب دلته نقل کړې په باب سنن الوضوء کې يې ذکر سوی دی).

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

روژه کله نه ماتيږي.

﴿۱۹۱۸﴾: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

ثَلَاثٌ لَا يُفْطِرْنَ الصَّائِمَ الْحِجَامَةُ وَالْقَيْءُ وَالِاحْتِلَامُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غير محفوظ وعبدالرحمن بن زيد الراوي يضعف في الحديث

درې شيان دي چې د روژه دار روژه نه ماتوي: يو خو وينه کښل، دوهم قی چې خپله راسي، او دريم احتلام. ترمذي، ترمذي ويلي دي چې دا حديث غير محفوظ دئ ددې يو راوي عبدالرحمن بن زيد چې په حديث کې کمزور ګڼل سوی دئ

تخريج: سنن الترمذي ۳\۹۷، رقم: ۷۱۹.

تشريح: دا روايت دار قطني، بيهقي او ابوداؤد هم نقل کړی دی او د ابوداؤد د روايت په باره کې محدثينو ليکلي دي چې هغه اشبه بالصواب يعني صحت ته زيات نژدې دی.

﴿۱۹۱۹﴾: وَعَنْ ثَابِتِ الْبُنَانِيِّ قَالَ سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَكُنْتُمْ

د حضرت ثابت البنائي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د انس رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول ايا تاسو به

تَكْرَهُونَ الْحِجَامَةَ لِلصَّائِمِ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا إِلَّا مِنْ أَجْلِ الضَّعْفِ . رواه البخاري

د روژه دار لپاره په ښکر وينه کښل بد ګڼل ؟ هغه وويل : يا، البته له دې کبله مو مکروه ګڼل چې په ښکر وهلو سره روژه دار کمزورى کيږي کيداى سي چې دده د کمزورتيا څخه روژه ماته سي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\ ۱۷۴، رقم: ۱۹۴۰.

تشريح : يعني ددې اعتبار څخه وينه کښل به يې مکروه ګڼل چې په هغه سره ضعف او ناتواني لاحق کيږي چې د هغه په وجه پر روژه باندې اثر لويږي ، نه په دې اعتبار چې د هغه په وجه روژه نه پاتيږي .

﴿۱۹۲۰﴾: وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيْقًا قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَحْتَجِمُ وَهُوَ صَائِمٌ ثُمَّ تَرَكَهُ فَكَانَ يَحْتَجِمُ بِاللَّيْلِ .

د امام بخاري (رح) څخه دا روايت تعليقا روايت دئ چې ابن عمر رضي الله عنه به د روژې په حالت کې ښکر لګول پرېښودئ ، په شپه کې به يې بيا ښکر لګوئ .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\ ۱۷۳- ۱۷۴.

تشريح : ابن عمر رضي الله عنه د ورځې د روژې په حالت کې وينه کښل مګر د احتياط په وجه يې ترک کړې وو يا دا چې د ضعف د بيرې څخه يې پرهيز کوى .

امام بخاري رحمة الله عليه د ځينو حديثو د سند څخه پرته ذکر کړى دى ځرنګه چې پورتني حديث ته بغير سند روايت نقل کولو ته بطريق تعليق نقل کول ويل کيږي د پورته ذکر سوي روايت د نقل په اړه مناسب دا وه چې د مشکوة مصنف د قاعدې او معمول سره سم مخکې خو وايي عن ابن عمر الخ ، بيا وروسته رواه البخاري تعليقا الفاظ نقل کوي.

د ناړو په تیرولو سره

﴿۱۹۲۱﴾: وَعَنْ عَطَاءٍ قَالَ إِنْ تَمَضْمَضَ ثُمَّ أَفْرَغَ مَا فِي فِيهِ مِنَ الْمَاءِ لَا يَضِيرُهُ

د حضرت عطاء رحمه الله څخه روایت دی که روژه دار په خوله اوبه ولغړوي او بیا اوبه د خولې څخه وباسي نو روژې ته څه تاوان نه رسیږي

إِنْ يَزْدَرِدْ رِيقَهُ وَمَاذَا بَقِيَ فِي فِيهِ وَلَا يَمْضَغُ الْعِلْكَ فَإِنْ ازْدَرَدَ رِيقَ الْعِلْكِ لَا

او څه چې په خوله کې دننه پاته سي د هغه په تیرېدو کې څه پروا نسته او روژه دار دي ژاولي نه ژویي او که د ژاولو ناړې تیري کړي نو د هغه روژه ماته سوه که یا،

أَقُولُ إِنَّهُ يُفْطِرُ وَلَكِنْ يُنْهَى عَنْهُ . رواه البخاري في ترجمة باب .

زه په دې اړه څه نه وایم مګر ددې څخه ځان منع کولای سي . بخاري .

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۵۹\۴،

تشریح: په لفظ د مابقي کې حرف د ما موصوله دی او ددې عطف لفظ ریقه باندې دی ددې پوره جملې مطلب دادی که یو روژه دار د خولې پریوللو څخه وروسته خپل ناوړي یا د اوبو هغه لوند والی چې په خوله پریوللو کې پاته سوی وو تیر کړي نو د هغه پر روژه اثر نه لویږي ځکه چې ددې څخه پرهیز قطعا ممکن نه دی .

ژاولي د علک ترجمه ده ، دا د ژاولو په ډول یو شی دی چې د غاښو د ناروغیو او د غاښو د تقویت لپاره استعمالیږي ، په مخکې زمانه کې به خلکو دا د غاښونو د تقویت لپاره په خوله کې اښنودل او ژوول به یې ، د روژې په حالت کې ددې د ژوولو څخه منع فرمایل سوې ده البته په پورتنې حدیث کې ددې خبرې وضاحت سوی دی چې په ژاولو ژوولو سره کومې ناوړې په خوله کې جمع سي د هغه په تېرولو سره روژه نه ماتیږي ځکه چې هغه خو په خوله کې په منبلو سره پاته سي د هغه یو جز بیل نه وي چې هغه حلق ته ولاړ سي او په هغه سره روژه ماته سي مګر د احتیاط په توګه ددغه ناوړو تېرولو څخه هم منع فرمایل سوې ده، د حدیث الفاظ (ولكن ينهى عنه) کې پورتنی نهي تنزیهي ده ، علماء فرمایي چې یو شی ژوول که هغه ژاولي وي یا بل مکروه شی وی ، هو د ضرورت په وخت کې د ماشوم په خوله کې ورکولو لپاره د هغه یو توته ژوول جائز دي مګر دا خبره باید په فهم کې وي چې د ژاولو ژوولو کراهت په هغه صورت کې

دی کله چي دا یقین وي چي د هغه یو شی د حلق څخه نه دی تیر سوی که حلق ته د تللو یقین وي نو بیا روژه ماتیږي.
که یو خیاط یا یو سړی رنګ سوی تار په خوله کي واچوي او د هغه نارې د تار د رنګ په ډول سي او هغه تیر کړي نو روژه فاسد کیږي او که پرنارو رنګ غالب نسي نو روژه نه فاسدیږي.

==========

بَابُ صَوْمِ الْمُسَافِرِ د مسافر د روژې بیان

په دغه باب کي هغه حدیثونه نقل کیږي چي د هغه څخه د مسافر د روژې په اړه احکام او مسائل استنباط کیږي چي آیا د سفر په حالت کي روژه نیول جائز دي یا نه، او دا چي د مسافر لپاره روژه نیول افضل دي یا روژه نه نیول افضل دي ؟

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په سفر کي روژه نیول

﴿۱۹۲۲﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عائشې (رض) روایت دئ چي حمزه بن عمرو اسلمي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَأَصُومُ فِي السَّفَرِ وَكَانَ كَثِيرَ الصِّيَامِ فَقَالَ إِنْ شِئْتَ فَصُمْ وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ . متفق علیه

ایا زه په سفر کي روژه ونیسم او حمزه به ډیري روژې نیولې ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :که غواړې نو نیسه یې او که یې نه غواړې نو مه یې نیسه. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۴\ ۱۷۹، رقم: ۱۹۴۳، ومسلم ۲\ ۷۸۹، رقم: ۱۰۳- ۱۱۲۱.

تشریح : د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چي د سفر په حالت کي روژه نیول او نه نیول دواړه جائز دي که څه هم سفر تکلیفي وي یا په آرام سره وي مګر دا خبره ضروري ده که په سفر کي تکلیف نه وي نو روژه نیول غوره دي او که تکلیف وي نو بیا روژه نه نیول غوره دي، د امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه په نزد دا مسئله د هر سفر لپاره ده که مباح او د رواه کارو لپاره سفر وي

يا د معصيت او خرابو كارو لپاره وي، او د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دادی چي د روژې نه نيولو د اجازې تعلق يوازې د مباح او جائز سفر لپاره دی كه چيري د معصيت او خرابو كارو لپاره سفر وي نو په دې صورت كي د روژې نه نيول جائز نه دي.

﴿۱۹۲۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره غزا ته روان سوو

وَسَلَّمَ لِسِتَّ عَشْرَةَ مَضَتْ مِنْ رَمَضَانَ فَمِنَّا مَنْ صَامَ وَمِنَّا مَنْ أَفْطَرَ فَلَمْ

د روژې پر شپاړسمه، په موږ كي، چي قوي وه روژه ونيول او ځينو (چي كمزوري وه) نه ونيول

يَعِبُ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ . رواه مسلم

روژه نيونكو روژه خوړنكو ته او روژه خوړنكو روژه نيونكو ته بد نه وويل. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۷۸۹، رقم ۹۳- ۱۱۱٦.

روژه نه نيول غوره دي

﴿۱۹۲۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَرَأَى

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په سفر كي وو

زِحَامًا وَرَجُلًا قَدْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ فَقَالَ مَا هٰذَا فَقَالُوا صَائِمٌ فَقَالَ لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ

الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ . متفق عليه

چي په يو ځاى كي يې ګڼه ګوڼه وليدل او بيا يې يو سړى وليدئ چي (د لمر څخه) د ژغورنې لپاره سايه پر جوړه سوې وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه دا څه دي؟ خلكو ورته وويل: روژه دار دئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: په سفر كي روژه نيول نيكي نه ده. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۸۳، رقم: ۱۹۴٦، ومسلم ۲\ ۷۸٦، رقم: ۹۲- ۱۹۴٦.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی كه د روژې نيولو په صورت كي د ضعف او ناتوانی په وجه د روژه دار دومره حالت خراب سي نو د هغه لپاره په سفر كي روژه نيول غوره خبره نه ده بلكه غوره او افضل دادی چي هغه روژه ونه نيسي.

﴿۱۹۲۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ فَمِنَّا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو په موږ کي ،

الصَّائِمُ وَمِنَّا الْمُفْطِرُ فَنَزَلْنَا مَنْزِلاً فِي يَوْمٍ حَارٍّ فَسَقَطَ الصَّوامُوْنَ وَقَامَ

د ځينو روژه وه او د ځينو روژه نه وه، يوه ورځ په ګرمي کي موږ په يو ځای کي تم سوو د کومو خلکو چي روژه وه هغوی د کمزورۍ څخه ولويدل

الْمُفْطِرُوْنَ فَضَرَبُوا الأَبنية وَسَقوا الرِّكَابَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ذَهَبَ الْمُفْطِرُوْنَ الْيَوْمَ بِالْأَجْرِ . متفق عليه

او د چا چي روژه نه وه هغوی په خپلو کارو کي بوخت وه ، هغوی خيمې .هم ودرولې اوښان يې هم اوبه کړل ،.(د دې په ليدلو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل : نن هغه خلکو ثواب تر لاسه کړ چي روژه يې نه وه نيولې . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٨٤، رقم: ٢٨٩٠، ومسلم ٢\ ٧٨٨، رقم: ١٠٠- ١١١٩.

تشريح : يعني د کومو خلکو چي نن روژه نه وه زيات کامل ثواب د هغوی په برخه کي راغلی ځکه چي په داسي وخت کي د هغوی لپاره روژه نه نيول غوره وه، لفظ د اليوم څخه دې ته اشاره ده چي د روژې نه نيولو دا فضيلت د روژه دار د خدمت له کبله تر لاسه سو نه چي مطلقا او دا حديث د دې خبري دليل دی چي د الله تعالی د نيک او صالح بندګانو خدمت د نفل څخه غوره دي .

په سفر کي روژه ماتول

﴿۱۹۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ روان سو د

الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ عُسْفَانَ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَرَفَعَهُ إِلَى يَدَيْهِ

مدينې څخه مکې ته ، رسول الله ﷺ تر عسفان نامي ځای پوري روژه ونيول ، عسفان ته چي ورسيدو نو رسول الله ﷺ اوبه وغوښتلې خلکو ته د ښودلو لپاره يې په لاس کي اوبه پورته کړې

لِيُرِيَهُ النَّاسَ فَأَفْطَرَ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ وَذَلِكَ فِي رَمَضَانَ فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ

بيا يې وچښلې ، يعني روژه يې ماته کړه ، همداسې رسول الله ﷺ تر مکې پورې سفر وکړ يعني په سفر کې يې روژه ونه نيول، او دا د روژې ميا شت وه ، ددې وروسته ابن عباس ﷺ

يَقُولُ قَدْ صَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَفْطَرَ فَمَنْ شَاءَ صَامَ وَمَنْ

خلکو ته وويل چې رسول الله ﷺ په سفر کې روژه نيولې هم ده او خوړلې يې هم ده نود چا چې خوښه سې روژه دې ونيسي او د چا چې

شَاءَ أَفْطَرَ . متفق عليه و في رواية لمسلم عن جابر انه شرب بعد العصر .

خوښه سې نو ماته دې يې کړي . بخاري او مسلم . او د مسلم په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ په عسفان کې د مازديګر وروسته روژه ماته کړه .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۸٦\۴، رقم: ۱۹۴۸، ومسلم ۷۸۵\۲، رقم: ۸۸- ۱۱۱۳.

تشريح : رسول الله ﷺ اوبه په لاس کې اخيستو سره ځکه وځتلې چې خلک ووينې چې د سفر په حالت کې روژه ماتول جائز دي يا دا مقصد وو چې نور خلک هم د رسول الله ﷺ په پيروي کې خپل روژه ماته کړي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په سفر کې د روژې عفوه

﴿۱۹۲۷﴾ : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ الْكَعْبِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس بن مالک الکعبي ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى وَضَعَ شَطْرَ الصَّلَاةِ أَوْ نِصْفَ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمَ عَنِ الْمُسَافِرِ وَعَنِ

الله تعالى د مسافر لپاره نيم لمونځ معاف کړئ دئ او د مسافر لپاره او د

الْمُرْضِعِ أَوِ الْحُبْلَى . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجة .

شيدو ورکونکې (ښځې) او حاملې (ښځې) لپاره يې روژه معاف کړې ده . ابوداؤد ، ترمذي ،

نسائي، ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۷۹۶، رقم: ۲۴۰۸، والترمذي ۳\ ۹۴، رقم: ۷۱۵، والنسائي: ۴\ ۱۸۰، ۱۸۱، رقم: ۲۲۷۴ وابن ماجه ۱\ ۵۳۳، رقم: ۱۶۶۷.

تشريح: نيم لمونځ يې معاف کړی دی: ددې مطلب دا نه دی چې د مسافر لپاره هم مخکې څلور رکعته لمونځ فرض وو بيا وروسته هم دوه رکعته کولای سي بلکه مطلب دادی چې الله تعالی د مسافر لپاره د پيل څخه نيم لمونځ فرض کړی دی چې هغه دي څلور رکعتيز لمونځ دوه رکعته کوي او دوه رکعته قضا واجب نه ده همداسي د روژې د معافۍ مطلب دادی چې د سفر په حالت کي روژه نيول واجب نه ده مګر د سفر پوره کولو څخه وروسته چې کله مقيم سي نو د هغه روژو قضا راوړل ضروري دي.

د تي ورکونکې او حاملې ښځې په باره کي مخکې هم ښودل سوي دي چې د هغوی لپاره هم جائز دي که چيري د روژې په وجه ماشوم يا خپله هغوی ته د تکليف او تاوان رسيدو غالب ګمان وي نو هغوی دي روژې نه نيسي مګر د عذر ختمېدو څخه وروسته به هغوی قضا راوړي، او فديه نه لازميږي، دامام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه دا مذهب دی مګر د امام شافعي رحمة الله عليه د مذهب سره سم پر هغوی فديه هم واجب ده.

په ارام سفر کي روژه نيسئ

﴿۱۹۲۸﴾: وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبَّقِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ لَهُ حَمُولَةٌ تَأْوِي إِلَىٰ شِبَعٍ فَلْيَصُمْ رَمَضَانَ مِنْ حَيْثُ أَدْرَكَهُ". رواه أبو داود

د حضرت سلمة بن الحبق (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا سره چې بنه سپرلی وي چې هغه په آرامه سره خپل منزل ته ورسوي نو هغه ته پکار دي چې چيري روژه راسي نو روژه دي ونيسي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۷۹۸- ۷۹۹، رقم: ۲۴۱۰.

تشريح: دا حکم د استحباب او فضيلت په توګه دی کنه د ټولو علماؤ په نزد په اتفاق سره مسئله داده چې د سفر په حالت کي روژه نه نيول جائز دي که څه هم سفر د آرام او سکون وي هسي خو دا حديث ضعيف دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

درسول الله ﷺ ناراضكي

﴿۱۹۲۹﴾: عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَامَ الْفَتْحِ إِلَى

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ولاړئ د مکې د فتح په ورځ

مَكَّةَ فِي رَمَضَانَ فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ كُرَاعَ الْغَمِيمِ فَصَامَ النَّاسُ ثُمَّ دَعَا بِقَدَحٍ

مکې ته د روژې په مياشت کي، په دې سفر کي رسول الله ﷺ تر کراع الغميم نامي ځای پوري روژه نيولې وه او د ددې ملګرو هم روژه نيولې وه، بيا يوه ورځ رسول الله ﷺ اوبه راوغوښتلې

مِنْ مَاءٍ فَرَفَعَهُ حَتَّى نَظَرَ النَّاسُ إِلَيْهِ ثُمَّ شَرِبَ فَقِيلَ لَهُ بَعْدَ ذَلِكَ إِنَّ بَعْضَ

هغه يې په لاس کي پورته کړې چي خلک يې ووينې او بيا يې وچښلې، ددې وروسته رسول الله ﷺ ته وويل سول چي ځينو

النَّاسِ قَدْ صَامَ فَقَالَ أُولَئِكَ الْعُصَاةُ أُولَئِكَ الْعُصَاةُ. رواه مسلم

خلکو روژه نيولې ده، رسول الله ﷺ وفرمايل: هغوی نافرمانه دي او سخت ګناه کار دي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۲\۷۸۵، رقم: ۹۰- ۱۱۱۴.

تشريح: هغه خلک پاخه ګناه کار دي، رسول الله ﷺ د خپل زياتي ناراضګۍ د اظهار په توګه دا الفاظ دوه واره ارشاد وفرمايه، رسول الله ﷺ اوبه په خپلو لاسونو کي پورته کولو سره ځکه څښلې وې چي خلک هم خبر سي چي الله تعالى د سفر په حالت کي د روژې نه نيولو کومه اجازه ورکړې ده د هغه په باره کي د رسول الله ﷺ پيروي وکړي، مګر هغوی د روژې په نيولو سره ګويا د رسول الله ﷺ د فعل مخالفت وکړ او د الله تعالى د لوري ورکړل سوی اجازه او آساني يې قبوله نه کړه ځکه رسول الله ﷺ د هغوی په دغه عمل د ناراضګۍ اظهار وفرمايه او داسي يې وفرمايل چي ګويا د سفر په حالت کي د روژې نيول حرام دي.

په سفر کي روژه نيول ګناه ده

﴿۱۹۳۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ صَائِمُ رَمَضَانَ فِي السَّفَرِ كَالْمُفْطِرِ فِي الْحَضَرِ . رواه ابن ماجة .

د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په سفر کې د روژې نیول داسې دي لکه په کور کې د روژې نه نیول . (یعني سخته ګناه ده) ابن ماجه، دا حدیث د علماؤ په نزد منسوخ دئ .

تخریج : سنن ابن ماجه ۱\ ۵۳۲، رقم: ۱۶۶۶.

تشریح : ددغه حدیث څخه معلومه سوه چې څرنګه د حضر په حالت کې روژه نه نیول د لوی ګناه خبره ده همداسې د سفر په حالت کې روژه نیول یوه لویه ګناه ده مګر اکثر علماء وایي چې یا خو دا حدیث منسوخ دی یا په هغه حالت باندې محمول دی کله چې په سفر کې روژه د تکلیف سبب وي یا د روژه دار د هلاکت بیره وي .

په سفر کې روژه نه نیول غوره ده

﴿۱۹۳۱﴾ : وَعَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيِّ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّيْ أَجِدُ بِي قُوَّةً

د حضرت حمزة بن عمرو اسلمي رضي الله عنه څخه روایت دئ چې هغه رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه توان لرم

عَلَى الصِّيَامِ فِي السَّفَرِ فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د روژې نیولو په خپل سفر کې، ایا ګناه به وي که زه روژه ونیسم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

هِيَ رُخْصَةٌ مِنَ اللَّهِ فَمَنْ أَخَذَ بِهَا فَحَسَنٌ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصُومَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ . رواه مسلم

د روژې نه نیولو د الله د لورې اجازه ده ځکه چې څوک د دې اجازې څخه ګټه تر لاسه کړي غوره ده او څوک چې روژه نیول خوښوي پر هغه هیڅ ګناه نسته . مسلم .

تخریج : صحیح مسلم ۲\ ۷۹۰، رقم: ۱۰۷- ۱۱۲۱.

تشریح : په دې حدیث کې دې ته اشاره ده چې که څه هم د سفر په حالت کې روژه نیول د ګناه خبره نه ده مګر غوره خبره داده چې روژه ونه نیول سي .

==========

بَابُ الْقَضَاءِ (د قضائي روژو بيان)

د روژې نه نيولو يا ماتولو په باره کي دري حکمه دي :

۱. په هيره کي د روژې ماتولو په صورت کي نه کفاره واجبيږي او نه قضا .

۲. ببله عذره په قصد سره روژه ماتولو په صورت کي کفاره واجبيږي .

۳. ببله يو عذره مثلا ناروغي يا سفر په حالت کي روژه نه نيول يا د ماتولو په صورت کي قضاء واجبيږي .

په دغه باب کي د قضائي روژو احکام او آداب بيانيږي او صحيح دادي چي دلته د قضائي روژو څخه مراد د رمضان المبارک روژې دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

قضايي روژې

﴿۱۹۳۲﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ يَكُونُ عَلَيَّ الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَ فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقْضِيَ إِلَّا فِي شَعْبَانَ قَالَ بْن سعيد تعني يَحْيَى الشُّغْلُ مِنَ النَّبِيِّ أَوْ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي پر ما باندي قضائي روژې وې مګر ما به د شعبان د مياشتي څخه پرته په بله مياشت کي د قضاء راوړلو توان نه درلودئ ، يحيى بن سعيد راوي وايي ، حضرت عائشة د رسول الله ﷺ په خدمت کي زياته بوخته وه له دې کبله د روژې د مياشتي هغه روژې چي د حيض له کبله به پاته سوي وې هغې به تر لسو مياشتو پورې نه سوې نيولای او په شعبان کي به هغې ته د نيولو موقع په لاس ورتلل . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۸۹\۴، رقم: ۱۹۵۰. ومسلم ۸۰۲\۲ - ۸۰۳، رقم: ۱۵۱ - ۱۱۴۶

تشريح : بي بي عائشې ﷺ د رمضان هغه روژې چي د حيض په وجه به قضا کېدې د شعبان څخه پرته په يو بله مياشت کي د نيولو فرصت نه وو تر لاسه کړی ځکه چي په نورو ورځو کي به د رسول الله ﷺ په خدمت کي هر وخت بوخته وه او همداسي به تيارې اوسيده چي رسول الله ﷺ يې

کوم وخت د خدمت او صحبت لپاره وبولي او دا حاضره سي ، رسول الله ﷺ به د شعبان په میاشتو کي اکثره روژې نیولې ځکه په دغه میاشت کي به بي بي عائشې رضي الله عنها ته مهلت وو نو د هغې په ذمه چې به د رمضان کومې روژې پاته وې د هغو قضا به یې راوړل .

د ښځي نفلي روژه

﴿۱۹۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د خاوند په شتون کې د هغه د اجازې پرته ښځي ته نفل روژې نیول جائز نه دي او ښځي ته پکار دي چې د خاوند د اجازې څخه پرته څوک کور ته نه پریږدي . مسلم .

تخریج: صحیح مسلم ۲\۷۱۱، رقم: ۸۴-۱۰۲۶.

تشریح : د لومړني حکم مطلب دادی چې د کومې ښځي خاوند د هغې سره موجود وي نو د هغه د اجازې څخه پرته ښځي ته نفلي روژې نیول جائز نه دي اجازه که دلالة وي یا صراحتا ، او ددې منع وجه داده چې په دې صورت کې سړی د صحبت او داسي نورو په اړه په تکلیف او پریشانه کیږي .

ددغه حدیث څخه مطلقا د نفلي روژو نیولو منع معلومیږي دا حدیث د امام شافعي رحمة الله علیه د مذهب نفي کوي، شوافع حضرات وایي چې ښځه د عرفات او عاشورا روژې د خپل خاوند د اجازې څخه پرته هم نیولای سي .

د دوهم حکم مطلب دادی چې د یو ښځي لپاره دا جائز نه دي چې د خپل خاوند د اجازې څخه پرته یو سړی خپل کور ته را دننه کړي که څه هم هغه قریب وي یا پردی وی، تر دې که چیرې یو ښځه راسي نو هغه دي هم د خپل خاوند د اجازې څخه پرته دننه نه راولي په دې باره کې د دې خبرې خیال ساتل پکار دي چې د خاوند د رضا علم هم د هغه د اجازې حکم کې وي یعني د چا په باره کې که خاوند په خوله سره اجازه نه وي ورکړې مګر ښځه په دې پوهیږي چې د هغه سړي په راتلو به خاوند ته څه ناخوښي نه وي نو په دې صورت کې هغه سړی کور ته دننه کولای سي ځکه دا هم دلالة اجازه ده .

د ښځې د روژو قضاء

﴿۱۹۳۴﴾: وَعَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ أَنَّهَا قَالَتْ لِعَائِشَةَ مَا بَالُ الْحَائِضِ تَقْضِي الصَّوْمَ وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ قَالَتْ عَائِشَةُ كَانَ يُصِيبُنَا ذَلِكَ فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ. رواه مسلم

د حضرت معاذة العدوية (رض) څخه روايت دئ چې ما د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې د څه وجه ده چې حائضه ښځه قضائې روژې نيسي او قضاء لمونځ نه کوي، هغې وفرمايل: د رسول الله ﷺ په زمانه کې به موږ ته دا (حيض) پېښېدئ موږ ته به د روژو د قضاء حکم وو او د لمانځه د قضاء راکړځولو حکم به راته نه وو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۲۶۵، رقم: ۶۹- ۳۳۵.

تشريح: سوال کوونکي د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه د حائضې ښځې په باره کې د لمانځه او روژو د تفريق وجه و پوښتل، مګر بي بي عائشې رضي الله عنها د هغې وجه بيانولو پر ځای پورتنی جواب ورکړ، دا دې ته اشاره ده چې د هري مسئلې وجه پوښتل يا د هغه د علت لټول يو اعلی مقصد نه دی بلکه د شان عبوديت غوښتنه يوازې دا کيدل پکار دي چې شارع کوم حکم ورکړی دی د هغه علت پوښتلو څخه پرته پر هغه عمل کول پکار دي، دا ممکن ده چې بي بي عائشې رضي الله عنها د سوال سره سم دا فرمايلي دي که د لمانځه د قضا حکم يې ورکړی دی نو حائضه ښځه به ډيره زياته په مشقت او تکليف کې اخته کيدل ځکه چې د حيض په ورځو کې ډير زيات لمونځونه پريښودل کيږي هغه ټول به هره مياشت قضا کول پر ښځه ډيره زيات تکليف وای ځکه په هغه کې د آساني سوې ده چې د حيض د ورځو لمونځونه د حائضې په حق کې معاف کړل سول، او روژه په کال کې يوازې يو وار راځي او د هغه په قضا کې دومره زيات تکليف او پرواه نه وي ځکه پر حائضې باندې د هغې قضاء واجب وګرځول سوه مګر بي بي عائشې رضي الله عنها د دغه جواب څخه پرهيز کولو سره پورتنی طريقه اختيار کړل او د بحث مباحثې لار يې بنده کړل ځکه کيدای سي چې پوښتنه کونکې دا علت اوږدو سره ويلي وای چې زه خو د لمانځه په قضا کې څه تکليف او حرج نه محسوس کوم بيا ولې د لمانځه قضا راوړل واجب نه دي.

د مړي له طرفه روژې

﴿۱۹۳۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې مړ سي او د هغه پر ذمه قضائي روژې وي نو د هغه د لوري دي وارث روژې ونيسي يعني فديه دي ورکړي .بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۱۹۲، رقم: ۱۹۵۲، ومسلم ۲\ ۸۰۳، رقم: ۱۵۳- ۱۱۴۷.

تشريح : کوم سړی چې وفات سي او د هغه پر ذمه روژې واجب وي نو د هغه په باره کي هم د علماؤ اختلافي مذهب دی اکثر علماء چې په هغو کي امام اعظم رحمة الله عليه ، امام مالک رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه هم شامل دي فرمايي چې د داسي سړي د لوري دي بل سړی روژې نه نيسي بلکه د هغه وارثان دي د هغه د هري روژې په بدله کي يو مسکين ته فديه ورکړي ، ددغه حضراتو د لوري ددغه حديث دا تاويل کيږي چې دلته د روژې څخه مراد فديه ورکول دي ځکه چې فديه ورکول هم په منزله د روژې نيولو ده او مخکي حديث ددې توجيه او تاويل بنياد دی .

د مړي د لوري د روژې نه نيولو ځکه منع کيږي چې په يو حديث کي چې ددې باب په آخر کي راځي په وضاحت سره ددې منع فرمايل سوې ده ، امام احمد رحمة الله عليه د حديث پر ظاهري مفهوم باندې په عمل کولو فرمايي چې د مړي د طرفه دي د هغه وارثان روژې ونيسي .

د پورتنۍ مسئلې په اړه د حنيفه مذهب دادی که مړ کيدونکی د فديې په باره کي وصيت وکړي نو پر وارث باندې د مړي د لوري څخه د پورتنۍ فديې ادا کول واجب دي بلکه هغه فديه د مړي د دريمي برخي د مال څخه ورکول کيدای سي که د فديې مقدار د هغه د مال د مقدار څخه زيات وي نو پر وارث باندې به د فديې د هغه مقدار ادا کول واجب نه وي کوم چې ددريمي برخي مال څخه زيات وي ، هو که وارث هغه زيات مقدار هم ادا کړي نو نه يوازي دا چې د وارث دا عمل به جائز سي بلکه پر مړي به د هغه احسان هم وي مګر دا خبره دي په خيال کي وي چې دا پوره مسئله په هغه صورت کي ده کله چې د مړي پر ذمه هغه روژې وي چې د هغه قضا د هغه د مرګ څخه مخکي ممکن وي مثلا د رمضان د مياشتي د تېرېدو څخه وروسته په يو داسي

میاشت کي هغه وفات سو چي په هغه کي د مرګ څخه مخکي د رمضان یو څو روژې قضا سوي وي (مثلا د رمضان په میاشت کي هغه وفات سوی وي او د وفات څخه مخکي څو روژو نیولو څخه پاته سوی وي) چي د هغه قضا ممکن نه ده نو بیا نه خو د هغه تدارک یعني د هغه روژو په بدله کي فدیه ورکول لازم دي او نه پر مړ کیدونکي باندي د قضاء سوو روژو ګناه به وي، د ټولو علماؤ دا مذهب دی البته طاوس رحمۃ اللہ علیہ او قتاده رحمۃ اللہ علیہ وایي چي د هغه روژو تدارک او فدیه به هم لازم وي چي د هغه د قضا ممکن کیدو څخه مخکي هغه وفات سوی وي.

د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب دادی که مړ کیدونکی وصیت وکړي یا ونه کړي د هغه د فوت سوو روژو بدله د هغه د ټول مال څخه فدیه ادا کول ضروري دي، په پورتنی مسئله کي د امام احمد رحمة الله علیه چي کوم مذهب دی هغه د لومړني حدیث په تشریح کي بیان سوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۱۹۳۶﴾: عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ

د حضرت نافع ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي

مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامُ شَهْرٍ فَلْيُطْعَمْ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينٌ. رواه الترمذي و قال والصحيح انه موقوف علي ابن عمر.

مړ سي نو پکار دي چي دده د طرف څخه د هرې روژې په بدل کي مسکین ته ډوډۍ ورکړي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۳\۹۶، رقم: ۷۱۸.

تشریح: د هري روژې په بدله کي په مسکین ډوډۍ خوري: ددې مطلب دادی چي د هري روژې په بدله کي به پاو کم دوه سیره غنم یا دري نیم سیره اوربشي یا ددې قیمت ادا کړل سي او دا مقدار د لمانځه د فدیې هم دی چي د هر لمانځه په بدله کي دي دومره فدیه ادا کړل سي.

دا حدیث د جمهورو علماؤ دلیل دی د هغوی مذهب دادی که د یو مړ کیدونکي پر ذمه د رمضان روژې وي نو د هغه د لوري دوهم سړی دي روژې نه نیسي بلکه وارثان دي د هغه په بدله کي فدیه ادا کړي، ددې څخه مخکي چي کوم حدیث تیر سوی دی غالب امکان دی چي هغه منسوخ وي او دا حدیث ناسخ وي مګر څرنګه چي پورته ښودل سوي دي چي دا حدیث په

منسوخ نه ګرځولو سره ددې چې کوم تاویل کیږي د هغه بنیاد دا حدیث دی.
دا روایت که څه هم موقوف دی لکه څرنګه چې امام ترمذي رحمة الله علیه وفرمایل مګر په حکم کې مرفوع دی ځکه چې دا ډول تشریعي امور هیڅ صحابي د خپل عقل څخه نسي بیانولای، نو ابن عمر رضی الله عنه به دا مضمون خامخا د رسول الله ﷺ څخه اوریدلی وي ځکه نو هغه نقل کړ.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د ابن عمر رضی الله عنه وینا

﴿۱۹۳۷﴾: عَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُسْأَلُ هَلْ يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ أَوْ

د حضرت مالک رضی الله عنه څخه روایت دئ چې د ابن عمر رضی الله عنه څخه به دا ډول پوښتنې کېدلې چې څوک دي د چا پر ځای روژې ونیسي؟

يُصَلِّي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ فَيَقُولُ لَا يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ وَلَا يُصَلِّي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ. رواه في الموطا.

د چا پر ځای دي لمونځ وکړي؟ هغه به ددې په جواب کې ویل چې نه دي څوک د چا پر ځای روژې نیسي او نه دي د چا پر ځای لمونځ کوي. مؤطا.

تخریج: الامام مالک في الموطا ۱\ ۳۰۳، رقم: ۴۳.

تشریح: د حضرت امام مالک، امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه او امام شافعي رحمة الله علیهم مذهب دادی چې لمونځ او روژه د مړي د لوري ادا کول صحیح نه دي هو د حنیفه په نزد دا جائز دي چې یو سړی د یو عمل ثواب بل چا ته وبخښي.

==========

بَابُ صِيَامِ التَّطَوُّعِ (د نفلي روژو بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول الله ﷺ نفل روژې

﴿۱۹۳۸﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ حَتَّى

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به پرله پسې روژې نيولې تر دې چې

نَقُولَ لَا يُفْطِرُ وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ لَا يَصُومُ وَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ

موږ به ويل چې اوس به رسول الله ﷺ روژې نه پريږدي او کله چې به يې روژې نيول پرېښودل نو موږ به ويل اوس به رسول الله ﷺ روژې نه نيسي ، او ما نه دي ليدلي چې رسول الله ﷺ

اسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ قَطُّ إِلَّا رَمَضَانَ وَمَا رَأَيْتُهُ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْهُ صِيَامًا فِي

د رمضان د روژو پرته د يوې مياشتې روژې پوره نيولې وي او د شعبان څخه پرته يې په بله مياشت کې زياتې روژې نه دي نيولې ،

شَعْبَانَ ، و في رواية قَالَتْ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ وَكَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ إِلَّا قَلِيلًا . متفق عليه .

په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې بي بي عائشې رضي الله عنها وويل : رسول الله ﷺ به د شعبان د پوره مياشتې روژې نيولې او په شعبان کې به يې روژې نيولې مګر څو ورځې به يې پرېښودلې . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۲۱۳، رقم: ۱۹۶۹، ومسلم ۲\ ۸۱۰، رقم: ۱۷۵- ۱۱۵۶.

تشريح : د حديث د لومړنيو جملو مطلب دادی چې رسول الله ﷺ به هميشه نفلي روژې نه نيولې بلکه په دې اړه د رسول الله ﷺ معمول مبارک دا وو چې کله به يې پرله پسې تر څو ورځو پورې روژې نيولې تر دې چې د رسول الله ﷺ د روژو کثرت او تسلسل ليدو سره به خلکو دا ګمان کوی چې اوس شايد رسول الله ﷺ د روژو نيولو لړی ختم نه کړي ، او کله به داسې وو چې رسول الله ﷺ به پرله پسې تر څو ورځو پورې روژې نه نيولې تر دې چې خلکو به فکر کوی چې

کیدای سي اوس به رسول الله ﷺ هیڅکله روژې نه نیسي.

د دوهم روایت الفاظ : (کان یصوم الخ) کي اخري جمله یعني دوهم لفظ کان د جملې اول وضاحت مقصود دی چې د شعبان پوره میاشت څخه مراد دادی چې رسول الله ﷺ به د شعبان د اکثرو ورځو روژې نیولې د ځینو حضراتو په نزد مراد دادی چې رسول الله ﷺ په یوه کال کي د شعبان پوره میاشت او په دوهم کال کي د شعبان اکثري ورځي روژې ونیولې.

﴿۱۹۳۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

د حضرت عبدالله بن شقیق رضی الله عنه څخه روایت دئ چې ما د عائشې رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې ایا رسول الله ﷺ به

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ شَهْرًا كُلَّهُ قَالَتْ مَا عَلِمْتُهُ صَامَ شَهْرًا كُلَّهُ إِلَّا رَمَضَانَ

د یوې میاشتي پوره روژې نیولې ؟ هغې وویل : زه نه پوهیږم چې رسول الله ﷺ د کومې میاشتي پوره روژې نیولي دي پرته د رمضان څخه ،

وَلَا أَفْطَرَهُ كُلَّهُ حَتَّى يَصُومَ مِنْهُ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ . رواه مسلم

او هیڅ یوه میاشت داسي نه ده تیره سوې چې په هغه کي دي رسول الله ﷺ روژې نه وي نیولې، تر څو چې رسول الله ﷺ وفات سو ، مسلم .

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۸۱۰، رقم: ۱۷۳- ۱۱۵۶.

د کوچني اختر وروسته دوې روژې

﴿۱۹۴۰﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سَأَلَهُ

د حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه

أَوْ سَأَلَ رَجُلًا وَعِمْرَانُ يَسْمَعُ فَقَالَ يَا أَبَا فُلَانٍ أَمَا صُمْتَ سُرَرَ هَذَا الشَّهْرِ

او یا رسول الله ﷺ د بل چا څخه پوښتنه وکړه او عمران واوریدل چې اې د فلاني پلاره ! ایا تا د آخري شعبان روژې نه ونیولې .؟

قَالَ أَظُنُّهُ قَالَ يَعْنِي رَمَضَانَ قَالَ الرَّجُلُ لَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَإِذَا أَفْطَرْتَ

فَصُمْ يَوْمَيْنِ . متفق عليه

هغه عرض وکړ :یا، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : هر کله چې ته د رمضان د روژو څخه فارغ سېنو دوې روژې نوري ونیسه (یعني د کوچني اختر وروسته) . بخاري او مسلم .

تخریج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴/۲۳۰، رقم: ۱۹۸۳صحيح مسلم: ۲/۸۲۰، رقم: ۱۹۹- ۱۱۶۱.

د لغاتو حل: سَرر: ای آخره (په آخر کې).

تشریح : د کوم چا څخه چې د رسول الله ﷺ د شعبان د آخري روژو په باره کې پوښتنه کړې وه هغه عمران وو یا بل سړی هغه د عذر په توګه پر خپل ځان باندې د هري میاشتې آخري دوو ورځو روژې واجب ګرځولې وې ، یو وار د شعبان آخري دوو ورځو کې هغه روژې ونه نیولې نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل کله چې د رمضان میاشت ختمه سي نو د شعبان آخري دوو ورځو په بدله کې دوې روژې ونیسه .

ځینې حضرات وایي چې د هغه عادت دا وو چې په هره میاشت کې به یې آخري دوې ورځې روژې نیولې ، یو وار په اتفاق سره هغه د شعبان دوې آخري ورځو کې روژې ونه نیولې نو رسول الله ﷺ هغه ته د استحباب په توګه وفرمایل چې د رمضان روژې ختمېدو سره د دغه دوو ورځو په بدله کې دوې روژې ونیسه .

په محرم کې د روژو فضیلت

﴿۱۹۴۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَهْرُ اللَّهِ الْمُحَرَّمُ وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ صَلَاةُ اللَّيْلِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د رمضان د روژو څخه وروسته تر ټولو غوره روژې د محرم دي او تر فرض لمانځه وروسته تر ټولو غوره لمونځ د شپې لمونځ دئ . مسلم

تخریج : صحيح مسلم ۲/۸۲۱، رقم: ۲۰۲- ۱۱۶۲.

تشریح : مطلب دادی چې د محرم په میاشت کې نفلي روژې نیول د لوی فضیلت او سعادت خبره ده ، ځینې حضرات وایي چې دلته د محرم د میاشتې څخه مراد یوم عاشوره ده چې د هغه روژې نیول ډیر زیات فضیلت لري ، او د هغو تائید ددې څخه وروسته راتلونکي حدیث څخه

هم معلومیږي ، د حدیث ځینې حافظان وایي چې د رجب د میاشتې د روژو نیولو په باره کې حدیثونه منقول دي چې په هغو کې اکثر د ځان څخه جوړ سوي یعني د نورو اختراع ده .

په دې حدیث کې د محرم د میاشتې نسبت الله تعالی ته سوی دی ، علماء لیکي چې دا نسبت د تخصیص په وجه نه دی چې ددې مطلب به دا وي چې یوازې محرم د الله تعالی میاشت ده بلکه ټولې میاشتې د الله تعالی دي ځکه په دې موقع په خاصه توګه د الله تعالی لورته د محرم د میاشتې نسبت ددغه مبارکې میاشتې د شرف او فضیلت د اظهار په توګه دی .

د حدیث د دوهمې برخې څخه دا معلومیږي چې د شپې لمونځ (تهجد) د سنت مؤکده د لمونځو څخه هم غوره دی حال دا چې داسې نه ده ځکه ویل کیږي چې دلته پوره عبادت داسې دی فرض لمونځ او د هغه سنت مؤکده لمونځ څخه وروسته تر ټولو غوره لمونځ د شپې لمونځ دی یا ددې تاویل به دا کیږي چې په دې اعتبار خو د تهجد لمونځ د سنت مؤکده د لمانځه څخه افضل دی چې په تهجد کې مشقت او تکلیف زیات وي او دا چې تهجد د ریا او ځان ښوونې څخه هم پاک وي او سنت مؤکده لمونځ په دې اعتبار سره افضل دي چې د هغه د کولو ډیر زیات تاکید فرمایل سوی دی او دا چې هغه د فرض لمونځو تابع دي ، په آخر کې په دې خبره باندې هم پوه سئ چې وتر لمونځ هم په فرض لمونځو کې داخل دی .

د عاشورا په ورځ روژه

﴿۱۹۴۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې ما نبي کریم ﷺ نه دئ لیدلئ چې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضَّلَهُ عَلَى غَيْرِهِ إِلَّا هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَهَذَا الشَّهْرَ يَعْنِي شَهْرَ رَمَضَانَ . متفق عليه

د یوې ورځې د روژې نیولو اراده کوي او د نورو ورځو تر روژو نیولو یې غوره ګڼي مګر ددې ورځې د روژې یعني د عاشورا د ورځې او ددې میاشتې د روژې یعني د رمضان . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۲۴۵، رقم: ۲۰۰۶. ومسلم ۲\ ۷۹۷، رقم: ۱۳۱- ۱۱۳۲.

تشریح : مطلب دادی چې رسول الله ﷺ به د یوې ورځې روژه د بلې ورځې تر روژو افضل نه ګرځول البته د عاشورې روژه به یې د نورو ورځو پر روژو فضیلت ورکوی همداسې د رمضان د

میاشتي روژو ته به يې پر تولو روژو فضیلت ورکوی .

علماء لیکي چې دا د ابن عباس رضی الله عنه فهم او ګمان دی چې هغه د رسول الله ﷺ د احوال او اقوال څخه داسي پوه سوی دی کنه تر څو پورې چې د حقیقت تعلق دی نو یوم عرفه او ددې ورځې روژې د یوم عاشورې او ددې ورځو د روژو څخه افضل دي .

﴿۱۹۴۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ حِيْنَ صَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَاشُوْرَآءَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې کله رسول الله ﷺ د عاشورا د ورځې روژه ونیول

وَ اَمَرَ بِصِيَامِهِ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ انه يوم يعظمه اليهود والنصارى فَقَالَ

او خلکو ته یې ددې ورځې د روژې حکم وکړنو خلکو وویل اې دالله رسوله ! په دې ورځ خو یهود او نصارا عظمت کوي،

رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَئِنْ بَقِيْتُ إِلَى قَابِلٍ لَأَصُوْمَنَّ التَّاسِعَ . رواه مسلم

رسول الله ﷺ وفرمایل : که زه تر راتلونکي کال پورې ژوندی پاته سوم نو په نهم تاریخ به هم روژه نیسم . مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۲\ ۷۹۸، رقم: ۱۳۳- ۱۱۳۴.

تشریح : د عاشورې په ورځ د روژو نیولو لړی څنګه پیل سوه ؟ ددې وضاحت به ددې باب د دریم فصل په لومړني حدیث کي راسي او د هغه خلاصه داده چې نبي کریم ﷺ د مکې څخه مدیني ته په هجرت راغلی نو یهودیان یې د عاشورې په ورځ په روژه نیولو ولیدل د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه چې ددې ورځې څه ځانګړتیا ده چې تاسو روژې نیسي ؟ هغوی وویل : دا ډیره عظیمه ورځ ده په غه ورځ الله تعالی موسی علیه السلام او د هغه قوم ته نجات ورکړ او فرعون او د هغه قوم یې غرق کړل ، موسی علیه السلام د شکر په توګه په دغه ورځ روژه نیولې وه ځکه موږ هم روژه نیسو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ستاسو په نسبت موږ موسی علیه السلام ته زیات نژدې یو ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د عاشورې په ورځ روژه ونیول او صحابه کرامو ته یې د روژې نیولو حکم ورکړ .

دا واقعه د هجرت په لومړنیو ورځو کي ده ګویا هغه وخت رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته د عاشورې د ورځې د روژې نیولو حکم ورکړی وو او هغه د وجوب په توګه وو ، دلته چې کوم

صورت ذکر سوی دی هغه د رسول الله ﷺ د دنیا ژوند په آخري کال کي سوی دی دلته چي رسول الله ﷺ کوم حکم ورکړ هغه د استحباب په توګه دی ځکه په دې باره کي د وجوب حکم منسوخ سوی دی او د هغه ځای استحباب ونښوی دلته صحابه کرامو وویل د هغه په جواب کي رسول الله ﷺ وفرمایل که زه په راتلونکي کال په دنیا کي پاته سم نو په نهم تاریخ به روژه نیسم.

اوس په دې کي احتمال دی چي یا خو د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي د محرم د لسم تاریخ (عاشورا) پر ځای یوازي پر نهم تاریخ به روژه نیسم یا دا چي لسم او نهم تاریخ به روژه نیسم، لومړنی احتمال زیات صحیح معلومیږي او ددې څخه مقصد دا وو چي د یهود او نصارای مخالفت وکړل سي مګر الله تعالی ته چي څه منظور وه هغه وسول او رسول الله ﷺ په راتلونکي کال کي پاته نسو بلکه په هغه کال د ربیع الاول په میاشت کي په حق ورسیدی، همداسي که څه هم رسول الله ﷺ د میاشتي په نهم روژه ونه نیول مګر علماء لیکي چي د رسول الله ﷺ عزم او ارادې په وجه د امت لپاره د محرم په نهم تاریخ روژه نیول سنت ګرځول سوې ده.

محقق علامه ابن همام رحمة الله علیه فرمایي چي د عاشورې په ورځ روژه نیول مستحب دي مګر ددې سره د عاشورې څخه یوه ورځ مخکي یا یوه ورځ وروسته هم روژه نیول مستحب دي ددې مطلب دادی چي یوازي د عاشورې په ورځ روژه نیول مکروه دي ځکه چي په دې سره د یهودو سره مشابهت لازمیږي.

د عرفات دورځي روژه

﴿۱۹۴۴﴾: وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّ نَاسًا تَمَارَوْا عِنْدَهَا يَوْمَ عَرَفَةَ فِي

د حضرت ام فضل بنت حارث (رض) څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ د عرفات د ورځي

صِيَامِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ صَائِمٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ

د روژې په اړه د هغوی ﷺ په شتون کي د خلکو په منځ کي اختلاف سو، ځینو وویل نن د رسول الله ﷺ روژه ده او ځینو ویل

لَيْسَ بِصَائِمٍ فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ بِقَدَحِ لَبَنٍ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى بَعِيرِهِ بِعَرَفَةَ فَشَرِبَهُ. متفق عليه

روژه یې نه د، ما رسول الله ﷺ ته د شپدو یو لوښی ولیږئ، رسول الله ﷺ په دغه وخت کي پر

اوښ سپور د عرفات په میدان کي ولاړ وو ، رسول الله ﷺ د شپږو پیاله واخیستل او وه یې چښلې . بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري)؛ ۴\۲۳۶، رقم: ۱۹۸۸، ومسلم ۲\۷۹۱، رقم: ۱۱۰- ۱۱۲۳.

تشریح: بي بي ام فضل رضي الله عنها د حضرت عباس رضي الله عنه زوجه محترمه او د نبي کریم ﷺ اکا ماینه وه ، ددې حدیث څخه معلومه سوه چې د عرفات په ورځ روژه نیول د حج کونکو لپاره مسنون نه ده البته د نورو خلکو لپاره مسنون ده .

د عرفات دورځې روژه

﴿۱۹۴۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَائِمًا فِي الْعَشْرِ قَطُّ . رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې ما رسول الله ﷺ هیڅکله (د لوی اختر په لومړۍ) لسیزه کي په روژو نیولو نه دئ لیدلئ . مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۲\۸۳۳، رقم: ۹- ۱۱۲۳.

تشریح: د عشره څخه د ذي الحجې لسیزه یعني د اول څخه تر لسم پورې مراد ده، ددې حدیث څخه خو په ظاهره دا معلومیږي چې رسول الله ﷺ په دغه لسیزه کي هیڅ کله روژه نه ده نیولې او حال دا چې په یوه روایت کي منقول دي چې په غه لسیزه کي هره ورځ (پرته د لسم یعني د اول څخه تر نهم پورې) د روژو ثواب د یوه کال د روژو برابر دی او د دغه لسیزې هره شپه کي د الله تعالی د عبادت لپاره بیداره کېدل په شب قدر کي د عبادت لپاره د بیداره کېدو د ثواب برابر دی، نو د بي بي عائشې رضي الله عنها د پورتني روایت د مراد په باره کي علماء لیکي چې دلته بي بي عایشې رضي الله عنها د خپل علم نفي کړی دی چې ما رسول الله ﷺ پر روژو نیولو نه دی لیدلی او څرګنده ده چې د بي بي عائشې رضي الله عنها نه لیدل ددې خبرې دلیل نه دی چې رسول الله ﷺ روژه نه ده نیولې، کیدای سي چې رسول الله ﷺ په دغه عشره کي روژه نیولې وي او بي بي عائشې رضي الله عنها ته خبر نه وي ، یا په آخري درجه کي دا احتمال کیدای سي چې رسول الله ﷺ د دغه لسیزې د روژو پورتنی ثواب خو بیان کړ مګر خپله رسول الله ﷺ ته په دغه لسیزه کي د روژو نیولو اتفاق نه وي سوی .

غوره نفلي روژې

﴿۱۹۴۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ اَنَّ رَجُلاً اَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَيْفَ

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض يې وکړ تاسو څنګه

تَصُومُ فَغَضِبَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مِنْ قَوْلِهِ فَلَمَّا رَأَى عُمَرُ رضي الله عنه غَضَبَهُ قَالَ

روژه نيسئ؟ د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ په غضب سو، حضرت عمر رضي الله عنه چې د رسول الله ﷺ غصه وليدل نو دا کلمات ويل يې پيل کړه:

رَضِينَا بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا نَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ غَضَبِ اللّٰهِ

(رضينا .....) موږ د الله په رب کېدو، د اسلام په دين کېدو، او د محمد ﷺ په نبي کېدو راضي يو، موږ د الله جل جلاله څخه د الله د غضب

وَغَضَبِ رَسُولِهِ فَجَعَلَ عُمَرُ رضي الله عنه يُرَدِّدُ هٰذَا الْكَلَامَ حَتّٰى سَكَنَ غَضَبُهُ فَقَالَ

او د هغه د رسول د غضب څخه پناه غواړو، حضرت عمر رضي الله عنه څو واره دا جملې وويلې تر څو چې د رسول الله ﷺ غصه پای ته ورسيده، بيا حضرت عمر رضي الله عنه وويل:

عُمَرُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ بِمَنْ يَصُومُ الدَّهْرَ كُلَّهُ قَالَ لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ أَوْ قَالَ

اې د الله رسوله! د هغه چا څه حال دئ چې هميشه روژه نيسي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه نه روژه ونيول او نه يې وخوړل، يا يې داسې وفرمايل:

لَمْ يَصُمْ وَلَمْ يُفْطِرْ قَالَ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمَيْنِ وَيُفْطِرُ يَوْمًا قَالَ وَيُطِيقُ

هغه روژه هم نه ونيول او روژه ماتي يې هم نه وکړ، بيا حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړه د هغه سړي څه حال دئ چې دوې دوې ورځې روژه نيسي او يوه ورځ يې خوري؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک د دې توان لري،

ذٰلِكَ أَحَدٌ قَالَ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا قَالَ ذَاكَ صَوْمُ دَاوُدَ عَلَيْهِ

بيا حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړه: څوک چې يوه ورځ روژه نيسي او يوه ورځ يې خوري؟ رسول الله ﷺ

وفرمایل :دا د داؤد علیه السلام روژه ده،

السَّلَامِ قَالَ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمَيْنِ قَالَ وَدِدْتُ أَنِّي طُوِّقْتُ ذَلِكَ

بیا حضرت عمر رضی الله عنه پوښتنه وکړه څوک چې یوه ورځ روژه نیسي او دوې ورځې یې خوري ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: زه غواړم چې زما دد ې توان په برخه سي ،

ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ ثَلَاثٌ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ فَهَذَا

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : درې روژې د هرې میاشتې او د رمضان څخه تر رمضان پورې دا

صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهِ صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي

د ټول کال یعني د ټولې زمانې روژې دي ، او د عرفات د ورځې د روژې زما د الله ﷻ څخه امید دئ چې دا روژه به د هغه کال ګناهونه چې

قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ وَصِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ . رواه مسلم

تر دې دمخه سوي وي او د هغه کال ګناه چې ددې وروسته دئ ټولې لیرې کړي او د عاشورا د ورځې روژه د الله څخه امید لرم چې د یوه کال مخکې ګناهونه به لیرې کړي . مسلم

تخریج : صحیح مسلم ۲\ ۸۱۸- ۸۱۹، رقم: ۱۱۶۲.

تشریح : سوال کوونکي ته خو دا پکار وه چې د رسول الله ﷺ څخه یې په خپل باره پوښتنه کړې وای چې زه نفلي روژې څرنګه او کله ونیسم چې رسول الله ﷺ د هغه د احوال او کوائف سره سم جواب ورکړی وای مګر هغه د ځان په باره کې د پوښتنې کولو پر ځای د نبي کریم ﷺ په باره کې پوښتنه وکړه ، څرګنده ده چې دا نه یوازې د اداب نبوت خلاف وه بلکه دا تر یو حده پورې بې ادبي هم وه ځکه پر رسول الله ﷺ د غصې آثار څرګند سول یا دا چې د رسول الله ﷺ احوال او کوائف بالکل د دوهم نوعیت وه، د رسول الله ﷺ افعال او عبادات کې د کثرت او قلت هم اسرار او مصالح وه او ظاهره ده چې اسرار او مصالح د هر سړي په افعال او عبادت کې نسي کیدای ، رسول الله ﷺ دیرې روژې نه نیولې ځکه چې رسول الله ﷺ به د مسلمانانو د مسائلو او مصالحو او د ازواجو مطهراتو د حقوقو د ادا کولو او د دباندې څخه د راتلونکو میلمنو په

کارو کي بوخت وو په داسي صورت کي دا ممکن نه ده چي رسول الله ﷺ نفلي روژې ډيري نيولای .

(من يصوم الدهر) : کوم څوک چي هميشه روژې نيسي د هغه په اړه څه حکم دی ؟ پوښتنه کونکي په اصل کي د رسول الله ﷺ څخه دا پوښتنه کول مګر هغه غلط طرز اختيار کړ ځکه حضرت عمر رضي الله عنه د هغه سوال په داسي انداز کي په ډير ادب او عاجزي سره وپوښتی چي کوم سړی هميشه روژې نيول غواړي د هغه په باره کي د شريعت څه حکم دی ؟ ايا داسي سړی د خپل دغه عمل په وجه د شريعت په نظر کي غوره دی يا نه ؟ ددې سوال په جواب کي رسول الله ﷺ چي کومه جمله (لاصام ولا افطر) وفرمايل په دې باره کي علماء ليکي چي دا جمله يا خو د داسي سړي لپاره د تنبيه په توګه ده يا دا چي د هغه سړي د حال خبر دی چي نه خو يې روژه ونيول ځکه چي داسي روژه نيول د شريعت د حکم مطابق نه ده او نه هغه ببله روژې پاته سو ځکه چي هغه خوراک او څښاک او ټول شيان پرېښودل .

امام شافعي رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه فرمايي چي دا ارشاد هغه سړي په اړه دی کوم چي منعه سوي روژې هم نيسي يعني ټول کال روژې نيسي حتی چي د اخترو او ايا تشريق روژې هم نه پرېږدي ، هو که يو سړی په دغه منع ورځو کي روژې نه نيسي نو دا ارشاد به د هغه په حق کي نه وي او هغه د دغه ورځو څخه پرته په نورو ټولو ورځو کي روژې نيسي نو څه پرواه نسته ، ځه چي ابو طلحه انصاري رضي الله عنه او حمزه بن عمرو اسلمي رضي الله عنه د دغه منع ورځو څخه پرته په نورو ټولو ورځو کي روژې نيولې ، او رسول الله ﷺ هغوی نه منع کول، يا دا چي د هميشه روژو نيولو د منع علت دادی چي داسي روژې نيول انساني بدن ضعيف او کمزوری کوي چي د هغه په وجه داسي سړی جهاد او د نورو حقونه نه ادا کوي نو هميشه روژه نيول که يو سړی په ضعف او کمزوری کي اخته نه کړ نو د هغه لپاره هميشه روژې نيول پرواه نه لري، حنفي محقق علامه ابن همام رحمة الله عليه فرمايي چي هميشه روژې نيول مکروه تنزيهي دي ځکه چي په دې سره ضعف او ناتواني لازميږي ، همداسي په فتاوی عالمګيري او درمختار کي هم دا ليکلي دي چي صوم دهر (يعني هميشه روژې نيول) مکروه دي .

(ويطيق ذالک احد) : يعني څوک ددې توان لري : ددې مطلب دادی که يو سړی پر دوو ورځو روژې نيولو او يوه ورځ خوړلو باندي قادر وي او په هغه کي دومره قدرت وي چي داسي روژې ونيسي نو د هغه لپاره څه پرواه نسته يا ددې جملې مطلب دادی چي داسي روژه نيول افضل دي .

(ذالک صوم داؤد) : يعني دا د حضرت داؤد عليه السلام روژه ده : ددې مطلب دادی چي د روژو

نیولو دا طریقه ډیره معتدله او درمیانه ده او په دې کې د عبادت او عادت رعایت دی ، اسلام د ټولو آسماني مذهبو یو ښکلی مقام دی ځکه په مذاهب سره توازن او د اعتدال لار ښودلې ده د هغه په نظریاتو او اعمالو کې نه افراط سته او نه تفریط، ځکه ځینې مفکرین اسلام دا کلیه بیان کړې ده چې د علم په ترلاسه کولو کې په دومره اندازه سره کوښښ کول پکار دي چې د هغه په وجه د عمل لار بنده نسي او په اعمالو کې هم په داسي طریقه سره بوختیا نه وي چې د هغه په وجه د علم رښا ترلاسه نه کړل سي د دغه کلیې حاصل دادی چې د علم ترلاسه کول باید انسان د زیات سعي او کوښښ په وجه د عمل څخه منع نه کړي .

او په عمل کې ډېره بوختیا یې د علم څخه د باندې نه کړي بلکه اعتدال او په توازن سره دواړي لاري خپلي کړل سي ځکه ویل سوي دي چې خیر الامور اوسطها و شرها تفریطها او افراطها ، یعني د یو شي خیر او غوره والی د هغه په میانه لاره کې دی او د هغه خرابي د حد څخه زیاتوب او د حد څخه کمتوب کې ده ، ځکه فرمایل سوي دي :

(افضل الصیام صوم داؤد علی نبینا وعلیه السلام) :

ژباړه : په نفلي روژو کې تر ټولو غوره روژه د حضرت داؤد علیه السلام روژه ده .

(وددت اني طوقت) : یعني زه دا خوښوم چې په ما کې دومره طاقت راسي یعني دا زما خوښ دی چې حق تعالی ما ته دومره طاقت او قوت راکړي چې په هره ځلورمه ورځ روژه ونیسم یعني یوه ورځ خو روژه ونیسم او دوې ورځې روژه وخورم ، او په دې اړه د نورو حقوق او د مسلمانانو په مصالح کې بندیز رانسي ګویا ددې ارشاد څخه دې ته اشاره ده چې زه ددې طاقت نه لرم خو دا چې د الله تعالی د لوري ما ته دا طاقت او قوت راکړل سي ، حاصل دا چې رسول الله ﷺ د نفلي روژو نیولو په اړه دا صورت هم خوښ کړ که څه هم د رسول الله ﷺ په سبب د عدم طاقت په دغه عمل ونه کړ .

په هره میاشت کې د درو درو روژو څخه مراد د ایام بیض یعني د هري میاشتې د دیارلسم ، څوارلسم او پنځلسم تاریخ روژې دي ، مګر ځینې حضرات وایي چې د هري میاشتې د هر درو تاریخو روژې د پورتني ثواب سبب دي او دا قول صحیح معلومیږي لکه څرنګه چې د بي بي عائشې رضي الله عنها یوه روایت چې مخته راځي ددې وضاحت کړی دی .

د دوشنبې د ورځې روژه

﴿۱۹۴۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ

الِاثْنَيْنِ فَقَالَ فِيهِ وُلِدْتُ وَفِيهِ أُنْزِلَ عَلَيَّ . رواه مسلم

د حضرت ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ څخه د دوشنبې د ورځې د روژې په اړه پوښتنه وسول ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : زه په دې ورځ پيدا سوی يم او په دې ورځ قرآن نازليدل پيل سول . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۸۲۰، رقم: ۱۹۸- ۱۱۶۲.

تشريح : د پوښتني کولو مقصد يا خو د رسول الله ﷺ د روژو نيولو سبب معلومول وو او يا دا مقصد وو چې د دوشنبې په ورځ روژه نيول مستحب ولي دي ؟ په هر حال د دوشنبې په ورځ د روژې نيولو او ددې د فضيلت سبب دادی چې په دغه ورځ رسول الله ﷺ پيدا سوی دی او په دغه ورځ دين فطرت په دنيا کي نازليدل پيل سول او په همداسي توګه نړيوالو ته يو عظيم نعمت ترلاسه سو ځکه نو ددغه د شکراني په توګه د دوشنبې په ورځ روژه نيول کيږي .

په هره مياشت کي درې روژې

﴿۱۹۴۸﴾: وَعَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت معاذة العدوية رضي الله عنها څخه روايت دئ چې هغې د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه

وَسَلَّمَ أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ

ايا رسول الله ﷺ به په هره مياشت کي درې درې روژې نيولې ،

قَالَتْ نَعَمْ فَقُلْتُ لَهَا مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ كَانَ يَصُومُ قَالَتْ لَمْ يَكُنْ يُبَالِي مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ يَصُومُ . رواه مسلم

هغې وويل : هو ، ما بيا پوښتنه وکړه چې د مياشتې په کومو ورځو کي به يې روژې نيولې ؟ هغې وويل : رسول الله ﷺ ددې پروا نه کول په کومو ورځو کي چې به يې غوښتل روژې به يې نيولې . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۸۱۸، رقم: ۱۹۴- ۱۱۶۰.

تشريح : ددغه حديث څخه معلومه سوه چې په هره مياشت کي درې ورځې روژې نيول کافي دي په کومه ورځ چې غواړي روژه دي ونيسي ، د ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاريخ شرط نه

دی ، په اکثرو حدیثو او آثارو کي دغه دري تاریخونه ذکر سوي دي ځکه په دغه درو تاریخو کي روژې نیول افضل دي ، په هره میاشت کي د درو روژو نیولو نور صورتونه هم سته چي مخته به راسي .

د تولي زماني روژه

﴿۱۹۴۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ اَيُّوْبَ الْاَنْصَارِيِّ اَنَّهُ حَدَّثَهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ اَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ . رواه مسلم

د حضرت ابو ایوب انصاري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي د رمضان د میاشتي روژې ونیسي بیا په شوال کي شپږ روژې ونیسي نو لکه هغه چي د تولي زماني لپاره روژې ونیولې . مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۸۲۲، رقم: ۲۰۴- ۱۱۶۴.

تشریح : لکه څرنګه چي د دغه حدیث څخه معلومه سوه چي د رمضان د روژو څخه وروسته د شوال په میاشت کي شپږ روژې نیول د لوی ثواب او فضیلت باعث دي ، د دغه روژو په اړه د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد غوره داده چي د رمضان څخه سمدستي وروسته یعني د دوهم تاریخ څخه تر اووم تاریخ پوري پرله پې دا روژې ونیول سي او د امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد په متفرقه توګه سره دغه روژې نیول غوره دي یعني په توله میاشت کي کله چي وغواړي شپږ روژې دي ونیسي .

منع روژې

﴿۱۹۵۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الْفِطْرِ وَالنَّحْرِ . متفق عليه

د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د کوچني اختر او لوی اختر په ورځ د روژې نیولو څخه منع فرمایلې ده . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري)، ۴\ ۲۳۹، رقم: ۱۹۹۱. ومسلم ۲\ ۸۰۰، رقم: ۱۴۱- ۸۲۷.

تشریح : د نحر څخه جنس یعني د نحر تولي ورځي مراد دي او دلته دا لفظ تغلیبا ذکر سوی دی ځکه چي په ایام تشریق کي هم روژې نیول حرام دي ، د دې مسئلې وضاحت دادی چي د نحر

(قربانی ورځ) دري ورځي دي او د تشريق هم دري ورځي دي مګر د ټولو مجموعه څلور ورځي کيږي په داسي توګه چې د ذي الحجي لسم تاريخ يوازي د نحر ورځ ده او ددې څخه وروسته دوې ورځي يعني يوولسم او دوولسم تاريخونه ايام نحر هم دي او ايام تشريق هم دي او ددغه دواړو تاريخونو څخه وروسته يوه ورځ يعني ديارلسم تاريخ يوازي يوم تشريق دی ، خلاصه دا چې دا پنځه ورځي داسي دي چې په دې کې روژې نيول حرام دي :

۱. د کوچنۍ اختر ورځ .
۲. د لوی اختر ورځ .
۳. د لوی اختر څخه وروسته يعني يوولسم، دوولسم او يارلسم تاريخ.

﴿۱۹۵۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ صَوْمَ فِيْ يَوْمَيْنِ الْفِطْرِ وَالأَضْحٰى . متفق عليه

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په دوو ورځو کې روژې نسته يعني کوچنی اختر او لوی اختر . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\ ۷۰، رقم: ۱۱۹۷، ومسلم ۲\ ۷۹۹، رقم: ۱۴۰- ۸۲۷.

د تشريق ورځي

﴿۱۹۵۲﴾: وَعَنْ نُبَيْشَةَ الْهُذَلِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَّامُ التَّشْرِيقِ أَيَّامُ أَكْلٍ وَّذِكْرِ اللّٰهِ . رواه مسلم .

د حضرت نبيشة الهذلي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د تشريق ورځي (يعني د ذي الحجي يوولسم، دوولسم او ديارلسمي نېټې) د خوراک، چښاک او د الله د يادولو ورځي دي . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۸۰۰، رقم: ۱۴۴- ۱۱۴۱.

تشريح : ايام تشريق دري ورځي دي: د ذي الحجي يوولسم، دوولسم او ديارلسم تاريخونه، دلته د ايام تشريق لفظ تغليبا ذکر سوی دی ځکه چې يوم نحر (د قربانی ورځ) هم د خوراک او څښاک ورځ ده بلکه اصل خو هغه ورځ ده او دا دري ورځي د هغه تابع دي نو په دغه څلورو

ورځو کي روژې نيول حرام دي.

ابن همام رحمة الله عليه فرمايي چې په نوروز او مهرجان کي روژه نيول مکروه دي ځکه چې په دغه ورځو کي روژه نيولو سره ددغه ورځو تعظيم لازميږي کوم چې په اسلامي شريعت کي منع دي ،هو که يو سړی د خپل معمول سره سم د مخکي څخه روژې نيولي وي او په اتفاق سره دا ورځ هم د هغه د معمول په مينځ کي راسي نو بيا ددغه ورځو روژې پرواه نه کوي.

(و ذكر الله): ددغه جملې څخه خبرتيا مقصد ده چې دغه ورځي که څه هم د خوراک،څښاک او خوشحالۍ ورځي دي مګر په دغه کارو کي د بوختيا سرييره د الله تعالی د ياد او عبادت څخه غافل کېدل نه دي پکار ګويا ددغه آيت کريمه په لور اشاره سوې ده:

وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودَاتٍ

ژباړه: او د شمېر په ورځو کي الله تعالی يادوی.

او د ذکر الله څخه مراد په ايام تشريق کي د لمونځو څخه وروسته ويونکي تکبيرات، د قربانۍ کولو وخت او تکبيرات او د حج کونکو لپاره رمي جمار (د شيطانانو ويشتل) او داسي نور دي.

د جمعې په ورځ روژه

﴿۱۹۵۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَصُومُ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا أَنْ يَصُومَ قَبْلَهُ أَوْ يَصُومَ بَعْدَهُ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چې څوک د جمعې د ورځي روژه نيسي نو داسي دي يې نيسي چې د هغه څخه يوه ورځ مخکي يا يوه ورځ وروسته دي هم روژه نيسي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\۲۳۲، رقم: ۱۹۸۵. ومسلم ۲\۸۰۱، رقم: ۱۴۷- ۱۱۴۴.

تشريح: مطلب دا چې يوازي د جمعې په ورځ دي روژه نه نيسي بلکه د جمعې د ورځي د روژې سره دي د پنجشنبې يا شنبې په ورځ هم روژه نيسي او که په دواړو ورځو يعني شنبې او پنجشنبې کي او د هغه سره د جمعې په ورځ روژه ونيسي نو غوره ده، په حديث کي يوازي د جمعې په ورځ د روژې نيولو څخه منع ذکر سوې ده چې د نهي تنزيهي په توګه ده، علامه ابن همام رحمة الله عليه فرمايي چې د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله

علیه په نزد یوازي د جمعې په ورځ روژه نیولو کې هیڅ پرواه نسته.

﴿۱۹۵۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَخْتَصُّوا لَيْلَةَ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: مه خاصوئ شپه د

الْجُمُعَةِ بِقِيَامٍ مِنْ بَيْنِ اللَّيَالِي وَلَا تَخُصُّوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِيَامٍ مِنْ بَيْنِ

جمعې د عبادت لپاره او د جمعې ورځ د روژې لپاره

الْأَيَّامِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي صَوْمٍ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ. رواه مسلم

مګر نه هغه وخت چې ستاسو د روژې ورځ جمعه راسي. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۲/۸۰۱، رقم: ۱۴۸- ۱۱۴۴.

تشریح: یهودو د شنبې ورځ د عبادت لپاره خاص کړل او هغوی یوازي ددغه ورځې تعظیم کوی او همداسي عیسایانو د یکشنبې ورځ د عبادت لپاره خاصه کړل او هغوی یوازي ددغه ورځې تعظیم کوی او په دغه ورځ په عبادت کې بوخت وي، رسول الله ﷺ د مسلمانان ددغه غلطي طریقې څخه منع کړل چې تاسو ددغه دواړو ډلو په ډول یوازي د جمعې شپه او د جمعې ورځ د تعظیم او عبادت لپاره مه خاصوئ تر څو په معامله کې ددغه دواړو ډلو مشابهت رانسي، هو شریعت چې د جمعې د ورځې کوم فضیلت او ارزښت بیان کړی دی هغه خو پر حق دی او ددغه ورځې دومره اهمیت او عظمت ساتل پکار دي که څه هم په دې کې د یوې ډلې مشابهت هم نه وي مګر د خپل لوري ددغه ورځې په تعظیم او تخصیص کې زیاتوب مه کوئ، او یا ددغه مخالفت مقصد دادی چې بنده ته پکار دي چې په خپل ټولو وختو کې په عبادت او طاعت کې بوخت وي او هر وخت د الله تعالی د رحمت امیدوار وي یو خاص وخت د عبادت لپاره خاصول او په پاته وختونو کې غافل او سیدل نه دي پکار.

د حدیث آخري الفاظ: (الا ان یکون في صوم...الخ) ددې مطلب دادی چې د مثال په توګه د یو سړي معمول وو چې هغه په هره لسمه یا یوولسمه ورځ روژه نیول او په اتفاق سره پر هغه جمعه راغله، یا یو سړي نذر ومنی چې زه به په هغه فلاني تاریخ روژه نیسم او هغه تاریخ د جمعې په ورځ راغلی نو ددغه عذرونو په وجه یوازي د جمعې په ورځ روژه نیول منع نه دي، امام نووي رحمة الله علیه فرمایي چې د تهجد د لمانځه لپاره د جمعې شپه خاصول په دغه

حديث كي په صراحت سره منع سوې دې او پر دې باندې د ټولو علماؤ اتفاق دی، او علماء صلوة الرغائب په بدعت او مکروه ګرځولو کي دا حديث د دليل په توګه اختيار کړی دی، صلوة الرغائب : هغه لمانځه ته ويل کيږي چې په خاصه توګه د رجب د مياشتي څخه مخکې د جمعې په شپه به کول کيدی ، علماؤ د دغه لمانځه د بدعت او خرابۍ او د دغه لمانځه د اختراع کونکو د ګمراهۍ او ضلالت د وضاحت لپاره ځانګړي کتابونه هم ليکلي دي .

مولانا اسحاق رحمة الله عليه به فرمايل چې د دغه حديث په اړه شارحينو چې کوم پورتنۍ توجيهات بيان کړي دي نو دا د هغه حضراتو د مذهب سره سم دي چې د هغوی په نزد يوازې د جمعې په ورځ روژه نيول مکروه دي مګر د حنفي مذهب سره سم د دغه حديث د دغه توجيهاتو هيڅ ضرورت نسته .

ځکه د حنفيه په نزد يوازې د جمعې په ورځ روژه نيول مکروه نه دي ، په فتاوی عالمګيري کي ليکلي دي چې يوازې د جمعې په ورځ روژه نيول جائز دي بلکه په درمختار کي خو دا مستحب بيان سوي دي ، په دې اړه د حنفيه دليل هغه حديث دی چې د عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی او په دوهم فصل کي به راسي ، نو کيدای ي چې د عبدالله بن مسعود ﷺ حديث د ټولو حديثو لپاره ناسخ وي چې د هغه څخه د جمعې په ورځ روژه نيول منعه معلوميږي .

د الله ﷻ په لاره کې روژه

﴿۱۹۵۵﴾ : وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَامَ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بَعَّدَ اللّٰهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا . متفق عليه

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې د الله په لاره کې يوه ورځ روژه ونيسي الله تعالی هغه د دوزخ څخه د اويا کاله په فاصله ليرې ساتي . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۴۷، رقم: ۲۸۴۰، ومسلم ۲\۸۰۸، رقم: ۱۶۸- ۱۱۵۳.

په اعمالو کې ميانه روي

﴿۱۹۵۶﴾ : وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دئ چې ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل :

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ اللَّهِ أَلَمْ أُخْبَرْ أَنَّكَ تَصُومُ النَّهَارَ وَتَقُومُ اللَّيْلَ

اې عبدالله ! زه خبر سوى يم چې ته هره ورځ روژه نيسې او د شپې عبادت کوې،

فَقُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَلَا تَفْعَلْ صُمْ وَأَفْطِرْ وَقُمْ وَنَمْ فَإِنَّ لِجَسَدِكَ

ما عرض وکړ هو، اې دالله رسوله ! رسول الله ﷺ وفرمايل : داسې مه کوه ، روژه نيسه هم او پريږده يې هم، د شپې عبادت هم کوه او د شپې خوب هم کوه، ځکه چې ستا د بدن هم

عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِزَوْرِكَ

پر تا حق دئ ، ستا د سترګو هم پر تا حق دئ او ستا د ښځې هم پر تا حق دئ او ستا د ميلمه هم

عَلَيْكَ حَقًّا لا صام من صام الدهر صوم ثلثة ايام من كل شهر صوم

پر تا حق دئ ، چا چې هميشه روژه ونيول نو هغه روژه نه ونيول ، په ميا شت کې دري ورځې روژې ونيول

الدهر كله صُمْ كُلَّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَاقْرَإِ الْقُرْآنَ فِي كُلِّ شَهْرٍ قَالَ قُلْتُ

د ټول عمر د روژو نيولو سره سم دي ، او په ميا شت کې يو وار قرآن کريم وايه ، ما عرض وکړ :

أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ قَالَ صُمْ أَفْضَلَ الصَّوْمِ صَوْمَ دَاوُدَ صِيَامَ يَوْمٍ وَإِفْطَارَ

زه تر دې زيات توان لرم ، رسول الله ﷺ وفرمايل : نو بيا غوره روژه نيسه يعني د داؤد عليه السلام روژه،

يَوْمٍ وَاقْرَأْ فِي كُلِّ سَبْعِ لَيَالٍ مَرَّةً وَلَا تَزِدْ عَلَى ذَالِكَ . متفق عليه

يوه ورځ روژه نيول او يوه ورځ نه نيول، او په اوو شپو کې يو قرآن کريم (ختموه) او تر دې زيات نه . بخاري او مسلم .

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\ ۲۱۷، رقم: ۱۹۷۵، ومسلم ۲\ ۸۱۲، رقم: ۱۸۱- ۱۱۵۹.

تشريح : شريعت په اعمالو کې پر ميانه روي او اعتدال باندې ډير زور ورکړی دی ، په نفلي عباداتو او اعمالو کې نه دومره کمي او کوتاهي کول پکار دي چې په هغه سره په روحاني ترقي کې کمزوري او د لوړو درجو په ترلاسه کولو کې خنډ پيدا سي او نه دومره زياتوب کول پکار

دی چي په هغه سره بدني توان بالکل ختم سي ، او په دنيوي مباح کارونو کي بنديز څرګند سي ځکه رسول الله ﷺ حضرت عبد الله رضي الله عنه منع کړ چي نه خو دومره زياتي روژې نيسه او مه دومره د شپې ويښيږه چي د هغه په وجه نور ضروري او فرض عباداتو کي خلل واقع سي او نه نور انساني او ټولنيز حقوق تر پښو لاندي سي ، په هره مياشت کي دري دري روژې نيولو سره د هميشه روژو ثواب ځکه ليکل کيږي چي د هري نيکۍ بدله لس نيکۍ ليکل کيږي څرنګه چي په څو ځايو کي ښودل سوي دي په دې حساب سره دري روژې په اعتبار د ثواب او جزا د ديرشو روژو برابر سوې او په مياشت کي دري روژې نيونکی ګويا د پوره مياشت روژه نيونکی سو .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د دوشنبې او پنجشنبې روژې

﴿۱۹۵۷﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُوْمُ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ . رواه الترمذي والنسائي .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د دوشنبې او پنجشنبې د ورځې روژې نيولې . ترمذي او نسائي .

تخريج : سنن الترمذي ۳\ ۱۲۱، رقم: ۷۴۵، والنسائي ۴\ ۲۰۲، رقم: ۲۳۶۰.

تشريح : د بندګانو چي کوم اعمال دي ملائکي هغه هر سهار او مابنام پورته کوي او بيا هغه د الله تعالى په دربار کي پنه دوو ورځو کي وړاندي کيږي ، د دغه وضاحت سره سم په دغه حديث او هغه حديث کي چي تعارض پاته نه سو چي د هغه څخه ثابته سوې وه چي د بندګانو د سهار اعمال د شپې د اعمالو څخه مخکي پورته وړل کيږي او يا دا به وويل سي چي هره ورځ هر عمل په تفصيلي توګه سره وړاندي کيږي او بيا په دغه دواړو ورځو کي ټول اعمال په اجمالي توګه سره وړاندي کيږي .

د بندګانو عملونه

﴿۱۹۵۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ تُعْرَضُ الْأَعْمَالُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ فَأُحِبُّ أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ . رواه الترمذي

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله (په دربار کې) د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ عملونه وړاندې کيږي نو زه دا خوښوم چې زما عملونه وړاندې کړل سي او زما روژه وي . ترمذي

تخريج : سنن الترمذي ۳\ ۱۲۲، رقم: ۷۴۷.

د ايام بيض روژې

﴿۱۹۵۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا اَبَا ذَرٍّ إِذَا

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ابوذره !

صُمْتَ مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ فَصُمْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ وَاَرْبَعَ عَشْرَةَ وَخَمْسَ عَشْرَةَ . رواه الترمذي والنسائي .

هر کله چې ته روژې نيول وغواړې نو په مياشت کې درې ورځې روژه نيسه يعني د هري مياشتې په ديارلسم، څورلسم او پنځلسم باندې . ترمذي او نسائي

تخريج : سنن الترمذي ۳\ ۱۳۴، رقم: ۷۶۱. والنسائي ۴\ ۲۲۳، رقم: ۲۴۲۳.

تشريح : په هره مياشت کې درې ورځې د نفلي روژو نيولو په اړه څو طريقې نقل سوي دي مګر غوره طريقه داده چې په پورتنيو درو تاريخو کې چې ايام بيض ورته ويل کيږي روژې ونيول سي .

د جمعې په ورځ روژه

﴿۱۹۶۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د

يَصُوْمُ مِنْ غُرَّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ وَقَلَّمَا كَانَ يُفْطِرُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ . رواه الترمذي والنسائي و رواه ابوداؤد الى ثلثة ايام .

هري مياشتې په پيل کې درې ورځې روژې نيولې، او داسې به ډير کم کيدل چې د جمعې په ورځ به يې روژه نه وه . ترمذي، نسائي او ابوداؤد .

تخريج : سنن ابي داؤد ۲\ ۸۲۲، رقم: ۲۴۵۰، والترمذي ۳\ ۱۱۸، رقم: ۷۴۲، والنسائي ۴\ ۲۰۴، رقم: ۲۳۶۸.

تشريح : مخکي يو څو حديثونه تير سوي دي چې د هغو څخه معلوميږي چې يوازي د جمعې په ورځ نفلي روژه نيول نه دي پکار او حال دا چې دغه حديث د هغه حديثو برعکس معلوميږي، ددې حديث تاويل دادی چې رسول الله ﷺ به د جمعې سره يوه ورځ مخکي يا يوه ورځ وروسته هم روژه نيول يا دا چې يوازي د جمعې په ورځ روژه نيول د رسول الله ﷺ سره خاص وه، لکه څرنګه چې د وصال روژې يوازي د رسول الله ﷺ لپاره خاص وې مګر دا تاويل د هغه حضراتو د مذهب سره سم دی چې د جمعې په ورځ روژه نيول جائز بولي ځکه د حنفيه په نزد ددې تاويل څه ضرورت نسته بلکه هغوی د جمعې په ورځ ذ روژې جواز ددغه حديث څخه ثابتوي.

د نفلي روژو بيل

﴿۱۹۶۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَصُومُ مِنَ الشَّهْرِ السَّبْتَ وَالْأَحَدَ وَالِاثْنَيْنِ وَمِنَ الشَّهْرِ الْآخَرِ الثُّلَاثَاءَ وَالْأَرْبِعَاءَ وَالْخَمِيسَ . رواه الترمذي

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به په ميا شت کي د شنبې، يکشنبې او دوشنبې په ورځ روژې نيولې او په بله ميا شت کي به يې د سه شنبې، چهارشنبې او پنجشنبې په ورځ روژې نيولې. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۱۲۲، رقم: ۷۴۶.

تشريح : په لومړني حديث کي د جمعې په ورځ د روژې نيولو يادونه وه او په دغه حديث کي د اونۍ د پاته ورځو په باره کي ذکر سوی دی، معلومه سوه چې رسول الله ﷺ به د اونۍ په ټولو ورځو کي روژه نيول، ټولي ورځې د الله تعالی دي ځکه رسول الله ﷺ دا مناسب نه ګڼل چې په ځينو ورځو کي روژه ونيسي او په ځينو کي روژه ونه نيسي، ګويا په دې اړه هم رسول الله ﷺ د عدل او اعتدال لار اختيار کړې وه.

﴿۱۹۶۲﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَأْمُرُنِي أَنْ أَصُومَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ أَوَّلُهَا الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به ما ته فرمايل چې: په هره ميا شت کي

دري ورځي روژه نيسه او دا روژې د دوشنبې او پنجشنبې د ورځي څخه پيل کوه . ابوداؤد او نسائي

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۸۲۲، رقم: ۲۴۵۲. والنسائي ۴\ ۲۲۱، رقم: ۲۴۱۸.

تشريح : په لفظ (والخميس) کي واو د او په معنى دى ، ددې مطلب دادى چې په هره مياشت کي دري روژې نيسه په داسي توګه چې لومړى روژه د دوشنبې په ورځ او دوهمه او دريمه روژه د سه شنبې او چارشنبې په ورځ وي ، يا لومړى روژه د پنجشنبې په ورځ وي او پاته دوې روژې د جمعې او شنبې په ورځ وي .

په طبراني کي او يعني او الخميس لفظ ذکر دي ، په هر حال د روژه نيونکي اختيار دى چې شروع د دوشنبې د ورځي څخه وکړي يا د پنجشنبې د ورځي څخه دواړي ورځي مبارکي دي.

د هميشه روژو نيولو منعه

﴿۱۹۶۳﴾: وَعَنْ مُسْلِمٍ الْقَرَشِيِّ قَالَ سَأَلْتُ أَوْ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت مسلم القرشي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما يا بل چا د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه

وَسَلَّمَ عَنْ صِيَامِ الدَّهْرِ فَقَالَ إِنَّ لِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا صُمْ رَمَضَانَ وَالَّذِي

د هميشه لپاره د روژې په اړه ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : پرتا ستا د کورنۍ هم حق دئ ، ته د رمضان د مياشتي روژې نيسه

يَلِيهِ وَكُلَّ أَرْبِعَاءَ وَخَمِيسٍ فَإِذَا أَنْتَ قَدْ صُمْتَ الدَّهْرَ . رواه ابوداؤد والترمذي

او د رمضان څخه وروسته شپږ روژې او د هري چارشنبې او پنجشنبې په ورځ روژه نيسه ، (ددې په نيولو سره) لکه تا چې د ټول عمر لپاره روژه ونيول . ابوداؤد او ترمذي

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۸۱۲، رقم: ۲۴۳۲. والترمذي ۳\ ۱۲۳، رقم: ۷۴۸.

تشريح : مطلب دادى چې د هميشه روژو نيولو څخه کمزورتيا رامينځته کيږي چې د هغه په وجه نه يوازي دا چې د حقوقو په ادا کولو کي خلل لويږي بلکه په نورو عباداتو کي هم تاوان او حرج واقع کيږي ، ځکه نو هميشه روژې نيول مکروه دي، هو کوم سړي ته چې د ضعف او کمزورتيا بيره نه وي نو د هغه لپاره هميشه روژې نيول مکروه نه دي بلکه مستحب دي، همدارنګه د هميشه روژو نيولو د منع په اړه نقل سوي حديثونه او د هغه مشائخو او سلفو عمل کي چې هميشه يې روژې نيولې پورتنى وضاحت سره تطبيق هم کيږي او کيداى سي چې دلته

کوم حدیث ذکر سوی دی هغه به رسول الله ﷺ ددغه حدیث څخه مخکې فرمایلی وي چې په هغه کې ښودل سوي وه چې په هره میاشت کې دریڅ روژې نیولو سره د همیشه روژو ثواب حاصلیږي.

په یوه بله خبره باندې هم پوه سئ : په تېرو مخونو کې د تشریق په څنګ کې علامه ابن همام رحمة الله علیه هغه اقوال نقل کړي وه چې د هغو څخه دا ثابت کیدل چې د همیشه روژو نیول مستقلا مکروه دي او په در مختار کې هم دا منقول دي چې همیشه روژې نیول مکروه تنزیهي دي ، او حال دا چې دلته دا خبره ښودل سوې ده چې همیشه روژې نیول هغه وخت مکروه دي کله چې د روژه دار ضعف او کمزوري کې د اخته کېدو بیره وي که چیرې د ضعف او کمزورۍ بیره نه وي نو بیا مکروه نه دي ، په دغه ټولو اقوالو کې مطابقت پیدا کړي چې د کومو قولو څخه د همیشه روژو مطلقا مکروه کیدل ثابتیږي او په حقیقت د هغه محمول هم خوف ضعف دی یعني ددغه اقوال مطلب هم دادی که د ضعف بیره وي نو همیشه روژې نیول مکروه دي او که دا بیره نه وي نو بیا مکروه نه دي.

د عرفات په ورځ روژه

﴿۱۹۶۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د عرفات په میدان کې د عرفات د ورځې د روژې نیولو څخه منع فرمایلې ده . ابوداؤد .

تخریج: سنن ابي داود ۲\۸۱۶، رقم: ۲۴۴۰.

تشریح : حج کوونکی که چیرې د عرفات په ورځ روژه ونیسي نو کیدای سي چې دده په بدن کې ضعف او کمزوري راسي چې د هغه په وجه په عرفات کې نور افعال او ارکانو کې تاوان او خلل واقع سي ځکه د داسي سړي لپاره د عرفات د روژې نیرلو منع وفرمایل سول مګر دا منع د نهي تحریمي په توګه نه ده بلکه دا نهي تنزیهي ده .

د شنبې د ورځې روژه

﴿۱۹۶۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ بُسْرٍ عَنْ اُخْتِهِ الصَّمَّاءِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

عبدالله بن بسر د خپلې خور بې بې صماء څخه روایت کوي چې هغې وویل : رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَصُومُوا يَوْمَ السَّبْتِ إِلَّا فِيمَا افْتَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَإِنْ

وفرمايل : د شنبې په ورځ روژه مه نيسئ پرته د هغه روژو څخه چې پر تاسو فرض سي، که

لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا لِحَاءَ عِنَبَةٍ أَوْ عُودَ شَجَرَةٍ فَلْيَمْضُغْهُ. رواه احمد وابوداؤد والترمذي وابن ماجة والدارمي

تاسو د روژه ماتې لپاره شي پيدا نه کړئ نو د انګورو پوست يا د درختي لرګي دي وځيبنبي ، احمد ، ابوداؤد ، ترمذي ، ابن ماجة او دارمي .

تخريج: الامام احمد في مسنده ٦\ ٣٦٨، وابوداؤد ٢\ ٨٠٥، رقم: ٢٤٢١. والترمذي ٣\ ١٢٠، رقم: ٧٤٤، وابن ماجه ١\ ٥٥٠، رقم: ١٧٢٦. والدارمي ٢\ ٣٢، رقم: ١٧٤٩.

تشريح: كه په دغه ورځ روژه نيول ضروري واى : ددې مطلب دادى كه چيري يو ضروري روژه واى مثلا فرضي يعني د رمضان روژې واى يا كفاره او نذر يا قضائي ، همداسي سنت مؤكده روژې لكه د عرفات، عاشورا روژې چې دا هم د ضروري روژو په حكم كي دي او يا بله يو مسنون او مستحب روژه وي كه په دغو كي يو روژه د شنبې په ورځ راسي نو هغه به د شنبې په ورځ نيول منعه نه وي .

(فان لم يجد احدكم الخ) ددې مطلب دادى كه يو سړى د شنبې په ورځ روژه ونيسي نو هغه ته پكار ده كه چيري هغه څه تر لاسه نه كړي نو د انګورو د تاك پوستكي يا د درختي لرګي څوښلو سره دي روژه ماته كړي او كه دا ډول هيڅ شى هم تر لاسه نه كړي نو بيا هم په يو طريقې سره دي روژه ماته كړي .

د شنبې په ورځ روژه نيول څكه منع دي چې په داسي كولو سره د دغه ورځي تعظيم لازميږي او د يهودو مشابهت كيږي كه څه هم يهود په دغه ورځ روژه نه نيسي څكه چې د هغوى په نزد دا د اختر ورځ ده هغوى د دغه ورځي ډير تعظيم كوي مګر د اكثرو علماؤ په نزد د شنبې په ورځ د روژې منع د نهي تنزيهي په توګه ده .

د الله ﷻ په لار كي يوه روژه

﴿۱۹۶۶﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَامَ

د حضرت ابو امامة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې روژه ونيسي

يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ جَعَلَ اللّٰهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ خَنْدَقًا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ. رواه الترمذي

یوه ورځ د الله ﷻ لپاره یوه نو الله تعالی د هغه او دوزخ په منځ کې یوه کنده جوړه کړي څنګه چې د آسمان او مځکې تر منځ ده. (یعنې ډیر ځینې لیرې سې) ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۱۴۳، رقم: ۱۶۲۴.

تشریح: في سبیل الله: ددې مطلب دادی چې په جهاد کې یا د حج په لاره کې یا په عمره کې یا د علم تر لاسه کولو په وخت کې یا صرف د الله تعالی د رضا او خوښۍ په خاطر یوه ورځ روژه ونیسي، د خندق څخه مراد ډیر سخت خندق دی.

د یخ روژه

﴿۱۹۶۷﴾: وَعَنْ عَامِرِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عامر بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

الْغَنِيمَةُ الْبَارِدَةُ الصَّوْمُ فِي الشِّتَاءِ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث مرسل و ذكر حديث ابي هريرة ما من ايام احب الى الله في باب الاضحية.

یخ غنیمت (په ژمي کې د روژې نیول دي. احمد او ترمذي، ترمذي ویلي دي دا حدیث مرسل دئ د ابو هریرة رضی الله عنه حدیث ما من ایام احب الی الله، د اضحیې په باب کې تیر سو

تخریج: الامام احمد في مسنده ۴\ ۳۳۵. والترمذي ۳\ ۱۶۲، رقم: ۷۹۷.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د عاشورا دورځې روژه

﴿۱۹۶۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ تشریف راوړ

الْمَدِينَةَ فَوَجَدَ الْيَهُودَ صِيَامًا يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

مدینې ته نو یهودیان یې ولیدل چې د عاشورا د ورځې روژه یې ده، رسول الله ﷺ د هغوی څخه پوښتنه وکړه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِي تَصُومُونَهُ فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ أَنْجَى اللَّهُ

تاسو په دې ورځ روژه نیسئ؟ دا ورځ څنګه ده؟ یهودیانو وویل: دا ډیره د عظمت ورځ ده په دې ورځ خلاصون ورکړل سو

فِيهِ مُوسَى وَقَوْمَهُ وَغَرَّقَ فِرْعَوْنَ وَقَوْمَهُ فَصَامَهُ مُوسَى شُكْرًا فَنَحْنُ

حضرت موسی علیه السلام او د هغه قوم ته او فرعون او د هغه قوم یې غرق کړ، نو حضرت موسی علیه السلام په دې ورځ د شکر په ډول روژه ونیول او موږ هم

نَصُومُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَحْنُ أَحَقُّ وَأَوْلَى بِمُوسَى

روژه نیسو، د دې په اوربدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: د موسی علیه السلام په پیروي کې موږ زیات حقدار یو

مِنْكُمْ فَصَامَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ . متفق عليه

تر تاسو، نو رسول الله ﷺ خپله هم روژه ونیول او نورو خلکو ته یې هم د روژې نیولو حکم ورکړ. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\ ۲۴۴، رقم: ۲۰۰۴، ومسلم ۲\ ۷۹۵، رقم: ۱۲۷- ۱۱۳۰.

د شنبې او یکشنبې روژې

﴿۱۹۶۹﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به کله روژه نیول

يَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْأَحَدِ أَكْثَرَ مَا يَصُومُ مِنَ الْأَيَّامِ وَيَقُولُ إِنَّهُمَا يَوْمَا عِيدٍ

نو زیات وخت به یې د شنبې او یکشنبې په ورځ روژه نیول او فرمایل به یې: دا دواړې ورځې د

الْمُشْرِكِينَ فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أُخَالِفَهُمْ . رواه احمد

د اختر ورځي دي مشرکانو زه غواړم چې په دې ورځو کې د هغو مخالفت وکړم. احمد.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۶\ ۳۲۳- ۲۳۴.

تشریح: د مشرکینو څخه مراد یهود او نصارا دي او هغوی ته یې مشرک ځکه وفرمایل چې یهود خو حضرت عزیر علیه السلام ته د الله تعالی زوی وایي او نصارا (عیسایان) حضرت عیسی علیه السلام ته د الله زوی وایي.

مخکې یو حدیث تیر سوی دی چې په هغه کې د شنبې په ورځ د روژې نیولو څخه منع فرمایل سوې ده او دا حدیث د هغه څخه بالکل برعکس دی نو په دغه دواړو حدیثو کې تطبیق دادی چې د دغه حدیث تعلق خو یوازې د رسول الله ﷺ د ذات سره دی یعني دا د رسول الله ﷺ ځانګړتیاوو څخه دی او د تیر حدیث تعلق یوازې د امت سره دی یعني هغه منع د امت د ځانګړتیاوو څخه نه ده یا دا به وویل سي چې کومې روژې منع سوي دي هغه روژې دي چې د هغه ورځې د تعظیم په توګه ونیول سي او غوره روژه هغه ده چې د یهودو او نصارا د مخالفت له کبله ونیول سي.

د عاشورا د روځې روژه

﴿۱۹۷۰﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به

يَأْمُرُنَا بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ وَيَحُثُّنَا عَلَيْهِ وَيَتَعَاهَدُنَا عِنْدَهُ فَلَمَّا فُرِضَ

موږ ته د عاشورا په ورځ د روژې نیولو حکم راکوئ او ترغیب به یې راکوئ، او د عاشورا د ورځې په نژدې راتلو سره به یې زموږ پوښتنه کول، بیا چې کله فرض سوې

رَمَضَانُ لَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا وَلَمْ يَتَعَاهَدْنَا عِنْدَهُ. رواه مسلم

د رمضان روژې نو نه یې موږ ته د عاشورا د ورځې د روژې نیولو حکم راکوئ او نه یې منع کولو او نه یې زموږ خبر اخیستئ. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۲\ ۷۹۵. رقم: ۱۲۵- ۱۱۲۸.

تشریح: لفظ د (یامرنا) د مشکوة په اکثرو نسخو کې د (نا) څخه پرته یعني یوازې (یامر) دی مګر په صحیح مسلم کې (یامرنا) منقول دی.

سنت مؤكده روژې

﴿۱۹۷۱﴾: وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ أَرْبَعٌ لَمْ يَكُنْ يَدَعُهُنَّ النَّبِيُّ ﷺ صِيَامَ عَاشُورَاءَ وَالْعَشْرَ وَثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ . رواه النسائي .

د حضرت حفصة (رض) څخه روايت دئ چې څلور شيان دي چې رسول الله ﷺ به هيڅكله نه پرېښودل. يو د عاشورا روژې، دوهم نهه روژې د ذي الحجې، دريم درې روژې د هرې مياشتې او څلورم دوه ركعته د سهار څخه ترمخه. نسائي. (د عشر څخه مراد نهه ورځې دي ځكه د قربانۍ په ورځ روژه نيول حرام دي).

تخريج: سنن النسائي ۲۲۰/۴، رقم: ۲۴۱۵.

د ايام بيض روژې

﴿۱۹۷۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُفْطِرُ أَيَّامَ الْبِيضِ فِي حَضَرٍ وَلَا سَفَرٍ . رواه النسائي .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به هيڅكله د ايام بيض روژې نه پرېښودلې، نه په كور كې او نه په سفر كې (د ايام بيض څخه مراد د هرې مياشتې ديارلسم، څورلسم او پنځلسمې نېټې دي). نسائي.

تخريج: سنن النسائي ۱۹۸/۴، رقم: ۲۳۴۴.

تشريح: د ايام بيض څخه مراد د سپوږمۍ د شپو ورځې دي يعني د قمري مياشتې ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاريخونه، نو په ايام بيض كې بيض سپين والي ته وايي، يعني د دغه شپو صفت دی چې د هغه ورځو ته ايام بيض ويل كيږي، دغه شپو ته بيض ځكه ويل كيږي چې په دغه شپو كې د سپوږمۍ رڼا پوره وي، ګويا پوره شپه ځلانده او روښانه وي، يا به دا ويل كيږي چې د دغه ورځو روژې د ګناهونو تياري ليري كوي او زړونه روښانه كوي، يا دغه ورځو ايام بيض ځكه ويل كيږي چې حضرت آدم عليه السلام د جنت څخه مځكې ته راكښته كړل سو نو د هغه ټول بدن تور سوی وو او كله چې د هغه توبه قبوله سوه نو حكم ورته وسو چې په دغه ورځو كې دې روژې ونيسه او هغه په ديارلسمه ورځ روژه ونيول نو دريمه برخه بدن يې سپين

او روښانه سو ، په څورلسمه ورځ چې يې روژه ونيول نو دوهمه برخه بدن يې سپين او روښانه سو او په پنځلسم تاريخ چې يې روژه ونيول نو ټول بدن يې سپين او روښانه سو .

په هره مياشت کې د درو روژو نيولو ترتيب

دلته په دې خبره پوهيدل پکار دي چې هغه درې روژې چې په هره مياشت کې يې نيول مسنون دي په اړه دوولس شيان منقول دي :

۱. غير متعين يعني په ټوله مياشت کې کله چې و غواړي درې روژې دي ونيسي .
۲. د مياشتې په لومړنيو ورځو کې يعني په اول، دوهم او دريم تاريخ .
۳. د مياشتې د شنبې، يکشنبې او دوشنبې په ورځو کې .
۴. د مياشتې د سه شنبې، چار شنبې او پنجشنبې په ورځو کې .
۵. په ايام بيض کې يعني په ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاريخ کې .
٦. لومړۍ روژه د دوشنبې په ورځ او دوې د سه شنبې او چار شنبې په ورځ .
۷. لومړۍ روژه د پنجشنبې په ورځ او دوې روژې د جمعې او شنبې په ورځ .
۸. لومړۍ روژه د نوي مياشتې د دوشنبې په ورځ او دوې روژې په دوو پنجشنبو کې .
۹. لومړۍ روژه د نوي مياشتې په پنجشنبه کې او دوې په دوشنبه کې .
۱۰. د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ او بيا د راتلونکې اونۍ د دوشنبې په ورځ .
۱۱. په هره لسيزه کې يوه ورځ .
۱۲. د مياشتې په آخري درو ورځو کې .

دا خبره مخکې ښودل سوې ده چې غوره داده چې په ايام بيض يعني ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاريخ بايد دا روژې و نيول سي هسې خو اختيار دی چې کله هم او څرنګه وغواړي روژې نيولای سي ثواب په هر حال حاصليږي .

په ټول کال کې د سنت روژو شمېر يو پنځوس دی ، درو ديرش روژې خو دادي يعني په حساب د درو روژو په هره مياشت کې ، نهه روژې د ذي الحجې د مياشتې په لومړنۍ تاريخ څخه تر نهم تاريخ پورې ، يوه ورځ د عاشورا ، يوه ورځ د عاشورا څخه مخکې يا وروسته ، يوه ورځ د شعبان د پنځلسم تاريخ او شپږ روژې د شوال کوم چې د شش عيد روژې هم ورته ويل کيږي.

د بدن زکات

﴿۱۹۷۳﴾: وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ

شَيْءٍ زَكَاةٌ وَزَكَاةُ الْجَسَدِ الصَّوْمُ . رواه ابن ماجة .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د هر شي زكوة سته او د بدن زكات روژه ده . ابن ماجة .

تخريج: سنن ابن ماجه ۱/ ۵۵۵، رقم: ۱۷۴۵.

تشريح : د زكوة معنى زياتېدل او طهارت دى ، ځكه نو د هر شي لپاره زكوة دى ، ددې مطلب به دا وي چې د هر شي لپاره زياتوب دى چې د هغه شي څخه په يو څه برخه ورکولو سره تر لاسه کيږي يا دا چې د هر شي لپاره پاکي او د طهارت يوه ذريعه تاکل سوې ده چې د هغه په وجه هغه شي پاک او طاهر کيږي ، د بدن زكوة يعني د بدني د روغتيا او صحت او د بدن د روحاني پاکي او طهارت ذريعه روژه ده چې د روژې په وجه که څه هم په ظاهره د بدن د طاقت او قوت يو څه برخه ويلي کيږي او ناقص کيږي مګر په حقيقت کې روژه د بدن د نشو او نما او صحت کې د برکت او زياتوب يوه ذريعه جوړيږي او ددې په وجه بدن د ګناهونو څخه پاکيږي نو زكوة عبادت مالیه دى او روژه طاعت بدنيه دى .

د مسلمانانو په خپل منځ کې نا راضګي

﴿۱۹۷۴﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَصُومُ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسَ

د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ روژه نيول،

فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ تَصُومُ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسَ فَقَالَ إِنَّ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ

د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چې اې د الله رسوله ! تاسو د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ روژه نيسئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :هو، د دوشنبې

وَالْخَمِيسَ يَغْفِرُ اللَّهُ فِيهِمَا لِكُلِّ مُسْلِمٍ إِلَّا مُهْتَجِرَيْنِ يَقُولُ دَعْهُمَا حَتَّى يَصْطَلِحَا . رواه احمد وابن ماجة

او پنجشنبې په ورځ الله تعالى د هر مسلمان ګناهونه معاف کوي خو د هغه خلکو ګناهونه نه معافوي چې په خپل منځ کې ملاقات پرېږدي او د هغوى په نسبت فرمايي : دوى پرېږدئ تر څو چې صلح وکړي . احمد او ابن ماجة .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۳۲۹، وابن ماجه ۱\ ۵۵۳، رقم: ۱۷۴۰.

تشريح: رسول الله ﷺ د سوال په مرسته ددغه دواړو ورځو بزرګي او فضيلت څرګند کړ چې زه ددې بزرګي او فضيلت سره سم او د الله تعالى د رحمت عام او د هغه د لوري د مغفرت او بخښني د لوی نعمت د شکر په توګه ددغه دواړو ورځو روژه نيسم.

د الله ﷻ د رضا لپاره روژه

﴿۱۹۷۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَامَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د الله ﷻ د رضا لپاره يوه ورځ روژه ونيسي

وَجْهِ اللَّهِ تَعَالَى بَعَّدَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ جَهَنَّمَ كَبُعْدِ غُرَابٍ طَارَ وَهُوَ فَرْخٌ حَتَّى مَاتَ هَرِمًا. رواه احمد وروي البيهقي في شعب الايمان عن سلمة بن قيس

الله تعالى هغه ددوزخ څخه دومره ليرې کوي څومره چې د کارګه يو بچی په هوا والوزي او په دې حال کې سپين ږيرې سي او مړ سي. احمد او بيهقي په شعب الايمان کې د سلمه بن قيس څخه روايت کړئ دئ.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۵۲۶.

تشريح: ويل کيږي چې د کارګه عمر زر کاله وي، نو وه يې فرمايل که چيرې کارګه د خپل عمر د پيل څخه د عمر تر آخري برخې پورې والوځي نو فکر وکړه چې هغه به څومره لار ووهي، همداسې الله تعالى روژه دار د دوزخ څخه ليرې ساتي، د بيهقي رحمة الله عليه څخه منقول دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د روژه دار خوب عبادت دی، د هغه پټه خوله والی تسبيح دی او د هغه عمل په څو څو چنده دی، د هغه دعاء مقبوله ده او د هغه ګناهونه بخښل سوي دي.

د بيهقي رحمة الله عليه څخه دا هم منقول دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى د بني اسرائيلو نبي ته دا وحي راولېږل چې خپل قوم خبر کړه چې کوم بنده زما د رضا تر لاسه کولو په خاطر يوه ورځ روژه ونيسي نو زه نه يوازي دا چې د هغه بدن روغ او توانا کوم بلکه هغه ته ډير زيات ثواب هم ورکوم.

د خطيب رحمة الله عليه څخه منقول دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم سړی چې په دغه طريقه روژه ونيسي چې دده د روژو څخه څوک خبر نسي نو الله تعالى دده لپاره ثواب د جنت

څخه پرته په بل شي نه راضي کيږي يعني دده ثواب دادی چي دی به جنت ته داخل کړي، د عبراني رحمة الله عليه څخه منقول دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالی سره يو سترخوان دی چي پر هغه داسي نعمتونه دي چي نه يو سترګي ليدلي دي ، نه يو غوږ اوريدلي دي او نه د چا په زړه کي د هغه خيال تير سوی دی او پر دغه دسترخوان به يوازي روژه نيونکی کښيني .

==========

بَابُ فِي الْاِفْطَارِ مِنَ التَّطَوُّعِ

د نفلي روژو ماتول

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نفلي روژې نيت

﴿۱۹۷۶﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ يوه ورځ ما ته راغلی

فَقَالَ هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ فَقُلْنَا لَا قَالَ فَإِنِّي إِذَنْ صَائِمٌ ثُمَّ أَتَانَا يَوْمًا آخَرَ

او وه يې فرمايل ايا ستا سره د خوراک يو شی سته؟ موږ وويل :يا، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : نبه دئ، ما د اوس څخه روژه کړه، بيا همداسي بله ورځ رسول الله ﷺ راغلئ او پوښتنه يې وکړه

فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أُهْدِيَ لَنَا حَيْسٌ فَقَالَ أَرِينِيهِ فَلَقَدْ أَصْبَحْتُ صَائِمًا فَأَكَلَ . رواه مسلم

موږ عرض وکړ اې د الله رسوله زموږ کره په تحفه کي حيس (چکبده) راغلې ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته يې وښياست نن سهار ما د روژې نيولو اراده کړې وه بيا رسول الله ﷺ هغه وخوړل . مسلم .

تخريج : صحيح مسلم: ۲\۸۰۹، رقم: ۱۷۰- ۱۱۵۴.

د لغاتو حل : حَيسٌ: تمر يخلط بسمن ودقيق: (خرما چي اوړه او غوړي ورسره ګډ سي).

تشريح : ما اوس روژه نيولې ده : ددې مطلب دادی چي ما د روژې نيت کړی دی ، ددې څخه

معلومه سوه چي د نفلي روژې نيت په ورځ کي کول جائز دی ، د اکثرو امامانو دا مذهب دی مګر امام مالک رحمۃ اللہ علیہ فرمايي چي روژه هر ډول وي يعني فرض ، سنت يا نفل وي د هغه نيت د شپې څخه کول واجب دی ، ددې مسئلې پوره تفصيل په تيرو صفحو کي بيان سوی دی .

(حيس) د يو خوراک نوم دی چي د مالیدې په ډول وي او د خرما ، غوړو او کرت څخه هم جوړيږي ، په هر حال د حديث د آخري الفاظو مفهوم دادی چي رسول الله ﷺ د روژې په حالت کي د بي بي عائشې رضی اللہ عنہا څخه حيس په اخيستلو سره وخوړی ، ددې څخه معلومه سوه چي بېله عذره نفلي روژه ماتول جائز دي ، د اکثرو علماؤ مذهب دادی مګر امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه او د هغوی پيروان علماء فرمايي چي نفلي روژه په پيل کولو سره د هغه څخه وروسته پوره کول واجب دي او ماتول يې جائز نه دي ، هو د يو عذر په وجه مثلاً د ميلمه په وجه يا داسي بل عذر وي نو بيا يې ماتولای سي مګر په دې صورت کي هم د هغه قضا واجب کيږي ، دا حديث په دې باره کي د حنيفه د مذهب خلاف دی ځکه ددې تاويل دا کيږي چي رسول الله ﷺ بېله عذره روژه نه وه ماته کړې بلکه رسول الله ﷺ ته يو داسي عذر وړاندي سوی وو چي د هغه په وجه يې روژه ماته کړه چي هغه دلته ذکر سوی نه دی ، په دغه مسئله کي د حنيفه دليل مخته را روان دی .

د نفلي روژې ماتول

﴿۱۹۷۷﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُمِّ سُلَيْمٍ

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ بي بي ام سليم ته تشريف يوور ،

فَأَتَتْهُ بِتَمْرٍ وَسَمْنٍ قَالَ أَعِيدُوا سَمْنَكُمْ فِي سِقَائِهِ وَتَمْرَكُمْ فِي وِعَائِهِ فَإِنِّي

هغې د رسول الله ﷺ په خدمت کي خرما او غوړي وړاندي کړل ، رسول الله ﷺ وفرمايل : غوړي په ژی کي واچوه او خرماوي په لوښي کي ځکه چي زما

صَائِمٌ ثُمَّ قَامَ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ فَصَلَّى غَيْرَ الْمَكْتُوبَةِ فَدَعَا لِأُمِّ سُلَيْمٍ وَأَهْلِ بَيْتِهَا . رواه البخاري

روژه ده ، بيا رسول الله ﷺ د خوني يو کونج ته تشريف يوور نفل لمونځ يې ادا کړ او بي بي ام سليم او د هغې د کورنۍ لپاره يې دعاء وکړل . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۲۲۸، رقم: ۱۹۸۲.

تشريح: په څرګنده دا معلومیږي چې رسول الله ﷺ د ام سلیم رضی الله عنها د میلمستیا سرییره ځکه روژه ماته نه کړه چې رسول الله ﷺ پوهیدی چې په دې سره ام سلیم رضی الله عنها نه خفه کیږي.

په دې اړه چې آیا میلمستیا د نفل روژه نیونکي لپاره عذر دی که یا، که څه هم د مشائخو په نزد اختلاف دی مګر صحیح خبره داده چې د میلمه او کوربه دواړو لپاره میلمستیا عذر دی، په شرط ددې چې کوربه صرف د میلمه په راتلو او د ځان سره د خوراک نه خوړلو په وجه نه یوازي دا چې خوشحاله نسي بلکه ناراضه هم سي همداسي په خوراک کې د کوربه نه ګډون سره د میلمه زړه ماتیږي او یا د هغه د خفه کېدو بیره وي نو په داسي حالت کې میلمستیا عذر دی، او که دا معلومه سي چې د هغه زړه نه خفه کیږي نو روژه ماتول نه دي پکار، دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چې د روژه نیونکي میلمه لپاره دا مستحب دي چې هغه د کوربه او د هغه د کورنۍ په حق کې د خیر دعاء وکړي.

﴿۱۹۷۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دُعِيَ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې بلنه ورکړل سي

أَحَدُكُمْ الى طعام وهوصائم فليقل اني صائم و في رواية قال إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ

په تاسو کې یو چا ته د خوراک او د هغه روژه وي نو دا دي ووایي: چې زما روژه ده او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې هر کله تاسو ته بلنه درکړل سي

فَلْيُجِبْ فَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ وَإِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ . رواه مسلم

نو هغه دبلونکي بلنه ومني او که روژه یې وي نو دوه رکعته لمونځ دي وکړي او که روژه یې نه وي نو هغه ډوډۍ دي وخوري. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۸۰۵، رقم: ۱۵۹- ۱۱۵۰.

تشريح: که روژه نیونکی میلمه د خوراک نه کولو په وجه کوربه په پریشانۍ کې اخته سي یا دخوراک نه کولو په وجه د دښمنۍ او نفرت پیدا کېدو بیره وي نو په دغه صورت کې د نفلي روژې ماتول واجب دي او که میلمه په دې پوه سي چې کوربه د ډوډۍ خوړلو په وجه خوشحاله خو سي مګر د ډوډۍ نه خوړلو په صورت کې پریشاني نه رامنځته کیږي نو په دغه صورت کې

نفلي روژه پوره کول مستحب دي او که د هغه په نزد دواړي خواوي برابري وي نو د هغه لپاره غوره داده چي هغه ووايي چي (اني صائم) يعني زما روژه ده ، که څه هم بلونکي ته ورسي يا ور نسي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

﴿۱۹۷۹﴾: عَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْفَتْحِ فَتحِ مَكَّةَ جَاءَتْ فَاطِمَةُ

د حضرت ام هانئ (رض) څخه روايت دئ چي د مکې د فتح په ورځ کله چي مکه مکرمه فتحه سوه نو بي بي فاطمة (رض) راغلل

فَجَلَسَتْ عَلٰى يَسَارِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَأُمُّ هَانِئٍ عَنْ يَّمِيْنِهِ فَجَاءَتِ الْوَلِيْدَةُ

او د رسول الله ﷺ چپه خوا ته کښېنستل او بي بي ام هانئ د رسول الله ﷺ راسته خوا ته کښېنستل ، نو يوه مينځه راغلل

بِإِنَاءٍ فِيْهِ شَرَابٌ فَنَاوَلْتُهُ فَشَرِبَ مِنْهُ ثُمَّ نَاوَلَهُ أُمَّ هَانِئٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ

او د هغې سره د چښلو يو شى وو مينځې هغه لوښى رسول الله ﷺ ته ورکړ ، رسول الله ﷺ لږ اوبه و چښلې او بيا يې ام هانئ ته ورکړ ، ام هانئ اوبه وچښلې

فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَقَدْ أَفْطَرْتُ وَكُنْتُ صَائِمَةً فَقَالَ لَهَا أَكُنْتِ تَقْضِيْنَ

او بيا يې وويل اې د الله رسوله ! زما روژه وه او ما وچښلې ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا تا يو قضائي روژه نيولې وه ؟

شَيْئًا قَالَتْ لاَ قَالَ فَلاَ يَضُرُّكِ إِنْ كَانَ تَطَوُّعًا . رواه أبو داود والترمذي

هغې وويل : نه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که دا نفلي روژه وه نو هيڅ پروا نسته . ابوداؤد . ترمذي

والدارمي وفي رواية لأحمد والترمذي نحوه وفيه فقالت : يا رسول الله أما

دارمي ، احمد او د ترمذي په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې ام هانئ ووېل : اې د الله رسوله !

إني كنت صائمة فقال : " الصائم أمير نفسه إن شاء صام وإن شاء أفطر .

زما روژه وه، رسول الله ﷺ وفرمایل : نفل روژه نیونکی د خپل نفس خاوند دئ که روژه ونیسي او که یې وخوري .

تخریج: الامام احمد في مسنده ۶\۳۴۱، وابوداود ۲\۸۲۵، رقم: ۲۴۵۶. والترمذي ۳\۱۰۹، رقم: ۷۳۱.

تشریح : د خپل نفس مالک دی : ددې مطلب دادی چي نفلي روژه نیونکی خود مختاره دی که غواړي نو روژه دي ونیسي یعني د روژې نیت دي وکړي او که غواړي روژه ماته کړي یعني روژه نه نیول اختیار کړي ، یا ددې مطلب به دا وي چي نفلي روژه نیونکی د روژې نیولو څخه وروسته هم مختار دی که غواړي روژه پوره کړي او که غواړي ماته یې کړي، په دې صورت کي به ددې تاویل دا وي چي نفلي روژه نیونکي ته ددې خبري اختیار دی که د هغه سره یو مصلحت وي مثلا یو څوک یې میلمستیا وکړي یا یو داسي مجلس ته ورسي چي د هغه په باره کي دا معلومه وي که په روژه ماتولو سره د هغوی سره خوراک او څښاک ونه کړي نو خلک به پریشانه سي نو په دغه صورت کي هغه روژه ماتولای سي چي په خپلو کي د مینې او قرابت فضا برقراره وي نو په دغه الفاظو او معنی سره ا استدلال نسي کیدای چي د نفلي روژې ماتولو څخه وروسته د هغه قضا ضروري نه ده حال دا چي ددې څخه وروسته راتلونکی حدیث په ډیر وضاحت سره د قضا روژې کېدل ثابت کړي دي .

د بي بي ام هاني رضي الله عنها ددغه روایت په اړه د محدثینو په نزد کلام دی ، امام ترمذي رحمة الله علیه فرمایي چي ددې اسناد محل بحث دي او منذري رحمة الله علیه ویلي دي چي دا ثابت نه دی او ددې په اسناد کي ډېر اختلاف دی .

﴿۱۹۸۰﴾: وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ

حضرت زهري د عروة څخه او هغه د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت کوي چي زما او د حفصې

صَائِمَتَيْنِ فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ فَقَالَتْ حَفْصَةُ يَا رَسُولَ

روژه وه، موږ ته خوراک وړاندي سو چي د هغه په خوشبویي سره زموږ خواهش زیات سو او موږ د هغه څخه خوراک وکړ، بي بي حفصې رسول الله ﷺ ته بیان وکړ چي

اللَّهِ إِنَّا كُنَّا صَائِمَتَيْنِ فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ قَالَ اقْضِيَا

زموږ د دواړو روژه وه او موږ ته خوراک وړاندي کړل سو نو موږ وخوړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ددې روژې

يَوْمًا آخَرَ مَكَانَهُ. رواه الترمذي و ذكر جماعة من الحفاظ رووا عن

بله قضائي راوړئ، ترمذي، دا حديث د حفاظو يو ډلي د زهري څخه

الزهري عن عائشة مرسلا ولم يذكروا فيه عن عروة وهذا اصح و رواه

ابوداؤد عن زميل مولى عروة عن عروة عن عائشة.

او زهري د بي بي عائشې څخه مرسلا روايت کړئ دئ چې په هغه کې د عروة يادونه نسته دا صحيح ده، ابوداؤد دا د عروة د آزاد کړي غلام زميل څخه او زميل د عروة څخه او عروة د بي بي عائشې څخه روايت کړئ دئ. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۱۱۲، رقم: ۷۳۵، وابوداؤد ۲\ ۸۲۶، رقم: ۲۴۵۷.

تشريح: د حنفيه مذهب دادی که يو سړی خپل نفلي روژه ماته کړي نو د هغه قضا ضروري ده ددغه حضراتو دليل دغه حديث دی ځکه چې رسول الله ﷺ دا حکم کړی دی چې ددې په بدله کې د قضا په توګه يوه روژه ونيسئ او دا حکم د وجوب په توګه ثابتيږي مګر د شوافع په نزد د نفلي روژې قضا واجب نه ده ځکه د هغوی په نزد دا حکم د استحباب په توګه دی، د روايت آخري خبري زهري د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه دارسال په توګه نقل کړي دي په دې کې لفظ د ارسال د اسناد څخه نه بلکه سقوط راوي په معنی کې دی، د هغه مطلب دادی چې انقطاع واسطه يعني د لومړني روايت د اسناد په لړۍ کې د زهري او د بي بي عائشې په مينځ کې چې د عروه په واسطه وه هغه په دغه روايت کې نسته که څه هم دغه اصطلاح په دغه معنی کې هم استعماليږي مګر مشهوره داده چې مرسل هغه حديث ته وايي چې تابعي يې د صحابي د واسطې ذکر کولو پرته نفلي کړي.

د روژې دار په مخکې خوراک کول

﴿۱۹۸۱﴾: وَعَنْ اُمِّ عُمَّارَةَ بِنْتِ كَعْبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ

د حضرت ام عمارة بنت کعب (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ زمونږ کورته راغلی

عَلَيْهَا فَدَعَتْ لَهُ بِطَعَامٍ فَقَالَ لَهَا كُلِي فَقَالَتْ إِنِّي صَائِمَةٌ فَقَالَ إِنَّ الصَّائِمَ

هغې خوراک ورته راوغوښتئ، رسول الله ﷺ ام عمارة ته وفرمايل: ته يې هم وخوره، هغې

وويل زما روژه ده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل كله چې د روژاتي په مخكي خوراک كيږي

إِذَا أُكِلَ عِنْدَهُ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ حَتّٰى يَفْرَغُوْا . رواه احمد والترمذي و ابن ماجة والدارمي

نو ملائكي تر هغه وخته پوري پر هغه باندي رحمت ليږي تر څو چې خوراک كونكى د خوراک څخه فارغ سي . احمد ، ترمذي ، ابن ماجة او دارمي .

تخريج : الامام احمد في مسنده ٦\ ٣٦٥، والترمذي ٣\ ١٥٣، رقم: ٧٨٥، وابن ماجه ١\ ٥٥٦، رقم: ١٧٤٨، والدارمي ٢\ ٢٨، رقم: ١٧٣٨.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿١٩٨٢﴾: عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ دَخَلَ بلال على رسول الله ﷺ وهو يتغدى فقال

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د سهار دوډى خوړل چې بلال رضي الله عنه دده مبارک په خدمت كي حاضر سو ،

رسول الله ﷺ الغداء يا بلال قال إني صائم يا رسول الله فقال رسول الله

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې بلاله ! د سهار خوراک حاضر دئ ، بلال عرض وكړ اې د الله رسوله ! زما روژه ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل :

ﷺ نأكل رزقنا وفضل رزق بلال في الجنة أشعرت يا بلال أن الصائم

موږ خپل رزق خورو او د بلال رزق په جنت كي دئ بيا يې وفرمايل : اې بلاله ايا تا ته څرګنده ده چې د روژاتي

نسبح عظامه وتستغفر له الملائكة ما أكل عنده . رواه البيهقي في شعب الإيمان

هډوكي تسبيح وايي او تر څو چې د هغه په مخكي خوراک كيږي د هغه لپاره ملائكي بخښنه غواړي . بيهقي په شعب الايمان كي

تخريج : البيهقي في شعب الايمان ٣\ ٢٩٧، رقم: ٣٥٨٦.

بَابُ لَيْلَةِ الْقَدْرِ (د شب قدر بيان)

په دغه باب کي د ليلة القدر عظمت ، فضيلت او هغه وختونه بيانيږي چي په هغو کي ددغه مقدس ساعت د راتلو قوي اميد وي، دغه شپې ته ليلة القدر ځکه ويل کيږي چي د بندګانو د رزق ، د هغوی د ژوند او مرګ او هغه واقعات او کارونه چي په ټول کال کي کيدونکي دي هغه ټول په دغه شپه کي ليکل کيږي ، ځيني حضرات وايي چي ددغه شپې د عظمت په وجه ددې نوم ليلة القدر دی .

ددغه شپې په ټاکنه کي ډېر زيات اقوال دي ، د اکثرو حديثو څخه دا خبره ثابتيږي چي دا مقدسه شپه د رمضان المبارک په مياشت کي راځي په خاصه توګه د رمضان د آخري لسيزي په طاقو شپو کي او په خاصه توګه اووه ويشتمه شپه ليلة القدر وي او اکثر علماء اووه ويشتمه شپه ليلة القدر مني .

د ليلة القدر سعادت په خاصه توګه د امت محمدي لپاره مخصوص سوی دی چي ددغه امت خلک د خپل لږ عمرونو سربيره زيات ثواب ترلاسه کړي، په دې اړه يو روايت هم منقول دی چي د هغه خلاصه داده کله چي رسول الله ﷺ ته د مخکنيو امتونو د زيات عمرونو په باره کي معلومه سوه نو رسول الله ﷺ افسوس وکړ چي زما د امت خلک به په دغه لږ عمرونو کي د هغه خلکو په ډول زيات نيک کارنسي کولای نو الله تعالی د رسول الله ﷺ په واسطه دده امت ته د ليلة القدر عظيم سعادت ورکړ کوم چي ترزرو مياشتو غوره ده.

په يو بل روايت کي چي د ابن ابي حاتم رضی الله عنه څخه منقول دی بيان سوی دی چي يوه ورځ نبي کريم ﷺ د بني اسرائيلو د څلورو کسانو ذکر وکړ چي هغوی تر اتيا اتيا کالو پوري د الله تعالی عبادت وکړ او د هغوی يوه لحظه هم د الله تعالی په نافرماني کي تيره نه سوه او هغه کسان دا وه :

۱. حضرت ايوب عليه السلام .
۲. حضرت زکريا عليه السلام .
۳. حضرت حزقيل عليه السلام .
۴. حضرت يوشع ابن نون عليه السلام .

د دې په اورېدو سره صحابه کرامو ډېر تعجب وکړ او آرزو يې وکړه چي کاش زمونږ هم دومره عمرونه وای چي مونږ هم دومره اوږد وخت پوري د الله تعالی په عبادت کي بوخت وای ،

بیا حضرت جبرائیل علیہ السلام رسول الله ﷺ ته تشریف راوړ او هغه وویل اې محمد ﷺ ! ستا امت ته دي د هغه خلکو د اتیا اتیا کالو په عبادت کي تعجب نه وي الله تعالی خیر او ښېګڼه عطا کړل ، نو هغه د رسول الله ﷺ په وړاندي (انا انزلناه في ليلة القدر) پوره سورت ووایه چي د هغه په ذریعه دا عظیم زیری ورکړل سوی دی چي ليلة القدر ستاسو او ستاسو امت ته ورکړل سوې ده او د هغه شیانو څخه غوره ده چي هغه لپاره تاسو او ستاسو امت ارزو کوي ، پر دغه عظیم زیری او خوشبختی باندي رسول الله ﷺ ډېر زیات خوشحاله سو .

دلته دا خبره هم په ذهن کي ساتل پکار دي چي د زرو کالو څخه درو اتیا کاله او څلور میاشتي جوړیږي ځکه یې وفرمایل چي : (خير من الف شهر) یعني ليلة القدر د زرو میاشتو څخه غوره ده چي درو اتیا کاله او څلور میاشتي سوې .

په ليلة القدر کي د الله رب العزت د رحمت خاص تجلي د دنیا پر آسمان باندي د لمر لوېدو د وخت څخه تر سهار پوري وي په دغه شپه کي ملائکي او ارواح طیبة، علماء او عابدین سره ملاقات لپاره راکښته کیږي په دغه مقدسه شپه کي د قرآن کریم نزول وسو دا هغه شپه ده چي په دې کي د ملائکو پیدائش وسو ، په دغه شپه کي د حضرت آدم علیه السلام ماده جمع کېدل پیل سول ، په دغه شپه کي د جنت درختي ولګول سوې ، په دغه شپه کي د عبادت ثواب د نورو وختونو د عبادت څخه ډېر زیات وي او دا هغه مقدسه شپه ده چي په هغه کي بنده د ژبي او زړه څخه وتلې دعاء د الله تعالی په دربار کي په قبولیت سره نازول کیږي .

شریعت په واضحه توګه سره یوه شپه په ټاکني سره نه ده ښودلې چي ليلة القدر په فلانی شپه کي ده، دا شپه پټه ساتل سوې ده ، ددې وجه داده که چیري دا څرګنده سي نو د عبادت او طاعت په لور به د خلکو میلان نه وای بلکه هغوی به یوازي د دغه شپې په عبادت کولو سره دا ګټلای چي موږ د پوره کال عبادت څخه هم زیات ثواب ترلاسه کړ ځکه نو دا شپه ټاکل سوې نه ده چي خلک هر وخت په عبادت او طاعت کي بوخت وي یوازي پر یوه شپه باندي په اعتماد کولو سره نه کښیني .

علماء لیکي کوم څوک چي ټول کال د الله تعالی د عبادت لپاره د شپې بیداري اختیار کړي نو انشاء الله تعالی هغه ته به د شب قدر سعادت خامخا ترلاسه سي ځکه ویل سوي دي : (من لم يعرف قدر ليلة لم يعرف ليلة القدر) کوم سړی چي د شپې قدر ونه پیژني یعني د الله تعالی د عبادت لپاره یې د شپې بیداري ونه کړه نو هغه به د ليلة القدر عظمت او سعادت څه وپیژني ، ځینې علماء وایي چي د دغه شپې یو څه داسي نښي ستې چي د حدیثو او آثارو څخه منقول دي

او ځيني نښي اهل کشف خلکو پيژندلي دي ، طبري رحمة الله عليه د يو ډلي څخه نقل کړی دی چې په دغه شپه کې د رختي الله تعالی ته سجده کوي او پر مځکه لويږي او بيا بيرته خپل حالت ته راسي همداسي په دغه شپه کې هر شی سجده کوي.

مګر صحيح خبره داده چې د دغه شپې د تعين په اړه دا شيان ليدل شرط نه دي ځکه چې اکثر خلک دا مقدسه شپه تر لاسه کړي مګر هغه د رختي پر سجده نه وينې او نه ټول شيان ورته په سجده کولو معلوميږي ځکه کيدای سي چې په يو ځای کې دوه خلک موجود وي او هغه دواړه شب قدر تر لاسه کړي او په هغوی کې يوه ته دا نښې معلومې سي مګر دوهم ته هيڅ محسوس نه سي ، په هر حال تر ټولو لويه نښه داده چې په دغه مقدسه شپه کې د الله تعالی عبادت، ذکر او مناجات ، خشوع او خضوع او اخلاص او توفيق تر لاسه کيږي نو پوه دي سي چې دا عظيم سعادت تر لاسه سو .

په دغه شپه کې د بيداري کولو لپاره صحيح مسئله داده چې د شپې په اکثره برخه کې د الله تعالی د عبادت لپاره بيداره کېدل معتبر دي ، هو که يو سړی ټوله شپه بيداره وي نو غوره ده په شرط د دې چې په داسي کولو سره په يو ناروغی او تکليف کې اخته نسي کنه نو د شپې په کومه برخه کې چې د بيداره کېدو او عبادت او ذکر کې د بوختيا توفيق ورته تر لاسه نسي نو انشاء الله تعالی مقصد به يې تر لاسه سي : وليس للانسان الا ما سعى و كان سعيه مشكورا. رزقنا الله. آمين.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د شب قدر شپې

﴿۱۹۸۳﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ . رواه البخاري

د عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : شب قدر د روژې د آخري لسيزې په طاق نيټو کې لټوئ . (يعني يو ويشتم، درويشتم، پنځه ويشتم، اووه ويشتم او نهه ويشتم کې) . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري)، ۴\ ۲۵۹، رقم: ۲۰۱۷.

تشريح : د رمضان په آخري لسيزه کې د طاق شپو څخه مراد : يو ويشتم، درويشتم ، پنځه ويشتم، اووه ويشتم او نهه ويشتم شپې دي .

﴿۱۹۸۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَنَّ رِجَالًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ ځينو اصحابو ته

وَسَلَّمَ أُرُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

شب قدر د روژې په آخري اووه شپو کې په خوب کې وښودل سو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ فَمَنْ كَانَ

ستاسو خوبونه په آخري اوو شپو متفق سول، نو څوک چې

مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ. متفق عليه

شب قدر لټوي هغه دي يې په آخري اوو شپو کې و لټوي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۲۵۶، رقم: ۲۰۱۰. ومسلم ۲\ ۸۲۲، رقم: ۲۰۵- ۱۱۶۵.

تشريح: احتمال دی چې د آخري شپو څخه هغه شپې مراد وي چې د شلو څخه سمدستي وروسته دي يعني د يوويشتمي څخه تر اووه ويشتمي شپې پورې يا تر تولو آخري اووه شپې هم مراد کيدای سي يعني د درويشتمي شپې څخه تر نهه ويشتمي شپې پورې او نهه ويشم تاريخ يقيني وي ځکه ددې مطابق دي حساب وکړل سي په دې باره کې آخري احتمال يعني دا چې د درويشتمي شپې څخه تر نهه ويشتمي شپې پورې مراد دي.

﴿۱۹۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْتَمِسُوهَا فِي

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: لټوئ

الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي تَاسِعَةٍ تَبْقَى فِي سَابِعَةٍ تَبْقَى فِي

خَامِسَةٍ تَبْقَى. رواه البخاري

شب قدر د روژې په آخري لسيزه کې. يعني په يوويشتم، اووه ويشتم او پنځه ويشتم کې. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۲۶۰، رقم: ۲۰۲۱.

تشريح: د ليلة القدر تر لاسه کولو لپاره د رمضان د آخري لسيزي د يو څو شپو دلته ذکر سوی

دی چي په دغه شپو کي عبادت او ذکر کي بوختيا اختيار کړل سي چي ليلة القدر په دغه شپو کي په يوه شپه کي راسي نو د هغه سعادت به تر لاسه سي ، په حديث کي د شپو د ترتيب په اړه چي کوم طرز اختيار کړل سوی دی د هغه وضاحت په ترجمه کي سوی دی چي په دغه ترتيب سره مراد يو ويشتمه، درويشتمه، پنځه ويشمه شپه ده مګر په دې اړه په حديث کي ذکر سوي شپې همداسي د آخر څخه هم شمیرل کيداى سي چي ليلة القدر و لټوئ د شلمي شپې څخه وروسته په نهمه شپه کي چي هغه يو کم ديرشمه شپه ده او د شلمي شپې څخه وروسته په اووه شپه کي چي هغه اووه ويشتمه شپه ده او د شلمي شپې څخه وروسته پنځمه شپه کي چي هغه پنځه ويشتمه شپه ده ، دا وضاحت زيات صحيح معلوميږي مګر علامه يحيى رحمة الله عليه فرمايي چي په حديث کي کومي شپې ذکر سوي دي د هغو څخه مراد دادی چي درويشتمه، څليرويشتمه شپه او شپږ ويشتمه شپه ده

﴿۱۹۸۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَكَفَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ اعتکاف وکړ

الْعَشْرَ الْأَوَّلَ مِنْ رَمَضَانَ ثُمَّ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ فِيْ قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ ثُمَّ

د روژې په لومړی لسيزه کي ، بيا يې په منځنی لسيزه کي په يوه ترکی خيمه کي بيا

أَطْلَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ إِنِّيْ اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ أَلْتَمِسُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ اعْتَكَفْتُ

(يوه ورځ يې) د خيمې څخه سر راوايستئ او وې فرمايل : ما په لومړی لسيزه کي شب قدر لټولو لپاره اعتکاف کړئ وو ، بيا ما

الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ ثُمَّ أُتِيتُ فَقِيلَ لِيْ إِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فَمَنْ كَانَ اعْتَكَفَ

په منځنی لسيزه کي اعتکاف وکړ نو ما ته يوه ملائکه راغلل او هغې راته وښودل چي شب قدر د روژې په آخري لسيزه کي دئ نو څوک چي زما سره اعتکاف کول غواړي

مَعِيْ فَلْيَعْتَكِفِ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ وَقَدْ أُرِيتُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ أُنْسِيتُهَا وَقَدْ

نو هغه دي په آخري لسيزه کي اعتکاف وکړي ، ما ته شب قدر په خوب کي وښودل سوی وو خو زما څخه هير سو ،

رَأَيْتُنِي أَسْجُدُ فِي مَاءٍ وَطِينٍ مِنْ صَبِيحَتِهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ

ما په خوب کي خپل ځان په داسي حال کي وليدئ چي زه د شپې قدر په سهار کي په اوبو او خټه کي سجده کوم ، تاسو شب قدر په آخري لسيزه کي لټوئ

وَالْتَمِسُوهَا فِي كُلِّ وِتْرٍ فَمَطَرَتْ السَّمَاءُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَكَانَ الْمَسْجِدُ عَلَى عَرِيشٍ

او په هر طاق شپه کي يې لټوئ ، د راوي بيان دئ په کومه شپه چي رسول الله ﷺ شب قدر ليدلی وو په هغه شپه باران سوی وو او د مسجد بام د خرماوو د لښتو څخه وو

فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ فَبَصُرَتْ عَيْنَايَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَبْهَتِهِ

او په هغه باران سره مسجد و څڅېدئ ، ما د رسول الله ﷺ پر مخ مبارک

أَثَرُ الْمَاءِ وَالطِّينِ مِنْ صَبِيحَةِ إِحْدَى وَعِشْرِينَ، متفق عليه في المعنى

د خاورو او اوبو نښي وليدلې او دا د يوويشتمي ورځي سهار وو . بخاري او مسلم

واللفظ لمسلم الى قوله فقيل لي انها في العشر الاواخر و الباقي للبخاري و

في رواية عبدالله بن انيس قال ليلة ثلث و عشرين . رواه مسلم

. د امام مسلم په يوه روايت کي يوازي تر عشر اواخر پوري ذکر دئ او پوره حديث د امام بخاري څخه نقل دئ او د عبدالله بن انيس په روايت کي د دروېشتم لفظ نسته . مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\۲۵۶، رقم: ۲۰۱۶، ومسلم ۲\۸۲۴، رقم: ۲۱۳- ۱۱۶۷.

تشريح : ترکي خيمه د يو ډول خيمې نوم وو چي په نمده نامي ځای کي جوړېدل او په سايز کي کوچنۍ وه ، دغه خيمې ته په فارسي کي خرګاه وايي ، د روايت په آخر کي لفظ د من صبيحة کي من د معنی په اعتبار د في پر ځای استعمال سوی دی او دا د بصرت متعلق دی .

په هر حال د روايت په آخر کي چي څه بيان سوی دی د هغه خلاصه داده چي رسول الله ﷺ په کومه شپه کي ليلة القدر په خوب کي ليدلی وو نو په خوب کي يې دا هم وليدل چي زه د ليلة القدر په سهار کي په اوبو او خاورو کي سجده کوم او هغه شپه باران سوی وو ، رسول الله ﷺ چي سهار په مسجد کي لمونځ کړی وو نو په دغه حال کي يې سجده وکړه چي د مسجد مځکه د

بام څخېدو په وجه ختمې وه چې د هغه نښه د رسول الله ﷺ پر مخ مبارک څرګنده وه ، ګویا راوي هغه باران د رسول الله ﷺ د خوب د شپې نښه وګرځول او دا واقعه د یوویشتمي یا درویشتمي شپې وه ځکه راوي ددغه نښي په ذریعه دا معلومه کړه چې لیلة القدر په یوویشتمه یا درویشتمه شپه کې دی ځکه په دغه شپه کې رسول الله ﷺ لیلة القدر ولیدی .

د شب قدر نښه

﴿۱۹۸۷﴾: وَعَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ فَقُلْتُ إِنَّ أَخَاكَ ابْنَ

د زر بن حبیش رضی الله عنه څخه روایت دئ چې ما د ابی بن کعب رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې ستا (دیني) ورور

مَسْعُودٍ يَقُولُ مَنْ يَقُمُ الْحَوْلَ يُصِبْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَقَالَ رَحِمَهُ اللَّهُ أَرَادَ أَنْ لَا

ابن مسعود رضی الله عنه وایي څوک چې د کال په ټولو شپو کې عبادت وکړي نو هغه شب قدر تر لاسه کوي، ابی بن کعب وویل : الله دي پر هغه رحم وکړي هغه له دې کبله ویلي دي چې داسې نه وي

يَتَّكِلَ النَّاسُ أَمَا إِنَّهُ قَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِي رَمَضَانَ وَأَنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ وَأَنَّهَا

چې خلک پر دې شپه باور وکړي ، حال دا چې ابن مسعود رضی الله عنه ته څرګنده وه چې شب قدر په روژه کې وو او د روژې په آخري لسیزه کې دئ او هغه

لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ ثُمَّ حَلَفَ لَا يَسْتَثْنِي أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ فَقُلْتُ

اووه ویشتمه شپه ده ، ابی بن کعب رضی الله عنه قسم واخیستی چې هغه اووه ویشتمه شپه ده ، او انشاء الله یې نه وویل، ما پوښتنه وکړه چې

بِأَيِّ شَيْءٍ تَقُولُ ذَلِكَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ قَالَ بِالْعَلَامَةِ أَوْ بِالْآيَةِ الَّتِي أَخْبَرَنَا رَسُولُ

ته په څه دلیل سره داسې وایي ؟ هغه وویل : په هغه نښو سره چې مونږ ته رسول الله ﷺ بنودلي دي

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا . رواه مسلم

یعني ددې شپې په سهار چې لمر راخیژي نو په هغه کې رڼا نه وي (یعني ډیره کمه رڼا یې وي) مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱\ ۵۲۵، رقم: ۱۷۹- ۷۶۲.

تشریح : (ان لا یتکل الناس) یعني چې خلک په باور کولو سره نه کښیني ، ددې مطلب دادی چې که څه هم دا قول صحیح دی چې لیلة القدر په اووه ویشتمه شپه کې دی او د غالب ګمان په

اعتبار پر دې فتوا هم ده مګر ابن مسعود رضي الله عنه دا ځکه متعين نه ګڼل چې خلک په دغه قول باور ونه کړي او په دې ګڼلو سره چې ليلة القدر په اووه ويشتمه شپه کې ده يوازې په دغه شپه کې د عبادت لپاره د شپې بيداري کوي او په پاته شپو کې يې پريږدي نو هغه په زياتو شپو کې خلک د بيداري په لور راغب کولو لپاره وويل چې ليلة القدر د کال په يوه شپه کې راتلای سي.

اووه ويشتمه شپه د ليلة القدر ګرځولو په اړه د ابی بن کعب رضي الله عنه قسم اخيستل د غالب ګمان په وجه وو ځکه هغه په قسم کولو سره انشاء الله ونه ويل، که يو سړی په قسم کولو سره انشاء الله هم ووايي نو نه يوازې دا چې قسم يقيني نه سو بلکه په شرعي توګه سره هغه منعقد کيږي هم نه، نو ابی بن کعب رضي الله عنه قسم وکړ او انشاء الله يې ونه ويل چې قسم جزما وي.

په دغه حديث کې د ليلة القدر يوه نښه دا بنودل سوې ده چې کومه شپه ليلة القدر وي د هغې په سهار کې لمر راخيږي نو تر يو څه وخته پورې په هغه کې شعاوي نه وي ځيني د نظر خاوندان فرمايي چې دا نښه داسې ده چې د هغه په واقع کيدو کې څه شک او شبه نسته او د دې مشاهده کيدای سي.

د روژې په آخري لسيزه کې

﴿۱۹۸۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهِ. رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د روژې په آخري لسيزه کې دومره هڅه کول چې په بله لسيزه کې به يې دومره نه کوئ. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۲\ ۸۳۲، رقم: ۸- ۱۱۷۵.

تشريح: مطلب دادی چې رسول الله ﷺ به د رمضان په آخري لسيزه کې عبادت او طاعت د هر کوی ځکه چې په دغه لسيزه کې د ليلة القدر عظيم سعادت تر لاسه کيږي.

﴿۱۹۸۹﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ وَأَحْيَا لَيْلَهُ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ. متفق عليه

د عائشې (رض) څخه روايت دئ چې کله به د روژې آخري لسيزه راغلل نو رسول الله ﷺ به خپل لونګ تهنګ وترئ د شپې به ولاړ ېدئ او خپل کورنۍ به يې هم پورته کول. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۲۶۹، رقم: ۲۰۲۴، ومسلم ۲\ ۸۳۲، رقم: ۷- ۱۱۷۴.

تشریح : لونګ تینګ ترڅ : دا په اصل کي ددې خبري کنایه ده چې رسول الله ﷺ به په آخري لسیزه کي د خپل عادت او معمول څخه هم ډېر زیات عبادت او مجاهده کول ، یا ددې خبري څخه هم کنایه کیدای سي چې په دغه لسیزه کي به رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو څخه بیل اوسیدی یعني صحبت او مباشرت څخه به یې پرهیز کوی .

د شپې رونولو : مطلب دادی چې رسول الله ﷺ به د شپې په اکثره برخه کي یا په پوره شپه کي لمونځ، ذکر او د قرآن کریم په تلاوت کي بوخت وو .

دلته ددې خبري خیال ساتل پکار دي چې په یوه روایت کي دا منقول دي چې : (انه علیه السلام ما سهر جمیع اللیل کله) : یعني رسول الله ﷺ به ټوله شپه بیداري نه کول، ددې څخه مراد دادی چې رسول الله ﷺ به همیشه یا اکثر ټوله شپه نه وېښید ، نو یوه یا دوې شپې ټوله شپه وېښ کېدل د دغه روایت خلاف نه دي ، او خپل کورنۍ به یې بیداره کول : یعني رسول الله ﷺ به خپلو بیبانو مبارکانو، لونډو ، مینزو او غلامانو ته د آخري لسیزې په ځینو شپو کي د بیداري تلقین کوی او هغوی به یې د الله تعالی په عبادت کي بوخت ساتل تر څو د لیلة القدر سعادت د هغوی په برخه سي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د شب قدر دعاء

﴿۱۹۹۰﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ اَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې ما د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله ! که ما ته شب قدر څرګند سي

الْقَدْرِ مَا أَقُوْلُ فِيْهَا قَالَ قُوْلِي اللّٰهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي . رواه احمد وابن ماجة والترمذي و صححه .

نو زه په هغه کي څه ووایم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا کلمات وایه: (اللهم ...) اې الله ته عفوه کونکی یې عفه کول خوښوي نو ما معاف کړې . احمد ، ابن ماجة او ترمذي دې حدیث ته صحیح ویلي دي .

تخریج: الامام احمد في مسنده ۱۷۱\۶، والترمذي ۴۹۹\۵، رقم: ۳۵۱۳، وابن ماجه ۱۲۶۵\۲، رقم: ۳۸۵۰

تشريح : علماء ليکي چي دغه دعاء د دنيا او آخرت د ټولو ښېګڼو لپاره جامع ده ځکه چي د الله تعالى د لوري د بنده په معامله کي عفو، معافي، بخښنه تر ټولو لوی عظيم سعادت دی چي د هر خير او ښېګڼي د عروج نقطه ده، په يوه روايت کي فرمايل سوي دي چي د بنده د لوري د الله تعالى په دربار کي هيڅ سوال د عافيت او بخښني څخه غوره نه دی.

﴿۱۹۹۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت ابوبکره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي

الْتَمِسُوهَا يعني ليلة القدر فِي تِسْعٍ يَبْقَيْنَ أَوْ فِي سَبْعٍ يَبْقَيْنَ أَوْ فِي خَمْسٍ يَبْقَيْنَ أَوْ فِي ثَلَاثٍ أَوَاخِرِ لَيْلَةٍ. رواه الترمذي

شب قدر په يو ويشتم، دروېشتم، پنځه وېشتم او اووه وېشتم شپو کي لټوئ يا په آخري شپه کي يې لټوئ. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۱۶۰، رقم: ۷۹۴.

شب قدر په هره روژه کي وي

﴿۱۹۹۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ فَقَالَ هِيَ فِي كُلِّ رَمَضَانَ. رواه ابوداؤد و قال رواه سفيان و شعبة عن ابي اسحاق موقوفا على ابن عمر.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه د شب قدر په اړه پوښتنه وسول، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: دا په هره روژه کي وي، ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۱۱۱، رقم: ۱۳۸۷.

تشريح : د هر رمضان دوې معناوي دي: يوه معنا خو داده چي هيڅ رمضان د شب قدر څخه خالي نه وي يعني هر کال چي رمضان راځي نو په هغه کي ليلة القدر هم راځي، دوهمه معنى داده چي شب قدر د رمضان په پوره مياشت کي په يوه شپه کي راتلای سي او د آخري لسيزي څه خاصوالى نسته، مګر ددې معنى سره سم به دا تاويل کيږي چي مخکي خو رسول الله ﷺ ته

معلومه سوې وه چې ليلة القدر په ټول رمضان کې يوه شپه راتلای سي مګر وروسته دا ثابته سوه چې د دغه مقدسي شپې لرونکي يوازې آخري لسيزه ده د آخري لسيزې څخه پرته په بله يو برخه کې ليلة القدر نه راځي.

د يو صحابي تجربه

﴿۱۹۹۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ اُنَيْسٍ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ لِيْ بَادِيَةً اَكُوْنُ

د حضرت عبد الله ابن انيس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما عرض وکړ اې د الله رسوله! زما کور په ځنګل کې دئ زه هلته اوسيږم

فِيْهَا وَاَنَا اُصَلِّيْ فِيْهَا بِحَمْدِ اللّٰهِ فَمُرْنِيْ بِلَيْلَةٍ اَنْزِلُهَا اِلٰى هٰذَا الْمَسْجِدِ فَقَالَ

او هلته لمونځ کوم د الله جل جلاله شکر دئ نو ما ته يوه شپه وښياست (يعني شب قدر) چې په هغه کې زه د عبادت لپاره مسجد نبوي ته حاضر سم، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

اَنْزِلْ لَيْلَةَ ثَلٰثٍ وَّعِشْرِيْنَ قِيْلَ لِاِبْنِهٖ كَيْفَ كَانَ اَبُوْكَ يَصْنَعُ قَالَ كَانَ يَدْخُلُ

په درويشتمه شپه راسه، د عبد الله د زوی څخه پوښتنه وسول چې ستا پلار به څه کول؟ هغه وويل: هغه به ننوتئ

الْمَسْجِدَ اِذَا صَلَّى الْعَصْرَ فَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ لِحَاجَةٍ حَتّٰى يُصَلِّيَ الصُّبْحَ فَاِذَا صَلَّى

په درويشتم تاريخ د مازديګر د لمانځه وروسته مسجد نبوي ته او د مسجد څخه به د يو کار لپاره نه وتئ تر څو چې د سهار لمونځ به يې وکړ بيا

الصُّبْحَ وَجَدَ دَابَّتَهُ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ فَجَلَسَ عَلَيْهَا فَلَحِقَ بِبَادِيَتِهٖ. رواه ابوداؤد.

د سهار د لمانځه وروسته به د مسجد څخه راووتئ او پر خپل سپرلي به چې د مسجد د باندې به ولاړ وو سپور سو او خپل ځنګل ته به تلئ. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۲\۱۰۸، رقم: ۱۳۸۰.

تشريح: دلته يو اشکال پيدا کيږي چې د دغه روايت سره د ليلة القدر تعين لازميږي او حال دا چې هغه متعين نه دی، نو ددې جواب دادی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم عبد الله رضي الله عنه ته په کوم کال دا خبره

نبودلې وه په هغه کال به ليلة القدر په درويشتمه شپه راغلی وي چې د هغه علم به رسول الله ﷺ ته سوی وو ، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل چې درويشتمي شپې ته مسجد نبوي ته راسه مګر عبدالله رضي الله عنه د هغه څخه دا وګڼل چې شب قدر هر کال په دغه تاريخ کي وي او کوم چې ددې خبري تعلق دی چې رسول الله ﷺ ته هم شب قدر متعين معلوم نه وو نو ددې څخه مراد دادی چې رسول الله ﷺ ته د هر کال د شب قدر تعين معلوم نه وو نو رسول الله ﷺ ته کله کله د شب قدر متعين کېدل ددې خلاف نه دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

درسول الله ﷺ څخه د شب قدر هيريدل

﴿۱۹۹۴﴾: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ راووتئ د کور څخه

لِيُخْبِرَنَا بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ

موږ ته د شب قدر د خبر را کولو لپاره ، نو دوه مسلمانان يې په جګړه وليدل ، رسول الله ﷺ وفرمايل : زه تاسو ته د شب قدر د خبر درکولو لپاره راوتلی وم

بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ فَرُفِعَتْ وَعَسَى أَنْ يَكُونَ خَيْرًا لَكُمْ

چې فلانی او فلانی مي په جګړه وليدل ، د شب قدر خبر زما څخه پورته کړل سو ، کيدای سي ستاسو لپاره په دې کي خير وي

فَالْتَمِسُوهَا فِي التَّاسِعَةِ وَالسَّابِعَةِ وَالْخَامِسَةِ . رواه البخاري

نو تاسو يې په نهه ويشتمه ، اووه ويشتمه او پنځه ويشتمه شپه کې ولټوئ . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\ ۲۶۷، رقم: ۲۰۲۳.

د لغاتو حل: فتلاحى: اى تخاصم وتنازع (په خپلو کي جګړه يې وکړه).

تشريح : ځيني حضرات فرمايي چې دوه کسان چې په هغه ځای کي په جګړه سوي وه په هغو کي د يوه نوم عبدالله ابن ابي حذروا او د دوهم نوم کعب ابن مالک وو .

د ليلة القدر تعين پورته کړل سو : ددې مطلب دادی چې د هغه دواړو د جګړې په وجه د

ليلة القدر د تعين علم زما د ذهن څخه محوه کړل سو ، ددې څخه معلومه سوه چې په خپلو کې جګړه کول او منافرت او دښمني اختيارول دېره خرابه خبره ده په دې وجه سړی د دېرو برکتو او خير څخه محروم کيږي .

کيدای سي ستاسو لپاره دا غوره وي : د دې مطلب دادی چې د ليلة القدر په باره کې چې کوم تعين ما ته ښودل سوی وو نو اوس را څخه هير سوی دی که تاسو ته ما ښودلی وای نو تاسو به يوازې په هغه شپه په باور کولو سره ناست وای اوس د هغه د تعين د علم نه کېدو په صورت کې نه يوازې دا چې تاسو خلک به د هغه په لټولو کې دېر زيات کوښښ کوئ بلکه په عبادت او طاعت کې به هم زيات توب کوئ چې ظاهره ده ستاسو په حق کې غوره او د خير خبره ده .

د شب قدر فضيلت

﴿۱۹۹۵﴾: وعن أنس قال : قال رسول الله ﷺ : " إذا كان ليلة القدر نزل

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چې شب قدر راسي نو

جبريل عليه السلام في كبكبة من الملائكة يصلون على كل عبد قائم أو

جبرائيل عليه السلام د ملائکو د ډلې سره راځي او پر هر هغه بنده رحمت ليږي يا د هغه د بخښنې لپاره دعاء غواړي چې په ولاړه يا

قاعد يذكر الله عز وجل فإذا كان يوم عيدهم يعني يوم فطرهم باهى

په ناسته د الله ذکر او عبادت کوي ، بيا چې کله د مسلمانانو د اختر ورځ سي نو الله تعالى د

بهم ملائكته فقال : يا ملائكتي ما جزاء أجير وفى عمله ؟ قالوا : ربنا

خپلو بندګانو په سبب په ملائکو فخر کوي او فرمايي : اې زما ملائکو ! د هغه مزدور څه مزدوري ده کوم چې خپل کار پوره کړي ؟ ملائکې عرض کوي اې الله!

جزاؤه أن يوفى أجره . قال : ملائكتي عبيدي وإمائي قضوا فريضتي عليهم

د هغه مزدوري داده چې پوره بدله ورکړل سي ، الله تعالى فرمايي : اې زما ملائکو زما غلامانو او زما مينځو فرض ادا کړل

ثم خرجوا يعجون إلى الدعاء وعزتي وجلالي وكرمي وعلوي وارتفاع مكاني

بيا هغوی د کورو ځخه د دعاء لپاره عيدګاه ته ووتل زما دي په خپل عزت، جلال، کرم، علو او

لأجيبنهم . فيقول : ارجعوا فقد غفرت لكم وبدلت سيئاتكم حسنات .

لوړ منزلت قسم وي چې زه به د دوی دعاء قبوله کړم بيا الله تعالی فرمايي : خپلو کورو ته ستانه سئ ما تاسو و بخښلاست او ما ستاسو ګناهونه په نيکيو بدل کړل .

قال : فيرجعون مغفورا لهم " . رواه البيهقي في شعب الإيمان

رسول الله ﷺ وفرمايل : نو مسلمانان د عيدګاه ځخه په داسي حال کي ستنيږي چې د هغوی ګناهونه بخښل سوي وي . بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۳\ ۴۳۴، رقم: ۳۷۱۷.

د لغاتو حل: کبکبة: ای جماعة (ډله).

========

بَابُ الْاِعْتِكَافِ (د اعتکاف بيان)

د اعتکاف معنی په لغت کي په يو ځای کي پاته کېدل او په يو ځای کي بند اوسيدل دي او د شريعت په اصطلاح کي د اعتکاف مفهوم دادی چې د الله تعالی د رضا او خوښۍ لپاره د اعتکاف په نيت سره په يو مسجد کي کښيني .

د اعتکاف لپاره نيت د هغه مسلمان او مسلماني معتبر دی چې عاقل وي او د جنابت ، حيض او نفاس ځخه پاک وي ، د رمضان په آخري لسيزه کي اعتکاف کول سنت مؤکده دی ځکه نبي کريم ﷺ به د رمضان په آخري لسيزه کي هميشه اعتکاف کوی، په در مختار کي ليکلي دي چې سنت مؤکده علی الکفايه دی يعني که يو سړی هم اعتکاف وکړي نو د ټولو له لوري حکم ادا کيږي او په دې صورت کي نور اعتکاف نه کونکو باندي هيڅ ملامتيا نسته،

د اعتکاف لپاره په ژبه سره نذر منلو باندي اعتکاف واجب کيږي که هغه في الحال وي لکه يو ځوک ووايي چې زه د الله تعالی لپاره پر خپل ځان د دومره ورځو اعتکاف لازم کوم ، او که معلق وي لکه يو ځوک ووايي چې زه دا نذر منم که زما دا کار وسي نو زه به دومره ورځې اعتکاف کوم .

د اعتکاف دوه ډولونه دي: يعني سنت مؤکده کوم چې د رمضان په آخري لسيزه کي دی او

دوهم واجب چي د هغه تعلق د نذر سره دی ، ددغه دواړو ډولو څخه پرته دریم قسم اعتکاف مستحب دی ، یعني د رمضان د آخري لسیزي څخه پرته په یو بله میاشت کي اعتکاف کول مستحب دي

د مستحب اعتکاف لپاره د زیات وخت مقدار متعین نه دی که یو سړی د ټول عمر اعتکاف نیت وکړي نو هم جائز دی البته د لږ وخت په باره کي د علماؤ اختلافي اقوال دي ، د امام محمد رحمه الله علیه په نزد د مستحب اعتکاف لپاره کم وخت متعین نه دی د ورځي او شپې په یو لږ برخه کي د یوې دقیقې لپاره هم بلکه ددې څخه هم په کم وخت کي د اعتکاف نیت کیدای سي ، د امام اعظم ابو حنیفة رحمة الله علیه ظاهري روایت هم دادی او د حنفیه په نزد پر دغه قول فتوا ده ، نو دهر مسلمان لپاره مناسب داده چي هغه کله هم مسجد ته داخلیږي که دلمانځه لپاره وي یا د یو بل مقصد لپاره نو هغه ته پکار ده چي د اعتکاف نیت وکړي چي زه د اعتکاف نیت کوم ترڅو پوري چي په مسجد کي یم .

په داسي کولو سره بېله تکلیفه په ورځ کي څو واره د اعتکاف سعادت او فضیلت تر لاسه کیږي ، د امام ابویوسف رحمة الله علیه په نزد د اعتکاف کم وخت د ورځي زیاته برخه یعني نیمائي ورځي څخه زیاته برخه ده او د امام اعظم رحمة الله علیه یو بل قول دادی چي د اعتکاف کم وخت یوه ورځ ده ، دا قول د امام اعظم رحمة الله علیه د پورتني ظاهري روایت څخه پرته دی پر کوم چي فتوا نسته .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د بښو اعتکاف

﴿۱۹۹۶﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ . متفق علیه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به د روژې په آخري لسیزه کي اعتکاف کوئ تر څو چي الله تعالی دده مبارک روح قبض کړ، بیا د رسول الله ﷺ وروسته د هغو ازواجو هم اعتکاف کوئ . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۲۷۱، رقم: ۲۰۲۶، ومسلم ۲\ ۸۳۱، رقم: ۵- ۱۱۷۲.

تشریح: د حدیث د آخري جملې مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته د

رسول الله ﷺ بيبيانو مبارکانو به په خپلو کورو کي اعتکاف کوی نو په دې وجه فقهاؤ ليکلي دي چې د ښځو لپاره مستحب داده چې په مسجد البيت (د کور په مسجد) کي اعتکاف وکړي، که چيري مسجد البيت (يعني د کور مسجد نه وي) نو د کور يو برخه په مسجد کرځولو سره دي په هغه کي اعتکاف کوي بېله ضرورته د هغه برخي څخه د باندي دي نه وځي د کور هغه برخه به د هغوی په حق کي د مسجد په حکم کي سي، ښځو ته په مسجد کي اعتکاف کول مکروه دي.

په روژه کي سخاوت

﴿۱۹۹۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ تر ټولو خلکو زيات سخي وو

بِالْخَيْرِ وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ كَانَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام يَلْقَاهُ كُلَّ

د خلکو سره د ښېګڼي کولو او ګټې رسولو په اعتبار، په خاصه توګه د روژې په مياشت کي به يې سخاوت ډير زيات سو،

لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ يَعْرِضُ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ فَإِذَا لَقِيَهُ

جبرائيل عليه السلام به د روژې په هره شپه د رسول الله ﷺ سره ليدنه کول، رسول الله ﷺ به د هغه په مخکي قرآن کريم وايه کله چې به

جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ أَجْوَدَ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ. متفق عليه

ورسره جبرائيل عليه السلام ملاقات کوئ نو د رسول الله ﷺ سخاوت به د باران راوړونکي هواء څخه هم زيات تيزېدئ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۳۰، رقم: ٦، ومسلم ۱۴\ ۱۸۰۳، رقم: ۵۰- ۲۳۰۸.

تشريح: اجود الناس بالخير: ددې مطلب دادی چې نبي کريم ﷺ به د الله تعالی مخلوق ته د نورو په نسبت ډيره زياته ګټه رسول، او د خلکو سره به يې ډېره زياته ښېګڼه کول، په خاصه توګه د رمضان په مقدسه مياشت کي د رسول الله ﷺ دا وصف د معمول څخه هم زيات وو، ځکه چې دغه مياشت د برکت ورځي دي او په دې کي هره نيکي د نورو ورځو په مقابله کي د ډېر زيات اجر او ثواب باعث دي.

د هوا د څپو څخه مراد هغه هوا ده چې د باران سره راځي ، ددې جملې خلاصه داده چې د باران راوستونکي هوا ګټه عام وي او ډیره وي مګر د جبرائیل علیه السلام د ملاقات په وخت به نورو ته د خیر او ګټې رسولو لپاره د رسول الله ﷺ دا جذبه او عمل د هغه خوا څخه هم زیات وو ، دا حدیث دې خبرې ته اشاره کوي چې په برکتناک او افضل وختو کې او د نیک او مقدسو خلکو د صحبت په وخت کې انسان ته په ښیګڼې کولو کې زیات کوښښ کول پکار دی .

په ظاهره خو دا حدیث د باب الاعتکاف سره اړوند نه معلومیږي مګر په دغه باب کې دا حدیث ځکه نقل سوی دی چې رسول الله ﷺ به په رمضان کې اعتکاف هم کوی چې د یو لوی درجې نیکي ده او ددې حدیث خلاصه داده چې رسول الله ﷺ به په رمضان کې ډېره زیاته نیکي او ښېګڼه کول .

دوفات د کال حال

﴿۱۹۹۸﴾ : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ يَعْرِضُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې قرآن کریم به هر کال (د جبرائیل علیه السلام په واسطه) رسول الله ﷺ ته یو وار وړاندې کېدئ ،

كُلَّ عَامٍ مَرَّةً فَعَرَضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي الْعَامِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ وَكَانَ يَعْتَكِفُ

او په کوم کال چې رسول الله ﷺ وفات سو نو په هغه کال دوه واره وویل سو ، او رسول الله ﷺ به اعتکاف کوئ

كُلَّ عَامٍ عَشْرًا فَاعْتَكَفَ عِشْرِينَ فِي الْعَامِ الَّذِي قُبِضَ . رواه البخاري

هر کال لس ورځې او په کوم کال چې وفات سو په هغه کال یې شل ورځې اعتکاف وکړ . بخاري .

تخریج : صحيح البخاري (فتح الباري) : ۴۳۱۹ ، رقم : ۴۹۹۸ .

تشریح : ددې مخکې حدیث څخه خو معلومه سوه چې رسول الله ﷺ به د جبرائیل علیه السلام مخکې قرآن کریم وایه او دا حدیث دا ښیي چې جبرائیل علیه السلام د رسول الله ﷺ په مخکې قرآن کریم وایه ، مګر په دغه دواړو حدیثو کې څه تکر نسته ځکه چې یو وار به جبرائیل علیه السلام قرآن کریم وایه بیا به د هغه وروسته رسول الله ﷺ وایه ، لکه څرنګه چې دوه حافظان دور کوي ، ددې څخه دا خبره ثابته سول چې دور کول هم سنت دی .

رسول الله ﷺ د خپل ژوند په آخري کال کي د معمول خلاف دوه واړه د قرآن کریم دور وکړ او شل ورځي یې اعتکاف وکړ ځکه چې د الله تعالی په دربار کي د حاضرۍ وخت نژدې وو او د شوق منزل مخته بیا د عشق هغه ټولي بې تابۍ او د وصاف محبوب شوق ولي به نه زیاتیدی، یو چا څه ریښتیا ویلي دي:

وعده وصل چون شود نزدیک آتش شوق تیز تر گردد

یعني د محبوب سره د ملاقات وعده چې پوره کیږي نو د شوق اور نور هم زیاتیږي.

د رسول الله ﷺ په دغه عمل کي د امت لپاره یوه خبرتیا هم ده چې د هر انسان لپاره ضروري ده چې کله د هغه ژوند آخري دور ته ورسیږي نو د خیر او نیکۍ په لار کي د معمول څخه زیات کوښښ باید وکړي او د الله تعالی ملاقات او د هغه مخکي پیښي لپاره د طاعت او فرمانبرداري او د نیکو کارو په ذریعه پوره پوره تیاري وکړي.

د عتکاف ادبونه او شرطونه

﴿۱۹۹۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا اعْتَكَفَ يُدْنِي إِلَيَّ رَأْسَهُ وهو في المسجد فَأُرَجِّلُهُ وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې کله به رسول الله ﷺ اعتکاف کوئ نو د مسجد دننه به یې ما ته سر را وایستئ نو ما به سر ورمونځ کړئ، د اعتکاف په وخت کي به رسول الله ﷺ یوازي د انساني حاجت لپاره کور ته راتلی. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۲۷۳، رقم: ۲۰۲۹. ومسلم: ۱\ ۲۴۴، رقم: ٦- ۲۹۷.

تشریح: دا حدیث ددې خبري دلیل دی که چیري اعتکاف کونکی خپل یو اندام د مسجد څخه د باندي کړي نو اعتکاف نه باطلیږي او دا خبره هم ثابته سوه چې د معتکف لپاره ژمونځ کول هم جائز دي. علامه ابن همام رحمۃ اللہ علیہ فرمایي که معتکف د خپل بدن یو اندام په مسجد کي دننه په یو لوښي کي پریولي نو څه پروا نسته په شرط ددې چې په هغه سره مسجد چټل نسي.

د حاجت انساني په ضمن کي د امام اعظم رحمة الله علیه مذهب ادی که معتکف بهله حاجته د یوې دقیقې لپاره هم د اعتکاف د ځای څخه ووځي نو د هغه اعتکاف فاسدیږي.

د حاجت یعني ضرورت دوه ډولونه دي: (۱): طبعي: یعني تشي او ډکي بولي، د جنابت غسل، البته د جمعې د غسل په باره کي یو صریح حدیث منقول نه دی مګر په شرح اوراد کي

لیکلي دي چي د غسل لپاره د معتکف د باندي وتل جائز دي که غسل واجب وي لکه د جنابت غسل او که نفل وي لکه د جمعې د ورځي غسل او داسي نور .

دوهم ضرورت شرعي دی لکه د اخترو د لمونځو لپاره ، اذان یعني که چیري د آذان کولو ځای د مسجد څخه د باندي وي نو هلته تلل هم په حاجت کي داخل دي او په دې سره اعتکاف نه باطلیږي ، او بیا دا چي د صحیح روایت په موجب په دغه حکم کي مؤذن او غیر مؤذن شامل دي ، د جمعې د لمانځه لپاره د باندي وتل هم په حاجت کي داخل دي مګر په دې اړه باندي دا خبره معلومه وي چي د جمعې د لمانځه لپاره د اعتکاف د ځای څخه د لمر د زوال پر وخت دي ووځي که چیري جامع مسجد لیري وي نو داسي وخت دي ووځي چي جامع مسجد ته په رسیدو سره د جمعې لمونځ ، تحیة المسجد او د جمعې سنت وکړل سي ، د لمانځه څخه وروسته سنت کولو لپاره په جامع مسجد کي پاته کېدل جائز دي ، که یو سړی د لمانځه څخه زیات وخت په جامع مسجد کي تیر کړي نو که څه هم د هغه اعتکاف نه باطلیږي مګر مکروه تنزیهي دی ، همداسي که یو معتکف سره خادم وغیره نه وي نو د خوراک راوړلو لپاره کور ته تلل هم په ضرورت کي داخل دي .

که چیري مسجد ونړیږي یا یو څوک یې په زور د مسجد څخه وباسي او معتکف د هغه مسجد څخه په وتلو سره سمدستي بل مسجد ته داخل سي نو د هغه اعتکاف نه فاسدیږي همداسي که یو معتکف د ځان او مال د بیري څخه بل مسجد ته ولاړ سي نو د هغه اعتکاف نه فاسدیږي .

که چیري یو معتکف د تشو یا ډکو بولو لپاره یا د یو بل شرعي عذر لپاره د مسجد څخه ووتي او هلته پوروړی ورسره یو ځای سو چي هغه ودروی نو د امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد د هغه اعتکاف فاسد سو او صاحبین یعني امام ابویوسف او امام محمد رحمة الله علیهما فرمایي چي نه فاسدیږي .

یو سړی په اوبو کي ډوبیږي یا په اور کي سوځي او معتکف د هغه د ژغورنې لپاره د باندي ووتی یا د جهاد لپاره چي اعلان وسي یا د شهادت ورکولو لپاره د اعتکاف ځای پریښودو سره د باندي ووځي نو په دغه صورتو کي اعتکاف فاسدیږي ، مطلب دا چي د شرعي حاجت او ضرورت سره سم پورتني کوم عذورنه چي بیان سوي دي ددې څخه پرته که یو معتکف د یوې دقیقې لپاره هم د باندي ووځي که څه هم هغه وتل سهوا وي نو د هغه اعتکاف فاسدیږي البته د صاحبینو په نزد دومره آساني ده چي د هغه اعتکاف هغه وخت به فاسدیږي کله چي هغه د ورځي اکثره برخه د باندي ووځي .

د پورتني حديث څخه يوه دا مسئله هم اخيستل كيږي چي د معتكف لپاره په مسجد كي حجامت كول جائز دي په شرط ددي چي په مسجد كي وښتان وغيره ونه غورځوي.

د عمر رضي الله عنه د جاهليت د زماني نذر

﴿۲۰۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ سَأَلَ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ كُنْتُ نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ قَالَ فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي د اسلام راوړلو څخه مخكي ما نذر اېښی وو چي يوه شپه به په مسجد حرام كي اعتكاف كوم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: خپل نذر پوره كړه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\ ۲۷۴، رقم: ۲۰۳۲. ومسلم ۳\ ۱۲۷۷، رقم: ۲۷-۱۶۵۶.

تشريح: جاهليت هغه حالت ته وايي چي په هغه كي اهل عرب د رسول الله ﷺ د نبوت څخه مخكي وه، ځيني حضرات وايي چي د جاهليت څخه مراد هغه حالت دی چي د اسلام د تبليغ عام او د هغه د ظهور څخه مخكي وو، حاصل دا چي د رسول الله ﷺ د پيغمبری او د اسلام د ظهور څخه مخكي په عربو كي چي كومه تولنه وه هغه ته جاهليت او هغه وخت چي كوم دور وو هغه ته د جاهليت زمانه ويل كيږي. خپل نذر يې پوره كړ: دا حكم د استحباب په توګه وو، كه چيري حضرت عمر رضي الله عنه د اسلام قبلولو څخه مخكي نذر منلی وو او كه د اسلام قبلولو څخه وروسته يې دا نذر منلی وو نو بيا دا حكم د وجوب په توګه وو.

د علامه طيبي رحمة الله عليه سره سم دا حديث پر دې خبره دلالت كوي كه چيري د جاهليت په حالت كي منل سوی نذر د اسلام د احكامو موافق وي نو د اسلام قبلولو څخه وروسته هغه نذر پوره كول واجب دی، د امام شافعي رحمة الله عليه دا مذهب دی مګر امام ابو حنيفة رحمة الله عليه فرمايي چي هغه نذر به صحيح نه وي او د هغه د اسلام څخه وروسته پوره كول ضروري نه دي، د امام اعظم رحمة الله عليه دليل د فقهي په كتابونو كي مذكور دی ددغه حديث هغه معنی مراد اخلي كوم چي پورته ذكر سوې ده.

د واجب اعتكاف لپاره روژه شرط ده

علامه طيبي رحمة الله عليه فرمايي چي دا حديث ددې خبري دليل دی چي د اعتكاف صحيح كيدو لپاره روژه شرط نه ده لكه څرنګه چي د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب دی مګر د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه په روايت سره ظاهر دادی چي د نفل اعتكاف لپاره خو روژه

شرط نه ده مگر د واجب اعتکاف لپاره روژه واجب ده، د صاحبینو هم دا قول دی ، او د حنفیه په نزد پر دې فتوا ده ، د امام مالک رحمة الله علیه او دیو بل روایت سره سم امام اعظم رحمة الله علیه هم دا فرمایي چې مطلقا د اعتکاف لپاره روژه نیول شرط ده که هغه واجب وي یا نفل .

د حنفیه له لوري د دغه حدیث په اړه دا ویل کیږي چې د حضرت عمر رضی الله عنه د اعتکاف په اړه د دې څخه پرته چې نور روایتونه منقول دي په هغه کي اعتکاف سره د روژې ذکر هم دی ، ابوداؤد ، نسائي او دارقطني چې کوم روایتونه نقل کړي دي هغه حاصل دادی چې حضرت عمر رضی الله عنه د جاهلیت په زمانه کي پر ځان دا لازم کړی وه چې یوه شپه به په کعبه کي دننه اعتکاف وکړي بیا هغه په دې اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اعتکاف وکړه او روژه ونیسه ، دا خو ګوګیاد هغه حدیث جواب وو او کوم چې د حنفیه د دلیل تعلق دی نو اوس مخته د بي بي عائشې رضي الله عنها یو حدیث : ولااعتکاف الا بصوم را روان دی او د هغه څخه دا خبره په وضاحت سره ثابتیږي چې واجب اعتکاف بېله روژې نه صحیح کیږي که یو سړی په نذر منلو سره یوازي د شپې د اعتکاف نیت وکړي نو هغه به لغو ګڼل کیږي ځکه چې شپه د روژې محل نه دی هو که یو سړی دا نذر ومنی چې زه به په رمضان کي اعتکاف کوم نو د رمضان روژې د اعتکاف صحیح کیدو لپاره کافي کیږي ، همداسي که یو سړی نفلي روژه ونیسي او بیا په هغه ورځ د اعتکاف نذر وکړي نو دا به صحیح نه وي .

که یو سړی نذر ومني چې په فلاني رمضان کي به اعتکاف کوم مګر هغه په تاکلي رمضان کي اعتکاف ونه کړ نو اوس د هغه لپاره ضروري ده چې د قضا په توګه په نورو ورځو کي اعتکاف وکړي او په ځانګړې توګه سره د اعتکاف لپاره روژې ونیسي دا قضا به په بل رمضان کي صحیح نه وي او نه به په داسي ورځو کي صحیح وي چې په هغه کي قضا روژې نیسي یا بل شی کوي .

که یو سړی د څو ورځو اعتکاف نیت وکړي نو د هغه ورځو د شپو اعتکاف هم لازمیږي همداسي د دوو ورځو د اعتکاف نذر منلو سره د هغه دو شپو اعتکاف هم لازمیږي مګر د امام ابویوسف رحمة الله علیه په نزد په دغه صورت کي یوازي د یوې شپې اعتکاف لازمیږي .

که یو سړی نذر ومني چې زه به یوه میاشت اعتکاف کوم نو پر هغه د یوې میاشتي اعتکاف علی الاتصال لازمیږي که څه هم هغه د نذر منلو پر وخت علی الاتصال نه وي ویلي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د شلوورځو اعتکاف

﴿۲۰۰۱﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ فِي الْعَشْرِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به په آخري لسيزه کې اعتکاف کوئ

الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ فَلَمْ يَعْتَكِفْ عَامًا فَلَمَّا كَانَ فِي الْعَامِ الْمُقْبِلِ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ. رواه الترمذي و روى ابوداؤد وابن ماجة عن ابي بن كعب .

د روژې مګر يو کال يې اعتکاف ونه کړ، بيا چې دوهم کال راغلئ نو شل ورځې اعتکاف يې وکړ، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجة د ابی بن کعب څخه .

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۱٦٦، رقم: ۸۰۳. و سنن ابي داود ۲\ ۸۳۰، رقم: ۲۵٦۲، وابن ماجه ۱\ ۵٦۲، رقم: ۱۷۷۰.

تشريح : غالبًا دغه حديث د تير روايت وضاحت دی کوم چې د ابوهريره رضي الله عنه څخه منقول دی او په هغه کې ښودل سوي دي چې رسول الله ﷺ د خپل ژوند په آخري کال کې شل ورځې اعتکاف وکړ، د علامه طيبي رحمة الله عليه د قول سره سم دا حديث پر دې خبره دلالت کوي که سنت مؤکده فوت سي نو د هغه دي قضاء هم راوړل سي ځرنګه چې د فرضو قضا راوړل کيږي مګر په دې باره کې دا خيال ساتل پکار دي چې دا تشبيه يوازې د قضا په باره کې ده کنه د فرضو قضا هم فرض ده او د سنت مؤکده قضا هم سنت ده فرض يا واجب نه ده .

د اعتکاف ځای ته ننوتل

﴿۲۰۰۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَّعْتَكِفَ صَلَّى الْفَجْرَ ثُمَّ دَخَلَ فِيْ مُعْتَكَفِهِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ د اعتکاف اراده وکړل نو د سهار لمونځ به يې ادا کړ او بيا به خپل د اعتکاف ځای ته تلئ . ابوداؤد او ابن ماجه .

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۸۳۰، رقم: ۲۴٦۴، وابن ماجه ۱\ ۵٦۳، رقم: ۱۷۷۱.

تشريح : امام اوزاعي رحمة الله عليه او امام ثوري رحمة الله عليه دا حديث د خپل مذهب

دليل گرځولی دی چي د اعتکاف پيل د روځي د پيل څخه کېدل پکار دی ، او د څلورو امامانو مذهب دادی که يو سړی يوه مياشت يا د يوې لسيزي او داسي نور اعتکاف وکړي نو د اعتکاف پيل دي د ورځي د آخري برخي يعني لمر لوېدو څخه مخکي کوي او د اعتکاف په آخري ورځ دي د لمر لوېدو څخه وروسته د اعتکاف څخه راووځي ځکه ددې حديث تاويل کيږي چي رسول الله ﷺ به د اعتکاف نيت سره د لمر لوېدو څخه مخکي مسجد ته راتلی ټوله شپه به په مسجد کي وو ددې څخه وروسته چي د سهار لمونځ به يې وکړ نو د مسجد هغه برخي کي به داخل سو چي د هغه څخه د يو شي په چاپيره کولو سره د حجرې په شکل کي به جوړيدی تر څو د خلکو څخه بيل سي ، نو د رسول الله ﷺ د اعتکاف پيل خو به د مابنام د وخت څخه کيدی او د اعتکاف په ځای کي به سهار داخليدی .

په اعتکاف کي د ناروغ پوښتنه

﴿۲۰۰۳﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُ الْمَرِيضَ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَيَمُرُّ كَمَا هُوَ فَلَا يُعَرِّجُ يَسْأَلُ عَنْهُ. رواه ابوداؤد وابن ماجة

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په اعتکاف کي د ناروغ پوښتنه کول نو د مسجد څخه به سيده تلئ او نه به کيږيدی د ناروغ پوښتنه به يې وکړه . ابن ماجه او ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۲\ ۸۳۶، رقم: ۲۴۷۲، وابن ماجه ۱\ ۵۶۵، رقم: ۱۷۷۶.

تشريح : رسول الله ﷺ چي به څنګه وو هم هغسي به تيريدی : ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به پر کوم اعتکاف باندي وو هم هغسي به يې د مريض پوښتنه کول نه دا چي رسول الله ﷺ بلي خوا ته ميلان کوی او نه به دريدی بلکه پوښتني کولو ته به سيده تلی .

فلا يعرج : دا د ماقبل د اجمال وضاحت دی ددې لفظ معنی داده چي نه خو به د مريض سره دريدی او نه به د خپل لاري څخه په آخوا کېدو سره بلي خوا ته متوجه کيدی ، همداسي لفظ د يسال په طريقه د استيناف بيان دی د لفظ يعود . (استيناف د نوي سره پيل کوي) .

حسن رحمة الله عليه او نخعي رحمة الله عليه وايي چي د جمعې د لمانځه او د ناروغ د پوښتني لپاره د معتکف د باندي وتل جائز دي مګر د څلورو امامانو په نزد په دې اړه مسئله داده که چيري د يو طبعي يا شرعي ضرورت لپاره د باندي ووځي او په دغه دوران کي که د ضرورت دفع کولو څخه مخکي يا وروسته د يو ناروغ پوښتنه وکړي يا د جنازې په لمانځه کي

شریک سي نو څه پرواه نسته په شرط ددې چي ددغه کارونو په وخت کي نه خو د خپل لاري څخه بیل سي او نه تر لمانځه زیات ودریږي ، که چیري ددغه کارو لپاره خپل لار پریږدي یا تر لمانځه زیات ودریږي نو اعتکاف به باطل سي .

همدارنګه په خاصه توګه یوازي د ناروغ د پوښتني لپاره یاد جنازې د لمانځه لپاره د اعتکاف څخه ووځي نو اعتکاف به ختم سي هو که یو سړی د اعتکاف نذر داسي مشروط کړي چي زه به د اعتکاف په حالت کي د ناروغ پوښتني ، د جنازې لمانځه او د نصیحت مجلس ته د حاضرۍ لپاره د اعتکاف د ځای څخه وځم نو بیا وتل جائز دي .

د اعتکاف ادبونه

﴿۲۰۰۴﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ السُّنَّةُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ أَنْ لَا يَعُودَ مَرِيضًا وَلَا يَشْهَدَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي د اعتکاف کونکي لپاره سنت طریقه داده چي هغه د یو ناروغ پوښتنه ونه کړي او ولاړ نه سي

جَنَازَةً وَلَا يَمَسَّ امْرَأَةً وَلَا يُبَاشِرَهَا وَلَا يَخْرُجَ لِحَاجَةٍ إِلَّا لِمَا لَا بُدَّ مِنْهُ وَلَا

د جنازې دلمانځه لپاره ، ښځي ته لاس ورنه وړي، او نه مباشرت وکړي او د یو ضرورت لپاره د باندي ولاړ نه سي مګر دداسي ضرورت لپاره وتلای سي چي د هغه څخه چاره نه وي ،

اعْتِكَافَ إِلَّا بِصَوْمٍ وَلَا اعْتِكَافَ إِلَّا فِي مَسْجِدٍ جَامِعٍ . رواه ابوداؤد .

او اعتکاف د روژې څخه پرته نه صحیح کیږي او اعتکاف په لوی مسجد کي صحیح دئ (یعني داسي مسجد چي په جماعت سره لمونځ پکښي کیږي) ابوداؤد .

تخریج: سنن ابي داود ۲\۸۳۶، رقم: ۲۴۷۳.

تشریح : د مباشرت څخه مراد هغه شیان دي چي د جماع ذریعه جوړیږي لکه مچه اخیستل، بدن سره مښلول، غاړه تر غاړه کېدل او دا ډول نور حرکات، نو دا شان د کوروالی او مباشرت د معتکف لپاره حرام دي ، فرق یوازي دومره دی چي په کوروالي سره اعتکاف باطلیږي که په قصد سره وکړل سي یا بېله قصده ، که د ورځي وي یا د شپې وي ، او په مباشرت سره هغه وخت اعتکاف باطلیږي چي کله انزال وسي که چیري انزال ونسي نو اعتکاف نه باطلیږي .

د معتکف لپاره په مسجد کي خوراک، څښاک او بیده کېدل جائز دي ، همدارنګه رانیول

او پلورل هم جائز دي په دې شرط چې د رانيولو او پلورلو شيان مسجد ته را نه وړل سي ځکه چې د رانيولو او پلورلو شيان مسجد ته راوړل مکروه تحريمي دي او دا چې معتکف رانيول او پلورل يوازې د خپل ذات او خپل کورنۍ د ضرورت لپاره کوي نو جائز به وي او که د تجارت لپاره وي نو بيا جائز نه دی.

دا خبره هم په ذهن کې راوستل پکار ده چې په مسجد کې رانيول او پلورل د غير معتکف لپاره هم په هيڅ ډول جائز نه دی ، د اعتکاف په حالت کې پټه خوله کښېنستل هم مکروه تحريمي دي ، هو خرابې خبرې ، درواغ، غيبت او داسې نور شيان دي دخولې څخه نه باسي بلکه د قرآن کريم تلاوت، نيک کارونه، حديث، تفسير او د انبياؤ او صالحينو پر قصو باندې مشتمل کتابونه يا دا ډول نور ديني کتابونو مطالعه او د الله تعالى د ذکر يا د ديني علم زده کولو يا ښودل، تصنيف او تاليف او ژباړه کې دي خپل وخت تېروي.

خلاصه دا چې پټه خوله کېدل عبادت نه دی ، او مباح خبرې هم بېله ضرورته مکروه دي او که د ضرورت لاندې وي نو بيا پروا نسته ، په فتح القدير کې ليکلي دي چې په مسجد کې بېله ضرورت خبرې کول حسنات (نيکۍ) داسې خوري لکه اور چې وچ لرګي خوري.

د حديث الفاظ : (د اعتکاف لپاره روژه ضروري ده): دا خبره په وضاحت سره ثابته سوه چې اعتکاف بېله روژې نه صحيح کيږي په دې باره کې د حنفيه د مذهب دليل دا حديث دی.

د جامع مسجد څخه مراد هغه مسجد دی چې په هغه کې پنځه وخته لمونځ په جماعت سره کيږي ، د امام احمد رحمة الله عليه هم دا قول دی ، د امام مالک رحمة الله عليه ، امام شافعي رحمة الله عليه او صاحبينو په نزد په هر مسجد کې اعتکاف کول صحيح دی ، او که چيرې د جامع مسجد څخه هغه مسجد مراد سي په کوم کې چې د جمعې لمونځ کيږي نو بيا د دې مفهوم به دا وي چې اعتکاف په هغه مسجد کې غوره دی په کوم کې چې د جمعې لمونځ کيږي ، علماء ليکي چې غوره اعتکاف هغه دی چې په مسجد حرام کې وي او بيا د هغه وروسته په مسجد نبوي کې او بياد هغه وروسته په مسجد اقصى يعني بيت المقدس کې او بيا د هغه وروسته په جامع مسجد کې وي، او بياپه هغه مسجد کې چې په هغه لمونځ کونکي زيات وي .(په کوم مسجد کې چې پنځه وخته لمونځونه په جماعت سره کيږي او د جمعې لمونځ هم پکښې کيږي په هغه کې اعتکاف کول غوره دی) .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د رسول الله ﷺ اعتکاف

﴿۲۰۰۵﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا اعْتَكَفَ طُرِحَ لَهُ فِرَاشُهُ أَوْ يُوضَعُ لَهُ سَرِيرُهُ وَرَاءَ أُسْطُوَانَةِ التَّوْبَةِ. رواه ابن ماجة.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ اعتکاف کوئ نو فرش به ورته وغورول سو یا د توبې د ستني (میل) شاته به کټ واچول سو. ابن ماجه.

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ۵۶۴، رقم: ۱۷۷۴.

تشریح: په مسجد نبوي کي د یوې ستني نوم توبه دی ددې وجه تسمیه داده چي د یو صحابي ابولبابه انصاري رضی الله عنه څخه یو کوتاهي سوې وه او د هغه په وجه هغه خپل ځان په دغه ستن پوري تړلی وو او تر څو ورځو پوري همداسي تړلی وو کله چي هغه توبه قبوله سوه نو رسول الله ﷺ هغه د ستني څخه خلاص کړ.

د معتکف اعمال

﴿۲۰۰۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الْمُعْتَكِفِ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د معتکف په اړه فرمایلي دي چي

هُوَ يَعْكِفُ الذُّنُوبَ وَيُجْرَى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا. رواه ابن ماجة.

هغه د ګناهو څخه ساتلی وي او د هغه لپاره نیکي جاري وي داسي نیکي لکه د کونکي د ټولو نیکو کارونو. ابن ماجه.

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\ ۵۶۷، رقم: ۱۷۸۱.

تشریح: د ګناهونو څخه خوندي وي: یعني کوم سړی چي د نیکو او غوره مقصدو لپاره په مسجد کي پاته سي نو د هغه شان دادی چي هغه د اکثر ګناهو څخه خوندي کیږي، لفظ د یجری په راء مهمله سره د مجهول صیغه ده او ځینو حضراتو ویلي دي چي دا صیغه معروفه ده ددې مطلب دادی چي کوم سړی د اعتکاف په حالت کي وي او هغه د اعتکاف په وجه د نیکو اعمالو

مثلا د ناروغ پوښتنه، د جنازې لمونځ او داسي نورو نيکو کارو څخه منع وي نو د هغه لپاره د هغه نيکو اعمالو د ثواب لړۍ جاري کيږي لکه څرنګه چې د هغه نيکي کونکو لپاره وي، او د مشکوة شريف په يوه صحيح نسخه کې دا لفظ په راء معجمه سره د معروف په صيغه يجرى منقول دی او د هغه معنی داده چې اعتکاف کونکی د خپل اعتکاف په وجه د کومو نيکو اعمالو مثلا د ناروغ پوښتنه ، د جنازې لمونځ، د جنازې سره تلل، د مسلمانانو سره ليدنه، نيک معاملات يا دا ډول نور نيک کارونه نو هغه ته ددغه نيکو اعمالو داسي ثواب ورکول کيږي لکه څرنګه چې د هغه اعمالو کونکو ته ورکول کيږي ، په هر حال يوازې د الفاظو فرق دی او مفهوم د دواړو يو دی .

د اعتکاف برکتونه او ګټې دادي چې د معتکف زړه د دنيا د کارو د چټليو څخه پاک وي، هغه خپل نفس الله تعالی ته سپارلی وي، په پرله پسې عبادت کې اوسي، د الله تعالی قرب هغه ته ډير زيات تر لاسه کيږي، د الله تعالی رحمت پر هغه نازليږي، هغه د الله تعالی په قلعه او پناه کې اوسي او د شيطان د مکر او چم څخه خوندي وي .

د معتکف مثال د هغه سړي په ډول دی چې د پاچا پر دروازه دريږي او د خپل حاجت درخواست وړاندې کوي همداسي معتکف هم په ژبه سره وايي چې اې زما مولی! اې زما پروردګاره! زه ستا په دروازه کې پروت يم ددغه ځای څخه به تر هغه وخته پورې نه ليرې کيږم تر څو پورې چې ته زما بخښنه ونه کړې ، زما مقصد پوره نه کړې او زما ديني او دنيوي غم را څخه ليرې نه کړې .

==========